# د رښتيا په لټه کي



Ketabton.com

لیکوال: محمد آصف خواتي

کال ۱۴۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رښتیا په لټه کې

## لیکوال : محمدآصف خواتي

**د چاپ حق د لیکوال سره خوندي دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرلیکونه مخ


۱. سریزه.......... و
۲. ولې مې سیاست ته مخه کړه؟.......... ي
۳. د افغانستان د سیاسي غورځنګ غم لړلی برخلیک.......... ۱
۴. د یحیی کورنی.......... ۸
۵. د دموکراسی سره پردی سلطنتي کورنی.......... ۱٤
۶. د دموکراسی لسیزه.......... ۱۷
۷. نوی اساسي قانون.......... ۲۱
۸. د دموکراسی د لسیزې سیاسي ګوندونه.......... ۲۲
۹. د اندیښني وړتوپیر.......... ۳۰
۱۰. د عقرب د دریمي پېښه.......... ۳۱
۱۱. د دموکراسی د لسیزې رسنۍ.......... ۳۵
۱۲. د دموکراسی د لسیزې پارلمان.......... ۳۷
۱۳. سلطنتي کورنی او نوی سیاسي بهیر.......... ٤۳
۱٤. د پل خشتي په جومات کې انقلابي ملایان.......... ٤٤
۱۵. په پوهنیزو بنسټونو او پارلمان کې نښتي.......... ٤۹
۱۶. پټ جوړجاړی.......... ۵۳
۱۷. د دموکراسی لسیزې ته کتنه.......... ۵۹
۱۸. د جمهوریت ټینګښت.......... ٦٤
۱۹. مصیبت جوړوونکی بری.......... ٦٦
۲۰. تر ارګه یارانه.......... ٦۸
۲۱. پوځي بنسټونو ته د ګوندونو ننوتل.......... ۷۱
۲۲. خلکو ته د خطاب وینا.......... ۷٤
۲۳. ویل کړل نه دي.......... ۷٦
۲٤. کشمکشونه او مخالفتونه.......... ۷۹
۲۵. ځان وژنه که له منځه وړنه ؟.......... ۸۳
۲٦. معکوسي پایلې.......... ۸۸
۲۷. اختیار که اجبار ؟.......... ۹۰
۲۸. د ستر لاربنود د تجرید او انزوا پړاو.......... ۹۳
۲۹. د سردارمحمد داود ژوند ته کتنه.......... ۹۷
۳۰. دویم ځپرکی.......... ۱۰۱
۳۱. د افغانستان د خلک دموکراتیکې ټولنې ( ګوند) بنسټ ایښودونکې کنګره.......... ۱۰٤
۳۲. په ګوند کې دوې تلوالې او انشعابونه.......... ۱۰۹
۳۳. د همکارۍ او نه همکارۍ ستراتیژي.......... ۱۱٦
۳٤. د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند او شوروي اتحاد.......... ۱۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳۵. د پښتونستان مسأله ............ ۱۲۳
۳۶. ګوند څه غوښتل ؟ ............ ۱۳۱
۳۷. ګوند د مبارزې په ډګر کي ............ ۱۳۳
۳۸. په ګوند کي د انشعاب لاملونه ............ ۱۳۷
۳۹. د يوه نامه لاندې دوه ګوندونه ............ ۱٤۷
٤۰. په ګوند کي پټ تشکيلات ............ ۱٤۸
٤۱. ګوند او جمهوريت ............ ۱٥۰
٤۲. د خلق او پرچم يووالى ............ ۱٥۳
٤۳. تاريخي امانت ............ ۱٥۹
٤٤. هغه ترور چي د هيواد د تاريخ پاڼه يي واړوله ............ ۱٦۲
٤٥. **د خيبر په ترور کي د اسلامي بنسټپالو لاس** ............ ۱٦۷
٤٦. **د خيبر په ترورکي د حفيظ الله امين لاس** ............ ۱٦۸
٤۷. د ګوند وتلي څيرې ............ ۱٦۹
٤۸. نورمحمد تره کی ............ ۱۷۲
٤۹. ببرک کارمل ............ ۱۷۷
٥۰. ميراکبر خيبر ............ ۱۸۲
٥۱. ډاکترعبدالکريم زرغون ............ ۱۸۳
٥۲. ډاکترنجيب الله ............ ۱۸٥
٥۳. شاه محمود حصين ............ ۱۸٦
٥٤. دريم څپرکی ............ ۱۸۸
٥٥. د ثور انقلاب برى( خلقي واکمني ) ............ ۱۸۸
٥٦. هغو مراسمو چي کابل ولړزاوه ............ ۱۹۰
٥۷. برخليک ټاکونکي ورځ ............ ۱۹۳
٥۸. د محمدداود د کورنى د وژني ربنتيا ............ ۲۰۰
٥۹. مسکو او د ثور د اوومي پوځي پاڅون ............ ۲۰٥
٦۰. د انقلاب خبره ............ ۲۰۸
٦۱. د دولتي نظام د جوړښت جنجالي بهير ............ ۲۱۲
٦۲. د انقلاب په وړاندې غبرګونونه ............ ۲۱٦
٦۳. د واک درى مرکزه ............ ۲۲۰
٦٤. بې تاجه ټولواک ............ ۲۲۳
٦٥. د دولت او ټولني لاربنوونکى ځواک ............ ۲۲۷
٦٦. ثور که واقعيت ؟ ............ ۲۲۹
٦۷. سمونونه اوغبرګونونه ............ ۲۳٦
٦۸. د جهاد واقعيتونه ............ ۲٤۱
٦۹. اړې دوړې او بغاوتونه ............ ۲٤۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




۷۰. د امریکي د سفیر وژنه........ ۲۵۹
۷۱. د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د دوستۍ او همکارۍ تړون ........ ۲۶۳
۷۲. د مسکو ښار د ۱۹۷۸ کال د دسمبر ۵ نیټه ........ ۲۶۶
۷۳. د ګټو او موخو ټکر ........ ۲۶۸
۷۴. د صداقت او منافقت ملګرتیا ........ ۲۷۳
۷۵. د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د اختلافونو بربنډېدل ........ ۲۷٦
۷۶. ولي حفیظ الله امین کیوبا ته له تللو ډډه وکړه ؟ ........ ۲۸۳
۷۷. د شاګرد بریالی بغاوت ........ ۲۸٦
۷۸. تورپلنوم........ ۲۹٤
۷۹. د نورمحمد تره کي وژنه........ ۲۹۹
۸۰. د حفیظ الله امین لنډه واکمني........ ۳۰٤
۸۱. د حفیظ الله امین ترور او د خلقي واکمنۍ پای........ ۳۰۸
۸۲. حفیظ الله امین د شوروي دوست یا دښمن !؟........ ۳۱۳
۸۳. د افغانستان د اشغال لاملونه........ ۳۱٦
۸۴. څلورم څپرکی ........ ۳۱۹
۸۵. افغانستان د شوروي اشغال پرمهال........ ۳۱۹
۸۶. کارمل ته د خلقي مشرانو بیعت........ ۳۲۳
۸۷. څه ډول وګړي یي واک ته ورسول ؟ ........ ۳۲۷
۸۸. خپلواکي یا بلواکي ؟ ........ ۳۳۰
۸۹. د پاک زړو خلقیانو فرصت غوښتونکي مشران........ ۳۳۲
۹۰. د نظام کاتبان او ساتونکي ........ ۳۳٦
۹۱. د شوروي – پرچمي واکمنۍ تګلاره ........ ۳۳۹
۹۲. د اشغال په وړاندي غبرګونونه ........ ۳٤٤
۹۳. کرملن ته ترخه پیغامونه........ ۳٤۸
۹٤. په افغانستان کي د شوروي لښکر جګړه........ ۳۵۰
۹۵. ګوندي ناندرۍ ، شخړې او وژني........ ۳۵۲
۹٦. بې سره لښکر........ ۳۵٦
۹۷. د وسله والو مخالفینو ښکار........ ۳٦۰
۹۸. مسکو د وتلو په لټه کي........ ۳٦٤
۹۹. ګوندي کنفرانسونه او نظرپوښتني........ ۳٦۵
۱۰۰. په دولت کي دولت ........ ۳٦۸
۱۰۱. پرچمیان یي هم د بې اتفاقۍ په ویروس ککړ کړل ........ ۳۷۰
۱۰۲. د نجیب الله د واکمنېدلو ربښتیا ........ ۳۷۲
۱۰۳. ملي روغه جوړه ........ ۳۷۷
۱۰٤. طرحه که عریضه !؟........ ۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۰۵. نجیب الله او ورسره زیاتیدونکي مخالفتونه ........ ۳۸۲
۱۰۶. د ژنیو لوزنامې ........ ۳۸۵
۱۰۷. د شوروي ځواکونو د وتلو بهیر ........ ۳۸۹
۱۰۸. خپلواکه دفاع ........ ۳۹۲
۱۰۹. د پوځ د دړې وړې کولو نقشه ........ ۳۹۵
۱۱۰. د کب د شپاړلسمي ډرامه ........ ٤۰۱
۱۱۱. د مخامختیا پر ځای ملګرتیا ........ ٤۱٦
۱۱۲. خاینانه لوبې ........ ٤۱۸
۱۱۳. نجیب الله پلوي خلقیان څوک وو ؟ ........ ٤۲۰
۱۱٤. د ګوند دوهمه کنګره ........ ٤۲۳
۱۱۵. د ببرک کارمل نوی ماموریت ........ ٤۲۵
۱۱٦. د دسترخوان یاران په غلیمانو واوښتل ........ ٤۲۷
۱۱۷. نه وطن نه کفن ........ ٤۳۳
۱۱۸. د نجیب الله ناکامه تیښته ........ ٤۳۷
۱۱۹. د شوروي ـ پرچمي واکمنی پای ........ ٤٤۲
۱۲۰. د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند واکمنی ته کتنه ........ ٤٤۵
۱۲۱. پنځم څپرکی ........ ٤٤۹
۱۲۲. د اسلامي انقلاب بری ........ ٤٤۹
۱۲۳. ولې تنظیمي جګړې پیل شولې ؟ ........ ٤۵۰
۱۲٤. د افغانستان خلق د موکراتیک ګوند( وطن ګوند) د نسکورېدو وروسته ........ ٤۵۵
۱۲۵. ولسمشران یا ممثلان ........ ٤٦۰
۱۲٦. قرآن وهلې لوزنامه ........ ٤٦۲
۱۲۷. د افغانستان د اسلامي امارت لومړۍ واکمني ........ ٤٦۷
۱۲۸. شپږم څپرکی ........ ٤۷۳
۱۲۹. د ترهګرۍ ضد که ډیرمخیزه نه ختمیدونکي جګړه ؟ ........ ٤۷۳
۱۳۰. پر افغانستان له پخوا پلان شوی یرغل ........ ٤۷۷
۱۳۱. حمله که توطېه ؟ ........ ٤۸۰
۱۳۲. د ناین ایلیون وروسته بله نړۍ ........ ٤۸۳
۱۳۳. د بن ناولی کنفرانس ........ ٤۹۰
۱۳٤. د انګلوساکسوني اشغال زېږنده واکمنی تګلارې ........ ٤۹٤
۱۳۵. د امریکایي اشغال پرمهال پخواني خلقیان او پرچمیان ........ ۵۰۲
۱۳٦. ناکامې هڅې ........ ۵۰۷
۱۳۷. خلقي خونې ........ ۵۰۸
۱۳۸. له جګړې ترمصالحې ........ ۵۱۲
۱۳۹. د شوروي او امریکایي اشغالونو پرتله ........ ۵۲٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٤۰. اخځونه ........................................................ ٥۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

څه کم نیمه پېړۍ افغانستان د سیاسي ټیکاو څخه بې برخې دی. د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو پورې په افغانستان کې د جګړو اورونه بل وو او د پردیو د لاسوهنو، تېریو او اشغالونو هدف ګرځېدلی وو.د افغانستان د دې اوږد مهال ناورین د لاملونو په هکله ارزونې وېشلې دي. یوه ډله د ناورین لامل د۱۳۵۲ کال د چنګاښ د شپږویشتمې پوځي کودتا ، بله ډله د۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې نیټې سیاسي بدلون او نور د شوروي اتحاد اشغال ګڼي. تردې چې ځینې د دموکراسۍ لسیزه د کړکیچ په منځته راتګ کې بې اغیزې نه ګڼي. دا بیا ښیي چې د ټولنیزو پدیدو څېړل خورا پیچلې بهیردی. دا څېړنه هغه مهال واقعیت ته نږدې پایلې لرلی شي چې د پېښو ګڼ شمېر لاملونه او تسلسل له پامه و نه غورزول شي یعنې دا چې د پېښو دینامیکه څېړنه کولی شي د واقعیتونو د درک شونتیا برابره کړي نه ستاتیکه څېړنه . سربېره پردې پدې څېړنه کې د هیواد سیاسي تاریخ ، فرهنګ ، موقعیت، طبیعي جوړښت او د افغانستان په اړوند د زبرځواکونو سیاستونه هم په پام کې نیول شي. د افغانستان د روان ناورین په اړه د صباح الدین کشککي دا ارزونه چې« د دې غمیزې اوغم لړلې کیسې پېره د پاچا او سلطنتي کورنۍ نه نیولې تر ټولو پورې چې کولای یې شول د هیواد د ژغورنې لپاره څه وکړي خو یا یې بې کفایتي وښودله ، یا لاس تر زنې کیناستل یا د غلیمانو د لاس وسیله شول» واقعبینانه برېښي . د پورتنۍ ارزونې او د افغانستان د تاریخ د دې خونړي پړاو د پېښو څخه دا پایله راوزي چې د روان ناتار تخمونه د محمدظاهر د واکمنۍ پرمهال چمتو، په جمهوري نظام کې وکرل شول او نورو په خپل وار تر دې تاوده تناره را ورسول. د هېواد د رواني غمیزې نه داسې برېښي چې د دموکراسۍ په لسیزه کې ولس ته دا امکانات ورکړل شول چې له اوږده استبداد وروسته سیاسي او ټولنېز سازمانونه جوړ کړي. خو د پاچا د ارادې له مخې واکمنۍ د دې سازمانو د جوړولو او د فعالیت څرنګوالی د قانون په چوکاټ کې تنظیم نکړاو د قانون پرته د سیاسي فعالیتونو پایله انارشي او د حکومتونو پرله پسې ړنګېدل شي او د۱۳۵۲ کال د چنګاښ پوځي کودتا په هیواد کې سیاسي ټیکاو زیانمن، کودتاوو او کودتایي هڅو،بغاوتونو ، ترهګریزو فعالیتونو ، جګړو، د پردیو لاسوهنو او اشغالونو ته لار هواره کړله . پردې بنسټ دا ارزونه چې د افغانستان « د دغې اوږدې بې ثباتۍ سرچینه د محمد داود په سرولۍ د سرطان کودتا ده» ۲۶/۴/۵۲ د منلو وړ ښکاري. زموږ د هیواد د تاریخ دا خونړی پړاو د څېړونکو ، لیکوالو ، خبریالانو او حتی د فلمونو د ډایرکټرانو لپاره د څېړنې ، تبلیغاتو او شتمن کیدو یوه وسیله ګرزیدلې ده. خو په دې اړه تریخ واقعیت دا دی چې په افغانانو ددې تپل شوي ناورین عاملان ( زبرځواکونه)، واکمنۍ او زیاتره خبریالان او څېرونکي د پټونې او ډیرونې د اصل له مخې عمل کوي پدې معنی چې په جګړه کې د ښکیلو اړخونو د یوه اړخ منفي کړنې پټوي او د مقابل لوري په هکله مبالغه کوي. د دا ډول چلند موخه دا ده چې د افغانستان د ناورین د لاملونو، د جګړې د ډګر خونړۍ پیښې او واقعیتونه او د افغان ولس کړاوونه داسې انځور شي چې د دوی موخې او بشري ضد جنایتونه بربنډ نشي او ډیر واقعیتونه پټ په تیارو کې پاتې شي. لکه څرنګه چې هره جګړه په دوو برخو، د جګړې په ډګر او عامه اذهانو کې پرمخ ځي. لدې کبله د افغانستان د جګړې اصلي لوبغاړو که له یوې خوا پر افغانانو جګړه تپلې ده له بله پلوه هغوی د خپل ستر تبلیغاتي ماشین پواسطه د افغانانو او نړیوالو د تیرایستلو په موخه په اذهانو کې هم جګړه پرمخ وړي او ټولې هڅې یې پردې راټولې کړې دي چې خپلې موخې او د افغانستان د جګړې او بې ثباتۍ پیچلي لاملونه بربنډ نشي ، د افغانستان د روان ناورین د رښتیني انځور د کښلو مخه ونیسي او غولوونکي اطلاعات خپاره کړي. که چیرې د افغانستان د جګړې د سمبالوونکو تبلیغاتي جګړې ته چې څرګنده رواني جګړه ده ځیر شو هغه د افغانانو لپاره د تودې جګړې نه ګواښمنه ده ځکه چې هغه د افغان ولس د تاریخ، فرهنګ او هویت په وړاندې ترسره کیږي او موخه یې د افغان ولس د معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحران سره مخامخول، په خپل ځان بې باوره کول او پښلو کې اچول دي .دا تشه د دې لامل ګرزېدلې ده چې د افغانستان د ناتار په اړه هغه څه خپاره شي چې نړیوال ستر استکباري ځواکونه يې غواړي . البته د دې تبليغاتو اصلي هدف افغان ولس دی چې هغه د خپل هيواد د دې ناورين په لاملونو، د زبرځواکونو په موخو او شيطاني لوبو پوه نشي .

د بېلګې په توګه څه کم دوې لسيزې ناټويي اشغالګر د القاعده شبکې سره د مبارزې په نامه په افغانستان کې وجنګېدل. په داسې حال کې چې د امريکې د دفاع وزير په۲۰۱۰ کال کې په افغانستان کې د القاعده غړي ( ۲۵ – ۳۰ ) تنه ګڼلي وو خو بيا هم ناټويي ځواکونه چې په پرمختللي پوځي تخنيک سمبال وو د ديرشو تنو له منځه وړلو جوګه نه شول. پدې هکله دا پوښتنه راپورته کيږي چې دا د ګوتو په شمير جنګياليو چې نه يې الوتکې لرلې او نه اوږد واټن توغندي څرنګه د ناټويي او افغاني ځواکونو په وړاندې جنګيدل. دا پوښتنه د شل کلني جګړې ماهيت بربنډوي چې هغه د القاعده شبکې سره د مبارزې په نامه د افغان ولس سره پرمخ تلله. دا شل کاله هغوافغانانو چې د ناټويي پوځيانو شتون د افغانانو لپاره يو مصيبت او د جګړې د دوام اصلي لامل ګڼلو دا خبره نه کوله چې القاعده چا او د څه لپاره را وپنځوله او په افغانستان کې يې وجنګوله خو د دې پوښتنې حق يې درلود چې آيا دا شل کاله د القاعده ګواښ د منځنۍ آسيا د ځمکې لاندې پريمانه طبيعي زيرمو د خپلولو او نورو موخو ته د رسيدو لپاره يوه پلمه نه وه ؟ ددې سره سره وليدل شول چې ګڼ شمير افغان سياستوالو په افغانستان کې د ناټويي پوځيانوجګړې ته د ترهګرۍ ضد نړيواله جګړه ويله.
د امريکې د متحده ايالتونو په مشرۍ لويديځ د شوروي اشغالګرو په وړاندې د افغانانو د سراو مال زيانونو او بيا د تنظيمونو خپلنځي او د طالبانو او شمال تلوالې تر منځ جګړو ته په کتو سره داسې انګيرله چې افغانان نور د دوی په وړاندې د دريدلو وس نلري، د هغوی د مرئيتوب کړی به په غاړو کې واچوي او پدې توګه به وکولای شي په آسانۍ سره د منځنۍ آسيا د ځمکې لاندې په پريمانه طبيعي زيرمو خيټه واچوي او خپل سيالان (چين او روسيه ) او سيمه کنترول کړي. هماغه وو چې د۲۰۰۱ کال د سپتمبر د يوولسمې مرموزې پيښې وروسته د اکتوبر په اوومه د القاعده شبکې سره د مبارزې په نامه پر افغانستان تيری وکړ.خو افغانانو د دوی ټول خوبونه او خيالونه د اوبو په ځګ واړول او اړشول له طالبانو سره د سولې تړون لاسليک او د ۲۰۲۱ کال د اګست په يودېرشمه د کابل له هوايي ډګرڅخه پداسې حال کې ووزي چې د هوايي ډګر تجهيزات اوملکي او پوځي الوتکې او چورلکې ويجاړ کړي. د دې لپاره چې نيواکګر په افغانستان کې خپلې لاسوهنې پټې، ولسونه تير باسي د لکونو افغانانو د قربانۍ پړه يوازې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند ( ا.خ.د. ګ) او پخواني شوروي اتحاد واچوي. دا ډول تبليغاتو ښودل چې د کړکيچ په واکمنيدو او ژوريدو کې ډير لږ لويديځ او جهادي ډلو ته ګوته نيول کېدله اوهڅه کېده چې يوازې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند او شوروي اتحاد پړ او ملامت وګڼل شي. د ا، خ، د،ګ د مخالفانو د تبليغاتو منځپانګه دا پاتې شوې چې د دې ګوند واکمنۍ مشروعيت نه درلود ځکه چې واک يې د پوځي کودتا له لارې غضب کړی، نور يې په واک کې شريک نکړل، د مخالفينو سره يې له زورزياتي کار واخيست او...

پورتنۍ څرګندونې د لويديځ له معيارونو سره بشپړ سرخوري. خو په افغانستان کې هيڅکله هم د لويديځ له معيارونو سره سم واکمنۍ ندي ټينګې شوې.سربيره پردې د دې هيواد تاريخي واقعيتونه د واک پر سر د خپلمنځي شخړو او جګړو يوه ټوليزه ده او غوڅ اکثريت واکمنان د جګړو، توطئو ، بغاوتونو، کودتاګانو، د بهرنيو د مستقيم يا غيرمستقيم ملاتړ پرمټ واک ته رسيدلي دي او د دې ګوند د واکمنۍ له نسکوريدو وروسته هم په همدې سناريو سياسي اوښتونو ادامه موندلې ده. پردې بنسټ د ډيرو مشروعيت چې د خلکو اراده تمثيل کړي د پوښتنې لاندې راځي. له بلې خوا د دې هيواد سياسي تاريخ د استبداد ، زورزياتۍ او د واک د انحصار غم لړلی تاريخ دی. د پيړيو پيړيو واکمن استبداد پايله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنه کې د خشونت پالونکي فرهنګ واکمنېدل دي. د ټولنې د قبیلوي جوړښت سربیره په ټولنه کې د دودیزو او مذهبي بنسټونو او روحانیونو ژوراغیز، اقتصادي فقر، بیسوادي او د سیاسي فرهنګ ټیټه کچه ، د مرکزي واکمنیو کمزوري او د موډرن دولت او مدني ټولنې د پیاوړو بنسټونو نشتون هغه منفي پدیدې وې چې د ا ،خ، د، ګ واکمنۍ ته په میراث پاتې وې. له بله پلوه دا ګوند له آسمان څخه نه وو رالویدلی بلکه د همدې ټولنې له ګیډې راوتلی دی.

په افغانستان کې کورنۍ ننګونې او د مرکز څخه د تینښتې واکمن تفکر ټولې واکمنۍ اړ ایستلې دي چې خپل ظرفیتونه د واک د ساتلو او غزولو په موخه ولګوي او د هر مخالف غږ د خاموشولو په فکر کې وي. واکمنیو ته د شته ننګونو د لاملونو ریښې د هیواد د طبیعي جوړښت، جیوپولټیک او جیوستراتژیک ارزښت سره هم تړاو لري. د هېواد جغرافیایي موقعیت د دې سبب شوی چې افغانستان د وخت د زبرځواکونو د تیریو هدف او د هغوی د سیالیو په ډګر واوړي او هیواد پراخه سیمې له لاسه ورکړي. کله چې واقعیت داسې وي او یوازې د ا، خ، د، ګ واکمنې تر نیوکو لاندې نیول کیږي او ددې ګوند د فعالیت او د هغه د واکمنۍ په اړه واقعیتونه تحریفیږي دا د تاریخ ړندول او یا د تاریخ د یوه اړخ بیانول دي. پدې اړه تریخ واقعیت دا هم دی چې نه یوازې ددې ګوند مخالفانو د دې ګوند په هکله واقعیتونه تحریف کړي بلکې ددې ګوند ځینومشرانو او کدرونو د دې پرځای چې د دې ګوند رښتینې تاریخ ته که ښه دی یا بد، انتقادي نظر واچوي د لیکلو موخه یې د دې ګوند په وړتیا او سلامتیا راتاویږي او په خپل ګوند کې هرڅه سپین او ښه ګڼي. د ګوند مخالفین پدې ګوند او د هغه په واکمنۍ کې یوازې تیروتنې ، نارواوې ،تور ټکي او ناولې څیرې ویني او هلته ښه نیت، وړ سړی او مثبت ګام نه ویني . که چیرې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند او د هغه د واکمنۍ په اړه لیکنو ته وکتل شي زیاتره یې ستاینلیکونو، ښکنځلنامو او یا تبلیغاتي بروشورونو ته ورته دي . د دې ګوند ځینو مشرانو او کدرونو د خپل ګوند په پته ستاینلیکونه چمتوکړي ،سیالانو او مخالفانو یې بیا ښکنځلنامې پرې لیکلي دي. د ساري په توګه د دې ګوند یو مشر په ۱۹۷۷ کې د خلقیانو او پرچمیانو د یووالي په اړوند د ښکلو جملو په کتارولو سره داسې لیکي:« ...دا ستره پریکړه په انتقادي توګه د ګډې ملګرتیا په درک سره په یوه دموکراتیک چاپیریال کې ونیول شوه» ۲/ ۱۸۲خو واقعیت دا دی چې د یووالي په اړه پریکړه په یوه دموکراتیک چاپیریال کې نه ده نیول شوې بلکې هغو کدرونو چې د ګوند د یووالي سند یې لاسلیک کړ د حکومت له ویرې یا د ګوند د مشرتابه د نه لیوالتیا له امله ونشوای کړای تر یوه چتر لاندې کښیني او د ګوند د یووالي پر اړتیا او څرنګوالي بحث وکړي. یا دا چې ددې ګوند یو مخالف چې د دې ګوند سره د هیواد د روڼ اندو مخالفت او د ګوند متقابل غبرګون نندارې ته کیږدي د هغه مهال د کابل پوهنتون وضعیت داسې انځوروي : «په ۱۹۷۷ کې د کابل پوهنتون د محصلینو شمیر۱۴۰۰۰۰ تنه او د نوموړي تحصیلي مؤسسې د استادانو شمېر ۱۰۰۰ تنه و.اووه سوه تنه استادان یا بندیان شول او یا له هیواده وتښتیدل.» ۳/ ۲۷۹ د اته دیرشو کلو په تیریدو سره« په کال ۲۰۱۳ کې د کابل په پوهنتون کې ۲۱۰۰۰ تنه محصلین په زده کړو بوخت وو چې د ۷۷۷ تنو استادانو لخوا ور ته تدریس کیده. » ۴ یا دا چې یو تاریخپوه د یوه مبلغ په رول کې راڅرګندیږي او لیکي:« تره کي چې لومړی فرمان صادر کړ باسواده او بېسواده یې برابر اعلان کړل» ۵/ ۱۰۸ ټولو ته څرګنده ده چې نور محمد تره کي د تحصیل په اړه کوم فرمان نه دی صادر کړی او لومړی فرمان یې د ثور د اوومې نېټې د سیاسي بدلون وروسته د لوړ دولتي ارګان د جوړښت په اړه وو.

دې واقعیتونو ته په کتنې سره مې وغوښتل د دې ګوند د فعالیت په اړه خپلې اخیستنې پدې کتاب کې راونغاړم .د دې پریکړې د نیولو پرمهال مې دا پوښتنه په سرکې ګرزیدله چې اوس مهال پدې اړه خبرې چا ته په زړه پورې دي. له بله پلوه د دې ګوند مخالفان ددې ګوند کړنې د کرغیړنو کړنو یوه ټولیزه ګڼي. هغوی د نوموړي ګوند د سیالو ډلو( خلق او پرچم) تر منځ او د دې ګوند د مشرانو او د څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاسه یونیم لکو غږو ترمنځ هیڅ توپیر نه ویني. د ا، خ، د،ګ د پرچم د ډلې د دوو مشرانو( ببرک کارمل او سلیمان لایق) لاندې څرګندوني کولی شي په نوموړې ډله کې د څیرو توپیر وښیي.

کارمل د ۱۳۵۹ کال د نوي کال په مناسبت په خپله وینا کې وایي : « د شوروي محدود قطعات چې د افغانستان د جمهوري دولت د قانوني غوښتنې پربنسټ د بهرني تیري د دفعې، د افغانستان د خپلواکۍ، واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې لپاره افغانستان ته راغلي دي ترهغه وخته پورې به دلته پاتې کیږي چې د لاسوهنو کوچنۍ نښې له منځه ولاړې نشي.» ۶ پداسې حال کې چې لایق په همدې کال کې د کارمل شوروي پوځي سلاکار ته ویلي وو:«هیڅوک بریالي شوي نه دي چې افغانستان لاندې کړي. نه مقدوني سکندر، نه چنګیزخان او نه هم انګریزان. او تاسې دا کار نشوای کولی . افغانستان یوازې پیر( اخیستلی ) شئ. خو تاسې خوار یاست. تاسې له اسلامي نړۍ ، له نفتي شیخانو او هم له امریکې سره سیالي نه شوای کولی. ځئ له افغانستانه لاړ شئ ، په سمه ووځئ ، په حیا سره» ۷/ ۳۲۵ ــ ۳۲۶ په افغانستان کې د شوروي لښکر په هکله د دوو پرچمي مشرانو دریځونو ته په کتو سره به یوازې د سلیم عقل څخه بې برخې کسان د نوموړو تر منځ توپیر و نه ویني.

لدې کبله د سیاسي پدیدو څیړونکو او تاریخ پوهانو ته ښایي راتلونکو نسلونو ته روڼ او ښکاره تاریخ په میراث پریږدي او ملي فکر ولیږدوي.همدا لامل دی چې لیکوال د دې ګوند د فعالیت په اړه د رښتیا موندلې په لټه کې دی او په لیکنه کې هڅه شوې ده چې تر ممکني کچې د ا، خ، د،ګ په اړه رښتیا وړاندې شي. دا ادعا به سمه نه وي چې په لیکنه کې د دې ګوند د جوړیدو، واکمنیدو، راپرزیدو، کورنیو کشمکشونو، د واک پر سر سیالیو ، د شوروي اتحاد سره د اړیکو د څرنګوالي او همداراز د هغه د مخالفینو او د هغوی د نړیوالو ملاتړو د نقشو او کړنو واقعیتونه او ټول اړخونه تر سترګو کیږي. د محمد انور نومیالي دا وینا چې« د دې تاریخي بهیر خارجي ماهیت تر هغو پورې څوک په واقعي ډول نشي پیژندلای څو چې د شوروي د کې جي بې اصلي اسناد یې د امریکا د سي آی اې له اصلي اسنادو سره یو ځای د کمپیوټر پلټنې په رڼا کې تر کتنې نه وي ایستلي . د دې معنا دا وي چې زموږ د بدمرغیو خارجي عوامل به د قیامت تر ورځې پورې یو مخ پټ پاته سي .» ۸ د نومیالي وینا د دې واقعیت ښکارندوی ده چې د افغانستان د غمیزې په راتګ او ژوریدو کې چې ټاکونکی رول پکې د وخت زبرځواکونو درلود بشپړه پوهیدنه ناشوني ده. دا ځکه چې هغوی هغه اسناد چې د دوی موخې ،ستراتیژۍ او لاسوهنې بربنډې کړي نه خپروي او هغه څه یې چې خپاره کړي دي بیله شکه پکې د جعل تله دېره درنه ده.

پورتنیو څرګندونو ته په کتنې سره پدې کتاب کې نیمګړتیاوې لږ نه دي او د دې ګوند په اړه د بشپړو معلوماتو د وړاندې کولو جوګه هم نه دی . البته دا کتاب نه د ټولو واقعیتونو هنداره ده او نه هم ټول واقعیتونه همدا دي او نه هم یو کتاب د ټولو پیښو او واقعیتونو د ځایونې ځای لري. سره لدې ښایي په هغه کې د افغانستان د روان ناورین او په ځانګړې توګه د ا،خ، د، ګ د مبارزې او فعالیت یو لړ واقعیتونه د نویو کتنو او څیړنو مینه وال راوهڅوي.

په کتاب کې د لوستونکو پام دریو ټکو ته راګرزول کیږي .یو دا چې د شخصیتونو نومونه بېله دې چې د هغوی علمي او ټولنیز لقبونه یاد شي راوړل شوي ، خو د هغوی کړه وړه تر انتقادي کتنې لاندې نیول شوي دي. دوهم دا چې سیاسي پیښې او سیاسي بدلونونه په هغو نومونو راغلي دي چې هغسې یادېدل لکه سرطان انقلاب، ثور انقلاب او اسلامي انقلاب . وروستۍ دا چې په لیکنه کې زیار ایستل شوی د ا، خ، د، ګ او د هغه په واکمنۍ کې د یو لړ مهمو پیښو د پیښیدو په اړه دې پوښتنې ته ځواب ومونډل شي چې ولې دا پیښې منځته راغللې نه دا چې چا وکړل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولې مې سياست ته مخه کړه؟

په ژوند کې کله داسې هم پېښېږي چې يوانسان په خپله خوښه داسې پرېکړه وکړي چې د زندان او مرګ ګواښ پکې ليدل کيږي. د يوه انسان د دا ډول پرېکړې د نيولو لامل د نومورې په طبيعي او ذاتي ځانګړتياوو کې نه بلکې په هغه ټولنيز چاپېريال کې بايد ولټول شي چې پکې ژوند کوي او يا دا چې د دې پريکړې علت پيدا شي. يو انسان ښه يا بد دې نړۍ ته نه راځي بلکه په هغه چاپيريال کې چې دی ژوند کوي، روزل کيږي ،ښو او بدو يا ګټورو او ناوړه فعاليتونو ته مخه کوي او پدې ډول يې شخصيت بشپړيږي .بيځايه يې ندي ويلي «که د انسان کړه وړه د چاپيريال زيږنده دي بايد چاپيريال انساني شي.» پورتنيو څرګندونو ته په کتو سره غواړم دې پوښتنې ته ځواب ووايم چې ولې مې سياست ته مخه کړه؟ د خپلو لومړنيو زده کړو وروسته په حربي ښوونځي کې شامل شوم. هغه مهال دې مؤسسې ته د شامليدو طرزالعمل داسې وو چې د دفاع وزارت او حربي ښوونځي نه پلاوي ولايتونو ته استول کيدل چې د لومړنيو ښوونځيو ممتاز فارغان دې مؤسسې ته غوره کړي. د کابل ولايت ليوال د کانکور د آزموينې تابع کيدل. ما په آزموينه کې ګډون وکړ.پلار مې د يوه جنرال څخه ددې مؤسسې د قوماندان په نامه يو سفارشي ليک هم اخيستی وو. قوماندان د ليک او د آزموينې د نتيجې له مخې په دې مؤسسه کې د شامليدو امر ورکړی وو. په کانکور کې زموږ د ټولګې اول نمره هم ګډون کړی وو خو هغه ناکام شو. ښايي د ناکامۍ علت يې دا وي چې د هغه پلار د کوم جګپوړي سره پيژندګلوي نلرله او د بډو ورکولو وس يې هم نه درلود. پدې مؤسسه کې مې په خورا مينه زده کړې پيل کړې خو هلته د کړاوونو ډک ژوند سربېره د زده کوونکو سره د قوماندانانو او ځينو استادانو چلند د جنايي بنديانو سره توپير نه درلود. د مقرراتو څخه سرغړونې او حتی د درسي موضوعاتو د نه پوهيدو له امله ډول ډول سزاګانې ور کول کېدې. سره لدې د زده کوونکو ترمنځ قومي ، ژبني او مذهبي تړاوونو ته په نه کتو سره د ملګرتيا او دوستۍ مزي ټينګېدل. پدې مؤسسه کې د درسي کتابونه پرته د نورو کتابونو، مجلو او اخبارونو د لوستلو اجازه نه وه خو ليدل کيدل چې ځينو زده کوونکو او په هغو کې زموږ په ټولګي کې دريو تنو دا کتابونه لوستل. دا کتابونه هغه زده کوونکو لوستل چې ځيرک او د وخت د سياسي ډلو سره يې ليوالتيا يا سازماني تړاو درلود. ما د هغوی سره ملګرتوب درلود، له هغوی نه مې دا کتابونه ترلاسه کول او د هغه مهال د اړونده سازمانونو په اړه مې اړين معلومات تر لاسه کول. د حربي ښوونځي له پای ته رسولو وروسته مې په حربي پوهنتون کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او دا مهال د محمد داود په مشرۍ پوځي کودتا وشوه او جمهوريت اعلان شو. د هماغه کال په مني کې شوروي اتحاد ته د پيلوټۍ په برخه کې د زده کړو لپاره واستول شوم. د دوبي د رخصتۍ پر مهال يوه محصل چې د ا. خ . د .ګ د خلقي اړخ د مرکزي کميټې د غړي عبدالحکيم شرعي جوزجاني سره خپلوي لرله هغه ته يوه تحفه راکړه . د شرعي سره د خبرو په ترڅ کې هغه خلقي ګوند ته دعوت کړم. ما د نومورې نه د يو لړ پوښتنو سربېره د پرچميانو د انشعاب او د خلقيانو په مشرتابه کې د حفيظ الله امين په پټه د ځېنو منفي څرګندونو په اړه وضاحت وغوښت خو د نومورې څرګندونې د قناعت وړ نه وې. د هغه د وړانديز له مخې د ګوند دفتر ته ولاړم چې کوم ګوندي مشر پدې اړه قناعت راکړي. لومړی ځل مې د صالح محمد زېري سره وکتل ، هغه قانع نکړم خو د نومورې له توند غبرګون څخه ښکارېدل چې د ګوند د مشرتابه په اړوند شک ښودل جواز نلري. هغه هم را څخه وغوښتل چې سبا ته بيا راشم ترڅو بل ملګری را سره وګوري او دا ځل غلام دستګير پنجشېري قناعت راکړ چې خلقي شم. د دې لپاره چې زما ګوندي اړيکې په شوروي اتحاد کې تنظيم شي زه يې په بهر کې د محصلينو مسئول شاه ولي ته واستولم او د نومورې سره مې د هغه د کار په دفتر ثانوي تخنيک کې وکتل. په شوروي اتحاد کې افغاني پيلوټان د منځنۍ آسيا د جمهوريتو( قزاقستان او قرغزستان) په مختلفو ښارونو کې روزل کيدل او زما د زده کړو ځای لا څرګند نه وو هغه خپله پوستي پته راکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زده کړو د ځای له څرګندیدو وروسته ده ته لیک واستوم ما هم ورسره ومنل او له دفتر څخه یې ووتلم. وروسته اندیښنه را ته پیدا شوه که زه نوموړي ته د پوستي له لارې لیک واستوم خطر لري .هغه را ته د پټې سیاسي مبارزې څخه بې خبر سړی معلوم شو. د شاه ولي دا ډول نه ځیرکتیا او د زړېري عجیب چلند د دې لامل شول چې د دې ګوند له غړیتوب څخه لاس پرسر شم.
په شوروي اتحاد کې په هرو شپږو میاشتو کې د محصلینو صحي کنټرول ترسره کیده. د صحي کنټرول په پایله کې بستري شوم او د صحی کمیسیون پریکړه دا شوه چې د پرواز اجازه نلرم او په نورو برخو کې د زده کړو واک د افغان حکومت سره دی. له روغتون نه ووتم او د حکومت د پریکړې انتظار مې یوست. د دوو میاشتو انتظار وروسته راته وویل شول چې باید افغانستان ته ولاړ شم. ما د پوځي آتشې مرستیال ته پدې هکله ټلیفون وکړ هغه راته وویل: « دا چې لاس تړلی دې هیواد ته نه استوم خوښ اوسه !» نوموړي دا ونه ویل چې لیکوال کوم جرم کړی دی چې له زده کړو محرومېږي. ښایي افغانستان ته د لیکوال د استولو لامل دا وي چې د روسی ژبې د آمادګی په کورس کې یې موړ شپېته تنه محصلین د ځمکې لاندې یوه دیپو کې چې شپه او ورځ له بریښنا ګټه اخېستل کېدله ځای پرځای کړو او را ته وویل شول چې څو ورځې به دلته ژوند وکړئ خو دا موده ډېره اوږده شوه او موږ د ډوډۍ نه خوړلو اعتصاب وکړ. د دې ستونزې د حل لپاره د مسکو نه د پوځي آتشې مرستیال راغی. پوځي آتشې ټول محصلین په یوه صالون کې را غونډ کړو تر څو زموږ د ډوډۍ د نه خوړلو په لامل او نورو ستونزو ځان پوه کړي. څو تنو چې په هغو کې لیکوال هم وو د ډوډۍ نه خوړلو د علت او خپلې ستونزې له هغه سره شریکې کړلې. ددې وروسته پوځي آتشه یوې کوټې ته لاړ او یو یو محصل یې وروغوښت چې جلا جلا ورسره وګوري . دا د لیکوال له یاده وتلي دي چې ټول محصلین یې وروغوښتل یا څو تنه . کله چې زه لیکوال هغې کوټې ته ورننوتلم سمدلاسه یې را ته وویل په صالون کې دې ډېرې غټې غټې خبرې وکړې اوس څه وایې . ما هغه څه چې په صالون کې ویلي وو تکرار او لږشانتې نور توضیحات ورکړل . فکر کوم چې د لیکوال خبرې ددې لامل ګرزېدلې وي پوځي آتشه فکر وکړي چې د اعتصاب د هڅوونکو څخه به وم او یا د کوم سیاسی سازمان سره تړاو لرم . پدې توګه د بې مفهومه څوارلسو میاشتو زده کړو وروسته هیواد ته را ستون شوم او په حربي پوهنتون کې مې له سره زده کړې پیل کړې. هیواد ته بیرته راستنیدل او هغه هم پدې ډول د دې سبب شو چې د نظام خلاف سیاسی مبارزه وکړم یا سیاست ته مخه کړم.

که چیرې په شوروي اتحاد کې له زده کړو نه وای محروم شوی ښایي سیاسي فعالیت ته مې مخه نه وای کړې.دا بیا ښیي چې ځانګړي شرایط او پېښې د دې لامل ګرزي چې د یوه انسان د ژوند پاڼه په بل مخ واړوي. کارل مارکس او خان عبدالغفار خان یې ښې بېلګې دي. وایي مارکس د پوهنتون څخه غوره ډیپلوم ترلاسه کړ.غوښتل یې په پوهنتون کې په تدریس لګیا شي خو د سیاسي افکارو له امله هغه ته اجازه ورنکړل شوه. ځیني مارکس پیژندونکي په پوهنتون کې د استادۍ څخه د هغه محروموال د هغه د انقلابي کیدو لامل ګني او پدې اند دي که په پوهنتون کې د مارکس د تدریس مخه نه وای نیول شوې ښایي هغه انقلابي مبارزې ته مخه نه وای کړې او د یوه نظریه ورکوونکي په توګه پاتې شوی وای .
غفارخا ن ورته برخلیک لري د هغه په اړه ویل کیږي:« هوډ یې وکړ چې په پوځ کې برتي شي.خو د مخه تر دې چې په پوځ کې شامل شي هغه د یوه ملګري لیدو ته ،چې پوځي افسر و، لاړ او هلته د نوموړي د ملګري سره د یوه انګریز افسر له خوا د ده په وړاندې ډیر سپک سلوک و شو. دغې پیښې په غفارخان دومره ناوړه اغیز وکړ چې نه یوازې یې په پوځ کې د برتي کولو څخه ډډه وکړه بلکې د انګلیسانو پر ضد د ده د مبارزې د پیل ټکی هم شو. » ۹/ ۱۷ زما په وړاندې د حکومت دا ډول ظالمانه چلند د دې سبب شو چې د ( ا، خ ،د ،ګ ) د خلقي له اړخ سره سازماني اړیکې ټینګې کړم. هماغه دي چې یوه خلقي دوست ته مې پدې ګوند کې د غړیتوب وړاندیز وکړ او هغه را څخه وغوښتل چې په لیکلي ډول دا وړاندیز ولیکم. څو ورځې وروسته یې وویل چې حفیظ الله امین تا ګوند ته نه مني او وایي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند ضد دی. ما ور ته وویل دا خو په هېڅ منطق سره د منلو وړ نه دي چې غواړم ګوندي شم او د ګوند ضد اوسم. هغه وویل دا موضوع به له ملګرو سره شریکه کړم او څو ورځې وروسته یې راته وویل چې د ګوند په ملکي برخه کې به تنظیم شې. د امین مخالفت ښیي چې هغه له یوې خوا نه یوازې په ګوند کې تنظیم پوځیان پیژندل بلکه هغه پوځیان یې هم پیژندل چې د سیاست سره یې لیوالتیا لرله.د امین د دې ځانګړتیا په اړه د هغه یو ملګری لیکي: « دی ( امین ) د ډېر قوي فکر خاوند و او که یو سړی به یې یو ځل ولید نو وروسته له کلونو به یې د هغه نوم او خصوصیات په یاد وو. د ګوند د اکثرو غړو او په خاص ډول په اردو کې چې هغه ورسره اړیکې درلودل نژدې ټول د ګوند غړي په نوم پیژندل.» ۱۰/ ۴۳ د ( ا، خ،د، ګ) خلقي اړخ سره د سازماني اړیکو د ټینګېدو لاملونه دا وو :

الف – غوڅ اکثریت خلقیان خوار او بېوزلې وو او د دې ګوند د کړنلارې مرکزي ټکی طبقاتي مبارزه او د ؟تولنیز انقلاب بری وو. لدې امله خلقیان د خپل دا ډول طبقاتي جوړښت او ټولنیز دریځ له مخې د زبېښونکو طبقو په وړاندې مبارزه کې هوډمن او رښتیني وو او د انقلاب په بري کې یې هېڅ له لاسه نه ورکول.

ب ـ د دې سازمان په مشرتابه کې د هیواد د ورونو قومونو د استازو متناسب شتون دا تصور راکړی وو چې دا سازمان د قام ، ژبې او سیمې په کوچني چوکاټ کې ایسار نه دی .

ج ـ د چنګاښ انقلاب وروسته په پوځ کې د دې ډلې ګړندۍ ودې ښودل چې دا سازمان په یوه ځواکمن سیاسي ځواک اوړي.

د ثور انقلاب د بري څه د پاسه دوې میاشتې مخکې مې د افسر په توګه د کندهار په قوا کې دنده پیل کړې وه او سازماني اړیکې مې لا نه وې ټینګې شوې چې ګوند واک ته ورسېدلو . د انقلاب وروسته د خپلو ګوندي اړیکو د ټینګېدو په موخه کابل ته ولاړم ترڅو خپل پخوانی ارتباطي غړی ووینم .هغه د ګوند د سیاسی بیرو غړي او د کرهنې وزیر زیري او هغه بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معیین عبدالرشید آرین ته ولیږلم . آرین د کندهار د ګوندي کمیټې منشي سره ټلیفوني اړیکه ونیوله تر څو زما سازماني اړیکي ټینګې کړي خو اړیکي ټینګې نشوې. بیا مې خپل ارتباطي غړي ته د ټلیفون له لارې د اړیکو د نه ټینګېدو خبر ورکړ. څو ورځې وروسته په قول اردو کې اوازه شوه ، حفیظ الله امین ټلفون کړی چې لیکوال د ګوند غړی دی او وروسته لدې د قطعې په ګوندي سازمان کې تنظیم شوم. کله مې چې له خپل ارتباطي غړي وپوښتل چې تا زما د اړیکو خبره د امین سره شریکه کړې وه هغه وویل چې دا موضوع یې د صالح محمد پیروز سره شریکه کړه . زما د اړیکو د ټینګېدو څرنګوالی ښیي چې د ګوند د واکمنۍ په هماغه لومړیو کې د سیاسي بیرو د غړي او وزیر خبره نه اورېدل کېده خو د صالح محمد پیروز د ټیلیفون له امله چې نه د مرکزي کمیټې غړی وو او نه وزیر، خو د امین له پلویانو څخه شمیرل کیده زما سازماني اړیکي ټینګې شوې. دې ډول عجیب حالت ښودل چې د ثور انقلاب وروسته د واک اصلي مرکز امین دی او د هغه پلویان د بشپړ واک څخه برخمن دي . دې حالت هغه ګوندیان چې په هیواد کې د قانونیت او ټولنیزعدالت د ټینګېدو په هیله د دې ګوند په لیکو کې مبارزې ته مخه کړې وه او پدې لار کې یې زندان او مرګ منلی وو نهیلي کړل. ښایي د ثور انقلاب مخکې د پنځوسوو تنو څخه زیات ګوندیان نه وي بندیان شوي . خو د ګوند د واکمنۍ پر مهال د زرګونو غیر ګوندي هېوادوالو سربېره زرګونه ګوندیان د زندانونو مېلمانه او یو شمېر چانواري شول . د ګوند د واکمنۍ پرمهال هغه ګوندیان د واکمن وضعیت څخه ناراضه او تر فشار لاندې وو، بندیان کېدل او وژل کیدل چې د ګوندي اصولو او قانون څخه سرغړونې ور ته د منلو وړ نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## د افغانستان د سیاسي غورځنګ غم لړلی برخلیک

له بده مرغه د افغانستان سیاسي تاریخ د استبداد او زورزیاتی یو غم لړلی داستان دی. واکمنانو، واکمنیو او همدا رنګه د واک مدعیانو خپل مخالفان او سیالان په پوره بیرحمۍ سره ځپلي دي. له بله پلوه افغانستان د خپل جیوپولیتیک او جیوستراتژیک موقعیت له امله د وخت د زبرځواکونو د تیریو هدف ګرزیدلی دی. دې تیریو واکمنۍ اړایستلي دي چې سیاسي مخالفان او شکمن کسان وځپي او شته ظرفیتونه د هېواد د دفاع په موخه وکاروي او ولس د خپلې خاورې د ساتلو او د خپلواکۍ د ګټلو لپاره وجنګیږي. په نولسمه پیړۍ کې چې اروپایي ولسونو د صنعتي انقلاب له برکته د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه اوچتول افغانستان د لویې بریتانیا او تزاري روسیې د تیریو هدف ګرزیدلی وو او هر لوري هڅه کوله پدې« ستراتژیک معبر» واکمن شي.ترڅو هغوی د افغانستان په اړه یوه جوړجاړي ته چې افغانستان د دوی ترمنځ د یوه حایل په توګه ومنل شو ورسېدل او روسانو دې ته غاړه کېښودله چې افغانستان د انګریزانو د نفوذ د ساحې په توګه ومني . د شاه امان الله د لس کلنې واکمنۍ پرته د جمهوري نظام تر ټینګیدو پورې د واکمنیو تګلارې تر ډېره بریده د انګرېزانو د پالیسیو څخه اغیزمنې وې چې هغه د ملي- دموکراتیکو خوځښتونو په ځپلو او په تیاره کې د ولس په ساتلو څرخیدلې.د دې ادعا د اثبات لپاره به دوې بیلګې راوړو.«د انګلیس سفارت د جګړې (دوهمه نړیواله جګړه ) پرمهال د هاشم خان موافقه ترلاسه کړې وه چې د جګړې تر پایه د ټول افغانستان د کنترول لپاره د انګریزانو د جاسوسۍ دستګاه په کابل کې د انګلیس د سفارت تر څارنې لاندې جوړه شي.» ۲۰۴/۱۱ د دوهمې نړیوالې جګړې پرمهال په کال ۱۹۴۳ کې په افغانستان کې وچکالي راغله او خلک له لوږې سره مخامخ وو خو حکومت د دې پرځای چې خلکو ته لومړني توکي برابرکړي د لرګیو په سوداګرۍ او د هیواد څخه په صادراتي توکو حکومتي انحصار ټینګ کړ او جبراً یې د خلکو څخه غنم او نور محصولات د جګړې مخکې کلونو په بیه اخیستل .د لرګیو په سوداګرۍ حکومتي انحصار چې د هیواد د جنوبي او مشرقي ولسونو دودیزه بوختیا ګڼل کیده د دې سیمو د خلکو د مخالفت سره مخامخ شو او د زمرک خان ځدران په مشرۍ ځدرانو پاڅون وکړ. وروسته منګل ، تني ، ساپي او سلیمانخیل ورسره ودریدل او د پولې د هغې خوا وزیرو هم ورسره همغږي وښودله. هاشم خان د افغانستان د سویل د پښتنو د پاڅون والو سره د وزیرستان د قبایلو د یوځای کیدو د مخنیوي په موخه د برتانوي هند حکومت ته مراجعه وکړه ترڅو وزیر اړ باسي چې د زمرک خان سره مرسته ونکړي. په کابل کې د انګلیس سفارت د خپل حکومت په استازیتوب د هاشم خان سره ژمنه وکړه چې آزاد قبایل به له ځدرانو سره مرسته نه کوي. لویه بریتانیا په خپله ژمنه ودرېدله. ځکه چې غوښتل یې د انګریزانو طرفدار د هاشم خان حکومت په واک کې پاتې شي. د۱۹۴۴ کال د جون په میاشت کې د انګلیس سفیر اسکوایر په خپله یوه لیدنه کې په کابل کې د شوروي سفیر باکولین سره د افغانستان او هند په پولو کې د زمرک خان د پاڅون له امله د وضعیت داسې انځور کاږي:« اوس په قبایلو کې دوې څیرې لیدل کیږي ، زمرک خان په افغانستان کې او ایپي په هند کې. ایپي د انګریزانو د حکومت په وړاندې جنګیږي او زمرک د افغانستان د حکومت خلاف مبارزه کوي. فقیر او زمرک کولی شي د افغانستان د حکومت خلاف سره یو شي دا مهال به قبایل له دولتي سپاهیانو نه ځواکمن شي. د قبایلو زور ټولو ته څرګند دی. نادرشاه په همدې زور د سقاو زوی را نسکور کړ. دا چې امان الله ونشوای کړی په تخت پاتې شي ،یوازینی دلیل یې دا وو چې قبایلو د هغه په وړاندې ښورښ کړی وو...، د هند د شمال لویدیځ، سرحدي ایالت مشر د هاشم خان د انګریزي پلوي حکومت د ژغورنې لپاره د وزیرستان د قبایلو مشران د بنو ښار ته راوبلل چې په تهدید او تطمیع سره یې اړ کړي د افغانستان په پیښو کې د خپلې نه لاسوهنې تضمین ورکړي، خو بیا هم وزیرو د ځدرانو کورنیو ته پناه ور کړه...، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د حکومت په غوښتنه ، د بریتانیا هوايي ځواکونو هغه کلي چې ځدرانو پکې د پټېدو امکان درلود په وزیرستان کې بمباري کړل...، د انګلیس قوماندانی د افغانستان د وسله والو ځواکونو د مشرتابه سره د بم غورځوونکو الوتکو د ګوزارونو د اغیزمنتوب په موخه عملیات همغږي کړل.» ۱۲ پورتنۍ بېلګې د سیدقاسم رښتیا د دې وینا «افغانستان چې کلونه انګرېزان د ګواښ په وخت کې د خپل ځان ملاتړي ګڼل کله یې چې د هند نیمه وچه پرېښودله ستره سیاسي تشه لدې ناحیې احساس کړله. »۱۳/ ۹۶ د صحت مهر لګوي . دا بیا ښيي چې د یحیی کورنۍ د انګریزانو د پالیسیو او تګلارو تر اغیزلاندې وه او دواړو اړخونو د متحدینو په څېر د دواړو خواوو افغانانو په ځپلو کې همغږي او همغاړي وو.

سربېره پردې په افغانستان کې د پېړیو استبداد منطقي پایله په ټولنه کې د خشونت پالونکي فرهنګ واکمنېدل شوي دي. دا متل «چې ډب نه وي ادب نه وي » په افغاني ټولنه کې د خشونت د واکمن فرهنګ څرګند ساری دی. موږ د یوویشتمې پېړۍ په دوهمه لسیزه کې هم ولیدل چې څه ډول زموږ د خلکو ژبې، غوږونه، پزې، ګوتې او سرونه پرې کېدل او په کورنۍ او ټولنه کې انسان او د هغه انساني کرامت د دود او دستور له مخې تر پښو لاندې کېدلو. د ناټویي اشغال وروسته و لیدل شول چې د نسکور شوي واکمنۍ مخورو چې غوڅ اکثریت یې د شمال تلوالې اړونده کسان دي د دوهم مقاومت په نامه د هېواد بهر د جګړې نغارې ډنګوي .دا ټول د خشونت او زورزیاتۍ د فرهنګ څرګندې نښې دي. د نولسمې پېړۍ په پېل کې په اروپا کې سیاسي خوځښتونو د کارګرو او نورو صنفي ډلو د حقونو د ترلاسه کولو لارښوونه کوله ، د زبېښناک ، استبداد او بیعدالتۍ خلاف یې واکمنیو ته چلنجونه ورکول او د ورورګلوۍ ، برابرۍ ، دموکراسۍ او د قانون د واکمنۍ غوښتنې یې وړاندې کولې. خو افغانان یوه پېړۍ وروسته د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د لنډې مودې لپاره د سراج الاخبار افغانستان( جنوري ۱۹۰۶ ) د خپرونو شاهدان وو خو دا اخبار د واکمن استبدادي فرهنګ له کبله و نه زغمل شو او د خپلواکۍ او مشروطیت د لارې لارویان په بېرحمۍ سره وځپل شول . دې غورځنګ د هیواد په تاریخ کې د لومړي مشروطیت نوم خپل کړ. څه موده وروسته په ۱۹۱۱ کې د محمود طرزي په نوښت د سراج الاخبار افغانیه په نامه اخبار چې منځپانګه یې د ویښتیایي - روښانتیایي او د ملي خپلواکۍ د لاسته راوړلو پر محورڅرخیدله په خپرونو پیل وکړ. پدې ویښتیایي – روښانتیایي کار کې د لومړي مشروطیت هغو مبارزو مخکښانو رول درلود چې د استبداد له خنجر نه ژوندي پاتې وو. دې غورځنګ ته دوهم مشروطیت وویل شول. دې دواړو غورځنګونو د هیواد د تېرو سیاسي غورځنګونو په څېر کوم سازماني تشکیلات نه لرل او یوازې یې د خپرونو له لارې خپل افکار خپرول. د دوهم مشروطیت د راڅرګندیدو وروسته زماني پړاو کې د نړۍ په حالاتو کې زیات بدلون راغی او نړیوال پانګوال سیستم د ژور کړکېچ سره مخامخ شو. د دې کړکیچ پایله د لومړۍ نړیوالې جګړې پېښېدل دي چې د هغې له امله د سترو پانګوالو هیوادونو اقتصاد سخت ګوزار ولید او کمزوري شول. په تزاري روسیه کې د اکتوبر سوسیالستي انقلاب (۱۹۱۷ ) بري ته ورسید او د پانګوالۍ په وړاندې نوی سوسیالستي نظام د یوه غوړېدونکي سیال ځواک په بڼه ډګر ته راووت او د لویې بریتانیا امپراطورۍ د ګواښونو او ړنګېدو سره مخامخ شوله. د دې ړنګېدو د نوښت ویاړ د افغان ولس په برخه شو او دې سترې امپراطورۍ ته یې مرګونی ګوزار ورکړچې هغه د ۱۹۱۹ کال د اګست په اتمه انګرېزانو د افغانستان خپلواکي و منله او پدې ډول د شاه امان الله تر زعامت لاندې افغانستان بشپړه سیاسي خپلواکي ترلاسه کړله. د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته شاه امان الله د یوه پرمختللي افغانستان د جوړولو په موخه ګړندي سمونونه پیل کړل. په هیواد کې یو نوی چاپیریال چې د مختلفو سیاسي بهیرونو را څرګندیدل او د بیان د ازادۍ راتګ دی منځته راغی او د واکمنۍ په د ننه کې لاندې سیاسي بهیرونو سر را پورته کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-درباري سمونپالان – دوی د شاه امان الله د واکمنۍ پر مهال د حکومت سیاسي او اقتصادي پالیسۍ او طرحې جوړولې چې محمود طرزي ، محمدنادر، غلام نبي خان څرخي ، والي علي احمد، یاورمحمود، سردارعبدالقدوس خان او محمدولي دروازي یې مرکزي څیرې دي.

۲- جوانان افغان( افغان ځلمیان) – د دې ډلې غړي عبدالرحمن لودین،غلام محی الدین آرتي، تاج محمد بلوڅ او میرغلام محمدغباردي. دوی د شاه امان الله له لوري په جوړو شوو دوو لویو جرګو او نورو دولتي غونډو کې د حکومت په کړنو، په اداره کې پر شته نیمګړتیاوو نیوکې کولې او د دولتي دستګاه د اصلاح او سمون لپاره یې خپلې طرحې وړاندې کولې. لدې امله دا ډله د ټولني مختلفو قشرونو د خپل لیدلوري له مخې د کینې لاسو، بنسټپالو ، تروریلوه او دې ته ورته نورو نومونه په نامه یادوله .

۳-اعتدالیون ( منځلاري) – پدې ډله کې د لغماني میرمحمدقاسم او عبدالهادي داوي په ګډون د شپاړلسو تنو نومونه یادیږي چې د دموکراسۍ او د هیواد د اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي ودې او پرمختګ پلویان وو.

۴-حزب نقابدار(نقاب لرونکی ګوند)- د میرغلام محمدغبار له قوله دغه ډله د اماني دولت په وروستي کال کې د هیواد په ختیځ کې د جمهوري نظام د جوړولو په موخه تبلیغات پیل کړي دي. د دې ډلې د مشرتابه، کړنلارې او تشکیلاتي اصولو په اړه لاسوندونه شتون نلري .

اماني نظام چې د ترقي ضد کړیو، بریتانوي هند او د هغو د تالي څټو لپاره د سترګو اغزی وو د دې شیطاني مثلث له لوري رانسکور شو او په هیواد کې د حبیب الله کلکاني د وحشت واکمني ټینګه شوه. د دې لنډ مهاله وحشت په وړاندې بیا هم ملي خوځښتونو سر راپورته کړ چې په هغو کې لاندې دوه خوځښتونه یادیدی شي :

الف – د آزادۍ غوښتونکو ګوند - د کلکاني د واکمنۍ د را پرزولو په موخه د دغه ګوند بنسټ په پټه د اماني لیسې ښوونکي حبیب الله کېښود . ګوند اووه کسیزه مرکزي کمیټه لرله چې مشر یې ښوونکی حبیب الله وو. د آزادۍ غوښتونکو ګوند د هلوځلو له امله د سازمان د غړو شمیر سلو ته رسیدلی وو چې د کلکاني څارګرو د دې پټې شبکې د مشرتابه پته وموندله او هغه یې چناوراي کړله. لکه څرنګه چې دا شبکه ډیره پټه وه د مشرتابه پرته واکمنۍ ونه توانیدله ټوله شبکه کشف کړي.

ب- د جمهوریت ټولنه – دا ټولنه د کلکاني د واکمنۍ پرمهال محمد ګل مومند ، سید غلام حیدرپاچا او د هغه د اکا زوی فرقه مشر سید حسن شیون د جلال آباد د بابریانو په کلي کې جوړه کړې ده.

د حبیب الله کلکاني غلواکۍ ته د نادرخان له لوري د پای ټکی کیښودل شو او هغه یې د څو تنو ملګرو سره غرغره کړ.له بده مرغه د کلکاني د وحشت په ځای په هیواد کې د یحیی د کورنۍ د اختناق پیر پیل شو. د نادرخان واکمنۍ د ستر استبداد نوم خپل کړ.د یحیي د کورنۍ د مستبد صدراعظم محمدهاشم د حکومت پرمهال د مشروطه غوښتونکو، د شاه امان الله د پلویانو، د افغان ځلمیانو او منځلارو ډلو مخکښان له ډګره وایستل شول. د څرخي د کورنۍ اتلس تنه غړي له تیغه تیر کړل شول. عبدالرحمن لودین،تاج محمد پغماني ، فیض محمدباروت او یو شمیر نور ووژل شول.غلام محی الدین آرتي ترور شو. میرغلام محمد غبار، میر سید قاسم لغماني د مشروطیت او د غازي امان الله پلویان او زیات شمیر روڼ اندي په مختلفو پلمو بندیان او تبعید شول. « لنډه دا چې د محمدهاشم خان د حکومت ټول پړاو د په خپلسر بندی کولو،ډول ډول فزیکي شکنجو، پولیسي څارنو، تبعیدونو او وژنو مشهور وو. » ۲/ ۹۵ – ۹۶ د یحیی کورنۍ د پرمختلونکو افکارو خاوندان او همدا راز ملي او د بریتانیایي ښکیلاک ضد څیرې وځپلې چې د خلکو د نارضایتی اسباب یې برابر کړل. له بله پلوه د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ کې حالات د سولې ،تولنیز پرمختګ او دموکراسۍ په ګټه بدلون وموند. هماغه دي چې د مستبد سردار محمدهاشم پرځای سپه سالار سردارشاه محمودخان د صدراعظم په توګه ګومارل کېږي. که څه هم شاه محمودخان د نرم مزاج خاوند وو خو ورور یې دومره ریبلي وو چې ده ته نور د ریبلو څه ور پاتې نه وو. دا مهال د محمدهاشم د استبداد وېره لږ شوه ، د هیواد د سیاسي غورځنګ په رګونو کې وینه وبهیدله او د مخکښو روڼ اندو، ملي او دموکراتیکو ډلو سربېره واکمنی او په واکمنی پورې تړلو کړیو د لاندې سیاسي سازمانو بنسټونه کیښودل .

ویښ ځلمیان - د ویښ ځلمیانوغورځنګ زموږ د هیواد په تاریخ کې لومړی ملي – دموکراتیک غورځنګ دی چې څرګندې سیاسي – ټولنیزې موخې یې لرلې. د داسې یوه غورځنګ د جوړیدو اړتیا چې په هغو کې د ملي دموکراتیکو موخو لرونکي منورین تنظیم شي د« ویښ ځلمیانو» په نامه رساله کې انعکاس وموند.دا رساله د کابل په مجله کې چې مسؤل مدیر یې عبدالرؤف بینوا وو خپره شوې ده. په هیواد کې د ښوونې او روزنې عمومي کول ، د افکارو روښانتیا ، د بډو، اختلاص او بیروکراسۍ پرضد مبارزه ، د منځنیو پیړیو د زړو تصوراتو، زاړه او نوي ښکیلاک او استبداد پر ضد مبارزه، د مظلومو ولسونو د حقونو نه دفاع او د ملي یووالي ټینګښت د دې غورځنګ سیاسي موخې ګڼل کیدې . د دې خوځښت د فعالیت اصلي مرکزونه کابل ،کندهار او ننګرهار وو او د هیواد د مختلفو قومونو استازو پکې ګډون درلود خو د پښتنو ونډه پکې درنه وه. د غورځنګ د جوړیدو په اړه محمدولي ځلمی د ویښ ځلمیانو یو فعال پخپل ( د استبداد او مطلقیت په مقابل کې د ځینوافغانانو مبارزې) نومي کتاب په ۲۶۹ مخ کې لیکي:« د هیواد یو شمیرځلمیانو چې د ویښ ځلمیانو د تدارک د کمیسیون د لارښوونې له مخې د کندهار، ننګرهار او کابل یو شمیر ادبي او عرفاني ملګرو لکه عبدالرؤف بینوا، فیض محمد انګار، نورمحمدتره کي، قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین،ګل پاچا الفت، نیک محمدپکتیاني، محمد ارسلان سلیمي، عبدالقدوس پرهیز، ابوالحسن هزاره، پاینده محمد روهیلي، عطامحمد شیرزوی، محمدظاهر تائب او ځینو نورو لیکوالانو چې شمیر یې دوه ویشت تنو ته رسیدی، د دارالامان په افشارو کې د عبدالمجید زابلي د نوې پروژې په یوه سالون کې د ماپښین په دووبجو د ویښ ځلمیانود جوړولو (تاسیس) او د بیلابیلو ولایتونو د نمایندګانو د را ټولولو طرحه وړاندې کړه. دغې غونډې ته لمړی درې طرحې وړاندې سوې، چې یوه یې د عبدالرؤف بینوا او نورمحمدتره کي، بله یې د قیام الدین خادم او دریمه د صدیق الله رښتین په حمایه وه. لومړۍ یې مترقي او عصري، دوهمه ملي او وطني ، دریمې یې مذهبي او کلتوري رنګ درلود.» محمدعلم بځرکی پدې هکله لیکي: « هغه کسان چې دا ډله ( د ویښ ځلمیانو ډله ) یې جوړه کړه په کابل کې عبدالرؤف بینوا، ارسلان سلیمي ، قیام الدین خادم ، نورمحمدتره کي، فیض محمد انګار ، غلام حسن صافي، رښتین ، الفت په کورونو کې سره لیدل وروسته یې د ولایاتو سره ارتباط پیدا کړ ...، د ویښ ځلمیانو تئوریسنان په کابل کې ناست وو.» ۱۴ / ۳۰ دې سازمان مشر نه درلود او د مدیره هیات لخوا چې هغه د کنګرې له لوري غوره کیده رهبري کیده. د کنګرې فعالان نورمحمدتره کی، عبدالرؤف بینوا او قیام الدین خادم وو. د خوځښت لومړی مدیره هیات نورمحمدتره کی ، عبدالروف بینوا، قیام الدین خادم او محمد ارسلان سلیمي دي. د ویښ ځلمیانو د کنګرې ګډونوال «نورمحمدتره کی، عبدالرؤف بینوا، قیام الدین خادم،ګل پاچا الفت، صدیق الله رښتین،فیض محمد انګار، محمد ارسلان سلیمي، نیک محمد پکتیانی،ګل شاه صافی،پاینده محمد روهیلي، عبدالقدوس پرهیز، محمدظاهر، نورمحمد پونده، لعل محمد احدي ، عبدالکریم نزیهي ازبک، عبدالصمد پتک، غلام رحمن جرار، ولي زلمی، عبدالهادي خوږمن، شاه مرد، ابوالحسن» ۱۵ / ۵۱ دي. د دې غورځنګ یوغړی پدې هکله لیکي : «ویښ ځلمیانو په ۱۹۴۶ز کال چې له ۱۳۲۵ه ـ ش سره برابر دی په خپل پیوستون او سیاسي کار پیل وکړ .په دې وخت کښې ځلمیان چې شا ته ګوري ډېر تاریکه او بیربډونکي مناظر ویني خو آینده ډېره روښانه ښکاره کیږي .مګر حال ورته د خوف او رجأ ترمنځ دی.» ۱۴/ ۲۷ د دې غورځنګ دوهمه غونده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرمحمدصديق فرهنگ په کور کې جوړه شوې چې په هغه غونډه کې غلام محمدغبار او محمدصديق فرهنگ هم د ويښ ځلميانو غړيتوب ترلاسه کړ خو هغوی په دريمه غونډه کې گډون ونکړ ، د غورځنگ سره يې خپلې اړيکې وشلولې او د وطن د جريدې په خپرولو يې لاس پورې کړ. د ويښ ځلميانو د يوه مشر عبدالهادي توخي په وينا « د ويښ ځلميانو گوند مخکې لدې چې سياسي گوند وي د اخلاقي بنسټونو يو گوند و.» د ويښ ځلميانو له ترکيب څخه ښکاري چې هغه د سياستوالو پرځای د روڼ اندو، پوهانو، ليکوالو او شاعرانو يو ټولنيز جوړښت وو چې د ولس د ويښولو او روښانولو ستر رسالت ته يې ملا تړلې وه. له همدې کبله هغوی د هيواد په مختلفو سيمو کې د جريدو (انگار، ولس ، وروورغړ) په خپرولو لاس پورې کړ چې هره يوه يې د واکمنۍ له لوري توقيف شوه . دا غورځنگ هغه وخت جوړ شو چې په افغاني ټولنه کې د ځرگندو طبقاتي پولو ځرگ نه لگيده او يا روڼ اندو او سياستوالو د هغه د درک او پوهېدو وړتيا نه لرله. د هغه مهال روڼ اندو په ټولنه کې د واکمن استبداد، فساد او د بيعدالتيو سرچينه د طبقاتي ستم له کړکۍ څخه نه ، بلکې د افرادو د اخلاقو او کړووړو پايله گڼله. د ويښ ځلميانو سازمان په لنډه موده کې په يوه پياوړي غورځنگ واوښت. د غورځنگ د پياوړتيا بهير حکومت په وېره کې واچاوه او د هغه د کمزورولو او پاشلو هڅې يې پيل کړې او بالاخره يې پرې مرگونی گوزار وکړ. د غورځنگ د مشرانو او فعالانو په زنداني کولو، د دولتي کارونو څخه گوښه کولو، د ښارونو څخه يې د فعالانو د بدلولو او يا په بهر کې په دندو گومارلو سره يې هغه دړې وړې کړ.

وطن جريده - دې جريدې په ۱۹۵۱ کې په خپرونو پيل وکړ. د جريدې د امتيازخاوند ميرغلام محمدغبار او مسؤل مدير يې محمدعلي خروش وو. څه موده وروسته غبار د وطن د جمعيت( د وطن ټولنې ) بنسټ کېښود او نوموړې جريده د هغه په نشراتي ارگان واوښته. د دستگيرپنجشيري په وينا ميرغلام محمدغبار، محمد سرورجويا، کاکا فتح محمد فرقه مشر،براتعلي تاج ، ډاکتر ابوبکر، ميرمحمد صديق فرهنگ، علي احمد نعيمي، عبدالحی عزيز، ميرعبدالعليم هاتفي، قيوم رسول، سلطانجان ، ډاکترغلام فاروق اعتمادي او علي محمد خروش د وطن د ټولنې مشهورې څېرې وې. د يو شمير څېرونکو په آند د وطن د ټولنې او ويښ ځلميانو دريځ يو بل ته ورته وو خو د جمعيت د غورځنگ سياسي ، ټولنيز او اقتصادي شعارونه ځرگند او هراړخيز وو.« د دې غورځنگ موخه د مشروطه حکومت د واکمنۍ پرمهال د ټولنيز ژوند په ټولو برخو کې د ولسواکۍ د اساساتو ترويجول ، د بورژوازي ( مدني ) آزاديو تبليغ ، د سياسي گوندونو او بهيرونو جوړښت ، د شغل ، دندې او د هستوگنې د ځای آزادانه انتخاب، د فردي آزاديو تامين ،د ملي اومذهبي حقوقو برابري ،د سترو خصوصي شرکتونو د اقتصادي برترۍ محدودول او نور... » وو. ۱۵/ ۶۵

د خلکو گوند – د دې گوند بنسټ په پټه عبدالرحمن محمودي د خپلو همفکرانو امان محمودي، ډاکټرحسن بهروز ، استاد محسن صحرايي، ډاکټرمصلح، داکټررحيم محمودي، ډاکټرهادي محمودي او موسی نهمت کېښود. مخکې لدې چې عبدالرحمن محمودي د دې گوند بنسټ کيږدي هغه د ندای خلق په نامه يوه جريده چلوله چې د امتياز خاوند يې دی پخپله او مسؤل مدير يې انجينرولي محمد عطايي وو. « د دموکراسۍ او ټولنيزعدالت د تامين لپاره د آزادو، مستقيمو او پټو ټاکنو له لارې د پارلمان جوړول ،د دولت په اداره کې سمون، د بډو اخيستلو، اختلاص ، اجباري کار او بوروکراسۍ محکومول ، د ښوونې او روزنې او د سواد عموميت هغه مسألې وې چې ندای خلق په جرآت سره توضيح کولې. » ۱۵/ ۶۸ د ندای خلق د جريدې خپرونې او دريځ د ويښ ځلميانو په پرتله روښانه او ځرگند کيڼ لوری درلود . دا گوند لږترلږه په لسو ډلو وويشل شو. د يادولو وړ ده چې پورته يادشوي غورځنگونه ( ويښ ځلميان، د وطن جمعيت او د خلکو گوند» چې په هېواد کې د سمونونو د راوستلو او د ولسونو د ويښتيا په موخه د شاه محمود خان د صدارت پرمهال را ځرگند شول د جلاجلا خوځښتونو په شان چې په کړنلارو کې يې د گډو موخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څنګ اختلاف هم درلود د یو بل سره یې دوستانه اړیکې ساتلې او د یو بل خلاف یې تبلیغات نه کول. ترديې چې د ندای خلق او د وطن جریدې د انګار د جریدې په چاپخانه کې چې په ویښ ځلمیانو پورې یې تړاو درلود چاپیدلې .

ملي کلوپ – ملي کلوپ د سیاسي سازمان په توګه د سردار شاه محمودخان د صدارت پرمهال د سلطنتي کورنۍ په نوبنت جوړ شو چې موخه یې د سلطنتي کورنۍ د واک او اقتدار ساتل وو. د شمس الدین مجروح د لیکنې له مخې « د دې بدلونو پر مهال یو بل خوځښت چې د واکمنۍ د مهمو اراکینو له خوا یې ملاتړ کېده د ملي کلوب( ملي کلوپ) په نامه جوړشو ، موخه یې د زیاتو ګوندونو د جوړېدو مخنیوی وو چې ورو ورو شورا ته خپل استازي واستوي او یوه ورځ وکولای شي یو ستر حکومتي ګوند جوړ کړي ، ددې خوځښت بنسټ ایښودونکي او ملاتړي د دفاع وزیر سردارمحمد داود او د بهرنیو چارو وزیر سردارمحمد نعیم ، د اقتصاد وزیر عبدالمجید زابلي او څو تنه نور وو او د دې خوځښت د دارالنشاء او سکرتریت مشري یې زما په غاړه کېښودله. » ۱۶/ ۹۵- ۹۶ سربیره پردې مجروح دا هم نه پټوي چې صدراعظم شاه محمود، عبدالمجیدزابلي او سردار محمد نعیم او نورو لوړپوړو چارواکو د دې کلوپ جوړښت د دموکراسۍ د بهیر د ودې او د تحصیل کړو ځوان نسل د سیاسي روزنې لپاره ګټور باله. هغه ډله څیړونکي او د سیاسي چارو کارپوهان چې محمدداود د ملي کلوپ بنسټ ایښودونکي ګڼي لامخکې ځي او وایي چې محمدداود د پاچا د کتبي اجازې له مخې د۱۹۵۰ کال په لومړیو کې د دموکرات ملي په نامه ګوند جوړ کړ. همدا رنګه محمدابراهیم عطایي دا سیاسي جوړښت د هغه مهال د واکمنۍ د کلیدي چارواکو یو جوړښت ګڼي او لیکي :«د سترو دولتي اراکینو، سردارانو او اشرافو یوه ډله وه چې د دموکراسۍ په نامه یې سر راپور ته کړ. سردارمحمد داودخان د دفاع او د کورنیو چارو د وزارتونو سرګروپ یې لاربښود وو. همدارنګه عبدالمجید زابلي د اقتصادي او مالي چارو سرګروپ ، سردار فیض محمدخان د فرهنګي او معارف د چارو سرګروپ او د وزارتخانو آمران پدې ډله کې شامل وو.» ۱۷ / ۳۲۶ د شاه محمودخان د صدارت پرمهال د حکومت د چارو د بنې سمبالتیا په موخه هغه وزارتونه چې دندې یې سره نږدې وې د یوه سرګروپ له لارې په مرکزي ډول رهبرې کیدل. خو دې ډول مېکانیزم ډیره موده دوام ونکړ. د ملي کلوپ د جوړولو څخه د سلطنت موخه دا هم وه چې د غوړیدونکي ملي دموکراتیک بهیر سره مقابله وکړي یا په بله وینا د مشروطه غوښتونکي غورځنګ په وړاندې ودریږي. داودخان چې د واک او زعامت لیوال وو غوښتل یې د دې کلوپ له لارې له یوې خوا د شاه محمودخان سره سیالي وکړي او له بلې خوا په روڼ اندو او د محصلینو په غورځنګ ولکه ټینګه کړي. « د دولت په دستګاه کې د سپه سالار او سردار تر منځ اختلاف او سؤ تفاهم پیدا شو سپه سالار خپل وراره د قدرت د نیولو استازی ګاڼه د کلوپ غړي یې د هغې د انحلال او له منځه وړلو په موخه وهڅول او د هغه د کمزورولو لپاره هڅې وکړي تر څو په بشپړ ډول له منځه ولاړ.» ۱۶/ ۱۱۴ د نوي افغانستان د تاریخ د لیکوالانو له انده محمد داود په لومړیو کې هڅه کوله د هغه مهال د وطنپالو یونونو وتلي استازي خپل کړي خو کله چې پدې لاره کې بریالی نشو د وطنپالو په لیکو کې د اختلافونو په رامنځته کولو او د هغو په ځپلو لګیا شو. کله چې ملي کلوپ خپلو موخو ته ونه رسید نو د پښتونستان د آزادۍ اتحادیه چې وروسته د پښتونخواه په نامه یاده شوله جوړه کړه . د دې اتحادیې مشر غلام حیدرخان عدالت د دفاع وزارت د نقلیاتو مرستیال او منشي یې ببرک کارمل وو. خو د پردې تر شا محمد داود اداره کوله. د شواهدو څخه داسې برېښي چې ددې اتحادیې اصلي موخه د ویښ ځلمیانو کمزورول وو چې غوڅ اکثریت یې پښتانه وو. هغه مهال کندهار د ویښ ځلمیانو یو پیاوړی مرکز ګڼل کیده لدې امله« کارمل او غلام حیدرعدالت کندهار ته لاړل تر څو د تورنجنرال عبدالغني خان ګردیزي قلعه بیګي د کندهار د تنظیمیه رئیس او د کارمل د پلار په شتون کې چې د فرقې قوماندان وو د کندهار د ویښ ځلمیانو د مشرانو سره خبرې وکړي او هغوی خپل کړي. کله چې پدې کار کې پاتې راغلل په همغه مجلس کې د ویښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلمیانو د مشرانو د نیولو امر ور کړل شو او هغوی اوږده کلونه د دهمزنګ په زندان کې پاتي شول. »۱۸/ ۲۹۱ دلته لیدل کیږي چي محمد داود د پښتونستان له نامه څخه د خلکو د غولولو سربېره د ويښ ځلمیانو د غورځنګ د کمزورولو په موخه ګټه پورته کوله .

د محصلانو اتحادیه – دا اتحادیه په کال ۱۹۵۰ کې جوړه شوه. د عبدالحمید مبارز په وینا « د اتحادیي د اساسنامي طرحه د حقوقو د پوهنځي د استاد محمد اکبر پامیر په مرسته او د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي د بنسټ ایښودونکي او پخواني استاد او د بهرنیوچارو وزارت سلاکار مني منجي اوغلو په سلا تدوین شوې ده .» داسي ښکاري چي د محصلینو اتحادیه هم د حکومت په نوښت جوړه شوي ده ځکه چي«په لومړیو کې هغو محصلینو چي د محصلینو د اتحادیي په اړه بحث کاوه د صدراعظم شاه محمودخان سره یې خپلوي او نږدې اړیکې لرلې . د ساري په توګه : د غلام فاروق عثمان زامن محمداسحق او توریالی عثمان او خوریی عزت الله مجددي ، کبیرالله او احمد کبیر د محمد کبیرسراج زامن ، د څیره لیکونکي زوی حفیظ الله ( مشهور په سردارحفیظ) او عبدالبصیر حکیمي د محصلینو لومړۍ هسته چي د محمد انس د کابل پوهنتون د رئیس تر لارښووني لاندې فعالیت درلود. » ۱۹/ ۵۲ دا اتحادیه ډیر ژر د محصلینو د لانجو په یوه مرکز واوښته او واکمني هغه غیرقانوني اعلان کړه. میرغلام محمد غبار د دې اتحادیي د اجراییه کمیټي غړي داسي راپیژني: « نیرعلی محمدخان شامل، محمدیونس خان سرخابي، محمدنعیم خان قندهاري،اسعد احسان غبار، محمد عارف خان غوثي، ببرک خان (ببرک کارمل) ،هغه وروسته له فاکولتي طرد او ملي شورا ته د مظاهرو په ترڅ کې د ۱۳۳۱- ۱۳۳۵ بندي شو (ببرک خان کارمل او محمدحسن خان شرق د محمد داوودخان له ډلي ټپلي وو)، محمدیحیی خان ابوي ، حبیب خان، عبدالواحدخان وزیري، محمداسحاق خان عثمان، هدایت خان ، محمدابراهیم خان او نور څو تنه. خو ډیر ژر د محصلینو د اتحادیي کمیټه په دوو کیڼو او ښیو ډلو وویشل شوه.» ۱۱/ ۲۶۱ « د استاد شاکر له قوله د عبدالهادي داوي پر وینا د محصلینو د اتحادیي د اساسنامي په جوړولو کې حیدر ژوبل، فاضل، میرعلي احمد، اسحق عثمان، ببرک کارمل ، حفیظ الله امین ،غلام جیلاني باختري ،حسن شرق ، عبدالواحد، احمدعیسی ، یونس سرخابي اوعظیم صابر برخه لرله. » ۱۵ /۶۹

جمعیت خراسان ( د خراسان ټولنه) - د دې ټولني بنسټ په کال ۱۹۵۲ کې د شمالي ولایتونو ځینو سیاسي فعالانو او مخورو د کابل د بابر په بڼ کې کیښود. وکیل ګلدي ، طاهربدخشي ،عبدالحکیم مجاهد مزاري ،غلام رسول سینایي ،سلام تاشقرغاني ،ډاکټربرنا آصفي د دغه سازمان وتلي غړي وو. ویل کیږي چي د دې ټولني هڅوونکي د هېواد د شمالي ولایتونو ځیني مخور او په هغو کې ابوالخیر خیري، نظرمحمد نوا او خال محمدخسته وو. د دې ټولني د موخو او پروګرام په اړه لاسوندونه نشته .

که چیرې د پورتنیو سیاسي غورځنګونو برخلیک ته وکتل شي هغو خوځښتونو چي ملي دموکراتیکي موخي لرلي او په هیواد کې د ولسونو په ګټه د سمونو د راوستلو په خاطر ربښتیني هلي ځلي کولي د سلطنت د دښمنۍ سره مخ شول او غم لړلی برخلیک لري. زموږ د هېواد د دې زماني پراو واکمنۍ چي د بریتانیا له پالیسیو څخه اغیزمني وې د هغو سیاسي خوځښتونو د راڅرګندیدو او ځواکمن کیدو مخه نیوله چي ملي آجنداوې لرلې، د دیورند د تپل شوې کرښي د دواړو خواوو افغانانو د یووالي پلویان وو او د یوه ځواکمن افغانستان د جوړولو لپاره یې هلي ځلي کولي. د شوروي او انګلوساکسوني اشغالګرو هڅي هم د ملي دموکراتیکو ډلو په کمزورولو او د سکتاریستي او پښتني ضد دریځ لرونکو ډلو په پیاوړتیا څرخیدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یحیی کورنۍ

وروسته له هغې چې افغانستان د انګریزانو او روسانو د جوړجاړي له امله د دوی ترمنځ د یوه حایل هېواد او د انګریزانو د ګټو د ساحې په توګه ومنل شو. د انګرېزانو پرته یې د نورې نړۍ سره سیاسي او دپلوماتیکې اړیکې نه لرلې چې پدې ډول زمونږ هېواد د نړۍ له پرمختګونو څخه اغیزمن نشو. له بلې خوا د انګریزانو او انګریز پلوه واکمنیو هڅې پردې متمرکزې وې چې په هېواد کې د علم او پوهې د خپریدو ګړندۍ مخه و نیسي او پدې ډول ولس په تیاره او خرافاتو کې وساتي. د دې سیاست پایله دا شوه چې افغانان د خپل تاریخ ، د افغاني ټولنې د واقعیتونو او نړیوالو حالاتو څخه بیخبره پاتې شي . همدا لامل دی چې زمونږ تاریخ د نه پوهیدلو او یا غلط پوهیدلو تاریخ ګرزیدلی دی. د یحیی د کورنۍ د واکمنۍ پرمهال په ښوونځیو کې د تاریخ د مضمون منځپانګه دا وه چې امیرانواو واکمنو څه کړي دي اویا څه پېښ شول؟ دې دا معنی لرله چې د تاریخ په مضمون کې دې پوښتنې ته ځواب ونه ویل شي چې ولې یې وکړل یا ولې پېښ شول ؟ دې مسئلې ته په کتنې سره اړینه بریښي د یحیی د کورنۍ په هکله لنډ بحث وشي چې هغه څه ډول انګرېزانو واک ته ورسوله.

« سردار یحیی خان د سردار سلطان محمدخان زوی ، د سردار محمد یعقوب خان خسر چې انګریزان پرې بدګومانه شول نوموړی یې په کال ۱۸۷۹کې برتانوي هند ته تبعید کړ. کله چې امیر عبدالرحمن خان سلطنت ته ورسید انګریزانو ته یې وړاندیز وکړ چې د سرداریحیی کورنۍ هم له کابل نه لېرې او په هند کې ځای پرځای کړي. دې کورنۍ ۲۳ کاله په هند کې ژوند وکړ، ډېری زامن یې هلته وزیږېدل، ښوونځي ته لاړل او د برتانوي هند له فرهنګ سره آشنا شول. » ۲۰/ ۲۴۶ د سردار یحیی پلار چې په سلطان محمدخان طلایي مشهور دی په دې تورن وو چې د انګریزي ضد پاڅون د را پرځولو په کار کې له انګریزانو سره پټې اړیکې لرلې او انګریزانو ده ته د دې چوپړ په مقابل کې د سرو زرو ژمنه کړې وه خو کله ېې چې د انګریزانو په ګټه ستر خیانت تر سره کړ انګریزانو په ور کړل شوې کڅوړه کې د سرو زرو پر ځای کودړي ور ته اېښي وو. دا کورنۍ لومړی په امرتسر کې میشت شوه او انګریزانو وروسته په « دیره دون » کې د ژوند کولو شونتیاوې ورته برابرې کړې او هلته ېې د دې کورنۍ غړي تر روزنې لاندې ونیول. د سردار یحیی خان زامنو آصف خان او یوسف خان او د یوسف خان زامنو محمدعزیزخان ، نادرخان، شاه ولي خان او شاه محمود خان په لودهیانه کې پوځي زده کړې وکړې . د یحیی اولاده او د سردار زکریا د یحیی خان د ورور کورنۍ د امیرعبدالرحمن خان د واکمنۍ په وروستیو کې د انګریزانو د پلان له مخې په ۱۹۰۱ کې کابل ته راولېږدول شولې. سره لدې چې امیرعبدالرحمن خان په انګریزانو پورې تړلی هم وو خو یو شمیر پدې اند دي چې انګریزان د امیر په دوو زامنو حبیب الله او نصرالله بې باوره وو اوغوښتل ېې چې په راتلونکې کې قدرت د یحیی کورنۍ ته ولیږدوي. عجیبه دا ده چې دا کورنۍ کابل ته په راستنیدو سره امیر ډیره ونازوله او د کابل د علی آباد په باغي سیمه کې ځای پر ځای کړله پداسې حال کې چې د خپلې واکمنۍ په لومړیو کې یې پدې کورنۍ د نه باورله کبله له انګریزانو غوښتې ووهغه هند ته واستوي. دا بیا ښیي چې د نوموړې کورنۍ نازول د انګریزانو د ارادې له مخې ترسره کیدل. د امیرعبدالرحمن خان له مړینې وروسته د ده د زوی امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د دې کورنۍ پانګه په غوړیدو شوه سردار یوسف او سردارآصف د امیر په مصاحبانو واوښتل. په تیره کله چې امیر د محمد نادر د خور سلطان نورالحرم سره چې وروسته یې د علیا جناب لقب تر لاسه کړ واده وکړ دې کورنۍ ته نورهم غوره موقعیتونه پلاس ورکړل. دغه کورنۍ له دې وروسته د واکمن کیدو خوبونو ته ور واووښته. ځینې دا هم وایي چې محمد نادر د امیرحبیب الله په وژلو کې لاس درلود. په هغه شپه چې امیر د کله ګوش په ښکار ځای کې ووژل شو د محمد نادرخېمه د ده تر څنګ وه.د امیر له وژل کیدو وروسته محمد نادر او وروڼه ېې د څو ورځو لپاره بندیان شول. د امیر حبیب الله له وژنې وروسته سردار محمد هاشم په هرات کې ونیول شو او په یابو سپور د هزاره جاتو له لارې کابل ته راوستل شو چې پدې ډول یې د شاه امان الله په وړاندې کرکه پیدا شوه.شاه امان الله د نادر د کورنۍ د را خپلولو لپاره خپلې دوې خویندې شاه ولي خان او شاه محمود خان ته ورنکاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي خو کله چې هاشم خان د شاه له دریمي خور سره د واده وړانديز وکړ شاه ورسره ونه منل او سردار هاشم خان هم د ژوند تر پایه واده و نکړ.

په هند کې جلاوطنی دې کورنی ته یو لړ ځانګړتیاوې ور په برخه کړې چې سره متحده وي ، په خپلو کې ودونه وکړي ، لوړې زده کړې وکړي او د خپلې کورنۍ ګټې د هرڅه نه لوړې وګڼي. د سرداریوسف او سردارآصف د مړینې وروسته محمد نادر د خپل استعداد له مخې په کورنۍ کې د بیساره درناوي څخه برخمن شو. محمدنادر په ۱۸۸۳ کې په دیره دون کې وزیږیده ، هلته یې زده کړې وکړې او څه موده په پوځي چارو لګیا وو. په انګریزي او اردو ژبو یې بشپړ تسلط درلود په دري ژبه هم پوهیده خو په پښتو ژبه یې خبرې نشوای کولای. البته چې د یحیی د کورنۍ ټول غړي په پښتو نشوای غږیدلای.پدې اړه چې ددې کورنۍ غړي په پښتو نه پوهېدل د یوې بېلګې راوړل په زړه پورې دي . کله چې سردار داود د مشرقي نایب الحکومه او د فرقې قوماندان وو مشرقي ته د پولې د هغې خوا راغلو پښتنو ته په دري ژبه وینا کوله چې ژباړه یې دري ژبې جنرال میراحمد مولايي کوله . محمدنادرهیواد ته په راستنیدو سره په پوځ کې شامل شو او په پنځه ویشت کلنی کې جنرالۍ ته ورسید. د امیرحبیب الله د سلطنت پرمهال نادرخان د منګلو د ښورښ د ځپلو له امله د نایب سالارۍ رتبه ترلاسه کړه. یو لړ لاسوندونه ښیي چې انګریزان د هغه په واکمنولو کې ښکیل وو.په ۲۰۰۱ کې په پیښورکې د نادرخان او د هغه د کورنۍ په نامه په دري ژبه یوه رساله چاپ شوه چې لیکوال یې افغان مهاجر معرفي شوی دی.رساله داسې پیل شوې : « اقتباس از شماره اول جمهوراسلام ، اول سپتمبر ۱۹۵۱ ، طبع پشاور، صفحه ۱۰ تا ۱۸.» دا وخت په پیښور کې د عبدالحی حبیبي له لوري د افغانستان د موقتي جمهوریت د اعلان سره سرخوري . هغه مهال حبیبي د واکمنۍ سره د مخالفت له امله په پاکستان کې اوسېدلو. لدې نه څرګندیږي چې د رسالې لیکوال عبدالحی حبیبي دی. د رسالې په ۱۷ مخ کې د جنرال تاج محمدخان بلوڅ د سندونو پر اساس چې محمدنادر د امیرحبیب الله په وژنه کې لاس درلود راغلي دي :« د امیرحبیب الله خان د کله ګوش واقعه د۱۳۳۷ ق کار د جمادی الاول د اتلسمي په شپه پیښه شوه چې پدې مسئله کې د سپه سالار لاس ښیي، سندونه شته دي چې د پیښې حاضرینو او ناظرینو لیکلي دي ، د هغې د ډلې څخه ( د افغانستان په هکله اسرار) د محمدنادرخان د خانداني خپلوانو څخه د سردار شیراحمد خان لیکنه ده چې ددې غمیزې د پیښیدو مهم لامل نادرخان ګڼي ، ځکه چې هغه د کابل د تخت تمه لرله او د هغه لپاره په ډهلي او کابل کې پلانونه جوړشوي وو. لاندې لیک چې جنرال تاج محمدخان لیدلی وو دا پټه طرحه روښانوي :« عالیجاه عزت و شجاعت همراه برادر بجان برابرم صالح محمد خان نائب سالار صاحب را واضح باد اینکه: ازین طرف خیریت است، شمایان خاطر خود را جمع دارید کوایف جلال آباد را آرندهٔ این خط بشمایان خاطر نشان خواهد کرد. کارها بر وفق مرام است، آنچه با شمایان گفته شده بود، بهمان قسم شد. بعد از تدفین میت برادرش را امیر ساختیم و مایان تجویز کردیم که معامله بهمین قسم باقی نمی ماند. ارجمندم رکاب باشی ( شاه ولی خان- لیکوال ) متوجه احوال است و عالیجاه عزت مآب مستوفی المالک صاحب( د خلیل الله خلیلی پلار) درین معامله شریک مایان است و انشاءالله تعالی درین روز از راه تګاب بالای دارالسلطنة با قوم خود می آید. عساکر دارالسلطنة را به آن برادر بجان برابر بسپاریده ایم. باید متوجه احوال باشید که معامله از دست عساکر و شمایان بیرون نشود. انشاء الله و تعالی سمت جنوبی از خود مایان است. از آن جهت خاطر جمع داشته باشید. در جلال آباد و کابل هر کس که مدعی سلطنت شود، برای چند روز است. آخر کار بدست مایان و شمایان است. به نفری خود از طرف ما خاطر جمعی بدهید. باقی در حفظ الهی باشید. فقط مورخه ۱۹ جمادی الا ول ۱۳۳۷ ق – امضا محمدنادر» همدارنګه د رسالې په ۱۹ مخ کې راغلي دي چې لیک د امیرحبیب الله د مرګ په دوهمه ورځ نایب سالارصالح محمدخان ته استول شوی دی.د امیرحبیب الله د مرګ نه وروسته لنډه موده محمدنادر او ورونه یې له پامه ولویدل خو بیر ته امان الله خان په دولتی چارو وګومارل او نادرخان یې د جنوبي جبهې د قوماندان په توګه مقرر کړ.

لکه څرنګه چې د افغان – انګریز په دریمه جګړه کې د نادرخان په مشرۍ جبهه د دوو نورو جبهو په پرتله ښه وځلیده شاه امان الله نوموړي ته د سپه سالارۍ رتبه ورکړه او د ده په نامه یې په کابل کې یو یادګاري منارهم جوړ کړ. د نادرخان تر قوماندانی لاندې د تل او وانې د نیولو په اړه ځینې دا هم وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې انګریزانو په لوی لاس هلته شا تګ وکړ ترڅو نادرخان د خپلو راتلونکو پلانونو د پلي کولو لپاره په مطرح ځیره واړوي. البته چې دا ډول ادعا منطقي نه بریښي. خو د یوه څرګند واقعیت نه سترګې نشي پټیدی چې د افغان – انګریز په دریمه جګړه او په تیره جنوبي جبهه کې د دیورند د پولې د دواړو خواوو خلکو سرشندنو او په انګریزي چونیو بریدونو ټاکونکې رول درلود. پدې اړه جنرال یارمحمدخان وزیري په خپل کتاب ( د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ) په ۷۶ – ۷۷ مخونو کې مفصل معلومات وړاندې کړي چې ځینې برخې یې دلته راوړل کیږي: «په ننګرهار کې افغاني پوځ د انګریزانو په مقابل کې ماتې وخوړه . دغې ماتې محمدنادرخان او د وزیرستان د جبهې مشران اندیښمن کړل . د لمریز ۱۲۹۸ د ثور( ۱۹۱۹) د میاشتې اخري ورځې وې چې ملاهمزالله آخوند د وزیرستان او شا وخوا سیمو مشرانو ته د وزیرو او مسیدو په لاس د جهاد د پیل امر وکړ. احمدزو وزیرو لومړی برید د ۱۲۹۸ د ثور په ۲۴ (۱۵ می ۱۹۱۹ ) د سروکې په چونۍ وکړ. دوی په وانه کې هم د انګریزانو په غټ پوځې مرکز برید پیل کړ او د جوزا په دویمه یې ونیو، او ورپسې یې د کچیري ، نیلي ، سپینکۍ کڅ ، تنایي او د توی چونۍ ووهلې . هممهال په خپله سیمه کې د رزمک ، سیفلي توی ، ساړه راغه ، ډبرې اونجي چونۍ ونیولې . د دې سره جوخت ، مداخیل وزیرو د میرامشاه او تته خیلو په چونۍ بریدونه پیل کړل . ټل د انګریزانو غټ پوځې مرکز و چې د پکتیا لپاره یې غټ خطر لاره . غازیانو دغه ډیرمهم عسکري مرکز د ۱۲۹۸ لمریز د جوزا په ۳ ( می ۱۹۱۹ ) له انګریزانو ونیو. بیا په زړه سپیڅلو غازیانو محمد نادرخان ته بلنه ورکړه چې د فرنګیانو د ټل ستر نظامي مرکز په تشریفاتي توګه فتح کړي او د ټل د سوبې مراسم پرځای کړي. محمد نادرخان چې تر همغه ګینټو یې د توپک نه یوه ګولۍ هم د فرنګیانو په لور ویشتلې نه وه ، د ټل پوځې مرکز یې د توپونو د ګولیو په اور سره فتح کړاو بیا یې په ډیره بې انصافۍ او بې عدالتۍ سره د ټل فتح په خپل نوم سره ونومولو .» د خپلواکۍ په جګړه کې د جنوبي جبهې برۍ د دې سبب شو چې نادرخان د۱۹۲۱ – ۱۹۲۲ کلونو کې د حربیې وزیر شي . وروسته کله چې محمدنادر د منګلو د بنوربن ځپلو څخه ډډه وکړه د امان الله خان له لوري په قطغن او بدخشان کې د تنظیمیه رئیس مقرر او څه موده وروسته په فرانسه کې وزیر مختار مقررېږي. محمدنادر د لنډې مودې وروسته دا ماموریت پریښود او محمدهاشم هم چې په مسکو کې سفیر وو فرانسې ته ولاړ او شاه ولي خان هم ورسره یو ځای شو. په افغانستان کې د اغتشاش پر مهال غازي امان الله او کلکاني دواړو له نادرخان څخه وغوښتل چې هیواد ته راستون شي او د دوی سره همکاري وکړي خو هیواد ته رانغی اودری واړه ورونه د۱۹۲۹ کال په فبروری کې هند او په مارچ کې خوست ته راستانه شول او هلته یې خپل فعالیتونه پیل کړل. د بمبیې نه تر خوسته به نادرخان هیواد ته د بیا راستنیدو په اړه مطبوعاتو ته ویل: « زه افغانستان ته په راستنیدو کې شخصي مقصد نلرم ، زه تاج او تخت نه غواړم ، زه دریم خیر غوښتونکی یم ، د اعلیحضرت د اوسني حال څخه اندیښمن یم د هغه د شخصي خیر او د ټولنې د ګټې په موخه به کار وکړم، زما مرام د امن پاڅون او په افغانستان کې سوله ده ، هر څوک چې ملت په پاچاهۍ ومني زه به هغه ته بیعت وکړم، زه به د شاه امان الله خلاف عمل ونکړم. » ۲۱ / ۳۴۹ - ۳۵۱ خوست ته په را رسیدو سره محمد نادراو ورونو یې د اووه میاشتنۍ مبارزې او د حبیب الله کلکاني د ځواکونو سره د جګړو وروسته هغه له واکه ګوښه او ځان یې د۱۹۲۹ کال د اکتوبر په شپاړلسمه د پاچا په توګه اعلان کړ. «کله چې نادرخان خپله پاچاهي اعلان کړه ، پدې خبره موږ حیران شوو، ولې یې داسې کار و کړ چې زموږ په خوب او خیال کې نه و، ځکه هغه خو د پاچاخان عبدالغفارخان سره په پیښور کې وعده کړې وه چې په خپله به دی نه پاچا کیږي. » ۲۲/ ۳۴۰

هېره دې نه وي چې نادرخان او ورونه یې خوست ته په رسیدو سره د۱۲۴۸ هجري قمري کال د ربیع الثاني په ۲۱ د پکتیا د ځاځیو په علیخیلو کې د سیمې د قومونو د مشرانو چې امین جان د غازي امان الله وررور هم پکې ګډون درلود جرګه راوبلله چې د کلکاني په وړاندې څه ډول مبارزه وکړي. پدې اړه جنرال یارمحمد وزیري د خپل کتاب په ۲۵۸ – ۲۶۱ مخونو کې د جرګې په هکله معلومات ورکړي دي چې په جرګه کې ۱۵ ماده یي پریکړه شوې ده. د پرېکړې په ۵ ، ۶ او۱۴ مادو کې راغلي دي :« د وطن د نجات نه وروسته دې اعلیحضرت غازي امان الله خان سلطنت کولو ته راوغوښتل شي. او یا د ده د خپلخاني څخه و بل اهل ته سلطنت وسپارل شي. د اعلیحضرت غازي امان الله تر راتګ پورې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاه سالار صاحب د سلطنت وکيل وي. همدا ګينټه دي د حبيب الله ټولو پلويانو ته عفوه او بخښنه اعلان شي. خو د جرګې د پريکړې خلاف خپل ځان پاچا اعلان کړ.» سره لدې چې يوه ډله څېړونکي پدې باور دي چې انګرېزان د محمد نادر په واکمنولو کې ښکېل وو خو محمد نادر پدې بهير کې د انګريزانو ښکيلتيا په کله ردوي او انګريزان بيا د افغانستان په قضيه کې ځان بې طرفه ګڼي. پدې اړه ريه تالي ستوارت ليکي :« سرهاجسن په روسيه کې انګليسي سفير چې په رخصتيو پاريس ته تللی وو د۱۹۲۶ کال د جنوري په پنځلسمه د محمد نادر خان او د هغه ورور محمدهاشم خان سره وکتل . د نظرياتو د تبادلې په بهير کې نادرخان او ورور يې نوموړي سفير ته ډاډ ورکړ چې هغوی به د بريتانيې سره دوست او هم پيمان وي او د روسيې خلاف به فعاليت وکړي او اضافه يې کړل چې هغوی به د پولې په اړه دوستانه سياست پرمخ بوزي...، دا لومړی ځل نه وو چې نادرخان د انګريز د استازي سره مذاکره کوله ، بلکې د۱۹۲۵ کال د می په ديارلسمه يې د کلونل ارنګ سره په پاريس کې ليدلي وو او يوه مياشت وروسته نوموړي په پاريس کې د بريتانيې د سفير لاردګريو سره د بريتانيې په لګښت د اوسپنې د خط د جوړيدو او همدارنګه په کابل کې د ناآراميو په هکله خبرې وکړلې. د بريتانيې استازي وويل : زموږ په ملاتړ دواړو ورونړو غوښتل افغانستان ته د خدای له خوا ورکړې زياته خاوره موږ ته راوبښي او هاشم خان وړاندوييني وکړه چې ډير ژر په افغانستان کې انقلاب پيليږي او زه شخصاً د امان الله په وړاندې د ښوربښ او پاڅون څخه دفاع کوم.» ۲۳/ ۴۹ – ۵۰ همدارنګه د۱۹۲۸ کال د دسمبر په اوومه بل ځل هاشم خان د نيس په ښار کې د بريتانيې د قونسل ج،و کيوغ سره اړيکه ونيوه او د بريتانيې د بهرنيو چارو د وزارت سره يې د نادرخان د ليدو وړانديز وکړ. د بريتانيې د بهرنيو چارو د وزارت په پټ يادداښت کې راغلي دي چې : « ورونړه غواړي افغانستان ته ستانه شي ترڅو د ښورښيانو سره مرسته وکړي.» ۲۳/ ۸۰

انګريزانو خپل لومړی ګام د۱۹۲۹ کال د فبروی په شپاړلسمه واخيست چې هغه نادرخان او د هغه دوو ورونړو ته يې ډيپلوماتيکې ويزې ورکړې او هغوی د فبروري په دوه ويشتمه د هند بمبيي ته ورسيدل. پدې هکله د کلکتې په يوه جريده کې راغلي دي : « انګريزان د سياست په ډګر کې ماهر شطرنج بازان دي چې د سيال په ګټه څو چالونه لوبوي ترڅو په وروستي چال کې خپل مقصد ته ورسيږي. د افغانستان د سياست په ډګر کې کلکاني حبيب الله د وسيلې پرته بل څه نه وو چې په کابل کې انګليسي سفير همفري ډګر ته وړاندې کړاو دا دي د بل سيال( نادرخان) په ګټه يې له منځه يووړ( يعني نادرخان يې د کابل په تخت کيناوه) » ۲۴ ورونړه افغانستان ته په رسيدو سره له انګريزانو څخه وسلې، ګولی او نقدی مرستې تر لاسه کړلې چې د کلکاني د راپرزولو شونتياوې ولري .نادرخان د انګريزانو د مرستو د ترلاسه کولو څخه انکار کاوه خو کله چې په ټولنه کې د انګريزانو د مرستو ګونګوسې زياتې شوې هغه اړشو د۱۳۱۰ کال د چنګاښ په ۱۴ ملي شورا ته و وايي: «ما واک د قبايلو نه تر لاسه کړی دی. او انګريزانو وروسته له هغه چې زه د پاچا په توګه وټاکل شوم مرسته کړې ده.» ۲۵/ ۱۸۰ جواهرلعل نهرو د نادرخان واک ته د رسېدو په هکله ليکي :« نادرخان پدې ماجرا کې په خپله ګټه عمل وکړ. کله چې بريالی شو شخصاً د نادرشاه په نامه د سلطنت واګې په لاس کې ونيولې . بيا هم په هيواد کې ښورښونه منځته راغلل خو چې نادرخان د انګريزانو دوست وو او له دوی نه يې مرسته تر لاسه کوله حکومت يې دوام وکړ. د بريتانيا حکومت بيله سوده ورته قرضه ورکړه ، وسلې او مهمات يې ورته برابر کړل. » ۲۶/ ۱۶۶۶ « برتانويان چې تل په خپلو پولو د بی نظميو انديښمن ول ،د روان کورني جنګ د کنترولولو په خاطر د نادر خان سره د مرستې ګام اوچت کړ،کټ مټ لکه د پولادي امير سره چې يې د مالي او پوځي کومک په تهيه کولو سره کړي و.په دې مرستو کې لس زره ټوپکونه،پنځه ميليونه کارتوس او يوسل او اويا زره نغد پونډونه شامل ول. » ۳/ ۱۵۶ همدارنګه کله چې نادرخان واک ته ورسېد انګريزانو د هند په بندرونو کې د شاه امان الله د زماني کنګل شوې وسلې ور وليږلې .د محمدنادر له لوري د شاه امان الله سره مخالفت او د هغه له نسکوريدو سره ليوالتيا لدې نه څرګنديږي کله چې نوموړی د غازي امان الله د واکمنی پرمهال د دفاع وزير وو چمتو نشو د پکتيا (منګلو) ښورښ چې د حضرتانو او وروسته د ده د دربار د يوشمير نورو نږدې کسانو په پټو او ښکاره لمسونو را پيل شو وځپي. لدې امله غازي امان الله محمد ولي خان دروازي د ښورښ ځپلو ته وګومارلو . دروازي بلوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته کړه او هغه يې د نادرخان پرځای په کال ۱۹۲۴ کې د دفاع وزير مقرر کړ. د پکتيا په بغاوت کې د سر دار محمد يعقوب خان د مشکوک زوی( عبدالکريم ) چې ځینې هغه د يعقوب خان د مينځې زوی ګڼي را مخ ته کول په ښورښ کې د انګريزانو څرګند لاس ښيي. لدې وروسته ښورښيان د عبدالکريم خلاف ودريدل او ا نګريزان پوه شول چې د يحيی د کورنی په لاس د غازي را پرځول اړينې حساب شوې پايلې نه لري.په کار وو چې داسې يو څوک رامخته کړي چې حالات دومره ترخه او کړکيچن شي چې ولسونه له مرګه په تبه راضي شي له ځان او جهان څخه بيخبره کلکاني يې را مخته کړ او د نوموړي پرمټ يې شاه امان الله له واکه ګوښه کړ. محمدنادر مخکې له دې چې کابل ته را ننوزي په چهلستون کې تم شو او د کابل لويان يې ليدو ته ورغلل. نوموړي په دې کتنه کې د راتلونکي مشرتابه په هکله پوښتنه وکړه او ډيرو ورغلو کسانو دی د سلطنت لپاره وړ وباله . په دې ډله کې محمد ولي خان دروازي د اماني دولت د سلطنت وکيل ، د شورا رئيس شير احمد خان د نادرخان د خورميره او د شاه امان الله د ماليی وزير مير هاشم خان وړانديز وکړ چې سپهسالار د اوس لپاره د سلطنت د کفيل په توګه چارې مخته يوسي او د پادشاهی خبره لويي جرګې ته پرېږدي.کله چې د چهلستون څخه محمدنادر ارګ ته راغی د سلامخانې د مانۍ په غونډه کې د وطن د ژغورنې له څرګندونو وروسته وويل دا کار يې د خدای او وطن ته د خدمت په خاطر کړی او د سلطنت خيال نه لري. خو ځينو قبايلي مشرانو او درباريانو له هغه ډلې څخه سردار فيض محمد خان زکريا ،علی محمد خان بدخشي، غلام محمد خان وردګ او نورو ټينګار وکړ چې ته بايد د سلطنت واګې په لاس کې ونيسې. ويل کيږي چې دې ناستې ته د پارس( ایران) ، شوروي او د ترکيي سفيران رابلل شوي وو او د ترکيي سفير هم هغه ته د سلطنت د منلو په وړانديز ټينګار وکړ. نادرخان له همدې ځایه واګې را خپلې او د لويي جرګې خبره يې شاته ووهله او د قدرت له همغو لومړيو شيبو څخه يې د مشروطه غوښتونکو او خپلو نورو مخالفينو وژنو ته متې را بډ وهلې. هغو درو تنو چې نادرخان ته وړانديزکړی وو چې د پاچا د ټاکنې په موخه لويه جرګه راوبلل شي پايله يې دا شوه چې مير هاشم د نادر خان د پادشاهي په همغه لومړي سهار په مرموزه تو ګه ووژل شي ، محمد ولي خان دروازي له کلکاني سره د همکاری په تور لومړی په اته کاله بند محکوم او وروسته په پټه اعدام شي او سردارشير احمد خان د ژوند تر پايه د کوم مقام څښتن نشو. همدارنګه محمد نادر د خپل واک په دوهمه مياشت لاندې کسان د محکمې پرته ووژل: ميرزا محمد اکبر خان، امرالدين خان ، عبدالطيف کوهاتي ، محمد نعيم خان کوهاتي، عيسی خان قلعه سفيدي،تازه ګل خان لوګري، سلطانمحمد خان مرادخاني، محمد حکيم چهاردهي وال، احمد شاه خان ، دوست محمد خان، غند مشر پغماني، سيد محمد خان، غند مشر قندهاري او نور. د نادرخان د وژنو د دوهمې لړۍ لومړي قربانيان غلام محی الدين خان ارتي ، فيض محمد خان باروت ساز، تاج محمد خان بلوچ پغماني، عبدالرحمن خان لودين او نور ملي مبارزين وو.لومړۍ ډله او هم دوهمه ډله قربانيان د شاه امان الله له پلويانو اود مشروطيت غوښتونکو استعمار ضد مبارزينو څخه وو. د نادرخان واک ته د رسيدو وروسته د غبار په وينا يو شمير مشروطه غوښتونکوغونډه و کړه چې نوي حالات وڅيړي ، زياترو خپلې اندیښنې څرګندې کړې ،په همدې ناسته کې فيض محمد خان باروت ساز وويل:« د نوي واکمن د ماهيت د پيژندلو لپاره بس ده چې د کابل د نيولو په ورځ د جنوبي د حمله کوونکو په مخکې د دوو هندوستاني انګليسي جاسوسانو (الله نواز او شاه جي) څيرې وګورو چې اوږه په اوږه له سردار شاه ولی خان او سردار شاه محمود خان سره روان وو. بايد پوه شو چې لدې وروسته به د افغانستان واکمني د هندوستانيانو په لاس کې وي.»

غبار کله چې د نادر خان واکمنی لوړو پوړيو ته ګوته نيسې له يحيی کورنی او محمد زايي سردارانو وروسته دريم ځای هندوستانيانو او څلورم ځای لويو ځمکه والو او روحانيونو ته ورکوي. هندوستانی الله نواز لومړی د نادرخان په دربار کې د ژباړونکې دنده لرله ، بيا د پاچا ياور شو او وروسته د ټولکټو وزير وټاکل شو او تردې وروسته په برلين کې د افغاني وزير مختار دنده تر لاسه کړه. همدارنګه يو هندوستاني جاسوس چې د شاه جي سيد عبدالله خان همداني په نوم يادېده د يواځينی پوځې فابريکې رئيس شو، لدې سره سم د هيواد د وسله تون او همدا شان د بوټو جوړولو د فابريکې رئيس هم وو. د شاه جي اصلي نوم قربان حسين وو چې په ګاډيوان مشهور وو.دغه هندوستاني ګاډيوان وروسته د دومره غټ باور خاوند شو چې د پکتيا د تنظيمه رئيس دنده يې تر لاسه کړه .ويل کيږي چې يوه ورځ فرقه مشر سيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن خان کنړي چې د ننګرهار په بغاوت کې يې د نادر خان په ګټه غوره رول هم لوبولی وو په يوه غونډه کې په ريشخند سره د شاجي اصلي نوم ( قربان حسين ګاډيوان ) په ژبه راوړ،نادر خان په همدې ګناه هغه د دهمزنګ جيل ته ولیږه او هملته يې وواژه. غبار د نورو هندوستانيانو د ډاکتر نور محمد، ډاکټرقريشي ،مولوي جلال الدين نومونه يادوي چې په اړونده دولتي بنسټونو کې يې اعتبار او واک د نوموړو بنسټونو له مشرانو نه زيات وو.د نادرخان د پاچاهۍ پرمهال داسې اداره نه ليدل کيده چې هلته دې د طبيب ، مستشار او په نورو نومونو هندوستانيان شتون ونلري . محمد آصف آهنګ په يوه مرکه کې وايي ، د محمد نادر په واکمن کيدو سره د کابل ښار په يوه سياسي بنديخانه واوښت.عبدالحميد مبارز ليکي چې د نادر خان په واکمنۍ او د هاشم خان په صدارت کې يوه ډيره ويره وونکې جاسوسي اداره ضبط احوالات را منځته شوه.

داسې ښکاري چې د نادرخان او وروسته د سردارمحمد هاشم خان په لاسونو د آزادي غوښتونکو او استعمار ضد روښانفکرانو ځپل، د يوه ړانده فرهنګ خپرول او په تيارو کې د خلکو ساتل يې له شکه د همدغو هندوستانيانو چې د انګريزانو جاسوسان وو تر نظرلاندې پلې کيدل. د نادر خان د دورې د ټولو زده کونکو شمير ۴۵۱۹ تنه وو، په داسې حال کې چې د غازي امان الله د واکمنۍ په وروستي کال کې ۸۳۰۰۰ هلکان او نجونې په زده کړو لګيا وو. ويل کيږي چې د سيد کمال په نوم محصل چې په برلين کې يې د محمد داود پلار محمدعزيز وواژه د خپل عمل دليل يې دا راووړ چې انګريزان د نادر په واکمنۍ کې پر افغانستان واکمن دي نو ځکه مې دغه لوی سردار له پښو را وغورځاوه.دغه شان محمد عظيم منشي زاده د نجات د ليسي ښوونکي وروسته له دې چې د انګليس په سفارت ورننوت او هلته يې يو انګليس، يو هندوستانی او يو افغان ساتونکی وواژه په محکمه کې يې اعتراف وکړ چې پر افغانستان مې د انګريز واکمني ليدله غوښتل مې سفير ته يې ځان ور ورسوم او هغه ووژنم خو تر هغه و نه رسيدم. د۱۳۳۲ کال د عقرب په اوولسمه په ارګ کې د عبدالخالق په واسطه د نادر خان وژنه هم ښيي چې دې کورنۍ د خپلې استبدادي تګلارې له امله د ولس د دښمنۍ سره مخامخ شوه. د دې کورنۍ د لويانو د وژنې څخه واکمنه کورنۍ پوهيدله چې د دې وژنو شا ته د استعمار ضد کړيو لاس دی نو ځکه يې د نادرخان له وژنې وروسته يو شميرروڼ اندي او مشروطه غوښتونکي بنديخانو ته وليږل. د يحيی د کورنۍ واکمني ښيي چې دې کورنۍ د خپل اقتدار د ساتلو په موخه د محمدزيو او په ځانګړې ډول د يحيی د کورنۍ پرته د ملي شخصيتونو د را څرګنديدو مخه نيوله ، ملي دموکراتيک خوځښتونه يې ټکول، خلک يې وړي او په تيارو کې ساتل او هېواد يې د ويده فيل په څېر جوړولو چې د زماني هيڅ غږ هغه را ويښ نکړي . همدارنګه دې کورنۍ د خپل اقتدار او واک د ساتلو په موخه د انګريزانو پاليسي چې بې اتفاقي واچوه او حکومت وکړه سربېره د زر، زور او زاريو تګلاره د ولسي پاڅونو د ټکولو او ځپلو لپاره کاروله. د يحيی د کورنۍ د نيمې پيړۍ واکمنۍ نه په څرګنده توګه ښکاري چې د خپلې کورنۍ ګټو او اقتدار ته يې لومړيتوب ورکاوه. پدې هکله به د دې کورنۍ د دريو مشرانو( محمدنادر، محمدظاهر، محمد داود) د کړنو يوه بيلګه راوړل شي.

۱– لکه څرنګه چې د کلکاني د راپرزولو وروسته د پاچا د ټاکنې په اړه دريو تنو( محمدولي خان ، ميرهاشم خان او سردار شيراحمدخان) نادرخان ته وړانديز وکړ چې فعلا به دی د سلطنت د وکيل په توګه پاتې شي او د پاچا ټاکنه دې لويې جرګې ته پريږدي. د نوموړو دريو تنو څخه دوه لومړي ووژل شول او سردارشيراحمدخان د دې کورنۍ غړی ژوندی پاتې شو. ددې معنی دا شي چې د يحيی د کورنۍ پرته د مخالف نظر خاوند د ژوند کولو حق نه درلود.

۲-محمدظاهرد خپل د تره زوی پوځي کودتا تائيد کړه ، د مبارکۍ د تلګرام په استولو سره يې د کودتا مشر ته خپل بيعت هم اعلان کړ. پداسې حال کې چې د قانون له مخې پاچا د اساسي قانون د ساتنې مکلفيت درلود خو د کودتا د مشر سره د کورني تړاو له امله د کودتايی نظام څخه ملاتړ وکړ. د پاچا ځينې پلويان دا دليل راوړي چې د ده د کورنۍ يو شميرغړي د محمدداود سره بنديان وو لدې امله اړ شو چې د کودتايی نظام څخه ملاتړ وکړي ترڅو هغوی ته کوم زيان ونه رسيږي چې دا دليل بيا هم د خپلې کورنۍ ګټو ته د لومړيتوب معنی ورکوي. پداسې حال کې چې پاچا د ثور د کودتا خلاف دريځ ونيو.

۳ – سردارمحمدداود د يحيی په کورنۍ کې د افغانستان سره د ديورند د کرښې د هغې خوا د جلا شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو د بیا نښلولو سخت طرفدار ګڼل کیږي. خو کله چې د نوموړي او د هغه د کورنۍ د اقتدار خبره منځته راځي د پښتونستان مسئلې ته یې شا ګرزولې ده . پدې اړه بیلګې زیاتې دي خو دلته به یې یوې ته ګوته ونیول شي. « کله چې په ۱۹۴۲ کې آلماني سپاهیانو په ستالینګراد( ولګاګراد) او قفقاز بریدونه پیل کړل، د افغانستان په حکومت کې د داودخان په مشرۍ د «ځوانانو» ډله قوي شوه. شوروي سفیر میخایلوف ، په یوه رپوټ کې مسکو ته ولیکل : « انګریزان له داود څخه کرکه لري .ځکه هغه د افغانستان د خاورې د پراختیا لیوال دی او په لومړي ګام کې د سرحدي پټانو( پښتنو) قبیلو.» خپلې موخې ته د رسیدو په خاطر دا« ځوانان» چمتو وو د انګریزانو په مقابل کې افغانستان په جګړه کې ښکیل کړي ، داودخان او پلویان یې پوهیدل چې انګریزان د افغانستان د پوځ په پرتله د پښتنو سرحدي قبیلو له سرتاسري پاڅونو نه ډاریږي د هند او افغانستان په پوله کې یې وسلوالو پاڅونو ته لمن ووهله ...، د سردار داود استازي وړاندیز وکړ د آلمان او ایتالیې له سفارتونو سره په اړیکو کې وي او کله چې آلمانیانو قفقاز ونیو او ایران ته ننوتل او د افغانستان پولو ته راورسیدل دا مهال دولتي کودتا شوني ده . وړاندیز کیده چې هاشم خان او د انګریزانو طرفدارې نورې کړۍ لیرې او نوی حکومت جوړ شي چې د هند په لور د آلمانیانو او ایتالویانو سره مرسته وکړي. داودخان پدې شرط موافقه کړې وه چې په افغانستان د حاکمې کورنۍ واکمني تضمین شي. آلمان او ایتالیا سردار داود ته په واک کې د یحیی خیلو د کورنۍ د پاتې کیدو د تضمین ورکولو څخه ډډه وکړه .هغوی غوښتل امان الله خان د کابل په تخت کینوي ځکه د نوموړي په مرسته(څرنګه چې برلین او روم فکرکاوه) د هند او افغانستان په پوله کې د بریتانیا خلاف د پښتنو قبیلو د ښورښونو سازماندهي آسانه وه. »۲۷/ ۴۴۸، ۴۴۹ ، ۴۵۲

پورتنۍ څرګندونې ښیي چې د یحیی کورنۍ د خپلې کورنۍ د واک او اقتدار د ساتلو په موخه هر کار او حتی د پردیو سره معاملو ته چمتو وه. وروستۍ بېلګه یې ظاهرشاه دی چې د ناټویي اشغال پر مهال د څه کم دېرش کلنې جلا وطنۍ وروسته هېواد ته راستون شو پدې تمه چې بیا د افغانستان پاچا شي چې اشغالګرو یې مخه و نیوله .

## د دموکراسۍ سره پردۍ سلطنتي کورنۍ

د دویمې نړیوالې جګړې وروسته نړیوالو شرایطو د سولې او دموکراسۍ په ګټه بدلون وموند شوروي اتحاد او د امریکې متحده ایالتونو د وخت د زبرځواکونو (آلمان، فرانسې ، انګلستان) ځای ونیو. سلطنتي کورنۍ هم خپله پالیسي د نویو نړیوالو شرایطو سره برابره کړله. په کورنۍ سیاست کې یې بدلون د صدراعظم په توګه د محمد هاشم پرځای د شاه محمودخان ګومارل دي چې هغه نسبي ملایم سیاست غوره کړ او د سیاسي ګوندونو جوړولو او د خپلواکو رسنیو خپرونو ته یې د فعالیت اجازه ورکړه . بولړ سمونونه لکه ښاروالۍ او ملي شورا ته آزاده ټاکنې یې بېلګې دي . د کابل ښاروالۍ ته غلام محمدفرهاد او د کندهار ښاروالۍ ته بابا عبدالعزیز الکوزی چې دیارلس کاله یې په زندان کې تیر کړي وو وټاکل شول او شورا ته هم یو شمیر سمونپالو او د مترقي اندونو خاوندانو لار وموندله. په بهرني سیاست کې د مسکو او واشنګټن سره د اړیکو پراختیا ده. افغانستان په ۱۹۵۰ کې د شوروي اتحاد سره د توکو د راکړې ورکړې او په ۱۹۵۱ کې د امریکې د متحده ایالاتوسره د اقتصادي – تخنیکي همکاریو لوزنامې لاسلیک کړلې. د هیواد روڼ اندو ، سمونپالو او په سلطنتي کورنۍ پورې تړلیو کړیو د دې نوې حالت څخه په ګټې اخیستنې سره د آزادو جریدو لکه انګار، ندای خلق، وطن ، نیلاب ، ولس ، پامیر او آیینه په خپرولو او د سیاسي سازمانو په جوړولو لاس پورې کړ. خو د دموکراسۍ سره پردۍ سلطنتي کورنۍ دا آزادۍ ونشوای زغملای ، د آزادو رسنیو د بندولو او د سیاسي خوځښتونو د ځپلو تګلاره یې غوره کړله. واکمنې کورنۍ پردې هم بسیینه ونکړه او د شاه محمود پرځای د دې کورنۍ مستبد غړی محمدداود د حکومت د مشرپه توګه و ګوماره. د داودخان ټاکنه به د ډګرجنرال عبدالرزاق څخه ولولو: « زه به کله ناکله د صدراعظم شاه محمودخان ځای ته تللم او بیلیارد به مو کاوه.پدې شپه هم هلته د بیلیارد په موخه تللی وم.پداسې حال کې مو چې بیلیارد کاوه د کابل راډیو څخه خبر خپورشو چې شاه محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د دماغ د تشي له امله د صدارت څخه استعفی کړې ده چې ما او په خپله شاه محمودخان حیران شوو شاه محمودخان زموږ خوا ته وکتل او و یې ویل دا سؤتفاهم دی. ما نه استعفی کړې او نه زما صحت خراب دی. حتماً سؤتفاهم دی.زه ځم د خپل دفتر څخه خبرې کوم. هغه خپل دفتر ته ولاړ او موږ د کور په لوري ولاړو.» ۲۸/ ۶۷-۶۶ له همدې کبله شاه محمود خان د صدارت څخه د ده ګوښه کول د پاچا او داود له لوري کودتا بلله او یو وخت یې به یوه مجلس کې ویلي وو:« ما د خپل مرګ پېشبیني کولای سو،خو زما پرضد مي د داود او ظاهر له خوا دغه کودتا نه سوای پېشبیني کولای.»۳/ ۱۷۰ د داودخان د صدارت پرمهال آزاد مطبوعات تعطیل شول ، د ګوندونو مشران بندي یا تر څارنې لاندې ونیول شول چې پردې بنسټ عملاً د آزادو رسنیو او سیاسي خوځښتونو تغر ټول شو. د ولسي جرګې اتمې دورې ته ټاکنې د حکومت د خوښې پربنسټ ترسره شوې او په ټاکنو کې د روڼ اندو او سمونپالو د ګډون مخه ونیول شوه. داودخان د هیواد د اقتصادي ویجاړ حالت د سمبالولو په موخه د دوو پنځه کلنو اقتصادي پلانونو په پلي کولوسره د هیواد په تپه ولاړ اقتصادي حالت ته ساه ورکړه . پدې پلانونو کې زیاته پاملرنه د کرنې پرمختیا ته چې د اوبو او برېښنا د بندونو او لویو لارو جوړول وو راګرزیدلې وه. د کابل – کندهار ، کندهار- سپین بولدک ، کندهار- هر ات ، هرات – قره تپه ، کابل - مزارشریف او کابل- تورخم لارې بشپړې شوې. د نغلو، ماهیپر، درونټې د بندونو او د مزارشریف د سرې او برېښنا د تولید د کارخانو چارې چې په ترتیب سره د۶۵۰۰۰، ۱۰۰۰۰، ۱۱۰۰۰۰ او ۱۰۰۰۰ کیلواټ برېښنا د تولید ظرفیتونه یې لرل جوړ شول او همدا ډول یو شمیر تولیدي او پوهنیز بنسټونه ګټې اخیستنې ته چمتو شول. د دې پیر دا اقتصادي پرمختیایي بنسټونه اکثراً د شوروي اتحاد د اقتصادي مرستو پر مټ جوړ شول خو امریکې متحده ایالاتو افغانستان ته مرستې لدې امله ورنکړې چې افغانستان د سینټو په ترون کې د شاملیدو څخه ډډه وکړه . د امریکې لخوا افغان لوري ته یوازینۍستره اقتصادي پروژه د هلمند د وادۍ پروژه ده چې د هغو د جوړولو کار رسوایۍ ته ورسید او د شوروا په اوومه دوره کې ځېنو وکیلانو هغه یوه توطئه ګڼله.

که چیرې د محمد داود لس کلن( ۱۹۵۳ - ۱۹۶۳ ) حکومت ته وکتل شي له اقتصادي پلوه یوه پرمختلونکې او د سیاسي – ټولنیز اړخه د اختناق دوره ګڼل کیږي. د دې اختناقي دورې په اړه غبار لیکي :« پدې دوره کې نور د دموکراسۍ خبره نه وه ، سلطنتي رژیم ، پخوانی پوځي حکومت ټینګ کړ چې چا د آزاد نفس کښلو وس نه درلود.» ۱۱/ ۲۷۱ داسې هم انګیرل کیږي چې د شاه محمود د واکمنۍ پرمهال د مطبوعاتو د آزادۍ او د سیاسي خوځښتونو د راځرګندیدو څخه موخه دا وه چې واکمني د هغوڅخه د خپل واک د ساتلو لپاره ګټه پورته کړي او یو پیاوړی حکومتي ګوند جوړ کړي . د سردارداود په مشرۍ د ملي دموکرات ګوند، ملي کلوپ او د پښتونستان اتحادیه یې ځرګند ساري دي چې یوه یې هم په روڼ اندو کې ریښې ونشوای زغلولی. د واکمنۍ د تمې خلاف نورو لدې فرصت نه ګټه پورته کړه. لدې امله واکمنۍ په ورکړل شوو آزادیو بندیزونه ولګول او د محمدداود پواسطه یې په بشپړ ډول د هغوی تغر ورټول کړ. که څه هم د داودخان د پوځي ډوله سیاست له امله په هیواد کې د سیاسي خوځښتونو کمپله ټوله شوه خو بیا هم سیاسي کړیو په پټه د یوه سالم سیاسي چاپیریال د بیا را ژوندي کولو په موخه خپلو هلوځلو ته دوام ورکړ. له بل لوري په سلطنتي کورنۍ کې د واک د مدعیانو ترمنځ د اختلافونو د شتون پایله دا شوه چې پاچا دکتورمحمد یوسف د محمد داود د کابینې غړی مؤظف کړي چې نوی حکومت او نوی اساسي قانون جوړ کړي. دا لومړی ځل وو چې د سلطنتي کورنۍ بهر سیاستوال د حکومت مشري ترلاسه کوي. د داودخان د ځای ناستي د حکومت په جوړیدو سره د هیواد د تاریخ بل پیر چې هغه ته د دموکراسۍ او یا اساسي قانون لسیزه ویل کیږي پیلیږي. دا دوره یوه بې ثباته، د حکومتونو د ړنګیدو، د مختلفو سیاسي خوځښتونو د جوړیدو، مظاهرو او اعتراضونو دوره ده سره لدې دې دورې ته د آزادۍ او آرامۍ دوره ویلی شو. محمدیوسف د (۱۳۴۲ کال د کب ۲۴) پنځلس ورځې وروسته خپله تګلاره اعلان کړه چې په هغې کې د نوي اساسي قانون په جوړولو ټینګار شوی وو. نوی اساسي قانون د لویې جرګې له لوري چې ۴۵۴ استازو پکې ګډون درلود د۱۳۴۳ کال د وږي پر ۲۹ تائید او د تلې په نهمه پاچا توشیح کړ. د نوي اساسي قانون منځته راتګ د دموکراسۍ پر لور یو ګام وو. هغه خورو ورو سیاسي کړیو او سیاستوالو چې د داسې یوه فرصت انتظار ایست د نوي اساسي قانون د۲۲ مادې په رڼا کې د سیاسي ګوندونو په جوړولو پیل وکړ چې پدې لار کې د افغانستان د خلکو دموکراتیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې( ګوند) بنسټ ايښودونکي د نورو په پرتله مخکې شول او د ۱۹۶۵ ميلادي کال د جنورۍ په لومړۍ نيټه ( د۱۳۴۳ کال د مرغومې يوولسمه ) يې د افغانستان د خلک دموکراتيکې ټولنې په نامه د يوه سياسي خوځښت بنسټ کيښود. لدې وروسته نور سازمانونه هم يو په بل پسې را څرګند شول چې شمير يې اتو ته ورسيد.

که چيرې د (ا ، خ، د ، ګ ) تربنسټ ايښودلو پورې د سياسي خوځښتونو موخو ته وکتل شي لومړي مشروطيت غوښتونکو غوښتل چې د دربار په لوړو پوړونو کې نفوذ وکړي او له پورته ( دربار ) څخه سمونونه پيل کړي. د هغوی موخه د سياسي خپلواکۍ او د ولسونو د روا حقوقو ترلاسه کول او د قانون له لارې د واکمن استبداد مهارول وو. خو واکمنۍ دا غورځنګ په بيرحمۍ سره وځپلو. دوهم مشروطيت هم د پخوا په څير بيله دې چې د لومړي مشروطيت ترخې تجربې ته پام راوګرزوي او د هغې څخه زده کړه وکړي د هغوی لار تعقيب کړه. هېره دې نه وي اماني دولت چې د ملا تير يې مشروطه غوښتونکو جوړولو په يوه اړخيزه بيړنيو سمونونو چې د پاچا سليقوي چلند پکې ټاکونکی رول درلود لاس پورې کړ او دې ته يې پام راونه ګرزاوه چې خلک پدې سمونونو کې ونډه واخلي او له بله پلوه يې د ګوندونو او مطبوعاتو د پراختيا په لور اړين ګامونه اوچت نکړل. سربيره پر دې په دربار کې د محافظه کارانو، اشرافيت ، په فيوډالانو پورې تړلي روحانيت په ګټه د قواوو تناسب او فرهنګي وروسته پاتې والی د دې سبب شول چې پيل شوي سمونونه په دربار، دولت او يا پلازمېينه کې ايسارپاتې شي، پرګنې ترې اغيزمنې نشي او پايله يې د دې غورځنګ نسکوريدل او د حبيب الله کلکاني په مشرۍ د ارتجاع واکمنيدل شي. د کلکاني وروسته هم د يحيی کورنۍ ملي خوځښتونه او د مترقي افکارو خاوندان وټکول او په هيواد کې استبداد خپل اوج ته ورسېد. د دې واکمن استبداد په وړاندې غبرګون خشونت او زورزياتی وو. په جرمني کې د سردار محمدعزيز ، په کابل کې د انګليس په سفارت کې د ستينجر په نامه د يوه انګريزمامور او د نادرخان وژنې يې ښې بيلګې دي . دې ډول حالت سلطنتي کورنۍ اړ ايستله چې پخپلو پاليسيو کې بدلون راوړي، د واکمن استبداد کچه راټيټه او خلکو ته آزادۍ ورکړي. لدې امله د دې نوي پير د پايښت موده لنډه او د واکمنۍ له لورې خلکو ته د ډالۍ شوې دموکراسۍ حوصله خورا محدوده وه. په لومړي ګام کې د دموکراسۍ د پلار شاه محمود له لوري ورکړل شوې آزادۍ محدودې شوې، ملي – مترقي خوځښتونه ترفشار لاندې ونيول شول او په دوهم ګام کې محمدداود د ديکتاتورۍ پلار دا خوځښتونه وربېل.

د دوهمې نړيوالې جګړې وروسته د دوه قطبي نړۍ په نوي نړيوال چاپيريال کې سياسي خوځښتونو پداسې يوه حالت کې ځانونه وليدل چې د وخت په زبرځواکونو او د هغوی په ايدیالوژيو او تګلارو پورې وتړل شي. کيڼ اړخې د مسکو يا پکن او اسلامپال ظاهراً د مصر د اخوان المسلمين خو د پردې شاته د امريکي- انګليس او لويديځ تر نفوذ لاندې راغلل. په اسلامي نړۍ کې چې ولسونه يې د هرډول سياسي او مدني حقوقو نه بې برخې وو او ټولنو يې قبيلوي جوړښت درلود په ډيره آسانۍ سره د مترقي افکارو تراغيز لاندې راتلل. لويديځ دا افکار د خپلو ګټو په وړاندې يو ګواښ ګانه. لويديځ د اسلامي نړۍ واقعيتونو ته په کتو سره چې په اسلامي ټولنو کې د مترقي افکارو د خپريدو او پدې ټولنو کې د شوروي او چين د نفوذ مخنيوی د دموکراسۍ او بشري حقونو ترنامه لاندې نشي نيولی ځکه چې د دې ټولنو سياسي پوهه ټيټه او مذهبي ټولنې دي. لدې امله بايد مذهب د مترقي افکارو پر وړاندې د يوې اغيزمنې وسلې او وسيلې په توګه استعمال کړي. دلته ليدل کيږي چې لويديځ د ماکياولي هغه خبره چې « د مذهب په واسطه په آسانۍ سره اردو او انضباط منځته راوړلی شي خو د اردو پواسطه نشي کيدی مذهب جوړ شي» ګټه پورته کړي. له همدې کبله دي چې زموږ په هيواد کې هر وخت چې د ټولنيز عدالت د ټينګېدو او سمونونو خبره شوې او مترقي غورځنګ سر راپور ته کړی دی پرهغو يې د بېدينه او کمونست ټاپې وهلي دي پداسې حال کې چې په لويديځ کې چې مذهب او مذهبي مؤسسې کمزورې دي مترقي خوځښتونه د آزاد اقتصاد او ليبرالي افکارو په وړاندې خنډ ګڼي. د سړې جګړې پرمهال دا ډول شرايط د دې سبب شول چې په افغانستان کې هم دوه سياسي بهيره ( کيڼ لاسي او اسلامپال ) ښه وځلېږي او ملي قوتونه د ځواکمن کيدو امکان تر لاسه نکړي. همدا لامل وو چې په اکثرو مواردو کې ملي ګرايی، ملي ژمنتيا، ملي فکرونو،ملي مبارزې او ملي ګټو ته شا وګرزول شوه . ملي ګرايی او ملي ګټو ته نوي تعريفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل شول چې په بهرنیو پورې خپل سیاسي او فکري تړاو او تړلتوب ته تئوریکي توجیه ورکړي. له بده مرغه پداسې یوه چاپیریال کې هغو ژمنو ملي – مترقي خوځښتونو او هغو سیاسي څیرو ته چې ملي ګټو ته یې لومړیتوب هم ورکاوه په ټولنه کې په پردیو پورې تړلي وګنل شول او پدې توګه په روڼ اندو او ټولنه کې د پراخ نفوذ څخه بې برخې شول. پدې ډول سلطنتي کورنۍ هم د سرې جګړې د واکمنو شرایطو څخه په ګټې اخیستنې سره د خپل واک د ساتلو په موخه د خپل سیاسي ، فرهنګي او دیني استبداد له کبله ملي ګرایي د تاریخ تیارو دهلیزونو ته ورټیل وهله او پخپله یې هم ونشوای کړی د یوه منځلاري ځواکمن سیاسي خوځښت د جوړولو جوګه شي دا ځکه چې دا کورنۍ او په هغې پورې تړلي نخبه ګان له دموکراسۍ سره پردي وو او د مشروطه غوښتونکو او ملي- دموکراتیکو نهضتونو د ځپلو له امله یې په روڼ اندو کې خپله اتوریته او اعتبار له لاسه ورکړی وو.که څه هم سلطنتي کورنۍ د شاه محمود د صدارت پرمهال د ملي کلوپ، دموکرات ګوند او پښتونستان د اتحادیې او وروسته د دموکراسۍ په لسیزه کې د خلیل الله خلیلي پر مټ د زرنګار په نامه سیاسي ګوندونه جوړ کړل خو یوه یې هم په ټولنه څه چې په روڼ ا ندو کې د پښو ایښودلو ځای ونه موند . د دموکراسۍ سره د سلطنتي کورنۍ د پردیتوب څرګنده بېلګه په خپله د دموکراسۍ لسیزه ده چې د اساسي قانون له مخې د هېواد سیاسي نظام مشروطه پاچاهي یا قانوني پاچاهي وو خو د پاچا واکونه او اختیارات د یوه ټولواک وو. سربیره پردې د پاچا له لوري د ګوندونو، ولایتي شوراګانو او غونډو د جوړولو د قانون نه توشیح د دې شاهدي ورکوي چې سلطنت د دموکراسۍ سره په بشپړډول پردی وو. پربله خوا بیا د دې کورنۍ ځینو غړو همدې ځواني له عیبونو ډکې خو هیله بښونکې دموکراسۍ ته ستونزې جوړولې ، محمد داود د پوځي کودتا له لارې د هغې جنازه پورته کړله او د جمهوریت په نامه یې بیا خپله استبدادي واکمني ټینګه کړه.

## د دموکراسۍ لسیزه
## ( ۱۹۶۳ -۱۹۷۳ )

په افغانستان کې د دموکراسۍ لسیزه هغې زماني ته ویل کیږی چې د افغانستان په دولتي سیستم کې د سلطنتي کورنۍ په نوښت مطلقه پاچاهي په مشروطه پاچاهۍ واوښته. د دې بدلون له امله د سلطنتي کورنۍ د غړو واکونه محدود شول او حق یې نه درلود چې د حکومت د مشرۍ سربیره د کابینې ، سترې محکمې او ملي شورا غړیتوب ولري او سیاسي فعالیت وکړي. دا دوره د صدارت څخه د محمدداود د استعفی ( مارچ ۱۹۶۳ ) څخه پیل او د محمدداود له لوري د پوځي کودتا (جولای ۱۹۷۳ ) پورې دوام مومي.دې دورې ته دوهمه دموکراسي هم ویل کیږي ځکه چې د شاه محمودخان د صدارت پر مهال هم ولس ته یو لړآزادۍ ورکړل شوې وې. د دموکراسۍ لسیزه د تاجداره دموکراسۍ په نامه هم یادیده خو محمدداود هغه قلابي دموکراسي وبلله او ځیني هغه تش په نامه دموکراسي هم ګڼي. هېره دې نه وي چې په نړۍ کې لږ پېښ شوي چې مطلق العنانه واکمنۍ په خپله خوښه نورو ته د دولت په اداره کې برخه ورکړي . خو په کال ۱۹۶۳کې محمد ظاهرشاه دا ګام اوچت کړ. د ظاهرشاه د دې بیساره اقدام په اړه دوې د غوراوي( اختیار) او تېرېدني (اجبار) نظریې شتون لري.

د غوراوي نظریه – یو شمیر پدې اند دي چې پاچا ملي او نړیوالو شرایطو ته په کتو سره په خپله خوښه د یوه دموکراتیک افغانستان په خاطر د سلطنتي کورنۍ د بشپړ واک څخه تېر شو او خلک یې د هیواد او دولت په اداره کې شریک کړل. پدې هکله د کرسچین ساینس مانیتر ورځپانه پخپله یوه سرمقاله کې راوړي: «هغه پاچاهان چې د مطلقه واک خاوندان وي او وغواړي خلک یې د پرمختګ او د عملي ولسواکۍ لارښود رول تر لاسه کړي په رښتیا سره لږ دي. خو محمد ظاهرشاه د افغانستان پاچا دا ځانګړتیا لري. د۱۹۶۳راهیسې هغه د دې لرغوني ټاټوبي دروازې د سیاسي آزادیو د نسیم په وړاندې پرانېستې دي.» ۲۹ د پاچا یو شمیر پلویان لا پرمخ ځي او وایي چې پاچا« د خپل واک په زمانه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک د تاج او تخت د ساتلو لپاره ونه روزل او چمتو نکړل او داسې حرکت یې کاوه چې دی وروستی پاچا وي.»

د تېرېدنې نظریه – د دې نظریې خاوندان د پاچا دا حرکت د هغه د خپلې خوښې پرېکړه نه بلکې یو مجبوریت ګڼي او پدې باوردي چې پاچا بله چاره نه لیدله بیله دې چې دموکراسی ته مخه کړي او د دموکراسی نه د یوې وسیلې په توګه د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره ګټه پورته کړي. هغوی د دموکراسی په درشل کې په سلطنتي کورنۍ کې د نه حلېدونکو اختلافونو او بې اتفاقیو یادونه کوي . په سلطنتي کورنۍ کې د هغه مهال د کړکیچن وضعیت او د پاچا د دریځ په هکله د افغانستان د دیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې د کتاب لیکوال د کتاب په ۸۱- ۸۳ مخونو کې د نوراحمد اعتمادي د وینا یوه برخه او خپل اندونه راوړي او لیکي :« د سلطنتي کورنۍ د زورورو اشخاصو لخوا په دغه کورنۍ کې بې اتفاقي راغلې وه. پاچا غوښتل په کراره ، ځان د اکاګانو او د اکا د زامنو د تاثیر څخه وباسي ، او په اصطلاح تشخص وکړي. د کورنۍ بل غړي ، سردار عبدالولي هم غوښتل چې څه کارونه ده ته وسپارل سي. محمد داودخان غوښتل چې حزب جوړ کړي او د حزب له لارې بیرته قدرت ته ورسیږي. پاچا غوښتل چې محمد داود په خپله استعفا وکړي او په دغه طریقه ځان د ده د شره خلاص کړي...، د افغانستان د صدارت په چوکۍ د پاچا اکاګان او د اکا زامن په نوبت مقرریدل، چې د محمدداود خان وروسته د شاه ولي خان د زوی، سردار عبدالولي نوبت وو او محمدداودخان نه غوښتل چې سردار عبدالولي د افغانستان صدر اعظم سي ، نو ده پاچا ته پیشنهاد وکړ چې د۱۹۳۱کال په اساسي قانون تجدید نظر وسي، په هېواد کې دموکراسي راسي او خلکو ته د حزب جوړولو اجازه ورکړه سي.» دا هم ویل کیږي چې پاچا غوښتل ټول واک په خپلو لاسونو کې متمرکز کړي لدې امله یې مشروطه پاچاهي اعلان کړه. پردې بنسټ پاچا او په سلطنتي کورنۍ کې د هغه پلویان پدې سلا شول چې په کورنۍ کې د مخالف اړخ په زیان د دولت په اداره کې خلکو ته برخه ورکړي. لدې امله یې د داسې اساسي قانون جوړولو ته لار هواره کړه چې په سلطنتي کورنۍ کې د واک مدعیان قانوناً په لوړو دولتي ځوکیو د کار کولو حق و نلري.په نوي اساسي قانون کې دې بدلون د سلطنتي کورنۍ هغه غړي چې د زعامت خوبونه یې لیدل د دې واقعیت سره مخامخ کړل واک او زعامت ته د رسیدو لپاره له هلوځلو څخه لاس واخلي چې پدې توګه به په سلطنتي کورنۍ کې بې اتفاقیو ته د پای ټکی کیښودل شي. پاچا پدې کار هغه مهال لاس پورې کړ چې صدراعظم محمدداود پاچا ته د ۱۳۴۱ کال کې د چنګاښ په نهمه یو لیک واستولو چې په هیواد کې د سیاسي بدلونو غوښتنه شوې وه. په لیک کې یې د سلطنتي کورنۍ له وضعیت څخه سر ټکولی وو. له بله پلوه یې د دې بدلونو د نه راوستلو له امله د هیواد د تېرتاریخ د هغو ترخو پیښو یادونه هم کړې وه چې د واک د مدعیانو د سیالیو له امله پیښې شوې وې او دا یې هم پرې اضافه کړي وو« خدای دې ونکړي چې هغه ترخې پیښې پدې زمانه او ستاسو اعلیحضرت په سلطنت کې تکرار شي.» دا په واقعیت کې د ګواښ یو زنګ وو چې هغه ته باید پاچا پام را اړولی وای. پاچا د محمدداود لیک ته داسې ځواب ور کړ:« د ده د وړاندیزونو سره په اصولو کې همغږی دی خو پلې کول یې مناسب وخت او هغه کسان چې وکولای شي د هغو د پلي کولو مسؤلیت واخلي » لري. صدراعظم د پاچا د لیک له ځوابه خوښیږي او پخپل دوهم لیک کې د عملي ګامونو د اخېستو وړاندیز کوي خو پاچا غبرګون نه ښيي ترڅو صدراعظم د دریم لیک په استولو سره خپله استعفي وړاندې کوي ، پاچا هغه مني او محمدیوسف د انتقالي دورې لپاره د کابینې په جوړولو توظیفوي او د نوي اساسي قانون د جوړولو دنده ورسپاري چې د هیواد سیاسي سیستم په مشروطه پاچاهۍ واوړي هغه څه چې محمدداود یې لیوال وو. پاچا په خپله کورنۍ کې د واک د مدعیانو ترمنځ د سیالیو د مخنیوی یوازینۍ چاره دا لیدله چې سلطنت او حکومت سره جلا کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوناً د سطنتي کورنۍ غړي د سياسي فعاليت او لوړو دولتي څوکيو او مقامونو ته د رسيدو څخه بې برخي کړي. خو د دموکراسۍ په لسيزه کې د پاچا له کړنو څخه داسې ښکاري چې په هېواد کې د دې نوي سياسي بهير( مشروطه پاچاهۍ ) څخه يې موخه په سلطنتی کورنۍ کې د خپل ځان ، شاه ولي خان او عبدالولي د دريځ د پياوړتيا او د محمدداود او محمدنعيم کمزوري کول وو. که داسې نه وای نو څرنګه د مرکزي قول اردو د درستيزوال سردار عبدالولي دفتر د ملي شورا د وکيلانو، قومي مخورو او مذهبي مشرانو په مرکز اوښتی وو. د دموکراسۍ د لسيزې بهير دا وښودل چې ټولواک غوښتل په هيواد کې د نوي سياسي چاپيريال په راوستو سره په سلطنتي کورنۍ کې اختلافونو ته د پای ټکی کيږدي ،سياله ډله کمزورې او يا له سياسي ډګره وباسي محاسبه يې دقيقه نه وه ،په سلطنتي کورنۍ کې مخالفتونو دوام موند ، پدې کورنۍ کې د واک مدعيانو حکومتونو ته ستونزې جوړولې او پايله يې د واک څخه د پاچا راپرزول او د هغه د سيال محمدداود واکمنيدل شول. د سلطنتي کورنۍ د غړو دې ډول دريځونو د هيواد په سياسي بهيرونو او د افغانستان د دموکراسۍ په ناکامۍ منفي اغيز پريښود او سربيره پردې يې په ټولنه کې د سلطنتي کورني اعتبار ته زيان ورساوه. پردې بنسټ کله چې د دموکراسۍ د ناکامي خبره کيږي نشي کيدای چې د سلطنتی کورنۍ له منفي اغيز څخه د ټاکونکي لامل په توګه سترګې پټې شي. دا بيا ښيي چې د پاچا له لوري دموکراسۍ ته مخه د دوهمي نظريې، تېرېدني ( اجبار يا اجتناب) صحت ښيي.

اوس به وګورو چې محمدظاهر او محمد داود چې د مشروطه پاچاهۍ راتګ د دوی له نومونو سره تړلی دی او په تېره محمد داود چې ظاهراَ د مشروطه پاچاهۍ غوښتونکی وو څه غوښتل؟ کله چې محمدداود ته د يوه سياستوال په توګه کتل کيږی هغه د هيواد د پرمختګ او آبادۍ سره مينه لرله خو د دموکراسۍ سره پردی وو او غوښتل يې چې د يوه قوماندان په څېر د هيواد لارښوونه وکړي. صدراعظم محمدداود د هيواد وروسته پاتې توب ، په دولتي ادارو کې فساد، په سلطنتی کورنۍ کې ناوړه حالت او خپلو نقشو اوهيلو ته په کتو سره پاچا ته په دولت کې د سياسي سمونونو د راوړلو په موخه لاندې وړانديزونه وړاندې کړل چې هغه يې د کودتا وروسته د۱۹۷۴ کال د مارچ په شلمه افشاه کړل :
« ۱- د يوه واحد ګوند په جوړولو سره په ګوندي واکمنۍ باندې د شخصي واکمنۍ اړول او ټول واکونه هغه ته سپارل. ۲-
په سياسي او حکومتي کارونو کې د پاچا د کورنۍ د غړو له ګډون مخنيوی چې پخپله د هغې غړی ونه شميرل شي.»۳۰ د محمدحسن کاکړ په اند« محمد داود غوښتل چې پاچا فقط د دولت د رئيس په توګه تشريفاتي رول ولري.»۳۱

که چيرې د محمدداود وړانديزونو ته ځير شو ليدل کيږي چې هغه د مشروطه پاچاهۍ ليوال وو، غوښتل يې چې د سلطنتي کورنۍ غړي د سياسي فعاليت او په لوړو دولتي څوکيو د کار کولو حق ونلري خو دی د سلطنتي کورنۍ د غړي په توګه ونه منل شي. عجيبه دا ده چې داودخان تر څلور پنځوس کلنۍ پورې د سلطنتي کورنۍ د غړي او د يوه ځواکمن سردار په توګه د سترو امتيازاتو څخه برخمن وو خو کله يې چې دا امتيازات له لاسه ورکول ده ځان د سلطنتي کورنۍ غړی نه شميرلو. د نوموړي د دا ډول دريځ نه داسې بريښي چې « هغه د غوښې سره پخلا او د ښوروا سره مرور وو.» نوموړي ته په دوه ويشت کلنۍ کې د دوه کلن پوځي کورس وروسته د جنرالۍ رتبه ورکړل شوه او د فرقي د قوماندانۍ سربيره د مشرقي نايب الحکومه هم وګومارل شو چې د ننني څلورو ولايتونو (ننګرهار، کنړ، لغمان او نورستان) مطلق العنان واکدار وو. پداسې حال کې چې د ده ټولګيوالو ته د بريدمنۍ رتبې ورکړل شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورتنیو څرګندونو څخه دا پایله راوزي چې په سلطنتي کورنۍ کې اختلافونه د دې سبب شول چې پاچا اړ شي د دولت په سیاسي جوړښت کې بنسټیزبدلون راوړي چې حکومتونه د خلکو د استازو لخوا جوړشي ،د سلطنتي کورنۍ غړي او په هغو کې د نوموړي اکاګان او اولادونه یې د سیاسي فعالیت او د درې ګونو قواوو له غړیتوب څخه بې برخې شي. د نوي اساسي قانون له تصویب څخه داودخان ته دا ګومان پیدا شو چې د ده سره خیانت شوی دی. لامل یې دا وو چې د نوي اساسي قانون په ۲۴ ماده کې چې هغه په سیاسي کړیو کې د داودخان د مادې په نامه شهرت پیدا کړهغه یې د سیاسی فعالیتونو څخه محروم کړ او د نوموړي هغه خیالونه چې د یوه ګوند د مشر په توګه واک ترلاسه کړي د اوبو په ځګ واوښتل. ۲۴ ماده د اساسی قانون د کمیسیون له لوری په پنځو فقرو کې لویې جرګې ته وړاندې شوې وه. خو لویې جرګې شپږمه فقره هم پرې اضافه کړه چې هغه د سلطنتی کورنۍ غړو ته ځانګړې شوې وه چې د پاچا د اکا زامن هم د سلطنتي کورنۍ د غړو په توګه ومنل شول. همدا رنګه په هغې کې راغلي وو چې د سلطنتی کورنۍ غړي نشي کولای په سیاسی ګوندونو کې غړیتوب ولري او د سلطنتی کورنۍ غړي ټول عمر د دې کورنۍ غړي پاتې کیږي. لدې امله محمداود د سلطنتي کورنۍ سره خپل تړاو د لعنت طوق ګاڼه. د څلیرویشتمې مادې په اړه به د اساسي قانون د مسودې د جوړولو د کمېټې رییس سید شمس الدین مجروح څرګندوني ولولو:« مخکې لدې چې د اساسي قانون مسوده خپره شي یوه نسخه یې پاچا ته وړاندې شوې وه پاچا د هغې د لیدلو وروسته ور وغوښتلم یوازې یې د دوو مسالو په اړه خپل نظر څرګند کړ لومړی د څلېرویشتمې مادې چې د سلطنتي کورنۍ تعریف او له صدارت ، وکالت او قضا څخه د هغوی د ممنوعیت په اړه اندېښنه وښودله او ویې ویل که دا کار وکړو ما ته کورنۍ ستونزې جوړوي ښه دا ده چې هغه له پامه و غورځوو، ما خپل دلایل ورته وویل او په هغو مې ټینګار وکړ تر څو مې هغه قانع کړ. دوهم د پاچا ځای ناستي وو چې په تفصیل سره تشریح شوی وو. هغه پدې عقیده وو چې دا ماده له منځه یوړل شي او د سلطنت ځای ناستی د افغانستان د خلکو واک دی چې په خپله خلک هرڅه چې مناسب ګڼي ترسره کړي ، پدې هکله مې هم خپل دلیلونه وویل او هغه ته مې قناعت ورکړ.» ۱۶/ ۱۴۵ - ۱۴۶ د لومړۍ مسألې په اړه د پاچا اندېښنه پر ځای وه او ولیدل شول چې کورنۍ یې او په تېره محمد داود حکومتونو ته ستونزې جوړولې . د نوي اساسي قانون د تصویب وروسته محمد داود د نظام سره د دښمنۍ لار غوره کړه. پدې اړه صباح الدین کشککي لیکي: « پدې وخت کې هغو کسانو چې په نوي نظام کې یې ګټو ته ګواښ وو د هغه ( محمدداود) په شاوخوا راغونډ شول او محمدداود د سلطنتی کورنۍ د غړي تر چترلاندې وکولی شول د شورا ، غیر حکومتي مطبوعاتو، د معارف د زده کوونکو او حتی حکومتي کدرونو له لارې د حکومت خلاف د زیاتو تخریبي فعالیتونو لارښوونه وکړي. یو شمیرکسان چې وروسته د کمونست پرچم د اړخ غړي شول مخکې د محمد داود د صدارت پرمهال نږدې اړیکي درلودې او نورو چې په کال ۱۹۷۸ کې پخپله محمدداود له منځه یووړ د هغه نږدې متحدین شول او د سلطنت په رانسکورولو کې یې د ده سره مرسته وکړه. داسې شواهد نشته ثابته کړي چې نور کېنې اړخې لکه خلقیان( د نورمحمد تره کي تر مشرۍ لاندې چې د ۱۹۶۰ لسیزې په منځ کې د کارمل سره اړیکې شلولې وې)، پیکنګ پلوه کمونستان( شعله جاوید)هم د محمدداود سره اړیکې ټینګې کړې وي .» ۳۲ / ۱۸همدارنګه محمد داود« په پوهنتون او عالی ښوونځیو کې د خپلو نفرو په واسطه د طلابو په لمسولو او بېلارې کولو لاس پورې کاوه او حکومت یې اندېښمن کاوه .» ۱۶ /۱۳۹ البته چې د سلطنتی کورنۍ نوروغړو مارشال شاه ولي او زوی یې عبدالولي هم لاس تر زنې پاتې نشول او د خپل نفوذ د زیاتولو په موخه یې له هڅو څخه ډډه ونکړه. د دموکراسی په لسیزه کې د سلطنتي کورنۍ د غړو له لوري دا ډول کړنې دموکراسۍ ته سخت ګوزار وو او له بل لوري د محمد داود لخوا د پوځي کودتا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې پر ځوانه دموکراسۍ برید نه ښونکی اقدام دی چې هیواد يې د بې ثباتۍ په لور وخوزاوه. د مشروطه پاچاهۍ نظام ته تګ کې د محمدظاهر او محمدداود موخې په لاندې توګه رانغاړلی شو:
۱ - د پاچا لخوا د مشروطه پاچاهۍ غوره کول يو مجبوريت او تحميلي ګام وو چې لامل يې په سلطنتي کورنۍ کې اختلافونه او موخه يې په هېواد کې د دموکراسۍ ټينګښت نه بلکې د خپل واک پياوړتيا او د محمدداود له شره خلاصون وو. ۲
– د محمدداود له لوري پاچا ته وړانديزونه هم په هيواد کې د دموکراتيک نظام ټينګښت نه بلکې د يوه ګوند د مشرپه توګه بيا واک ته د ده رسيدل وو. ۳ –
په هيواد کې د پارلماني نظام له ټينګښت نه د محمد داود موخه دا وه چې د سلطنتي کورنۍ د غړو واکونه محدود شي خو دی د دې کورنۍ غړی ونه ګڼل شي او د سياسي فعاليت شونتياوې او په هغو کې د ګوند د جوړولو امکان تر لاسه کړي چې بيا واک ته ورسيږي. لدې څخه ښکاري چې مشروطه پاچاهۍ ته تګ د لعنتي واک پر سر د يحيی د کورنۍ سيالي وه چې يوه اړخ يې غوښتل په واک کې پاتې شي او بل يې غوښتل واک ته ورسيږي.

## نوی اساسي قانون

د انتقالي دورې د حکومت مشر محمديوسف ښېله ځنده د اساسی قانون د مسودې د جوړولو لاندې اووه کسيزه کميټه جوړه او د پاچا د فرمان له مخې يې خپل فعاليت پيل کړ:

۱- سيدشمس الدين مجروح د عدليې وزير، رئيس
۲- سيدقاسم ربښتيا د مطبوعاتو وزير، مرستيال
۳- ميرنجم الدين انصاري، غړی
۴- دکتورعبدالصمد حامد د کابل پوهنتون رئيس، غړی
۵- پوهنوال حميدالله آدينه د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي رئيس، غړی
۶- ميرمحمد صديق فرهنګ د پلان وزارت معيين، غړی
۷- محمدموسی شفيق د عدليې وزارت د تقنين رئيس، غړی.

له پورتني نوملړ څخه ښکاري چې څلورغړي يې سيدان او دوه تنه ( ربښتيا او فرهنګ) وروڼه دي. لدې څخه معلوميږي چې زموږ د هيواد د سياسي او دولتي سترو پريکړو په نيولو کې سيدانو ، پيرانو او ځانګړو کورنيو چې د دربارسره يې اړيکې لرلې تر کومې کچې اغيز درلود. سربېره پر دې په هيواد کې د قحط الرجالو ستونزه هم ښيي چې د يوه ارزښتمن معتبر دولتي سند د چمتوکولو لپاره دوه وروڼه ټاکل شوي وو. دې وروڼو داسې آثارهم ليکلي چې په هغو کې د ځينو حقايقو د تحريف تر څنګ د سلطنتي کورنۍ نه سر ټکولی ګواکې چې د هيواد لړکيو ته په حکومت کې ونده نه ورکول کيده. که دې کمېټې ته وکتل شي له اوو تنو څخه يې څلور تنه په لړکيو ( سيدانو) پورې تړاو لري. دې کميټې د۱۹۶۴ کال د مې په څوارلسمه د اساسی قانون مسوده چمتو او هغه يې د اساسي قانون ديرش کسيز مشورتي کميسيون ته چې مشر يې عبدالظاهر وو وسپارله. همدا راز فرانسوي او هندي کارپوهان هم د سلا مشورو لپاره رابلل شوي وو. دې کميسيون ته د محمد داود وړانديزونه هم ورکړل شوي دي. همدا رنګه د نوي اساسي قانون مسوده هم هغه ته استول شوې وه او د هغې په هکله يې د نوموړي نظرغوښتې وو. محمد داود په مسوده کې« د پاچا واکونه خورا زيات ګڼلي وو او وړانديز يې دا وو چې لويه جرګه د پخوا په څير په دوديزه توګه راوبلل شي . »۱۳/ ۱۸۶ هغه مهال د پاچا او محمد داود اړيکې ښې نه بريښيدې او دا انديښنې هم وې چې ښايي محمد داود د لويې جرګې دايريدو ته ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړې کړي له همدې امله د لويې جرګې د جوړېدو په درشل کې پاچا د محمدداود سره د سردار محمد عمر خان زکريا د پاچا د خور د ميره په کور کې ليدلي او پاچا د دې کتنې د پايلې په هکله ويلي وو:«آغا لاله (سردار محمد داودخان) وويل زما نظريات تاسو ته څرګند دي خو زه ستاسو د کارونو سره غرض نلرم او هيڅکله به په کوم سپک حرکت او لوچکې لاس پورې نکړم ...، خو که هيواد په خطرکې ووينم هيڅوک او هيڅ شی زما خنډ نشي ګرزيدلی .» ۳۲ / ۲۰۰ مشورتي کميسيون د اساسي قانون مسوده د څېړنو وروسته د تصويب لپاره لويې جرګې ته چې د۱۹۶۴کال په سپتمبر کې رابلل شوې وه وړاندې کړه. پاچا جرګه پخپله وينا د سپتمبر په دوه ويشتمه پرانيستله. پاچا د خپلې وينا په ترڅ کې وويل: « له هغه راهيسې چې د ده پلار محمد نادرشاه په ۱۹۲۹ کې واک تر لاسه کړ ده او د ده کورنی وکړای شول چې خلکو ته د واک د ليږد شرايط برابر کړي . اوس په هيواد کې مترقي بهيرونو او پرمختګونو ته په کتو سره هغه وخت را رسيدلی دی چې په افغانستان کې مشروطه پاچاهي چې پلار يې بنسټ ايښی دی زيات پرمختګ وکړي او د دولت چارې د سلطنتي کورنی څخه جلا شي ترڅو د دموکراسۍ يو اصل په هېواد کې عملي بڼه ونيسي .» ۳۳ د دې نوي بهير په پيليدو سره مختلف فکري ، ايديالوژيکی او سياسي خوځښتونه او آزادې رسنۍ را څرګند شول چې مخکې لدې يې پدې پراخه کچه څرک نه لګېده. د هغه مهال دا فکري بهيرونه په درو کتګوريو ويشلی شو :

الف – سوسيالستي ايديولوژي

ب- سياسي اسلامګرايي

ج- پارلماني دموکراسي

په هيواد کې د مختلفوعقايدو، ايديولوژيو، سازمانونو او آزادو رسنيو راڅرګنديدل ، غونډو او مظاهرو ته اجازه ورکول، د واکمني کورنۍ د واکونو د سترګو وړمحدوديت د هيواد په سياسي سيستم کې د سياسي انقلاب د پيل څرګنده نښه وه.خو ژوند وښودل پاچا ليوال نه وو او يا دا چې د خپلې کورنۍ د فشارونو له امله دې سياسي انقلاب ته وده وکړي او محمد داود د کودتا له لارې هغه زندۍ کړي او پايله يې د هيواد د ټيکاو له منځه تلل، د حالاتو کړکيچن او توپاني کېدل شي او هغه له کنټرول څخه ووزي.

## د دموکراسۍ د لسيزې سياسي ګوندونه

د انتقالي حکومت په تګلاره کې د سياسي ګوندونو جوړولو او د آزادو رسنيو فعاليت ته اجازه ورکړل شوې وه . پر دې اساس د مختلفو سياسي اندونو د خاوندانو له لوري د سياسي سازمانو او ټولنو د جوړولو او د خپلو افکارو د خپرولو هڅې پيل شوې. هغه مهال لاندې سازمانونه جوړ او سياسي فعاليت يې پيل کړ :

۱ – د افغانستان د خلکو دموکراتيکه ټولنه ( ګوند)

د دې سازمان بنسټ د۱۹۶۵ کال د جنورۍ په لومړۍ نيټه ( ۱۳۴۳ کال د مرغومي يوولسمه ) د کابل ښار په ځلورمه کارته کې د نورمحمد تره کي په کور کې کيښودل شو. په کنګره کې تره کی د ټولنې (ګوند) د مشر په توګه وټاکل شو. لکه څرنګه چې لا د ګوندونو قانون نه وو نافذ شوی ، دې نوي سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ د افغانستان د خلک دموکراتیکي ټولنې په نامه خپل شتون اعلان کړ. نوموړې ټولنې په کال ۱۹۶۶ کال کې خپل مرام د خلق د جریدې له لارې خپور کړ. ټولنه دری کلنه شوې نه وه چې په هغې کې انشعاب راغی. یوه ډله د نورمحمدتره کي او بله د ببرک کارمل تر مشرۍ لاندې په یوه نامه ( د افغانستان د خلکو دموکراتیکه ټولنه) جلا جلا سیاسي فعالیت ته دوام ورکړ. په لومړیو کې د تره کي په مشرۍ ډله د تره کیانو او د ببرک کارمل تر لارښوونې لاندې ډله د کارملیانو په نامه یادیدې. کله چې کارمل ته حکومت د پرچم په نامه د جریدې د خپرولو جواز ورکړ د تره کي ډله د خلقیانو او د کارمل ډله د پرچمیانو په نامه مشهورې شوې. البته چې د دې گوند له ګډیې څخه د انتظار محفل، جمعیت انقلابي زحمتکشان افغانستان او د کار گروه په نامه ډلې هم وزیږیدلې . د۱۳۵۲ کال د سرطان د ۲۶ پوځي کودتا وروسته پرچم په جمهوري دولت کې د حکومت د یوې برخې په توګه راڅرګند شو. پرچمیانو د خپل دې دریځ څخه په ګټې اخیستنې سره هڅې پیل کړې چې خپل سیاسي سیالان او په هغو کې خلقیان کمزوري کړي او په وروستي ګام کې هغوی د هیواد له سیاسي ډګره وباسي. خو لکه څرنګه چې جمهوري نظام د بنسټپالو اسلامي، ماېویستي او سکتاریستي ډلو د مخالفتونو سره مخ شو محمدداود اړشو چې د لویدیځ ارادې ته په ګونډو شي او خپل حکومت د ښي اړخو په ګټه د سمونپالو او پرچمیانو څخه پاک کړي او د کېڼ لاسو او په تیره د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په ځپلو لاس پورې کړي. د محمدداود د دا ډول تګلارې له امله د خلق او پرچم سازمانونه د ۱۹۷۷د جولای په څلورمه یووالی ته اړ شول. د دې یووالي یو کال نه و تیرشوی چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل په اووه ویشتمه خلقي پوځیانو په وسلوال پاڅون لاس پورې کړ او پدې ډول د محمدداود څه کمې پنځه کلنې او د یحیی د کورنۍ د څه کمې نیمې پیړۍ واکمنۍ ته یې د پای ټکی کیښود او سیاسی واک یې تر لاسه کړ.

۲ - د ځوانانو مترقي سازمان (حزب دموکرات نوین)

دا سازمان چې د شعله جاوید په نامه یادیده په کال ۱۹۶۵ کې جوړ شو. اکرم یاري د دې سازمان بنسټ ایښودونکی او تئوریسن شمیرل کیږي. د دې ګوند مشهورې څیرې ډاکترعبدالرحمن محمودي، عبدالرحیم محمودي،عبدالهادي محمودي، انجینرمحمدعثمان او صادق یاري دي.د دوهمې کچې کدرونه یې حیدرعلي لهیب، شاکر،داکترفیض احمد،عبدالله رستاخیز ، قیوم رهبر او عبدالمجید کلکانی ګڼل کیدل. د دې سازمان نشراتی ارګان ( شعله جاوید) د۱۹۶۸ کال د اپریل څخه د جون تر میاشتې پورې په یوولسو جریدو کې خپرونې وکړې. د دې اونیزې د امتیاز خاوند او مسئول مدیر ډاکټر محمودي وو. د شعله جاوید سازمان د مائوتسه دونګ له نظریاتو اغیزمن وو ، د چین د ولسي جمهوریت له تګلارو یې طرفداري کوله او په وسلواله مبارزه یې ټینګار درلود. پارلماني مبارزه،سوله ئیز بدلون او د مختلفو سیاسي – اقتصادی سیستمونو او دولتونو ترمنځ د اړیکو د ساتلو مفکوره یې د مارکسیسم – لیننیزم له اصولو څخه سرغړونه ګڼله. د همدې تفکر پر بنسټ دې ګوند هم نړیوال مشهور شخصیتونه « لکه جمال عبدالناصر د مصر مشر، د هند مشر جواهرلال نهرو او د برما مشر نی وین د بیروکراتیکو رهبرانو په نامه یادول چې د سوسیالیسم په نامه یې فعالیت درلود.» ۳۴/۶۱۷-۶۱۶ لکه څرنګه چې په نړیواله کچه د چین مشرانو د شوروي اتحاد پر کمونست ګوند د رویزیونیست ټاپه لګوله شعله یانوهم ورته دریځ درلود او د ا، خ ، د، ګ دواړه اړخونه خلق او پرچم یې په پارلماني مبارزو کې د ګډون له امله رویزیونیستان بلل. شعله یانو د دې اصل پربنسټ چې سیاست د ټوپک له شپیلی راوزي ټینګار درلود او واک ته د رسیدو یوازینۍ لار یې وسله واله مبارزه او د کلیو له لوري د ښارونو محاصره شمیرله.هغوی د افغانستان په څېر وروسته پاتې هیواد کې د کارګري انقلاب پرځای د بزګرانو په انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټينګار کاوه. د دې سازمان غوڅ اکثريت غېرې غيرپښتانه او زياتره هزاره ګان او شيعيه مذهبي وو. د دې سازمان د فعاليتونو مرکزونه لکه د نورو سياسي خوځښتونو په شان د کابل پوهنتون او نورې پوهنيزې مؤسسې وې او د دموکراسۍ په لسيزه کې يې په لاريونو او مظاهرو کې پرله پسې ګډون درلود. شعله يانو د خورا توندو او چپو شعارونو په ورکولو سره په لومړيو کې په روڼ اندو کې زيات نفوذ وکړ او د کابل پوهنتون د محصلينو په اتحاديه کې يې د نورو سياسي ډلو په پرتله زيات استازي لرل چې وروسته دا مقام اسلامي غورځنګ ترلاسه کړ. خو د شعله يانو د چټکې ودې بهير لنډ وو. ځينو يې د مائو له اندونو څخه لاس واخيست او د البانيا مشر انورخواجه يې تائيداوه. ځينو يې د افغانستان شرايط د چين د شرايطو په څير نه د بزګري انقلاب لپاره مساعد ګڼل او نه د روسيې په څير د سوسيالستي انقلاب لپاره او د ارنستوچګوارا په پارتيزاني مبارزه يې ټينګار درلود. دې متضادو نظرياتو دا سازمان د يو لړ انشعابونو سره مخامخ کړ. د داکټر فيض احمد په مشرۍ د افغانستان د ژغورنې سازمان او د عبدالمجيد کلکاني په مشرۍ د سازمان آزادی بخش مردم افغانستان( ساما ) ډلې يې مشهورې انشعابي ډلې دي. د جمهوريت په راتلو سره يو شمير شعله يانو د مبارزې څخه لاس واخيست. هغه شعله يان چې خپلو ايديالونو ته وفادار پاتې شول د پاکستان د پيپلزپارتۍ سره اړيکې ټينګې کړې او د هغې څخه د مرستې د تر لاسه کولو پرمټ د جمهوري نظام خلاف وسلواله مبارزه پيل کړه. ګلبدين حکمتيار چې د پاکستان له لوري د محمدداود مخالفانو ته د مرستې ترلاسه کوونکو څخه يو دی پدې هکله ليکي:« د شعله جاويد هيئت د جمعيت الله جلال تر مشرۍ لاندې پاکستان ته ولاړ، د بوټو حکومت، جنرال محمدموسی چې په خټه هزاره وو، لدوی سره د تفاهم او تماس لپاره توظيف کړ، د ده په لاس دې هيئت ته د مالي مرستو تر څنګ څو ميله وسله او څه منفجره مواد ورکړل سول او د مؤثر کار په صورت کې د کافي مالي او نظامي مرستو وعده ورکړې شوې وه.» ۳۵/ ۹۹ شعله يانو د ا، خ ، د، ګ د واکمنۍ خلاف د جهاد په نامه وسله والې مبارزې ته مخه کړه او د مذهبي او سيمه ئيزو تړاونو له امله په اسلامي تنظيمونو او خاصتآ شيعيه ډلو کې ورننوتل. لدې امله د هغوی ځينې مشران لکه اکرم ياري، مجيدکلکاني ، داکټر فيض احمد او عبدالله رستاخيز د ا، خ، د ،ګ په واکمنۍ کې بنديان او يا ووژل شول. د دې سازمان تشکيلات پټ ساتل شوي دي. ددې ډلې پاتې شونې د انګلوساکسوني اشغال زېرنده واکمنۍ په ملاتړ کې ودرېدل .

۳ - اسلامي غورځنګ

د مشروطه پاچاهۍ د اعلان سره سم د سوسيالستي ايديالوژۍ څخه اغېزمنو کسانو ګټه پورته کړله او سياسي خوځښتونه يې جوړ کړل . هماغه دي چې مذهبي او محافظه کارو وګړو د منظمو سازماني تشکيلاتو په جوړولو سره د کېن لاسو په وړاندې ودريدل . که څه هم په ۱۹۴۲کې په هرات کې د سيداسمعيل بلخي په مشرۍ د هرات د اسلامي ټولنې( مجتمع اسلامی هرات) په نامه د يوه خوځښت بنسټ کېښودل شو او وروسته په ۱۹۴۴ يا ۱۹۴۵ کې نوموړي په کابل کې د کابل د اسلامي ټولنې د مرکزي کميټې په نامه جوړښت ډېره کېښودله چې وروسته يې د حزب ارشاد نوم پرې کېښود. ويل کيږي چې د دې ګوند مشرتابه په ۱۹۵۰ کې غوښتل صدراعظم شاه محمودخان د کابل سخي کارتې ته د نوروز مراسمو ته د تګ په مهال په لار کې د بمب په اېښودلو سره ووژني چې دا دسيسه کشف ، بلخي او د هغه يو شمير ملګري ونيول شول. همدارنګه د شاه محمود د صدارت پرمهال د اسلامي غورځنګ د جوړيدوهڅې وشوې خو هغه په کوم محسوس ځواک وانه وښت. ښايي لامل يې دا وو چې هغه مهال کېڼ اړخه سياسي بهير چې د پانګوالۍ ضد کړنلاره ولري شتون نه درلود. لدې امله پانګوالي نړۍ په افغانستان کې د اسلامي خوځښتونو د جوړېدو اړتيا نه ليدله چې د سوسيالستۍ ايديولوژۍ خلاف هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال کړي. خو کله د دموکراسۍ په لسيزه کې په افغانستان کې کيڼ لاسي سازمانونه را څرګند شول لويديځوال يې وهڅول چې د اسلامي غورځنګ په جوړولو او پياوړتيا لاس پورې کړ. د پانګوالې نړۍ د ستراتيژيستانو له انده په اسلامي نړۍ کې د سوسيالستي او مترقي افکارو مخه د دموکراسۍ تر نامه لاندې نشي نيولی لدې امله هلته بايد د دين او مذهب څخه د سوسيالستي او مترقي افکارو پر ضد ګټه پورته کړي . همدا لامل وو چې په افغانستان کې پيرانو او يو شمېر روحانيونو انګرېز پلوه اميران چې د ظلم او استبداد، فساد او فحشاء سمبولونه وو هغوی ته د ضياء الملته والدين، سراج الملته والدين ، خادم دين رسول الله او دې ته ورته لقبونه ورکړي دي. په ډېرو مواردو کې د ملا ، روحاني ،شيخ او پير دې منفي رول ته په کتو سره وو چې د نولسمې پيړۍ را هېسې انګريزي ښکيلاکګرو خپل جاسوسان د پيرانو ، حضرتانو او ملايانو په جامه کې افغانستان ته راولېږل او په وروستيو کې يې د اسلامي غورځنګونو د مشرانو او فعالانو په نامه نور وپيرل ترڅو د دين او مذهب څخه په ګټې اخيستنې سره خپلې ستراتيژۍ پلې کړي. دې انګريزي استازو په ړنا ورځ د جوماتونو د منبرونو څخه د شريعت د احکامو د پلې کولو او د اسلامي اخوت وعظونه کول خو د شپې په تيارو کې د غازي امان الله په شان مشرانو او په هيواد مينو روڼ اندو په وړاندې توطئې جوړولې. البته د دې څخه سترګې نشي پټيدی چې د تاريخ په اوږدو کې د اسلام فاکتور او روحانيونو د کورنې استبداد او ښکيلاک په وړاندې ټاکونکی رول هم لوبولی دی. لدې امله دا منطقي نه ده چې د ظلم او استبداد او بهرنې ښکيلاک خلاف د خپل ولس پاڅونونه ، سرشندنې او سپيڅلی جهاد په پرديو پورې تړليو سازمانونو او ارتجاعي روحانيت د کړنو او موخو سره يو وګڼل شي.

پورنيو څرګندونوته په کتو سره ويلی شو چې د دموکراسۍ په لسيزه کې د اسلامي غورځنګ را څرګنديدل د يوه سياسي خوځښت په توګه د دې واقعيت ښکارندوی دی چې محافظه کارو ډلوغوښتل د نوي پيل شوي سياسي بهير په وړاندې او د هغې څخه په استفادې سره د مدرنيته او د پرمختلونکو کړيو په وړاندې د خپلو منظمو تشکيلاتو په لرلو سره ودريږي. دا لومړی ځل وو چې د دموکراسۍ په لسيزه کې د افغانستان په دوديزه اسلامي ټولنه کې منظم اسلامي غورځنګ منځته راځي چې ځانګړي سازماني تشکيلات او کړنلاره لري چې د مسلمانو ځوانانو په نامه خپل شتون اعلانوي. ډېری « د دې اسلامي خوځښت اصلي څېرې چې په رياست کې يې استاد نيازی ( غلام محمد) وو لاندې کسان ګڼي. انجينرحبيب الرحمن، مولوي عبدالرحمن، انجينرسيف الدين، نصرت يار، استادغلام رباني عطيش، انجينر حکمتيار، استادګل محمد،استادغلام حبيب، عبدالقادر توانا، سيدعبدالرحمن ، ډاکټرمحمد عمر، خواجه منصور.» خو ګلبدين حکمتيار په خپل اسلامي نهضت نومي کتاب کې د دې غورځنګ مؤسسين لاندې اته تنه ګڼي چې لومړۍ غونډه يې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې کړې ده :« عبدالرحيم نيازي، مولوي حبيب الرحمن، سيف الدين نصرت يار، عبدالقادر توانا، غلام رباني عطيش، سيدعبدالرحمن، استادګل محمد، حکمتيار. » د حکمتيارپه خبره «په دې غونډه کې مو له اوږدو خبرو اترو نه وروسته فيصله وکړه چې منظم کار روانوو،ځوانان اسلام ته رابلو، ولس راويښوو، د کمونستانو مقابله کوو...، فيصله وشوه چې دا کار د يوې داسې شب نامې په ذريعه پيلوو... ، هماغه شپه دا شب نامه تياره او تصويب شوه د شب نامې په پای کې وليکلي شو: جوانان مسلمان ، شب نامه د يوه ورور په مرسته چې د ملل متحد په کوم دفترکې يې ماموريت درلود، ټيپ او تکثير شوه.» ۳۵/ ۱۳۴د حکمتيار لدې خبرې څخه چې شپې پانه د م، م په کوم دفتر کې ټيپ او تکثيرشوه ښيي چې د دې غورځنګ سره پرديو اړينه ليوالتيا لرله. د ځوانو مسلمانو د سازمان له موخو معلوميږي چې هغوی د هېواد د اقتصادي ودې په اړه کومه نقشه نلرله لدې امله هغه سياسي سازمان نه بلکې يوه سياسي مذهبي ډله وه . ډېری د دې غورځنګ د جوړيدو وخت د ۱۹۶۹ کال د اپريل ۲۴ګڼي. د افغانستان د مسلمانو ځوانانو د فعاليت اصلي مرکزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د کيڼ اړخو ډلو په شان د کابل پوهنتون او نورې پوهنيزې خاصتاً مذهبي مؤسسې وې. هغوی د دموکراسۍ په لسيزه کې د لاريونونو ،مظاهرو او اعلاميو له لارې ولس ته خپلې موخې او کړنلارې بيانولې او خپلې ليکې يې پياوړې کولې. دې غورځنګ په لوړو تعليمي مؤسسو کې د شعله يانو په شان د نورو په پرتله څواکمن دريځ تر لاسه کړ. اکثراً د اسلامي غورځنګ لاريونونه او مېټينګونه د نورو سياسي ډلو سره په اخ او ډب اوښتل . د اسلامي غورځنګ د غړو له خوا د کيڼ لاسو په وړاندې د زورزياتۍ څخه کاراخيستل خورا زيات وو. ښايي لامل يې دا وي چې کيڼ اړخي يې کمونستان ګڼل او د هغوی وژل يې اسلامي مسوليت او وجيبه ګڼله. د مسلمانو ځوانانو او پلويانو له لوري په کابل پوهنتون کې د شعله يي سيدال سخندان ،په لغمان کې د پرچمي عبدالرحمن، په پکتيا کې د خلقي پاچازيدين او خلقي داکترنيازمحمد وژنې يې څرګندې بيلګې دي. د ګهيځ جريده چې د۱۹۶۸ کال په اکتوبر کې د منهاج الدين ګهيځ په مشرۍ خپرونې پيل کړې د دې غورځنګ نشراتی ارګان شميرل کيږي خو پدې اړه کوم دقيق لاسوند نشته. منهاج الدين ګهيځ د۱۹۷۲ کال په ژمي کې د نامعلومه کسانو له لوري و وژل شو. اسلامپالو د هغه ترور د شورويانو کار باله. د افغانستان اسلامي غورځنګ چې په ټولنه کې د اخوانيانو په نامه يادېږي« د مولاناابوالعلي مودودي، حسن البنا او سيدقطب د فکرونو له مخې د دغسې اسلامي دولت په پېښو درول و چې ټولنه اسلامي کړي ، يانې هغه اړخونه يې پاک کړي چې د دوی په فکرغير اسلامي شوي وو. نو د دوی غټه ځانګړتيا د چپي ګوندونو په شان د ثابتو اصلونو يا ايديولوجۍ له مخې حکومت کول و، بيله دې چې له نورو سره جوړه وکړي.» ۱/ ۸۲

په کال ۱۹۷۲ کې د دې سازمان د مشرتابه په غونډه کې برهان الدين رباني د سازمان د مشر، عبدالرب رسول سياف د مرستيال او انجينرحبيب الرحمن د منشي په توګه ټاکل کيږي. دا مهال حکمتيار په زندان کې وو. د دې سازمان له لوري د ۱۹۷۵ کې د چنګابښ انقلاب د جشن د نمانځنې په ورځو کې په ځينو سيمو( پنجشير، لغمان ، ننګرها ر،لوګر، بدخشان... ) کې د ناکامه اړو دوړو وروسته په غورځنګ کې اختلافونه منځته راغلل او غورځنګ د ګلبدين حکمتيار او برهان الدين رباني تر مشرۍ لاندې په دوو سيالو دېښمنو ډلو وويشل شو. د دموکراسۍ په لسيزه کې حکومتونو د کيڼ اړخو په پرتله د اسلامي غورځنګ په وړاندې سخت دريځ درلود او لامل يې دا وو چې سلطنتي کورنۍ او واکمنۍ پدې اند وو چې د افغانستان په دوديزه وروسته پاتې اسلامي ټولنه کې اکثراً د مذهب څخه د مودرنيتې په وړاندې ناوړه ګټه پورته شوې ده. د دې سره سره يو شمېر چارواکو د نوموړي غورځنګ د غښتلتيا لپاره هم د خپلو دولتي واکونو څخه په ګټې اخيستنې سره هلې ځلې کولې. د اسلامي غورځنګ فعالانو د جمهوريت او د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د واکمنۍ خلاف مبارزه يا جهاد کاوه. د ځوانو مسلمانانو د اندونو خاوندو ډلو د جمعيت( رباني ) اتحاد( سياف) او شيعيه ډلو د انګلوساکسوني اشغالګرو د پلي ځواکونو په توګه د اسلامي امارت په ړنګولو او د هېواد په اشغال کې ټاکونکې ونډه لرله او د اشغال زېږنده بلواک حکومت د ملاتير يې جوړ اوه. د مجددي او ګيلاني ډلو هم د بلواک دولت سره همکاري وکړه. د حکمتيار د اسلامي ګوند يوه برخه د اشغال لاندې حکومت سره همکاري وکړله او حکمتيار د اشغال خلاف خپل جهاد وړکړ خو د لس کاله جهاد وروسته د اشغال لاندې حکومت سره د يوه تړون له مخې له مخالفت څخه لاس واخېست او په کابل کې استوګنه غوره کړه چې حکومت ورته د ژوند ټولې آسانتياوې برابرې کړې وې. يوازې مولوي محمد يونس خالص د ناټويي اشغال ملګرتيا ونکړله .

۴- ټولنپال ولسواک ګوند(سوسيال دموکرات ګوند)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ګوند مؤسسه کنګره د۱۹۶۶کال د کب اوولسمه په کابل کې د غلام محمدفرهاد په وینا سره دایره شوه او د هیواد خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملت پالنه، ملي یووالی ، اسلام ، پرمختګ او ټولنیزعدالت یې د ګوند د کړنلاري عمده ټکي اعلان کړل اوغلام محمدفرهاد یې د مشر په توګه وټاکه. په دې غونډه کې ۶۲ تنو ګډون کړی وو. د مؤسسي کنګرې یوه میاشت وروسته د ۱۹۶۹ د کال د وري په ۱۶ نیټه یې خپل نشراتی ارګان (افغان ملت ) خپور کړ. ددې جریدې د امتیاز خاوند غلام محمدفرهاد او مسؤل مدیراحمد علی ملتیار وو. د سازمان مشرد ۱۹۶۹ کال په ټاکنو کې ولسي جرګې ته لاره ومونده‌له خو څه موده وروسته یې د ولسي جرګې څخه پدې نامه استعفي ور کړه چې ګنې ولسي جرګې د ولس په ګټه کارندی کړی. فرهاد د دموکراسۍ د لسیزې یوازینی سیاستوال دی چې د شاه امان الله سره یې په اروپا کې لیدلي دي. همدارنګه هغه د خلکو له لوري د کابل ښار لومړی منتخب ښاروال وو او په ټولنه کې د پاپا په نامه شهرت درلود. فرهاد په ملي شورا کې د یوي وینا له امله چې ګواکې د ګوند له تګلارې څخه یې سرغړونه کړې ده د خپل ګوند د ځینو غړو له نیوکو او مخالفت سره مخامخ شو.یوه ډله د فدامحمدفدایي په مشرۍ له ګوند څخه جلا او د سوسیال دموکرات ګوند په نامه یې نوی ګوند جوړ کړ او د۱۹۷۱ کال په سپتمبرکې یې د ملت په نامه د یوې جریدې په خپرولو پیل وکړ. فدایی په خپله جریده کې د یوې مقالې د خپرولو له امله زنداني شو. همدا راز یو شمیر نورغړي یې له ګوند څخه ووتل او د سیاسي فعالیت نه هم لاس پرسر شول او د محمدحسن ولسمل په مشرۍ یې آزاده جریده خپروله. افغان سوسیال دموکرات ګوند پخپلو خپرونو کې پدې ټینګار درلود چې شوروي اتحاد، پاکستان او ایران هغه سیمې چې له افغانستان څخه نیولې دي باید بیر ته افغانستان ته ورکړي. نوموړي ګوند د جمهوري نظام په ملاتړ کې ودرید. د ثورد بدلون وروسته دې ګوند د نوي نظام څخه ملاتړ اعلان کړاو ویل کیږي حتی د ګوند د مشرتابه په پته یې د مبارکۍ پیغام هم استولي وو خو په واکمنۍ کې د ځواکمن امین د ارادې له مخې واکمنۍ کوم مثبت غبرګون ونښود. همدا لامل وو چې کله په کال ۱۹۷۹ کال په اکتوبر کې یو شمیر خلقیانو د امین ضد د پاڅون هوډ درلود او هغه وځپل شو، دا پاڅون د افغان ملتیانو له لوري د کودتا ناکامه هڅه اعلان شوله. د شوروي د اشغال وروسته ددې ګوند مرکز پاکستان ته ولیږدول شو او د شوروي اشغال په وړاندې یې مبارزه پیل کړه. خو د اشغال په وړاندې د یوه غښتلي ځواک په توګه لدې امله وانه وښت چې پاکستاني چاروا‌کو نه غوښتل د اشغال په وړاندې افغان ناسیونالست ، سکولار او کیڼ اړخي خوځښتونه ځواکمن شي.دې ګوند د ناټویي اشغال لاندې حکومت د قانوني حکومت په توګه پیژندلی وو.

۵ ـ د انتظار محفل

دا سازمان د ۱۹۶۸ کال د زمري په پنځلسمه په کابل کې د یوویشت تنو په ګډون د محمدطاهر بدخشي په کور کې جوړ شو.په دې غونډه کې محمدطاهربدخشی د منشي او مولوي بحرالدین باعث د مرستیال په توګه وټاکل شول. د غونډې زیاتره ګډونوال د بدخشي په مشرۍ د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د خلق له اړخ څخه جلا شوي کدرونه وو. د دې سازمان پیژندل شوي کدرونه ظهورالله ظهوري، قیام، صدیق ، رنجبر، محبوب الله کوشاني، بشیر بغلاني، اسحاق کاوه، غلام سخی غیرت او خلیل رستاقي ګڼل کیدل. هغوی «په پښتنو دا تورونه لګول چې په نورو نژادي ډلو په ځانګړې توګه په ازبکانو او ترکمنانو او ځینو تاجکانو د اختناق له لارې واکمن شوي دي او خپلې واکمنۍ ته دوام ورکوي. » ۱۸۲/۳۲ د دې ډول تفکر له امله هغوی په ټولنه کې د ستمیانو او یا د ملي ستم د ګوند په نامه و پیژندل شول. د انتظار د محفل د فعالیتونو سیمي د شمال ولایتونه وو. د هغوی د فعالیت اصلي تمرکز په کلیو او بزګرو کې کار او په وسلواله مبارزه ټینګار وو. د دموکراسۍ په لسیزه کې هغوی کوم نشراتي ارګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درلود او د لاريونو او مظاهرو د تنظيمولو جوګه نشول. د دې ډلې مشرتابه خپل غړي هڅول چې د لوړو زده کړو پرځای په کليو کې سياسی فعاليت وکړي. د انتظار د محفل سياسي فعاليتونه د شعله يانو په شان وو. دا سازمان د جمهوري نظام په وړاندې ودريد. دې خوځښت په کال ۱۹۷۵ کې د بحرالدين باعث په مشرۍ د افغانستان متحده ملي جبهه جوړه کړه او د بدخشان د درواز په ولسوالۍ کې د حکومت خلاف بغاوت وکړ خو حکومت وځپل. د دې ناکامې هڅې وروسته د هغوی په ليکو کې اختلاف راغی او د هماغه کال د وړي په پنځلسمه په دوو ډلو ،د بدخشي په مشرۍ سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان« سازا» او د باعث په مشرۍ د سازمان فدائيان زحمتکشان افغانستان «سفزا» وويشل شو. د ثور د سياسي بدلون وروسته د سازا مشر محمدطاهر بدخشي د تاليف او ترجمې د رئيس په توګه مقرر شو.په پام کې وو چې بدخشي د ملي مسئلې د حل په چارو کې د دولت د مشر د سلاکار په توګه وګومارل شي خو څرنګه چې د سفزا ډله د ثور د بدلون وروسته د دولت خلاف په بدخشان کې وسله واله مبارزه پيل کړې وه چې زيات شمير کدرونه يې نيول شوي وو د بدخشي په شمول د سازا يو شمېر غړي هم ونيول شي. ډېرې پدې اند دي چې د بدخشي زنداني کول د امين په دستور ترسره شول. بدخشي او د هغه زوی بايقرا چې هغه او د هغه مور له بدخشي جلا ژوند هم کاوه او د پولتخنيک د لومړي کال محصل وو د امين د واکمنۍ پر مهال ووژل شول. د شوروي د اشغال وروسته دواړو ډلو( سازا او سفزا) د کارمل تر مشرۍ لاندې حکومت سره همکاري کوله .د کارمل په حکومت کې يې درې وزيران اسحاق کاوه ، محبوب الله کوشاني او بشير بغلاني لرل . همدا رنګه د دوو جريدو( ميهن او آزادۍ) د خپرولو امتياز يې هم ترلاسه کړ او د جريدو لګښتونه يې حکومت ورکول. د دې ډلو پلويانو د ناټويي اشغال لاندې واکمنۍ څخه بشپړ ملاتړ کاوه.

۶- مترقي دموکرات ټولنه ( مترقي دموکرات ګوند)

د دې ګوند بنسټ د۱۹۶۶ کال د اګست په مياشت کې د صدراعظم محمدهاشم ميوندوال له لوري کيښودل شو. د ګوند کړنلاره د کابل راديو څخه خپره شوه او د پارلماني دموکراسی له لارې سوسياليسم ته تګ د نوموړی ګوند تکلاره شميرل کيده. مساوات د ګوند نشراتي ارګان وو چې د۱۹۶۶ کال د جون د مياشتې څخه يې خپرونې لرلې. د دې ګوند زياتره غړي د حکومت لوړپوړي وو. کله چې ميوندوال د صدارت له مقام څخه استعفی وکړه ډېرو ملګرو يې ګوند پريښود. ميوندوال د صدارت وروسته د سلطنت او حکومت په منتقد واوښت. هغه په ۱۹۶۹ کال کې ځان ولسي جرګې ته کانديد کړ خو هغې ته يې لار ونه موندله او لامل يې په ټاکنو کې د حکومت لاسوهنه ګڼله. عبدالروف بينوا د دې ګوند غړی ولسي جرګې ته د وکيل په توګه بريالی شو. « بينوا ويل څرنګه چې د سياسي ګوندونو قانون رسماً ندی نافذ شوی هغه نه غواړي ځان د مترقي دموکرات ګوند غړی وبولي. » ۳۷ د دموکراسی په لسيزه کې مترقي دموکرات ګوند په کابل کې مظاهرې او لاريونونه تنظيمول او د خلق دموکراتيک ګوند د دواړو ډلو او اسلامي غورځنګ او شعله يانو په شان د نوموړي ګوند مظاهرې د کميت او کيفيت له مخې د پام وړ وې. په ۱۹۷۲ کې د بينوا په ګډون د دموکرات ګوند يو شميرغړي د ناڅرګند لامل له امله له ګوند څخه ووتل. د جمهوري نظام په راتلو سره ميوندوال د کودتا په تور زنداني او په مرموز ډول ووژل شو . د ميوندوال له مرګ وروسته د دې ګوند د فعاليت په اړه څه ندي ويل شوي او داسې برېښي چې د خپل مشر د مرګ وروسته يې سازماني ملګرو د جمهوري حکومت د استبدادي تګلارې له امله څرګند سياسي فعاليت نه درلود. د ثور د وسلوال پاڅون وروسته د دې سازمان مشرتابه حکومت ته د مبارکۍ پيغام واستاوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکارۍ ژمنه یې کړې وه خو حکومت د هغوی له همکارۍ څخه ګټه پورته نکړله او د سیاسي فعالیت اجازه یې هم ور نکړله.

۷- دعوامو ټولنه (جمعیت عوام)

دې ټولنې د عبدالکریم فرزان له لوري په ۱۹۶۸ کې په هرات کې د صدای عوام په نامه د یوې جریدې په خپرولو سره خپل شتون اعلان کړ. ددې ډلې موخه د کارګرو او بزګرو له ګټو څخه دفاع وه. دې ګوند ته د یوه سوسیالست سمون پال ګوند په څیرکتلی شو. د کمیت له پلوه دا یوه کوچنۍ ډله وه خو لکه څرنګه چې پخپله فرزان او معصومه عصمتي وردګ د دې ګوند سره سازماني تړاو درلود او په ولسي جرګه کې د خلکو استازي وو او همدارنګه د معصومې ورور ذبیح الله د کابل پوهنتون د محصلانو د اتحادیې رئیس وو دې ګوند شهرت وموند. دا ډله یوازې په هرات کې ددې جوګه شوله چې مظاهرې او لاریونونه تنظیم کړي. دې ګوند کومه ځانګړې تګلاره او پروګرام نه درلود خو د اقتصادي پلوه د سوسیالستي سمونو طرفدار وو او خپلو موخو ته رسیدل یې د خلکو د پاڅونونو له لارې شوني ګڼل. د دموکراسۍ د لسیزې وروسته د دې سازمان د فعالیت څرک نه لګیږي .

۸- د ملي یووالي ګوند( زرنګار)

دا ګوند د استاد خلیل الله خلیلي د پاچا د سلاکار له لوري جوړ شو.د جوړیدو وخت یې د نوي اساسي قانون وروسته چې د ولسي جرګې ټاکنو ته د چمتووالي پړاو اټکل کیږي. سیدقاسم رښتیا د صدراعظم محمدیوسف له قوله لیکي : « د یوې کتنې په ترخ کې سردار عبدالولي ور ته ویلي وو چې د دې ګوند مشري ومني او ډاکتر یوسف د دلایلو په وړاندې کولو سره رد کړې وه » ۳۲/ ۲۵۶ ښیي چې نوموړی ګوند د سلطنتي کورنۍ په اراده جوړ شوی دی .پدې هکله رښتیا د خپل کتاب په ۲۶۱ مخ کې راوړي:« د کورنیو چارو د وزارت په همکارۍ یې د نومونو د ثبتولو کتابونه ټولو ولایتونو ته ولیږل او د والیانو پواسطه یې خلک دې ګوند ته دعوتول چې پدې ډول یې هغه ته دولتي او رسمي صبغه ور کوله.د فراه ولایت والي عبدالعزیزخان دا کتاب دکتور محمدیوسف ته استولی وو.» ویل کیږي چې په یوه وخت کې نوموړی ګوند د عبدالحمید مبارز له لوري رهبري کیده. د ګوند نشراتي ارګان ملي یووالی وو او د مشرتابه غړي یې لوړپوړي دولتي ماموران وو. د دموکراسۍ په لسیزه کې د زرنګار ګوند غړي او پلویان هیڅکله هم د زرنګار په پارک کې چې د ګوندونو د غونډو مرکز وو را څرګند نشول. د ګوندونو په اړه له پورتنیو څرګندونو څخه ښکاري چې د دموکراسۍ په لسیزه کې ګوندونو فعالیت کاوه او د خپلو نشراتي ارګانونو او اعلامیو او په پوهنیزو مؤسسو،کارخانو او واټونو کې د غونډو ، مظاهرو او لاریونو په تنظیمولو سره خپلې کړنلارې ولس ته وړاندې کولې. د زرنګار ګوند پرته نورو د واکمنۍ سیاستونه غندل. پداسې حال کې چې په هیواد کې د سیاسي ګوندونو اوغونډو د جوړولو قوانینو شتون نه درلود.د دموکراسۍ په لسیزه کې د قانون پرته د سیاسي ګوندونو فعالیت د افغانستان دعجایبو د ټاټوبي رښتینی انځور کاږي.دا ځکه د عجایبو ټاټوبی دی چې هلته داسې څه تیرشوي چې په نورو هیوادونو کې یې ساری نشته. د بیلګې په توګه د دموکراسۍ په لسیزه کې د اساسي قانون له مخې د هیواد سیاسي سیستم مشروطه پاچاهي ( پارلماني) یا قانوني پاچاهي وو خو پارلمان ته د ګوندونو د سیالۍ پر اساس استازو لار نه موندله. په پارلماني سیستم کې پارلمان ته استازي د ګوندونو د سیالي له لارې ټاکل کیږي خو د افغانستان پارلمان ته استازو په انفرادي توګه لار موندله چې دا په څرګنده د تئورۍ او عمل ترمنځ د تضاد ښکارندوی وو. د دموکراسۍ په لسیزه کې د قانون پرته د ګوندونو فعالیت په واقعیت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون خلاف عمل وو او دا ګوندونه ناقانونه ګوندونه وو. همدې ناقانونه ګوندونو په واټونو، کارخانو او پوهنیزو بنستونو کې غونډې رابللې او د خپلو سرو ، شنو او سپینو بیرغونو سره په واټونو کې راڅرګندیدل، مشران یې ټولو ته څرګند او ځینو یې ګوندي دفترونه هم لرل،خو حکومت د دې ناقانونه ګوندونو د فعالیت مخه نه نیوله. ښېله شکه چې دې ګوندونو د پاچا یا د حکومت د همغږۍ پرته خپلو فعالیتونو ته دوام نشواى ورکولی . معلومېږي چې د هغه مهال د ګوندونو مشران د پاچا یا حکومت سره ځانګړو هوکړو ته رسیدلي وو چې د څه اجازه لري او د څه نه. پدې هکله محمد حسن شرق د عبدالغفارفراهي د ولسي جرګې د غړي له قوله د پرچم د ډلې په اړه لیکي :«ما د ښاغلي منصوري د کورنیو چارو د وزیر څخه پوښتنه وکړه، آیا د هادي کریم خبرې واقعیت لري ، وزیر وویل موږ د ګوندونو سره پروتوکول درلود چې د حکومت تر تعقیب لاندې کسانو ته به پناه نه ورکوي او د دا ډول کسانو په نیولو کې به که د ګوند غړي یې هم وي همکاري کوي. لدې کبله ښاغلي کارمل شخصاً ماته ټلفون وکړاو د کریم هادي د نیولو امر مې ورکړ. » ۳۸/ ۱۰۵ – ۱۰۶ عبدالهادي کریم د شورا دیارلسمې دورې ته ځان کاندید کړی وو او د ټاکنیز کمپاین پر مهال حکومت غوښتل هغه ونیسي. هغه چې د حکومت لدې هوډ خبر شوی خپل مشر کارمل ته ورغلی دی .پولیسو هادی کریم او دستګیر پنجشیری له همغه ځایه نیولي وو. هادی کریم وروسته ویل چې کارمل د بلې کوټې څخه د ټلفون پواسطه مقامات خبر کړل ،پولیس راغلل او دوی یې بندیان کړل. دا بیا ښیي چې د دموکراسۍ په لسیزه کې ګوندونو د واکمنۍ د اجازې له مخې سیاسي فعالیتونه کول او له حکومت سره یې ځانګړي پروتوکولونه لاسلیک کړي وو.

## د اندیښنې وړتوپیر

د دموکراسۍ د لسیزې د سیاسي ګوندونو د فعالیتونو څرنګوالي، د یو بل سره اړیکو او د تبلیغانو بنې د یوې لسیزې مخکې سازمانو څخه د اندیښنې وړتوپیر درلود. منطقاً چې د دموکراسۍ د لسیزې سیاسي ګوندونو د تېرې دورې په پرتله باید د لوړسیاسي شعور څخه برخمن واى او تبلیغات یې د ملي - دموکراتیکو او مترقي ځواکونو د یووالي لورى درلودلاى او فعالیت یې د یوبل سره د سیالیو سربېره د همکارۍ پر محور څرخیدلاى. خو هرڅه سرچپه را وختل . د شاه محمودخان د صدارت مهال سازمانونه د لوړ سیاسي شعور لرونکي وو. د هغه مهال سیاسي ګوندونو د یو بل په پټه منفي تبلیغات نه کول او د دوی تر منځ خواخوږۍ او همغږۍ شتون درلود. د بېلګې په توګه هغه مهال ویښ ځلمیانو د چاپ ماشین درلود چې د نورو سیاسي ډلو جریدې او اخبارونه یې هم ور چاپول. د دوی دا ډول دریځ د لوړ کلتور د لرلو سربېره دا هم ښودل چې هغوی د خپلو خلکو د ذهنونو د روښانولو او ویښتیایي کار د پر مخ وړلو په وړاندې د ګډ مسؤلیت احساس درلود.د دموکراسۍ د لسیزې غوڅ اکثریت سیاسي ګوندونو د یو بل خلاف دښمنانه تبلیغات پرمخ وړل، یو بل ته یې سپکې سپورې ویلې، د سیالو ډلو د فعالانو له وهلو ټکولو او وژلو څخه یې هم ډډه نده کړې او د مقابل لوري شتون ور ته د زغم وړ نه وو. د دموکراسۍ د لسیزې سیاسي ډلو او حتی هغو سازمانونو چې ګډې موخې او ګډ سیاسي او ایدیالوژیکي لیدلورى هم درلود ، نه دا چې د مبارزې ګډ ټکي پیدا نکړل بلکې په لاریونونو او خپرونو کې د یو بل خلاف تبلیغات کول ، یوبل یې د پردیو جاسوسان بلل او خبره وهلو ټکولو ،اخ اوډب او وژنو ته هم رسیدله. د ساري په توګه د ا، خ، د،ګ دواړو سیالو ډلو( خلق او پرچم) چې ګډې فکري ، ایدیالوژیکي اوسیاسي موخې او واحده فکري سرچینه لرله د دوو دښمنو سازمانو په شان د یو بل په پټه تبلیغات کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردې چې د پرچم فرکسیون د نورمحمدتره کي لپاره بیوګرافي جوړه کړه ، د رنګارنګ تورونو سربېره يې هغه د سي ای اې جاسوس معرفي کړی وو. دا بیوګرافي یا شپې پاڼه نه یوازې د تره کي د شخصیت ترور بلکې د ټولو خلقیانوسپکاوي ته ځانګړې شوې وه. یا دا چې د ۱۹۷۲ کال د لړم میاشتې په یوه مظاهره کي د ځوانو مسلمانانو له لوري په یوه پلاکات کي چې د مساوات د ډلې مشر، میوندوال يې سپک کړی وي داسې لیکل شوي وو :« جاسوس پریروز، صدراعظم دیروز، مبارز امروز، شرمنده فردا، میوندوال بی خدا ! » او کینې لاسو په یوه لوی پلاکات کي دا بیت لیکلی وو:

ترسم نرسي به کعبه ای اخواني این راه تومیروی به انګلستان است

البته د دموکراسی په لسیزه کي یو ځل د ځوانو مسلمانانو، نوی دموکراتیک ګوند، د انتظار محفل او د زرنګار ګوند پرته نورو سیاسي ګوندونو او سیاسي فعالانو کله چې د صدراعظم محمدموسی شفیق حکومت غوښتل د ایران سره د هلمند د اوبو د تړون په هکله خبرې پیل کړې او وروسته يې ورسره تړون لاسلیک هم کړ ګډه ژبه وموندله او په باغ بالا کي د روزګار د جریدې د مسئول مدیرمحمد یوسف فرند په کور کي د افغان ملت ، پرچم ، خلق، مساوات او صدای عوام استازي سره جرګه شول چې د نوموړي تړون په وړاندې ګډه تګلاره غوره کړي. هماغه وو چې د تړون خلاف يې ګډه مظاهره تنظیم کړله. د دموکراسی په لسیزه کي د پورتنیو ډلو له لوري د یوې ملي مسئلې په اړه د ګډ دریځ نیول لومړۍ او وروستی پېښه وه. هغه مهال د وخت غوښتنه وه چې سیاسي ډلو د دموکراتیکي جبهې په جوړولو سره ځواني دموکراسی ته وده ور کړې وای او د یوه قوي سیاسي اپوزیسیون په شکل په حکومتونو فشار راوړی وای چې د دموکراسی د ودې او د هیواد د اقتصادي- ټولنیز پرمختګ لپاره اړین ګامونه اوچت کړي وای او پدې ډول يې د هیواد د بې ثباتۍ او د دموکراسی د ناکامی مخه نیولې وای. د دموکراسی د لسیزې د سیاسي ډلو دا ډول چلند دا ګومان په واقعیت اړوي چې هغوی د خپلو بهرنیو ملاتړو او فکري سرچینو د ارادې له مخي عمل کاوه . البته دا به بې انصافي وي چې له یوه سره ټول دا سیاسي خوځښتونه او یا يې ټول مشران او په تېره کدرونه او غړي د پردیو د نقشو پلې کوونکي وبلل شي.

## د عقرب د دریمی پیښه

کله چې د دموکراسی د لسیزې ځخه خبره کیږي نشي کیدای چې د ۱۳۴۴ کال د لړم ( عقرب ) د دریمي خونړۍ پیښي یادونه و نشي. که څه هم د دې پیښي ځخه د نیمې پیړۍ زیات وخت تیر شوی دی خو لا تر اوسه د هغې د پیښیدو د څرنګوالي په هکله د نظر یووالی نشته او حتي د دې پیښي د قربانیانو کره شمېر څرګند نه دی. د هر څه د مخه به ددې پېښي په هکله دې پوښتني ته د ځواب د لټولو هڅه وشي چې ولې دا خونړۍ واقعه پیښه شوه ؟ ویل کیږي چې د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي رئیس حمیدالله آدینه د دربار د وزیرعلي محمدخان زوی د ولسي جرګې د مشر محمدعمر وردګ د موافقې پراساس د دې پوهنځي د ځلورم ټولګي د دیپلوماسی د څانګې محصلین چمتو کړي وو چې د لړم په دوهمه د ولسي جرګې په غونډه کي ګډون وکړي چې آجندا يې محمدیوسف او د هغه کابینې ته د باور د رایي ورکول وو. حمیدالله د صدراعظم له ملګرو څخه شمیرل کیده او د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون د مسودې د اووه کسیزه کمیټي غړی هم وو. په غونډه کي د دې محصلینو د ګډون خبره چې نورو محصلینو او د سیاست مینه والو ته رسیږي هغوی هم د لړم په دوهمه د ولسي جرګې تالار ته ننوزي. هغه مهال د حقوقو پوهنځی د اریستوکراتو، اشرافو او شتمنو پوهنځی ګڼل کیده لکه څرنګه چې د ادبیاتو او ساینس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځي بیا د اطرافي بیوزلو کلیوالو پوهنځي شمیرل کیدل. د سیاست مینه والو ته دا په زړه پورې وه چې د ولسي جرګې غونډې او هغه هم کابینې ته د رایې ورکولو بهیر وويني. د نوي اساسي قانون د اووه پنځوسمې مادې له مخې د ولسي جرګې غونډې علني وې چې د قانون له مخې په غونډو کې ګډون قانوني ممانعت نه درلود.لدې امله زیات شمیر کسان د لږم په دوهمه د ولسي جرګې تالار ته ننوتي وو ، د وکیلانو او د کابینې لپاره ځانګړې شوې څوکې نا بلل شوو ننداره چیانو نیولې وې. کله چې صدراعظم او کابینه یې د ولسي جرګې تالار ته ننوزي د کیناستو ځای نشته او پریکړه کیږي چې غونډه وځنډیږي. دا مهال د شورا ځینې غړي او په هغو کې کارمل په غونډه کې د میلمنو ګډون د هغوی قانوني حق ګڼي. د فرهنګ په وینا«د محصلینو له لوري د ملي شورا د تالار نیول د ببرک کارمل د پرچم د اړخ د مشر چې د استازو د مجلس غړیتوب یې درلود وستایل شو او هغه یې د ولسواکی په نظام کې د ځوانانو مسلم حق وګاڼه. کارمل ځوانان وهڅول چې د ارتجاع په وړاندې ودریږي او د خپل دریغ نه په شا نه شي. » ۳۰ /۷۴۱ د ستونزې حل پدې کې ولیدل شو چې د لږم په دریمه به د تالار بهر لودسپیکر شتون ولري او د رایو ورکولې بهیر به مستقیماً خپورشي. د دې پریکړې وروسته نابلل شوي میلمانه او محصلین له تالار څخه ووتل پدې تمه چې سبا به د تالار بهر د لودسپیکر له لارې کابینې ته د اعتماد د رایې ورکولو بهیر واوري. کله چې د لږم په دریمه سلګونه محصلین ، زده کوونکي او نور د ولسي جرګې مقر ته راغلل امنیتي ځواکونو تالار ته د ننوتو اجازه ورنکړه او د لودسپیکر ځرک هم نه لګیده. دا مهال د کاکا حکیم پنجشیري په نامه یو څوک د ولسي جرګې د احاطې دیوال ته خیژي او د صدارت د مرستیال او مالیې وزیر سیدقاسم رښتیا د فساد په هکله وینا کوي چې ګواکې هغه بیا په نوې کابینه کې نیول شوی دی. پولیسو د نوموړي د وینا مخه ونیوله او ویل کیدل چې توقیف کړی یې وو. لدې وروسته راټول شوي ځوانان د(زنده باد او مرده باد) د شعارونو په ورکولو سره د ښار د مرکز په لور خوځیږي او په لار کې د پولیسو سره لاس او ګریوان کیږي. څو تنه مظاهره چیان او پولیس ټپي کیږي او پولیس یو شمیر مظاهره کوونکي نیسي.پدې هکله کابل ټایمز انګریزي ژبې حکومتي رسنۍ د لږم د څلورمې نیټې په ۱۷۶ ګڼه کې راوړي:« د دوشنبې په ورځ مظاهره کوونکو غوښتل تالار ته ننوزي او د پولیسو په لوري یې ډبرې ویشتلې.د ولسي جرګې تالار ته د نه ننوتو وروسته مظاهره چیان د دارالامان په لور ولاړل موټر او ودانۍ یې په ډبرو ویشتلې.پدې جمله کې د سوداګرۍ وزارت او حبیبیه لیسه زیانمنې شولې. ځاینې مظاهره چیان د ښار مختلفو سیمو ته لاړل ، امنیتي ځواکونو هغه وخت مداخله وکړه چې هغوی پولیس په ډبرو ویشتل. دولتي سرچینو د قربانیانو په اړه څه ونه ویل.» په پورتني خبر کې د خبریال یا رسنۍ بې خبرې لدې ښکاري چې دارالامان د ښار د مرکز په لور کې نه دی . هېره دې نه وي چې ځینې څیرونکي او لیکوالان د دې پیښې په هکله په خپلو لیکنو کې دا هم وایي چې مظاهره چیان د دریمې کارتې د پولیسو حوزې ته ننوتلي وو له هغه ځایه یې وسلې ترلاسه کړې او په امنیتي ځواکونو یې ډزې کړې چې امنیتي ځواکونه اړ شول متقابلې ډزې وکړي او مرګ او ژوبله منځته راشي. پداسې حال کې چې په کابل ټایمز کې د مظاهره چیانو له لوري د وسلې د ترلاسه کولو په اړه څه نه دي ویل شوي. پوهنتون ته د مظاهره چیانو د ټپي کیدو او بندي کیدو د خبر رسېدل د دې لامل شو چې د پوهنتون په دهلیزونو کې حکومتي ضد شعارونه پورته شي او د پوهنتون زیات شمیر محصلین د ابن سینا، دارالمعلمین ، غازي لیسې ، ثانوي تخنیک ، حبیبیې لیسې په لور وخوځیدل او د نوموړو مؤسسو یو شمیر زده کوونکي هم ورسره یوځای او د شورا په لور روان شول خو پولیسو شورا ته د هغوی د ننوتلو مخه ونیوله. دوی بیرته د پوهنتون په لور وخوځیدل او د سیدجمال الدین افغان د مزار ترڅنګ یې میټینګ جوړ کړ چې د انجینرمحمد عثمان مشهور په لنډي احساساتي وینا محصلین وهڅول چې د خپل اعتراض غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کړي. انجینر عثمان هغه مهال د کوم سازمان غړیتوب نه درلود او وروسته د مترقي ځوانانو د سازمان ( حزب دموکرات نوین) غړیتوب تر لاسه کړ. پدې میتینګ کې پریکړه وشوه چې مظاهره به په پوهنتون کې پرمخ وړي. مظاهره چیان د ادیتوریم مخې ته راغونډ او دولتي ضد ویناوې یې واورولې چې په ویناوو کې فرید شایان د ډاکټر محمودي د همفکرانو څخه یو شعر وویلو چې پرمحصلینو یې اغیز پریښود. محمد اعظم سیستاني د خپل مقدمه یې بر کودتای هفت ثور و فجایع هشت ثور نومي کتاب په ۵۹ مخ کې د شعر لومړی بیت راوړي:

ز کلک آهنین بر کاخ استبداد آتش زن        به نوک خامه بر بنیاد هر بیداد آتش زن

پوهنتونیکه درسش فکر نو ایجاد نتواند        به مضمون و کتاب و کله استاد آتش زن

شعر پدې بیت پای ته رسیږي :

در این عصریکه دنیا شد دگرگون ز نوربرق        تو هم دشتی چراغ تیلیی اجداد آتش زن

په پوهنتون کې د میتیګ برخه والو پریکړه وکړه چې د ښار په مرکز کې خپله مظاهره پرمخ بوزي خو پولیسو په بریکوټ ( دهمزنګ ) کې د ښار زړه ته د محصلینو د تلو مخنیوی وکړ او هغوی د سخې د ګردني له لارې ځانونه پل باغ عمومي ته ورسول او په مختلفو ځایونو کې حکومتي ضد ویناوې واورول شوې. په مظاهره کې د محمدطاهربدخشي او سلطانعلي کشتمند(د افغانستان د خلک دموکراتیکې ټولنې)، هادي محمودي ( سازمان جوانان مترقي)، شاهپورروئین یار، نوروزکبیر او نورو غیرسازماني کسانو ویناوې کړې دي. د ماپښین وروسته د مظاهره چیانو یوه ډله د دریمې کارتې د پولیسو آمریت ته ورځي ترڅو نیول شوي کسان آزاد کړي. دلته دي چې امنیتي ځواکونه په هغوی ډزې کوي چې مرګ او ژوبله یې له ځانه سره لرله. د دې ډزو وروسته مظاهره چیان خواره واره شول او پدې توګه مظاهره هم ختمیږي. وژل شوي کسان دری تنه او ټپیان لسګونه تنه یادیږي. ټپیان د علي آباد او ابن سینا( ګندنا) روغتونو ته د درملنې لپاره وړل کیږي. کله چې په ښار کې مظاهرې روانې وې ولسي جرګې حکومت ته د اعتماد رایه ورکوله. په مظاهره کوونکو باندې د ډزو پړه اکثرآ په سردارعبدالولي د مرکزي قول اردو په درستیزوال اچول کیږي حتی ویل کیدل هغه زرهپوښ چې په مظاهره چیانو یې ډزې وکړې سردار پکې ناست وو. ځینې بیا صدراعظم محمدیوسف ته ګوته نیسي. په مظاهره کوونکو باندې د صدراعظم لخوا د ډزو د امر ور کولو ادعا ځکه ناسمه ده چې هغه او کابینې ته یې د مظاهرو پر مهال په ولسي جرګه کې د اعتماد رایه ورکول کېدله . پولیسو د مظاهرې پر مهال او وروسته د پوهنتون او لیسو یو شمیر استادان او زده کوونکي او د مظاهرې نور فعال برخه وال ونیول چې په هغو کې د ا ، خ ، د ،ګ مشرتابه دوه غړي بدخشي او کشتمند هم شامل وو. د مظاهره چیانو د تیت پرک کېدو وروسته د کابل پوهنتون محصلینو د پوهنتون د اداري د ماڼۍ مخې ته غونډه وکړه او لاندې پریکړه لیک یې د پوهنتون ریاست ته وسپاره :

الف- د لړم د دریمې نیټې د پیښې څیړنه او د هغې د عاملینو مجازات .

ب- د نیول شوو کسانو آزادول .

ج- د سیاسي بحثونو په موخه د محصلینو د اتحادیې جوړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې پېښې څلور ورځې وروسته محمدیوسف د ناروغۍ په نامه استعفي ته اړکړل شو او پاچا محمدهاشم میوندوال د صدراعظم په توګه ولسي جرګې ته ور وپېژاند. د محمدیوسف استعفی معنی ورکوله چې په مظاهره کوونکو د ډزو مسؤلیت ده ته متوجه شي او پدې توګه د پوهنیزو مؤسسو د محصلینو او زده کوونکو د نارضایتي کچه راټیټه شي. میوندوال د شورا نه د اعتماد رایه ترلاسه کړه او بیله ځنډه د محصلینو سره د غمشریکۍ د ښودلو په موخه توره دریشي اغوندي پوهنتون ته ځي او هغوی ته وعده ورکوي چې په مظاهره چیانو باندې د ډزو مسؤلین به وموندل شي، د مظاهرې بندیان به خوشي او د سیاسي بحثونو په موخه به د محصلینواتحادیه جوړه شي. دا هغه غوښتنې وې چې محصلینو له حکومت څخه لرلې. « میوندوال بیله کوم قانوني دلیله د عقرب د دریمي نیټې د پېښې د څېړنې دنده ولسي جرګې ته وسپارله او جرګې هم بیله کوم فکر د موضوع د څېړنې لپاره یو پلاوی وټاکه ، خو دا پلاوی چې په یوه هیجاني چاپیریال کې ټاکل شوی وو، اصلاً هیڅ غونډه ونکړه او هیڅ کومې پایلې ته ونه رسید.» ۳۰/ ۵۰۷ ډېری پدې اند وو چې په مظاهره چیانو سردار عبدالولي د ډزو امر ور کړی وو او دا ناشونې وه چې کوم مقام هغه دوسیه چې په هغې کې ځواکمن سردار ښکیل دی وڅېړي. د محمدحسن شرق د لیکنې پر بنسټ حکومت پدې اړه پلټنې وکړې او د پلټنو پر مهال دا ډول پوښتنې طرحه شوې وې . د حمیدالله نه پوښتنه شوې وه چې ولې یې محصلینو ته اجازه ورکړه چې د ولسی جرګې تالار ته ننوزي . هغه په ځواب کې ویلي وو چې د صدراعظم د امر له مخې . د ساتونکو او پیره دارانو نه پوښتنې شوې وې چې ولې مو د تالار دروازې خلاصې کړې وې . د هغوی ځواب دا وو چې له صدارت څخه امر شوی وو. د پلټنې د هیأت نتیجه ګیري دا وه چې که محصلین په بسونو کې ولسي جرګې ته وړل شوي وای د لړم د دریمې نیټې د پېښې مخنیوی کیده. د۱۳۴۴ کال د لړم د دریمې خونړۍ پېښې وروسته هر کال د وخت سازمانونو دا ورځ د ځوانانو د ورځې په نامه نمانځله او په لومړیو کلونو کې د لړم د دریمې نیټې د پېښې د څېړنې او د ډزو د عاملینو د محاکمې سربیره یو لړ سیاسي او صنفي غوښتنې مطرح کولې. خو ورو ورو په مظاهره باندې د ډزو د امر ور کوونکي ارګان د موندلو او د هغه د محاکمې یادونه نه کېدله ، د یوه دود او سمبولیک حرکت په شان دا ورځ نمانځل کیده او په هغو کې به احساساتی او جذباتي ویناوې کیدلې او ګوندونو به خپلې تګلارې پکې بیانولې. دې نمانځنو د جمهوریت تر ټینګښت پورې ادامه لرله او جمهوري دولت چې په غونډو او لاریونونو بندیز ولګاوه او پوځي حالت یې اعلان کړ ددې ورځې نمانځلې ته یې اجازه ورنکړله.کله چې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند واک ترلاسه کړ د بریکوټ- دارالامان سړک یې دعقرب د دریمې او دا ورځ یې د ځوانانو په نامه ونوموله خو د کومو نمانځنو پته نه لګیده. د ا، خ، د، ک د واکمنی پر مهال د ځوانانو په نامه د دې ورځې نومول ددې سبب شول خلک ګومان وکړي چې د لړم د دریمې نیټې د مظاهرې سمبالوونکی همدا ګوند وو. همدارنګه د دې ګوند ځینو فعالانو پدې اړه د مبالغې ډکې لیکنې کړې دي تر څو وښیي چې د دوی ګوند د جوړیدو وروسته ډېر ژر وکولای شول په ځوانانو کې نفوذ وکړي. خپل ګوند یو سلطنتي ضد ګوند او فعال سیاسي خوځښت معرفي کړي هرهغه حرکت چې د نوموړي ګوند پرستیژ لوړولی شي د خپل ګوند د نوښت پایله وګڼي او د دې مظاهرې ټول ویاړ خپل ګوند ته ور وبښي. پر بله خوا د دې ګوند یو مشر چې د مظاهرې فعال برخه وال او ویناوال وو د حکومت له لوري د دوی توقیفول تر پوښتنې لاندې نیسي . دلته به د دواړو کتګوریو څرګندونو ته ګوته ونیول شي. دستګیر پنجشېری لیکي: « غورځنګ خود جوشه پیل شو. خو ژر د هغه لاربښوونه د افغانستان د خلق دموکراتیکې ټولنې د مرکزي کمیټې دوو غړو او فعالینو اروابناد طاهر بدخشي او سلطانعلي کشتمند په غاړه واخیستله، پدې اړه اروابناد طاهربدخشي او کشتمند او د دموکراتیک خلق د ټولنې نورو فعالینو د پردې شاته ټولې توطئې پدې مظاهره کې افشاه کړې. » ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



/ ۱۸۵، ۱۸۶خو پخپله کشتمند لیکي: « دا چې موږ دوه تنه یې ونیولو څرګند نه شول ( موخه په خپله کشتمند او بدخشی دي ) ، ځکه موږ نه محصلین وو او نه د مظاهرو فعال ګډون کوونکي. خو ښایي پدې دلیل چې د نوي جوړ شوي د خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړي وو.» ۳۹/ ۱۱۳- ۱۱۷ د ځوانانو مترقيٍ سازمان (حزب دموکراتیک نوین ) هم د مظاهرې د سمبالولو ویاړ خپل ګڼي. البته په سیاست کې د دا ډول دریځ نیول معمولي کار بریښي. هغه مهال د ځوانانو مترقي سازمان په هیڅ صورت دا وړتیا نه درلودله چې یوه ستره مظاهره تنظیم کړي ځکه چې دا سازمان د لږم د دریمې نیټې د پیښې یوه میاشت مخکې جوړشوی وو.د افغانستان د خلک دموکراتیکه ټولنه د خپلې لس میاشتنی شتون په ترڅ کې هم دومره نه وه ځواکمنه شوې چې زرګونه تنه کوڅو ته راوباسي. پدې اړه د صباح الدین کشککی لدې ارزوني سره چې « دا مظاهره یوازې د کمونستانو له لوري نه وه سمبال شوې . کمونستان د یوه مهم او منسجم ځواک په توګه نه وو راڅرګند شوي چې دا مظاهره په بشپړ ډول رهبري کړي» همغږي وښودل شي. د کیڼ لاسو سیالان او مخالفان دا خوځښت پدې محکوموي چې هغوی د دې مظاهرې د تنظیموونکو سربیره د محصلینو او زده کوونکو سوله ئیزه مظاهره په زورزیاتی واړوله. د شیر احمد نصری حقشناس په شان ځیني څیرې حتي په مظاهره کې د شوروي د سفارت د کارکوونکو ګډون ته هم ګوته نیسي. که چیرې د دې واقعي پیښېدو ته وکتل شي انګیزه یې د ولسي جرګې په غونډه کې د حقوقو د پوهنځي د څلورم ټولګي د محصلینو ګډون وو خو اصلي لامل یې د ځوانانو او د سیاست د مینه والو لیوالتیا وه چې د ولسي جرګې په غونډه کې برخه واخلي خو د حکومت له لوري د دوی دې لیوالتیا ته نه پاملرنی او خپلو ژمنو ته شا ګرزوني دې ته لار هواره کړه چې محصلین زورزیاتی ته مخه کړي. پر دې اساس ویلی شو چې د حکومت بیغوری او د خلکو د مخکښې برخې لیوالتیا ددې سبب شوه چې قهریدلي ځوانان په مظاهره لاس پورې کړي او د دې ځوانانو او امنیتي ځواکونو ترمنځ چې ځوانانو د سوله ئیزو لاریونو او امنیتي ځواکونو د مظاهرو د کنترول تجربه نلرله او ځینو چارواکو مظاهرو ته د بغاوت په سترګه کتل خبره دې ته ورسیږي چې په بې وسلې ځوانانو د ماشینګڼو او ټوپکو ډزې وشي او لسګونه تنه قرباني ولري. د دې مظاهرې نوښتګر کوم ځانګړی مرکز یا سازمان نه وو. دې خونړۍ پیښې وښودل چې چارواکو د ځوانانو د سوله ئیزو لاریونو د زغملو حوصله نلرله او په بې وسلو وګړو یې برید وکړ چې دا په واقعیت کې په ځوانه دموکراسۍ برید وو او پایله یې دا شوه چې د څلورو ورځو وروسته د ولسي جرګې له لوري تائید شوې واکمني ړنګه شي.

## د دموکراسۍ د لسیزې رسنۍ

که چیرې د رسنیو رول ته وکتل شي هغه په واقعیت کې نه لیدونکي حکومتونه دي چې اکثراً د واکمنیو ټیکاو او پایښت په هغو پورې تړلی دی.رسنۍ د اطلاعاتو د لیږد د سیستم په توګه داسي وسیلې دي چې د هغو پرمټ واکمنه طبقه او ځانګړې ډله د کوم فزیکي ځواک څخه د ګټې اخیستنې پرته په خلکو حکومت کوي. د رسنیو او تبلیغاتو پرمټ دي چې د وګړو فکري اصول تغییر مومي او ذهنونه یې کنټرولیږي. رسنۍ د واکمنو طبقو او مخکښو کړیو په لاس کې داسي افزار دي چې نه یوازې وګړي کنترولوي بلکې د هغوی اندونو، نظریاتو او غوښتنو ته بڼه او لوری هم ورکوي او وګړي هغه پخپله خوښه مني. د تبلیغاتو یا رسنیو حیرانوونکی اغېز په ولسي وګړو څه چې د سیاستوالو په اندونو لاندې بیلګه ښیي. په ۲۰۱۱ کال کې مې د یوه خلقي وزیرسره چې د خلقیانو د واکمنۍ د نسکوریېدو وروسته لس کاله د زندان خوند هم څکلی وو په هیواد کې د ناټویي پوځیانو د شتون په هکله بحث درلود. نوموړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غربي رسنيو له دريځه دې مسئلې ته کتل ګواکې چې دا لښکر د ترهګرۍ سره د مبارزې او د ولسواکۍ د ټينګښت په موخه ماموريت لري. نوموړي د خبرو اترو په ترڅ کې د ليکوال څخه پوښتنه وکړه چې ته ويب پاڼې، نړيواله ميډيا او په هغو کې مشهورې راډيوګانې لکه بي بي سي ، امريکا غږ او ازادۍ راديو نه ګورې او نه اورې چې هغوی څه وايي ؟ دې پوښتنې ښودل چې همدې معتبرو نړيوالو رسنيو د هغه فکر او ليدلوري ته تغيير ورکړی او تر کنترول لاندې راوړی دی ځکه همدا وزير د هغه ګوند له مشرانو څخه وو چې يو وخت يې امپرياليسم د زيارکښ انسان دښمن او د جګړو سرچينه بللو او اوس يې د افغانستان د خکو ناجي بولي. ددې پوښتنې په اورېدو سره مې د غني خان دا بيت را ياد شو چې وايي :

يا زه جوړ يم دا کل خلک ليوني دي يا دوی جوړ دي يو زه يم ليونی

زړه هسې بخښم خو ايمان په ټيپرنه خرڅوم ځکه ليونی يم خلکه ځکه ليونی

ليکوال هغه ته وويل : فکر نه کوم چې لويديځوال دومره ساده وي چې خپلو رسنيو ته اجازه ور کړي چې د خدايي خدمتګارو تبليغاتي مرکزونو په څېر نړيوالو او افغانانو ته په افغانستان کې د خپلو پوځيانو د شتون موخې ورسوي. دا راديوګانې د خپلو هېوادونو د ملي ګټو پربنسټ تبليغات کوي اوهغه څه خپروي چې د هغوی ملي ګټې يې حکم کوي. امريکايي پوه هارولډلاسويل چې په امريکايي ټولنه کې د اړيکو د تئوريسن او د تبليغاتو او پروپاګند کارپوه ګڼل کيږي د تبليغاتو د رول په اړه ليکي: « د دموکراسۍ سيستم ، يعنی هغه حکومت چې د خلکو له خوا اداره شي ثابت او پايدار نه پاتې کيږي ترڅو د ځانګړو کارپوهانو له لوري داسې تبليغات او پروپاګند چې د خلکو عقيدو ته لوری ورکړي او کنترول يې کړي ترسره نشي.» څرګندساری يې د ناټويي اشغال پر مهال د افغانستان رسنۍ وې چې يوه برخه يې د بهرنيو له لوري تمويلېدله ، د يوې برخې مسؤلان يې د اشغالګرو د فکري اسارت لاندې وو ، دريمه ډله يې په افغان جګړه مارانو پورې تړلې وې او پاتې نورې يې ناپييلې او خپلواکه خو په اقتصادي لحاظ کمزورې وې د دې جوګه نه وې له نورو سره سيالي وکړي او ليدونکي او لوستونکي ځانله رامات کړي. دې رسنيو ولسمشريزو ټولټاکنو ته پدې روحيه تبليغات کول چې ګواکې ټاکنې دي چې د افغان ولس برخليک ټاکي او د ولس د رايو پر مټ ټاکل شوی ولسمشر به هيواد ته سوله راوړي. همدې رسنيو او په هغو کې ټلويزيونو په پرله پسې توګه د ټاکنو په اړه ګردي ميزونه رابلل حتې په دغو ميزونو کې د اشغال د سيوري لاندې د ټاکنو مخالفينو هم جرئت نه کاوه دا خبره وکړي چې د اشغال تر سيورې لاندې رڼو ټاکنو ته اشغالګر اجازه نه ورکوي او هغه څوک به ارګ ته لار مومي چې اشغالګر يې غواړي. دا ځکه چې ټولو رسنيو په يوه خوله د ټاکنو خبره کوله او د ولس ذهنونه يې ترخپل کنترول لاندې راوړي وو او دا خبرې زمزمه کېدلې چې ټاکنې د ولسواکۍ مرکزي اصل دی ، په اوسنيو حالاتو کې يوازينی مناسب ګام چې بايد واخيستل شي هغه ټولټاکنې دي. پداسې حال کې چې د څلورو ځلو ټاکنو وروسته حکومتونو هيواد ته نه سوله را وړه او نه مثبت بدلون . د دموکراسۍ د لسيزې مخکې حکومتونه په بشپړډول په رسنيو او تبليغاتي بنسټونو واکمن وو او افزار يې د کابل يوازينۍ راډيو، حکومتي ورځپاڼې، جريدې، مجلې او حتی د جوماتونو منبرونه او سينماګانې وې. دا ټول د واکمنۍ په ګټه څرخېدل. د دموکراسۍ په لسيزه کې آزادې رسنۍ د مطبوعاتو د قانون( جولای ۱۹۶۵ ) د نافذيدو وروسته راڅرګندې شوې. د دموکراسۍ د لسيزې غيرحکومتي آزادې رسنۍ د خپلو نيمګړتياوو سره سره په خپرونو پيل وکړ او په همدې دوره کې ټولټال يودېرش غيرحکومتي او پنځې حکومتي رسنۍ خپرې شوې. البته چې دا رسنۍ په يوه مهال نه خپريدلې بلکه په مختلفو وختونو کې يې په خپرونو پيل کړی دی او بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي خپروني درولې يا د واکمنۍ له لوري توقيف شوې دي. د چنګاښ د يوځې کودتا په درشل کې په هيواد کې لس غيرحکومتي جريدې خپريدې.د دموکراسۍ په لسيزه کې د۳۱ رسنيو له جملې څخه د (خلق ، شعله جاويد، پرچم، افغان ملت ، مساوات، صداى عوام، اتحادملي) د وخت د سياسي ګوندونو نشراتي ارګانونه وو او نورې خپلواکه شخصي، ناپيېلي او يا پټې حکومتي رسنۍ وې. په افغانستان کې د مطبوعاتو د قانون پر بنسټ بايد د يوې رسنۍ چلوونکي د حکومت څخه د ورځپاڼې ، جريدې يا مجلې د خپرولو جواز تر لاسه کړی وای. هغه مهال د دولتي چاپخانې پرته نورو چاپخانو شتون نه درلود. لدې امله ټولې غيرحکومتي جريدې په دولتي مطبعه کې چاپيدلې. دې ډول حالت حکومت ته دا امکان ورکاوه چې د جريدې د خپريدو مخکې هغه موارد سانسور کړي چې د حکومت نه خوښيدل. حکومت نيغ په نيغه د سانسور خبره نه کوله بلکې د دولتي مطبعې کارکوونکو د رسنيو مسؤلين پدې نامه وېرول که دا موضوع خپره شي ښايي دا ګڼه او يا د تل لپاره مو اخبار مصادره شي. د مطبوعاتو د قانون له مخې حکومت اجازه نلرله چې په رسنيو کې خپريدونکي مواد سانسور کړي. خو څرنګه چې جريدې په دولتي چاپخانه کې چاپيدلې او د جريدو د هرې ګڼې له منځپانګې نه مخکې له مخکې اړونده مسئولين خبريدل ، واکمنۍ به کله چې جريده له چاپخانې ووتله په لار کې به يې ضبط کړله بيله دې چې بازار ته وړاندې شي. د دموکراسۍ په لسيزه کې لومړۍ جريده چې حکومت د تل لپاره مصادره کړله د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند نشراتي ارګان د خلق جريده او دوهمه د پيام روز آزاده جريده وه. همدا ډول حکومت د مساوات جريده هم توقيف کړه خو بيرته يې د خپرولو اجازه ورکړه. د خلق د جريدې د خپرولو او بيا بندولو په اړه دا خبره د يادولو وړ ده چې د خلق د جريدې د لومړۍ جريدې د خپريدو په ورځ د مې په يوولسمه د مردم په نامه يوه جريده هم بازار ته راووتله چې پکې خپرې شوې ليکنې د خلق د جريدې خلاف وې. همدارنګه د مردم جريدې د خلق د جريدې د توقيف نه يوه ورځ مخکې د جون په شپاړلسمه خپلې خپرونې ودرولې. د نوموړې جريدې د امتياز خاوند سيدمقدس نګاه او مسئول مدير غلام محی الدين وو. د مردم جريده د کوم سازمان نشراتي ارګان نه وو بلکې د محمدزيو د مخورې کورنۍ فيض محمد زکريا له لوري خپرېده او د خپرونو د دريدو لامل يې هم څرګند نشو. بېله کومه شکه چې هغه حکومت د خلق جريدې په وړاندې خپروله. د حکومت له لوري په خپلواکه جريدو او په تيره هغو جريدو چې پخپل قوت سره يې روښانتيايي او ويښتيايي هدفمن کار ته ملاتړلې وه فشارونه ددې سبب شول چې « د۱۹۷۲ کال د سپتمبر په مياشت کې ۹ غير حکومتي جريدو( خيبر ، مساوات، افغان، پکتيا، اتحادملي، پيام وجدان، روزګار، افغان ملت او کاروان ) د احتجاج په ډول د غيرحکومتي رسنيو په وړاندې د صدراعظم ډاکټرعبدالظاهر د اختناق څخه ډک سياست له امله د يوې ورځې لپاره د خپلو جريدو د خپرولو نه ډډه وکړه.» ۱۹۲/۳۲ بيله شکه دا بيا ښيي چې د دموکراسۍ د دورې حکومتونو هم نه غوښتل آزادې رسنۍ خپرونې ولري. تردې چې د حکومت مشر هم ليوال نه وو چې په مطبوعاتو کې را څرګند شي او د حکومت د تګلارو او فعاليتونو په اړه ولس ته معلومات ورکړي. ټولو ته څرګنده ده چې پاچا به د نوي لمريز کال، اخترونو او د خپلواکې د ورځې په مناسبت د کابل راډيو له لارې په دري ژبه لنډ د مبارکۍ پيغامونه وړاندې کول .

## د دموکراسۍ د لسيزې پارلمان

د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له مخې د هيواد پارلمان له دوو مجلسونو، ولسي جرګې او مشرانو جرګې جوړشوی وو. ولسي جرګې ته استازي د ولس د آزادو، عمومي ،پټو او مستقيمو رايو له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځلورو کلونو لپاره ټاکل کيدل. ولسي جرګې ته د استازيتوب شرطونه دا وو چې استازی لږترلږه د افغانستان لس کلن تابعيت ولري، ليکل او لوستل يې زده وي، ۲۵ کاله عمر ولري او د نوي اساسي قانون له نافذيدو وروسته محکمې له سياسي حقونو څخه نه وي محروم کړی. ولسي جرګې ته د ټول افغانستان څخه ۲۱۶ تنو استازو لار موندله. مشرانو جرګې ۸۴ غړي لرل چې يوه دريمه يې د پاچا له لوري د پنځو کلو لپاره انتصابيدل، بله دريمه يې د ولايتي جرګو له لارې د دريو کلو او پاتې دريمه برخه د خلکو له لوري د آزادو، عمومي ، پټو او مستقيمو رايو پواسطه د ځلورو کلو لپاره ټاکل کيدل. د مشرانوجرګې استازو د ولسي جرګې د غړو په شان شرايط لرل يوازې استازی بايد ديرش کلن وای. لکه څرنګه چې پاچا د ګوندونو د قانون په څير د ولايتي جرګو قانون توشيح نکړ.لدې امله د ولايتي جرګې استازو په مشرانو جرګه کې شتون نه درلود. پردې بنسټ د مشرانو جرګه نيمګړې وه او پرېکړې يې غيرقانوني وې. د دموکراسی په لسيزه کې پارلمان ته دوه ځله ۱۹۶۵ او ۱۹۶۹ کال کې ټاکنې ترسره شوې.ټاکنې د يوه حکومتي کميسيون پواسطه چې غړي يې د سيمې قاضي،ماموران او ښوونکي وو تر سره کيدلې.ولسي جرګې لاندې دندې لرلې:

۱- د قوانينو تصويبول.
۲- د اجرائيه قوې پر فعاليتونو څار او د حکومت استيضاح.
۳- حکومت ته د باور او نه باور د رايې ورکول.

حکومت ته د اعتماد د رايې د نه ورکونې او يا د رايې د بېر ته اخيستنې له امله حکومت ړنګيده او پاچا بايد نوی صدراعظم ولسي جرګې ته د اعتماد د رايې د ترلاسه کولو په موخه ورپيژندلی وای. د اساسي قانون په لسيزه کې لومړی پارلمان د۱۹۶۵ کال د اکتوبر په څوارلسمه چې د پاچا د زيږيدنې له ورځې سره سر خوړ پرانيستل شو. لومړي پارلمان ته ټاکنې د تېرو ټاکنو په پرتله رڼې وې او د دموکراسی په لسيزه کې لومړۍ ټاکنې د دوهمې په پرتله رڼې وې يعني دا چې د حکومت لاسوهنې پکې لږ وې. لومړي پارلمان ( دوولسمې دورې) ته ځلورو ميرمنو، دوو له کابل او يوې يوې له کندهاراو هرات څخه لار و موندله. البته د دموکراسی په لسيزه کې د محمدهاشم ميوندوال د صدارت پر مهال د لومړي ځل لپاره يوې ميرمنې کابينې ته لار موندلې وه.هېره دې نه وي چې د دموکراسی تر لسيزې پورې ملي شورا شتون درلود خو ددې شورا غړي اکثرآ د حکومت له لوري د ټاکنو په نامه شورا ته رسول کيدل.

د حکومتونو دا ډول دريځ ددې سبب شوی وو چې خلک په ټاکنو باور ونکړي او ګډون کوونکي يې لږ وي. څرګنده بيلګه يې د ۱۹۶۵ کال په پارلماني ټاکنو کې په کابل کې چې د نورو ښارونو په پرتله د سواد کچه پکې لوړه وه د ځلويښتو زرو څخه زياتو کسانو نوم ليکلی وو خو په ټاکنو کې يوازې پنځلس زرو تنو ګډون وکړ. که څه هم د تيرو ټاکنو په پرتله د دموکراسی په لسيزه کې ټاکنې رڼې وې خو بيا هم د پخوا په شان سلطنت او حکومت د خپلې مزمنې ناروغی يا عادت له امله په ټاکنو کې د لاسوهنو څخه ډډه ونکړه او هڅه يې کوله چې ولسي جرګې ته د حکومت سياسي مخالفان لار ونه مومي. د محمديوسف د انتقالي دورې د کابينې غړی اود ټاکنو سمبالوونکی سيدقاسم رښتيا پدې هکله ليکي:« يوه ورځ ډاکتر عبدالقيوم د کورنيو چارو وزير ما ته وويل د استازو لست مې چې د ولاياتو غوښتې وو را رسيدلی دی. صدراعظم وويل چې زه او ته ، مجروح او خليلي به سره کښينو او بحث به پرې وکړو...، مطلوب او نامطلوب کسان به سره جلا کړو... ،عجيبه دا چې هغه کسان چې زما د کور په مجلس کې مطلوب کسان پيژندل شوي وو. استاد( خليلي د پاچا سلاکار) هغه د نامطلوبو په کتار کې شامل کړي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنيو چارو د وزارت له لارې په همدې نامه واليانو ته معرفي شوي وو. اوهغه کسان چې د کومو ملاحظاتو له امله نامطلوب ګڼل شوي وو لکه د ناوړه سابقې ، قاچاقبرۍ او يا داسې نور. حکومت ته مطلوب معرفي شوي وو. » ۱۳/ ۲۳۶ ربښتيا په ټاکنو کې د واکمنۍ او په تېره د صدراعظم او د خصوصي کابينې لاسوهنې نه مني . آيا دا د حکومت له لوري په ټاکنو کې لاسوهنه نه ده چې واليانو ته د مطلوبو او نامطلوبو استازو لست استول کيږي . ددې معنی دا ده چې د مطلوبو کسانوسره مرسته وشي چې شورا ته لار ومومي او د نامطلوبو استازو مخنيوی وشي. ربښتيا دوولسمې دورې د ټاکنو مسؤل بل ځای اعتراف کوي:« دا چې واليانو، ولسوالانو او د څارنې پلاوو د هيواد په مختلفو سيمو او اطرافو کې د مختلفو ملاحظاتو او د اشخاصو او مقاماتو د توصيې له کبله لاسوهنه کړې ده سترګې نشي پټېدی.» ۳۲۱ /۱۳

په ټاکنو کې به د واکمنۍ له لوري د لاسوهنو په اړه د دوو تنو نوماندانو نورمحمدتره کي او محمدهاشم ميوندوال يادونه وشي چې ولسي جرګې ته لار ونه مومي. تره کي د دموکراسۍ په لسيزه کې لومړۍ ( دوولسمې) او ميوندوال بيا دوهمې ( ديارلسمې ) دورې ته د غزني د ناوې او مقر له ولسواليو څخه ځانونه کانديد کړي وو. تره کی د وېښ ځلميانو له بنسټ ايښودونکو او د يوه ګوند مشر وو. هغه د هيواد د ننه او بهر د ماموريت تجربه لرله ، د وخت په مطبوعاتو کې د پيژندل شوې سمونپالې څېرې په توګه پيژندل کيده . ولسي جرګې ته د هغه سيال هاشم د خپلې ترور د ملکيار د مشهورې کورنۍ د يوې معتبرې ښځې شخصي موټروان وو چې شورا ته يې لار وموندله . د ملکيار د کورنۍ دوه غړي عبدالله ملکيار او نصرالله ملکيار په څلورو حکومتونو کې د کابينې غړي پاتې شوي او عبدالجبار ملکيار او عبدالسلام ملکيار بيا جنرالان وو. ددې کورنۍ دا ډول دريځ د دې لامل ګرزيده چې موټروان يې ملي شورا ته لار ومومي. پدې اړه د تره کي ورور، جان محمد تره کی چې د ټاکنو پر مهال په ولسوالۍ کې د خپل ورور د رايو د صندوق د څارنې په موخه شپه تيره کړې وه وايي: « ماته خوب نه راتی د شپې مې غوږنتل د باندې ووزم خو ګورم دروازه د باندې له خوا راپسې بنده ده . هرڅه نارې چې مې وکړې هيچا دروازه نه راخلاصوله ...، سهار يې دروازه پرانستې وه کوټې ته ورغلم ګورم مهر لرې سوی او په احتياط پر سريښ سوی دی خو زما ښناني بيځايه سوې وه ...، پدې توګه شورا ته د نورمحمد تره کي لاره ونيول شوه.» ۴۰/ ۱۴۷ محمدهاشم ميوندوال په ۱۹۶۹ کې د مقر له ولسوالۍ څخه د خپل سيال سيمه ئيز خان په وړاندې ماتې خوري . ميوندوال خپله ماتې د حکومت د لاسوهنې له امله ګڼله او خپل ليکلی شکايت يې د خپل استازي له لارې وليد حقوقي د سترې محکمې اداري رئيس ته چې کشککي د اطلاعاتو او کلتور وزير هغه مهال د وليد حقوقي په دفتر کې ناست وو وړاندې کړی وو.کشککي د خپلو سترګو ليدلی حال داسې بيانوي: « ميوندوال په خپل ليک کې د هغې حوزې د ټاکنو پايلې غيرقانوني ګڼلې وې چې ده ځان کانديد کړی وو. حقوقي چې د سلطنتي کورنۍ سره قومي اړيکې لرلې او د نوموړې کورنۍ د اعتماد نه برخمن وو ، ليک يې ټوټې ټوټې کړاو باطله دانۍ ته يې واچاوه او دا کار يې پدې موخه وکړ وښيي چې واکمن نظام تر کومې کچې له ميوندوال څخه کرکه لري. » ۳۲ /۵۹ کله چې په ټاکنو کې د حکومت د لاسوهنو په هکله د ميوندوال چې په همدې د دموکراسی په لسيزه کې يې د صدارت لوړ مقام درلود، شکايت نه اوريدل کيږي که له يوې خوا قانون ته د حکومت له لوري نه درناوی ښيي له بله پلوه د قضائيه سيستم ترلتوب هم ننداري ته ايږدي. دا چې ولې ميوندوال چې د مشروطه نظام سخت طرفدارهم وو د سلطنتي کورنۍ دښمني ګټلې وه لامل يې دا کيدای شي چې هغه د يوه سياسي ګوند مشري لرله چې په هيواد کې د سمونو د پلې کولو په موخه سياسي مبارزه کوله او د هيواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچه یوه پیژندل شوې څیره وه. که چیرې میوندوال ولسي جرګې ته لار موندلی وای بیله شکه پدې معتبر دولتي ارګان کې یې د پام وړاعتبار او اغیزدرلود اوهلته یې د سمونپالي ډلې تله غښتلې کوله او په پایله کې هغه په یوه اغیزمن سیاسي او ملي شخصیت اوښت. د یو شمېر څېړونکو او سیاستوالو له انده سلطنتي کورنۍ لیواله نه وه چې د محمدزیو پرته بل څوک په ملي شخصیت واوړي همدا لامل وو چې د میوندوال مخه یې نیولې ده چې شورا ته لار ونه مومي. هغه مهال نه یوازې د سیاسي سازمانو د استازو او سیاسي مخالفانو مخه نیول کېده بلکې د سیاسي ګوندونو احتمالي بریالي نوماندان یې د قانون څخه د سرغړونو او یا پاچا او حکومت ته د سپکاوي په پلمه زندانونو ته اچول. څرګنده بېلګه د ۱۹۶۹ کال په ټاکنو کې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند اړونده کسانو صالح محمدزیری او فدامحمد خواریکښ د کندهار ښار، غلام دستګیر پنجشیری ،عبدالهادي کریم، حاجی قادربهیاراو محمداکرم کارګر د پنجشیر ولسوالۍ، عبدالکریم زرغون او عبدالخالق د خوست له لویې ولسوالۍ څخه وو چې توقیف او زنداني شول. د سیاسي فعالانو او د سیاسي ګوندونو اړونده څېرو د زنداني کولو څخه موخه دا هم وه په ټولنه کې ویره خپره کړي چې د سیاسي ګوندونو څخه واټن ونیسي. په زندان کې یې د سیاسي ګوندونو مشران او فعالان هڅول او اړایستل چې د ژمن پاڼو په لیکلو سره چې د سیاسي فعالیتونو نه لاس واخلي له زندان څخه به آزاد شي. ښه بېلګه یې عبدالهادی کریم وو. هادي کریم د پنجشیرله ولسوالی څخه ځان کاندید کړی وو او دستګیر پنجشیري د هغه په ګټه تبلیغاتي کار پرمخ ووړ. هغوی د حکومت له لوري د حکومتي ضد تبلیغاتو له امله زنداني شول. زیری پخپل کتاب کې د تره کي له قوله لیکي:« هادی کریم ته احوال راغلی دی چې د مقاماتو په نامه یوه عریضه ولیکي چې دی ناروغه دی او زندان نشی تیرولی او نوره سیاسي مبارزه هم نه کوي، ډاکټران به هم دده ناروغي تصدیق کړي او ښایي په دې توګه ایله شي...، بله ورځ تره کي راته وویل چې د دولت نمایندګان وایي ډاکټردې هم د هادي کریم غوندې د پاچا په نامه یوه عریضه ولیکي او له خپلو کړو دې عفوه وغواړي او نور دې سیاسي فعالیت نه کوي. » ۴۰ / ۲۵۴ ، ۲۵۹ ،۲۶۹ له زندان څخه د هادی کریم د آزادیدو مسئله ښیي چې د افغانستان په زندانونو کې یې سیاسي بندیانو داسې ربړول چې د هغوی روحیه ورماته کړي او اړ شي د خپلوسیاسي فعالیتونو له امله چې هغه یې مدني حق دی ښښنه وغواړي او تعهد ور کړي چې نور به سیاسی فعالیت نه کوي که نه د زندان د کړاوونو ډک ژوند به تیروي. د دموکراسۍ په لسیزه کې سلطنت او حکومت ولسي جرګې ته نه یوازې د سیاسي مخالفینو مخه نیوله بلکې دا شکونه هم کیدل چې د هغوی د فزیکي له منځه وړلو څخه هم ډډه نه ده کړې چې یو د هغو څخه امان الله حیدري د ترافیکو پخوانی مدیر چې د داودخان له پلویانو نه شمیرل کیده. هغه «څه موده مخکې له ټاکنو د خپل پلرني کلي تر ځنګ د کابل- کندهار پرسړک په یوه مرموزه ترافیکي پیښه کې و وژل شو او یو شمیر خلک پدې پیښه کې د واکمن رژیم د لاس لرلو تور لګوي. » ۳۲ / ۱۱۸

د دموکراسۍ د لسیزې د ولسي جرګې دواړه دورې د دوو ځانګړتیاوو( د سترګو وړ واکونه او د غړو د ترکیب بیساري تنوع) په لرلو سره د تیرو ولسی جرګو څخه توپیر درلود. نوي اساسي قانون جرګې ته پراخ واکونه او په هغو کې د اجرائیه قوې په کړنو د کنټرول واک ورکړی وو. د دموکراسۍ په لسیزه کې د حکومتونو استیضاح او د هغوی څخه د اعتماد د رايي بیر ته اخیستل د ولسي جرګې د واک څرګندوی دی. په دواړو دورو کې د هېواد د ټولو قومونو، توکمونو، مذهبونو او مختلفو سیاسي او ایدیولوژیکی افکارو خاوندانو شتون د غړو د تنوع څرګندې بیلګې دي. هغه مساعد چاپیریال چې د نوي اساسي قانون د بنیګڼو په رڼا کې منځته راغلی وو استازو ته دا حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکاوه چې خپل اندونه بیله وېرې په شورا کې بیان کړي ، ویناوې یې د راډیو ځخه مستقیماً خپریدې چې د خلکو د ذهنونو په روښانولو کې اغیزمن رول ولوباوه . د پورتنیو ښیګڼو سره سره هغه څه چې د ولسي جرګې د فعالیت په پایلو منفي اغیز درلود او د حکومتونو څخه یې د نوښت شونتیاوې اخیستې وې هغه دا وو چې ولسي جرګه د بحثونو او مشاجرو په یوه مرکز اوښتې وه. لامل یې دا وو چې ولسي جرګې ته استازي د سیاسي ګوندونو د تکټ پر بنسټ نه ټاکل کیدل بلکې په خپلواک ډول شورا ته لار موندله. دا کار د دې سبب کیده چې هر وکیل په غونډه کې د خپل زړه خبرې وکړي او یا دا چې هغه وکیلان چې د وخت د سیاسي ګوندونو سره یې تړاو درلود د خپلو ګوندونو کړنلارې وړاندې کړي او نورو چې د سلطنتي کورنۍ د سیالو غړو( سردار داود او سردار ولي) سره اړیکي درلودلي د هغوی د دیکتې اوارادې سره سم په ولسي جرګه کې کړکیچونه را وزیږوي. داچې ولسي جرګه د بحثونو او مشاجرو یو بنسټ وو لاندې نقل قول یې ښه بیلګه ده .« په کال ۱۹۶۹ کې مخکې لدې چې استازي دوهم حکومت ته رایه ورکړي ۲۰۴ تنو په ځوارلسو غونډو کې په پرله پسې توګه ویناوې وکړي. په ۱۹۷۱ کال کې د اوولسو ورځو په ترڅ کې ۲۰۴ تنو وکیلانو د ډاکټر عبدالظاهر حکومت ته د اعتماد د رایې د ورکولو په مهال خبرې وکړې . » ۳۲/ ۱۱۷ که شورا ته د ګوندونو پراساس ټاکنې ترسره شوې وای د ګوندونو استازو به د خپل پارلماني ګروپ د مشرتابه او یا د ګوندونو د ائتلاف د رئیس له لارې خپل نظریات او وړاندیزونه وړاندې کول نه دا چې ټول استازي ویناوې وکړي . په شورا کې د ګوندونو د پارلماني ډلو او د ګوندونو د ائتلاف د نشتون له امله نه یوازې شورا د مباحثو او مشاجرو په مرکز اوښتې وه بلکې په حکومتونو د ناروا فشار یوه وسیله هم ګرزیدلې وه.سربیره پردې په پارلمان کې د ګوندونو د پارلماني ډلو نشتون چې ویناوې او وړاندیزونه یې د یوه سیاسي سازمان نظر ځرګندوي د چارو او د حکومت د تګلارو د ښه سمون لپاره د یوې اغیزمنې نقشې حیثیت هم لري. په تیره که چیرې پارلمان ته په پردیو پورې تړلو ځیرو لار موندلې وي داسې دریځ غوره کوي چې د پردیو ګټې تمثیل کړي او پایله یې دا کیږي چې په پارلمان کې مباحثې د پردیو او زبرځواکونو د تګلارو په تائید یا تخریب وځرخیږي.د دموکراسۍ د لسیزې په شورا کې هم کله ناکله داسې بحثونه کیدل. د ۱۹۶۶ د اپریل په ۲۵ نیټه د ولسي جرګې په غونډه کې د نغلو د برېښنا د بند د جوړولو د چارو د ځېړنو لپاره د یوه کمیسیون د ټاکلو پرېکړه وشوه او پدې هکله کارمل ویلي وو:« د هلمند د وادۍ پروژه پرتله کړئ چې څومره توپیر لري؟ د نغلو په پرتله د هلمند د وادۍ په پروژه کې لس برابره لګول شویدي. لدې امله که موږ پریکړه کړې ده چې یو انجمن جوړ کړو چې د نغلو چارې وځیړي زه وړاندیز لرم چې موږ داسې یوه کمیټه وټاکو چې په سره سینه ، بې پریتوب او وطندوستۍ غور وکړي . یوه استازي کارمل ته وویل. موږ چې اوس د نغلو د رئیس د خیانتونو او د موټروانانو د تیلو د نه مجرایۍ په هکله بحث کوو. ببرک کارمل غواړي دا مسئله د نورو مسئلو تر اغیز لاندې راوړي او د دې موضوع په اړه د بحث مخنیوی وکړي. د ببرک کارمل له خبرو داسې پایله اخیستل کیږي ځرنګه چې د هیرمند په وادۍ کې خیانت شوی نو په ټولو پروژو کې هم خیانت وشي .»۳۲ /۱۲۵ د نغلو بند د شورویانو او د هیرمند د وادۍ پروژه د امریکایانو له لوري جوړه شوې ده . په ادارو کې د شته فساد له امله په دواړو پروژو کې د فساد خبرې کیدلې. د اساسي قانون له مخې د حکومت مشر د پاچا له لوري ملي شورا ته ورپیژندل کیده او د هغې نه یې د اعتماد رایه ترلاسه کوله. ځرنګه چې ملي شورا ته ټاکنې د ګوندي تړاوونو پربنسټ نه تر سره کیدې لدې امله هر وکیل خپل خیالات مجلس ته وړاندې کول. صدراعظمانو نشوای کولای د۲۱۶ تنو وکیلانو سره ګډه ژبه پیدا کړي لدې امله صدراعظم چاره پدې کې لیدله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاچا ډېره ولګوي، د هغه باور ترلاسه کړي او د هغه د غوښتنو او ارادې سره سم ځان عيار کړي چي پدې توګه د حکومت څخه د نوښت او خپلواک عمل امکان سلبيده. پردې اساس حکومت د ولسي جرګې په مخالفت کې دربېده نو هغه وو چي ولسي جرګې حکومت استيضاح کاوه او د سلب اعتماد رايه يې ورکوله او پدې ډول حکومتونه ړنګيدل. که چيرې په ملی شورا کې قانوني ګوندونو شتون درلودلای او حکومت په ملي شورا کې د ستر ګوند يا د ګوندونو د ګډ ائتلاف له لارې جوړ شوی وای حکومتونه به پرله پسې ډول نه ړنګيدل. بله مسئله چي ولسي جرګې ونشوای کولای پخپل وخت مناسبې پريکړې وکړي او اړين قوانين تصويب کړي هغه په غونډو کې د نصاب نه بشپړيدل وو. د نصاب نه تکميل دوه لاملونه لرل. يو دا چي سلطنت او حکومت ولسي جرګه ځانته مخالف دولتي بنسټ شميره نو هغه ډله استازي چي د حاکمه هيئت پلويان وو هڅول يې ترڅو د ولسي جرګې په غونډو کې ګډون ونکړي چي د نصاب د نه بشپړتيا له امله پرهغو مسئلو پريکړې و نه نيول شي کومې چي سلطنت او حکومت نه غوښتلې. پدې اړه د ولسي جرګې د ديارلسمې دورې يو استازی ليکي: « د ولسي جرګې د نصاب په برخه کې تر وکيلانو د حکومت ملامتي ډيره وه. پدې چي په اکثرو حالاتو کې حکومت نه غوښتل چي ولسي جرګه نصاب ولري، د حکومت ډېر وزيران په دې عقيده وو چي د نصاب په صورت کې ولسي جرګه د تصميم قدرت پيدا کوي او حکومت ته مشکلات جوړوي... ، هر وخت چي پاچا يا حکومت اراده کړې وي چي د ولسي جرګې مجلس بايد نصاب ولري، نو په هغه وخت کې تر نصاب ډېر وکيلان ولسي جرګې ته حاضرشوي دي. د مثال په توګه: کله چي دولت اراده وکړه چي د ژبو مساله دې په ولسي جرګه کې تصويب سی نو دري ژبي وکيلان چي د شپږو مياشتو لپاره د اعتصاب په حالت کې وو د ولسي جرګې تالار ته حاضرسول. »۴۱ / ۲۱۵- ۲۱۷ دري ژبو وکيلانو شپږ مياشتې د ولسي جرګې په غونډو کې وروسته له هغې ګډون ونکړ چي « په کال ۱۹۷۱ کې د دولت د ملکي مامورينو قانون د تقنين په کميسيون کې تصويب او ولسي جرګې ته وړاندې شو. په غونډه کې ځينو وکيلانو د مامورينو د استخدام په شرايطو کې دا وړانديز وکړ چي دولتي مامور بايد په پښتو او دري ژبو وپوهيږي . پردې موضوع د استازو ترمنځ اختلاف را پيدا شو چي راتلونکې ورځ دري ژبي وکيلان د شورا د غونډو تالار ته رانغلل او د شپږو مياشتو لپاره د دوی اعتصاب دوام وکړ او دې خبرې مطبوعاتو ته هم لار وموندله او پردې حساسه مسئله ډول ډول تبصرې کيدلې. د نوموړي پيشنهاد مخالفانو به د «افکارنو» په جريده کې چي د امتياز خاوند يې نورالله نورزاد او مسؤل مدير يې ضيا حيدري وو يو لړ پاروونکې مطالب خپرول. هغه مهال يو شمېر پښتنو استازو (د وکيلانو د قانوني موقف) تر سرليک لاندې يوه ليکنه د« افغان» په جريده کې خپره کړه او حکومت دا ګڼه په دولتي مطبعه کې قيد کړه. دا موضوع د دې لامل وګرزيده چي ډاکټر عبدالظاهر استعفی ته اړ شي او موسي شفيق د حکومت د مشر په توګه ولسي جرګې ته معرفي شي. شفيق چي د ايران سره يې د هلمند د اوبو تړون لاسليک کړ بايد چي دا تړون د ولسي جرګې له لوري هم تصويب شوی وای. د هيواد واکمنو دري ژبي وکيلان وهڅول چي د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې ګډون وکړي چي په هغې کې به د هلمند د اوبو د تړون سربيره د دولت د مامورينو قانون چي د پښتو ژبې نوم يې ځانله غوره کړی وو هم حل شي. پاچا او صدراعظم دواړو د ژبو د پيشنهاد مخالفو وکيلانو ته سپارښتنه وکړه چي د ولسي جرګې عمومي غونډې ته حاضر سي . که پور ته لاربنودنه شپږ مياشتې پخوا د پيشنهاد مخالفو وکيلانو ته د پاچا او صدراعظم له خوا سوې وای او دوی د عمومي غونډې څخه نه وای وتلي نو دغه ملي نفاق به په هيواد کې نه وای پيدا سوی. داسي ښکاري چي د ژبو د پيشنهاد د مخالفو وکيلانو رهبري د افغانستان د دولت په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې ( دولت په خپله کرل او هم په خپله ريبل) اما په افغاني ټولنه کې ولسي جرګه په دغه کار غندل کيده.» ۲۱۰/۴۱ د دولت د مامورينو په قانون کې د پښتو او دري ژبې د پوهيدو معيار د دوولسم ټولګي شهادتنامه ومنل شوه نه په دواړو ژبو پوهېدل.
په پارلماني سيستمونو کې پارلمان ته د ګوندونو د سيالۍ له امله ټاکنې ترسره کيږي او هلته د ګوندونو استازي خپل رئيس ټاکي او نوموړی رئيس دی چې په پارلماني بحثونو او پريکړو کې برخه اخلي او پارلمان خپلې دندې په نورمال ډول بيله ځنډه پرمخ وړي. په ولسي جرګه کې د ګوندونو او د ګوندونو د تلوالو نشتون ځينې وکيلان اړ کړل چې د قومي يا اداري واحدونو پر بنسټ مختلفې ډلې لکه د مشرقي ( ننګرهار، لغمان ، کنړ) د وکيلانو ډله ، د پکتيا (پکتيا، خوست ، پکتيکا ) د وکيلانو ډله ، د هزاره ګانو ډله او دې ته ورته نورې ډلې جوړې کړي چې د پورتنيو يادو شوو ډلو جوړول د ملت جوړونې بهير ته سخت زيان ورساوه.

## سلطنتي کورنۍ او نوی سياسي بهير

معمولاً واکمنی او واکمن ګوندونه د زياتو واکونو د ترلاسه کولو، په واک کې د پاتې کېدو او يا د واک د انحصار په موخه مبارزه کوي او بېله استثنی د ټولو سياسي ( مذهبي او غير مذهبي ) ډلو او سياستوالو د مبارزې موخه واک ته رسېدل او يا په واک کې پاتې کېدل دي. په ۱۹۶۳ کال کې د پاچا له لوري د نوې تګلارې د غوره کولو اصلي موخه دا وه چې خپل واک او اقتدار وساتي. د دموکراسۍ په لسيزه کې پاچا هڅې کولې د واک اصلي مرکز پاتې شي او محمدداود د واک په مرکز واوړي. د دموکراسی په لسيزه کې د دې کورنۍ د دواړو سيالو اړخونو هڅې پدې راتاوېدې چې د نوي سياسي بهير څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. پاچا د دولتي زعيم په توګه د دې پړاو چې ولس ته د ده له لوري د ډالۍ شوې دموکراسی د ودې لپاره له خپلو قانوني واکونو څخه استفاده و کړي د خپل سيال د کمزورولو او د خپل دريځ د پياوړي کولو په موخه ګټه پورته کوله او سيال يې بيا نوي بهير ته ستونزې جوړولې. د سلطنتي کورنۍ دا ډول دريځ هيواد يوه کړکيچ ته ورننه ايست.د دې کورنۍ سيالو اړخونو خپلو موخو ته د رسيدو لپاره د مختلفو لارو چارو او وسايلو څخه په استفادې سره سياسي ډلو، قومي او مذهبي مشرانو او ولسي جرګې ته پام را ګرزولی وو. دواړو خواوو دوی ته د وفادارو سازمانونو د جوړولو سربيره هڅې کولې په شته ګوندونو کې هم نفوذ وکړي. د دې نفوذ موخه د هغوی ضعيفول، ټوټې ټوټې کول او يا پخپله ګټه استعمالول وو. د سلطنتي کورنۍ واکمن اړخ چې د واکمن حالت د پاينت ليوال وو د محافظه کارو، بنې لاسو، قومي او مذهبي مخورو د لا ځواکمنولو او د هغوی پواسطه د کيڼ لاسو او سمونپالو ضعيفولو تګلاره غوره کړې وه. د دې کورنۍ د واک مدعي کيڼ لاسو او سمونپالو ډلو ته چې په هېواد کې يې سمون او بدلون غوښت ور ودانګل. په سياست کې د تلوالو او جبهو جوړول ، لندمهاله او اوږدمهاله ملګرتيا منل شوي اصلونه دي چې په هغو کې توطئو او دسيسو، د هيواد د نافذه قوانينو څخه سرغړونې ،حکومتونو ته ستونزې جوړونې ، د ملي ګټو پر ځای شخصي ګټو ته لومړيتوب ، د هيواد د ميشتو قومونو او قبيلو ترمنځ دښمنيو ته لمن وهل ځای نلري. له بده مرغه سلطنتي کورنۍ خپلو موخو ته د رسيدو لپاره پداسې کړنو لاس پورې کړ چې هم يې د حکومتونو د نوښت مخه نيوله هم يې ستونزې ورته جوړولې ،هم يې د قومونو او قبيلو ترمنځ دښمنۍ راپارولې او هم يې قوانين تر پښو لاندې کول. د دموکراسی په لسيزه کې د سلطنتي کورنۍ د غړو دا ډول دريځ د هېواد د پرمختګ مخه نيوله. د يحيی د کورنۍ په دا ډول کړنو د يوه امريکايي استاد دا وينا د صحت مهر لګوي چې « د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان واکمنو د سوداګرۍ سره دښمني لرله. داسې برېښي چې هغوی خوار افغانستان ته چې په ټوله معنی پرې مسلط وې ترهغه افغانستانه چې د بهرنۍ سوداګرۍ له امله په نعمتونو کې ډوب وي او د دوی اقتدار کم کړي لومړيتوب ورکاوه. » ۴۲ /۱۲-۱۳ که څه هم پورتنۍ څرګندونې د امیر عبدالرحمن خان او د هغه د زوی امیر حبیب الله د اقتصادي تګلارو په اړه دي خو د يحيي د کورنۍ د تګلارو سره هم سر خوري ځکه چې د یحیی کورنۍ هم د انګرېز د سیاستونو څخه اغېزمنه وه. د یحیی د کورنۍ څه کمې نیمې پېړۍ واکمنې ښيي چې هغې د هیواد د پرمختګ او د ولس د سوکالۍ په پرتله خپل اقتدار ته لومړيتوب ورکاوه. پدې اړه بېلګې ډېرې دي او څرګنده بېلګه يې د هاشم خان د فیل مرغانو کیسه ده. همدا رنګه د محمد حسن کاکړ په وینا د هغه وخت ( د دموکراسۍ د لسيزې) د دغو نا آرامیو لوی یا شاید اصلي عامل محمدداود چې د ملي مصئونیت له سردار جنرال رسول نه ئې په خپل کور کې وغوښتل: « مبلغ پنج مليون افغانی نقد حاضر است باختيارت میګذارم ، توسط آن اشخاص مانند مجید کلکانی ، ببرک کارمل ، سید ظاهر و بعضی از وکلای چپ ګرا را تشویق نمائي که در داخل مملکت و در مجالس ولسي جرګه بی نظمي و هرج و مرج را بوجود آرند.» ۱ /۱۵ د کاکړ په وينا که څه هم سردار رسول پيسې نه دي اخېستې خو د محمدداود له لوري د سلطنت د راپرزولو وروسته چې جنرال رسول پخپله پخوانۍ دنده پاتې شو ، ښيي ښايي چې د ملي مصؤنیت مشر د داودخان سره همغږی وو او د محمدداود د نقشو سره سم يې د خپلو دولتي او وظيفوي امکاناتو څخه ګټه پورته کړې وي. همدې خبرې ته د ولسي جرګې د ديارلسمي دورې غړی داسې ګوته نیسي : « محمد داود خان او د ده ملګرو د ولسي جرګې وکیلانو ته هدايت ورکاوه چې په شورا کې بې نظمي راوړي. » ۱۶۷/۴۱ د دموکراسۍ د لسيزې په لومړۍ نیمایي کې د کين لاسو او په تیره د ا، خ، د، ګ ګرندۍ ودې سلطنتي کورنۍ او واکمنی اندېښمن کړي وو او د دوی په لیدنو کتنو کې د دې غورځنګ د ځپلو په لارو چارو سوچ کیده. سيدقاسم رښتیا د وخت د کابينې غړی د خپل کتاب په ۲۳۴ – ۲۳۶ مخونو کې پدې اړه د پاچا او شاه ولي خان سره غږېدلی او دا یې هم پاچا ته ويلي وو چې کيڼ غورځنګ د چرګې په هګۍ کې چرګوړي ته ورته یو موجود دی چې له منځه وړل یې آسانه کار دی او که له هګې راووزي له منځه وړل يې سترې ستونزې او هنګامې جوړوي. سيد قاسم رښتیا پدې اړه چې د کيڼ غورځنګ ټغرټول شي د شاه ولي خان غبرګون داسې بیانوي :« ضمناً مارشال د اعلیحضرت څخه شکایت درلود چې اجازه نه ورکوي که نه دا کار د حکومت د مداخلې پرته د قبايلي خلکو له لوري په آسانۍ سره کیدی شي. » ۱۳ /۲۳۶ د محمد آصف آهنګ په وینا « په ملي شورا کې يوشمېر وکیلان د مارشال شاه ولي خان په لمسون و ډبول شول.» دا بيا ددې ښکارندوی دي چې سلطنتي کورنۍ نوې سیاسي بهیر ته ستونزې جوړولې او پدې ډول يې په خپله خپلې ريښې له بېخه اېستلې او د خپلو دې کړنو د ناوړه پايلو د درک وړتیا یې نلرله.

## د پل خښتې په جومات کې انقلابي ملایان

د دموکراسۍ په لسيزه کې په خپلواکو رسنيو کې نوې اصطلاحات او مفاهيم ترسترګو شول. محافظه کارانو او ارتجاعي روحانیت دا اصطلاحات د کفري نړۍ پدیده ګڼله او د هغو په اړه يې خپل ځانګړي تعبيرونه او تفسیرونه لرل. کيڼ اړخی او سمونپال غورځنګ يې کمونستي بهیر ګڼلو. د کمونست په اړه يې يو مسخره تفسیر درلود او ویل يې چې کمونست د کمو يعنې خدای او نيست (نشته) ترکیب دی يعنې دا چې کمونستان د خدای تعالی شتون نه مني. پداسې حال کې چې کمونيسم د بشري ټولنې د ودې هغه پړاو ته ویل کیږي چې هلته د تولید پر وسايلو ټولنيز مالکيت ټينګ او د ټولنې د وګړو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې طبقاتي ويش له منځه ولاړ شي او كمونستان هغه كسان دي چې انقلاب او د پرولتاريا ديكتاتورۍ ته د يوه دولتي نظام په توګه ګوري .له دا ډول تبليغاتو چې د اپلتو پرته بل څه نه دي برېښي چې هغوی د كين لاسو او مدرنيتې په وړاندې د اسلام او زموږ د مسلمان ملت له سپېڅلو ديني باورونو څخه ناوړه ګټه پورته كړې او پورته كوي. سربيره پردې د افغانستان په وروسته پاتې تړلې ټولنه كې چې د دموكراسۍ كوچنۍ تجربه يې نلرله سياسي ډلو د دې وړتيا نه درلودله چې د دې نوي بهير څخه معقوله استفاده وكړي ترڅو ارتجاعي ځواكونه را ونه پارول شي. له بله پلوه واكمنۍ هم د دموكراسۍ د سالمې ودې لپاره اړين تدبيرونه ونه نيول او حتی د اساسي قانون متمم قوانين يې جوړ نكړل. دې ټولو لاس سره يو كړ او په ځينو مواردو كې يې انارشۍ ، د دموكراسۍ بدنامۍ او ناكامۍ ته لار هواره كړله.يو شمير د ناپوهۍ او بې تجربګۍ له امله او ځينو په شعوري ډول په سنګر كې د ناسنتو مغرضو سياستوالو او يا په پرديو پورې تړليو كړيو د دموكراسۍ د بدنامولو په موخه فعاليت كاوه. دې كړيو حتی د وينا د آزادۍ په نامه قومي او ژبنيو دښمنيو ته لمن وهله او د ملي ارزښتونو او اسلامي مقدساتو له سپكاوۍ نه هم ډډه نه كوله. په تيره زموږ په دوديزه اسلامي ټولنه كې د ټولنې د وګړو د اسلامي او مذهبي عقايدو په وړاندې بې تفاوتي ،هغو ته پام نه راګرزول او د اسلامي او مذهبي عقايدو په وړاندې دريدل په واقعيت كې د ولس سره د جګړې اعلان وو. وايي مهاتما ګاندي د يوه سفر وروسته خپل هيواد ته راستون شو، لومړی د ښار يوه لوی معبد ته ولاړ او هلته ډېرين بُت ته پرسجده شو. وروسته لدې پيښې له ده نه يې يوه ملګري وپوښتل ، تاسو خو په بتانو عقيده نلرئ نو ولې مو ور ته سجده وكړه ؟ ده په ځواب كې ورته وويل ، ماهيڅكله بت ته سجده نده كړې او نه به يې وكړم، ما د ميليونونو انسانانو (بت پرستانو) عقيدې ته د احترام سرټيټ كړ او بس. د دموكراسۍ په لسيزه كې د ځينوسياسي كړيو، سياستوالو او د رسنيو د چلوونكو له كړنو نه داسې برېښي چې هغوی په خپلو ويناوو او ليكنو كې افغان ولس ته د چوپړ نارې سورې وهلې خو خپل ولس يې نه وو پيژندلی ، د خپلو خلكو رواني ځانګړتياوې يې نه وې درک كړې او پدې نه پوهيدل چې اسلام د افغان ولس د تاريخ، فرهنګ او حتی ژوند برخه جوړوي. هماغه دي چې ځينو سياستوالو او سياسي فعالانو د مختلفو لاملونو( بې تجربګۍ، سياسي او ايديالوژيكي باورونو، د خپلو حاميانو د خوشالولو ، په ټولنه كې د فتنې د اچولو په موخه) د خپلو خلكو د مقدساتو سپكاوي ته متې بډ وهلې او په واقعيت كې يې د خپلو خلكو سره جګړه پيل كړله. پدې اړه به يوازې د رسنيو په اړه دريو بيلګو ته ګوته ونيول شي.

١- په سينماګانو كې د حضرت يوسف (ع) په نامه د يوه فلم ننداري ته ايښودل چې ځينې برخې يې د اسلام سره په ټكر كې وې.
٢- په ١٩٦٨ كې د اصلاح په دولتي ورځپانه كې د( مرد ٩ زنه ) په نامه د يوه كاريكاتو خپرول چې د ځينو خلكو په باور اشاره حضرت محمد(ص) ته وه. دا كاريكاتور د لويديځ آلمان له كومې رسنۍ څخه اخيستل شوی وو او ويل كيدل هغه لومړی د اسرائيلو په مطبوعاتو كې خپورشوی وو.
٣- د١٩٦٨ د اپريل په مياشت كې د ولاديميرايليچ لينن د سلمې كاليزې په مناسبت د پرچم په فوق العاده ګڼه كې د لينن د انځور او د بارق شفيعي د شعر خپرول چې پرلينن درود ويل شوی وو.

پورتني او دې ته ورته نور موارد او خاصتاً د پرچم په نشراتي اركان كې پر لينين درود ويل د هيواد روحاني او مذهبي اړخ ولمساوه ، يوه ستره هنګامه يې جوړه كړه او د پلازمينې د ستر جومات ( پل خشتي) له منبرڅخه يې د خپل اعتراض غږ پورته كړ. د پل خشتي په جومات كې د ملايانو د احتجاجيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډو په اړه چې ۴۲ ورځې رواني وې د دوو لیکنو ځیني برخي راوړل کیږي ترڅو د دې غونډو په اړه لوستونکی اړین معلومات ترلاسه کړي او بیا پدې هکله قضاوت وکړي چې ترکومې کچې دولت او د پرچم مشرتابه د ملایانو د دې احتجاجیه غونډو د جوړولو لپاره پلمه ورکړه ، څوک ددې غونډو هڅوونکي او لمسوونکي وو ، چا غوښتل د دې غونډو نه سیاسي ګټه پورته کړي او بالاخره کوم درسونه ترې واخیستل شي. پدې هکله د پرچم د جریدې د امتیاز خاوند او مسئول مدیر سلیمان لایق لیکي: « د اخبار (پرچم) د خپریدو په لومړی ورځ د ښار د خلکو یوه اووه سوه کسیزه ډله چې زیاتره یې د دیني مدرسو طالبان، د جوماتونو ملایان او د شوربازار د حضرتانو مخلصان وو، د صبغت الله مجددي او د هغه د پلار میاجان مجددي تر مشرتابه لاندې د کابل د باغ عمومي له لوري د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته راورسیدل او د هغه مخامخ یې د پرچم په اخبار کې د "درود" د خپریدو په هکله احتجاجیه میټنګ پیل کړ. د مظاهرې ګډون کوونکو د پرچم فوري مصادره او د هغه د خپروونکو خصوصاً د بارق شفیعي محاکمه غوښته. هغوی د لینن، شوروي اتحاد او کمونیستانو پر ضد شعارونه ورکول او دولت یې د پرچمیانو د ملاتړ په تور محکوماوه. د دې ورځې په سبا له ولایاتو څخه د دیني عالمانو راتګ شروع شو. له هراته تر ننګرهاره پورې د ملایانو ډلګي کابل ته راورسیدل او د پل خشتي په جومات کې یې خپل منبر او مرکز جوړ کړ. ملایان په نوبت منبر ته ختل، «پرچم» او بارق یې تکفیرول او له دولت نه یې د "درود" د خپرولو په مناسبت د عاملانو سزا او محکمه غوښتله. اخوانیانو پدې اور کې خپلی پټیرې پخولې. هغوی ملایانو ته نیږدې شول او د هغوی لارښونه یې پخپل لاس کی واخیسته. هغوی د لومړي ځل لپاره پیاوړي شول او د دین د خدمتګارانو بنه یې پیدا کړه. پخوا تر دې به د اخوانیانو د مظاهرې په وخت یو څو کوچني سپین بیرغونه پورته کړي وو او ورپسې یې اووه یا اته کسه له پوهنتون نه را ایستل. خو اوس د هغوی شمیر زرګونو ته رسیدلی وو. دوی ملایانو ته د پرچم پر ضد سازمان ورکاوه او د ملایانو د روان شوي نهضت سره یې د امریکې د متحده ایالاتو او پاکستان د جاسوسي شبکو روابط ساتل. د لومړي ځل لپاره د ملایانو او د ښې لاس مرتجعو روشنفکرانو روابط منځ ته راغلل او دیني ټولنه له دولت سره د مقابلې لپاره د مخامخ سیاست ډګر ته را ووته...، دولت په لومړي سر کې د ملایانو له مظاهرو او خصوصاً د پل خشتي له مظاهره کوونکو سره همدردي وښودله. سلطنت چې د پرچمیانو له پارلماني ګروپ نه په تنګ وو غوښتل یې چې د ملایانو له روان تحریک نه په استفادې د پرچم او پرچمیانو له مصیبت څخه ځان خلاص کړي او د حادثې د ټولو عواقبو ملامتیا پرهغوی ور واچوي. ظاهر شاه او صدراعظم په ګډه د دربار مراجعینو ته دا بیان ورکاوه چې پرچمیانو له دموکراسی نه په ناوړه ګټه اخیستنه دغه مصیبت ( د پل خشتی د ملایانو تجمع) رامینځ ته کړ.ملایان د اسلام دفاع ته راغلي دي او موږ هغوی ته څه نشو ویلای. سردارشاه ولي خان او د ده زوی سردار عبدالولي د پادشاه، ظاهر شاه زوم او د دوی شاوخوا کسان لګیا وو او لګیدلي اور ته یې لمن وهله. هغوی د قبایلي سیمو ګروپ ګروپ ملایان ورغوښتل او ډاډه کول یې چې ستاسې جهاد برحق دی، زړونه قوي کړئ، خامخا بري ته رسیږئ.د امریکا د متحده ایالاتو او پاکستان جاسوسان لګیا وو او د سوداګرو او د ښار د دیندارو خلکو په بنه کې یې د پل خشتي د جومات متحصنو ملایانو ته د افغانیو بنډلونه او پخې ډوډۍ ګانې راچلولې. دې بهیر ورو ورو د کابل تاجرانو او شتمنو خلکو ته هم سرایت وکړ. هغوی هم روپۍ او خوراکه را چلوله او د پل خشتي حوصله یې د مبارزې د دوام لپاره پیاوړې کوله.د ورځو په تیرېدو ملایانو د پرچمیانو د تکفیر په اړخ کې دولت او د هغه په سر کې پادشاه هم تکفیر کړل. ملایانو ویل، د پرچم جریده په دولتي مطبعه کې چاپیږي او هغوی دغه جریده د کمونیستانو د پیاوړتیا لپاره پخپله مطبعه کې چاپوي. ټول بدعتونه لکه د ښځو آزادي، د زنانه مکتبونو رواج او نور له همدې دولت نه سر چینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي. نو د ټولو ناوړو په سر کې دا دولت او دا ظاهرشاه پخپله ولاړ دي. دی د افغانستان د سلطنت لیاقت نلري، باید خلع شي او دولت اتقیاوو، شرعی پیشوایانو او ملایانو ته وسپارل شي.دغه تبلیغ د دې موجب شو چې د دولت تېره چاره په پل خشتي کې د راټولو شویو ملایانو خیټې ته ور برابره شي. پادشاه امر وکړ چې پولیس دې د پل خشتي حریم ته، هلته چې ملایان متحصن شوي وو، ورننوزي او دوی دې د فهرست او اصلي ټاټوبي پر اساس خپلو ولایاتو ته ولیږدوي او د محل حاکمان دې له هغوی نه لیکلي تعهدونه او ضمانتونه واخلي چې بیا به نه راټولیږي او ضدِ دولتي تبلیغات به نه کوي.» ۴۳ د پل خشتي په جومات کې د ملایانو د احتجاجیه غبرګون په هکله یوه بل لیکوال مفصله لیکنه کړې چې دلته یې ځینې برخې راوړل کیږي: «سلطنتي کورني د کیڼ لاسو ځواکمن کېدو ته په کتو سره ښه فرصت وموند چې د هغوی پرضد یو تبلیغاتي کمپاین سمبال کړي.هماغه وو چې سردار عبدالولي روحاني شخصیت عطاءالله فیضاني هڅوي چې د خپل نفوذ له امله یو شمیر ملایان د پاچاهي نظام نه د ملاتړاو د کیڼ لاسو په مخالفت کې د پل خشتي په جامع کې را غونډ کړي او د دې جامع له منبر نه د پورتنۍ موخې لپاره ګټه پورته کړي. فیضاني د دې کار د ښه سمبالولو لپاره یوه لارښوونکې کمیټه جوړه کړه چې په هغې کې د صبغت الله مجددي او د لوګر د چرخ مولوي سنګین په شمول یو شمېر دیني عالمانو شتون درلود. هغوی د پل خشتي له جومات نه په اصطلاح د کمونستانو پر ضد تبلیغات چې مظاهرو ته ورته شعارونه پکې ورکول کیدل پیل کړل. د فیضاني ملګرو او همدا راز اسلامي بنسټپالو فعالانو د پرچم د جریدې دا ګنه خپلو ارادتمندانو او د کین اړخو مخالفانو ته ورښودله چې په پل خشتی کې د دوی په مظاهرو کې د کیڼ لاسو او د دوی په خبره د کمونستانو خلاف مبارزه کې برخه واخلي . هماغه وو چې د هیواد د ګوټ ګوټ او په تیره جنوبي ، شرقي او د کابل شاوخوا څخه ملایان او طلبه کرام کابل ته راځي او د پل خشتي له منبر نه مرګ او نفرت پر لینن، مرګ په کمونستانو، مرګ په شورویانو شعارونو د ورکولو او دیني وعظونو لړی قوت مومي. معمولاً به مظاهره کوونکي ملایان د ماښام د لمانځه او خوړو وروسته چې د پانګه والو لخوا راوړل کیدل د خپلو دوستانو او خپلوانو کورونو ته تلل. پدې مظاهرو کې د دربار او حکومت سره د نه تړلیو عالمانو شتون ددې لامل شو چې په لینن او کمونستانو باندې د مرګ په ځای پاچا او حکومت د خپلو وعظونو هدف وګرزوي او د خلکو د بدمرغیو اصلي لامل واکمن نظام په ګوته کړي. د بیلګې په توګه مولوي عبدالوهاب بولغیني (کوهدامني ) د منبرڅخه داسې وینا کوي: ای علمای کرام ولې په لینن نښتی یئ لینن دلته نشته . لینن ددې مملکت د واکمنۍ مسؤل نه وو او نه دی. پدې ټاټوبي کې هغه کسان مسؤل دي چې څلوېښت کاله یې د پاچا او اعلیحضرت په نامه حکومتونه کړي او د ملت شتمنۍ یې غلا کړې دي . ما تېره شپه په خوب کې ولیدل د الله سلګونه زره ملایکې د کابل په آسمان کې را ټولې شوې وې ددې هېواد په چاړواکو او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه یې لعنت ویلو، اې علمای کرام تاسو هم د آسماني ملایکو په څېر په پاچا او کورنۍ یې لعنت ووایئ ...» دې حالت ته په کتو سره سردار عبدالولي فیضاني ورغواړي او پوښتنه ترې کوي چې ولې داسې پیښ شول. فیضاني د دې کار پړه پر اخوانیانو اچوي. سردار عبدالولي فیضاني ته وایي چې نور حکومت د دې ویناوو زغم نلري او نن شپه دې مظاهرو ته د پای ټکی ایږدي او هغه ته دنده سپاري ملایانو ته ووایي چې نن شپه ټول د پل خشتي په جومات کې پاتې شي. فیضاني د سردار ولي سره د کتنې وروسته د پل خشتي جومات ته راستنیږي د مازدیګر له لمانځه نه مخکې منبر ته خیږي او حاضرینو ته وایي. ستاسو دیني علماوو بیساري غونډې د کمونستانو، د اسلام د دښمنانو او ځینو چارواکو غوسه راپارولې او موږ ته اطلاع را رسیدلې ده چې دولت د دې ستر خوځښت د بدنامولو لپاره غواړي یو شمېر عالمان ونیسي او په جیبونو کې یې بهرنۍ روپۍ خاصتاً پاکستاني کلدارې او امریکایي ډالر واچوي.د احتیاط لپاره او د اسلام د دښمنانو ددې کرغیرن

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان د شنډولو په موخه د مظاهرو د رهبرۍ هیئت پریکړه کړې ده چې علمای کرام نن شپه ترسهاره پورې همدلته پاتې شي او له جوماته ونه وزي، ترڅو د اسلام د دښمنانو دا کرغیړنه نقشه پلې نشي . د دنیا او سیاست نه بیخبره عالمانو د فیضاني په خبرو باور وکړ او د نورو شپو خلاف په جومات کې پاتې شول . فیضاني او د مظاهرو لاربښوونکی هیئت د شپې تر لسو بجو پورې په جومات کې د نورو ملایانو سره وو خو بیا یو یو له جومات نه ووتل. د دوولسو بجو وروسته پولیسو د پل خشتي جومات محاصره کړ ټول ملایان یې لومړی د عیدگاه جومات ته بوتلل او له هغه ځایه یې په موټرو کې خپلو ولایتونو ته ولیږدول. سبا ورځ ( د جوزا څلورمه ) د پل خشتي په جومات کې د سلګونو انقلابي ملایانو څرک نه لګیده خو د لومړي ځل لپاره د پل خشتي په جامع کې د سهار لمونځ ادا نشو ځکه چې پولیس د جومات د انګړ او شاوخوا په پاکولو لګیا وو. د ملایانو سره د پولیسو دا ډول چلند ددې سبب شو چې ملایان د مظاهرو د رهبرۍ په هیئت او خاصتاً په فیضاني بې باوره شي چې هغوی ور سره خیانت کړی دی. اونۍ تیره نه وه چې پولیسو عطا ءالله فیضاني بندي کړ. د فیضاني بې خبره ارادتمندانو او مخلصانو بیا د هغه په زنداني توب اوښکې تویولې چې دا ستر عالم پولیسو نیولی دی. خو کله چې د ملایانو د مظاهرو خبرې سړې شوې فیضاني هم راخوشی شو او د پل خشتي ترڅنګ پخپل کتاب پلورنځي کې کار پیل کړ.» ۴۴ د ملایانو د غونډو پرمهال یوه شپه د امریکې د سفیر نیومن له خوا میلمستیا شوې وه چې عبدالستار شالیزی د میوندوال د کابینې د کورنیوچارو وزیرهم وربلل شوی وو.«د خبرو په ترڅ کې د امریکا سفیرعبدالستار شالیزي ته ویلي و ږیره دې پرې ایښې لکه چې د ملایانو نه بېرېدلی یې ! عبدالستارشالیزی چې ظریف او حاضرجوابه سړی دی، ده ته په جواب کې ویلي و، زه د ملایانو څخه نه یم بېرېدلی ، بلکې په کابل کې خلک وایي چې هرهغه څوک چې ږیره ولري تاسې هغه ته پیسې ورکوئ . د امریکې سفیر په جواب کې ویلي و موږ پیسې نلرو. عبدالستارشالیزي ده ته ویلي و که ستاسو وروستۍ خبره چې تاسې پیسې نلرئ ، ربنتیا وي نو ما خپله خبره بېر ته واخیسته ...، هغه مهال دا ویل کیدل چې د دیني علماوو په صفوفو کې خارجي عناصرو نفوذ کړی دی ، چې د هغو په لمسون دوی غواړي چې په افغانستان کې د ټولو نهضتونو مخه ونیسي ، او بېرته توره ارتجاع په هیواد کې مسلطه کړي ، چې د امریکا په شمول د څوهیوادونو نومونه به یادیدل چې دوی د دغو اعتصابونو شا ته ولاړ دي. » ۱۲۲/۴۱

لکه څرنګه چې شوروي اتحاد او چین د افغانستان د کین لاسو سره خواخوږي لرله بیله شکه یې د نوموړو ډلو د ځینو مشرانو سره ځانګړې اړیکې لرلې . امریکایانو بیا د هیواد د محافظ کارو او ارتجاعي کړیو اوهمدا راز اسلامي ډلو سره ورته خواخوږي او اړیکې لرلې چې د ملایانو د مظاهرو ترشا د امریکا د متحده ایالتو او د هغو د متحدینو په لاس لرلو کې شک نشته . که چیرې د دیني علماوو مظاهرې او د هغوی ویناوو ته وکتل شي هغه د پرچم په فوق العاده جریده کې په لینن د درود ویلو په وړاندې غبرګون وو . دلته دا پوښتنه را پیدا کیږي چې ولې یوه رسنۍ او په تیره یو سیاسي سازمان په خپل نشراتي ارګان کې داسې څه خپاره کړي چې د ولسونو مذهبي احساسات جریحه دارکړي؟ ډیری پدې باور دي چې د پرچم په جریده کې په لینن د درود ویلو او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د ستاینې نه موخه دا وه چې پرچمي مشران د مسکو هژمونیستو مشرانو ته د خپلې وفادارۍ د ښودلو سربیره ځانونه په روښ اندو کې ربنتیني مبارزان معرفي کړي . خو په ټولنه کې یې د ربنتینو مبارزانو پرځای د شوروي د لاسپوڅې او د اسلام دښمنه ډلې نوم وګاټه. د دموکراسۍ د لسیزې د پای ته رسیدو وروسته بهیر وښودل چې پخواني شوروي اتحاد د افغانستان د هر سازمان او سیاسي مشر په پرتله د پرچم په سازمان او د هغه په مشر کارمل بشپړ باور درلود. دې اعتماد او باور د پرچم د مشرتابه له لوري د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد د تګلارو څخه په بشپړ ملاتړ او د شوروي اتحاد په ګټه د تبلیغاتو سره تړاو درلود. د پرچم په فوق العاده ګڼه کې پر لینن درود ویل د پرچم د مشرتابه له لوري د تو‌پک هغه ډز وو چې پخپل ځان او مترقي غورځنګ یې وکړ. دې ډز چې په هیواد کې یې لویه غوغا خپره کړه ددې لامل شو چې د افغانستان اسلامي بنسټپال اودودیزه اسلامي روحانیت ګډه ژبه پیدا کړي او د یوه منبر څخه د واکمنۍ او کیڼ غورځنګ په وړاندې تبلیغات وکړي . د دې شعر د خپریدو پایله او بیا د حکومت له لوري د ملایانو سپکاوی د بنسټپالو اسلامپالو په پیاوړتیا کې خپل ځانګړی رول ولوباوه.مظاهرو یې رونق وموند او هغوی په کابل پوهنتون او پولتخنیک مسلط شول.

## په پوهنیزو بنسټونو او پارلمان کې نښتې

د دموکراسۍ په لسیزه کې کله ناکله د سیاسي ډلو او سیاستوالو ترمنځ اخ اوډب او نښتې هم پیښېدلې. د سیاسي ډلو د نښتو په اړه ګلبدین حکمتیار د خپل اسلامي نهضت نومي کتاب « کمونستانو د نښتو لاره غوره کړه» ترسرلیک لاندې رڼا اچولې ده . نوموړی دریو نښتو ته ګوته نیسي او هڅه یې کړې ددې نښتو پړه په نورو واچوي. البته پدې هکله د حکمتیار دا ډول دریځ چې دی یې یو لوبغاړی وو د تعجب وړ خبره نه ده. خو د ده له څرګندونو ، د ښکیلو اړخونو د مرګ او ژوبلې د کچې او د حکومت له لوري غبرګونونه کولی شي د نښتو په اړه لوستونکي ته د هغه مهال د سیاسي ډلو د سیاسي شعور د ټیټوالي سربیره د دې قضاوت امکان ورکړي چې کومو ډلوغوښتل د کابل د پوهنتون او د پولیتخنیک د انستیتوت فضا خړه پړه کړي.

لومړۍ نښته – د حکمتیار په وینا لومړۍ نښته د خلقیانو سره وه چې دی پکې ټپي شوی دی او د نښتې په هکله لیکي :« خلقیانو د پوهنتون په صحن کې غونډه درلوده، د ځوانو مسلمانو څو کسانو لدوی نه غوښتي وو چې اجازه ورکړي د دوی له ستیج نه څو خبرې وکړي، هغوی اجازه نه ورکوله. په همدې حالت کې زه هغه ځای ته نږدې راورسیدم، ځینې وروڼه راغلل او ماته یې جریان ووایو، زه هلته ورغلم ، وضعیت مې داسې ولید چې نږدې دې نښته وشي، وروڼو ته مې وویل چې صحنه تخلیه کړي او د خلقیانو له ستیج نه په خبرو ټینګار پریږدي، ماهمدا خبره اعلانوله چې خلقیانو په شهید انجینرمحمدشاه حمله وکړه،زه خلاصون ته ورغلم چې ناڅاپي له څلورو خواوو یې په ما برید وکړ، د غوږ اړخ ته ټپي شوم ، په ځمکه ولویدم ،له وروڼو نه یوه کس په ما ځان وغورځاوه چې په ما د برید مخه ونیسي ، خلقیان خواره شول او زه یې په شا د علي آباد روغتون ته ورسولم چې له معمولي تداوۍ نه وروسته لیلیې ته ولاړم. » ۳۵/ ۲۰۳ که چیرې د نښتې لامل ته وکتل شي هغه د خلقیانو د ستیژ څخه د ځوانو مسلمانو غوښتنې ته منفي ځواب دی . دا د خلقیانو حق وو چې له خپل ستېژ څخه چاته د وینا اجازه ورکړي یا ورنکړي. خو داسې ښکاري چې ځوانو مسلمانو ټینګار درلود چې هرومرو وینا وکړي. منطقآ پداسې یوه حالت کې د جګړې یا نښتې ملامتي په مسلمانو ځوانانو لوېږي.

دوهمه نښته- د حکمتیار په وینا دا نښته په پولیتخیک کې د اسلامي غورځنګ او ټولو چپیانو او غیردیني ډلو ترمنځ شوې ده. « نښته داسې پیل شوه چې د مسلمانو ځوانانو یو کس د هغه چا مخې ته ودرید چې ډوډۍ یې له ځان سره خپل اطاق ته وړه، د روژې په میاشت کې دا کار د روژې خوړلو نښه ګڼل کیده موږ اعلان کړی و چې هیڅوک په څرګنده توګه روژه نشي خوړلی ، لدې کس نه پوښتنه وشوه چې ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کارکوي ؟ هغه پتنوس يوې خوا ته کېښود او پده يې بريد وکړ...، مرکزي ليليې ته د نښتې اطلاع راورسيده ، پدې وخت کې  زه ، مولوي حبيب الرحمن او استادګل محمد د ده بوري په يوه کرايي کور کې په ګډه اوسيدو. دا اطلاع يې راکړه ، نه پوهيږم ولې په ډېر شوراو شوق د مرکزي ليليې په لور وخوځيدم. ګورم چې د ليليې په جومات کې ګڼه ګونه ده ... ، ورونه زما وينا ته منتظر وو، زما نظردا دی چې حتماً بايد له خپلو مظلومو ورونو نه دفاع وکړو، خپلو اطاقونو ته لاړشئ ، تياري ونيسئ ، همدا اوس د پوليتخنيک په لوري خوځيږو. په همدې سره ټول په منډه له جومات څخه ووتل ، څو شيبې وروسته د اوياوو په شا اوخوا کې با ايمانه زلميان د پوليتخنيک په لوري روان  شوو ...، د پوليتخنيک د جومات په مخکې مې ټول ودرول او ورته ومې ويل. څوک چې د سر قرباني ته تيار وي او په هيڅ بيه په شا نه راځي له موږ سره دې وخوځيږي...، ما ورونه په دوو ډلو وويشل،يو شمير مې له داکترمحمدعمرشهيد سره په يوه استقامت وليږل او زه له نورو سره مخامخ په هغه استقامت وخوځيدم چې کمونستان راغونډ شوي وو...،موږ همداسې سريع او تند مخکې روان وو ،  د تيږو ځواب مو ورکاوو، مقابل طرف ورو ورو شا ته تلو، خو هغه وخت په تيښته شول چې د زلميانو هغه ډله هم له موږ سره يوځای شوه چې په بل استقامت ليږل شوې وه...، د تيښتې په دوران کې ډېر کسان تر پښو لاندې شول ، مخصوصاً هلته  چې د دوی ګڼ شمير کسانو څلورم بلاک ته د ننوتلو هڅه کوله ...، د دوی ۴۶ کسان  ټپيان شول او زموږ دری کسان. په دې نښته کې  ټول چپي عناصر اوغير ديني ډلې يوې خوا ته او موږ بلې خوا ته وو. د دوی د ماتې طبيعي نتيجه دا وه چې لدې نه وروسته نه په ګډه زموږ د مقابلې جرآت وکړي نه يوازې يوازې . دا په پوليتخنيک او په ټول پوهنتون زموږ د تسلط په لوري يو موثر ګام وو. پوليتخنيک د پوليسو لخوا په کلکه محاصره شوی وو، موږ ته يې د لودسپيکر په ذريعه ګواښونه کول چې خواره شئ ، ورونو ته مې وويل چې له خوريدو نه ډډه وکړي ...، زه د پوليتخنيک جګړه د اسلامي نهضت د بدر جګړه ګڼم.  » ۳۵/ ۲۰۴ـ ۲۰۸

دريمه نښته – « دا نښته يوازې د شعله يانو سره وه . دوی د يوې نښتې شوق کړی و. په مخکنيو نښتو کې يې د خپلې ماتې په هکله به يې خپلوغړو ته ويل: زموږ صفوف مختلط وو، پرچميان او خلقيان د ماتې باعث شول، دوی پخپلې تيښتې سره په نورو کې ويره پيدا کړه، دا ځل د اخوانيانو سره يوازې مقابله کوو او سم ځواب به ورکوو. په همدې ترڅ کې يې د تعليم او تربيې يوه محصل ته چې نوی له نهضت سره يوځای شوی وو لاس واچاوه...، موږ د ده بوري په هغه کور کې غونډه وکړه ، ترڅو دا پيښه،لاملونه اوعواقب يې وڅيړو او د مناسب عکس العمل فيصله وکړو...، سبا له لسو دوولسو ورونو سره د تعليم او تربيې پوهنځي ته ورغلم، استاد نهضت فراهي درس ورکاوو، له هغه نه مې احترامانه وغوښتل چې اجازه راکړي د دې ټولګي له محصلينو سره څو خبرې وکړم...،په څو لنډو خبرو مې خپله وينا پای ته ورسوله او له ټولګي نه ووتم. له پوهنځي نه بهر ځيني ورونه په ډيره عجله راغلل او ويې ويل: هلته په ځنګله کې شعله يان د راغونديدو په حالت کې دي ...، ورونو ته مې وويل : اوس نبايد ميدان پريږدو، لدې نه دوی غلطه استفاده کوي. د مرکزي ليليې، دارالمعلمين ، ابن سينا، رحمن بابا، دارالمعلمين او نورو نږدې مرکزو ورونو ته اطلاع ورکړئ ځانونه راورسوي، خپل تياري ونيسي. دوه کسان مو شعله يانو ته ور وليږل ترڅو پوښتنه وکړي چې د څه لپاره راغونډ شوي ...، شاکراو لهيب د خبرو لپاره راغلل...، دوی ويل : په يوه وخت دواړه غونډې ختمږو. ما ويل : نه لومړی به تاسو لدې ځايه ځئ بيا موږ. پدې وخت کې زموږ د ورونو شمير هم زيات شوی وو، دوی وضعيت داسې وليد چې مجبور د نښتې فکر له سره وباسي او زما خبره ومني او وايي : دا دي موږ ځو اوخپله غونډه ختموو، زموږ د تلو وروسته تاسو هم غونډه ختمه کړئ. دوی خپلو ملګرو ته ورغلل او پس له څو شيبو له هغه ځايه د کفتريا او ساينس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځي په لوري وخوځېدل. د دوی پخوانی ځای خالی شو، زموږ ورونړه په همدې ځای کې راغونډ شول. زه د پوستې د غرفې په بام وختلم چې د غونډې پای اعلان کړم. ما لا خبرې نه وې پیل کړې چې د شعله یانو لخوا زموږ لوري ته ځو تیږې راګوزارې شوې، پدې سره زموږ د ډلې نه محمدطیب فرقانیارد کندهار اوسیدونکی پداسې حال کې له غونډې ووت او د شعله یانو په لوري په زغاسته ولاړ چې هیڅوک د ده په را ګرځولو موفق نشو. هلته پده برید وشو. ټپی شو او په ځمکه پریووت. په همدې سره نښته پیل شوه، نښته توده روانه وه. ما له نښتې نه د مخه یوه ډله د هغه ځنګله مخې ته لیږلې وه چې په لومړي سر کې شعله یان هلته راغونډ شوي وو، د دې لپاره چې مبادا له شا نه په موږ برید ونشي. ناڅاپي هغه ډله هم بېرته را وګرزېده، د دوی تکبیرونو او ناڅاپي د نورو سره یو ځای کېدو،شعله یان ورخطا کړل او په تېښته شول. په لوی چمن کې هرې خوا ته تښتېدل او د چمن غواړې کورونو ته یې پناه وړه، زخمیان یې په میدان دلته هلته پراته. د دوی لومړی ټپي سیدال سخندان وو، دی د نښتې په پیل کې د پاخه سړک په سرټپي شو او همالته په ځمکه پریووت، په سر لګیدلی وو،همالته یې ساه وختله. د دوی شل کسان کم اوزیات ټپیان شول...، پولیس او د غونډ ضربه مجهز ډلګي ، پلي او سواره د نښتې ځای ته راورسیدل ، پوهنتون او لیلیه یې محاصره کړه. موږ له شا نه د آشپزخاني له لارې لیلیې ته داخل شوو او پدې سره هغه لویه نښته پای ته ورسیده...، پوهنتون هماسې محاصره وو، سبا ته ټولو غیر اسلامي ډلو د پوهنتون په انګړ کې غونډه درلوده، هاشم میوندوال هم پدې غونډه کې برخه واخیسته ، نطاقانو حادثه غندله ، موږ یې ملامتولو، له دولت نه یې غوښتل چې زموږ په خلاف جدي اقدامات وکړي ، د شعله یانو په نسبت یې خواخوږي ښودله. موږ په لیلیه کې محاصره وو. یوځل مو د پوهنتون په لوري د تلو اعلان وکړ خو په آسو سورو پولیسانو زموږ مخه ونیوله ...، پولیسانو ته ویل شوي وو چې ما حتماً ونیسي . په لیلیه یې د حملې جرآت نشو کولی. له لیلیې نه تدریسي ته په تلو راتلو کې به له ما سره ګڼ شمیر ورونړه ملګري وو. د پوهنځي رئیس ته یې ویلي وو چې اجازه ورکړي زما د نیولو لپاره پوهنځي ته داخل شي . هغه نه یوازې موافقه ونکړه بلکې ماته یې اطلاع راکړه...، زما پلار یې له امام صاحب نه کابل ته راغوښتی وو، هغه یې لیلیې ته راولیږو، له مانه یې وغوښتل چې پولیس ته تسلیم شم. د ده په وینا مې له ورونړو رخصت واخیست، له لیلیی را کوز شوم او د پولیسانو له راغلي ډلګي سره په جیپانو کې د ولایت په لور وخوځیدو. د امنیې د قوماندان سره له لیدو وروسته یې د اطفایې یوه اطاق ته بوتلم ، زما نور ملګري یې یو په بل پسې همالته راوستل.» ۳۵/ ۲۰۹ – ۲۱۴ د کاروان د جریدې په قول پولیسو دری تنه چې یو یې حکمتیار وو بندي کړل. حکمتیار په دری کاله بند محکوم شو خو په کال ۱۹۷۳ کې د موسی شفیق د صدارت پر مهال له زندانه خلاص شو. دا هغه لویې نښتې وې چې په کابل پوهنتون او د پلتخنیک انستیتوت کې د سیاسي ډلو ترمنځ شوې دي. لکه څرنګه چې د دوهمې نښتې په اړه حکمتیار وایی چې وروسته له دې نښتې ځوان مسلمانان په پولتخنیک او پوهنتون مسلط شول چې همداسې هم وه .د هغه مهال د پوهنتون یو محصل وایی :« زه تسبیح په لاس د پوهنتون په صحن کې ګرځېدم چې یوه اخواني تسبیح را څخه واخېستلې او را ته ویې ویل تاسې حق نلرئ چې تسبیح وګرځوئ. ما هم کوم غبرګون ونښود ځکه هغه له خدای څخه دا غوښتل چې جګړه وکړي. هغه دا هم وایي چې کله به اخوانیانو د جګړو او نښتو شوق درلود د قلعه جواد د حضرتانو مریدان او د کوټې سنګي څخه به یې شیخ محمدیان چې کوتک به ورسره وو راوستل .»

د سیاسي ډلو ترمنځ د هیواد په نورو پوهنیزو بنسټونو، ادارو اوعامه ځایونو کې ور ته نښتې شوي دي چې مرګ او ژوبله یې هم لرله چې د اسلامپالو له خوا په لغمان کې د پرچم د فرکسیون د غړي عبدالرحمن او په هرات کې د شعله یانو له لوري د خلقي عبدالقادر وژنې یې بیلګې دي. اړینه بریښي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرچمي عبدالرحمن او خلقي عبدالقادر د وژنو په اړه رڼا واچول شي. د۱۹۷۱ کال د اکتبر په میاشت کې د لغمان ولایت په مرکز مهترلام کې د پرچم فرکسیون د لړم دریمه نمانځله چې د ویناوو په ترڅ کې د پاکستان څخه د بنګله دیش جلاکیدل د بنګله دیش د خلکو د مسلم حق په توګه تائید شوي وو. اسلامپالو چې« اسلام پولې نه پیژني » تر شعار لاندې مبارزه کوله د بنګله دیش آزادي يې د اسلام ضد خوځښت ګاڼه او په پرچمیانو يې برید وکړ او عبدالرحمن ملکي مامور يې وواژه. « د مهترلام د پیښې په غبرګون کې د پرچم پلویانو په کابل کې غونډه کړې وه .پدې غونډه کې د پاکستان د پښتنو زاړه مشر خان عبدالغفار خان هم ګډون کړی وو... ،کارمل پدې غونډه کې ادعا وکړه چې د عقرب په دریمه په مهترلام کې کله چې پرچمیانو د امریکا او انګلیس د امپریالیزم په دسیسه وپوهیدل خپله غونډه يې پای ته ورسوله. خو د وینو تږي سپین پوښي د پرچمیانو په لټه کې شول او عبدالرحمن يې وموند، وروسته له هغې يې نوموړی د یوې ودانۍ له دریم پوړ نه راخطا کړ ، بدن يې سوری سوری کړ...، د روزګار جریدې د ۱۹۷۱ کال د نومبر په دریمه ګڼه کې د مهترلام پیښه د ملا امیرزاده لمسون ګڼي چې د جریدې په قول نوموړی د دیوبند د مدرسې فارغ التحصیل وو. » ۳۲ / ۱۵۹ پدې اړه داسې هم ویل کیږي «معراج الدین ، عبدالرحمن له بامه را ګوزار کړاو مړ يې کړ. لاس او پښې يې مات ، سترګې يې وایستلې ، پزه يې پرې کړه ، هغه يې په آس کش کړ.» دا چې ترکومې کچې پورتنۍ ادعاوې سمې دي پرهغو قضاوت ستونزمن دی خو په هغو کې یو ټکی شریک دی چې اسلامپالو عبدالرحمن له بام یا دریم پوړ څخه را غورزولی او بیا يې وژلی دی. ښایي پداسې وحشیانه ډول د نوموړي وژنه واقعیت ولري ځکه چې د مجاهدینو د واکمنۍ پرمهال جهادي ډلو دا ډول وحشیانه کړنې لکه د مړو نڅا، د خلکو په سرونو کې د میخونو ټکول ،په کانتترونو کې د خلکو سوځول او د ښځو څخه د تیو پرې کول تر سره کړې دي. د اشرف غني د واکمنۍ پر مهال ( سپتمبر ۲۰۱۵ ) په کندهار او فاریاب کې د دولتي ځواکونو او اربکیانو له لوري تر سره شوې دوې پیښې يې څرګندې بېلګې دي.« د مجاهدینو د شهادت وروسته د جنرال رازق ټوپکیانو په سپین بولدک کې د شهیدانو په جسدونو باندې تیزاب وشیندل او دوه تنه يې په اور وسوځول او بیا يې نیمه بربنډ د لارې سره نږدې وغورځول او خلک يې دې ته مجبورول چې ورشي او د دوی جسدونه وګوري. د ارګ د واکمن لومړي مرستیال جنرال رشید دوستم د جوزجان ولایت په خمآب ولسوالۍ کې د یوه شهید جسد له موټر سره وتاړه او د بې عزتۍ په موخه يې په بازار کې وګرځاوه.» ۴۵ د خلقي عبدالقادر د وژنې پیښه داسې وه چې هراتي خلقیانو غوښتل د۱۹۷۲ کال د لړم دریمه ونمانځي. هغوی د جامي د لیسې او دارالمعلمین په انګړ کې راټول شول. دوی پلان درلود چې په نوموړو پوهنیزو بنسټونو کې راغونډ شوي کسان د سینما سره یو ځای شي ، د نوي ښار د چوک په لور به لاریون کوي او په چوک کې به میټینګ جوړوي. کله چې دا دوې ډلې د سینما سره یوځای شولې او د چوک په لور وخوځیدلې ګوري چې شعله یان دوی تعقیبوي. خلقیانو فکر کاوه چې شعله یان غواړي د دوی نه مخکې ځانونه چوک ته ورسوي . هغوی شعله یانو ته د سړک یوه برخه پریښودله . خو شعله یانو په خلقیانو برید وکړ څو تنه يې ټپیان کړل او د دارالمعلمین محصل عبدالقادر چې د خلقیانو بیرغ يې لیږداوه وواژه. نوموړی د سلطان ذیچک په نامه د یوه شعله يی له لوري د چاړې په واسطه وژل شوی دی. که چیرې د حکمتیار څرګندونې او په لغمان او هرات کې د دوو تنو وژنو ته وکتل شي هغه د ځوانو مسلمانانو او شعله یانو له لوري ترسره شوې دي چې د هغوی د زورزیاتۍ له تګلارو سره تړاو لري. هغه مهال دا ډول نښتې نه یوازې د ځوانانو ترمنځ پیښیدې بلکې په ولسي جرګه کې د پاخه عمر او د خلکو د استازو تر منځ هم لفظي مشاجرې او د وهلو ټکولو پیښې شوې دي چې د شورا په دوولسمه دوره کې لفظي مشاجره د ا، خ، د،ګ د مشرتابه د دوو غړو ببرک کارمل او نوراحمدنور په وهلو ډبولو واوښته چې دواړه پکې سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټپیان شول. د ولسي جرګې د یوه غړي په وینا « د ولسي جرګې په عمومي غونډو کې به ببرک کارمل او د ده ملګرو د آجندا پر ټولو مسایلو باندې اوږد مسلکي بحث کاوه چې د غونډو ډیر وخت به یې نیوی،او د ډیرو وکیلانو به د دوی د دغو خبرو څخه ښه نه راتله او همیشه به د دوی او نورو وکیلانو ترمنځ لفظي مشاجرې کیدلې. یوه ورځ ببرک کارمل د ولسي جرګې په تالار کې د سیدکرم وکیل سدوخان اصیل ته د پاکستاني خطاب کړی و، چې د دغه اتهام په واردولو سره دی او د ده ملګري د سردار عبدالرشید د ډلې لخوا ووهل سول. » ۴۱/ ۱۵۳ – ۱۵۵

## پټ جوړجاړی

پاچا د محمد داود بې کچې ځانغوښتني ده په کتو سره د هغه د استعفي د منلو وروسته له هغه وغوښتل چې په فرانسه کې سفیر شي . خو« محمد داود خان د صدارت څخه استعفی ورکړه په فرانسه کې یې د افغانستان سفارت ونه مانه او په کابل کې راتلونکو تحولاتو ته منتظر پاتې شو.»۴۶ /۵۵۶ دا بیا ښیي چې محمدداود پریکړه کړې وه چې له سیاست څخه لاس نه اخلي. لويې جرګې داسې اساسي قانون تصویب کړ چې محمدداود قانوناً د سیاسي فعالیت نه محروم شو. د محمدداود د پلویانو په اند دې کار د محمدداود نه « ټپي پړانګ» جوړ کړ او د نوي سیاسي بهیر په وړاندې ودرید. هغه پدې هڅه کې شو ترڅو داسې ځیرې او خوځښتونه خپل کړي چې د پاچاهي رژیم ضد روحیه ولري چې هغه یې د کینو افکارو لرونکي سیاسي ځیرې ګڼلې. هغه لا مخکې د شاه محمود خان د صدارت پر مهال یو شمیرد سیاست مینه وال چې کارمل د هغو څخه یو دی خپل کړي وو. د صدارت څخه د محمد داود د استعفی وروسته چې په هیواد کې سیاسي فعالیتونو ته زمینه برابره شوه مختلف سیاسي ګوندونه یو په بل پسې د هیواد په سیاسي ډګر کې راځرګند شول. محمد داود د واکمنی ضد ډلو ټپلو، سیاستوالو او په تیره پوځیانو سره اړیکې ټینګې کړلې . د نورو ډلو په پرتله د پرچمیانو سره یې اړیکې خورا تودې وې. « څو میاشتې مخکې لدې چې محمدداود د جمهوري ریاست مقام ته ورسیږي یوه استاد د یوې جنازې پرمهال هغه ته ویلي وو: « د پرچمیانو سره مو نږدېوالی ستاسي شهرت ته زیان رسوي، محمدداود په ځواب کې ورته وایي: په موږ کې عادت ګرزیدلی چې د هر وطنپال په لکی سره لټه وتړو.» ۱۹/۳۲ همدا رنګه د چنګاښ د کودتا وروسته په حکومت کې د پرچمیانو شتون ته په کتو سره په بلوچستان کې د هېواد د اونیزې مسؤل مدیر سلطان صابر د داودخان سره په یوه کتنه کې پوښتلي وو چې ولې مو په حکومت کې پرچمیان شته خوخلقیان نشته په ځواب کې ویلي وو:« پرچمیان ښه ملتپال دي.» د محمد داود له ځوابونو بریښي چې هغه په پرچمیانو بشپړ باور درلود او هغوی یې رښتیني وطنپالان شمېرل هغه وطنپالان چې د شوروي اشغالګرو چوپړیان او اردلیان راوختل. پر بله خوا خلقي مشرتابه هم د محمد داود هلې ځلې او په هغو کې پوځي کودتا ته د چمتووالي بهیر څاره او خپل پوځي پلویان یې وهڅول چې پدې کودتایي بهیر کې ورګډ شي. د خلقي اړخ د یوه پوځي له قوله چې د سرطان په کودتا کې یې برخه لرله له خپل ګوندي ارتباطي مسؤل څخه پوښتلي وو چې آیا د ګوند مشر په کودتا کې د خلقیانو د ګډون ملاتړ کوي یا نه په ځواب کې ویلي وو:« تره کی صاحب لدې امله په کودتا کې د خلقیانو د ګډون ملاتړ کوي چې کودتا کیدونکې ده او برى یې هم حتمي دی. د دې لپاره چې موږ په راتلونکې کې د محمدداود له ګوابنونو څخه خپل ګوند وژغورو ښه ده چې زموږ ملګري په کودتا کې برخه واخلي.» د دموکراسۍ په لسیزه کې کارمل د افغانستان په سیاسي چاپیریال کې په یوه مطرح ځیره اوښتی وو. نوموړی د یوه سازمان د مشر سربیره د ملي شورا غړی هم وو. هغه په شورا کې حکومتي ضد ویناوې کولې لدې امله یې اړین

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهرت ترلاسه کړی وو. محمدداود کولی شول د کارمل له داسي دريځ څخه ګټه پورته کړي. پربله خوا کارمل د افغانستان په کيڼ غورځنګ کې د مسکو باوري سړی شميرل کيده ښايي مسکو داوړو ( داود او کارمل ) يا يوه اړخ ته لارښوونه کړې وي چې په ګډه کودتا وکړي. پدې اړه سليګ اس هاريسون امريکايي ليکوال ليکي :« پرچميانو د مسکو په دستورد داود سره ائتلافي دولت جوړ کړ او په څرګند ډول يې هلې ځلې وکړې چې په پوځ او ادارو کې خپل اغيز زيات کړي.» ۴۷/ ۱۴همدارنګه پدې اړه ډګرجنرال عبدالرزاق ورته ليدلوری لري او ليکي :« پدې وخت کې د افغانستان خونخواره دښمن يعني روسان بيا د شاهي کورنۍ د اختلافونو څخه د ګټې اخيستنې په فکر کې شول. هغوی د کی جی بی پواسطه کشف کړي وو که وغواړي د افغانستان څخه استفاده وکړي د دې کار لپاره محمدداود مطلوب شخص دی...، لدې امله محمدداود ته د ک .ګ . ب له خوا او په قوي احتمال د حسن شرق او ببرک کارمل له لوري بلنه ورکړل شوه چې په کودتا لاس پوري کړي. » ۲۸/ ۱۰۳ « مرحوم سردارداود په پاريس کې د خپل سفارت پرمهال د شوروي سفير سره ډيرليدل او دا موضوع په جريدو کې خپره شوې وه. هغه وخت مرحوم حبيبي( محمود) په پاريس کې محصل وو، د اوريدو سره سم هغه د سردار په ملاقاتونو کې حاضر وو. خو دې ملاقاتونو دا معنی نلرله چې سردار داود کمونست يا د روسانو د لاس آله شوی وي بلکې خپل هدف ته د رسېدو په خاطر چې واک ته ورسيږي کار کاوه، له همدې امله خلکو هغه د واک او زعامت تږی ګاڼه.»۴۸ د دواړو اړخونو( داود او کارمل) سره د مسکو اړيکې د دې لامل ګرزيدلې چې شورويان دواړه ګډ فعاليت يا په بله خبره کودتا ته وهڅوي. محمدحسن شرق د چنګاښ کودتا مرکزي او کليدي لوبغاړی د پرچميانو له مشرتابه سره د کودتا لپاره د چمتووالي په پړاو کې د خپل کتاب ( کرباس پوشان برهنه پاه) په اته دېرشم مخ کې د ميراکبر خيبر سره په هره اونۍ کې د ليدو خبره کوي چې د ليدنو پايلې کودتا ته د نويو غړو د جلبيدو لپاره ډيرې ګټورې بولي او دا هم وايي چې کله ناکله مې کارمل هم ليدلو او محمد داود مې پدې اړه مرتباً خبراوه . هره اونۍ د ميراکبر خيبر سره د شرق منظمې ليدنې کتنې د پرچم د فرکسيون د غړو هغه سازماني اړيکې ښيي چې د حوزو په نامه ياديدې چې په اونۍ کې يو ځل دايريدې . پردې بنسټ د خيبر او شرق دا منظمې ليدنې کتنې د سازمانی اړيکو پرته بل څه نشي تعبيرېدی. هغه مهال خيبر د پرچم د سازمان د پوځي برخې مسول وو چې په پوځي برخه کې يې ذبيح الله زيارمل او د پوليسو په برخه کې يې عبدالصمد اظهر ارتباطي غړي وو . دا هم له ياده ونه باسو چې د ا، خ ، د ،ګ د جوړېدو وړاندې هغو پوځيانو په پوځ کې سياسي فعاليت پيل کړی وو چې وروسته پرچميان شول. دا هم ويل کيږي چې دا ډله پوځيان د شوروي اتحاد د پوځي استخباراتي شبکې ( جي آر يو ) سره اړيکې لرلې . د دې پوځيانو د لومړی غونډې له فعالانو څخه يو عبدالصمد اظهر دی چې د هغه په وينا دا غونډه د دارالامان ماڼۍ په بڼ کې شوې وه. د چنګاښ د کودتا وروسته د جمهوري دولت په لوړ ارګان مرکزي کمېټه ، کابينه او سيمه ئيزو دولتي ارګانونو کې د پرچميانو د سترګو وړ شتون د داود- کارمل ترمنځ د پټ جوړجاړي پرته بل څه نه دي. د پاچاهي نظام د نسکورولو په موخه د محمدداود او پرچميانو ترمنځ جوړجاړی د سلطانعلي کشتمند د هغو څرګندونو نه معلوميږي چې د خپل کتاب په ۲۵۰ مخ کې راوړي: « د چنګاښ په شپږويشتمه سهار زه هم خبر شوم چې د سهار په پنځو بجو د ميراکبر خيبر په کور کې د ګوند د مرکزي کمېټې د اجراييه هيآت په غونډه کې ګډون وکړم ...، خيبر رپوټ ورکړ چې د محمدداود په مشرۍ د نيمي شپې راهيسې د پوځي کودتا فعاليتونه سرته رسېدلي دي . ده وويل چې يوه ملګري دکتور محمدحسن شرق په زرهپوښ سپور ليدلی چې يو ساعت مخکې له موضوع خبر شوی دی. هغه سمدلاسه کارمل خبر کړی دی...، کارمل د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې د ګوند د مشرتابه څخه يو هم مخکې لدې خبر نه وو.» د کشتمند لدې داستانګې څخه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه هڅه کړې ده د کودتا څخه د پرچمیانو نا خبري وښیي. ځکه چې د هغه په خبره کوم ملګري يو ساعت مخکې کارمل ته خبر ور کړی چې شرق يې په زرهپوش سپور ليدلی دی کارمل یا خيبر پوهيږي چې داودخان کودتا پيل کړيده او دی د پرچم نورمشران خبروي چې د خيبر په کور کې بيړنۍ غونډه راوبولي او ټول لکه د اطفايې د نوکريوالانو په څېر د خيبر له لوري د آلارم په اوريدلو سره د ده کور ته ځانونه رسوي . پدې اړه عجيبه دا ده چې ولې کارمل د پرچم د مشر په توګه د پرچم مشران خپل کورته نه دي رابللي چې غونډه يې د خيبر په کور کې راوبلله؟ علت يې څرګند دی چې خيبر د پرچم د پوځي برخې مسوليت درلود او د ده کور پرچمي پوځيانو ته معلوم وو چې هغوی هلته را غونډ شوي ، اړين دستورونه ترلاسه کړي ، په کودتا لاس پورې کړی او د کودتا د بري وروسته پدې اړه ده ته رپوټ ورکړي . البته ثريا بها د نجيب الله د ورور مېرمن او پرچمی هم د خپل کتاب رها در دريا په ۲۱۰ مخ کې د چنګاښ په ۲۶ د بارق شفيعي کور ته چې د دوی په بلاک کې وو د پرچميانو د مشرانو ، کدرونو او پوځيانو د تګ او راتګ او حتی د يوه ټانګ د راتګ په اړه ليکي چې د وکيل خور ثريا د يوه ټوپک سره ور جګه شوله او ورسره ولاړله . د دې لپاره چې کشتمند لوستونکي قانع کړي چې پرچمي مشران له کودتا خبر نه وو د کارمل خبره راوړي چې ګواکې مونږ له کودتا خبر نه وو. وايي غل په غره کې نه ځايیږي همدا لامل دی چې کشتمند د کارمل او پرچمي مشرانو د بې خبرۍ خبره کوي. که د کشتمند خبره ومنل شي دا پوښتنه را پيدا کيږي چې پرچميانو څه مسؤليت درلود سهار وختي چې ملايان هم ويده دي په پنځو بجو د خيبر په کور کې را غونډ شي ؟ دوی نه د کوم واکمن ګوند مشران وو ، نه د کابينې غړي او نه د کابل ګارنيزيون د امنيت مسؤلين چې د کودتا په اړه غبرګون وښيي . که پورتنۍ خبرې ته چې يوه پرچمي شرق په زرهپوښ کې ليدلی دا د دې معنی نلري چې هغه کودتاچي دی.آيا دا شوني ده چې د شپې په تياره کې د زرهپوش د ننه څوک وپيژندل شي چې دې پرچمي شرق پيژندلی دی . واقعيت دا دی چې محمدداود او د پرچم فرکسيون په ګډه د۱۳۵۲ کال د چنګاښ د مياشتې د شپږويشتمې د شپې په يوه نيمه بجې په کودتا لاس پورې کړ .لدې امله د پرچميانو مرکزي کميټه په مکروريون کې د پرچم د پوځي برخې د مسول خيبر په کور کې جرګه شوې وه ترڅو د کودتا د بهير څارنه وکړي او محمد داود بيا د خپل کور څخه د کودتا چارې رهبري کولې. کشتمند چې په کودتا کې د پرچميانو برخه اخېستنه پټه کړې د سهار په پنځو بجو د پرچم د مشرتابه د غونډې د رابللو داستان جوړوي. د محمدداود او پرچميانو ترمنځ پټ جوړجاړی يا ائتلاف لدې څخه جوتيږي چې په کودتا کې د برخه اخيستونکو پوځيانو ستره برخه د ا، خ، د،ګ د دواړو اړخونو( خلق او پرچم) سره تړاو درلود او يا يې ليوال وو. هېره دې نه وي چې په کودتا کې د غلام حيدر رسولي، حسن شرق ، پاچا ګل وفادار، حبيب الله زرمتي ، قدير نورستاني ، عبدالحميد محتاط ، غوث الدين فايق، فيض محمد، مجيد ضيآ ،محمداسلم وطنجار، اسدالله سروري او سيد محمد ګلابزوی رول د نورو په پرتله زيات وو خو د کودتا وروسته په جمهوري دولت کې د خلق د اړخ يو غړی او طرفدار په لوړدولتي ارګان( مرکزي کميته)، حکومت او د دولتي قدرت په سيمه ئيزو ارګانونو په مشرتابه کې راڅرګند نشو خو د جمهوريت مرکزي کمېټه کابو ټوله او د حکومت نيمايي برخه پرچميانو جوړوله. د جمهوريت د لوړ دولتي ارګان مرکزي کميټې لاندې ترکيب د محمد داود او پرچم ترمنځ د پټ جوړجاړي ښکارندوی دی.

۱- محمد داود د مرکزي کميټې رئيس
۲- محمدحسن شرق د مرکزي کميټې منشي
۳- د پښتني تجارتي بانک د بارچالانی د مديريت مرستيال سيدعبدالاله غړی
۴- جګتورن غوث الدين فايق غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- متقاعد ډګروال سردار غلام حيدر رسولي غړی
۶- د ترافيکوتورن عبدالقديرنورستاني غړی
۷- تورن محمدسرور نورستاني غړی
۸- تورن فيض محمد غړی
۹- جګتورن محمديوسف غړی
۱۰- لومړی بريدمن عبدالحميدمحتاط غړی
۱۱- لومړی بريدمن احمدضياً مجيد غړ
۱۲- لومړی بريدمن مولاداد غړی
۱۳- لومړی بريدمن عبدالخليل غړی.

د پورتنيو ديارلسو تنو څخه د حسن شرق په شمول نور شپږ تنه ( فيض محمد، محمديوسف، عبدالحميد محتاط، احمدضياًمجيد،مولاداد او عبدالخليل د پرچم د فرکسيون ځرګند يا پټ ) غړي وو. که شرق او محتاط د پرچم پټ غړي نه وای نو ځرنګه شرق د نجيب الله د واکمنۍ پر مهال صدارت او محتاط د ولسمشر مرستيالی ته رسېدل . محتاط د نجيب د واکمنۍ پرمهال راساً د ګوند د مرکزي کمېټې غړيتوب ترلاسه کړ پداسې حال کې چې د دې ګوند د غړيتوب شرط دا وو چې د ګوند ليوال به لومړی آزمايښي بيا اصلي غړی کېدې او وروسته به مرکزي کميټې ته لار مومې خو محتاط راساً د ګوند مشرتابه ته راپورته کړل شو. په لوړدولتي ارګان کې د يوه سازمان د دا ډول لوړې کچې شتون د دې ښکارندوی دی چې نوموړې واکمني يوه ائتلافي واکمني وه چې د پرچم سازمان يې يو اړخ وو. د کودتا خورا فعال او مرکزي لوبغاړی پاچا ګل وفادار چې خلقيانو ته يې علاقمندي لرله حتی په مرکزي کمېټه کې را ځرګند نشو لامل يې دا کېدای شي چې پرچميانو خلقيان خپل دښمنان ګڼل او خلقيانو ته ليوال کس يې هم د جمهوريت په لوړ دولتي ارګان کې نشوای زغملای. د فرهنګ په وينا « نوی دولت په خپله د محمدداود او د پرچم د ډلې ائتلاف دی ، تقريباً هر يوه ته د مساوي ونډې پربنسټ » ۳۰/ ۱۲ « د نعمت الله پژواک په مشرۍ د پوهني له وزارت نه د هارون په وينا اتيا کسه پرچمي ښوونکي، د فرهنګ په وينا ۱۶۰ تنه او د عظيمي په وينا تر پنځوسو لوړپوړي پرچمي ښوونکي د کورنيو چارو وزارت ته معرفي شول او د ذبيح الله زيارمل په وړانديز سمد لاسه ولسوالان وټاکل شول. » ۱/ ۷۲ همدارنګه که چيرې جمهوري دولت ائتلافي دولت نه وای نوڅه ډول « لږترلږه اته وزيران او د صدارت مرستيال ، د هيواد د ولايتونو۱۷واليان ، له ۱۱۷ نه زيات ولسوالان او لوی ولسوالان (حاکمان او لوی حکمرانان) او ۱۲۰ تنه ډيلوماتان ټول له پرچميانو څخه غوره شوي وو.» ۱۸/ ۲۹ د داود- کارمل پټ جوړجاړی به له شوروي جنرال ولولو: « پرچميانو په دغه پړاو کې د واک په موخه مبارزه کوله. هغوی د محمد داود د پلويانو سره اتحاد وکړ... ، جنرال محمد داود د پرچم د لارښوونکي هيأت په مرسته عملاً سپينه کودتا ترسره کړه.» ۴۹ / ۲۲- ۲۳ کله چې شوروي جنرال د پرچم د لارښوونکي هيات په مرسته د سپينې کودتا خبره کوي معنی يې دا کيږي چې د پرچم مشرتابه کودتا ته د چمتووالي په پړاو کې ټاکونکی رول لوبولی دی. د دې لپاره چې د محمدداود او پرچم ترمنځ ائتلاف همغسې پټ په تيارو کې پاتې شي د پرچم د فرکسيون مشرتابه په حکومت کې ترسترګو نشو خو دوهمه کتګوري پرچميان او همدارنګه پټ پرچميان په لوړو دولتي څوکيو وګومارل شول. پربله خوا د پرچميانو د پيژندل شوو ځيرو خپلوان هم په سترو دولتي مقامونو مقرر شول چې کيدای شي د پکتيا د قول اردو د بولندوی په توګه د کارمل د متقاعد پلار تورن جنرال محمد حسين ، د پروان د والي په توګه د صمداظهرد پلار عبدالکريم عمرخيل او په پاکستان کې د وکيل تجار په توګه د نجيب الله د پلار اخترمحمد د مقرريدو يادونه وشي. د پرچم مشرتابه د جمهوري نظام د کړنلارو په جوړولو کې ښکېل وو. « کارمل د جون ( چنګاښ ) په پای کې د شوروي اتحاد کمونست ګوند مرکزي کميټه خبره کړه چې محمدداود له ده څخه غوښتي دي چې د حکومت په کړنلاره کې د کورني او بهرني سياست په هکله تزسونه جوړکړي. ببرک کارمل ته د سياسي مسئلو په هکله د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کميټې د ۱۹۷۳ ، ۱۸۲ -۹۲۷۱۶ مصوبې توصيې ورسول شي.د افغانستان د کورني سياست په هکله د اړينو تدبيرونو په اړه تزسونه وړاندې کيږي.» ۵۰/

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۵ پورتنی اقتباس د هغه تلګرام یوه برخه ده چې مسکو په کابل کې خپل سفارت ته استولی وو. دا که له یوې خوا د پرچم او محمدداود تر منځ د دوو ائتلافي ملګرو اړیکې ښیي له بله پلوه دا هم ښیي چې د پرچم مشرتابه د مسکو سره په همغږۍ کې د جمهوري دولت د کړنلارې په جوړولو کې ښکیل وو. د داود- کارمل ترمنځ د ائتلاف په اړه نه یوازې کورنیو او بهرنیو څیړونکو څرګندونې کړې بلکې پخپله د ببرک کارمل ځینې ویناوې ښیي چې د داود- کارمل ترمنځ د پاچاهي نظام د راپرزولو په موخه جوړجاړی شوی وو . کارمل د۱۹۸۳ کال د نوامبر په میاشت کې پخپله یوه وینا کې وایي :«زه اعتراف کوم په یوه پړاو کې مو د محمدداود سره همکاري وکړه چې شاهي نظام له منځه یوسو ترڅو په بل پړاو کې انقلاب ته لار هواره کړو. » ۱۷۴/۳۲

د پورتنیو څرګندونو په رڼا کې او د کودتا وروسته په جمهوري دولت کې د پرچمیانو ستره ونډه پردې دلالت کوي چې د محمدداود او پرچم د فرکسیون ترمنځ پټ جوړجاړی شوی وو.خو د کودتا وروسته بهیراو پیښې ښیي چې یا داوړه خواوې یو بل ته رښتینې نه وې او خپل ځانګړي پلانونه یې لرل یا دا چې حالات داسې راغلل چې مجبوراً د یوبل په وړاندې ودریږي. په لومړي حالت کې د دې جوړجاړي څخه د محمداود موخه دا وه چې د پرچم څخه د یوې وسیلې په توګه کار واخلي. د هغوی پرمټ واک ترلاسه او د خپل دریځ د پیاوړي کولو وروسته پرچمیان خپل سازمان منحل او د نوموړي ترمشرۍ لاندې فعالیت وکړي او که دا ورسره ونه مني له واکمنۍ یې وشړي . د محمد داود دا هوډ هغه مهال بربنډ شو چې کله هغه په کال ۱۹۷۷ کې سعودي ته سفر درلود ده « سعودیانو ته وویل چې دی به پر کمونستانو وار د مخه کړي ، داسې چې دی به هغوی د غرمې ډوډۍ لپاره وغواړي ، مخکې له دې چې هغوی یې د ماخستن ډوډۍ ته حلال کړي. » ۳ / ۱۹۶ پربله خوا پرچم غوښتل په ټولنه کې د محمدداود له اعتبار څخه ګټه پورته کړي د نوموړي سره په کودتا او واکمنۍ کې د ګډون له امله ځان پیاوړی کړي د محمداود په واسطه خپل سیالان وځپي او د هیواد د سیاست د ډګر یکه تاز پاتې شي او په اړین وخت کې محمدداود له ډګره وباسي .« یوه پرچمي د دې پوښتنې په ځواب کې چې محمدداود واقعاً یو مطلوب شخصیت دی ؟ وویل: فرق نه کوي. هغه خپلو موخو ته د مخکښ په توګه استعمالوو، هر وخت چې لازم شي له منځه یې وړو» ۲۰/۳۲ همدارنګه پدې اړه فضل احمدعبدیاني چې د شوروي اشغال پر مهال د کندهار والي پاتې شوی دی د خلقیانو د واکمنۍ پرمهال د جنرال عبدالخلیل سره بندي وو د خلیل څخه د داودخان سره په کودتا کې د پرچمیانو د ګډون په اړه پوښتنه کړې او هغه په ځواب کې ورته ویلي وو:« د ببرک کارمل په مشرۍ موږ یو شمېر پرچمیان د پلچرخي دښتې ته راټلو او د یوې ونې د سیورې لاندې مو پدې دښته کې پټې غونډې کولې ...، پدې غونډو کې پرېکړه وشوله واک ته د رسېدو او د رژیم او سلطنتي کورنۍ د له منځه وړلو لپاره د دې کورنۍ د ننه استفاده وکړو. لدې امله داودخان غوره کس دی چې دې موخې ته د هغه په واسطه رسېدلی شو.داودخان په خپله هم غوښتل واک ته ورسېږي ...، لکه څرنګه چې هغه وطندوست او ترقي غوښتونکی وو او تل یې د رژیم د له منځه وړلو لپاره فعالیت کاوه موږ هم په زیرکتیا او بشپړ احتیاط ورسره یوځای شوو او د کودتا پلان مو د داودخان سره طرحه کړ او بریالي شوو. موږ غوښتل د جمال عبدالناصر پلان په راتلونکې کې په افغانستان کې پلی کړو.»۵۱ په مصرکې جمال عبدالناصر هم د جنرال نجیب سره ګډه کودتا وکړه د کودتا وروسته یې خپل ملګري په حساسو مقامونو وګومارل او بیا یې جنرال نجیب له ډګره وایست. د جمهوریت پنځه کلنې واکمنۍ وښودل چې دواړه اړخونه ( داود او کارمل ) یو بل ته رښتیني نه وو. سید شمس الدین مجروح هم پدې اند دی او لیکي:« هغه ( داود) غوښتل چې دا وګړي د شوروي حکومت د غولولو په موخه په خپله ګټه استعمال کړي او کله چې په حالاتو مسلط شو هغوی له منځه یوسي ( چې وروسته یې پدې کار لاس پورې هم کړ) خو هغوی غوښتل دی د یوه پله په څېر خپلو موخو یعنې د کمونست ګوند واک ته په رسولو سره استعمال کړي. مجروح د دواړو اړخونو د دې لوبې په اړه لاندې بیت راوړي:

من از کار دزد و تویی دزد مزد
کجا خیر ماند میان دو دزد

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د کار غل يم او ته د اجورې غل يې
د دوو غلو تر منځ کله خير پاتې کېداى شي

د پرچم په نامه سازمان د نيمې پيړى شتون ښيي چې د طالبانو د واکمنۍ پرته د ټولو واکمنيو برخه وو او د هغو په وړاندې درېدلى هم دى. دا بيا ښيي چې پرچم د هرچا سره وو، خو د هيچا سره نه وو، هغه خپلې آجنداوې او نقشې لرلې چې مسکو ورته جوړولې .
د داود- کارمل د ائتلاف په هکله اړينه بريښي لاندې دوو پوښتنو ته ځواب ولټول شي:
۱- څه ډول انټرناسيونالست کارمل د ناسيونالست داود سره اړيکې ټينګې کړې او خبره دې ته و رسيږې چې په نا قانونه کار ( پوځي کودتا) لاس پورې کړي؟
۲- کومو ګډو ټکيو دې ته لار هواروله چې ظاهراً دا دوه متضاد شخصيتونه ګډ دريځ غوره کړي ؟

د داود- کارمل د اړيکو د ټينګولو په اړه د ميرمحمدصديق فرهنګ او محمدحسن شرق څخه يادونه کيږي او شرق بيا فرهنګ د سلطنتي کورنۍ سره د کارمل د ټينګيدو وسيله ګڼي. ښايي د فرهنګ له لوري د کارمل اړيکې له سلطنتي کورنۍ سره ټينګې شوې وي ځکه چې د فرهنګ کورنۍ د سلطنتي کورنۍ له خورا ډاډمنې کورنۍ څخه شمېرل کېده . څرګنده بېلګه يې د پاچا له لوري د اساسي قانون د جوړولو په اووه کسيزه کميټه کې د فرهنګ او د هغه د ورور سيدقاسم رښتيا شاملول وو. بل دا چې د فرهنګ زوى ميرمحمد امين فرهنګ د پاچا باجه هم دى. سربيره پردې نورو دوو لاملونو هم رول درلود چې کارمل د سلطنتي کورنۍ سره اړيکې پيدا کړي. يو يې د ده کورنۍ تړاو دى. د هغه پلار جنرال محمدحسين د پاچاهي دورې يو مقتدر جنرال او واکمنې کورنۍ ته نږدې سړى ګڼل کيده. هغه مهال د پوځ هغه غيرمحمد زي افسران جنرالۍ ته رسيدل چې سلطنتي کورنۍ ته يې خپله وفاداري ثابته کړې وي.همدې مقتدرو جنرالانو او د کورنۍ غړو يې د دربارسره اړيکې لرلې چې کارمل د سلطنتي کورنۍ د غړو او په هغو کې د محمدداود سره د دوستۍ او ملګرتوب مزي ټينګ کړي دي. له همدې کبله د وخت سياسي ډلو پرچم درباري يا سلطنتي کمونست ګوند باله. غوث الدين فايق د محمدداود له قوله ليکي :« د معلوماتو له مخې ببرک کارمل او اناهيتا د پاچا سره اړيکې ټينګې کړې دي » ۵۲/ ۲۱ همدارنګه د وخت يو ژورنالست زمان ستانزى چې د محمدداود له ډاډمنو کسانو څخه دى اود محمدداود سره يې د هغه د واکمنۍ په وروستى مياشت کې ليدلي او هغه ورته ويلي وو :« ببرک کارمل ته ما وده ورکړه، فاکولتې ته مې ورساوه، د زندان څخه مې آزاد کړ خو دا خاين زما سره خيانت کوي .» ۶/۵۳ سربېره پردې د داود - کارمل د ائتلاف لامل د دواړو د سياسي افکارو نږديوالى هم دى . د محمدداود کودتايي ملګرى محتاط ليکي:«کله چې سردار داود د شوروي خلکو د وطنپالنې په هکله ويل ،د احساساتو لاندې راتللو او د خپلو څرګندونو د پياوړتيا لپاره يې عادت درلود ووايي خداى شاهد دى چې دا خلک څومره د خپل هيواد سره مينه لري. دا جمله د سردار داود تکيه کلام ګرزيدلې وه...، لومړى دا چې د غربي دموکراسۍ نه کرکه لري او هغه د ټولنې لپاره د منلو وړ نه ګڼي. دوهم دا چې په افغاني ډوله شرقي دموکراسۍ باور لري. ټولنيز مالکيت او افغاني فرهنګ. » ۵۴/ ۴۹ ، ۵۱
له پورتنيو څرګندونو څخه معلوميږي چې محمدداود هم د کارمل په څېر شوروي سوسيالستي نظام تائيداوه. د کارمل او محمدداود د اړيکو په ټينګولو کې بهرنى لامل شوروي اتحاد دى. شوروي اتحاد د افغانستان سره دوستانه اړيکې لرلې او زيات شمير متخصصين يې چې بيله شکه په هغو کې د نوموړي هېواد د څارګرې ادارې غړو شتون درلود په افغانستان کې فعاليت درلود.دا ډول اړيکو شوروي اتحاد ته د يوه زبرځواک په توګه دا امکانات ورکړي وو چې يو شمير افغانان وپيري. حتي هغوى په سلطنتي کورنۍ ، کابينه او هغو ته نږدې کسانو کې ژورې ريښې وځغلولې. يو د دغو افرادو څخه کارمل وو .
پربله خوا مسکو د پښتونستان د مسألې په اړه د افغان حکومتونو له دريځه ملاتړ کاوه چې په سلطنتي کورنۍ کې محمدداود د پښتونستان له مسالې سره زياته ليوالتيا لرله.له همدې امله يې کارمل هڅولى دى چې د محمد داود د پاليسيو او په هغو کې د پښتونستان د مسألې سره علاقه وښيي او د پښتونستان د اتحاديې غړيتوب ترلاسه کړي . د محمدداود او کارمل ترمنځ دا ډول نږدې اړيکې د دې ښکارندوى دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوارو شوروي اتحاد ته ځانګړی ارادت درلود ،لدې کبله یې د پوځي کودتا له لارې د پاچاهي نظام د نسکورولو په موخه پټ جوړجاړي ته هڅولي وو او د ۱۹۷۳ کال د جولای په اوولسمه یې خپل پلان پلی کړ. البته شورویانو هغه مهال داود- کارمل وهڅول په کودتا لاس پورې کړي چې صدراعظم موسی شفیق لویدیځ ته د نږدې کېدو په لور ګامونه اوچت کړل.

## د دموکراسۍ لسیزې ته کتنه

د دموکراسۍ د لسیزې د پایښت موده لس کاله څلور میاشتې او اته ورځې وه چې پیلوونکي او ختموونکي یې د سلطنتي کورنۍ غړي وو. د دې معنی دا شي چې دې کورنۍ هم کرل او هم یې رېبل. د دموکراسۍ د لسیزې له بهیراو په تیره د پاچا له کړنو څخه بریښي چې د هغه له انده د مشروطه پاچاهۍ اعلانول او محمدداود د سلطنتي کورنۍ د غړي په توګه د سیاسي فعالیت نه محرومول پر محمدداود به داسې بریښنایي شوک شي چې هغه د بیا خوځښت او درېدو جوګه نشي او پدې توګه د هغه له شره ځان خلاص کړي. خو دې بریښنایي شوک محمد داود په خوځښت راووست کودتا یې وکړه او دا کودتا داسې قوي بریښنایي شوک شو چې د یوې زلزلې په شان یې ټکانونه تردې دمه نه دي دریدلي. که په رښتیا سره د پاچا موخه په هیواد کې د ولسواکۍ ټینګښت وو نو باید چې د دموکراسۍ د ودې لپاره یې هغه ګامونه پورته کړي وای چې په نورو ولسواکه ټولنو کې تجربه شوي وو. خو د سیاسي ډګر څخه د محمدداود د ایستلو پرته د مشروطه پاچاهۍ د ټینګښت په موخه کوټلي ګامونه اوچت نشول. پاچا تمه لرله په هیواد کې د مشروطه پاچاهۍ په ټینګولو سره د سلطنتي کورنۍ د غړو ترمنځ تربګنیو ته د پای ټکی کیږدي او محمدداود غلی کړي. د پاچا له لوري محمدداود ته بریښنایي شوک کومه ګټه ونکړه ، هغه ګواښ چې ترې ببرېده بالاخره داسې حالت غوره کړ چې دی بیواکه کړي.که چیرې په کال ۱۹۶۳ کې د مشروطه پاچاهۍ د اعلان څخه موخه په هیواد کې د ولسواک نظام ټینګښت وو نه دا چې محمدداود له سیاسي ډګره وایستل شي ټولواک ته پکار وو چې د نوي اساسي قانون د پلي کولو لپاره یې له ټولو امکاناتو ګټه پورته کړې وای . د دې نوې تګلارې د بریالۍ ودې لپاره چې د وخت غوښتنه او د هیواد د اقتصادي ـ ټولنیزو ستونزو د حل یوازینۍ چاره وه ټولو ( پاچا ،سلطنتي کورنۍ ، حکومتونو، پارلمان ،مشروطه غوښتونکو، سیاسي ګوندونو او سیاستوالو) ته پکار وو چې د دې بهیر د ودې لپاره یې مټې بډ وهلې وای چې له بده مرغه داسې څه ونشول. ټولو د دې پړاو چې د دې نوي پیل شوي سیاسي بهیر د ودې لپاره هڅې وکړي خپلو سیاسي موخو ته د رسیدو په خاطر یې د هغې څخه د یوې وسیلې په توګه کار واخیست. دلته دي چې شخصي او ګروپي ګټو ته د ملي او وطني ګټو په پرتله لومړیتوب ورکول کیږي.

اوس به د دموکراسۍ په لسیزه کې د ولسواک نظام د ودې، ټینګښت او پایښت په اړه د پورته یادو شوو بنسټونو، سیاستوالو او پاچا دریځ ته ځغلنده نظر واچوو:

۱- ټولواک محمدظاهرشاه : پاچا د قانوني پاچاهۍ د نوښتګر په توګه د دموکراسۍ په وده کې د هرچا په پرتله ټاکونکی رول درلود ځکه چې په نوي اساسي قانون کې ۹۰ مادې پاچا ته لاندې واکونه ورکړي وو:

۱ – د وسلوال پوځ اعلی سرقوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د جګړې او متارکې اعلان.

۳- د لويې جرګې دايرول او پرانيستل.

۴- د شورا د عادي غونډو پرانيستل.

۵- د شورا د فوق العاده غونډې دايرول او پرانيستل.

۶- د شورا انحلا ل او د نويو ټاکنو د فرمان صادرول.

۷- د قوانينو توشيح او د هغو د انفاذ اعلان.

۸- د تقنيني قوانينو صدور.

۹- د دولتونو تر منځ د تړونو د تړلو د اعتبارنامې ورکول.

۱۰- د دولتونو تر منځ د لوزنامو توشيح.

۱۱ - د صدراعظم ګومارل او د هغه د استعفى منل.

۱۲- د مشرانو جرګې د انتصابي غړو او د نومورې جرګې د رئيس ټاکل.

۱۳- د قاضي القضات او د سترې محکمې د غړو ټاکنه.

۱۴- د قاضيانو ټاکنه او تقاعد.

۱۵- په بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان د سياسي نمايندګيو د مشرانو ټاکنه.

۱۶- په نړيوالو مؤسسو کې د افغانستان د دايمې استازو ټاکنه او د بهرنيو سياسي استازو د اعتمادنامې منل.

۱۷- د مجازاتو تخفيف او ښننه .

پاچا ته پکار وو چې د دې واکونو څخه يې د ولسواکی په وده کې ګټه پورته کړې وای او حکومتونه يې هڅولي وای چې د اساسي قانون متمم قوانين او لوايح جوړ، پارلمان هغه تصويب او دی يې توشيح کړي. په نوي اساسي قانون کې د سياسي ګوندونو او غونډو او ولايتي جرګو جوړولو ته اجازه ورکړل شوې وه خو پاچا د پارلمان له لوري تصويب شوي دا قوانين د خپل کار د ميز په جعبه کې بندي کړل. په نړۍ کې داسې هېواد نشته چې د دموکراسی نظام يا پارلماني سيستم ولري او هلته سياسي ګوندونه د قانونی فعاليت حق ونلري. همدا راز د هر هيواد د ملي امنيت د ټينګښت، د انارشۍ د مخنيوي او د دموکراسی د سالمې ودې لپاره د غونډو د جوړولو اړونده قانون او مقرراتو شتون يوه حياتي اړتيا ده. د دموکراسی په لسيزه کې د ګوندونو اوغونډو د جوړولو د قانون په نشتون کې ګوندونو غونډې رابللې، حکومتي ضد مظاهرې يې سمبالولې او لاريونونه يې تر سره کول خو چا نه ترې پوښتل چې تاسو د کوم قانون پربنسټ را غونډ شوي ياست ؟ دې ناقانونه ګوندونو په پوهنيزو بنسټونو کې د تدريس بهير اخلالاوه ، شخړې او جګړې يې سره کولې چې مرګ او ژوبله يې هم لرله خو بيا هم داسې بنسټ نه تر سترګو کيده چې د دې خپلسرو سازمانونو د بنسټ ايښودونکو او د لاريونو او مظاهرو سمبالوونکي د قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګولو ته وسپاري. خبره دې ته رسیدلې وه چې« په ۱۹۷۰ کال کې ببرک کارمل د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې وویل چې ، تردې وروسته به د خلق دیموکراتیک جریان ته د خلق دموکراتیک حزب ویل کیږي ده دغه مطلب په دري او ماتې ګوډې انګریزي ژبو ووایه چې د ده وینا د ولسي جرګې په جریده کې ثبت شوې ده . څرنګه چې ده د قانون ترانفاذ د مخه خپله ډله د حزب په نامه اعلان کړه ، ډیرو وکیلانو داسې فکر کاوه چې دی به د دغه مشهود جرم په وجه تر عدلي او قانوني تعقیب لاندې راسي خو حکومت دغې موضوع ته توجه ونکړه. » ۴۱/ ۱۴۳ د ولایتي جرګو د قانون نشتون د دې لامل ګرزېدلی وو چې ولایتي جرګې جوړې نشي. څرنګه چې د مشرانو جرګې دریمه برخه د ولایتي جرګو له استازو جوړېدله نو لدې امله مشرانو جرګه نیمګړې وه او نصاب یې نه پوره کیده پردې بنسټ د دموکراسۍ د لسیزې د مشرانو جرګې ټولې پریکړې او مصوبې غیر قانوني وې. سربېره پر دې پاچا د حکومت په چارو کې مداخله کوله او د حکومت د مشرانو واکونه یې محدود کړي وو. د پاچا لخوا د حکومت په چارو کې لاسوهنه د محمد یوسف او عبدالظاهر لاندې څرګندوني ثابتوي :« کله چې زه د افغانستان صدراعظم سوم ماهیله درلوده چې پاچا به د حکومت په کارونو کې مداخله ونه کړي خو پاچا د سلطنت مقام دومره کښته کړ چې د حکومت په ټولو کارونو کې یې مداخله کوله .» ۵۵/ ۲۱- ۲۲ «ده د خپلې کابینې د هیڅ یوه غړي څخه خبر نه درلود، یوازې یې د وزیرانو ورکړل شوی لست اعلاناوه.» ۵۶/ ۶۹ پردې اساس ویلی شو چې د دموکراسۍ په لسیزه کې د انارشۍ ، د کابل پوهنتون او پولتخنیک د تدریس د بهیراخلال پېره د هرچا نه زیاته پر پاچا پرته ده. د پاچا دې ډول دریځ ځوانه دموکراسۍ سخته زیانمنه کړه او د دموکراسۍ د نه ودې، د حکومتونو د پرله پسې رنګیدو او د پراختیایي پروژو د نه پلي کیدو او د ټولنیزو ستونزو د نه حل کیدو له لاملونو څخه یو لامل وګرزید.د پاچا نرم مزاج ته په کتو سره فکر کیږي چې د دموکراسۍ ودې ته د هغه نه لیوالتیا د خپلې کورنۍ د غړو د فشار له امله وي.

۲- سلطنتي کورنۍ: د پاچا سربېره د سلطنتي کورنۍ نورو غړو د دولت د درې ګونو قواوو په چارو کې لاسوهنه کوله. د پارلمان په چارو کې د دې کورنۍ د غړو لاسوهنه د محمدآصف آهنګ لاندې مرکه جوتوي :« د دې خلکو یو شمیربیسواده خلک وو ټول فکر یې پدې څرخېده چې سهار له کوره ووزم د دارالامان ماڼۍ ته لاړشم او له سردارولي نه هدایت واخلم او نور یې هغه کسان وو چې د سرداردااودخان پلویان وو او هغوی کارهرج او مرج ته ورساوه ، حتی په شورا کې د شاه ولي خان په لمسون یو شمیر وکیلان و ډبول شول. هغه مهال له یوې خوا خارجي لاسونه داخل شوي وو او له بلې خوا د سردارولي خان او سرداردااودخان بازار تود وو. سرداردااود او سردارولي اصلاً په دموکراسۍ عقیده نلرله او قانون یې نه غوښت ...، ځکه دوی افغانستان هرج او مرج ته یووړ .»۵۷ هغه وخت سردار محمدداود د سردار عبدالولي په پرتله دموکراسۍ ته ژمن بریښېده خو د دموکراسۍ په لسیزه کې د نوموړي د کړنو په هکله ډګرجنرال عبدالرزاق لیکي : «محمدداودخان د مشروطه پاچاهي نظام مخالف وو خو څرګند فعالیت یې نه کاوه بلکې په پټه او د ځمکې لاندې فعالیت یې درلود. په پارلمان کې یې په ګوندونو کې لاس درلود او په هېواد کې یې نا آرامیو ته لمن وهله دا د څو حکومتونو د نسکورېدو سبب شول. »۵۸

۳- حکومت : لکه څرنګه چې لیدل کیږي د دموکراسۍ په کلونو کې اووه حکومتونه او پنځه صدراعظمان ( محمدیوسف، محمدهاشم میوندوال، نوراحمد اعتمادي، عبدالظاهر، محمد موسی شفیق ) یو په بل پسې راغلل. دا بیا ښیي چې د دموکراسۍ د لسیزې حکومتونه پخپله د کړکېچ سره مخامخ وو. د دې کړکېچ کچه دومره ژوره وه چې د انتقالي دورې وروسته د محمد یوسف حکومت څلور ورځې هم دوام ونکړ . پردې اساس د دې حکومتونو څخه د ولسواکۍ د ودې او د ټولنیزو- اقتصادي ستونزو د حل تمه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب او خيال وو. د دې کړکېچ اصلي لامل دا وو چې حکومتونه په پارلمان کې د غښ ګوند يا د ګوندونو د تلوالې پر اساس نه جوړېدل . صدراعظم چې د پاچا له لوري د کابينې په جوړولو موظفېده اړ کېده چې پاچا خپل ملاتړی وګڼي چې د خپل نفوذ له امله د صدراعظم ملا ور وتړي.

۴- پارلمان : ولسي جرګې ته استازو په انفرادي ډول ځانونه کانديدول .« ځينو وکيلانو به په ټوکه ويل چې په ولسي جرګه کې ۲۱۶ حزبونه غړيتوب لري . » ۴۱/ ۱۴۴دې ۲۱۶ تنو استازو هر يوه ځانله خپل ليدلوری درلود.له بله پلوه د هغوی غټه برخه د سلطنتي کورنۍ د ځواکمنو غړو تر اغېز لاندې وه. يوشمير به يا خپل نظريات او يا د خپلو اړونده سازمانونو تګلارې په ولسي جرګه کې مطرح کولې او ځينو به د خپلو سلطنتي يا حکومتي حاميانو د ارادې پربنسټ په پارلمان کې دريځ نيو چې هغه معمولاً پدې راتاويده چې پارلمان داسې قوانين او لوايح تصويب نکړي چې د حکومت اقتدار ته ګواښمن تمام شي. لدې امله د ولسي جرګې عمومي غونډې په جر او بحث تيريدې يا به نصاب نه پوره کيده. په ولسي جرګه کې پرله پسې بحثونه ، د استازو له لورې د خپلو اړونده سازمانونو معرفي کول او د نصاب نه پوره کيدل د دې سبب ګرزيدل چې ولسي جرګه خپلې دندې چې د اړينو قوانينو تصويب او د حکومت د چارو څارنه ده ترسره نکړي چې دا پخپله د ځواني دموکراسۍ د ودې او د قانون د حکومت د جوړولو په چاره کې ستر خنډ وو. د پارلمان او حکومت ترمنځ دا ډول بې باوري او مخامتيا په دموکراسۍ خپل منفي اغيز درلود.

۵- مشروطه غوښتونکي: مشروطه غوښتونکو او سمونپالو له نوي سياسي بهير سره ليوالتيا ونه ښودله . هغوی دموکراسۍ ته د پاچا په ژمنتوب او رښتينولۍ باور نه درلود.له بله پلوه د دموکراسۍ پلي کوونکي هغه کسان وو چې د مشروطه پاچاهۍ مخکې يې د استبداد او اختناق مخينه لرله. نو دا به معجزه وي چې د دموکراسۍ دښمن په دموکرات واوړي. د دموکراسۍ د اعلان سره سم سياسي بنديان چې غوڅ اکثريت يې مشروطه غوښتونکي وو، د بې خوځښته موجوداتو په شان له زندانونو څخه راووتل چې دموکراسۍ ته د مرستې او چوپړ جوګه نه وو او هغوی چې په فزيکي او رواني لحاظ غښتلي وو ليوال نه وو چې پدې لار کې همکاري وکړي. ځکه چې د سلطنتي کورنۍ مخينې ته په کتو سره دموکراسۍ ته د دې کورنۍ په ژمنتوب باور نه درلود. پدې هکله سيدقاسم رښتيا چې د اساسي قانون د مشورتي کمېټې غړی وو کله چې ميرغلام محمدغبار د اساسي قانون په مشورتي کميټه کې د ګډون څخه ډډه وکړه مراجعه وکړه چې هغه پدې کميټه کې ګډون ته وهڅوي په ځواب کې ويلي وو:« حقيقت دا دی چې زه د دغه بهير په رښتينولۍ او د هغو کسانو په صداقت اطمئنان او باور نلرم چې دغه بهير يې منځته راوړی دی. زما په فکر دا هم لکه د سپهسالار د وخت يوه عوام غولوونکې لوبه ده زه نشم کولی او نه غواړم د دغسې ننداري لوبغاړی وم. » ۱۳ / ۱۸۳ همدا رنګه سردار محمد نعيم چې د هرچا نه يې زيات خپل د تره زوی پاچا او د نوموړي سلاکاران ښه پيژندل د پاچا له لوري ولس ته د آزاديو د ورکولو په اړه داسې ويلي وو: « زه د دې مسئلو په هکله کوم ځانګړی نظرنلرم. خو دومره وايم چې هيواد ته دموکراسي او آزادي پدې ډول نه راوړل کيږی . که په رښتيا سره غواړي خلکو ته آزادي ورکړي بايد د زړه له کومې او واقعي وي.» ۱۳/ ۱۸۴ نوي نسل بيا د دموکراسۍ د اصولو هغه پوهه او تجربه نه لرله چې د دموکراسۍ ودې ته اغيزمن تمام شي. د تاجداره دموکراسۍ په هکله د مجروح د دې خبرې سره چې « د سياسي ګوندونو پرته دموکراسي هغه ګاډی دی چې تيل نلري » سليم عقل پوهاوي ته رسېږي. په هېواد کې د قانوني ګوندونو د نشتون له امله د پارلماني سيستم شتون په واقعيت کې هغه ناکامه هڅه وه چې د تيلو پرته ګاډی په خوځښت راولي چې هغه په خوځښت را نغی ځکه چې موټر بېله تېلو په خوځښت نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ـ سیاسي ګوندونه: کله چې په یوه هیواد کې د سیاسي ګوندونو قانون نه وي یقیناً هلته قانوني ګوند نشته. پردې بنسټ د دموکراسۍ په ودې او ټینګښت کې د ناقانونه ګوندونو د اغېز خبره معما او یا ټوکې ته ورته یوه خبره ده. سره لدې هغه مهال ګوندونو شتون درلود او فعالیت یې کاوه خو هغوی هم د لاسته راغلي فرصت څخه په اغیزمن ډول ګټه پورته نکړه بلکې هڅې یې پدې را تاویدې چې یوازې د حکومتونو په تګلارو نیوکې وکړي او د حکومتونو سره خپل مخالفت وښيي . د ګوندونو دا ډول دریځ څلور لاملونه درلودل.

لومړی ـ یو ناقانونه ګوند به څه ډول داسې دریځ ونیسي چې حکومت هغه ځانته ګواښ وګڼي ځکه ترې پوښتل کېږي چې تاسې د کوم قانون له مخې خپل ګوند جوړ کړی دی.

دوهم- ځېنو ګوندونو د پردیو د ارادې او دیکتې له امله په لوی لاس حکومتونو ته ستونزې جوړولې.

دریم- ګوندونه د اړینې سیاسي تجربې د نشتون له کبله د دې جوګه نشول چې ددې طلایي فرصت څخه د حکومتونو او نورو ټولنیزو بنسټونو سره د همکارۍ له لارې دموکراسۍ ته وده ورکړي او د دولت د اقتصادي- ټولنیزو کړنلارو د پلې کولو لپاره مرستندوی شي یا دا چې د متحدې دموکراتیکې جبهې د جوړولو له لارې د یوه ځواکمن سیاسي اپوزیسیون په توګه په حکومتونو فشار راوړي چې د ټولنیزو- اقتصادي ستونزو د لیرې کولو په موخه کوټلي ګامونه اوچت کړي.

څلورم ـ اسلامپالو د خپلو سیاسي او عقیدتي باورونو له کبله د دموکراسۍ مخالف وو او هغه یې غربي پدیده ګڼله . هغوی په لوی لاس نوی دموکراتیک بهیر اخلالاوه.

په کال ۱۹۶۹کې د کابل پوهنتون او پولیتخنیک د شپږ میاشتني تعطیل په اړه د وخت د سیاسي ګوندونو چوپتیا او د اعتراض غږ نه پورته کول د هېواد د ټولنیز پرمختګ په وړاندې بې تفاوتي بربنډوي. هغه مهال هیڅ یوه ګوند پدې اړه د اعتراض غږ پورته نکړاو کله چې ددې عالي تعلیمي مؤسسو د تړلو ګواښ لیدل کیده خپل پلویان یې ونه هڅول چې له مظاهرو لاس واخلي. حکومت پلوه ګوندونو نه یوازې اعتراض ونکړ بلکې هیڅکله یې هم د حکومت د کړنلارو او سیاستونو په دفاع کې خپل پلویان واټونو او کوڅو ته راونه بلل او د پاچا له لوري یې خلکو ته د دې آزادیو د ورکولو په ملاتړ کوم حرکت ونکړ. د دموکراسۍ په لسیزه کې د زرنګار پارک چې د ګوندونو قرارګاه ګڼل کیده د پاچا د سلاکارخلیل الله خلیلی ترمشرۍ لاندې د زرنګار ګوند هیڅکله هم پدې پارک کې را څرګند نشو. لامل یې دا وو چې دا ګوند سلطنت یا حکومت پلوی ونه ګڼل شي او یا دا چې هغه د سلګونو کسانو د راټولولو وس نه درلود یا په بله وینا وګړنیز ملاتړ یې نه درلود. پداسې یوه حالت کې د سلطنت او حکومت هغه مخالف ګوندونه او سیاستوال چې ملي او وطني ګڼو ته ژمن هم وو په ځینو مواردو کې له دې وېرې د حکومت د مثبتو تګلارو په ملاتړ غږ نه را پورته کاوه چې د سیالو ډلو او حتی هغو سازمانونو څخه چې د سلطنت او واکمنۍ سره څرګند اوپټ تعلقات لرل د هغوی له لوري د دولت پلوه سیاسي ګوندونو ټاپې ونه وهل شي. همدې رنګارنګ ګوندونو له یوې خوا پارلمان د خپلو ګوندونو د معرفي کولو لپاره ښه وسیله ګڼله له بله پلوه یې ځان په ټولنه کې د خلکو د خدمتګار په توګه د ثابتولو په موخه د حکومت او سلطنت مخالفت کاوه او په تبلیغاتو کې یې حکومتي او سلطنتي ضد دریځ غوره کړی وو. غیرګوندي وکیلانو هم همدا ډول دریځ درلود.په پارلمان او پوهنیزو بنسټونو کې کله ناکله د سیالو سازمانونو د غړو او پلویانو ترمنځ شخړې ، نښتې او جګړې هم پیښیدلې ککړۍ پکې ماتېدلې او انسانان پکې وژل کیدل خو المتوکل علی الله محمدظاهرشاه په کاریزمیر کې د خپلو ګلانو او د زراعتي فارم ننداره کوله او په هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې د زورزياتی او د ناقانونه ګوندونو ناقانونه کړنو او مظاهرو مخنيوی نه کاوه او په بله خوا يې د هغوی روا غوښتنو ته هم مثبت ځواب نه ورکاوه. د دموکراسی د لسيزې يوه عجيبه ځانګړتيا دا وه چې مخکې به ښاروالیو ته ټاکنې ترسره کيدلې خو په دموکراسی کې به ښاروالان د کورنيو چارو د وزير په امر مقرريدل. د انتخابي ښاروالانو ځخه د سلطنت او حکومتونو وېره لدې ځخه وه چې ملي ګرايان، سمونپالان او کينې اړخې ښاروالان نشي. سيدقاسم رښتيا د خپل کتاب په ۳۰۶ مخ کې پدې اړه په ځانګړې توګه د غلام محمد فرهاد ځخه انديښنه ځرګندوي چې بيا د کابل ښاروال نشي. دلته ليدل کيږي چې حکومتونه د هغه چا او هغه ډلو ځخه وېره لرله چې د ستر افغانستان او په هېواد کې د بنسټيزو سمونونو او بدلونونو په موخه مبارزه کوله.

که چيرې د دموکراسی د لسيزې بهير ته وکتل شي لاندې پايلې ترې راوزي:

- مشروطه پاچاهی ته تګ په هېواد کې د يوه سياسي انقلاب پيل وو که لدې سياسي تحول ځخه ټولو ملاتړ کړی وای د يوه پرمختللی او آباد افغانستان جوړېدل شوني وو .

– د پارلماني نظامونو لرونکو هيوادونو خلاف د افغانستان د۱۹۶۴ کال اساسي قانون دا تشه درلودله چې پاچا د زياتو واکونو ځخه برخمن او صدراعظم د هغو ځخه بې برخې وو.پاچا د ملي حاکميت د ممثل او د دولت د مشر په توګه مکلف نه وو چې د صدراعظم مشورو ته پام را وګرزوي.

– د پاچا له لوري د دموکراسی د نهادينه کولو په موخه د نيمګړو ګامونو اوچتول ، په ځينو مواردو کې بيغوري ، د دموکراسی د ودې او پرمختګ مخنيوی، د پاچا او سلطنتی کورنی د غړو لخوا د پارلمان او حکومتونو په چارو کې لاسوهنې او حتی د خنډونو جوړول.

– د حکومتونو د پرله پسې ړنګيدلو پايله دا کېدله چې د هېواد زياتېدونکې ټولنيزې – اقتصادي ستونزې حل نشي.

- د اجراييه او تقنينه قواوو ترمنځ د همغږۍ او پوهاوي نشتون.

– د خلکو د زياتوغوښتنو او د حکومتونو د کمزورۍ وړتيا ترمنځ ستر واټن.

- د سياسي کړيو ترمنځ د همغږۍ او ګډې همکارۍ نشتون.

پورتنيو ځرګندونو ته په کتوسره د تاجداره دموکراسی ناکامي په دريو ټکو( د سياسي ګوندونو پرته پارلمان ، بې واکه صدراعظمان او ټکني ټولواک) کې خلاصه کېدای شي.

## د جمهوريت ټينګښت

د ۱۹۷۳ کال د جولای په اوولسمه( ۱۳۵۲ کال د چنګاښ شپږويشتمه) د سهار په اوو بجو او شلو دقيقو د کابل راډيو وياند وويل:« اوس به تاسو د سردارمحمد داود وينا واورئ . »محمدداود ولس ته د سلطنت د نسکوريدو او د جمهوريت د ټينګښت زيری ورکړ او دې سياسي بدلون ته يې د چنګاښ (سرطان) انقلاب وواېه . دا بدلون د محمد داود په مشرۍ د سپينې پوځي کودتا په پايله کې را منځته شو. کودتا داسې مهال ترسره شوه چې پاچا ځلور ورځې مخکې د چنګاښ په دوه ويشتمه د درملنې په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلستان ته تللی وو او د کودتا پر مهال هغه د ایټالیا په یوه جزیره کې استراحت کاوه. د پاچا پلویان وایي چې د پاچا سترګه د والیبال د لوبې پرمهال خوږ شوې وه .پربله خوا بیا د پاچا د یوه موټروان له قوله«ملکي د کومې موضوع په سر په هغه باندې د بیاتي په وارکولو سره د هغه سترګه زیانمنه کړې وه .» ۱/ ۳۱ د دې کودتا ځانګړتیا پدې کې ده چې ټاکونکی رول پکې په ارګ کې د پرتې شاهي فرقې د ټانک ټولي او د سلطنتي کورنۍ غړي محمدداود ولوباوه.دا د دې معنی لري چې کودتا د سلطنتي کورنۍ د غړي له لوري او له ارګ نه پیل شوله. کودتا بیله کوم مقاومته د شپږو- اوو تنو انساني تلفاتو په لرلو سره چې یوازې دوه تنه په ډزو کې او نور په ترافیکي پېښو کې ووژل شول د محمدظاهر څلویښت کلنې پاچاهۍ ته د پای ټکی کېښود.په وژل شوو پوځیانو کې د کودتا مرکزي لوبغاړی لومړی بریدمن حبیب الله زرمتي د ارګ د ټانک د ټولي کفیل هم شامل وو. هغه د کودتا د بري د اعلان وروسته د کابل سیند ته د نوموړي ټانک د لوېدو له امله ووژل شو. کودتا داسې پلان شوې وه چې د چنګاښ د ۲۶ د شپې په یوه نیمه بجه به د تورن فیض محمد ( د بالاحصار د کوماندو د قطعې د حرکاتو آمر ) په مشرۍ کوماندویان د ارګ جنوبي دروازې ته ځانونه رسوي او دروازه به عبدالرشید ځدران چې په همدې دروازه کې دنده لرله او د تورن پاچاګل وفادار له لوري کودتا ته جذب شوی وو پرانیزي ، کوماندویان به ارګ ته ننوزي او دا مهال به د ټانک ټولی د حبیب الله زرمتي په قومانده په خوځښت راځي چې څلورچین (عرادې) ټانکونه به د محمداسلم وطنجار په مشرۍ په ارګ کې د شاهي فرقې د خوځښت مخنیوی کوي او شپږ ټانکونه به د کوماندو د یوه یوه بلوک سره ګډ د لومړۍ او دویمې منتظره قطعې چې وضع الجیش یې د ارګ ختیځ ته د پخواني زاړه ګمرک په ودانۍ او د دهمزنګ د محبس تر څنګ قرار درلود د خوځښت د مخنیوي په موخه استعمالیږي. د کوماندو نور پرسونل به د ښاري انضباط د ټولي په مرسته چې قوماندان یې لومړی بریدمن احمدضیا مجید د اردو د استخباراتو د رئیس زوی د نورو کودتایي افسرانواو وړوضابطانو سره ګډ چې د ښار په مختلفو ځایونو کې ځای پرځای شوي وو جګپوړي پوځي او ملکي چارواکي نیسي او موقتي توقیف ځای په کارته پروان کې د کابل د میوندوات د ترافیکو د افسر عبدالقدیر نورستاني کور ته لیږدوي. همدارز د خواجه رواش او بګرام په هوایي ډګرونو کې د قوماندانانو د نیولو لپاره د هوایي اوهوایي مدافعې کودتایي افسران او واړه ضابطان ګومارل شوي وو. د په نښه شویو لوړ پوړو ملکي او پوځي مشرانو او قوماندانانو د نیولو وروسته به د څلورمې او پنځلسمې زغروه والو قواوو ټانکونه او زغره وال ګاډي د ښار په څلورلارو او مهمو سیمو کې ځای پرځای کیږي او جنګي الوتکې به د کابل ښار او د هغه شاوخوا نمایشي پروازونه ترسره کړي. سربیره پردې یوه ډله د مرکزي اتومات ټیلیفون د فعالیت د شنډولو په موخه ګومارل شوې وه.کودتاچیانو د سهار تر پنځو بجو پورې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړې. یوازې د سردارعبدالولي په استوګنځي د حبیب الله زرمتي ټانک یو ډز وکړ چې د دې ډز وروسته سردار توپانچه په لاس د پاچاګل وفادار له لوري ونیول شو. همدا راز د ټانک یو ډز په ارګ کې په شمالي برج شوی چې د برج یوه برخه یې ونړوله . په کودتا کې د ګډون کوونکو ستره برخه د هوایي او مدافعې هوایي او د ټانک د قواوو اړونده پوځیان وو.ګڼ شمیر یې د شوروي اتحاد د پوځي اکادمیو فارغان وو. کودتاچیان د مختلفو اندونو خاوندان وو خو ډیری یې د ا، خ، د، ګ د خلق او پرچم له ډلو سره اړیکي لرلې یا یې مینه وال وو. د راډیو له لارې د سلطنت د نسکوریدو د اعلان وروسته په هیڅ یوه پوځي بنسټ کې د ولایاتو په شمول د پاچا په ملاتړ څوک ونه دریدل. د کابل ښاریانو د خوښیو په ښودلو سره د کودتاچیانو هرکلی وکړ چې د خپلو ټانکونو او زرهپوښونو سره د ښار په ګوټ ګوټ کې ځای پرځای شوي وو. لومړۍ جنګي الوتکه چې هوا ته والوتله پیلوټ یې په ګاګارین مشهور خلقي جګړن میرغوث الدین خوستی وو. همدا راز لومړۍ چورلکه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کودتا په شپه د کابل د هوايي ډګرڅخه د بګرام هوايي پوځي ډګر ته والوتله ترڅو د نوموړي ګارنيزيون نيول شوي مشران راوړي پيلوټ يې خلقي اسدالله سروري وو. هغه مهال د پاچا په وړاندې نارضايتي لوړې کچې ته و رسيدله چې د هيواد په لويديځ کې د وچکالی له امله ګڼ شمېر خلک مړه او د کابل په شمول د هېواد نورو ښارونو ته کډه شول. د وچکالی ځپلو خلکو ربړوونکی حالت لدې نه جوتيږي چې هغوی اړ شوي وو خپل اولادونه د توکو په شان وپلوري. هغه مهال « د افغانستان په لويديځ کې ملايانو د لمانځه وروسته د پاچا د نسکوريدو لپاره دعاوې کولې.» ۳۲/ ۱۳ لدې کبله ولس لدې سياسي اوښتون څخه هرکلی وکړ اوهيله يې لرله چې نوې واکمنی به په دولت کې شته ناخوالو( فساد، رشوت ، بې عدالتی او بې قانونی) او په ټولنه کې وزګارتيا او فقر ته د پای ټکي کيږدي يا لږترلږه پدې لار کې د ګامونو د اوچتولو شاهدان وي. جمهوريت غوښتونکو او مترقي کړيو د نوي انقلابي دولت له مشر څخه دا تمه لرله چې هغه به په عمل کې د نوموړي په خبره د «قلابي دموکراسی» پرځای «واقعي دموکراسی» ته د تللو زمينه برابره کړي د هيواد د رکود، سکون او جمود واکمن حالت په خوځښت راولي او جمهوريت به ټينګ کړي.

## مصيبت جوړوونکی بری

د اماني دولت له نسکوريدو وروسته افغانان د حبيب الله کلکاني د وحشت او د يحيی د کورنۍ د استبداد شاهدان پاتې شوي وو . له همدې امله کله چې شاه محمودخان خلکو ته د آزادې ساه کښلو ،د خپلو روا غوښتنو د څرګندولواو د سازمانو او ټولنو د جوړولو امکان ورکړ هغه ته يې د دموکراسی د پلار لقب ورکړ. خو وليدل شول چې د دې نوې وضعيت د پايښت موده لنډه وه او د صدراعظم په توګه د محمد داود د راتلوسره سم بيا هماغه پخوانی استبداد د دوی د خاورينو کورونو نابللی ميلمه شو ، خولې يې ور وتړلې او د دموکراسی او د مشروطيت د لارې د مبارزانو څخه نمجن زندانونه بيا ډک شول. د محمد داود د ګوښه کېدو او د مشروطه پاچاهۍ په راتلو سره بيا ولس د دې اوښتون څخه خوښي څرګنده کړه او هغې ته يې تاجداره دموکراسي وويله. دا بيا ښيي چې افغان ولس د خپلو واکمنو څخه يوازې دا هيله لرله چې دوی ته لږ ترلږه د آزادې ساه کښلو او د خپلوهيلو او غوښتنو د بيانولو حق ورکړي. د دې هيواد واکمنو افغانان پداسې توره تياره کې ساتلې وو چې ددې واقعيت د درک وړتيا يې نلرله چې حکومتونه يې مسوليت لري دوی ته د کار او زده کړو زمينه برابره کړي او د کار د نه لرلو له کبله دومره څه ورکړي چې له لوږې مړه نشي. د دموکراسی په لسيزه کې د سياسي ګوندونو د فعاليت، د بيان آزادی او د آزادو رسنيو د خپرونو مثبته لاسته راوړنه دا شوه چې د ولس لوستي برخه پدې وپوهيږي چې حکومتونه يې دا مسئوليت هم لري چې د نړۍ د نورو پرمختللو ټولنو په شان ورته د ژوند او کار شرايط چمتوکړي. د سرطان انقلاب څخه يې هرکلی او د جمهوريت څخه يې ملاتړ په همدې ټکي کې نغښتی وو. ځکه چې د سلطنت له نسکوريدو او د انقلاب د برې په مناسبت د محمداود وينا په دوو برخو ويشل شوې وه : لومړۍ برخه يې د دموکراسۍ د لسيزې انځور کښلو ته ځانګړې شوې وه او دوهمه يې د نوي انقلابي دولت د موخو بيانول وو. د انقلاب لارښود « د دموکراسۍ لسيزه قلابي دموکراسي ، د سلطنت سياست يې عوامفريبانه ،غيرعادلانه او ملي ضد » وګاڼه او د انقلابي دولت موخې يې « د جمهوريت ، رښتيني او معقولې دموکراسی ټينګښت ، د خلکو د حقوقو خونديتوب او د افغانستان اکثريت خلکو ته خدمت » اعلان کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمهوري نظام په راتلو سره خلک نه دا چې د جمهوريت ، رښتيني او معقولې دموکراسۍ د ټينګښت شاهدان نه وو بلکې د پاچا د واکمنۍ پرمهال جوړشوی پارلمان منحل، آزادې رسنۍ تعطيل، د بيان آزادي او سياسي فعاليتونه منع او د سياسي مخالفينو د ځپلو تکلاره غوره شوه. په بهرني سياست کې د دوديز ناپيلي سياست پرځای يوه اړخ ( سوسيالستي سيستم) ته د ښوئيدو او بل اړخ( پانګوال سيستم ) په مخالفت کې دريدلو ته لومړيتوب ورکړل شو. دا ډول کړنلاره د دې لامل شوه چې د نوي نظام مخالفې ډلې او د هغو نړيوال حاميان منفي غبرګون وښيي او پايله يې په هيواد کې د امن او ټيکاو له منځه تلل،د کودتا ګانو او کودتايي هڅو پيلېدل، د ښورښونو او بلواوو پيښېدل، د ترور او اختناق واکمنېدل، د هيواد په کورنيو چارو کې د پرديو لاسوهني او افغانستان د زبرځواکونو د سياليو او کشمکشونو په ډګر واوړي. د داسې يوه حالت واکمنيدل ګڼ شمير لاملونه لري خو په هغو کې پخپله د نوي نظام د مشرځانګړتياوو او د هغه د مؤتلف ( پرچم) نقشو ټاکونکی رول درلود. د جمهوري دولت د کابينې غړی غوث الدين فايق د نوي انقلابي رژيم مشر داسې را پېژني : «د هيواد نوميالی دولتي شخصيت، د هيواد د تاريخ نابغه، پوه ، نوښتګر، د وطن رښتينی او سرشندونکی بچی، د عدالت ، دموکراسۍ او د ترقۍ او پرمختګ الهام ورکوونکی، د پاکۍ او تقوا بيلګه، د وطن خادم » او دا هم پرې اضافه کوي :« د سپين انقلاب په بري سره محمد داود خان ته د اجل پيک راورسيد چې سترګې يې د حقايقو د ليدو څخه ړندې او غوږونه يې د حقيقت له اوريدو څخه کاڼه شوي وو او د دوست او دښمن ، صادق او خاين د درک او پيژندلو نه عاجز پاتې وو، ده ته د وړتيا او لياقت معيار غوړه مالي او ستاينه وه، د همدې خوشباوريو او د ظواهرو ليدل وو چې زموږ هيواد د روسي لښکر او د انګريزانو د نوکرانو او غلامانو د بريدونو موخه وګرزيد... ، خودکامه، ديکتاتور مشرب او مستبدالرآی محمد داود د دې پرځای چې خپلوخانداني دوستانو او د پوهې او نظر خاوندانو ته مراجعه وکړي د خپل قبرکيندونکو څخه يې کابينه ترميم کړه...، د غوراوي کمزورۍ او خوشباورۍ داودخان ځان د مرګ پولې او هيواد تباهۍ ته يووړ.» ۵۲/ ۸۴ ، ۱۳۷ ظاهرشاه د خپل د تره زوی په هکله وايي :« خلک شته چې دوست لټوي او خدمتګار لټوي او خلک هم شته چې غلام لټوي. داودخان د هغو کسانو څخه ووچې غلام يې لټولو. داودخان ځانغوښتونکی وو هيڅکله خپل وطن ته د خيانت په فکر کې نه وو.»۵۹ د داودخان د بې کچې ځانغوښتنې څخه فرصت غوښتونکو ، غوړه مالانو او په پرديو پورې تړلو وګړو ګټه پورته کړه .په جمهوري دولت کې د غلام حيدر رسولي او عبدالقدير نورستاني په څيرکسان د دوو کليدي وزارتونو مشرتابه ته ورسيدل چې يو يې صوفي مشربه چرسي او بل په فحشاء او بډو اخستلو روږدی وو. پورتنيو څرګندونو او د کودتا وروسته د هيواد ترينګلو حالاتو او د استبدادي واکمنۍ ټينګېدو ته په کتنې سره ويلی شو چې د چنګاښ د شپږويشتمې انقلاب برى هيواد ته يو مصيبت جوړوونکی برى شو. د محمدداود په وطنپالنه، تقوا او پاکۍ کې شک نشته. د نوموړي د ويناوو ،مرکو او ځينو ګامونو د اوچتولو څخه بريښي چې هغه د افغانستان د آبادۍ او ښيرازۍ ، د ولس د سوکالۍ او نيکمرغۍ لپاره ښه نيت درلود . خو تاريخ د سياستوالو او واکمنانو د پلانونو، نقشو او نيتونو پرځای د هغوی په عملي کړنو او د هغوی د کړنو په پايلو قضاوت کوي. د۱۹۷۳ کال د کودتا وروسته بهيرونو او پيښو وښودل چې د واکمنۍ تګلارې ناسمې او پايلې يې هيواد او ولس ته بدمرغۍ راوړې. دا ځکه چې له کودتا وروسته په هيواد کې په سياسي او مدني آزاديو بنديز ولګيد ،پوځ سياسي شو، د هيواد سياسي ټيکاو زيانمن شو، د هيواد په کورنيو چارو کې د پرديو لاسوهنې پيل شوې ، د کودتاګانو ،کودتايي هڅو او اړودوړو لړۍ پيل شوه، د سياسي مخالفينو د ځپلو لارغوره شوه او ترور او اختناق واکمن شو. په يوه هيواد کې د دا ډول حالت واکمنيدل د يوه ملت لپاره د مصيبت پرته بل څه نشي کيدای. که چيرې د چنګاښ انقلاب برى او د دې سياسي اوښتون پايلې په يوه کربښه کې را ونغاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلی شو چي هغه د افغانستان لپاره يو مصيبت جوړوونکی بری شو دا ځکه چي هيواد د سرې جګړې په تاوده ډګر واوښت ، د نا امنيو، جګړو او کډوالی لړی پيل شوله ، ميليونونه افغانان شهيد او معلول شول ، د سرې جګړې د اصلي لوبغاړو پوځونه يو په بل پسې دې خاورې ته راننوتل او هېواد اشغال شو.

## تر ارګه يارانه

محمدداود پخپله لومړی وينا کې« د سلطنتي رژيم سياست غيرعادلانه او ملي ضد» اعلان کړ او د خپلي کودتا د موخې په اړه يې وويل چي« د هيواد د راتلونکي نيکمرغۍ لپاره ، د جمهوريت او ربنتيني او معقولې دموکراسۍ جنډه پورته کړله چي د افغانستان اکثريت خلکو ته د خدمت پربنستې ولاړه وي.» عجيبه دا ده داودخان د سلطنتي رژيم سياست ملي ضد ګڼي چي دی د سلطنت له لوړپوړو ( د قول اردو قوماندان ، وزير او صدراعظم ) وو. آيا دی د سلطنت د ملي ضد سياست پلي کوونکی نه وو؟ ده په خپلې دې ادعا سره ځان ملي ضد معرفي کړی دی چي د ملي ضد سياستوال سزا زندان او مرګ ده نه دا چي بيا هم دا ملي ضد سياستوال پر هېواد واکمن شي . په هرصورت که چيرې د کودتا په درشل کې د افغان ولس ژوند او د هېواد حالاتو ته ځيرشو خلک د بيساره اقتصادي ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګريوان وو او په هيواد کې يې بدلون او سمون غوښت.هغو پوځيانو چي د هيواد د نيکمرغه راتلونکې په خاطر د شاهي رژيم د نسکورولو په موخه د سر او ځان ښخه تېرېدو ته چمتو شوي وو د هغوی دا احساس او مېړانه د ستايني وړ دي. هغوی د خپل سراو ځان او کورنيو ژوند ته د ګواښونو په منلو سره د شپې په تياره کې د يوې روښانه راتلونکي په هيله په کودتا لاس پورې کړ. هغوی د١٩٧٣ کال د جولای د اوولسمې نيټي پاڅون ته ګواښمنه لار وهلې وه او د پاڅون په شپه يې خپله دنده په ښه توګه تر سره کړله . پاڅون ته د چمتووالي پړاو د دوی د ټينګې ژمنتيا ، ربنتيني ملګرتيا او کلکې ياراني او د کودتا په شپه اتلولي د سرښندني غوره بيلګه وه. که څه هم پوځي لوړې او اساسي قانون ته شا ګرزونه يې د منلو وړ نه ده. خو کله چي د کودتا لاربښوونکي ارګ او واک ته ورسيدل ملګرتيا او يارانه يې ختمه شوه ، خپلو ژمنو ته يې شا کړه او د يو بل په وړاندې ودريدل. د کودتا د دوو اصلي لوبغاړو داود او کارمل تر منځ د ياراني مزي هغه مهال سست شول او« د داودخان د جمهوريت په دولتي دستګاه کې درز هغه وخت پيدا شو چي د کرني وزير جيلاني باختري په څرګند ډول پخپل وزارت کې د جمهوريت په تاسيس کې د کارمل د مشرۍ رول لوړ وګڼه .» ١٧/ ٣٨۶ د باختري دې افشاګرۍ د دوو ائتلافي ملګرو اړيکي بې خونده کړې دا ځکه چي محمدداود نه غوښتل خلک د پرچم سره د ده د پټ جوړجاړي او ملګرتيا څخه خبر شي. د جمهوريت لوبغاړو نه دا چي د جمهوريت ، ربنتيني او معقولې دموکراسۍ جنډه پورته نکړله بلکې « قلابي دموکراسي » يې هم نشوای زغملی. د جمهوريت د لوبغاړو د دا ډول دريځ نه ښکاري چي هغوی پوپوليست او عوام غولوونکي سياستوال وو د جمهوريت او ولسواکۍ سره په بشپړه توګه پردي وو او له بلې خوا د هغوی ملګرتيا او يارانه يوازې تر ارګه پورې وه . که چيرې د لسګونو پوځيانو سپيڅلو احساساتو او نيتونو ته وکتل شي هغوی سترو انساني موخو ته د رسېدو په هيله ځانونه وقف کړي وو خو مشرتابه يې نور پلانونه لرل او د پوځيانو د احساساتو او ژوند سره يې لوبې کولې. د سرطان انقلاب د مشرتابه ، يا د هغه د يوې برخې او يا ځانګړې ډلې په پټو موخو او نيتونو پوهيدل ستونزمن دي. خو په زغرده ويلی شو چي د سرطان د انقلاب لوبغاړي يو موټی ټيم نه وو او د يوې ګډې روښانه کړنلارې څخه بې برخې وو. دا ټيم يو نامتجانس ترکيب وو چې په هيڅ صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترپایه د ګډ فعالیت جوګه نه وو. د انقلاب لاربنود( محمد داود) هم په خپلو یارانو باور نه درلود او د هیواد راتلونکي ور ته تیاره بریښېده. د نوموړي ددې خبرې نه چې د کودتا وروسته یې جنرال نذیرکبیرسراج ته کړې وه:« موږ دا کار وکړ. دا چې څه کیږي ؟ نه پوهیږم.» معلومیږي چې د انقلاب لاربنود ته د هیواد راتلونکي ناڅرګنده بریښیده. نوموړی د کودتا د بري وروسته چې د هیواد مطلق العنان مشر وو پدې نه پوهیده چې په هېواد کې به څه پیښ شي دا د دې معنی لرله چې هغه ته هم پوځي کودتا او هم د کودتا وروسته بهیر د قیمار یوه ناڅرګنده لوبه بریښیده او نه پوهېده چې دا لوبه به وګټي یا و بایلي. پدې کې شک نشته چې د پوځي کودتاګانو برخلیک د قیمار د لوبې په شان ناڅرګند وي. خو کله چې کودتا د کوچني مقاومت او مخالفت پرته بریالۍ شي بیا هم د کودتا مشر ټکنی بریښي ، اندیښمن وي او پدې نه پوهیږي چې څه به کیږي دا د خواشینۍ وړ یو تریخ واقعیت دی. د محمد داود دا اندیښنه د هرڅه نه مخکې د هغه د کودتایي ملګرو د سیاسي او عقیدتي اختلافونو او د کودتایي ټیم د نه وړتیا سره تړاو درلود. دې ټیم په یوه مسئله کې د نظر یووالی درلود چې هغه د نظام رانسکورول او واک ته رسیدل وو. خو د نسکور شوي نظام د بدیل د څرنګوالي، د دولت د لاربنوونې، د هېواد د اقتصادي- ټولنیزو ستونزو د حل او د ټولنې د پرمختګ لپاره او د نورو سیاسي ډلو سره د تعامل کوم ګډ پلاتفورم او پروګرام نه درلود. دا بیا ښیي چې کودتا چیان په ورانولو پوهېدل خو په جوړولو نه پوهېدل.لدې امله ویلی شو چې د جمهوریت چارواکي ورانوونکي وو نه جوړوونکي. د کودتاچیانو بې برنامګي او د یوې ګډې تګلارې نشتون لدې نه ښه جوتیږي چې د کودتا د بري وروسته محمدداود د پرچم له مشرتابه څخه غواړي چې ور ته د دولت کړنلاره جوړه کړي. تګلاره هم مسکو ورته جوړه کړله. له همدې کبله واک ته په رسېدو سره دا د مختلفو او مخالفو اندونو کودتایي ټیم د ملګرتیا پړاو ختم او د مخامختیا او د یوبل د بې اغېزه کولو او حذفولو پړاو پیل شو. دا دواړه پړاوونه په واقعیت کې د هیواد د بې ثباتۍ او د رواني غمیزې پیلامه شوه. لومړی پړاو لدې امله د رواني غمیزې پیلامه ده چې پدې زماني پړاو کې د هغې ځواني دموکراسۍ د له منځه وړلو په موخه چمتووالی نیول کیده او ورته ستونزې جوړولې چې هېواد یې د یوه ولسواک نظام په لور خوځاوه . البته چې دې دموکراسۍ د عیبونو او نیمګړتیاوو سره سره شرایط یوې مدني ټولنې ته هوارول ځکه چې د هېواد سیاسي کړیو او سیاستوالو واک ته د رسېدو په موخه سوله ئیزه سیاسي مبارزه پرمخ وړله او د سیاسي مبارزې فرهنګ نهادینه کېده. انقلابیونو ته پکار وو چې د دموکراسۍ د لسیزې د منفي اړخونو سره مبارزه کړې وای او مثبتو اړخونو ته یې وده ورکړې وای. که چیرې نویو چارواکو د هېواد د آبادۍ او د ولسونو د سوکالۍ او د دموکراسۍ د ودې او ټینګښت په موخه عملي ګامونه اوچت کړي وای ښایي تاریخ د دوی کودتایي ناقانونه اقدام نه وای محکوم کړی. خو کله چې دوی واک ته ورسیدل هغو ژمنو ته یې شا وګرزوله چې د کودتا د بري په لومړۍ ورځ یې خلکو ته ورکړه. د خواشینۍ وړخبره لا دا ده چې دوی د پخوانیو واکمنو په څیر د نظام د سمون ، د قانون د واکمنۍ ،خلکو ته د خدمتونو په رسولو او د هیواد د آبادۍ په چاره کې ډیر لږڅه وکړل او د سیاسي مخالفینو د ځپلو تګلاره یې غوره کړله . لدې امله دوهم پړاو د لومړي پړاو منطقی ادامه ګڼل کیږي چې د ټیکاو له منځه تللو، د ترور او اختناق واکمنیدو او د هېواد په کورنیو چارو کې یې د پردیو لاسوهنو ته لار هواره کړله .دا شونې نده چې د افغانستان په شان یوه وروسته پاتې ټولنه کې داسې واکمن ټیم د ګټور او اغیزمن فعالیت جوګه شي چې په هغه کې کیڼ لاسي او ښی لاسي، ملتپالان او انټرناسیو نالستان او حتي د سیاست او حکومتولۍ د الفبا څخه بې خبره څیرې شتون ولري. ژوند هم وښودل چې د واک په هما غه لومړیو ورځو کې د انقلابي واکمنو ترمنځ د دوستۍ او ګډ کار مزي وشلیدل او د مخامختیا پړاو پیل شو او د دې مخامختیا پیلامه د دفاع وزارت د بنسټ د مشرتابه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هکله وه. د کودتا مشر د انقلاب په دوهمه ورځ جنرال خان محمد مرستيال د دفاع وزارت د سرپرست په توګه وګومارلو. عجيبه داده چې مرستيال د کودتايي جګتورن غوث الدين فايق له لوري د دفاع وزارت د قرارګاه جنرالانو او لوړرتبه افسرانو ته ور وپيژندل شو. مرستيال په کار پيل وکړ او په هماغه ورځ د انقلاب لارښود نومړي وروغوښت او ور ته و يې ويل:« فعلاً تاسو کور ته ولاړشئ زه تاسو بيا راغواړم.» د محمدداود پلويان پدې اړه وايي چې مرستيال په خپل سر د دفاع وزارت ته تللی وو او ځان يې د دې بنسټ مشر نومولی وو. د محمدداود ديکټاتورانه اومستبدانه کرکتر ته په کتو سره مرستيال دا جرآت نه کاوه چې په خپل سر د وزارت څوکۍ غضب کړي. خو د داودخان د پلويانو د دې ادعا ناسموالی د کودتا برخوال ناسم بولي ځکه هغه په خپل کتاب کې راوړي چې محمدداود ده ته دنده وسپارله چې مرستيال د دفاع وزارت د سرپرست په توګه د دفاع وزارت د قرارګاه منسوبانو ته ور وپيژني او هغه دا کار ترسره کړ. د دفاع وزارت د سرپرست په توګه د مرستيال ګومارل او په همغه ورځ يې بيرته ګوښه کول د ماشومانو لوبې ته ورته يوه لوبه وه او له بله پلوه ښيي چې د محمد داود د مؤتلف او يا کوم بل مرکز چې د مرستيال ټاکنه ورته د منلو وړنه وه محمدداود اړايستلی چې خپله پريکړه نه دا چې بېرته واخلي بلکې وروسته هغه دې ته هم اړباسي او يا داسې اسناد ورته برابرکړي چې مرستيال د محمدهاشم ميوندوال د کودتا په تور زنداني او له منځه يوسي. ويل کيږي چې د ميوندوال د کودتا په تور نيول شوي کسان د محمد داود پخواني دوستان وو. دا بيا د دې واقعيت څرګندوی دی چې د محمد داود مؤتلف هڅې پردې را څرخيدلې چې د دولت مشر تجريد کړي.دا چې محمد داود جنرال نذير کبير سراج ته دا خبره کړې وه چې نه پوهيږي څه به کيږي د خپل کودتايي نامتجانس ټيم د سيالي برخې د څرګندو فشارونو او مخالفتونو او دده د ډلې د نه وړتيا له امله وو او راتلونکې ورته ناڅرګنده برېښېده ،خپله ېبوسي يې ليدله چې کوم پياوړی کاري ټيم او منظم سياسي سازمان نلري ترڅو د دولت د چارو لارښوونه وکړي. داسې معلوميږي چې هغه د کودتا وروسته د پېښو او بهيرونو سره سم خپلې کړنې عيارولې او د هغو په وړاندې يې غبرګون ښود چې دا ډول چلند د ناوړه پايلو پرته بل څه هېواد ته نه راوړل. د داودخان په کودتايي ټيم کې داسې وګړو شتون درلود چې کره وړه يې د دولتي ارګان د چلولو او اداره کولو په چارو کې ستونزې او خنډونه رازيږول او د دولت او نظام اعتبار ته نه منونکی زيان رساوه. څرګنده بيلګه يې سردار غلام حيدر رسولي د دفاع وزير دی. د رسولي په اړه يې يو کودتايي ملګری ليکي: « د هغه اصلي نيمګړتياوې د هغه په هغو بيځايه هلوځلو کې وې چې د هغه د کړو وړو نه را پيدا کيدې ، ځکه چې هغه له هرډول وګړو لکه پير، شيخ ، غله ، داړه مار، فال ليدونکي او قاچاقبرانو سره نامناسبه اړيکې لرل او غوښتل يې په کودتا کې د دې ډول خلکو يو ځواک جوړ کړي. » ۵۴/ ۱۲۷ دا بيا ښيي چې د کودتا دا اصلي کړی او بيا د دفاع وزير بايد پرڅه ډول څيرو پانګه اچولې وي چې هغوی د واکمن نظام نسکورولو ته چمتو کړي او وروسته يې بيا د دفاع وزارت او پوځي قطعاتو د لارښوونې په موخه ګومارل. بيله کومه شکه په دولتي ارګانو او په تيره د امنيتي بنستونو په مشرتابه کې د دا ډول کسانو شتون دولت له سختو ننګونو سره مخامخوي . محمدداود د انقلاب څخه دوه کاله وروسته د۱۳۵۴ کال د چنګاښ په يودېرشمه د جمهوريت د مرکزي کميټې په يوه غونډه کې ويلي وو: «ملګرو! ما د خپلو ماموريتو په دوره کې دومره رنځونه او روحي فشار ندی ليدلی چې پدې لنډ وخت کې وليدل. نه پوهيږم چې ددې ډله بنديو او اختلافونو لامل څه دی؟ نن مې پريکړه کړې ده چې د ملامتو کسانو په هکله پريکړه وکړم. لدې امله تاسو ته د الهي کلام او د ناموس او شرف په مقدساتو قسم درکوم چې د اختلافاتو لاملونه او حقايق هرڅه چې وي او په هر چا پورې چې تړاو لري د نارينه وو په شان ووايي. » ۵۲/ ۱۲۰ د محمدداود د پورتنۍ څرګندونو په هکله بايد وويل شي چې د انقلابي ائتلافي دولت د اختلافونو د ګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیر لاملونو سربیره د هغه د یوه متشکل اړخ سنجول شوو ګامونو اوچتول وو چې مقابل سیال اړخ کوم چې جمهور رئیس یې په مشرۍ کې ولاړ وو یوموټی نه وو له بله پلوه د هغه په ترکیب کې خورا کمزوري ، د مختلفو اندونو خاوندان او غوړه مالان ترسترګو کیدل چې د خپل ابتلافي سیال په وړاندې د سیالی او دریدنې جوګه نه وو. کله چې جمهور رئیس پریکړه وکړه چې د یوه سیاسي سازمان بنسټ کیږدي د هغو معماران یې بیا هم همدا کمزوري لوبغاړي چې یوازې ده ته د وفادارۍ سینه ډبوله وګومارل چې د همدې نامتجانس ټیم یوې برخې د ولسمشر لدې غوراوي سره مخالفت وکړ او بیا د دې ګوند د جوړولو بهیر هم په ټپه و دریږد.

محمد داود ته د یوه باتجربه سیاستوال په توګه پکار وو چې په یوه ناقانونه کار ( کودتا) یې لاس نه وای پورې کړی او کله یې چې دې کار ته ملا وتړله نو بیا یې پداسې یوه پیاوړي ټیم ډډه لګولې وای چې ګډ سیاسي او فکري اعتقادات یې درلودلی او په هغه کې د ژمنو او پوهو کسانو کمی نه وای. د دې ډول ټیم پرته په یوه ستر سیاسي اقدام لاس پورې کول چې د هېواد او ولس برخلیک ورسره تړلی دی یوه ستره او نه بښونکې تیروتنه وه. داسې ښکاري چې د۱۹۷۳ کال د پوځي کودتا لارښود د دې پرځای چې د ګډو فکري او عقیدتي باورونو یو پیاوړی ټیم جوړ کړي. د پاچا څخه د غچ اخیستلو او واک ته د رسېدو په موخه په یوه کمزوري ټیم ډډه و لګوله. سربیره پردې محمد داود بیله دې چې د خپلو کودتایي ملګرو پوهه ، تجربه او وړتیاوې په پام کې ونیسي له ځان او جهان بیخبره حبیب الله کلکاني او یا تنکي ځوان المتوکل علی الله محمدظاهر شاه په شان د« توکل په الله» په ویلو سره د واکمن نظام د نسکورولو په موخه په پوځي کودتا لاس پورې کړ او پایله یې په هیواد کې د سیاسي ټیکاو له منځه تلل او افغانستان د پردیو د لاسوهنو، کشمکشونواو سیالیو په ډګر واوړي.

## پوځي بنسټونو ته د ګوندونو ننوتل

د۱۹۷۳ کال د چنګاښ د انقلاب د بري وروسته په کودتا کې ګډون کوونکو پوځیانو ته د لوړو دولتي څوکیو سربیره دوې دوې فوق العاده ترفیعګانې هم ورکړې او ځینو نورو ته چې د کودتاچیانو سره یې راشه درشه لرله یوه یوه ترفیع ورکړه. پدې ډول په پوځ کې ټیټ پوړي په جګپوړو او جګ پوړي په ټیټ پوړو یا په بله خبره مادونان په آمرانو او آمران په مادونانو واوښتل. د کودتا پرمهال لیکوال په حربي پوهنتون کې زده کړې کولې چې زموږ د سپورت ښوونکی بریدمن پردل پنجشیري ته هم یوه ترفیع ور کړل شوه . د هغه د ترفیع په اړه ویل کیدل چې هغه د کودتا په ورځ د عملي له موټر پاتې وو او اړ وو چې په بسونو کې حربي پوهنتون ته لاړ شي . کله چې د پښتونستان په څلور لارې کې د ولاړ ټانک چارچاپیر خلک لیدلي او پوهېدلی دی چې کودتا شوې ده په احساساتو راغلی، ټانک ته ختلی او دا وینا یې کړېده: « ای مردم ! چی بود که نبود، چي کرد که نکرد، پیروز باد انقلاب ، زنده باد رهبرانقلاب !» د انقلاب په ملاتړ د پردل خان دا انقلابي وینا ددې سبب شوله چې هغه هم په یوه ترفیع ونازول شي. دا چې هغه په کودتا کې څه رول لوبولی او وینا یې کړې ده یا نه ، جلا خبره ده خو محصلینو ته د انقلابي دولت لخوا د ترفیعاتو ورکول یو مسخره بهیر برېښېده . کودتا نه یوازې پوځیان اغیزمن کړل بلکې د سیاسي ګوندونو او سیاستوالو په لیدلوري کې یې بنسټیز بدلون راووړ چې پوځي کودتا یې واک ته د رسېدو لنده، آسانه او بې لګښته لار ومونده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه دي چي سياسي ډلي پوځي بنسټونو ته ننوزي او د پوځيانو سره سياسي او سازماني کار پيلوي. د کودتا وروسته « د ا، خ، د ،ګ (د خلق اړخ ) مرکزي کميټې پريکړه وکړه چي په ګوند کي د وسلوال پوځ ځانګه جوړه شي تر ځو د وسلوال پوځ منسوبين په ګوند کي تنظيم کړي. » ۶۰/ ۳۳ ځکه چي « د داودخان تر کودتا پوري خلقيانو په وسلوال پوځ کي سياسي تشکيلاتی فعاليت نه درلود» ۱۰/ ۲۳ البته چي د دموکراسئ په لسيزه او حتی مخکې له هغې هم ځينو کړيو او سياستوالو په امنيتي ارګانو کي په سياسي کار لاس پوري کړی وو . ښايي محمد داود د لومړيو کسانو څخه وي چي په پوځ کي يي سياسي فعاليت پيل کړی وي. ځرګنده بېلګه يي غلام حيدر عدالت د دفاع وزارت د نقلياتو د رياست مرستيال دی چي هغه يي د پښتونستان د اتحاديي مشر ګومارلی وو. لکه ځرنګه چي د پوځ دنده د هېواد د خپلواکی ، ځمکنی بشپړتيا او ملي واکمنئ ساتنه ده. خو کله چي په پوځ کي سياسي سازمانونه چي موخه يي واک ترلاسه کول دي فعاليت پيلوي دا د دې معنی لري چي پوځ د خپلو اصلي دندو او مسئوليتونو د ترسره کولو خلاف د سياسي کړيو د لاس په وسيلي اوړي . دا بيا د دولت ، واکمنئ او هېواد لپاره ځرګند ګواښ دی. ځکه چي دا ډول چلند کودتايي هڅواو کودتاګانو ته لار هواروي. ژوند هم وښودل چي د چنګاښ کودتا وروسته په هېواد کي د کودتايي هڅو او کودتاوو لړئ پيل شوه چي له يوې خوا يي په خپله کودتايي واکمنئ د ننګونو سره مخامخ کړه او له بله پلوه په هيواد کي سياسي ټيکاو له منځه ولاړ. کودتا د افسري کدرونو ترمنځ د کودتايي او غير کودتايي (انقلابي او انقلابي ضد ) سره کرښه وکښله . په پوځيانو کي دا د انقلابي او انقلابي ضد ويش ددې سبب شو چي انقلابيون د انقلابي ضد په پلمه د امنيتي ارګانو څخه د خپلو سيالانو او مخالفينو د ټغر د ټولولو په هڅه کي شي او په پوځ کي پراخه ځنډنه پيل شي. د چنګاښ انقلاب په پيل کي د دفاع وزارت له قرارګاه او د سترو جزوتامونو مشرتابه پاچا ته د وفادارو او ضعيف النفسه دوستانو په نامه يو شمېر لوړپوړي افسران له دندو ګوښه کړل شول. د انقلاب په لومړي جشن کي ۲۱ تنه جنرالانو ته تقاعد ورکړل شو. همداراز د کودتا وو په تور لسګونه جنرالان او لوړپوړي افسران زندانونو ته واچول شول او له دندو ګوښه کړل شول. د زنداني کولو او جبري تقاعد بهير د پوځ په لارښوونکي هيئت کي ستره تشه منځته راوړه چي انقلابي نظام ترنسکوريدو پورې هغه ډکه نشوای کړای. د جمهوريت په لومړئ نيمايي کي په پوځ او پوليسو کي سلطنت پلوي، اسلامپال ،مائويستان او سکتاريستان وځپل شول. د دوهمې نيمايي په لومړيو کي د پرچميانو پرته نورکيڼ اړخي او سمونپالان تر فشار لاندې ونيول شول او په وروستيو کي د جمهوريت د مؤتلفينو تر منځ د همغږئ او همکارئ کچه را ولوېدله. ددې ډول حالت پايله دا شوه چي د خلق او پرچم ډلي ځواکمني شي. د يادولو وړ بريښي چي تر کودتا پورې په شوروي پلوه سياسي کړيو کي د خلق او پرچم ډلي د نورو په پرتله ځواکمني وې. خو د سرطان انقلاب وروسته د ا، خ ، د،ګ د پرچم د فرکسيون په پرتله خلقيان زيات پياوړي شول. لامل يي دا وو چي نوي نظام د دې جوګه نشو خپلي ژمني په عمل کي پلي کړي او د خوارو طبقو او په هغو کي د پوځ د ټيټ پوړو او سرتيرو ستونزو ته د حل لار ومونديې ، د پوځيانو د ښووني او روزني بهير ته وده ورکړي او د پوځ په ليکو کي عدالت پلی کړي. په ډېرو مواردو کي د پاچا د واکمنئ په پرتله د چارو وضعيت لا ناوړه حالت غوره کړ. پردې بنسټ خلقيانو د هغه پېره د انقلاب په لارښود( رهبر کبير) او د هغه په مؤتلفو پرچميانو اچوله چي هم لارښود او هم پرچميان د خپل طبقاتي او ټولنيز دريځ له امله چمتو ندي د پراخه پرګنو او د ټيټ رتبه پوځيانو او سرتيرو په ګټه اړين اصلاحي ګامونه پورته کړي. د نوې واکمنئ مخالفين يي هم پدې تورنول چي د پردېو په اراده خپل حکومت ته ستونزي جوړوي. په پوځ کي د پرله پسې ځنډنو پايله دا کېدله چي د پوځ مشري د پرچميانو، فرصت غوښتونکو اوغوره مالانو په لاس کي ولوېږي چي پدې توګه د پوځ او سترو جزوتامونو مشرتابه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلکي مجربو او ژمنو جنرالانو او افسرانو له شتون څخه بې برخې شي او منطقي پايله يې په جمهوريت د پوځيانو د باوراو د پوځ د جګړه ئيزچمتووالي د کچې راټيټيدل وو. سربيره پردې د قرارګاوو او سترو جزوتامونو په مشرتابه کې د ټيټ رتبه کودتايي افسرانو ګومارل د لوړ رتبه افسرانو د نارضايتئ سبب شول ، د دې بهيرانګيزه دا کيده چې هغوی هم د واک د مدعيانو او سياستوالو ښکار شي ،يا د کودتاګانو په هڅه کې شي او ناراضي افسران رژيم تخريب کړي. دې ټولو لاس سره يوکړ او پايله يې په پوځ کې سراسري نارضايتي شي او د ښووني روزني بهير په ټپه ودريږي. ليکوال د۱۹۷۸ کال د مرغومي په وروستيو کې له حربي پوهنتون څخه فارغ او د کندهار د قول اردو د قرارګاه د توپچي په قطعه کې په دنده وګومارل شو. دې قطعي د دوو نورو قطعو سره ګډ په يوه ګارنيزيون کې داسې موقعيت درلود چې د ښووني او روزنې ډګرونه يې په يوه سيمه کې وو. سرتيرو به د خپلو دلګی مشرانو تر لارښووني لاندې درسونه پرمخ وړل. پداسې حال کې چې د ښووني چارې بايد اړونده قومندانانو پرمخ وړې وای. د ټوليو (بطريو)او بلوکونو قومندانان به ډلې ډلې په کټونو يا څوکيو ناست وو، بنداړونه او مجلسونه به يې کول. دا وضعيت نه يوازې پدې ګارنيزيون کې بلکې د کندهار د قول اردو په نورو جزوتامونو کې واکمن وو. د هوايي او مدافعې هوايي ځواکونو کې چيرې چې د سرتېرو په پرتله د افسرانو او وړوضابطانو شمير زيات دی وضعيت لا د انديښنې وړ وو څرنګه چې « د پوځې ډګرونو ډېر کارکوونکي په بې ځايه او بې ارزښته کارونو لګيا وو، کرمبول، شطرنج (سطرنج) او قمار وهل د ډيرو افسرانو او وړوضابطانو ورځنۍ مشغولتيا ګڼل کيده.» ۵۴/ ۱۱۸ که څه هم پورتنۍ وينا د پاچا د زماني حالت بيانوي چې په جمهوريت کې ورته حالت واکمن وو. هغه څه چې په پوځ کې يې د نظام په وړاندې نارضايتي زياته کړه هغه شاوخوا شپږو زرو وړو ضابطانو ته د دريم بريدمنۍ رتبې ورکول وو پرته لدې چې د هغوی د مسلکي پوهې، وړتيا ،د خدمت مودې او د تنخوا کچې ته وکتل شي. انقلابي حکومت دې ته متوجه نه وو چې دې دريم بريدمنانو ته د هغوی د رتبې سره سم دندې ورکړې څکه چې د پوځ په تشکيل کې دومره د بريدمنۍ بستونو شتون نه درلود. د دې دريم بريدمنانو د تنخوا مسئله بله ستونزه وه څکه چې پرکمشرانو او قدمدار پرکمشرانو ( دری يا څلورپليټه وړو ضابطانو ) د بريدمنانو څخه زياته تنخوا لرله. يوه ګډوډې او رسوايي راپورته شوه بالاخره تصميم دا شو چې دريم بريدمنۍ ته رسيدلي واړه ضابطان به پخپلو پخوانيو دندو او امتيازاتو سره خپلو دندو ته ادامه ورکړي او وروسته دې دريم بريدمنانو ته ترفيع ورنکړل شوه. په پوځ کې دې ډول ناسمو پريکړو ناوړه اغيز پريښود ترډې چې د حربي پوهنتون محصلينواعتراضيه مظاهره وکړه او هغوی هم امتيازات غوښتل او حکومت اړشو چې دا مؤسسه يوه مياشت تعطيل کړي. ښايي د دې مؤسسې په تاريخ کې دا لومړی مظاهره وي. دې غيرمعقوله پريکړو چې په پوځ کې يې نارضايتی را وپنځوله جمهوری حکومت اړ شو ټولو افسرانو ته يو کال قدم ورکړی. هغه څه چې د پوځ د افسري کدرونو د زياتي نارضايتی لامل وګرزيده د ميوندوال د کودتا په تور د مجربو جنرالانو او لوړرتبه افسرانو زنداني کول ،له دندو ګوښه کول او چانواري وه. په پوځ کې ددې ډول وضعيت پايله دا شوه چې نه يوازې پوځ ددې جوګه نشي د احتمالي بهرني يرغل مخه ونيسي بلکې د مخالف کورني خوځښت په وړاندې د دريدو ليوالتيا او وس هم ونلري . د۱۹۷۸ کال د غويي د اوومې نيټې د ا، خ، د، ګ د خلقي اړخ د پوځيانو بريالی پاڅون يې څرګند ساری دی. پداسې حال کې چې هغه مهال په مرکزي قواوو کې فوق العاده حالت( لومړی درجه پوځي احضارات) هم اعلان شوي وو خلقيانو د مرکزي قواوو قومانده په خپل لاس کې ونيوله او جمهوري ګارد ونه توانيد په رښا ورځ د خلقي پوځيانو د پاڅون په وړاندې ودريږي بلکه د شلو ګړيو کمزوري مقاومت وروسته پاڅون کوونکو ته تسليم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلکو ته د خطاب وينا

د ظاهرشاه څلويښت کلنه پاچاهي د سکون او رکود يوه زمانه ده او غوڅ اکثريت خلک د کړاوونو ډک ژوند درلود.د جمهوريت په ټينګښت سره ډيرو فکر کاوه چې افغاني ټولنه به په خوځښت راشي او د خلکو په ژوند کې به مثبت بدلون راشي. له همدې کبله د ټولنې مخکښانو د نوي نظام ټينګښت د هېواد د ترقۍ او پرمختګ لپاره مناسب فرصت او د وخت اړتيا وګڼله. البته چې د انقلاب په وړاندې د افغاني ټولنې د بيلا بيلو طبقو او قشرونو او سياسي کړيو غبرګونونه يو شان نه وو. سمونپالو د جمهوريت ټينګښت ته هرکلی ووايه. د سکتاريستي اندونو پرته د ا، خ ، د ،ګ له ګېډې څخه راوتلو سياسي کړيو د سلطنت راپرزيدل يو پرمختلونکی خوځښت و ګڼلو. چيني پلوه سياسي ډلې ټپلې د نوي نظام په وړاندې ودريدلې. فيوډالي اشرافو،په سلطنت پورې تړلي مقتدر روحانيت او اسلامپالو د جمهوريت ټينګښت د ملي ګټو خلاف يو حرکت ګاڼه. د ا، خ، د، ګ خلقي اړخ د نوي نظام څخه د ملاتړ په ښودلوسره د پراخې ملي دموکراتيکې جبهې د جوړيدو وړانديز وکړ« دا وړانديز د داود څخه مخکې د کارمل د ډلې د ماهرانه غبرګون سره مخامخ شو. پداسې ډول چې دوی په بيړه د داود څخه د جمال عبدالناصر په څير شخصيت جوړ کړاو نوموړی يې علمي سوسياليسم ته ژمن تبليغ کړ او د داود د رهبرۍ نه بهر يې د کينڼ لاسومبارزې مردودې اعلان کړې دوی هم خپله مبارزه تعطيل کړه.» ۱۸/ ۴۲ د پرچميانو د دې غبرګون موخه دا وه چې محمد داود ته د خپلې وفادارۍ په ښودلو سره هغه وهڅوي چې د خلقيانو په شمول کينڼ لاسو ډلو ته د سياسي فعاليت اجازه ورنکړي .

د نوي نظام د ټينګيدو څه د پاسه يوه مياشت وروسته د انقلاب لارښود د وړې په لومړۍ نيټه د راډيو څخه د افغانستان خلکو ته خطاب وينا واوروله. خلکو ته د خطاب وينا چې په واقعيت کې د جمهوري نظام تګلاره وه د هغې په وړاندې د وخت د سياسي مطرح ډلوغبرګون په لاندې ډو کرښو کې د پوهېدو وړدی: « د ا، خ، د ،ګ د پرچم ډلې په يوه اعلاميه کې خلکو ته د خطاب څخه هرکلی وکړ. د خلق اړخ له وينا څخه واټن ونيو. اخوان المسلمين او شعله جاويد( نوی دموکراتيک غورځنګ ) د جمهوريت په مخالفت کې ودريدل. »۶۱ /۱۳۶ البته پاچا د کودتا له برې درۍ اونۍ وروسته د اګست په درويشتمه د سلطنت څخه خپله استعفي د يوه تلګرام پواسطه د نوي نظام لارښود ته استولې وه ، په هغې کې دا يادونه شوې وه چې هغه د افغانستان تر بيرغ لاندې ځان د يوه افغان په توګه شمېري. دې دا معنې لرله چې هغه د هېواد نوي مشر ته بيعت کړی دی. د پاچا له لورې د استعفي ليک استول په واقعيت کې د کودتايي واکمنۍ څخه ملاتړ وو کوم چې اساسي قانون يې ترپښو لاندې کړ. د پاچا پلويانوهم د ده دا کار يوه تيروتنه ګڼله چې ګواکې هغه د اساسي قانون څخه چې د ساتلو مکلفيت يې درلود دفاع ونکړه. يو شميرسياستوال او څيرونکي د پاچا دا ډول دريځ کورنی تړاو ګڼي چې د هغې په وړاندې ونه دريد او که د کودتا په مشرۍ کې د سلطنتي کورنۍ بهربل څوک ولاړ وای ده به د هغه په وړاندې مخالفت ښودلی وای لکه څرنګه چې هغه د ا، خ، د،ګ د واکمنيدو په وړاندې مخالفت وښود. ځيني بيا کودتا د پاچا او داودخان د مخکيني جوړجاړي پر بنسټ ګڼي ترڅو دا کورنۍ د جمهوري نظام ترچتر لاندې خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړي. پدې اړه د عبدالفتاح نجم د پاچا د کورنې ډاکټر يوه مرکه چې له پاچا سره په وروستي سفر کې هم مل وو دا ګومان په واقعيت اړوي چې ښايي د کودتا په اړه د پاچا او محمداود ترمنځ جوړجاړی شوی وي. د نجم په وينا کله چې پاچا د لندن په يوه هوټل کې مېشت وو نابېره سردار محمد نعيم لندن ته راغی او د پاچا سره يې دوه په دوه وکتل. نجم د ايټاليا د« اسکيا » په جزيره کې د کودتا مخکې او وروسته د پاچا د داسې عجيب سلوک يادونه کوي چې په تيرو۳۸ سفرونو کې له پاچا څخه نه وو ليدلی چې ځيني برخې يې راوړل کيږي : «... ژباړونکي نعيم جان ويل ته بيځايه نا آرامه يې د دوی ترمنځ جوړجاړی شوی ... ، څلويښت کاله په خپله پاچا سلطنت وکړ اوس يې د تره زوی سلطنت کوي ... ، خو ځيني نور شيان هم وشول چې په نوموړې جزيره کې وو. ما د اعليحضرت نه هيڅکله هم نه وو ليدلي. هغه يو کميس خپل ياور ته ورکړ چې دا ستا سره يادګار وي، يوشی يې ماته راکړ او يو شی...، ما هيڅکله د اعليحضرت نه داسې شيان نه وليدلي.»۶۲ پدې اړه په کابل کې د شوروي سفارت هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رپوټ چې سلطنتي کورنی ته د یوه نږدې کس د معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی ښيي چې کودتا د پاچا د همغږۍ په پایله کې ترسره شوې ده . د رپوټ په یوه برخه کې راغلي دي:« ... ځينو شوروي استخباراتي مامورانو چې د افغانستان د مسئلو په هکله يې مسلکي هر اړخيزه پوهه لرله ، پدې باور وو چې د وروستيو پيښنو ماهيت دا ډول نه دی چې رسمي تبليغات د هغو يادونه کوي. پاچاهي کورنی ته نږدې د کابل د خارجي کشف دفتر ته په پټه اطلاع ورکوله چې په خپله پاچا د کودتا په کړلو کې لاس درلود. د افغانستان هوښيار او ليرې ليدونکي دا په ښه توګه درک کول چې نور نشي کولی د افغانستان بدلېدونکي ، د غيرپيشبينی وړ او انفجاري وضعيت سره لاس او پنجې نرمې کړي ...، په همدې ډول وضعيت کې ظاهرشاه د ژرندې د دوو ډبرو ترمنځ قراردرلود. د افغانستان پاچا څلويښت کاله د افغانستان په شاهي تخت ناست وو، هغه پدې موده کې زياته تجربه ترلاسه کړې وه، تودې او سړې شيبې او ورځې يې ليدلې وې . خو اوس يوه داخلي احساس نوموړي ته سپارښتنه کوله چې د واک څخه ګوښه شي ، يوې آرامې څنډې ته کډه شي او واک يوه قاطع تر ته وسپاري چې پدې توګه د هېواد وضع تر کنترول لاندې ونيول شي...، داسې يوه کس په هېواد کې شتون درلود او هغه د اعليحضرت نږدې او خپل پخوانی صدراعظم سردارمحمد داود وو.په خپله پاچا د کودتا په درشل کې ايتاليا ته ولاړ .د پاچا ټول خپلوان، په پاچا پورې تړلي او نږدې کسان د کودتا په ترڅ کې او وروسته له کوم فشار، ستونزو...، سره مخامخ نشول. پدې اړه اطلاعات چې پاچا د جمهوريت د کودتا سره همغږی دی مسکو ته خبر ورکول کېده. »۶۳/ ۵۴ دا پوښتنه چې ولې محمدداود څه د پاسه لسو کلو انتظار وروسته چې نور بوډا شوی هم وو په کودتا لاس پورې کړ هم د شوروي د سفارت په رپوټ د تاييد مهرلګوي. که هغه لس کاله د کودتا په پلان کار کاوه د منلو وړاو منطقي نه ښکاري. په رښتيا هم چې هوښيار او زيرک پاچا په هېواد کې د غيرمترقبه پيښنو چې د هېواد د ملي امنيت او په تيره د ده د کورنۍ واکمنۍ ته ګواښ پيښاوه د هغو په اړه د تدبيرونو د نيولو په هکله لارې چارې سنجولې. کله چې د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون مسوده جوړه شوه او مخکې لدې چې پدې اړه لويه جرګه راوبلل شي پاچا د اساسي قانون د مسودې د جوړولو د کميټې ر ييس( مجروح) ، مرستيال (رښتيا ) او صدراعظم محمد يوسف سره پدې مسئله خبرې کړې وې چې د اساسي قانون د بېړني حالت په څپرکي کې دا بدلون راوړي چې پاچا د نوي صدراعظم د موظفولو واک ولري چې نوموړو دريو تنو نه وو ورسره منلې. د رښتيا په ګومان د پاچا موخه داودخان وو. ښايي پاچا د کودتا په درشل کې د هېواد کړکيچنو حالاتو ته په کتو سره دا غوره ګڼلې وي چې له واکه ګوښه شي او د تره زوی يې د هېواد د چارو واګې په لاس کې ونيسي او د نوموړي له لوري د کودتا سره همغږی شوی وي. د کودتا په درشل کې د هېواد حالات زيات کړکيچن وو ، د پوځي کودتا د ګنګوسو د خپريدو سربيره « د دوبي په پيل کې آوازې خپرې شوې چې ظاهرشاه غواړي پارلمان رنګ او د ناڅرګند وخت لپاره نوې ټاکنې وځنډوي. داسې بريښيدل چې يو بنسټيز بدلون پيښيدونکی دی. »۶۱/ ۱۲۸ هغه مهال احتمالي کودتا کوونکي پوځي قواوې هم څرګندې وې . له همدې امله پاچا هوډ درلود چې د بګرام له هوايي ګارنيزيون او د زرهدارو قواوو څخه ليدنه وکړي . د بګرام د هوايي ډګر د منسوبينو سره د پاچا کتنه د چنګاښ د شلمې وروسته ټاکل شوې وه او د دې کتنې لپاره ، اميليفايراو لودسپيکرونه هم پيرل شوي وو چې عبدالحميدمحتاط د رادارو د قوماندان تورنجنرال عبدالعزيز سره ګډ ه پيرلي وو. دا چې پاچا په ناڅاپي ډول بهر ته د درملنې په نامه ځي د تامل وړ خبره ده. ښايي په وروستي تحليل کې پاچا غوره ګڼلې وي چې د تره زوی يې کودتا وکړي او دی د درملنې په نامه بهر ته لاړ شي. خو هغه په بريتانيا يا ايتاليا کې بستري هم نشو. دا بيا ښيي چې هغه ناروغ نه وو. دا چې کودتا د پاچا او محمدداود د همغږۍ له امله وشوه پدې اړه قطعي حکم کول ستونزمن دي خو کودتا د خلکو له ملاتړ څخه برخمنه شوه . خلکو ته د خطاب په وينا کې لاندې څو ټکي د سياسي اوښتون په وړاندې د سياسي ډلو د مثبت يا منفي غبرګون، مخالفت او ملاتړ لامل کيدل.

لومړی- د دموکراسی مسئله . محمدداود د دموکراسی لسيزه «قلابي دموکراسي» وبلله او په هيواد کې کې يې د«واقعي دموکراسی» د ټينګښت ژمنه وکړه.

دوهم- د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړيکې. محمدداود د پاکستان سره اړيکې ستونزمنې وګڼلې او د پخوا په څېر يې د پښتنو او بلوڅو او د ديورند د تپل شوې کرښې د ستونزې دعادلانه حل يادونه وکړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم - د خانداني او طبقاتي ګټو څخه تیریدل.
پورتنیو دریو ټکو د نوي نظام څخه د کین لاسو، ملتپالو او جمهوریت غوښتونکو بشپړ ملاتړ ته لار هواروله او په محمد داود یې هغو شکونو ته د پای ټکی کیښود چې ګواکې هغه کودتا د خپلې کورنۍ د واکمنۍ د دوام په موخه ترسره کړې ده .
څلورم- د هیواد په اقتصادي – ټولنیز او سیاسي ژوند کې د بنسټیزو بدلونونو او سمونونو په راوستلو ټینګار. دې مسئلې د هیواد د غوڅ اکثریت خوارو وګړو او د ملي – دموکراتیکو خواکونو هیلو او غوښتنو او همداراز د ولس ځورونکي حالت ته د پای د تکي ایښودولو ته مثبت ځواب وو او له بله پلوه یې په هېواد کې د یوه ټولنیز انقلاب زیرى هم ورکاوه ترديې چې خلکو ته د خطاب په وینا کې د چنګاښ پوځي کودتا ته د ملي پاڅون ( رستاخیزملي ) اصطلاح هم کارول شوې وه.
که چیرې د افغانستان خلکو ته د خطاب د وینا منځپانګې ته وکتل شي هغې د افغانستان د پرمختګ زېرى ورکولو چې بیله شکه ملي او مترقي قوتونو او د غوڅ اکثریت وګړو له ملاتړ څخه برخمنه کېدله. خلکو ته د خطاب وینا د فرضي کرښې د هغې لوري ملتپالو پښتنو او بلوڅو له تاوده هرکلي څخه هم برخمنه شوه .پربله خوا په افغانستان کې دا سیاسي بدلون د نړیوال پانګوال سیستم ، چین او د هغوی د سیمه ئیزو متحدینو په تیره پاکستان او ایران د اندیښني سبب شو. دا اندیښني د محمدداود د صدارت د مهال تګلارو ، د دیورند د ټپل شوې کرښې د ستونزې په عادلانه حل ټینګار او په دولت کې د پرچمیانو شتون سره تړاو درلود. د محمد داود د صدارت پرمهال له پاکستان سره اړیکي زیاتي خړې پړې شوې تردې چې د یونیم کال لپاره د کابل- اسلام آباد دپلوماتیکي اړیکي وشلیدلي او د تورخم- کراچۍ ترانزیتي لار وتړل شوه. هغه مهال حالات دومره کړکیچن شول چې افغان حکومت د پاکستان په وړاندې سفر بري اعلان کړه او لسګونه زره افغانان جګړې ته چمتو شول چې د امریکې او ایران په منځګړیتوب حالاتو عادي بڼه ونیوله. له بده مرغه د جمهوریت پنځه کلنې دورې وښودل هغه څه چې خلکوته د خطاب په وینا کې پرې ټینګار شوی وو هغو ته پام را ونه ګرزول شو او کوچنۍ برخه یې هم عملي نشوله.

## ویل کړل نه دي

محمد داود د کودتا وروسته په خپلو ویناوو کې په ټولنه کې د هراړخیزو سمونونو په راوستلو ټینګاردرلود. د واکمنیو پراتیک ښیي هغه واکمنۍ په ټولنه کې د بنسټیزو سمونونو او بدلونونو د راوستلو جوګه کېدای شي چې د هرڅه د مخه ژمنه تخصصي اداره ولري او د هغې سربیره ښه حکومتولي ، د قانون واکمني ، سیاسي مشارکت او د وینا آزادۍ ته لومړیتوب ورکړي. په یوه هیواد کې په دا ډول شرایطو کې شوني ده چې د پراخو پرګنو په ګټه سمونونه او بدلونونه پلي شي. د انقلابي دولت مشر په خپلو څرګندونو کې ځان او واکمني پورتنیو ژمنو ته ژمن ګڼل او د دولتي رسنیو له لارې هم ورته څرګندوني کید لې. دا چې وایي ویل ،کړل نه دي د انقلابي دولت کړني د ښکلو شعارونو اوغوړو ژمنو خلاف بل څه وې او په ډیرو برخو کې برعکس وې. که چیرې په یوه ځانګړي هېواد کې د ټاکنو له لارې کوم ګوند یا سیاستوال واک ته ورسیږي د دموکراسۍ د اصولو سره سم بریالی ګوند یا مخکښ سیاستوال خپل حکومت جوړوي او د واکمنۍ په لوړو پوړونو یا په بله خبره سیاسي پوستونو کې د نورو سیاسي ډلو ګډون د دموکراسۍ د اصولو له مخې ونده نه ورکول کېږي او د پراخ بنسټه حکومت خبره خپل ارزښت له لاسه ورکوي.خو کله چې د کودتا له لارې چې یو ناقانونه عمل دی څوک واک ته رسیږي هغه ته ښایي چې نور سیاسي ځواکونه چې د نوي حکومت له تګلارو ملاتړ کوي په واک کې شریک ، سیاسي ډلو ته د فعالیت اجازه ورکړي او د ټاکنو لپاره چمتووالی وښیي. پدې توګه نوې واکمني مشروعیت او د نورو ملاتړ ترلاسه کوي .
د۱۹۷۳ کال د پوځي کودتا وروسته داسې یوه واکمني جوړه شوه چې یوازې په کودتاچیانو پورې یې تړاو درلود.د کودتا په بري سره داودخان د پخواني رژیم غوڅ اکثریت لوړپوړي ملکي او پوځي کدرونه پاچا او سلطنت ته د وفادارو ،نامطلوبه او«ضعیف النفسه دوستانو»په نامه توقیف، ګوښه او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې صلاحیته کړل. له بله پلوه په نوي نظام کې لوړدولتي ارګان (مرکزي کمیټه ) د ټیټ رتبه پوځیانو څخه جوړشوی وو چې په هیڅ صورت یې د دولتي چارو د لاربښوونې وړتیا نه لرله. مرکزي کمیټه په واقعیت کې یوه پوځي کمیټه وه چې د محمد داود او حسن شرق پرته نور غړي یې د حکومتولۍ څه چې د ستروجزوتامونو د لارښوونې مخینه او تجربه هم نه لرله . دا چې د هیواد او دولت د اداري دروند پیټی د مقصود منزل ته ورسوي په هیڅ صورت یې دا وړتیا نه لرله. سربیره پردې هغوی د مختلفو سیاسي اندونو خاوندان وو. له بله پلوه د دې لوړ دولتي ارګان غړي د هیواد د اته ویشتو اداري واحدونو څخه په پنځو اداري واحدونو( کابل ، فراه، پروان ، پکتیا او کنړ ) پورې تړاو درلود. د جمهوریت مرکزي کمیټه نه دا چې یو پراخ بنسټه جوړښت نه وو،بلکې یونامتجانس او کمزوری پوځي ټولګی وو چې طبیعتاً کړنې یې هم د پوځي ارګان په توګه په امراو نهی ولاړې وې چې د دموکراسۍ سره یې هیڅ سرنه خوړ. همدا لامل وو چې د۱۹۷۷ کال د لویې جرګې تردایریدو پورې په هیواد کې پوځي حالت واکمن وو. په لویه جرګه کې بیا داسې اساسي قانون تصویب شو کوم چې د حکومتي ګوند پرته چې هغه هم فزیکي شتون نه درلود نورو سیاسي ګوندونو د فعالیت اجازه نه لرله چې پدې توګه په هیواد کې د سیاسي پلوراليسم او سیاسي اپوزیسیون د راڅرګندیدو کوچنی احتمال له منځه ولاړ.د لویې جرګې له لوري په تصویب شوي اساسي قانون کې د قواوو تفکیک نه تر سترګو کېده ، په هغه کې د ستري محکمې تشکیلات نه وو او همداراز د قضا خپلواکي هم له منځه تلله.«د جمهوریت اساسي قانون یو متضاد ترکیب وو چې د احکامو یوه برخه په ځانګړې توګه د شخصي مصؤنیتونو احکام یې د۱۳۴۳ ( ۱۹۶۴ ) کال د اساسي قانون څخه اخیستل شوي وو ظاهراً یې د دموکراسۍ منل شوي اصول تائیدول اما په عمل کې یې د اړینو باصلاحیته مؤسسو لکه د مقننه او قضائیه قواوو د منځته راتلو مخنیوی کاوه.ډیرصلاحیتونه د جمهوري ریاست مقام ته ورکړل شوي وو چې د پاچا څخه یې زیات واکونه لرل ( ۷۸ ماده). مقننه قوه له دوو(ملي او لویې ) جرګو څخه جوړېده خو حکومت د مجلس څخه د اعتماد د رایې اخیستلو مکلفیت نه درلود او نه مجلس کولی شول هغه سلب اعتماد کړي . د وزیرانو ټاکل او ګوښه کول د جمهور رئیس له اختصاصي واکونو څخه شمیرل کیدل . د دموکراسۍ څخه بربنډه سرغړونه د قانون په څلورمه ماده کې وه چې په هېواد کې ګوندي نظام په یوازیني حکومتي ګوند« د ملي انقلابي غورځنګ» پورې محدود شوی وو.همدارنګه د ۴۹ مادې پراساس د ملي جرګې غړي لومړی د نوموړي ګوند له لوري ټاکل کیدل او بیا په تشریفاتي توګه د خلکو څخه رایه ترلاسه کوله. »۳۰ / ۱۱ د جمهور رئیس د واکونو په اړه د دې خبرې یادول اړین بریښي چې کله په کال ۱۹۶۴ کې د نوي اساسي قانون مسوده جوړه شوه هغه یې محمد داود ته استولې وه تر څو د هغه نظر واخلي . سردار د پاچا واکونه زیات ګڼل .خو د جمهوري نظام په اساسي قانون کې د جمهور رئیس واکونه د پاچا څخه هم زیات وو. دا وه د محمدداود د معقولې دموکراسۍ یوه بیلګه.

کله چې په یوه هیواد کې سیاسي ګوندونه چې د واکمنۍ کړنې انتقاد کړي او واکمنۍ ته د ټولنیزو- سیاسي ستونزو د حل او د ټولنې د هراړخیز پرمختګ په موخه بدیل وړاندیزونه وړاندې کړي نه وي هلته د ښې حکومتولۍ تمه یوخوب او خیال دی. سربیره پردې لکه څرنګه چې مخکې یادونه شوې وه چې په جمهوري دولت کې واک د یوه نامتجانس پوځي ټیم سره چې غوڅ اکثریت یې ټیټ رتبه پوځیان وو چې د سیاست ، اداري او د حکومتولۍ له الفبا سره یې پیژندګلوي نلرله هغوی په هیڅ صورت د دې جوګه نه وو، ښه حکومتولي رامنځته کړي چې پایله یې په اداري چارو کې خنډ، د قانون څخه سرغړونې،اداري فساد، زورزیاتی ،د انکشافي پروژو نه پلې کیدل او د ټولنیزو ستونزو زیاتیدل دي .په یوه هیواد کې د دا ډول اساسي قانون تصویب چې هلته سیاسي سازمانونه د فعالیت قانوني جواز ونلري،د وینا آزادي نه وي، د قواوو تفکیک شتون ونلري منطقي پایله یې دا کیدله چې په ټولنه کې استبداد واکمن شي. په جمهوریت کې د واکمن استبداد څرګنده بیلګه د عدلیې په وزارت کې د هلمند د نوزاد ولسوالۍ یوه اوسیدونکي له لوري ځان ته اور اچول دي. البته چې د شاه محمودخان د صدارت پرمهال هم یوه تن د کورنیوچارو په وزارت کې ځان وژلی وو اوهمداراز د محمدداود د صدارت پرمهال چې نوموړي د کورنیو چارو د وزارت چارې هم سمبالولې یوه تن په نوموړي وزارت کې ځان ته اوراچولی وو خو له مرګ څخه وژغورل شو. د جمهوري دولت دوره پخپله د اختناق او استبداد یوه دوره وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړیو څلورو کلونو کې پوځي حالت واکمن وو او وروستۍ یو کال یې د ترور او اختناق یوغملړلی کال وو. محمدداود جمهوریت اعلان کړ پخپله لومړۍ وینا کې یې د ربښتیني دموکراسۍ ژمنه وکړه ، د ځمکو په اصلاحاتو یې ټینګار درلود او خلکو ته د دوی د حقوقو د خوندیتوب غوړې وعدې او ژمنې ورکولې. دا ټول په خبرو او ویناوو، په ښکلو جملو کې ادا کیدل او په زړونو ښه لګیدل. جمهوریت یعنې ټاکنې، پارلمان ، سیاسي ګوندونه ، خپلواکه رسنۍ او د وینا آزادي .د ټاکنو او پارلمان په هکله خبره هم نه کیدله او د ګوندونو، ټولنو او آزادو رسنیو د جوړیدو څرک نه لګیده او په نوي اساسي قانون کې د هغو د جوړیدو اجازه نه وه. کودتاچیانو خپل پوځي عمل ( کودتا) ته ټولنیز انقلاب ویلو انقلاب پدې کې وو چې د افغانستان د شاهي دولت ، د افغانستان د شاهي پوځ، د افغانستان د شاهي ګارد نومونه او نشانونه په جمهوري واوړي . د محمدداود ارادتمندان وایي چې د کودتا په لومړۍ ورځ په کابل رادیو کې کله چې ویاند وویل چې اوس سردارمحمدداود وینا اوروي ویاند ته یې وویل چې ده ته نور سردار و نه وایي خو ټوله ورځ د رادیو له لارې داودخان د سردار په نامه یادیده او وروسته که په رسنیو او رسمي مکتوبونو کې د سردار کلمه نه استعمالیده خو عملاً محمد داود د سردار په شان د بشپړ واک خاوند وو .
کله یې چې لویه جرګه راوبلله بیله دې چې جمهوري ریاست ته بل نوماند شتون ولري ځان د شپږو کلونو لپاره د جمهور رئیس په توګه ونوماوه او د رایو په اتفاق ولسمشر شو. داسې ولسمشران یوازې د هغه زماني په سوسیالستي هیوادونو کې د رایو په اتفاق ټاکل کیدل چیرې چې د پرولتاریا د دیکتاتورۍ ترنامه لاندې د مخالفو ګوندونو څرک نه لګېده او د یوازیني واکمن ګوند مشر د رایو په اتفاق ټاکل کیده. هغه مهال د دریمې نړۍ په هیوادونو کې هغه مشرانو چې د دیکتاتورانو نومونه ګټلي دي لکه صدام حسین، حافظ الاسد او معمرالقذافي دا هوښیاري لرله او اجازه یې نه ورکوله چې د ټاکنو داسې پایلې اعلان شي چې ګواکې هغوی د رایو په اتفاق ټاکل شوي دي. د لویې جرګې وروسته سردارمحمد داود د دولت ،حکومت او یوازیني واکمن ګوند چې هغه شتون نه درلود مشر وو د ګوند نایب یې سردار وحید عبدالله او د دفاع وزیرسردارغلام حیدر رسولي وو او ورور یې سردار محمد نعیم د هیواد د بهرنې سیاست لارښوونه کوله خو پدې توپیرچې هغوی سرداران نه یادیدل. که څه هم خلکو ته د خطاب د وینا منځپانګه د افغاني ټولنې او وخت غوښتنه وه او دولت ته پکار وو چې د ټولنې د غوڅ اکثریت وګړو ( بزګرو ، کوچیانو، ځوانانو) په ګټه د ځمکو، اوبو او د څړځایو د ستونزې عادلانه حل وو ګامونه پورته کړي او ځوانانو ته د زده کړو او خلکو ته د کار شرایط چمتو کړي هغه څه چې خلکو ته د خطاب په وینا کې پرې ټینګار شوی وو. انقلابي دولت وروسته له دوو کلو( ۱۹۷۵ ) د ځمکو د اصلاحاتو قانون جوړ او د هغه نافذیدل یې په کال ۱۹۷۶ کې اعلان کړل .خو د ځمکو د اصلاحاتو پرځای یې د مترقي مالیاتو قانون پلې کړ.د مترقي مالیاتو د قانون له مخې لویو ځمکه والو ته د شلوهکتارو لومړۍ درجې او د هغې معادل ځمکې د لرلو حق ورکول کیده او له هغه څخه د زیاتې ځمکې خاوند باید مالیه ورکړې وای او یا یې اضافي ځمکه دولت ته پلورلې وی. دولت د پنځه ویشتو کلونو په ترڅ کې ځمکه والو ته د ځمکې د محصولاتو۵/ ۲فیصده ګټه ورکوله او چا چې له دولت نه ځمکه تر لاسه کوله حکومت ته درې فیصده ګټه ورکوله. د مترقي مالیاتو پربنسټ ستر ملاکان مکلف وو چې ملاماتوونکې مالیه ورکړي ،ښه یې دا ګڼله چې اضافي ځمکه پریږدي یا دا چې هغه د خپلو اولادونو ترمنځ ترکه کړي تر څو نه ځمکه له لاسه ورکړي او نه ملاماتوونکې مالیه پرې راشي .لکه څرنګه چې د پاچا او محمد داود په واکمنۍ کې« عدالت د رشوت په تله تلل کیده چا چې په تله کې د ډیرو پیسو د اچولو توان درلود هغه وړ او مقابل لوری یې پړ وو او د قوي سفارش څښتن بریالی ګڼل کیده.» ۶۴/ ۲۵ نو لویو ځمکه والو د بډو په ورکولو او د خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستنې سره خپلو خپلوانو ته د اولادونو په نامه د ځمکې د ملکیت جعلي سندونه جوړ کړل چې هم د مالیې له ورکولو نه معافیدل او هم یې ځمکه له لاسه نه ورکوله . خو په خپله محمدداود په پغمان او پروان کې خپل جایداودنه خپلو بزګرو ته ورکړل ، هغه جایدادونه چې د خلکو ملکیت ګڼل کېده او سلطنتي کورنۍ خپل کړي وو . پردې بنسټ د ځمکو د اصلاحاتو قانون د یوه سند په توګه بیله دې چې عملي شي پاتې شو پداسې حال کې چې د هیواد سلګونه زره بې ځمکې بزګر چې د بیشمیره ستونزو او کړاونو سره لاس او ګریوان وو ،د سود خورو په پورونو کې ډوب وو، ځمکې یې له لاسه ورکولې ، کوچیانو د څړځایو پرسر د سیمې له خلکوسره ستونزې او شخړې لرلې ، باید دا ټولنیزې ستونزې حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وای چې پدې لار کې کوم عملي ګام اوچت نشو. جمهوري دولت د اتمو ټولګیو لپاره د کانکور د آزمویني طرحه پلې کړه چې لسګونه زره تنکي ځوانان د زده کړو نه محرومېدل او په کوڅه ډبو وګړو اوښتل .

د پورتنیوځرګندونو سره سره په جمهوري نظام کې د اقتصادي او انکشافي پروژو د سروې او تطبیق لپاره د سترګو وړ کارونه ترسره شول. د لوګرد عینکو د مسو د معدن د را ایستلو په موخه د هلوځلو پیل ،د سلما او کمال خان د بندونو د جوړولو د کار پیل ،په پکتیا کې د نفت او ګازو پلټنې ،په هرات کې د مسلخ ، په کندهار او هرات کې د سیلوګانو او یو شمیر سړکونو جوړول ،د شوروي اتحاد سره په شمال کې د نفتو د تصفیې د کارخانې او د جاپان سره د ټلویزیون د دستګاه د جوړولو د تړونو د لاسلیک یادونه وشي. د جمهوریت په پنځه کلنه موده کې داسې ستره تولیدي پروژه چې د هېواد د اقتصاد په وده او وزګاره لښکر یوې کوچنی برخې ته د کار شرایط برابر کړي ګټې اخیستنې ته چمتو نشوله که څه هم د زیات شمیر عام المنفعه کوچنیو مؤسسو او ټولنیزو خدمتونو د بنسټونو جوړول چې د پاچا د څلویښت کلنې واکمنۍ په پرتله د لیدو وړ وو د جمهوري نظام له بریاوو څخه شمیرل کیږي چې په هغو کې ښوونځي، پلونه ، سړکونه او روغتیايي بنسټونه شامل وو.

## کشمکشونه او مخالفتونه

خلکو ته د خطاب د وینا په یوه برخه کې راغلي وو چې په هېواد کې د انقلابي واکمنۍ په ټینګیدو سره « د افغانستان خلکو او په تیره خوارو او محرومو طبقو او د ځوان نسل د مادي او معنوي پرمختګ له پاره مساعد شرایط برابرشوي او تعصب او ارتجاع ته به د راځرګندیدو اجازه ورنکړل شي.» ۶۵ پورتنۍ وینا د نوي نظام ماهیت ښیي چې د افغاني ټولنې ټولو طبقو، قشرونو اوسیاسي ډلو ته یې ځرګند پیغام درلود چې یقیناً د هېواد سیاسي کړیو د نوې واکمنۍ د تګلارې او همدارنګه د واکمنۍ ترکیب ته په کتو سره خپل غبرګون ښود. ملي اوشوروي پلوه مترقي ځواکونو د هغه نه ملاتړ وښود ، چیني پلوه کیڼ لاسو ،ارتجاعي او محافظه کارو ډلو ورسره مخالفت او دښمني وښودله .پدې هکله ګلبدین حکمتیارلیکي : «موږ ته د ده د دې پیغام معنی ځرګنده وه .موږ پدې وینا کې د اسلامي نهضت لپاره د بربنډ ګواښ نښې له ورایه لیدلې .» ۳۵/ ۲۴۸ په پرمختللو ټولنو کې خلک د سیاسي ډلو او حکومتونو کړنلارو ته ګوري او د هغو پر بنسټ د هغوی په وړاندې غبرګون ښیي. خو په وروسته پاتې ټولنو کې د وګړو د سیاسي شعور د ټیټوالي ، د وګړو ترمنځ یې د سیاسي پولو نشتون اوهلته د سترو هیوادونو اغیزاو نفوذ د دې لامل ګرزي چې سیاسي ډلې او سیاستوال د حکومتونو او سیاسي ډلو تګلارو ته نه بلکې ځېرو ته وګوري. افغانستان د یوه وروسته پاتې هیواد په توګه چې د وګړو د سیاسي شعورکچه یې ډېره ټیټه وه ، سیاسي سازمانونه یې هم ځوان او بې تجربې وو او یو شمیر یې بیا د پردیو تر اغیزلاندې وو د جمهوري دولت په اړوند یې قضاوت د هرڅه د مخه د دولت د مشر او د واکمنۍ د ترکیب پر بنسټ وو. د جمهوري دولت مشر چې لویدیځوالو هغه سور شهزاده یاداوه او په دولت کې د پرچمیانو شتون چې د مسکو ټینګ پلویان شمېرل کېدل د هېواد د سیاسي کړیو قضاوت د جمهوري دولت په هکله د هغه په مترقي کړنلارو کې نه بلکې په دې کې وو چې هغه د شوروي ملاتړی یا لاسپوځی وګڼي. جمهوري دولت خپله کړنلاره د«خوارو اومحرومو طبقو او د ځوان نسل د مادي اومعنوي پرمختګ او د ارتجاع د نه راځرګندیدو» په خاطراعلان کړه چې منطقاً باید د ټولو کیڼ لاسو اوسمونپالو کړیو له ملاتړ نه برخمنه شوې وای خو په عمل کې داسې نه وو.د ساري په ډول چین پلوي نوي دموکراتیک ګوند( شعله جاوید) د نوي نظام له تګلارو څخه چې مترقي لوری یې درلود نه دا چې ملاتړ ونکړ بلکې په مخالفت کې یې ودرید اوعلت یې دا وو چې داؤدخان او د هغه متحد پرچم یې مسکو پلوي ګڼل نو له دې امله یې د پکن د بهرنۍ تګلارې تر اغیز لاندې د جمهوریت خلاف د دښمنۍ دریځ غوره کړ.دا بیا د دې ترخه واقعیت ځرګندوی دی چې زموږ د هېواد اکثریت سیاستوالو او سیاسي کړیو د پردیو د ایدیالوژیو او سیاستونو په خاطرمبارزه کوله او جنګیدلي دي. ښایي ځینو سیاسي کړیو له دې کبله له نوي نظام څخه بشپړملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي اعلان کړی ، ووینې چې نوی نظام پخپلو ژمنو  ولاړدی که نه ؟ ځکه چې یوازې د مترقي کړنلارو اعلانول نشي کولای د یوې واکمنۍ اصلي ماهیت او جوهر جوت کړي.هغه دری ټکي چې په نوې واکمنۍ یې د وخت د ځینو سیاسي خوځښتونو او سیاسي کړیو نه باور ته لار هواروله او مخالف دریځ یې غوره کاوه د دولت د مشرمخینې ، د واکمنۍ غیرمتجانس ترکیب او په واکمنۍ  کې  د یوې ځانګړې سیاسي ډلې( پرچم)  ستره ونډه وه.

د سرطان انقلاب وروسته  لویدیځوالو په افغانستان کې حالات او د نوي رژیم عملي ګامونه په غور سره څارل. لدې کبله وو چې په کابل کې د امریکې سفارت د سپتمبر په اوولسمه  واشنګټن ته ۶۷۵۵ لمبر رپوټ واستاوه چې په یوه برخه کې یې راغلي دي: « د پوځي کودتایي مشرتابه  ترمنځ  د تشنج او کړکیچ نښې نښانې لیدل کیږي خو له بهر نه هرڅه آرام بریښي. د دې روانو شخړو تر شا لاندې مسئلې پرتې دي :

الف – د مارکسیستي بدلونو د ګړندي والي درجه.

ب-  د هغو اشخاصو چې د تش په نامه لس کلنې دموکراسۍ سره تړاو درلود د ګړندۍ څنډنې کچه.

ج - شمال یعنې شوروي اتحاد ته  د لویدیځ پلوي رژیم د تغییر درجه.»

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d8

شوروي اتحاد ته د داودخان د نږدې کیدو لامل  د سوسیالستي نظام  سره په خپله د محمد داود لیوالتیا هم وه چې دا ډول نظام په افغانستان کې هم ووینې. ښه بیلګه یې د عبدالحمید محتاط لاندې څرګندونې دي چې د محمدداود له قوله راوړې :« په نړۍ کې دوه ډوله دموکراسۍ شتون لري غربي دموکراسي او شرقي دموکراسي.باید چې د دواړو دموکراسیو پلې کیدل د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې مطالعه او د هغو څخه نتیجه ګیري وکړو. د مطالعې په پایله کې به وپوهیږو چې په هند کې غربي دموکراسۍ څه تضادونه زیږولي دي او دا هیواد د خپل لویوالي او زیات نفوس سره بیا هم نشي کولی په خپلو پښو ودریږي ...، شوروي اتحاد د۱۹۴۵ کال په پسرلي کې د فاشیستي آلمان ځواکونو ته ماتې ورکړه . د هغه وخته تراوسه دیرش کاله تیرشوي دي . اوس لیدل کیږي چې پدې لنډه موده کې هیواد په ټولو برخو کې سترې لاسته راوړنې لري...، د دې فورمول پلې کول په ټولو ټولنو کې د هغوی د تاریخي، عنعنوي او کلتوري ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره ممکن دی ...، زموږ په هیواد کې په سلوکې ۹۰ شرقي دموکراسي د پلې کیدو ده .لاکن لس فیصده نور به زموږ د ټولنې ځانګړتیاوې تعیین کړي. » ۵۴/ ۴۸، ۴۹، ۵۰

د نوي رژیم په سیاستونو کې  بدلون او په تیره شوروي اتحاد ته زیات نږدې کېدل د واشنګټن ،پکن او د هغو د متحدینو د منفي غبرګون سبب شو او  هغوی په دې لټه کې شول ترڅو جمهوري دولت ته  د خپلو افغان چوپړیانو او د نظام د مخالفینو پرمټ ستونزې جوړې کړي.له همدې امله« د امریکې د بهرنیو چارو وزیر هنری کیسنجر دوه ځله د افغانستان د رهبرانو سره د خبرو اترو له پاره کابل ته راغی چې د هغه سره جوخت د امریکې استخباراتي کړۍ د ښې لاسو بنسټپاله اپوزیسیوني ډلو او  همدارنګه د بنسټپاله کیڼ اړخو ډلو چې په هغو کې د مائویسم پلویان هم وو اړیکې ټینګې کړې.» ۶۶ / ۳۵  د واشنګټن دا ډول چلند چې له  شوروي سره یې مبارزه د دموکراسۍ په خاطر مبارزه ګڼله د اسلامي او مائویستي دوو مخالفو بنسټپالو دښمنو ډلو سره د اړیکو د ټینګولو نه موخه دا وه ترڅو د افغانستان نوي  نظام ته ستونزې جوړې ،امنیت کړکیچن او د هغو څخه خپلو هژمونیستي موخو ته د رسیدو په خاطرګټه پورته کړي.مسکو هم په افغانستان کې د خپل نفوذ د لا زیاتولو په موخه داسې لارې چارې لټولې چې د افغانستان مشرتابه د لویدیځ سره د نږدې کیدو په څه کې نشي ترڅو افغان دولت لاس تړلی د مسکو د ارادې پلې کوونکې وسیله وي. د مسکو دا نیت شوروي اتحاد ته داود خان د دوهم سفر(۱۹۷۷) کې جوت شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برژنف د افغانستان په شمال کې د غربي کارپوهانو او متخصصينو د شتون په هکله خپله اندېښنه څرګنده کړې وه. پدې اړه د دواړو مشرانو ترمنځ د خبرو د تبادلې په اړه د نظر اختلاف دی خو د دواړو هيوادونو په اړيکو يې منفي اغيز پرېښود. مسکو خپلو موخو ته د رسيدو لپاره هم په افغان دولت کې او هم له هغه بهر د خپلو چوپړيانو نه استفاده کوله چې هغه مهال د پرچم ډلې او کيڼ لاسو سکتاريستي کړيو ته ګوته نيول کيده . د دولت په د ننه کې پرچميانو بيا خپلې موخې لرلې چې په امنيتي ارګانونو او دولتي ادارو کې د خپل نفوذ د زياتولو سربېره د خپلو سيالانو او سياسي مخالفانو کمزوري کول وو. پرچميان چې د مسکو له بشپړملاتړ څخه برخمن وو د مسکو د ارادې له مخې خپل فعاليتونه پرمخ وړل او مسکو د پرچميانو له لارې کولای شول خپله اراده په محمد داود تحميل کړي او هغه يې د شوروي اتحاد د نفوذ د مخالفو سياستوالو په ځپلو کې ليدل .د غوث الدين فايق په وينا پرچميانو « د خپلو بادارانو سيالان لکه ميوندوال او خان محمد مرستيال له ډګره وايستل.» ۵۲/ ۹۴ پدې اړه يو بل افغان ليکوال ورته نظرلري چې« د بيګناه کسانو بندي کول او چانواري د محمد داؤد د پرچمي همکارانو له لوري يو پيل وو ترڅو هغه کسان چې د دوی د کړنلارې په وړاندې خنډ ګرزي او خطرناک يې ګڼل له منځه يوسي.» ۶۷/ ۲۱-۲۲ دا چې محمد داود د انقلاب په دوهمه ورځ د دفاع وزارت د سرپرست په توګه د جنرال خان محمد مرستيال په اړه خپله پريکړه بيرته اخلې په نوې واکمنې کې د هماغه پيل څخه کشمکشونه، اختلافونه او مخامختيا ښيي.د محمدداؤد د واکمنۍ په مهال د يو شمير ځواکمنو سياستوالو په زنداني کولو او بيا وژلو کې پرچميانو ته لدې امله ګوته نيول کيږي چې د دولت په امنيتي او قضايي سيستم يې بشپړ کنټرول درلود چې د وخت د کورنيو چارو د وزارت د تحقيق او د پوځي محکمې هيآت يې څرګندې بيلګې دي :

الف – د کورنيو چارو د وزارت د تحقيق هيآت

«۱-غلام فاروق يعقوبي رئيس، ۲–عبدالصمد ازهر غړی ،۳- نصراله عمرخيل غړی، ۴ - غلام رسول عمرخيل غړی، ۵- باقي ( مشهورپه پټک) غړی،۶ -مهرالدين قطره غړی، ۷ – سيدکاظم پرواني غړی.د دغو اوو تنو څخه د سيدکاظم پرواني سازماني اړيکې څرګندې نه وې نور ټول د پرچم د اړخ غړي وو.» ۳۶/۱۸

ب – د پوځي محکمې هيآت

۱ – ډګرجنرال غلام فاروق رييس

۲ – محمد سرور نورستاني غړی

۳ – نبي عظيمي غړی

۴ – محمد آصف الم غړی

۵ -عبداستار سيدخيلي غړی

۶ – محمد يوسف غړی

۷ – مولاداد غړی. د

پوځي محکمې هيات غړي د رييس پرته نور ټول پرچميان وو.

د سرطان انقلاب وروسته په افغانستان کې د زبرځواکونو د دا ډول دريځ له امله چې يوه اړخ يو شمير افغان سياستوال او سياسي کړی د نوي رژيم پرضد کودتاګانو او ترهګريزو فعاليتونو ته هڅول او مرسته يې ورکوله او بل په دولت کې خپل چوپړيان د نورو سياسي ډلو ، ناپييلو او ملتپالو سياستوالو ځپلو ته هڅول پايله يې په هيواد کې د تيکاو له منځه تلل کيدل. د دولتي ضد ډلو ټپلو په هڅولو او لمسولو کې د (واشنګتن ، اسلام آباد ، تهران ) مثلث په ګډه عمل کاوه.«تهران داود تر فشار لاندې نيولی وو چې شکمن کمونستان لرې کړي.هغه مهال ساواک د رژيم مخالفينو ته د امريکايي وسلو، د ارتباط د وسيلو او تجهيزاتو او غيرپوځي مرستو وسيله وو، دا مرستې مستقيماً د ايران له خوا د افغانستان په غربي سيمو کې ناراضه قبيلوي مشرانو ته چې د ايران د پولې سره يې فعاليت درلود او نورې يې پټې د پاکستان له لارې بنسټپالو ډلو ته ورکول کيدې. د پاکستان څخه د داؤد ناخوښي د پنجشير په دره کې په پوځي اډو باندې د بريدونو له امله چې د پاکستان لخوا سمباليدل لوړې کچې ته رسيدلې وه. همدا راز ساواک ، سيا او د پاکستان اطلاعاتي آژانسونو د داؤد د رژيم خلاف د۱۹۷۳ کال د سپتمبر او ډسمبر او د۱۹۷۴ کال د جولای په ناکامه کودتايي هڅو کې ښکيل وو.» ۴۷ / ۱۵-۱۶د ايران له لارې پاکستان ته د وسلو ليږد

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان د وخت د صدراعظم ذوالفقار علي بوتو او د امريکې د جمهور رئيس ريچارد نکسن د هغو خبرو څخه جوتيږي چې د۱۹۷۳ کال د سپتمبر په اتلسمه او نولسمه يعني د چنګاښ کودتا دوې مياشتې وروسته په واشنګتن کې درلودلې چې په هغوکې د دواړو دولتونو د بهرنيو چارو وزيرانو( عزيزاحمدخان او کسينجر)هم ګډون کړی وو. دلته به ددې خبرو هغه برخه راوړل شي چې د ايران څخه پاکستان ته د وسلو د ليږد په اړه دي:
کسنجر- سفيرصاحب هلمز( مخکې د سی آی اې رئيس او هغه مهال په ايران کې سفير) د نوامبر په مياشت کې پاکستان ته درځي . هغه به ستاسو سره ( د ايران څخه پاکستان ته ) د يو شمير وسلو د ترانسپورت په هکله خبرې وکړي.

نکسن – څرنګه چې نوموړی د سي آی اې پخوانی رئيس دی په دا ډول مسئلو کې ډير وارد دی. د جزئياتو په هکله به سبا خبرې و کړو. تاسي کولی شئ په پاکستان کې زموږ د نوي سفير ښاغلی بويرد سره آزادانه خبرې وکړئ. هغه غښتلی او سرسخت سړی دی. هغه د هندوستان طرفدارهم نه دی. هغه د منځني ختيځ څخه معلومات لري. تاسو ته يو سفير مقرر شوی دی چي زموږ د پاليسی نه خبر دی.
عزيزاحمدخان- آيا موږ کولی شو د ښاغلی هلمز د عملياتي دندې په اړه خبرې وکړو؟

کسنجر- هو، زه به د يادو شوو معلوماتو په هکله اطلاع ورکړم.

نکسن - هغه يو پوځي صاحب منصب دی او رتبه يې د جنرال ده.

عزيزاحمدخان – هو! هغه مخکې په افغانستان کې وو، پدې دنده د هغه مقررول ښه غوراوی دی.

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d148

د وسله والومخالفينو دولتي ضد فعاليتونو چي ترشا يي لويديځ او چين ولاړ وو او د مسکو او د هغه د متحد (پرچم ) چلند محمد داؤد دي ته اړ کړ چي په خپلو تګلارو نوی نظر واچوي يعني دا چي د ايران او پاکستان سره خپل اختلافونه حل کړي ،د لويديځ او لويديځ پلوه عربي هيوادونو سره اړيکي پراخه کړي ، له شوروي اتحاد څخه واټن ونيسي، دولت له کيڼ لاسو او سمونپالو پاک کړي او مترقي ځواکونه وځپي. محمدداود عملاً پدې لار کې ګامونه اوچت کړل. د ايران سره يي د هلمند د اوبو د تړون اسناد مبادله کړل ، پاکستان ته يي سفر وکړ، د پاکستان پلاوی کابل ته راغی او په عربي هيوادونو وګرزيد ، د دولت نه يي د کيڼ لاسو پر ايستلو پيل وکړ او د ا، خ، د،ګ د ځيلو په موخه د نوموړي سازمان د کدرونو او غړو په زنداني کولو لاس پوري کړ چي د۱۹۷۶ کال په پای کي يوازي د خلقيانو د سلو تنو څخه زيات کدرونه بنديان وو. پداسي حال کي چي د۱۹۷۳ کال د پوځي کودتا په درشل کي د ټولو سمونپالو او کيڼ لاسو لاندې پنځلس تنه سياسي بنديان وو چي د محمد داود د فرمان له مخې له زندان څخه خوشي شول:

۱ – انجينرعثمان ، مضطرب ،باختري ، داکترعبدالهادي محمودي ، سيدکاظم دادګر ( دموکراتيک نوين)

۲ –بحرالدين باعث، ظهورالله ظهوری ،قيام ، محمدصديق ،رنجبر ( سازا )

۳ – دستګيرپنجشيري ، صالح محمدزيری ، فدامحمد خواريکښ ( خلق )

۴ – فدامحمد فدايي ( د ملت جريدي مدير)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا سره د داودخان د نږدې کېدو هڅې لدې ښکاري چې هغه پلان درلود چې د۱۹۷۸ کال په جولای کې واشنګټن ته سفر وکړي .د جمهوري دولت په تګلاره کې د دا ډول بنسټيز بدلون پایله دا شوه چې کینې لاسي او سمونپالان هم د نظام په وړاندې ودرېږي. د انقلاب د مشر په تګلاره کې د دا ډول حیرانوونکي بدلون پایلې دومره ژورې وې چې د خلق دموکراتیک ګوند دواړه سیال دښمن اړخونه( خلق او پرچم ) له لسو کلونو انشعاب وروسته سازماني یووالي ته غاړه کیږدي. د جمهوري دولت په تګلاره کې دې ډول بدلون نه یوازې په هیواد کې د ټیکاو او جمهوري دولت د ستنو د ټینګښت لپاره مرسته ونکړه بلکې حالات یې لا نورهم کړکیچن او توپاني کړل.

## ځان وژنه که له منځه وړنه ؟

د۱۳۵۲ کال د وږي په ۲۹ د کابل راډیو د ماښام په خبري سرویس کې د جمهوري حکومت دوې ابلاغیې خپرې شوې چې په لومړۍ کې یې د افغانستان په کورنیو چارو کې د پاکستان د حکومت لاسوهني غندل شوې وې او په دوهمه کې یې داسې راغلي وو:« د څه مودې راهیسې یوې ډلې مرتجعینو د جمهوري نظام ضد او د امنیت د ګډوډولو او د هیواد د انقلابي غورځنګ د له منځه وړلو لپاره غونډې کولې. له نیکه مرغه او په بري سره هغوی د ټولو اسنادو او شواهدو سره ونیول شول. دا خاینان د انقلاب دوستانو په بردبارۍ او حوصلې سره څارل ...، دوی عبارت دي : محمدهاشم میوندوال، د ننګرهار پخوانی والي خان محمد ، متقاعد ډګرجنرال عبدالرزاق او یو شمېر نور تیره پنجشنبه د حکومت په امر ونیول شول.» ۶۸ د دې اعلامیو د خپرېدو لس ورځې وروسته حکومتي رسنیو دا خبر خپور کړ چې میوندوال ځان وژلی دی. په دې اړه په حکومتي رسنیو کې راغلي وو چې میوندوال د کودتا نیت درلود، کودتا افشاء شوه، کودتاچیان ونیول شول او بیله شکنجې یې په کودتا اعتراف وکړ. د میوند وال پلویان او ځینې څیرونکي د کودتا تور یوه دسیسه ګڼي او پدې اند دي چې میوندوال د تحقیقاتو پر مهال د وهلو ټکولو له امله ووژل شو او په ځانګړي توګه پرچمي عبدالصمد ازهر د تحقیق مشر ته ګوته نیسي. د محمد داود پلویان وایي چې کله میوندوال ته د خان محمد مرستیال او وکیل سیف الدین شینواري اعترافونه واورول شول او محمداکرم پیلوټ د میوندوال په شتون کې له کودتا نه پرده پورته کړه په هماغه شپه میوندوال ځان غرغره کړ. د محمد داود ځانپالنې ته په کتو سره چې نه یې مخالف نظر او نه یې داسې څواکمنه سیاسي څیره زغملی شوای چې دده نه زیات وطن او خلکو ته د چوپړ ویاړ تر لاسه کړي ښایي میوندوال د ده د ارادې له مخې له منځه وړل شوی وي. د میوندوال سربیره یې بیلګې انجینرغلام محمدفرهاد د افغا ن ملت بنسټ اینودونکی او عبدالملک عبدالرحیم زی دي. فرهاد لومړنی د کابل منتخب ښاروال وو چې په ښاروالۍ کې د ښه مدیریت له امله « سره لدې چې د کابل ښاریانو غوښتل چې انجینرفرهاد دوهم ځل وټاکل شي سردارمحمد داود یې مخنیوی وکړ.» ۶۹/ ۲۹۰ – ۲۹۱ عبدالرحیم زی د مالیې او اقتصاد وزیر چې په خپله محمد داود همدې مقامونو ته رسولی وو او د هیواد د لومړني پنځه کلن اقتصادي پلان جوړوونکی دی.کله چې نوموړی په ۱۹۵۶ کې امریکې ته رسمي سفر وکړ او د امریکا نه یې د زیاتو مرستو ژمنې تر لاسه کړې هیواد ته په راستنیدو سره یې د ژوند پاڼه واوښته او د څه مودې وروسته ( د۱۳۳۶ کال د چنګاښ په څوارلسمه) د بې کفایتۍ له امله له دندې ګوښه او نظر بند شو. له دندې څخه د نوموړي د ګوښه کیدو مکتوب ګواکې د پاچا د فرمان له مخې د محمد داود په لاسلیک صادر شوی وو خو په مکتوب کې د فرمان لمبراو نیټې شتون نه درلود. پدې هکله ع۰ شیرعلومي د پاچا د ګارد د تشریفاتو رئیس لیکي :« د مالیې د وزیر په توګه د مرحوم عبدالملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحیم زي نصب د وخت د صدراعظم په نوښت او شخصي پیژندنه صورت نیولی وو. همدارنګه مرحوم یې د سلطنت د مقام د اشارې او هدایت پرته ګوښه کړ.»۷۰ / ۷۲ عبدالرحیم زی د ګوښه کیدو څه موده وروسته زنداني شو. د نوموړي د زنداني کیدو په هکله صدراعظم محمد داود چې د دفاع د وزارت د چارو لارښوونه هم کوله په وزارت کې د غرمې د ډوډۍ د خوړلو پرمهال ویلي وو: « عبدالملک د یوه پردي هیواد په همکارۍ غوښتل په هیواد کې یوه هنګامه جوړه کړي چې مخه یې ونیول شوه. له نیکه مرغه صاحب منصبان او د اردو افراد ورسره همغږي شوي نه وو. تاسو به ډیر ژر د تحقیقاتو پایلې د شته سندونو پربنسټ واورئ چې څه ډول توطئه ترسره کیدله تر څو مملکت تباه کړي. کلونه تیرشول ، عبدالملک خان ۲۱ کاله په زندان کې پاتې شو، نه تحقیقات ترسره شول ، نه محکمه دایره شوه او نه اسناد میدان ته راووتل چې د عبدالملک خیانت ثابت کړي. » ۶۷/ ۴۶ د چنګاښ د کودتا وروسته د بند څخه د عبدالرحیم زي د خوشي کېدو فرمان ورکړل شو خو هغه له زندان څخه پدې نامه ونه ووت چې هغه بېګناه وو. نوموړی د۱۹۷۸کال د ثور انقلاب وروسته د عقرب په پنځلسمه له زندان څخه آزاد شو.

دا ناشوني ده چې د میوندوال د پوځي کودتا واقعیت او یا تور ثابت شي. خو کېدای شي د میوندوال له لوري د کودتا هوډ یا په هغه تور ، د نوموړي د ځانوژني یا له منځه وړنې په هکله د مختلفو سرچینو او لاسوندونو پر مټ، د هغه مهال حالاتو، د محمد داود تګلارو او د نوموړي د ائتلافي ملګرو نقشو ته په کتنې سره قضاوت وشي. میوندوال د دموکراسۍ د لسیزې له هغو صدراعظمانو څخه دی چې د متوسطې طبقې څخه یې سر را پورته کړ. د ملکیار د معتبرې کورنۍ سره د نوموړي خپلوي د دې لامل شوه چې میوندوال د سلطنت پام ځانته را واړوي ،لوړو مقامونو او حتی صدارت ته یې ورسوي. داسې ویل کیږي چې د پاچا له لوري د صدراعظم په توګه د میوندوال د غوراوي موخه دا هم وه چې د داودخان سره خپلې ترینګلې اړیکې جوړې کړي ځکه چې « میوندوال د محمد داود روزلی نفر وو د محمد داود په لومړي حکومت ( ۱۹۵۳ ــ ۱۹۶۳) د بهرنیو چارو په وزارت کې د محمدنعیم د حمایې لاندې شخصیت ګڼل کیده.هغه د شوروي اتحاد ، بلغاریا، انګلستان، چکوسلواکیا، پولند اوعراق د سفر وروسته د محمد داود او محمد نعیم سره اوږده مجلسونه لرل. »۱۰/۷۱ کله چې میوندوال په روڼ اندو او په تېره محصلینوکې اعتبار ترلاسه کړ د سلطنتي کورنۍ دښمني یې وګټله او ده هم د صدارت وروسته په پاچا او سلطنت نیوکې پیل کړلې. ښایي علت یې دا وي چې نوموړي د خپل صدارت پر مهال ولیدل چې پاچا او سلطنتي کورنۍ د حکومت په چارو کې لاسوهنه کوله او ده ته یې ستونزې او خنډونه جوړول. میوندوال د صدارت څخه د استعفي وروسته کشککی ته ویلي وو:« حتی د سلطنتي کورنۍ د هغو غړو نومونه چې لا په وروښې کې هم دي په خبرونو کې د صدراعظم د نامه څخه مخکې چې ستر مسئولیتونه او کارونه ترسره کوي ځای ورکول کیږي. » ۳۲ / ۲۲ د میوندوال سره د سلطنتي کورنۍ ځواکمن غړي محمد داود چې د هیواد د زعامت نیولو ته یې تابیا نیوله د پوځي کودتا د چمتووالي پر مهال د پاچا ګل وفادار په وینا دا آوازې خپرولې چې میوندوال کودتا کوي. خو د هماغه مهال واکمن حالت او وروستیو پیښو نه داسې بریښي چې محمد داود غوښتل د خلکو پام میوندوال ته راوګرزوي او په ولس کې دا ذهنیت واکمن کړي چې میوندوال د واک لیوال دی او د خپلې واکمنۍ پر مهال دا ځواکمن سیاستوال د کودتا په تور له سیاسي ډګره وباسي . میوندوال، ډګرجنرال عبدالرزاق او جنرال خان محمد مرستیال د۱۳۵۲ کال د سنبلې په ۲۹زنداني شول او وروسته نور جنرالان ، افسران ، د ولسي جرګې پخواني وکیلان او ملي سوداګر هم ونیول شول او د تلې په اتمه یې اعلان کړل چې میوندوال په زندان کې د نکتایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، روجايي ، کوټ بند او کمربند په واسطه ځان وژلی دی. د ميوندوال له لوري کودتا د لاندې دليلونو له امله واقعيت نلري .

**الف – د ميوندوال ځانګړتياوې**

ميوندوال ولسواکۍ ته ژمن سياستوال وو او هغه د پوځي کودتا پايله « ترور، استبداد او اختناق ګڼل. » ښه بيلګه يې د جنرال عبدالقادر څرګندوني دي. د جنرال د خاطراتو په کتاب کې راغلي هغه غوښتل داسي يو سياسي شخصيت چې ملي او نړيوال شهرت ولري پيدا کړې چې د هغه تر لارښووني لاندې پوځي کودتا وکړي. هغه د ميوندوال سره د خپلې ليدنې په اړه د کتاب په ۱۳۳ مخ کې وايي: « ضياءالدين مې له تولګي والو نه وو ، هغه هم پيلوټ شوی وو، په امريکا کې يې زده کړې کړې وې ، د ميوندوال د کلي وو او د ميوندوال سره يې اړيکې لرلې. د ضياءالدين سره ميوندوال ته ورغلو، کيناستو او له هغه مو واوريدل. يوازې مې ترې وپوښتل : تاسو چې په هيواد کې مهمې دندې لرلې او ستر کارونه مو تر سره کړي دي د ټولنې د اوسني بن بست څخه د وتلو لپاره مو کوم کارونه په پام کې نيولي دي ؟ ميوندوال نرم او آرام وو. داسي يې ښودل چې په افغانستان کې دموکراسۍ رواج ومومي. نوی نسل بايد په دموکراسۍ باور پيدا کړي ، سياسي خوځښتونه سره نږدې شي او سياسي ځواک جوړ کړي. لومړي ځل مې د ميوندوال نه د ښايسته سالارۍ اصطلاح واوريده. ويل يې څوک چې د کار وړتيا ولري بايد ميدان ته راووزي ،په خپلو دندو کې رښتيني وي ، او د خلکو او وطن په ګټه کار وکړي تر څو افغانستان لدې بن بست څخه ووزي. د ميوندوال خبرې مو خوښې نشولې. و مو ويل وروره هغه څه چې موږ په هيواد کې لرو د هغو سره نه جوړيږي.» همدارنګه ميوندوال په ۱۳۵۰ کال کې په يوه مجلس کې د کودتا په اړه ويلي وو : « څرنګه چې کودتا يو پوځي ،توطئه آميز او پټ کار دی ، لدې کبله هغه نشی کولی ولسشموله او وګړنيزه وي. پردې ښسټ هغه د ولس د اکثريت قشر او عامه خبرتيا پرته صورت نيسي ، څه ډول چې د ملت سره اړيکي نلري او خلک د هغې په طرحه او عملي کولو کې ونډه نلري، لدې امله کودتايي رژيم د خلکو نه لرې پاتې کيږي د خلکو ملاتړ نشي ترلاسه کولی ...، که داسي رژيم ښه نيت هم ولري او په يو لړ سطحي او نمايشي کارونو لاس هم پورې کړي د خلکو ملاتړ نشي تر لاسه کولی ځکه چې ملي اتکا نلري ، هميشه متزلزل پاتې کيږي ، دا تزلزل رژيم اړ باسي د خپل پايښت لپاره استبداد ته مخه کړي او هرمخالف نظر د زور او ځواک په واسطه له منځه يوسي. بناً ويلی شو چې د کودتا پايله ترور، استبداد او اختناق دی . »۷۲

**ب- د چنګاښ د کودتا په وړاندې د ميوندوال غبرګون**

د کودتا پرمهال ميوندوال په فرانسه کې وو. د کودتا څخه په خبرېدو سره محمد داود ته د مبارکۍ تلګرام استوي. د دې تلګرام وروسته هيواد ته د تلو په نيت خوځيږي او په عراق کې د افغانستان د سفيرخليل الله خليلي کور ته د هغه ليدو ته ورځي. پدې هکله به د خليلي له مېرمنې واورو: « د چنګاښ په اته ويشتمه پخوانی صدراعظم محمدهاشم ميوندوال د استاد خليلي د احوال اخيستلو په موخه زموږ کور بغداد ته راغلی وو خو دا وخت استاد خليلي په کابل کې وو. ما د ميوندوال نه پوښتنه وکړه آيا تاسي په بغداد کې پاتې کيږئ يا بل کوم هيواد ته ځئ ؟ ميوندوال په ځواب کې وويل چې سردار صاحب جمهوريت اعلان کړی دی او دا به مناسب نه وي چې پدې وخت کې د هغه تر څنګ و نه دريږو، دا پر موږ واجب دي چې د خپلو سپين سرو تر څنګ ودريږو او بايد ده ته د خدمت کولو آمادګي اعلان کړو.» ۷۳ « ميوندوال د خارج څخه هيواد ته په را ستنيدو سره د کابل په هوايي ډګر کې د محمد داود د جمهوري رژيم څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ملاتړ احساساتي وينا وركړه .د محمدداود او ميوندوال ترمنځ نږدې اړيكي د كينې لاسو چې د محمدداود په رژيم تسلط درلود د انديښنو سرچينه ګڼل كيده .» ۳۲/ ۶۰ داسې بريښي كله چې ميوندوال هيواد ته راستون شو حالات د خپلې تمې خلاف ويني تر دې چې ځان خوندي هم نه ګڼي. وخت پيدا كوي چې د خپل پخواني دوست او د نوي رژيم د مشر محمد داود سره ويني او د كتنې په پاى كې سردار ته وايي چې غواړي بهر ته ولاړ شي خو سردار ورته وايي « مناسب نه وينم چې تاسو د هيواد نه بهرته سفر وكړئ» د دولت مشرميوندوال ته بهر ته د تللو مشوره ورنكړه ترڅو د وړي په نه ويشتمه پدې نامه چې سردار غوښتى دى د محمدنبي عظيمي له لوري لومړى ارګ ته وړل كيږي او بيا زنداني كيږي .

**ج- د كودتا په تور د بنديانو څخه تحقيقا ت**

په ولسواكه ټولنو كې چيرې چې قانون واكمن وي ترڅو چې د تحقيقاتو په پايله كې په يوه تورن تور ثابت نشي هغه د خائن ، مرتجع ، وطن پلورونكى او جنايتكار په نامه د رسنيو له لوري نه اعلانيږي او ضمناً مستنطق ته د تور اسناد وړاندې كيږي چې د هغه پربنسټ له تورن څخه تحقيقات ترسره شي. مخكې لدې چې له ميوندوال څخه تحقيقات وشي د هغه د بندي كولو په خبركې هغه د خاين او مرتجع په نامه اعلانيږي .دا په خپله ښيي چې خاين ميوندوال د ژوند حق نلري . د تحقيق په اړه د ميوندوال د تحقيق د هيئت مشر عبدالصمد اظهر ليكي: «كله مو چې اسناد وغوښتل، عمومي قوماندان قديرخان وويل تاسو تحقيق پيل كړئ اسناد به مو په اختيار كې كيښودل شي، د هغه مهال په ډارونكي او وحشتناكه فضا كې چې د اسنادو پرته څه ډول تحقيق وشي ټينګار بې معنى وو.»۷۴ په هغه ورځ چې د ميوندوال د زنداني كېدو خبر خپور شو. سيف الرحمن شينوارى او حاجى فقير د شورا پخواني وكيلان په همدې ورځ د ننګرهار والي عزيزالله واصفي خپل د فتر ته غوښتي وو چې د ماښام په اتو بجو كابل راډيو دوې اعلاميې خپرې كړې چې مخكې يې يادونه وشوه. دلته څكه د پورتنيو دوو وكيلانو نومونه راوړل شول چې ګواكې د كودتا سند چې د پاكستان سره د كودتا چيانو تړاو ښيي د سيف الرحمن شينواري د كور د بخارۍ د دود كش څخه يوه ورځ وروسته وموندل شو چې په هغه كې نوموړي ته د پاكستان له لوري هدايت وركړل شوى وو چې خپلو حكومتي ضد كړنو ته دوام وركړي. والي دواړه وكيلان د مركز په هدايت راغوښتي وو چې كابل ته يې د ميوندوال سره د اړيكو لرلو له امله واستوي. د راديو څخه د دې ابلاغيو په اوريدو سره والي هغوى ته وايي: «وررونو هغه دليل چې تاسو مې رابللي يئ دا دى چې تاسو يې كابل ته غوښتي ياست، تاسو انديښنه مه كوئ ،ښايي د ميوندوال د همدې مسئلې په اړه ستاسو څخه معلومات واخلي او ډير ژر خپلو كورونو ته راستانه شئ ، دواړه جګ شول او د موټر په واسطه يې كابل ته حركت وكړ.» ۷۲ كه دې وكيلانو د كودتاچيانو سره اړيكي لرلى تښتېدلى به واى نه دا چې په خپله كابل ته لاړ شي . كه چيرې ومنل شي چې د كودتا په هكله اصلي سند دا ليک دى داسې يو خطرناک سند د سليم عقل خاوند له لوستلو وروسته له منځه وړي نه دا چې هغه په خپل كور كې وساتي او بل دا چېددې ليک د ساتلو اړتيا څه وه؟ بيله شكه دا ليک د كوم چارواكي په دستور د نوموړي د كور د بخارۍ په دودكش كې ايښودل شوى دى .د سيف الرحمن په كور كې د ليک د ايښودلو په اړه داود ملكيار د وخت د سرحدونو د وزير پاچا ګل وفادار له قوله په يوه ليكنه كې يادونه كړې ده چې دوو تنو ځوانانو دا ليک د كورنيو چارو د وزير فيض محمد په دستور ايښى وو. خو وفادار د دې كسانو په هكله نور معلومات نه وركوي. محمود سوما د خلقي واكمنى د لوړوزده كړو وزير د ليک ايښودونكى ببرک شينوارى معرفي كوي . هغه وايي:« كله چې د خلقيانو مشر تره كى د ببرک لدې سپک كار څخه خبر شو د ګوند څخه د هغه د شړلو دستور وركړ او هغه له ګوند څخه وشړل شو. د ثورانقلاب له برې لنډه موده وروسته امين

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خلقي ځوانانو د سازمان د مشر په توګه مقرر کړ او د ګوند د غړي په توګه هم معرفي شو.» د امین له لوري نه یوازې له ګوند څخه شړل شوی ببرک شینواری د ګوندي په توګه ومنل شو او په لوړ مقام مقرر شو بلکې عارف عالمیار هم چې د ګوند څخه شړل شوی وو نه یوازې د ګوندي په توګه معرفي شو بلکې د کابل ښار د نهمې ګوندي ناحیې د منشي او د ترانسپورت په وزارت کې د رییس په توګه مقرر شو . یو خلقي کدر لیکوال ته وویل کله چې ما د امین له لوري ګوند ته د شینواري د منلو اړوند مسآله د زیري سره طرحه کړله او د امین دا کار مې انتقاد کړ هغه را ته وویل چې شینواری هم انقلابي دی او ته هم انقلابي یې انقلابیونو ته ښایي چې د انقلاب څخه دفاع وکړي . د میوندوال څخه شوي تحقیقات رسنیو خپاره کړل په یوه ځواب کې یې راغلي وو چې جمهور رئیس ده ته هدایت ورکړی وو چې انتظار وباسي او ده ته دنده ورکول کیږي. میوندوال دا هم وایي د دې پرځای چې د رژیم د راپرزولو په لټه کې وي د جمهور رئیس د اوامرو انتظار ایست ترڅو د محمدداود له رژیم سره همکاري وکړي. د خان محمدمرستیال د اعترافونو په یوه برخه کې داسې راغلي دي: « د میوندوال سره مې د هغه په کور دریمه کارته کې ولیدل او د خپل پلان په هکله مې ورته وویل. » پدې هکله مستنطقی دې ته متوجه نه دی یا خبر نه درلود چې د۱۹۷۱ کال نه وروسته میوندوال په دریمه کارته کې نه بلکې په نوي ښار کې ژوند کاوه . دا بیا د دې ښکارندوی دی چې مرستیال د چنګاښ کودتا وروسته د میوندوال کور ته ندی ورغلی.دا ځکه چې مرستیال د میوندوال د دوو کلونو مخکې کور پته مستنطق ته ویلې ده چې د کودتا په اړه نه بلکې د نورو مسآلو په اړه څه ویلي دي او لدې کتنې وروسته یې میوندوال نه دی لیدلی . که د کودتا په اړه مرستیال اعتراف کړی وي هغه هم د شکنجو له امله دی . د شکنجو پرمټ د اعتراف په هکله ډګرجنرال عبدالرزاق لیکي :« د کورنیو چارو وزیر( فیض محمد) وویل: ولې ځواب نه لیکې ؟ ومې ویل ، زه څه ووایم چې کودتا مې کوله ؟ پداسې حال کې چې نه مې کودتا کوله او نه هم د کودتا خبره وه. دا یوه دسیسه ده چې ماته جوړه شوې ده.ویې ویل : که په خپله رضا یې ووایې ښه ده که نه په زور به ستا څخه اعتراف واخلو...، هغه د شکنجو وروسته اړکیږي اعتراف وکړي او لیکي : نه غواړم بې آبه شم ، مرګ د دې ژوند څخه ښه دی .پدې ډول څه شی مو چې نه وو کړي ، پرهغو مې اعتراف وکړ...»
۷۵

د پورتنیو څرګندونو پربنسټ دې پایلې ته رسیږو چې په میوندوال او د هغه سره په نیول شوو کسانو د کودتا تور یوه دسیسه وه . په هرصورت د میوندوال په شمول ټولټال ۴۲ تنه جنرالان ، افسران، د شورا پخواني وکیلان او ملي سوداګر زنداني شول چې شپږ تنه یې اعدام او نور د حبس په مختلفو کلونو محکوم شول او چانواري شوي کسان ټول پښتانه وو . میوندوال د اسلام په اړه بشپړه پوهه درلودله او دی معتقد مسلمان وو او پوهېده چې ځانوژنه په اسلام کې جواز نلري. سربېره پردې د غوث الدین فایق له قوله چې یوه ورځ مخکې یې میوندوال د دهمزنګ په زندان کې لیدلی لیکي چې هغه په ملي جامو کې وو. همداراز ډګرجنرال عبدالرزاق خان ته په زندان کې یوه صاحب منصب ویلي چې میوندوال د تحقیق پر مهال ووژل شو او ملي جامې یې اغوستي وې. دا هم په زندان کې معمول دي چې له بندي څخه اضافي شیان اخستل کیږي نو څرنګه د میوندوال سره دریشي، کمربند او حتی کوټ بند شتون درلود ، ځکه د هغه د ځانوژنې په اړه ویل شوي وو چې هغه په کمربند، نکټایي، روجایي او کوټ بند ځان را ځړولی وو. که دا ومنل شي چې له میوندوال سره دریشي او کوټ بند وو دا نو زندان نه بلکې مېلمستون وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معکوسې پايلې

د سلطنت په نسکوريدو سره د دموکراسۍ د لسيزې مطرح سياسي سازمانونو( پرچم، خلق، شعله جاويد، ځوان مسلمانان ، مساوات ) د نويو حالاتو سره خپلې تګلارې او سياسي فعاليتونه عيار کړل. د پورتنيو شپږو ډلو څخه يوازې پرچم د جمهوري دولت برخه وه . په نظام کې د نومورې سازمان امکانات د دولت له مشر څخه هم غوره وو. ځکه پرچميانو د څه کم اتو کلونو سياسي مبارزې تجربه لرله . محمد داود نه سياسي ګوند درلود او نه يې غښتلی کاري ټيم او په خپله هم د زيات عمر له کبله اړينې فزيکي او ذهني وړتياوې نه لرلې. په جمهوري دولت کې د پرچم دې برلاسۍ دې ته لار هواروله چې محمد داود تجريد او د خپلو سياسي سيالانو د کمزورولو په موخه پوره ګټه پورته کړي.پرچميانوخپلې هڅې پدې راګرزولې وې چې د هرڅه د مخه داودخان د خپلو پخوانيو دوستانو او همدارنګه سياسي مطرح څيرو څخه چې له نوي رژيم سره د همکارۍ ليوال وو تجريد او هغوی له ډګره وباسي. د دې کارڅخه يې موخه دا وه چې محمد داود په پرچم ډېره ولګوي.کشککي د دموکراسۍ د لسيزې د وروستي حکومت د کابينې غړی ليکي: «هغوی( پرچميانو) هيڅکله ما ته موقع رانکړه ترڅو محمدداود ووينم.سره لدې چې په ۱۹۷۷کې د هغه د ياورانو څخه يوه راته څو ځلې ټلفون وکړ چې انتظار وباسم او ماته به احوال راکړي چې هغه ووينم. » ۱۰۷/۳۲ پدې هکله چې نورمحمدتره کی هم بريالی نشو محمد داود ووينی هغه به د صالح محمدزيري څخه ولولو چې د مرکزي کميټې د يوې غوندې په اړه د تره کي له قوله راوړي : « په هرځای کې مو پرچميان مخه نيسي. زه عبدالحليم ارګ ته بوتلم او هلته يې له چا سره خبرې وکړې او زه يې په ښه توګه ارګ ته د ننه کړم . يو عسکرهم را سره ولاړ او زه يې کومې شعبې ته بوتلم ، هلته د علومي په نامه يوه صاحب منصب ته وروستلم ، هغه عسکر ولاړ ما علومي ته وويل چې زه غواړم د جمهوريت له مشر سره وګورم ، نوم مې نورمحمدتره کی دی. هغه وويل زه تا پيژنم ، ته کښينه زه به احوال ورکړم. علومي بيرته راغی ويل يې د جواب انتظار وباسم. ما ورته وويل سمه ده ، په څو ساعتو مې انتظار ويستی.په پای کې همدغه علومي راغی ويل ، ملي رهبر ستا سره نه ګوري او ستا څخه نفرت لري. ما هم هيڅ ونه ويل او راووتم . ملګري ډېر خوابدي سول چې داودخان څرنګه غوښتل له تره کي صاحب سره وګوري او بيا يې داسې کار وکړ. يوه ملګري وويل ښايي چې داودخان به غوښتل خو پرچميانو يې لار بنده کړې ده. بل ويل، ښايي پخپله پرچميانو زموږ د تحقيرولو لپاره دغه ټوله نقشه جوړه کړې وي. خو تره کي ويل چې دواړه امکانه موجود دي ځکه چې د علومي چلند هم دوستانه نه، بلکې تحقيرآميزه و. » ۴۰ / ۳۳۸ ( علومي د چنګاښ د انقلاب وروسته په ګارد کې د اپراسيون يا د حرکاتو مدير وو) . همدارنګه ډګرجنرال عبدالرزاق د داود خان له دوستانو څخه چې د کودتا وروسته جمهور رييس هغه ته دنده سپارلې وه چې د هېواد د هوايي او مدافعه هوايي قواوو د نيمګړتياوو او سمونونو په اړه رپوټ جوړ کړي اوغوښتل يې محمد داود ووينې خو د ليدنې فرصت يې نه وو ورکړی ليکي :« وپوهېدم چې محمد داودخان يې داسې محاصره کړی دی هغه کسان چې غواړي هغه ووينې نه يې شي ليدلای. لدې نېټې وروسته معلوم شول چې داودخان د دې خلکو تر کنترول لاندې دی.» ۷۵ د کودتا وروسته شعله يان، سکتاريستان او اسلامپال د نوي نظام په وړاندې ودرېدل، د دولت دښمني يې وکټله او اړشول د ځمکې لاندې پټو فعاليتونو ته مخه کړي. خو د جمهوري نظام چلوونکو د محمدهاشم ميوندوال په مشرۍ د مساوات ډله او اسلامي غورځنګ د نورو په پرتله نوي نظام ته ګواښمن ګڼل. لدې کبله يې د هغوی د ځپلو هڅې پيل کړې. واکمنانو داسې انګيرل چې ميوندوال په نړيواله کچه يو پيژندل شوی سياسي شخصيت دی او ملګري يې هم اکثرآ پخواني لوړ رتبه ماموران وو او کولی شي د سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپوزیسیون د یوه غښتلي لیډر په درېځ کې سر را اوچت کړي. همدارنګه اسلامي غورځنګ ورته ځانګړتیاوې لرلې او سربېره پردې د اسلام تر سیورې لاندې کولی شي دودیزه مسلمان هېوادوال د واکمنۍ په وړاندې راوپاروي. له بله پلوه د انګرېزانو څخه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو وروسته د مدرنیتې په وړاندې د دین او مذهب څخه ناوړه ګټه پورته شوې ده او د جمهوري دولت مؤتلفینو (داود- پرچم ) پردې اساس اسلامي غورځنګ او روحانیون نوي نظام ته ګواښمن ګڼل. په میونړوال دا تور هم وو چې هغه د سي آی اې سره اړیکې لري او د نړیوال اسلامي نهضت ترشا هم لویدیځ او په سرکې متحده ایالتونه ولاړ وو. خلقیانو د جمهوریت ټینګښت یو مثبت بدلون ګڼلو او د محمدداود افکارو ته په کتو سره چې د هیواد د پرمختګ لیوال او د ښې لاسو او په تیره د ارتجاعي روحانیت دښمن دی د جمهوري نظام د ملاتړ سربېره د مخالفینو د توطئو په خنثی کولو کې مرسته ورسره کوله چې د اسلم وطنجار له خوا د توپچی د قوماندان جنرال میراحمدشاه د توطئې په اړه حکومت په جریان کې اچول یې څرګنده بیلګه ده. د جمهوریت په وړاندې د خلقیانو دا ډول درېځ هغوی د نوې واکمنۍ له فشار او ګوزار څخه وساتل او په سړه سینه یې د خپلو لیکو د پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کولې. له بله پلوه د خلقیانو غوڅ اکثریت د متوسطې او ټیټې طبقو استازي وو چې واکمنۍ د دوی دا رنګه ټولنیز درېځ او شونتیاوې دولت ته خطرناک نه ګڼل. لکه څرنګه چې سلطانعلي کشتمند پدې اړه لیکي :« د خلقیانو اړخ د پراخو سیاسي فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره نه تصمیم درلود او نه شونتیاوې ...» ۱۸۰/۳۹ البته د کشتمند ددې ادعا په هکله چې خلقیانو د سیاسي فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره تصمیم نه درلود دا پوښتنه پیدا کېږي نو خلقیانو د څه لپاره سیاسی فعالیت درلود خو د شونتیاوو خبره یې د پرچم په پرتله سمه ده .بل لامل چې داودخان له خلقیانو څخه نه ډارېده د دې ډلې سیاسي او ایدیولوژیکي باورونه وو چې د شوروي اتحاد له تګلارو څخه په ملاتړ څرخېدل. محمد داود هم د شوروي اتحاد سره خورا نږدې اړیکې لرلې. لدې امله جمهوررییس د خلقیانو څخه کوم ګواښ نه احساساوه او د خلقیانو د ځپلو هوډ یې نه در لود.

د پورتنیو څرګندونو په پام کې نیولوسره او د جمهوري دولت د لومړی نیمایي بهیرونو او پېښو هم وښودل چې دولت د میونړوال ډله او اسلامي غورځنګ وځپل. البته د میونړوال پلویانو د خپل مشر د وژلو وروسته د سیاسي فعالیت څخه لاس واخېست. خلقیان چې د واکمنۍ له فشار خوندي وو د خپلو لیکو د پیاوړتیا لپاره اړینه ګټه پورته کړه. د کودتا وروسته چې د هیواد سیاسي او امنیتي وضعیت کړکیچن وو او انقلابي دولت د خپلو ژمنو کوچنۍ برخه هم ترسره نکړه .خلقیانو د اعلامیو په خپرولو سره د واکمنۍ په تګلارو نیوکې کولې او خپل وړاندیزونه یې واکمنۍ ته وړاندې کول. د سیاسي او امنیتي وضعیت په خرپیړتیا کې یې محمدداود، پرچمیان او مخالفین ملامتول او خپل درېځ یې چې نه په دولت کې دی او نه یې د دولت خلاف درېځ نیولی دی یوازیني معقول درېځ او د افغانستان د لوړو ګټو سره برابر ګاڼه . د خلقیانو دا ډول درېځ په روڼ اندو کې د هغه اعتبار او نفوذ ته ګټور تمام شو او په کمي لحاظ یې لیکې خورا پیاوړې شوې. پرچم چې په جمهوریت کې د واک په ګدۍ ډېه لګولې وه د محمد داود پر مټ د خلقیانو پرته خپل نور سیالان ښه وځپل .بې ویلو ښکاره ده چې د هرې واکمنۍ لومړني او کلیدي مسؤلیتونه په هېواد کې د ټیکاو او امنیت ټینګښت او ولس ته د خدمتونو وړاندې کول دي. جمهوري دولت په همدې چاره او همدا رنګه په خپلو ژمنو کې پاتې راغی .د سمونونو او اصلاحاتو په اړه دومره ویل بکار دي چې دا سمونونه او اصلاحات یوازې په ویناوو کې خلاصه کېدل او په عمل کې یې څرک نه لګیده. په ادارو کې فساد د پاچا د زمانې په شان ادامه وموندله.دې حالت په لوستي قشر کې هم د محمد داود او هم د هغه مؤتلف ( پرچم ) اعتبار ته زیان ورساوه. د محمد داود سره د پرچم د ائتلاف موخه دا وه چې پدې پړاو کې ځان غښتلی، خپل سیالان او په هغو کې خلقیان کمزوری کړي او د یوه پیاوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان په توګه د افغانستان د سیاسي ډګر په یوازیني لوبغاړي واوړي معکوسي پایلي لرلې چې هغه د پرچم د فرکسیون کمزوري او خلقیانو غښتلتیا وه . همداراز د محمد داود د واکمنۍ د دویمې نیمایي تګلاره چې د کیڼ اړخو او په تیره د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند له ډګره ایستل ، لویدیځ ته ځان نږدې کول او پدې توګه په واک کې پاتې کیدل وو هم معکوسي پایلي لرلې ځکه هغه د۱۹۷۸ کال د اپریل په پنځمه د ګوند ځینې مشران توقیف او غوښتل یې چې هغوی اعدام کړي او پدې ډول یوازېنۍ قوي سازمان چې د واکمنۍ بدیل وو هم له لوبې وباسي خو د ګوند د خلقي اړخ د پوځي پاڅون له امله جمهوري نظام نسکور او د ا، خ ، د، ګ واک ترلاسه کړ.

## اختیار که اجبار ؟

د ظاهرشاه په پاچاهۍ کې د دولتي چارو د لاربښوونې څرنګوالي ته په کتو سره هغه په دوو پړاوونو ویشلی شو. لومړی پړاو چې پاچا د ممثل او سمبول حیثیت درلود واک د صدراعظمانو (هاشم خان ، شاه محمود خان او داود خان ) سره وو او دوهم پړاو د دموکراسۍ لسیزه ده چې پاچا عملاً واک په خپلو منګولو کې ونیو او د ربښتیني ټولواک له دریځ څخه برخمن شو. البته چې څلویښت کاله د هیواد بهرنۍ پالیسي په بشپړ ډول د سلطنتي کورنۍ او د حکومت امنیتي بنسټونه د واکمنې کورنۍ او محمدزیو له لوري یرغمل شوي وو. په بهرینو هیوادونو او په ځانګړې توګه په ځواکمنو هیوادونو لکه متحده ایالتونو، انګلستان، فرانسه ، آلمان او شوروي اتحاد کې سفیران او زیاتره ډپلوماتان د دې کورنۍ غړي وو. خود دې کورنۍ د ټنبلۍ له امله پدې څلویښتو کلونو کې افغانستان د یوه زراعتي هیواد په توګه حتی د دې جوګه نشو د کورنیو کرنیزو تولیداتو له مخې پخپل ځان متکي شي بلکې د خوراکي توکو زیاته برخه له بهر نه هیواد ته راوړل کیدله. بېوزلي ، بېسوادي او بېکاري د ټولنې د ځانګړتیا وه او خلک د بیساره ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګریوان وو. دې ډول حالت په ټولنه کې داسې ذهنیت واکمن کړی وو چې ګواکې سلطنت د هیواد د پرمختګ د خنډ لامل دی او که شاهي نظام په جمهوریت واوړي هېواد به ګل ګلزار شي . همدا دلیل وو چې روڼ اندو د جمهوري نظام څخه هرکلی وکړ. د کودتا په پایله کې د رازیږیدلي جمهوریت په مشرۍ کې بیا هم د سلطنتي کورنۍ غړی ولاړ وو. داود پلوی جنرال زکریا ابوي هغه«سرټمبه ، کینه کښ، ځانغوښتونکی سردار چې د تیریدنې او جوړجاړي نه بې خبره وو » معرفي کوي. د یوه دولتي زعیم د دا ډول ځانګړتیاوو منطقي پایله د استبدادي نظام ټینګیدل دي. د محمد داود د ځانغوښتنې ، استبداد او سرټمبه ګۍ ښه بیلګه د ډګرجنرال غلام فاروق، د دموکراسۍ په لسیزه کې د پوځ لوی درستیز د مشر زوی صدیق فاروق لاندې څرګندونې دي چې د محکمې د رئیس په توګه د خپل پلار د مقرریدو په اړه د خپلې مور له قوله وایي : « یو ماښام ډګرجنرال غلام فاروق خان چې د شهید داودخان لیدو ته ورغلی وو د معمول خلاف ډیر پریشان او ډیر ژر کور ته راغی، ډګر جنرال غلام فاروق د معمول خلاف د کورنۍ غړو ته وویل چې ده د شهید داودخان امر نه دی منلی او په قهر د ده نه راوتلی دی. پلار یې مور ته ویلي وو چې کالي او درمل یې چمتو کړي ځکه د داودخان له قهر اوغرور څخه چې خبر دی او هغه رویه چې ده نن کړې ، د نوموړي له امر نه یې سرغړونه کړې ده ،په قهراو بیله خدای په امانۍ د داودخان نه راوتلی دی حتماً نن شپه بندي کیږي. مور یې د فاروق خان نه پوښتلي دي چې د داودخان کوم امر یې ندی منلی په ځواب کې یې ویلي وو چې ده ته امر شوی وو چې د پوځي محکمې رئیس شي چې د میونداوال او یو شمیر نورو تورنو جنرالانو او صاحب منصبانو د پوځي محکمې ریاست په غاړه واخلي. ده شهید داودخان ته ویلي چې اکثراً دا جنرالان د ده نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان دي چې کلونه یې ورسره ملګرتیا لرله او دا کار ورته ناممکنه دی چې هغوی محاکمه کړي...، هماغه شپه د لسو بجو وروسته بیا ټلفون راغی او پیغام ورکړ شو چې رهبر امر کړی دی چې ډګرجنرال همدا اوس عاجل ملاقات ته ورشي . ډګرجنرال د کورنۍ سره مخه ښه وکړه او په بیړه د داودخان لیدو ته ورغی. هغه د عسکري کالیو او خولۍ سره خو د نکتایي پرته د داودخان لیدو ته ورغی. د داودخان یاور ضیاء مجید خپله نکتایي ورکړې وه ترڅو په منظمه عسکري دریشۍ کې د داودخان دفتر ته ورننوزي. د دې لیدنې وروسته غلام فاروق خان د پوځي محکمې ریاست منلی وو.» ۷۶ دلته لیدل کیږي چې پخوانی لوی درستیز د زندان له ویرې اړ کیږي داسې مقام ومني چې نه یې مسلک وو، نه یې د هغې تجربه لرله او مهمه دا چې نه یې غوښتل دا دنده ومني . د فاروق خان په خبرو کې د پام وړخبره داده چا چې د محمد داود امر او حتی وړاندیز نه دی منلی ځای یې زندان دی. لدې امله د محمد داود ځینې پلویان هغه باکفایته ډیکتاتور ګڼي. ښه ساری یې په ډګرجنرال فاروق خان د پوځي محکمې ریاست منل دي چې د خپلو پخوانیو ملګرو او دوستانو د غرغرې فرمانونه لاسلیک کړي. فایق د خپل کتاب په ۱۵۷ مخ کې د دواد خان په اړه لیکي چې «د سردار محمد داود خان له هیبته د وزیرانو په مجلس کې چا ټوخی نشو کولی.» د داودخان د دې ځانګړتیاوو پایله دا شوې وه چې د جمهوریت په نامه د هغه فردي استبدادي واکمنې ټینګه شي چې مناسب نوم یې د افغانستان جمهوري شاهي دولت دی. « داود خپل شاهي ضمایم نه سول پرېښودلای ، او سره لدې چې ځان د افغانستان د جمهوریت ولسمشر او صدراعظم ، اعلان کړ خو عمل یې د یو پاچا غوندې وو او ډیر ژر یې د شاهي ولسمشر لقب وګټی.» ۳ / ۱۹۳ – ۱۹۴ هغه سیاستوال بریالی دی چې همکاران او سیاسي مخالفان یې د ستونزو او سیاسي مسئلو په هکله ورسره دوستانه خبرې اترې او مشاجرې وکړی شي او د تیریدنې او جوړجاړي هنر یې زده وي . پربله خوا په سیاست څه چې په عادي مناسباتو کې سرتمبه ګي ، کینه او ځانغوښتنه ځای نلري . د جمهوریت مؤسس د مخالف نظر د نه زغملو له امله د سیاسي مخالفینو د ځپلو تګلاره غوره کړه. څرنګه چې هر عمل عکس العمل لري همدا لامل وو چې د نوي نظام په وړاندې د کودتاګانو او مخالفتونو لړۍ پیل شوه چې منطقي پایله یې د امنیت خرپړکیدل، د سیاسي ټیکاو له منځه تلل او د ترور او اختناق واکمنیدل وو. په بهرني سیاست کې د ناپیيلتوب له دودیزه سیاست څخه ډډه ، د شوروي اتحاد په غېږ کې غورزیدل او د ګاونډیانو خلاف دریځ نیول لویدیځ ، چین ، پاکستان او ایران اندیښمن او و یې هڅول چې د نظام په وړاندې بنسټپالې کینې لاسې او مذهبي ډلې ولمسوي او نوي نظام ته ستونزې جوړې کړي. د نظام مخالفان چې اسلامي غورځنګ ، چین پلوه کینې اړخي او سکتاریستي ډلې وي پاکستان ته په پناه وړلو سره هلته ورته پوځي ترینګ ورکړل شو او افغانستان ته یې د ورانکاریو لپاره راولیږلې. البته هغه مهال د ایران شاهنشاهي رژیم هم د نظام د مخالفینو سره همغږي ښودله او هغوی ته یې وسلې برابرولې. د ایران د شاهنشاه اندیښنه او ویره لدې څخه وه که جمهوري نظام خپلې ژمنې چې د هیواد آبادي او د ولس سوکالي پکې لیدل کیده پلې کړي او افغانستان پرمختګ وکړي د ایران خلک به هم د شاهنشاه په وړاندې ودریږي. د افغانستان د حکومتونو په وړاندې ډیر لږ د ایران د لاسوهنو په اړه ویل شوي او ویل کیږي پداسې حال کې چې ایران د پاکستان په شان تل د افغانستان په وړاندې دښمنانه رول لوبولی دی. هغه مهال افغانستان ته د ستونزو په جوړولو کې د ایران رول ځکه زیات وو چې د ایران شاهنشاهی دولت په سیمه کې د امریکې د ژاندارم حیثیت درلود. حتی واشنګټن د تهران له لارې اسلام آباد ته پیسې او وسلې ورکولې چې د افغانستان په وړاندې د جمهوریت مخالفان تریننګ کړي . جمهوري دولت هغه مهال اړ شو په خپلو تګلارو بیا کتنه وکړي چې د۱۹۷۵ کال د جولای په ۲۸ د انقلاب د دوهمې کلیزې په دریمه په کابل کې برینښنا پرې شوه او د هیواد په ځینو سیمو لغمان، لوګر، ننګرهار،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدخشان او پنجشیر کې د اړودوړو هڅې وشوې. وروسته لدې پېښو محمد داود چاره پدې کې ولیدله چې د لویدیځ ارادې ته په ګونډو شي او د هغه د غوښتنو سره سم خپل سیاستونه عیار کړي. د لویدیځ عمده غوښتنې دا وې :

- د کېڼ لاسو او په ځانګړې توګه د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند ځپل.

– د پاکستان او ایران سره د اختلاف وړ ستونزو حل او د پښتونستان له داعیې څخه تیریدل.

– د شوروي اتحاد او لویدیځ سره په مناسباتو بیا کتنه.

محمد داود بیله دې چې په خپلو تګلارو کې د دا ډول بنسټیزبدلون پایلو ته پام را وګرزوي عملی ګامونه اوچت کړل. دا مهال دي چې سردار یو ځل بیا په یوه ناڅرګنده لار روان شو. لومړی ځل یې د کودتا ناڅرګنده او د شوروي اتحاد په غیږ کې د لویدو لار ونیوله پایله یې دا شوه چې د لویدیځ ارادې ته په ګونډو شي او دا ځل یې د لویدیځ غوښتنو ته لبیک ووایه چې پایلې یې ناتار زیږونکې شوې. د محمدداود دا ډول سیاستونه بیا هم د نوموړي د شخصیت سره تړاو لري چې هغه د واک تږی او د زعامت لیوال وو. د کودتا له لارې یې غوښتل واک ته ورسیږي او په خپل کورني او بهرني سیاست کې یې د بدلون له امله هیله لرله چې د لویدیځ ملاتړاو مرستې به تر لاسه کړي او ضمناً به لویدیځ د جمهوري نظام مخالفین چې رژیم ته ستونزې جوړولې وهڅوي له مخالفته لاس واخلي او پدې توګه په واک کې پاتې شي. خو د لویدیځ اصلي موخه د محمد داود ورکه او د هیواد د مترقي غورځنګ بشپړه له منځه وړل وو. لویدیځ پوهیده چې ناسیونالست محمد داود د سترافغانستان خوبونهویني چې لویدیځ ته دا ډول افغان سیاستوال د منلو وړ نه وو. خو محمد داود د لویدیځ دا لوبه درک نکړه چې غواړي هم دی او هم د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند چې د ده بدیل وو له منځه یوسي او د خپلو نوکرانو واک ته رسولو لپاره شرایط چمتو کړي. لکه څرنګه چې داودخان د خلقیانو د وسلوال پاڅون په پایله کې له واکه ګوښه کړل شو واکمن ذهنیت دا وو چې دا د مسکو نقشه وه چې خلقیان یې وهڅول او مرسته یې ور سره وکړله د داودخان خلاف کودتا وکړي . دا ډول ذهنیت بشپړ ناسم دی ځکه چې د افغانستان د هغه مهال له حالاتو او سیاسي بهیرونو څخه باخبره څېړونکي مسکو ته نه بلکې واشنګټن ته ګوته نیسي چې د داودخان قبر یې ورته وکېندلو . یو له دغو کسانو څخه امریکایي افغانستان پېژندونکی سلیک اس هاریسون دی چې د۱۹۷۹ کال د می میاشتې په ۳۱ د واشنګټن پوست په ورځپانه کې یوه مقاله خپره کړې او په دې اند دی چې دا د ایران شاه وو، نه بریژنف چې د افغانستان د پېښو ځنځیر یې د محمد داود ترنسکورېدو پورې کش کړ. د هغه په وینا د محمد داود سفر ایران ته او د ایران سره د استخباراتي همکاریو هوکړه ،د کېڼ لاسو اخراج له دولت څخه، د شوروي څخه لیرې والی، هغه څه وو چې د محمد داود نسکورولو ته یې لار هواره کړله. د چنګاښ د کودتا متفکر مغز حسن شرق هم ورته لیدلوری لري. لویدیځ پلوه اسلامي دولتونو محمد داود ته د پریمانه مرستو ژمنې وکړې خو د مرستو څرک یې نه لګیده . د بېلګې په توګه یوازې ایران افغانستان ته د دوو میلیاردو ډالرو د ورکولو ټټر وډبولو. د ایران د مرستوپه هکله « جعفرنادم د ایران د بهرنیوچارو په وزارت کې دریم مقام د فشار خبره کوي چې ساواک د داود د رژیم په اړه په کاراچولو .هغه وویل چې د کابل رژیم ته خپلې مرستې پدې شرط کوي چې خلق او پرچم وځپي او د هغې سربیره د افغانستان له مقاماتو نه یې ژمنه اخیستې وه چې د پاکستان سره به د سولې لوزنامه لاسلیکوي او پدې لار کې به د پاکستان د پښتنو او بلوڅو بنوربنیانو څخه هر ډول ملاتړ ختموي. » ۴۷/ ۲۰ دلته لیدل کیږي چې په سیمه کې د امریکې د ژاندارم ، ایران موخه په هیواد کې د کړکیچ ایجادول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ترڅو ددې کړکیچ څخه ناوړه ګټه پورته کړي. البته «د ایرانیانو اساسي وړاندیز چې د هلمند د اوبو د قرارداد په مقابل کې به د اورګاډي پټلی جوړوي هم عملي نسو...،ایران د ۱۹۷۴کال په اکتوبر کې د اورګاډي د پروژې او ځو نورو پروژو لپاره افغانستان ته د لس میلیونه ډالرو وعده ورکړه ، سعودي عربستان هم د بېله سوده ۵۵ میلیونو ډالرو پور وړاندیز وکړ، عراق د لس میلیونو ډالرو پور او ۲ میلیونو ډالرو بسپنې تخصیص ورکړ، کویټ او د خلیج نورو دولتونو هم د کټ مټ مرستو اشارې وکړې خو ایران د هلمند د اوبو د تړون تر تصوییبدو وروسته اعلان وکړ، چې خپلې بهرنۍ مرستې کموي او د دوی سره افغاني لوري د جامعو خبرو اترو سره سره ایران په ۱۹۷۷ کې پخپله ژمنه کې پاتې راغی. » ۳/ ۲۰۴- ۲۰۵ لدې څخه ښکاري د ایران شاهي دولت چې د نورو په پرتله د زیاتو مرستو ژمنه کړې وه خپلو ژمنو ته شا کړه. له پورتنیو څرګندونو څخه دا پایله راوزي چې د محمدداود په تګلاره کې دا ډول بنستیز اوښتون ، اختیاري نه بلکې اجباري وو. هغه فکر کاوه چې پدې کار سره به وتوانیږي خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړي خو پایلې یې د ده د تمې خلاف معکوسې راوختلې.

## د ستر لاربنود د تجرید او انزوا پړاو

ډېری داودخان د هیواد د پرمختګ لیوال، پرهېزګار ، ځانغوښتونکی، دیکتاتور او د واک تږی ګڼي. د نوموړي دې ځانګړتیاوو ته په کتوسره د هغه پلویان «محمد داود خیرغوښتونکي مستبد، زړه سواندی او باکفایته ډیکتاتور» بولي . د محمد داود د ارادتمندانو له لوري د هغه دا ډول انځور اېستل چې یو متضاد ترکیب دی په یوه ځانګړي شخصیت کې منطقي نه ښکاري. کله چې د محمدداود د حکومت پرمهال هغه مخکښ روڼ اندي او سیاستوال چې د ولسواکۍ ، د قانون د واکمنۍ او ټولنیز عدالت د ټینګښت او د هیواد د آبادۍ په موخه مبارزه کوله بندي او شکنجه کول او وژل په کوم منطق سره داسي یوه واکمن ته خیرغوښتونکی او زړه سواندی دیکتاتور وویل شي. زړه سواندي او ځورونه ، خیرغوښتنه او وژنه متضادې پدېدې دي. البته د نوموړي د ځانګړتیاوو سره د باکفایته دیکتاتور لقب بشپړ سر خوري ځکه چې ټول دیکتاتوران باکفایته دي. دیکتاتوران د خپلو نقشو د پلي کولو په خاطر له هرډول روا اوناروا لاروچارو څخه که د سلګونو او زرګونو انسانانو ککرې پکې ماتیږي ، د زندانونو د تورو تمبو شا ته کلونه تیرکړي ، جلاوطنۍ ته اړشي او بیساره لګښتونه پکې وشي استفاده کوي چې منطقآ پدې کار کې بریالی راوزي او پدې لار کې یعني د خلکو په ځورولو او وژلو کې خپل کفایت او وړتیا ثابتوي. د هر دیکتاتور د یوې نامعقولې پریکړې په وړاندې که زیات لګښتونه او انساني تلفات هم ولري څوک دا جرئت نه کوي چې اعتراض وکړي لدې امله دا پریکړه په هره بیه چې وي عملي کیږي. پر دې بنسټ محمد داود ته د خیرغوښتونکي او زړه سواندي لقب ورکول د هغه له شخصیت سره سر نه خوري له بله پلوه د ولسواکۍ او د ټولنیز عدالت د لارې مبارزانو ته چې خیرغوښتونکي او زړه سواندي دیکتاتور ځورولي او له منځه وړي دي څرګند سپکاوی هم دی. د محمدداود د صدارت او جمهوریت پرمهال سیاسي بندیان لکه عبدالملک عبدارحیم زی او موسی شفیق کوم غولیدلي جنګیالي او ترهګر نه وو چې وسله په لاس د خپل حکومت او خلکو په وړاندې د ترهګریزو کړنو د مخنیوی په موخه زندان ته اچول شوي وي. دا زندانیان د د موکراسۍ ، د قانون د واکمنۍ او ټولنیز عدالت د ټینګښت او نورو سیاسي ملحوظاتو له امله زندان ته اچول شوي وو . مستبد ، مستبد دی او دیکتاتور، دیکتاتور هغه ښه نلري. داودخان که ځیرک سیاستوال وای د خپل پلار محمد عزیز او تره نادرخان له ترور څخه د عبرت درس اخیستی وای او د استبدادي چلند سره یې مخه ښه کړې وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون د واکمنی او د ټولنیز عدالت د ټینګښت د لارې مبارزان د مستبدانو او دیکتاتورانو کړنو ته په هیڅ دلیل برآت نه ورکوي او هغه محکوموي. د محمد داود همدا منفي ځانګړتیاوې وې چې د۱۹۷۳ کال د چنګاښ د کودتا وروسته د ده د واکمنی په وړاندې مخالفتونو زور واخیست او په هیواد کې حالات کړکیچن شول. سمونپالو او ملي- دموکراتیکو کړیو ځکه د محمد داود د پوځي کودتا ملاتړ وکړ او په لومړیو کې د نوموړي د هغو اقداماتو چې د دموکراسۍ د لسیزې په لاسته راوړنو ( آزادو رسنیو، د غونډو اوټولنو د جوړولو) یې بندیز ولګولو اعتراض ونکړ چې هغه یې موقتي اړتیا ګڼله چې ډیر ژر به دا بندیزونه لیرې او خلکو ته به بشپړې آزادۍ چې هغې ته یې معقوله او رښتیني دموکراسي ویله ورکړې او پدې توګه به جمهوریت ټینګ شي. خو کله چې د۱۹۷۷ کال( جنوري ۳۱- فبروري۱۳) کې یې لویه جرګه راوبلله او د اساسي قانون د تصویب سربیره یې جمهور رئیس هم وټاکه. پدې جرګه کې د نوي اساسي قانون تصویب او د جمهور رئیس د ټاکنې مسخره ننداره د جمهوریت د ټینګیدو ټولې هیلې په نهیلۍ واړولې او دا جرګه په واقعیت کې د محمد داود بشپړې انزوا ته لارهواره کړله. البته د هغه مهال د دفاع وزارت د تشکیلاتو د رییس جنرال زکریا ابوي په وینا د کودتا وروسته « لومړۍ بدمرغي چې د داود خان په وړاندې پیدا شوله او د پوځ منسوبین یې پر هغه بې اعتماده او بدبینه کړل هغه کودتا وه چې جنرال خان محمدخان مرستیال او خدای بخښلي میوندوال ته نسبت ورکول کېدله.» ۷۷/۴ لویې جرګې ته د چمتووالي او په خپله د جرګې بهیر د پام وړ دی. جرګې ته د ۲۲۰ ټاکنیزو مرکزونو( د ولایت مرکز او ولسوالی ) څخه ښاروالانو او ولسوالانو شپږشپږ تنه د ولایت مقام ته معرفي کول. والي به بیا د هغوی څخه دری تنه د لویې جرګې مرکزي حکومتي کمیسیون ته ورپیژندل او دې کمیسیون به د هغو څخه یو تن لویې جرګې ته ور پیژاند چې پدې توګه به له هره پلوه چاڼ شوي استازي لویې جرګې ته لار موندله. سربیره پردې ۱۳۰ تنه لوړپوړي ملکي او پوځي چارواکي اود کارګرو، بزګرو او روڼ اندو د استازو په نامه جرګې ته غوره شول. د لویې جرګې د دایریدو څخه درۍ ورځې مخکې کابینه او د جمهوریت مرکزي کمیټه ړنګه ، پوځي مقررات لغوه او د اساسي قانون مسوده په دولتي رسنیو کې خپره شوه ترڅو ولس د هغې په اړه خپل نظر وړاندې کړي. په رسنیو کې د لویې جرګې درۍ ورځې مخکې د اساسي قانون د مسودې خپرول په خپله د عوامفریبۍ یوه بېلګه وه چې څرنګه به د هېواد د ګوټ ګوټ نه خلکو خپل نظریات مرکز ته استولي وای . د اساسي قانون په مسوده کې د یوه ګوندي سیستم طرحه وړاندې شوې وه ، د قواوو تفکیک پکې نه ترسترګوکیده ، د مطبوعاتو د آزادۍ مسئله پکې ګونګه وه او د سیاسي سازمانو پر فعالیت بندیز لګیدلی وو. د دولت نوم د افغانستان جمهوري دولت او د جمهور رئیس د کار موده شپږ کاله په پام کې نیول شوې وه . لویې جرګې دا مسوده د رایو په اتفاق تصویب کړه.د نوي اساسي قانون له مخې د هیواد سیاسي نظام ریاستي( پریزیدانسیل) ومنل شو. د اساسي قانون له مخې راتلونکی پارلمان د ملي جرګې په نامه نومول شوی وو چې په ۴۹ ماده کې پدې اړه داسې راغلي وو: « ملي جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندوی ده او د ټول ملت نمایندګي کوي او د هغې غړي به په سلو کې پنځوس د کارګرو او بزګرو څخه تشکیل ، د ګوند له لورې پیشنهاد او د آزادو، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې به د څلورو کلونو لپاره د خلکو له لارې ټاکل کیږي. » دا ډول ټاکنې د شوروي اتحاد لوړدولتي ارګان( عالي شورا ) ته ورته وې چې هلته به هم واکمن ګوند عالي شورا ته استازي پیشنهادول او خلکو به همدې پیشنهاد شوو استازو ته رایې ورکولې. عجیبه دا ده چې دا ملي جرګه ( پارلمان ) هم جوړ نشو. د اساسي قانون د تصویب پرته جرګې دا دنده هم لرله چې جمهور رئیس وټاکي . د جمهور رئیس ټاکنه پخپله د اساسي قانون څخه سرغړونه وه هغه قانون چې همدې استازو څو شیبې مخکې تصویب کړی وو. د اساسي قانون په ۷۶ ماده کې راغلي وو:« جمهور رئیس د ګوند له لورې د کاندیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د لویې جرګې له خوا د دوو ثلثو د اکثریت رایو پر بنسټ د شپږو کلونو لپاره ټاکل کیږي. » هغه مهال دې ګوند شتون نه درلود. پردې اساس جمهور رئیس د اساسي قانون د تصویبیدو په هماغه ورځ د قانون خلاف ټاکل شوی دی .

د ملي انقلاب ګوند جوړښت بله کیسه لري چې هغه جوړنشو. کیسه داسې وه چې د ۱۹۷۶کال د جولای په میاشت کې یعنی د لویې جرګې نه څلور میاشتې مخکې د دولت رئیس د دفاع وزیرسردار غلام حیدر رسولي، د دولت وزیر عبدالمجید، د صدارت مرستیال سیدعبداله اله او د معارف وزیر عبدالقیوم وردګ د ګوند د جوړولو لپاره وګومارل خو د کابینې ځینو غړو د دې ترکیب په وړاندې مخالف وښود. دا مخالفت د دې سبب شو چې د ګوند د جوړیدو بهیر ودرول شي. سربیره پردې د جمهور رئیس ټاکنه په خورا مضحکه توګه پداسې حال کې ترسره شوه چې سیال نوماند شتون نه درلود. کله چې د ولسمشر د ټاکنو مسئله د لویې جرګې د رئیس لخوا طرحه شوه« د مخکنې پټ پلان له مخې په دې غونډه کې یوې میرمنې وویل :ملي رهبر محمد داود دې خپل ځان دې دندې ته کاندید کړي.عزیزالله واصفي د لویې جرګې رئیس غږ کړ : خورې ! ښاغلی محمد داود ځان نه کاندیدوي ، هغه دا حق ملت ته ورکړی دی. ډیرې خبرې وشوې او محمد داود هم وویل نه غواړي ځان کاندید کړي. پدې وخت کې د خوست وکیل وریښمین په لوړغږ وویل : که د دولت رئیس نه کوي ، باید رسولي صاحب کاندید شي. داسې غږ د حصارک د وکیل حاجي عبدالوهاب له لوري هم اوچت شو چې د حاضرینو د خندا سبب شو. دا مهال محمد داود وویل : په یوه شرط یې منم که د دې ستر مسئولیت له عهدې و نه وتم استعفی کوم.» ۱۷/ ۳۸۹ د دې خبرې په اوریدو سره د جرګې رئیس وویل څوک چې غواړي محمد داود د هیواد د جمهور رئیس په توګه وټاکل شي خپل لاسونه دې جګ کړي. ټولو خپل لاسونه پورته کړل او پدې ډول د رایو په اتفاق محمد داود د شپږو کلونو لپاره د افغانستان د جمهوري دولت د رئیس په توګه وټاکل شو. عجیبه خو لا دا وه مخکې لدې چې د جمهور رییس د ټاکنې په اړه رای ګیري وشي د جرګې رئیس وویل د تالار د ننه او بهر هر څوک کولی شي ولسمشری ته ځان کاندید کړي. د تالار څخه چا ځان کاندید نکړ او د تالار نه بهر به څه ډول چا ځان کاندید کړی وای چې رای ګیري په همدې شیبو کې ترسره کیدله. نبي مصداق ته جنرال عارف چې د محمدداود تربور او یو وخت د دفاع وزیر وو د ولسمشر په توګه د ټاکل کیدو وروسته په هماغه ماښام روغتون ته د پوښتنې لپاره ورغلی وو ویلي دي: « که د دې مقام لپاره کوم سیال موجود وای نو ما به نه وو قبول کړی » ۳/ ۲۰۶ په اساسي قانون کې پر مدني آزادیو او سیاسي فعالیتونو بندیز روڼ اندي او سمونپال نهیلي کړل او په تیره کله چې د جزا قانون نافذ شو په هیواد کې د استبداد او اختناق واکمنیدل یقیني شول. همدا دلیل وو چې د لویې جرګې وروسته په هیواد کې امنیتي حالت خرابیږي او په جمهوریت او د هغه په مشرهغه مهال د روڼ اندو باور ټیټی کچې ته راپریووت کله چې د کابل ښار د زمان خان کلا کې د یوه قبرڅخه او په بله خبره له کوم غارڅخه « په څو روایتونو اوه او په یوه روایت پنځه سوه جسدونه کشف شول ...، دغه مړي له کفن او اسلامي سنتونو پرته خښ شوي وو د چاړواکو د کوښښونو سره سره چې دغه پیښه خپره نشي هغه خپره شوه .» ۱ / ۱۴۱ ویل کیدل چې دا مړي عقلی ناروغان وو. د جمهوریت په دوهمه نیمایي کې حالات کړکیچن کیږي. په ۱۹۷۶ ــ ۱۹۷۷ کلونو کې د عبدالمجید کلکاني ډلې د پروان شاوخوا سیمې ناآرامه کړې وې. د۱۹۷۷ کال په اګست کې په مکروریون کې د آریانا افغان هوایي شرکت پیلوټ انعام الحق ترور شو او د کارمل پلویانو ویل چې د ترور موخه کارمل وو.ځکه چې د نوموړي څېره کارمل ته ورته وه او ترهګرو په غلطۍ نوموړی وواژه . د همدې کال په نوامبر کې د پلان وزیر علي احمد خرم د مرجان په نامه یوه ښوونکي د پلان وزارت مخکې په رڼا ورځ وواژه. مرجان د وزیر دفتر ته د توپانچې سره هغه مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننووت چې د وزیر سره جاپاني پلاوی ناست وو. وزیر یې اړایست چې ور سره بهر ووزي او نوموړی ارګ ته بوزي. کله چې وزیر بهر راووت ارګ ته د تلو نه ډډه وکړه او مرجان پرې ډزې وکړې او هلته یې ساه ورکړه. مرجان وتښتیده خو وروسته ونیول شو. مرجان په زندان کې یوه زنداني ته د خپل دې کار په هکله ویلي وو: « زه کندز ته تبدیل شوم. له خپلې میرمنې سره هلته لاړم د اقتصادي ستونزو له کبله مې د موټرو په یوه سرای کې یوه کوټه په کرایه ونیوله. کله به چې سهار ښوونځي ته تلم له بهر نه به مې په خپله میرمن پسې دروازه قلف کړه. په کوټه کې کوم بدرفت نه وو. دا ډول ژوند راته د زغم وړنه وو او هغه مې د یحیی د کورنۍ د واکمنۍ ځخه ګیلې او پریکړه مې وکړه چې کابل ته لاړشم او محمد داود و وژنم. هماغه دي چې توپانچه مې پیدا کړه او د پلان وزیردفتر ته ننوتم او د توپانچې پواسطه مې وزیر اړکړ راسره ووزي او ما ارګ ته ورسوي خو نوموي د وزارت باندې د تلو نه ډډه وکړه او په هغه مې ډزې وکړې. له سیمې وتښتیدم خو وروسته ونیول شوم .» همدارنګه د محمدداود د ملي کلوپ ملګرې شیرآقا د سمنټو د کارخانې رئیس هم په خپل کور کې ووژل شو. د هیواد د وضعیت د خرابیدو په لاملونو کې د محمد داود کرکتر، بدلیدونکو سیاستونو او کمزوري ټیم مرکزي رول درلود. د نوموړي ځانغوښتنه او د شخصیت کیش د ده له لوري د جوړیدونکي ملي غورځنګ ګوند له شعار( خدای ، وطن، لاربښود، جمهوریت) ځخه ښه ځرګندیږي چې د نورو ځخه یې دا تمه لرله اوغوښتل چې ځرنګه خدای خپل خالق ګڼي ، د وطن سره مینه لري او جمهوریت د هیواد د آبادۍ او پرمختګ ایدیآل نظام ګڼي لاربښود( ده ) ته هم پوره درناوی وکړي. د ستر رهبر د دا ډول کرکتر پایله دا شوه چې نه یوازې جمهوریت غوښتونکي او سمونپال د جمهوري دولت په مخالفت کې ودریږي بلکې خبره دې ته ورسیدله چې د نوموړي ملګري ، وزیران او خپلوان هم د ده ځخه واټن ونیسي، په دولت کې د کار کولو ځخه ډډه وکړي ، د هیواد ځخه د وتلو او حتي د محمد داود د فزیکي له منځه وړلو په هڅه کې شي. ځوک چې ورسره پاتې وو او د نوموړي د باور ځخه برخمن وو غوړه مالان ، فرصت غوښتونکي او په پردیو پورې تړلي وګړي وو.

اوس به د پورتنیو ځرګندونو په اړه ځو بیلګې راوړل شي. د جمهوریت په دویمه نیمایي کې په کابینه کې د جمهور رییس ځخه نارضایتي دې کچې ته رسیدلې وه چې اوو تنو وزیرانو او د دولت د مشر د دفتر رئیس له خپلو دندو نه د ګوښه کیدلو نیت درلود. هغوی د محمد داود له هیبته هغه ته خپلې اندیښنې او وړاندیزونه نشوای ویلی. هغوی لومړی د سردار محمدنعیم سره لیدلي وو ترځو نوموړی د دوی وړاندیز محمد داود ته ورسوي او د ملاقات وخت ترې واخلي .محمدنعیم د دوی دا غوښتنه جمهور رییس ته رسولې وه ، دوی له جمهوررئیس سره وکتل او هغه ورته ویلي وو:« اوس ځان مکلف ګڼم چې لویه جرګه را وغواړم او په خپله استعفی وکړم او د افغانستان خلک دې د خپل حکومت په هکله په خپله تصمیم ونیسي. د معترضو وزیرانو سره د کتنې وروسته ځو ورځې جمهور رئیس وظیفي ته نه تلو، لویه جرګه یې هم را ونه بلله او د مرګ د وخت تر رسیدو پورې یې کار ته دوام ور کړ.» ۵۲/ ۱۴۱ « په ۱۹۷۷ز کې د ملکي هوایي ریاست نه سلطان محمود غازي استعفی وکړه او حتی ویل کیدل محمدنعیم خان د هغه ورور د وطن نه د تلوقصد درلود.» ۴۶/ ۵۸۳ محمد حسن کاکړ هم دې مسئلې ته ګوته نیولې او لیکي چې محمد داود د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې د « خپل ورور محمد نعیم او مشر زوی محمد عمر مشورو ته هم غوږ نه نیوه اوهغوی یې هم ناراضي کړل.» ۱/ ۱۵۴ محمد نعیم له خپل ورور نه تردې کچې خوابدی شوی وو چې د هغه نسکوریدل یې غوښتل اوغوث الدین فایق ته یې ویلي وو: «ځرنګه چې تاسو د رژیم په بدلون کې میړانه او سرتیریدنه وښودله بیا هم ستاسو د آزمایښت وخت رسیدلی دی راځئ مخکې له دې چې کمونستان نظام نسکور کړي واک پخپل لاس کې ونیسو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتیاط سره کار پیل کړو.» ۵۲/ ۱۴۲ محمدنعیم پخپله دې پریکړه کې چې داؤدخان له ډګره وباسي ترديې کچې جدي وو چې د کابینې بل غړي پاچا ګل وفادار ته د خپل ورور د وژنې وړاندیز کوي او هغه د محمد نعیم د وړاندیز په وړاندې وایي:« که داودخان د یوه لوړ غره پر سر ویده وي او زما په لاس کې ګل وي نوموړي ته به ګل ورنه وړم چې د خوبه یې راپاڅوي تاسو خو لا د ترور خبرې کوئ.» ۶۰/ ۵۲همدارنګه مصداق ته وفادار ویلي دي: « د داود ورور محمد نعیم او د داود مشر زوی ( عمر) راڅخه وغوښته چې داود و وژنم خو ما پدې دلیل ونه منله چې زه داود د( پلار) په حیث ګنم ، دواړو استدلال راسره وکړ، چې یوه راته وویل : هغه زما یوازینی ورور دی ، هغه بل راته وویل هغه زما پلاردی او یو ځوک یې صرف په دې خاطر باید ووژني چې هغه موږ ټول بربادوي. » ۳/ ۱۹۹

که چیرې د جمهوري نظام دورې او پدې ترڅ کې د هیواد د حالاتو څرنګوالي ته ځغلنده کتنه وشي لیدل کیږي چې د۱۹۷۳ کال د جولای د اوولسمې سیاسي اوښتون ( انقلاب ) د تحول غوښتونکو کړیو له ملاتړ څخه برخمن شو او محمد داود د خلکو په زړونو کې ځای درلود خو د وخت په تیریدو هغه نه یوازې د روښ اندو ملاتړ له لاسه ورکړ بلکې د خپلو خپلوانو ، کودتایي ملګرو او د کابینې د ځېنو غړو له ملاتړ نه هم بې برخې شو او په وروستیو کې د انقلاب لاربښود« د داسي انزوا په حالت کې قرار درلود چې دیکتاتوران یې لري. » ۴۷/ ۲۴ ربښتیا هم چې محمد داود د ثورد اوومې نېټې وسلوال پاڅون په درشل کې پداسې یوه کمزوري دریځ کې قرار درلود چې په ډیره آسانی سره د هغه د راپرزولو شونتیاوو شتون درلود. د۱۹۷۸ کال د اپریل داووه ویشتمې پوځې پاڅون په وړاندې دا رګ د ساتونکو کمزوري مقاومت او پاڅونوالو ته تسلیمیدل یې ځرګنده بیلګه ده.

## د سردارمحمد داود ژوند ته کتنه

د محمدداود له نامه سره په هیواد کې د ښځو مخ لوڅې، پنځه کلن اقتصادي پلانونه او پوځې کودتا تړلي دي. محمدداود د افغانستان له هغو سیاستوالو څخه دی چې د هغه د شخصیت په اړه اندونه وېشلي دي . یوه ډله هغه سوسیال دموکرات ګني. خو که چیرې د محمد داود مخېنې ته وکتل شي د سوسیال دموکراتانو د کړنو سره قطعاً سرنه خوري او هغه یو ټیپیک شرقي مستبد سیاستوال وو. بله ډله نوموړی د شوروي اتحاد او چین د هیوادونو په شان د یوه سوسیالستي نظام غوښتونکی معرفي کوي او هغه یو ځان غوښتونکی ، دیکتاتور او د دموکراسی سره پردی سیاستوال ګني چې دا د محمد داود ربښتینی انځور کاږي. لدې نه ځرګندیږي چې د نوموړي په اړه قضاوتونه د تناقضاتو څخه ډک دي. یوه ډله هغه د هیواد د آبادئ الګو شمیري او نورهغه د افغانستان د تباهی او د روانې غمیزې عامل ګني .لدې کبله اړینه بریښي چې د هغه شخصیت او ژوند ته ځغلنده نظر واچول شي.
محمد داود د سردارمحمدیوسف د مشر زوی محمدعزیز زوی د محمد نادرخان وراره او زوم په ۱۹۰۹ کې په کابل کې زیږیدلی دی.نوموړي په دیارلس کلنی کې د حبیبی لیسي څخه په کال ۱۹۲۲ کې د غازي امان الله د واکمنی پر مهال فرانسي ته د زده کړو لپاره واستول شو او د فرانسي د «جیسن دوسیلي» په لیسه کې ترلسم ټولګي پوري زده کړې ترسره کړلي. په کال ۱۹۳۰ کې د نادرشاه د پاچاهئ پرمهال هیواد ته راستون شو او د دوو کلو پوځي زده کړو د بشپړولو وروسته د فرقه مشری ( جنرالئ) رتبه ورکړل شوه چې د هغه د سیاسي ژوند پیلامه ګڼل کیږي. هغه د مشرقي قواوو د عمومي قوماندان او تنظیمیه رئیس ، د قندهار نایب الحکومه او عسکري قوا د قوماندان ، د کابل د مرکزي قواوو قوماندان، د حربیې وزیر، د کورنیوچارو وزیر، په پاریس، برن او بروکسل کې مختار وزیر (سفیر) ، د سرې میاشتې رئیس او د صدارت د مرستیال په توګه دندې ترسره کړې دي.د۱۹۵۳ کال د سپتمبر د شپږمې څخه د ۱۹۶۳ د مارچ تر لسمې پورې د حکومت مشر هم پاتې شوی دی. نوموړي د صدارت د مقام څخه پدې نامه استعفی وکړه چې پاچا د ده وړاندیزونو ته چې د هیواد سیاسي نظا م په مشروطه پاچاهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوري همغږي ونه ښودله. خو د محمد داود نږدې ملګرى ډګرجنرال عبدالرزاق ليکي چې هغه د مشروطه پاچاهی مخالف او جمهوريت غوښتونکی وو. د پاچا له لوري د محمد داود د وړانديز د نه منلو وروسته هغه له صدارت څخه استعفی وکړه او پاچا د هغه د استعفی وروسته سلطنت او حکومت سره جلا کړل. د نوي اساسي قانون له مخې محمدداود هم د سلطنتي کورنی غړی وشمیرل شو .دا هم منطقي بريښيده چې نوموړی د سلطنتي کورنی غړی وګڼل شي. ځکه چې داودخان په خپل ژوند کې د داسې امتيازونوڅخه برخمن وو چې شهزاده ګانو لرل. د بيلګې په توګه هغه ته د پوځي کورس د بشپړولو وروسته لکه شهزاده محمدظاهرته د جنرالی رتبه ورکړل شوله . هغه مهال سردار ته دا پوښتنه پيدا نشوه چې د ده په اړه دا ډول پيرزوينه او لورېينه واقعبينانه او عادلانه ده ؟ خو کله چې پاچا وغوښتل او که دقيقاً ووېل شي محمدداود اړکړ د خپلې کورنی واکونه تر يوې کچې محدود کړي او محمد داود هم د سلطنتي کورنی غړی وګڼل شي ځان يې د سلطنتي کورنی غړی نه باله ، دا يې د ده په هکله د پاچا له لوري خيانت ګڼلو او د نوي سياسي بهير په وړاندې ودريد، په ناقانونه کار (پوځي کودتا) يې لاس پورې کړاو د جمهوريت په نامه يې خپله فردي ديکتاتوري ټينګه کړله. محمد داود د۱۹۷۸ کال د اپريل په اته ويشتمه د خلقيانو د پوځي پاڅون په پايله کې د خپلې کورنی د اوولسو تنو سره ووژل شو.

د محمد داود په اړه محمدابراهيم عطايي ليکي:« ويل کيږي چې ملي رهبر داودخان د شخصيت په دريو ناروغيو اخته وو:لومړی د نارسيس ناروغي چې ځان يې ډيرستر ګاڼه، دوهمه د ايګوسانتريک ناروغي چې ځان يې د پوهانو مرکز شميره، دريمه د سکزويد ناروغي چې لس کلنی انزوا په نوموړي کې عقدې پيداکړې وې. » ۱۷/ ۳۷۶ که چيرې د محمد داود مخيني او په تيره کله چې د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له مخې چې هغه يې د سلطنتي کورنی د غړي په توګه د سياسي فعاليتونو څخه محروم کړ د نظام په وړاندې ودرېد او په پوځي کودتا لاس يې پورې کړ دا د هغه ځانغوښتنه ښيي. د سلطنتي کورنی دوه غړي ( محمد ظاهراو محمدهاشم ) د محمد داود د لوړې کچې ځانغوښتنې په اړه انديښمن وو او باور يې درلود که چيرې محمدداود د هېواد مشرۍ ته ورسيږي هيواد به له ستونزو سره مخامخ کړي. محمدهاشم ( د محمدظاهر او محمدداود کاکا) د خپلې مړينې دوې مياشتې مخکې په ۱۹۵۳ کې ظاهرشاه د خپلې ناروغۍ بستر ته را وغوښت او ورته ويې ويل :« زويه ، سره لدې چې ما د کاکا په څير محمد داود او محمد نعيم ستر کړي دي ( سردارمحمدعزيز د محمدداود پلار په ۱۹۳۳ په برلين کې ووژل شو) خو پوهيږم که د چارو مشري د دوی په لاس کې ولويږي امکان لري هيواد تباه کړي. همدا راز پخپله پاچا يو شمېرخلکو ته ويلي وو د دولت په مشرتابه کې د محمد داود راتلل به هيواد ته خطرناک وي.» ۳۲/ ۳۰ د شاه محمودخان د صدارت پرمهال سلطنتي کورنی د ملي کلوپ په نامه يو سازمان جوړ کړ چې مرکزي رول پکې محمدداود او د هغه ورور محمد نعيم درلود. د دې کلوپ موخه دا وه چې په راتلونکې کې د يوه سياسي ګوند په توګه په پارلمان کې د غښ ګوند په توګه را څرګند شي. خو شاه محمودخان او يا ښايي سلطنتي کورنی ليدل چې محمد داود د خپل ځان په ګټه د ملي کلوپ څخه ګټه پورته کوي هماغه دي چې د کلوپ د فعاليت مخه نيسي او پدې ډول کلوپ په کوم ځواک وانه وښت . دلته دي چې د داود خان او شاه محمود خان ترمنځ اختلافات رامنځته کيږي.« محمد داود په همدې نيت د شاه محمودخان د حکومت پرمهال د دموکراسی په نسبي مساعد چاپيريال کې د شاه محمودخان خلاف په نيمه پټو کړنو لاس پورې کړ او د ويښ ځلميانو په ګوند او د پښتونستان د آزادی غوښتونکو ګوند کې يې يو شميرمعين کسان په خوځښت راوستل ترڅو په شاه محمودخان فشار راوړي او واک ته د ژر رسيدو لپاره شرايط برابر کړي » ۵ / ۳۹همدا راز ابراهيم عطايي ورته نظر لري:« سربيره پردې سردارمحمد داودخان د ديکتاتورۍ پلار د سپهسالار په وړاندې ستونزې جوړولې او د نوموړي زيات کارونه يې سبوتاژول. » ۱۷/ ۳۲۹ د محمد داود دا ډول دريځ ددې سبب شو چې د هيواد اقتصادي - ټولنيزې ستونزې زياتې شي.پدې هکله سيدشمس الدين مجروح د خپل کتاب سرګذشت من په ۱۱۴- ۱۱۹ مخونو کې مفصل توضيحات ورکړي چې لنډيز يې دلته وړاندې کيږي.« پاچا د کابينې څو غړو ته چې دی يو له هغو څخه وو دنده و سپارله چې د هيواد د ښې ودې په موخه خپل وړانديزونه ده ته وړاندې کړي. هغوی پردې موضوع د بحث وروسته دې پايلې ته ورسيدل چې سلطنت او حکومت سره جلا شي. د ليدنو کتنو په ترڅ کې چې څوک د حکومت مشر شي، مجروح د علي محمد د دربار وزير څخه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه دا مسؤليت ومني خو هغه دا وړانديز رد کړ. بله ورځ د دربار وزير د ګيلي په توګه ورته وويل چې ولې دې بيځايه وړانديز وکړاو دا هم ور ته وايي ترڅو دا خطرناک ښاماران يعنی داود او نعيم وي ځوک دې خزانې ته نږدې کيدای نشي. د مجروح په خبره بيا هغه مجلس جوړ نشو او څه موده وروسته پاچا د شاه محمودخان پر ځای محمدداود د صدراعظم په توګه د کابينې په جوړولو موظف کړ. مجروح دې ته هم ګوته نيولې چې کله محمد داود صدراعظم شو په لومړی کتنه کې د ملي کلوپ د موخو په هکله چې هغه لا پر ځای پاتې دې يا نه پوښتنه کوي. داودخان د هيواد د اقتصادي او د دولت د بهرنې کړکيچن وضعيت خبره ورته کوي چې هغه به په يوه يا دوو کلونو کې سمبال کړي او وروسته به نوموړي سياسي تحول ته پام راګرزوي. خو لس کاله تير شول او صدراعظم هغه ته پام راونه ګرزاوه.» ويل کيږي چې د محمد داود د استعفی وروسته پاچا د کبير لودين او ډاکټر محمدظاهر څخه غوښتي وو چې د صدارت دنده ومني خو دواړو نه وه ورسره منلې .

مخکې ويل شوي وو چې صدارت په نوبت سره د پاچا اکاګانو او د ترو زامنو ته رسيده چې د داودخان وروسته نوبت د سردارولي وو خو داودخان نه غوښتل چې سردار ولي صدراعظم شي نو هماغه دي چې پاچا ته د دولتي سيستم د بدلولو وړانديز کوي پدې شرط چې دی د سلطنتي کورنۍ د غړي په توګه ونه پيژندل شي تر څو د سياسي ګوند د جوړولو پر مټ بيا واک ته ورسيږي. دلته د داود د ځانغوښتنې او کينې هغه ځانګړتياوې جوتيږي چې هغه بيا واک ته د رسيدو او د سردار ولي د صدراعظم کېدو د مخنيوي په موخه د نظام د بدلون وړانديز کوي. د داود خان د ځانغوښتنې بله بېلګه پوځي کودتا ده . پوځي کودتا د قيمار لوبې ته ورته ده چې پايله يې ناڅرګنده وي. د هرې پوځي کودتا پايله يا تخت دی يا تابوت. داودخان يوازې تخت ليده او د تابوت فکر يې لدې امله نه کاوه ځکه ډاډمن وو چې که کودتا افشاه يا ناکامه هم شي د پاچا شخصيت ته په کتو سره هغه نه وژني. هغه د کودتا د پيل نه مخکې شيبو کې پاچا ګل وفادار ته ويلي وو که کودتا ناکامه شوه ما به وژني :« زه پوهيږم چې پاچا ما نه اعداموي او ما بښي خو زه دا ډول ژوند نه غواړم »۵۶/ ۷۱ خو محمدداود د خپلې ځانغوښتنې له امله ځوان پوځيان په خپله ګټه د مرګ په لور رهبري کول. بله بېلګه د جمهوريت د دوهمې نيمايي پر مهال د لويديځ غوښتنو ته د ده سر ټيټول دي چې د ا، خ، د،ګ د ځېلو سربېره د پښتونستان له داعيې څخه هم تېرشي تر څو په واک کې پاتې شي. د ځانپالو او د پوهې د مرکز د مدعيانو له ځانګړتياوو څخه يوه دا ده چې يوازې خپله مني، د بل چا او حتی نږدي دوستانو ، همکارانو او خپلوانو مشورو او وړانديزونو ته ارزښت نه ورکوي. ويل کيږي چې د۱۹۷۸ کال د اپريل د اته ويشتمې په لومړيو ګړيو کې کله چې په جمهوري ګارد کې ګډوډې رامنځته شوه او خلقي پاڅون کوونکو ته د تسليميدو لړۍ پيل شوله د نوموړي د کورنۍ ځينې غړي د محمد داود د دستور پر بنسټ دده د زوی ميرويس لخوا ووژل شول چې ژوندي د پاڅونوالو په لاس کې ونه لوېږي . دا بيا د هغه د ځانغوښتنې سربېره د لېونتوب نښه هم ده .

د محمدداود سکزويد ناروغي څرګنده بيلګه د نوموړي د کودتا د اعلان په ورځ له لومړۍ وينا څخه معلوميږي چې د ضعيف النفسه دوستانو يادونه يې وکړه. هغه ونشوای کولی خپل هغه پخواني دوستان چې د ده له استعفي وروسته يې ليدو ته نه ورتلل ، د هغوی په هکله خپله کرکه پټه کړي . محمدداود د افغانستان په مشرانو کې يوازېنی مشر دی چې په ټولنه او سلطنتي کورنۍ کې د لېوني لقب ګټلی دی. جنرال يحيي نوروز د خپل پلار محمدنوروز له قوله چې د نادرشاه سرمنشي وو جنرال زکريا ابوي ته ويلي دي. کله چې محمدداود د مشرقي نايب الحکومه وو تونډ ليک نادرشاه ته رالېږلی وو او پاچا هم ورته ځوابيه ليک ليکلی دی او نادرخان محمد نوروز ته ويلي وو:« زه د دې لېوني هلک څخه ترپوزې رسېدلی يم لدې پرته څه وليکم.» ۷۷ / ۲ جنرال زکريا ابوي کله چې داودخان د مرکزي قول اردو قوماندان وو د يوې پېښې داسې يادونه کوي :« يوه ورځ يې په آس سپور يو عسکر د نامنظمې قيافې سره وليد، و يې درولو...، هغه يوه پلمه وکړه ، سردار په غوسه شو او په څپېړه يې ووهلو، سپاهی غږ وکړ: دا چې تا ته لېونی وايي صاف او پاک لېونی يې . دا وو په ټولنه کې د هغه شهرت.» ۷۷/ ۳ د ابوي د ليکنې له مخې کله چې داودخان د مرکزي قول اردو د بولندوی په توګه و ګومارل شو ده ته د مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قول اردو قوماندانې کوچنۍ بربښېده هماغه دي چې د پوځ ټول پوهنيز بنستونه يې په قول اردو پورې و تړل او پدې ډول يې د دفاع وزارت تر څنګ بل وزارت جوړ کړ.
د هېواد د آبادۍ او پرمختګ په چارو کې د محمد داود اخېستل شوې ګامونه د ستاينې وړ دي خو د هغه له کچې لوړې ځانغوښتنې هيواد او خلکو ته ستر زيانونه راوړل. دا له ياده ونه باسو که يو سياستوال ښه صفتونه لکه وطندوستي او تقوا ولري چې محمدداود هغه لرل خو که د هغو سره ځانغوښتنه مل وي داسې يوسياستوال خورا بد سياستوال دی. د سياستوالو ځانغوښتنې او مقام پالنې هيواد او ولس ته ستري بدمرغۍ راوړي. د سردار داود د ځانغوښتنې او مقام پالنې دې ځانګړتيا چې نوموړی په هيواد کې لومړی کس او د ده پريکړه وروستۍ وي خبره دې ته ورسوله چې په يوه غيرقانوني کار( پوځي کودتا) لاس پورې کړي. نوموړي اساسي قانون چې ملي ميثاق ګڼل کيږي تر پښو لاندې کړ او د سياست څخه بې خبره ځوان پوځيان د اساسي قانون څخه د سرغړونې سربيره عسکري لورې ته شا ګرزوني ته وهڅول په ځواني هيله ښونکي دموکراسۍ يې مرګونی ګوزار وکړ او پايله يې د کودتاګانو، کودتايي هڅو او اړو دوړو د لړۍ پيليدل شول. وايي اتل هغه څوک دی چې پيل يې کړي پردې بنسټ محمد داود د افغانستان د پوځ د سياسي کولو او د پوځي کودتا وو د اتلولۍ وياړلري ، چې د پوځ د سياسي کولو او کودتاوو پايلې په يوه هېواد کې د ترور، استبداد او اختناق د واکمنيدو پرته بل څه نشي کيدای. عبدالملک عبدالرحيم زی چې بېله کوم جرم څخه محمد داود د خپل صدارت پرمهال زنداني کړ د داودخان د شخصيت په اړه ليکي :« هغه يوازينی شی چې د خپلې کورنۍ له غېږې زده کړي وو هغه دا وو چې ونيسه ، و تړه او په بېرحمۍ سره شکنجه کړه او بس.» ۷۸/ ۵۹ د محمد داود کارنامو ته په کتو سره دا چې خلکو د هغه په اړه ويل: « داودخان په آبادۍ پوهيږي لاکن د آزادۍ سره هيڅ بلد نه دی » ۶۴/ ۵۷ بشپړ سم وو . که چېرې د سردار محمد داود جمهوريت ته وکتل شي ښايي د نړۍ په تاريخ کې استثنايي جمهوريت وي چې په هغه کې ټاکنې نه دي تر سره شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند د جوړېدو څخه تر واکمنيدو پورې گوند ټولنيزه - تاريخي پديده

مخکې لدې چې د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند د جوړېدو په هکله بحث وشي اړينه بريښي چې د سياسي گوند په اړه لنډې خبرې وشي. د گوند اصطلاح لومړی ځل په اتلسمه پيړۍ کې په اروپايي ادبياتو کې استعمال شوه. لدې نه معلومېږي چې سياسي گوند د يوې ټولنيزې- تاريخي پديدې په توگه د بشري ټولنې د ودې په ځانگړي پړاو( پانگوالۍ) کې را څرگند شوی دی. له همدې امله په وروسته پاتې ټولنو کې چې پانگوالۍ وده نده کړې گوندونه پخپله له ستونزو سره مخامخ وي او په ټولنه کې مخکښ رول نشي لوبولی.په وروسته پاتې ټولنو کې د گوندونو د نه وړتيا په اړه سيدجمال الدين افغان وايي: «سياسي گوندونه ډير ښه درملونه دي خو په ختيځ کې په ډيرو حالاتو کې په بد درد او ناروغۍ اوړي.» له همدې کبله د وروسته پاتې ټولنو په گوندونو کې د اختلافونو حل د احساساتو، دسيسو، توطيو او زورزياتۍ په ښودلو سره صورت مومي چې پدې ډول په گوندونو کې د شته ستونزو اود اختلافونو حل نورې ستونزې او اختلافونه را پنځوي پداسي حال کې چې په پر مختللو ټولنو کې په سياسي خوځښتونو کې اختلافونه تردېره بريده په عقل ، پوهې ، منطق او پوهاوي حل کيږي. ژوند هم ښيي چې په وروسته پاتې ټولنو کې سياسي گوندونه  د مودرنيته او دودونو، عقل اوعادت د مخامختيا او ټکرونو له امله د ستونزو او کورنيو کشمکشونو سره لاس او گريوان دي.

## سياسي گوند يعني څه ؟

د سياسي گوندونو په اړه  منل شوی تعريف شتون نلری . ليکوال د گوندونو د تعريفونو څخه دا تعريف غوره کړی دی . گوند د هغو وگړو سياسي بنسټ دی  چې د خپلې ټولنې  د ودې او پرمختگ لپاره په يو لړ اصولو، فکري چوکاټونو اوعملي کړنلارو توافق ولري او د يوه سياسي چوکاټ په د ننه کې د خپلې کړنلارې د پلي کولولپاره مبارزه کوي. سياسي سازمانونه د ټولنيزو قشرونو او طبقو د گټو د سمبالولو او  هغو ته د لورې  ورکولو په موخه هلې ځلې کوي چې موخه يې د سياسي واک ترلاسه کول دي. گوندونه په هغو ټولنو کې جوړوونکی  رول  لوبولی  شي  چې د ټولنې د قشرونو ترمنځ  يې د سياسي او طبقاتي بيلوالي نښې نښانې څرگندې وي. يا په بل عبارت په تېرلو او د ساده ابتدايي ټولنيزه اړيکو درلودونکو ټولنو کې چيرې چې د وگړو ترمنځ يې اړيکې د دوديزه مشروعيتونو، نرخونو، رواجونو اوعادتونو پربنسټ تنظيم او عياريږي گوندونه جوړوونکی  رول نشي لوبولی او د  ستونزو سره مخامخ وي. گوندونه واک ته د رسيدو او په ټولنيزو فعاليتونو کې خپلې ښکيلتيا ته له مختلفو کړکيو گوري چې د هغو د ارزونې پربنسټ  د گوندونو جوړښتونه ، تگلارې او سياستونه  درک کيدای شي چې هغه په لاندې څو کرښو کې رانغاړو:

١ – د سياسي واک مساله، پروگرام او ايديولوژي ،

٢- د خلکو او پرگنو د تنظيمولو په چارو کې د برخې اخيستنې څرنگوالی،

٣- د سياسي نظام د پايښت، سمون(اصلاح) او يا بدلون په موخه د خلکو د ملاتړ ترلاسه کول. پردې بنسټ گوندونه  په محافظه کارو، اصلاح غوښتونکو او انقلابي گوندونو ويشل کيږي.

۴- گوندونو ته د ټولنې د مخکښانو جذب او د حرفوي سياسي کدرونو روزنه.

معمولآسياسي گوندونه د هغو اصولو د پلي کولو لپاره مبارزه کوي چې په ټولنه کې عدالت او قانونيت ټينگ شي او خلک سياست او ټولنيز فعاليت ته مخه کړي. د گوندونو د  فعاليت موخه واک ته رسيدل دي او که  دا وړتيا نلري د ټاکلې کړنلارې او پروگرام  په درلودلو سره په  سياسي اپوزيسيون کې پاتې کيږي. د سياسي گوندونو پراتيک ښيي هغه  سازمانونه  چې د معينو کړنلارو او ارمانو لرونکي وي د هغو گوندونو په پرتله د پايښت او سياسي پايدارۍ وړتيا لري چې کاريزماتيک مشرتابه لري.
د پورتنيو لنډو څرگندونو له مخې گوندونه په لاندې ډلو ويشل کيږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱– لیبرال دموکرات گوندونه

د لیبرال مفهوم د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۵ کال کې انګریزي ادبیاتو ته لار موندلې چې معنی یې آزادي غوښتنه ده . د فرانسې د ستر انقلاب وروسته هغه سیاسي خوځښتونه د لیبرالانو په نامه یاد شول چې ځانونه یې د انقلابي میراثونو پلویان او ساتندویان او د برابرۍ ، وروړګلوۍ او آزادۍ اصولو ته ژمن ګڼل. په کال ۱۸۱۲په اسپانیا کې د لیبرالانو یو جوړښت چې د قانون او د قانون د دولت څخه یې ساتنه اعلان کړه سر را پورته کړ. په اروپا کې د دا ډول خوځښتونو د راڅرګندېدو په وړاندې محافظه کار بهیر خپل شتون اعلان کړ. پدې ډول په نولسمه پیړۍ کې اروپا په دوو مخالفو ( لیبرال دموکرات ،سوسیالست او محافظه کارو) غورځنګونو وویشل شوه. لومړی خوځښت یې د واکمنو نظامونو د ودې او بدلون او دوهم یې د هغو د ساتلو او پایښت په موخه مبارزه پر مخ وړله. د لیبرال ایدیولوژۍ اصلي جوهر په عقل او د انسان په ښو ځانګړتیاوو او باورونو ډېره لګوله. لیبرالان که له یوې خوا فردي آزادي د ټولو آزادیو په سرکې ګڼي له بله پلوه برابري لومړی شرط بولي. که د مطلقه واکمنیو په زمانه کې برابري انقلابي او رادیکال اندونه ګڼل کیدل خو نن هغسې نه دي. زموږ په زمانه کې د لیبرالانو باورونه او په تیره په اقتصادي برخه کې د هغوی دا انګیرنه چې د آزاد بازار اقتصاد د معاصر دوران غوښتنوته ځواب ورکوي هغه یې د ټولنیزعدالت د ټینګولو د مخالف بهیر په توګه هم اړولي دي. په افغانستان کې د ګوندونو مخینې ته په کتو سره ستونزمن دي کوم لیبرال غورځنګ یا سازمان ته ګوته ونیول شي.

۲- محافظه کار ګوندونه

دا د لیبرالانو په وړاندې مخالف غبرګوني غورځنګونه دي . دې غورځنګ په هغو هیوادونو کې سر را پورته کړ چې لیبرالانو، دموکراتانو او سوسیالستي خوځښتونو واکمن نظامونه ګواښل. دا بهیر په حقیقت کې د دې موخې لپاره منځته راغی چې واکمنو نظامونو ته د را پیدا شوو ګواښونواو تهدیدونو سره مقابله وکړي او یا دا چې د واکمن او یا شړېدلي نظام د پایښت او بیا په پښو درولو جوګه شي. محافظه کاران په ټولنه کې د شته ارزښتونو د ساتنې هڅې کوي. د هغوی له نظره هر بدلون کولی شي ورانې او بلوا راوړي. هغوی د غربي دموکراسۍ او د قانون د دولت اصولو ته ژمن دي. د محافظه کارانو له آنده ټولنه یو واحد ارګان دی او دا واحد د خصوصي ملکیت او کورنۍ د ساتلو له برکته آزادۍ او نیکمرغۍ ته رسیږي. د صنعتي انقلاب په راتګ ، ښاري ژوند ته لیوالتیا، د سترو کورنیو د پاشل کیدو او د امنیت د خړپړکیدو له امله محافظه کارانو د صنعت د ودې سره مخالفت درلود خو کله چې د چاپیریال ساتنې غورځنګونه را پیدا شول ، محافظه کاران هم د علمي پرمختګونو په پلویانو واوښتل. په افغانستان کې هغه وخت د محافظه کار ګوند د جوړولو هڅې پیل شوې چې سلطنت د مشروطه غوښتونکو او د موکراتیکو کړیو د ګواښ سره مخامخ شو .هماغه دي چې د۱۹۵۰ کال په لومړیو کې د ملي دموکرات ګوند او همدا راز د ملي کلوپ په نامه د سیاسي جوړښتونو بنسټ کیښودل شو چې بنسټ ایښودونکي یې سلطنتي کورنۍ وه. د دې سیاسي بنسټونو موخه په نویو شرایطو کې واکمن سیاسي – ټولنیز نظام ته ژمنتیا وه. د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د واکمنۍ پرمهال د سید احمد ګیلاني ، صبغت الله مجددي او محمد نبي محمدي تر مشرۍ لاندې دریو مذهبي تنظیمونو دمحافظه کارو ګوندونو په نامه یادېدل. خو هغوی ته ځکه ګوندونه نشو ویلی چې هغه دودیزه ډلې او مذهبي کړۍ وې چې نه یې منظم تشکیلات لرل او نه کړنلارې. د هغه وخت د واکمنو حالاتو له امله یې ځانونه ګوندونه اعلان کړل تر څو د دې نامه لاندې د بهرنیو مرستو او وسلو د ترلاسه کولو او معاملو یوه پته او قرارګاه ولري.

۳– سوسیالست او سوسیال دموکرات ګوندونه

دا ګوندونه په نولسمه پیړۍ کې د کارګرو د عادلانه مبارزو په بهیر کې منځته راغلل. د لومړي سوسیال دموکرات ګوند بنسټ په ۱۸۷۵ کې د کارل مارکس او فردیناند د پلویانو لخوا په آلمان کې کیښودل شو. دا ګوندونه د سیاسي آزادیو او ټولنیزعدالت ترمنځ متقابلې اړیکې په ګوته کوي. د هغوی له نظره د ټولنیز عدالت ټینګښت یوازې په دموکراسۍ ، آزادۍ او د خلکو د پراخه ګډون په هغې تمثیلي دموکراسۍ کې چې ګام په ګام او نیغ په نیغه ولسواکۍ ته ورسیږي شونې دی. د سوسیال دموکراتانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره د انسان اساسي حقونه د شهروندۍ حقونه ، ټولنیز حقونه او نړۍ شموله حقونه دي چې بلا استثنی ټول وګړي ترې برخمن شي. سوسیال دموکرات لوړني ګوندونه وو چې د دموکراسۍ د پلي کېدو په موخه یې د ټولنې ټولو وګړو ته بیله دې چې د ملکیت ، مالیې او جنسیت شرط مطرح وي د رایې ورکولو امکان ورکړل شي. هغه مهال په اروپا کې یوازې هغو نارینه وو د رایې ورکولو حق درلود چې ملکیت یې درلود او دولت ته یې مالیه ورکوله. البته ښځو د رایو ورکولو حق نه درلود. سوسیال دموکراسي یو جمهوري غوښتونکی غورځنګ دی او سوسیال دموکراتان د دین او دولت د بیلوالي پلویان دي. په افغانستان کې داسې غورځنګ چې د سوسیال دموکراسۍ کړنلاره او تشکیلات ولري نه ترسترګو کیږي. خو د محمدهاشم میوندوال ( حزب مترقي دموکرات) د نورو ډلو( د میرغلام محمدغبار د وطن ګوند، د غلام محمدفرهاد افغانستان سوسیال دموکرات ګوند ) په پرتله سوسیال دموکرات ګوندونو ته نږدې وو.

۴ـ ښي لاسي افراطي او فاشیست ګوندونه

ښي لاسي افراطي او فاشیست ګوندونه د لومړۍ نړیوالې جګړې د بدلونو په پایله کې منځته راغلل. دا ګوندونه د نړیوال انقلابي غورځنګ د پیاوړتیا او د شلمې پیړۍ د دویمې لسیزې د اقتصادي او ټولنیزبحران له کبله وده وموندله. په ځینوهیوادونو لکه آلمان او ایتالیا کې هغوی واکمن هم شول. د فاشیستي او ښي لاسو افراطي ګوندونو ایدیولوژۍ سره توپیرلري. د آلماني فاشیستانو ایدیولوژي نژادي رنګ لري چې د آریایي او جرمن نژاد په برترۍ ټرخیږي او بیا د ایتالیا د روم په عظمت او د هغه په افسانوي مدنیت راتاویږي. لدې ټخه ښکاری چې په دواړو کې د یوه نژاد، یوه فرهنګ او یوه قوم برتري لیدل کیږي. د فاشیستانو له آنده واکمني هغه پراخه واکمني ده چې هلته د فردي واکمنۍ پرځای فرهنګي واکمني ټینګیږي ، فردیت او استقلال یې له منځه ځي. ښي لاسي افراطي ګوندونه تل د یوه څرګند او ناڅرګند دښمن سره ځان مخامخویني ترڅو دا ټولنیزنژادي او مذهبي موجود له منځه یوسي. ښي لاسي افراطي ګوندونه د دښمن سره د مقابلې لپاره په یووالي ټینګار کوي او بل ډول لیدلوری ردوي او رټي یې .په ټولو ښي اړخو افراطي کړیو او سازمانونو کې د لاربنود، امام او امیر څخه اطاعت د دې سازمانو ایدیولوژیک اصل جوړوي. په وروسته پاتې ټولنو کې په ډیره آسانۍ سره په ښي لاسو افراطي ډلو، قدرت غوښتونکو ځواکونو او سیاستوالو د فاشیستانو ټاپې لګول کیږي. دا ډول فکر د فاشیسم او ښي افراطي ډلې بیلول ستونزمن کوي. د ګوندونو او سیاستوالو په اړه په قضاوتونو کې په کار دي چې د دموکراسۍ ضد، محافظه کارو او فاشیستي ډلو او افرادو ترمنځ توپیر له پامه ونه غورزول شي. په افغانستان کې د ګوندونو په راڅرګندېدو سره موږ د شوونیستي، قومي ، تنګ ناسیونالستي، سکتاریستي ،مذهبي، توتالیتار او بنسټپال سازمانونو او لیدلورو شاهدان پاتې شوي یو. د شوونیستي او قومي لیدلورو لرونکو ډلو او کړیو ته د فاشیستانو ویل سم او منطقي نه بریښي. موږ وینو چې ځینې ړانده قومي متعصبین نادرخان ، حفیظ الله امین او اشرف غني ته فاشیستان وایي . دا هغه وګړي دي چې د فاشیسم د اصطلاح د معنی او مفهوم د درک وړتیا نلري.

۵ـ کمونست او کارګري ګوندونه

د نولسمې پیړۍ په پای او د شلمې پیړۍ په پیل کې د سوسیال دموکراسۍ غورځنګ په دوو برخو وویشل شو. هغه ډله ګوندونه چې د قهري انقلاب څخه ډډه ، سمونو او دموکراسۍ ته وفادار پاتې شول د سوسیال دموکراتانو او هغوی چې انقلاب او د پرولتاریا دیکتاتورۍ ته د یوه دولتي نظام په توګه لومړیتوب ورکړ د کمونستانو په نامه یاد شول. کمونست ګوندونه د ولادیمیر ایلیچ لینن آندونو او د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر سوسیالستي انقلاب ته وفاداري ښیي. د ایروکمونست ( اروپایي کمونست ) ګوندونو پرته نور کمونستي ګوندونه ایدیولوژیک ګوندونه دي. کمونست ګوندونه د لینن « د دولت او انقلاب »، « امپریالیسم د پانګوالۍ د لوړ پړاو په توګه » ،« د کارګري طبقي مخکښ ګوند » ته د داسې تئوریو په سترګه ګوري چې د نړۍ او ټولنې د بدلون لپاره اړین دي. دا ډول ګوندونه په ټولنیز مالکیت باندې د خصوصي مالکیت اړول حتمي ګڼي چې د ګوند تر لارښوونې لاندې د دولت او یا د کوپراتیفونو په واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راشي. د دموکراتیک مرکزیت اصل د دې ګوندونو تشکیلاتي اصل جوړوي. د دې ګوندونو ایدیولوژي مارکسیسم - لېنېنسم او په یوه ډله ګوندونو کې د مارکسیسم - لېنېنسم تر څنګ د مائوتسې دونګ نظریې( ایدلوری) دي. لکه څرنګه چې په وروسته پاتې ټولنو کې د پانګوالی څرګندې نښې نښانې نه تر سترګو کېدلې په ۱۹۶۰ کال په بخارست کې د کمونستي او کارګري ګوندونو په کنفرانس او د مائوتسې دونګ د نوي دموکراتیک انقلاب نوې تئوری او په هغو کې د ملي دموکراتیک انقلاب تئوري وړاندې شوه. دا په واقعیت کې د تاریخ د لارې د لنډولو یوه هڅه وه. پدې ډول د دریمې نړۍ کېن اړخو غورځنګونو چې د کمونستي غورځنګ سره ټینګې اړیکې لرلې د خپلو هیوادونو د پرمختګ لپاره یې د پانګوالی پړته د ودې او انکشاف لار غوره کړله. په افغانستان کې د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند او حزب دموکراتیک نوین د هغو ګوندونو څخه وو چې د هیواد هراړخیز پرمختګ یې د پانګوالی پړته د ودې او انکشاف لار ګڼله کومه چې د آسیا، لاتیني امریکې او افریقا پرمختلونکو سیاسي غورځنګونو هم غوره کړې وه.

## د افغانستان د خلک دموکراتیکې ټولنې ( ګوند) بنسټ ایښودونکې کنګره

د ۱۹۶۴ کال د مارچ په څلورمه ( ۱۳۴۲ کال کب ۲۴ ) پاچا محمدیوسف د کابینې په جوړولو موظف کړ. نوموړي د شپږو میاشتو وروسته د اساسي قانون مسوده جوړه، د لویې جرګې له لوري تائید او پاچا دا قانون د اکتوبر په لومړۍ نیټه ( د تلې نهمه) توشیح کړ. مخکې لدې چې محمدیوسف د صدراعظم په توګه وګومارل شي په سلطنتي کورنۍ کې د اختلافونو او په نظام کې د بدلونو د راتګ اوازې هم اوریدل کیدلې چې بیله شکه یې د سیاستوالو په دریځ اغیز درلود یعنی دا چې د هغوی لیدنو کتنو قوت واخیست . البته د نورو ډلو په پرتله د هغو کسانو لیدنې کتنې چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند( ا ، خ، د ،ګ) بنسټ کیښود د پاملرنې وړ وې. د صباح الدین کشککي په وینا د شلمې پیړۍ په پنځوسمو کلونو کې د هغو ځیرو او ډلو کومو چې د ا، خ ، د ،ګ بنسټ یې کیښود لیدنو کتنو او مجلسونو دوام درلود چې یو« د دغو مجلسونو څخه د سیدهاشم صاعد په کور کې جوړ شو چې په هغه کې نورمحمدتره کي ، ببرک کارمل ، میراکبر خیبر او محمدآصف آهنګ هم ګډون درلود. د دې ناستې ګډون کوونکو د افغانستان د کمونست ګوند د جوړښت او په تېره د دې موضوع په اړه بحث درلود چې د ګوند د جوړېدو وروسته خپل غړي د معارف د زده کوونکو او دولتي مامورانو څخه وروزي یا دا چې د خلکو په منځ کې کار وکړي. د دې مجلس یو ګډون کوونکی چې وروسته یې پریکړه وکړه چې د کمونست ګوند سره یوځای نشي وایي چې تره کي د دویمې لارې پلوي کوله. یعنې ویل یې چې په پرګنو کې باید نفوذ وشي خو کارمل د هیواد په زده کوونکو او روڼ اندو کې د اغیز اچولو پلوي کوله.» ۳۲ /۱۶۶(یادونه : د ا، خ ، د ، ګ هیڅکله هم د کمونست ګوند ادعا نده کړې خو د دې ګوند مخالفان هغه کمونست ګوند بولي. په کتاب کې راوړل شوي اقتباسونه په هغو کې امانت داري ده .) د ا ، خ ، د،ګ د جوړېدو په درشل کې د سیاست د مینه والو د منظمو لیدنو کتنو په اړه عبدالمحمد درمانګرچي د همدې ګوند د بنسټ ایښودونکې کنګرې برخوال دی وایي. « هغه مهال د سیاست مینه والو په مختلفو کړیو کې غونډې لرلې چې دی هم د هغې کړۍ غړی وو چې پوهاند علي محمدزهما، ډاکتر شاه ولي ، ډاکتر محمدظاهرځدران او حشمت غبار یې برخه وال وو. دوی د هېواد د حالاتو او د روڼ اندو د تشکل په اړه بحثونه کول او زهما د دې غونډو مشري کوله. زهما د لنډې مودې ( درې میاشتنۍ) زده کړو لپاره دنمارک ته ولاړ او د هغه پرځای ببرک کارمل ددې کړۍ د غونډو مشرۍ ته راتللو. کارمل د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسآلو سربېره زهما انتقادولو چې هغه د دې پرځای چې پدې حساسو شرایطو کې زمونږ سره ګډ د ګوند د جوړولو په موخه کار وکړي، شخصي ګټو او امتیازاتو ته لومړیتوب ورکړ او د زده کړو لپاره بهر ته ولاړ. » زهما د زده کړو وروسته چې ګوند جوړشوی وو د ګوند سره کومه لیوالتیا ونښودله او یا دا چې کارمل د هغه خلاف داسې چاپېریال راپنځولی وو چې زهما پدې ګوند کې ځان ونه وینې. همدارنګه درمانګر د ګوند د جوړېدو په درشل کې د تره کي په کور کې د یوې غونډې خبره کوي چې په هغې کې د څو تنو سربېره میرغلام محمدغبار، ببرک کارمل ، میراکبر خیبراو د غبار زوی حشمت هم برخه لرله. دا غونډه پدې په موخه رابلل شوې وه ترڅوغبار د کارمل هغو تورونو ته ځواب ووايي چې ویل یې غبار ته حکومت له زندان څخه د خلاصېدو وروسته امتیازات ورکړي دي. پدې اړه کارمل ویل چې حکومت غبار ته د هغه ضبط شوی کور پدې شرط بېرته سپارلی دی چې د حکومت خلاف څه ونه وايي. غبار پدې اړه ټول سندونه او قواله حاضرینو ته وښودل چې د قانون او قانوني پروسیجر له مخې صدراعظم محمد یوسف د ده ضبط شوې ځمکه چې حکومت پرې پوسته خانه جوړه کړې وه بېرته ده ته سپارلې ده. کله چې غبار دا سندونه برخه والو ته وښودل کارمل د غبار د شخصیت په اړه اوږده وینا واوروله خو غبار د کارمل وینا ته کوم پام را ونه ګرزاوه تردې چې د نوموړي د خبرو پرمهال به یې خپل زوی سره خبرې کولې ګنې چې هغه ته کوم هدایتونه ورکوي. په غونډه کې میر اکبرخیبر هم خبرې وکړې او د غونډې په پای کې غبار وویل تر څو ببرک او خیبر پدې بهیر کې برخه ولري دی به ور سره ګډ کار ونکړي. د دې غونډې څو ورځې وروسته تره کی او درمانګر د غبارکور ته ورغلل .غبار او تره کي دوه په دوه سره ولیدل خو تره کی بریالی نشو غبار قانع کړي چې د ګوند په جوړولو کې ور سره مخ ته ولاړشي. پدې ډول د هېواد پیژندل شوی سیاسي شخصیت د ا، خ، د ، ګ د جوړوونکو له کاروان سره مخه ښه وکړه. دستګیر پنجشیري هم د خپل کتاب په ۱۴۹ - ۱۵۰ مخونو کې ورته څرګندونې لري چې دی هم د شهرآرا او د پروان د کارتې د کړی له غړو سره د غبار او کارمل د اختلافونو په پوهېدو د غبار کورته ورغلي دي او غبار هم دوی ته د خپلې ځمکې قباله او نور اسناد ښودلي دي. د درمانګر او پنجشیري له څرګندونو څخه دوې پایلې راوزي . یوه دا چې د ا، خ، د ،ګ د جوړولو په درشل کې د سیاست مینه والو په مختلفو کړیو کې منظمې لیدنې کتنې لرلې او د وخت په تېرېدو سره دا کړی له یوبل سره اړیکې ټینګوي او هغو کسانو چې ورته او یا یو بل ته نږدې نظریات لرل د دې ګوند بنسټ ایږدي. دوهمه دا چې کارمل له هماغه پیل څخه د هغو کسانو د بدنامولو په موخه هلې ځلې کولې چې هغوی یې خپل سیالان ګڼل تر څو د نوي جوړېدونکي سیاسي خوځښت مشري ده ته ورسېږي. د پنجشیري په وینا د یوه سیاسي خوځښت د جوړولو په موخه ګوند د شاه محمودخان د دورې د سیاسي خوځښتونو( ویښ ځلمیانو، وطن ګوند، د محصلینو اتحادیې ،ملي کلوپ، خراسان ټولنې ) فعالانو نورمحمدتره کي ، میرغلام محمدغبار، ببرک کارمل ، محمدطاهر بدخشي او ځینو نورو د۱۳۴۲ کال د وږي په اتلسمه د ګوند د تدارک کمیټه د سرپرستې کمیټې په نامه جوړه کړې وه چې غړي یې «میرغلام محمدغبار د وطن د ټولنې مشر، نورمحمدتره کی د ویښ ځلمیانو د رهبرئ وتلی مشر، پوهاندعلي محمدزهما د ادبیاتو د فاکولتې استاد ، ببرک کارمل د شاه محمودخان د حکومت د دوران د محصلینو د اتحادیې فعال ګډونوال، میراکبرخیبر، محمدطاهربدخشي او محمدصدیق روهي وو.» ۲/ ۱۴۸- ۱۴۹ سلطانعلي کشتمند د محمدصدیق فرهنګ او عبدالهادي محمودي څخه هم یادونه کوي چې د تدارک د کمیټې په لومړیو غونډو کې یې ګډون درلود. عبدالحکیم شرعي جوزجاني هم د تدارک په کمیټه کې د محمودي یادونه کوي. ویل کیږي چې د سرپرستې کمیټې لومړئ غونډه د کارمل په کور( جمال مینه ) کې جوړه شوه. د سرپرستې کمیټې د جوړېدو له څرنګوالي او د فعالیت په اړه کره معلومات ندي خپاره شوي. اصولاً دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیټې چې له نامه یې ښکاري دنده یې د نوې خوځښت د بنسټ ایښودونکې غونډې جوړېدو ته چمتووالی دی. معمولاً د یوه سیاسي سازمان د جوړېدو لپاره د یوې کمېټې جوړېدل اړین برېښي ترڅو د ګوند بنسټ ایښودونکې غونډې ته د استازو د ټاکنې د څرنګوالي سربېره د جوړېدونکې سیاسي خوځښت فکري کرښې ، اساسنامه او کړنلاره چمتو کړي. د ګوند مؤسسه کنګره جوړه شوه ، او د ګوند مشرتابه یې وټاکه خو اساسنامه او کړنلاره یې تصویب نکړه. د ګوند کړنلاره څه د پاسه یو کال وروسته د ۱۹۶۶ کال د اپریل په یوولسمه د خلق د جریدې په لومړۍ او دوهمه ګڼه کې خپره شوه. اساسنامه د۱۹۶۷ کال د مارچ په میاشت کې د مرکزي کمیټې له لوري تصویب شوه. داسې برېښي چې د سرپرستې کمیټې ترمنځ د نظر یووالي شتون نه درلود او غونډې یې پر بحثونو تېرېدلې یا دا چې د اړینې تجربې د نه لرلو له امله دې مسآلو ته یې پام ندی شوی. د نظرونو د اختلاف او مشاجرو په اړه تردې مهاله د نوموړي ګوند مشرتابه او کدرونو یوازې د غبار او کارمل ترمنځ د اختلافونو او د کارمل له لوري د غبار په پټه د تورونو یادونې کړي دي. پدې هکله پنجشیری د غبار له قوله لیکي:«زموږ د اختلاف ټکي سیاسي ماهیت لري. په اوسني وخت کې نه ښایي د اساسي قانون او د مشروطه پاچاهی له بریده مخکې ګام اوچت شي. » ۲/ ۱۵۰ همدارنګه صالح محمد زیری د تره کي له قوله وایي چې غبار د مشروطه پاچاهۍ نه مخکې نه تللو او جوزجاني هم وایی چې غبار تره کي ته ویلي وو چې ستاسو رنګ سور دی او زه له تاسو سره نشم تللی. د سرپرستې کمیټې (د ګوند د جوړیدو د تدارک د کمیټې ) د غړو ترمنځ اختلافونه د دې سبب شول چې غبار او د هغه همفکران چې زوی یې هم پکې راځي په کنګره کې ګډون ونکړي. زهما او روهي هم د زده کړو وروسته د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند سره سازماني اړیکې ټینګې نکړلې خو د تره کي سره یې دوستانه مناسبات ساتل. د میراکبرخیبر پرته د سرپرستې کمیټې پاتې دریو غړو د نوي اساسي قانون د ۲۲ مادې څخه په ګټې اخیستنې سره د ۱۹۶۵ کال د جنوری په لومړۍ نیټه د کابل په څلورمه کارته کې د تره کي په کور کې د افغانستان د خلک دموکراتیکې ټولنې (ګوند) بنسټ ایښودونکې کنګره جوړه کړه. هېره دې نه وي چې په کنګره کې د نوي سیاسي بنسټ نوم د افغانستان د خلکو دموکراتیکه ټولنه غوره کړل شو چې وروسته د افغانستان د خلک دموکراتیک بهیر(جریان) او بیا یې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند( ا ، خ ، د ، ګ ) نوم خپل کړ. څرنګه چې هغه مهال د ګوندونو قانون شتون نه درلود د ګوند پرځای یې دا نوی سیاسي خوځښت د افغانستان د خلکو دموکراتیکې ټولنې په نامه ونومولو. کنګره د ۱۹۶۵ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې( ۱۳۴۳ کال د مرغومې یوولسمه ) د ماپښین په دوو بجو جوړه او د شپې تردوو بجو پورې یې دوام وکړ.د مؤسسې کنګرې د ګډونوال پنجشیري د وینا له مخې هغه مهال په کابل کې د دې سیاسي خوځښت غړي ۷۲ تنه وو چې په ۱۰- ۱۲ حوزو کې سره راټولېدل. په کنګره کې لاندې ۲۸ تنو برخه اخیستې وه : نورمحمد تره کي ، ډاکترصالح محمدزیري، غلام مجدد( سلیمان لایق)، نوراحمدنور، ډاکتر محمد ظاهر طوطاخیل ، محمد ظاهرافق، عبدالحکیم هلالي، عبدالوهاب صافي ، عطامحمد شیرزي، آدم خان ځاځي ، وکیل عبدالله ځاځي، غلام محی الدین زرملوال ، ببرک کارمل ،محمد طاهر بدخشي، غلام دستګیر پنجشیري ، ډاکتر شاه ولي ، محمد حسن بارق شفیعي، سیدنورالله کلالي، عبدالقیوم قیوم، عبدالهادي کریم، اکرم کارګر، سلطانعلي کشتمند،عبدالکریم میثاق، ملاعیسی کارګر، شهرالله شهپر، سیدعبدالحکیم شرعي جوزجاني ، انجینرخالیار او ډاکتر عبدالمحمد درمانګر. کنګرې ته ټاکل شوو دریو تنو استازو (اناهیتا راتبزاد، محمداسمعیل دانش ، عبدالقدوس غوربندي ) په دې تاریخي ناسته کې ګډون ونکړ. عبدالقدوس غوربندی اومحمد اسمعیل دانش د دولت د مامورینو په توګه اطرافو ته خدمتې تللي وو. اناهیتا راتبزاد د واکمنو دودونو له امله په کنګره کې برخه نه لرله. ویل کیږی چې ډاکترکاظم دادګرهم کنګرې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي په توګه ټاکل شوی وو خو نوموړي بیله کومه دلیله په کنګره کې ګډون ونکړ. سربیره پردې میراکبر خیبر د ګوند د بنسټ ایښودونکو فعال غړی چې برحاله افسر وو او پوځیانو د قانون له مخې د سیاسي فعالیت حق نه درلود کنګرې ته نه دی تاکل شوی. د کنګرې د دایرېدو پر مهال څو تنو ځوانانو د تره کي د کورشاوخوا په بایسکلونو ګرزیدل چې د پولیسود چاپې پرمهال د غونډې ګډونوال خبر کړي. په کنګره کې د هیواد د شپاړلسو ولایتونو اړونده شپږویشتو تنو روڼ اندو او دوو کارګرو ګډون درلود.د قومي تړاو له مخې په کنګره کې ۱۳ تنو پښتنو ، ۹ تنو تاجکو ، ۳ تنو هزاره ګانو او ۳ تنو ازبکو ګډون کړی وو. هغه وخت قومي او ژبني توپیرونه دومره د پام وړ نه وو چې د سیاسي خوځښتونو په د ننه کې ځانګړي دریځونه را مخته کړي له همدې کبله د قومونو یا ژبي استازیتوب کوم ارزښت نه درلود بلکې د استبداد او نابرابریو پر خلاف د ټولنیز عدالت غوښتني د استازیتوب لوری ټاکه .

د کنګرې رپوټ د تره کي لخوا ورکړل شو. د هغه له لوري د رپوټ ورکول او د هغه په کور کې د کنګرې دایریدل ښیي چې هغه د کنګرې په ګډونوالو کې د لوړ اعتبار څخه برخمن وو. دا خبره هم د یادولو وړ ده چې د کنګرې وروسته د هغې د ګډون کوونکو نیمایي د ټولنې (ګوند) سره اړیکې وشلولې. دا بیا ښیي چې د کنګرې برخه والو د استبداد پر خلاف ګډ دریځ درلود خو د ګډ فکر او د مبارزې په بهیر کې د واحد لیډلوري ، اړینې پوهې او د یوشان تجربو څخه بې برخې وو. ښایي همدې تشې دې ته زمینه برابره کړې وې چې د نوموړي خوځښت مشران د پېښو او بهیرونو د اټکل وس ونلري یا دا چې وخت ورنکړل شو چې راتلونکې په ژوره توګه اټکل او د دردوونکو پیښو، اوښتنو او بیلاری کیدو د مخنیوي وړتیا ولري. دغه خوځښت کېن اړخه ښکاریده خو د هغو کسانو شمیر هم پکې لږ نه وو چې یا د کېن اړختوب په مفهوم نه پوهیدل او یا یې هغه د هیواد له حالاتو سره په ټکر کې لیده. میرغلام محمد غبار د دې خوځښت په برخه والو کې د سلطنت په لاس له روزل شوو استازو څخه هم خبرداری ورکاوه . ویل کیږي چې هادي محمودي او انجینر عثمان تره کي ته ویلي وو که کارمل پدې جوړېدونکې خوځښت کې نه وي دوی چمتو دي چې پدې لار کې د تره کي سره ولاړ شي . وروسته دواړو خپل سازمان جوړ کړ چې د شعله یانو په نامه یې شهرت وموند. د غبار او محمودي په څېر څېرو دا ډول څرګندوني د کنګرې پر ځینو غړو بې اغیزې نه وې. همدا لامل وو چې د کنګرې یو شمیر غړي د راتلونکې په هکله زړه نازړه بریښیدل. ددې سازمان پورتنۍ تشه هغه وخت جوته شوه چې کله د خلق دموکراتیکې ټولنې کړنلاره خپره شوه چې پکې د یو ډول مارکسیستي – لېننستي فکري تمایلاتو څرګ ولګېد چ ځینو خپله لاره په پټه خوله ترې جلا کړه . په کنګره کې د نوي سیاسي خوځښت د جوړیدو او د هغه د رهبرۍ د ټاکنو پرته چې هغه په پټه او نیغ په نیغه وټاکل شوه بل کوم سند ندی تصویب شوی. د کنګرې برخه والو هوکړه کړې وه چې د ټولنې د مشرتابه لپاره به یوولس تنه وټاکل شي او هغې ته به مرکزي کمېټه وایي چې اووه تنه به یې اصلي او څلور تنه به علی البدل غړي وي . د معمول خلاف د دې ګوند د مشرۍ لپاره چا ځان نه دی نومولی بلکې داسې پرېکړه شوې چې هر برخه وال به په یوه ورقه کاغذ کې د یوولس تنو نومونه لیکي او پدې پانو کې چې د چا نوم زیات لیکل شوی وي هغه به د ټولنې مشر وي .

کله چې د ورقو له مخې نومونه وشمېرل شول لاندې کسانو ډېرې رایې ترلاسه کړې وې چې د ټولنې(ګوند) د مرکزي کمېټې د اصلي او علی البدل غړو په نامه د ګوند مشري په غاړه واخېستله:

۱. نورمحمد تره کی ۲۸ رایې
۲. ببرک کارمل ۲۷ رایې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. محمدطاهربدخشی ۲۶ رايې
۴. غلام دستګيرپنجشيرى ۲۵ رايې
۵. شهرالله شهپر ۱۹ رايې
۶. سلطانعلي کشتمند ۱۷ رايې
۷. صالح محمدزيرى ۱۵ رايې

د ټولني على البدل غړي شاه ولي ، عبدالکريم ميثاق، محمدظاهر اوعبدالوهاب صافي وو. د کنګرې د برخه والو د شمېر په اړه اړينه بربښيي وويل شي هغو ليکوالو چې پدې اړه ليکنې کړې دي برخه وال يې اووه ويشت تنه ګڼي پداسې حال کې چې په کنګره کې اته ويشتو تنو برخه لرله. ښايي دا تشه لدې امله وي چې لومړى دستګير پنجشيرى پدې اړه په خپل کتاب کې د کنګرې برخه وال اووه ويشت تنه ګڼلي دي او نورو بېله دې چې په خپله څېړني وکړي د پنجشيري پر کتاب ډډه لګولې ده. « وروسته له هغې چې د کنګرې غړو د پټو رايو له مخې مرکزي کميټه وټاکله ، د کنګرې د غړو مخکې مرکزي کمېټې غونډه وکړه او نورمحمدتره کی د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې د لومړي منشی ( وروسته عمومي منشي) او ببرک کارمل د دوهم منشي په توګه » ۷۹ / ۴۱ او محمد طاهر بدخشي يې د تشکيلاتو د مسؤل په حيث وټاکل. د شرعي جوزجاني د ليکنې پر بنسټ عطامحمد شېرزي کارمل د منشي د مرستيال په توګه پيشنهاد کړچې دا پېشنهاد ومنل شو. په کنګره کې د غبار د نه ګډون په اړه د کنګرې استازو( زيري، پنجشيري ، غوربندي ) د غبار او کارمل ترمنځ د اختلافونو يادونه کړې ده.دا بيا ښيي چې غبارله يوې خوا د کارمل سره شخصي او سليقوي ستونزې لرلې او د نورو سره يې د نوي خوځښت د تکلارې په اړه سياسي اختلاف درلود. غبار چې په سرپرسته کميټه کې د عمر له پلوه تر ټولو مشر، د سياسي مبارزې زياته تجربه يې لرله د ګوند د مشرتابه امکانات يې ډير وو. د راتلونکي جوړيدونکي ټولنې د مشرتابه د ليوال لخوا اړ ايستل شو چې د ګوند په بنسټ ايښودونکې کنګره کې د ګډون څخه ډډه وکړي. د غوربندي دا خبره چې «...خداى ښنلي غبار د کارمل د لمسون له امله د سرپرستي کميټي څخه وايستل شو...، او هغه د تره کي په وړاندې هم پلانونه لرل» ۸۰/ ۱۲ د دې واقعيت څرګندوى دی چې کارمل ليوال وو د نوي خوځښت مشر شي چې غبار او تره کي يې خپل سيالان ګڼل ، غبار يې له لارې لېرې کړ او فکر يې کاوه چې په کنګره کې به دی د ګوند د مشرپه توګه راڅرګند شي چې دې موخې ته هم ونه رسيد. د شرعي د ليکنې له مخې « ببرک کارمل لدې امله چې تره کی د مرکزي کمېټې د عمومي منشي په توګه وټاکل شو په غوسه وو او د بدخشي له لوري د تره کي د معرفي کولو پرمهال له هغو جملو د استعمالولو له کبله خوښ نه وو...، دا ټاکنه بايد د مرکزي کميټې له خوا ترسره شوى واى او هغه يې په بربنډ ډول په غونډه کې و نه ويل ، بلکې د کنګرې ځېنو غړو ته يې په غوږ.و کې ويلي وو.» ۸۱ همدا لامل وو چې ناراضه کارمل څه موده وروسته خپل يو شمير پلويان د ټولنې څخه جلا او د ا، خ، د ، ټ په نامه يې خپل مستقل سازمان جوړ کړ. د ګوند دا ډول جوړيدل هغه نوي زيږيدلي ماشوم ته ورته وو چې معيوب وزېږېدلو. د دې معيوب ګوند زيږيدل لاندې لاملونه لرلی شي :

لومړى: د ګوند د بنسټ ايښودونکو بيړه - په هيواد کې د نوي اساسي قانون پر بنسټ د مساعدو شرايطو او لاسته راغلي فرصت څخه ګټه اخيستنه چې د استبداد ضد او دموکراسۍ پلوه روڼ اندو لپاره د نفس ايستلو او د ولسونو د رواغوښتنو د بيانولو لپاره ټولنې او ګوندونه جوړ کړي.دوى غوښتل چې د دې فرصت نه په بيړه ګټه پورته کړي. بېله دې چې د همفکرو ملګرو يو خوځښت چې د انحراف پرته د نوي جوړشوي سازمان د ځواکمنيدو جوګه شي د ګوند په جوړولو لاس پورې کړ.

دوهم: بې تجربګي- د ګوند بنسټ ايښودونکو فکرکاوه ، مهمه دا ده چې د ګوند بنسټ کيږدي او وروسته به وکولی شي په ګوند کې شته اختلافونه له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم: داسې فکرهم کيږي چې له هماغه پيل څخه سلطنت او يا پرديو خپل افراد بنسټ ايښودونکې کنګرې ته راليږلې وو. سلطنت غوښتل چې دا ګوند د ننه څخه د جنجالونو ، کشمکشونو او انشعابونو سره لاس او ګريوان کړي او په يوه ځواکمن سياسي سازمان وانه وړي. پرديو چې ګوته شوروي اتحاد ته نيول کيږي غوښتل دوی ته د وفادارۍ ځيرۍ او يا ځيرو پرمټ ګوند د دوی د لاس په وسيله واوړي. ښايي پورته يادو شوو ټولو دريو لاملونو او يا يې يوه د دې معيوب سازمان په منځته راتګ کې خپل رول لوبولی وي. د ګوند د جوړيدو لومړنيو کلونو وښودل چې دا ګوند له هماغه پيل څخه د ناپايه کشمکشونو يو سياسي جوړښت وو او د بې باورۍ په چاپيريال کې خپل فعاليت ته ادامه ورکړه او د پرله پسې انشعابونو سره لاس او ګريوان شو. وروستيو پيښو او په تيره کله چې ګوند واک ته ورسيد ، د واک په هماغه لومړيو کې د مشرتابه ترمنځ يې پخواني اختلافونه د عمق نه سطحې ته راووتل تره کې د ګوند د مشر په توګه درک کړل چې بايد د ګوند بنسټ ايښودونکو دې حياتي مسالې ته له هماغه پيل نه پام راګرزولی وای. هغه په سياسي بېرو کې ويلي وو: «موږ په پام کې لرو چې يوموټی واحد ګوند منځته راوړو. د مصنوعي اتحادونو او يووالي څخه څه نه جوړيږي. موږ غواړو چې ګوند په يوه نوي قالب کې واچوو او د فولادو په څير يو ګوند جوړ کړو. موږ وليدل ولډنګ کاري ګټه نلري. وسپنه چيرې چې ولډنګ شوې وي هلته بيا ماتيږي. زموږ ګوندي يووالی همداسې وو.» ۳۹/ ۱۱۹ ژوند هم وښودل چې دې تشې په خپله ګوند او ټولنې ته زياتې بدمرغۍ راوړلې. البته دا ګوند يوازينې ګوند نه وو چې دا تشه يې لرله بلکې د نړۍ په کچه خاصتاً د مخ په ودې هيوادونو سياسي ګوندونه د ورته ستونزو سره مخامخ شوي دي. د دموکراسۍ په لسيزه کې نورو ګوندونو هم ورته حالت درلود او له کورنيو کشمکشونو، بې اتفاقيو او انشعابونو سره مخامخ شول. يو تريخ واقعيت چې يادول يې اړين بريښي هغه دا دی چې د ا ،خ ،د، ګ بنسټ ايښودونکو او مشرتابه د ګوند د فعاليت او هم د واک د ترلاسه کولو او د ا، خ، د ،ګ د واکمنۍ د نسکوريدو وروسته د ګوند د کورنيو ستونزو او واکمن حالت په اړه نه دا چې په بشپړه توګه واقعيتونو ته ګوته نده نيولې بلکې ځينو يې په لوی لاس حقايق تحريف کړي او په ګوند کې د واکمن حالت څخه ناسم انځورکښلی دی او هڅې يې پدې راتاويږي چې په ګوند کې د بېلارې توب، نيمګړتياوو، ناکامياو د ګوند اساسنامې او کړنلارې ته د شا ګرزونې، نه ښونکو تيروتنو ملامتې په ګوند کې په ځانګړو مشرانو او يا شورويانو واچوي او پدې توګه خپل ځانونه غير مسؤل، سلامت او سپين ثابت کړي. عجيبه خو لا دا ده چې د دې ګوند د دواړو اړخونو په مشرتابه کې داسې مشران هم وو چې د خلق او پرچم په نامه د واحد ګوند د وېشلو وروسته چې د تره کي يا کارمل تر مشرۍ لاندې پاتې شوي وو د ګوند د واکمنۍ له نسکوريدو وروسته د ګوند د انشعاب پړه د خپلو ډلو په مشرانو تره کي يا کارمل اچوي. د ساري په توګه د خلقيانو مشران ميثاق او پنجشيري د کارمل په پرتله د انشعاب زياته ملامتې په تره کي اچوي ، لايق او غوربندي بيا خپل مشر کارمل د انشعاب مسؤل ګڼي. دلته دا پوښتنه را پيدا کيږي چې دوی ولې د انشعاب د مسؤل تر رهبرۍ لاندې مبارزې ته دوام ورکړ.

د دې ټولو خبرو سره سره د ا، خ، د ګ جوړښت چې موخه يې د استبداد او ټولنيزو بيعدالتيو پر خلاف مبارزه او د يوه پرمختللي افغانستان جوړول وو د وخت غوښتنه او د ستايلو وړ ګام وو. دې ګوند د خپل شتون او فعاليت پرمهال او د سياسي مبارزې په ډګر کې د سترو تيروتنو سره سره د پرګنو او په تيره د روڼ اندو د ذهنونو په روښانولو کې د سترګو وړ ونډه اخيستې او واک ته په رسيدو سره د ټولنيزو سمونونو په پلي کولو سره چې د ربښتيني ټولنيز انقلاب پيلامه ګڼل کيده ګړندي ګامونه اوچت کړل او افغاني ټولنه يې د فيل له خوبه راويښه کړله.

## په ګوند کې دوې تلوالې او انشعابونه

په سياسي ګوندونو کې همفکران او د ګډ باور خاوندان پخپله خوښه د يوې اساسنامې په لرلوسره هغو موخو ته د رسيدو لپاره راټوليږي چې په کړنلاره کې يې تثبيت شوېدي . ګوندونه د سياسي جوړښت له امله پخپلو کړنلارو، شعارونو او فعاليتونو کې د ټولنې د مختلفو طبقو او قشرونو اړتياوې، غوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګټې منعکسوي او د واکمنۍ، مدني ټولني او پرګنو تر منځ د تعاملي عناصرو رول لوبوي. هر ګوند په واکمنيو باندې د اغېز اچولو او سياسي واک ته د رسيدو په لټه کې دی . دې موخو ته د رسيدو لپاره له ټاکنيزو بهيرونو او کمپاينونو، رسنيو، سياسي اعتراضونو او پوهنيزو څېړنو څخه ګټه پورته کوي. لکه څرنګه چې ګوند يوه ټولنيزه او تاريخي پديده ده د هغه معنی او مفهوم هم د وخت او ځای تابع دی. دا د دې معنی لري چې په يوه وروسته پاتې هيواد کې د يوه ګوند تشکيلاتي جوړښت ، ستراتيژي او سازماني موخې د يوه پر مختللي هېواد سره چې په همدې نامه فعاليت کوي توپيرلري. له همدې کبله دي چې په دموکراتيکو ټولنو کې چيرې چې دموکراسي د هغې په اصلي مفهوم سره تر يوې کچې نهادينه شوې ده ګوندونه هم د سياسي ګوندونو په اصلي مفهوم او ماهيت سره راڅرګنديږي. خو په ترلو وروسته پاتې ټولنو کې ګوندونه د هغو په اصلي مفهوم سره نشي را څرګندېدلی او پدې ټولنو کې د ګوندونو پرځای د ځمکې لاندې پټې ډلې، پارتيزاني سازمانونه او يا انقلابي خوځښتونه منځته راځي. پدې اړه د آلماني مارکسيست کارل کائوتسکي خبره چې« يو پټ ګوند نشي کولی دموکراتيک وي» د افغانستان د سياسي ګوندونو او په هغو کې د ا، خ، د، ګ په اړه سرخوري دا ځکه چې هغه په پټه جوړ، په غيرقانوني ډول فعاليت درلود او د واکمنيو د دوامداره ځارنې، فشار او تهديد لاندې خپل فعاليت ته دوام ورکاوه.لدې امله د داسې يوه ګوند څخه د يوه دموکراتيک ګوند هيله او تمه واقعبينانه نه بريښي .

اوس و به ګورو چې د ا ،خ، د، ګ بنسټ اېښودونکي د ګډ فکر او ګډ باور خاوندان وو يا نه.که چيرې د ګوند د جوړيدو په درشل کې د هغه د بنسټ اېښودونکو هڅو ته وکتل شي معلومېږي چې هغوی د ګوند د جوړيدو د تدارک کميټه جوړه کړه چې سرپرسته کميټه نومېدله. د دې کميټې څخه د ګوند ځينو بنسټ ايښودونکو اوهغه هم وروسته چې دا ګوند له واکه ګوښه کړل شو پخپلو ليکنو کې يادونه کړې ده. مخکې لدې پدې اړه څه ندي ويل شوي. د هغه مهال د واکمنو شرايطو له مخې چې واکمنۍ د خپل عادت له مخې پر استبداد او زورزياتی ډېره لګوله روڼ اندو او د مترقي اندونو خاوندانو ليدنې کتنې درلودلې ترڅو د يوه سياسي خوځښت بنسټ کيږدي. د هغوی د ليدنو کتنو په ترڅ کې هغو کسانو چې ګډ فکري اندونه لرل يو بل پيدا او پدې وتوانيدل چې د ګوند بنسټ کيږدي. د ګوند په بنسټ ايښودلو کې د تره کي ، کارمل او بدخشي اعتبار د هغو رايو څخه جوتيږي چې د کنګرې ګډون کوونکو دوی ته ورکړې دي چې په ترتيب ۲۸، ۲۷ ، ۲۶ رايې کيږي. له بله پلوه د کنګرې پرمخ وړونکي بدخشي « د نور محمد تره کي او ببرک کارمل د ژوند، کار او مبارزې په اړوند رڼا واچوله او د کنګرې نورو ګډون کوونکو هم د خپل ژوند، کار او مبارزې په هکله بشپړ معلومات ورکړل.» ۲/ ۱۵۷ ښيي چې دې دريو تنو د ګوند په جوړولو کې ځانګړی رول درلود.د هغوی رول ته په کتو سره په واقعيت کې دوی د ګوند د زړې (هستې) حيثيت درلود. اوس به ګورو چې آيا هغوی ګډ سياسي او ايډيالوژيکي اندونه لرل يا نه.

بحث به لدې پيل کړو چې ګوند د هېواد د وروسته پاتې والي لامل په څه کې ليدلو او د حل لاره يې څرنګه لټوله. ګوند د کارګرې طبقې د ايديالوژۍ د بنسټيزاصل په بنسټ د افغاني ټولنې وروسته پاتې والی اصلي لامل طبقاتي ستم ګڼله چې باېد واکمن توليدي ( نيمه فيوډالي) مناسبات مات شي چې هغه يې د توليد پر وسايلو د ټولنيزملکيت له لارې شوني ګڼل. هيواد د پانګوالی پرته د ودې لار چې د سوسيالستي ټولنې جوړول دي غوره کړي. سره لدې د ګوند د بنسټ ايښودونکو څخه بدخشي اصولاً دا تګلاره منله خو زيات ټينګار يې د ملي مسألې پرحل درلود . هغه پدې اند وو« ښتانه په افغانستان کې واکمن او ظالم مليت او نور محکوم او د ستم لاندې مليتونه دي. لومړی بايد ملي ستم له منځه يوړل شي او بيا طبقاتی ستم. يوازېنی څوک چې د طاهر بدخشي د دې طرحې په وړاندې دربېده هغه تره کی وو او هغه په يوه شي ډېره لګوله چې هغه طبقاتي مبارزه او طبقاتی تحليل وو. » ۷۹/ ۶۳، ۷۵ سره لدې چې د ګوند تګلاره د مرکزي کمېټې له لوري تصويب شوې وه او دې دا معنی لرله چې د ګوند مشرتابه ګډ فکري باورونه لرل خو کشتمند چې په مؤسسه کنګره کې د مرکزي کمېټې د غړي په توګه ټاکل شوی د ګوند د واکمنۍ وروسته د خپل کتاب( ياداشت های سياسی و رويدادهای تاريخی ) په ۱۷۰ مخ کې د تره کي او کارمل ترمنځ د« سياسي او اېډيولوژيکي اختلافونو» د شتون خبره کوي. که چېرې دې اختلافونو شتون درلود دا پوښتنه را پيدا کېږي چې کارمل ولې له تره کي سره ګوند جوړ کړ. دا بيا ښيي چې کارمل له تره کي سره سياسي او اېډيولوژيکي اختلافونه نلرل او د کشتمند ادعا ناسمه ده. د ګوند له جوړېدو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهيرونو وبنودل چې د کنګرې د جوړېدو په درشل کې کارمل تمه لرله چې دی به د ګوند مشر شي چې داسي څه پيښ نشول او تره کی د ګوند مشر شو. لدې امله يې د تره کي خلاف دريځ غوره کړ او د ګوند د ننه يې فرکسيوني فعاليتونه پيل کړل. دې دا معنی لرله چې په يوه ګوند کې دوو سيالو مشرانو او يا دوو تلوالو شتون درلود څکه هر يوه يې پلويان لرل. کشتمند د خپل کتاب په ۱۴۳ مخ کې راوړي، بدخشي« له سياسي پلوه د کارمل له نظرياتو سره سر بنوراوه خو په رسمياتو کې يې د تره کي دريځ تائيداوه .» کله چې کارمل جلا سازمان جوړ کړاو همفکران يې ورسره ولاړل خو بدخشي له کارمل سره نه ولاړ د بدخشي په اړه د کشتمند د ادعا ناسموالی هم ښيي. ميثاق هم پدې اند دی چې بدخشي د تره کي له دريځ څخه ملاتړ کاوه. دا د دې ښکارندوی دي چې د ګوند په مشرتابه کې سياسي او ايډيولوژيکي اختلافونو شتون نه درلود او اختلاف د ګوند د مشرۍ پر سر وو چې کارمل تره کی د ګوند د مشرپه توګه نشواې زغملای. د کارمل ځانپالنه او د ګوند د مشر په توګه د تره کي د اتوريتي ټيټول لدې څخه څرګندېږي چې کله د ګوند په مرکزي کمېټه کې د حکومت څخه د يوې جريدې د جواز اخيستنې موضوع را پورته شوله کارمل غوښتل چې د جريدې د امتياز خاوند دی وي او مرکزي کميټې پرېکړه وکړه چې دا امتياز د ګوند مشر تره کی ولري. د زيري په وينا « په مرکزي کميټه کې د لمړي او دويم منشي ترمنځ بحثونه مرکزي کميټي ته ورسيدل. زياتره وخت ببرک کارمل عصبي کيده او نورمحمد تره کی به تل موسکی و. حتی پخپله دغي خبرې هم کارمل عصبي کاوه چې تره کی ولې نه عصبي کيږي. يوه ورځ کارمل ويل چې دی ترهرې جلسې د مخه ( ويليم پنځه) ګولۍ خوري.» ۱۶۷/۴۰ د تره کي او کارمل ترمنځ بې باوري او کشمکشونه په کال ۱۹۶۶ کي کله چې د ولسي جرګې دوولسمې دورې ته د ګوند له لوري د استازو د نومولو مسآله را پورته شوه بربنډ شول. تره کی او کارمل دواړه ليوال وو چې د کابل څخه چيرې چې د ګوند فعاليت محسوس وو د استازو په توګه ونومول شي. که چيرې کارمل د ګوند د اعتبار لوړولو ته ژمن وای معقوله دا وه چې هغه د ګوند د مشر لپاره په کابل کې چې د خلکو د سياسي پوهې کچه لوړه او د ګوند فعاليت محسوس وو زمينه برابره کړې وای چې ولسي جرګې ته لار ومومي . خو وليدل شول چې هم کارمل اوهم يو شمېر نور پدې لټه کې وو چې کارمل ولسي جرګې ته د استازي په توګه ونومول شي نه د ګوند مشر.په مرکزي کميټه کې پدې اړه له بحثونو وروسته تره کی اړشو چې ځان د غزني د ناوې ولسوالی څخه کانديد کړي. پدې اړه غوربندي ليکي: « که څه هم دا مساله د تره کي د آزرده ګی سبب شوه ، خو تره کي چې د ګوند د عمومي منشي په توګه د ګوند د يووالي د ساتلو لومړی درجه مسؤليت درلود هڅه وکړه چې دا آزرده ګي د کدرونو او صفوفو تر منځ درز او بېلوالی را نه وړي. خو کنترول او مرکزيت پياوړی او ګوندي دسپلين ټينګ شي او پارلماني فرکسيون په بشپړ ډول د دې مرکزيت تر لاربنووني لاندې فعاليت وکړي او د هرډول بيځايه را څرګنديدو ډډه وشي. د ګوند استازي خپلې ويناوې او وړانديزونه مخکي له مخکې د مرکزي کميټې د پريکړې څخه تېر کړي. کارمل پدې دليل سره چې په ورځنيو بحثونو کې بايد سمدلاسه دريځ غوره شي خو بيا به پدې هکله رپوټ ورکوي. دا قيودات ونه منل او لدې ځايه اختلافونه پيل شول. له همدې امله کله چې ببرک کارمل او نوراحمدنور په پارلمان کې د ځينو استازو تر بريد لاندې راغلل، نورمحمد تره کي هغه د بيځايه را څرګنديدو او افراطي شهرت غوښتنې پايله وګڼله. »۱۶/۸۰ . کله چې ولسي جرګې ته نوماندانو کمپاينونه پيل کړل کارمل محمود بريالی ،عبدالبصير رنجبر او خليل زمر ناوې ولسوالی ته د تره کي د ټاکنيز کمپاين لپاره استولي وو. « کله چې محمود بريالی او ورسره مل کسان د غزني ولايت د ناوې ولسوالی سره کلي ته رسيدلي وو ، لدې امله چې په خام سړک يې سفر کړی او د سفرپر مهال يې جامې او سر او صورت په خاورو لړل شوي وو او مخکې لدې چې له تره کي سره وګوري ، د کلی ترڅنګ څېرې چې چينه وه او په وياله کې اوبه رواني وې ، ځانونه يې لوڅ کړي وو ( البته نېکرونه يې لرل) صابون يې له بکسونو څخه را ايستلي دی او ځانونه يې مينځلي دي . د کلي مېرمنو د خپلو منګيو سره چې اوبه راوړي او يا هلته ګرځېدلې ، لدې وضعيت څخه يې بد راغلي او هغوی يې د کافرانو او بې شرمه او بې حيا ښکنځلې کړې دي . د کليو خلکو هغوی په مرګ ګواښلي دي،وروسته لدې هغوی په تېښته بېرته راغلي دي. دې ډول چلند د دې پرځای چې تره کي ته ګټه ورسوي د هغه په زيان تمام شو او خلک يې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف ودرول.» ۷۹/ ۵۳ ــ ۵۴ همدا لامل او د حکومت لاسوهني وې چې تره کي پارلمان ته لار ونه موندله. هغه مهال کارمل، نوراحمدنور او اناهیتا راتبزاد ولسي جرګې ته وټاکل شول.

محمودسوما چې د خلق او پرچم د بیا یووالي مخکې د مرکزي کمېټې علی البدل غړی وو د تره کي او کارمل ترمنځ د اختلافونو تشدید ، په کارمل باندې د تره کي نه باور چې د دربار او حکومت سره اړیکي لري د« زندګي نوین » نومې کتاب خپرول ګڼي چې تره کي په مستعار (نظرزاده) نوم خپور کړ. هغه وایي چې « تره کی د محمدهاشم میوندوال د صدارت پرمهال شوروي اتحاد ته د درملنې لپاره ولاړ اوهلته یې دا کتاب چاپ کړ. هیواد ته په راستنیدو سره یې یوازې کارمل ته د کتاب د چاپ په اړه ویلي وو. څو ورځې وروسته میوندوال د کتاب د خپرولو په اړه د تره کي سره خبرې کوي او دا هم ورته وایي چې پاچا هم د کتاب له خپریدو څخه خبردی. پاچا هم تره کی ورغواړي او د کتاب د خپرولو پوښتنه ترې کوي . وروسته لدې تره کي په کارمل په بشپړډول بې باوره شو چې د کتاب د چاپ په اړه یې پاچا او صدراعظم ته ریوټ ورکړی دی .» پدې هکله میثاق ورته څرګندونې کړې دي او هغه وایي مخکې لدې چې کتاب چاپ شي هغه یې د کتنې لپاره د ګوند مشترتابه ته ورکړ او محمد اسمعیل دانش پرې کار وکړ. همدا رنګه کارمل بېله دې چې د ګوند مشرتابه په جریان کې واچوي د سردارعبدالولي سره کتلي وو. کله چې په مرکزي کمېټه کې ورڅخه د دې کتنې پوښتنه شوې وه په ځواب کې یې ویلي چې د شورا کاندید حق لري د مؤکلینو سره وګوري. تره کي ویلي وو ما چې د پاچا سره د کتلو تصمیم و نیولومرکزي کمېټه مې خبره کړه او د لیدنې رپوټ مې هم وړاندې کړ تاسې هم باید مرکزي کمېټه په جریان کې اچولې وای. دې مسالې هم په کارمل د مرکزي کمېټې ځینې غړي بې باوره کړل .

د تره کي له لوري په کارمل بې باوري لدې نه څرګندیږي چې د ګوند د جوړیدو لنډه موده وروسته تره کي د لومړي ځل لپاره د۱۹۶۷کال د فبروری په یوویشتمه د چین د سفارت مخې ته یوه مظاهره تنظیم کړه چې کارمل او د هغه پلویان یې پرې خبر نکړل. پدې کوچنی مظاهره کې دوولسو شاوخوا ګوندیانو ګډون کړی وو. د مظاهرې خبر د مسکو رادیو او ځینو نورو راډیوګانو هم خپور کړ. ددې مظاهرې برخوال زېری لیکي: « د مرکزي کمیټې په غونډه کي د کارمل په شمول یو شمیرکسانو د مظاهرې په اړه پوښتنې کولې. موږ پوه شوو چې هغوی نه وه په خبر او نورمحمد تره کي ور ته وویل بنایي زموږ ملګرو کړې وي. خو زیاترو اعتراض وکړ چې مرکزي کمیټه نه ده په خبره او مظاهرې کیږي. لومړي منشي دغه خبره تیره کړه او نورې خبرې پیل شوې.» ۴۰/ ۱۳۴ پورتنی څرګندونې ښیي چې د ګوند د جوړېدو د لومړیو څخه د تره کي او کارمل په مشرۍ دوو تلوالو په ګوند کې شتون درلود او د ګوند د چارو او فعالیت د تنظیم لپاره متحدانه عمل نه کېدلو. د ګوند په رهبرۍ کې دوه ګوني توب ، د کارمل د فرکسیون شتون هغه وخت بربنډ شو چې مرکزي کمېټې د ګوند د جوړیدو دویمه کلیزه د تره کي په کور کې نمانځله. د دې نمانځنې پر مهال بارق شفیعي یو شعر لوستی دی چې په هغه کې یې کارمل او راتبزاد ستایلي وو. د شعر د لوستلو پر مهال بدخشي ، بارق ته ویلي وو« کښینه مداح» چې غونډه کړکیچنه شوې او په غونډه کي بدخشي، میثاق ، نور، شفیعي، کشتمند، شهپر اوعبدالوهاب ساپی توندې څرګندونې کړې وې. البته دوو لومړیو ، بدخشي او میثاق د بارق خلاف دریځ نیولی او نورو د بارق په ملاتړ جبهه نیولې وه. په لومړیو کې چې کارمل تره کی تجرید او بې اغېزې کړي « ټینګار کاوه چې تره کی باید عمومي رهبري وکړي او ورځنې کارونه ځوانانو ته پرېږدي او تره کي او بدخشي به ویل چې ګوند د ورځنیو پیښو رهبرۍ ته اړتیا لري .» ۴۰/ ۱۷۱ کله چې کارمل پدې کار کې پاتې راغی د ګوند د جوړیدو دوو کلو او درو میاشتو وروسته د ۱۹۶۷ کال په اپریل ( ثور ) کې کارمل د خپلو همفکرانو سره د تره کي نه جلا شو او د (ا ،خ ،د، ټ) په نامه یې جلا سیاسي فعالیت پیل کړ.

د ګوند د بنسټ ایښودونکي کنګرې پر مهال حفیظ الله امین چې وروسته په ګوند کې په یوې پیاوړې خو جنجالي څېرې واوښت په امریکې کې زده کړې کولې، هیواد ته په راستنیدو سره د ګوند غړیتوب ترلاسه کړ. د کارمل د ډلې له جلاکیدو وروسته د بدخشي او امین ترمنځ ظاهراً د قومي او ژبنیو مسالو په اړه اختلافونه او جنجالونه پیدا شول. لدې امله دواړو ته د ګوند د مرکزي کمیټې له لوري سزا ورکړل شوه. بدخشی د ګوند د مرکزي کمیټې د اصلي غړیتوب څخه د ګوند اصلي غړیتوب ته او امین د ګوند د مرکزي کمیټې د علی البدل غړي نه آزمایشي غړي ته راټیټ کړل شول. امین دا سزا ومنله خو بدخشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو همفکرانو سره چې د شمال په غیر پښتنو پوړې تړاو درلود له ګوند څخه ووت او د انتظار د محفل په نامه یې خپل سازمان جوړ کړ. امین ته د سزا ورکولو له امله عبدالمحمد درمانګر چې د ګوند د مرکزي کمېټې علی البدل غړی وو له ګوند سره اړیکې وشلولې. پدې ډول ګوند په دریو ډلو د تره کي تر لاربښوونې لاندې ډله د خلقیانو، د کارمل ډله د پرچمیانو او د بدخشي ډله د ستمیانو په نامه یادیدلې وویشل شو. دا دری سازمانونه هم ونه توانیدل د یوموټې خوځښتونو په څېر خپل شتون ته ادامه ورکړي بلکه د کورنیو اختلافونو نه ځوریدل او د انشعابونو سره مخامخ شول. البته دا اختلافونه د جمهوریت تر ټیکښت پورې په پرچمیانو کې د خلقیانو په پرتله چې دواړو د(ا ، خ، د ،ګ) په نامه فعالیت درلود لږ او محسوس نه وو. لامل یې ښایي دا وي چې کارمل د خپلو همفکرانو سره خپل سازمان جوړکړ او د تره کي تر لاربښوونې لاندې اړخ کې د مختلفو افکارو او سلیقو خاوندان پاتې وو. څه موده وروسته د خلقیانو یو شمیر کدرونو محمدظاهر افق ، امان الله استوار،تازه خان ویال، عبدالباري جهاني ، نعمت الله ، خالق ، داکترکبیر، هاشم پیکار، فضل احمد طغیان، محمدعظیم ګوهري او نورو د ګوند د کړنلارې او اساسنامې د ځینو برخو د بدلون او د کنګرې د رابللو په اړه وړاندیزونه لرل چې مرکزي کمیټې ورسره ونه منل او هغوی د ګوند څخه د خپلو یو شمیر همفکرانو سره ووتل .هغوی هم ونه توانیدل ګډ سیاسي فعالیت وکړي او په دوو ډلو وویشل شول. د محمدظاهرافق په مشری یې د «جمعیت انقلابي زحمتکشان افغانستان» او د اما ن الله استوار په مشری یې د«کار د ګروه» په نامه ډلې جوړې کړې. د کار ګروه د بدخشي د ډلې په څېر نظریات لرل.

همدارنګه په ۱۹۶۸ کې د پرچم څخه یوه ډله چې مشران یې دستګیرپنجشیري ، شهرالله شهپر او شرعي جوزجاني وو جلا شول او د خلق کارګر په نامه یې جلا سازمان جوړ کړ. دې سازمان څه کم یو کال مستقلانه فعالیت وکړ او په مشرتابه کې یې اختلاف راغی . پنجشیري او شرعي د خپلو همفکرانو سره د خلقیانو سره بیرته یوځای شول او شهپر د سازماني مبارزې نه لاس په سر شو او پلویانو یې د امان الله استوار له ډلې سره ګډه مبارزه پیل کړه. عجیبه خبره دا ده سره لدې چې پنجشیري او جوزجاني د ګوند د واکمنۍ وروسته په ټولنیزو شبکو کې فعال وو ، د ګوند د فعالیتونو په اړه لیکنې هم کړې دي خو د تره کي او کارمل سره د دوی د اختلاف او انشعاب په اړه څه ندي ویلي . د ګوند د واکمنۍ وړاندې دستګیر پنجشیري او عبدالهادي کریم له کارمل څخه د جلاکیدو لامل دا ګڼلو چې کارمل دوی حکومت ته په لاس ورکړي وو چې بندیان یې کړي. البته چې د ګوند د لومړي انشعاب په اړه د پنجشیري اخېستنې په برالا نه خو په غیرمستقیم ډول تره کي ته متوجه دي. که چیرې د پنجشیري ادعا ومنل شي چې په انشعاب کې تره کي منفي رول درلود نو بیا ولې پنجشیری بېرته د ګوند د انشعاب اصلي عامل ، تره کي ته راوګرزید او د نومړي ترمشرۍ لاندې یې دوهم ځل مبارزې ته دوام ورکړ؟ د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند په خلقي اړخ کې د پنجشیري دریځ ته په کتنې سره معلومیږي چې نومړي په خلقیانو کې د کړکیچونو په راوستلو او کمزورولو کې ښکېل پاتې شوی دی . پدې هکله بیلګې لږ نه دي خو دوو ته به یې ګوته ونیول شي. د۱۹۷۹کال د دسمبر په ۲۷ د امین او د ګوند د سیاسي بیرو د غړو د مسمومولو په پیښه کې د پنجشیري نه مسمومیدل ښیي چې نومړي ته د شورویانو له لوري ویل شوي وو چې د خوړو له خوړلو ډډه وکړي. بله مسئله چې د خلقیانوتر منځ د اختلافونو په لمن وهلو کې د پنجشیري منفي رول ښیي د نومړي خپله وینا ده چې د شوروي د یرغل په لومړیو کې څو تنو د بدخشي د پخوانیو پلویانو اړونده کسانو ته کړې وه او په یوه برخه کې وايي:« وروسته له هغې مې چې د ګوند پوځیان د بیګ شوونیستانو( موخه تره کی او امین دي) ضد متحد کړل او هغوی مې د یو بل خلاف راوپارول، د تره کي له نسکوریدو وروسته د حفیظ الله امین د حکومت په لومړی ورځ د هیواد نه ووتلم ، د انقلاب څخه د دښمني دفاع او په ګوند کې د انحراف د مخنیوي په خاطر مې د شوروي دوستانو د قانع کولو په موخه چې خپل محدود قطعات افغانستان ته را واستوي د امین د حکومت په وروستۍ ورځ کابل ته راستون شوم.» ۸۲ کله چې پنجشېري په ویاړ سره وايي چې ما پوځیان د ګوند د مشرانو خلاف متحد کړل او یا مې شورویانو ته قناعت ورکړ چې په ګوند کې د انحراف د مخنیوي په خاطر خپل لښکر افغانستان ته راولیږي معنی یې دا ده چې ده د خلقیانو کمزوري او د تره کي او امین دواړو ورکه غوښتله او خپل منفي رول یې د شورویانو سره په همغږۍ کې لوبولی دی . د انتظارمحفل هم د بدخشي او بحرالین

(c) ketabton.com: The Digital Library



باعث ترمشرۍ لاندې په دوو جلاجلا ډلو( سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان- سازا او سازمان فدائيان زحمتکشان افغانستان- سفزا) وويشل شول. هېره دې نه وي چې د تره کي او کارمل ترمشرۍ لاندې د (ا ،خ، د، گ) تر نامه لاندې دوو جلا سياسي سازمانونو فعاليت درلود پدې توپيرچې خلقيانو د (ا،خ، د،گ) سره د کارگرې طبقې مخکښ او پرچميانو د زيارايستونکو مخکښ ترل ( ليکل). دا د دې معنی لرله چې دا تر يوه نامه لاندې دوه موازي گوندونه وو.

د خلقيانو نه د څو ډلو له جلا کيدو سربيره په خلقيانو کې کورني جنجالونه او کشمکشونه ونه دربدل. بل جنجال په کرنلاره کې د ملي دموکراسۍ او خلقي دموکراسۍ په هکله ناسم پوهاوی او د نظراختلاف وو چې عبدالکريم زرغون د گوند د کرنلارې خلاف په خلقي دموکراسۍ ټينگار درلود. سربېره پر دې هغه مهال د امين او زغون تر منځ هم اختلافونو شتون درلود او دوارو يو بل په فرکسيونبازۍ تورنول . سربېره پر دې امين زرغون د ماېويستانو سره په اړيکو لرلو هم تورناوه . همدا رنگه زرغون بېله دې چې گوند خبر وي د مستربل په نامه يو کتاب په پاکستان کې خپور کړی وو چې د گوند کورنۍ مبارزې ته ځانگړی شوی وو او هلته پرچميان پکې ټکول شوي وو. دا ټول ددې سبب شول زرغون چې د مرکزي کمېټې علی البدل غړی وو له گوند څخه واېستل شي . زرغون له گونده اخراج شو خو څوک يې له ځان سره يونه وړل او خپلو ارتباطي غړو او پلويانو ته يې سلا ورکړه چې په گوند کې پاتې شي. ده پخپله او پلويانو يې هېڅکله هم د خلقيانو ضد دريځ غوره نکړ. د گوند څخه د زرغون د اېستلو وروسته امين هڅې وکړلې چې د زرغون سره ارتباطي خلقيان له گوند څخه وشړل شي خو مرکزي کمېټې ورسره و نه منل . ميثاق وايي چې تره کي په گوند کې د هرڅا څخه زيات په زرغون باور درلود او د خپل کتاب په ۸۷ مخ کې راوړي چې په ځېنو خاصو شرايطو کې چې د گوند مشرتابه په خپلو کورونو کې نه وي او پټ شي تره کی به له زرغون سره تللو او يوازې زرغون د هغه د پټنځای څخه خبر وو. دا هم ويل کېږي چې د چنگاښ د شپږويشتمې د کودتا په شپه هم تره کی زرغون دارالامان ته نږدې يوه کور ته بوولی وو چې پدې شپه څوک زيان ور ونه رسوي پداسي حال کې چې زرغون له گوند څخه اخراج شوی هم وو. ښايي همدا لامل وو چې کله امين بشپړ واک ته ورسېدلو په خلقي مشرانو کې يې د تره کي او زرغون ژوند ته د پای ټکی کېښود. د خلقيانو له اړخ څخه د بدخشي ، افق او استوار د واتن نيولو په چاره کې امين ته هم گوته نيول کيده چې د هغوی سره يې اختلافونه لرل. سربيره پردې په امين دا تورهم لگيده چې فرکسيوني فعاليت کوي.کله چې د ۱۹۷۷ په جون کې خلق او پرچم يووالی وکړ د گوند څخه د امين د اخراج مسآله د گوند په سياسي بېرو کې د ورځې په آجندا واوښته . پدې اړه د سياسي بېرو دوو غړو پنجشيري او ميثاق څرگندونې کړې دي چې له يو بل سره سر نه خوري. پنجشيري ادعا کوي چې گواکې امين د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير علي احمد خرم په ترور کې لاس درلود . ميثاق بيا وايي چې د خلق او پرچم د يووالي وروسته کارمل او امين دوارو د يووالي ضد فعاليتونه کول خو د امين د يووالي ضد فعاليت زياد وو او اړين سندونه ترلاسه شول او ده د گوند څخه د امين د اېستلو مصوبه وليکله. په سياسي بېرو کې د لسو تنو څخه شپږو تنو د امين اخراج ته مثبته او څلورو تنو ( تره کي ، کارمل ، شاه ولي او کشتمند) مخالفه رايه ورکړله. د امين له لوري د فرکسيوني مبارزې په اړوند د هغه پلويان وايي. کله چې د گوند څخه د هغه د اېستلو هڅې پيل شولې هغه اړشو خپل جلا « د افغانستان ملي دموکراتيک گوند» جوړ کړي چې مشران يې « محمود سوما، محمدمنصور هاشمي، عبدالرشيد جليلي ، صديق عالميار ، رازمحمد پکتين ، صاحب جان صحرايي و.» ۶۰/ ۵۸ البته چې پر امين د فرکسيوني فعاليتونو تور لا د مخه هم لگول شوی وو. رازمحمدپکتين دا نه مني چې هغه د دې پټ سازمان د مشرانو څخه وو. د ثور د پوځي پاڅون وروسته د پکتين دريځ ته په کتوسره هغه امين ته ځانگړې ارادت درلود. محمدالله صافی خلقي کدر وايي:« تره کي د پاچا د واکمنۍ پرمهال په پټه څو تنه (دی ،شازار ليوال او ميرصاحب کاروال ) د مرکزي کمېټې د غړو د همغږۍ پرته په پټه تنظيم کړي وو،چې ځانونه هېڅکله خلقيان معرفي نکړي ترڅو ضبط احوالات د وخت استخبارات هغوی د خلقيانو په نامه ونه پېژني ځکه که چېرې حکومت په گوند بريد کوي ،مشران او کدرونه يې نيول کيږي او يا له منځه وړل کېږي هغه مهال به دوی د گوند بيرغ اوچت ساتي . د داودخان په واکمنېدوسره محمد الله صافی شوروي اتحاد ته د زده کړو لپاره واستول شو او د دې ډلې مشري فدامحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدا ته وسپارل شوه. د چنګابښ له کودتا وروسته دا ډله په اصطلاح پټ خلقيان تره کي زېري ته وسپارل . د ثور انقلاب وروسته چې ګوند واکمن شو او علني فعاليت يې درلود، صافي او ليوال په شوروي اتحاد کې په زده کړو لګيا وو. د صافي په خبره هغوی پکتين ته چې په مسکو کې سفير ټاکل شوی وو ورځې او دا جريان ورته وايي ترڅوهغوی په ګوندي سازمانونو کې تنظيم کړي . پکتين ورته ويلي وو:« هغه تاسې وئ چې امين صاحب مو تخريباوه.» څه موده وروسته يې دواړه د آزمايښي غړو په توګه تنظيم کړي وو. زېري هم په خپل کتاب کې همدې مسألې ته ګوته نيولې ده چې د چنګابښ له کودتا وروسته دا مخفي ډله تره کي ده ته سپارلې وه چې د هغوی سره اړيکې ولري . د انقلاب له بري وروسته زيري د ده سره پټ تنظيم شوي خلقيان د کابل د ګوندي ښاري کمېټې منشي ، نجيب الله ته ورپېژندلي وو چې هغوی په ګوندي سازمانونوکې تنظيم کړي .

په ۱۹۷۶(۱۳۵۵) کال کې په ځينوخلقيانو کې دا اوازې خپرېدې چې د تره کي او امين ترمنځ اختلاف شتون لري. ددې اختلاف لامل دا وو چې امين د خلقي اړخ د پوځي برخې مسؤل په ۱۹۷۶ کې مرکزي کميټې ته وړانديز کړی چې خلقي پوځيان دا وړتيا لري محمد داود نسکور او واک ترلاسه کړي خو تره کي دا کار د ګوند د سوله ييز سياست خلاف هڅه ګڼلې وه . د هغه مهال د مرکزي کمېټې غړی شرعي جوزجاني په يوه ليکنه کې د مرکزي کمېټې د هغې غونډې په اړه راوړي چې امين وويل:« تشکيلات مو په اردو کې پياوړي دي ،همدا اوس په رڼا ورځ کولی شو دولتي واک ترلاسه کړو او ملګری تره کی د جمهور رييس په توګه اعلان کړو. څو ځله يې بيا هم تکرار کړل . تره کي په موسکا وويل ، او د کافر زو( دا يې تکيه کلام وو) اړينه نه ده د مرکزي کمېټې په غونډه کې د ګوند د سوله ييز سياست خلاف ماجراجويانه خبرې وشي. د مرکزي کمېټې غړو د هغه څرګندونې جدي ګڼلې او هغه يې په ماجراجويې تورناوه او ميثاق ويل ملګری تره کی ، همدا امين موږ او تاسې يوه ورځ مرګ ته ورکوي .» ۸۳ ښايي د مرکزي کمېټې لدې غونډې وروسته د امين پلويانو دا تبليغات پيل کړي وي چې ګواکې تره کی زوړ شوی دی او بايد د ګوند له مشرۍ نه لاس واخلي.

د عبدالقدوس غوربندی په وينا « د پرچم په فرکسيون کې د نظراختلاف د نوموړي فرکسيون د ملي او انټرناسيونالستي دريځونو په هکله وو چې کوم يوه ته لومړيتوب ورکړل شي. کارمل پدې ټينګار درلود چې د شوروي اتحاد له سياستونو نه بايد په بشپړډول ملاتړ وشي او ګونديان په انټرناسيونالستي او سوويتستي روحيه ورروزل شي .کارمل پدې اند وو چې زبرځواکونه د نړۍ د ملتونو برخليک ټاکي. دا اختلاف هغه وخت ژور شو چې په کال ۱۹۶۷کې شوروي لښکر په چکوسلواکيا يرغل وکړ او د خپلې خوښې رهبران يې پرهغه هيواد وتپل او د شوروي دا بربنډ يرغل د پرچم په فوق العاده ګڼه کې د انټرناسيونالستي مرستې په توګه تائيد او ترې ملاتړ وشو.» دې اختلاف ته د ګوند د واکمنۍ وروسته هغو پرچميانو ګوته نيولې ده چې ځانونه د خيبر پلويان او د کارمل مخالفان ګڼي خو مخکې لدې پدې اړه هيڅ نه ويل کيدل او د کارمل او خيبر د اختلافونو خبره هم نه کېدله. البته د پرچم اړخ هغه وخت د ژور کړکيچ سره مخامخ شو چې د محمد داود د پوځي کودتا دوه کاله وروسته د کارمل – داود تر منځ اختلاف راغی. غوربندي دا اختلاف د محمدداود په ملي غورځنګ کې د پرچم د سازمان د انحلال د مفکورې له امله ګڼي چې داودخان د کيڼ لاسو د ځپلو سياست غوره کړ او کارمل د تسليمۍ لاره غوره کړله. نوموړی د خپل کتاب نګاهي مختصر به تاريخ ح، د، خ، ا په ۴۲ مخ کې د پرچم په فرکسيون کې دې کړکيچ ته د حل لار د مرکزي کميټې په پراخولو کې وينی هغه څه چې واقعيت نلري. واقعيت دا وو چې د جمهوري نظام په ټينګښت سره چې پرچم په نوي نظام کې د سترګو وړ برخه لرله خپله مبارزه چې واک ته رسيدل وو بشپړه ګڼله. د جمهوريت په دويمه نيمايي کې چې د محمد داود او شوروي اتحاد اړيکې سړې شوې او له لويديځ سره يې د دوستانه اړيکو د ټينګولو هڅې پيل کړې. دا مهال مسکو کارمل و هڅولو چې د داود خلاف دريځ ونيسي چې د پرچم د مشرتابه تر منځ اختلاف پيدا شو. د کارمل ترمشرۍ لاندې ستړې برخې د داودخان خلاف د درېدلو او حتي د هغه د راپرزولو هوډ درلود. نوراحمد نور چې دا مهال د مير اکبرخيبر پر ځای د نوموړي سازمان پوځي مسؤل وو د پوځي عمل وړانديز کړی چې ګواکې يوازې په ګارد کې ديرش تنه پرچمي افسران کولی شي دا کار وکړي خو خيبر د محمد داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د همکارۍ او حتی په جوړیدونکي د ملي انقلاب حکومتي ګوند کې د پرچم ادغام غوښت. دې مخالفتونو ته هغه وخت د پای ټکی کیښودل شو چې د ۱۹۷۶ کال په ژمي کې د پرچم د فرکسیون کنفرانس جوړ شو. کنفرانس مرکزي کمیټه پراخه کړه چې سروریورش، عبدالقدوس غوربندي، عبدالمجید سربلند، عبدالوکیل، نجیب الله او محمود بریالی مرکزي کمیټې ته راپورته کړل. د خلیل الله زمر په وینا « په کال ۱۹۷۶ کې د محمد داود د دولت په وړاندې مبارزه د میراکبر خیبر د نظرخلاف د پرچم د اړخ په کنفرانس کې تصویب شوه او پدې مبارزه باندې په تاکید سره د خلق د اړخ سره بیا یووالي تائید شو.» ۸۴ لکه څرنګه چې جمهوري نظام د هماغه پیل څخه د کورنیو کشمکشونو او ننګونو سره مخامخ شو او داودخان اړ شو د نظام د مخالفینو ارادې ته سرټیټ کړي او د کین اړخو په ځیلو او د پرچمیانو څخه د دولت د پاکولو او په بهرني سیاست کې لویدیځوالو ته نږدې شي . د محمدداود دا ډول چلند ددې سبب شو چې خلق او پرچم سره یوشي. خو دا یووالی هم رښتینی نه وو او په واحد ګوند کې د دوو څرګندو سیالو خو دښمنو تلوالو خپل شتون ته دوام ورکړ. غوره بېلګه یې دا وه چې د دواړو ډلو د ادغام په پروسه کې امین خپل یو شمېر پو ځي ملګري او کارمل خپل یو شمیرملکي کدرونه پټ ساتلي وو . د (ا ،خ، د، ګ) له لوري واک د ترلاسه کولو وروسته بهیر د دې دوو سیالو خو دښمنو تلوالو کارنامې چې د یو بل په وژلو، زنداني کولو، بریالیو او ناکامو کودتایي هڅو او دښمنانه تبلیغاتو څرخیدلې ښیي چې دا ګوند یو واحد ګوند نه بلکې د یوه نامه لاندې دوې دښمنې تلوالې یا دوه ګوندونه وو. د۱۹۷۸ کال د اپریل له اووه ویشتمې څخه د۱۹۹۲ کال د اپریل تر اته ویشتمې پورې ظاهراً د ا، خ ، د،ګ په نامه ګوند د واک په ګدۍ ډېره لګولې وه. خو پدې څوارلس کلنه موده کې په ټولیزه توګه واحد ګوند نه بلکې په لومړي پړاو کې چې شل میاشتې کیږي د تره کي او امین په مشرۍ خلقي ګوند او د شوروي د یرغل وروسته د کارمل او نجیب الله تر زعامتونو لاندې پرچمي فرکسیون واک چلولو. لدې امله دا واحد ګوند نه بلکې د واحد ګوند په نامه دوې نه پخلا کیدونکې تلوالې یا جلا جلا ګوندونه یا دموکراتیک اتحاد وو. له همدې امله پدې کتاب کې د (ا، خ، د ،ګ) په خلقي ګوند او پرچمي ګوند او واکمني یې هم په خلقي او شوروي - پرچمي واکمنۍ ویشل شوې دي. ښایي دا ډول ویش نه یوازې د نوموړي ګوند ډیری غړو بلکې د هغه مخالفینو ته هم د منلو وړنه وي. خو دا یو څرګند واقعیت وو چې د هغه څخه سترګې نشي پټېدای.

## د همکارۍ او نه همکارۍ ستراتېژي

د ګوند د جوړیدو سره سم د نورمحمد تره کي او ببرک کارمل ترمنځ تکتیکي او سلیقوي اختلافونه پیدا شول چې یو د هغو څخه د مبارزې د بڼې (شکل) یا د مبارزې د څرنګوالې مسئله وه. کارمل د ګوند په څرګندې (علني) او تره کي په پټې (مخفي) مبارزې ټینګار درلود. هغه مهال ولسي جرګې د ګوندونو اوغونډو د جوړولو قانون نه وو تصویب کړی او له تصویب وروسته هغه پاچا توشیح نکړاو ګوند هم د سیاسي ګوند په نامه نه بلکې د ټولنې په نامه خپل شتون اعلان کړی وو. که د ګوندونو او غونډو قانون موجود وای منطقي وه چې ګوند په څرګند ډول سیاسي فعالیت وکړي. خو د ګوندونو د قانون د نه شتون په صورت کې د ګوند څرګند فعالیت واکمنۍ ته لاسوند ورکاوه چې پر سازمان برید وکړي مشران او فعالین یې پدې تور زنداني کړي چې د قانون پرته یې ګوند جوړ کړی او د تره کي په وینا دا «کوچنۍ ماشوم » په ډیره آسانۍ سره له ډګره وباسي. پردې اساس د ګوند د پټې مبارزې منطق سم وو ترڅو ګوند د واکمنۍ له برید څخه خوندي پاتې شي. له بله پلوه د کارمل له دریځه داسې بریښي هغه ډاډمن وو چې ده او د ده پلویانو ته د ګوند د څرګند فعالیت له امله ګواښ شتون نلري ځکه چې د واکمنۍ سره یې پټې اړیکې لرلې. د حکومت سره د کارمل پټې اړیکې د هغه د زوم له وینا معلومېږي چې د صدراعظم محمد یوسف سره د ولسي جرګې د دوولسمې دورې ټاکنو کې ائتلاف کړی وو او هغه لیکي : « د ټاکنو په بهیر کې د هغه ( محمد یوسف ) کړۍ او د ا،خ ،د ، ګ د پرچم د اړخ ترمنځ یو ډول ائتلاف منځته راغلی وو چې د دې اړخ د بشیر ملاتړ له کبله د هغه د کړۍ یو شمیر منسوبین لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرمحمد صديق فرهنگ او د هغه خور رقيه ابوبکر د کابل د ښار څخه ولسي جرگې ته لاره ومونده. » ۶۱/ ۱۲۲ که څه هم د محمد يوسف د حکومت پر مهال کارمل له گوند څخه لاره نه وه جلا کړې خو په پټه يې د حکومت سره اړيکي لرلې او ايتلاف يې ورسره کړی وو. لکه څرنگه چې ويل شوي وو کارمل د پښتونستان د آزادۍ د اتحاديې ( پښتونخواه) منشي وو چې دا سازمان د سلطنتي کورنۍ په اراده جوړ شوی وو. لدې کبله کارمل د سلطنتي کورنۍ له ملاتړ برخمن وو . همدا لامل وو چې په ۱۳۵۱ کال کې کارمل په شورا کې خپله ډله د گوند په نامه اعلان کړه خو حکومت کوم غبرگون ونښود. د پښتونستان د اتحاديې په اړه د کارمل سلاکار فرهنگ ليکي: «دا مهال د يوې نيمه پټې او نيمه څرگندې ټولنې د پښتونستان د اتحاديې بنسټ کېښودل شو چې رهبري يې ظاهرآ غلام حيدر خان عدالت لرله خو اصلي بنسټ ايښودونکی يې محمد داودخان وو. پدې ټولنه کې د حقوقو د پوهنځي يوه محصل ببرک ( ببرک کارمل) هم فعاليت درلود دا اتحاديه ظاهرآ د پښتونستان افراطي ناسيونالستي داعيې ته د مرستې په نامه تشکيل شوې وه خو په واقعيت کې يې د محمدداود واک ته د رسيدو لپاره کار کاوه.» ۳۰/ ۶۶۴ په لومړي څپرکي کې راغلي وو چې غلام حيدر عدالت او کارمل د ويښ ځلميانو د کندهارد څانگې د خپلولو په کار کې د ناکامۍ له امله د نوموړي سازمان مشران زنداني کړل. دا بيا ښيي چې کارمل په يوه پېژندل شوي سياسي شخصيت د اوښتلو په موخه هر کار او حتي د حکومت په خوښه د هيواد د سياسي غورځنگونو د ځپلو او د سياسي فعالانو زنداني کولو ته چمتو وو. البته په سياست کې د سياستوالو ، گوندونو او واکمنيو تر منځ همکاري ، جوړجاړي، ائتلافونه او اتحادونه يوه طبيعي خبره ده. خو پدې کار کې بايد يو لړ اصول او قواعد په پام کې ونيول شي او دا همکارۍ او ائتلافونه د ملي گټو پر محور ، د بيرنيو حالاتواو گواښونو په وړاندې گډه مبارزه، د ملي او مترقي ځواکونو د پياوړتيا موخې ولري نه دا چې د مترقي غورځنگونو د ځپلو په موخه صورت ومومي او پدې هکله مهمه خبره دا ده چې پدې همکاريو او ائتلافونو کې رښتينولي له پامه و نه غورزول شي يعني دا چې په هغو کې دوکه ، توطئه او دسيسه نه وي او د شا څخه پرخپل ايتلافي ملگري گوزار و نشي يا دا چې دا همکارۍ ،اتحادونه او ائتلافونه د پرديو د ديکتې له مخې ترسره نشي. ائتلافونو ته شا گرزول نه يوازې د خپل ائتلافي ملگري سره خيانت دی بلکې هيواد او خلکو ته ستونزې راوړي او کله ناکله د ناورينونو سبب هم گرزي. په ائتلافونو او همکاريو کې مهمه او پرنسيبي خبره دا ده چې هغه د چا سره ، د څه لپاره او د کومو موخو په خاطر کيږي. د کارمل له لوري د نورو سره د همکارۍ د ستراتيژۍ تگلاره په توطبه او دسيسه ولاړه وه او موخه يې يوازې د خپل ځان او خپلې ډلې غښتلتيا وه . پدې هکله صباح الدين کشککي ليکي:«دا موضوع چې کارمل له يوې خوا حکومت ته د همکارۍ لاس ورکوي او هممهاله د نظام د تخريب لپاره هڅو ته دوام ورکوي ، د پرچم د ستراتيژۍ سره سرخوږ.مثلآ کارمل د۱۹۷۲ کال په ژمي کې کله چې ما ليکوال د اطلاعاتو او کلتور د وزير په توگه کار کاوه حکومت ته د همکارۍ وړانديز وکړ. په هماغه کتنه کې هغه وړانديز وکړ چې ډاکتر عبدالغياث صافی ( چې وروسته په کمونست رژيمونو کې د سرسخت کمونست په توگه راڅرگند شو) په وزارت کې د سلاکار په توگه مقررشي. د کارمل سره د کتنې څو ورځې وروسته صدراعظم شفيق راته وويل چې پرچميانو د مکرويان په يوه اپارتمان کې غونډه کړې چې د حکومت خلاف د يوې مظاهرې پلان جوړ کړي. ما کارمل پدې موضوع باندې د بحث لپاره را وغوښت او ورته ومې ويل ، عجيبه ده چې له حکومت سره د همکارۍ د وړانديز په رڼا کې بې گوند داسې غونډه کړې ده. کارمل د دې غونډې د جوړيدو له امله چې حکومت پرې خبر دی تعجب وکړ خو د غونډې څخه کاملآ منکر شو.» ۳۲/ ۱۷۳

کارمل د پاچا او سلطنتي کورنۍ سره په همکارۍ کې د پاچا دومره باور ترلاسه کړی وو چې صدراعظمان هم ترې ځوريدل . د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند او د شوروي يرغل نومي کتاب ليکوا ل عطامحمد شيرزی د خپل کتاب په ۶۴- ۶۵مخونو کې په قرغه کې د موسي شفيق په کور کې پدې اړه د خپلو سترگو ليدلی حال داسې بيانوي : « حکيم کتوازي چې پدې وخت کې د امنيه قوماندان وو راغی د سالون په يوه څنډه کې يې د صدراعظم سره خبرې وکړې چې بيا صدراعظم ډير ناکراره او په غوسه شو د حاضرينو په وړاندې يې په جگ آواز وويل چې پاچا ته تر بل هر چا نه ببرک کارمل مخکښی او گران دی . دغه وخت داسې ورځې وې چې د پرچم گروپ د يوه ملگري د مړينې په خاطر په ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي مظاهرې په لاره کړې وې.» کارمل نه يوازې د دموکراسۍ په لسيزه کې د سلطنت او حکومتونو سره د همکارۍ په نامه خپلې لوبې پرمخ وړلې بلکې د خپل کودتايي ائتلافي ملګري داودخان سره يې هم هغو ته دوام ور کړ چې پايله يې پر پرچم د جمهور رييس بې باوري شوله. د داودخان د واکمنۍ پر مهال يوه پرچمي ولسوال يوه چا ته چې رشوت يې تري اخيستی وو ويلي وو:« پرچميان د يوه بل انقلاب په ګټه سياسي رشوت خوړل روا بولي . دغه ډول رشوت دوه ډوله ګټې لري يوه يې دا ده چې انقلابيون په مالي لحاظ تقويه کيږي او بله يې دا ده چې لدې لارې دا تش په نامه جمهوريت په خپل نس کې په خپله ښه تخريب کيدلی شي.» ۸۵/ ۷۳

د۱۳۵۷ کال د ثور د وسلوال پاڅون وروسته واکمنۍ کې چې نيمايي يې پرچميان وو هغوی د خلقي حکومت د بدنامولو په موخه د چارو په سبوتاژ، وژنو او ورانکاريو لاس پورې کړ چې د موسی شفيق وژنه يې يوه بېلګه ده. د شفيق وژنه جنرال پادشاه مير د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال افشا کړله چې هغه په ۱۳۵۷ کال کې د پلچرخي په پوليګون کې دنده لرله او د کورنيو چارو وزير نوراحمد نور يې د شفيق د وژلو پر مهال په پوليګون کې ليدلی دی. نوموړي جنرال د کرزي د واکمنۍ پر مهال د داودخان د کورنۍ د غړو د خښولو د ځای په موندلو کې هم مرسته کړې ده. لکه څرنګه چې د موسی شفيق د وژنې خبره راغلله د هغه د وژنې په اړه به د تره کي غبرګون ووينو. پدې اړه د بي بي سي په پښتو ويبپاڼه کي د ۲۰۲۳ کال د اګست په اتمه « د افغانستان کمسارۍ لومړی وزير» تر سرليک لاندې ليکنه خبره شوې په هغې کي راغلي دي :« موسی شفيقق له نورمحمد تره کي سره پيژندګلوي درلوده او وخت نا وخت به يې له هغه سره کتل او ان د استاد خطاب يې ورته کاوه.کله چې تره کی واک ته ورسېد او په ۱۹۷۸ کې يې د انقلابي شورا مشري تر لاسه کړه غوښتنه يې وکړه چې موسی شفيق ارګ ته را وبولي چې دی ورسره وګوري.خو حفيظ الله امين اطلاع ورکړه چې ښاغلی شفيق د کودتا لومړۍ اونۍ کې وژل شوی دی. دې موضوع تره کی خواشينی کړ او ويې ويل دا کار بايد نه وای شوی.» پدې هکله شيرجان مزدوريار او سيد محمد ګلابزوی ځينو کسانو ته ويلي وو: « کله چې امين تره کي ته د شفيق د وژلو خبره وکړله د تره کي د لاسه د چای پياله ولوېدله او ور ته ويې ويل . زه يو عادي سړی وم يوه ورځ زما د کور دروازه و ټکېده دروازې ته ورغلم ګورم صدراعظم شفيق دی ورته و مې ويل خيرت وو چې راغلي ياست. شفيق وويل دې خوا ته راغلی وم و مې غوښتل چې تره کي صاحب ووينم . صدراعظم ډېر پاتې نشو او په ولاړو مو څې شيبې خبرې وکړې او هغه ولاړ.تاسو هغه زما په واکمنۍ کې وژلی دی.»

که چيرې د پرچم د ډلې مخينې ته کتنه وشي د پاچا څخه نيولې د انګلوساکسوني اشغال زېرندە واکمنيو کې د طالبانو پرته په ټولو واکمنيو کې برخه درلودله . دلته دا پوښتنه را پيدا کيږي پرچمي مشرانو چې ځانونه سلطنتي ضد ،جهادي ضد او امپرياليستي ضد شميرل څه ډول او د کومو اصولو له مخې د پاچا، سلطنتي کورنۍ ، جهادي تنظيمونو او د امپرياليستي ښکېلاکګرو پرمټ کينول شوي واکمنۍ سره همکارۍ ته غاړه ايښودلې ده. دا د پوهيدو وړنه ده چې څه ډول کارمليانو په ۱۹۹۲ کې د شمال تلوالې سره کوم چې هغو ته يې بې فرهنګه اشرار ويل ګډه ژبه وموندله ، د ملګرو ملتو د سولې پروګرام يې شنډ کړ او خپلې پرچمي واکمنۍ ته يې پخپله د پای ټکی کيښود .

په بله خوا د تره کي په مشرۍ خلقي ګوند د يحيی کورنۍ تګلارو ته په کتو سره او همدا راز د خپلو سياسي او ايديولوژيکي باورونو پراساس چمتو نه وو چې دې کورنۍ ته د همکارۍ لاس ورکړي دا ځکه چې د نورو سره د همکارۍ د ستراتيژۍ معيار يې ګډ عقيدتي باورونه ، ګډ او يا ور ته ټولنيز، سياسي او اقتصادي پروګرام وو. البته د چنګاښ د انقلاب وروسته يې د جمهوري دولت سره چې په هېواد کې يې د هراړخيزو سمونونو د راوړلو تګلاره اعلان کړله د جبهې د جوړولو وړانديز وکړ چې هغه ته دولت هرکلی و نه ويلو. په نړۍ کې د ګوندونو او سياستوالو تر منځ اتحادونه او ائتلافونه د يادو معيارونو پربنسټ صورت مومي . په پرمختللې نړۍ کې نه دي ليدل شوي چې محافظه کار ګوندونه د کيڼ لاسو سره ګډ حکومت جوړ کړي. ځکه چې سياسي، اقتصادي او ټولنيزې موخې يې سره سرنه خوري. خو کيڼ لاسي انقلابي کارمل د سلطنتی کورنۍ سربيره د بنسټپالو مذهبي ډلو سره همکارۍ او ائتلافونو ته غاړه ايښې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان خلک دموکراتیک گوند او شوروي اتحاد

د افغانستان خلک دموکراتیک گوند ځان د نړیوال کارگري غورځنگ ایدیالونو ته ژمن گاڼه او د داسې ټولنې د جوړولو هوډ یې درلود چې په هغې کې د زبېښاک او ستم هیڅ ډول نښې نښانې ونه لیدل شي. د افغانستان کیڼ غورځنگ لکه د نړی د نورو کیڼ لاسو غورځنگونو په شان دوې فکري ( د شوروي اتحاد او د چین کمونست گوندونو) سرچینې لرلې.پردې بنسټ دې گوند خپل فکري باورونه نه پټول او په نړیوالو مسئلو کې یې د شوروي اتحاد له سیاستونو څخه ملاتړ کاوه. پدې کې هم شک نشته چې د افغانستان خلک دموکراتیک گوند د شورویانو سره اړیکې لرلې. البته دا ډول اړیکې د پرنسیب له مخې د دې معنی نه لري چې گواکې گوند د شوروي اتحاد د لاس آله وه لکه څرنگه چې ددې گوند مخالفینو دا ډول تبلیغات کول. که پردې منطق چې نوموړي گوند د شوروي اتحاد د کمونست گوند سره اړیکې لرلې او د شوروي اتحاد د لاس وسیله وبلل شي نو د نړۍ مخ په ودې دولتونه او گوندونه یې چې د سترو دولتونو سره سیاسي ، اقتصادي او کلتوري اړیکې لري د سترو ځواکمنو دولتونو لاسپوځي دي. البته شوروي اتحاد د یوه زبرځواک په توگه هلې ځلې کولې چې زموږ په هیواد او همداراز په دې گوند کې سست عنصره ځیرې وپېري او د هغوی نه د خپلو ستراتیژیو د پلې کولو په موخه گټه پورته کړي. ډېرو ته څرگنده ده چې مسکو د یحیی د کورنۍ د واکمنۍ پر مهال په نظام کې دوی ته وفادار کسان لرل چې د کې جي بې سره یې پټ مزي ټینگ کړي وو. پردې بنسټ که حکم وشي چې محمد ظاهراو محمد داود د مسکو د موخو پلې کوونکي وو منطقي نه برېښي. لکه څرنگه چې مخکې یادونه شوې وه په دوه قطبي نړۍ کې وروسته پاتې هیوادونه او د هغو سیاسي خوځښتونه اړ شول چې د یوه زبرځواک سره دوستانه اړیکې وساتي . د ا، خ، د، گ له لوري د دا ډول تگلارې غوره کول د وخت د واکمنو شرایطو تر سیورې لاندې غوراوی وو. هغه مهال یوې خوا ته لویدیځ پانگوال سیستم د دموکراسۍ تر شعار لاندې او بل لوري ته ختیځ د خپل سوسیالستي غوړیدونکي نظام سره د سیالۍ ډگر ته راوتلي وو. البته کله چې چین په یوه ځواک واوښت په ختیځ قطب کې انشعاب راغی او د دې انشعاب ظاهري لامل د لویدیځ سره په اړیکو او د دریمې نړۍ په هیوادونو کې د انقلاب په مسئله کې تبلیغېده خو اصلي لامل یې د مسکو او پکن هژمونیستي دریځ وو چې د نړۍ په کیڼ غورځنگ ولکه ټینگه کړي. شوروي اتحاد له لویدیځ سره په سوله ئیز ژوند او په وروسته پاتې هیوادونو کې شوروي پلوه گوندونو په پارلماني مبارزه ټینگاردرلود . پکن د مسکو دا ډول تگلاره د نیکیتا خروسچف رویزیونیستي او انقلابي ضد تگلاره گڼله. اصلي خبره دا ده چې یو گوند د خپلې فکري سرچینې سره په اړیکو کې څه ډول تعامل لري. آیا پدې اړیکو کې خپلې ملي گټې د خپلې فکري سرچینې د گټو قرباني کوي یا دا چې خپلو ملي گټو ته لومړیتوب ورکوي. ژوند ښیي چې د زبرځواکونو او ځواکمنو دولتونو له لوري د دموکراسۍ ، بشري حقونو، گلوبالیزم، انټرناسیونالیزم، د ستم لاندې ولسونو ملاتړ، اسلامي اخوت او داسې نور شعارونه د سیاسي ښکلو شعارونو پرته بل څه ندي. پداسې یوه حالت کې گوندونو، حکومتونو اوسیاستوالو ته پکاردي چې د خپلو فکري سرچینو او نورو دولتونو سره په اړیکو کې د خپلو هیوادونو د سیاسي خپلواکۍ ، پرمختگ او ولسونو د سوکالۍ په موخه گټه پورته کړي نه دا چې د هغوی د لاس وسیله شي.

اوس به د شوروي کمونست گوند او شوروي دولت سره د دې گوند د دواړو اړخونو ( خلق او پرچم) د اړیکو په څرنگوالي بحث و شي. د پشت پرده افغانستان نومي کتاب یو لیکوال د (ا، خ ، د ، گ) د دواړو ډلو د ځانگړتیاوو په اړه لیکي: « د ایدیولوژیکي اړخه د خلق او پرچم اړخونه د چین او شوروي د سیالیو په اړوند د شوروي سرسخت پلویان وو. خو د ختیځو مطالعاتو په مؤسسه کې د افغانستان د کارپوه یوري گانکفسکي په قول ک ۰ گ ۰ ب ،کارمل او پرچمیان د هغه د سیال څخه معقول او خبرې اوریدونکي ومondل. د هغه په وینا د دې آژانس له نظره خلقیان ډېر افراطي ، په ځان متکي او د وړاندوېینې وړ نه وو.خلق د افغانستان د مسالو په هکله د پرچم په پرتله خالص مارکسیستي- لیننستي نظریات لرل. » ۴۷/ ۱۷د پرچمیانو په هکله یو شوروي لیکوال لیکي : « موږ پرچمیان روزلي وو. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د لیننی کمونستي اصل پر بنسټ نه، بلکې د جوړجاړي په روحیه . د شوروي ملګرو د دستورونو په منلو او د خپلو مشرانو څخه په فرمان برداری کې چې د شوروي ټولنې د هغه مهال ځانګړتیا وه.» ۵۰/ ۷۷ پورتني دوه اقتباسونه ښیي چې شوروي اتحاد د نړۍ د مترقي او کارګري ګوندونو د فکري سرچینې په توګه د خپل دا ډول دریځ څخه د مارکسیسم – لیننیسم او پرولتري انترناسیونالیسم څخه د وسایلو په توګه د خپلو هژمونیستي موخو لپاره ګټه پورته کوله. که چیرې د شوروي کمونست ګوند په ربښتیا هم د مارکسیستي- لیننستي اصولو پربنسټ د نړۍ د مترقي او کارګري ګوندونو سره اړیکې ټینګولې او د هغوی سره یې مرستې کولې منطقي دا وه چې په افغانستان کې یې په هغه ډله د خپل ستراتژیک ملګري په توګه ډډه لګولې وای او ملاتړ یې کړی وای کومې چې خالص مارکسیستي- لیننستي نظریات لرل. خو شوروي مشرانو هغه اړخ خپل ستراتیژیک ملګری ګاڼه چې ښه غوړنیوونکی وو. پدې اړه د نجیب الله د ورور پرچمۍ مېرمن ثریا بها لیکي :« متاسفانه چې د پرچم د ګوند د اکثرو مشرانو د وجود ټولې ټوټې روسۍ شوې وې،هغوی انساني اوملي ارزښتونه د شوروي ګټو او سوویتیزم پربنسټ سنجول. سلطانعلي کشتمند د خپل سوویتیزم له مخې د خپل فرهنګي او توکمیزهویت په نفي کولو کې چې په متن کې یې سپکاوی لیدل کیده ویاړل.کله به چې کوم ملګري د شوروي په شوونیزم کوچنې نیوکه وکړه هغه به په غوسې سره د ملګري انقلابي ایمان تر پوښتنې لاندې ونیو او په هیجاني توګه به یې ویل زما لپاره د آمو د سیند د هغه لوري ټولې غوماشې جبېت الوتکې دي. » ۱۰۸/۸۶- ۱۰۹ پرچمي مشرانو د مسکو له سیاستونو نه پدې خاطر ملاتړ کاوه چې د هغه نه یې واک ته د رسیدو تمه لرله او پدې توګه د پرچم د ګوند په کورنیو چارو کې د لاسوهنې واک ورکړی وو. کارمل د۱۹۸۹ کال د دسمبر په میاشت کې د پراودا د شوروی اتحاد د کمونست ګوند د نشراتي ارګان د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چې د اپریل د کودتا مخکې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند او (ا،خ، د ،ګ) اړیکې څنګه وې ؟ آیا د مسکو له خوا تاسې ته امر او نهی راتله، وویل:« مسکو ژر موږ ته پام را و نه ګرزاوه، ځکه موږ کمونست ګوند نه وو. البته موږ ستاسو د سفارت په دعوتونو کې د شوروي ملګرو سره کتنې درلودلې. خبریال : یوازې په دعوتونو کې؟ کارمل ورو کیږي، په څرګنده توګه خپله حافظه ترسنجش لاندې نیسي ووایي یا و نه وایي ! بالاخره د خپل غږ تون ټیټوي او میرانه کوي. که بربنډ وویل شي ، تاسې د دې ګوند تر تله پورې شتون درلود. که د هغو په هکله کیسه وشي ستره حیرانتیا به راشي ډېره ستره! نفي کول او درواغ ویل آسانه دي خو مشکل د وجدان د غږ په لور خوځښت دی. » ۸۷/ ۷۱- ۶۲ د کارمل په پورتنیو څرګندونو کې لاندې ټکي د غور وړ دي :« مسکو ژر موږ ته پام را و نه ګرزاوه ، ځکه چې موږ کمونست ګوند نه وو .» خو کارمل پدې اړه نه وایي چې څه وخت دا ګوند په کمونست ګوند واوښت، مسکوهغه ته پام راوګرزاوه او خبره دې ته ورسیدله چې شورویان د نوموړي ګوند ترتله ځان ورسوي. دا واقعیت دی چې مسکو ترهغه مهاله دې ګوند ته پام نه راګرزاوه چې کارمل پکې دوهمه څېره وه. وروسته له هغې چې کارمل د تره کي څخه جلا شو او د خپلې ډلې( پرچم) بنسټ یې کیښود دا ګوند په کمونست ګوند واوښت ، د مسکو پام یې ځانله راوګرزاوه ، نوموړي فرکسیون ته یې لار وموندله ، د هغه تر تله پورې یې ځان ورساوه، امراو نهی یې ورکولې او عملاً یې د هغه لارښوونه کوله. کله چې کارمل وایي چې د سفارت په دعوتونو کې یې ګډون درلود هغه ټولو ته څرګند دي. یو افغان ژورنالست د محمد داود د واکمنۍ پرمهال په کابل کې د شوروي په سفارت کې د یوه دعوت داسې انځور کاږي :« په سفارت کې د سفارت غړو او پخپله سفیر پوزانوف د میلمنو هرکلی کاوه. صالون ته ننوتم، ومې لیدل چې د پرچم وتلي غړي د ببرک کارمل، اناهیتا، بارق شفیعي او نورو په شمول چې شمیر یې شلو تنو ته رسیده لکه د سفارت د غړو په څیر د میلمنو هرکلی کاوه. خو د خلقیانو له اړخه هیڅوک هلته نه وو. شورویانو هیڅکله هم د خلق اړخ نه دعوتاوه. موږ هم د ډېر وخت راهیسې د خلقیانو هیڅ یوغړی په دعوتونو کې ندی لیدلی. او شورویانو هم خلقیانو ته کومه لیوالتیا نه لرله. » ۵۳/ ۷ د کشککي په خبره« تره کي حتی د شوروي سفارت په محفلونو کې حاضر نه وو. انسان دې پایلې ته رسیږي چې شورویانو د خلقیانو په پرتله د پرچمیانو سره نږدې اړیکې لرلې. » ۳۲/ ۱۷۲ د شوروي دولت عملي چلند هم وښودل چې مسکو د (ا، خ ، د ،ګ ) په نامه ګوند خلقي اړخ هیڅکله هم باور نه درلود او د پرچمیانو واک ته رسولو او د هغوی د واک د ټینګښت او غزولو په موخه یې پداسې یوه احمقانه کارلاس پورې کړاو پداسې یوه جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي راښکيل شو چي دا جګړه« له هغو وروستيو ځان وژونکو ماينونو څخه يوه راوختله چي يو لوی دولت پرې والوت او دړې وړې شو.» ۷ / ۲۹۶

پربله خوا د شوروي دولت له لوري د پرچميانو سيال خلقيانو ته نه ليوالتيا او پرهغوی نه باور لدې نه څرګنديږي چي کله خلقيانو د ۱۹۷۸ کال د اپريل په اووه ويشتمه واک ترلاسه کړ مسکو پدې ټينګار درلود چي په نوي حکومت کي پرچميانو ته نيمايي ونډه ورکړل شي.کله چي شورويانو پدې اړه ډاډ پيدا کړ چي پرچميانو ته به په حکومت کي اړينه برخه ورکړل شي د ثور د پاڅون درې ورځې وروسته يې د نورمحمد تره کي په مشری حکومت په رسميت و پيژندلو. پداسي حال کي چي د داودخان حکومت يې د کودتا په ورځ په رسميت پيژندلی وو. د مسکو له لوري د خلقي واکمنۍ د په رسميت پيژندلو وروسته بهيرونو وښودل چي خلقي مشران د مسکو امر او نهی ته غاړه نه ايږدي نو د خپل پوځي يرغل پواسطه يې د خلقيانو واکمنۍ ته د پای ټکی کيښود او د پرچم ډله يې د واک په ګدۍ کينوله.

که چيرې د خلک دموکراتيک ګوند د مخالفانو دا ادعا چي پرچميان او خلقيان دواړه د مسکو لاسپوڅي وو نو پر افغانستان يې خونړی پوځي يرغل ، د خلقي دولت نسکورول او د پرچميانو واک ته رسول د څه لپاره وو؟ د شوروي اتحاد له لوري د افغانستان د اشغال او پرچميانو ته د واک ليږد ښيي چي دې ډلې ته د واک ليږد د مسکو لخوا ددې ډلې پر مشر کارمل د يوه لاسپوڅي په توګه بشپړ باور وو. د افغانستان نيواک ښيي چي شوروي دولت هغو انترناسيونالستي اصولو ته شا ګرزولې ده چي بايد د کمونستي او کارګري خوځښتونو ترمنځ شتون ولري چي هغه يوازې او يوازې په سياسي او معنوي ملاتړ څرخيږي. کله چي د شوروي د پوځي يرغل وروسته جنرال مايوروف د شوروي د لوی پوځي سلاکار په توګه افغانستان ته استول کيږي د کی جی بی مشر اندروپوف نوموړي ته داسي دستور ورکوي : « پوهيږو چي کارمل يوه کرغيرنه څيره ده ، خو زموږ لارښوونو ته کلک غوږ نيسي د هغه ملاتړ وکړه، پدې توګه نو هرڅه په خپل لاس کي ونيسئ او عمل وکړئ. » ۷/ ۵ حسن شرق د ګوند په دوو سيالو ډلو د مسکو د باور په اړه ليکي : « د پرچم په لارښوونې سره د سره پوځ پواسطه د افغانستان د اشغال وروسته که شوروي سلاکارانو لړ اداري واکونه د خلق دموکراتيک ګوند ته ورکول د پرچم اړخ ته وو ، نه خلقيانو ته. » ۳۸ / ۴۰۴ که چيرې شوروي کمونست ګوند د(ا، خ ، د ،ګ) او د هغې د واکمنۍ سره د ليننې اصولو پر بنسټ چي هغه سياسي او معنوي ملاتړ او د نورو په کورنيو چارو کي نه لاسوهنه وه او د(ا، خ ، د ،ګ) هغه ته ژمن وو او اوهمدې اصولو ته د ژمنتيا له مخې د شوروي کمونست ګوند او نورو کارګري ګوندونو سره اړيکي ساتلې په کار وه چي د دوو برابرو حقوقو لرونکو ګوندونو او دولتونو په شان د سياسي، تخنيکي او مالي ملاتړ اومرستو په ورکولو سره خپل مناسبات ساتلي وای. خو وليدل شول چي مسکو د دا ډول اړيکو ليوال نه وو بلکي غوښتل يې چي د(ا، خ ، د ،ګ) د دوی امر او نهی ته د يوه بې خولې او بې ژبې موجود په شان غاړه کيږدي. شوروي مشرانو دا ډول ځانګړتياوې د ګوند د خلقي ګوند په مشرتابه( تره کي او امين) کي نه ليدلې. پردې بنسټ د محمداعظم سيستاني دا خبره « مسکو قطعآ نه غوښتل د تره کي او امين ترمنځ يو غوره کړي. » ۵/ ۱۴۴په بشپړډول سمه راخيږي دا ځکه چي د عبدالحميد مبارزپه وينا « خلقيانو پخپله سوق او اداره په لاس کي ونيوله ، د خلقيانو په اداره کي روسانو نشوای کولای د سلاکار د رول څخه تيری وکړي يعني څه ډول چي د پاچاهی او د محمدداود د جمهوريت پرمهال تخنيکي استفاده کيدله له دوی نه کار اخيستل کيده خو افغانستان ته د سره پوځ په راتګ سره د شوروي متخصصينو څخه د مشورتي او تخصصي همکاريو بڼې تغيير وکړ او د افغانستان د چارو په اداري يې د شوروي د تسلط بڼه ونيوله.» ۸۸/ ۷۰

د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند په نامه څوارلس کلني واکمنۍ وښودل چي د شوروي اتحاد کمونست ګوند او شوروي دولت د (ا، خ، د، ګ) او د هغه د واکمنۍ سره په اړيکو کي که له يوې خوا د خپل بهرني سياست ليننې اصول تر پښولاندې کړي دي له بله پلوه يې ټولې هڅې پدې را ګرزولې وې چي د دې ګوند خلقي اړخ کمزوری کړي او د پرچمي اړخ ملا ور وتړي ، واک ته يې ورسوي او د خپلو ځوانانو د سر په بيه هغه په واک کي وساتي. د شوروي اتحاد سره د(ا، خ، د، ګ) د خلق او پرچم د مشرانو د اړيکو په څرنګوالي به د شورويانو ولولو. الکساندر مازوروف چي د۱۹۷۵ څخه تر ۱۹۷۹ پورې په افغانستان کي د کی جی بی د مسئول مرستيال وو د تره کي سره د دې آژانس د غړو د اړيکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه وايي: « د دوی سره د تره کې اړيکي وې خو داسي نه وې لکه څرنګه چې وای. که خبره د جاسوسی په اړه وي په هغه برخه کې تره کي زموږ سره اړيکي نلرلې.» ۸۹ محمدحسن کاکړ د همدې مازوروف له قوله ليکي :«نږدې ټولو هغو پرچميانو د شوروي پټو اجنسي ګانو ته اطلاعات ورکول کوم چې د محمد داود په جمهوريت کې په مرکزي کميټه کې شامل وو.» ۹۰/ ۱۶۱ همدارنګه د کی جی بی بل افسر ولاديمير کوزيکچين د کارمل په اړه په يوه ليکنه کې راوړي : « کارمل د جمهور رئيس په څېر د نصبولو مخکې د ډيرې مودې لپاره د کی جی بي جاسوس وو.» ۹۱ د نجيب روشن په نامه يو پرچمي کدر چې د کرزي د بلواکي واکمنۍ پر مهال د افغانستان د ملي تلويزيون رييس پاتې شوی دی د ۲۰۲۴ کال د فبروري په اوومه په خپله فېسبوک پاڼه کې راوړي: « يوه پرچمي محمود بريالي ته ويلي وو اورېدلي مې دي چې ځيني د ګوند مشران د ک . ګ. ب د استخباراتو غړي دي او بريالي په ځواب کې ورته ويلي وو ښه ده پوښتنه وکړئ کوم يو نه وو .» يعنې چې پرچمي مشران ټول د ک. ګ. ب اجنټان وو. زياتره د ا، خ، د ،ګ مخالفان او حتی د دې ګوند ځيني پخواني کدرونه چې د ګوندي ګټو په پرتله هغوی ته فرکسيوني ترااوونو لومړيتوب درلود د شوروي د ک. ګ. ب په لاسوندونو او يا د دې سازمان د کارکوونکو په ليکنو او په تېره د ک. ګ. ب د ځارګر واسيلی مېتروخين چې بريتانيا ته پناه يووړله پر کتاب ډېره لګوي . پدې کتاب کې د دې ګوند د مشرانو او يو شمېر مطرح کدرونو مستعار نومونه هم ترسترګو کېږي او پدې اړه خپل حکمونه صادروي چې ګواکې هغه د ک ، ګ، ب اجنټان او جاسوسان تېر شوي دي. د دې ډله وګړو پام بايد دې خبرې ته را وګرزول شي چې د هر هېواد او په تېره د سترو دولتونو بهرني ځارګر بنسټونه په يوه هېواد کې د هغه هېواد د چارواکو، مطرح سياستوالو، مخورو ،جاسوسانو او اجنټانو اصلي نومونه نه يادوي بلکې مستعار نومونه ورته غوره کوي او خپل مرکز ته د هغوی په اړه په رپوټونو کې دا مستعار يا شفري نومونه استعمالوي. پر دې بنسټ د مېتروخين په کتاب کې ددې نومونو شتون دا معنی نلري چې هغوی ټول د ک، ګ، ب جاسوسان يا اجنټان وو.

دا برخه به د مسکو له خوا د پرچم ډلې ته د مالي مرستو په ورکولو سره پای ته ورسول شي چې دا مرستې خلقيانو ته نه ورکول کېدې .پدې هکله به دوې بېلګې راوړل شی.

الف ـ عبدالکريم ميثاق د خپل «خاطره ها ګپ های ازګذشته» نومي کتاب په ۱۴۹مخ کې د خلق او پرچم د يووالي وروسته ددې لپاره چې د دواړو ډلو د سازمانونو د ادغام چارې تنظيم شي داسې راوړي : « سياسي بېرو پرېکړه وکړه چې د ګوند مالي لګښتونه په مساوي توګه د دواړو خواوو لخوا ورکړل شي. کله چې تنخواوې وسنجول شوې ، خلقي اړخ اړينې پيسې نلرلې ، خو پرچميانو تېنګار درلود چې بايد پيدا شي ...، کله چې موږ وويل چې خلقيان دومره سپما نلري ، نوراحمد نور وويل : څرنګه يې نلرئ ، آيا نړيوالې چينې تاسو ته مرسته نه کوي؟ کله مو چې دا پوښتنه واورېدله ما او زېري يو بل ته وکتل . ما وويل نه . څرګنده شوه چې هغوی له نړيوالو سرچينو مالي مرستې تر لاسه کولې او موږ دا سرچينې نلرلې او نور وروسته لدې دې بحث ته دوام ورنکړ.» بېله شکه نړيواله سرچينه مسکو وو.

ب- ثريا بها د خپل کتاب په ۱۶۸ مخ کې د دموکراسۍ په لسيزه کې شوروي اتحاد ته د درملنې لپاره تللې وه پدې اړه ليکي چې هوټل ته دوريانکوف د هغې د پوښتنې لپاره ورغلی چې حيدر مسعود د نجيب الله د واکمنۍ پرمهال د ګوند منشي هم موجود وو. دوريانکوف له ثريا پوښتلي چې د سفر لګښتونه يې چا ورکړي دي په ځواب کې ويلي چې ورور مې را کړې دي. دوريانکوف پوښتلي وو:« ولې ګوند مرسته ونکړه؟ ومې ويل ګوند له کومه ځايه کړې وای؟ وويل ګوند کولای شول د ارتباطي شبکو له لارې مرسته کړې وای. په خواشينۍ سره يې حيدر مسعود ته وويل ، موږ ستاسې ټول مشرتابه ته هره مياشت پيسې استوو. ملګری کارمل د مياشتې پنځه دېرش زره روسي روبلو سره څه کوي ؟ ولې ګوند دې جېنکۍ ته د ټکټ په اخېستلو کې مرسته ونکړله؟ ...، موږ د څه لپاره پيسې درلېږو؟» عجيبه خولا دا ده چې د نجيب د واکمنۍ پرمهال دا جوړه( صديق او ثريا) د خپلو دوو بچيانو سره پنجشير ته ولاړل ، د احمدشاه مسعود ميلمانه شول او څه موده وروسته مسعود هغوی امريکا ته واستول. په امريکا کې صديق د نجيب الله را بشناسيد په نامه يوکتاب وليکه . د ثريا په وينا لګښت يې امريکايانو ورکړ چې د نجيب الله شخصيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې تر ستري پوښتني لاندې راوړې دی. د ثريا بها له لوري دا څرگندوني چي د کتاب لګښت امريکايانو ورکړی دی . بېله کومه شکه په کتاب کې د امريکايانو غوښتني او وړانديزونه له پامه ندي غورزول شوې چي له نجيب څخه د بد اخلاقه، جلاد او د شوروي اتحاد د نوکر انځور وکاږي. له بله پلوه صديق وايي چي کتاب ده نه بلکې ثريا ليکلی دی . دا ارزښت نلري کتاب چا ليکلی دی . اصلي خبره دا ده چي دا کتاب د امريکايي مقاماتو د ارادې له مخې او د امريکايانو په لګښت ليکل شوی دی چي هم د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند او هم نجيب الله پکي سپک شي.

## د پښتونستان مسآله

د محمد هاشم د صدارت وروسته د پښتونستان مسآله د ځينو افغان واکمنيو او سياستوالو لپاره يوه ملي ستونزه او د نورو لپاره بيا د يوې سياسي او تبليغاتي وسيلي په توگه پاتي شوې ده. دا مسئله د افغانستان او پاکستان ترمنځ په يوه کړکيچ ، د لويديځوالو سره د سړو اړيکو او افغانستان ته د ستونزو د جوړولو لامل گرزيدلي ده . د ا ، خ ، د ، گ د دې مسالي ارزښت ته په کتو سره په خپله کړنلاره کې د هغې په عادلانه حل ټينگار کړی وو. دا ستونزه د انگريزي ښکيلاک او تزاري روسيې د هژمونېستي او پراختيا غوښتني له تگلارو سره تړاو لري خو کورنيو لاملونو او په تېره د واک پر سر د واک د مدعيانو اختلافونه ، بې اتفاقی ، شخړې او جگړې وې چي د هغه څخه انگريزانو ، روسانو او پارسيانو( ايرانيانو) گټه پورته کړه او موږ د خپلي خاورې زياتي برخې له لاسه ورکړلي چي پايله يې نننی په وچه کې پروت افغانستان دی. که چيرې د واک مدعيانو د خپلو شخصي، فاميلي او قبيلوي گټو پرځای ملي گټو ته لومړيتوب ورکړی وای ښايي چي د وخت د زبرځواکونو د لاسوهنو او تيريو پايلې دومره ژورې نه وای. د پورتنی ادعا ښه ساری په تهران کي د بريتانيا د سفير کپتان مکولم څرگندوني دي :« زما په گومان د افغانستان پاچا شاه زمان د هند په نيمه وچه کې د انگلستان تر ټولو ستردښمن دی... ، د شاه زمان د نړی نيولو د هيلو سره يوازې او يوازې د هغو د خپلو خلکو په منځ کې د بې اتفاقی د اچولو له مخې مبارزه کولی شو. » ۴۲/ ۱۸۱ د انگريزانو د دې زيرکانه پاليسی له امله وو چي د افغانستان د وخت په مخورو او د واک په مدعيانو کې يې د بې اتفاقی تخمونه وکرل او حاصل يې د انگريزانو سربيره روسانو او پارسيانو هم ترلاسه کړ چي په شمال کې افغانستان مروه او پنجدې ، په لويديځ کې سيستان او په ختيځ او سويل کې د ديورند د فرضي کرښې د هغې لوري پراخې سيمې له لاسه ورکړې. د ډيورند د تړون لاسليک د افغانانو لپاره داسي ناسور ټپ دی چي لا تراوسه وينې ترې بهيږي. د هغه مهال د واک د مدعيانو ترمنځ د دښمنيو پايله دا شوه چي د کمزوري افغانستان برخليک تزاري روسيه او لويه بريتانيا وټاکي. په ۱۹۰۷ کې روسيې او بريتانيا پردې هوکه وکړه «چي د نننی افغانستان خاوره به د دوی ترمنځ د يوه بيليدونکي هيواد په توگه مني چي بهرنی سياست به يې د بريتانيا په لاس کې وي. روسيي ومنله چي افغانستان به د خپل نفوذ د ساحې نه د باندې گڼي او د افغانستان پولو ته په درناوی کوي.بريتانيا به د افغانستان نوره خاوره نه نيسي او د افغانستان د خاورې څخه به روسيې ته کوم گواښ نه وي. »

د افغانستان په اړه د بريتانيا او روسيې د جوړجاړي پايلې افغانانو ته دوې ستونزې پرېښودلې . يوه دا چي د انگريزانو څخه بشپړه سياسي خپلواکي و گټي او بله د لاسه وتلې خاورې بېر ته ترلاسه کړي. په ۱۹۱۹ د غازي امان الله خان د واکمنی پر مهال « د افغان – انگريز دريمه جگړه پدې موخه پيل شوه چي افغانستان غوښتل د کمزوري شوي هند څخه خپلواکي او ځمکني امتيازونه تر لاسه کړي ... ، د بريتانيا په وړاندې جگړه بايد په يوه وخت کې په دريو جبهو کې پيل شوې وای. د لوی قوماندان صالح محمدخان په مشرئ په دکه ، د نادرخان په مشرئ په خوست او په کندهار کې د عبدالقدوس خان په مشرئ افغان ځواکونه بايد د قبايلي لښکرو له لوري تقويه شي. د افغانستان د بريد سره سم په پيښور کې پاڅون وشي. خو دا فعاليتونه په ښه ډول سمبال نشول. د خيبر په جبهه کې مخکې له وخته اقدام، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادرخان د مې په دوه ويشتمه د سپينوام په لور وخوځېدې او د مې په اته ويشتمه په تل بريد وکړي د بريتانيا له لورې د دکې د نيولو سبب شو. د کندهارپه جبهه کې د مې تر۲۷ او۲۸ پورې چې د بريتانيې ځواکونو د سپين بولدک په کلا بريد وکړاو د افغانانو د ميړني مقاومت وروسته يې هغه ونيوله د پام وړکوم حرکت نه و شوی. د نادرخان د جبهې بری د جلال آباد په لوري د بريتانيا د حرکت خنډ شو او د بريتانويانو په مواصلاتي کرښو د قبايلي بريدونو سبب شول. په جلال آباد باندې بمباريو پدې ښار کې وارخطايي راوړه او د دې سيمو شا اوخوا افغانانو وسلې او نور شيان چور کړل. په کابل کې شاهي قصر د مې په څلورمه بمبارد شو.» ۹۲/ ۱۶۳- ۱۶۴ که چيرې د افغان- انګريزدريمې جګړې ته وکتل شي ليدل کيږي چې د جګړې دواړه اړخونه د يو لړ ستونزو او ګواښونو سره مخامخ وو. دواړو اړخونو د يو بل ځمکې ونيولې او په جګړه کې کوم پرېکړونکې عمليات ترسره نشول. دواړو خواوو د جګړې په ډګر کې ماتې ونه خوړه او نه يې د سترګو وړ پرمختګ درلود. بريتانيا لدې نه ويره درلوده که جګړه دوام وکړي په اسلامي نړۍ کې به بريتانيا نوره هم تجريد شي او د فرانسې سره به د سولې په خبرو منفي اغيز واچوي. له بله پلوه د انګرېزانو تلپاتې ويره د افغان ولس څخه وه. په لندن کې چارواکو ته جوته شوې وه او پدې يې اعتراف کاوه چې« موږ د افغانانو د منظم لښکر څخه نه ډاريږو بلکې د نامنظمو قبيلو څخه چې په پرله پسې توګه په منفردو کمپونو او مواصلاتي کرښو بريدونه کوي ويره لرو.» ۹۲/ ۱۵۴ همدا لامل وو چې د خوست په جبهه کې د بري له امله د وزيرستان جنګياليو د اسماعيل خان په ديره کې پرمخ تلل او د اباسين غاړې ته رسيدلي وو چې د متارکې له امله هغوی ته د شا تګ او بيرته ستنيدو قومانده ورکړل شوه. پدې جګړه کې لومړی ځل وو چې انګريزانو پر افغانستان هوايي بمبارۍ وکړې چې د جنګياليو او ولس په روحيه يې منفي اغيز پريښود. د انګريزانو ويره له قومونو څخه پرځای هم وه ځکه د انګزيزانو سره په جګړو کې د منظم افغاني لښکر په پرتله د ولس ونډه ټاکونکې وه. د ساري په توګه د نادرخان تر قوماندې لاندې دريو زرو منظمو عسکرو جګړه کوله په داسې حال کې چې يوازې د خوست څخه لسو زرو تنو ولسي خلکو په جګړه کې برخه لرله. دواړو اړخونو خپلو دې ستونزو او مجبوريتونو ته په کتو سره غوره وګڼله چې متارکه وکړي. د۱۹۱۹ کال د جون په دريمه اوربند اعلان او د جولای په پنځه ويشتمه په راولپنډۍ کې د افغان- انګريز مرکچيانو علي احمد خان او هيميليتون ګرانت په مشرۍ د سولې خبرې پيل شولې او د همدې کال د اګست په اتمه د سولې لاندې تړون لاسليک شو:

«سريزه: د لويې بريتانيې او د افغانستان د مستقل دولت تر منځ د۱۹۱۹ کال د اګست د اتمې د۱۳۳۷ د ذيقعدې د يولسمې د راولپنډي معاهده د لويې برتانيې او د افغانستان د دولت تر منځ د سولې د منل کيدو لپاره ده.

لومړۍ ماده: د دغې معاهدې له لاسليک سره د لويې بريتانيې او د افغانستان د دولت تر منځ به سوله وي.

دويمه ماده: هغه حالت ته په کتو چې د برتانيې او افغانستان تر منځ د جګړې سبب شو د برتانيې دولت د خواشينې په څرګندولو د هند له لارې افغانستان ته د تيرو دولتونو په شان د وسلې او جګړه ييزو توکو ليږدول دروي.

دريمه ماده:برسيره پردې د تېر امير د سوغاتونو پاتې برخه کنګل او نوي امير ته به دغه څه نه ورکول کيږي .

څلورمه ماده: د برتانيې دولت په همدې وخت کې دې ته ليوال دی چې پخوانۍ دوستي چې اوږده موده روانه وه په دې شرط بيا نوې کړي چې د افغانستان دولت دغه کار ته خپله ليوالتيا وښيي .شرط به دا وي چې د افغانستان دولت دغه کار ته په خپلو کړو وړو سره له ځانه ليوالتيا ښکاره کړي.هغه وخت به د برتانيې دولت دې ته چمتو شي چې له شپږو مياشتو وروسته د برتانيې او افغانستان د ګډو ګټو او د پخوانۍ دوستۍ د نوي کيدو د خبرو او پريکړو لپاره نوی سفير وليږي .

پنځمه ماده: د افغانستان دولت د هند او افغانستان تر منځ هغه سرحد چې تېر امير منلی وو، مني او هم ژمنه کوي چې د خيبر لويديځ لوري ته د نه په نښه شوې پولې هغه برخه چې په دې وخت کې د افغانستان له لوري تيری وشو ډېر ژر د انګليس د دولت د کميشن له خوا وټاکل شي ، او هغه برخه چې د برتانيې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت کمیشن بې ټاکي ومني.د برتانیې د دولت عسکر به تر هغه وخته په خپلو ځایونو کې پاتې کيږي چې د پولې ټاکنه تر سره شي. »

له ترون څخه بریښي چې انګریزانو د افغانستان بشپړه خپلواکي په رسمیت پیژندلې ، د افغانستان او بریتانیا ترمنځ پخواني تړونونه منل شوي او د افغانستان د لاسته تللو سیمو بیا ترلاسه کولو ته هېڅ پا ملرنه نده شوې. دا ښيي چې « د علي احمدخان په مشرۍ د افغانستان د سولې پلاوي ، هغه کسان وو چې اکثریت یې مخکې لدې په هندوستان کې وو ، او په بشپړ ډول هغوی ته د ( بریتانیې پلویان ) وویل شي. » ۹۲/ ۱۶۹- ۱۷۰ ښایي همدا دلیل وي چې پیژندل شوي مشروطه غوښتونکي عبدالهادي داوي په پلاوي کې له خپل ګډون څخه ځان ګوښه کړ. ویل کیږي چې کله غازي امان الله ترون ولوست سردار علي احمدخان یې توقیف کړاو د خپلواکۍ ورځ یې لس ورځې وروسته د اګست ۱۹ و نوموله. که چیرې د پلاوي په ترکیب کې د سردارانو او د اشرافیت د مشکوکو څېرو پرځای مشروطه پالو برخه لرلی ښايي چې داسې ترون یې لاسلیک کړی وای چې افغانستان د ګټو پر محور څرخېدلی نه د برتانوي هند په ګټه. د افغان – انګریز له دریمې جګړې وروسته د راولپنډۍ د ترون په لاسلیک سره لیدل کیږي چې د افغانانو په وړاندې پرته لومړۍ ستونزه چې د بشپړې سیاسي خپلواکۍ ترلاسه کول دي حل خو دوهمه ستونزه چې د لاسه تللو سیمو بیا ترلاسه کول دي حل نشوه .

بریتانوي ښکیلاکګرو چې خپل نفوذ او اغیز په هند کې ساتلی وي د افغانستان په څېر یې هلته هم هغه د ښکېلاکګرو مشهور فورمول «بېل یې کړه ، ابل یې کړه» پلی کړ . انګریزانو هلته دا د بې اتفاقۍ سیاست د مذهب پربنسټ د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ عملي کړ. انګریزانو په ۱۹۰۹ کال کې د مارلي منټو سمونونو په راوړلو سره « د هندوانو او مسلمانانو په منځ کې د بې اتفاقۍ اچولو په موخه دا اصل وړاندې کړ چې د ځایي او ښاروالۍ په ټاکنو کې به هندو،هندو ته او مسلمان به مسلمان ته ووټ ( رایه) ورکوي او موخه یې دا وه چې د هندوستان اوسیدونکي د مذهبي عقیدې په اساس ځانته بېلې بېلې ډلې جوړې کړي. نوځکه یې د هند د ملي کانګرس په ضد د جناح په لارښوونه د مسلم لیګ ګوند په جوړولو اوغښتلي کولو کې مرسته کوله ...، انګریزانو په ۱۹۱۹ کې مونټیګو چیمسفورډ سمونونه هندوستان ته ورکړل چې په هغو کې د ټاکنو پورتنی اصل ساتل شوی وو ترڅو هندوان او مسلمانان د دوی په وړاندې یو موټی نشي. خو انګریزانو دغه سمونونه د سرحد صوبې ته ورنکړل . د ولي خان په وینا دا مهال امان الله خان د افغانستان آزادي ګټلې وه او دوی وېرېدل چې دا سمونونه به د سرحد په صوبه کې د امان الله خان نفوذ لا زيات کړي. » ۹۳/ ۴۳- ۴۴ هېره دې نه وي چې د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال په اسلامي نړۍ او هندوستان کې د اسلامي خلافت خوځښت لویې بریتانیا ته یو ګواښ وو نو له همدې امله یې د هند د مسلمانانو هغه ډلې چې د دوی سره اړیکې لرلې تقویه کولې او له بلې خوا یې د هند په مسلمانانو کې انحرافي او خرافاتي افکار خپرول. انګریزانو وهابیانو ته چې په هند کې د سلفیانو په نامه یادېدل او قادیانو ته چې غلام محمد قادیاني یې د پیغمبرپه نامه منلو ځانګړې پاملرنه درلوده او د دیوبند مدرسه یې هم ترڅارنې لاندې راوړې وه. سربېره پر دې هغه مهال په افغانستان کې د مجددي او ګیلاني کورنۍ لکه خرمېږي را پیدا شولې چې افغانستان ته ددې کورنیو په راتګ کې د انګریزانو ښکیلتیا له امکان څخه لرې نه ده. « د هند په ملي آرشیف کې د انګلیس د استخباراتي سرویس داسې اسناد شتون لري چې د انګلیس د پټو خدمتونو سره د مجددي د کورنۍ د مختلفو پوړو اړیکې ښيي...، د سید احمد ګیلاني پلار په فعالانه ډول د انګریزانو د استخباراتو سره همکاري کوله...، د نوموړي مور(مارته ریختر ) د جرمني لوړپوړي پولیس لور وه.» ۴۹/ ۱۱۲- ۱۱۳ له بده مرغه زموږ تاریخپوهانو او څیړونکو ددې نا بللو میلمنو په اړه څیړنې نه دي کړي چې دوی څوک دي او د څه لپاره افغانستان ته راغلي دي ؟ که چیرې د شاه امان الله د راپرزولو، د حبیب الله کلکاني او نادرخان د واکمنولو پېښو ته وکتل شي د مجددي د کورنۍ رول پکې له ورایه څرګندیږي.

شلمه پیړۍ چې د زاړه استعمار د نړېدو زمانه ګڼل کیږي د دې پیړۍ په لومړۍ نیمايي کې په هندوستان کې د انګریزانو په وړاندې آزادي بخښونکې غورځنګ هم قوت مومي چې په هغه کې د کانګرس ګوند او خدايي خدمتګارۍ ډلې اغیز د نورو په پرتله زیات وو چې مشري یې مهاتما ګاندي او عبدالغفارخان لرله او دواړو په ډیرو مواردو کې ګډ دریځ درلود. په دویمه نړیواله جګړه کې که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګریزان او د هغو متحدین بریالي راوختل خو په نړیواله کچه د ځواکونو په انډول کې بدلون راغی. د امریکې متحده ایالتونه او شوروي اتحاد په زبرځواکونو واوښتل. هغه مهال شوروي اتحاد د خپل سوسیالستي جوړښت له امله پانګوال نړیوال سیستم ته یو ګواښ وو. امریکا او بریتانیا دې نتیجې ته ورسیدل چې د هند په نیمه وچه کې د خپل سیال د نفوذ د مخنیوي په موخه د دین او مذهب څخه ګټه پورته کړي او هندوستان د مذهب پر بنسټ په دوو برخو هند او پاکستان وویشي. د پاکستان د اسلامي دولت په جوړولو سره له یوې خوا شوروي اتحاد د اسلامي دولتونو د کمربند پواسطه احاطه کړي اوله بله پلوه دا مصنوعي دولت د خپل ستلایت په توګه په سیمه کې د کړکیچونو د را پنځولو لپاره وکاروي. د هندوستان د ویش لپاره لویې بریتانیا د کابینې یو پلاوی د سرستیفورد په مشرۍ هندوستان ته واستاوه. کله چې پلاوي پدې اړه د هندي مشرانوسره د هند د نیمې وچې د برخلیک په اړه په خبرو بوخت وو له بده مرغه افغان دولت د خپلې خاورې د بېرته لاسته راوړلو سره کومه لیوالتیا ونه ښودله . « په هغو ورځو کې د هند د ویش او د لارډ مونټ بیټن د ملکې الیزابت تره او په هند کې د انګلیس وروستي وایسرای په هکله ډیرې خبرې کیدې . لاردمونټ بیټن د۱۹۴۷ کال د پریکړې په رڼا کې د کانګرس د ګوند او د مسلم لیګ له مشرانو سره د هند د آزادی لپاره په کار او خبرو لګیا و. د دې پریکړې له مخې د بلوچستان د ایالت او د هند د شمال لویدیځ سرحدونو ته دا حق ورکړ شوی و چې د ټولپوښتنې ( ریفرندم ) په اساس خپل سرنوشت وټاکي چې آیا غواړي د هند سره یوځای شي ، یا د پاکستان پلو ته لاړشي او یا دا چې خپلواک پاتې کیږي. د افغانستان لاس ته طلایي موقع ورغلی وه چې په سیمه کې د خپل حق نه ساتنه وکړي. خو افسوس چې د کابل ساتنپال حکومت په درانه خوب بیده و او باور یې نه درلود چې انګلستان هند پرېږدي او حتي مرحوم شاه محمودغازي د افغانستان راتلونکي صدراعظم په هند کې د ښاغلي سرستیفورد کریپس سره ، چې خبرواترو ته حاضر و تماس و نه نیو.» ۹۲/ ۲۹ د محمد ابراهیم عطایي په وینا خان عبدالغفارخان د یوه پلاوي په مشرۍ ډهلي ته د هند د وروستي وایسرای ادمیرال مونت بیتن ته ورغی او د پښتونستان د خپلواکۍ په اړه یې د پښتنو غوښتنه وړاندې کړه. خو وایسرای هغه ونه منله.

که څه هم کله چې د هندوستان د ویش په هکله خبرې روانې وې او انګریزي پلاوي( لاردمونټ بیټن ) او مسلم لیګ د سرحد په صوبه کې پر ټولپوښتنې ټینګار کاوه د۱۹۴۷ کال د جون په ۲۱ نیټه پښتنو د بنو تاریخي جرګه را وبلله او جرګې پریکړه وکړه چې د پښتونستان په نامه دې د پښتنو خپلواک دولت جوړشي. د بنو جرګې د پریکړې د متن سرلیک دا وو چې « پښتنود خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه ، پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان » خو د پښتنو دا غوښتنه ونه منل شوه او پاکستان جوړ شو. انګریزانو په ټولپوښتنه کې د پښتونستان په نامه د دولت جوړیدو مسئله شامله نه کړه. د خدایي خدمتګارې ډلې د ټولپوښتنې سره بایکات وکړ. انګریزانو په ټولپوښتنه کې د هندوانو او مسلمانانو د مذهبي احساساتو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې په موخه دوه صندوقونه ایښودلي وو چې په یوه یې قرآن او پربل یې د هندوانو مذهبي کتاب (ګنګ) ایښي وو. د ولي خان په خبره « د هغه وخت مشران د مسلم لیګ د مشرانو په سرېتوب ، انسانیت او اسلامي جذبه ، مروت او وروروالی تیروتل.» ۹۳ / ۴۹۱ دا ښیي چې هغه مهال پښتنو د اسلامي اخوت له مخې د مسلم لیګ اړخ نیولی دی او ځینو بیا د پاچاخان ترمشرۍ لاندې د خدایي خدمتګارانو ګوند لدې امله غندلو چې د هند د ملي کنګرس سره چې غیرمسلمان دی ملګرتیا کوي. دلته لیدل کیږی چې د عقیدوي او مذهبي باورونو له کړکۍ سیاسي پیښو او ټولنیزو پدیدو ته کتل څومره ناوړه پایلې لري او کله ناکله د سترو غمیزو او ناورینو سبب هم کیږي. پدې توګه د۱۹۴۷ کال د اګست په ۱۴ د هند نیمه وچه په هندوستان او پاکستان وویشل شوه او محمدعلي جناح د مسلم لیګ مشر د انګریزانو له لوري د نوي جوړ شوي دولت ( پاکستان ) مشر وټاکل شو او د افغانستان څخه د دیورند د کرښې پواسطه جلا شوې خاوره د پاکستان برخه شوله. پاچاخان د۱۹۴۸ کال د فبرورۍ په میاشت کې د پاکستان د مرکزي اسامبلې په غونډه کې د وفادارۍ لوړه وکړه او د وینا په مهال یې د هیواد د ویش په اړوند خپل اختلاف ته ګوته ونیوله او ویې ویل: « دا یو سیاسي اختلاف وو. په سیاست کې هره مسئله د دوو رای کیدای شي. موږ پخپل ذهن او سیاسي پوهه تقسیم هم د مسلمانانو د پاره سودمند نه ګڼلو. خو کله چې د مسلمانانو اکثریت دا مطالبه تسلیم کړله چې هغوی د ملک تقسیم غواړي او پاکستان جوړوي نو بیا موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه اکثریت دغې فیصلې ته غاړه کیښوده او اوس چې پاکستان جوړ شو ما د دې سره د وفادارۍ سوګند پورته کړو. اوس دا زموږ شریک ملک دی ، سیاسي اختلاف ختم دی...، په هماغه اسامبله کې د خان نه پوښتنه وشوه چې ستا د پښتونستان نه مطلب څه دی؟ باچاخان ویل چې زموږ د صوبې نوم نشته ، د پښتونستان نوم د ورته کیښودل شي. » ۹۳/ ۸۱ - ۱۱۴ – ۱۱۵ د باچاخان دا هیله په نیمګړې ډول په کال ۲۰۱۱ کې ترسره شوه چې د سرحد صوبې ته د پښتونستان پرځای د خیبرپښتونخواه نوم ورکړل شو. البته د پاکستان له جوړېدو وروسته غفارخان او ملګرو یې د پاکستان په د ننه کې خپل حقوق غوښتل نه خپلواکي او نه د افغانستان سره یوځای کېدل. دا هغه څه وو چې د دیورند د تېل شوې کرښې هغه خوا تیرشوي دي. البته کله چې په ملګرو ملتو کې د پاکستان د دولت په جوړېدو بحث وشو یوازې د افغانستان استازي منفي رایه کارولې وه . دلته د افغان پلاوي نه وړتیا له ورایه څرګندېږي چې نه وو توانېدلی اړینه لابي ګري وکړي او لږترلږه څو دولتونو ته قناعت ورکړي چې د افغانستان له دریځ څخه ملاتړ وکړي.

اوس به د دیورند د کرښې پواسطه د افغانستان له پیکر څخه جلاشوې خاورې د لاسته راوړلو او یا د هغې د برخلیک په اړه د افغان واکمنو په سیاستونو تم شو. د پاکستان تر جوړېدو پورې د امان الله خان پرته افغان واکمنی د برتانوي هند تر اغېز لاندې وې هېڅکله یې هم د خپلې خاورې د لاسته راوړلو په موخه غږ نه دی اوچت کړی. د پاکستان د جوړېدو وروسته هم افغان حکومتونو پدې اړه غلي وو خو کله چې ملتپالو افغان کړیو او په هغو کې د ولسي جرګې د اوومې دورې ځینو وکیلانو د حکومت لخوا دې ملي مسئلې ته د نه پاملرنې له امله د اعتراض غږونه جګ کړل. وروسته لدې شاه محمودخان د۱۹۴۹ کال د جون په دیارلسمه په کابل کې د انګلیس سفارت ته یو لیک واستاوه او په هغه کې غوښتنه شوې وه چې د دیورند د هغې خوا پښتنو ته د خپل حقوق ورکړل شي. دا مهال پاکستان د پکتیا په مغولګې هوایي او د چهارسدې په لویه جرګه هم برید وکړ. د یادولو وړ بریښي چې د۱۹۴۹ کال د سپتمبر په اتلسمه چې د۱۳۲۸ کال د وږي له نهمې نیټې سره سرخوري د کرښې د هغې خوا د قبایلو یو شمیر مشران او مخور په کابل کې جرګه شول او پریکړه یې وکړه چې د پښتونستان د خپلواکی لپاره به مبارزې ته دوام ورکوي او دا نیټه به د پښتونستان د ورځې په نامه نمانځل کیږي. همدا راز« د۱۹۴۹ کال د جولای په ۲۶ نیټه د صدراعظم شاه محمودخان په بلنه په کابل کې لویه جرګه جوړه شوه . جرګې د پښتونستان سره خپل ملاتړاعلان کړ، د دیورند توافق لیک ، د۱۹۰۵ کال د افغان – انګلیس تړون ، د۱۹۱۹ کال د راولپنډۍ تړون او د۱۹۲۱ کال د افغان – انګلیس تړون غیر قانوني او لغوه شوي اعلان کړل. دا یې هم څرګنده کړه چې هر هغه تړون چې د پښتنو په اړه شوی وي ، باطل دی.» ۹/ ۸۸ په همدې کال د ولسي جرګې اوومې دورې پورتني تړونونه رد کړل. وروسته لدې د افغانستان حکومتونه د وږي نهمه « د پښتونستان د ورځې » په نامه نمانځې او په رسنیو او دولتي مشرانو په ویناوو کې د پښتنو او بلوڅو د خود ارادیت د حق خبره کړېده او د پښتنو او بلوڅو ځینې مشران یې چې د پاکستان له حکومت سره مخالفت درلود د میلمنو په شان په افغانستان کې ساتل. خو د داسې دپلوماتیکو ژوندیو هڅو څرک نه لګیږي چې د پښتونستان مسئله د م، م د سازمان عمومي غونډې یا د دې مؤسسې د امنیت شورا او یا نړیوالې محکمې ته وړاندې کړې وي . سلطنتي کورنۍ قطعآ د پښتونستان د ستونزې د حل په اړه اراده نلرله یوازې یې په ویناوو او د پاکستان د حکومت څخه ناراضو پښتنو او بلوڅو ته په افغانستان کې په پناه ورکولو قناعت کړی وو. د پاکستان د جوړېدو وروسته کلونه ښیي چې د سلطنتي کورنۍ د دې ملي ستونزې د حل په موخه په خورا مساعدو فرصتونو کې هم څه ندي کړي. پدې اړه محمدعزیزنعیم د دې کورنۍ یوغړی لیکي: «د افغانستان دولت او حکومت د هغو مساعدو شرایطو نه هیڅکله ګټه پورته نه کړه چې د هند او پاکستان ترمنځ د جګړو په مهال زموږ په ګټه منځ ته راغلي وو. »۹۴ د دې جګړو پر مهال د افغانستان حکومت ته ښه فرصت وو چې د هغې نه ګټه پورته کړي. د سیدقاسم ربنتیا په خبره « د افغانستان لپاره زیاته اندیښنه وه چې له یوې خوا بنسټپال عناصراو د پښتونستان هواخواهان دا حالت د لوی افغانستان د پلان د جوړېدو لپاره یو تاریخي چانس وګڼي او له بل لوري سلیم عقل او د نړیوال سیاست غوښتنې او په تېره اسلامي او افغاني انګیزې حکم کاوه چې افغانستان د دې نښتې او د پاکستان د اختناق څخه سیاسي ګټه پورته نکړي او په اصطلاح په سیال د شا نه خنجرحواله نکړي. » ۱۳/ ۲۴۳ دا دی د یوه هیواد د حکومت د غړي منطق چې د حکومت منفي دریځ او د خپلې خاورې د برخلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند له بې تفاوتۍ څخه دفاع کوي او د سياسي خياط رول لوبوي چې د يوې ملي- تاريخي ستونزې د حل په اړه يې په يوه طلايي فرصت کې ګټه پورته نکړه. پدې منطق کې يو تريخ واقعيت هم پروت دی چې يو سياستوال د عوامو خبره کوي چې په سيال له شا نه برید ونشي. دا سياست نه بلکې د ولس پر اسلامي اوملي احساساتو لوبې دي. سياست ته د فرصتونو څخه ګټه اخېستنې ته هم وايي . خان عبدالولي خان هم پدې باوردی چې« د ۱۹۶۵ کال جنګ د هندوستان سره د کشمير په مسئلې وشو...، د پاکستان ټول پوځ هندوستان ته تللی و... ، مګر داسې معلومېده چې پاکستان د ايران د شاهنشاه په ذريعه د پاچا ظاهرشاه نه دا خپله تسله کړې وه چې هغه به حمله نه کوي بلکې دا ضمانت يې ور کړی و. »۹۳/ ۸۱ ولي خان د بنګاليانو لخوا د خپلواکۍ د جګړې ( کال ۱۹۷۱ ) په هکله وايي: « که د افغانستان پاچا په رښتيا پدې خاوره دعوی لرله ... ، نو د دې نه ښه موقع به کوم ځای وه ؟ » ۹۵/ ۱۲۰

په هندوستان کې د هغه مهال د افغان سفير عبدالحکيم طبيبي له قوله « هندوستان ډېر کوښښ او هاند وکړ( او شايد همدا کار روسيې هم کړی وي چې زه د مرکز نه د لېږې والي له امله د هغه نه پوره مالومات نلرم ) چې افغانستان د بنګله ديش د جګړې په وخت کې کولی شي د سرحد په صوبه او بلوچستان کې په ننوتلو سره د دې موقع نه ګټه پورته کړي. دا موضوع اندراګاندي ماته په شفاهي توګه وکړه او زياته يې کړه چې دا غوښتنه پخپله پادشاه ته ورسوم. ما هم دا موضوع په ليکلې توګه د پادشاه د ليکنې دفتر ته همغه مهال وليکله ځکه چې د هند ټينګار پدې و چې دا موضوع دې يوازې پخپله پادشاه ته وويله شي نه حکومت ته. بشپړ باورلرم چې دا مسئله پاچا حکومت ته وړاندې کړې ده خو د دې څخه چې پدې اړه څه کړنه شوې ده هيڅ مالومات نه لرم. » ۹۲/ ۱۳۳ د سلطنتي کورنۍ له لوري د خپلې خاورې د بيا لاسته راوړلو په موخه د منفعل سياست پرمخ بيول هندوانو او په تيره د کانګرس ګوند ته چې د پاکستان سره يې ورته ستونزې لرلې د منلو وړ نه وو اوسخت ناراضه وو څرنګه چې پدې اړه سيدقاسم رښتيا چې هند ته په سفرکې يې د مهاتما ګاندې د زوی ( ديويداس ګاندي) سره چې پلاريې د انګريزانو په زندان کې شپې او ورځې تيرولې ليدلي وو ليکي:« د خبرو نه يې د پوهيدو وړ وو چې د افغانستان له رژيم او حکومت څخه هم پخپله او ټول کانګريسيان ناراضه وو.» ۱۳/ ۴۶ کله چې ددې ملي ستونزې او د افغان حکومتونو کړنو ته په هغو فرصتونو کې چې د دې ستونزې د حل موقع لاسته راغلې وه وکتل شي داسې نتيجه اخيستل کيږی چې د يحيی کورنۍ يوازې د خلکو د تيرايستنې په موخه د راديو له لارې « دا پښتونستان زموږ» تراني غږولې.

داسې ښکاري چې د پاکستان له جوړيدو وروسته د پښتونستان مسئله د يحيی د کورنۍ لپاره يوازې د يوې تبليغاتي وسيلې پرته بل څه نه وه. حتی هڅه شوې ده چې د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ ښنونکې غورځنګ په وړاندې خندونه رامنځته کړي او دا ډول چلند د دې لامل شي چې د پولې د هغې خوا د هغو پښتنو او بلوڅو مشرانو کومو چې په رښتيني توګه د خپلو ولسونو د حقوقو د لاسته راوړلو په موخه هلې ځلې کولې په افغان حکومتونو باور له لاسه ورکړي او اړيکې يې ورسره سړې شي. ښه ساری يې د روان فرهادي او خان عبدالولي خان مرکه ده چې يوه برخه يې کټ مټ راوړل کيږي : «د خبرو په پيل کې روان فرهادي د ولي خان څخه ګيله کوي چې ګواکې ده د پښتنواو د پښتونستان سياست پرېښود او د ټول پاکستان سياست ته يې مخه کړه. ولي خان د روان فرهادي څخه پوښتنه کوي چې دا تاسو پښتونستان څه شي ته واياست؟ ولي خان دا پوښتنه د افغانستان له پاچا څخه هم کړې وه خو پاچا ورته ويلي و چې د صدراعظم محمدهاشم ميوندوال سره وګوره هغه به ځواب در کړي. ميوندوال هم د خپلې کتنې په ترڅ کې ځواب نه و ور کړی. روان فرهادي ولي خان ته ويلي و چې دا کليمه د کوزې خوا څخه راغلې ده نو دا ځواب بايد تاسو ووايات. ولي خان ځواب ورکوي چې لومړی ځل د پښتونستان موضوع په هغې ټولپوښتنې کې چې د سرحد صوبه دې د هندوستان يا د پاکستان سره يوځای شي د بنو تاريخي جرګې راپورته کړه . دې جرګې وړانديز وکړ چې په ټولپوښتنه کې دې د سرحد د صوبې خلکو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق ياني د پښتونستان خپلواک دولت د جوړيدو موضوع هم شامله کړای شي. دوهم ځل کله چې د پاچاخان نه د پاکستان په پارلمان کې پوښتنه وشوه چې د پښتونستان څخه مو موخه څه ده نو هغه وويل چې د سرحد صوبه دې د پښتونستان په نامه ياده شي. ولي خان روان فرهادي ته وايي چې دا تاسو جشنونه نيسئ او په راډيو کې د پښتونستان پروپا ګند کوئ نو د تاسو مقصد د پښتونستان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شی دی ؟ تاسو څه غواړئ ولي مو د پاکستان سره اړيکي خړې پړې کړې دي او په نړيواله توګه مو پدې مسئله هندوستان او شوروي اتحاد ملګري کړي دي ؟ خو چې تاسو ځواب نه واياست نو زه به يې در ته ووايم.

د پښتنو کورنيو او بهرنيو دښمنانو د مغلو، سيکانو...، نه ترانګريزه پورې د پښتنو د کور د ورانولو لپاره د پښتنو دنياوي او ديني مشران لکه خان ، ملک ، ملا او پير استعمال کړي دي او د پښتون کور يې ټوټې کړ. نولنډه دا چې دا ټوټې شوی قوم بيا يوځای نه شي او د افغان کور بيا راټول نه شي ترهغه به پښتون قوم خپل پخوانی برم او مقام ته ونه رسي. دغه موهدف دی دغه مو مرام. زه ځان ته قطعاً پښتونستانی نه وايم ځکه دغو خو همغه د پيرنګي خبرې تسليمول دي چې افغان جدا او پښتون جدا. روان فرهادي بيا پوښتنه وکړه چې څنګه به حليږي. ما ورته ووې. نن پښتون په درې برخو ويشل شوی دی افغانستان، قبايلي علاقې او د تاسو په اصطلاح بل محکوم پښتونستان. د حل لارې يې درې دي.

لومړی: افغانستان دې را پاڅي ځکه الوتکي ، ټانکونه ، توپې او نور قوت لري او پاکستان ته دې ووايي چې دا سيمې خو زما نه پيرنګي په زور نيولې وې اوس چې هغه نشته نو زه دا خپلې سيمې لومړی په سوله غواړم او که نه نور وسايل هم کارولی شم. روان فرهادي وايي چې د ملي او نړيوالې وضعې له مخې دا امکان نلري.

دوهم : د چتراله تر وزيرستانه پورې د قبايلي علاقې پښتنو سره دې په پټه د افغانستان مرسته وکړي اوهلته به موږ پورته شو پدې هکله څه وايي ؟ دا هم امکان نه لري.

دريم : بيا چې زه قبايلي ورونو ته مخه کړم چې ګوره موږ او تاسې د آزادۍ د نعمت نه محروم يو راځئ چې سره يو لاس شو او خپل وطن کې خپل حق لاسته راوړو. نو قبايلو فيصله کړې وي يا نه خو بيا هم فرهادي صاحب د خيبر نه سر راپورته کړي چې ولې خانه دا امکان نه لري. يعنې مطلب دا چې نه را سره مرسته کوي ، نه قبايل پريږدي او بيا چې د کور د ننه ملګري پيدا کوم په هغه هم ناراضې يې ياني معلوميږي چې ته هم زما په غلامۍ خوشحاله يې. نو دا به سړي ته ډيره د منافقت خبره ښکاريده چې په راډيو کې به يې د بابړې د شهيدانو په روح مشاعرې کولې او دې خوا به يې د بابړې د قاتل قيوم خان سره مرسته کوله . » ۹۶/ ۶۱۴ – ۶۲۲ پورتنۍ مرکه د دې ترخه واقعيت څرګندوی ده چې افغان دولتونوعملا د دې ملي - تاريخي ستونزې د حل لپاره قطعاً ليوالتيا نلرله . د دې مسالې څخه يې د يوې تبليغاتي وسيلې او د ولس او په تيره د پښتنو د تيرايستنې لپاره ګټه پورته کړې او په افغانستان کې يې د پاکستان په ميشتو مخالفو پښتنو او بلوڅو مشرانو يو ډول پوليسي کنټرول ساتلو او پاچاخان ته يې هم اجازه نه ورکوله چې د افغانانو سره وګوري او ور سره اړيکې ټينګې کړي. د پاچاخان لاندې څرګندونې چې د عبدالله بختاني د دې غوښتنې په اړوند چې افغانان د پاچاخان د ليدو ليوال دي ښه بيلګه ده. « ما دغه مدير صاحب نه پريږدي ( د قبايلومديرته اشاره وکړه او مراد يې د افغانستان حکومت و) زه په کليو کې ډيرخوشحاله يم چې خپل قام عزيزسره کښينم ، خو څه وکړم ؟ دې مدير صاحب په کوټنۍ کې کښينولی يم او خلکو ته مې نه پريږدي. که نه زه خو همدې ته راغلی يم چې تاسو عزيزانو سره کښينم ، تاسو وګورم او تاسې سره وغږيږم. » ۹۱/۹۷ – ۹۲ لکه څرنګه چې سلطنتي کورنۍ د پښتونستان د ستونزې د حل لپاره ليوالتيا نلرله منطقاً د افغانستان حکومتونو پدې اړه کومه کړنلاره نشوای جوړولی . دا ځکه چې د يحيی د کورنۍ د واکمنۍ پرمهال د پښتونستان ستونزه کله د پښتنو د حق خود اراديت ، کله د پښتونستان د خپلواکۍ او کله هم د پښتنو او بلوڅو د سياسي برخليک په نامه ياده شوې ده. پر بله خوا «دا پښتونستان زموږ» ترانې زموږ د هيواد ځينو متعصبو غيرپښتنو سياستوالو ته پلمه ورکړې چې په خټه پښتون پاچا پښتون پلوی وګڼي . هغوی دا ادعا لري چې ولې حکومتونو د پنجدې، مروې او سيستان د لاسته تللي خاورې خبره نه کوله چې اوسيدونکي يې غيرپښتنانه دي. له بده مرغه دې ترانو د پښتنو په وړاندې پښتون دښمنه غيرپښتنو سياستوالو ته ښه د تبليغ مواد ورکول چې پښتني ضد کمپاين وکړي او پدې توګه د افغانستان د ورونو قومونو ترمنځ د بې باورۍ او دښمنۍ تخمونه وکري.

د يحيی د کورنۍ په واکمنو کې محمد داود ترهغه پورې چې د هيواد مشرۍ ته نه وو رسيدلی په کلکه د پښتونستان د مسالې د حل غوښتنه کوله .نوموړی چې د پښتونستان د اتحاديې د جوړولو نوښتګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼل کیږی یو وخت  يې پخپله یوه وینا کې ویلي و:« د افغانستان او پښتون ملت اړیکې او خواخوږي نه نننی ځواک پرې کولی شي او نه د سبا ځواک .» ۹۸/ ۲۷۲ محمدداود د جمهوریت
په لومړیو کې هم د پښتونستان د ستونزې پرعادلانه حل ټینګار کاوه.  خو د ده ترمشری لاندې  نظام ته د متحده ایالتونو او د هغه سیمه ییزو سپوژمکیو له لوري د ستونزو د جوړولو له امله  اړ شو د هغوی ارادې ته سرټیټ کړي او په خپلو سیاستونو کې يې داسې حیرانوونکې بدلون راووست چې ګومان یې هم نه کیده چې په هغو کې  يې د پښتونستان مسئلې ته هم شا وګرزوله . « هغه د۱۹۷۵ کال د نوامبر وروسته ...، د پاکستان د ښکاره  فشارونو په ځواب کې  ژمنه وکړه چې نور به افغانستان هغو پښتنو او بلوڅو ښورښیانو ته پناه ګاه نه وي چې د ذوالفقارعلي بوتو د رژیم په وړاندې جنګیږي...،کله چې د پاکستان له سفر څخه راستون شو د پښتنو او بلوڅو د مشرانو غونډه يې په کابل کې جوړه کړله او په هغو کې يې په افغانستان کې  له پناه راوړونکو پاکستاني فعالو جنګیالیو و غوښتل چې د اپریل تر دېرشمې هېواد پرېږدي. » ۴۷/ ۱۶،۲۶ دا بیا ښیي چې داودخان هم لکه ظاهرشاه د پښتونستان د مسالې څخه سیاسي ګټه پورته کوله.

انګریزانو چې د امان الله خان د مدبرانه زعامت له امله په افغان- انګریز دریمه جګړه کې د افغانانو ارادې  ته سر ټیټ کړ او د افغانستان خپلواکي یې  ومنله خو د غازي امان الله او افغانانو په وړاندې يې کرکه او دښمني لا نوره هم زیاته شوه. له همدې امله  وو چې انګریزانو د اماني دولت په وړاندې  بغاوتونو ته لمن ووهله او د سیاست او پوهې  څخه بیخبر وګړي يې د یوې وسیلې په توګه وکارول تر څو امان الله خان اړ کړي چې واک  او بیا هیواد پرېږدي.  د فیض محمدکاتب په خبره د امان الله خان ځای ناستي « سقویان ګواکي د کابل د چور او تالان لپاره راغلي وو او پدې لار کې يې د هیڅ کار نه ډډه نه کوله .» د  لوټمارحبیب الله کلکاني  واکمنول پدې موخه شوي وو چې هغه  د خلکو لپاره د منلو وړندی او  هغه څوک چې دا لوټمار نسکور کړي  د خلکو له ملاتړ نه برخمن کیږی. لدې کبله د محمد نادر ملاتړ کوي تر څو پر کابل واکمن شي. خان ولي خان د هند د وزیر پیل د لیکنې څخه نقل قول کوي چې « نادرشاه موږ مایوسه نه کړو او موږ چې څه غوښتل تر کال ۱۹۳۰ پورې هغه هرڅه  وشوو. روس  وروسته شو ، کابل کې قلاري شوه او په سرحدونو امن  قایم  شو.» ۹۳/ ۹۲

د یحیی کورنی د راپرزولو وروسته  د( ا ،خ، د ،ګ )  واکمنی تګلاره  د پښتنو او بلوڅو د خپل حق خودارادیت  پرمحور څرخیده او د دې ګوند مشر تره کي د پاکستان جمهور رئیس ضیاءالحق سره چې په غیررسمي سفر افغانستان ته راغلی وو په پغمان کې د کتنې په ترڅ کې  پاکستاني مشر ته ویلي وو: « د دیورند کرښه یوه استعماري او تپل شوې پوله ده چې په کال ۱۹۴۷ کې د هند د وېشلو او د پاکستان د جوړیدو پر مهال پښتنواو بلوڅو خلکو ته د خپل برخلیک د ټاکلو حق ورنکړل شو. د ثور انقلاب نه مخکې  واکمنیو د دیورند د استعماري پولې هغه لوري پښتنو او بلوڅو د خپل حق خود ارادیت څخه په پرله پسې او فعاله توګه دفاع نده کړې. دا کرښه د یوه خنجر په څیر ده چې د نولسمې پیړۍ په پای کې د افغانستان په پیکر ننوتې ده او دې استعماري کرښې د دواړو خواوو پښتانه او بلوڅ خلک په غیر طبیعي او غیر عادلانه ډول له یو بل څخه جلاکړي دي.» ۲/  ۲۰۸ – ۲۰۹  تره کي پدې هکله د پښتنو دا متل هم ضیاءالحق ته ویلی وو چې اوبه په ډانګ نه بیلیږي. د۱۹۷۹ کال د سپتمبر  په میاشت کې په هاوانا کې د ناپیيلو هیوادونو د کنفرانس پر مهال  تره کي او ضیاءالحق د دواړو  هیوادونو د اختلافونو د حل په اړه خبرې کړې وې او دې هوکړې ته رسیدلي وو چې پدې اړه دې دواړه خواوې خبرواترو ته دوام ورکړي او د پاکستان د بهرنیوچارو وزیر په نږدې راتلونکې  کې افغانستان ته سفر وکړي. دا خبره ښیي چې تره کی  هوډ من وو چې د دواړو  هیوادونو ترمنځ دې دوه دیرش کلنې ستونزې ته د متقابل پوهاوي پربنسټ د پای ټکې کیږدي. خو د شوروي له لوري د افغانستان نیواک هر څه له بنسټه  واړول او افغانستان د وخت د زبرځواکونو د سیالیو او  کشمکشونو په تاوده ډګر واوښت. د شوروي او انګلوساکسوني اشغال پر مهال د کرښې د هغې خوا د پښتنو او بلوڅو د کشالې د حل  په هکله خبرې پخپل ځان ملنډو وهلو ته ورته وې. د شوروي د اشغال پر مهال د افغانانو په وړاندې بیا د۱۹۱۹ کال مخکې  لومړی ستونزه ( د افغانستان  خپلواکي)  پرته وه  کومه چې امان الله خان حل کړې وه.  د(ا، خ، د، ګ) د پرچم واکمنی د نسکوریدو وروسته د پردیو د ارادې له مخې جوړ شوو او واک ته  رسول شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهادي ډلو د پښتونستان د مسئلې د حل لپاره څه چې د هیواد د اداري او لاربښوونې لپاره کومه نقشه نلرله. د امریکې- انګریز د مستقیم پوځي تیري وروسته د اشغال زیږنده واکمنی منطقآ چې د پښتونستان د کشالې د حل د راپورته کولو غږ نشواى جګولی ځکه چې د دیورند تپل شوې کرښه او د پاکستان دولت د انګریزي ښکېلاک میراث دی او انګلوساکسوني ښکېلاکګرو دا کرښه د نړیوالې کرښې په توګه په رسمیت پیژندله. د اشرف غني د واکمنی پر مهال په پوله د اغزن سیم تېرول او د تورخم د دروازې د رسمي پرانېستلو په مراسمو کې د ننګرهار والي شاه محمود میاخېل ګډون ښیي چې غني دا کرښه د یوې پټې خاینانه معاملې په ترڅ کې منلې وه. د دې معاملې په اړه محمدفاروق وردګ د کرزي او غني د کابینې غړي په یوه ټلویزیوني مرکه کې وایي چې دریو تنو په دوبی کې اویا میلیونه ډالر ترلاسه کړل. ددې لپاره چې اشرف غني د محمد فاروق وردګ خوله ور وتړي هغه یې سمدلاسه په پارلماني چارو کې د وزیر په توګه مقرر کړ. د جمهوریت له نسکورېدو وروسته اسلامي امارت چې هېڅ کوم هېواد په رسمیت نه دی پیژندلی ، له ظالمانه بندېزونو او له ګڼ شمېر ستونزو سره لاس ګرېوان دی منطقآ چې د دیورند د معضلې د حل کولو جوګه نه دی.

## ګوند څه غوښتل ؟

د ا، خ ، د، ګ بنسټ ایښودونکو د هیواد د وروسته پاتې والي اصلي لامل طبقاتي ستم یا په ټولنه کې واکمن غیرعادلانه تولیدي مناسبات ګڼل. ګوند په دې آند وو چې د تولید پر وسایلو د ټولنیز مالکیت په ټینګښت او د پراخه پرګنو په ګټه د سمونونو په پلي کولو سره ولس او په ځانګړې توګه بزګران، کارګران، کوچیان، کسبګر او روڼ اندي د هر ډول ستم او زبېښاک او ټولنیزو ناخوالو څخه خلاصیدلی شي او سربیره پردې هیواد د پرمختګ په لور د تللو جوګه کیدای شي. د هېواد په اداره کې ولس ته د برخې اخېستلو یوازینی لار د ملي دموکراسی د حکومت ټینګښت ګڼلو. د دې لپاره چې د ګوند مشرتابه د خپل ګوند د جوړېدو موخه پرګنو ته ورسوي د ګوند د بنسټ ایښودونکې کنګرې څه کم درې میاشتې وروسته د ګوند د کړنلارې لاندې اساسي کرښې د سیاست لیوالو او ولس ته وړاندې کړلې:

۱. د افغانستان د ځمکنی بشپړتیا، سیاسي او اقتصادي خپلواکئ او ملي واکمنی څخه ساتنه.
۲. د ملي دموکراسی د واکمنی د ټینګښت له لارې خلکو ته د دولتي واک سپارل.
۳. د خلکو د دموکراتیکو حقونو او آزادیو تامینول، د بزګرو او کارګرو ژوند ته پاملرنه او د دموکراتیکو او مساویانه اصولو پر بنسټ د هیواد د ولسونو د یووالي لا پیاوړتیا.
۴. د دولتي پلان شوي اقتصاد له لارې د ملي اقتصاد وده، د دولتي سکتور پیاوړتیا ، د ملي صنایعو پنځونه او په بهرنۍ سوداګرئ د دولتي انحصار ټینګښت ،د ځمکو د اصلاحاتو سرته رسول او د هیواد د طبیعي زیرمو، سترو اقتصادي تولیدي مؤسسو او صنایعو ملي کول.
۵. د یوې ملي او د زاړه او نوي استعماري مسئلې په توګه د دیورند د تپل شوې کرښې (۱۸۹۳) په رسمیت نه پیژندل، د پښتنو او بلوڅو د خپل ارادیت د حق څخه دفاع او د پښتونستان او د افغانستان د خلکو د ارادې پر بنسټ د دې مسئلې حل.
۶. د خپلواکه بهرني سیاست پر مخ وړل او په نړیوالو مسئلو کې د مثبتې ناپیيلې تګلارې، آزاد قضاوت او د ګډ سوله ییز ژوند تعقیب ، د امپریالیزم ، نوي او زاړه استعمار خلاف مبارزه ، په تیري کوونکو پوځي ، سیاسي او اقتصادي بلاکونو کې نه ګډون او د استعمار او ملي ستم په وړاندې د ملي آزادي ښونکو غورځنګونو ملاتړ.

دا د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند موخې وې چې په خپلو تبلیغاتو کې یې پر هغو ټینګار در لود. د دې اساسي کرښو پر بنسټ یې څه موده وروسته د ګوند کړنلاره د خلق په جریده کې خپره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه. پورتنیو موخو ته د رسیدو په خاطر د دې ګوند بنسټ کیښودل شو ، مبارزه یې وکړه، د سیاسي مبارزې تودې او سړې یې وګاللې ، واک ته ورسید، د خپلې تګلارې په پلې کولو یې بیله ځنډه پیل وکړ، د پنځه ځلویښت زرو شا وخواه غړي یې د ګوند د واکمنۍ د ساتلو، د وسلوالو مخالفانو سره د جګړې په تاوده ډګر او همدا راز ترهګریزو بریدونو کې له لاسه ورکړل او بالاخره د یوه نړیوال افغاني ضد سازښت او دسیسې له امله واک له لاسه ورکړاو ګوند هم ورسره ټوټې ټوټې شو. پدې کتاب کې به پدې مسئلې هم بحث وشي چې د ا ،خ، د، ګ په نامه د دې سیاسي غورځنګ دوې سیالې ډلې د خپلې واکمنۍ پر مهال تر کومې کچې خپلې کړنلارې ته ژمنې پاتې شولې او هغه یې تر کومه بریده پلې کړه. همدا راز به پدې هم تم شو چې د ګوند د واکمنۍ په نسکورېدو کې د وسلوالو مخالفانو، کورنیو او بهرنیو لاملونو تر څنګ تر کومه بریده د نوموړي ګوند تیروتنو او بېلارې توب او په ګوند کې د وسلوالو مخالفینو سره د ګوند کومې ډلې او مشرانو پټو او ښکارګندو معاملو منفي اغیز در لود. په دې اړه د دې خبرې یادول اړین بریښې چې د یوه ځانګړي سیاسي غورځنګ او واکمنۍ سیاستونه ، بریاوې او ناکامۍ هغه مهال په واقعبینانه ډول ارزول کیدای شي چې زماني او مکاني او په تیره نړیوال شرایط ، د هیواد اقتصادي حالت ، د واکمنۍ په وړاندې د سیاسي مخالفانو دریځ او د بهرنیو فاکتورونو اغیز له پامه ونه غورځول شي. پدې کتاب کې به د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د واکمنۍ تګلارې، کړنې او پایلې د پورتنیو مواردو په پام کې نیولو سره تر انتقادي ارزونې لاندې ونیول شي.

د ا،خ، د، ګ د واکمنۍ په مهال نړۍ د علمي – تخنیکي پرمختګونو له کبله کوچنۍ شوې وه . لدې امله د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې د سیاسي اوښتون او په تېره د واکمنۍ له لوري د ټولنیزو سمونونو پیلول د نړیوالو، ګاونډیانو او شوروي اتحاد غبرګون له ځانه سره در لود. بیله شکه دې غبرګونو د خلقی دولت په کړنو، بریاوو او ناکامیو اغیز درلود. پدې معنی چې د نورو مثبت غبرګون او ملاتړ واکمنۍ ته مرستندوی او ګټور تماميږي او پر بله خوا منفي غبرګون بیا ستونزمن او حتی ناتار جوړوونکی ګرزي. له یاده و نه باسو هغه ګوند او حکومت به په واک کې د اوږدې مودې لپاره د پاتې کېدوچانس ولري ،خپل پلانونه به پلي کړي، بریاوې به ولري او خپلو موخو ته به ورسېږي چې هم د کور د ننه او هم بهر زیات دوستان او متحدین او لږ مخالفین او دښمنان ولري. دا بیا د ګوند او واکمنۍ په مشرتابه پورې اړه لري چې څه ډول تګلاره غوره کوي چې هغه د نورو سره په تعامل ځرخېږي یا تقابل. د ثور د اوومې سیاسي بدلون وروسته بهیرونو و ښودل چې د ګوند مشرتابه د خپلو سیاسي مخالفانو او پانګوالې نړۍ او د هغو متحدینو او سپوژمکیو سره د تعامل پرځای د تقابل تګلاره غوره کړله . له بله پلوه ګوند واک ته به رسېدو سره چې د واک اصلي څواک خلقي اړخ وو د مشرتابه یوې برخې یې دا وړتیا ونه موندله وپوهېږي چې شوروي اتحاد ورسره ربښتینی نه دی او پدې غدار دوست او متحد یې زیات باور وکړ. البته هغه مهال افغانستان په بهرنیو او خاصتاً د شووي اتحاد په تخنیکي ، مالي او پوځی مرستو پورې تړلی وو چې د خلقي دولت خپلواک دریځ د کرملن ناستو مغرورو هژمونپښتو مشرانو په مزاج برابر نه وو چې دې حالت واکمنۍ ته ټاکلې ستونزې زېږولې وې ، پایله یې دا شوله چې شوروي اتحاد په خپل غلچکي خاینانه پوځي یرغل سره خلقي واکمني نسکوره ، افغانستان اشغال او پرچم ظاهراً واک ته ورسوي . د افغانستان اشغال دواړو اړخونو د افغانستان دموکراتیک جمهوریت او شوروي سوسیالستي جماهیرو اتحاد ته په خورا لوړه بیه تمام شو تر دې چې دواړه دولتونه د تاریخ برخه وګرزي او د شوروي امپراطوري ونړېږي . د شوروي اشغال وروسته په هېواد کې جګړو زور واخیست او پایله یې دا شوله چې شورویان په سرکوزۍ له افغانستان څخه ووزي . د شوروي اشغالګرو د اردلیانو(پرچمیانو) د مسکو د ارادې له مخې د ملګرو ملتو د سولې پروګرام شنډ او د ا، خ، د،ګ د واکمنۍ په نامه خپلې واکمنۍ ته نه یوازې د پای ټکی کېښود او ګوند ټوټې ټوټې شو بلکې په هېواد کې وحشت او بربریت واکمن شو . ددې ګوندي ضد او ملي ضد سازښت له کبله د هېواد د تمدن ټولې نښې نښانې له منځه ولاړې او د هېواد اداري ، اقتصادي او فرهنګي بنسټونه وران ، د وسلوال پوځ وسلې او تجهیزات تالان او کابل په کندواله واوښت. د ګوند د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته د دې ګوند د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخونو د ځېنو مشرانواو کدرونو د هلو ځلو سره سره هڅوی و نه توانېدل بېرته خپل سازمانونه په پښو ودروي او پدې ډول دا ګوند د تاریخ برخه وګرځي.

## ګوند د مبارزې په ډګر کې

ګوند د بنسټ اېښودونکې کنګرې وروسته عملاً د مبارزې سیاسي ډګر ته را ودانګل. پدې ډګر کې د ګوند په وړاندې په ولایاتو کې د ګوندي سازمانونو او کمیټو جوړول او د ګوندي لیکو د پیاوړتیا سربیره ولس ته د خپلو سیاسي ، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي موخو د رسولو درنې دندې پرتې وې تر څو د یوه سیاسي خوځښت په توګه خپل شتون په ټولنه کې تثبیت او پدې ډول په ټولنه کې ریښې وځغلوي. بیله استثنی په دموکراتیکو ټولنو کې سیاسي خوځښتونه عملاً په دریو برخو( د مطبوعاتو او تبلیغاتو، ټاکنیزو مبارزو ، غونډو او لاریونونو) کې د مبارزې په سیاسي ډګر کې را څرګندیږي. د ا ، خ ، د، ګ د ۱۹۶۵ کال د نوي اساسي قانون د ښیګنو په رڼا کې په یادو ډګرونو کې په فعالیت لاس پورې کړ چې په لنډ ډول به پرې مکث وشي.

### الف – د مطبوعاتو او تبلیغاتو ډګر

د مؤسسې کنګرې د جوړېدو درې میاشتې وروسته مرکزي کمیټې د ګوند د کړنلارې اساسي کرښې چې د ګوند فکري بنسټ یې جوړاوه تصویب کړې. اړینه برېښېده چې د ګوند کړنلاره هم جوړه شي . « لکه څرنګه چې ګوند قانوناً نه وو ثبت شوی او په رسمیت نه وو پېژندل شوی ، کړنلاره یې د ګوند په نامه نشوای خپرولای . لدې امله د قانوني ملحوظاتو له مخې پرېکړه وشوه چې د خلک دموکراتیک کړنلارې تر سرلیک لاندې خپره شي. د کړنلارې مسوده د نورمحمد تره کي لخوا چمتو شوې وه . خو د هغې د کتنې او بشپړولو لپاره یو کمیسیون وټاکل شو. د کمیسیون غړي کارمل ، بدخشي، پنجشېري او ډاکتر شا ه ولي وو چې د تره کي تر مشرۍ لاندې یې کار کاوه.» ۷۹/ ۵۶- ۵۷

ګوند دا مهم سند د۱۹۶۶ کال د اپریل په یوولسمه ( ۱۳۴۵ کال حمل ۲۲ ) د خپل نشراتي ارګان (خلق) په لومړۍ او دویمه ګڼه کې په شلو زرو نسخو کې په پښتو او دري ژبو خپور او هغه یې د هیواد په سترو ښارونو کې توزیع کړ. په دومره لوړه کچه د خلق د جریدې سره د روڼ اندو لیوالتیا د دې واقعیت څرګندوی وه چې د ګوند په کړنلاره کې د افغانستان د ټولنیز- اقتصادي وضعیت ربښتینی انځور یا ځمکني واقعیتونه کارل شوي وو او سربېره پردې په هغو کې نوي اصطلاحات او مفاهیم روڼ اندو ته په زړه پورې وو. د دې واقعیت څخه د ګوند مخالفین هم سترګې نه پټوي او پدې اړه یو د هغو څخه لیکي: « په داسې یوه هیواد کې چې څه نا څه ۹۰ فیصده وګړي یې بېسواده ول او په کابل کې چې هلته څه د باندې څلویښت ورځپاڼې ، اوونیزې او میاشتنۍ خپرونې د۱۹۶۴ راهیسې راوتلې وې ، نوموړی شمیر خورا غټ وو. ( خلق) سپینې خبرې کولې او په څرګنده یې د طبقاتي مبارزې او د ( افغانستان د مظلوم ولس د ځوریدنو) په هکله لیکنې کولې. علاوتآ خلق څرګندوله چې د معاصرې زمانې اصلي مسئله او په نړیواله کچه د طبقاتي مبارزې هسته ، چې د اکتوبر ستر سوسیالستي انقلاب سره را پیلیږي د نړیوال سوسیالیسم او نړیوالې پانګوالې تر منځ مبارزه ده. » ۳ /۲۳۰ د خلق جریدې خپرونو سلطنت او واکمني را وپارول او د ګوند مشر تره کی صدراعظم میوندوال ور وغوښت او ورته ویلي یې وو چې په خپل اخبار کې مو ابلاغیه خپره کړئ چې د جریدې لیکنې ملي ضد دي لدې امله دا جریده خپلې خپرونې دروي. دا موضوع په مرکزی کمیټه کې طرحه شوه او پرېکړه وشوه چې دا ډول ابلاغیه نه خپروو او حکومت دې د قانون له مخې عمل وکړي.

امریکایي افغانستان پېژندونکی لویي دوپري چې هغه مهال په کابل کې ژوند کاوه وایي: « واکمنی د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د نشراتي ارګان ( خلق ) خپرونې اسلامي ضد، اساسي قانون ضد او سلطنت ضد » وګڼلې او شپږمه ګڼه یې له چاپ وروسته بېله دې چې توزیع شی توقیف کړله او وروسته یې جریدې ته د خپرونو اجازه ور نکړه. د خلق د جریدې د درولو وړاندیز په مشرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګه کې سناتور محمد هاشم مجددي کړی وو. پدې ډول د مجددي د څواکمني کورنۍ د ارادې له مخې چې د هېواد د پاچاهانو د لېرې کولو او کېنولو او د جهاد د فتواوو ورکولو واک يې ترلاسه کړی وو د خلق جریده هم تعطیل شوله. په شپږمه، وروستۍ ګڼه کې د سعدي یو شعر چې په لاندې بیت پای ته رسېدلی وو خپور شوی وو چې ښايي د دې جريدې په توقيف او تعطيل کې همدې شعر هم رول لوبولی وي څکه د سپین پوښو خو په عمل کې د تور طینتو روحانیونو ، پیرانو او حضرتانو اصلي څېره یې بربنډوله .

عبادت بجز خدمت خلق نيست		به تسبيح و سجاده و دلق نيست

د حکومت له لوري د خلق د جريدې او د خپرونو د منځپانګې د ارزښت د ټيټولو په وړاندې بل تدبير دا وو چې هممهاله د مردم په نامه يوې جريدې خپروني پيل کړې چې ليکني يې د خلق جريدې د خپرونو خلاف وې. د خلق د جريدې د تعطيل وروسته د ګوند د مشر سربېره خلقي مشرتابه خپل کدرونه ( زېرى ، ميثاق ، محمد ظاهرافق او ظريف ) د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته واستول چې د خلق او يا په بل نامه د واکمنۍ څخه د جريدې اجازه ترلاسه کړي خو د تره کي تر مشرۍ لاندې سياسي خوځښت ته هيڅکله د جريدې د خپرولو جواز ورنکړل شو. تردې چې د جريدې د جواز د ترلاسه کولو له امله د خلقيانو د مرکزي کميټې غړی زيرى د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د کوم رييس له لوري ډبول شوی هم وو. د جريدې د جواز د ترلاسه کولو په اړه ميثاق ليکي: « يو ځل زه عبدالکريم ميثاق مؤظف شوم چې د يوې جريدې غوښتنه وکړم ، هغه مهال سردار انس د اطلاعاتو او کلتور وزير وو. را ته و يې ويل شپږ سوه ځله در څخه آزموينه اخلم خو د اخبار اجازه نه درکوم. ما ته خندا راغله او په څواب کې مې ورته وويل. پداسې حال کې چې د اخبار اجازه نه راکوئ نو آزمويني ته څه اړتيا ده؟ هغه وويل تاسې ته مو يو اخبار درکړی دی چې نوم يې پرچم دی، لاړشئ د هغه شاوخوا را ټول شئ. » ۷۹ / ۷۶ د وزير له خبرې څخه معلومېږي چې هغه غوښتل خلقيان د کارمل ترمشرۍ لاندې مبارزه وکړي.

هغه مهال خلقي اړخ خپلې اعلاميې د نورو رسنيو لکه پيام وجدان ، افغان ملت، ترجمان او روزګار له لارې خپرولې. خو کله چې کارمل او پلويان يې له ګوند څخه ووتل او خپل سازمان يې جوړ کړ په کال ۱۹۶۸ کې حکومت هغوی ته د پرچم په نامه د يوې جريدې د خپرولو جواز ورکړ. حقشناس د پرچم د جريدې په اړه ليکي :« د۱۳۴۶ کال په کب کې صدراعظم نوراحمد اعتمادي د محمد داود د توصيې پر بنسټ او د پاچا په موافقه د پرچم په نامه ببرک ته د اخبار اجازه ورکړه.» څيني لا دا هم وايي چې د پرچم د جريدې لګښت هم محمد داود ورکاوه. پرچم د دوو کلونو په ترڅ کې ۹۹ ګڼې خپرې کړې. کله چې د پرچم په فوق العاده ګڼه کې د شوروي روسيې بنسټ ايښودونکي لينن د سلمې کليزې په مناسبت په دري ژبه د ( لينن د خاورې ) او د ( ژوند ښونکي انقلاب ) د وياړنې اړوند يو شعر چې په لاندې بيتونو پای ته رسيدلی وو خپور شو د هيواد د ملايانو، طالبانو او د ملي شورا د استازو د سخت غبرګون سره مخامخ شو.

براى اين دست آورد هاى بيمانند
ما به آن حزب پيشقدم درود ميفرستيم
و به مردم قهرمان
ما به آن پيشواى بزرگ درود ميفرستيم
به لينن بزرگ.

ژباړه:

د دغو بيساره لاسته راوړنو لپاره
موږ هغه مخکښ ګوند ته درود استوو
او اتلو خلکو ته
موږ هغه ستر لارښود ته درود استوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر لينين ته .

د پرچم په جريده کې د پورتني شعر د خپريدو په ورځ د اطلاعاتو او کلتور وزارت مخې ته ملايانو او طالبانو اعتراضيه غونډه وکړه او وروسته تر دې د هيواد له ګوټ ګوټ نه کابل ته د ملايانو د راتلو لړۍ پيل شوه. ملايانو د پل خشتي په جومات کې سنګر ونيو، شپې او ورځې يې په جومات کې تيرولې او د جومات له منبر نه د کين لاسو او شوروي اتحاد پر ضد ويناوې کولې. سليمان لايق چې هغه مهال د پرچم د جريدې د امتياز خاوند او مسئول مدير وو ليکي: « نوموړی شعر د ده پرته د پرچم د جريدې د تحرير د هيآت ټولو غړو( کارمل، خيبر، کشتمند، نور احمد نور، دکتورس اناهيتا او بارق شفيعي) د هوکړې له مخې خپور شو او اضافه کوي چې ملايان د قرآن کريم د دې آيت « ان الله و ملايکه يصلون علی النبی يا ايهاالذين آمنو صلوا عليه و سلموا تسليما» چې معنی يې«خدای او ملايکې يې پر نبي باندې "درود" وايي. ای مومنانو تاسو هم پرهغه باندې "درود" وواياست ډېره لګوي. ملايانو "درود" ويل صرف د اسلام پر پيغمبر پورې محدودوي او پرغير مسلمان باندې د "درود" ويل حرام او له اسلام نه لرې بولي .» ۴۳ /۱۲۸ لايق د جريدې د مسؤل مدير په توګه له هرچا ځخه زيات مسؤليت درلود د دې راپاروونکي شعر د نه خپرولو مخه ونيسي. پدې کار کې د پاتې راتلو له امله د داسې يوه ګوند ځخه بايد وتلی وای چې د خپلو خلکو عقيدتي باورونو ته سپکاوی کوي او سربېره پردې د هېواد د مترقي غورځنګ د بدنامۍ سبب هم کيږي . د دې شعر د خپرولو پايله دا شوله چې د هيواد دوديزه روحانيون او بنسټپال اسلامپال ګډه ژبه سره وموميې او د يوه منبر ځخه د هېواد د مترقي غورځنګ ، پرچميانو او شوروي اتحاد ضد کمپاين وکړي.د پرچم په جريده کې د دا ډول راپاروونکي شعر خپرولو د پرچم اړخ اعتبار ته سخت زيان ورساوه . پرهغوی يې د شوروي د عمالو تور يقيني کړ. د ملايانو د دې اعتراضونو پايله دا هم شوه چې حکومت اړ شي د پرچم خپرونې و دروي.

سره لدې د ګوند د دواړو نشراتي ارګانونو( خلق او پرچم ) خپرونو او اعلاميو د باسواده قشر په ويښتيا کې رغنده رول لوبولی دی او خپرونې يې د افغانستان د وروسته پاتې والي په لاملونو، د حکومتونو په نه وړتيا ، د خلکو د ستونزو بربنډول ، د مخ په ودې هېوادونو په وړاندې د امپرياليستي بلاک د سياستونو په افشا او د شوروي اتحاد د تګلارو او سياستونو په ملاتړ ځرخيدلې. د ساري په ډول په ويتنام کې يې د امريکايي اشغالګرو جنايتونه غندل او د فلسطينيانو د داعيې ځخه ملاتړ کړی دی .خو کله چې په ۱۹۶۸ کې شوروي لښکر په چکوسلواکيا تيری وکړ د پرچم جريدې دا تېری تائيد او هغه يې د شوروي اتحاد له لوري انټرناسيونالستي دنده وګڼله. د شوروي له لوري پر چکوسلواکيا د يرغل په اړه خلقي اړخ کوم غبرګون ونښود. د خلق او پرچم په جريدو کې د لومړي ځل لپاره نوي ادبيات او سياسي اصطلاحات او د واکمنۍ ځخه جوړوونکي غوښتنې ، وړانديزونه ، نيوکې او اعتراضونه تر سترګو کيدل او د بيان د آزادۍ په لور يو پرمختلونکی خوځښت وو. ګوند نه يوازې د خپلو نشراتي ارګانونو له لارې د خپلو غړو او ولس د ذهنونو د روښانولو او د هغوی د سياسي شعور او پوهې د لوړولو لپاره اړين ګامونه اوچت کړل بلکې د تبليغي پاڼو او اعلاميو د خپرولو سربيره يې يو لړ علمي ، سياسي او ادبي آثار وليکل او يا وژباړل. پدې ارزښتمن کار کې د پرچم په پرتله د خلقيانو او د دې ګوند د نورو کدرونو په پرتله د تره کي ونډه د پام وړ ده.

## ب- د پارلماني مبارزې په ډګر کې

د ا، خ، د، ګ په تګلاره کې په سياسي مبارزه او په هغو کې په پارلماني ټاکنو کې په برخه اخيستنې ټينګار شوی وو.په پارلماني ټاکنو کې يې د ګډون موخه دا وه چې ګونديان د پارلماني مبارزو سره آشنا شي او سربيره پردې په ټاکنيز کمپاين کې د خپل ګوند نږدې او لېرې اهداف ، د واکمنيو ناخوالې او د هيواد د وروسته پاتې والي لاملونه ټولنې ته ورسوي. په ټاکنو کې د بري له امله د هيواد په لوړتقنيني ارګان کې د داسې قوانينو په تصويب ټينګار وکړي چې د قانون واکمنې،اقتصادي پرمختيا او د دموکراسۍ ودې ته ګټور تمام شي. له همدې کبله وو چې ګوند د خپل جوړښت په لومړي کال ( ۱۹۶۵ ) کې ځوارلس تنه د ولسي جرګې دوولسمې دورې ټاکنيزو سياليو ته د مختلفو ولايتونو ځخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوماندانو په توګه ور وپيژندل چې دريو تنو ببرک کارمل، نوراحمدنوراو اناهيتا راتبزاد ولسي جرګې ته لار پيدا کړه. په ديارلسمې دوره کې يوازې دوو تنو کارمل او امين وکولای شول په پارلمان کې د ګوند د استازو په توګه د خپلو اړونده سازمانونو د استازيتوب جوګه شي. ګوند دواړو دورو ته په ټاکنيزو کمپاينونو او همداراز په ولسي جرګه کې د خپلو استازو له لارې د خلکو د ويښتيا او د ګوند د سياسي هدفونو د تبليغ لپاره ګټه پورته کړله. ولسي جرګې ته په ټاکنو کې ګوندي کانديدانو لسګونه ميټينګونه جوړکړل او په هغو کې يې خپلې تګلارې پرګنو ته ورسولې او خلک يې سياسي مبارزې ته وهڅول. د دستګير پنجشيري په وينا د ملي شورا دوولسمې دورې په تاکنيز کمپاين کې« د واحد ګوند په نوښت يوازې د کابل په ښار کې څلويښت ميټينګه جوړ شول او د پنځوسو زرو شا اوخوا کسانو پکې ګډون وکړ.» ۲/ ۱۶۶ هغه مهال ګوند د هېواد په يو شميراداري واحدونو کې په ټاکنو کې په حکومتي چارواکو د درغليو تورونه ولګول چې حکومت د ګوندي کانديدانو د بري مخه ونيوله. سربېره پردې ديارلسمې دورې ته څو تنه ګوندي کانديدان او د هغوی د ټاکنيزکمپاين ملګري لکه ( صالح محمد زيری، دستګيرپنجشيری، عبدالکريم زرغون ، عبدالخالق ،عبدالهادي کريم، فدامحمد خواريکښ، قادربهيار او اکرم کارګر ) توقيف او زنداني شول.

په ولسي جرګه کې د ګوند استازو په دولتي دستګاه کې د اداري او مالي فساد په وړاندې په مبارزې، په هيواد کې د قانون د واکمنۍ د ټينګښت ، د مطبوعاتو د آزادی ، د اساسي قانون د دموکراتيکو ارزښتونو او د پرګنو د حقوقو په دفاع کې و دريدل . د کارګرو، بزګرو، کسبګرو، کوچيانو، زده کوونکو او محصلينو او د ټولنې د نورو زيارکښو قشرونو د اقتصادي او صنفي غوښتنو څخه ملاتړ وښود .د پښتنو او بلوڅو د حق خود اراديت په موضع کې ولاړ وو او په نړيواله کچه يې د امپرياليسم او ښکيلاک خلاف د نړۍ د ملي آزادي ښنونکو غورځنګونو او په ځانګړې توګه د صهيونيزم په وړاندې د عربو او فلسطينيانو او د امريکې خلاف د ويتنام د خلکو د عادلانه مبارزو څخه ملاتړ کړی دی. په ډيرو مواردو کې په ولسي جرګه کې د ګوند د استازو دريځ په ټولنه کې د هغه د اعتبار د لوړو لپاره ګټورې پايلې لرلې. خو د کارمل ځينې ويناوې چې معمولاً د شوروي اتحاد له سياستونو څخه په بشپړ ملاتړ ځرخيدلې د ګوند او په تېره د پرچم ملي دريځ ته زيان ورساوه . د بېلګې په توګه په ولسي جرګه کې يوه استازي د کارمل د وينا په اړه ويلي وو:« هيله کوم چې ببرک کارمل شوروي اتحاد ته د بې کچې ښه نيت په ښودلو سره د افغانستان شورا او د افغانستان بهرني سياست ته درناوی وکړي. » ۳۲/ ۱۲۶ په ولسي جرګه کې د کارمل دې ډول ويناوو ځينو استازو ته پلمه ورکړه چې په شورا کې د ګوند پر استازو بريد وکړي د کارمل پښتۍ ورماتې او نور احمدنور په ککرۍ کې ژوره ضربه ووينې.

## ج – په واټونو کې را ځرګندېدل

په دموکراتيکو ټولنو کې سياسي او ټولنيز سازمانونه او حتي حقوقي شخصيتونه د غونډو په جوړولو، د تبليغاتي پلاکاتونو په پورته کولو او لاريونو او ويناوو کولو سره خپلې او د ټولنې د ځانګړې طبقې سياسي او صنفي غوښتنې مطرح کړي او يا د واکمنۍ د تګلارو او پريکړو سره خپل مخالفت او يا موافقت ځرګند کړي.د ا، خ ، د ، ګ د دموکراسۍ په لسيزه کې په پلازمېينه او په ځېنو ولايتونو کې د کارګرو،بزګرو، محصلانو، زده کوونکو او نورو صنفي قشرونو او همداراز د پښتنو او بلوڅو د حقوقو نه د دفاع په موخه سلګونه مظاهرې او لاريونونه تنظيم کړل. د دې غونډو او لاريونونو په ترڅ کې يې خپل سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز او فرهنګي اهداف بيانول. هغه مهال د پرله پسې لاريونونو څپې د۱۳۴۴ کال د لړم( عقرب ) د دريمې څخه پيل شوې. د دموکراسۍ په لسيزه کې د ګوند دواړو اړخونو معمولاً هر کال د لړم دريمه ، د مې لومړۍ نيټه (د کارګرانو د پيوستون نړيواله ورځ) او د ورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهمه ( د پښتونستان ورځ ) نمانځله . يو په زړه پورې لاريون د کارګرو د نړيوالې ورځې په مناسبت خلقيانو د ۱۳۴۸ کال د ثور په مياشت کې تنظيم کړی وو چې د ډول(دهل) او اتڼ سره د ميرويس ميدان ( کوټه سنګي) څخه پيل او د زرنګار تر پارک پورې ترسره شو . کله چې خلقيان د زرنګار پارک ته چې د مظاهرو په مرکز اوښتی وو را ورسېدل ، ټول سياسي سازمانونه تر اغېز لاندې راغلل دا مهال د خلقيانو يو کدر ستېژ ته وخوت او په مکروفون کې يې وويل :« دلته راشئ چې تاسو ته سياسي خبرې وکړو. هلته څه کوئ. تره کيان ډول وهي او ببرکيان ګډيږي. »۷۹/ ۸۴ پورتنی خبره د خلقيانو او پرچميانو دښمني هم ښيي . همدا رنګه يې په کارخانو کې د کارګرو د صنفي غوښتنو او د کار د شرايطو ښه والي په موخه مظاهرې سمبالولې. د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند له لورې د لاريونونو او مظاهرو تنظيمول او يا د هيواد د ښارونو په واټونو او کارخانو کې راڅرګنديدل ، ګوند او ولس ته د هرسياسي عمل په شان هم مثبتې او هم منفي پايلې لرلې. مثبتې پايلې يې ګوند ته دا وې چې په ټولنه کې خپل شتون تثبيت، خپل سياستونه اوهدفونه، د هيواد د وروسته پاتې توب لاملونه وګړو ته ورسوي او هغوی فعالې سياسي مبارزې ته وهڅوي او يا يې خپلو ليکو ته ورجذب کړي. په کارخانو کې د کارګرو په ګټه يو لړ سمونونه رامنځته کړي. په واټونو او کارخانو کې د نوموړي ګوند او نورو سازمانونو را څرګنديدل د خلکو د ذهنونو په روښانولو او ويښولو کې د سترګو وړ اغيز پريښود. منفي پايلې يې دا شوې چې په پوهنيزو بنستونو خاصتآ کابل پوهنتون او پوليتخنيک کې د پرله پسې مظاهرو او لاريونونو دوام د ښوونې بهير ته زيان ورسوي. د دې مظاهرو اوغونډو بل منفي اړخ دا وو چې اکثرآ په هغو کې د دې پرځای چې د حکومت تګلارې او کړه وړه انتقاد شي ، ناکامی يې په ګوته او په ادارو کې د فساد د بربنډولو لپاره ګټه پورته شي ،خلک د سياسي سوله ئيزو مبارزو په فرهنګ سمبال کړي بلکې د وخت د سياسي سازمانو او په هغو کې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ په ناندريو او د يوبل په پټه د تورونو او تومتونو په لګولو تيريدلې . سليمان لايق « زما د خاطراتو» په پنځه ويشتم ټوک کې د خلقيانو او پرچميانو له لوري يو بل په پټه د دښمنانه تبليغاتو او تورونو په اړه راوړي: « په نورمحمد تره کي پسې ويل کېدل چې دی د سي آی اې جاسوس دی ، دی پښتون فيودال دی ، دی د مجيد زابلي نوکر و، ده په انحصاراتو کې د شکرې او پترولو غلا کړې ده ، دی سياسي سواد نه لري، دی د قبيلي پديده ده او داسي نورتورونه . متقابلاً په کارمل او د ده په ملګرو پسې ويل کېدل : دی د دربار جاسوس دی ، دوی اشراف زاده ګان دي ، جنرال زاده ګان دي ، زبېښونکي دي ، دوی د شتمنيو خاوندان او عياشان ، فحاشان او د حکومتو سره په سازش او جاسوسی کې دي او نور.» خو کله چې په خپله د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند واک ترلاسه کړ د مظاهرو ،لاريونو او خپلواکو رسنيو فعاليت ته اجازه ورنکړه لکه څرنګه چې داودخان هم اجازه نه وه ورکړې .

## په ګوند کې د انشعاب لاملونه

په سياسي ګوندونو کې د اختلافونو شتون يوه معمولي خبره ده خو دا اختلافونه تل ګوندونه له انشعابونو سره نه مخامخ کوي .معمولاً په سياسي ګوندونو او تلوالو کې هغه وخت انشعابونه راځي چې په نوموړو سياسي خوځښتونو کې په ستراتژيکي ، ايدئولوژيکي او سياسي تګلارو کې اختلافونه پيدا شي. يا دا چې د زماني په يوه ځانګړې پړاو کې په ملي او نړيواله کچه بنسټيز بدلونونه راشي چې نوموړي سياسي بنسټونه اړ شي په خپلو تګلارو او د مبارزې د مخفي اوعلني بنو په مختنه وړلو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نويو حالاتو سره د بدلون اړتيا وليدل شي او پدې هکله په سياسي او ټولنيزو بنسټونو کې د نظر يووالى رانشي. يا دا چې په ټاکنو او يا وسلواله مبارزه کې د ماتې له امله ګوندونه او تلوالې له کورني کړکيچ سره مخامخ شي . تردې دمه پدې اړه د ا، خ ، د ، ګ د مشرانو، کدرونو او څيړونکو په ليکنو کې په ګوند کې د ستراتيژيکي او ايديالوژيکي اختلافونو په اړه څه ندي ويل شوي. البته د ګوند ځينو مشرانو او کدرونو پدې هکله وروسته پاتې توب، ځانغوښتنې ، ډله بنديو، فرکسيونبازيو، د روڼ اندو خرده بورژوازي ځانګړتياوو،د تجربې نشتون ، سليقوي توپيرونو، سيمه ييزو،قومي ، سکتاريستي او شوونيستي تمايلاتو او د تئورئ او پراتيک کمزورتيا وو ته ګوتې نيولې دي. پدې کې شک نشته چې نوموړو مواردو په ګوند کې کورنيو ستونزو، اختلافونو او ښايي د انشعاب په رامنځته راتګ کې رول لوبولى وي خو پدې اړه مشخص بحث نه دى شوى . د بېلګې په توګه کله چې ويل کيږي سيمه ييزو، قومي او سکتاريستي تمايلاتو انشعاب ته لمن ووهله وويل شي چې چا يا کومې ډلې دا تمايلات لرل او يا يې څه غوښتل . په خلقيانو کې د کارمل د ډلې د تګ وروسته د امين او بدخشي د قومي تمايلاتو له کبله دواړو ته ګوندي سزا ورکړل شوه . خو کارمل او همفکرانو يې چې له ګوند څخه ولاړل د خپل تګ يا انشعاب د لاملونو په اړه څه ندي ويلې . د انشعاب په اړه د دې ګوند مشرانو د پخوا په شان د ځان يا خپلو همفکرانو د سلامت ښودلو په موخه يا د يوې قطبي نړۍ ننني مسلط ذهنيت ته په کتو سره واقعيتونه تحريفوي يا نيمګړي او ناسم معلوماتونه وړاندې کوي.ښه بيلګه يې د کشتمند څرګندونې دي چې د افغانستان د خلق دموکراتيک واحد ګوند او د پرچم د فرکسيون د پروني دريځ سره په څرګند ټکرکې دي.

هغه د خپل (يادداشتهای سياسي و رويدادهای تاريخی ) نومې کتاب په ۱۷۰ مخ کې ليکي: « د ګوند د جوړيدو له پيله د نورمحمدتره کي او ببرک کارمل ترمشرۍ لاندې د (ا ، خ ، د ، ګ) د دواړو اړخونو ترمنځ جدي سياسي او ايدئولوژيکي اختلافونو شتون درلود. د تره کي اړخ د يوه سره مارکسيستي- لينينستي ګوند طرفدار وو چې د نړۍ د وروڼو کمونستي او کارګري ګوندونو په کتار کې په رسميت وپيژندل شي. خو د کارمل اړخ د يوه مترقي دموکراتيک ګوند چې د يوې پراخې دموکراتيکې جبهې په جوړولو سره د ملي دموکراسۍ د حکومت له لارې سوسياليسم د غايي او لېرې هدف ته د رسيدو لپاره مبارزه وکړي طرفداري کوله.که څه هم د کارمل طرحه د ځينوچپو اصطلاحاتو په منلو سره ومنل شوه خو اساسي اختلافونه په خپل حال پاتې شول. » که د کشتمند له څرګندونو سره همغږي شو ګڼ شمېر پوښتنې پيدا کيږي لکه ولې کارمل د مارکسيست- لينينست تره کي سره ګډ ګوند جوړ کړ؟ ولې هغه څلور کسيزه کميسيون( کارمل ، کشتمند،پنجشيرى ، شاه ولي) چې د تره کي له لوري د چمتو شوې کړنلارې په مسودې کار کاوه هغه ومنله چې دريو تنو کارمل ، کشتمند او پنجشيري چې واحد ليدلورى يې هم درلود داسې کړنلاره چې ورسره همغږي نه وو جوړه او د مرکزي کميټې په غونډه کې د رايو په اتفاق تصويب کړله ؟ کله چې کړنلاره په مرکزي کميټه کې منل شوې وه نو بيا د کومو اساسي اختلافونو يادونه کيږي؟ وروستى دا چې ولې کارمل او د هغه پلويانو د انشعاب وروسته د ګوند په کړنلاره کې بدلونونه رانه وړل ؟ ټولو ته څرګنده ده چې د ګوند دواړو اړخونو د ګوند تر دوهمې کنګرې پورې د واحد ګوند د مرکزي کميټې له لوري د تصويب شوې کړنلارې د پلې کولو لپاره مبارزه کوله . د کارمل د واکمنۍ پرمهال چې کشتمند يکې دوهمه څيره وه د هغه مهال په دولتي رسنيو کې پدې اړه داسې راغلي دي: « د ايدئولوژيکي اړخه عملاً د دواړو خواوو ترمنځ اختلاف شتون نه درلود. د سياسي مبارزې په پام کې نه نيولو سره د ګوند دواړو برخو د هغو موخو لپاره مبارزه کوله چې د ا، خ، د، ګ کنګرې او د ګوند مرامي پروګرام ټاکلې وې.» ۹۹/ ۳۹ بل دا چې د لس کلن انشعاب وروسته ولې کارمل او د هغه فرکسيون د تره کي تر مشرۍ لاندې د خلقي اړخ سره بيا يووالي ته غاړه کيښودله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه سره يې سياسي او ايديالوژيکي اختلافونه لرل.دا بيا ښيي چې د انشعاب او بيا يووالي لاملونه بل څه وو چې کشتمند نه غواړي هغه په ډاګه کړي. په هغه صورت کې د ګوند د جوړېدو، انشعاب او بيا يووالي په اړه د کارمل پټې نقشې او موخې بربنډېږي .

همدارنګه د ګوند بل بنسټ ايښودونکی پنجشيري د کشتمند په څېرنه غواړي چې د انشعاب په اړه حقايق وړاندې کړي. هغه د۱۹۶۷ کال د اپريل په مياشت کې د انشعاب پرمهال د کارمل مشرۍ ته غاړه کيښودله خو لږ موده وروسته د کارمل نه جلا ، لومړی يې مستقل سازمان( خلق کارګر) جوړ کړاو د ۹مياشتني فعاليت وروسته بېر ته له خلقيانو سره يوځای شو. هغه هم پخپل کتاب کې لاندې پوښتنو ته چې هغه ولې د ګوند په لومړي انشعاب کې د کارمل سره ولاړ ، ولې له کارمل نه جلا او بيا بيرته له خلقيانو سره يوځای شو حتی اشاره هم نده کړې. ده ته پکار وو چې لږترلږه يې د خپل دې لالهانده منډو ترړو او د کوڅو او لارو د بدلولو په اړه رڼا اچولې وای. البته نور کدرونه لکه محمدطاهربدخشي ، محمدظاهر افق او امان الله استوار چې له خلقي اړخ نه جلا شول د ګوند په کړنلاره کې په ځينو تکتيکي او سياسي مسئلو کې اختلافونه لرل خو د کارمل اړخ د ( ا، خ ،د ، ګ) په نامه او د انشعاب نه مخکې د واحد ګوند د مرکزي کميټې له لوري د تصويب شوې اساسنامې او کړنلارې د منلو او د هغو د پلې کولو په موخه خپل جلا سازمان جوړ او مبارزې ته ادامه ورکوله. د ګوند د اساسنامې او کړنلارې په اړه که هغه د افغانستان د ځمکنيو واقعيتونو سره برابرې وې يا نه مرکزي کميټې د رايو په اتفاق تصويب کړې وې او د هغو د پلې کولو لپاره دواړو اړخونو ګډ او يا جلا جلا فعاليت درلود. عجيبه دا ده ميثاق چې د ګوند د انشعاب وروسته د تره کي سره پاتې شو داسې يو کتاب ليکلی دی چې د هغه د مرګ وروسته خپور شو. هغه په انشعاب کې نبغ په نبغه تره کی نه ملامتوي خو د سياست د الفبا سره آشنا لوستونکي پوهېږي چې پکې د انشعاب اصلي عامل تره کی ښودل شوی دی نه کارمل. پدې اړه بيا دا پوښتنه پيدا کېږي چې که په انشعاب کې د کارمل په پرتله تره کي منفي رول درلود نو ولې ميثاق د تره کي سره پاتې شو، پرچمی نشو خو له مرګه وروسته پرچمی شو. د شته لاسوندونو او روايتونو پر بنسټ د (ا ، خ ، د ، ګ) د انشعاب لاملونه دا دي.

**الف – تکتيکي او سليقوي اختلافونه**

د ګوند د بنسټ ايښودونکو مرکزي څېرو تره کي ،کارمل او بدخشي ګډ فکري اندونه لرل. خو تره کي او کارمل په ځينو تکتيکي مسآلو لکه د پښتونستان د مسئلې، د ګوند د مبارزې د بڼې، ګوند ته د غړو د منلو او د هغوی ټولنيز دريځ ، د ګوندي فعاليت د څرنګوالي او د ګوند د نامه او بيرغ په هکله اختلاف درلود. په کنګره کې کارمل د ګوند له نامه او د بيرغ د رنګ په اړه د تره کي د نظرسره بشپړه همغږي وښودله. د پښتونستان مساله د تره کي له لوري داسې طرحه شوې وه چې هغه بايد د ګوند په کړنلاره کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلاف وړ يوې تاريخي - ملي ستونزې په توګه مطرح شي او د حل لار يې د پښتنو او بلوڅو د ارادې پر بنسټ ليدله. د کارمل او همدارنګه د غلام محی الدين زرملوال له انده د دې مسالې حل د حکومت دنده ده او اړينه نه بريښي چې هغه د ګوند په کړنلاره کې راوړل شي. خو وروسته وليدل شول چې د پښتونستان د ستونزې حل د ګوند په اساسي کرښو کې ځانګړی ځای درلود او دې هم دا معنی لرله چې کارمل د تره کي له ليدلوري سره همغږي ښودلې ده. د ګوند د نامه په اړه تره کي د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند باندې ټينګاردرلود او کارمل بيا د نوي جوړېدونکي ګوند نوم د افغانستان د خلکو ګوند ( حزب مردم افغانستان ) غوښت. دا چې کارمل د حزب مردم افغانستان په نامه د ګوند د نامه غوښتونکی وو پدې دليل د منلو وړ بريښي چې د پرچميانو هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخې چې ځانونه د کارمل د لیکې ربښتیني پلویان شمیري په کال ۲۰۱۲ کې د حزب مردم افغانستان په نامه سازمان جوړکړ. تره کي د ګوند په پټې او کارمل پرعلني مبارزې ټینګار درلود. تره کي د ګوند د غړو طبقاتي دریځ ته ارزښت قایل وو چې د خوارې او منځنۍ طبقې استازي ګوند ته و منل شي او کارمل د غړو طبقاتي او ټولنیز دریځ مهم نه ګڼلو .

**ب- د ګوند د مشرۍ پرسر اختلاف**

د کنګرې د جوړېدو په درشل کې د تره کي او کارمل رول او اعتبار ته په کتو سره دواړو د ګوند د مشرتابه شونتیاوې لرلې . په کنګره کې تره کی د ګوند د مشرپه توګه غوره شو. خو څه موده وروسته د کارمل د پلویانو له لوري تبلیغات کېدل چې تره کي کارمل ته رایه نه وه ورکړې ترڅو د کارمل په پرتله خپل محبوبیت او اعتبار ثابت کړي. پدې اړه کشتمند لیکي: « د کنګرې د پرانیستلو پر مهال د کنګرې غړو ته د کنګرې د لومړنیو سازمان ور کوونکو په توګه ور وپیژندل شول چې دوی دواړو د ګوند د مشرۍ لپاره مساوي او یو شان رول درلود...، کارمل په داوطلبانه توګه دا موقف نورمحمدتره کي ته پریښود.» ۳۹/ ۱۴۲ دا نو بیا د کشتمند خپل ذهني خیالات دي . پدې اړه مخکې ویل شوي وو هر چا چې زیاتې رایې وړې وي هغه به د ګوند مشر وي. دا دموکراتیک او مناسب غوراوی هم وو. کله چې کشتمند د کارمل له لوري په داوطلبانه توګه تره کي ته د ګوند د مشرتابه د پریښودلو ادعا کوي دا ښیي چې په ګوند کې د انشعاب یو لامل خو اصلي لامل د ګوند د رهبرۍ پر سر وو. د کارمل د پلویانو د ادعا خلاف ځیني غلام محی الدین زرملوال او نور میثاق یادوي چې کارمل ته ووټ نه وو اچولی .دا چې زرملوال یا میثاق او د پرچمیانو په ادعا تره کي کارمل ته رایه نه وه ورکړې د مسالې یو اړخ دی خو تره کی د ګوند د مشر په توګه و منل شو. که کارمل ته د هغه غوراوی د منلو وړ نه وو خپل اعتراض به یې کړی وو چې پدې غوراوي کې درغلي شوې ده . یو شوروي ژورنالست چې د کارمل او د ( ا، خ، د،ګ ) له ځینو مشرانو او همدا رنګه له شوروي ملکي او پوځي جګپوړو سره د ګوند او د افغانستان د سیاسي او ټولنیزو بهیرونو په اړه مرکې کړي دي او د هغو پر بنسټ یې کتاب لیکلی دی د ګوند د جوړیدو په مهال د کارمل د خیالونو دا ډول انځورکاږي : « ببرک کارمل د زړه له تله هیله لرله چې د ګوند د لیډر په توګه وټاکل شي. خوهغه ښه پوهیده چې د تره کي په وړاندې چې د بډایې بیوګرافۍ څخه برخمن دی او د میلادي ( څلویښتمو) کلونو څخه د ویښ ځلمیانو په خوځښت کې شامل وو چانس یې کمرنګه دی.» ۶۳/ ۳۱ بارق شفیعي د انشعاب مسئلې ته داسې ګوته نیسي: « د پرچم جریده د خلق د جریدې ادامه ورکوونکې وه. پرچم د خلق سره هیڅ تضاد نه درلود او اصلاً د خلق او پرچم اختلاف یو ایدئولوژیک اختلاف نه وو، سیاسي اختلاف نه وو او د هغوی اختلاف د رهبرۍ پرسر وو. د ګوند په کورني ژوند کې اختلاف چې تره کی یا کارمل؟ کوم یو د ګوند مشري ولري. » ۱۰۰ پدې هکله عبدالعلي ارغنداوي ورته نظر لري او لیکي : « اساسي اختلاف په ظاهره توګه په رهبرۍ وو، او په اصولو کې کوم اختلاف نه وو موجود. » ۱۰۱/ ۱۴۸ پدې هکله یو افغان لیکوال لیکي : « د ګوندي ماشین په د ننه کې کارمل هڅه کوله چې تره کي د ګوند د عمومي منشي له دریځه پسې واخلي خو کله چې پاته راغی نو استعفی یې وکړه. کارملیانو وروسته خپل ملاتړي ورسره واخیستل او خپل ځاني ګوند یې جوړ کړ.» ۳/ ۲۲۹ سلیمان لایق د خپلو خاطراتو په پنځه ویشتم ټوک کې د آیا کارمل واقعا تروریست دی؟ سرلیک لاندې برخه کې لیکي :« د انتخاباتو په نتیجه کې نورمحمد تره کی د عمومي منشي د مقام لپاره ۲۷ رایې او ببرک کارمل ۲۶ رایې وګټلې او په دې توګه نورمحمدتره کی د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوندعمومي منشي شو .ببرک کارمل له هماغه شیبې ، یعنې ۱۳۴۳ کال د جدې له یوولسمې نېټې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ګوند لومړنۍ کانګرې ګډون کونکو یو له بل د افغانستان له خلکو سره د وفادرۍ لوظ او لوړه کړې وه ، ببرک کارمل د تره کي پرضد او د ده د شخصیت د تخریب لپاره ملا وتړله ...، کارمل د مبارزې او شخړې په دوام کله چې پوه شو چې نورمحمد تره کی په آسانتیا له میدان څخه نشي ایستلای د خپلو روشنفکرانه هوسونو په څېو کې دې ته راغی چې نورمحمدتره کی په فزیکي لحاظ له میدان څخه وباسي،ځکه خو نوراحمدنور ، وکیل او محمود بریالي د مرکزي کمیټې له ملګرو سره په ډېر احتیاط او په غیر رسمي توګه کار پیل کړ...، نور احمدنور تر اوږدې مقدمې وروسته وویل مثلاً زموږ په ګوند کې د انشعاب د لرې کولو او د پرچمي – خلقي د وحدت د تامین لپاره ضروري ده نورمحمد تره کی له منځه لرې کړو.» د لایق دا خبره ښیي چې کارمل او ترهګرو ملګرو یې د تره کي د ترور هوډ هم درلود تر څو کارمل د ګوند مشرۍ ته ورسیږي.

د پورتنیوڅرګندونو څخه دا پایله راوزي چې د ګوند د انشعاب اصلي لامل د رهبرۍ پر سر وو. تره کي د ګوند رهبرۍ ته رسیدلی وو خو کارمل د هغې څخه بې برخې وو نو هماغه دې چې کارمل هغې ته د رسیدو په موخه مبارزه پیلوي. په لومړیو کې د کارمل مبارزه پر دې راڅرخېده چې تره کی تجرید او بې اغېزې کړي او حتی له منځه یوسي خو کله چې پدې کار کې پاتې راغی د خپلو پلویانو سره د ګوند څخه ووت او د ( ا، خ ، د ،ګ ) په نامه یې خپل سازمان جوړکړ چې په تولنه کې د پرچم په نامه وپیژندل شو.

**ج- د ګوندیانو د ټولنیز دریځ توپیر**

د شوروي اتحاد او د هغه سره جوخت د وارسا د تړون له ړنګېدو وروسته چې نور د طبقاتي مبارزې او د پرولتري انترناسیونالیسم شعارونو بازار نه درلود. لویدېځ د خپل پیاوړي تبلیغاتي ماشین او نورو شونتیاوو پر مټ په وروسته پاتې هیوادونو کې قومي ،ژبنیو او مذهبي مخامختیا او ټکرونو ته لمن وهل پیل کړل. افغانستان د چنګاښ د ۲۶ انقلاب وروسته د زبرځواکونو او ګاونډیانو د سیالیو او کشمکشونو په ډګر اوښتی وو. پدې زماني پړاو کې ستر ځواکونه او ګاونډیان په دې بریالي شوي دي چې په یو شمیر سیاستوالو او د نظراو قلم په خاوندانو پانګه واچوي . همدا ډله وګړي دي چې د روباتونو په څیر څه ډول یې چې کوک او چمتو کړي همغسې په خبرو او خوځښت راځي او د هیواد پیښو او قضایاوو، شته ستونزو او ناخوالو ته د قوم ، ژبې ،سیمې او مذهب له کړکۍ ګوري. پردې بنسټ دي چې دا ډله وګړي د ( ا، خ ، د ، ګ ) انشعاب ته قومي بنه ورکړي. هغوی خپل دا ناسم حکمونه صادروي چې ګواکې د تره کي تر څنګ پښتانه او د کارمل سره غیر پښتانه ودریدل. پداسې حال کې چې هغه مهال د نوموړي ګوند په یوه اړخ کې هیڅا په بربنده توګه د قومي او ژبنیو تړاوونو خبره نه را پورته کوله . هغه مهال په ګوند کې واکمن ذهنیت دا وو چې د افغانستان د وروسته پاتې والي اصلي لامل طبقاتي ستم او د حل نسخه یې د تولید پر وسایلو د ډله ئیزحاکمیت ټینګښت ګانه. ښه بیلګه یې دا وه کله چې په خلقي اړخ کې محمد طاهربدخشي د ملي مسئلې د حل خبره ډېره زمزمه کوله او بیا یې خپله لار جلا او د( انتظار د محفل ) په نامه یې خپل سازمان جوړ کړ سمدلاسه همدې د (ا ، خ ، د ،ګ) نوموړی سازمان د ستمیانو په نامه تبلیغ کړ او په همدې نامه په ټولنه کې وپیژندل شو . هغه ډله څیرونکي چې د ګوند انشعاب قومي تړاووړنه ګڼي د انشعاب پرمهال د دې ګوند د دواړو ډلو د مشرتابه لاندې قومي تړاو د هغوی د ادعا ناسموالی ښیي.

الف- د تره کي ترمشرۍ لاندې د خلقي اړخ د مشرتابه قومي تړاو.

| | | |
|---|---|---|
| ۱-نورمحمدتره کی | د مرکزي کمیټې اصلي غړی | پښتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲-محمدطاهربدخشي | د مرکزي کميټې اصلي غړی | تاجک |
| ۳-دکتورصالح محمدزيری | د مرکزي کميټې اصلي غړی | پښتون |
| ۴-دکتور شاه ولي | د مرکزي کميټې اصلي غړی | تاجک |
| ۵-عبدالکريم ميثاق | د م،ک علی البدل غړی | هزاره |
| ۶-دکتورمحمدظاهرځدران | د م،ک علی البدل غړی | پښتون |
| ۷-محمداسمعيل دانش | د م،ک علی البدل غړی | قزلباش |
| ۸-حفيظ الله امين | د م، ک علی البدل غړی | پښتون |
| ۹-محمدظاهرافق | د م،ک علی البدل غړی | پښتون |
| ۱۰-دکتورعبدالمحمد درمانګر | د م،ک علی البدل غړی | پښتون |

ب- د ببرک کارمل ترمشرۍ لاندې د پرچمي اړخ د مشرتابه قومي تړاو.

| | | |
|---|---|---|
| ۱-ببرک کارمل | د مرکزي کميټې اصلي غړی | تاجک |
| ۲-غلام دستګيرپنجشيري | د مرکزي کميټې اصلي غړی | تاجک |
| ۳-شهرالله شهپر | د مرکزي کميټې اصلي غړی | ازبک |
| ۴-سلطانعلي کشتمند | د مرکزي کميټې اصلي غړی | هزاره |
| ۵- نوراحمدنور | د مرکزي کميټې اصلي غړی | پښتون |
| ۶ -عبدالوهاب صافي | د م، ک علی البدل غړی | پښتون |
| ۷-عبدالحکيم شرعي جوزجاني | د م،ک علی البدل غړی | ازبک |
| ۸- محمدحسن بارق شفيعي | د م،ک علی البدل غړی | تاجک |
| ۹- غلام مجدد(سليمان لايق ) | د م،ک علی البدل غړی | پښتون |

پورتنی ترکيب ښيي چې په دواړو اړخونو کې د هيواد د سترو قومونو استازي ليدل کيږي . البته بله ډله څيړونکي چې په ګوند کې د انشعاب لامل قومي تړاو ګڼي د قضاوت معيار يې په ګوند کې ځينې پيښې او پدې پيښو کې د نوموړي ګوند د ځينو مشرانو دريځونه دي. د ساري په توګه محمداکرام انديشمند د اسلامي جمعيت کدر پدې هکله داسې ليکي :« د افغانستان په خلق دموکراتيک ګوند کې د هغه د واکمنۍ په زمانه کې کودتا ګاني او حتی د مجاهدينو له تنظيمونو سره د ګوند د واکمنۍ د نسکورېدو په درشل کې جوړجاړی د قومي او قبيلوي تفکر ريښې لرلې. د۱۳۶۹ کال په کب کې د خلق له لوري د شهنوازتڼي او ګلبدين حکمتيار کودتا ، بيا د ۱۳۷۱ کال په ثور کې د حکمتيار سره د اسلم وطنجار او رازمحمدپکتين ترمشرۍ لاندې د همدې اړخ ملتيا ، په همدې وخت کې د احمدشاه مسعود سره د پرچم د اړخ ملتيا او ګډون...، ريښه يې په دموکراتيک خلق کې قومي تمايلات دي. » ۸۷/ ۹۳- ۹۴ که چيرې د دې ادعا سره همغږي شو چې تڼي او حکمتيار په ګډه د نجيب الله خلاف کودتا کوله دوی دری واړه پښتانه او د پښتنو د غلزيو په څانګه پورې تړاو لري. دلته بيا قومي تړاو څه چې د قبيلوي تړاو خبره هم سمه نه ده. پر بله خوا پاکستان ته د تڼي سره په تښتېدلو جنرالانو کې تاجک توکمه کسان او حتی يو بدخشۍ جمعيتی د کابل پوهنتون استاد هم وو. همدارنګه د پرچميانو او مسعود ترمنځ جوړجاړي کې د ناپښتنو پرچميانو سربيره پښتنو هم شتون درلود او په مخالفت کې يې غيرپښتانه پرچميان هم ودريدل. څرګند ساری يې غيرپښتون غلام فاروق يعقوبي د امنيت وزير دی چې د خپل ژوند تر پايه د پښتون نجيب الله تر څنګ ولاړ وو او د نجيب الله سره د هغه دربېدل د دې سبب شول چې د نجيب الله ِ مخالفين او په غالب ګومان پرچمی يارمحمد د مزدک ورور هغه ووژني . د مسعود سره جوړجاړی د ټولو ناپښتنو پرچميانو جوړجاړی نه بلکه د ړندو قومي متعصبوکارمليانو او مسعوديانو ترمنځ جوړجاړی وو. هغه پرچميانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مسعود سره جوړجاړی کړی وو ټول يې غير پښتانه نه بلکې پښتانه هم يکې وو چې جنرال نورالحق علومي او جنرال عظيم زرمتي يې ځرګند ساري دي. که چيرې د مسعود سره د غيرپښتني پرچميانو يووالی ومنل شي دا بيا ښيي چې اسلامي جمعيت هم تاجکي تنظيم وو. پردې بنسټ ويلی شو چې د ګوند انشعاب د قومي او قبيلوي تړاو پر اساس نه بلکې د مشرتابه اوغړو د طبقاتي تړاوونو او ټولنيز دريځ پربنسټ صورت ومومند. که چيرې د ا، خ ، د ،ګ د دوو سيالو اړخونو د مشرتابه او کدرونو طبقاتي تړاوونو ته وکتل شي د خلقي اړخ غوڅ اکثريت غړي د ټيټې طبقې او کليوالي چاپيريال څخه سر راپورته کړی او د پرچم اړخ ډيری د ټولنې په شتمنو او ښاري چاپيريال پورې تړاو درلود. «پرچميان ، د خپلو شعارونو سره سره د کارګرې طبقې څخه نه ول، حال دا چې د خلقيانو له منځه ډير د کروند ګرو کورنيو څخه ول ،... پرچميان د خپلې ښاري سابقې پر اساس ډير لويديځ ډوله ول، او ويل کيږي چې زياتره وخت به يې ګوندي غونډې په ډيسکو ډانس سره پای ته رسولې. » ۳/ ۲۲۳ ، ۲۲۷ پداسې حال کې چې هغه مهال کليوالي خوارو خلقيانو يوازې د ډيسکو او ډانس نوم اوريدلی وو او د هغوی يوازې ملي اتڼ زده وو. د خلق او پرچم طبقاتي او ټولنيز توپير ته بهرنيو هم ګوته نيولې ده . « د هغوی ترمنځ د ټينګو شخړو علت اصلاً په مفکوره کې دومره نه وو، څومره چې په عنعنوي منابعو کې نغښتی وو. يعني توکميز توپيرونه، ټولنيزتوپيرونه او د کابل او ولايتونو ترمنځ دوه اړخيزه تحميلي اهانت او سپکاوی.» ۱۰۲ /۱۴۱ دوه شوروي جنرالان ( ګوريلوف او مايوروف) چې لومړی يې د خلقيانو په واکمنۍ کې د دفاع وزير سلاکار او دوهم يې د کارمل پوځي سلاکار دی ورته ليدلوری لري لومړی يې ليکي:«خلقيان عمدتاً د ټولنې له ټيټ قشر څخه راوتلي وو او پرچميان بالعموم د متوسطې او لوړې بورژوازۍ او فيوډالي کړيو، يعني اساسي اختلاف طبقاتي توپيرونه دي .» دوهم يې پدې اند دی چې« پرچم د شتمنو افغانانو لکه منځنيو اوغټو ځمکوالو ، د روڼ اندو د سر سر کسانو او د لوړو ملکي او پوځي مامورينو استازي وو. په خلق کې نور ګرده پاتې کسان راټول شوي وو. » پدې هکله امريکايي څيړونکی سليک اس هاريسون ليکي :« د دواړو اړخونو ترمنځ ايدئولوژيک اختلاف د ټولنيزو توپيرونو تر پوښ لاندې پټېده . زياتره پرچميانو د ښاري پورتنۍ طبقې څخه سر را پورته کړی وو او په فارسي ژبه يې خبرې کولې. ډيرو يې د واکمنو نخبه ګانو سره کورنۍ اړيکې لرلې ، خلقيانو په هغوی د ( سلطنتي کمونست ګوند) ټاپه وهله. حتی د پرچميانو پښتنو هم په دري ژبه خبرې کولې او د فرهنګي نظره يې د پښتنو د قبيلوي ژوند سره واټن نيولی وو. په مقابل کې خلقيان د پښتنو د مخ په ودې تحصيل کړې متوسطې طبقې د ټيټ قشر استازيتوب کاوه. » ۴۷/ ۱۸

د امريکايي څېړونکي په ځرګندونو کې د خلقيانو او پرچميانو د طبقاتي دريځ او ټولنيز ترکيب ځرګند توپير ترسترګو کيږي خو د هغه په ارزونه کې لکه د ډيرو نورو په شان دا تشه شتون لري چې د دواړو اړخونو ترکيب ته يې قومي بڼه هم ورکړې ده . د طبقاتي تړاو پرته ښايي د پاچا او سلطنتي کورنۍ سره د پرچم د مشرتابه اړيکو د ګوند په انشعاب کې هم خپل رول لوبولی وي. لکه څرنګه چې د حزب دموکراتيک نوين ( شعله يانو ) لومړی انشعاب هم د دربار سره د نوموړي سازمان د مشر اکرم ياري اړيکو رول درلود. د نوموړي سازمان د مشرتابه څخه انجينرعثمان د پس منظر په نامه يوه ليکنه کې « اکرم ياري پدې دليل د انقلابي مبارزې صلاحيت نه لرونکی او ناوړه اعلان کړ چې هغه څه موده د ظاهرشاه په کورکې اوسيدلی وو.» ۱۰۳ د سلطنتي کورنۍ او يا دربار سره د کارمل د اړيکو په اړه ډېری سياسي ډلو او سياستوالو ځرګندونې کړې دي. پدې هکله صباح الدين کشککي ليکي :« په رښتيا سره کارمل هميشه پاچا ليده او دربار ته يې تګ او راتګ درلود. ( پاچا دا موضوع دې ليکوال ته ويلې وه) همدارنګه ببرک کارمل په سلطنتي کورنۍ پورې تړليو د واکمنې دستګاه د ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړو سره نږدې اړيکې لرل.» ۳۲/ ۱۷۱ همدارنګه د پرچم د فرکسيون د رهبرئ وتلې څېرې اناهيتا راتبزاد په سلطنتي کورنئ کې لويه شوې وه ځکه چې د هغې مور د صدراعظم شاه محمودخان په کور کې کار کاوه. کله چې يو سياسي ګوند د خپل هيواد وروسته پاتې والی په طبقاتي ستم کې ويني بېله شکه په دې ګوند کې د ټيټې او محکومې طبقې د استازو سره دا پوښتنه پيدا کيږي چې څه ډول يو فيوډال ، پانګوال ، د سوکاله ژوند خاوند د خپلې طبقې په وړاندې درېږي. پداسې يوه ګوند کې دا طبقاتي او ټولنيز توپير د دې لامل کيږي چې د دښمنو طبقو استازي په يوه سياسي خوځښت کې ګډ فعاليت ونشي کړای. افرآسياب ختک د پولې د هغې خوا سياستوال د کارمل د کليوالي ضد او ښتني ضد روحيې په هکله وايي: « دري ويونکي کابليان لکه کارمل اکثرآ پښتو ژبو ته پېنې ګردي يا کليوال پېنې لوڅي ويل. » ۴۷ / ۲۰۱ په طبقاتي ټولنو کې دا ناشونې برېښي چې شتمن او بيوزلي ، بډای ښاري او خوار کليوال دې په يوه دسترخوان سره کښيني او په يوه سياسي غورځنګ کې چې دا سياسي خوځښت د طبقاتي مبارزې پر محور څرخيږي ګډه مبارزه او فعاليت وکړي. د ( ا ، خ ، د ،ګ) د غړو د طبقاتي او ټولنيزو دريځونو توپير چې د هغوی په ورځنيو کړووړو او راشه درشه کې ليدل کيده د دې سبب شو چې هغوی د خپل طبقاتي او ټولنيز دريځ، کليوالي او ښاري تړاوونو له مخې سره جلا شي او په دوو ډلو چې شتمن او ښاريان په يوه ،خواران او کليوال په بل سازمان کې سره راغونډ شي . که چيرې ګوند د طبقاتي مبارزې پر بنسټ خپله تګلاره نه وای غوره کړې ښايي په ګوند کې شته طبقاتي او ټولنيزو توپيرونو خپل منفي رول نه وای لوبولی. که څه هم هر سياسي سازمان نه مذهبي سازمان د ټولنې د ځانګړو طبقو او قشرونو د ګټو مخکښ او مدافع ګڼل کيږي. د ( ا، خ ، د، ګ) په نامه سازمان خو په واقعيت کې د دوو مختلفو ټولنيزو دريځونو او مخالفو دښمنو طبقو استازو د څه پاسه دوو کلونو وروسته د۱۹۶۷ کال د می په څلورمه خپلې لارې سره جلا کړې او په خپلو جلا جلا سازمانو کې يې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ او د خلکو خبره « کبوتر با کبوتر و زاغ با زاغ يکجا کنند پرواز» له مخې هر څوک د خپل جنس له مخې په دوو ډلو وويشل شول او په افغانستان کې د بې طبقاتو ارماني ټولنې د جوړولو په لور والوتل.

### د – په انشعاب کې د مسکو لاس

ټول دولتونه د نورو دولتونو سره د خپلو ملي ګټو پر بنسټ اړيکې پالي او ډېر لږ ليدل شوي دي چې ځواکمن دولتونه پدې اړيکو کې رښتيني وي او د نورو په کورنيو چاروکې له لاسوهنو ډډه وکړي. شوروي اتحاد لدې څخه نشي مستثنی کېدای. شوروي اتحاد چې د ۱۹۱۹ کال راهيسې د افغانستان سره سياسي، اقتصادي او کلتوري اړيکې لرلې او د وخت په تېرېدو سره يې لمن پراخېده او ګڼ شمېر متخصصينو يې د هيواد په دولتي بنسټونو کې موجود وو. د دواړو دولتونو ترمنځ دې ډول اړيکو شوروي اتحاد ته د يوه زبرځواک په توګه دا امکانات ورکول چې يو شمير افغان دولتي چارواکي او سياستوال وپيري. په افغانستان کې د مسکو د سترګو وړ اغيز له کبله د امکان څخه لېرې نه ده چې د ( ا، خ ، د ،ګ ) په بنسټ اېښودونکو کې مسکو داسې افراد لرل چې د شورويانو د لاربښوونو پربنسټ يې ګامونه اوچتول. د ګوند د بنسټ ايښودو پرمهال کرملن ناستو دا خيال درلود چې دوی ته وفاداره او په دوی پورې تړلې څېره د ګوند مشري ترلاسه کړي چې د هغه په واسطه خپلې نقشې د دې ګوند له لارې پلې کړي. د دې ګوند د جوړيدو وروسته بهير او د مسکو دريځ وښودل چې د ګوند په مشرئ کې د تره کي په راڅرګنديدو سره کرملن نهيلی شو چې د دوی د پام وړ کس د ګوند په مشرتابه کې راڅرګند نشو نو پدې هڅه کې شو چې د خپلې دې باوري څېرې پواسطه پر ګوند انشعاب تحميل کړي . پدې اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک دموکراتیک گوند ځیني کدرونه او په هغو کې میثاق د گوند انشعاب ته هم لدې کړکۍ گوري او لیکي:«کارمل لکه چې په خپله ارزونه او یا ښایي د نړیوالي سرچینې څخه په الهام سره دې پایلې ته رسېدلی وي ښه فرصت دی چې له تره کي جلا شي .» ۷۹/ ۶۹ په نړۍ کې د شوروي پلوه گوندونو په اړه د مسکو د سیاست په هکله امریکایي شوروي پیژندونکی هنری برادشر لیکي :« د کی جی بی استازو نه یوازې په کمونست گوندونو کې انشعابونه تشویق کړي بلکې د هغو الهام ورکوونکي هم وو ترڅو پدې ډول د هرې ډلې څخه د مسکو د موخو لپاره گټه پورته کړي.» ۱۰۴ / ۵۲ که چېرې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل نه وای کړی یو شمېر څېړونکو او همدا رنگه خلقیانو به د برادشر پورتنۍ ځرگندوني بابیزه گڼلي وای چې څرنگه به مسکو د (ا، خ،د، گ) چې د شوروي اتحاد دوست گوند وو هغه ټوټې کړي. شورویانو د خپل څه کم لس کلن اشغال پر مهال بیا هم هڅه ونکړه چې د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ ارگانیک یووالی ټینگ شي بلکې د دواړو اړخونو څخه یې گټه پورته کوله خو هڅې یې د پرچم د ډلې په پیاوړتیا او د خلقیانو په کمزورتیا څرخېدلې. لامل یې دا وو چې خلقیان یې د ناسیونالستانو او پرچمیان یې د انترناسیونالستانو په نامه پېژندل. لیکوال ته یوه خلقي پوځي چې د محمدداود د واکمنۍ پرمهال په نوي دهلي کې زده کړې کولې ویلي دي. یوه ورځ په یوه کافي کې چې هلته به د ایران د تودې گوند غړي راټولېدل مجلس درلود او ما هم د خپل خلقي توب خبره ورته وکړله . توده یانو وویل چې خلقیان ناسیونالستان دي او هغوی انقلابیون نه دي بلکې پرچمیان په افغانستان کې اصلي انقلابیون دي. پدې اړه محمدالله صافی خلقي کدر وایي: « په پولېتخنیک کې د زده کړو پر مهال می د خپل شوروي استاد څخه د یوه روسي کتاب غوښتنه وکړه. هغه راڅخه پوښتنه وکړه چې ته د کومې سیاسي ډلې سره تړاو لرې او مشر یې څوک دی. ما ورته وویل چې خلقي یم او مشر مو نورمحمد تره کی دی. ځو ورځې وروسته استاد را ته وویل چې تاسو انقلابیون نه بلکې ناسیونالستان یئ. څرنگه چې زه کمونست نه یم دا کتاب نشم پیدا کولی.کله چې زه د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته ولاړم همدا استاد زما رهنما وو او سربېره پردې د انستېتوت د گوندي کمېټې منشي هم وو. ما ترې وپوښتل تاسي په افغانستان کې ویل چې کمونست نه یې خو اوس وینم چې د گوندي کمېټې منشي یې. استاد وویل چې په افغانستان کې د کی جی بی د غړو پرته نورو شورویانو اجازه نلرله چې د افغانانو سره اړیکې ټینگې کړي.» همدا لامل وو چې مسکو نه غوښتل چې د ناسیونالست تره کي ترمشرۍ لاندې گوند پیاوړی شي او د کارمل پواسطه یې پرې انشعاب تحمیل کړ.

د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند چې هغه مهال د افغانستان د خلکو د دموکراتیکې ټولنې په نامه یادېده د۱۹۶۷ کال د مې په میاشت کې په دوو ډلو پرته لدې چې د ټولنې د رهبرۍ ( مرکزی کمیټې ) په غونډه کې پرې بحث وشي او یا کومه اعلامیه یا ابلاغیه خپره شي د نورمحمدتره کي او ببرک کارمل ترمشرۍ لاندې په دوو برخو وویشل شو او د افغانستان د دموکراتیکې ټولنې په نامه یې جلا سازماني او سیاسي مبارزې ته ادامه ورکړه. دا چې دا ټولنه په دوو برخو وویشل شوه هغه وخت عملي جامه واغوستله چې د مرکزي کمیټې نوبتي غونډې ته چې د مې په پنځمه( غویي څوارلسمه) د پنجشنبې په ورځ د زیري په کور کې دایرېده کارمل او د نوموړي پلویان غونډې ته رانغلل معنی یې دا وه چې ټولنه « گوند» په دوو برخو وویشل شوه. البته چې د دې غونډې نه مخکې د انشعاب نښې نښانې څرگندې شوې وې او تره کي ته د کارمل پلویان معلوم وو.خو د کلیوالي پنجشیري دریځ ورته څرگند نه وو. تره کي د هغه د دریځ د معلوملو په موخه زیری او بدخشي هغه ته استولي وو. نوموړو پنجشیري ته ویلي وو که چیرې « کارمل وغواړي له گونده څخه بیل شي دی ورسره ځي که څنگه ؟ هغه ویلي و تاسو بیغمه اوسئ زه له گوند څخه نه بیلیږم. » ۴۰/ ۱۷۲ خو پنجشیری د خپلې ژمنې خلاف د کارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ولاړ. د ګوند څخه د کارمل او ملګرو د تګ په اړه تره کي ګلدادخان د هغه مهال د ننګرهار د ګوندي کمېټې مسؤل ته ویلي وو :« کله چې زه د ببرک کارمل له خوا څخه د بېلې او جلا ډلې جوړولو په هڅو کولو باندې خبر شوم ، نو د مرکزي کمېټې په پراخې غونډې ( د مرکزي کمېټې د علی البدل غړو په ګډون) کې مې هغه ته وویل چې دغه کارونه پرېږده ! دا ډول چارې چې تا پیل کړې دي ، نه تا ته ګټه رسوي او نه ګوند ته کومه ګټه لري. دا چارې زموږ ګوند او ډله کمزورې کوي. کارمل زما دا انتقاد پر ځان باندې بد ومنلو او هغه عصبي شولو او غبرګون یې وښود. د مرکزي کمېټې په بلې ور پسې غونډې کې موږ ډېر انتظار وایستلو، خو کارمل او د مرکزي کمېټې څو تنه نور غړي غونډې ته را نغلل. د مرکزي کمېټې په هېڅ کومې غونډې کې ، داسې خبرې چې ګنې دوی ( کارمل او ملو یې ) ځانله بېله ډله جوړوي ، نه وې شوې. دوی موږ( د مرکزي کمېټې نورو غړو) ته د مرکزي کمېټې غونډې ته د نه راتګ څخه خبر هم نه وه راکړی. هغوی د مرورو کسانو په څېر، په پټو خولو یو ځایي او ګډ ګوندي فعالیت را پرېښود.» ۱۰۵/ ۱۷۷ ــ ۱۷۸ د انشعاب په هکله شوروي لیکوال لیاخوفسکي ( د افغان غمیزه اومیرانه) نومي کتاب د ۱۸- ۱۹ مخونو کې لیکي: «د ا، خ ، د، ګ د جوړیدو وروسته ډیر ژر د هغه په مشرتابه کې د رهبرۍ پرسر د نورمحمدتره کي او ببرک کارمل ترمنځ مبارزه پیل شوه. وروستی چې په پارلمان کې د استازي په توګه ټاکل شوی وو لدې څخه ځوریده چې په ګوند کې دوهم رول لري. همدا رنګه د ځینو تکتیکي مسئلو په اړه اختلاف شتون درلود. د بیلګې په توګه ببرک کارمل او د ا، خ ، د ، ګ په مرکزي کمیټه کې د هغه پلویانو په ګوند کې د علني مبارزې په پیاوړتیا ټینګار درلود... ، نورمحمدتره کي پټو فعالیتونو ته لومړیتوب ورکاوه...، ګوند ته د جذبولو په اړه د ببرک کارمل وړاندیز دا وو چې د نوماندانو طبقاتي دریځ ( منشآ) ته پام را ونه ګرزول شي، یوازې د هغوی نظر او په ګوند کې د کار لیوالتیا ته وکتل شي. د ببرک کارمل دا دریځ د اریستوکراسۍ د استازو او د سلطنتي کورنۍ د ځینو غړو سره د نږدیوالي له امله وو ځکه چې هغه یو وخت د پښتونستان د اتحادیې فعال غړی وو چې شهزاده محمدداود جوړه کړې وه، هغه د (ا، خ ، د ، ګ) ته شاه محمد دوست د صدراعظم د قلم مخصوص مدیر او نورو لوړو دولتي چاروا‌کو د جذبولو وړاندیز کړی وو. نورمحمدتره کي پدې هکله مخالفت وښود پدې دلیل چې د ( ا، خ ، د، ګ ) ته د شتمنو او د سلطنتي کورنۍ د غړو منل طبقاتي پرنسیب ماتوي او په پایله کې په خلکو کې د هغه اتوریته له منځه وړي...، په غبرګون کې ببرک کارمل د۱۹۶۶ کال په پسرلي کې د خپلو پلویانو سره د مرکزي کمیټې څخه ووت او د پرچم په نامه یې نوی فرکسیون « پرچم » جوړ کړ چې رسماً یې ځان د ا، خ ، د ، ګ ( د ټولو زیارایستونکو مخکښ) ګانه. » ۴۹/ ۱۸- ۱۹ پورتنۍ څرګندونې ښيي چې د ګوند د انشعاب لاملونه د ګوند په مشرتابه کې که له یوې خوا طبقاتي توپیرونه دي له بله پلوه د رهبرۍ پرسرسیالي هم ده. البته د پورتنیو دوو لاملونوسربیره مسکو هم په انشعاب کې لاس درلود. د ( ا، خ ، د ، ګ) انشعاب چې هم یې ګوند او هم افغانستان ته ډېرې بدمرغۍ راوړې ددې انشعاب عامل به د پرچمي عبدالقدوس غوربندي پدې وینا کې ولولو: « ببرک کارمل د لومړي انشعاب نه مخکې خپل ګوندي پلویان د دریو غونډو په ترڅ کې د ۱۳۴۵ کال په ژمي کې یوځل په شهرآرا کې د هادي کریم په کور او دوه ځله په مرادخاني کې د سلام خان په کور کې را غونډ کړل...،دا غونډې معمولاً د کارمل د شپاړلسو پلویانو په ګډون جوړېدې. هغه غونډې چې د نورمحمد تره کي د ګوند د عمومي منشي د نه خبرتیا پرته د کارمل په مستقیم دستور او لارښوونه په بشپړډول پټې جوړیدې. دا په حقیقت کې د ۱۳۴۶ کال د غویی د۱۴ د انشعاب پیل وو چې په هغو کې د ګوند د یوې سترې برخې پرضد کدرونو او فعالینو ته تبلیغاتي او سازماني فورمولونه ورکول کیدل. لدې امله په زغرده ویلی شو چې په غورځنګ کې د لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انشعاب او د لسو کلونو د جلاوالي او بې اتفاقۍ د سترو مصیبتو پړه د ببرک کارمل په غاړه ده. » ۸۰/ ۱۹ـ ۲۰

## د یوه نامه لاندې دوه ګوندونه

د۱۹۶۷ کال د مې په څلورمه ( ۱۳۴۶ کال غويي څوارلسمه ) د ا، خ، د، ټ (ګوند) د مرکزي کمیټې په نوبتي غونډه کې د کارمل او د هغه د پلویانو نه ګډون معنی دا وه چې دوی دا ګوند پرېښود خو هغوی د سیاسي مبارزې لاس پر سر نشول بلکې د ا، خ، د، ټ ( ګوند) په نامه یې فعالیت ته دوام ورکړ، پدې توګه په هیواد کې تر یوه نامه لاندې دوه ګوندونه را څرګند شول پدې توپیر چې د تره کي اړخ ځان د کارګرې طبقې او د کارمل ډلې د ټولو زیار ایستونکو مخکښ ګڼه. هرې ډلې مقابل لورى انشعابګر، ځان اکثریت او مقابل لورى اقلیت باله او پدې اړه یې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په شان د بلشویکانو او منشویکانو اصطلاحات کارول. د کارمل اړخ استدلال کاوه چې تره کی د اقلیت مشر دی ځکه د ګوند د مرکزي کمیټې د اصلي غړو زیات شمیر چې د رایې ورکولو صلاحیت لري د ده تر رهبرۍ لاندې مبارزه کوي. پر بله خوا د تره کي پلویانو ویل چې موږ اکثریت یو او د ګوند د مرکزي کمیټې لس تنه ( څلوراصلي او شپږ علی البدل) غړي زموږ سره پاتې دي او کارملیان په اقلیت کې دي چې ټولټال ۹ تنه د مرکزي کمېټې اصلي اوعلی البدل غړي ورسره تللي دي . د انشعاب پر مهال د ګوند د مرکزي کمیټې غړي نولس تنه وو چې ۹ تنه یې اصلي او لس تنه یې علی البدل غړي وو. د کارمل د ډلې له لوري د خلقیانو په پټه د منشویکانو تبلیغاتو تر هغه دوام وموند چې د هغه نه په کال ۱۹۶۹ کې درى تنه دستګیرپنجشیري ، شهرالله شهپراو شرعي جوزجاني چې لومړي دوه یې د انشعاب نه مخکې د مرکزي کمیټې اصلي او دریم یې علی البدل غړى وو بېل شول او د خلق کارګر په نامه یې جلا سازمان جوړ کړ. لدې پېښې وروسته د پرچم په خپرونو، اعلامیو او تبلیغاتو کې د خلقیانو په پټه نور د منشویکانو اصطلاح نه استعمالېده . کله چې د شهپر پرته پنجشېرى او شرعي او پلویان یې له خلقیانو سره یو ځاى شول ، د خلقیانو د تبلیغاتو تله درنه شوله چې پرچمیان په مطلق اقلیت کې دي . البته شهپر د مبارزې څخه لاس واخېست.خلقي اړخ ته د خلق کارګر د ډلې راتګ د خلقیانو تبلیغاتو ته نوې بنه ورکړه چې د ګوند څخه جلا شوې کړۍ به هرومرو بېر ته په خپل محور( تره کي ) را ټولې شي . د پرچمیانو سره ددې ډلې پریکون او له خلقیانو سره یې یووالی د پرچمیانو په لاریونو منفي اغېز پرېښود او د خلقیانو لاریونونو رونق وموندلو. د انشعاب وروسته دواړو ډلو د خپلو لیکو د پیاوړتیا او د خپلو هدفونو د بیانولو لپاره هلو ځلو ته دوام ورکړ. خو د دواړو اړخونو هڅې د دې پر ځاى چې په دولتي ادارو کې فساد بربنډ، د هیواد د وروسته پاتې توب لاملونه، د ارتجاعي روحانیت ټګي او برګې افشا ، د پرګنو د پوهاوي، د مترقي غورځنګ د غښتلتیا، د ملي دموکراتیکو ځواکونو د یووالي لپاره راوګرزوي د یوبل په تخریب لګیا وو. پرچمیانو د خلقیانو مشران د امریکې جاسوسان ګڼل او دلیل یې دا وو چې یوشمېر مشرانو یې په امریکې کې زده کړې کړې او تره کی په امریکا کې د افغانستان په سفارت کې مطبوعاتي آتشه وو. خلقیانو د پرچم ګوند سلطنتي ګوند بللو. د خلقیانو دلیل دا وو چې د انشعاب سره سم خلقي اړخ د واکمنۍ د فشار سره مخ شو یو شمیر مشران او کدرونه یې د پلازمېینې نه اطرافو ته تبدیل کړل شول چې په هغو کې د مرکزي کمیټې دوه غړي زیرى او شاه ولي هم شامل وو. بل دا چې د انشعاب وروسته حکومت کارمل ته د پرچم د جریدې د خپرولو امتیاز ور کړ خو خلقیانو ته دا امتیاز نه ورکول کېږي. پدې اړه د مطبوعاتو وزیر ډاکترانس د تره کي په عریضه لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو: «آغای نورمحمدتره کي ! به شما قبلاً امتیاز جریده خلق داده شده بود، ولي جریده از طرف مشرانو جرگه متوقف گردید. لهذا بشما نه بنام خلق و نه به کدام نام دیگر امتیاز جریده داده نمیشود. » ۴۰/ ۱۹۹ د خلقیانو مشرتابه د وزیر دا امرعکاسي یا فوتوکاپي کړی وو او په گوندي حوزو کې یې غړو ته ورښودلو چې جنرال زاده کارمل ته د دربار د نماینده په توگه دا امتیاز ورکړ شوی دی او موږ ته نه راکول کیږي. پرچمیانو چې د پرچم د جریدې د خپرولو امتیاز درلود او د تبلیغاتو ښه وسیله یې لرله او سربېره پردې د ملي شورا په دوولسمه دوره کې یې دری تنه وکیلان هم لرل چې د شورا له ستېژ څخه په خپله گټه استفاده وکړي خو خلقیانو دا شونتیاوې نلرلې. خلقیانو به کله نا کله د نورو آزادو جریدو له لارې خپروني کولې . په ۱۹۶۸ کال کې د افغان ملت په پنځوسمه گڼه کې د خلقیانو یوه اعلامیه چې « پرچم د ا، خ ، د، گ سره هیڅ سازماني تړاو نلري » خپره کړه . دا اعلامیه هغه وخت ورکړل شوه چې پرچم هڅه وکړله په پارلمان کې ځان د ( ا، خ ، د ،ټ) استازی معرفي کړي . همدا راز «تره کي په ۱۹۷۱ کې د (روزگار) په جریده کې اعلان وکړ چې پرچم حق نلري د خلک دموکراتیک گوند نوم پر خپل ځان کیږدي او د خلک دموکراتیک سره د افغانستان کلمه زیاته کړي.ځکه چې پرچم فرکسیون دی چې د گوند له پیکر څخه جلاشوی دی. » ۱۰۶/ ۵۴-۵۳ دا اعلامیه وروسته له هغې خپره شوه چې کارمل په ولسي جرگه کې خپله ډله د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند په نامه اعلان کړله. د دموکراسۍ په لسیزه کې پرله پسې مظاهرو حکومت ته سرخوږی پیدا کړی وو حکومت له رسنیو څخه غوښتي وو چې د مظاهرو خبرونه به نه خپروي .د پرچم جریدې دا خبرونه خپرول خو واکمنی غبرگون نه ښود تردې چې « د سبا ورځپاڼي ته عجیبه وبریښیده پداسي حال کې چې د پرچم جریده د مظاهراتو لسگونه خبرونه خپروي بیا هم ترعدلي څارني لاندې نه راځي خو څلور نورې جریدې تر پوښتنو لاندې دي. » ۳۲/ ۱۵۳ د دموکراتیک نوین گوند ( شعله جاوید) « د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند او په تېره د پرچم اړخ د حکومت تر سرپرستۍ لاندې گوند گڼه او ویل یې چې د پرچم جریده د حکومت له لوري تمویلیږي. » ۱۰۷ د سبا ورځپاڼي او د شعله یانو له لوري د پرچم د جریدې په اړه څرگندوني د خلقیانو د ادعا سموالی ښیي چې پرچم یې سلطنتي گوند بللو.

## په گوند کې پټ تشکیلات

هغه ټولني چې د سیاسي ټیکاو څخه بې برخې وي هلته د هر ډول بېړني حالت واکمنېدل لکه انارشی، بلواوو، جگړو، ترور، استبداد او اختناق واکمنیدل شوني بریښي. پدې ټولنو کې سیاسي ډلې د بیړنیو حالاتو لپاره مخکې له مخکي چمتووالی نیسي تر څو وکولی شي د نویو حالاتو سره سم خپلو سیاسي فعالیتونو ته دوام ورکړي او یا دا چې د حکومتونو له لوري پردې گوندونو د برید له کبله د نویو شرایطو سره سم خپله سیاسي مبارزه تنظیم کړي . د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند خلقي اړخ د حکومت د برید او د گوند د بشپړ له منځه تلو له وېرې په پوره احتیاط گامونه اوچتول. لدې کبله یې په پوځ او مېرمنو کې د فعال سازماني کار څخه ډډه کوله. په پوځ کې یې لدې امله سازماني فعالیت نه کاوه چې واکمني و نه پاروي او په ښځو کې یې د اسلامي او ولسي دودونو او رواجونو د حساسیت له کبله فعال سیاسي فعالیت نه درلود . د خلقیانو مشر پدې موخه چې حکومت د انقلابیونو نسل له منځه نه وي وړی ښېله دې چې د مرکزي کمیټې سره سلا او مشوره کړې وي دری تنه ( محمدالله صافی، شاز ارلیوال او میرصاحب کاروال ) تنظیم کړي وو او په پټه یې د هغوی سره حوزې دایرولې . دې دریو تنو ته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي  وو چې هغوی به د خلقيانو په شمول له نورو ډلو سره  له سياسي بحثونو ډډه کوي او هېڅکله به نه دوی او نه د دوی له لوري تنظيم شوي کسان ځانونه خلقيان  معرفي کوي . دوی ته دا هم ويل شوي وو که  د ګوند مشرتابه  زنداني او يا له منځه وړل کېږي دوی به  د ګوند د تګلارې د پلې کولو په موخه مبارزې ته دوام ورکوي . محمدالله صافي چې د دې ډلې مشري کوله وايي چې دوی به په مياشت کې يو ځل ماخوستن نا وخته د دوو ګړيو لپاره د تره کي کور ته ورتلل. پدې کتنو کې به تره کي د هېواد او نړۍ د حالاتو او د مخفي مبارزې د پرمخ وړلو په اړه معلومات ورکول. په ۱۹۷۳ کال کې صافي د لوړو زده کړو لپاره  شوروي اتحاد  ته واستول شو او د دې ډلې مشري فدامحمد فدا ته وسپارل شوه . کله چې  د جمهوري دولت په تګلاره کې د استبداد نښې نښانې ځرګندې شولې او د دې پټې شبکې د پراخيدو له امله تره کي له ده سره ارتباطي کسان زيري ته ورپيژندلي وو چې د هغوی سره پټې سازماني  اړيکې وساتي. کله چې ګوند  واک ترلاسه کړ زيري د دې پټې شبکې غړي  نجيب الله د کابل  ښار د ګوندي کميټې منشي ته معرفي کړل چې هغوی  په ګوندي کميټو او سازمانونو کې تنظيم کړي. د ( ا ، خ ، د ، ګ ) د ټوټې ټوټې کېدو وروسته  د حفيظ الله امين  پلويانو دا تبليغات پيل کړل  چې ګواکې امين او تره کي په خلقي اړخ کې د يوه فرکسيون مشران  وو . ددې تبليغاتو موخه دا وه چې ګواکې که امين فرکسيوني فعاليتونه کول تره کی ورسره همغږی وو.د امين د پلويانو  دا ادعا پدې ساده دليل بې بنسټه ده که چېرې  تره کی او  امين د يوه فرکسيون مشران وای نو  تره کي ولې دا پټه شبکه امين ته نه سپارله چې  زيري ته يې وسپارله. د ثور د وسلوال پاڅون وروسته په ګوندي سازمانونو کې  د دې پټې شبکې د غړو بربنډېدل  په ځينو خلقيانو کې هم يو لړ پوښتنې را پيدا کړلې او د امين پلويانو  هغوی زرغونيان تبليغول او لا تر اوسه دا تبليغات پر مخ وړي .  د ۱۹۸۹  کال د کب د شپاړلسمې پېښه چې نجيب الله هغه  د شهنوازتنې د کودتا په نامه اعلان کړه او  د خلق د اړخ زيات شميرمشران او په هغو کې زيری هم زندانی شو نجيب الله  د امين د پلويانو په څېرپخپله يوه وينا کې زيری د زرغوني په نامه معرفي کړ چې زيري ده ته د ثور انقلاب وروسته د خپلو پټو تنظيم کړيو ګونديانو  او  د نجيب الله په وينا د زرغونيانو لست ورکړی وو چې په ګوند کې يې  تنظيم کړي. د شوروي اشغال پرمهال د زرغونيانو په نامه  اعلاميې خپريدې او يوه رساله د( سره  زرغوني خلقي لاره) په نامه د يوه ناڅرګند مرکز له خوا خپره شوه . ويل کېدل ددې اعلاميو خپروونکی د الله ګل په نامه يو پخوانی  افسر دی چې سيدمحمدګلابزوی د وخت د کورنيوچارو د وزير په دستور د نوموړي وزارت د عسکري جلب او احضار ګروپ ونيولو او د سرتيري په توګه يې د بدخشان ولايت کومې لېرې پرتې سيمې  ته واستولو چې پدې ډول يې د خلقيانو خلاف د نوموړي تبليغاتو ته د پای ټکی کېښنود.

د پرچم فرکسيون هم  پټ تشکيلات لرل. دا تشکيلات  د خلقی اړخ د پټو تشکيلاتو خلاف نورې موخې لرلې او په هغو کې دوه کټګورۍ پټ پرچميان تنظيم شوي وو. يوه ډله  لوړپوړي دولتي مامورين وو. دوهمه  ډله يو شميرلنډغر او بدماشان چې د پرچم د فرکسيون  له کورنيو سره يې د خپلوۍ او ملګرتيا اړيکې لرل ترڅو په  خاصو شرايطو کې  د پرچم سيالې ډلې او مخالفان تهديد کړي. د دې  دواړو ډلو په اړوند غوربندي د خپل کتاب  په اته ويشتمه او نه ويشتمه پاڼه کې  راوړي: « يوه ورځ د پرچم په  دفتر کې چې د کابل ښاروالی مخکې د نوراحمدنور سره کاري غونډه  لرله د يوې اوږدې  مقدمې  وروسته يې وړانديز وکړ چې  يو شمېر بيروکراتان او لوړپوړي اداري مامورين چې موږ ته  سمپاتي او ليوالتيا لري غواړي چې د ګوند د غړيتوب وياړ تر لاسه کړي.خو د ځانګړو شرايطو له امله  لکه  نور ګونديان نشي کولی  په حوزو کې حاضر شي ، په مظاهرو کې ګډون  وکړي او ځانونه په بشپړ ډول د ګوندي انضباط تابع کړي...، زما  وړانديز دا دی چې هغوی د سياسي بيرو د غړو سره شخصي اړيکې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی چې په دولتي ادارو کې نفوذ لري د دې سربیره چې د کدرونو په نصبولو او اداري دندو کې ترې کار اخلو د پردې تر شا بهیرونو لومړی لاس اطلاعات هم ترلاسه کوو او په معنی داره موسکا سره یې اضافه کړل کله مو چې واک ترلاسه کړ دا کسان چې اداري تجربه او مسلکي مهارت لري زموږ په درد خوري. باید دلته اضافه کړو چې داسې کسان لکه حسن شرق،شاه محمد دوست، غلام جیلاني باختري،نجیب الله مسیر او آدینه سنګین د دې ډول کسانو څخه وو...،څرنګه چې تاسو پوهیږئ چې د اخوان المسلمین او د شعله یانو او همدراز د ګوند د انشعابي اړخونو سره مبارزه او سیالی د ورځې په تیریدو سره زیاتیږي او کله ناکله د جدي ستونزو او حتی فزیکي ټکرونو سبب کیږي. موخه دا ده چې موږ یو شمیر قوي ، پهلوان، زړور اوعیار مشرب کسان ولرو چې د ګوندي غړو د خپلوانو او یا لیوالو څخه وي او د ګوند د باډي ګاردانو په شان وي. دوی هم د خپلو خصلتونو او رواني ځانګړتیاوو له کبله نشي کولی د اساسنامې نورمونو ته ژمن وي. هغوی باید د ځوانمردۍ په ډول او شخصي دوستۍ او د ګوندیانو په نامه د ګوند د موخو په چوپړ کې ودروو.»

دا بیا ښیي چې د پرچم اړخ یو شمیرپټ غړي لرل چې په هغو کې لوړپوړي دولتي چارواکي او لومړنان تر سترګو کېدل. هغه چارواکي چې هم له حکومتي امتیازاتو برخمن وو اوهم یې د راتلونکو امتیازاتو او مقامونو په اړه فکرکاوه چې بیله شکه دا ډول فرصت غوښتونکي د پردیو د څارګرو ادارو سره هم اړیکې ولري او د پنځم ستون رول و لوبوي. پورتنیو دوه یا څو کارت لرونکو کسانو د شوروي د اشغال لاندې واکمنی کې د غیرګوندیانو یا آزادخیاله نا پېیلو افرادو په نامه لوړو مقامونو او دریځونو ته ورسول شول. پدې ډول له یوې خوا پرچم د خلکو په سترګو کې خاوري اچولې چې غیرګوندیان یې هم په لوړو څوکیو ګومارلي دي او له بلې خوا خاد د دې غیرګوندیانو پر مټ کولای شول د اشغال ضد کسانو څخه اړین معلومات تر لاسه او همدا د اشغال ضد کسان خاد ته وروپیژني . دا ډول بې پرې او ناپییلي کسان د هرچا سره وو او د هیچا سره نه وو ، هغوی د ورځې په نرخ خوړل او د موسم د بدلون سره خپلې جامې بدلولې . د پرچم په اړخ کې د لومړنانو شتون ددې سبب شو کله چې په کال ۱۹۶۹ کې د متحده ایالتونو د ولسمشر مرستیال سپیرواګنیو کابل ته رسمي سفر درلود د پرچم اړخ د هغه له سفر سره په مخالفت کې مظاهره تنظیم کړه . مظاهره کوونکو د حبیبيې لیسې مخې ته د هغه ګاډی ( موټر) د چرګې په هګیو وویشت. د مظاهره کوونکو د دې سپک کار له امله پولیسو یو شمیر پرچمي مظاهره کوونکي کدرونه چې په هغو کې نجیب الله هم شامل وو بندیان کړل. د پرچم مشرتابه د خپلو غړو له لوري دا ډول مظاهره او سپک کار « په روڼ اندو کې د ګوند د دریځ پیاوړتیا او د ګوندي افرادو د روحیې لوړتیا ګڼله. » ۸۰/ ۲۶ د پرچمیانوله لوري د دا رنګه سپک کار څخه موخه دا وه ، مسکو ته وښیي چې دوی د شوروي اتحاد د سیال د سپکولو او د کابل- واشنګټن د اړیکو د کمزوررولو لپاره په هر کار لاس پورې کوي. د شوروي اشغال پرمهال د هېواد په لویو ښارونو او په کابل کې ځینې ترورونه ترسره کېدل چې خلکو حکومت ته ګوته نیوله ښایي دا ترورونه د دې لومړنانو او د پرچمیانو په وینا د همدې عیارانو لخوا تر سره کېدل .

## ګوند او جمهوریت

د چنګاښ د انقلاب له بري وروسته یوازینی سیاسي سازمان چې د محمدداود له ګوزارونو څخه خوندي پاتې شو هغه د ( ا، خ، د،ګ ) وو. لامل یې دا وو چې د ګوند دواړو اړخونو د جمهوري نظام څخه ملاتړ وښود. پدې توپیر چې پرچم د جمهوري دولت برخه وه او خلقیان د سیاسي اپوزیسیون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېر سياسي فعاليت ته دوام ورکړ. پرچم د واکمن ګوند په توګه په دولتي چارو بوخت شو او د سياسي او سازماني فعاليتونو لپاره يې نه وخت درلود ، نه ليواتيا او عملاً يې له سياسي فعاليت لاس واخېست. خلقيانو د دې نوي فرصت څخه د خپلو ليکو د پياوړتيا په موخه پوره ګټه پورته کړله او په پوځ کې يې سازماني فعاليت هم پيل کړ او ددې کار لپاره يې امين مؤظف کړ. البته د انقلاب وړاندې يې د پوځيانو سره توضيحي کار کاوه نه سازماني . د خلقيانولومړى کدر چې په پوځيانو کې يې سياسي فعاليت درلود هغه عبدالکريم زرغون وو. د دې نوي فرصت پايله دا شوه چې په لنډه موده کې خلقي فرکسيون په کمي لحاظ پياوړى شي چې د حق العضويتونو د ترلاسه کولو له امله يې مالي حالت هم په غوړيدو شو. پداسې يوه غوره وضعيت کې اړتيا ليدل کيده چې د تره کي د کور سربيره يو ګوندي مرکز هم پرانيزي او له هغه ځايه د ګوند سياسي او سازماني چارې رهبري کړي. که څه هم مخکې لدې څه موده د تره کي د نور په نامه د دارالترجمې دفتر څخه د ګوندي کارونو د تنظيم لپاره ګټه پورته کېدله. په جمهوريت کې خلقيانو لومړى په ميوند واټ او وروسته د سپين زر هوټل مخامخ د ابيض رستوران په پورتني پوړ کې خپل دفتر پرانيست. هغه مهال زيرى ، پنجشيرى او ميثاق د ګوند د حرفوي کارکوونکو په ځېر په نوبت او يا ګډ په نوموړي دفتر کې د ګونديانو سره ليدني کتني لرلې او ګوندي چارې يې تنظيمولې. همدارنګه د ګوندي حوزو د دايريدو په موخه د کابل ښار په مختلفو سيمو کې کوټې په کرايه ونيول شوې . البته پرچميانو د کابل ښاروالي مخې ته د دموکراسۍ د لسيزې را هيسې ګوندي دفتر درلود. په پوځ کې د خلقيانو د پياوړي کيدو په اړه جورج آنې امريکايي ليکوال ليکي: « که څه هم پرچميان لومړى اړخ وو چې په وسلوال پوځ کې يې په جلب او جذب لاس پورې کړى وو خو د ۱۹۷۷ په نيمايي کې د خلقيانو نفوذ پکې ډير شو.» ۱۰۸/ ۷۴ په پوځ کې د خلقي ګوندي سازمانونو پراختيا د دې لامل شوله چې مرکزي کميټې پريکړه وکړي د امين سربيره زيرى او ميثاق هم په پوځ کې دې کار ته مؤظف کړي چې مشري يې امين لرله. البته د خلقيانو د سياسي فعاليت په اړه حکومت او د هغه سيال پرچم هم بې تفاوته نه وو او ستونزې يې ورته جوړولې. ښه بېلګه يې د کودتا د بري وروسته په بند کې د زيري ساتل دي. د جمهوريت د تېنګښت سره سم ټول سياسي بنديان د دولت د رئيس د فرمان له مخې له بنده خلاص شول. خو زيرى ځلور مياشتې نورهم په بند کې پاتې شو. د ګوند مشر د زيري د خلاصون په موخه د کورنيو چارو وزير فيض محمد د پرچم د فرکسيون غړي ته عريضه وليکله خو ګټه يې ونکړه. ترڅو تره کي د حسن شرق سره تماس نيولى او ورته ويلي يې وو:« خپل ملګري مو وزيران او ولسوالان کړل. زموږ يو بندي هم نه راخلاصيږي. » ۴۰/ ۳۲۰ د دې اړيکې وروسته زيرى له بند څخه خلاص شو. نبي مصداق او حقبين هم د پرچميانو له لوري په خلقيانو د فشار خبره کوي او حقبين ليکي: « خلق په بېرحمۍ ترتعقيب لاندې وو ، لدې کارسره د دوى د ګډې مبارزې ملګرو، پرچميانو مرسته کوله او بيا يې خلقيان د حکومت په لاس ورکول.» همدا رنګه حکومت د ابيض رستوران په ودانۍ کې د ملي مصؤنيت له لوري د ګوند د فتر د څنګ کوټې د سليم سرمست د موسيقي کورس څخه يو سيم را ننه باسلې وو چې خبرې ثبت کړي. همدارنګه د تره کي د کور لويديځ ګاونډي په کور کې د ملي مصؤنيت ادارې يوه کوټه جوړه کړې وه چې د تره کي په کور کې خبرې ثبت کړي. پدې اړه به د نورمحمدتره کي له ورور څخه واورو: « تر انقلاب وروسته چې تره کي صاحب خپل رسمي ځاى ته ولاړ، يوه ورځ زموږ د کور د قبلې د خوا ګاونډى د خپلې کورنۍ سره راغى، د انقلاب مبارکي يې را کړه او وروسته يې په ژړغوني ځيره وويل زما کورنۍ له يوه لويه خطره سره مخامخ ده ، موږ او تاسو خو په کلونو سره ګاونډيان و ، ستا څخه يوه مرسته غواړم . ما ورته وويل څرنګه ، خيريت دى؟ ويل يې زموږ کور ته تر انقلاب پخوا يوه ورځ د ملي مصئونيت څو کسه راغلل ويل موږ ستا د کور په شرقي برخه کې يوه وړه کوټه جوړوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به اجازه راکوي او چا ته به هم نه وايي. زه مجبوره وم څه مي نشواى ويلاى، د مصؤنيت کسان راغلل او ډير ژر يې يوه وړه کوټه جوړه کړه ، دروازه يې قلف او لاک او مهر کړه. په هفته کې يو ځل راتلل ، کوټه به يې پرانيستله ، څه مهال وروسته به يې هغه بيرته لاک او مهر کړه او ولاړل به. اوس چا مقاماتو ته اطلاع ورکړې ده چې زموږ له کور څخه د مرکزي کميټې د غونډو څارنه کيده. نو ته به کوې خداى به کوي او موږ به له دې مصيبت څخه خلاصوې، ما دوى ته اطمنان ورکړ. هغوى ولاړه ، ما سمدستي تره کي صاحب ته وويل چې له دغه بيچاره ګانو سره مرسته وکړي ، هغه هم چا ته ټيلفون وکړ او کيسه خلاصه شوه.» ۴۰/ ۳۴۴ همدا رنګه حکومت د خپل مؤتلف ( پرچم) د اناهيتا راتبزاد د مکرويانو په کرايي اپارتمان کې هم د غړ د ثبت آلي اېښي وې چې په يوه کست کې يې د کارمل او اناهيتا راتبزاد د ميني او محبت خبرې هم ثبت کړې وې چې کست د داودخان د کورنيو چارو د وزير په دفتر کې ساتل کېده او د ثور انقلاب وروسته د امين لاس ته لوېدلی وو. په ۱۹۷۶ کال کې د اردو پوځي سازمان دومره ځواکمن شو چې امين د مرکزي کميټې په غونډه کې د پوځ لخوا د واک د ترلاسه کولو وړانديز کړى خو تره کي دا وړانديز نه دى منلى . لدې وروسته د دې لپاره چې تره کی د پوځ له لوري کودتا کولو ته راضي شي امين د پوځ يوه فعال خلقي غلام مصطفى چې مرغومي د شپژمي وروسته څه کم اته کاله بندي او نجيب د واکمنی پر مهال جنرال شو دنده سپارلې وه تره کي ته ور شي او د پوځيانو غوښتنه چې وسلوال پاڅون وکړي هغه ته ورسوي. د غلام مصطفى په وينا تره کي ور ته ويلي وو : « پدې اړه زموږ تګلاره دا ده چې موږ د زور له لارې د واک د نيولو هوډ نلرو.انقلاب ته شرايط برابر نه دي خو موږ د داود خان يوازينی بديل يو . پدې معنی که څوک د داود خان د چپه کولو خيال ولري موږ د حکومت په ملاتړ کې درېږو. که داود په خپل مرګ مړ شي موږ به واک نيسو او که حکومت پرموږ بريد وکړ موږ به له ځانه دفاع کوو . دا موضوع بايد خلقي پوځيانو ته ورسول شي.» د ( ا، خ، د، ګ ) لپاره د دې طلايي فرصت موده اوږده نه وه بلکې د۱۹۷۶ کال په پيل کې چې محمد داود پخپلو تګلارو کې بنسټيزبدلون راووړ د واکمنی څخه يې د سمون پالو د شړلو سره جوخت د خلقي کدرونو بنديانولو ته مخه کړه .په تيره کله چې لويې جرګې داسي اساسي قانون تصويب کړچې د دولتي ګوند پرته نورو ګوندونو د سياسي فعاليت اجازه نلرله او د واکمنی له لوري په ګوند د بريد شونتياوې حتمي براېښېدلې. خلقي فرکسيون د هرڅه د مخه ګوندي دفتر او د ګوندي حوزو لپاره په کرايه نيول شوې کوټې وتړل ، مرکزي کميټې د پټ ګوندي کار پريکړه وکړه او ګوندي غړو ته دستور ورکړل شو تبليغ وکړي چې « په اساسي قانون کې د يوه ګوندي سيستم تصويب ، موږ ته د حزبي مبارزې اجازه نه راکوي ، نو د وضعې تر معلومېدو ګوندي کميټې نه دايرېږي او څوک دې ځان د ګوند غړی نه بولي ، خو د مرکزي کميټې ټولو غړو د خپلو حوزو غړي په ځنځيري توګه تنظيم کړل. » ۴۰/ ۳۴۳ د وخت په تيرېدو سره په خلقيانو فشارونه زياتېدل او کدرونه يې زندانو ته اچول کيدل چې د خلقيانو د بنديانو شمير ترسلو تنو هم اوښتي وو. د ګوند مشرتابه د خپلو بنديانو د ستونزو د حل کميټه جوړه کړه چې رييس يې ميثاق د ګوند د مالي چارو مسؤل وو. همدارنګه داود خان په پرچميانو پدې موخه فشار راوړلو چې د دولت سره خپلې همکارۍ ته دوام ورکړي . پدې هکله کشتمند ليکي : « يو وارې د محمد داود د ارتباطی شبکو له لارې د پرچم مشرتابه ته شفاهي رسمي ظاهرآ د ګيلې ډک خو په واقعيت کې تهديدوونکی پيغام را ولېږلو او په پيغام کې ويل شوي وو چې پرچميان له دوستانه دريځه ګرزېدلي دي او د جمهوري نظام سره يې د دښمنی لار نيولې ده هغوى اوس په غارونو کې پټېږي ( پټ فعاليتونه کوي) او که دا وضعيت دوام ومومي نور دولت هغه نشي زغملی.» ۳۹/ ۲۶۵ دا پيغام د محمد اکرم عثمان پېژندل شوي ليکوال په واسطه د پرچم مشرتابه ته رسول شوی وو. دا پيغام د داود- پرچم د ائتلاف ښکارندوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګواکې پرچم ائتلاف مات کړی دی او داودخان غواړي چې پرچم بېرته د دولت سره همکاری ته دوام ورکړي. د هغه مهال له حالاتو څخه داسې ښکاري چې پرچمیان اړ وو د مسکو د دستور له مخې له داودخان سره د همکاری ډډه او له خلقیانو سره یووالی وکړي ترڅو د جمهوریت په وړاندې قوي سیاسي اپوزیسیون را منځته شي.

## د خلق او پرچم یووالی

د افغانستان د خلک د موکراتیک ګوند د انشعاب وروسته په دواړو اړخونو کې داسې کسان لږ نه وو دا پوښتنه و نکړي چې ولې دا دواړه ډلې د یوې واحدې اساسنامې او مرامنامې په لرلو سره جلا جلا فعالیت کوي او نه سره یو کیږي. د دې فشارونو له امله په ۱۳۴۷ کال کې له دواړو خواوو دوه دوه تنه د پلاوو په توګه وګومارل شول تر څو د یووالي په اړه بحث وکړي او د تره کي په کور کې یې غونډې کولې . خو د دواړو اړخونو تر منځ واټن زیات وو. وروسته دې هوکړې ته سره ورسېدل تر هغې چې سازماني یووالي ته رسېږي د یووالي د عمل د پرنسیب له مخې ګامونه اوچت شي او په ګډه د کارګر نړیواله ورځ ونمانځي. کله چې د کارمل استازو دا پرېکړه خپل مشر ته رسولې هغه نه وه منلې. سره لدې بیا هم د دواړو خواوو ګوندیانو د خپلو مشرانو او یا ګوندي ارتباطي غړو څخه پدې اړه وضاحت غوښت چې ولې یووالی نه کیږي. پرچمي مشرانو به خپلو ملګرو ته ویل چې خلقي مشران د سي آی اې اجنټان دي او سي آی اې اجازه نه ورکوي چې یووالی و کړي . د خلقیانو مشرتابه ببرک کارمل د دربار استازی ګڼلو چې د سلطنت په دستور یووالي ته غاړه نه ایږدي . تره کي د غیر ګوندیانو سره بیا کارمل د روسانو ګوډاګی بللو څرنګه چې د ۱۳۵۷ کال د وري په میاشت کې کله چې د جمهوري پلوشې په نامه مجلې مسؤل مدیر تره کي ته د ګوند د یووالي مبارکي ویلې وه په ځواب کې ویلي وو:« مننه کوم زموږ اتحاد وسو خدای دې وکړي چې دوام وکړي . دا څو ځلې دي چې اتحاد کیږي خو شمر ببرک دا د روسانو ګوداګی دغه اتحاد له منځه وړي. » ۵۳/ ۱۱ د دواړو اړخونو مشرتابه خپل سازمان د نړیوال مترقي غورځنګ برخه ګڼله او دا یې هم ویل چې نړیوال کارګري او مترقي غورځنګ یې تائیدوي. د ګوند د جوړېدو وروسته د نړیوال مترقي غورځنګ د ملاتړ تر لاسه کولو ته زیات پام راګرزول کیده او ګوندیان د نړیوال مترقي غورځنګ سره د پیوستون په روحیه روزل کیدل. لدې امله زیاتره ګوندیانو ته دا موضوع مهمه بریښیده چې ګوند یې د نړیوال مترقي غورځنګ له خوا تائید شي. که څه هم د کمینټرن د له منځه تللو وروسته په پرنسیب کې دې مسئلې خپل ارزښت له لاسه ورکړی وو خو دواړو اړخونو دې موضوع ته ارزښت ورکاوه. کله چې محمد داود په خپلو کورنیو او بهرنیو تګلارو کې بدلون راووړ او هغه پدې راتاویده چې په خپل حکومت کې د ښي اړخو او محافظه کارو په ګټه څنډنه پیل کړي پرچمیان ، پرچمیانو او خلقیانو ته متمایل چارواکي لکه محمدحسن شرق، نعمت الله پژواک ، فیض محمد ، عبدالحمید محتاط او پاچاګل وفادار ګوښه او یا په دپلوماتیکو دندو وګوماري او د دې سربېره یې د خلق د فعالانو په زنداني کولو هم لاس پورې کړ.کله چې محمد داود په ۱۹۷۵ کې له خپلې کابینې څخه پرچمیان وشړل پرچمیانو د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند تر نامه لاندې یوه اعلامیه خپره کړه چې منځپانګه یې د مترقي سازمانونو سره یووالی وو. ددې اعلامیې په غبرګون کې خلقیانو اعلامیه خپره کړه چې په هېواد کې د نورمحمدتره کي په نامه د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند فعالیت کوي او پدې نامه بل کوم ګوند شتون نلري. د خلقیانو ددې اعلامیې وروسته پرچمیانو د « تذکار تاریخی ۲۰ سنبله » په نامه بله اعلامیه خپره کړه چې د مترقي ځواکونو سره یووالي ته ځانګړې شوې وه . لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د دواړو اړخونو څخه پلاوي وټاکل شول چي د يووالي په اړه خبري وکړي . د پرچميانو وړانديز دا وو چي په لومړي ګام کي به واحد ګوند دوه مشران لري او وروسته به د يوه مشر تر لاربښووني لاندي فعاليت کوي خو خلقيانو ورسره موافقه ونکړله او د يووالي خبري ودرېدلې. د جمهوريت د لويي جرګي د دايرېدو وروسته چي قانوناً ګوندونو د سياسي فعاليت اجازه نلرله او د حکومت دا ډول دريځ او د مسکو مستقيم او غيرمستقيم فشار د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند د دواړو ډلو مشرتابه اړ کړ چي يووالي ته غاړه کېږدي. مسکو د دواړو اړخونو د فکري سرچيني په توګه د يووالي سره زياته ليوالتيا لرله ځکه چي د چنګاښ د پوځي کودتا وروسته په واکمنۍ کي د پرچميانو د شتون له امله کولی شول په افغان حکومت اغيز ولري او د واکمنۍ له سياستونو او ستراتيژيو او هغه څه چي د واک د ماڼيو په دهليزونو کي تيريږي ځان خبر کړي . له واکمنۍ څخه د پرچميانو او پرچميانو ته د متمايله څيرو شړل او د واشنګتن پلوه اسلامي دولتونو سره د جمهوري دولت د دوستانه اړيکو ټينګښت د کرملن چارواکي د دې ترخه واقعيت سره مخامخ کړل چي افغانستان لويديځ ته نږدې کېږي او د مسکو نفوذ په افغانستان کي له منځه ځي . د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د يووالي په نتيجه کي به هغه د يوه پياوړي سياسي اپوزيسيون په اوښتو سره واکمنۍ له ننګونو سره مخامخ کړي او په نړيوالو تعاملاتو کي به موازنه په پام کي ونيسي ، خپل دوديز د ناپييلتوب او بيطرفۍ سياست ته به د پخوا په شان دوام ورکړي او پدې توګه به په بشپړ ډول په لويديځ پوري ونه تړل شي. مخکي لدې له شوروي استازو سره په کتنو کي د يووالي په هکله د تره کي دريځ دا وو چي « پرچميان بايد په خپلو تيروتنو اعتراف وکړي ، پښيماني وښيي، له سکتاريستي او رويزيونيستي کارونو لاس واخلي او بير ته ګوند ته راشي ، کارمل موافقت نه کاوه ځکه چي ټول مسئوليت د ده په غاړه لويده.» ۶۳ / ۳۳ د مسکو د ارادي پربنسټ په دواړو اړخونو او خاصتاً پر تره کي فشار لدې نه معلومېږي چي د سيمي شوروي پلوه ګوندونو( د ايران تودې ګوند، د هند او عراق کمونست ګوندونو ) پخپلو خپرونو کي د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند په يووالي ټينګار درلود . ددې خپرونو له منځپانګي بريښيدل چي ګواکي خلقيان د پرچميانو سره يووالي ته ليوالتيا نه ښيي. د بېلګي په توګه د عراق د کمونست ګوند نشراتي ارګان د ۱۹۷۶ کال د جون په ۲۳ ګڼه کي راغلي وو:« ...کارمل د ګوند مؤسس دی او تره کی د عمر له امله لومړی لاربښود دی .» همدارنګه پدې هکله زيری ليکي : « يوه ورځ تره کي د مرکزي کميټي غونډ ي ته د الطريق الشعب په نامه د عراق د کمونست ګوند اخبار راووړ په هغه کي ليکل شوې وه که د خلق دموکراتيک ګوند دواړې جناحي سره يو نشي ، د دوی ګوند به پرچمي اړخ په رسميت وپيژني. » ۴۰/ ۳۵۰ دې ډول بيان تره کي ته د خطرزنګ وو که يووالي ته غاړه کېنږدي هغه به د افغانستان د مترقي غورځنګ په پاشلو محکوم کړي. همدا لامل وو چي تره کی له خپل پخواني دريځ څخه پر شا شو او د کارمل د غوښتنو پر بنسټ يې يووالي ته غاړه کيښودله. دا چي يووالي ته خلقيان ليوال نه وو د کشتمند له لاندي وينا څخه ښه څرګنديږي:« د ګوند د عمل د يووالي د تامينولو په موخه د پرچميانو د اصولي ليوالتيا له امله د خلقيانو د مشرانو دريځ سخت او انعطاف ناپذيره وو. د زياتو سياسي امتيازاتو او په رهبرۍ کي د ښه دريځ د لاسته راوړلو غوښتونکي وو.» ۳۹/ ۲۷۳ د شته لاسوندونو او روايتونو څخه ښکاري چي د ګوند د يووالي هڅوونکی مسکو، نوښتګر يې پرچم او پلي کوونکي يي د ګوند د انشعابي دواړو ډلو مشران وو. د ګوند د يووالي نوښت ځکه د پرچم د اړخ سره و چي مشرتابه يي په ۱۹۷۵ کال کي د يووالي اعلاميه خپره کړه او همدا رنګه د شاه محمددوست د هڅو او منځګړيتوب له امله په کال ۱۹۷۷ کي د تره کي او کارمل تر منځ ناسته وشي. ښايي د شاه محمد دوست نه مخکي هم ځينو کسانو د تره کي او کارمل د دريځونو د نږدې کولو په اړه هلي ځلي کړې وي. سليمان لايق په خپله يوه ثبت شوې وينا کي د تره کي له قوله وايي:« د ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیا یووالي په موخه کارمل ور ته مراجعه کړې ده او تره کي ورته ویلي وو چي په ګوند کي به دوهم رهبر نه وي خو کارمل بیا هم د دوهم رهبر اکټونه کول.» په هر صورت د لسو کلونو بیلوالي وروسته د۱۹۷۷ کال د جولای په دریمه د ګوند د یووالي سند د۹۰ تنو مشرانو او کدرونو له لوري لاسلیک شو او د ګوند دواړه سیالي ډلي ( خلق او پرچم) د تره کي ترمشرۍ لاندې پداسي یوه طرزالعمل سره متحدې شولې چي د واحد ګوند په مشرتابه او ګوندي کمیټو کي رهبري د فیفټي فیفټي فورمول له مخې په پام کي نیول شوې وه. د دې یووالي په نتیجه کي یوه دیرش کسیزه واحده مرکزي کمیټه چي اته ویشت تنه اصلي او دوه تنه علی البدل غړي یې لرل جوړه شوه. په مرکزي کمیټه کي د خلقیانو د ډلي مشران نورمحمدتره کی ، حفیظ الله امین ، صالح محمدزیری، غلام دستګیرپنجشیري، شاه ولي ، عبدالکریم میثاق، عبدالحکیم شرعي جوزجاني، محمداسمعیل دانش، عبدالرشیدآرین، محمودسوما، منصور هاشمي، محمدیاسین بنیادي، محمدحسن پیمان او عبدالاحد ولسي او د پرچم له اړخه ببرک کارمل، میراکبرخیبر، سلطانعلي کشتمند، نوراحمدنور، سلیمان لایق، محمدحسن بارق شفیعي ،اناهیتاراتب زاد، محمود بریالی ، نظام الدین تهذیب، عبدالوکیل، عبدالمجید سربلند، نجیب الله ، محمدسرور یورش او عبدالقدوس غوربندي وو. د خلق له لوري د سیاسي بیروغړي تره کی ، زیری، پنجشیری، میثاق او شاه ولي او د پرچم له اړخه کارمل، کشتمند، نور، لایق او شفیعي نمایندګي کوله. په خلقي اړخ کي د یووالي په اړه کومه غونډه چي پیژندل شوي کدرونه پکي برخه واخلي را ونه بلل شوه بلکي پریکړه تره کي کړې وه . خلقي مشرتابه د پرچمیانو سره د بیا یووالي په اړه نه یوازې د ګوندیانو سره خبره شریکه نکړله بلکي د خلقیانو په مرکزي کمیټه کي هم پدې اړوند بحث نه دی شوی . د مرکزي کمیټي غړو ته د یووالي خبره د شاه ولي له خوا شوې وه چي تره کی مؤظف کړی وو دا موضوع د مرکزي کمېټي غړو ته ورسوي . میثاق وایي امین چي د پرچمیانو سره د یووالی سخت مخالف وو او مخکي لدې به کله چي د پرچم سره د یووالي خبره را پورته شوله ویل به یې « د پرچمیانو سره په یووالي سره ګوند مه مرداروئ.» خو د یووالي په درشل کي هغه د یووالي په کلکو پلویانو اوښتی وو. البته د پرچم اړخ پدې اړه یو کنفرانس راوبللو او پردې مسئله یې بحث وکړ او د ګوند د یووالي په لور یې پرېکړه وکړله . د خلقي مشرتابه د خپلو لیکو سره د یووالي موضوع لدې امله نه شریکوله چي مشرتابه یې پوهیده غوڅ اکثریت خلقیان چمتو نه دي د پرچمیانو سره یووالي ته غاړه کیږدي دا ځکه چي په جمهوریت کي پرچمیانو خپله اتوریته له لاسه ورکړې وه او د کمیت له مخې هم کمزوري وو. کله چي د دواړو خواوو د سازمانو په یوځای کولو باندې کار پیل شو چي د ولایتونو په مشرتابه کي هم د دواړو خواوو څخه مساوي معیار پلی شي د میثاق په وینا « په ځینو ولایتونو کي پرچمیانو دومره غړي لرل چي یوازې په رهبري کي راشي او په ځینو ولایتونو غور ، بادغیس ، بدخشان ، کنر ، خوست ، هیرمند ، ارګون ، کټواز، ارزګان، فراه ، زابل ، سمنګان کي یې یوغړی هم نه درلود.» د پرچم کمزوري د کابل په پوهنتون کي د دواړو ډلو له غړو معلومیږي. « د۱۳۵۶ کال د یووالي پرمهال د ادبیاتو په پوهنځي کي ۳۸ تنه ، د اقتصاد په پوهنځي کي ۲۳ تنه ، د حقوقو په پوهنځي کي ۱۴ تنه ، د ښووني او روزني په پوهنځي کي ۹ تنه او د شرعیاتو په پوهنځي کي ۲ تنه خلقیان وو. د یووالي پرمهال د ادبیاتو په پوهنځي کي ۹ تنه ، د اقتصاد په پوهنځي کي ۴ تنه ، د حقوقو په پوهنځي کي ۸ تنه پرچمیان وو.د ښووني او روزني او شرعیاتو په پوهنځیو کي پرچمیان نه وو. » ۱۰۹/ ۱۱۲ – ۱۱۳

د ګوند د بیا یووالي پروسیجر پداسي عجیب ډول پلی شو چي د مرکزي کمیټي اصلي او علی البدل غړي او نور انتصاب شوي کدرونه به د دوو څخه تر پنځو تنو پورې د تره کي کور ته چي کارمل ورسره ناست وو ورتلل او دواړو مشرانو یا به یوه د ګوند د یووالي په اړه لنډې خبرې کولې او د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کدرونو څخه به یوه د نورو په استازيتوب یووالي ته خپله ژمنتیا ښودله او خپل لاسلیکونه به یې د ګوند د یووالي په سند بېله دې چې هغه ولولي ایښودل. پدې عجیب بهیر یې د ګوند د یووالي د کنفرانس نوم کیښود. منطقي دا وه چې همدې ګوندیانو ته چې د یووالي سند یې لاسلیک کړ فرصت ورکړل شوی وای پدې اړه بحث وکړي تر څو د انشعاب عاملین او لاملونه په ګوته شي. د دې بحث څخه راوتلې پایلې د یوه جامع لارښوونکي سند په توګه چمتو او د ګوندیانو په واک کې ایښودل شوې وای. د غوربندي د لیکني پر بنسټ د پرچمیانو هغه کدرونه چې د تره کي په کور کې یې د یووالي سند لاسلیک کړی وو د کارمل د مخکني دستور له مخې څو تنو ته دنده سپارلې وه چې پرچمي کدرونه د تره کي له کور څخه په وتلو سره په جمال مینه کې په یوه کور کې را غونډ شي. دا راغونډېدنه د ځینو یووالي ته ژمنو پرچمیانو له منفي غبرګون سره مخامخ شوی وه. پدې اړه پوښتنه دا ده چې ددې را غونډېدو اړتیا څه وه ؟ ددې پوښتنې ځواب به له میثاق واورو. د میثاق په ویناغوربندي « د ګوند د کنترول کمیسیون ته رپوټ ورکړی وو چې ببرک کارمل د مېرمن اناهیتا په کور کې یو شمېر پرچمیان را غونډ کړي وو او ورته ویلي یې وو چې موږ او تاسو باید خپل جلا سازمان وساتو او پدې یووالي ډېر ډاډمن نه اوسو او هڅه وکړو چې د پرچمیانو سازمان ونه شړېږي او د یووالي په نامه په ګوند کې منحل نشي. ملګري باید په جلا ډول خپلې اړیکي تنظیم کړي. د پرچم پېژندل شوو کسانو چې هلته شتون درلود داکتر نجیب ، مجید سربلند، سروریورش ، مېرمن اناهیتا او څو تنه نور وو.»۷۹ / ۱۵۵ همدا رنګه بارق شفیعي وایي چې د یووالي مخکې نوراحمدنور را ته ویلي وو چې تره کی نه غواړي چې میراکبر خیبر د سیاسي بېرو غړی شي . دا موضوع ما خیبر ته وویله او هغه وویل : « دا چالونه د ده په درد لګېږي. دا تره کی ندی چې ما نه غواړي دا کارمل دی چې ګوندي وحدت نه غواړي او ما پلمه کرځوي.» بارق دا هم وایي چې د یووالي وروسته کارمل چې خیبر او کشتمند هم هلته وو را ته وویل: « ملګری بارق ! لدې وروسته به بیا هم موږ خپل سازمان یعنې پرچمیان له خپلو تشکیلاتو سره وساتو ځکه چې د خلقیانو پر وحدت باندې چندان اعتبار نشته .» ، ویل کیږي چې د یووالي سند په نهو مخونو کې چمتو شوی وو خو هغه د ګوندیانو په واک کې کینښودل شو. لامل یې دا وو چې د یووالي وروسته د پخوا په شان په تش نامه واحد ګوند کې دوې ځرګندې تلوالې او دوو مشرانو شتون درلود او واحد ګوند یوازې په کاغذ باندې د ګوند د یووالي په سند کې لیکل شوی وو. د ګوند د دا ډول میکانیکي یووالي په اړه چې کارمل یو ځل بیا تره کی د ګوند د مشرپه توګه ومنلو دا پوښتنه راپورته کیږي څه شی د دې سبب شول چې کارمل خپلې مخکینۍ ځرګندونې چې: «په سیاسي غورځنګ کې ساده بدوي عناصرد نورمحمدتره کي شاوخوا راغونډ شوي چې په قبیلوي نورمونو او ضوابطو سره د چارو اداره او د ګوند لارښوونه وکړي. » له یاده ووتلې او خپلې ځرګندونې یې بیرته واخیستلې یا دی هم د ساده بدوي عناصرو څخه یو وو. لدې څخه ځرګندیږي چې هغه مهال کارمل ربنتیا نه ویل او په تره کي یې تورونه لګول او یا دا چې د مسکو په دستور یې تره کي ته د ګوند د مشر په توګه بیعت وکړ لکه څرنګه چې د ۱۹۷۳ کال په پوځي کودتا کې له محمدداود سره د مسکو په دستور ائتلاف کړی وو. سره لدې یووالی وشو خو کارمل او امین او ارادتمندان یې یووالي ته ژمن نه وو او د یووالي ضد فعالیتونه یې کول . د میثاق د لیکني پر بنسټ د کارمل په پرتله د امین د یووالي ضد کړنې زیاتې محسوسې وې. د بېلګې په توګه به امین خپلو پلویانو ته ویل چې په مشرتابه کې د فیفتي فیفتي پر بنسټ د یووالی پرنسیب سم نه دی پداسې حال کې چې د خلقیانو په مرکزي کمیټه کې د امین په شمول یوازې تره کی او شاه ولي د یووالي او د دې پرنسیب کلک پلویان وو، خو امین خپلو پلویانو ته بل څه ویل. د میثاق په وینا« بالاخره کره معلومات ترلاسه شول چې امین ، منصور هاشمي ، محمود سوما،صحرایي ، فقیر، جلیلي، صدیق عالمیار ،مسعودي ، ظریف او نورو دا رنګه د یووالي ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرکسیوني فعالیتونه کول...» ۷۹/ ۱۴۴ همدارنګه کله چې د دواړو اړخونو د پوځیانو د تشکیلاتو د یو ځای کولو کار پیل شو ولیدل شول چې امین د تشکیلاتو کمیسیون ته ټول پوځي خلقیان نه وو ور پېژندلي بلکې یو شمېر یې پټ ساتلي دي. د امین دې کار د تشکیلاتو کمیسیون(زېری، میثاق ، نور ، بارق ) دې ته وهڅول چې سیاسی بېرو ته وړاندیز وکړي چې امین له ګوند څخه واېستل شي.( د ۱۳۵۶ کال منی) دا وړاندیز د تره کي، شاه ولي، کارمل او کشتمند له خوا رد او نورو شپږو تنو تایید کړ. البته مسکو- کارمل د ګوند د یووالي څخه خپل ګډ پلان درلود. د خلقیانو سره د یووالي په اړه د کارمل د لاندې وینا څخه چې سرور یورش او نجیب الله ته یې کړې وه د هغه موخې د پوهیدو وړ دي :« مخکې لدې چې د خلقیانو سره سازمان یو کړو هغه باید د پرچمیزم په قالب کې سمنټ کړو او بیا وروسته د خلقیانو په لور لاړ شو. زه یقین لرم که جدي کار وشي پرچمیزم او مکتب به یې بریالی شي . موږ بلشویکان یو د منشویکانو سره به د ژوند تر پایه مبارزه وکړو. لدې امله اوسنی یووالی ، یووالی نه دی بلکې د واقعي یووالي لپاره د یوې جګړې پیل دی چې زموږ د مکتب مهر او نشان ولري.» ۱۱۰ د لایق په یادداښتونو کې د نجیب الله له قوله دا هم راغلي دي:« نن ملګري کارمل زه ، سرور یورش او مجید سربلند د دکتورس اناهیتا کور ته یوړو هلته یې له مقدمې پرته د کاغذ پرمخ دا طرحه جوړه کړه چې ښودل یې خلقیان په دوو فاشیستي او سکتاریستي فرکسیونو ویشل شوي دي او ویل یې چې لومړی فرکسیون تره کی او حفیظ الله امین او دوهم فرکسیون پنجشیری ، میثاق او زیری رهبري کوي. څرنګه چې د فاشیستانو فرکسیون اګرسیف دی او د سکتاریستانو فرکسیون پاسیف ، باید په لومړي ګام کې د سکتاریستانو سره یو ځای شو او فاشیستان له پښو وغورځوو او په دوهم ګام کې د سکتاریستانو حساب ته ورسیږو.» د ګوند د بیا یووالي وروسته بهیر هم وښودل چې په رښتیا هم کارمل د مسکو له لوري د ورکړل شوې نقشې د پلې کولو لپاره عملي ګامونه اوچت کړل. د یووالي وروسته ډېر ژر د ګوند څخه د امین د ایستلو هڅې پیل شولې که څه هم باید د ګوند څخه د کارمل د اېستلو هڅه هم شوې وای ځکه هغه هم د امین په څېر د یووالي ضد دریځ نیولی وو. پنجشېری د ګوند څخه د امین د اېستلو په اړه وایي چې ګواکې امین د پلان د وزیر علي احمد خرم په وژنه کې لاس درلود. لکه څرنګه چې ترهګر مرجان ونیول شو او ښېله شکه د هغه څخه بشپړ تحقیقات شوي دي خو د هغه پرته بل څوک و نه نیول شول دا بیا ښیي چې د مرجان ملګري کوم چې په ترور کې ور سره شریک وو له هېواده وتلي وو او امین خو په هېواد کې ژوند کاوه. مرجان چې د ترور په ورځ په نورمحمدشاه مېنه کې د پولیسو له خوا ونیول شو د هغه څخه د تحقیقاتو وروسته څرګنده شوله هغه توپانچه چې خرم پرې وژل شوی وو له هغه سره نه وه. لدې څخه ښکاري چې توپانچه د هغه ملګرو ترې اخېستې ده . لدې امله پر امین د خرم په ترور کې لاس لرل د یوې دسیسې پرته بل څه نه وو چې پنجشېری پکې ښکېل وو هغه پنجشیری چې د کارمل په وینا د خلقیانو د فرکسیون د پاسیفو مشرانوڅخه یو وو. که چېرې امین له ګوند څخه اېستل شوی وای په هغه صورت کې تره کی په کمزوري حالت کې پاتې کیده ، د کارمل تله درنه کېدله او د دې امکان وو چې کارمل د ګوند مشر شي. له یاده ونه باسو چې تره کي دا ګواښ درک کړی وو او د ګوند څخه د امین د اېستلو مخه یې نیوله . د ګوند د واکمنۍ پر مهال په ګوند او دولت کې پېښو هم وښودل چې په لومړي ګام کې کارمل او شوروي اړخ په ګډه د کارمل په خبره د فاشیستانو (تره کي او امین) حساب ته ورسیدل او د سکتاریستانو د ځپلو دنده نجیب الله پیل کړه خو حالات داسې راغلل چې نجیب الله په خپله لوبه کې پداسې یوه لومه کې را ایسار شو چې دې پکې ووژل شو او د کارمل په وینا سکتاریستان له مرګه وژغورل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيرې د تره کي او امين د وژلو ځرنګوالي ته وکتل شي هغه د مسکو د ارادې له مخې پلي شول او همداراز د دوهمې ډلي اړونده کسان هم د مسکو د ارادې له امله د شهنوازتني د کودتا په تور زندان ته واچول شول چې پخپل وخت به پدې اړه بحث وشي. لدې نه ځرګنديږي چې د ګوند د بيا يووالي د هڅوونکي ( مسکو) او نوښتګر(کارمل) نقشه يوه وه چې هغه د خلقيانو په نامه د سياسي سازمان له منځه وړل او په پرچم کې يې د غړو ادغامول وو. د لايق يادداښتونه دا واقعيت بربنډوي چې د پرچم مشرتابه تولو پدې اتفاق درلود چې د يووالي په نامه د خلقيانو خلاف مبارزه وکړي او هغوی له سياسي ډګره وباسي. دا چې لايق خپل يادداښتونه وروسته له دريو لسيزو رسنيز کړل دا د دې معنی نلري چې د ګوند د يووالي په اړه نوموړی د کارمل له دريځ سره همغږی نه وو . که لايق او يا د پرچم بل کوم مشر د يووالي په اړه د کارمل له ليدلوري سره همغږي نه وو غوره دا وه چې اعتراض يې کړی وای يا دا چې له کارمل څخه يې خپله لار جلا کړې وای. لکه ځرنګه چې خليل الله زمر د پرچم د فرکسيون د مرکزي کميټي غړي د ګوند د يووالي سره د مخالفت له امله د پرچم د فرکسيون له غړيتوب څخه استعفی وکړه. د ګوند يووالي د ګوند او خاصتآ د خلقيانو لپاره د ګوندي دستور په نامه په ګوندي حوزو کې اعلان شو. دا يووالی د خلقي مشرتابه او که دقيقآ وويل شي د تره کي د ارادې له مخې په خلقيانو تحميل شو. د پرچميانو سره يووالي د تره کي داسې ستره تيروتنه ده چې پايله يې نه يوازې د ده وحشيانه وژنه شوله بلکې خلقيانو او د افغانستان خلکو ته سترې بدمرغۍ راوړلې. د يووالي وروسته په ګوند کې بې اعتمادۍ خپل سيوری غوړولی وو او د بيا انشعابونو امکانات خورا زيات وو. امين هرو مرو يا له ګوند څخه شړل کېده يا د خپلې ډلي سره له ګوند څخه ووت . د پرچميانو يوه برخه د محمد داود سره يوځای کېدله. که محمد داود په ګوند بريد نه وای کړی ګوند هرو مرو په څو برخو ويشل کېده ، د داود خان دريځ پياوړی کېده او په واک کې د پاتې کېدو چانس يې زيات وو.

په هرصورت د ګوند يووالي ظاهرآ واحد ګوند ته پياوړې بڼه ورکړله او د يووالي څه کم دوې مياشتي وروسته د وړي په نهمه د پښتونستان د ورځې د نمانځلو له امله په پلازمېينه کې ميشتو ګوندیانو ته دستور ورکړل شو چې په هغې کې په ګډون سره د ګوند ځواک ننداري ته کيږدي. د پښتونستان واټ د ځلورلارې په شمالي برخه د افغانستان بانک ترڅنګ د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند د مشرتابه را ځرګنديدل او په مقابل لوري کې د خيبر رستوران مخې ته د جمهور رئيس او د حکومت د غړو شتون د حکومت په وړاندې غښتلي سياسي ځواک ننداري ته کيښود. په تېره کله چې مراسم پای ته ورسيدل او ګوندي مشران د خپلو ګوندي ملګرو په بدرګه چې يوه اوږده کوڅه يې ورته جوړه کړې وه او ګوندي مشرانو د لاسونو په خوځولو سره د ښوونې او روزنې وزارت تر ودانۍ په پوره نظم سره لاريون وکړ حکومت ته دا ځرګند پيغام درلود چې دا ګوند له پامه ونه غورزول شي او په بله خوا يې واکمنی ته کومه چې د سياسي اپوزيسيون شتون ورته د زغملو نه وو او په تيره د هغې محافظه کار او ښی لاسی اړخ ولمساوه ترڅو په ګوند فشار زيات کړي اود هغه د ځپلو لارې چارې ولټوي. که د ليکنې دا برخه په څو کرښو کې را ونغاړو ويلی شو چې د ګوند يووالی د مسکو فشار سربېره په دواړو خواوو د حکومت د فشار، د جمهوري دولت له کابينې نه د پرچميانو د شړلو، د پرچميانو د کورنې اختلاف او د خلقيانو د پياوړتيا له امله ترسره شوی دی او د مسکو۔ پرچم موخه په محمدداود د فشار راوړلو سربېره د خلقيانو د مشرانو بې اغېزې کول او پدې ډول د واحد ګوند مشرۍ ته د ببرک کارمل رسول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاريخي امانت

د افغانستان په چاروکو او سياستوالو کې به داسي څوک و نه مونډل شي چي د خپل حکومت ،خپل سازمان او په تېره خپلي تېروتني ومني او ډېری يې تېروتنو ته په تېروتنو ځواب ورکوي. يو شمېر يې د سياسي او ټولنيزو پېښو په نامه پنډ پنډ کتابونه چي منځپانګه يې د ځان او خپلي ډلي ستاينه او د خپلو سيالانو او مخالفانو ملامتول دي خپروي چي پدې ډول تاريخ تحريف او راتلونکو نسلونو ته درواغ وړاندې کوي او نور يې بيا پټ رازونه ګور ته وړي. ظاهرشاه ، کارمل ، نجيب الله ، رباني او مجددي هغه دولتي مشران وو چي ډېر پټ رازونه يې ګورته يوووړل پداسي حال کي چي کافي وخت يې درلود چي د خپلې سياسي مبارزې او حکومتولی تجربې او خاطرې يې راتلونکو نسلونو ته په ميراث پرې ايښې واى . له نېکه مرغه سليمان لايق د ( ا ، خ ، د ، ګ ) د بنسټ ايښودونکو څخه د خپلې مړيني مخکې د سياسي يادداښتونو په نامه خپلې خاطرې ليکلي دي او يوه اووه دېرش دقيقه اي ويډيو هم ثبت کړې ده چي د (ا ، خ ، د، ګ) د انشعاب اصلي عامل او د دې ګوند د يوه مشر ميراکبر خيبر د ترور څخه پرده پورته کړې ده او دا ويډيو د هغه د زوی له خوا داسي وخت په ټولنيزو شبکو کې خپره شوه چي لايق لدې فاني نړۍ تللی او ځان يې حق ته سپارلی دی. داسي ښکاري چي لايق د څه د پاسه څلور لسيزې دا رازونه له ځان سره ساتلي وو او د وجدان د عذاب څخه د خلاصون په موخه يې مخکې له خپلې مړيني هغه ثبت کړي او خپله دا مرګه خو په واقعيت کې وينا تاريخي امانت ګڼي. د لايق له ثبت شوې وينا څخه د ګوند د يووالي ساتلو اړوند د تره کي او کارمل په دريځونو پوهېدلای شو چي تره کی د ګوند يووالي ته ژمن وو خو کارمل د يووالي ضد ګامونه اوچتول. د لايق ثبت شوي وينا د ګوند د سياسي بېرو د هغي غونډې په اړه ده چي په هغې کې عمومي منشي تره کي د سياسي بيرو غړيتوب ته د حفيظ الله امين او ميراکبر خيبر د را پورته کولو مسآله وړاندې کړې ده چي د سياسي بېرو ټول غړي لدې وړانديز څخه ملاتړ کوي او د تاييد لاسونه پورته کوي . لايق د سياسي بېرو دا غونډه د خيبر له قتل سره تړلې ګڼي او د ګوند له پخوانيو غړو غواړي چي دا مسآله وڅېړې تر څو د خيبر قاتلين ومونډل شي خو لايق د دې ترور عاملان کارمل او نوراحمد نور ګڼي.

هېره دې نه وي چي د دې غونډې څلور يا پنځه ورځې وروسته خيبر وژل کېږي. لايق او خيبر د پرچم د فرکسيون د مشرانو سربېره خپلوي هم لرله چي د لايق خور د خيبر مېرمن وه. بېله شکه هغه د خپلو يتيمو خورييانو او کونډې خور په ليدو سره د خيبر د قاتلانو څخه کرکه کوله . ښايي د ګوند د واکمنی پر مهال واکمنو شرايطو او د لايق اروايي ځانګړتياوو هغه اړ ايستلی وي چوپه خوله پاتې شي او د ګوند له مشرتابه ونه غواړي چي د خيبر د ترور دوسيه تعقيب شي . په ټولنيزو شبکو کې د لايق د مرګي خپرول دا هم ښيي چي هغه خپل زوی ته سپارښتنه کړې ده چي د ده ثبت شوې وينا د هغه له مړيني وروسته خپره کړي نه دا چي دی هم د خيبر په څېر ترور شي. که څه هم لايق د دې واقعيت په اړه خپله چوپتيا مصلحت ګڼي چي دا په خپله د هغه اروايي ځانګړتيا يا کرکتر ښيي چي تل يې مصلحت ته لومړيتوب ورکړی دی او د خپل مشر کارمل د ځينو ګوندي ضد او ملي ضد کړنو په وړاندې نه دا چي درېدلی نه دی بلکې همغږي هم ښودلې ده. د دې ويډيو د منځپانګې لنډيز په امانت داری سره راوړل کېږي: « د ۱۳۵۷ کال د حمل په ۲۳ يا ۲۴ د ګوند د عمومي منشي تره کي په کور کي د سياسي بېرو نوبتي غونډه وه چي د سياسي بېرو لسو غړو پکې برخه لرله. د آجندا د نورو مسآلو سربېره تره کي دا مسآله هم طرحه کړه چي حفيظ الله امين په پرله پسې توګه له ده غوښتي دي چي هغه سياسي بېرو ته را

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کړي . تره کي د امین د ځانګړتیاوو په اړه دا هم وویل چې هغه په خپلسر هم پرېکړه کوي .لکه ځرنګه چې د خلقي اړخ پوځي سازمان له امین سره دی که هغه سیاسی بېرو ته را پورته نکړو، مایوسه او عقده من به شي نه دا چې پداسې یوه کار لاس پورې کړي چې موږ د یوه تر سره شوي عمل سره مخامخ کړي. لدې امله که هغه سیاسي بېرو ته را پورته کړو ښه به وي. د واحد ګوند د یووالي او په سیاسي بېرو کې د پرونیو خلقیانو او پرچمیانو د موازېنې د ساتلو په موخه به میراکبرخیبر چې اغېزمن او د غوره ځانګړتیاوو څخه برخمن دی هم سیاسي بېرو ته را پورته کړو. ټولو ببله کومې تبصرې دې وړاندیز ته مثبته رایه ورکړله . تره کي وروسته لدې کارمل ته و ویل خیبر ستا دوست او ملګری دی که تاسي د سیاسي بېرو پرېکړه هغه ته ورسوئ او سربېره پردې که هغه زما کور ته راشي ترڅو ورسره خبرې وکړم او وپوهېږم چې آیا هغه دا پرېکړه ګټوره بولي او غواړي سیاسي بېرو ته راشي یا نه. کارمل ورسره ومنله او پدې ډول غونډه پای ته ورسېدله او موږ ټول د تره کي له کور څخه ووتلو او د خپلو کورونو پر لور روان شوو. په لار کې کارمل موږ پرونیو پرچمیانو ته وویل . خاین مو د خاینانه طرحو سره ولیدلو، بیا یې د کومې توطیې فکر کړی ، هره ورځ د توطیې په فکر کې دی. ما ورته وویل ولې دې په غونډه کې څه و نه ویل او هر څه دې ومنل او اوس هغه تخریبوې.مونږ څوک یو ، په خپل قول ، ژمنه او لاسلیک ولاړ یو... خبره مو تر شخړو ورسېده او سره رخصت شولو. د شپې په ۹ بجو د خیبر ټلفون راغی او راته و یې ویل، ضرورت پېښ شوی دی ته راځې که زه در شم. ما ورته وویل چې زه درځم او د هغه کور ته ورغلم. هغه د ستړې مشې وروسته را ته وویل چې بارق شفیعي راغلی وو او د کارمل پیغام یې راوړی وو. ویل یې دا یوه توطېه ده چې تا سیاسي بېرو ته را پورته کوي د نر په څېر تره کي ته منفي ځواب ورکړه. ما بارق ته وویل کارمل ته ووایه تره کی د ګوند د رهبری مقام دی ، هغه د ګوند لېډر دی، د سیاسي بېرو د لاربښووني واک له هغه سره دی، ستا هدایتونه د ګوندي اصولو او اساسنامې خلاف دي هغه نه منم او بارق ولاړ. لایق وایي ما ورته وویل استاده ! لکه چې ډارشوی یې .

هغه وویل، نه د افغانستان په څېر وروسته پاتې هېواد کې سیاسي لوبې خورا ناوړه پایلې لرلی شي ، ضرورت دی چې یو شریف شاهد شتون ولري. زه خپل کور ته راغلم او سبا شپه د ۹ بجو وروسته بیا د خیبر ټلفون راغی او ویې ویل پرونی موضوع انکشاف وکړ ، ته زما کره راتلی شې یا زه درشم او زه د هغه کور ته ورغلم. هغه وویل :« نن نوراحمدنور راغلی وو د بارق خبرې یې تکرار کړې او دا یې هم وویل چې خاین تره کي ، قبیلوي پدیدې ته منفي ځواب ورکړه، دا توطېه ده. ما ترې وپوښتل کومه توطېه؟ ویې ویل توطېه ده. خیبر وایي ما ورته وویل زه ورځم، خپله پرېکړه په خپله کوم، زه د کارمل دستورونو ته غوږ نه ابږدم. نور وویل ستا دا کارونه تا ته خطر لري.ما ورته وویل څه خطرلري ؟ نور وویل دا مسآله ساده نه ده سر به دې له لاسه ورکړې او و به وژل شې . ما ورته وویل څوک به مې و وژني؟ هغه وویل دا زه ، دا زه. خیبر خپله د پرونی شپې خبره تکرار کړه چې په منځ کې یو شریف شاهد باید وي ، دا مسآله انکشاف کوي او یوه نامطلوب لوري ته ځي. د هغه له کوره راووتلم او خپل کورته را غلم . د نوراحمدنور خبرې را ته احساساتي معلومې شوې او جدي مې و نه ګڼلې . فکر کوم دوه ورځې وروسته ماښام ټلفون راغی او ځان یې پولیس معرفي کړ او و یې ویل د مطبعې شا ته خیبر وژل شوی دی ،څرنګه چې هغه ستاسي له خپلوانو څخه دی که راشئ چې د هغه په پېژندنه کې مرسته وکړئ .

لایق خپل زوی ور استوي او زوی یې د پولیس د تلفون له لارې خبر ورکوي چې خیبر کاکا یې وژلی دی. زه هېڅ شک نلرم چې دا وژنه د ګوندیانو لخوا وشوه ، خو ما په خپلو سترګو نه دي لیدلي چې کارمل ، نور یا بل چا پرې ډزې کړې وي . خو پدې پېښه کې دا کسان ښکېل دي که داسې نه وای نو ولې یې خیبر ته دا خبرې کولې چې دا ستا د وژنې او مرګ سبب کېږي . لایق وایي فکر کوم چې زموږ په ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کوچنیو کوچنیو ګوندونو او کوچنیو فرکسیونو شتون درلود. زموږ د ګوند په تشکیلاتو کې پټ پنځه یا شپږ کسیز تروریستي سازمان شتون درلود چې ځینو مشرانو جوړ کړی وو ترڅو د دې او یا هغه د وژلو له لارې خپلې ستونزې حل کړي. لایق د کارمل په اړه دا هم وایي چې هغه تقوا نلرله ، درواغجن، دوزمار، توطېه ګر، په ځان مین او فرکسیونباز وو. لایق د خیبر څخه هم ګیله من دی چې ولې یې تل د کارمل ملاتړ کاوه.» لایق باید خپل ځان ملامت کړی وای چې د ده په خبره ولې یې د مرداریو ډک « بې تقوا، درواغجن ، دوزمار، توطېه ګر، په ځان مین او فرکسیونباز» ګوډي، کارمل تر مشرۍ لاندې سیاسي فعالیت کاوه او له داسې یوه انسان څخه یې لار جلا نکړله. ده هم باید د یوه حقوقي شخصیت او سیاستوال په توګه خپلواک ګامونه اوچت کړي وای نه دا چې د خیبر دریځ ته په کتو سره د هغه څخه متابعت وکړي او له څلورو لسیزو وروسته له خیبرڅخه ګیله وکړي. لایق د ګوند د بیا یووالي په اړه وایي چې« د پرچم مشرانو کارمل ته ویلي وو څرنګه چې تاسې انشعاب کړی دی شخصا تا او تره کي انشعاب کړی په خپله له تره کي سره د یووالي په اړه مذاکره وکړئ. هغه وایي د یووالي په هکله د تره کي شرط دا وو چې دوهم رهبر نه منم. هغه کارمل ته وویل تا مراجعه کړې ده. تره کي دا هم وویل چې په واحد ګوند کې کارمل په خپل حق قناعت نه درلود او انشعاب یې وکړ، کارمل یوازې په سیاسي بېرو کې زغملی شم ، نه د دوهم رهبر په توګه. لایق دا هم وایي چې د ثور د وسلوال پاڅون وروسته بدمرغي دا وه چې کارمل غوښتل موازي رهبر وي.» لایق په ویډیو کې د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د تاریخ داسې ترخه واقعیتونه بیانوي چې د دې ګوند بدنامي او د هغې د واکمنی ناکامي ورسره تړلې ده چې هغه د ګوند په انشعاب کې د کارمل رول د۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې نېټې د وسلوال پاڅون وروسته منفي دریځ دی . د لایق دا خبره چې په ګوند کې پټ تروریستی سازمان شتون درلود دا نو بیا د سیاستوال کار نه بلکې د باندې او مافیایي کړۍ د مشر کار دی. مخکې مو د « په ګوند کې پټ تشکیلات » په برخه کې د پرچم په فرکسیون کې د «پهلوانانو، زړورو او عیار مشربه» کسانو په پټه تنظیمولو ته ګوته نیولې وه چې په بېړنیو حالاتو کې د سیاسي مخالفانو په وړاندې ددې وګړو څخه کټه پورته کړي یعني دا چې هغوی وګواښي، ددې مافیایي تروریستي ډلې ارادې ته سرټیټ کړي چې لایق هغه پټ پنځه یا شپږ کسیز تروریستي سازمان ګڼي. لایق پدې پنځه یا شپږ کسېزه تروریستي فرکسیون کې په دوو تنو کارمل او نور شک کوي. دا چې د دې ترهګر سازمان یا شبکې نورغړي به کوم پرچمي کدرونه وي څېړنو ته اړتیا لري . ښېله شکه دا باید هغه پرچمیان وي چې د کارمل نږدې کسان او د هغه د ګوندي ضد دستورونو پلي کوونکي وو. غوربندي د خپل کتاب په ۱۰۴- ۱۰۵ پاڼو کې د شوروي اشغال په لومړیو کې د مزارشریف د ولایتي کمېټې د منشي عبدالاحد رهنورد په اړه لیکي چې نوموړي د ولایتي کمېټې یو غړی سید عظیم ګوهري په ولایتي کمېټه کې وژلی، ټوټې ټوټې کړی ، د وجود غړي یې په بوجی کې اچولي او د ولایتي کمېټې په انګړ کې یې خښ کړي دي.( ګوهري پخوانی خلقي او بیا د کار د ګروه کدر وو) دا پېښه افشاء او د شوروي سلاکارانو د فشار له امله رهنورد بندي شو. غوربندي دا هم وایي چې رهنورد په زندان کې شاهانه ژوند درلود او د دې لپاره چې حقایق او دا راز پټ پاتې شي د هغه د اعدام حکم صادرېږي. « کله یې چې د شپې په پټو سترګو وژنځای ته لېږداوه ، په لوړغږ یې چیغې وهلې او ویل یې : نامردانو ! زما په وژنو ستاسو ګناوې نه پټېږي . هغه نوراحمدنور یاداوه او چیغې یې وهلې چې ولې هغه د ده د ژغورنې لپاره نه راځي .» ۸۰/ ۱۰۵ د پرچم په فرکسیون کې ددې تروریستي شبکې د مشرانو په پېژندنې کې د لایق لاندې څرګندونې مرسته کولی شي . لایق په خپلو یاددابښتونو کې دا راوړي چې د ګوند د واکمنۍ پر مهال تره کي د ماښام ډوډۍ خوړلو ته وربللی او د خبرو په ترځ کې یې ورته ویلي وو: « نه پوهیږم ببرک جان بیا کوم پلان لري محمود بریالی او نجیب الله را لیږي ، بریالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما صفتونه کوي او نجیب بیا داسي چلند کوي چي ما عصبي کړي .» لکه څرنګه چي د ګوند د مشرۍ پر سر اختلاف په برخه کي راغلي وو چي کارمل غوښتل تره کی له منځه یوسي دا مساله یي د نوراحمد نور ، عبدالوکیل او محمود بریالي سره شریکه کړې وه ښیي چي دا دری تنه د پرچم د تروریستي فرکسیون غړي دي . همدارنګه د ګوند د واکمنۍ په لومړیو کي بریالی ، نجیب او وکیل د ګوندي ضد فعالیتونو له کبله د ۱۹۷۸د کال د جون د شپاړلسمي نېټي د سیاسی بېرو په غونډه کي د لاسوندونو له مخي د ګوندي ضد فعالیتونو له امله د سفیرانو په توګه ګومارل کیږي. دا د دې ښکارندوی دی چي دا دری تنه ( بریالی، نجیب ، وکیل) د کارمل ارادتمندان وو چي د هغه د دستور له مخي یي پټ ګوندي ضد فعالیتونه پر مخ وړل . پورتنیو بېلګو ته په کتو سره ویلی شو چي د پرچم په ګوند کي د لایق په خبره د پنځه کسیز تروریستي فرکسیون غړي کارمل،نور، نجیب ، وکیل او بریالی وو دا ځکه چي هغوی د کارمل د پټو دستورونو پلي کوونکي وو . همدارنګه ځیني امتیازحسن هم پدې ډله کي شمېري چي پدې صورت کي د پرچم په ډله کي شپږکسیز تروریستي ګروپ بشپړکیږي. امتیاز حسن په پرچمیانو کي د عیار په نامه پېژندل کېدلو چي په جیب کي به یې بوکس پنجه او چاړه وه. البته د خیبر د قاتلینو په اړه حکم کول ستونزمن کار دی خو د غوربندي او لایق له لیکنو څخه داسي ښکاري چي د پرچم په فرکسیون کي پټي تروریستي کړۍ شتون درلود چي د پرچم د سیالانو او مخالفانو او په خپله د پرچم د ننه د کارمل د مخالفانو سره په خپل وخت محاسبه وکړي. دا چي د پرچم د واکمنۍ پرمهال کارمل او نجیب الله دواړو د خیبر د ترور دوسیه تعقیب نکړه او د نوموړي یادونه یي هم ونکړه ښیي چي د خیبر سره دواړو دښمني لرله او د هغه په ترور کي یې لاس درلود. سیاسي بېرو ته د امین او خیبر د راپورته کولو په اړه ددې خبرې یادول اړین بریښي چي تره کي د خیبر سره پدې موضوع خبرې کړې وې چي هغه به د خیبر له قوله د ذبیح الله زیارمل د نجیب الله د واکمنۍ پر مهال د دفاع وزارت د سیاسی رییس څخه واورو. زیارمل وایي: « تصادفا په ښار کي تره کی او خیبر سره مخامخ شوي او تره کي خیبر ته ویلي وو. موږ د وحدت د را منځته کولو لپاره په یوه فورمول توافق کړی دی او د همدغه فورمول پر بنسټ به ګوندي وحدت عملي کړو خو اوس ګورو چي یو شمېر اغېزمني او مستحقي څېرې له سیاسي بیروڅخه د باندې پاتي شوي دي . موږ پرېکړه کړې چي د دواړو ډلو د توازن د نه خرابېدو لپاره د خلقیانو له پلوه حفیظ الله امین مستحق او اغېزمن ملګری دی او د پرچمیانو له پلوه تاسو ته په سیاسي بېرو کي دغړیتوب ارتقا درکړو. لدې کبله اړتیا ده چي له نږدې خبرې وکړو. میراکبر خبیر ورته وویل : هر وخت چي تاسو لازم بولئ تاسو ته به درشم. تره کي وویل : پرېږده چي زه په خپله د هغوی په وسیلي تاسو ته زموږ د لیدو کتو وخت ووایم.»

## هغه ترور چي د هیواد د تاریخ پانه یي واړوله

د چنګاښ انقلاب وروسته د وخت په تېرېدو سره امنیتي حالات کړکېچن کېدل. واکمنۍ هم د شکمنوکسانو په نیولو او د سیاسي مخالفینو په ځپلو لاس پورې کړ. د جمهوري نظام پنځه کلن اقتداراو د پیښو بهیر ته په کتني سره هغه په دوو پړاونو ویشلی شو. په کورنی برخه کي لومړی پړاو د کودتا ګانو ،کودتایی هڅو او بلواوو او دوهم یې د مرموزو قتلونو ،تروررونو او اختناق پړاو دی. په بهرني سیاست کي د لومړي پړاو ځانګړتیا د لویدیځ او لویدیځ پلوه ګاونډیانوخلاف دریځ او د شوروي اتحاد سره دوستانه اړیکي او په دوهم پړاو کي د لویدیځوالواو د هغو د سیمه ییزو متحدینو سره د نږدې کیدو او له شوروي اتحاد څخه د لرې کېدو پړاو دی. جمهور رئیس د نظام په وړاندې د مخالفینو دولتي ضد فعالیتونو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتو سره اړشو چې پخپلو تګلارو کې بنسټيز بدلون راوړي چې هغه د محافظه کارو په کته د حکومت څخه د سمونپالو او کيڼ اړخو شړنه او پرهغوی فشار او د لويديځ په کته په نړيوالو اړيکو کې بدلون وو. محمدداود فکر کاوه چې پخپلو تګلارو کې به د داسې بدلون په راوستلو سره وکولی شي د جمهوريت مخالفين او د هغو بهرني ملاتړي راضي کړي .خو وليدل شول چې حالات د پخوا په څيرکړکيچن پاتې شول اود واکمنۍ څرګندو او ناڅرګندو مخالفينو پخپل تکتيک کې بدلون راووړ او د لوړپوړو چارواکو ،ولسمشر ته وفادارو څيرو او سياستوالو په تروراو وژنه يې لاس پورې کړ. په لومړي پړاو کې د امنيت د خرپړ کيدو ملامتي په بنسټپاله اسلامي کړيو ، چيني پلوه او سکتاريستي ډلو او د هغوی په بهرنيوملاتړو اچول کيده خو په دوهم پړاو کې پرچم او شوروي اتحاد ته هم ګوته نيول کيږي. په دوهم پړاو کې د پلان د وزيرعلي احمدخرم سربيره د يو شمير نورو د وژنې څخه يادونه شوې وه چې يوازې حکومت وکولای شول د خرم قاتل ونيسي اوهغه د اسلامي ګوند غړی اعلان کړي.د خرم د ترور پنځه مياشتې وروسته د اپريل په اوولسمه ماښام د دولتي مطبعي مخې او ارګ ته څېرمه ميراکبرخيبرد افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې غړی چې د محمد داود له ارادتمندانو څخه شميرل کيدلو ترور شو خو ترهګر په تيښته بريالي شول. د خيبرد وژنې يوه ګړی مخکې د ( ا، خ، د، ګ ) سياسي بيرو پريکړه کړې وه چې د مې لومړۍ د کارګرانو نړيواله ورځ به د يوې مظاهرې په ترڅ کې نمانځي او پدې توګه به خپل څه کم پنځه کلن سکوت ماتوي. د خيبر له ترور وروسته نيمه شپه د تره کي په کور کې د مرکزي کميټې پلنوم را وبلل شو . په پلنوم کې «تره کي وړانديز وکړ چې د شهيد مير اکبر خيبرجنازه په ځانګړي پرتمين ډول د ماجراجويی او فتنې پرته بدرګه شي. د خيبر په ترور کې مختلفو مرکزونو او څيرو( شوروي اتحاد، کارمل ،اسلامي غورځنګ ، حکومت ، امين) ته ګوته نيول کيږي.د نوموړي په ترورکې د مختلفو مرکزونو ښکېلتيا ته په کتو سره د ترور موخه او د ترور په سمبالوونکي مرکز پوهيدل ستونزمن کيږي. عجيبه دا ده چې د ( ا، خ، د، ګ ) د واکمنۍ پرمهال نه يوازې د نوموړي د ترور دوسيه تعقيب نشوه بلکې د هغه د شخصيت او مبارزې په اړه مازې يادونه هم ونشوله. نجيب الله چې ځينې هغه د خيبر د ډلې څخه هم شميري په خپله واکمنۍ کې هم د خيبر د شخصيت او کارنامو په هکله هم يادونه ونکړله. خو ګوند د نوموړي د جنازې د تدفين مراسم پداسې پرتمينه توګه ترسره کړل چې د افغانستان په تاريخ کې يې ساری ندی ليدل شوی. د خيبر جنازه له مکرويان څخه تر شهدای صالحين پورې د دوولس زروڅخه تر پنځلس زرو کسانو په ګډون د امريکې د سفارت او ارګ له مخې تيره شوه چې برخه والو مرګ په ارتجاع ، مرګ په امپرياليسم، مرګ په سی آی اې شعارونه هم ورکول. « د تدفين د مراسمو وروسته نورمحمدتره کي د لومړي ځل لپاره د ګونديانو او د کابل د خلکو په وړاندې وينا واوروله او د خيبر ترور يې د اداري دستګاه د کمزورۍ او مستقيم فساد پايله وګڼله چې د کورنۍ ارتجاع او امپريالستي محافلو د خاينانه توطئې پربنسټ ترسره شو.» ۲/ ۶۵- ۶۸ همدا راز د خيبر د قبر پر سر کارمل او بارق ويناوې وکړې ،سليمان لايق او دستګيرپنجشيري د هغه د مرګ په هکله په پښتو او دري ژبو خپل شعرونه ولوستل. کارمل په خپله وينا کې د خيبرقاتلين داسې معرفي کوي: « زموږ د ګران ملګري د هيواد د خلکو د دې اصيل بچي قاتلين د تورې افراطي ارتجاع په مشرۍ کورني ارتجاعي ځواکونه ، واکمن ښي لاسي محافل ، د سيمې ارتجاع او امپرياليسم د هغه په سر کې د امريکې، پاکستان ، ايران او نورې نورې جاسوسي شبکې دي.» ۲/ ۷۲ د خيبرفاتحه د شاه دوشمشيره په جومات کې واخيستل شوه او فاتحه ورکوونکي تردې کچې زيات وو چې د پل لرزانه څخه تر جامع پورې په کتارونو کې انتظار يوست. که څه هم د ګوند مشرانو د خيبر ترور د کورنيو ارتجاعي کړيو،لويديځوالو او د هغه د سيمه ئيزو متحدينو د ځارګرو شبکو کار ګڼه خو هم په ګوند کې ا وهم له هغه بهر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروركي د واكمنۍ سربېره د ګوند ځيني مطرح څيرې او شوروي اتحاد هم ښکيل ګڼي. ځيني د خيبر ترور د خلق او پرچم د يووالي سره تړي. د پنجشيري په وينا د دې يووالي څخه محمد داود، كارمل او امين خوښ نه وو. ځېني بيا خيبرهم د يووالي څخه ناخوښ ګڼي .پردې بنسټ هغه مرکزونه او افراد چې د دې يووالي مخالف وو او يا د يووالي له پايلو وېره لرله د هغوی لاس بايد په ترور کې ولټول شي.

خيبر د هغه له ترور مخکې د هيواد په سياسي غورځنګ کې د تره کي ، كارمل او امين پرته لکه د ګوند د نورو مشرانو په شان له شهرت نه برخمن نه وو خو د هغه د جنازې مراسمو هغه په يوه مشهوره څيره واړاوه. د ګوند د واکمنۍ وروسته د هغه يو شمېر پرچمي ملګري د ده د لوړ شخصيت په اړه ډيرڅه وايي . د پرچم په فرکسيون کې د كارمل مخالفان هغه يو ملي ګرا او ژمن مبارز،د پرچم د اړخ تئوريسين او د خلق او پرچم د يووالي طرفدارګڼي. د خيبر يو شمير پلويان بيا د شوروي اتحاد له ړنګيدو وروسته نويو نړيوالو شرايطو ته په کتو سره هغه د ګوند د بيا يووالي مخالف او د محمد داود د ملي غورځنګ سره د پرچم د فرکسيون د همکارۍ، ائتلاف او ځيني د محمد داود په ملي غورځنګ کې د پرچم د فرکسيون د انحلال طرفدار بولي. يو شمېر کسان لکه غوث الدين فايق هغه د محمد داود له كلكو ارادتمندانو څخه شمېري چې د هغه په وينا خيبر د محمد داود د يوه انځور لاندې ليکلي وو : « يوه ورځ به دا با تدبيره ، د فکراو ارمان ډک سړی د دې ملت د دردونو او زمونږ د خلکو د ناسورو ټپونو درملنه و کړي. » ۵۲/ ۲۲ سربيره پردې په ګوند او د ګوند بهر ځيني په هغه تور لګوي چې نوموړی د شاهي دولت د څارګرې ادارې ( ضبط احوالات) او د جمهوريت د ملي مصؤنيت سره كاري اړيکي درلودلې. د خيبر په اړوند قضاوت له دې امله مشکل دی چې « انسان خپل جوهرهغه وخت جوتوي چې د واک په ګډۍ ناست وي» او خيبر دې دريځ ته و نه رسيد لکه څرنګه چې د هغه سازماني ملګري واک ته ورسيدل او اوس د هغوی په اړه قضاوت کيدای شي چې هغوی څوک وو ؟ د ګوند په څوارلس کلنه واکمنۍ کې د خيبرد ترور په اړه د پلټنو نه ترسره کول دا ګومان په واقعيت اړوي چې «د خيبر د ترور پيښه هم د هغو توطئو او دسيسو د ځنځير يوه کړۍ ده چې د روسانو د جاسوسي دستګاه( کی جی بی ) له خوا د افغانستان د خلک دموکراتيک متحد ګوند د مشرتابه څخه د ببرک كارمل د مخالفانو او سيالانو د ايستلو او له منځه وړلو په خاطرطرح شوې او تر اجرا لاندې نيول شوې وه .» ۱۱۱ پورتنۍ څرګندونې تر يوې کچې د منلو وړ ځکه دي چې د شوروي دولت او د كارمل متقابله اړيکو ته په کتنې سره ويلی شو هغه مهال چې كابل له مسکو سره واټن نيولو مسکو- كارمل په ګوند کې د محمد داود د پلويانو د تجريد، کمزورۍ او له منځه وړلو نقشه پلې کوله ځکه خيبر د محمد داود له پلويانو څخه وو.

اوس به وګورو که چيرې ک ګ ب - كارمل د خيبر په ترور کې لاس درلود موخې يې څه وې او څه يې ترلاسه كول ؟ شوروي د افغانستان په دولتي دستګاه کې ژور نفوذ درلود او د چنګابښ د انقلاب په بري سره يې نفوذ لا نورهم زيات شو. کله چې محمدداود« د۱۹۷۵ كال د دسمبر په لومړيو کې د خپلې كابينې په جوړولو لاس پورې کړاو د هغې نه يې پاتې چپيان وايستل بيله ځنډه د شوروي اتحاد جمهور رئيس نيکلای پودګورني له كابل نه ليدنه وکړه او خپله انديښنه يې څرګنده کړه .» ۴۷/ ۱۷ ښايي دې سفر اړينې پايلې نه لرلې نو مسکو په دې هڅه کې شو چې د افغانستان مشرتابه واوړي چې يوازينۍ لار يې د کودتا له لارې د رژيم نسکورول وو . د رژيم خلاف کودتا له پاره د شوروي په سفارت کې تياري نيول کيده چې باوري ځواک يې د پرچم فرکسيون وو. د كارمل لاندې څرګندونې يې ښه بيلګه ده چې د شوروي په سفارت کې افغان ژورنالست شاه زمان وريځ ستانزي ته پداسې حال کې کړې وې چې نېشه وو:« هغه وخت رارسيدلی دی چې د غدار نادر د كرغيړنې کورنۍ زوړ نظام رانسكور شي. د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخاطب چې شاه زمان دی پوښتنه کوي چې ملګری کارمل څه وخت ؟ هغه وايي ، صبر وکړه پدې مياشت کې يا وروسته.» ۵۳/ ۸ پورتنۍ څرګندونې ښيي چې کارمل د نظام د نسکورولو په فکر کې دی ، د پرچم په مشرتابه کې خيبر د نظام د چپه کولو مخالف وو او ښايي پردې او يا نورو مسالو د کارمل او خيبر ترمنځ اړيکې ترينګلي شوې وي.پدې هکله د سليمان لايق په يادداشتونو کې راغلي دي : « د ميراکبرخيبر او کارمل ترمنځ د يووالي مخکې آزردګۍ پيداشوې وې. د دوی د آزردګيو يو لامل دا وو چې ملګری نور او ملګری وکيل او ځيني نور پدې عقيده وو چې د داود حکومت د کودتا له لارې نسکور شي او د نور د رپوټ له مخې هغه مهال تقريباً ديرش تنه ګوندي افسران چې زموږ ملګري وو د محمد داود په ګارد کې دنده لرله. ملګري نور او د هغه ملګروعقيده لرله چې موږ کولی شو د همدې افسرانو پرمټ د داود رژيم له منځه يوسو اوخپل رژيم اعلان کړو. خيبرد دې نظر سره همغږی نه وو.» ۱۱۲ له همدې امله او يا نورو لاملونو له کبله د کارمل او خيبر ترمنځ اختلاف د دښمنۍ تربريده رسيدلی وو چې يو وخت کارمل خيبر په مرګ ګواښلی هم وو او خيبرد دې ګواښ په هکله د کارمل نږدې ملګري نوراحمدنور ته ويلي وو: «ستاسې کارمل زه په مرګ ګواښلی يم زما له خوا ورته ووايئ چې زه له مرګه نه وېرېږم. کارمل مستقيماً او په څرګنده توګه ماته خبرداری راکړی او په مرګ يې ګواښلی يم ،هغه د دې پرځای چې د يوه زړه سواندي لاربنود په څېرد غوره فضايلو ځانګړتياوې ولري او وده ورکړي مينه لري چې د مافيا د دريمې درجې باند د مشر په رول کې ځان وآزمايي.» ۸۰/ ۵۴ د پرچميانو له لوري د پوځي کودتا له لارې واک ته رسيدل د اوليانفسکی د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د نړيوالو اړيکو د څانګې د مرستيال له څرګندونوڅخه معلوميږي چې د افغانستان د دفاع وزارت د سياسي چارو د رياست لومړي سلاکار جنرال زاپلاتين ته مخکې لدې چې افغانستان ته لاړشي ويلي وو: «په ربنتيا سره زموږ وړاندوېينه داسې وه چې انقلاب بايد پرچميان وکړي .موږ پدې عقيده وو چې پرچميان زيات جدي او متشکل دي خو خطا وتي وو، ټول شيان سرچپه شول، اوس به تاسې ډير د خلقيانو سره سراو کارلرئ.» ۶۳/ ۶۶ د اوليانفسکی دا خبره چې ټول شيان سرچپه شول دا معنی لري چې خلقيانو په خپل پوځي پاڅون سره د مسکو- کارمل نقشه شنډه کړله . هغه مهال نه يوازې پرچميان په ارګ کې يو قوت وو بلکې د پوځ په نورو جزوتامونو کې هم په کليدي څوکيو ګومارل شوي وو. د مهتاب کلا د توپچي لوا قوماندان عبدالخليل او د زرهدارو د پنځلسمې قوا درستيزوال محمدرفيع دواړو د پرچم د فرکسيون غړيتوب درلود . کله چې ليکوال د ثور د اوومې نېټې په درشل کې له حربي پوهنتون څخه فارغ شو او د کندهارد قول اردو د قرارګاه د توپچي په قطعه کې په دنده وګومارل شو د دې قطعې قوماندان ډګروال حميدالله او درستيزوال جګړن محمد ايوب ابوي دواړه پرچميان وو او د قول اردو د بولندوی ياور جګتورن محمد اکرم هم پرچمي و. محمد ايوب ابوي او محمد اکرم د شوروي د اشغال پرمهال جنرالۍ ته ورسيدل. په پوځ کې د پرچميانو دا ډول دريځ هغوی ته دا شونتياوې ورکولې چې په آسانۍ سره واک ترلاسه کړي. غوربندي د خپل کتا ب په ۵۷ مخ کې راوړي . د ثور د پاڅون وروسته نورمحمدتره کي هره شپه د کابينې د يوه غړي سره کتل. ما په يوه کتنه کې د خيبر د قاتلينو د نه موندلې په اړه د نه پاملرنې له امله خپل نه رضايت وښود او ور ته و مې ويل که کوم ځای او يا مؤسسه د هغه په نامه ونوموو، تره کي وويل چې « د خيبر د ترور په شپه کارمل ورته ويلي وو څوک چې ډېله لوبه وکړي سزا يې همدا ده.» او په ضمني ډول يې وپوهولم چې « د خيبر ترور د کارمل په همکاری د کې جی بی کار دی .» د ګوند د يووالي وروسته« د بارق شفيعي او سليمان لايق په خبره په هغو ورځو کې د نوراحمد نور پواسطه کارمل خيبر ته تهديدوونکی پيغام رسولی وو ترڅو د انحلال غوښتونکي تګلاري نه ډډه وکړي.» ۲/ ۵۹ له دې کبله چې د داؤدخان د ملی انقلاب د غورځنګ سره د خيبر او د نوموړی د پرچمي پلويانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوځای کېدو مخنيوی شوی وي او يا دا چې خيبر د پرچميانو له لوری د کودتا سره همغږی نه وو ښايي د کی جی بی او کارمل د ارادې له مخې خيبر ترور شوی وي. د محمد حسن کاکړپه وينا « د۱۳۵۷ د وري د مياشتي په ۲۸ مه ( اپريل ۱۷ ، ۱۹۷۸ ) د کابل ښار د دولتي مطبعي مخامخ سړک کې د مازيگرماښام ترمنځ له يوه روان روسي جيپ نه پرې ډزې وشوې .دغه ترور د پرچم گوند کې د ننه په اصل کې د خيبر او کارمل ترمنځ د اختلاف نتيجه وه چې په غالب احتمال د کارمل د نږدې ملگرو نوراحمدنور او امتيازحسن لخوا عملي شو.» ۱/ ۱۴۳ حسن شرق د خيبرد مرگ په هکله ليکي : « د ميراکبر خيبرمرگ ښايي د کې جي بي د کوماندوگانو نه د يوه تن له خوا چې د شوروي اتحاد په سفارت کې مؤظف وو د عبدالقدوس غوربندي په همکارئ چې ميراکبر خيبر يې له خپل کور نه د قدم وهلو لپاره راوستی وو ترسره شوی وي. » ۳۸/ ۱۶۱ د شرق ادعا لدې امله ناسمه برېښي که غوربندي د کی جی بی سره تړاو درلود نو ولې يې د شوروي د اشغال پرمهال اته کاله زنداني کړ او هغه يې ونه وژلو تر څو دا قتل افشا نشي. عبدالوکيل د کارمل د ترور زوی د خيبر د ترور او د هغه د قاتلينو په اړه ليکي :« قاتلانو قصدا انتظار يوست چې څه وخت عبدالقدوس غوربندي له مير اکبر خيبر څخه جلا کېږي تر څو سهواَ دواړه ترور نشي او يوازې خيبر ترور شي .» ۱۱۳/ ۲۴۴ د وکيل ددې وينا په هکله داپوښتنه پيدا کېږي چې وکيل څرنگه حکم کوي چې قاتلانو انتظاريوست چې غوربندي له خيبرڅخه جلا شي او بيا پرې ډزې وکړي. د وکيل لدې گومان څخه چې قاتلانو انتظار يوست چې غوربندي له خيبر څخه جلا شي او بيا په هغه ډزې وکړي غواړي وښيي چې غوربندي پدې ترور کې لاس درلود لکه څرنگه چې د لايق په وينا کارمل هم غوربندي پدې ترور کې ښکېل گڼي. پدې اړه د پرچم د فرکسيون غړی جنرال عبدالغني چې د عمرزي په مستعار نوم (شب هاى کابل) کتاب ليکلی دی، د کتاب په دريم مخ کې ليکي :« ځينو کړيو ويل چې د هغه مرتکب ( د خيبرد قتل) ببرک کارمل دی ، ځکه چې د پرچم په اړخ کې خيبر يو مهم ، با اعتباره او يوه غړی وو او د کارمل ځای ناستی شميرل کيده.»

د پورتنيوڅرگندونو له مخې کيدای شي د عبدالقدوس غوربندي د دې وينا سره چې « پوره دلايل شتون لري، وجداناَ حکم وکړو چې خيبر د کی جی بی له لوري د ببرک کارمل د غلطومعلوماتو پراساس چې نوموړی په انقلابي غورځنگ کې لري تروړشو.» ۵۶/۸۰ همغږي وښودل شي .

د خيبرپه ترور کې د حکومت لاس

يو شمېر کسان چې زياتره يې د ا. خ. د . گ غړي دي د خيبر په ترور کې حکومت او يا په حکومت کې ځيني کړی ښکېلي گڼي. دا ډله د خيبر ترور د گوند د يووالی سره تړي چې حکومتي محافظه کار اړخ يې د گوند ځېلو ته وهڅاوه .په حکومت کی هغو کړيو چې غوښتل گوند وځپي دليل يې دا وو« که چيرې هغوی ( خلقيان او پرچميان ) نيول کيږي يا اعداميږي د هغوی د نيولو لپاره بايد لاسوند ولرو اوس د راپورونو پرته نور کوم سند نه لرو.» ۳۸/۵۳ د خيبر له ترور وروسته د چارواکو لپاره لاسوند د گوند غبرگون وو. دا خبره چې« امين د نورو اوو تنو کمونست رهبرانو خلاف د جنازې په مراسمو کې وينا نه وه کړې و نه نيول شو. لدې امله هغه د نورو په گناه وو تورن نه وو ...، خو کله چې پوليسو د هغه د کورشا وخوا شکمن حرکات وليدل...، امين زنداني شو.» ۲۷/۴۷ هغه مهال گوند پټ فعاليت درلود او حکومت ته يې پلمه نه ورکوله چې پر هغه د کوم دولتي ضد فعاليت پړه واچوي. خو په دولت کې داسې کړئ وې چې گوند دولتي ضد اعتراضونو ته ولمسوي او دا اعتراض لاسوند وشمېري او په گوند بريد وکړي. د داؤدخان د کورنيو چارو د وزير دا خبرې چې« ډېر ژر به ټول تار او مار کړو او زه يقين لرم که دا د سرطان داني لرې نشي يوه ورځ به افغانستان بدمرغه او تباه کړي ،چاره دا ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د کمونیزم ریښې وایستل شي او د دې مسلک پیروان له منځه یوړل شي. » ۵۳/ ۷ دا گومان پیاوړی کوي« چې قتل په مستقیمه یا غیرمستقیمه تو گه د کورنیو چارو وزیر نورستاني له خوا سازمان ورکړل شوی وو، هغه مخکې خپلو دوستانو ته ویلي وو اوس هغه وخت دی چې د کمونستانو کار مخکې له دې چې قوي شي پای ته ورسوو. هغه ( نورستاني ) وظیفه پیژندونکی ( بریا ) وو هغه فکر کاوه چې د داؤد په سلا ښه پوهیږي او لازم یې نه گڼل ټول شیان هغه ته ووایي .» ۴۷/ ۲۵ (بېریه لاورېنتین پاولوویچ د ستالین په واکمنۍ کې د شوروي اتحاد د څارگرې اداري مشر وو.)

همدارنگه ځینې په ترورکې د وخت د دفاع وزیرغلام حیدر رسولي ښکېل گڼي او دلیل یې دا راوړي چې خیبرهڅې کولې پرچمیان د محمد داود په ملي غورځنگ کې منحل یا ادغام شي چې پدې صورت کې په جوړېدونکي حکومتي گوند کې د ده اغیز او نفوذ پیکه کیده لدې کبله یې د خیبر ژوند ته د پای ټکې کیښود. دستگیر پنجشیري د جنرال عبدالقادر له قوله راوړي چې « د هوایي او مدافعه هوایي د قوماندانۍ د استخباراتو رئیس ورته وویل. سردارغلام حیدر رسولي د خیبر د ترور پلان جوړ کړ او د یوه ښې لاسي بنسټپال سازمان په واسطه یې عملي کړی وو.د قاسم په خبره د ( ا، خ، د،گ ) ټول رهبران د خیبر په څیر ترورېدل. » ۶۰/۲ د محمد داود ځانگړتیاوو ته په کتو سره هغه دا نشوای زغملی چې د ده د واکمنۍ پرمهال څوک پداسې یوه کار لاس پورې کړي چې د حکومت کمزوري ونښيي. که د دولت لوړپوړي چارواکي په ترور کې ښکیل وو هغوی په خپل سر پدې ناوړه کار لاس پورې کړی دی. د خیبر له مرگ څخه د جمهوري حکومت د غړو خوښې دا گومان پیاوړی کوي چې ښایي د حکومت کوم چارواکي په دې ترورکې لاس درلود. د جمهوریت د مخابراتو وزیر پدې اړه لیکي:« د۱۳۵۷ کال د وري په ۲۹ د وزیرانو د مجلس نه مخکې د جمهور رئیس د دفتر په کوټه کې د کابینې د څو غړو سره ناست وو چې د فوایدعامې وزیرفایق راغی. هغه بېله ځنده وویل خبر یاست چې د دې لعنتیانو نه یو مردار شوی دی او کیسه یې وکړه چې د میراکبر خیبرمړی مطبعې ته نږدې د سړک د غاړې ویاله کې موندل شوی دی.» ۱۱۴

## د خیبر په ترور کې د اسلامي بنسټپالو لاس

یو شمیرڅیرونکي او په تیره د ( ا،خ، د، گ ) مخالفان د محمدداود د واکمنۍ پرمهال د اسلامي غورځنگ او نورو سیاستوالو وژل او زنداني کول د پرچمیانو کار گڼي چې خپل مخالفان د محمد داود د واکمنۍ پر مهال له منځه یوسي. لدې امله اسلامي غورځنگ پرچم د حکومت متحد شمیره چې د هغه سره دښمني د حکومت سره دښمني وه. هغوی د خیبر په ترور سره خپل دښمن له منځه وړلو، گوند یې کمزوری کولو او له بلې خوا یې کولای شول د دولت او د ( ا،خ،د،گ ) ترمنځ اختلافونو او مخامختیا ته لمن ووهي. اسلامپالو د خپلو عقیدتي باورونو له مخې د خیبر په شان د هر« کمونست » وژل خپل جهادي رسالت شمیره په تیره چې دا « کمونست» د هغه دولت متحد وي چې هغوی د هغه خلاف جهاد کوي. ځینې د خیبر ترور د حکمتیار له خوا سازماندهي شوی کار گڼي او یو د هغو څخه وحید مژده چې د حکمتیار له گوند سره یې یو وخت سازماني تړاو درلود لیکي : « په اردو کې مسلمان افسران پدې باور وو که چیرې کمونستان په کودتا لاس پورې کړي څوک یې مخنیوی نشي کولای ځکه چې حساسې پوځې څوکۍ یې په لاس کې دي لدې امله یوازینۍ لار دا ده چې د دې گوند مشران ووژل شي چې لړترلږه کودتا شا ته واچول شي.» ۱۱۵ مژده په خپله لیکنه کې د ترور د عاملانو نومونه هم راوړي دي. هغه مهال اسلامپاله ډلو( اسلامي حزب او اسلامي جمعیت) دواړو د شپې پاڼو په خپرولو سره د خیبر د وژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسؤلیت واخېست او د دې کار څخه يې موخه دا وه و ښيي چې په اصطلاح رښتيني مسلمان مبارزين دي او له بله پلوه پاکستان ته ثابته کړي چې دوی ته د آی اس آی له لوري ورکړل شوې مرستې بېځايه نه دي لګېدلي . البته هغه مهال دولت هم د خيبر د وژنې پېره په اسلامي ګوند واچوله .

## د خيبر په ترورکې د حفيظ الله امين لاس

د ۱۹۷۸ کال د اپريل پوځي پاڅون د حفيظ الله امين د دستور له مخې سر ته ورسيد. د دې پاڅون له امله د محمد داود واکمني نسکوره ، د ( ا، خ ، د ، ګ ) واک ترلاسه کړ او امين د يوې ځواکمنې څيرې په توګه چې د کارمل دښمن هم ګڼل کيده را څرګند شو چې هم د محمد داؤد د پلويانو او هم د پرچم د مشرتابه له دښمنۍ سره مخامخ شو. د پرچم دښمني لدې امله وه چې د هغوی پلان چې د کودتا له لارې دواد را نسکور کړي هغه يې شنډ کړ له همدې کبله هغوی د خيبر وژنه د امين له لوري ګڼي. د جمهوري رژيم د پلويانو له خوا د خيبر د ترور په تړاو متضادې څرګندونې د منلو ځکه ندي چې د ثور د پاڅون نه مخکې د جمهوري دولت رسمي دريځ دا وو چې خيبراسلامپالو وژلی دی خو وروسته له پاڅونه عبدالصمدغوث د جمهور رئيس د اسنادو مسئول هڅه کوي پېره د امين په غاړه واچوي. د هغه په خبره « په کابل کې عقيده پردې وه چې امين د خيبر د قتل او د ببرک کارمل نابريالي قتل ته سازمان ورکړی وو.» ۴۷/ ۲۵

که چيرې ومنل شي چې د خيبر په ترور کې امين ښکيل وو، دې پوښتنې ته به ځواب ولټوو چې امين د دې وژنې نه څه ترلاسه کول ؟ تولو ته څرګنده وه چې کارمل په پرچميانو کې د لوړاعتبارڅخه برخمن وو . که امين په راتلونکې کې د رهبرئ خوبونه ليدل او يا د کودتا فکر يې درلود او پرچم د امين د کودتا مخالف وو « هغه غوره ګڼله چې د کارمل له شره ځان خلاص کړي نه د بې آزاره خيبر نه.» ۱۰۶/ ۷۰ که چيرې امين غوښتل کارمل د خپل ځواکمن سيال په توګه کمزوری کړي منطقي دا برېښېده چې د هغه نږدې ياران سلطانعلي کشتمند يا نوراحمدنور چې « شهراله شهپر کشتمند د کارمل لايتر او نور يې ساتونکی » باله له ډګره وباسي او په پرچميانو کې د هغه د يوازيني سيال سره چې خيبر وو نږدې شي او په ګډه د هغه خلاف مبارزه وکړي نه دا چې د خپل سيال ، سيال و وژني. له بله پلوه خيبر هغه مهال د پرچم په فرکسيون کې له کمزوري دريځ نه برخمن وو . د خيبر کمزوري هغه وخت برښده شوه چې د۱۹۷۵ کال د پرچم د فرکسيون په کنفرانس کې د کارمل نظر چې د محمد داود خلاف مبارزه او د خلقيانو سره يووالی وشي تائيد شو او يوازې خليل الله زمر مخالفت ښودلی وو. يو شمير شنونکي چې د پرچم د فرکسيون له کورني وضعيت څخه معلومات نلري پدې نظر دي چې امين د داؤدخان خلاف د پوځي کودتا په فکر کې وو او هغه د پرچم د پوځي کړی له مخالفت نه وېره لرله چې د هغې مسؤليت خيبر درلود او لدې امله يې خيبرله ډګره وايستلو. په داسې حال کې چې د يووالي مخکې دا مسؤليت له خيبر څخه نوراحمدنور ته ليږدول شوی وو. لدې امله د امين له لوري د خيبر له منځه وړل د منلو وړ نه دي چې هغه به د امين د کودتا مخنيوی وکړي او يا به پرچميان په کودتا کې له ګډون څخه واړوي پداسې حال کې چې امين د کودتا قومانده يوازې خلقي پوځيانو ته ورکړې ده او پرچميان يې نه وو خبر کړي. دا د ميراکبرخيبرد ترور په هکله ګومانونه وو چې کيدای شي تر يوې کچې د دې سياسي قتل په هکله هغه د قضاوت په تله کې واچول شي چې په دې قتل کې څوک يا کوم مرکز ښکيل وو. د پورتنيو ګومانونواو فرضيو سره سره د خيبر ترور يو سياسي ترور وو چې د لاندې دوو مرکزونو څخه يوه ترسره کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ ـ هغه مرکز چې غوښتل يې د محمدداود واکمني نسکوره شي،
۲ـ هغه مرکز چې غوښتل يې محمد داؤد او د ( ا،خ،د ،گ ) سره واچوي ، داود پرې برید وکړي او گوند له سیاسي ډگره وباسي.

په هر صورت میراکبرخیبر ووژل شو دا چې قاتلین څوک وو، د کوم مرکز په اشاره یې پردې کرغیړن کار لاس پورې کړ او موخې یې څه وې ټولې په گومانو او فرضیو ولاړې دي او که په راتلونکې کې پدې اړه څیړنې ترسره کیږي هغه به هم په گومانونو او فرضیو ولاړې وي. خو دا واقعیت چې د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند له لوري د نوموړي د جنازې پرتمینه نمانځنه او په بله خبره د ځواک ښودنه محمدداود او د هغه نږدې کسانو ته د زغم وړ نه وه لدې امله یې د گوند مشران زنداني کړل او د حکومتي رسنیو له ژبې او د ( ا، خ، د، گ ) د مشرانو د بندي کولو د اعلان وروسته په پوځ کې د گوندي مشرانو د نیونې له امله د پرتمینوغونډو جوړول او په هغو کې د خوښې ډکو سندرو، اتنونو او ویناوو نه بریښیدل چې واکمنۍ ټینگ هوډ درلود چې د نوموړي گوند مشران چانواري او دا گوند له ډگره وباسي. خو د محمد داود محاسبه ناسمه وه او پایلې یې سرچپه راوختلې. د دې پرځای چې د (ا،خ ، د،گ ) له ډگره وباسي نوموړی په خپله له ډگره واېستل شو، و وژل شو، واکمني یې نسکوره او پدې ډول د یحیی د کورنۍ د څه کم نیمې پیړۍ ( ۴۸ کاله ،شپژمیاشتې او یوولس ورځې) واکمنۍ ته د پای ټکي کیښودل شو. پردې بنسټ د خیبرترور د افغانستان په راتلونکې داسې اغیز واچاوه چې د پخوا په پرتله د هېواد حالات توپاني شول ، د یوې کورنۍ واکمنۍ نسکوره او پرځای یې د خوارو او محکومو طبقو څخه د راوتلي آرمانگرا خلقي گوند واکمنیدل شول چې د زیارکښ انسان په گټه او د پرمختللي افغانستان د جوړولو په خاطر یې د چوپړ جنډه پورته کړې وه او خپلو موخو ته د رسیدو په خاطر یې بیله ځنډه داسې گړندي گامونه اوچت کړل او پداسې بیړنیو سمونو لاس پورې کړ چې نه یې د پلې کولو وړتیاوې او شونتیاوې لرلې، نه یې بهرنۍ رښتینې ملاتړ درلود او نه د دې گوند ځېنو سمونونو ته افغاني وروسته پاتې دودیزه اسلامي ټولنه چمتو وه .

## د گوند وتلې څېرې

د افغانستان خلک دموکراتیک گوند کې د هرسیاسي سازمان په څېر داسې اغېزمنو څېرو شتون درلود چې د دې گوند په جوړولو او ځواکمنتیا، د تشکیلاتي او سازماني چارو په تنظیمولو ، د گوند د ننه کشمکشونو په راپنځولواو کابو کولو، گوند ته د ستونزو په جوړولو او یا په بله خبره د گوند په بریاوو او ناکامیو کې یې ځانگړې رول لوبولی دی. دې گوند کې شمېر پوهان ، استادان ، شاعران، لیکوالان او غوره پوځیان لرل. پدې توپیر چې د دې گوند د خلقیانو په پرتله پرچمي اړخ یې د هېواد په کچه پېژندل شوي پوهان او لیکوالان نلرل او په مشرانو کې یې د خیبر پرته نورو په بهرنیو ژبو تسلط نه درلود. د بېلگې په توگه د ا ، خ ، د ، گ په لومړۍ کابینه کې د خلقیانو پنځو وزیرانو پوهاند محمود سوما ، پوهنوال محمد منصور هاشمي ،پوهنوال عبدالرشید جلیلي ، محمد اسمعیل دانش او حفیظ الله امین د هېواد په لوړو پوهنیزو بنسټونو ( کابل پوهنتون، پولتخنیک انستیتوت او د کابل په عالي دارالمعلمین) کې استادان تېرشوي دي. د گوند خلقي مشرانو تره کي او زرغون دواړو په پښتو ، دري ، انگریزي او اردو ، امین او سوما په پښتو ، دري او انگریزي بشپړ تسلط درلود. جلیلي د هېواد د دوو رسمي ژبو سربېره په انگریزي او روسي هم پوهېده. د خلقیانو اکثرو مشرانو په بهر کې زده کړې او ژوند کړی وو. پداسې حال کې چې کارمل او نجیب یوه هم په بهرنیو ژبو لیکل نشوای کولای او بهر ته هم نه وو تللي. کارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په پښتو ژبه لیکل او حتی خبرې هم نشوای کولای. امریکایی ژورنالستي روسانه کلاس چې په ۱۹۶۵ کال کې کله چې کارمل ځان ولسي جرګې ته کاندید کړی وو او له هغه سره یې مرکه کړې وه وایي: « په څو پوښتنو کې مې دا معلومه کړه ، چې کارمل د بلشویکي انقلاب پرته د فرانسي یا کوم بل انقلاب په هکله هېڅ هم نه وو اورېدلي.» ( افغانستان ،ستره لوبه بیا را پیل شوې ،مخ ۴۰۹) په پوځي برخه کې هم خلقیانو غوره کدرونه لرل چې جنرال محمد آصف شور یې څرګنده بېلګه وه. هغه د ثور انقلاب مخکې په امریکې کې د پوځي اکادمۍ د لسګونو هېوادونو په محصلینو کې د ممتاز محصل په توګه د سرو زرو مدال تر لاسه کړی وو.

پر بله خوا دې ګوند د سیمې په کچه پېژندل شوي تیوریسنان نلرل . البته هغه مهال د افغانستان د نورو سیاسي ډلو مشرانو هیچا هم کوم علمي اثر نه درلود . سره لدې د دې ګوند یو شمېر مشرانو او کدرونو یو لړ علمي، سیاسي ، ادبي او تاریخي آثار ولیکل او یا له نورو ژبو وژباړل چې د افغانستان د نورو سیاسي ډلو په پرتله د دې ګوند د خلقي برخي ونډه د پام وړ ده چې د تره کي ، میثاق ، زېري ، حصین ، زرغون او پنجشیري ونډه د نورو په پرتله درنه ده . د دوی تخلیقي آثارو د ګوندیانو او ځوانانو د نړۍ لید ، سیاسي شعور او پوهې په لوړولو او ادبي تندې په ماتولو کې ځانګړی ځای درلود. پر بله خوا د دې ګوند په مشرتابه کې د تره کي پرته داسې مشر پیدا نشو چې د مسکو د خاینانه لوبو د درک وړتیا ولري. شورویان بریالي نشول تره کی داسې دریځ غوره کړي چې خلقیان سره ووېشي خو امین دا کار وکړ. همدا رنګه نجیب الله هم دا وړتیا نه لرله د شورویانو په لوبو وپوهېږي چې موخه یې په دوودښمنو ډلو د پرچمیانو وېشل او د خلقیانو او پرچمیانو تر منځ د پخوانیو دښمنیو تازه کول دي او کارمل هم دا وړتیا نه لرله و پوهېږي چې د شورویانو له لوري د نجیب الله خلاف د هغه د لمسولو موخه د کارمل بیا واکمنول نه بلکې موخه یې واک ته د اسلامي جمعیت رسول دي. د تره کي له لوري د خپلې ټولنې پېژندنه چې د شوروي اتحاد او د لینن له نامه سره خلک حساسیت لري په خپلو ویناوو کې د شوروي اتحاد او په تېره د لینن نوم نه یادولو خو کارمل ، نجیب او امین تل د شوروي اتحاد او لینن نومونه یادول په تېره د شوروي اتحاد نوم د کارمل تکیه کلام ګرزېدلی وو. د دې ګوند په مشرانو کې داسې مشر راڅرګند نشو چې د ګوند د واکمنۍ پر مهال د ځانغوښتونکو( کارمل او امین) د دسیسو، بېلاریتوب او ناسمو پرېکړو په وړاندې ودرېږي او یا په بېړنیو حالاتو کې د ګوندي او دولتي چارو د ښې سمبالتیا لپاره په خپل وخت اړین ګامونه اوچت کړي . پر بله خوا د ګوند په کورنیو جنجالونو، کشمکشونو او فرکسیوني فعالیتونو کې هم یو شمېر مشرانو او کدرونو منفی رول لوبولی دی چې د نورو په پرتله د کارمل او امین نومونه ډېر یادېږي . بېله کومه شکه د کارمل او امین دا ډول دریځ ګوند او د ګوند واکمنۍ ته ستونزې جوړې کړې دي، ګوندي یووالي او د ګوند اتوریتي او اعتبار ته یې زیانونه رسولي او پایله یې د شوروي اشغال او د ګوند د واکمنۍ نسکورېدل او د ګوند درې وړې کېدل شول. البته ګوند داسې پیاوړي کدرونه هم لرل چې د حالاتو ښه ارزونه یې کولای شوای او د بې لارې توب په وړاندې درېدلي دي خو هغه مرکزیت چې په ګوند کې واکمن وو د دې کدرونو د غوړېدو مخه نیول کېدله او غوښتنو او وړاندېزونو ته یې مشرتابه نه دا چې ارزښت ندی ورکړی بلکې بې اغېزې کړي ، بندیان کړي او حتی وژلي هم دي . ددې ګوند په بنسټ اېښودونکو کې داسې کسانو هم شتون درلود چې د یوه قوم او توکم ، د یوه مذهب او ولسوالۍ په کوچني چوکاټ کې اېسار وو خو په ویناوو کې یې د خلکو د دوستۍ او وروړګلوۍ او انترناسیونالیسم نغارې ډنګولې. د ګوند د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته د هغوی اصلي جوهر څرګند شو چې د افغانستان په ګڼ شمېر قومونو ټاټوبې کې یې یوازې خپل قوم او توکم لیدلو. دستګیر پنجشیري د احمدشاه مسعود او شرعي جوزجاني د عبدالرشید دوستم صفتونه پیل کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له هغوی څخه يې اتلان جوړول. شرعي په ازبک او ترک پالنه کې تر دې کچې ډوب وو چې د ازبکستان د جمهور رييس اسلام کريموف په ستاينه کې هم له هلو ځلو ډډه ونکړله. سلطانعلي کشتمند خو اعلان کړل چې زه هزاره او شيعيه وم او يم . د کارمل د کاسې پرچمي لوړپوړو د پښتون ولسمشر د راپرزولو په موخه د لږکيو د حقونو د لاسته راوړلو په موخه د غيرپښتنو جهادي او غير جهادي ځواکونو سره ګډ د شمال تلوالې بنسټ کېښود او خپلې پرچمي واکمنی ته يې د پای ټکی کيښود . ميثاق په خپل کتاب کې د افغان په ځای ځان افغانستانی بللی دی. لدې څخه ښکاري چې د ګوند دی مشرانو د موسم د بدلېدو سره خپلې جامې بدلولې او يا يې هغه ايډيولوژي نه وه هضم کړې چې هغه يې د خپل ګوند د فعاليت رهنما ګڼله. البته تنظيمي مشران هم هغه څوک نه وو چې ادعا يې کوله. هغوی د شريعت د پلي کولو او د کفارو خلاف د جهاد نغارې ډنګولې خو په عمل کې دوی د کفارو مزدوران راوختل. تردې چې د خپل ټاټوبي په نيولو کې د صليبي اشغالګرو په چوپړ کې ودرېدل او د ناټويي اشغالګرو د اردليانو رول يې ولوبولو.

د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند له جوړيدو څخه تر دړې وړې کيدو پورې په ګوند او د هغه نه بهر په ګوند کې د نورو مشرانو او کدرونو په پرتله د تره کي ، کارمل ، امين ، زرغون او حصين نومونه ډير ياديدل او کله چې ګوند له واکه ګوښه او ټوټې ټوټې شو د نجيب الله او خيبر په اړه هم ډېر څه ويل کيږي. په ټوليزه توګه د ( ا ، خ ، د ، ګ) او د دې ګوند په دواړو اړخونو کې برياوې او ناکامۍ ، د ګوند پياوړتيا او کمزورتيا اکثراً د دې څيرو د رول او کړنو سره تړاو لري. البته د نوموړي ګوند ځينې ځانګړې کړۍ او څيرې بيا يادو کسانو ته د خپلو ګروپي تړاوونو ، شخصي علاقمنديو او د ننني واکمنو حالاتو له مخې ګوري ، مجازي او جعلي شخصيتونه ورکوي ، د خپلو خيالي اتلانو د شخصيت د تبليغ لپاره د مبالغې او اغراق او بيا پر بله خوا د نورو د شخصيت د معنوي ترور نه هم ډډه نه کوي. پدې اړه ډېرې بېلګې شتون لري خو مشت نمونه خروار د خيبرد اوسنيو پلويانو د انګيرنو په تړاو چې په هغو کې څرګند تناقض ليدل کيږي ګوته ونيول شي. کله چې څوک غواړي د خيبر د رښتيني شخصيت په اړه معلومات ترلاسه کړي، لار ترې ورکيږی چې د خيبر د کوم خواخوږي ليدلوری سم دی. د بيلګې په ډول کله چې د داودخان په مشرۍ کودتا وشوه او جمهوريت اعلان شو په جمهوري دولت کې د پرچميانو شتون پرچمي مشران وهڅول چې خپل سازمان منحل کړي او عملاً يې د سياسي فعاليت سره مخه ښه وکړه. پدې اړه د خيبر د پلويانو څرګندونې نه دا چې سره نږدې ندي بلکه په څرګند ټکر او تقابل کې هم دي. يوه ډله يې خيبر د پرچم د فرکسيون د انحلال مخالف ګڼي او بله يې بيا خيبر په جمهوري دولت کې د پرچم د ادغام پلوی ګڼي .هغه ډله چې لا تر اوسه هر څه ته د ايديولوژۍ او طبقاتي مبارزې له کړکۍ ګوري په جمهوريت کې د پرچم د فرکسيون ادغام خيانت ګڼي پړه يې پر کارمل اچوي او خيبرد دې ادغام مخالف ګڼي. بل اړخ يې د ننني شرايطو تر اغېز لاندې چې د طبقاتي مبارزې شعارونه بازار نلري ، د سياسي پلوراليزم نغارې ډنګول کيږي او د جبهو او ائتلافونو جوړل په زړونو ښه لګيږي د محمد داود سره ايتلاف د خيبر له لوري د هغه بصيرت ګڼي. که چيرې د دې ګوند اته ويشت کلن فعاليت ته او د دې ګوند د ځينو مشرانو دريځونو او کړنو ته وکتل شي همفکرانو ، د يوه ارمان لرونکو مبارزانو او ژمنو سياستوالو ته ورته نه دي بلکې هلې ځلې يې د ناروا او نامشروع لارې واک ته در سېدو ، د سياسي مخالفينو په ځپلو او د يو بل په معنوي او فزيکي ترور را تاوېدلې. د بېلګې په توګه امين د دوو خلقي مشرانو( تره کي او زرغون) او د دې ګوند د يوه بنسټ ايښودونکي محمد طاهر بدخشي ژوند ته د پای ټکی کېښود. د نجيب په هکله هم ويل کېږي چې غوښتل يې کارمل ووژني خو شورويانو اجازه نه وه ورکړې . کارمل پر تره کي د ناکامي کودتا تور له ځانه سره لري او د خپلو پلويانو پرمټ


(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په نجیب کودتا وکړه . نجیب الله د کارملیانو له لوري د مرګ له ویرې غوښتل له هېواد څخه و تښتي. البته د خیبر په ترور کې اکثراً کارمل او پرچمیان بیا امین ته ګوته نیسي . امین په خپل ځان سؤقصد د تره کي ناکامه هڅه ګڼي خو کله چې امین تره کی له واکه ګوښه او ډېر ژر یې بېله محاکمې ووژلو دا بیا د امین دا ادعا بې بنسټه او ترغتې پوښتنې لاندې راوړي چې ولې یې په دې اړه څېړنې ونکړې . د یادو مطرح څېرو دا ډول مخینې په ټولنه کې د ( ا ، خ ، د ،ګ) اعتبار ته زیان ورسولو او د شوروي اشغال او د ګوند د واکمنی نسکورولو ته یې لار هواره کړله . اوس به په لنډ ډول د ګوند د وتلو څېرو بیوګرافی ته ځغلنده کتنه وکړو.

## نورمحمد تره کی

۱۹۷۹ – ۱۹۱۷



د نورمحمد تره کي له نامه سره د ویښ ځلمیانو او د ا ، خ ، د ، ګ بنسټ ایښودل تړلي دي او سربېره پردې هغه د یحیی د سلطنتي کورنۍ بهر او هغه هم د افغانستان د محکومې او خوارې طبقې له کېډې را وتلی لومړی دولتي مشر دی. بېله کومه شکه د تره کي دې ځانګړتیاوو ته په کتو سره هغه د سیاستوالو، څېړونکو، څارګرو او خبریالانو پام ځانته را ګرزولی دی. پر بله خوا د ده دا ډول ځانګړتیاوې او دریځ د هغه په وړاندې د واک څخه د نسکورشوو کړیو ، شتمنو طبقو ، محافظه کارو او په شا تلونکو ځواکونو د دښمنی سبب هم ګرزي . نورمحمد د نظرمحمد زوی د۱۲۹۶ کال د چنګاښ په درویشتمه ( جولای پنځلسمه کال ۱۹۱۷ ) د غزني ولایت د ناوې ولسوالی په سره کلي کې په یوه بیوزله کوچۍ کروندګره کورنی کې زیږیدلی دی. د نورمحمد پلار د خوارۍ او بېوزلی له امله اړ شوی خپل پنځه کلن زوی د یوې کوندې ښځې سره مزدور کړي. تره کي د لومړني ښوونځي د پای ته رسولو وروسته د خپل پلار او ورونو سره ګډ لومړی کندهاراو بیا کویټې ته د زده کړو او کار لپاره وخوځید او د پښتون په سوداګریز شرکت کې په کار لګیا شو. څه موده وروسته هغه د هندوستان په بمبیي کې د دې شرکت د استازي په توګه وګومارل شو. دا مهال یې خپل پلارچې هغه په کوېټه کې چې د پښتون په شرکت کې د کارګر په توګه کار کاوه د۱۹۳۵ کال په زلزله له لاسه ورکړ. تره کي په هندوستان کې د شپې لیسه پای ته ورسوله ،انګریزي او اردو ژبې یې هم زده کړلې . د جورج آنې امریکایي لیکوال په وینا هغه د رسمي وخت وروسته د حقوقو او سیاسي علومو کورس هم تعقیب کړ.هغه په هندوستان کې د کانګرس ګوند او نورو کیڼ لاسو سره اړیکې پیدا کړې . د هندوستان د سیاست د خاوندانو سره اړیکو ، د بریتانیایي ښکېلاک خلاف د هندیانو آزادۍ ببنونکې مبارزې او هندي ټولنې د هغه په آندونو ژور اغیز پریښود . سربیره پردې دریو نورو مسئلو هم د تره کي په اندونو او سیاست ته په مخه کولو کې اغیز درلود. لومړی د نوموړي د کورنۍ اقتصادي ستونزمن ژوند او بیوزلی . دویم د افغانستان د مترقي پاچا امان الله خان بیواکه کیدل او په هیواد کې د بشپړې انارشۍ واکمنیدل . دریم – په برتانوي هند کې د پاچاخان سره لیدنې چې د لینن او بلشویک ګوند له اندونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزمن شوی وو. تره کي په ۱۹۳۷ کې خپل هیواد ته په راستنیدو سره پدې سوچ کې شو چې څرنګه په تیارو کې ساتل شوي ولس ته د چوپړ جوګه شي. لدې امله یې په لیکنو او د پوهې او نظر د خاوندانو سره لیدنې کتنې پیل کړې چې موخه یې د خلکو د ذهنونو روښانول او د یوه سیاسي خوځښت جوړول وو.تره کي پخپلو لیکنو او آثارو کې د افغانستان په وروسته پاتې ټولنه کې واکمن غیرعادلانه اقتصادي مناسبات ،د غوڅ اکثریت افغانانو بې وزلي ،په ټولنه کې د سودخورو او ملاکانو نارواوې، په دولتي ادارو کې فساد او د ارتجاعي روحانیت ټګي او برګې په ګوته کړې دي. د تره کي له لیکنو معلومېږي چې هغه د ټولنیز سیاسي او اقتصادي نظام د ناخوالو په وړاندې په مبارزه ټینګار کوي .تره کي د ویښ ځلمیانو( ۱۹۴۷ ) د بنسټ ایښودونکو څخه یو دی او ویل کیږي چې د ویښ ځلمیانو د کابل د برخې د غورځنګ د جوړیدو بنسټ ایښودونکي غونډه هم د ده په پرانیستونکې وینا سره جوړه شوه. د عبدالحمید مبارز په وینا «د۱۹۴۷ کال په پیل کې ویښ ځلمیانو د حکومت څخه د فیض محمد انګار په مدیریت د انګار د جریدې امتیاز ترلاسه کړ خو د پردې شا ته د جریدې د ادارې ټول مسئولیت د نورمحمد تره کي په لاس کې وو. د مطبوعاتو په ریاست کې د رسمي کار وروسته مازدیګري مستقیماً د انګاراداري ته تللو او د جریدې د خپروني لارښوونه یې کوله .» د انګار په لومړۍ ګڼه کې د « چې میخواهیم » ترسرلیک لاندې مقاله د تره کي وه او بیا په پښتو ژبه د غلام حسن ساپي ویښ ځلمیان څه غواړي لیکنه خپره شوه چې دې دواړو مقالو د ویښ ځلمیانو کړنلاره انځوروله. د حکومت له لوري د انګار جریدې له مصادرې وروسته ، تره کی کندهار ته ولاړ او د کندهار د مطبوعاتو له مدیریت څخه یې د جریدې د خپرولو اجازه وغوښتله خو حکومت د خپرولو اجازه ور نکړله. محمدولي ځلمی لیکي: « پدې وخت کې چې دولت د ویښ ځلمیانو بنسټ ایښودونکي او مهم غړي په بهرنیو هیوادو کې په دندو وګومارل چې د سیاسي فعالیتونو څخه لیرې شي عبدالرؤف بینوا په دهلي کې مطبوعاتي آتشه او نورمحمدتره کی په واشنګټن کې مطبوعاتي آتشه مقرر کړل. څرنګه چې تره کي د سیاسي فعالیتونو څخه لاس نه اخیستلو د واشنګټن پوست په ورځپاڼه کې یوه شدیدالحنه مرکه چې موخه یې د دولت او رژیم مطلق العنانه افشاً وه ترسره کړه.په همدې دلیل د شپږو میاشتو ماموریت څخه سمدلاسه ګوښه او ژر هیواد ته راستون شو.» ۱۱۷/ ۱۶۷ـ ۱۶۸ هغه مهال حکومت غلام حسن ساپی د ویښ ځلمیانو بل غړی په پېښور کې قونسل مقرر کړی دی. سیدشمس الدین مجروح په خپل (سرګذشت من) نومي کتاب کې له امریکا څخه هېواد ته د تره کي د را ستنېدو په اړه لیکي: « لکه څرنګه چې د تره کي د څېرې رنګ سور، سترګې شنې او ویښته ژېړ وو ځېنو دوستانو په ټوکو هغه ته فرنګی ویل. هېواد ته د راتګ پر مهال د کراچۍ له لارې پاکستان ته راغی . خبریالان د ده له مرکې خبر وو او له هغه یې پوښتنې کړې وې چې ولې یې په بهر کې پناه ونه غوښتله. هغه په ځواب کې دا ویلي وو چې د ده له ځرګندونو ناسمه اخېستنه شوې ده. د هغه ځوابونو د ده په وړاندې د حکومت په غبرګون کې مثبت بدلون راووړ.» مجروح لیکي :« د خپل کار په دفترکې ناست وم د تلفون زنګ راغی ګوشي مې واخېستله و مې لیدل آشنا غږ. سلام راکړ او ویې ویل زه دې وپیژندلم په پښتو یې وویل زه پېرنګی یم وپوهېدم ښاغلی تره کی دی ...، ومې ویل چېرته یې او له کومه ځایه خبرې کوې ویې ویل زه په کابل کې یم او د (کابل سینما) له دفتر نه مې ستاسي سره تماس نیولی دی ، غواړم وپوهېږم زما تکلیف څه دی او کوم زندان ته لاړ شم ، ما وویل دا په ما پورې تړاو نلري چې ستا زندان معلوم کړم ویې ویل چې په هرڅا پورې تړاو لري د مرستې په ډول له هغه څخه پوښتنه وکړه ترڅو په خپل تکلیف پوه شم،ما وویل زه چمتو یم موضوع واکدار ته ورسوم او وروسته به خبر درکړم. محمداود ته ورغلم ...، نورمحمد تره کی کابل ته راغلی دی او زما څخه یې وغوښتل وپوهېږي چې حکومت څه ورسره کوي ...، سردار محمد داود له لږ فکر وروسته وویل ورته ووایئ په خپل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دې وي ...، ما وویل سردار صاحب هغه خو د دولت او د مطبوعاتو د وزارت مامور دی څرنګه ژوند وکړي په خندا یې وویل ته غواړې چې د ترفیع لیک یې هم را څخه واخلې پدې اړه به فکر وکړو...، ما د صدارت څخه سینما ته تلفون وکړ تاسې په کور کې اوسئ...، هغه نور دولتي ماموریت ونکړ او د وېش ځلمیانو سره یې هم اړیکې پرې کړلې...، ما هغه د ده د ریاست په وخت کې ونه لیدلو او کله چې د امین نیونې پیل شولې او ما هم د هغوی د ځورونو انتظار یوست ، صحت مې ښه نه وو...،وروسته مې واورېدل څه وخت چې په مجلس کې زما په اړه هم یادونه شوې وه چې څه وکړي هغه ویلي وو خبر یم چې ناروغ او مړ کېږي هغه پرېږدئ... » ۱۶/ ۱۶۹– ۱۷۲ تره کي د ادبي او سیاسي فعالیتونو سربېره په دولتي ادارو کې د سوداګرۍ په وزارت کې د اقتصاد د مجلې محرر، د کانونو د ریاست سرکاتب، د اقتصاد د مجلې سرمحرر، د مطبوعاتو د مستقل ریاست غړی، د رادیو افغانستان د پښتو خپرونو مرستیال ، د باختر آژانس غړی، د فوایدعامې وزارت د قلم مخصوص مدیر ، د نوموړي وزارت د بهرنیوچارو مدیر، د پطرولو د چارو عمومي مدیر، قطغن او بدخشان ولایت کې مامور او د باخترآژانس عمومي مدیر دندې ترسره کړې دي. کله چې سردار داود د کورنیوچارو وزیر وو د زابل د حکمران شریف تره کي له خوا تره کی د شینکۍ په ولسوالۍ کې د جزا د کاتب په توګه پیشنهاد شو سردار لدې امله د هغه د ګومارلو سره مخالفت وکړ چې تره کي په هند کې زده کړې کړې دي چې هغه مهال انګریزانو پر هندوستان حکومت کولو. تره کی د امریکې نه په راستنیدو سره په کابل کې د هالند د هوایي شرکت په نمایندګې کې د ژباړونکي دنده ترلاسه کړه.وروسته په کابل کې د ملګروملتو په دفتر او د امریکې د اقتصادي همکاریو په ادارو کې د ژباړې چارې پرمخ وړې دي او د نور دارالترجمه یې پرانیستله. تره کي د پښتو ټولنې د لغاتو په څانګه کې د پښتو – انګرېزي قاموس په جوړولو کې د پام وړ برخه لرله.که چیرې د تره کي دندو ته چې اکثرآ په مطبوعاتواو د ژباړې په ډګرکې دي ولیدل شي هغه په پرله پسې ډول د یوه ځای نه بل ځای ته تبدیل شوی دی ښيي چې هغه د سیاسي فعالیتونو له کبله د واکمنۍ تر فشارلاندې لالهانده ژوند درلود ترڅو له سیاسي فعالیتونو څخه واوړي. د دې سیاسي فعالیتونو پایله دا شوه چې هغه د ۱۹۶۵ کال د جنوري په لومړۍ پخپل کور کې د افغانستان د خلک دموکراتیکې ټولنې (ګوند) بنسټ ایښودونکې کنګره جوړه کړي چې په هغې کې ددې ټولنې د مشر یا د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو. د اپریل د۲۷ نیټې د پوځي پاڅون وروسته هغه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم په توګه وټاکل شو. تره کی د۱۹۷۹ کال سپتمبر په څوارلسمه د امین له خوا له واکه ګوښه، توقیف او د اکتوبر په اتمه په خپل استوګنځي کې و وژل شو. درمحمد وفاکیش چې د خلقي واکمنۍ پر مهال د انیس ورځپاڼې مسؤل مدیر وو د خپل « لسانسیه باسواد » نومي کتاب کې د نورمحمدتره کي په اړه لیکي: « د افغانستان د دولتونو په مشرانو کې استثنایي مشر وو چې هڅه یې کوله د مطبوعاتو سره مستقیمې او بلا واسطه اړیکې ولري.» همدا راز تره کي په افغان دولتي مشرانو کې لومړنی لیکوال او ژورنالست مشر دی چې د لسګونو مقالو، کیسو او نکلونو سربیره یې په پښتو اودري ژبو د شلو څخه زیات آثار لکه د بنګ مسافري ، څړه ، سپین، سنګسار ،موچي ، بې تربیته زوی، د ځلمیانو لاربښود او په ځان باور ناولونه ، زنده ګی نوین فلسفي او د کارګرې طبقې ګوند تحقیقي اثرونه په میراث پرې ایښي دي. د بې تربیته زوی په نوم ناول د افغانستان د پښتو ادب په تاریخ کې د راحت زاخیلي وروسته دوهم ناول شمیرل کیږی. همدا راز هغه د بهرنیو ژبو څخه ژباړنې کړې دي چې عروسی من در خیبر، خاطرات جنګ چرچل و نطق ویشنسکي در یونو څخه نوم اخیستلای شو. د تره کي د داستانو څخه د بنګ مسافري، څړه ،سپین او سنګسار په روسي ژبه ژباړل شوي دي. د بې تربیته زوی او د ځلمیانو لاربښود د هیواد د وخت مطبوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جايزې هم تر لاسه کړې . همدارنګه د بنګ مسافري ناول د شوروي اتحاد د ختيځ پيژندني د پښتوڅانګې له لوري ادبي جايزه ترلاسه کړه. د دې جايزې په اړه د تره کي مخالفانو دا تبليغات کول چې ګواکې نوموړی د شوروي څارګرې اداري سره تړاو درلود چې دا جايزه يې دده کتاب ته ورکړې ده . که خبره د جايزو وي نورو پيژندل شوو افغان ليکوالو او په هغو کې عبدالرؤف بينوا، صديق الله رښتين ، سيدقاسم رښتيا او دکتورامين ضيايي هم د شوروي سوسيالستي دولت له لوري ادبي جايزې ترلاسه کړې دي. زياتره د ادب خاوندان تره کی د ريالستيک هنر د نوي لارې پرانيستونکی او د خپل وخت او افغاني ټولنې يو وتلی انځورګر ګڼي . عبدالروف بينوا په اوسني ليکوال کې د تره کي د ليکنو په اړه ليکي:« دی په خپلو ليکنو کې تل زيار باسي چې د ولس د حقيقي اوعوامي ژوند تصوير وباسي او د يوې جامعې په اجتماعي ژوند کې د افراط او تفريط عيبونه او نقايص وښيي.» هنري برادشر امريکايي ليکوال د تره کي د لنډو کيسو او داستانونو په هکله ليکي: « تره کی د ټولنيز عدالت په هکله رښتيانی فکر درلود ،چې هغه د ده د لنډو کيسو او داستانونو څخه په زغرده څرګنديږي » ۱۱۸/ ۳۷ خو پر بله خوا بي بي سي دا د دريمې نړۍ د ولسونو د تخدير او تحميق په تورو منګولو کې د يرغمل کولو تبليغاتي مرکز په فارسي وېب پاڼه کې په يوه ليکنه کې چې سرليک يې زندګی نامه تره کی ، از کارمند اخراجی تا رهبر حزب نوميږي د تره کي د پښتو ناولونو په اړه راغلي دي:« د ځينو کارپوهانو په اند دا آثار زيات داستاني ارزښت نلری . او د زندګي نوين په نامه فلسفي اثر په هکله لولو ... هغه د ده اثر نه دی او ښايي چې هغه شوروي فارسي ژبو يا د ايران توده يانو ليکلی وي .»۱۱۹ د تره کي د کيسو او داستانونو ارزښت لدې معلوميږي چې څه موده وړاندې په خيبرپښتونخواه کې « د نورمحمد تره کي داستاني کليات» چاپ شول. د سوسيالستي اندونو او د ارتجاع ، نوي او زاړه استعمار ضد ليدلوري لرونکي اندونو خاوند تره کی او ارتجاعي کړيو هغه د کمونست په نامه ياد کړی دی. له همدې کبله تره کی مخکې لدې چې د ( ا، خ ، د،ګ) بنسټ کيږدي نه يوازې په هيواد کې بلکې د هيواد نه بهر د کمونست ټاپې وهل کيدلې. کله چې تره کی د باخترآژانس عمومي مدير وو او د يوه مطبوعاتي پلاوي په مشرۍ د ۱۳۴۰ کال د لېندۍ په مياشت کې ايران ته تللی د هغه مېلمه پال ژورنالست ته ايراني چارواکو ويلي وو « تره کی کمونست دی ، د سياست او وضعي په اړه ور سره بحث ونشي او اطلاعات ورنکړل شي. » ۱۲۰ د تره کي ميلمه پال د « کمونست نماز ګزار » نومې مقاله کې راوړي . « د ايران هوا وريځ وه او ده له تره کي سره په يوه پارک کې وعده کړې وه چې سره و به وينو. کله چې دې پارک ته ورغلی تره کي ترې پوښتلي وو هوا وريځ ده او قبله نه معلوميږي قبله کومې خوا ته ده چې غواړي لمونځ وکړي. ميلمه پال حيرانيږي دا څه ډول کمونست دی چې لمونځ کوي .»

که چيرې د تره کي سياسي، ادبي او ژورنالستيکي فعاليتونو او په تيره د هيواد د دوو سياسي غورځنګونو (ويښ ځلميانو او د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند) په بنسټ ايښودلو کې د هغه مرکزي رول ته وکتل شي له يوې خوا يې د بهرنيو خبريالانو، څيرونکو، د پلوماتانو او څارګرو پام ځانته راګرزولی چې د هغه سره ليدني کتني او مرکې ولري تر څو د نوموړي له اندونو او پلانونو په اړه معلومات ترلاسه کړي. له بله پلوه پخپله سياستوال هم هڅه کوي چې خپلې ټولنې او بهرنی نړۍ ته د خپل ځان او خپل اړونده سازمان د ورپيژندلو د رسولو په موخه له مختلفولارو او په هغو کې د خبريالانو او ډپلوماتانو سره وګوري. کله چې دا ليدني کتني د سيالو ډلو غوړونو ته رسيږي نو بيا هغو ته پټې استخباراتي اړيکې وايي او دا سياستوال د دې يا هغه هيواد جاسوس معرفي کوي. له بلې خوا د تره کي سياسي، ادبي او ژورنالستيک فعاليتونه او مترقي او سمونپال افکار د واکمنيو، محافظه کارو او ترقي ضد ډلو ټپلو او د هغود بهرنيو ملاترو دښمني هم ګټلې ده. دا ټول د دې سبب شوي چې د هغه په اړه منفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبلیغات وشي او په هغه مختلفي ټاپې ووهي. له همدې کبیله په تره کي د وخت د زبرځواکونو شوروي اتحاد او امریکې د متحده ایالتونو د ځارګرو ادارو سره په اړیکو در لودلو تورونه لګیدلي دي. سلطنت ، ارتجاعي ځواکونو او سیالانو هغه د شوروي او پرچمیانو هغه د امریکا جاسوس تبلیغولو او امریکایي افغانستان پیژندونکی لویی دوپري د تره کي ملي دریځ ته په کتو سره پدې باور وو چې « نورمحمدتره کی د امریکا په سفارت کې د افغانستان د حکومت د مخبر په توګه کار کاوه .» ۱۰۴ / ۴۱ د ا. خ . د . ګ کې د تره کي اتوریته لدې څخه معلومیږي چې هغه د خلک دموکراتیک ګوند له جوړېدو څخه د ګوند له مشرۍ څخه د هغه تر جبري ګوښه کولو پورې د ګوند د مشرپه توګه پاتې شوی دی او د ګوند د مشرۍ لیوالو دا جرئت نه دی کړی چې د هغه په وړاندې په څرګند ډول ودریږي. که څه هم یوځل کارمل هڅه وکړه چې تره کی بې اغېزې کړي ، پدې کار کې د پاتې راتلو له کبله د ( ا ، خ ، د، ګ ) څخه ووت او خپل جلا سازمان یې جوړکړ خو د لسو کلونو بیلوالي وروسته بیرته د تره کي ترمشرۍ او لارښووني لاندې سیاسي فعالیت ته غاړه کیښودله . تره کي وکولای شول د ده ترمشرۍ لاندې سیاسي خوځښت (خلق ګوند) د واکمنیو او سیالو ډلو د دښمنانه هڅو سره سره یوموټې وساتي او د افغانستان په سیاسي غورځنګ کې د نورو ډلو په پرتله پیاوړی شي. د ساري په توګه د ثور د وسله وال پاڅون وروسته چې ګوند په واکمن ګوند واوښت او ګوند په علني توګه فعالیت پیل کړ د هغه مهال د افغانستان د دفاع وزارت د سیاسي رییس شوروي سلاکار د لیکنې له مخې « د پوځ په لیکو کې ټول ۱۹۷۳ ګوندي غړي وو چې د هغوی څخه شپږ په سلو کې پرچمیان او څلور نوي په سلو کې خلقیان وو.» ۱۲۱ پدې اړه د ثور د پاڅون وروسته د خلقي ګوند د مرکزي کمیټې د دارالانشا مشر لیکي: « د ګوند عمومي منشي نورمحمدتره کي ځانګړې ډله نه لرله. خو د سنجول شوي سیاسي تکتیک او د دموکراسی د تمثیل په خاطر یې په ګوندي فعالیتونو کې د ډلګړیو د سرکردګانو او د هغوی د ملاتړو آزاد جر او بحث ته لاره اواره کړې وه ...، پدې ترتیب نورمحمدتره کي مدبرانه مشرتابه وکړای شول چې د ثور د وسله وال پاڅون پورې نه یوازې خپله خلکي ډله له رنګارنګ ډلګړیو په همیشني شتون کې یو موټې وساتي ، بلکې د خلکیانو سره په یوځای کیدو باندې د پرچم ډلې ته هم ویاړ ور وبخښي.» ۱۳۰/۱۲۲- ۱۳۱ د افغانستان د دولتي مشر په توګه د تره کي د استثنایي شخصیت ځانګړتیا پدې کې ده چې ارګ ته په ننوتو سره پښتوهم ارګ ته ور ننوتله. ارګ ته د پښتو ننوتل دې ته لار هواروله چې پښتو ژبه کومه چې د هیواد د نیمایي څخه زیات اوسیدونکي یې پرې ګړیږي عملاً د هیواد رسمي- ملي ژبې ته د رسیدو په لور لومړنی ګام اوچت کړي. دا ځکه چې « د افغانستان هیڅ حکومت هم په ۱۷۴۷ کې د هغه د تاسیس راهیسې پښتو د رسمیاتو ژبه نه ده ګرځولې یا دا چې پښتانه دې پرې مسلط شوي وي. »۱۲۳ سربیره پردې تره کي د نورو افغان مشرانو خلاف خپل خپلوان او د کورنی غړي په لوړو دولتي څوکیو و نه ګومارل، واکونه او امتیازات یې ورنکړل یعني دا چې د هیواد واکمنی ته یې فامیلي او قبیلوي بڼه او هویت ورنکړ خو د ده وروسته د ګوند مشرانو( امین او کارمل) دا کار وکړ. کله چې د تره کي بیوګرافي ته وکتل شي هغه خپل هدفمن ژوند په هېواد کې د یوه سیاسي غورځنګ جوړولو او لارښوونې ، ویښتیایي – روښانتیایي کار او د خپل هېواد د آبادۍ په موخه وقف کړی دی. کله چې امین هغه له واکه ګوښه او په ارګ کې بندي کړی وو د خپل ژوند په اړه نه بلکې د انقلاب او نظام د برخلیک په هکله فکر کاوه. د هغه د خانه سامان سلیم په وینا هغه مهال تره کي ویل: « دا ډېر ځوانان دي اشتباه ونکړي . دا انقلاب او نظام را ونه پرزوي . دوی ډېر بې تجربې دي .» تره کي خپل فعالیتونه په دوو جبهو د خلکو په ویښولو او د یوه ولسپال ګوند د جوړولو او لارښوونې ته راګرزولي وو. پدې دواړو جبهو کې یې د سترګو وړ بریاوې لرلې . د هغه له لوري د ګوند بریالۍ رهبري لدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه جوتېږي چې ګوند په لنډه موده کې د دې جوګه شي چې واک ته ورسېږي . خو ګوند واک ته په رسېدو سره چې افغانستان د زبرځواکونو د سیالیو په ډګر واوښت تره کی پدې کې پاتې راغی چې حالات کابو کړي او پدې هم ونه توانېده خپل سازماني ملګري یو موټی وساتي بلکې ډېریو ده ته شا کړه او ځېنو په څرګنده او نورو په پټه ورسره مخالفتونه پیل کړل او پدې ډول امین د واک په اصلي مرکز واوښت. امین چې د زعامت لیوال وو تره کی یې محاصره او له ګوندیانو او سیاستوالو تجرید کړ او پدې ډول تره کی بې اغېزې شو. دا چې تره کی د امین د ارادې له محاصره شوی وو آقاګل بایس چې د هرات د ولایتي ګوندي کمېټې د مشرۍ څخه ګوښه او د سوداګرۍ په وزارت کې دنده ترسره کوله خپلوڅو تنو ګوندي شاګردانو ته ویلي وو زه بریالی نشوم تره کی ووینم ځکه هغه یې محاصره کړی وو او هر چا نشوای کولی ورسره وګوري . د ثور د وسلوال پاڅون وروسته پداسې یوه حالت کې د ګوند او حکومت د مشر په توګه د تره کي پاتې کېدل چې د واک د لیوال له لوري محاصره او له ګوندیانو او خپلو پخوانیو دوستانو تجرید او هېواد د حالاتو څخه بې خبره وي غوره دا وه چې هغه په خپله خوښه د دولت له مشرتابه څخه استعفی کړې وای ترڅو د خلقي واکمنی پر مهال د هغو ناخوالو او په تېره بې محاکمې وژنو د مسؤلیت او ملامتي پېره پر ده نه وای اچول شوې . که د ثور د وسلوال پاڅون وروسته تره کی له واکه ګوښه شوی وای ښایي هغه په افغاني ټولنه کې د روسي مشهور ریالست لیکوال لیو تولستوی په څېر دریخ څخه برخمن وای .

## ببرک کارمل
## ۱۹۲۹ - ۱۹۹۶



مخکې لدې چې د ببرک کارمل د بیوګرافي په اړه بحث وشي د ببرک له لوري د کارمل د تخلص د غوره کولو په اړه معلومات وړاندې شي. ببرک په ځوانی کې په سیاسي محفلونو کې د ببرک جان په نامه یادېده تر۱۳۴۶ کال پوری یې تخلص نه درلود. عبدالمحمد درمانګرچې د ( ا، خ، د،ګ) د مرکزي کمېټې علی البدل غړی تېر شوی دی وایي:« د خپل لومړي زوی د زېږېدو وروسته د تره کي کور ته ورغلی وم چې د څو تنو نورو سربېره ببرک هم هلته وو. تره کي زما د مېرمني د روغتیا پوښتنه وکړه او ما ورته وویل چې شکر هرڅه په خیر تېر شول او خدای یو زوی راکړ. تره کي د هغه د نامه پوښتنه وکړه او ما ورته وویل چې تراوسه مو نوم نه دی پرې ایښی. هغه وویل کارمل ښه نوم دی دا نوم پرې کېږده. وروسته ببرک راته وویل چې په خپل زوی د کارمل نوم مه ایږده دا نوم زما خوښ شو غواړم چې زه د کارمل تخلص غوره کړم. ما هم ورسره ومنل او په خپل زوی مې د یما نوم کېښود.» د کارمل مخیني ته په کتو سره هغه عجیبه مخینه لري اصلي نوم یې سلطان حسین وو پر ځان یې ببرک نوم کېښود ،تخلص یې پدې ډول او سیاسي واک یې هم د پردي لښکر پر مټ او د هېواد د خپلواکۍ د بایللو په بیه ترلاسه کړ. د تره کي تر مشرۍ لاندې ګوند څخه ووت ، خپل جلا سازمان یې جوړ کړ او د خپل ګوند نوم یې د تره کي تر مشرۍ لاندې ګوند په نامه اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببرک د ډګرجنرال محمدحسین زوی د۱۹۲۹ کال د جنوري په څلورمه د کابل په کمريو کې زيږيدلی دی. د کارمل د قومي تړاو په اړه د نظریووالی نشته د تاجک ، پشتون ، پنجابي او کشميري په نامه يادشوی دی. کارمل ځان پښتون معرفي کاوه خو بريالي د هغه سکه ورور ځان تاجک بللو. هغه څیړونکي چې د کارمل اصل او نسب پنجابی یا کشمیری ګڼي هغه داسي راپيژني .د کارمل نیکه پهلوان طاهر پنجابي د انګريزي پوځ د پاټي شونو څخه دی. طاهر لومړی په انګريزي چوڼۍ د بی بی مهرو په غونډۍ کې خدمت او ژوند کاوه او وروسته په ښار کې میشت شو، کورنۍ يې جوړه کړه او د هاشم په نامه يې زوی پيدا شو چې د میرزا هاشم په نامه مشهور شو. هاشم د انګريزانو په سفارت کې کار کاوه او په کمريو کې يې ښځه وکړه او همهلته يې ژوند اختيار کړ. میرزا هاشم د محمدحسين او ګل حسين په نامه دوه زامن لرل. محمدحسين د سلطان حسين ،سلطان محمود او سلطان مسعود په نومونو زامن لرل خو دريو واړو ورونو خپل نومونه په ببرک ، محمود او توريالي واړول. ګل حسين مړ شو او ښځه يې . ورور محمدحسين ځانته نکاح کړه. کارمل د دري ژبې تکړه وياند وو په پښتو ، جرمني او انګريزي يې ګوډې ګوډې خبرې کولې.کارمل د اماني په لیسه کې زده کړې پای ته ورسولې او په کال ۱۹۴۷ کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې زده کړې پيل کړې او د کابل پوهنتون د محصلينو د اتحاديي فعال غړی وو. همدا راز هغه د پښتونستان د اتحاديي غړيتوب درلود چې بنسټ اينودونکی يې سردار محمدداود دی. کارمل په پوهنتون کې د تحصیل پرمهال په يوه مظاهره کې د خپلې لاسي توپانچې د هوايي ډزو له امله په کال ۱۹۵۰ کې زندان ته واچول شو او ويل کيږي چې په ۱۹۵۴ کې د وخت صدراعظم محمد داود له لوری عفوه او له بنده خلاص شو. په زندان کې يې د میراکبرخيبر سره ګډه ژبه وموندله . د دوو پرچمیانو غوربندي او محمد نبي عظیمي په وينا کارمل او خيبر دواړو په زندان کې مارکسيزم- لينينيزم ته عقيده پيدا کړه. غوربندي د کارمل له قوله ليکي چې ده او خيبر يو استاد درلود. د دوی دا استاد د ديورند د کرښې د هغې خوا د مصطفي په نامه يوه مجهول الهويه او مرموز بندي دی چې څه موده يې په چين کې هم ژوند کړی وو. مصطفی د ناڅرګند جرم له امله زنداني شوی او له زندان وروسته په دارالتحريرشاهي کې د ژباړونکي په توګه مقرر شو. کارمل له بنده د خلاصيدو وروسته د پلان په وزارت کې د مامور په توګه مقرر شو. کارمل د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د بنسټ اينبودونکي کنګرې د فعالو ګډونوالو څخه دی او په کنګره کې د مرکزي کمېټې د غړي په توګه وټاکل شو هغه د دوو دورو( ۱۹۶۵ او ۱۹۶۹ ) لپاره د کابل ښار څخه ولسي جرګې ته د وکيل په توګه لار وموندله. د دموکراسی په لسيزه کې کارمل د ولسي جرګې له ستېژ څخه احساساتي او په حکومتونو انتقادي ويناوې کولې او په يوه مشهوره څيره واوښت او له بلې خوا يې د ځينو وکيلانو منفي غبرګون را وپاراوه پر ده او د ده په ملګري نوراحمد نور چې هغه مهال يې پنجوايي تخلص درلود اوهغه هم د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند سره سازماني تړاو درلود بريد وکړاو دواړه يې سخت وډبول. ويل کيږي: « که اناهيتا راتب زاد ځان پر هغه نه وای اچولی او افغاني دودونه نه وای چې ښځه په عام ځای کې نه وهي او نه هم تماس ور سره پيدا کوي. نو کارمل به د دغو قهرجنو پارلماني استازو لخوا وژل سوی وای.»۳ / ۲۲۶ کارمل په وينا ورکولو کې ځانګړی مهارت درلود او اوريدونکی يې تر اغيزلاندې راووړ. البته د پرچم زياترو مشرانو په ويناوو کې ځانګړی مهارت درلود او ويل کيدل چې هغوی به خپلې ويناوې ثبتولې او بيا اوريدلې او پدې ډول يې تمرين کاوه چې ښه وياندويان شي. د ا. خ . د . ګ د جوړيدو وروسته کارمل د تره کي ترمشری لاندې سازمان نه جلا شو او د ( ا، خ ، د ،ګ ) په نامه خپل سازمان جوړکړ خو د لسو کلونو جلاوالي وروسته په کال ۱۹۷۷ کې بير ته د تره کي ترمشرۍ لاندې يووالي ته غاړه کيښودله او د واحد ګوند د سياسي بيرو د غړي او منشي په توګه ومنل شو. د ۱۹۷۸ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثورد پوځي پاڅون وروسته د (ا ، خ ، د، ګ) په حکومت کې دوهم دریځ چې د انقلابي شورا او صدراعظم مرستیال وو ترلاسه کړ. د ګوند په واکمنېدو سره ډیر ژر د خلق او پرچم پخوانی دښمنۍ جوتې شوې. ددې دښمنیو پایله دا شوه چې کارمل او د هغه پنځه تنه نور باوري ملګرو( جون ۱۹۷۸ ) ته په بهرکې ډپلوماتیکي دندې وسپارل شې.په هیواد کې د هغوی پاتې مشران د واکمنۍ خلاف د پوځي کودتا په تور زنداني شول. په بهرکې په دندو ګومارل شوي پرچمي مشرانو او په هغوکې کارمل ته هیواد ته د را ستنیدو هدایت ورکړل شو خو هیواد ته د راستنیدو نه ډډه وکړه او د ختیځې اروپا په سوسیالستي هیوادونوکې پټ شول. ویل کېدل چې دوی د سفارت پانګې هم له ځانه سره وړې وې . واکمنۍ هغوی له ګونده اخراج او ملي خاینین اعلان کړل. کارمل او د هغه نور ملګري د شوروي اتحاد د تیري سره جوخت( ۱۹۷۹ کال دسمبراووه ویشتمه) په کابل کې را څرګند شول. کارمل د ګوند او دولت د مشر په توګه د ګوند، دولت او خلکو په برخلیک واکمن کړل شو. کله چې په ۱۹۸۵ کې په شوروي اتحاد کې میخائیل ګورباچف واکمن شو د هغه د ارادې له مخې کارمل هم د۱۹۸۶ کال د می میاشتې په څلورمه د ګوند د مشرتابه او څه موده وروسته د نوامبر په یوویشتمه د انقلابی شورا د ریاست نه ګوښه او په شوروي اتحاد کې ژوند کولو ته اړ کړل شو. کارمل چې کله د سیاسي مبارزې په ډګر کې راڅرګند شوی دی تل د شوروي اتحاد د سیاستونو په تائید او دفاع کې دریدلی دی حتي د افغان – شوروي دوستی ته وفاداري يې د هرافغان د وطنپالنې معیار ګڼه. خو کله چې هغه د واک څخه د جبري ګوښه کولو وروسته په مسکو کې ساتل کیده د شوروي اتحاد په سیاستونو یې نیوکې پیل کړلې. ښایي دا نیوکې هم د مسکو د واکمنۍ او یا د شوروي دولت د ځینو چارواکو په اراده کېدلې ترڅو هغه په افغان ولس کې له لاسه ورکړی شخصیت چې د مسکو ګوډاګی شمېرل کېده بیرته ترلاسه کړي او د راتلونکو لوبو لپاره یې چمتو کړي. د میرصاحب کاروال په وینا نجیب الله هم د افغا نستان څخه د شوروي لښکر د وتلو وروسته د شورویانو په مشوره د شورویانو په ټګلارو نیوکې پیل کړلې. کارمل د۱۹۹۱ کال د جون په میاشت کې افغانستان ته را واستول شو او دا ځل یې د تېر ځل خلاف د لړکیو د حقونو د ګټلو په نامه مبارزه پیل کړه پداسې حال کې چې مخکې یې د انترناسیونالیسم شعارونه زمزمه کول. هغه هیواد ته په راستنیدو سره د نجیب ضد فعالیتونو رهبري کوله او د نومورې په راپرزولو او د مجاهدینو واک ته په رسولو کې ټاکونکی رول ولوباوه . په افغانستان کې د جهادي واکمنۍ پرمهال چې حالات کړکېچن او د شمال تلوالې د کنترول څخه ووتل کارمل اړشو چې لومړی بغلان ته د سیدکیهان د کورنۍ او څه موده وروسته په حیرتان کې د جنرال مؤمن ترچتر لاندې ژوند وکړي او بالاخره روسیې ته د تللو ویزه ترلاسه کړي. هغه د۱۹۹۶ کال د دسمبر په دریمه په مسکو کې مړشو او جسد یې په حیرتان کې خاورو ته وسپارل شو. د هغه د جنازې په مراسمو کې د شمال تلوالې قوماندانانو هم ګډون کړی وو. ویل کېږي کله چې طالبانو حیرتان ونیو د هغه هډوکي یې د مقبرې راوایستل او د آموسیند ته واچول. کارمل واک ته په رسیدو سره خپل خپلوان لوړو ګوندي او دولتي څوکیو ته راپورته کړل او د یوه پاچا په څیر یې خپله کورنۍ او خپلوان د هیواد په مقدراتو واکمن کړل. کارمل د شوروي د څارګرې اداري سره د اړیکو لرلو تور له ځانه سره وړي او د خپلې واکمنۍ پرمهال خلکو دوهم شاه شجاع او یا روسي شاه شجاع بللو. کارمل داسې یو سیاستوال وو چې د هغه سیاسي مخالفانو، لویدیځوالو، د شوروي لیکوالو سربېره ځینو پرچمي لوړپوړو« بې تقوا، درواغجن ، چلباز،توطیه ګر، تش مغزی ، تنبل ، شرابي ، بد اخلاق، فرکسیونباز او ډوزمار» بللی دی . د کی جی بی په سندونو کې راغلي دي چې « د ببرک نفساني اخلاق هم ډېر ټیټ ول هغه د سیاسي ببرو له غړې مېرمن اناهیتا راتب زاد سره ناوړه جنسي اړیکې درلودلې .» ۱۲۴/ ۳۰۴ همدا لامل وو چې د کارمل د پوځي سلاکار د دفتر غړو اناهیتا راتبزاد « نادېژدا» بلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادېژدا د لینن مېرمن وه. په کارمل اناهیتا دومره گرانه وه چې د خپلې لور نوم یې هم اناهیتا اېښی وو . د کارمل پوځي سلاکار هغه داسې معرفي کوي: « په ژوند کې مې احمقان ، لټان او شرابیان نه خوښېدل او دلته دا ټول صفتونه په یوه کس کې راټول شوي وو او دا سړی بیا گوندي لارښود او د دولت مشر وو.» ۷/ ۱۲۴ـ ۱۲۵

## حفیظ الله امین

۱۹۲۹ ـ ۱۹۷۹



حفیظ الله امین د حبیب الله زوی د۱۹۲۹ کال د اگست په لومړۍ نېټه د پغمان د قاضي خېلو په کلي کې په یوه متوسط الحاله پښتنه کورنۍ کې زیږدلی دی. هغه په پښتو، دري او انگریزي ژبو مسلط وو.پلار یې د دولت یوټیټ رتبه مامور وو. هغه خپلې لومړنۍ زده کړې په پغمان ، متوسطه زده کړې په ابن سینا لیسه او لوړې زده کړې د کابل په دارالمعلمین او د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې د ریاضي په برخه کې ترسره کړې. د زده کړو د پای ته رسولو وروسته د کابل په مختلفو پوهنیزو بنسټونو ( رحمن بابا، خوشحالخان ، ابن سینا او د کابل دارالمعلمین) کې د استاد په توگه دنده ترسره کړې ده . امین د ابن سینا او دارالمعلمین د مشر په توگه هم پاتې شوی دی. هغه په کال ۱۹۵۷ کې د متحده ایالتونو د نیویارک د کولمبیا پوهنتون ته د ښوونکو د روزنې په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره ولېږل شو. هغه بیا په کال ۱۹۶۲ کې نوموړي پوهنتون ته د دکتورا د لاسته راوړلو په موخه تحصیلي بورس ترلاسه کړ.په یاد پوهنتون کې « د افغانستان د محصلینو د اتحادیې یو فعال غړی وو او په ۱۹۶۳کې یې رئیس سو. ده د دې اتحادیې او نورو مسلمانو محصلینو د اتحادیو د خبرپاڼو لپاره منظمې لیکنې کولې، ده پر سلطنت او په تیره بیا د صدراعظم محمدداود په مستبدانه رویه باندې سخت انتقادونه کول. د همدې فعالیتونو په نتیجه کې د ده سکالرشیپ نیمگړی پاته سو او هیواد ته راوغوښتل سو.» ۳/ ۲۴۰ محمد نبي مصداق د خپل کتاب په ۲۴۰ مخ کې د وخت د ښوونې او روزنې وزیر ډاکټر محمدانس د لیک خبره کوي چې امین په لندن کې ورښودلی چې پکې لیکل شوي وو :« لطفاً بیله ځنډه افغانستان ته راستون سه ، ځکه موږ تا ته اړتیا لرو.» نوموړي ته امین دا هم ویلي دي چې د امریکې پولیسو( اېف بی آی) څو ځله په نیویارک کې وغوښتم را ته ویل یې چې افغانستان ته ستون سه که نه نو موږ به دې په زوره په طیاره کې کښېنوو.»

امین هیواد ته په راستنیدو سره د (ا ، خ ، د ،گ )غړیتوب ترلاسه کړ. هغه د ولسی جرگې دیارلسمې دورې ته د استازي په توگه لار ومونده . امین گوند ته په شاملیدو سره په پوره انرژۍ سیاسي فعالیت ته ادامه ورکړه او په کال ۱۹۶۶ کې د ( ا، خ ، د ،گ) د مرکزي کمیټې علی البدل غړی شو. په افغانستان کې د جمهوري نظام په ټینگښت سره د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند خلقي اړخ هم په وسله وال پوځ کې سازماني کار پیل کړ. د پوځیانو سره سازماني کار امین ته وسپارل شو چې پدې کار کې یې زیاتې بریاوې لرلې. امین په ۱۹۷۶ کال کې د خلقیانو مرکزي کمېټې ته رپوټ ورکړچې خلقي

(c) ketabton.com: The Digital Library




پوځیان کولی شي چې سیاسي واک ترلاسه کړي خو تره کي دا وړاندیز نه وو منلی. امین په ګوند کې یوه جنجالي ځیره پاتي شوی دی . کارمل د خپلي واکمنۍ پرمهال په خپلو مرکو او ویناوو کې هغه د سی آی اې د اجنټ په نامه یاداوه خو پدې اړه یې کوم سند وړاندې نکړ. یو روسي خبریال چې پدې اړه یې د کارمل سره مرکه کړې داسي لیکي: « ما د کارمل سره چې اوس په مسکو کې اوسیږي د۱۹۸۹ په اپریل کې مرکه وکړه : او ور ځخه وپوښتل چې آیا تاسو په ربښتیا باوري یاست چې امین د سي آی اې اجنټ وو؟ نو کارمل ځواب راکړ چې زه صرف پرهغه د خپلو اعمالو پراساس دا قضاوت کوم. که امریکا آن سل بیلیونه ډالر هم د افغانستان د بې ثباتۍ لپاره لګولي وای ، نو هغوی به دومره زیان نه وای ور اړولی ځومره چې امین ورساوه. نو ما ورته وویل چې که تاسي دا منطق ځارئ ، نو بریژنف چې په واقعیت کې یې دا چټلي د شوروي اتحاد ځخه بهر پیښنه کړه باید ځو ځلې د هر لویدیځ استخباراتي سازمان اجنټ وي ؟ » ۱۲۵/ ۶-۵ د میر اکبر خیبر د ترور ځو ورځې وروسته د اپریل په ۲۵ نیټه د کارمل په شمول د ګوند ځیني مشران توقیف او نور په خپلو کورونو کې تر ځارنې لاندې ونیول شول. امین د تره کي د توقیف ځخه په خبریدو سره په پوځ کې خپلو ارتباطي غړو ته دستور ورکړ چې د اپریل په اووه ویشتمه د واکمنۍ په وړاندې پاځون وکړي. د نوموړي د دستور له مخې د اپریل په اووه ویشتمه د پوځ خلقي غړو پاځون ترسره کړ او دولتي واک یې ترلاسه کړ. لدې کبله امین د ثور انقلاب د قوماندان په نامه یادېده ، د صدراعظم د مرستیال او د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو او د بشپړ واک ځخه برخمن شو. د ۱۹۷۹ د اپریل ( وري ) په میاشت کې د حکومت مشر شو. په همدې کال د سپتمبر په ځوارلسمه یې تره کی د ګوندي او دولتي دندو نه ګوښه او د هغه پرځای د ګوند او دولت د مشر په توګه د چارو واګې پخپل لاس کې ونیولې . امین وروسته له ۱۰۳ ورځو د۱۹۷۹ کال د دسمبر په اووه ویشتمه د شوروي پوځیانو له لوري ووژل شو او د هغه پرځای یې د هغه سیال کارمل د هیواد د مشر په توګه نصب کړ. امین د کارمل په ځیرخپل خپلوان په لوړو ګوندي او دولتي ځوکیو وګومارل او د سترګو وړ واکونه یې هم ورکړل. ګلداد چې د امین د واکمنۍ پرمهال د مرکزي کمیټې غړیتوب ترلاسه کړ د ثور د وسلوال پاځون وروسته په خلقي واکمنۍ کې د امین داسي انځور کاږي:« امین د ثور میاشتي له پاځون وروسته وختونه دا هځې پیل کړې چې خپله دلګکۍ پر ګوند او دولت مسلطه کړي او ټول ګوندي او دولتي واک په خپل لاس کې ونیسي ، د هغه ستري او نه ښنونکي کړني وې...، امین د خپلي ډلګکۍ د یو شمېر کسانو په واسطې باندې د ګوند د ننه او د ولس منځ کې ډول ډول ځورونې ، ظلمونه ، شړل ، بندیانول او وژني وکړلې.» ۱۰۵/ ۱۲۸ د کیوبا د انقلاب او د دولت د مشرفیدل کاسترو په اند« امین داسي سړی وو چې په کړنو کې د پولپوت سره ډېر زیات ورته وو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میراکبر خیبر
## ۱۹۳۲ - ۱۹۷۸



میراکبرخیبر د میرافضل زوی په ۱۹۳۲ کې د لوګر ولایت د مرکز پل علم په یوه بیوزله پښتنه کروند ګره کورنۍ کې زیږیدلی دی. خیبر په خپله پلرنۍ سیمه کې د لومړنیو زده کړو وروسته په حربي ښوونځي کې چې هغه مهال د رشدیه عسکري لیسه نومیده شامل شو او د هغې څخه په فارغیدو سره په حربي پوهنتون کې په زده کړو پیل وکړ. خیبرد حربي پوهنتون څخه د فارغېدو په ورځ ( کال۱۹۵۱) د دې پر ځای چې د پلوم ترلاسه کړي د بندیخانې فرمان تر لاسه کړ . خیبر په ۱۹۵۷کې له زندانه خلاص شو خو د خپلې کورنۍ غړي یې ونه موندل. د غوربندي له قوله د خیبر مور، مېرمن او اولادونه د هغه له بندی کیدو وروسته د واکمنۍ لخوا له منځه یووړل شول .
خو ځیني بیا صبغت الله مجددي ته چې له خیبر سره یې خپلوي او دښمني لرله ګوته نیسي.د مجددي او خیبر ترمنځ دښمني لدې نه جوتیږي چې « په ۱۹۶۰ کې د شوروي یو لوړپوړی پلاوی کابل ته راغلی وو د مجددي صاحب( صبغت الله مجددي) خلاف یې داسې یوه دسیسه جوړه کړه چې ګواکې هغه ۰۰۰ ، تصمیم نیولی وو چې د شوروي میلمنو په لاره کې بم کیږدي. د دې توطئې خبرد مجددي ورور رحمت الله مجددي پرچمي سلیمان لایق ته او د هغه له لارې د میراکبر خیبراو ببرک کارمل په مرسته سردار محمدداود ته ورسید...، سردار محمدداود د مجددي د نیولو امر ورکړ...، د دې توطئې مهمې پایلې دا شوې چې پرچمي مشران د محمدداود او روسانو د اعتبار وړ وګرزي. » ۱۲۶ رحمت الله مجددي هغه مهال د خیبر په کور کې اوسېده او ویل کیږي هغه څه موده وروسته په شوروي اتحاد کې د لمبېدو پر مهال په اوبو کې ډوب او مړ شو. کله چې خیبرله زندان څخه خلاص شو صدراعظم محمدداود هغه ته د دوهم بریدمنۍ رتبه ورکړه او د پولیسو په اکادمۍ کې یې د استاد په توګه مقررکړ پداسې حال کې چې هغه له پوځی خدمت څخه طرد شوی وو. ډیری خیبر د محمد داود د پلویانو څخه شمیري او مخالفین یې وایي چې خیبر«د داؤد خان د صدارت په مهال د ضبط احوالاتو غړیتوب ترلاسه کړ.» ۴۶/ ۵۸۲ د کار د ګروه د یوه کدر په وینا « پنجشیري او هادي کریم او وروسته شرعي جوزجاني او شهپر،ببرک کارمل ، اناهیتا راتبزاد او میراکبرخیبر د دولت کسان ګڼل. » ۱۲۷/ ۱۳ د صدارت څخه د محمد داود له استعفي وروسته خیبر په ۱۹۶۴ کې په خوست کې د امنیې قوماندانۍ ته تبدیل شو. مخکې ویل شوي وو چې خیبر په زندان کې له کارمل سره آشنا او ملګری شو او د هغه سره یې ګډ د یوه سیاسي خوځښت د جوړولو په چاره کې هڅو ته دوام ورکړ. لکه څرنګه چې هغه برحاله پوځي وو او په اساسي قانون کې پوځیانو ته د سیاسي فعالیت اجازه نه وه هغه نه د ( ا، خ، د، ګ) په بنسټ ایښودونکي کنګره کې ګډون وکړ او نه د ګوند مشرتابه ته و ټاکل شو. کله چې په کال ۱۹۶۷ کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په دوو برخو وویشل شو هغه د پوځي خدمت نه استعفی وکړه او د پرچمیانو مرکزي کمیټې ته راپورته او د پرچم په فرکسیون کې د پوځي برخې مسؤلیت ورکړل شو. د۱۹۷۳ کال د پوځي کودتا څه موده وروسته د پرچم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فرکسیون کې د نوموړي څخه د پوځي برخې مسؤلیت اخیستل کیږي . ویل کېږي چې له خیبر څخه د پوځیانو د مسؤلیت اخیستنې لامل د محمد داود په وړاندې د پرچم د فرکسیون دریځ وو چې خیبر غوښتل د پرچم فرکسیون د محمد داود د ملي انقلاب په غورځنګ کې منحل شي. کله چې د ګوند دواړه اړخونه په کال ۱۹۷۷ کې سره یوشول خیبر د واحد ګوند د مرکزي کمیټې د غړي په توګه ومنل شو. خیبر د۱۹۷۸ کال د اپریل په اوولسمه د دولتي مطبعي ترڅنګ ترور شو. د خیبر ترور داسې یوه پېښه شوه چې د افغا نستان د تاریخ پاڼه په بل مخ واوړي . خیبر ته د پرچم د فرکسیون تئوریسن ویل کېږي خو له هغه نه کوم علمي او څېړنیز اثر یا رساله په میراث ندي پاتې شوي . خیبر د پرچم په مشرتابه کې یوازینی بېوزله او د کلیوالي چاپیریال څخه سر را پورته کړی وو . د ( ا، خ ، د،ګ) د یو شمېر مشرانو له لیکنو او څرګندونو څخه ښکاري چې خیبر د کارمل له مخالفانو ، د کارمل له منفي ځانګړتیاوو او حتی اخلاقي کمزورتیاوو څخه سرټکاوه خو سره لدې یې د کارمل د رهبرۍ لاندې فعالیت در لود، ټینګ ملګری یې وو او لار یې ترې جلا نکړله. خیبر په پښتو، دري ، اردو او انګریزي ژبو پوهېده. د امریکایي لیکوال هنري برادشر له انده خیبر « د کارمل لپاره هغسې رول و لوباوه لکه امین چې د تره کي لپاره لوبولی دی.»

## ډاکترعبدالکریم زرغون
## ۱۹۷۹ـ ۱۹۴۳



عبدالکریم زرغون د ګلریز زوی په ۱۹۴۳ کال کې د خوست په اسمعیل خیلو کې په یوه بېوزله کروندګره کورنۍ کې زیږېدلی دی. زرغون د خوست د څېرمنو په لومړني ښوونځي کې د زده کړو وروسته د ابن سینا په لیسه کې خپلو زده کړو دوام ورکړ. د لیسې څخه په وتلو سره د کابل په دارالمعلیمن کې شامل شو. د دارالمعلمین څخه د دپلوم د ترلاسه کولو وروسته د کانکور په آزموینه کې ګډون وکړ او د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته بریالی شو.هغه په کال ۱۹۷۲ کې خپلې زده کړې پای ته ورسولې اود ډاکتر په توګه یې د کابل ښار په طبي بنسټونو کې په کار پیل وکړ. هغه د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د جوړېدو په لومړیو کې د دې ګوند غړیتوب ترلاسه کړ او د کابل پوهنتون ګوندي مسؤلیت ورکړل شو. زرغون د ولسي جرګې دیارلسمې دورې ته د خوست څخه ځان کاندید خو واکمنی هغه زندان ته واچاوه. د یادولو وړده چې په هماغه کال د خوست په لویه ولسوالۍ کې ښوونکي عبدالخالق هم ولسي جرګې ته ځان کاندید کړ چې عبدالخالق هم حکومت بندي کړ. د دې دواړو د بندي کیدو لامل په خوست کې د خلقي فرکسیون غښتلتیا وه او د دواړو د بري شونتیا لوړه وه. په خوست کې د خلقیانو دا ډول نفوذ اکثرآ د زرغون د هلوځلو او سیاسي ــ سازماني اغېزمن فعالیت پایله ده ځکه « چې عبدالکریم زرغون د خوست په لویه ولسوالی کې ممتاز او د زیات باور خاوند و.» ۱۲۲/ ۹۷ زرغون په ګوند کې د ښه او بریالي سازمان ورکوونکي په توګه پېژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. هغه د خلقيانو په اړخ کي لومړی خلقي کدر دی چي په پوځ کي يې سياسي فعاليت پيل کړی او ډېر پوځيان يې سياسي مبارزې ته هڅولي او روزلي دي. زرغون د اويايمو کلونو په لومړيو کي په ګوند کي د خلقي او ملي د موکراسی په اړه بحثونه راپورته کړل او ملي دموکراسي يې چي ګوند په کړنلاره کي تاييد شوې وه د کارګرې طبقې په ګوند کي« د طبقاتی مبارزی د انقلابی اصولو له تطبيق څخه سرغړونه » ګڼله . البته هغه مهال زرغون په ۱۹۷۲ کي د خلقي اړخ د مرکزي کميټي له خبرتيا پرته د مستربل په نامه يو کتاب په پاکستان کي خپور کړی وو . د زرغون له لوري د خلقي او ملي دموکراسی د مسالي راپورته کول او په خپلسر د مستربل کتاب چاپول او د امين له لوري پر هغه د فرکسيونبازی د تورونو لګول د دې لامل شول چي زرغون د مرکزي کميټي علی البدل غړی له ګونده اخراج شي( ۱۳۵۳ کال د اسد شلمه ). خو هغه څوک له ځانه سره يونه وړل، خپل ارتباطي کسان يې هڅولي وو چي په ګوند کي پاتي شي. د مستر بل د کتاب منځپانګه د ګوندونو په سياسی مبارزې څرخېده ، په هغه کي د ( ا، خ، د، ګ) مبارزې څرنګوالي ته هم ګوته نيول شوې وه او په بربنډ ډول يې کارمل د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند او د هېواد مترقي غورځنګ ته يو ګواښ ګڼلی وو او په کتاب کي د کارمل په اړه د خلقي کدرعلي ګل پيوند يو شعرهم راوړي چي د دې شعر لومړي او وروستي بيتونه دا دي .

ای د لوی جنرال بچيه زه د پيژنم چي غل يې

ته د خلکو لوی دښمن يې راوتلای په بل چل يې

په الفاظو دې ډېر خلک خطا کړيدي چل بازه

طبقه دې ده اوچته د ولس منځ کي غمازه

د خلکي بيرغ لاندې حکومتي اجنټان ورک کړې

مترقي ايديولوژي کي راوتلي لېوان سپک کړې

اې د لوی قصر خاونده پس لدې نه په زلزل يې

اې د لوی جنرال بچيه زه دې پيژنم چي غل يې


زرغون د مستربل سربيره لاندې آثار ليکلی يا ژباړلی دي :« په پښتو ژبه د سياسی او اجتماعی اصطلاحاتو ژباړه ، د مبارزی الفباء ، ملی ديموکراتيک دولت د خلقی ديموکراتيک دولت په څېر نه دی او له فيوډاليزم څخه تلل سوسياليزم ته.» کله چي ګوند واک ته ورسېد زرغون بېرته د ګوندغړيتوب ترلاسه کړ خوهغه د۱۳۵۸ کال د چنګاښ په يوويشتمه بندي شو او د هماغه کال د تلې په اووه ويشتمه د امين د واکمنی پرمهال بيله محاکمې ووژل شو. کله چي امين د۱۹۷۹کال د سپتمبر په څوارلسمه تره کي ګوښه او بيا يې وواژه د تلې په دوه ويشتمه يو شميرخلقي ګوندي افسرانو د ځينو ملکي کدرونو سره په همغږی کي د امين خلاف د پوځي عمل هڅه وکړه چي دا هڅه مخکې له مخکې افشا او شکمن کسان په هوايي قواواو زرهدارو جزوتامونو کي ونيول شول.د ريشخوروپه اوومه قوا کي پاڅون پيل شو خوهغه وځپل شو.دا پاڅون په رسنيو کي د افغان ملت د ګوند د بنسټ ايښودونکي غلام محمدفرهاد د پلويانو د بغاوت په نامه تبليغ شو خو په خلقيانو کي حکومت دا تبليغبول چي پاڅون کوونکي د زرغون او پرچم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلویان دي او زیات شمیر خلقیان پدې تور بندیان او څو تنه چې زیاتره یې ملکي کدرونه وو بېله محکمې چانواري شول . همدا راز کله چې په ۱۹۸۹ کې د کب د میاشتې په شپاړلسمه نېټه د دولتي امنیت ځواکونو او د دوستم ملیشو د دفاع وزارت په قرارګاه برید وکړ او حکومت هغه د شهنوازتڼي او ګلبدین حکمتیار ګډه کودتا اعلان کړه د نجیب له لوري هغه په ګوند کې د زرغونیانو کار ګڼل کیده. د ګوند د واکمنۍ پرمهال اکثراً د ګوند په د ننه کې کله چې مخالفتونه له عمق نه سطحې ته راوتلي دي اود واکمنۍ په کړنو خلقیانو نیوکې کړې دي په عاملینو یې د زرغونیانو ټاپې وهل شوې دي هغوی بندیان ، له دولتي څوکیو ګوښه او یا وژل شوي دي چې دا بیا په ګوند کې د زرغون د اعتبار او اغېز ښکارندوی دی. زرغون د یوه ځیرک سیاستوال په توګه دا وړتیا لرله چې د راتلونکي وړاندوېینه وکړي . د یوه خلقي کدر په وینا « یوه ورځ زرغون د کابل پوهنتون په انګړ کې د خبرو په ترڅ کې وویل امین به په ملي کچه او کارمل به په نړیواله کچه د ګوند او غورځنګ په وړاندې خیانت وکړي.» زرغون په پښتو ، دري ، انګرېزي او اردو ژبو پوهېده.

## ډاکترنجیب الله
## ۱۹۹۶ ـ ۱۹۴۷




نجیب الله د اخترمحمد زوی په یوه متوسط الحاله کورنۍ کې د۱۹۴۷ کال د اګست په شپږمه د کابل په مرادخانۍ کې وزیږید.هغه په ختېه پښتون او د ګردیز د احمدزیو څخه دی. پلار یې د محمد داود سره نږدې اړیکې لرلې او د هغه د صدارت پرمهال په ۱۹۵۶ کال کې په پېښور کې د افغانستان د سوداګرۍ قونسول وو. نجیب الله خپلې لومړنۍ زده کړې د ده افغانان په لومړنې ښوونځي او متوسطه زده کړې یې د حبیبیې په لیسه کې ترسره کړېدي. هغه په کال ۱۹۶۳ کې له لیسې فارغ شو په کال ۱۹۶۵ کې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې زده کړې پیل او په کال ۱۹۷۵ کې چې اته ویشت کلن وو په پوهنتون کې د لسو کلونو زده کړو وروسته د ډاکتر په صفت دپلوم ترلاسه کړ خو په کومو روغتیایي بنستونو کې یې دنده نه ده ترسره کړې . هغه په کال ۱۹۶۶ کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند غړی شو او د انشعاب وروسته د کارمل تر مشرۍ لاندې خپلې سیاسي مبارزې ته دوام ورکړ. نجیب دوه ځله په کال ۱۹۶۹ او ۱۹۷۰ کې د سیاسي فعالیتونو له امله څلور او نهه میاشتې زنداني شوی دی. هغه د پرچم د فرکسیون د مخکښو ویاندویانو څخه شمیرل کیده. نجیب الله په کال ۱۹۷۷ کې د پرچم د فرکسیون د مرکزي کمیټې غړیتوب ته راپورته کړل شو. ځینې هغه د پرچم په اړخ کې کارمل پلوی او د هغه ساتونکی ګڼي او نور بیا هغه د خیبر د پلویانو څخه شمیري. د ثور د اوومې سیاسي بدلون وروسته هغه د کابل ښار د ګوندي کمیټې د منشي مسؤلیت ترلاسه کړ. د۱۹۷۸ کال د جون په میاشت کې د ګوندي ضد فعالیتونو په تور په تهران کې د سفیر په توګه مقرر شو. هغه د کارمل په شان د سفارت نه له ګوښه کېدو وروسته هیواد ته راستون نشو او د وارسا تړون اړونده کوم سوسیالستي هیواد یا ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد ته تللی وي او کله چې شوروي لښکر په افغانستان یرغل وکړ نجیب الله هیواد ته راستون شو او د هیواد د څارګرۍ ادارې ،خدمات اطلاعات دولتي ( خاد) د رییس په توګه مقرر شو او شپږ کاله د دې ادارې مشر پاتې شو. کله چې په شوروي اتحاد کې ګورباچف واک تر لاسه کړ د هغه د ارادې له مخې د ګوند په اتلسم پلنوم کې د کارمل پرځای د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو او څه موده وروسته د انقلابي شورا رئیس شو. د ګوند د مشرۍ دا ډول بدلون ته د کارمل پلویانو د مسکو-نجیب کودتا ویله .هغه د ګرباچف د « ګلاسنوست اوپیرې سترویکي » بیاجوړوني اوعلنیت د تګلارې په رڼا کې د ملي روغې جوړې تګلاره غوره کړه او په کال ۱۹۸۹ کې یې د لویې جرګې په رابللو سره نوی اساسي قانون تصویب کړ چې په هیواد کې یې د سیاسي ګوندونو د فعالیت او د آزادو رسنیو خپرونو ته اجازه ورکړه. د ده د واکمنۍ پرمهال د ګوند دوهمه کنګره را وبلل شوه . د ګوند نوم یې د وطن په ګوند واړاوه . خو نجیب الله ونه توانید د ګوند د خلقي او پرچمي اړخ او همداراز نورو کیڼ لاسو چې د ګوند ترمشرۍ لاندې حکومت کې شریک وو ملاتړ ترلاسه کړي ، بلکې د ګوند ستره برخه او نور کیڼ لاسي د ده خلاف ودرېدل ترڅو د کارمل د پلویانو د کودتا له امله اړ شو چې د۱۹۹۲ کال د اپریل په شپاړلسمه د هیواد څخه د تیښتې هڅه وکړي چې د کابل په هوایي ډګر کې د دولتی امنیت اړونده قطعې لخوا چې دی یې جوړونکی وو مخه ونیول شوه او د ملګروملتو دفترته پناه یووړله. هغه د ملګروملتو په دفتر کې څلورکاله او پنځه میاشتې پاتې شو. کله چې د ۱۹۹۶ کال د سپتمبر په پنځه ویشتمه طالبانو کابل ونیو، د کابل د نیولو په لومړیو ګړیو کې یې نجیب الله او د هغه ورور شاه پور احمدزی ووژل او جسدونه یې د آریانا په څلورلارې کې وځړول. د نجیب الله دا ډول بېله محکمې وژنه او مړي ته سپکاوی او همداراز د ملي روغې جوړې د تګلارې غوره کول او د جهادي تنظیمونو د واکمنیدو په اړه د نوموړي وړاندوییینه چې د کابل په ښار کې به د وینو سیندونه وبهیږي چې هماغسې هم وشول د نجیب الله په اړه خواخوږي راوزیږوله اوهغه ته یې د شهید لقب ورکړاو د ده انځورونه د شل کلن ناټویي اشغال پر مهال لکه د ځینو جهادي مشرانو په څیر په هیواد کې تر سترګو کېدل. نجیب الله په پښتواو دري ژبو بشپړ تسلط درلود.

## شاه محمود حصین
## ۱۹۴۸ -۲۰۱۷



شاه محمود حصین د محمد شریف زوی په ۱۹۴۸ کال کې د میدان وردګو د مرکز اړوند د نایب خېلو په کلي په یوه روڼ انده کورنۍ کې سترګې وغړولې. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د میدان ښار د ښوونځي په لېسه کې تر سره کړې. ورپسې د کابل ښار د ښوونکو د روزنې په اکاډمۍ کې شامل شو او د دغې دورې له بشپړولو وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو اوبشري علومو په پوهنځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. په ۱۹۷۲ کې له پوهنتون څخه فارغ او د ښوونکي په دنده وګومارل شو. هغه د کابل پوهنتون د تاریخ او فلسفې له پوهنځي څخه د ماسترۍ سند تر لاسه کړی دی.حصین د میدان ښار، میربچه خان، حبیبیې لېسو او د کابل عالي تخنیکم کې د تاریخ او دري ادبیاتو ښوونه کوله. د ( ا، خ، د ، ګ) د جوړېدو په لومړیو کې د ګوند غړی شو.د ګوند د انشعاب پر مهال د کارمل سره لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پنجشیری او شرعي له پرچم څخه لاره جلا کړه حصین هم د دوی سره ګډ بېرته د تره کي تر مشری لاندې سیاسي مبارزې ته دوام ورکړ. حصین په پښتو او دري ژبو سلګونه لیکنې کړې دي. هغه څه موده د ثور انقلاب د حقیقت ورځپاڼې (د ګوند نشراتي ارګان) د تحریر هیات غړی وو. هغه د ګوند د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته بهر ته کډوال شو او په کډوالۍ کې یې د آزادو جریدو د خپرولو او د استقلال ویب پاڼې متصدي وو.حصین د افغانستان د لیکوالو د ټولنې د مرکزي شورا او د ژورنالستانو د اتحادیې فعال غړی وو او لاندې آثار یې لیکلي دي:

- جنګ ، صلح و سرنوشت جهان
- درس های مقدماتی آموزش سیاسی
- مختصرې از تاریخ زندګی اجتماعی زنان افغانستان
- وزارت داخله در ګستره تاریخ
- روابط روسیه و افغانستان
- تاریخ ویش ځلمیان
- مثلث بی عیب
- نګاهی به کنز المهملات و الاکاذیب
- د هیلو غوټۍ( د شعرونو ټولګه )
- زخمي ځانګې (د شعرونو ټولګه )
- ضحاک
- تاریخ پوهنه
- تاریخي لوېدنه

حصین د ثور انقلاب وروسته یوه موده د سواد د زده کړې د رییس او وروسته د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې لوی ریاست مرستیال وو. حصین ژمن سیاستوال او د لوړې پوهې کدر وو. په ګوند کې د انحرافاتو په وړاندې درېدلی دی او همدا لامل وو چې هغه د انقلاب په دواړو پړاوونو کې زندانونو ته اچول شوی دی. د تنظیمونو د واکمنۍ په لومړیو کې هم لنډه موده زنداني شو. د شوروي اشغال په لومړیو کې د هغه د ترور ناکامه هڅه وشوله . د هغه د ترور ناکامه هڅه د نوموړي د هغې انتقادي وینا پایله وه چې په یوه ستره ګوندي غونډه کې چې د ګوند یو شمېر مشرانو هم برخه لرله. پدې غونډه کې محمود بریالي د ثور انقلاب د لومړي پړاو او د خلقیانو په پټه د واقعیتونو خلاف سپکه وینا کړې وه . په غونډه کې حصین د بریالي خبرې رد کړې وې او سربېره پر دې یې صالح محمد زېري د خلقیانو مشر ته ویلي وو هغه څه چې ما وویل باید تاسې ویلي وای. د دې غونډې وروسته هغه خپل کور ته چې په مکرویانو کې دی راځي . دا مهال د هغه کوچنۍ لور له بهر څخه کورته را ننوزي چې د لوبو سامان ورسره وو هغه خپل پلار ته ورکوي او هغه یې په لاس کې چوي د حصین لاس ټپي کیږي خو لور یې په ځمکه لویږي ، ړنده کیږي او وروسته ساه ورکوي . په ګوند کې د حصین د اعتبار او لوړه پوهه لدې ښکاري چې کله د ګوند واکمني نسکوره شوله او ورسره ګوند ټوټې ټوټې شو خلقي مشرانو د ګوند د بیا په پښو درولو په موخه هلې ځلې پیل کړلې . د زېري په وینا هغه له حصین څخه غوښتي وو چې په نویو شرایطو کې جوړېدونکي ګوند ته کړنلاره جوړه کړي چې هغه کړنلاره جوړه کړله. د تنظیمي جګړو له امله هغه هم له هېواد څخه ووت او په آلمان کې یې د کډوالۍ له غربته ډک ژوند اختیار کړ .حصین د ناټویي اشغال خلاف دریځ غوره کړ. هغه د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر په دوولسمه د آلمان د کولن په ښار کې لدې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم څپرکی

## د ثور انقلاب برې( خلقي واکمني )

ډېرې په افغانستان کې د ( ۷ /۲/ ۱۹۷۸ تر ۸ /۲/ ۱۹۹۲) پورې واکمني د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند واکمني ګڼي. پداسي حال کې چې پدې څوارلسو کلو کې دوو مختلفو واکمنیو واک چلولو. په لومړیو شلو میاشتو کې د خلقي ګوند په مشرۍ خپلواکې واکمنۍ د خپل هیواد او دولت د لاربنوونې چارې پرمخ وړلې. وروسته له شلو میاشتو شوروي لښکر د منل شوو نړیوالو قوانینو او کنوانسیونو خلاف پدې هیواد یرغل وکړ، خلقي حکومت یې نسکور او د خپلې خوښې حکومت ته یې واک ولیږداوه چې د واک اصلي مرکز ارګ نه بلکې د شوروي سفارت وو. پردې اساس د شوروي د اشغال پر مهال شورویان په افغانستان واکمن وو . لدې امله دې زماني پړاو ته د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د واکمنۍ ویل منطقي نه برېښي او د افغانستان د هغه مهال ځمکني واقعیتونه هم بل څه وو. لدې امله په کتاب کې د دې ګوند واکمني په دوو ( خلقي او شوروي – پرچمي ) واکمنیو وېشل شوې ده. پورتنیو څو کرښو ته په کتو سره د۱۹۷۸ کال د اپریل د اووه ویشتمې څخه د ۱۹۷۹ کال د دسمبر تر اووه ویشتمې پورې د نورمحمدتره کي او حفیظ الله امین ترمشرۍ لاندې واکمنۍ کې خلقیان واکمن وو او پرچمیانو د خلقیانو د ارادې له مخې عمل کاوه. د۱۹۷۹ کال د دسمبر د اووه ویشتمې څخه د۱۹۹۲ کال د اپریل تر اته ویشتمې د ثور انقلاب د نوي تکاملي پړاو په نامه زماني پړاو کې عملاً په افغانستان شورویان واکمن وو چې په ګوندي او دولتي بنسټونو او ادارو کې هم خلقیان ،هم پرچمیان او هم غیرګوندیان اړ وو د شورویانو د ارادې سره سم ځانونه او خپلې کړنې عیار کړي ، پدې توپیر چې شورویانو تر یوې کچې د پرچمیانو منله ، لږشانتې واک یې وکړی وو خو وروستۍ خبره بیا هم شوروي استازو او سلاکارانو کوله . د دې لپاره چې لوستونکی د دې ظاهرآ واحد ګوند د واکمنۍ په اړه اړین معلومات تر لاسه کړي پرهغو به مکث وشي. د موضوع د ښې روښانتیا لپاره به مسئله داسې طرحه شي چې څه ډول د ثورانقلاب دوه پړاوونه پیل شول او په هر پړاو کې د دولتي چارو لاربنوونه چا کوله یا په بله خبره واک د چا سره وو؟

لومړی پړاو د محمدداود په وړاندې د خلقي پوځیانو د بریالي پاڅون څخه پیل او د شوروي اتحاد تر اشغال پورې دوام و موند چې پدې موده کې خلقیانو پر افغانستان حکومت کاوه . دوهم پړاو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په اووه ویشتمه د شوروي لښکر د خونړي یرغل په پایله کې چې خلقي واکمني یې نسکوره کړه پیل شو. د شوروي یرغلګر لښکر سره د کارمل په شمول پرچمي مشران او تښتیدلي درې خلقیان مل وو. د هغوی په اړه ویل کیږي چې عبدالوکیل د کارمل د ترور زوی د امین د واکمنۍ پر مهال د۱۹۷۹ کال په نوامبر کې کابل او نور د دسمبر په نیمایي کې په پټه د شورویانو له لوري بګرام ته رالیږدول شوي وو. وکیل په یوه روایت د شوروي په سفارت او په بل روایت د شوروي د سفارت د کې جي بی د مشر ډګروال اوسادجي په کور کې او نور د بګرام په هوایي ډګر کې پټ ساتل کیدل. پدې دواړو پړاوونو کې د سیاسي واک په اړه به یوازې له دوو تنو( انتوني آرنولد او جنرال نبي عظیمي) څخه ولولو. محمدحسن کاکړد انتوني آرنولد له قوله د ( ا، خ، د، ګ ) د واکمنۍ په اړه لیکي: « د۱۹۷۹ کال په ختمیدو سره په افغانستان کې د خلک دموکراتیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند حاکمیت نه کاوه د شوروي اتحاد کمونست ګوند حاکمیت کاوه.» ۹۰/ ۱۶۷ عظیمی چې د شوروي د نیواک پر مهال د مختلفو قواوو قوماندان پاتې شوی دی د خپل شوروي سلاکار د واک په اړه لیکي : « هغه څه چې د فرقې سرمشاور ویل د افغانستان د دفاع وزیر حکم ګڼل کیده او هغه قانون وو.»۱۲۹/ ۲۴ پدې دواړو پراوونو کې د واک مسئله په لاندې دوو بېلګو کې د پوهیدو وړ ده . کله چې په کال ۱۹۷۸ کې د خلقي پوځیانو د پاڅون په پایله کې خلقیانو واک ترلاسه کړاو د شورویانو د فشار له کبله یې واک د پرچمیانوسره وویشلو لیکوال د کندهار په قول اردوکې دنده لرله. نوې واکمنۍ برید جنرال میرطهماس رؤف د کندهار د قول اردو د قوماندان او جګتورن محمداکبر وردګ د سیاسي آمر ( د قوماندان سیاسي مرستیال) په توګه وګومارل . قوماندان د پرچم د فرکسیون او سیاسي آمر د خلق له ډلې سره سازماني تړاو درلود. هغه مهال سیاسي آمر یو کمیسون جوړکړ چې د قول اردو د هرې قطعې څخه یو خلقي یې غړی وو ترڅو د قول اردو اړونده فرقې ، لوا او مستقلو جزوتامونو قوماندانان وټاکي. دې کمیسیون د سیاسي آمر په مشرۍ غونډې وکړې ا و د قطعاتو ټول قوماندانان یې وټاکل. څه موده وروسته د دې کمیسیون له لوري د نومول شوو قوماندانانو منظوري راغله او په دندو وګومارل شول. دا بیا ښیي چې واک عملاً د خلقیانو په لاس کې وو او پرچمیان اړ وو چې د خلقیانو د ارادې له مخې ګامونه اوچت کړي. کله چې د کمیسیون ټول غړي خلقیان او د قول اردو پرچمي قوماندان د خپل مرستیال له لوري تعیینات لاسلیکوي معنی یې دا ده چې پرچمي قوماندان بیواکه دی ، د تمثیل لپاره کینول شوی او خلقي مرستیال یې د بشپړ واک څخه برخمن دی. پورتنۍ بیلګه په لومړي پړاو کې د خلقیانو بشپړ واک ښیي. جنرال طهماس رؤف د سردارمحمدداود د واکمنۍ یوازینۍ جنرال وو چې د جهادي تنظیمونو تر واکمنېدو پورې یې په پوځ کې دنده لرله. هغه د یوه بوډا جنرال په توګه په خپله هم په پوځ کې پخپل شتون ملنډې وهلې چې دلته به د خپلو سترګو لیدلې حال راوړم. د نجیب د واکمنۍ پر مهال لیکوال د دفاع وزارت د ملکې مدافعې د ریاست په سیاسي څانګه کې دنده درلودله. د دې ریاست د تعلیمي پروګرام له مخې د ملکي مدافعې د مسؤلینو، والیانو او د کارخانو د رییسانو په کابل کې سیمینار را بلل شوی وو چې د اردو د موزیم کتنه هم په پروګرام کې نیول شوې وه چې رئیس یې جنرال میرطهماس رؤف وو. کله چې جنرال میلمنو ته د موزیم په دروازه کې ښه راغلاست وویل میلمنو ته یې په توکه وویل تاسو د موزیم یوازینۍ لرغونی اثر چې زه یم ولید فکر کوم نوره اړتیا نه وي چې موزیم وګورئ. په دوهم پړاو کې چې د واک اصلي مرکزچیرې وو هغه به د صالح محمد زیري څخه ولولو. د زیري د لیکنې پربنسټ د شوروي اشغال په لومړیو کې د سیاسي بیرو پخوانی غړی او د مالیې وزیر میثاق له بنده خلاص شو او د اشغال وروسته د ګوند د لومړي پلنوم غونډې ته رابلل شوی وو.خو کله چې شورویان خبر شوي دي چې میثاق مرکزي کمیټې ته راپورته کوي کارمل ته یې ویلي چې میثاق کور ته واستوي. پدې اړه کارمل زیري ته ویلي وو:« ما لیست مسکو ته ورکړی وو. همدا اوس زما ډیر نږدې ملګري مشاور را ته وویل چې اوس میثاق کور ته واستوئ ...، په دغه وخت کې د کارمل هغه نږدې مشاور، د لمړیو ورځو مشاور چې لږ،لږ په پارسي هم پوهیدی راغی ، کارمل او مشاور سره وکتل، مشاور ما ته وویل مسکو ډیر په قهرشوی دی ، وایي تاسو ولې د خلکوعامه ذهنیت په پام کې نه نیسئ میثاق مو خوشی او اوس یې مرکزي کمیټې ته هم راپورته کوئ ، لطفاً هغه ته ووایاست چې کورته ولاړشي. »۴۰/ ۴۷۶- ۴۷۷ پدې ډول یې میثاق کور ته لیږلی وو او د ګوند نوي مشرتابه ته یې لار ونه موندله. په تاریخ کې کله ناکله پیښې تکرارېږي چې د میثاق بیرته کور ته استول د محمد داود د جمهوریت په دوهمه ورځ د جنرال خان محمدمرستیال کور ته استولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته دي. د ميثاق د بيرته استولو پريکړه مسکو کړې وه خو د دفاع وزارت د سرپرست په توګه د مرستيال سره د مخالفت مرکز ځرګند نشو که څه هم هغه مهال ويل کيدل چې په جمهوريت کې د پرچميانو له لوري د مسکو د مخالفينو مخه نيول کيده. پورتنی ځرګندوني او دوې بيلګې ښيي چې په اصطلاح د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند ځوارلس کلنه واکمني واحده واکمني نه بلکې دوې متفاوتې ( خپلواکه او بلواکه ) واکمنۍ وې.

## هغو مراسمو چې کابل ولړزاوه

د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند د ميراکبر خيبر د جنازې مراسم په شانداره توګه تر سره کړل. د هغه په جنازه او فاتحه کې د زرګونو تنو ګډون، د جنازې د ليږد پرمهال د ښار په زړه کې منظم لاريون او په هغه کې د رنګارنګ شعارونو ورکول او د جنازې د ښخولو وروسته د ګوند د مشرانو احتجاجيه ويناوې د زلزلې په شان کابل ولړزاوه او د دې زلزلې ټکانونه د قدرت په ماڼيو کې خورا زوروړ وو. کابليان د پنځو کلونو ځنډ وروسته يو ځل بيا په ښار کې د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند د پرتمين لاريون شاهدان وو. واکمنۍ دا ډول لاريون د جزا د قانون خلاف و ګڼلو. البته د۱۹۷۷کال د پښتونستان د ورځې د نمانځنې په مراسمو کې د ګوند له لوري د خپل ځواک ښودنې حکومت ناکراره کړی وو او د ګوند د ځپلو په لارو چارو يې فکرکاوه.خو د خيبر د جنازې مظاهره ډوله مراسمو چې د مذهبي مراسمو په پرتله يې سياسي بڼه غښتلې وه د واکمنو په ټپونو د مالګې دوړول وو چې ښې لاسي چاروکي او په تيره سردار داود يې ډېر په غوسه کړ. د خيبر د جنازې د مراسمو په اړه د امريکې سفارت د اپرېل په څلېرويشتمه( ۰۳۱۴۲۷۰۴۶ ) لمبر ټلګرام واشنګټن ته استولی چې پکې راغلي وو:« دغې پېښې وښودله چې د خلق کمونستي ګوند ددې هېواد په جوړښت کې تر ټولو لوی او تر نورو ټولو ښه سمبال شوی منظم ګوند دی.» د جمهوري دولت د مخابراتو د وزير کريم عطايي د ليکنې له مخې د خيبر د جنازې يوه ورځ وروسته « د جمهور رئيس د مرستيال مرحوم سيدعبدالا اله تر رياست لاندې په صدارت عظمی کې مجلس داير شو د آجندا سربيره د خيبر د ښخولو په رپوټ هم خبرې وشوې. په مجلس کې ټول پدې نظر وو، د مظاهرې په وړاندې چې د قانون خلاف ترسره شوه قانوني اجرآت وشي. د جمهور رئيس مرستيال او د ماليې وزير، سيدعبدالا اله او د کورنيو چارو وزير عبدالقدير وروسته دا موضوع له جمهوررئيس سره مطرح کړله . د۱۳۵۷ کال د ورې په ۲۹ د وزيرانو په مجلس کې پرې هراړخيز بحث وشو او پريکړه وشوه چې د دولت دستګاه له خلقي او پرچمي عناصرو څخه پاکه شي او د مظاهرې د پرمخ وړلو په وړاندې د قانون سره سم اجرآت وشي. د۱۳۵۷ کال د غويي د پنځمې د وزيرانو په مجلس کې د عدليې وزيراو لوی څارنوال مرحوم وفي الله سميعي د کمونستانو د مظاهرو او د ميراکبر خيبر د تدفين په ورځ په دولت باندې د هغوی د بيشرمانه تېريو په هکله د جزا د قانون له مخې توضيحات ورکړل. د ماپښين وروسته غونډه کې د پرچمي او خلقي سرګله ګانو (د رمې د مشرانو) د نيولو په هکله خبرې اترې وشوې او د کورنيو چارو وزير خپل هدايتونه ترلاسه کړل. ځرنګه چې د مجلس آجندا ختمه شوې نه وه د ورځې په پای کې پردې سلا شوو چې راتلونکی مجلس د غويي په اوومه داير شي. کله چې د مجلس څخه کور ته ورسيدم د صدارت نه ټلفون راغی راشئ چې مجلس دی. په صدارت کې د ماليې وزير را ته وويل ښه ده چې دلته پاتې شو چې د نيولو موضوع پېته پاتې شي. د شپې تر ناوخته په صدارت کې پاتې شوو. د کورنيو چارو وزير په پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې ډول د پولیسو د اجرآتو په اړه مجلس ته اطلاع ورکوله. تر هغه ځایه مې چې په یاد دي د حفیظ الله امین پرته چې نیول یې څرګند نه وو نورې نیونې پای ته رسیدلې وې. » ۱۱۴/ ۲۱ د عطایي په څرګندونو کې دوه ټکي د پام وړ دي . یو دا چې په یوه دین او آئین کې انسان او د هغه انسانی کرامت ته سپکاوی نه کیږي. خو د جمهوري دولت یو وزیر د یوه سیاسي ګوند غړو ته رمه وایي داسې ګوند چې په لیکو کې یې پروفیسرانو ، ښوونکو، انجینرانو، ډاکترانو، لیکوالو، شاعرانو ، افسرانو او د لوړو زده کړو خاوندانو شتون درلود. هغه مهال یوازې د کابل په پوهنتون کې د دې ګوند اتلس تنه ( شپاړلس خلقي او دوه پرچمي) استادان په تدریس لګیا وو. کله چې د طالبانو مشر ملااختر منصور د پاکستان د بلوچستان په صوبه کې د بې پیلوټه امریکایي الوتکې په واسطه ووژل شو، د امریکې ولسمشراوباما په ویتنام کې د ملااختر منصور د وژنې خبره وکړه خو هغه یې ښاغلي اختر منصور وباله . د جمهوري دولت د مخابراتو د وزیر په کتاب کې د ګوند د مشرانو او غړو په پټه سپکې سپورې د محمدابراهیم عطایي دا ارزونه چې « د داودخان شاوخوا یا د کی جی بی غړي او یا مغروره بې عقلان راټول شوي وو .» ۱۷/ ۳۹۴بشپړ واقعیت لري. بل دا چې د خیبرد جنازې د مراسمو وروسته حکومت د ( ا، خ، د،ګ ) د برخلیک په اړه دوامداره بحثونه درلودل چې یقیناً بحثونه پردې کېدل چې څه ډول د دې ګوند سره حساب تصفیه کړي. د جنازې وروسته د ګوند د مشرانو او مطرح کدرونو آدرسونه تثبیت او هغوی تر څارنې لاندې نیول شوي وو او د مرکز په قطعاتو کې بیړنی حالت اعلان شو. د ګوند د مشرانو د نیولو د پریکړې په اړه محمدابراهیم عطایی لیکي : « د ده ( داودخان) بې عقله او خاینو همکارانو چې د هغه شاوخوا یې نیولې وه هغه یې ولمساوه چې د خلق او پرچم رهبران ونیسي. »۱۷/ ۳۹۴ د کریم عطایي په وینا د کابینې په غړو کې یوازې صدیق محبي د لوړو زده کړو وزیر د خپل اړونده وزارت څخه د خلقیانو او پرچمیانو د تصفیې په چاره کې د تدبیراو مدارا وړاندیز کړی دی. هغه مهال د ( ا، خ، د،ګ) د غړو شمېر د دیارلسو زرو شا وخوا اټکل کیدل چې غوڅ اکثریت یې د ټولنې باسواده قشر ( ماموران ، ښوونکي او افسران) وو. د دولتي ادارو په تېره له پوهنیزو بنسټیزو څخه د دې کڼ شمیر ګوندیانو څنډنه په دولتي چارو او په تیره تدریسي بهیر ناوړه اغیز پرېښودلو. هېره دې نه وي چې د جنازې په مراسمو کې شوې ویناوې ، شعارونه او شعرونه پولیسو او د ملي مصؤنیت مسؤلینو ثبت کړي وو. « د لوی څارنوالۍ په دفترکې د رادیو کست د فیتې څخه په واضح ډول د ویناوو د اوریدلو وروسته حکومت پریکړه وکړه چې د ا، خ، د،ګ مشران د محکمې لپاره حاضرکړي. څرنګه چې امین پدې مراسمو کې وینا نه وه کړې نو هغه ونه نیول شو خو وروسته چې پولیسو د هغه د کورشاوخوا د شک وړ حرکات ولیدل نو بیا حکومت د هغه د نیولوامر هم ورکړ او د ورځې یوولسو بجو مخکې ونیول شو.» ۱۳۰/ ۲۵۷ ګوندي مشرتابه ګوند ته د واکمنۍ لخوا شته ګواښونه احساسول او په پوره احتیاط سره یې ګامونه اوچتول. د وري په اته ویشتمه( اپریل اتلسمه) د خیبر د ترور وړاندې د ګوند د سیاسي بیرو په غونډه کې پریکړه شوې وه چې د مې لومړۍ د کارګرانو نړیواله ورځ به د پنځو کلو چوپتیا وروسته نمانځي او راتلونکې غونډه به د غویي په پنځمه د سلیمان لایق په کور کې کیږي چې د کارګرانو نړیواله ورځ څه ډول ولمانځل شي. په غونډه کې پرېکړه شوې چې د کارګرورځ و نه نمانځل شي ځکه د جنازې وروسته بله مظاهره ماجراجویي ښکاري او ښایي حکومت سخت غبرګون وښیي. په همدې ماخوستن ناوخته پولیسو د تره کي او کارمل په شمول اووه تنه ګوندي مشران بندیان کړل او د نورو ګوندي مشرانو کورونه ترڅارنې لاندې و نیول شول.د غویي په شپږمه چې امین خپل کور د پولیسو تر څارنې لاندې ویني خپل مشر زوی د ګوند د مشر کور ته استوي چې احوال یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي خو زوی یې د تره کې د زنداني کیدو خبر ورته راوړي چې د شپې پولیسو وړی دی. امین لدې وروسته په کابل کې د پرتو قواوو او قطعاتو او همداراز د هیواد د پوځي هوايي ډګرونو لپاره خلقي افسران د قومندانانو په توګه ټاکي ،ترڅو د اپریل اووه ویشتمه ( د غويي اوومه ) پاڅون وکړي. د محمداقبال وزیري خلقي کدر په وینا تصادفآ دا وخت د امین یو دوست سرمعلم عبدالغفور د خپلې میرمنې سره د امین کور ته راځي او امین د نوموړي څخه غواړي چې د کابل ښاروالۍ ته لاړ شي او د ښاروالي مامور فقیرمحمدفقیر د هغه کور ته راولي .هغه ښاروالی ته ځي او فقیر ورسره راولي. امین فقیر ته د انقلاب قومانده ورکوي چې ملګرو ته یې ورسوي خو هغه د امین څخه لیکلې قومانده غواړي. امین هر ارتباطي غړي ته په کوچنیو ورقو کې د پاڅون قومانده لیکي او هغه ته یې ورکوي.د پاڅون ورځ د غويي اوومه ۹ بجې ټاکي چې د څلورمې زغره والې قوا څخه پیل شي. فقیر ته پولیس د وتلواجازه نه ورکوي ترڅو د امین د مشر ورور د زاریو وروسته فقیر ته اجازه ورکوي چې له کورڅخه ووزي او پدې ډول پولیسو ستره تیروتنه وکړه او هغه چا ته یې د امین له کور څخه د وتلو اجازه ورکړه چې په جیب کې یې د وسلوال پاڅون( انقلاب) لیکلې قومانده وه. همدا رنګه امین خپل زوی عبدالرحمن د پولیتخنیک انستیتوت ته استوي چې استاد خیرمحمدماموند د امین کور ته راولي هغوی ګډ ټکسي نیسي. ماموند لیکي : « د سیلو مخامخ د خوشحال مینې کورونو سره د تکسي څخه ښکته شوو . دغه مهال عبدالرحمن وویل : استاده کیدای شي ما او تا دواړه یو ځای پولیسان زموږ کور ته پرې نهږدي، زه به ورشم چې د امین صاحب نه هدایت واخلم . عبدالرحمن چې کور ته ننووت مور ئې ورته وویل چې دی (امین) همدا اوس پولیسانو بوت او استاد ته ئې دا پیغام پریښی دی چې ستا سره په ارتباط کې پوځي ملګرو ته ووایه چې سبا په نهو بجو پر خپلو وظیفو حاضر وي ، او تاسو ته ټاکل شوي ملګری به د انقلاب قومانده درکړي او د هغه د قوماندې سره سم به عمل کوئ .عبد الرحمن وویل : امین صاحب زما مور ته دا هم ویلي دي چې ملګري باید پوه وي چې دولت ما (امین) او تره کی دواړه وژني او کارمل یواځې هغه ته د اعتبار ورکولو په خاطر زموږ سره بندي کوي . کارمل نه وژني. » ۱۳۱/ ۲۳۶ پولیسو چې د امین د کورشاوخوا د شک وړ حرکات ویني په همدې ورځ د یوولسو بجو مخکې یې له ځانه سره وړی دی.د ګوند پوځي مسؤلینو ته د انقلاب د قوماندې په رسیدو سره په همدې ورځ د غويي په شپږمه نیټه خلقي پوځیان په خوځښت راغلل او هرڅوک خپلو ارتباطي غړو ته د وسلوال پاڅون ( انقلاب ) قومانده رسوي ، د پاڅون پرمهال د ګډې همکارۍ پلان جوړوي او پریکړه کوي چې د غويي په اوومه سهار وختي به د زوبڼ تر څنګ د استقلال د څلې سره ویني. البته چې د ګوندي رهبرانو د نیولو خبر د غويي په شپږمه د ماښام د اتو بجو د پښتو د خبري سرویس څخه د دولت د اعلامیې په بڼه خپور شو. په اعلامیه کې د ګوند د مشرانو د بندي کیدو سربیره هغوی د دولت د تخریب او په هغوی د پردیو د عمالو او خاینانو تورونه لګول شوي وو. د راډیو له لارې د ګوندي رهبرانو د نیولو اعلان ټولو ګوندیانو ته د حکومت له لوري د ګواښ او خطر سګنال وو چې هغوی باید هوښیاري له لاسه ورنکړي او ځانونه ګواښمنو او بېړنیو حالاتو ته چمتو کړي. دا د دولت داسي تیروتنه وه چې په خپله یې د ( ا، خ، د،ګ) غړي او په تیره پوځیان خبر کړل چې د مرګ او ژوند سوال یې طرحه دی. دې اعلان خلقیان د دوی ګډ کور ته د راغلي اجل په وړاندې مقابلې ته و هڅول چې له یوبل سره اړیکې ټینګې او حالاتو ته په کتو سره مناسب غبرګون وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برخليک ټاکونکې ورځ

د۱۳۵۷ کال د غويی په شپږمه د ماښام د اتو بجو د کابل راډيو په پښتو او بيا په اته نيمو بجو دري خبري سرويسونو کې د دولت اعلاميه خپره شوه او په هغې کې راغلي وو:« په لاندې شهرت وطن ته خاين عناصر نورمحمد مشهور په تره کي ، ببرک مشهور په کارمل ، ډاکترشاه ولي ،حفيظ الله امين، غلام دستګير پنجشيري او... ونيول شول.» په نيول شوو کسانو کې يوازې کارمل د پرچم له ډلې څخه وو او نور ټول خلقيان وو. هغوی د غويي په پنځمه د ماخوستن وروسته پوليسو له خپلو کورونو څخه وړي وو. حفيظ الله امين يې د غويي په شپږمه د غرمې مخکې نيولی دی. ويل کيږي چې لايق او بارق په خپله خوښه د غويي په اوومه د غرمې مخکې ځانونه پوليسو ته تسليم کړي دي . پوليسو ته په خپله خوښه د بارق او لايق تسليمېدل داسې وو چې د غويي په پنځمه ماښام نوراحمد نور، سليمان لايق ، بارق شفيعي ، عبدالکريم ميثاق او عبدالقدوس غوربندي په کلوله پشته کې د يوه ګوندي په کور کې د خيبرد جنازې د مراسمو کست تنظيمولو. نوراحمدنور د کوم کار لپاره خپل کور ته تللی دی وينې چې پوليس د ده د کور شاواوخو ولاړ دي او هرڅوک چې هلته ځي ترې پوښتنې کوي او دی بېرته کلوله پشته ته راځي او دا جريان نورو ته وايي . ټول هملته پاتې کيږي . سبا ماښام چې له راديو څخه د ګوندي مشرانو د بندي کېدو خبر اوري پدې بحث کوي چې څه وکړي درې تنه بارق ، لايق او غوربندي وايي چې دوی پوليسو ته ځان تسليموي، ميثاق او نور غواړی پټ شي او هغوی په ششدرک کې د داود رزميار په کور کې پټيږي او کشتمند او نجيب هم هلته ورځي. د ګوندي رهبرانو د زنداني کېدو وروسته دفاع وزارت په پلازمېنه او ولايتونو کې ټولو قواوو ته دستور ورکړ چې د غويي په اوومه په لسو بجو د ګوند د مشرانو د نيولو په مناسبت غونډې جوړې کړي. د غويي په اوومه د سهار په اوو بجو د امين له لوري ځينې ټاکل شوي قوماندانان د خپلواکۍ د څلي ( د کابل زوبڼ ) سره راغونډيږي ترڅو د پاڅون عمليات سره کوردينه کړي. خلقي پوځيان خپلو جزوتامونو ته په رسيدوسره د پاڅون لپاره چمتووالی نيسي او د جزوتامونو مشرتابه د ميټينګونو د تنظيم په چارولګيا کيږي.همدارنګه په همدې ورځ په يوولسو بجو کابينې د ګوند د مشرانو د برخليک په اړه په ارګ کې د جمهور رئيس تر رياست لاندې غونډه لرله. د ابراهيم عطايي په وينا« داودخان پدې وخت کې د کابينې غړي رابللې وو ترڅو د نيول شوو په هکله پريکړه وکړي. البته د هغوی په اړه اعدام په پام کې نيول شوی وو.» ۱۷/ ۳۹۴- ۳۹۵ د کابينې په غونډه کې د دفاع د وزير پرته په پلازمينه کې ټولو موجودو وزيرانو ګډون کړی وو. ښايي د دفاع وزير د ميټينګونو د ښه تنظيم او يا د بيړنيو پيښو د مخنيوي په موخه د کابينې په غونډه کې برخه نه وي اخيستې. د غويي په اوومه په دولت کې د واکمن وضعيت او د خلقيانو د پوځي برخې له کړنو څخه داسې بريښي چې دا ورځ دواړو خواوو ته برخليک ټاکونکې ورځ وه. دولت غوښتل چې په دې ورځ د دې ګوند د برخليک په اړه پرېکړه وکړي او خلقيانو د خپل پايښت په موخه په يوه خورا خطرناک کار وسلوال پاڅون لاس پورې کړ. لکه څرنګه چې يادونه وشوه د پرچم د پوځي سازمان مشر نوراحمدنور د څو تنو ګوندي مشرانوسره د غويي په شپږمه او اوومه پټ وو. د غوربندي په وينا له هغه پوښتنه شوې وه څه بايد وکړو هغه ورته ويلي وو ، زه د غلام جيلاني باختري د کرنې د وزير احوال ته منتظر يم او ميثاق وايي چې باختري د پرچميانو او شورويانو د ارتباطي کړی رول درلود او شورويانو ورته ويلي وو چې ګونديان بايد پټ شي. دا بيا د دې ښکارندوی دی چې پټ پرچمي باختري د جمهور رييس نبض ، د کابينې پرېکړې او شورويانو دستور ته په کتو سره نور احمدنور ته معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول. کله چې په عسکري گارنيزيونونو کې غونډو او مېټينگونو ته تياري نيول کيده د څلورمې او پنځلسمې زغره والو قواوو خلقيانو د همدې فرصت څخه گټه پورته کړله ټانکونه، زرهپوښونه او د شلکا دستگاوې يې خوځښت او جگړې ته چمتوکولې. ويل کيږي کله چې دا وسايط خوځښت ته چمتوشول جگړن محمداسلم وطنجارد خلقي پاڅونوالو د ځمکنيو قواوو قوماندان د څلورمې زغره والې قوا د ټانک د کنډک قوماندان د قوا کفيل جگړن محمدرفيع ته چې د پرچم د فرکسيون سره سازماني تړاو درلود د خلقيانو د پاڅون پريکړه اعلان کړه نوموړی ورسره همغږی شوی دی. همدامهال د پنځلسمې زغره والې قوا اړونده خلقيانو د خپل هوډ په اړه د قوا قوماندان مولاداد ته ور ته خبره کړې وه چې هغه مخالفت ښودلی وو او سمدلاسه پاڅون کوونکو هغه وواژه او د قوا واک يې په لاس کې ونيو. پردې اساس د يوولسو بجو شا و خوا پوځي وسايط د ښار په لور وخوځيدل. د کابينې د غونډې په هکله د مخابراتو وزير ليکي : « د مجلس څخه لا ډير وخت نه وو تيرشوی چې د جمهوري رياست د ياورانو څخه يو کوټې ته راننووت او مستقيماً جمهور رئيس ته ورغی او يو کاغذ يې ور کړ. مرحوم ياور ته څه وويل او د سر په اشاره يې رخصت کړ. څو شيبې نه وې تيرې شوې ، د جمهوري گارد قوماندان صاحب جان د يوه بل کس سره تالار ته راغی بيا يې هم يو کاغذ ورکړ، جمهوررئيس د کاغذ د لوستلو وروسته سملاسي خپل ځای پريښود او په گړنديو گامونو سره د خپل کار دفتر ته ولاړ. څو دقيقې وروسته د توپ يوه ډاروونکي ډز ماڼۍ ولړزوله. » ۱۱۴/ ۲۲ويل کيږي چې په لومړي کاغذ کې د پلچرخي څخه د ښار په لور د وسايطو د خوځښت رپوټ ورکړل شوی وو ، جمهوررئيس خپل ياور ته ويلي وو چې د دفاع وزيرڅخه پدې هکله معلومات واخلي. دفاع وزير ته ويل شوي وو چې قوا د کلني تعليمي پلان له مخې پوروا ( مشق او تمرين) لري. په دوهم کاغذ کې ليکل شوي وو چې زغره وال وسايط ښار ته ننوتي دي ، دې خبر ولسمشر ورخطا کړ بيله دې چې کابينې ته څه ووايي خپل دفترته ځي . پاڅون کوونکي د دفاع وزارت قرارگاه ته په رسيدو سره په دوولسو بجو چې د ځانښت د توپ د ډز د وخت سره سمون خوري په ماڼۍ ډز وکړ. هغه مهال د دفاع وزارت قرارگاه د ارگ مخامخ وه. د ډز پر مهال دفاع وزير ، لوی درستيز ډگرجنرال عبدالعزيز او جنرال روکی د وزير په دفتر کې ناست وو د لوی درستيز پرته دوه نور محمدزي دي. د دفاع وزارت او ارگ مخې ته راغلي ټانکونه د جمهوري گارد د ډزو هدف گرزي. هغه مهال د ارگ د دفاع لپاره ۱۰۰۰ تنه پوځيان او۲۴ ځنځير ټانکونه گومارل شوي وو. د پاڅون کوونکو لومړی ټانک چې د اور په لمبو کې وسوځيده د خلقي محمد زي جگتورن محمد عمر ټانک وو. د پوځي عملياتو پلان داسې جوړشوی وو چې په يوه وخت کې به ځمکني اوهوايي ځواکونه دولتي ضد عمليات پيلوي. ځمکنيوځواکونوعمليات پيل کړل خو د الوتکو څرک نه لگيده . دا د دې لامل وگرزيد چې ځمکني پاڅون کوونکي په سختو شرايطو کې راگير او ټکني شي او پدې تمه يې انتظارايست چې هوايي ځواکونه پر ارگ بريد وکړي او دوی ته ارگ ته د ننوتلو شرايط برابرکړی. ارگ ته د يوې مستحکمې کلا په توگه ننوتل او د هغې نيول ستونزمن وو. دا چې هوايي ځواکونو ولې په خپل وخت عمليات پيل نکړل واقعيت يې دا وو قادرخان د هوايي او هوايي مدافعې مرستيال چې د امين له خوا د هوايي ځواکونو د قوماندان په توگه نومول شوی وو د دولت د پلويانو له لوري توقيف شوی وو. شيرجان مزدوريار چې په پاڅون کې يې فعال رول در لود وايي: « عبدالقادر د دولت د پلويانو له خوا ترڅارنې لاندې نيول شوی وو او د غرمې وروسته دری ټانکونه د هغه د خلاصون په موخه خواجه رواش ته وليږل شول او هغه يې آزاد کړ، بگرام ته ولاړ او الوتکو ته يې د پروازامر ورکړ.» ۱۳۲/ ۶۶غوث الدين فايق د وخت د ټولگټو وزير هم په همدې اند دی او ليکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



: « قادر او نور کمونستان مرتضی قل خان بندي کړل او په یوه کوټه کې یې اچولي وو، هغه ټانکونو آزاد، ملي خاین قادر د چورلکې پواسطه د بګرام هوایي ډګر ته ولاړ د هغه ځای کمونستان یې ولمسول ترڅو الوتکې پرواز ته چمتو کړي. » ۵۲/ ۱۷۷ مرتضی قل د هوایي قواوو سرانجینر وو. لکه څرنګه چې جنګي الوتکې د بګرام په هوایي ډګر کې وې هغه مهال د بګرام د هوایي ګارنیزیون د خلقیانو مسول محمد هاشم نوري وو. هغه وایي چې ده ته چا د پاڅون دستور نه دی ورکړی. هغه وایي چې د ده او امین تر منځ داسې شفر شتون درلود که څوک د امین انځور ده ته وښیي د هغه د دستور له مخې به د حکومت خلاف خپلو ارتباطي ملګرو ته قومانده اویا دستور ورکوي . هغه مهال یعنې د غویي په اوومه چا ما ته د امین انځور نه دی ښودلی او چا کوم هدایت هم ندی راکړی لدې کبله ما خلقي پیلوټانو ته د الوتنې دستور ورنکړ.

کله چې ټانکونه او زرهپوښونه ښار ته ننوتلي دي د دفاع وزیر یا ښایي د جمهور رییس لخوا هوایي قواوو ته هدایت ور کړل شوی وي چې جنګي الوتکې ښار ته ننوتې ټانکونه او زرهپوښونه له منځه یوسي. هماغه دي چې دری جنګي الوتکې چې پیلوټان یې جګتورن میرغوث الدین مشهور په ګاګارین ، جګتورن وهاب لوګری مشهور په ماما وهاب او تورن تیمور فراهي د بګرام له هوایي ډګر څخه پروازکوي. وروستیو دوو تنو دوی ته په ورکړل شوو هدفونو توغندي وویشتل چې یو توغندی په خواجه رواش کې په یوه ټانک ولګید څلورتنه پکې ووژل شول او سیدمحمد ګلاب زوی یې ټپي کړ خو خلقي میرغوث الدین خپل توغندي په کوم غره ویشتلي وو. دې پیلوټانو د خلقي واکمنۍ پرمهال خپلو دندو ته دوام ورکړ ماما وهاب او میرغوث الدین د (ا، خ، د،ګ ) تر نسکوریدو پورې په پوځ کې دنده ترسره کوله او تیمور د وسلوال پاڅون څه موده وروسته د الوتکې د غورزېدو له امله ووژل شو. همدې دریو پیلوټانو د غویي په اوومه لکه نورو پیلوټانو د پاڅون کوونکو په ګټه پروازونه تر سره کړل . په ارګ او دفاع وزارت باندې د ټانکونو د برید وروسته د دفاع وزیر او لوی درستیز د دې پرځای چې په مرکز کې میشت قواوو چې دوې فرقې ، د توپچي لوا او د کوماندو، پاراشوت او انظباط قطعې د یاغیانو په وړاندې سوق او اداره کړي په یوه موټر کې کښیني او د قرغې اتمې فرقې ته ځي ترڅو دا فرقه د پاڅون کوونکو خلاف د جګړې لپاره چمتو کړي. دوی دومره وارخطا وو چې موټر یې ټکرکړی او د دفاع د وزیرلاس هم خوږ شوی وو. هغوی بریالي شوي چې د اتمې فرقې څخه یوځواک د یاغیانو په وړاندې د ارګ د دفاع لپاره چمتو کړي. کله چې ددې ځواکونو د کتار په سر کې چې د ټانک کنډک وو او قوماندان یې خلقي جګړن علاوالدین کوم چې د امین له لورې د اتمې فرقې د قوماندان په توګه نومول شوی وو پولیتخنیک ته ورسېد د خپل ټانک میل د اتمې فرقې په لور را وګرزولو او د اتمې فرقې په لور یې یو ډز وکړ. دې ډز د دفاع وزیر ته دا تریخ پیغام ورکړ چې د ټانک کنډک هم د پاڅون کوونکو سره دی . لدې وروسته د دفاع وزارت مشران اړشول چې د برچې دبنتې له لارې د دارالامان په لور چیرې چې د لومړي لمبر قول اردو( قوایمرکز) قرارګاه ده لاړشي او له هغه ځای څخه دولت ته د وفادارو ځواکونو د قوماندې چارې پرمخ بوزي. دوی بریالي شول چې د ریشخورو فرقې څخه یو ځواک د ډګروال محمدهاشم کندهاري په مشرۍ د ارګ د دفاع لپاره چمتو کړي او د ماښام په رارسېدو سره د حبیبیې لېسې پورې راورسیږي خو د هوایي بمباریو له امله نوموړی ځواک وپاشل شو. همدارنګه د قوایمرکز درستیزوال عبدالعلي وردګ د ننګرهار یوولسمې فرقې سره اړیکه نیسي خو د دې فرقې قومانده خلقیانو په لاس کې نیولې وه. د تلفون ګوشکي خلقي بهرام الدین وردګ پورته کړی ده او بهرام الدین ورته ویلي وو چې دی د فرقې مشري کوي عبدالعلي نور څه ندي ویلي او د ټلفون ګوشکي یې اېښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. البته د ننګرهار د فرقې څخه د کوماندو یوه قطعه چې قوماندان یې پرچمي وو د کابل په لور خوځېدلې وه خو مخه یې د څلورمې قوا نیولې او بېرته خپل سوق الجیش ته ستنه شوې ده .د غویي په اوومه نیټه د درې نیمو بجو وروسته د پاځون کوونکو په ګټه هوایي بریدونه پیل شول ځکه چې د غرمې وروسته دریو ټانکونوعبدالقادر له توقیف څخه خلاص کړ بګرام ته د چورلکې پواسطه په تللوسره یې پیلوټانو ته د پرواز امر ور کړ او د مهتاب کلا په توپچي لوا او د ریشخورو نه ارګ ته د مرستې په موخه راوتلیو قطعاتو بمبارۍ پیل کړې. د دې بمباریو د پیلېدو وروسته پاڅون کوونکي اکتیف عملیات پیلوي ،خپل مشران له توقیف څخه آزادوي او کابل رادیو ته یې رالیږدوي. که د غرمې وروسته لومړیو شیبو کې د ارګ مدافعینو او یا د کابل ګارنیزیون کوم جزوتام په پاڅون کوونکو برید کړی وای شوني وه چې پاځون ځپل شوی وای.

د بندي شوو مشرانو د خلاصون لپاره د څلورمې زرهدارې قوا د شلکا دوه تنه افسران ( سیدرحیم سرباز او محمد یوسف سهار) دنده اخلي . هغوی د کورنیو چارو د وزارت د پولیسو افسرغني سره چې د ګوندي رهبرانو د بندي کېدو ځای ورته معلوم وو ورغلي دي . غني د خپل کتاب ( شب های کابل) په ۳۸ او ۳۹ مخونو کې د ګوندي مشرانو د آزادولو په اړه راوړي :« د تره کي د لاس ولچکونه مو خلاص کړل...، د انقلاب تبریکي مو ورکړه تره کي په تعجب وویل څه اورم؟ انقلاب کوم، انقلاب؟ او دا فیرونه د انقلاب دي؟ شاید کومه بله توطېه منځ کې وي؟...، د انقلاب په تبریکۍ ورکولو دواړو تره کي او کارمل باور نه کاوه . د انقلاب څخه د دوی دواړو بې خبري ما ته هم سوال پیدا کړ چې دا څنګه انقلاب دی چې د ګوند عمومي منشي او دوهم منشي ترې خبر ندي؟ ...، تره کي امین ته وویل چې تاسې له انقلاب نه خبر یاست؟ امین وویل بلې کله چې ستاسو له زنداني کېدو نه خبرشوم نو مې د انقلاب قومانده ور کړه...، دستګیر پنجشیري امین ته وویل بېشک بچه وطن که مرد میدان هستي( بېشکه د وطن بچیه چې د ډګر نارینه یې.) د سلیمان لایق له سترګو اوښکې تللې ومې پوښت ولې اوښکې ؟ ویې ویل د خوشالۍ اوښکې دي.» د انقلاب څخه د ګوندي مشرانو بې خبرې ښیي چې د امین پرته نور ګوندي مشران نه پوهېدل چې پاځون یې ملګرو کړی دی. پاځون کوونکو ته د کورنیو چارو د وزارت د منسوبینو د تسلیمېدو پېښه په زړه پورې ده چې دلته یې یادونه کېږي. کله چې پاځون کوونکي د کورنیو چارو وزارت ته رسېږي د کورنیو چارو د وزارت د نیولو د جزوتام مشر جګتورن توفیق احمد نورستاني د لودسپیکر په واسطه د وزارت له منسوبینو غواړي چې ټول د وزارت انګړ ته راشي. کله چې هغوی ټول را وتلي دي هغوی ته یې امر کړی دی چې خپلې کورتۍ او کمیسونه وباسي . هغوی کرتۍ او کمیسونه ابستلي دي او په سپینو زیرپېرانیو کې یې د وزارت په انګړ کې کېنولي او پیره یې پرې درولې ده . دا مهال د هغوی څخه پوښتنه کېږي چې څوک د ګوند د مشرانو د توقیف ځای څخه خبر دي غني ځواب ورکړی چې زه خبر یم او هغه توقیف خانې ته بیایي. د هوایي بمباریو د پیلیدو وروسته د دفاع وزیر د لوی درستیز او د مرکزي قول اردو درستیزوال سره « د دلکشاه د مانۍ باغبانشي عبدالمجید کور ته چې د خپلوانو نه یې دی ورغلي او غوښتل یې چې شپه به همدلته تیره کړي او سبا سهار وختي به یوې خوا ته وتښتي خو له بده مرغه د باغبانباشي زوی دغه خبره کودتاچي ځواکونو ته ورسوله ، هغوی راغلل او درې واړه یې ونیول.» ۱۳۳ د راډیو تالار ته د ګوندي رهبرانو د لیږد وروسته هغوی د راډیو څخه د اعلامیو په خپرولو پیل وکړ. لومړې اعلامیه چې د ماښام د اوو بجو شاوخوا خپره شوه انانسر یې حفیظ الله امین وو او هغه وویل :« توجه! توجه ! توجه ! د نظامی انقلابي شورا اعلامیه اسلم وطنجار د زرهدارو قوا جګړن او د هوایي قواوو ډګروال عبدالقادراوروي .» د وطنجار له وینا وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقادر په دري ژبه نومورې اعلامیه ولوستله چې منځپانګه یې د محمدداود د واکمنۍ په نسکوریدو څرخیدله. سره لدې چې اعلامیه واورول شوه خو حالات کړکېچن او ناڅرګند وو او کارمل ویل چې زموږ په ملاتړ یوازې ۶۲ ځنځیرتانک ولاړدي په داسې حال کې چې د دولت په ملاتړ د ریشخورو اوومه او د قرغې اتمه فرقه ، د ګارد لوا، د بالاحصار لوا، د مهتاب کلا د توپچي لوا ، د کوماندو ضربتي قطعه ، د پولیسو قوماندانې ، منتظره قطعې او نورې ولاړې دي او« وړاندیز یې وکړ چې د ګوند رهبري ، د ثور د پاڅون په هماغه لومړیو کې پټه شي او د پاڅون مستقیم مسئولیت په پوځي افسرانو واچوي. خو نورمحمدتره کي د رهبرۍ د پټیدو سره په کلکه مخالفت کاوه او په لوړه انقلابي روحیه او په څرګند ډول ویل او دا خبرې یې تکرارولې یا به د پاڅون د پوځي مشرتابه د انقلابي پاڅون سره بریالي کیږو او یا به په یوه سنګر کې وژل کیږو.» ۲/ ۹۱ دا اندیښنې هغه وخت زیاتې شوې چې د اوومې فرقې ځواکونه حبیبي لیسې ته راورسیدل او د مهتاب کلا د توپچي لوا په الوتکو ډزې وکړې او یوه جنګي الوتکه یې را نسکوره کړه. ددې الوتکې پېلوټ عبدالوهاب وردګ وایي چې کله مې کته پولت وکړ په یوه کور کې په یوه ونه کې بند شوم ، د دې کور ښځنې مېرمنې ترې پوښتلې وو ته روسی یې ، هغه ور ته ویلي وو نه افغان یم ، وروسته میرمنې شیدې ورکړې وې.د راډیو د نشراتو د پای ته رسیدو وروسته د ګوند مشران خواجه رواش « محل چنار » ته لاړل او د سهار تر شیږنیمو بجو پورې هلته وو او بیرته کابل رادیو ته راغلل. د شپې په راتلو سره حالات د پاڅون کوونکو په ګټه واوښتل. د کریم عطایي په وینا دا مهال وزیرانو داودخان ته وړاندیز وکړ چې کندهار ته لاړشي اود هغه ځایه د بغاوتچیانو په وړاندې د پوځ لاربښوونه وکړي او د جنرال نذیرسراج د لیکنې په اساس « د ارګ نه د مرکزي قوا کومې قطعې ته ولاړشي او ټوله قومانده په خپل لاس کې ونیسي. محمدداودخان دغه سلا ومنله یو تور والګا ه موټرد ارګ د ګلخانې مانۍ ته رانږدې شو ولسمشر له دروازې راووت او غوښتل یې چې په موټر کې کښیني ، زوی یې محمد عمر ورپسې ورغی په دغې شیبې کې د ګارد د قطعې لخوا د دوی په لوري ډزې وشوې ، عمرجان ټپي شو او ولسمشر بېر ته ګلخانې ته ننوت او ویې ویل : نه ! هرڅه پای ته رسیدلي دي د دغو ټولو بدمرغیو پازوالي زما په غاړه ده هرڅوک چې نه غواړي ووژل شي د مانۍ شا تالار ته دې ولاړشي، وروسته ویل کیدل چې په داودخان اوعمرجان د کلاشنکوف ډزې د داودخان د ډاډ وړ صاحب منصبانو له ډلې نه د یوه تن صاحب منصب له پلوه وشوې. » ۱۳۳ خو واقعیت دا وو چې محمد داود نه بلکې سردارمحمد نعیم او د هغه لور زرلښتي غوښتل له ارګ څخه ووزي پرې ډزې وشولې چې دواړه ټپیان شول. دا خبره ګلالی ملکیار د محمد داود د مشر زوی محمدعمر مېرمنې څو کاله وروسته په امریکا کې داود ملکیار ته کړې ده . د« اپریل دوه ورځې» په نامه روسي مستند فلم جوړوونکي د دوو تنو جګتورن عبدالمجید او بریدمن ببرک سره مرکه کړې ده او هغوی وایي چې دوی د پاڅون له رهبرۍ سره اړیکه لرله او دوی له ارګ څخه د هغوی د وتلو مخه ونیوله او ډزې یې پرې وکړلې. ببرک وروسته د تره کي ساتونکی وو . د محمدداود د مخابراتو د وزیر په وینا په ګارد کې د شپې د دوولسو بجو وروسته پیره داران نه ترسترګو کیدل ، دې دا معنی لرله چې نور ارګ د خلقیانو لاس ته لوېدونکی دی. د هغه په خبره دا مهال د ګارد قوماندان په ملکي دریشی کې راغی او ولسمشر ته یې وویل چې په ګارد کې خیانت پیل شوی او نور مې څه په وس کې نشته. داودخان هم وضعیت ته په کتو سره دې پایلې ته ورسید چې د پاڅون کوونکو سره ووینې هماغه دې چې د ګارد قوماندان د ولسمشر د دستور له مخې د ګارد د مخابرې آمر تورن آغامحمد کندهاری پاڅون کوونکو ته ورلیږي چې د هغه پیغام پاڅون کوونکو ته ورسوي. « هغه یې راووست . هغه وویل : جمهور رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي : قوماندانان يعني قادرخان او وطنجار دې ماته راشي، زه چمتو يم هغوی ته تسليم شم. دا وړانديز د مشرتابه لخوا و نه منل شو، خو وويل شول چې موږ مذاکرې ته چمتو يو او تره کي خيال محمد کټوازي ته دستور ورکړ چې يوه کوټه د داود سره ليدني ته چمتو کړي . څرنګه چې وخت تېر شو او معلومه نشوه، د ګوند عمومي منشي نورمحمدتره کي دا مهمه موضوع طرحه کړله او هغه دا چې د داود خان په اړه څه پرېکړه وکړو؟ د رهبرئ غړو مختلف نظرونه لرل، ځېنو ويل چې هغه محاکمه او سزا ورکړل شي ،ځېنو ويل هغه اعدام شي ، ببرک کارمل د هغه د ژوندي پاتې کېدو طرفدار وو...، سليمان لايق وويل : دا فرعون بايد ووژل شي.هغه د سودان پېښې ته اشاره وکړه وويل : ملګرو کله چې په سودان کې مترقي کسانو انقلاب وکړ، د زړه سوي له کبله يې جعفرالنميري ونه وژلو. لکه څرنګه چې بيا نميري واک ته ورسېدلو دا ټول انقلابي کسان يې ووژل. څرنګه چې ملګري کومې پايلې ته ونه رسېدل ، تره کي افسرانو ته وويل هڅه وکړئ هغه ژوندی راولئ. » ۱۳۴ پدې هکله دستګير پنجشيري د خپل کتاب د دوهم ټوک په ۹۴ مخ کې راوړي چې ده تره کي ته ويلي دي چې هغه ( داود) به د لړم په شان خپل وروستي زهر او وروستی مرمۍ د پاځون په قوماندانانو باندې تشې کړي لدې امله غوره دا ده چې دا دری تنه ور نشي او تره کي د ده خبره ومنله. پنجشيری د دوو تنو په ځای د دريو تنو يعني قادر ، وطنجار او مزدوريار نومونه را وړي چې ګواکي داودخان هغه غوښتي وو. همدارنګه پنجشيري د داودخان سره د چلند په هکله د خپل کتاب په ۹۵، ۹۶ ، ۹۷ مخونو کې توضيحات ورکړي او په ځانګړې ډول وايي چې ببرک کارمل د داودخان سره د انساني چلند غوښتونکی وو ، ده هم د داودخان په هکله د هومانيزم او د ټولنيزې مبارزې اصولو ته د وفادارئ خبره کړې ده او د سليمان لايق له قوله وايي چې دا فرعون ووژل شي. خو بالاخره تره کي وويل: « که چيرې سردارمحمد داود او پلويانو يې د انقلاب له فرمان څخه سرغړونه وکړه او د پاځون کوونکو په وړاندې يې وسلې ته لاس کړ او د ګوند د دستور په وړاندې بېله څه ويلو تسليم نشي زموږ وسلوال ځواکونه حق لري د خپلې آزادئ او شخصي امنيت او د انقلابي نظم څخه په ميړانې او قاطعيت دفاع وکړي او که چيرې د مقاومت نه لاس واخلي او وسله په ځمکه کيږدي بايد يوه خوندي ځای ته ولېږدول شي او د هغه سره د مملکتي قوانينو د درناوي وړ ، انساني او افغاني چلند وشي. » ۲/ ۹۷ د غوبي د اتمي په پيل سره ګارد دنده پرې ايښي وه هماغه دي چې د کوماندو د قطعي تورن امام الدين د مخابرې افسر ته دنده ورکول کيږي چې د وسلې پرته د پوځې شورا پيغام ولسمشر ته ورسوي. هماغه دي چې هغه د ګلخانې مانۍ ته ورځې. د اپرېل دوه ورځې نومي مستند فلم جوړونکی خبريال د ثور د پاځون په لومړيو کې د تورن امام الدين سره په څلورسوه بستريز روغتون کې چې ښی لاس يې په پلستر کې دی مرکه کړې ده او هغه د داودخان او د هغه د کورنۍ د غړو د وژنې په اړه وايي :« د اپرېل په اته ويشتمه په شپږو بجو د ( ا ، خ ، د ، ګ) مرکزي کميټې دنده راکړه چې ولسمشر ته د مرکزي کمېټې پيغام ورسوم. پدې ورځ د پخواني ولسمشر ، د هغه د خپلوانو او ځېنو وزيرانو پرته زيات شمېر پلويان انقلابي واکمنۍ ته تسليم شوي وو...زه مانۍ ته ورننوتم هلته داود د هغه نږدې کسان او ځېنې وزيران مسلح وو او هلته يو ماشيندار هم وو. ما په ډېر احترام ورته وويل : محترم ښاغلی جمهور رييس ! د ا، خ، د ، ګ د مرکزي کمېټې د دستور له مخې تاسې زنداني ياست، وسله په ځمکه کيږدئ او تسليم شئ. ماته دنده سپارل شوې ده چې تاسې له مانۍ وباسم او د پاځون کوونکو قرارګاه ته بوزم. هغه غوښتل د خپلې توپانچې پواسطه پرما ډزې وکړي ما پرې چيغه وکړه ډزې مه کوه لاسونه جګ کړه خو په لړزېدلي لاس يې ډزې وکړلې . دا مهال د داود زوی د ماشيندار پواسطه پرما ډزې وکړې او دوې ګولی زما په ښی اوږه ولګېدلې. زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یوه بل په منډه بلې کوټې ته ولاړل او قدیر د کورنیو چارو وزیر ماشیندار ته لاس کړ خو ډزې یې ونشوای کړای او ماشیندار ترې ولوېد. دا مهال نعیم خان چې په پښه ټپي وو او په کوچ کې ناست وو د قدیر څخه لوېدلی ماشیندار واخېست او په موږ یې ډزې وکړې خو د ماشیندار ګولی یې خلاصې شولې. دا مهال د ځان د ساتنې په موخه مو پر هغوی متقابله ډزې وکړې . ددې ډزو پرمهال د ګاونډې کوټې څخه چې د داود کورنۍ هلته وه چیغې او ډزې واورېدل شوې، داود خپل اولادونه او لمسیان چې ده ته زارۍ کولې پاڅون کوونکو ته تسلیم شي ووژل . پدې ډول زموږ په ډزو کې د تمې خلاف داود او پلویان یې ووژل شول. پدې توګه ما ونشوای کړای خپله دنده ترسره کړم البته ملامت زه نه یم...» د امام الدین له څرګندونو څخه معلومیږي چې د ګلخانې په مانۍ کې د ولسمشراو د هغه سره موجودو کسانو د ډزو وروسته کوماندویانو په مانۍ برید کړی چې په پایله کې یې د کوماندویانو او په خپله د جمهور رییس د زوی له خوا د افغانستان لومړی جمهور رئیس د یحیی د کورنۍ وروستۍ واکمن او د هغه اوولس تنه د کورنۍ غړي او سیدعبداله اله د ولسمشرمرستیال هم ووژل شول او قدیر نورستاني ټپي او وروسته په څلورسوه بستریز روغتون کې ساه ورکړه. د یحیی د کورنۍ د وروستي واکمن محمدداود په وژل کیدو سره د افغانستان د تاریخ نوی خو خونړی پړاو پیل شو. وروسته لدې د رادیو نه د محمد داود د وژنې اعلان خپور شو چې د اعلان په خپریدو سره د نوې واکمنۍ په پته د هیواد له ګوټ ګوټ نه مرکز ته د مبارکۍ تلګرامونه راورسیدل او نوې واکمنۍ دا سیاسي بدلون د ثور د ملي دموکراتیک انقلاب بري په نامه اعلان کړ. د جمهوریت د ګارد تسلیم شوي منسوبان وروسته لدې چې بې وسلې شول ټول د خیبر رستوران ترڅنګ د آریانا په سینما کې تر ځارنې لاندې ونیول شول.

د ارګ ساتونکو ټولټال ۳۰ تنه پاڅون کوونکي له پښوو غورزول چې ۱۲ تنه سرتیري،۶ تنه واړه ضابطان، ۷ تنه بریدمنان ،۴تنه تورن او یو تن جګتورن وو چې د( پروان، جوزجان، ننګرهار، فاریاب ، کابل ، پکتیا، هلمند، بغلان ، وردګ ،لغمان، بادغیس ، کندز اوغور) اوسیدونکي وو. همدارنګه یو تن د ریشخورو په اوومه فرقه ، دوه تنه د غزني په ۱۴ فرقه او څلور تنه د خواجه رواش په هوایي ډګر کې ووژل شول. همدا رنګه د امام الدین سره د محمد علي په نامه یو سرتېرې هم ووژل شو. که چیرې د خلقیانو د پاڅون انګیزې ته وکتل شي هغه د داودخان د جمهوري دولت له لوري د ا. خ. د. ګ د مشرانو د زنداني کولو په وړاندې وسلوال غبرګون وو. د راډیو څخه د خاینانو په نامه د ګوندي مشرانو د نیولو اعلان ، د پیژندل شوو ګوندي کدرونو د کورونو ځارنه او د حکومت له لوري د ګوند د مشرانو د نیولو په مناسبت د خوښیو ډکو غونډو جوړولو او د ګوند د مشرانو د چانوارۍ د ګنګوسو او اوازو څخه معلومیدل چې دولت هوډ درلود دا ګوند درې وړې کړي . پردې بنسټ د خلقیانو د غوبي اوومي نیتي وسلوال پاڅون یا انقلاب او د دې ګوند د مخالفانو په خبره خونړۍ کودتا یا بغاوت د فرانسوي فیلسوف آلبرټ پدې ارزښتمنه خبره د صحت مهرلګوي چې «د بغاوت احساس په ظلم کې زیږیدلی دی .» پربله خوا بیا د واک د ساتلو په موخه د پاڅون کوونکو په وړاندې په وروستیو شیبو کې چې جمهوري ګارد تسلیم شوی وو د داودخان بیځایه مقاومت د جارج اورول د۱۹۸۴ نومي مشهور ناول لیکوال د دې خبرې سموالی ښيي چې « هیڅا هم ځواک د پرینبودلو په نیت نه دی غضب کړی، ځواک( قدرت) یوه وسیله نه ده ، دا یو پای دی.» له همدې کبله محمد داود د کودتا له لارې د غضب شوي واک څخه تېرېدلو ته چمتو نه وو او تر پایه وجنګېده او دې ته هم چمتو نشو چې د کورنۍ زاړه او واړه غړي یې ژوندي انقلابیونو ته تسلیم شي او هغوی یې د خپل زوی په واسطه ووژل او همدا زوی یې هم د خلقي پوځیانو په ډزو کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محمدداود د کورنۍ د وژنې ربښتیا

په دې وروستۍ نیمه پېړۍ کې د افغانستان ځینو چارواکو او سیاستوالو داسې کارنامې د تاریخ حافظې ته سپارلې دي چې د ژمنو چارواکو او ځیرکو سیاستوالو سره څه چې د عادي وګړو څخه یې تمه نه کېږي. پداسې کړنو یوازې رواني ناروغان او له اقتصادي ستونزو سره مخامخ وګړي لاس پورې کوي. زموږ د هیواد دا ډله سیاستوال نه رواني ناروغان وو او نه یې اقتصادي ستونزې لرلې بلکې د هغوی بې کچې ځانغوښتني او مقام پالنې هڅولي دي چې په عجیبو نه منونکو کړنو لاس پورې کړي او د تراژیکو خونړیو پیښو عاملان او لوبغاړي پاتې شي چې شپږ تنه ( محمد داود، حفیظ الله امین ، ببرک کارمل ، ګلبدین حکمتیار ،احمدشاه مسعود او محمد اشرف غني ) لدې سیاستوالو څخه دي. د پورتنیو سیاستوالو د کارنامو یوې برخې ته به ګوته ونیول شي. خبرې به د عمرله پلوه له کشر نه پیل کړو.

احمدشاه مسعود د جمهوري نظام او بیا د ( ا، خ ، د ،ګ) د واکمنۍ خلاف جهاد!؟ پیل کړ او پوره اووه ویشت کاله چې د عمرد نیمایي څخه زیاته برخه یې جوړوي خپل جهاد ته ادامه ور کړله. د شوروي د اشغال پر مهال مسعود د یوه پیاوړي جهادي قوماندان په توګه تبلیغېده او د وطن د آزادۍ او جهاد په نامه به یې ګومره خپل جهادي ورونه چې د ده ترقوماندې لاندې جنګیدل د شهادت ترکچې سرشندنو ته هڅولي وي او ګومره نور افغانان به یې د اشغالګرو د پلویانو او د ده او د هغه د سنګر د ملګرو په وینا د کمونستانو په نامه ربړولي او وژلي وي. خو داسې وخت راغی چې د شوروي اشغالګرو د نازولو لکه محمود بریالي ، نجم الدین کاویاني ، فریداحمد مزدک ، عبدالوکیل ، محمد نبي عظیمي ، محمدآصف دلاور، عبدالرشیددوستم، جنرال مؤمن ، جنرال منصورنادري او د هغوی د دسترخوان له نورو یارانو سره د ورورۍ او دوستۍ مزي ټینګ کړل او په ګډه یې د نجیب الله حکومت نسکور او دولتي واک یې غصب کړ ، پدې ډول یې د ملګرو ملتو د سولې پروګرام شنډ او په هېواد کې یې د ځمکې پر سر محشر جوړ کړ. څرنګه یو سیاستوال او په تیره مسلمان ځان ته اجازه ورکوي چې خپل اصول تر پښو لاندې کړي او د واک په خاطر د خپلو جهادي ورونو او وطنوالوهغه هیلې چې د م، م د سولې د پنځه فقره یي پروګرام په پلې کیدو کې لیدلې په خاورو واړوي. یوازې د پردیو د فکري اسارت لاندې وګړی او مزدور او یا ځانغوښتونکی سیاستوال پداسې ملي ضد او اسلامي ضد کارلاس پورې کوي. دا چې نوموړي د شوروي اشغالګرو سره پټې لوزنامې لاسلیک کړې وې چې د اشغالګرو خلاف به نه جنګېږي او د هغوی سره به د خپلو جهادي ورونو په ځپلو کې مرسته کوي او د اشغال تر پایه دې لوزنامو ته ژمن پاتې شو هغه هم ددې وګړي د لېونۍ ځانپالنې سره تړاو لري. د مسعود د ځانپالنې په اړه یو وخت محمد قسیم فهیم مسعود ته د هغه ددې پوښتنې په اړه « چې کوم ډول سیاسي جوړجاړی به یو باثباته افغانستان را منځته کړي ویلي وو: یوازینی لامل چې موږ د افغانستان په مساله کې پرمختګ نه کوو، ستاسې له لوري د افغانستان د مشرۍ غوښتل دي...، تاسې دې خبرې ته تیار نه یاست او نه غواړئ چې دویم کس و اوسئ.»۲۴۳/ ۲۲۳ لکه څرنګه چې مسعود داسې سیاستوال وو چې هغه باید په هېواد کې لومړی کس وي د محمد داود په اړه هم ډېرې څېړونکې ورته لیدلورى لري .

ګلبدین حکمتیار د مسعود د فکري ملګري په توګه چې د مسعود غوندې د داودخان د واکمنۍ د پیل څخه د آی اس آی نازولی وو ګډ د جمهوري نظام او بیا د ( ا، خ، د، ګ) د واکمنۍ په وړاندې جهاد کاوه او د یوې تورې معاملې په ترڅ کې د ( ا، خ، د،ګ) د واکمنۍ نسکوریدل یې د اسلامي انقلاب برى او د مجاهدینو ستره لاسته راوړنه او ویاړ ګاڼه. پر بله خوا حکمتیار د همدې اسلامي انقلاب د بري په پایله جې د منځته راغلې واکمنۍ خلاف پدې پلمه چې ګواکې د کمونست دوستم ملیشې او پرچمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرالان ددې واکمنۍ سره همغږې او همغاړې دي خپل بل سپيڅلی جهاد!؟ پيل او په کابل يې د توغنديو باران جوړکړ چې له امله يې لسګونه زره کابليان شهيدان شول ، سلګونه زره تنه مهاجرت ته اړشول او کابل په کنډواله واوښت. خو وليدل شول چې ده د هماغه کمونست دوستم او همغو پرچمي جنرالانو سره د هما هنګي شورا جوړه کړه او د رباني - مسعود خلاف يې بل جهاد پيل کړ . حکمتيارته هيڅکله هم دا پوښتنه پيدا نشوله چې د څه لپاره يې د دوستم د مليشو د شتون په پلمه په کابليانو توغندي ويشتل او بيا يې د همدې دوستم سره ګډه ژبه وموندله . په سياست کې دايمي دوست او دايمي دښمن شتون نلري او همدارنګه په سياست کې د نورو سياسي ډلو سره د تلوالې جوړول يو منل شوی اصل ګڼل کيږي خو دا تعاملات ځانګړې اصول لري او سياستوال بايد د همدې اصولو پر بنياد عمل وکړي. وايي چې خپلو نظرياتو اوعقايدو ته تغيير ورکړئ خو خپل اصول وساتئ. حکمتيار او مسعود د دې منل شوي اصل برعکس خپلو نظرياتو او عقايدو ته تغيير ورنکړ خو اصول يې تر پښولاندې کړل چې دا د ژمنو سياستوالو او مؤمنو مسلمانانو سره نه ښايي.

حفيظ الله امين د (ا، خ، د، ګ) په مشرانو کې يوازېنی مشر وو چې د ګوند د عمومي منشي نورمحمدتره کي لاسونه به يې ښکلول او د تره کي سره د مخامخيدو پرمهال به لکه په هندي فلمونو کې چې د روغبړ او مخې ښې پرمهال يو بل ته د درناوۍ په موخه سرونه ټيټوي هم سر ټيټاوه او هغه ته يې غوره لقبونه کتارول . د امين له داسې چلند نه داسې برېښيدل چې ګنې هغه تره کي ته د يوه استاد او يا پلار په شان درناوی لري. خو کله چې د هيواد د زعامت مسئله طرحه شوه د عزرائيل په شان يې د خپل استاد ژوند ته د پای ټکی کيښود. د امين د ځانغوښتنې کچه دومره لوړه وه چې هغه حتي په سمبوليک ډول د ګوند او دولت په سر کې د تره کي شتون نشوای زغملی .

ببرک کارمل په ځوانۍ او د خپلې واکمنۍ پر مهال ارتجاعي ځواکونه او امپرياليزم په سختو ټکو غندل او د خپلې واکمنۍ وسلوالو مخالفينو ته يې بې فرهنګه اشرار ويل. خو داسې وخت راغی چې خپلو پلويانو( بريالیانو،مزدکيانو ، کاويانيانو.عظيميانو، علوميانو ، دلاورانو، دوستميانو) ته دستور ورکړ چې د بې فرهنګه اشرارو سره ګډه جبهه جوړه کړي او د خپل فکري ملګري ، شاګرد او باډيګارد نجيب الله ترمشرۍ لاندې د خپل ګوند واکمنۍ ته د پای ټکی کيږدي. د نجيب الله سره يې دښمنی د نوموړي له ځانغوښتنې سره تړلې وه چې ولې نجيب الله د کرملن ناستو د ارادې له مخې دده پرځای د ګوند او دولت مشري ومنله. د نجيب الله څخه د غچ اخيستنې په نامه يې په واقعيت کې د ټول افغان ولس څخه غچ واخيست او دا ولس يې د داسې کړاوونو سره لاس او ګريوان کړ چې د ده د بلواکې واکمنۍ کړاوونه او ناروا وې يې هيرې شولې .

اشرف غني چې د اکاډميک شخصيت اکتونه کول او انګلو ساکسوني اشغالګرو د سياست ډګر ته راوړاندې کړ او زعامت ته يې ورسولو د خپلې واکمنۍ پرمهال جهادي لوټماران او حرفوي قاتلان ( عبدالرشيد دوستم ، محمد سرور دانش ، امرالله صالح )خپل مرستيالان غوره کړل دا ځکه چې دا لوټماران او قاتلان د اشغالګرو نازولي وو. د تش په نامه نورو جهادي لوټمارانو او حرفوي قاتلانو د خوشالولو په موخه يې د مزاري او مسعود پيژندنې وړانديزونه کول. آيا د يوې اکاډميکې څېرې سره ښايي چې د مسعود او مزاري په څېر جګړه مارانو ته چې د وژنو او ورانولو پرته نورې کارنامې نه لرلې د هغوی د پيژندنې وړانديز وکړي. خو د ځانپاله غني لپاره د واک او ځواک مسالې لومړيتوب درلود. د خواشينۍ وړ واقعيت دا وو چې دې اکاډميکې څېرې کله چې امريکايي اشغالګرو د طالبانو سره د سولې خبرې پيل کړلې د سولې له خبرو سره مخالفت کاوه ، ستونزې او خنډونه يې ورته جوړول ترڅو دی په واک کې پاتې شي او په واک کې د پاتې کېدو په موخه د سولې يعنې د افغانوژنې او اشغال د پای په وړاندې و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربېږي. هغه مهال ټولو غني ته ویل چې د ۲۰۱۹ کال ټاکنو څخه تېرشي او د سولې لپاره کار وکړي خو هغه د اشغال لاندې هېواد کې ټاکنو ته لومړیتوب ورکاوه هغه ټاکنې چې د نړۍ په یوه هېواد کې چا داسې مسخره ټاکنې نه وې لیدلې چې پایله یې دوو ولسمشرانو هممهاله د لوړې ترسره کول شي. د ځانغوښتونکی غني د دسترخوان یار داود عمرزي په وینا چې د هغه سره یې د هغه د فرار وروسته په دوبۍ کې لیدلې دي غني د نظام په نسکورېدو کې خپلې تېروتنې نه مني او نور ملامتوي .

محمدداود د یوه جنرال او پاخه سیاستوال په توګه چې زعامت ته ورسېږي ټیټ رتبه پوځیان د پاچاهي نظام د ړنګولو او د جمهوریت د ټینګښت په نامه یوه ناقانونه کار او عسکري لوړې ته شاګرزونې ته وهڅول او د هغوی پرمټ یې خپله تنده ماته کړه. واک ته په رسیدو سره یې د دې پرځای چې جمهوریت راولي خپله فردي دیکتاتوري ټینګه کړه او د مخالف غږ د خاوند سیوری یې هم په ټوپک ویشتلو چې منطقاً پایله یې د نظام په وړاندې دریدل ، بلواوې ، وسلوال مخالفتونه او پاڅونونه شول چې وروستۍ وسلوال پاڅون یې د ( ا، خ، د،ګ) د غویي د اوومې نیټې تحمیلي پاڅون شو کوم چې دولتي ځواکونو و نشوای کولی د پاڅونوالو په وړاندې ودریږي او د تسلیمۍ پرته بله لار ونه وینې. هغه مهال سره لدې چې د ولسمشر امنیتي زر کسیزه ګارد خپلې وسلې په ځمکه کیښودلې خو ولسمشر چمتو نشو د پاڅونوالو سره خبرو ته کښېني. هغه نه دا چې په خپله دا کار ونکړ بلکې پرېکړه یې کړې وه چې د ماشومانو په شمول د ده د کورنۍ یو غړی هم پاڅونوالو ته ژوندي تسلیم نشي . همدا لامل وو کله چې د ۱۳۵۷ کال د غویي په اتمه پاڅون کوونکي پر ارګ واکمن شول او د ده هستوګنځي ته ورسېدل د ده د مخکني دستور له مخې یې زوی میرویس چې په کورنۍ کې د ویس په نامه یادېده د خپلې کورنۍ ښځینه او ماشومان چې د ده مېرمن او بچیان هم پکې وو ووژل. دا د یوه ځانغوښتونکي شخصیت انځور ننداري ته ایږدي چې ټول باید د ده ارادې ته غاړه کیږدي که نه نو د ژوند حق هم ترې اخیستل کیږي.ښځایه هم نه وو چې خلکو هغه ته لېونی سردار ویل.

اوس به په اصلي موضوع د سردار داود د کورنۍ په وژنې تم شو. ډېری پدې اند دي چې د محمد داود په شمول د ده د کورنۍ اوولس تنه غړي خلقي پاڅون کوونکو وژلي دي. خو واقعیتونه تر قیامته پټ نه پاتې کېږي . همدا لامل دی چې پدې اړه د واقعبینو څېړونکو له څېړنو او د پېښې د شاهدانو له څرګندونو څخه روښانه شوله چې د محمد داود په دستور دده د کورنۍ ماشومان او مېرمنې د غویي په اتمه سهاري وختي د ده د کشر زوی میرویس له لوري ووژل شول . که څه هم مخکې مو د امام الدین څخه پدې اړه لوستي وو . پدې هکله به د ځینو نورو لیکوالو لیدلوری او اخېستنې او د ده د کورنۍ د یوې غړې چې د دې غملړلې پېښې شاهده وه هم ولولو.

د ۲۰۱۵ کال د جون په یوویشتمه د افغان – جرمن آنلاین کې د داود ملکیار چې د سلطنتي کورنۍ له غړو سره یې د خپلوۍ اړیکې لرلې یوه لیکنه خپره کړه چې د یوې داسې زړه بوګنوونکې او هینوونکې پېښې څخه پرده پورته کوي چې د محمدداود د کورنۍ د وژلو په اړه یې نه یوازې واکمن ذهنیت تر پوښتنې لاندې راوور بلکې هغه ته یې تغییر هم ورکړ. داودملکیار د محمدهاشم میوندوال سره چې د محمدداود د جمهوري ریاست پرمهال د کودتا په تور زنداني او بیا په زندان کې په مرموز ډول و وژل شو هم کورنۍ اړیکې لري. هغه د څو کلونو په ترڅ کې د میوندوال د کودتا او د هغه د وژنې په اړه څېړنې ترسره کړې دي. د څېړنو پایلې یې په رسنیو کې خپرې کړې او د ټولنیزو- سیاسي پېښو ځېنو څېړونکو، تاریخپوهانو او سیاستوالو سره یې هم شریکې کړې دي. د هغه څخه یوه پېژندل شوي لیکوال او څېرونکي چې د داود خان له ارادتمنانو څخه دی پوښتنه کړې چې د میوندوال د وژنې په اړه څېړنې یې کوم ځای ته رسولی دي په خپله یوه لیکنه کې ګوته نیولې او ضمناً یې د سیاسي شوو لیکوالو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیرونکو ربښتینی انځور هم کاږلی چې لنډیز یې دلته وړاندې کیږي: « ما دې ځیړونکي ته وویل زه دې پایلې ته رسېدلی یم چې د میوندوال شهادت د قدیر نورستاني د ارادې پرته ناشونی وو. هغه را ته وویل که ته دې پایلې ته رسېدلی هم وې تاسې ته مشوره درکوم دا موضوع مه خپروئ ترڅو د دې دسیسې او قتل مسؤلیت پر کمونستانو او روسانو ولویږي . همدا رنګه مې د داودخان د کورنۍ د یوه شاهد له خولې چې د محمد داود د کورنۍ بل غړي د خپلې کورنۍ څو تنه سهار وختي شهیدان کړل وویل بیا یې را ته وویل چې زما له خوا هغه محترم شاهد ته ووایئ چې دا موضوع د کورنۍ د یوه راز په توګه وساتي ځکه دا د کمونستانو په ګټه ده او پرېږده چې د محمد داود خان د ټولې کورنۍ د وژنې مسؤلیت د کمونستانو په غاړه وي. دې بېلګو ته په کتو آیا په هغو لیکوالو او ځېړونکو چې د ناپېیلتوب ادعا هم کوي خو د افغانستان تاریخ تحریفوي څنګه باور وشي ؟» ۱۳۵ داودملکیار د محمدداود د کورنۍ د غړو په اړه د خپلو ځېړنو پایلې د ګلالۍ د داود د مشر زوی د مېرمنې سره د مرکې پر بنسټ د افغانستان آریانا آنلاین په ویب پاڼه کې د ۲۰۲۳ کال د اګست په شپاړلسمه ( محمد دواد و خانواده چگونه کشته شد؟ ) ترسرلیک لاندې په یوه اوږده لیکنه کې خپرې کړې چې لنډیز یې دلته راوړل کیږي:«، ... کله چې پر ارګ برید وشو د کورنۍ ټول غړي یې ارګ ته راوستل نارینه او د کابینې غړي په هال کې او میرمنې او ماشومان په دوهم پوړ کې وو. ماخوستن وروسته د هوایي بمباریو له امله مېرمنې او ماشومان هم د هال تر څنګ یوې کوټې ته راغلو. لومړي پوړ ته د کښته کیدو پرمهال له بهر څخه چې ډزو دوام درلود د محمد داود مشر زوی عمر او د هغه مېرمن ګلالۍ ټپي شوي دي . ګلالۍ وایي ښایي بابه جان (محمد داود ) ویلي وي چې ځوک ژوندي د دښمن په لاس کې ونه لوېږي. د غویي په اتمه چې کودتا چیان مانۍ ته را نږدې شول میرویس د مېرمنو کوټې ته راننووت لومړۍ یې په خپله مېرمن او دوو ماشومانو ډزې وکړې او کله یې چې ماته ټوپک ونیو ما ورته وویل چې په مخ مې مه وله او هغه په خېټه کې وویشتم او لور مې یې هم په خېټه کې وویشتله . دا مهال ویس ولوېده چې له شا څخه کودتا چیانو وویشت او د دروازې په لخک کې پرځمکه ولوېد. څو تنه مېرمنې چې د دېواله تر څنګ ولاړې وې ویس نه لیدلې او ژوندۍ پاتې شولې. وروسته خلقیانو غړ وکړ څوک ژوندي دي او ژوندیان او ټپیان یې په موټرو کې کېنول چې روغتون ته مو بوزي او زما لور په موټر کې مړه شوله. ګلالۍ دا هم وایي چې محمد داود په هال کې چې قره قلي یې له څنګ سره پرته وه پر ځمکه پروت وو او محمد نعیم په کوچ کې ناست مړ وو. »

محمدحسن کاکړ هم د یوه عیني شاهد چې له نوم ښودلو څخه ډډه کوي داسې لیکي :« ښځې او ماشومان په اصلي کوټه کې او نارینه د ناستې کوټه ( هال) کې ول ،پرېکړه شوې وه چې هېڅوک به ژوندي نه تسلیمیږي ، د دې فیصلې له مخې ویس د محمد داود زوی د سهار پر مهال د ښځو کوټې ته ورننوت په کلاشنکوف سره یې اول په خپلې ښځې ، بیا په خپلوماشومانو، مور او نورو ډزې وکړې .» ۱۳۶ / ۷۴ بل ځای کاکړ د خپل کتاب په ۷۵ مخ کې د فایق له قوله دا موضوع په لږ توپیر سره داسې راوړي: « دا کار د داود په خپلې کورنۍ او لمسیانو باندې بېجوړې غټ ظلم کړی دی ،هغه د دې حق نه لاره او هم دا یقیني نه وه چې کودتاچیان به دوی وژني او یا ورته سپکاوی وکړي ، ده په واقعیت کې په دغه بېرحمۍ سره د کودتاچیانو کار آسان کړ.» په همدې ورځ د داودخان سره د شته کسانو څخه شل تنه ووژل شول چې د ده په شمول اوولس تنه دده د کورنۍ غړي وو او د ده د کورنۍ اووه تنه ټپیان شول چې له درملنې وروسته رخصت کړل شول او هغه خلقیانو زنداني یا و نه وژل. همدا رنګه د داودخان لور، درخانۍ چې په ارګ کې نه وه ، خلقیانو زنداني نکړله او سویس ته ولاړله. « ویل کیږي چې داود په خپله پخپلو لورانو ډزې وکړې چې د کودتاچیانو په لاس کې ونه لوېږي. »۸۶ / ۲۶۳ رازمحمدپکتین

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورته څرګندوني لري او ليکي : « څومره چې شواهد څرګندوي حتی داودخان پخپله د خپل فاميل په هغو غړو باندې هم ډېرې کړې دي چې عذر يې ورته کړی وو چې ځان تسليم کړي .» ۱۳۷ / ۷۴

د داودخان ځانغوښتني، سرټمبه ګي او د خپلو خپلوانو مشورو ته نه پاملرنه د دې سبب شوې ده چې کورنۍ يې دې پايلې ته ورسېږي هغه داسې ګامونه اوچتوي چې کورنۍ يې تباه کوي. پدې اړه به د محمد داود د مشر زوی محمد عمر ( عمرجان) څخه واورو چې د ۱۳۵۶ کال د ثور په مياشت کې يې حسن شرق ته ويلي وو:« زما د پلار ترڅنګ د راسپوتين شتون به نن يا سبا د دې لامل شي چې زموږ کورنۍ د رومانوف د کورنۍ په څېر ووژل شي.» دا چې د عمرجان موخه له راسپوتين څخه څوک وو خو د محمد داود خپلوان پوهېدل چې محمد داود په داسې يوه لار روان دی چې هم هېواد او هم خپله کورنۍ تباه کوي. راسپوتين په روسيه کې يو جرمن توکمه کدوال وو چې د روسيې د وروستي پاچا په دربار کې د اعتبار وړ سړی وو. که څه هم هغه د انقلابيونو د پاڅون پرمهال د پاچا د پلويانو له لوري ووژل شو خو هغه خپل کار کړی وو .

د پورتنيو شپږو ځانغوښتونکو افغان سياستوالو له کړووړو څخه ښکاري که هغوی د ځانغوښتنې پر ځای ملي ګټو ته لومړيتوب ورکړی وای او د نورو سره د پوهاوي او تعامل لاره غوره کړې وای ښايي د هېواد حالات دومره نه وای بحراني شوي يا غميزه دومره نه وای ژوره شوې او يا يې د ژورېدو او پراخېدو مخه نيول شوې وای. پدې اړه به د (ا، خ، د ، ګ) د دوو ځانغوښتونکو( امين او کارمل ) په هکله لږ شانتې په تفصيل سره بحث وشي .

امين د ثورانقلاب له بري وروسته د بې تاجه ټولواک له دريځ څخه برخمن وو که هغه د تېرو رژيمونو له مخورو ، د وخت سياسي ډلو، پرچميانو او په تېره د دولت د سمبوليک مشر تره کي او خپلو خلقي ملګرو سره جوړجاړي او ګډ کار ته لومړيتوب ور کړی وای، د ګوند د مشر او نورو خلقي کدرونو ګوښه کولو، بنديانولو او وژلو ته ملا نه وای تړلې دی به نه اړ کېده چې د واک د ساتلو په موخه د تاجيېک مانې شاوخوا د شوروي د مسلمانانو کنډک ځای پرځای کړي او د افغانانو په ځای شوروي آشپزان هغه ته خواړه پاخه کړي چې همدې آشپزانو او همدې مسلمان کنډک دده ژوند ته د پای ټکی کېښود. په شورويانو د دا ډول بې کچې باور لامل دا وو چې د تره کي ، زرغون او يو شمېر خلقي کدرونو د بندي کولو او وژنې له امله امين په خلقيانو کې ځان پردی احساس کړ او له خلقيانو ډارېده نه دا چې دده خلاف پاڅون وکړي او يا په خوړو کې ورته زهر وا چوي. هماغه دي چې د خپل استوګنځي د امنيت د ساتلو او د خوړو د پخولو لپاره شوروي پوځيان او آشپزان را وغواړي خو خبر نه وو چې دده باوري شوروي دوستان به دی ووژني . د امين په څېر د خلق دموکراتيک ګوند د بل مشر ببرک کارمل ځانغوښتنې پايله د شوروي اشغال شو چې دی تش په نامه ګوندي او دولتي مشر وو خو واک د شوروي سلاکارانو سره وو. لکه څرنګه چې دی انټرناسيونالستانو واک ته رسولی وو همدارنګه يې هغه په نجيب الله تعويض هم کړ. کارمل دا تعويض ځانته سپکاوی ګاڼه او د نجيب الله سره يې د دښمني دريځ غوره کړ او پدې کې شو چې له نجيب الله څخه غچ واخلي او د اسلامي جمعيت او وحدت ګوند سره ګډه ژبه ومومي او د خپلو پرچمي ملګرو پرمټ نجيب له واکه ګوښه او واک د ده په خبره بې فرهنګه اشرارو ته چې د ده ملګري به په نوي دولت کې برخه ولري وسپاري. البته دې ملي ضد کړنې ته يې شوروي بادارانو هڅولی وو خو د امين په څېرد دې ځانغوښتونکي هم پدې سر نه خلاصېده چې شورويان خپلې نقشې لري او دا دواړه لکه لانځکې او يا د مسکو له لورې جوړې شوې ډرامې د لوبغاړو په توګه لوبول کېږي . لکه څرنګه چې د شوروي اشغال ته ځانپاله امين او کارمل لار هواره کړله د نجيب الله خلاف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارملیانو کودتا د شوروي اشغال څخه هېواد ته لا ګواښمنه تمامه شوله چې د هغې په پایله کې د افغانستان د مدنیت تولې نښې نښانې له منځه ولاړې او افغانستان په کنډواله واوښت.
که چیرې امین او کارمل ته د سیاستوالو په توګه وکتل شي هغوی د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند او د هېواد د کینې غورځنګ په تندي تور داغونه دي. دواړه د شوروي د سیاست د سکې دوه مخونه دي. پدې توپیر چې امین دا ساده لوحانه تمه لرله چې شوروي انترناسیونالستان به د ده واکمنی ساتي او دی به د افغانستان خپلواک مشر وي خو کارمل د شورویانو هژمونیستي سیاستونه ښه درک کړي وو چې شورویان غواړي افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړلسم جمهوریت واوړي او دی ( کارمل) لکه د شوروي اتحاد د نورو پنځلسو جمهوریتونو د مشرانو په څېر د افغانستان د شوروي سوسیالستي اتحاد د جماهیرو د جمهوریت جمهور رییس وي . د افغانستان رواني اوږدمهالي غمیزې وښودل هغه ځانغوښتونکي سیاستوال چې شخصي ګټو ته د ملي ګټو په پرتله لومړیتوب ورکړي واک ته د رسېدو یا په واک کې د پاتې کېدو په موخه پردیو ته مخه کړي کېدای شي چې همدا پردي دوی له واکه ګوښه کړي ، تبعید او یا تېښتې ته یې اړ باسي، په خپله ګټه یې ولوبوي او حتی و یې وژني.

## مسکو او د ثور د اوومې پوځي پاڅون

د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند مخالفان د خلقیانو په پوځي پاڅون کې مسکو ښکیل ګڼي.ځینې یې مستقیماً په پاڅون کې د شوروي پیلوټانو او د شوروي د کی جی بی د ځانګړو ځواکونو د شتون خبرې هم کوي. دوی دا دلیل راوړي چې افغان پیلوټانو دا وړتیا نه لرله چې د شپې بریالي جنګي پروازونه ترسره کړي ، هدفونه وولي ، افغان پوځیان د ارګ په څېر مستحکمې کلا ته ورننوزي او هلته په بري سره پوځي عملیات تر سره کړي. په پاڅون کې د شوروي پیلوټانو ښکیلتیا افغان پیلوټان نه مني او تخنیکر دولت زی معصومي چې د غوېي په اوومه یې د بګرام په هوایي ډګر کې الوتکې پرواز ته چمتو کولې وایي چې دې پیلوټانو جنګي ښکاري الوتکي والوزولې: د میګ ۲۱ (حکیم ، شیرمحمد، ګلیار ،رحیم) د سو ۷( میرغوث الدین، سنت الله ، تیمور، اسحق، عبدالرؤف ، شرف الدین ، کافی خان ، مختارګل ځدران ، لطیف لکنوال ، علاوالدین ، ماما وهاب ،دوران او وهاب وردګ .) جنرال نذیر سراج هم په خپل « رویدادهای نیمه اخیر سده بیست در افغانستان » نومي کتاب کې د ولید په نامه د یوه افغان پیلوټ له قوله په کودتا کې د شوروي پیلوټانو ښکېلتیا په کلکه ردوي. د داودخان د حکومت د مخابراتو وزیر د تورن امام الدین سره مل سرتېري شوروي نښه ویشتونکي ګڼي چې افغاني پوځي یونیفورم یې درلود او لیکي :« هغه کسان چې پدې برخه کې مطالعه لري او په تیره د پوځ صاحب منصبان ښه پوهیږي چې د اردو منسوبینو هیڅکله هم د داسې عملیاتو( د جمهوري ریاست په مانۍ برید، د جمهور رئیس د نیولو او یا وژلو ) لپاره روزنه نه وه لیدلې او هیڅکله تدریس نه وو ور ته شوی. یعني د یوه تن یا څو تنو افرادو ګرندي نیول ، اوهغه هم په یوه کوټه او مخامخ ...،خو بیاهم لیدل کیږي چې پنځه تنه د یوولسو(یا اوو لسو) له ځان څخه تېرو وسلوالو په وړاندې ، او بیا په یوه کوچنۍ تړلې ساحه کې، په داسې حال کې چې د مدافعینو شمیر له بریدکوونکو څخه زیات وو او د محیط سره یې آشنایي هم لرله تول له منځه یوسي بیله دې چې دوی و وژل شي. البته یو تن امام الدین د کوماندو د قطعې افسر ظاهرآ لږ زیان ووینی او بس. د بحث او د پوښتنو د طرحه کولو څخه زما نتیجه ګیري دا ده چې د جمهور رئیس محمد داود قاتلان نه د افغانستان د اردو اړونده منسوبین وو او نه د هېواد د پوهنیزو مؤسسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منسوبين وو ، بلکې هغه څلور تنه د پخواني شوروي د څارګرې ادارې ( کې جی بی ) وتلي روزل شوي افراد وو.» ۱۱۴ / ۲۹- ۳۰ پدې اړه باید وویل شي د تورن امام الدين سره د مل څلورو سرتېرو څخه یو د محمد علي په نامه ووژل شو اوبل يې نورمحمد کوهنورد د اشرف غنی د واکمنی پر مهال د غور والي وو.

د دې وزير څرګندونې احساساتي او د سياسي ملحوظاتو تله يې خورا درنه ده . عجيبه خبره دا ده چې دا وزير د داود خان د کورنی غړي چې زياتره يې ښځې ، ماشومان او بوډاګان وو له ځان څخه تېر وسلوال ګڼي د خندا وړ خبره ده. د دې وزير دا احساساتي څرګندونې د هغه بې عقلي هم ښيي. پر بله خوا د هيواد د رواني غميزې او په ځانګړې ډول د۱۹۷۸ کال د اپريل د اوومې ډراماتيکې پيښې په اړه زيات شمير بهرنيو څيړونکو او په هغو کې شوروي او ځينو افغان ليکوالو واقعيت ته نږدې آثار ليکلي چې هغه د غويي د اوومې نيټې په پوځي پاڅون کې د مسکو نه ښکيلتيا ته مناسب ځواب ورکوي. سليک اس هاريسون د پشت پرده نومي کتاب په يوه برخه کې چې (افغاني کودتا په افغاني سبک) ياده کړې ليکي : «د کودتا شبيه په شبيه ارزونه ښيي چې کودتا په خپله افغانانو سازماندهي او ترسره کړه که چيرې د شوروي اطلاعاتي آژانسونو او پوځي سلاکارانو ملاتړ واقعيت ولري هغه،هغه وخت صورت ونيو چې هغوی د يوه ترسره شوي کار سره مخامخ شول. »۴۷ / ۲۷ که څه هم يو شمير امريکايي ليکوالان د ثور د اوومې نيټې په سياسی بدلون کې د مسکولاس ته او په ځانګړې توګه په بمباريو کې شوروي پيلوټانو ته ګوته نيسي خو د واشنګتن رسمي دريځ چې ريالستيک برېښي دا وو چې واشنګتن، مسکو پدې پيښه کې ښکيل نه ګڼي او د هغه وخت د امريکې د متحده ايالتو د بهرنيو چارو د وزير سايروس وينس د وينا له مخې« موږ داسې شواهد نلرو چې شوروي په کودتا کې ښکيل وي. »۴۷ / ۳۷ پدې اړه د قربانګاه مردم افغانستان نومي کتاب په ۱۱۵ مخ کې د هغه مهال د امريکې د ملي امنيت مشاور برېژنسکي له قوله راغلي دي « موږ څه کولی شو ، دا يوه کورنی پيښه ده او موږ د روسانو د مداخلې هيڅ سند نلرو . لدې امله د اعتراض ځای نه وو.» همدا رنګه د جاسوسانو ځالي اسنادو کتاب د ۲۹ ټوک په ۱۴۷ مخ کې په کابل کې د امريکې سفارت څخه واشنګتن ته په مخابره شوي رپوټ کې د ثور د اوومې پاڅون په اړه راغلي دي:« پداسې حال کې چې هيڅ مدرک نه دی موجود چې د ۲۷ اپرېل کودتا چې تره کي يې قدرت ته راووست ، تر شا يې شوروي اتحاد وي هغوی ( شورويانو) دغه تغيير ته ښه راغلاست ووايه او په چټکی يې داسې کارونه په احتياط سر ته رسول چې کودتا په خپله ګټه را وڅرخوي.» همدارنګه د پخواني شوروي اتحاد يو شمېرملکي او پوځي چارواکي ، څيړونکي او ژورنالستان هم په پاڅون کې د خپل دولت ښکيلتيا ردوي چې دلته به يې ځينو ته ګوته ونيول شي. يوري کوزنتس چې د ثورانقلاب وروسته زياته موده د (ا، خ، د،ګ) په مرکزي کميټه کې سلاکار وو وايي :« هرڅوک چې فکرکوي پدې پيښه ( ثورکودتا) کې د مسکولاس دی سخته اشتباه کوي زما يو دوست چې هغه مهال په کابل کې کار کاوه ويل چې انقلاب موږ شورويانو ته داسې له انتظاره وتلی کار وو چې حتی سفير جرئت نه کاوه چې د انقلاب خبر مسکو ته ورکړي. » ۱۳۸ همدې موضوع ته يو شوروي ژورنالست چې هغه د ثور پاڅون لس کاله وروسته په کابل کې د وخت د شوروي سفير پوزانوف سره په شوروي اتحاد کې مرکه کړې ليکي :« پوزانوف د ځان سره فکر کاوه : ل ،برژنف او نور ملګري به زما د رپوټ سره د آشنا کيدو وروسته څه وکړي ؟ ولي زموږ دوستان چې موږ ته رښتيني دي کودتا ته د چمتووالي په هکله موږ ته څه ونه ويل؟ ولې يې مشوره ونکړه؟ راتلونکې به څه ډول وي فرض کړو چې داود کودتا چيان وځپي او بريالی شي بيا څه ؟ آيا پدې صورت کې موږ بايد کودتاچيان د ياغيانو په توګه محکوم کړو؟ خو که کودتاچيان بريالي شي بيا څه؟ آيا موږ لومړی هيواد وو چې په کابل کې نوی نظام په رسميت وپيژنو؟ دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنو د سفير سر په حرکت اچولی وو. » ۶۳ / ۱۶ هېره دې نه وي چې د پورتني کتاب ليکوال په څلورم مخ کې په کابل کې د شوروي د سفارت د يوه ځارګر له قوله دا هم ليکي چې د محمود په نامه يوه افغان جاسوس د غويي په شپږمه ماښام ناوخته د سفارت د ځارګرې ادارې يوه مسئول ته د هغه په کور کې د ترسره کېدونکې پاڅون په هکله رپوټ ورکړی وو. نوموړي ځارګرد خپلې ميرمنې پواسطه دا رپوټ سفارت ته ليږلی چې هغه مسکو ته مخابره کړي خو مسکو کوم غبرګون نه وو ښودلی. همدارنګه د هغه مهال د ک. ګ. ب د آرشيف مرستيال د خپل کتاب په ۶۲ مخ کې د ګلابزوی او رفيع يادونه کوي چې په کابل کې يې ميشته ځارګره اداره « د راپيښيدونکې فوق العاده حالت په اړه خبره کړه. د اپريل په ۲۶ نيټه ميشتې ځارګرې ادارې د اکسپرس تلګرام له لارې مرکز ته خبر ورکړ، سفير پوزانوف سياسي بورو خبره او څرګنده يې کړه چې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې په غړو کې د شته خپلسرۍ له امله د دې وېرې اټکل کيږي چې ښايي يو شميرګوندي مشران له حده وتليو اقداماتو ته لاس واچوي . ښايي هغوی د اوسني دولت د خاصو جاسوسي ارګانونو د پاروونکو اجنټانو له پلوه پارول شوي وي . زموږ په اند د هيواد اوسنی اکروکر د دغسې له حده وتليو اقداماتو پايلې ښايي د پرمختلونکې کارګري ډيموکراتيکې لړۍ راپرځيدنه وزيږوي. کې جی بی ( مرکز) ته په هماغه ورځ ځواب ورکړ او په ځواب کې يې د نورو خبرو ترڅنګ وويل چې دغه شونيتوب له پامه نه شو غورځولای چې ښايي موساد د خلک ډيموکراتيک ګوند پوځې څانګه د دولت پر وړاندې پارولې وي ترڅو په هيواد کې يوه سياسي چاودنه رامنځته کړي. » د پورتني ټيلګرام او د هغه په وړاندې د مسکو د غبرګون په هکله د ک. ګ. ب د آرشيف مرستيال ليکي: « داسې ښکاري چې نه ميشتې ځارګرې څانګې ، نه سفارت او نه د مسکو مشرتابه په هيواد کې د روان اکروکر په اړه بشپړمالومات درلودل. » ۱۲۴ / ۶۳ د افغان غميزه او ميرانه نومي کتاب د شوروي ليکوال په وينا د۱۹۷۸ کال د اپريل د اووه ويشتمې نيټې پيښه « په کابل کې د شوروي استازو او همدارنګه زموږ د ځانګړو خدماتو لپاره لکه په شنه آسمان کې د تالندې په څېر شوه او هغوی يوازې په خوب کې وليدله. د (ا، خ، د،ګ) مشرانو د داود د رانسکورولو په اړه خپل پلانونه او سربيره پردې هغوی پدې اړوند مشوره هم نه کوله ، ځکه پدې پوهيدل چې په مسکو کې له هغه سره غبرګون منفي دی. »۴۹ /۳۱

د پاڅون په هکله د مسکو د چارواکو غبرګون لدې امله منفي وو چې کارمل د دې پاڅون څخه ناخوښ وو. پدې هکله د جنګ در افغانستان په نامه کتاب د شوروي ليکوالانو ډله داسې ليکي: « سر بيره پردې معلومات په لاس کې دي چې ببرک کارمل او يوري اندروپوف ( د کی جی بی رئيس) د اپريل د انقلاب نه مخکې يو بل ته ليکونه استول. سره لدې يوري اندروپوف د ۱۹۷۸ کال د اپريل د۲۷ کودتا مخالف وو چې ناخوښ ببرک يې ده ته رپوټ ورکړی وو.»۱۰۶ / ۲۴۴ د خلق او پرچم په اړه چې د دواړو موخه په هيواد کې د زبېښاک پرته ټولنې جوړول وو د محمدحسن کاکړ د لاندې څرګندونو څخه جوتيږي چې مسکوخلقيان نشوای زغملای او پرچميان يې خپل ستراتيژيک متحدين ګڼل او غوښتل يې د هغوی ملاتړ وکړي : « خلقيان کمونست ناسيونالستان دي غوښتل يې د کمونستي اصولو پراساس افغانستان آباد کړي پداسې حال کې چې پرچميان انترناسيونالست کمونستان دي، غوښتل يې او غواړي د افغانستان په بيه کمونيسم ته خدمت وکړي. لدې امله لومړيو علاقه نه لرله شورويان د خپل ملک واکداران ووينې پداسې حال کې چې په راتلونکې دولت ( پرچم) کې واک د شوروي مشاورينو په لاس کې ولويد. »۱۲۶ / ۱۲۴ له همدې امله مسکو نه يوازې په پاڅون کې ښکيل نه وو بلکې مخالف هم وو ځکه دا پاڅون خلقيانو ترسره کړ. د پاڅون سره مخالفت د کی جی بی د خارجي کشف د مشر ګريچکوف له څرګندونو څخه بريښي چې خپل مرستيال جنرال ميديانيک ته ويلې وو:« وينئ ملګری ميديانيک ، افغانانو زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وانه وريدې. موږ په څرګنده او قاطعيت ورته ويلي وو چې د داود سره غرض ونلري ، بيړه ونکړي. اوس وګورئ ټولو دې بيګناه قربانيانو ته: جمهوررئيس، ټوله کورنۍ يې ، د کابينې وزيران، د جمهوری رياست د ګارد منسوبين، حکومت ته وفادارجنرالان..» ۶۳ / ۵۱ .

پورتنی لنډې څرګندونې ښيي چې د اپريل د اووه ويشتمې په ډراماتيک پوځي پاڅون کې چې د ثورملي دموکراتيک انقلاب ويل کيږي مسکو ښکيل نه وو او د خلقيانو پاڅون شورويان د يوه ترسره شوي کار سره مخامخ کړل . له همدې امله تره کي په خپلو ويناوو کې ويل « د ثور انقلاب بري ته مسکو او واشنګټن ګوتې په غاښ ورته ونيولې، هک پک شول ، د ثور په انقلاب باندې نه يو کپيک او نه يو سنټ مصرف شوی دی.» په پاڅون کې د بهرنيانو د نه لاس لرلو په اړه حسن شرق وايي: « داسې سند نشته چې د امين پلويانو د دوو زبرځواکونو د يوه لوري د فرمان له مخې د جمهوري رياست په ماڼۍ بريد وکړي.» ۱۳۹

## د انقلاب خبره

د دموکراسی د لسيزې وروستي دوه کلونه د ظاهرشاه د سلطنت کړکيچن پړاو وو. لامل يې پرله پسې وچکالی وې چې کليوال او مالدار يې اړ ايستل د ښارونو په لور د کار د موندلو په موخه راوخوځيږي خو ښارونو هم د هغوی د جذب وړتيا نه لرله. کورني صنعتي توليدات په نشت حساب وو او څه چې وو هغه د بهرنيو توکو په وړاندې د سيالی جوګه نه وو او په دولتي ادارو کې فساد او بيکارۍ خلک ځورول. ددې حالت پايله د دولت څخه د ولس نارضايتي وه . پداسې شرايطو کې د کيڼ لاسو او ښي لاسو بازار تود وو او ځواکمنېدل. دا سياسي خوځښتونه د سيمې او نړۍ د ځواکمنو دولتونو د پام وړ ګرزيدلي وو. د وضعيت څخه جوتيدله چې په هېواد کې سياسي بدلون رلتلونکی دی . محمد داود د خپلې کورنۍ د واکمنی د دوام سربېره د زعامت سره د لېوني مېني له کبله په يو لړ تشبثاتو لاس پورې کړ چې هغه د تحول غوښتونکو او سمونپالو ډلو له هغې برخې سره پوهاوي ته ورسيږي چې ولسي ملاتړ يې نه درلود تر څو د هغوی څخه واک ته په رسېدو کې افزاري ګټه پورته کړي. د همدې تشبثاتو پايله دا شوله چې د پرچم د ډلې پرمټ سپينه کودتا تر سره کړي ، جمهوريت يې اعلان کړ او دې سياسي اوښتون ته يې د سرطان د۲۶ انقلاب وو ايه. محمدداود د افغانستان خلکو ته د خطاب په وينا کې د يوه پرمختللي افغانستان زيری ورکړ چې د تحول غوښتونکو او سمونپالو له ملاتړڅخه برخمن شو. ځيني په جمهوري دولت کې د پرچم د فرکسيون شتون ته لدې کړکۍ ګوري چې ګواکې داودخان د کيڼ لاسو او مترقي خوځښتونو سره خواخوږي درلودله. خو واقعيت دا دی چې هغه نه يوازې د هغوی سره خواخوږي نه درلودله بلکې په ډېرو مواردو کې يې د هغوی د ودې او غښتلتيا مخنيوی هم کاوه او ځيني يې ترشديد اختناق لاندې راوړل او و يې ځپل چې څرګند ساری يې د ميوندوال ډله ده. د (ا، خ، د،ګ) خلقي اړخ د جمهوريت څخه ملاتړاعلان کړ او د محمد داود سره يې د پراخې ملي دموکراتيکې جبهې د جوړولو غږ پورته کړ او د پرچم فرکسيون عملاً د سياسی مبارزې څخه لاس واخيست او د جمهوري دولت د يوې برخې په توګه راڅرګند شو. چين پلوه خوځښتونه ، اسلامپالې ډلې او سکتاريستان د نوی نظام په وړاندې و درېدل. جمهوري دولت د شوروي اتحاد سره د لانړدې کيدو تګلاره غوره کړه چې پر نوي نظام باندې د لويديځ د شک سبب وګرزيد. پر بله خوا د شوروي د مشر بريژنف له لوري په مسکو کې داودخان ته د لويديځ د کارپوهانو څخه خلاصون هغه و هڅولو چې له شوروي اتحاد څخه واټن ونيسي . د کودتا د بري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په دولتي دستګاه کې د پرله پسې څنډنو څخه فرصت غوښتونکو ، غوړه مالانو او پرچميانو ګټه پورته کړله چې پردولتي دستګاه واکمن شي او د غلام حيدر رسولي اوعبدالقدير نورستاني په شان کمزورې غوړه مالې څيرې د رژيم هرکاره او نور په هيڅ واوړي. جمهوري نظام خپلې ژمنې عملي نکړې د څمکو اصلاحات په مترقي ماليه واوښتل ، فساد او اقتصادي بحران خپل اوج ته ورسيدل او د مسخره لويې جرګې په رابللو او په هغې کې د داسې اساسي قانون تصويب چې د جمهوري غوښتونکو ټولې هيلې يې په خاورو واړولې او پدې ډول رژيم د سمونپالو ملاتړ له لاسه ورکړ. داودخان لويديځ پلوه هېوادونو ته سفرونه وکړل او هغوی هم افغانستان ته د زياتو مرستو ژمنې وکړې چې دا کار د مسکو د اندېښنو لامل شو. د لويديځ او د هغه د سيمه ئيزو اسلامي متحدينو د مرستو ژمنې ډېرې وې خو مرستې يې محسوسې نه وې. داسې ښکارېدل چې واشنګټن د رژيم نسکوريدل غوښتل او مسکو پرې شکمن وو. البته هر يوه پدې اړه خپلې موخې او ځانګړې محاسبات لرل. داودخان د خپلو تيرو کړنو او تګلارو او همدارنګه د جمهوري نظام پرمهال د موسمي بدليدونکو تګلارو له امله د دواړو سيالو زبرځواکونو د شک لاندې وو. ولسمشر د پخوا څخه د لويديځ تر پوښتنې لاندې راغلی وو او هغه يې سور شهزاده بللو او ختيځ ته بيا د رژيم نوې تګلارې او مانورې د انديښنې او پوښتنې وړ ګرزيدلې وې. پداسې يوه وضعيت کې چې د جمهوري رژيم سقوط حتمي وو دا پوښتنه رازيږيدله چې د رژيم بديل به کېن لاسي وي يا ښي لاسي ؟ ځکه منځلارو او ملي ځواکونو دا وس نه درلود چې واک ترلاسه کړي. خو د وضعيت څخه داسې بريښيدل چې چانس د دموکراتيک خلق سره دی ځکه چې قوي شوی وو ،په دولتي دستګاه کې يې د سترګو وړ نفوذ درلود او په پوځ کې يې هم ژورې ريښې ځغلولې وې. د (ا، خ، د،ګ) ځينوغړو د سرطان په کودتا کې د ګډون له امله د واک د نيولو اړينه تجربه ترلاسه کړې وه او اسلامي غورځنګ ځپل شوی وو. پداسې يوه حالت کې چې رژيم سخته تبه لرله او پايښت يې له ګواښ سره مخامخ وو نو پدې لټه کې شو چې احتمالی ځای ناستی له ډګره وباسي نوهماغه دي چې په خلک دموکراتيک ګوند باندې بريد کوي او مشران يې نيسي. دا چې داودخان په خپله خوښه دا کار وکړ يا د خپلو ښي لاسو همکارانو په فشار او يا د بهرنيانو په اشاره، خو داسې بريښي چې د امريکا او د هغو د سيمه ييزو سپوږمکيو فشار داودخان هڅولی دی چې د ( ا ، خ ، د ، ګ) باندې بريد وکړي . پدې هکله آسترليايي ژورنالست او ليکوال جان پلېجر ليکي : « په ۱۹۹۸ کې برېژنسکي ومنله چې واشنګټن په افغانستان کې د خپل نقش په اړه درواغ ويلي وو. د هغه له وينا سره سم ، د رسمي تاريخ له مخې مجاهدينو ته د سي آی اې مرسته په ۱۹۸۰ کې ، يعنې پر افغانستان د شوروي يرغل نه وروسته پيل شوه... خو واقعيت چې تر اوسه پټ ساتل کېده، په بشپړه توګه بل څه وو. د ۱۹۷۵ کال د اګست په مياشت کې له کابل څخه د امريکا سفارت خبر ورکړ چې د متحده ايالاتو لوړې کتې به د خلق دموکراتيک ګوند په له پېنو ِغورزولو کې وي.»

)The new rulers of the world, John Pilger, P 150 (

د ايران له سفر څخه هېواد ته په راستنېدو سره په هرات کې د داود خان دا وينا چې د صادراتي ايديولوژيو په وړاندې به ګامونه اوچت کړي ښيي چې ايراني چارواکو هغه قانع کړی وو چې د خلک دموکراتيک ګوند کمپله ورټوله کړي. تردې چې د جمهوريت په وروستيو کې د ساواک( د ايران څارګرې اداري) کارکوونکو د کورنيو چارو د وزارت د استخباراتو سره ګډ کار هم کاوه.دې مسالې ته مو په تېر څپرکې چې ايران خپلې مرستې پدې شرط کولې چې د ( ا، خ ، د ، ګ) وځپي ګوته نيولې وه. لدې څخه ښکاري چې داودخان د امريکا ارادې ته سرټيټ کړ، په ګوند يې بريد وکړ او خلقيانو د خپل پايښت په موخه وسلوال غبرګون وښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به د ثور انقلاب په بري تم شو.پدې هکله کاکړ ليکي :«کله چې حکومت تره کی او ځيني نور رهبران بندي کړه نو د ګوند لپاره سياست د مرګ او ژوند سوال شوی وو. پدې ډول يا غوڅ عمل کول يا کور ته د راغلي اجل منل و.»۱۳۶ / ۳۱ خلقيانو د يحيی د کورنۍ او په هغو کې د داودخان له مخيني او د جمهوري دولت له پنځه کلني واکمنۍ څخه د عبرت درس اخيستی وو چې څوک دې کورنۍ جيلونو ته اچولي او يا يې ترشک لاندې راغلي دي ښه ورځ يې نه ده ليدلې ، ځيل شوي او يا وژل شوي دي او حتی د کورنيو د غړو ژوند يې هم د مرګ او زندان له ګواښونو سره مخامخ وو. د رژيم له لوري د ( ا، خ، د،ګ) د مشرانو د نيونې په اړه د دولتی رسنيو له ژبې او له دې امله د جشنونو جوړونه خلقيانو ته دا څرګند پيغام درلود چې نور يې د ژوند چانس نشته هماغه دي ، په پوځي پاڅون لاس پورې کوي چې البته مرګ او ژوبله يې له ځانه سره لرله. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې هر انقلاب ، هر پاڅون که کارګرو کړی ، بزګرو يا پوځيانو د ځانه سره مرګ او ژوبله او ورانۍ لرلې. نړيوال انقلابونه او ولسي پاڅونونه ښيي ترڅو چې پوځيان نه دي ورسره يوځای شوي برخليک يې ناڅرګند او حتی له ناکامۍ سره مخامخ وو. د فرانسې په ستر انقلاب کې د پاڅونوالو سره تر هغه پورې چې د باستيل توپخانه مل شوې نه وه انقلابيونو کوم کار ونشوای کړای. د اکتوبر په سوسيالستی انقلاب کې هم که له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه راستانه شوي روسي پوځيان او د «اورورا» بيړۍ د انقلابيونو سره مل نه وای برخليک يې څرګند نه وو. د انقلاب په اړه بايد ووېل شي چې په شلمه پيړۍ کې د آسيا ، لاتيني امريکا او افريقا په هېوادونو کې چې سياستوالو د پوځي کودتاوو او پاڅونونو له لارې واک ترلاسه کړی دی بلا استثنی ټولو د انقلاب خبره کړې ده. په انقلاب کې اصلي خبره په پوځي عمل او يا د واک په ترلاسه کولو کې نه بلکې پدې کې ده چې دا عمل د څه لپاره او د کومو موخو په خاطر ترسره کيږي. که دا عمل د ولسونو د سوکالی ، د هيواد د پرمختګ او آبادۍ ، په ټولنه کې د بنسټيزو سمونو د راوړلو او د ټولنيز عدالت د ټينګښت په موخه شوی وي او پدې لاره کې عملي ګامونه اوچت شي د ستايني او ملاتړ وړ يو عمل دی او دا د انقلاب معنی ورکوي. پاڅونونه که کارګرو کړي وي ، بزګرو يا پوځيانو د انقلاب بشپړه معنی نه ورکوي بلکې انقلاب هغه وخت عملي جامه اغوندي چې دا بدلون د وخت په تيريدو سره د خوارو او محکومو ولسونو په ګټه ، د هيواد د پرمختګ او د ټولنيز عدالت د ټينګښت په لور ګامونه اوچت کړي.

د۱۹۷۸ کال د اپريل پوځي پاڅون ( انقلاب ) داسې يوه پېښه وه چې د يحيی کورنۍ چې ټول حقونه، امتيازونه او هر دول آزادۍ يې لرلې او نورو يوازې مکلفيتونه اقتدار ته د پای ټکی کېښود او د ټيټو او خوارو طبقو استازي واک تر لاسه کړ دا پخپله په ټولنه کې يو بنسټيز اوښتون يا سياسي انقلاب وو. د پاڅون وروسته د خلقي واکمنۍ له لوري د بنسټيزو بدلونو پيل ښودل چې د ټولني په ټولو ډګرونو کې انقلاب عملی جامه اغوندي. خو د دې ګوند په مشرتابه کې داسې کسانو هم شتون درلود چې د ګوند داعيي ته ژمن نه وو بلکې لکه د سلطنتي کورنۍ په څېر يې خپلې کورنۍ ته حقونه، امتيازونه او آزادۍ او نورو ته يوازې مکلفيتونه غوښتل . ښه بېلګه يې امين او لايق دي. دواړو د وسلوال پاڅون وروسته بېله ځنډه خپل زامن عبدالرحمن او غرزی چې د پولتخنيک د انستيتوټ د لومړي کال محصلين وو د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ته تبديل کړل چې په راتلونکي کې سياسي رهبران شي او يا کارمل او امين واک ته په رسېدو سره خپل خپلوان لکه د يحيی د کورنۍ په څېر په لوړو څوکيو وګومارل. پدې اړه د لايق د بلې کارنامې يادونه هم د پام وړ ده. لايق ته تره کي دنده وسپارله چې په کيوبا کې د ځوانانو نړيوال فېستيوال ته د ځوانانو د سازمان د ملکي برخې څخه ځوانان غوره کړي. هغه د ګوند د مشرانو بچيان او خپلوان لکه عبدالرحمن امين ، ګلالۍ امين، ملالی تره کي، غرزی لايق ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرنی شفیعي، خوشحال د پنجشیري زوی، سلیم د شاولی زوی، عبدالرحیم میثاق او نور یعني د ګوندي مشرانو بچیان او خپلوان غوره کړل. دې ډول کړنو په ګوند باندې د خلکو باور ته سخت زیان ورسولو.

نوې واکمنۍ بیله ځنډه د خلکو په ګټه ، د هیواد د آبادۍ او پرمختګ په موخه یو لړ ګړندي سمونونه پیل کړل چې د یوه رښتیني انقلاب زیری یې ورکاوه . البته د ګوند د بې تجربګۍ او تیروتنو او په ګوند کې د واک د مدعیانو له لوري د دولتي چارو د سبوتاژ او وژنو سربیره د نوې واکمنۍ د مخالفانو او لویدیځوالو او د هغه د سیمه ییزو متحدینو لاسوهني او د جګړو د اورونو د بلولو او خاصتاً د خلقي حکومت په وړاندې د شوروي اتحاد خاینانه دریځ او د شوروي اشغال پایله دا شوله چې انقلاب ماتې وخوري او پرهیواد بنسټپال مذهبي ځواکونه واکمن شي. د۱۹۷۳ کال د جولای د اوولسمي او د۱۹۷۸ کال د اپریل د اووه ویشتمې سیاسي اوښتونه د توپیرونو او تیروتنو سره سره یو بل ته ورته والی درلود چې هغه د یوه ټولنیز انقلاب په لوري خوځیدل وو. دې دواړو انقلابي خوځښتونو د اماني غورځنګ وروسته د یوه پرمختللي افغانستان زیری ورکاوه. له بده مرغه دا دری واړه مترقي غورځنګونه ګډ برخلیک هم لري چې هغه د هغوی ماتې ده او د دې ماتې عاملین هغه ځواکونه وو کوم چې د سپیڅلي جهاد او د شریعت د ټینګښت جنډې یې جګې کړې وې او د نړیوال پانګوال شیطاني مرکز او د هغه د سیمه ییزو چوکره ګانو ملاتړ یې درلود.همدې ځواکونو اماني غورځنګ را نسکور کړ، همدې ځواکونو د هیواد لومړی جمهوریت له انقلابي سمونونو را وګرځاوه او د هغه قبر یې وکیندلو او همدارنګه یې د ثور انقلاب هم زندۍ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دولتي نظام د جوړښت جنجالي بهیر

د ثور د پوځي پاڅون وروسته د ګوند د مشرتابه په وړاندې د نوي نظام د څرنګوالي او د واکمنۍ جوړښت مطرح وو. د اپریل په اووه ویشتمه کله چې ګوندي مشران له توقیف خاني څخه راډیو ته راولیږدول شول او ډګروال عبدالقادر په پلازمیینه کې دولت ته د وفادارو ځواکونو د ټکولو په موخه د جنګي الوتکو د سوق او اداري چارې پرمخ وړلې ، د پاڅون برخلیک څرګند نه وو او تر ډېره بریده د پاڅون برخلیک په هوایي قواوو پورې تړلی وو د عبدالقادر وړاندیز دا وو چې د پاڅون د بري وروسته « د ا، خ، د،ګ باید خپل لاربښوونکی رول په پټه ترسره کړي او پوځي شورا ظاهرآ انقلابي دندې پرمخ بوزي. »۲ / ۱۰۰ هغه مهال د پوځي شورا غړي امین ، قادر او وطنجار وو. البته چې د نوموړي د دې وړاندیز په وړاندې د تره کي غبرګون منفي وو. د پاڅون په لومړیو ورځو کې « عبدالقادر د ګوند د مشرتابه سره دا سې چلند کاوه لکه چې هغوی یې عسکر وي . هر وخت به چې راتللو د مجلس په سر کې کیناستلو او ډېرې خبرې یې کولې او داسې یې ښودل چې دی لاربښود دی او په هرڅه پوهیږي...، خو محمداسلم وطنجارد احترام ډک چلند کاوه ، ډېرې لږ خبرې یې کولې...، د بېلګې په توګه د انقلاب په دریمه ورځ د ۱۳۵۷ لمریز د غویی په نهمه کله چې ټول د غرمې د ډوډۍ لپاره راټول شول، عبدالقادر د مجلس په سر کې کېناست ، په مغرورانه ډول او په سپکه یې د مرکزي کمېټې په پټه خبرې وکړې او له خبرو یې ښکارېدل چې ستاسو ناجیان موږ(پوځیان) یو، موږ یو چې اتلولي مو کړې ده او تاسو باید وپوهیږئ او ډېرې غوښتنې ونلرئ...»۷۹ / ۲۲۸ ــ ۲۲۹ ددې څخه ښکاري چې عبدالقادر غوښتل د دولت او ټولنې اداره د ده په مشرۍ پوځیان پرمخ بوزي. کله چې د اپریل په اته ویشتمه( غویي اتمه) داودخان و وژل شو او د ولایتونو اوعسکري جزوتامونو څخه پوځي شورا ته د ملاتړ او وفادارۍ تلګرامونه را ورسېدل د اپریل په نه ویشتمه ( غویي نهمه) د دفاع په وزارت کې غونډه را وبلل شوه چې د ګوند د مرکزي کمیټې د اصلي او علی البدل غړو سربېره د پوځي پاڅون د ځمکنیو او هوایي ځواکونو قوماندانانو( وطنجار او عبدالقادر) هم پکې ګډون درلود. د غونډې د رابللو موخه د راتلونکي نظام د جوړښت د څرنګوالي مسأله وه چې عبدالقادر بیا خپله د لومړۍ ورځې خبره تکرار کړله. تره کي چې معمولآ په غونډو کې په پښتو ژبه خبرې کولې د عبدالقادر د وړاندیز په وړاندې په دري ژبه ویلي وو: « د ثور پاڅون د هیواد د خلکو د اوږدې مبارزې او په تیره د ا،خ، د،ګ د څوارلس کلن سیاسي ژوند د آګاهانه مبارزې پایله ده. همدا ګوند وو چې خلک او په هغو کې یې وطنپال افسران په سختو او مختنقو شرایطو کې متشکل او متحد کړل. همدا ګوند وو چې پوځي سازمانونه یې د سازماني او سیاسي پلوه د وسلوال پاڅون او د دولت د نسکورولو لپاره چمتو کړل. وسلوال پوځ او د ګوند پوځي سازمان یوازې خپله ساده انقلابي دنده ترسره کړې ده. وروسته لدې به هم دا ګوند د پوځ،غورځنګ، ټولنې او دولت د لاربښوونې دنده په غاړه ولري. »۲ / ۱۰۱ د عبدالقادر له لوري د دوهم ځل وړاندیز په وړاندې په دري ژبه د تره کي غبرګون دا معنی لرله چې ګواکې هغه په پښتو نه پوهیږي او غواړي هغه په دري ژبه وپوهوي. « د هغه ( تره کي) خبرې د مرکزي کمېټې د ټولو غړو لخوا تایید شوې او ټول منتظر وو چې د پوځیانو استازي څه وایي . محمداسلم وطنجار بېله ځنډه د نورمحمدتره کي له خبرو سره همغږي وښودله او عبدالقادر د څو شېبو سکوت وروسته وویل چې وطنجار همغږی دی زه هم مخالفت نلرم.» ۷۹/ ۲۲۹ وطنجار په خپلو خبرو کې دا هم ویلي وو:« موږ د خپل ګوند سپاهیان وو او یو. یوازې ګوند او مشرتابه یې کولی شي چې غورځنګ، ټولنه ، انقلاب او دولت او په هغو کې پوځ رهبري کړي.» ۲/ ۱۰۲ د وطنجارډ خبرې د نوي نظام د جوړښت او د هغې د لاربښوونې د څرنګوالي مسألې ته د پای ټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینبود چې ګوند به دولت او ټولنه رهبري کوي. وروسته لدې په غونډه کې د لوړ دولتي ارګان په توګه د انقلابي شورا د جوړيدو پريکړه وشوه چې د مرکزي کميټې اصلي او علی البدل غړي او اتلس تنه پوځيان به يې غړي وي کوم چې د امين په اند د ثور د اوومې نيټې په پاڅون کې ښه ځليدلي وو. همدا رنګه نوي نظام د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت په نامه ومنل شو . د انقلابي شورا په غونډه کې تره کی د دې شورا د رئيس او کارمل يې د مرستيال په توګه وټاکل شول.د انقلابي شورا په جوړيدو سره واک د پوځي شورا څخه انقلابي شورا ته ولېږدېده. ويل کېدل چې کارمل عبدالقادر لمسولی وو چې واک ګوند ته ونه سپاري او په خپله کارمل بيا ويل چې ده عبدالقادر قانع کړ چې واک ګوند ته ولېږدوي.

هيره دې نه وي چې د انقلابي شورا پوځي غړي د ګوند د خلقي اړخ سره سازماني تړاو درلود دا ځکه چې د پاڅون برخه وال خلقيان وو او يوازې دوو پرچميانو پکې برخه اخيستې وه . د غويي په لسمه سياسي بورو د حکومت د جوړولو په موخه غونډه وکړه . دا غونډه په جنجالو واوښته . جنجال لدې پيل شو چې د کابينې ترکيب د امين له لوري د ګوند مشرتابه ته وړاندې شو او کارمل ويلي وو چې « امين صاحب کابينه جوړه کړې او غواړي پر موږ يې و منې. امين وخندل او په خندا يې وويل: امين نه ده جوړه کړې، هغو کسانو جوړه کړې ده چې رهبري يې له زندانه را وايستله، د داود رژيم يې نسکور کړی دی او پر ځای يې خلقي رژيم کېنولی دی. کارمل په غوسې سره وويل د داود رژيم ګوند نسکور کړ ، لدې کبله بايد کابينه هم ګوند جوړه کړي.» ۷۹/ ۲۳۷ کارمل د کابينې لست ته په کتو سره چې خلقيان پکې زيات وو اعتراض درلود او خپلو پرچمي ملګرو ته د مساوي برخې غوښتنه کوله. همدارنګه هغه غوښتل چې د بهرنيو او کورنيوچارو او مطبوعاتو وزارتونه پرچميانو ته ورکړل شي. د پنجشيري په وينا« د حاکمه قدرت د کليدي مقامونو د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې، سياسي مانورې او قدرت ښودنه پيل شوله حفيظ الله امين د ثور پاڅون او د واک تر لاسه کول د خلق د سازمان د پخواني اړخ د افسرانو د وسلوال پاڅون مستقيمه پايله ګڼله. لدې امله د قدرت په کليدي دولتي څوکيو د پرچميانو د وتلو ګونديانو ګومارلو سره مخالفت ښود.» ۲ / ۱۰۲ خلقي اړخ د هغه مهال نازکو شرايطو او يا ښايي د مسکو فشار ته په کتو سره د کارمل ارادې ته غاړه ايښې وي او پرچميانو ته يې په حکومت کې غوښتنه برخه ورکړله اوپدې ډول د خلق او پرچم د ائتلافي حکومت بنسټ د بې باورۍ په چاپيريال کې کينبودل شو.د وزارتونو پدې ډول وېش سره د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند انقلابي مشرانو د خپل ګوند د کړنلارې چې ملي دموکراتيکې جبهه جوړه کړي له پامه وغورزوله او مشران يې پدې کې وو چې وزارت خانې په خپلو کې سره وويشي او په ويش هم نه جوړيدل. البته هغه مهال سمدلاسه د ملي دموکراتيکې جبهې جوړول ناشوني وو خو کولی يې شول نوې کابينه سرپرسته اعلان کړي او نورو سياسي ډلو ، ناپيېلو سياستوالو او تکنوکراټانو ته يې بلنه ورکړې وای چې د نوي نظام سره همکاري وکړي او د سرپرستو وزيرانو پرځای د افغانستان د دموکراتيک جمهوري حکومت برخه وګرزي. د افغانستان د کارګرې طبقې او ټولو زيارکښو مخکښ ګوند مشرتابه د انقلاب له مقولو څخه يوازې دا مقوله چې په انقلاب کې اساسي مسئله د واک مسئله ده په پام کې نيولې وه او پدې کې وو چې واک انحصار کړي. د ګوند په ځينو مشرانو کې د واک ليوالتيا دومره پياوړې وه چې ځانته يې نوې وزارتخانې جوړې کړې ځکه د وزارتونو شوقيان ډېراو وزارتونه لږ وو. د بيلګې په توګه انقلابي شاعرانو« بارق شفيعي او سليمان لايق دواړو د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره علاقه درلوده ځکه له دغه وزارت سره يې سروکار درلود او دواړه شاعران او ليکوالان وو خو وزارت يو و، پردغه خبره د دوی ترمنځ څه خبره هم راپور ته شوه په پای کې ملګرو پريکړه وکړه چې دغه وزارت پر دوو برخو وويشل شي چې د اطلاعاتو وزارت د بارق او د راديو تلويزيون وزارت مشري دې لايق ته وسپارل شي په دغه خبره ټول راضي شول. د ډاکتر اناهيتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتبزاد لپاره هم د يوه وزارت د پيدا کېدو مسئله طرحه وه ځکه هغه د سياسي بوروغړې نه وه خو په پرچمي اړخ کې د لوړ اعتبار لرونکې وه د دې لپاره يو بل وزارت جوړ کړل شو چې نوم يې د اجتماعي چارو وزارت يا وزارت اموراجتماعي کېښودل شو.»۴۰ / ۳۶۷- ۳۶۸ يوه ورځ وروسته د غويي په لسمه د انقلابي شورا غونډه را وبلل شوله او د سياسي بورو له خوا تصويب شوی لاندې حکومت غونډې ته وړاندې شو او هغه يې تاييد کړ:

الف – د خلق اړخ

۱. نورمحمدتره کی صدراعظم
۲. حفيظ اله امين د بهرنيوچارو وزيراو د صدارت مرستيال
۳. محمد اسلم وطنجار د مخابراتو وزير او د صدارت مرستيال
۴. عبدالقادر د دفاع وزير
۵. غلام دستګيرپنجشيری د ښوني او روزنې وزير
۶. صالح محمدزيری د کرنې وزير
۷. شاه ولی د عامې روغتيا وزير
۸. عبدالکريم ميثاق د ماليې وزير
۹. سيدعبدالحکيم شرعی جوزجانی د عدليې وزيراو لوی څارنوال
۱۰. محمداسمعيل دانش د کانواو صنايعو وزير
۱۱. محمدمنصورهاشمی د اوبو او برېښنا وزير
۱۲. محمود سوما د لوړو زده کړو وزير

ب – د پرچم اړخ

۱. ببرک کارمل د صدراعظم مرستيال
۲. نوراحمدنور د کورنيوچارو وزير
۳. سلطانعلی کشتمند د پلان وزير
۴. سليمان لايق د راډيواو تلويزيون وزير
۵. بارق شفيعی د اطلاعاتواو کلتور وزير
۶. عبدالقدوس غوربندي د سوداګرۍ وزير
۷. اناهيتا راتبزاد د ټولنيزوچارو وزيره
۸. محمدرفيع د ټولګټو( فوايد عامې) وزير
۹. نظام الدين تهذيب د سرحداتو وزير

امين ته د صدراعظم د مرستيال په توګه د امنيتي چارو او کارمل ته د اقتصادي چارو د لارښووني مسؤليتونه ورکړل شول. د حکومت د جوړېدو دا ډول جنجالي بهير ښيي چې د ( ا، خ، د،ګ ) دواړو اړخونو هڅه کوله چې مهم کليدي وزارتونه خپل کړي. د حکومت له جوړولو څو ورځې وروسته د ګوند سياسي بيرو د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د انقلابي دندو اساسي کرښې چې د دولت د کړنلارې حيثيت يې درلود تصويب کړلې او په انقلابي شورا کې پرېکړه وشوه چې هغه د انقلابي شورا د رئيس تره کي له لوري د راديو ټلويزيون څخه ولوستل شي او دري متن يې د يوه تکړه وياند له خوا قرائت شي.« په دې اړه بيا ببرک کارمل د ژورناليزم د ټولو اساساتو خلاف د راډيو افغانستان څخه د انقلابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندو د اساسی کرښو د لوستلو د ویاندۍ داوطلب شو. که څه هم سیاسي بیرو د کارمل دا ادعا د ا، خ، د ، ګ د مخکنیو فرکسیونو د یووالي خلاف وګڼله. خو ببرک کارمل د خپل دریځ څخه یو ملي متر شا تګ ونکړ. او بالاخره د انقلابي دندو د اساسی کرښو دری متن د۱۳۵۷ کار د غویي د نولسمې په شپه د پښتو د متن وروسته د ببرک کارمل له لوري قرائت شو. پدې ډول د ګوند غړي او کدرونه او د هیواد خلک د ا، خ، د، ګ د دواړو مخکنیو اړخونو په یووالي نورهم بدګومانه شول. »۲ / ۱۰۷ د کارمل دې ډول دریځ ګوندي کدرونو ته پوښتنې پیدا کړې او په خصوصي ډول یې د ګوندي مشرانو څخه د مسئلې روښانول غوښتل لایق یوه ته ویلي وو:« ما له هغه ( کارمل) نه هیله وکړه چې زما خبره واوري د هغې د دري متن لوستل د ده شخصیت ته زیان رسوي خپل ځان د یوه ویاند تر کچې مه ټیټوه لاکن و یې نه منل. »۸۰ / ۷۰ د ثور له پاڅون مخکې د ګوند په لارښوونکي ارګان ( مرکزي کمیټه ) کې پوځیان نه ترسترګو کیدل. د پاڅون وروسته د غبرګولي د میاشتې په څوارلسمه په سیاسي بېرو کې پدې مساله بحث وشو. که څه هم امین د سیاسی بېرو غړی نه وو خو د پاڅون وروسته هغه دا امکانات ترلاسه کړي وو چې په ټولو ګوندي پریکړو کې وروستی خبره وکړي. د سیاسي بېرو په غونډه کې امین برخه لرله او د سیاسي دفتر غړیتوب ته را پورته کړل شو. خو کارمل پدې دلیل چې پوځیان اړینه سیاسي پوهه نلري مخالفت وښود. « نور محمد تره کي د مجلس له غړو وغوښتل چې په مرکزي کمېټه کې د پوځیانو دغړیتوب په هکله نظر ورکړي.لومړی یې د کارمل له ملګرو( پرچمیانو) پیل وکړ. لومړی محمدحسن بارق شفیعي د پوځیانو د اتلولۍ وویل ...، د هغه وروسته سلیمان لایق څو تاییدي خبرې وکړې...،د خلقیانو اړخ ټول د کارمل د څرګندونوخلاف مرکزي کمېټې ته د پوځیانو د راتګ ملاتړي وو...،کله چې کارمل په سیاسي بېرو کې دا وضعیت ولید، په نهیلی سره یې ټولو ته وکتل ...، په غوسه شواو خپل مخ یې بارق شفیعي او سلیمان لایق ته را وګرزاوه او بدې خبرې یې ورته وکړلې. پدې وخت کې تره کي خپل ښی لاس د هغه په اوږه کېښود و یې ویل : دا خبرې د څه لپاره ، موږ ملګري یو، اوس نه څوک پرچمی دی او نه بل څوک ، موږ ټول د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند غړي یو، پوځي ملګري هم د ګوند غړي دي ...،وروسته تره کي وویل اوس رای ګیري کوو او کارمل سمدلاسه وویل رای ګیری ته اړتیا نشته خبرې او رایې معلومې شوې. یوه هیله مو له ستاسې څخه داده چې پوځي ملګرو ته وویل شي چې د رایو په اتفاق ومنل شول. بله هیله مې داده د پوځي ملګرو نه چې د مرکزي کمېټې غړي کېږي محمدرفیع هم و نیسئ چې هغه هم ومنل شو.» د شرعي جوزجاني د وینا له مخې« د پرچم د اړخ عبدالقدوس غوربندي، بارق شفیعي او سلیمان لایق په شمول د خلق د اړخ د مرکزي کمیټې ټولو غړو دا وړاندیز تایید کړ. خو ببرک کارمل، کشتمند ، نوراحمد نور او اناهیتا راتبزاد ددې وړاندیز په وړاندې ودرېدل، دا یې د ګوند د سازماني اصولواو د ګوند د طبیعي ودې خلاف ګڼل او ویل یې چې دا ملګري په افتخاري مدالونو، لقبونو او د رتبو په ترفیعاتو ونازول شي نه دا چې د ګوند رهبرۍ ته را پورته شي،څکه د ګوند د کمزورۍ سبب کېږي.» ۱۳۴ د پنجشیري په وینا ددې غونډې وروسته « د۱۳۵۷ کال د جوزا په څوارلسمه د پرچم د فرکسیون پټ فعالیتونه پیل شول. »۲ / ۱۰۹

د کارمل له لوري د پوځیانو د سیاسي پوهې د کمزورۍ څخه موخه دا وه چې د پاڅون اتلان د ګوند د خلقي اړخ سره سازماني تړاو درلود، ده نه غوښتل چې په مرکزي کمیټه کې خلقیان په اکثریت واوړي لدې امله یې د پوځیانود سیاسي پوهې مسئله طرحه کړې ده. که په ربښتیا سره کارمل د ګوند لارښوونکي ارګان (مرکزي کمیټې) ته د زړه سوي له کړکۍ کتل نو بیا یې ولې د شوروي د اشغال وروسته چې کارمل د ګوند او دولت د مشر په توګه نصب شو څو تنه پوځیان نه دا چې مرکزې کمیټې ته بلکې سیاسي بیرو ته هم راپور ته کړل. که چیرې د ثور د اوومې نیټې د پاڅون په لومړیو ورځو کې چې د ګوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاینښت او مرګ او د پاڅون کوونکو پوځیانو د ژوند سوال طرحه وو او د وسلوال پاڅون پرمهال او وروسته د کارمل دریځ یا په بله خبره مخالفتونو او جنجالونو ته ځیر شو لیدل کیږي چې نوموړي نه یوازې د پخوا په شان په فرکسیوني ناروغیو اخته وو بلکې غوښتل یې چارې سبوتاژاو نوې واکمنۍ ته چې کابو نیمایي برخه یې د ده ډلې ته ورکړل شوې وه ستونزې جوړولې. لامل یې دا کیدای شي چې ببرک کارمل پکې دوهمه څېره وه او دا یې نشوای زغملای چې د واکمنۍ په مشرتابه کې بل څوک ویني. داسې بریښي چې دده د دا ډول دریځ څخه مسکو هم ملاتړ کاوه ځکه چې د پاڅون یوه ورځ وروسته تره کي « د ثور په اتمه صالح محمد پیروز سفارت ته استوي او د سفیرله خوا هدایت ورکول کیږي چې سبا ته ورشي. سبا د لیدنې په وخت کې سفیرد ببرک کارمل د صحت پوښتنه کوي. همدا راز تره کي ګل محمد نورزی هم ورلیږي سفیرد دې پرځای چې د تره کي سره وګوري پرچمیانو ته په دولت کې د نیمایي څوکیو غوښتنه کوي او په پای کې د اندروپوف مرستیال ګریچکوف کابل ته راغی او په تره کي یې ومنل چې په دولت کې نیمایي څوکۍ پرچمیانو ته ورکړي. »۶۰ / ۹۶ پورتنۍ خبره امریکایي لیکوال سلیک اس هاریسون هم تائیدوي او لیکي :« کریچکوف د خلق او پرچم د دواړو اړخونو په مساوي استازو ټینګار درلود.»۴۷ / ۳۲ کله چې مسکو ډاډ ترلاسه کړ چې په حکومت کې به پرچمیانو ته اړینه برخه ورکول کیږي شوروي سفیر پوزانوف د ثور په لسمه د تره کي سره ګوري او نوی رژیم په رسمیت پیژني. د نوي نظام د جوړښت جنجالي بهیر او د۱۳۵۷ کال د غویي او غبرګولي د میاشتو د ګوندي مشرانو ناندرۍ چې د پاڅون پرمهال تویې شوې وینې لا وچې شوې نه وې ښیي چې په ګوند او حکومت کې د خلق او پرچم په نامه دوه مخالفو دریځونو او دوو سیالو دښمنو ډلو شتون درلود.

## د انقلاب په وړاندې غبرګونونه

دا ارزښتمنه خبره چې کله جګړه پیل شي لومړۍ قرباني یې رښتیا ده د ثور د وسلوال پاڅون پر مهال د مرګ او ژوبلې په اړه په بشپړ ډول سرخوري. نوې واکمنۍ ټولټال تلفات ۷۰ تنه اعلان کړل او د ا، خ، د،ګ مخالفان تلفات زیات ګڼي او په هغو کې د ایران د شاهنشاهي دولت د اطلاعاتو ورځپاڼه تلفات ۲۰۰۰ تنه ښیي . لویس دوپري امریکایي لیکوال « معتقد دی چې د دریو زرو څخه زیاتو کسانو په جګړه کې برخه نه لرله . »۴۷ / ۲۸ لکه څرنګه چې د جمهوري ګارد منسوبین زر تنه ، پاڅونوال دری سوه تنه وو او د ارګ د دفاع لپاره د اوومې فرقې راغلې ځواک چې یو غونډ وو دا ټول شاوخوا دوه نیم زره تنه کیږي لدې امله د لویس دوپري ادعا سمه ده . دا بیا ښیي چې د۲۰۰۰ تنو تلفات د مبالغې پرته بل څه نه دي . سره لدې چې د نظام په اوښتون کې وینې تویې شوې ، د ولسمشرپه شمول د هغه د کورنۍ اوولس تنه غړي و وژل شول خو خلکو او په تېره د کابل اوسېدونکو د انقلاب څخه تود هرکلی وکړ او په ښار کې یې په ولاړو ټانکونو او زرهپوښونو د ګلانو ګېډۍ ایښودلې او هره ورځ خلک صدارت او وزیرانو ته د مبارکۍ ویلو لپاره ورتلل . دې وضعیت اداري چارو ته خنډونه او ستونزې جوړولې لدې کبله واکمني پدې اړه یوه اعلامیه خپره کړله له خلکو یې د مننې په ښودلو سره غوښتي وو چې « وروسته لدې د حکومت غړو ته د مبارکۍ او نېکو احساساتو د څرګندولو ډډه وکړي او هغوی ته وخت ورکړي چې خلکو او هېواد ته خدمت ، رسمي کارونو او ورځنیو دولتي چارو ته ورسیږي. » ۷۹ / ۲۴۳ د نوې واکمنۍ څخه د ولس دې تاوده هرکلي دوه لاملونه لرل. یو دا چې له بده مرغه د افغانستان سیاسي تاریخ د زورزیاتۍ او خشونت یوه خونړۍ ټولیزه ده. د دې هیواد د تاریخ په اوږدو کې ډیرلږ لیدل شوي چې واکمنیو په سوله ئیز ډول بدلون موندلی وي او څوک په خپله خوښه له واک څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرشوي وي. لدې امله ولس ته د واکمنیو دا ډول خونړۍ اوښتني یو معمولي دود بریښیده او د نوې واکمنۍ څخه یې ملاتړ وکړ. بل دا چې داودخان د چنګاښ د انقلاب د بري وروسته په ورکړل شوو خپلو ژمنو کې په بشپړډول پاتې راغی، د خلکو د بیوزلۍ او وزګارۍ او په دولتي ادارو کې د فساد کچه را ونه لوېدله ، د ولس او په تیره روڼ اندو د غوښتنو او هیلو خلاف یې د جمهوریت په نامه خپله فردي واکمني ټینګه کړه. خلکو د یحیی کورنۍ د نیمې پیړۍ واکمنۍ ته په کتو سره چې پر استبداد او عوام غولوني څرخیده خوښ وو چې د دې کورنۍ د واکمنۍ ټغر ټول شو. پرهمدې بنسټ یې د خلقي نظام څخه چې زیارکښ انسان ته د چوپړ په نامه جنده پورته کړې وه د زړه له کومې هرکلی وواېه. د داودخان د واکمنۍ څخه د خلکو د نارضایتی په هکله نیویارک ټایمز د۱۹۷۸ کال د مې په نهمه د پاڅون دوولس ورځې وروسته یوه مقاله خپره کړه چې په یوه برخه کې یې راغلي وو: « د ګڼو بهرنیو څارونکو په اند په افغانستان کې د کودتا څخه د افغانانو اکثریت هرکلی وکړ ځکه چې د داود رژیم د خلکوغوښتنو ته په ځواب ویلو کې ناکام پاتې شوی وو.» د داودخان د رژیم د ناکامۍ په اړه مخکې هم بحث شوی وو خو دلته به خلکو ته د خطاب د وینا د غوړو ژمنو یادونه و شي چې هغه پلې نشولې.

- د ځمکو اصلاحات ، د دهقاني کوپراتیفونو او زراعتي تعاوني شرکتونو جوړول،
- بې کوره خلکو ته د کورونو توزیع،
- د کارګرانو د اړتیاوو پربنسټ یې د تنخوا تنظیمول ( د مساوي کار پربنسټ د مساوی مزد اصل ) دا په واقعیت کې د سوسیالستي ټولنې یو اصل وو.
- د کار د مترقي او دموکراتیک قانون جوړول ،
- د کارګرانواو ټولو زیارایستونکو لپاره اجتماعي بیمه،
- د کورونو، مؤسسو اوهټیو د کرایې تثبیتول،
- د ماشومانو( نجونو اوهلکانو) لپاره عمومي ښوونه او روزنه ،
- د مطبوعاتو او دموکراتیکو خپرونو پراختیا ،
- د کوچیانو میشت او بې ځمکو ته د دولتي ځمکو ویش.

د جمهوریت په پنځه کلنه موده کې د پورتنیو ژمنو څخه یوازې د کار قانون او هغه هم د ثور د وسلوال پاڅون څو ورځې وړاندې جوړ شو . البته د پورتنیو ژمنو پوره کول ستونزمن کار وو او لسیزې وخت یې غوښت او د داسې غوړو ژمنو ورکول د عوامفرېبۍ او د خلکو په سترګو کې د خاورو د اچولو پرته بل څه نه وو ځکه چې هیواد اقتصادي سرچینې، شونتیاوې ، تخنیکي او مسلکي کدرونه نلرل. خو اصلي خبره دا ده چې پدې اړه د عملي ګامونو د اوچتولو د هڅو کوچنې نښې نښانې ترسترګو نشوې. خلکو د ( ا،خ ، د،ګ) واکمنېدو ته د وخت اړتیا او د هیواد د سمسورتیا او آبادۍ لپاره د جمهوري نظام د ښه بدیل په توګه کتل او د یحیی د کورنۍ د نسکورېدو له امله د نوې واکمنۍ په وړاندې د مخالفت غږ پور ته نکړ. واک ته په رسېدو سره د خلقي واکمنۍ لومړني ګامونه د بېسوادۍ د له منځه وړلو ، د ښووني او روزنې د بهیر د ښې سمبالتیا او پدې برخه کې د شته ستونزو او نیمګړتیاوو د له منځه وړلو او په تیره د اتمو ټولګیو د زده کوونکو د کانکور لغوه او د مامورنیو او دولتي کارګرانو (اجیرانو) د حقوقو ترمنځ توپیر له منځه وړل وو. د واکمنۍ له لومړیو ګامونو د اوچتولو او خاصتاّ د ښووني او روزنې په برخه کې د خلکو ملاتړ د ملي سوداګرو او شتمنو هیوادوالو له مرستو معلومېږي . یوازې د هیواد ستر پانګوال عبدالمجید زابلي د هیواد د پولي او مالي بنسټونو بنسټ ایښودونکي څلویښت میلیونه افغانۍ ( یو میلیون ډالر) انقلابي دولت ته مرسته ورکړه. نوموړي د رحمن بابا او خوشحالخان لیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګښتونه هم په زمه واخیستل. خلکو د حکومت له لوري په اشرونو( د خپلې خوښې کارونو) د ښوونځیو، سړکونو ، ټولګټو پروژو په جوړولو کې فعاله برخه اخیستله چې ځرګند ساری يې د دريو مياشتو په ترڅ کې په خيرخانه مينه کې د پنځه سوه فاميليو د پروژې جوړول دي. خو پربله خوا د ثور د وسلوال پاڅون وروسته بيله ځنده هغو طبقو او کړيو چې د ( ا، خ، د،ګ) د کړنلارې په پلې کولو کې ګټې له لاسه ورکولې د نوي نظام خلاف يې نه يوازې تبليغات پيل کړل بلکې عملا يې د خپلو بهرنيو ملاتړو د ارادې سره سم د نظم او امن په ګډوډولو لاس پورې کړ. د پاڅون شپږ ورځې وروسته د پکتيا د زيروکي په علاقدارۍ کې چې اوس مهال ولسوالي ده ناآراميو ته لمن ووهل شوه د پوځ په ګاډو او ښوونځي وسلوال بريد وشو. د ديورند تېل شوې کرښې ته څېرمه دا ډول ورانکارۍ د اسلام آباد د لمسونې او مرستې پرته ناشونې وې او د هغو په اصطلاح جهادي ډلو کار وو چې د داود خان په واکمنۍ کې يې په پاکستان کې ځاله جوړه کړې وه. ځينې څېړونکي د خلقي واکمنۍ په وړاندې مخالفتونه او مقاومتونه د دې حکومت د بېرنيو سمونونو، تيروتنو، د خلکو دودونو او اسلامي ارزښتونو ته په نه درناوي کې خلاصه کوي او هغه ولسي خودجوشه حرکتونه ګڼي. خو کله چې د سياسي اوښتون په لومړۍ اونۍ کې اوهغه هم د پاکستان سره په پوله کې اړو دوړو او ورانکاريو ته لمن وهل کيږي بيله شکه د نوې واکمنۍ د کړنلارو ، بېړنيو سمونونو او تيروتنو سره هيڅ تړاو نلري. دې مخالفتونو او مقاومتونو سياسي ريښې لرلې او پورتنۍ ځرګندونې يوازې پلمې او په واقعيتونو د پردې اچول او د خلکو تېرايستل دي. البته لدې څخه سترګې نشي پټېدی چې وروسته په سمونونو کې د نوې انقلابي حکومت تېروتنو ،آرمانګرۍ او د واک د مدعيانو د ارادتمندانو لخوا د چارو سبوتاژ خپل منفي اغېز درلود .

د خلقي واکمنۍ او د هغې د پروګرامونو څخه د ولس او په تيره د پلازمېينې د اوسيدونکو ملاتړ د۱۳۵۷ کال د تلې په اووه ويشتمه چې نوی دولتي بيرغ اوچتېده بربنډيږي. ولسونه سره بيرغونه په لاس د سهار د اتو بجو څخه د مازديګر ترځلورو بجو پورې د ارګ مخکې ته چې هغه مهال ور ته د خلکو کور ويل کيده د ولولو او خوښيو په ځرګندولو سره د دولتي مشرانو ترمخ تېرېدل او ټول ښار سره بڼه نيولې وه. « د مراسمو په پای کې د شمالي کوريا سفير نورمحمدتره کي ته يادونه کړې وه چې د ثور انقلاب ژورې خلقي ريښې لري خو دومره بايد زياته کړم چې څومره مې د پوزانوف او يو شمير نورو شوروي ګډون کوونکو په څېرو کې ناخوښي ليدله نو هغوی د تاسو انقلاب نشي زغملی او غواړم تاسو ته د شوروي له خوا خطر په ګوته کړم. »۶۰ / ۸۸ هغه مهال د شوروي اتحاد او شمالي کوريا تر منځ اړيکې خړې پړې وې. د شمالي کوريا او د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت تر منځ د ډپلوماتيکو اړيکو له ټينګولو څخه هم مسکو خوښ نه وو. د ( ا،خ ، د، ګ ) مخالفان اکثرآ د ملي بيرغ تغييرغندي چې ګواکې د دوديز بيرغ پرځای يې سور بيرغ چې د کمونيسم نښه ده غوره کړ چې پدې توګه يې د افغانستان تاريخ او وياړونو ته شا وګرزوله. د يادولو وړ بريښي چې د افغانستان تاريخ د شاه امان الله څخه د داودخان تر جمهوريته پورې چې نيمه پيړۍ هم نه کيږي نه محدوديږی چيرې چې هيواد درې رنګه ( تور، سور، زرغون) بيرغ د محراب منبرنشان په لرلوسره د ملي هويت د سمبول په توګه درلود. پداسې حال کې چې د تاريخ په اوږدو کې دې هيواد رنګارنګ بيرغونه او دولتي نشانونه لرل چې رنګونه يې اکثرآ تور، سره ، شنه، زرغون وو او په هغو کې د لمر، سپوږمۍ ،غره ، زمري ، پړانګ ، ښامار، لېوه ، طاووس ، تورې ، ټوپک او نيزې نشانونه ترسترګو کيدل. دا چې ويل کېږي د خلقيانو سور کمونستي بيرغ غوره کړ بايد وويل شي چې د غزنويانو بيرغ هم سور رنګ درلود. آيا سلطان محمودغزنوي هم کمونست وو؟ ننني ترکيه ، تونس او مراکش هم سره بيرغونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر هیواد کې ملي بیرغ ، دولتي نشان او ملي سرود د ملي هویت ښکارندوی دي او وګړي یې هغو ته د زړه له کومې درناوی کوي. دا درناوی هغه مهال د تقدس کچې ته رسیږي چې نسلونو هغه یو بل ته په میراث پرې ایښي وي. کله چې ولسونه د دې ملي نښو د نه بدلون شاهدان پاتې شوي وي ، هر رژیم ، هرې واکمنۍ او هر واکمن هغو ته درناوی کړی وي ، په ولس کې هم هغو ته د درناوی روحیه قوت مومي. خو که د واکمنیو په اوښتو سره دا سمبولونه او نښې بدلیږي هغه خپل ارزښت ، درناوی او سپیڅلتیا له لاسه ورکوي او ولسونه ددې سمبولونو او نښو د بدلون په وړاندې بې تفاوته پاتې کیږي. له بده مرغه زموږ په هیواد کې د واکمنیو په بدلیدو سره دا نښې هم بدلې شوې دي. که چیرې یوازې د شلمې پیړۍ د پیل څخه تر دې دمه د هیواد بیرغونو او دولتي نشانونو ته وکتل شي په پرله پسې ډول هغو تغییر موندلی دی. داسې بریښي چې د افغانستان هر واکمن ملي بیرغ او دولتي نشان ته د شخصي ملکیت په توګه کتلي او د خپلې خوښې پراساس یې هغه غوره کړي دي. پداسې حال کې چې د ملي بیرغ او دولتي نشان بدلون د ولسونو صلاحیت دی. ملي سرود چې د خپلې معنی او مفهوم له مخې د یوه ملت آرمانونه ،هیلې ، ځانګړتیاوې ، دودونه او تاریخ نندارې ته ایږدي هغه ترجمهوریته پورې شتون نه درلود. له بده مرغه د ( ا، خ، د،ګ ) مشرتابه هم واک ته په رسیدو سره د تیرو واکمنیو په شان ملي بیرغ او دولتي نشان ته تغییر ورکړ او همدارنګه یې د خپلې خوښې ملي سرود چې د خپلو سیاسي او ایدئولوژیکي باورونو سره یې برابر ګاڼه غوره کړ. خو ولس چې د ملي بیرغونو او دولتي نشانونو د پرله پسې بدلیدو سره عادت موندلی وو په ۱۳۵۷ کال کې د نوي بیرغ او دولتي نشان بدلیدل کومه ناوړه پیښه ونه ګڼله او د نوي ملي بیرغ د جګیدو په مراسمو کې یې په ولولو سره برخه واخیستله.

د شلمې پیړۍ د پیل څخه تردې دمه افغانستان لاندې بیرغونه اودولتي نشانونه لرل . ویل کیږي چې افغانستان په نړۍ کې هغه استثنایي هېواد دی چې ملي بیرغونو یې ډېر تبدیل شوي دي.




۱۹۰۱ ـ ۱۹۱۹



۱۹۱۹ ـ ۱۹۲۸



۱۹۲۸ ـ ۱۹۲۹



۱۹۲۹



۱۹۲۹ ـ ۱۹۳۰



۱۹۳۰ ـ ۱۹۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library




١٩٧٣ – ١٩٧٨


١٩٧٨ – ١٩٨٠


١٩٨٠ - ١٩٨٦


١٩٨٦ - ١٩٩٢


١٩٩٢ – ١٩٩٦



١٩٩٦ – ٢٠٠١


٢٠٠١ - ٢٠٢١



٢٠٢١

## د واک دری مرکزه

د افغانستان د دموکراتیک جمهوري دولت په جوړیدو سره نورمحمدتره کی د ګوندي- دولتي زعیم په توګه وټاکل شو خو د واک دوو نورو مرکزونو چې د رسمي مرکز څخه ځواکمن وو هم شتون درلود چې هغه د حفیظ الله امین او ببرک کارمل تر مشرۍ لاندې مرکزونه وو. ځکه چې د امین سره وسلوال پوځ او د ده فرکسیون د کارمل سره مسکو او نیمایي کابینه وه . ببله شکه د واک د مختلفو مرکزونو شتون ددې لامل ګرزي چې د دې مرکزونو ترمنځ کشمکشونه پیدا شي او دولتي چارې له خنډونو سره مخ یا سبوتاژ شي.« دواړو( امین او کارمل) هڅه کوله چې له نورمحمد تره کي سره ځانونه نږدې کړي او د هغه ملاتړ ترلاسه کړي.هر یوه په خپله برخه کې غوښتل تره کی وپوهوي چې مشري ته یې د (هغه ) لخوا ګواښ دی ، یعني امین غوښتل تره کی له کارمل نه و بېروي او کارمل غوښتل تره کی له امین وبېروي.خو ح ، امین نورمحمد تره کي ته ډېر نږدې وو او دې نږدېوالي ځو کلن تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود چي د ا، خ، د ، ګ د جوړېدو نه مخکي ېيل شوی وو.»۷۹ / ۲۶۳ البته امين د ګوند د جوړېدو وروسته تل د تره کي ترڅنګ پاتي شوی وو ، خو کارمل د تره کي په وړاندې جبهه نيولې وه. د تره کی په وړاندې د واک د مدعيانو دا ډول دريځونو ته په کتو سره يقيناً چي تره کي پر امين ډېره لګوله او د کارمل خلاف يې دريځ غوره کاوه. د هغه مهال له دولتي تبليغاتو نه ښکارېدل چي تره کي او امين ګډ دريځ لري او د تره کي په وينا دواړه د نوک او اوری په څېر نه بېلېدونکي دي خو واقعيت داسي نه وو.هغه مهال د تره کي او امين دوه اړخيزو اړيکو ته د صداقت او منافقت اړيکي ويلی شو. تره کي پر امين بشپړ باوردرلود اوهغه يې خپل ربښتينی عقيدتي ملګری ګاڼه ، د هغه هر وړانديز يې په ورين تندي مانه او نوموړي ته يې پراخ واکونه ورکړي وو يا که دقيق وويل شي دا واکونه يې په وسلوال پوځ د بشپړ کنټرول او د پاڅون وروسته د خلقي اړخ د سياسي بېرو له لوري د هغه څخه د ملاتړ له کبله ترلاسه کړي وو او واقعيت دا وو چې د پاڅون وروسته واک د امين سره وو. پرامين باندې د تره کي دا ډول باور د امين له لوري د تره کي د بې کچې درناوي سربيره د کارمل په وړاندې په څرګند ډول د تره کي له دريځ څخه د امين ملاتړخپل رول درلود چي د خلقيانو نورو مشرانو د دا ډول پرېکنده ملاتړ څرک نه لګېده . البته د امين زړورتيا، زيرکتيا ،څرګند دريځ او کاري وړتياوو هم د تره کي له خوا پرامين د زيات باور په ترلاسه کولو کي خپل اغيزدرلود. د امين له لوري تره کي ته د درناوي په اړه يو خلقي کدر ويل : « د۱۳۵۷ کال مخکي کله ناکله د تره کي ليدو ته ورتلم او د هغه سره مي د يوه مشر په څېر نه بلکي د يوه ملګري په ډول چلند کاوه. يوه ورځ مي امين چي د ولسی جرګي وکيل وو د تره کي په کور کي وليد. کله چي تره کی له کوټي نه وتلو او بيرته راستون شو امين هغه ته د درناوي له امله جګ شو. د امين دې ډول حرکاتو هک پک کړم چي تره کی يو ستر شخصيت دی او وجداناً ناآرامه شوم چي ما هيڅکله هغه ته دا ډول درناوی نه دی کړی.» ښايي تره کي د امين دا ډول کړو وړو ته په کتوسره دا ګومان کاوه چې امين په ربښتيني توګه د يوه ګډ انساني او ملي ارمان لرونکو مبارزينو په توګه له ده سره راشه درشه او اړيکي پالي. دا ستونزمنه ده پدې هکله حکم و شي چې امين د صداقت له مخې تره کي ته درناوی کاوه يا يې نورې موخي لرلې . ښايي امين په لومړيو کي د زړه له کومې هغه ته درناوی کاوه خو کله يې چې په خلقيانو کي اعتبار زيات او د ګوند د مشرئ نښه ورته پيدا شوه يا نورو وهڅاوه نو هماغه دي چې د تره کي د صداقت څخه ناوړه ګټه پورته کړي او بالاخره د تره کي په وړاندې و دريږي. د ( ا،خ ، د،ګ) په واکمنيدو سره د واک او زعامت ليوالو هر يوه کارمل او امين د خپل دريځ د غښتلتيا او د تره کي د اغيز او اتوريتي د راټيتولو په موخه خپلې نقشې پلي کولې. تره کي د کارمل په موخو پوهېدلو او په خپله کارمل هم خپل مخالفت نه پټولو چې غواړي د پرچم د سازمان د مشر يا موازي رهبر په توګه دريځ ولري. دې دا ښودله چي هغه د واک يو مرکز دی خو په امين يې دا شک نه درلود چي د ده په اړه به د کارمل په شان نقشې ولري. لکه څرنګه چي مخکي يادونه شوې وه ،کارمل د لسو کلونو د انشعاب وروسته پدې موخه د تره کي تر مشرئ لاندې يووالي ته مخه کړله چې د خلقي اړخ هڅونه ورمات کړي د خلقي اړخ ځواکمن مشران له ډګره وباسي او پدې ډول د خلقي لښکرمشر هم شي. کارمل حتی د خيبر د جنازې پرمهال چي د تره کي سره څنګ په څنګ او د جنازې په سر کې روان وو دا ډول فکرونه او سوچونه وهل :« دا د تظاهر پرته بل څه نه دي، ډير شيان مخکي دي، نوې شخړې ، د يو بل نه منل ، حتي ټکرونه ، او هيڅ شی به تغيير ونکړي. »۶۳ / ۳۳ له همدې امله کارمل د ثور د پاڅون د هماغه لومړيو شيبو څخه په دېرو مواردو کې د تره کي خلاف دريځ درلود. تره کي د کارمل دې دريځ ته په کتو سره غوښتل چې د کارمل له شره ځان خلاص کړي او د خلقي اړخ په مشرتابه کې امين د تره کي څخه څرګند ملاتړکاوه پر امين ډېره ولګوي . امين چي د زعامت ليوال وو په څرګند ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د کارمل او کارملیانو د ځپلو ترڅنګ په احتیاط د تره کي د تجرید او ګوښه کولو په پروژه هم کارکاوه. څرنګه چې د ګوند د جوړېدو وروسته « کارمل ټینګار کاوه چې تره کی باید عمومي رهبري وکړي او ورځني کارونه ځوانانو ته پرېږدي او تره کي او بدخشي به ویل چې ګوند د ورځنیو پېښو رهبري کولو ته اړتیا لري.» ۴۰/ ۱۷۱ د انقلاب وروسته امین په ګوند کي د دوهم شخصیت په توګه ورته دریځ غوره کړ او هڅې یې پردې را ګرځولې وې چې تره کی د چارو د لاربښوونې څخه بې برخې کړي او اړیکې یې د ګوندي کدرونو، قومي مشرانو ، ژورنالستانو ، سیاستوالو او شوروي سلاکارانو سره محدودې کړي. پدې هکله څو بېلګې راوړل کېږي.

د حفیظ الله امین یو شخصي ملګری چې د ګوند غړی نه وو د۱۳۵۷ کال د چنګاښ په میاشت کي د امین سره د بهرنیوچارو په وزارت کې لیدلي وو او غوښتل یې چې تره کی هم ووینې خو امین منع کړی وو هغه وایي :« له همغې شیبې نه مې احساس کړل چې حفیظ الله امین په دوو جبهو کې مبارزه پرمخ وړي یوه په احتیاط سره د تره کي او د هغه د یارانو په وړاندې او بله په څرګند ډول د پرچمیانو په وړاندې.» ۱۴۰ / ۱۴۰ – ۱۴۳ محمد عزیز قیومي د لامعه شهید ورور چې د کوم سازمان سره سازماني اړیکي نلرلې وایي. په ۱۳۵۷ کال کي د خپل پلارد هدایت له مخې د اوبو او بریښنا د وزیر محمدمنصور هاشمي دفتر ته د یوه امر د اخیستو په موخه چې د مازدیګرشپږ بجې وې ورننوتم. دا مهال په ټلویزیون کې تره کي خبرې کولې. وزیر په عریضه باندې د احکامو د لیکلو پر مهال وویل: « او باز چي میګه؟» یعني دی بیا څه وایي؟ د وزیرلدې خبرې څخه پوه شوم چې هغه د تره کي مخالف دی. لامعه یوه ښوونکې وه چې د ثور د اوومې نېټې په ورځ د هغوی په کور جمال مېنه کې کوم بمب یا مرمی لګېدلې وه او هغه شهیده شوله . خلقي حکومت د هغې په نامه په مکرویانو کې یو ښوونځی ونومولو . د طالبانو د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کي د ښوونځي ادارې د لامعې له کورنۍ څخه د هغې داسې انځور غوښتی وو چې د اسلامي حجاب سره برابر وي چې د ښوونځي په اداره کې یې ولګوي. شوفیلډ شوروي لیکوال لیکي:« امین چې غوښتل یې په ټولو حکومتي جزئیاتو خبر وي. د راپورونو له مخې دا تدبیر ونیو چې سفرونچوک او پوزانوف د تره کي څخه لېرې وساتي. څنګه چې هغوی هره ورځ له تره کي سره لیدل ، ځکه نو ده ډاډ ورکاوه چې همدا زه د شورویانو د تماس اصلي سړی یم. »۱۴۱ / ۱۰۴ همدارنګه د دفاع وزارت لوی پوځي سلاکار جنرال ګریلف د امین کلک ملاتړی په یوه مرکه کې وایي :«په هغه لومړیو کې تره کي ته زما رپوټونو د امین حسادت راپارولو. یو ځل یې ماته وویل چې په راتلونکې کې یوازې ماته رپوټ راکړئ حتمي نه ده تره کی ستا رپوټ واوري.» ۱۴۲ امریکایي لیکوال سلیک ، اس هاریسون د امین سره د خپلې کتنې په اړه لیکي :« په هغو لومړیو کې د بهرنیوچارو د وزیر په توګه چې د ملګرو ملتو سازمان ته تللی وو د ده سره مې په کابل کې وکتل او د ده نه مې وغوښتل که امکان ولري د جمهور رئیس تره کي سره وګورم. هغه په ځیر ځیر،وچ او عصبانیت سره ځواب راکړ تاسي کولی شئ ما ووینئ. دا د قدرت پرسر د شخړې یوه نبنه وه. » ۴۷ / ۳۳ د۱۳۵۷ کال په وروستیو کې د سیاسي لوبو او د سیاست له رازونو څخه خبر کسان پوهېدل چې د تره کي او امین تر منځ اړیکې دوستانه نه دي لکه څرنګه چې شرعي جوزجاني لیکي: « د۱۹۷۹ کال د جنوري په لومړۍ د ګوند د تاسیس په کلیزه کې امین په خپله وینا کې د تره کي نوم یاد نکړ. دې د لومړي ځل لپاره د دوی دواړو ترمنځ چې د ګوند او دولت په سر کې ولاړ وو اختلاف او نه همغږي ښودله .» ۱۴۳ کله چې په یوه دولت کې د واک مختلف مرکزونه شتون ولري ښېله کومه شکه پایله یې د واکمنۍ ناکامي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې تاجه ټولواک

د ا، خ، د ، ګ په پټه جوړ شو او د یوه غیرقانوني ګوند په توګه یې فعالیت در لود. د مؤسسي کنګرې وروسته بله کنګره را ونه بلل شوه چې په هغې کې ګوندیان د خپل ګوند د سیاسي فعالیت د بریاوو او ناکامیو، د ګوند د فعالیت د مثبتو اومنفي اړخونو اودې ته ورته نورو مسآلو په اړه بحث وکړي او د ګوند د نوې رهبرۍ د ټاکنې سربېره کلیدي کدرونه یو بل له نږدې وپېژني. هرڅه په پټه پر مخ تلل او د ګوندي حوزې د مشر یا ارتباطي غړي هر دستور د ګوند او یا د ګوند د عمومي منشي دستور ګڼل کېده. د ګوندي مشرتابه پرېکړې د اعلامیو له لارې ګوندیانو ته د همدې حوزو د مشرانو او ګوندي ارتباطي غړو له لوري رسېدلې او هغه هم په کوچنیو ورقو کې چې همدې ګوندیانو په خپله لیکلې او ګوند کوم ځانګړی نشان یا مهر هم نه درلود چې پدې اعلامیو کې شتون ولري. همدا لامل وو چې ګوندیانو د خپلو ارتباطي غړو هر دستور د ګوند د ستور ګڼلو او د ارتباطي غړي د دستورونو له مخې یې خپل فعالیتونه تنظیمول. پدا ډول یوه غیر نارمل حالت کې ګوند فعالیت درلود . د ګوند اته ویشت کلن شتون وښودل چې د تره کي پرته ځینو ګوندي مشرانو خپل دلګکي او کارمل او امین بیا خپل فرکسیونونه لرل . پدې هکله زېرۍ لیکي:« نورمحمدتره کي په مرکزي کمېټه کې د کوم ملګري مخالفت نه کاوه او نه یې د نورو په مقابل کې د کوم ملګري دفاع کوله .تل یې د یوه مشر په څېر بې پرې دریځ درلود. »۴۰ / ۱۶۸ همدار راز یو خلقي کدر ورته نظر لري او لیکي: « دا خبره د ګوند ټولو غړو ته روښانه ده چې نورمحمد تره کي هېڅکله هم د ګوند په غړو او ګوندي کدرونو کې پخپله ګټه کار نه کاوه. د ګوند ټول غړي یې د ګوند د خیر په لار کې رهنمایي کول.» ۱۰۹ / ۱۴۸ د پرچم په مرکزي کمیټه کې د کارمل فرکسیون څرګند وو چې هغه « نور احمد نور ، سلطانعلي کشتمند، اناهیتا راتبزاد، محمود بریالی ، عبدالوکیل او نجیب الله » وو. په خلقي اړخ کې د امین پلویان صاحب جان صحرایي ، محمد منصور هاشمي ، صدیق عالمیار، محمود سوما ،عبدالرشید جلیلي او ظریف وو. کله چې په ګوند کې فرکسیون شتون ولري منطقا د ګوند د دستور په نامه د فرکسیون مشرخپلو ارتباطي غړو ته خپل شخصي دستورونه هم ورکړي دي. که داسې نه وو نو ولې دې مشرانو فرکسیونونه جوړول؟ ټولو ته څرګنده ده چې د سیاسي مبارزې او د سیاسي ګوندونو د جوړولو موخه واک ته رسېدل دي. کله چې په یوه ګوند کې یو مشر ځانګړی فرکسیون جوړوي بېله شکه ددې فرکسیون د مشر موخه د ګوند مشرتابه ته د ناقانونه او ناروا لارې رسېدل او د ده د مخالفانو له ډګره اېستل دي. پدې هکله یوه بېلګه راوړل کېږي. د ۱۳۵۶ کال په وروستیو کې په خلقي اړخ کې د امین د پلویانو له لوري یوه اعلامیه خپره شوه چې هغه د سیاسي بیرو د غړو( پنجشیري، زیري او میثاق) خلاف وه .البته دا مهال د امین پلویانو دا تبلیغات هم پر مخ وړل چې تره کی او امین د یوه فرکسیون مشران دي. تره کي دې ناسمو تبلیغاتو ته په کتو سره د ۱۳۵۷ کال د وري ( حمل ) په میاشت کې لنډه اعلامیه خپره کړه او ګوندي حوزو ته ابلاغ شوله منځپانګه یې دا وه چې تره کی په ګوند کې د هیڅ کوم فرکسیون سره تړاو نلري. لدې مخکې په سیاسي دفتر کې د ګوند څخه د امین د اېستلو مساله مطرح شوې وه او امین د افغانستان ملي دموکراتیک ګوند په نامه د خپل ګوند په جوړولو لګیا وو ترڅو په ګوند کې د تره کي د اتوریتې او اعتبار څخه په ګټې اخېستنې سره ډېر خلقیان خپل ګوند ته جذب کړي. هغه مهال په حربي پوهنتون کې ددې اعلامیې خپروونکې سلطان احمد بهین وو چې د خلقیانو په واکمنۍ کې د څارګرې ادارې ( اګسا او کام) سیاسي آمر شو. د دې اعلامیې د خپرولو له کبله له ګوند څخه د بهین د اېستلو مساله هم د حربي پوهنتون په حوزو کې طرحه شوله. دلته لیدل کېږي چې څه ډول د ګوند د پټې مبارزې پر مهال فرکسونبازانو حتی د ګوند د اعلامیې په نامه اعلامیه خپروي او د ځانګړو دستورونو ورکول خو عادي خبره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ا. خ. د .ګ دواړو اړخونو پداسې یوه وضعیت کې فعالیت درلود او هر خلقي خپل ارتباطي غړي ته ځانګړی ارادت درلود. پداسې یوه حالت کې ګوند د وسلوال پاڅون په پایله کې واک ته ورسېد او د دې وسلوال پاڅون نوښت له امین سره وو. امین پدې کار سره نه یوازې ګوندي مشران او ټول خلقیان کور ته له راغلي اجل څخه وژغورل بلکې واک ته هم ورسول. همدا لامل وو چې امین د غوڅ اکثریت خلقیانو چې د ګوند د ننه کشمکشونو او فرکسیوني فعالیتونو څخه خبر نه وو له درناوي څخه برخمن شو او د واک په اصلي مرکز هم واوښت. څرګنده بېلګه یې د توقیف څخه د پاڅون کوونکو افسرانو د خلاصون پرمهال د پنجشیری او لایق څرګندونې دي چې مخکې ورته ګوته نیول شوې وه . یا دا چې کله چې د ګوند د مشرانو د نیوني وروسته میثاق ، کشتمند، نور او نجیب الله په ششدرک کې پټ شوي وو د امین لخوا د رادیو څخه د وسلوال پاڅون د بري د اعلان پرمهال د میثاق په وینا« د افغانستان رادیو څخه ددې خبر په اورېدو سره د خوښۍ فضا واکمنه شوله ، یوبل مو په غېږ کې ونیول او ښکلې کړل اوڅو ځله مو یوبل ته مبارکي وویله . ډاکتر نجیب الله ډېر خوښ او احساساتي شوی وو. اوښکې یې راغلې او سردار داود ته یې ښکنځلې کولې او ویل یې ښه شول چې د خپلې بې وفایۍ او نامردۍ سزا یې ولیدله او غچ ترې واخیستل شو. له موږ سره یې ډېره نا ځواني وکړه. »۷۹ / ۱۸۳ همدا رنګه د امین ددې نوښت له امله د زېړي په وینا« ملګري ډلې ډلې شول اوهر یوه ځان امین ته نږدې کاوه. زه په وجداني توګه د امین په اړه له بد نظر څخه پښېمانه وم او له ځانه سره مې ویل په دې سړي کې دومره استعداد و چې د ګوند په غیاب کې یې انقلاب تر سره کړاو موږ یې ټول له مرګه خلاص کړو...، خو حدس مې واهه چې میثاق او پنجشیري هڅه کوي ، د امین په وړاندې تر انقلاب پخوا خپل مخالفت تلافي کړي ... »۴۰ /۳۶۳ البته امین د انقلاب مخکې د پوځ مسؤل وو او غوڅ اکثریت خلقي پوځیان ده او یا د ده له باوري کدرونو له لوري روزل شوي وو او ده ته پالیاله وو. پر بله خوا د خلقي حکومت تر جوړېدو پورې ( په لومړیو دریو ورځو کې) امین د پوځي شورا د مشر په توګه د وسلوالو ځواکونو د جزوتامونو قوماندانان وټاکل چې ښېله شکه ده ته وفادار کدرونه پکې ډېر وو. د پاڅون اتلان (عبدالقادر، وطنجار، مزدور یار، ګلابزوی، سروري ) او نور افسران یې په لوړو څوکیو و ګومارل او کابینه هم د ده د وړاندیز له مخې جوړه شوه. دې دا معنی لرله چې دی بې تاجه ټولواک او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وسلوال پوځ اعلی سر قوماندان دی . محمدنبي عظیمي د خپل « من و آن مرد مؤقر» نومي کتاب په نهم مخ کې را وړي چې د ثور د وسلوال پاڅون وروسته د بهرنیو چارو وزیر (امین) دی ، ډګرمن محمد آصف الم او جګتورن عبدالستار د بهرنیو چارو وزارت ته غوښتي وو او دی یې د څوارلسمې فرقې د قوماندان او محمد آصف الم یې د وسلوال پوځ د محکمې د رییس په توګه مقرر کړل . آیا دا د خندا وړ خبره نه ده چې د بهرنیو چارو وزیر د دفاع وزارت د قرارګاه رییسان او د جزوتامونو قوماندانان مقرروي یا ګوښه کوي. خو د عجایبو په هېواد کې د بهرنیو چارو وزیر د امنیتي ځواکونو( پوځ ، پولیس او استخباراتو) قوماندانان او مشران ګومارل او ګوښه کول. د میثاق په وینا « ډېر ژر ټول دولتي او ګوندي واک د حفیظ الله امین په لاس کې پرېووت، ن .تره کی او ځواکمن پوځیان لکه محمد اسلم وطنجار ،عبدالقادر ،اسدالله سروري ، شیرجان مزدوریار او نورو له حفیظ الله امین څخه ملاتړ او دفاع کوله...، مرکزي کمېټه او سیاسي بیرو د حفیظ الله امین د لاس په وسیله اوښتي وو. »

پدې کې شک نشته چې د زعامت لیوال پدې لټه کې وي چې یوازې ځانته وفادارکدرونه په کلیدي څوکیووګوماري. د زعامت لیوال د دې کدرونو وړتیا او ژمنتیا ته نه بلکې یوازې ده ته وفاداری ته ګوري .همدا لامل هم وو چې دې وګړو او د کارمل پلویانو د خپلو مشرانو( کارمل او امین) د ارادې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې د خلقي واکمنۍ سمونونو او خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو بهیر سبوتا ژاوه ، په شعوري ډول يې خپل مخالفين، قومي او مذهبي مخور بنديانول او وژل ترڅو تره کی بدنام کړي. همدا لامل وو کله چې د ۱۳۵۸ کال د وږي په پنځه ويشتمه امين تره کی بېواکه کړ د دوولسو زرو تنوشا وخوا لست يې د کورنيو چارو په وزارت کې ځوړند کړ چې ګواکې د تره کي د ارادې له مخې وژل شوي دي . امين دې ته متوجه نه وو چې د ۱۳۵۸ کال د پيل څخه دی صدراعظم وو او ده د حکومت د مشر په توګه مسؤليت درلود چې د بې محکمې وژنو مخنيوی وکړي. پدې اساس دی هم ملامت دی چې د دې وژنو مخنيوی يې نه دی کړی. خو د ټولنې د ټيټ سياسي شعور څخه يې د تره کي د ملامتولو په موخه هغه مهال ګټه پورته کړې ده تر دې چې ارادتمندان يې لا تر اوسه د هغه مهال تبليغات زمزمه کوي او وايي چې امين يوازې سل ورځې واکمن وو او کومې وژنې چې شوي دي دی پکې ښکېل نه وو.

د کارمليانو او امينيانو لخوا د حکومتی چارو د سبوتاژ بېلګې په ودونو کې د خلکو د دېګونو چپه کول، د سواد زده کړې کورسونو ته د مېرمنو او نجونو اړاېستل، د ځمکو د اصلاحاتو پرمهال د دولت د تګلارو د بيانولو په نامه ملاکانو او خانانو ته سپکې سپورې ويل او دې ته ورته نورې ناوړه کړنې او په هغو کې بېله محکمې وژنې دي. د بېله محکمې د وژنو غوره بېلګه په ۱۳۵۸ کال کې د کونړ د کرهالې د کلي د اوسېدونکو ډله ييزه ( شاوخوا ۴۵۰ تنه ) وژنه ده چې ځای پرځای د ۴۴۴ د کوماندو د غونډ او د۶۹ پلي غونډ قوماندانانو صادق عالميار او عبدالحق فراهي ترسره کړلې چې دواړه د بې تاجه ټولواک پلويان وو. البته ولسونو ته دا معلومه نه وه چې دا کسان د چا پلويان دي او که ورته څرګند هم وو ارزښت يې نه ور کولو. هغوی دا کسان خلقيان او د پوځ قوماندانان يا د حکومت استازي ګڼل او پايله يې دا کېدله چې ولسونه د حکومت خلاف ودرېږي. ددې خپلسرو وژنو په اړه يو خلقي چې هغه مهال د کابل پوهنتون د انجينري پوهنځي محصل وو وايي : « د۱۳۵۷ کال د تعليمي کال د ختم وروسته خلقي محصلينو ته دستور ورکړل شو چې په ژمي کې به په خپلو سيمو کې د ګوند په ګټه تبليغات کوي. د ننګرهار ، کنر او لغمان خلقي محصلينو سره صاحب جان صحرايی د ننګرهار ولايت په مقام کې وکتل او د خبرو په ترڅ کې يې وويل: « د تبليغاتو پرمهال د اشرارو سره د جګړې امکانات هم شته دي . لدې امله تاسو ته وسله هم درکوو.خو که د جګړې له ډګره وتښتئ زه مو په خپله وژنم . صحرايي دا هم وويل چې د لغمان ولايت خلقي ولسوال محمديوسف ولسوالي پرې ايښې وه او ننګرهار ته راغی ما هغه ته وويل چې تا ولسوالي د اشرارو له ډاره پرې ايښې ده او ماته را غلی يې . که پر ما زور راشي زه به کابل ته تښتم. دا نشم زغملی چې څوک دښمن ته مورچل پرېږدي او په هغه مې د کلشنکوف جاغور تش کړ .» پدې ډول د صحرايي لخوا په خلقي ولسوال صحرايي محکمه پلې شوله .

د بې تاجه ټولواک لپاره ده ته د وفادارو کدرونو موندل يوه ستونزه وه . دا حالت د دې سبب کېدلو چې په څو کليدي څوکيو ده ته وفادار يو تن وګوماري.پدې هکله د وخت د ګوند د دارالنشاء د څانګې رييس ليکي: « مجبور شوم يوه ورځ مې حفيظ الله امين ته وويل چې د مرکزي کمېټې د څانګو فعاليت د خنډونو سره مخ دی. ځکه د هرې څانګې رييس د خپلې دندې په څنګ کې ډېره درنه دولتي دنده هم لري.ښه به وي چې دغه ملګري د دغو دوو دندو له منځه يوه دنده د خپلې خوښې سره سمه د ځان لپاره غوره کړي. دوی په ځواب کې راته وويل چې د دوهمې دندې لپاره د باور وړ کسان نه شو ميندلی.په زړه کې مې وويل دا چې په دومره غټ ګوند کې دومره لږ باوري کسان لرو، نو بيا دې خدای پاک زموږ پرتمين انقلاب ته خير پېښ کړي.» ۱۲۲ / ۱۸۴ که چېرې امين د ګوندي او حکومتي چارو د ښه تنظيم او خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو ليوال وای او په ګوند کې يې باوري او وړ کسان نشوای موندلای غوره دا وه چې په ګوند کې يې د خپل باور وړ کسان په مهمو ګوندي څوکيو ګومارلي وای او غير

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندي تکنوکراتان د وزیرانو او والیانو په توګه مقررکړي وای. دې کار دوې ګټې لرلې . یو دا چې خلقي واکمنی د ګوند د کړنلارې له مخې دموکراتیکې جبهې جوړولو ته لار هواروله او ملاتړ یې زیاتېده او له بلې خوا د ده باوري کسانو د ګوند د مرکزي کمېټې څانګو د مشرانو په توګه داسې مصوبې جوړولې چې حکومت ته د غوره لاربنوونکو سندونو په څېر د عمل لاربنود شوي وای او ګوند د دولت او ټولنې په ربنتیني لاربنود اوښتی وای. بېځایه به نه وي چې د امین بشپړ واک ته رسېدو په درشل کې د ګوند د مرکزي کمېټې د څانګو مشرتابه و پېژنو چې هغه ټول د بې تاجه ټولواک پلویان وو او د هغوی د نورو دولتي مقامونو سره هم آشنا شو.

۱- د دارالنشاء اداره( د اسنادو او اړیکو څانګه) . رییس محمدعلي هوما

۲- د تشکیلاتو څانګه. رییس د ښوونې او روزنې وزیرعبدالرشید جلیلي.

۳ -د نړیوالو اړیکو څانګه . رییس ګلنواز

۴ – د اقتصاد څانګه. رییس د پلان وزیر محمدصدیق عالمیار.

۵ – د تبلیغ او ترویج او د زده کړو څانګه. رییس محمد صدیق عالمیار.

۶ ـ د ګوندي کنټرول او نظارت څانګه. رییس د اطلاعاتو اوکلتور وزیر خیال محمدکټوازي .

۷ – مالي څانګه. رییس فقیر محمد فقیر.

۸ ـ د عدل او انصاف څانګه. رییس د وسلوال پوځ د سیاسي ریاست رییس محمد اقبال وزیري.

ښایي ډېر نور د امین د باور وړکسان هم وي چې څو لوړګوندي او دولتي مقامونه یې لرل چې یو د هغو څخه سیدعبدالحکیم شرعي جوزجاني وو چې څلور لوړ مقامونه ( لوی څارنوال، د عدلیې وزیر، د سترې محکمې سرپرست او د کابل د ولایتي ګوندي کمېټې منشي) یې لرل . افغانانو شاه دوشمشیره اورېدلی وو خو صدیق عالمیار شاه سه شمشېره او شرعي شاه چهار شمشېره وو. ویل کېږي چې د امین وراره او زوم اسدالله امین نهه لوړې څوکۍ لرلې چې هغه نو شاه ۹ شمشېره وو.

دې عجیب او غریب حالت ته په کتنې سره دا پوښتنه را پیدا کېږي چې ولې امین په بې تاجه ټولواک اوښتی وو؟ که څه هم دې پوښتنې ته مخکې ځواب ویل شوی وو او شاه محمود حصین د خپل ( مثلث بې عیب) نومي کتاب په ۱۲۸ – ۱۲۹ مخونو کې پدې اړه راوړي : « د نجیب الله د واکمنی پر مهال د دستګیر پنجشیري په کورکې کریم میثاق، شرعي جوزجاني او اسماعیل دانش د نورو خبرو سربېره د هغه پلنوم په اړه خبرې وکړې چې تره کی یې له واک څخه ګوښه کړ. څلورو واړو د تره کي د ګوښه کولو او د هغه پرځای د امین د ټاکنو په اړه چې دوی مثبته رایه ورکړې وه پښېماني ښودله. پدې بهیر کې پنجشیري له ما وپوښتل چې ووایه تره کی څه ډول سړی وو. ما ور ته وویل یقینا تاسو زما څخه پدې اړه زیات معلومات لرئ. زه فکر کوم او ستاسو له خبرو پوه شوم چې تره کی داسې شخصیت وو چې هغه مهال یې خندا ، خندا ته نه وه ورته او ژړا یې ژړا ته. هغه یوازې وو څوک یې نه لیدل چې د خپل زړه خبره ورته وکړي او چا د زړه له تله ملګرتیا نه ورسره کوله. پنجشیري دا ارزونه سمه ګڼي او دا هم وایي چې هغه مهال تره کي سیوري احساس کړي وو، هغه سیوري چې د ګوند او وطن سوکالي یې تهدیدوله خو نیغ په نیغه یې د هغو طرحه کول مصلحت نه ګڼل. هغه دوه ځله ښېله مخکنۍ آجندا د سیاسي بورو غونډه را وبلله. هر ځل یې د اصلي مسآلو پر ځای طنزونو ته ورته کیسې موږ ته کولې چې په موخو یې نه پوهېدلو. موږ د مسکو په شعارونو چې مترقي غورځنګونو ته ربنتیني مرستې کوي ډېر قوي باور درلود. هغه تبلیغات چې سرچینه یې څرګنده نه وه کله ناکله یې موږ په فکر کې اچولو چې ښایي تره کی د شخصیت کېش ولري د انترناسیونالیسم خلاف یو ډول ملتپالنې ته تمایل موندلی وي ، د خپل پاییښت په خاطر په هر شي او په هغو کې پر شوروي هم بې باوره شوی وي ...، خو پېښو وښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځېنې شيان لمس کړي وو مګرد هغو په وړاندې يې د مقابلې وس نه درلود غلی وو او په ځپل ځان کې سوځېده. هغه د سوسلف او باريس پاناماريف پرله پسې غوښتنې چې د سياسي بورو غونډه را وبولي او د پرچم سره د بيا يووالي او يو لړ پوځي مسالې طرحه کړي خو په عمل کې يې دا کار ونکړ او د وخت وژنه يې کوله. ښايي لامل يې دا وو چې په سياسي بورو يې هم باور نه درلود.» د پنجشيري د ځرګندونو په اړه بايد وويل شي يو د هغو مشرانو څخه چې په يوه ليدنه کې پوناماريوف ته له تره کي څخه شکايت کړی وو دی په ځپله وو.( سوسلف د شوروي کمونست ګوند د سياسي بېرو غړی او د کمونست ګوند تيوريسن ګڼل کېده او پونوماريوف د کمونست ګوند د بهرنيو اړيکو د څانګې رييس وو.)

پورتنی ځرګندونې ښيي چې تره کی يوازې وو، د سياسي بورو په غړو يې هم باور له لاسه ورکړی وو ، پوځيان او د ثور د پوځي پاڅون اتلان سروري، وطنجار، ګلابزوی او مزدوريار هم د امين سره وو، د انقلاب بل اتل عبدالقادر لا د مخه مسکو د پرچميانو سره کودتا ته هڅولی او بندي وو . د سياسي بورو غړو چې ځپل پلانونه لرل ، فرصت ته کتل او ځپل دريځونه يې نه بربنډول خو عملاً د بې تاجه ټولواک سره ولاړ وو. د تره کي د بېوسی ځواب پدې واقعيت کې پروت وو چې د ثور انقلاب وروسته د دولت لوړپوړي دده سره نه بلکې د امين سره ولاړ وو او تره کی اړ وو چې د بې تاجه ټولواک ارادې ته سرټيټ کړي او ښايي موخه يې دا وه، هغه ګوند چې ده يې په جوړولو کې د هرچا څخه زياته ونډه لرله او څوارلس کاله يې مشر وو ټوټې ټوټې نشي او د دې ګوند واکمنی ته زيان ونه رسېږي. د تره کي وربرې ملالی يوه ورځ د ټلفون په کرښه د تره کي د يوې عجيبې انديښنې په اړه داسې را ته وويل : « کله چې امين کاکا له واکه ګوښه او په توقيف کې وو او موږ لا ور سره اوسېدلو ما ته وويل ډاربږم امين ځوان دی او داسې کوم کار ونکړي چې ګوند ته زيان ورسيږي.» تره کي پداسې حال کې چې بندي وو د ځپل ځان او ځپل برخليک په اړه انديښنه نه لرله يوازېنی انديښنه يې دا وه چې امين پداسې کار لاس پورې نکړي چې ګوند ته زيان ونه رسوي. دا چې د وسلوال پاڅون شپږو- اوو مياشتو وروسته د پاڅون اتلان چې د امين پلويانو او شورويانو د تره کي څلورياران بلل د امين خلاف د تره کي ملاتړ ته ورو دانګل ګومانونه وېشلي دي. ځېنې پدې اند دي چې دا څلور تنه چې د امنيتي بنسټونو مشران پاتې شوي او له پوځيانو سره يې اړيکي لرلي دوی په امنيتي بنسټونو کې د امين د لاسوهنو، نيولو، بندي کولو او وژنو شاهدان وو اړ شول چې د امين خلاف دريځ غوره کړي او نور بيا پدې اند دي چې شوروي سلاکارانو دوی هڅول چې د امين په وړاندې ودريږي. واقعيت دا دی چې دواړه ګومانونه سم دي. د امين د ارادتمندانو له خوا د توقيف شوو کسانو د محکمې پرته وژنو په اړه د ثور د پوځي پاڅون وروسته د کورنيو چارو د وزارت د ژاندارم او پوليسو د قوماندانی د استخباراتو مشر وايي چې کله به مو غوښتل له توقيف شوي کس څخه تحقيق وکړو را ته وبه ويل شول چې هغه د ژاندارم او پوليسو عمومي قوماندان سيدداود ټرون د دستور له مخې له توقيف څخه ايستل شوی يعني له منځه وړل شوی دی .

## د دولت او ټولنې لارښوونکی ځواک

د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند واک ته په رسيدو سره د يوه ستر آزماينت سره مخامخ شو چې هغه د دولت او ټولنې لارښوونه او په هېواد کې د سمونونو پلې کول وو. دې سترو مسئوليتونو ته يې پداسې يوه حالت کې اوږه ورکړه چې ګوند لا ماشوم وو، يو موټی نه وو او د دولت او ټولنې د لارښوونې او ادارې تجربه يې هم نلرله . پردې اساس دې ماشوم د يوه وروسته پاتې هېواد چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیوپولیتیک او جیوستراتیژیک ارزښت څخه هم برخمن وو د دولت اوټولني د لارښوونکي ځواک په توګه راڅرګند شو.د دولتي چارو د لارښوونې سره د ګوند د نابلدئ په اړه زیری لیکي : « د بده مرغه موږ د نوي ډول ګوند د کار د ډول، ګوندي غونډو ، د ګوند لخوا د دولت د رهبرئ په مساله او نورو اصلاً خبرهم نه و. نو د ګوند او دولت رهبري د یو څو ملګرو لاس ته ولویده چي عمده یې امین و. »۴۰ / ۳۷۲ میثاق لیکي :« ګوند په نامه واکمن ګوند وو او په عمل کې ګوند د دولت په چوپړ کې وو. ګوند د دولت لارښوونه نه کوله بلکې دولت ګوند په خپل چوپړ کې نیولی وو. » ۷۹ / ۳۰۵

هغه څه چي وضعیت یې لا کړکیچن کاوه هغه د زعامت د لیوالو( کارمل او امین ) د ارادتمندانو ګوندي او حکومتي ضد کړنې وې. دواړوهلې ځلې کولې چې په کلیدي پوستونو خپل پلویان وګوماري بیله دې چې د هغوی ژمنتیا او وړتیا ته پام را وګرزوي. د واک په لومړیو ورځو کې انقلابي واکمنانو خپل پام د دولتي قدرت د سیمه ئیزو بنسټونو، ګوندي کمېټو او د امنیتي ارګانونو مشرتابه ګومارنې ته راګرزولی وو. د دولتي قدرت د سیمه ئیزو بنسټونو( والیانو او ولسوالانو) د مشرانو د ټاکلو واک د کورنیو چارو وزیر نوراحمدنور درلود. د ګوندي کمیټو منشیان او د امنیتي ارګانونو مشران امین ټاکل. د دولتي قدرت سیمه ییزو بنسټونو او امنیتي ځواکونو مشرتابه د هردولتي نظام د ملا د تیر حیثیت لري. منطقاً چي دې بنسټونو ته اکثرآ امین او کارمل پلوه کدرونو لار موندله چي هغوی بیا خپلې نقشي پلې کولې. د په اصطلاح نوي ټیپ ګوندونو کې معمولاً ورځنۍ چارې د ګوند دارالنشاء رهبري کوي. د دارالنشاء دنده په لومړیو کې څلورو تنو تره کي ، کارمل ، امین او نوراحمدنور پرمخ وړله او هغوی هم زیاتره پر امنیتي او کدري مسآلوغونډې لرلې. کله چي د۱۳۵۷ وسلوال پاڅون شاوخوا دوې میاشتې وروسته په واکمنئ کې د پرچمیانو رول پیکه شو« داسې یوه باصلاحیته قرارګاه چي اپراتیفي ، سیاسي او پوځي چارې یې سمبالولې په غیررسمي توګه راڅرګندیږي چي تقریباً ټولې سیاسي ملي ( سیاسي ، پوځي او کادري ) چارې حل او فصل کوي چي وروسته په فورمالیتي توګه د ګوندي او دولتي ارګانونو له خوا تائید او تصوبیږي. د دې قرارګاه غړي نورمحمدتره کی، حفیظ الله امین ، اسدالله سروري، سیدمحمد ګلابزوی، شیرجان مزدوریار وو. د قرارګاه په کاري ډله کې اسدالله امین، فقیر محمد فقیر، ګلنواز، نواب ، یعقوب ( لوی درستیز)، سید داود تږون ،جانداد( د ګارد قوماندان) او نور وو.» ۱۲۸ / ۸۳ ددې قرارګاه غړو او د هغې د کاري ډلې غړي له انقلاب مخکې د امین سره ګوندي اړیکې لرلې. پردې بنسټ ټول د امین پلویان وو. له همدې امله د پریکړو په نیولو کې د امین ارادې ټاکونکی رول درلود لکه څرنګه چي زیري هم دې مسالې ته ګوته نیولې ده. لدې نه معلومیږي چي ګوند خپل لارښوونکی رول له لاسه ورکړی وو . دې بیا دا معنی لرله چي څو تنو هم ګوند او هم دولت رهبري کولو او دا څو تنه د امین پلویان وو. دا هغه څه وو چي د هغه مهال د تبلیغاتو خلاف چي ګواکې ګوند د دولت او ټولني لارښوونکی ځواک دی په عمل کې پلې کېدل. د یوه دولتي بنسټ سروال د نوموړي بنسټ په ګوندی چارو کې لاسوهنې کولې او حتی خپل دستورونه او امرونه ورکول. په ۱۳۵۸ کال کې لیکوال د کندهارد قول اردو د قرارګاه د توپچي د غونډ سیاسي مرستیال وو. یوه ورځ د قول اردو قوماندان نورمحمد سروضه وال ور وغوښت او د قطعي د چارو د څرنګوالي د پوښتنې وروسته یې خپله اصلي خبره وکړه چي د یوه ټولي قوماندان جګتورن معراج الدین د ګوند د غړي په توګه ومنل شي. لیکوال ورته وویل چي ستاسي وړاندیز به په ګوندي سازمان کې طرحه کړي . مسئله په سازمان کې طرحه شوله خو د اکثریت نظر منفي وو. نوموړی د شوروي- پرچمي واکمنئ پرمهال جنرالی ته هم ورسید او کله چي په کال ۱۹۹۲ کې د کارملیانو له لوري د کودتا له لارې دولتي واک د تنظیمونو په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شمال ټلوالې ته ولیږدول شو جنرال معراج الدین د ننګرهار د سیمه ئیز ټلویزیون په پرده را څرګند شو او د خپلې وینا په ترڅ کې یې وویل چې دی د اسلامي حزب غړی دی.

## تور که واقعیت ؟

د په اصطلاح د افغانستان خلک دموکراتیک واحد ګوند څوارلس کلنه واکمني د واک او زعامت پرسر په ګوند کې د زعامت د مدعیانو د سیالیو ، توطیو او دسیسو، کودتایي هڅو او کودتاوو یوه ټولیزه ده . پدې اړه د واک هرمدعي او هر اړخ هڅه کړې چې مقابل لوری تور او ملامت خو ځان سپین او سلامت ثابت کړي. د دا ډول چلند منطقي پایله دا شوې ده چې ډیر واقعیتونه یا پټ په تیارو کې پاتې شي او یا حقایق تحریف شي. پدې لیکنه کې هڅه شوې چې په دې ګوند کې د هغو ټکرونواو پیښو کومو چې د سلګونو ګوندیانو سرونه یې واخیستل ، ګڼ شمیربندیان شول ، شکنجه شول او سلګونه نور د هیواد څخه تیښتې ته اړایستل شول یادونه و شي. د دې سیالیو، مخامختیاوو،شخړو او ټکرونو لامل د هرڅه د مخه باید د ګوند د ځینو مشرانو په ځانغوښتنه او شوروي پالنه کې ولټول شي نه په شورویانو. ځکه چې پدې هکله ځینې ګوته پخواني شوروي اتحاد ته نیسي چې ګواکې د ګوند کورنیو شخړو او مخامختیاوو ته یې لمن وهله. دا واقعیت لري چې د شورویانوهلې ځلې پردې متمرکزې وې چې اوبه خړې کړي اودوی پکې کبان ونیسي خو اصلي خبره دا ده چې ولې یو سیاستوال، چارواکی او ګوندي کدر د پردیو د لاس وسیله شي او یا د ماشوم په څېر ولوبول شي.

د ګوند د څوارلس کلنې واکمنی په ترڅ کې د ګوند د ننه دریو پیښو د نورو په پرتله په ګوند او دولت کې د سیالو دښمنو ډلو په راتلونکي دریځ ، برخلیک ، د هیواد په وضعیت او د ګوند د واکمنی په نسکوریدو اغیز پرېښود. دا پیښې د وخت په دولتي رسنیو کې په لاندې نومونو یادېدلې:

الف- د ثورانقلاب په وړاندې د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچمیانو پوځي کودتا

ب- د نورمحمدتره کي له لوري پرحفیظ الله امین سوء قصد

ج- د تڼي- ګلبدین کودتا.

البته د دې پېښو مخالف اړخ چې لوبه یې بایللې وه دا ډول حکومتي تبلیغات او څرګندونې بې بنسټه تورونه ، د واقعیتونو د پټولو ، د عامه ذهنونو د انحراف او د ولس د تیرایستنې هڅې ګڼلې .د لیکنې پدې برخه کې به په لومړۍ پیښه چې خلقي اړخ د پرچمیانوله لوري د پوځي کودتا ناکامه هڅه تبلیغوله او پرچمیانوهغه پر دوی تور ګاڼه مکث وشي او په دوو نورو به په خپل وخت بحث وشي.

د۱۳۵۷ کال د وږي په دریمه دولت یوه اعلامیه خپره کړه چې یو شمیرخاینینوغوښتل په لوی اختر کې په پوځي کودتا لاس پورې کړي چې مخه یې ډب شوه او عاملین یې ونیول شول. په نیول شوو کسانو کې د پلان وزیرسلطانعلي کشتمند، د دفاع وزیر ډګروال عبدالقادر، د ټولګټو وزیر جګړن محمد رفیع ، لوی درستیزجنرال شاه پوراحمدزی او نور یادیدل. څه موده وروسته د هغوی اعترافات چې د کودتا هوډ یې درلود په رسنیو کې خپاره شول. د اعلامیې وروسته د مشکوکو ملکي او پوځي پرچمیانو د نیولو او له دندو ګوښه کول پیل شول.اوس به وګورو چې آیا د پرچمیانو له لوري کودتا ته چمتووالي واقعیت درلود یا دا چې هغه په پرچمیانو یو تور وو او پدې به هم تم شو چې ولې خبره پوځي کودتا او یا پر پرچمیانو دې تور ته ورسیدله ؟

مخکې یادونه شوې وه چې د ( ا، خ، د،ګ) د خلق او پرچم سیالو دښمنو ډلو د لس کلن انشعاب وروسته سره یو شول خو دا یووالی یو تحمیلي یووالی وو. د ګوند د یووالي وروسته ډیر ژر په ګوند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانۍ ډله بندۍ بربنډې شوې او فرکسیوني فعالیتونه پیل شول. که چېرې داودخان حوصله کړې وای او پرګوند یې برید نه وای کړی ښایي چې ګوند په څو ډلو ویشل شوی وای ، د پرچم سترې برخې د جمهوریت د ملي غورځنګ ګوند ته مخه کړې وای او پدې ډول به د داود خان دریځ پیاوړی او په واک کې پاتې شوی وای. پدې اړه څرګنده بېلګه په ګوند کې د جمهوریت د پلان د وزیرعلي احمد خرم د ترور وروسته د دستګیر پنجشیري په مشرۍ د یوه پلاوي ګومارل وو ترڅو پدې ترور کې د امین ښکېلتیا یا لاس لرل وڅېړي. پدې اړه دا پوښتنه پیدا کیږي چې آیا دا ګوند حاکم ګوند وو چې د یوه چارواکي د ترور پېښه څېړي ؟ بل دا چې نه خرم او نه ترهګر د دې ګوند غړي وو چې ګوند د دې ترور د څېړنو مسؤلیت ولري. د ګوند له لوري د خرم د ترور د پېښې څېړنه د ماشومانو لوبو او یا ټوکې ته ورته یو بهیر وو. د خرم د ترور څېړنې دا ګومان په واقعیت اړوي چې دا څېړنه د کارمل – مسکو ګډه پروژه وه چې امین له ګوند څخه وشړي ، د تره کي دریځ کمزوری کړي او پدې ډول کارمل په واحد ګوند کې د بشپړ اغېز او نفوذ څخه برخمن شي. مخکې ویل شوي وو چې د خلق او پرچم د یووالي څخه د کارمل موخه په لومړي ګام کې د هغه په وینا د خلقیانو د اګرسیف اړخ مشران( تره کي او امین ) او بیا پاسیف اړخ( زېري ، میثاق او پنجشیري) له ډګره ایستل وو. دې پلاوي کندز ته سفر وکړ د پرچمي نظام الدین تهذیب پرمټ یې امین ضد سندونه جوړ کړل او د پنجشیري په وینا د ګوند څخه د امین د اېستلو مصوبه هم مېثاق ولیکله خو تره کي د امین ملاتړ کاوه او امین ته یې ویلي وو:« زه پوهېږم چې سیاست هم د نېشه یي عمل غوندې احساس لري . ته چې خارج شې خو آرام نه کښېنې او زموږ ملګري به هم د ځان سره کېنوې . زه نه غواړم چې ته جدا شې.» ۱۳۱ / ۲۳۱ خو میثاق د ګوند څخه د امین د اېستلو لامل دا ګڼي چې د خلق او پرچم د یووالي وروسته کارمل او امین دواړو د یووالي ضد فعالیتونه پیل کړي وو. کارمل ته د تفتیش او کنترول په کمیسیون کې توصیه وشوله او پر امین د کره لاسوندونو له امله د ګوند څخه د امین د اېستلو پرېکړه و شوه چې تره کي او کارمل مخالفت وښود. د تش په نامه واحد ګوند د هغه مهال کورني وضعیت ته په کتو سره که د ثور په اوومه وسلوال پاڅون نه وای شوای هرومرو امین د ګوند څخه اېستل کېده یا په خپله لکه کارمل د خپلو پلویانو سره له ګوند څخه ووت. پدې ډول ګوند په دوو برخو وېشل کېده ، کورنۍ ستونزې یې لا زیاتېدلې او شونې وه چې ګوند په نورو څو ډلو وېشل شوی وای. که ګوند په څو ډلو نه وای وېشل شوای خو په ډاډ سره ویلی شو چې په ګوند کې د تره کي دریځ کمزوری او د کارمل دریځ قوي کېده او له څه مودې وروسته د کارمل د ګوند د مشرۍ ارمان هم پوره کېده .

. د داودخان له لوري پرګوند برید د دې لامل شو چې د ګوند خلقي اړخ د خپل پاېښت په موخه په متقابل برید لاس پورې کړي، د داودخان واکمني نسکوره اوسیاسي واک ترلاسه کړي. د داودخان دا ډول نسکورېدل کارمل او مسکو نه غوښتل . هماغه دي چې کارمل په څرګند ډول او مسکو په پټه د نوې واکمنۍ په وړاندې دریږي. څکه چې کله د ثور په اوومه خلقي پوځیانو ګوندي مشران له توقیف څخه آزاد او کابل راډیو ته را ولېږدول « کارمل د یو ډول رواني بحران سره مخامخ وو، نوموړي د کودتا برۍ او ماتې دواړه پخپله ګټه نه بلل او خپل ځان یې د دوو ډبرو ترمنځ احساساوه. د پاڅون په برې او ماتې په دواړو حالتونو کې یې خپل ځان قرباني ګاڼه او د دریم چانس پته نه لګیده ...، لدې امله اندیښمن او ناراحته وو. پرله پسې یې سګرټ څکول او په کوټه کې ګرزیده ، په څېره کې یې غوسه او هیجان څرګند وو. هغه به کله وړاندیزکاوه چې رهبري باید پټه شي او پاڅون یې یو فتنه جوړونکی عمل ګاڼه چې د ماتې سره مخ دی. خو کله چې د ځواکونو تناسب د پاڅون کوونکو په ګټه تغییر مونده ویل یې چې ګوند د پاڅون د مسئولیت له منلو ډډه وکړي. »۸۰ / ۸۶ هغه مهال عبدالقادر ویل چې ګوند دې په پټه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت لارښوونه وکړي او دولتي چارې پوځي شورا يعني دی رهبري کړي کارمل هم همدا غوښتل. مسکو هم د کارمل په ځير د پاځون څخه ناخوښی وو. د مسکو ناخوښي د ګرباچف له دې وینا « دا اشتباه وه چې تره کی او امين واک ته ورسيدل. » معلومېږي. د کارمل نارضايتي او د تره کي په وړاندې دريدنه د هغه له هغو څرګندونو څخه بريښي چې د پاځون دوه ورځې وروسته د ثورپه نهمه ( اپريل ۲۹ ) چې تره کی ، کارمل او پوزانف لومړی ځل سره وليدل او تره کي د ګوند د يووالي خبره وکړه کارمل ويلي وو:« په اوسنی شيبه کې عملاً واحد ګوند شتون نلري پداسي حال کې چې ادعا کيږي ګوند واحد دی بيا ولې دوه ګونی چلند کيږي. »۳۹ / ۳۶۱ د پاځون په دوهمه ورځ چې لا حکومت نه دی جوړ شوی د شوروي سفير په شتون کې د ګوند د مشر د څرګندونوخلاف دريدل د ژمنو سياستوالوسره نه ښايي. سياستوالو ته په کاردي چې خپلې کورنی ستونزې په خپل منځ کې د خبرواترو او پوهاوي له لارې حل کړي نه دا چې د پرديو په شتون کې هغه طرحه کړي. خو د کارمل موخه دا وه چې سفير ته د يوه دوست هيواد د سياسي استازي په توګه پلمه او موکه ورکړي چې د ګوند او واکمنی په چارو کې لاسوهنه وکړي. د ګوند له لوري د واک د ترلاسه کولو په هکله د کارمل ناخوښي د محمداعظم سيستاني له څرګندونو نه ښه جوتيږي : «حتی هغه وخت چې د دولت کړنلاره د کابل له راډيو ټلويزيون څخه خپريده ، خلکو کولی شول د ببرک کارمل ناراحتي د هغې د دري متن د لوستلو پرمهال احساس او درک کړي.» ۵ / ۱۱۰ مخکې ويل شوي وو چې د غبرګولي په مياشت کې د سياسي بېرو په غونډه کې کله چې د پرچم مشرانو( لايق او بارق) هم مرکزي کمېټې ته د خلقي پوځيانو د راپورته کولو څخه ملاتړ وکړاو کارمل متقين شو چې پرچم په سياسي بورو کې په اقليت واوښت « د۱۳۵۷ کال د جوزا په څوارلسمه د پرچم د فرکسيون پټ فعاليتونه پيل شول. » د پټو فعاليتونو د پيلولو معنی د دولتي چارو سبوتاژ او اړو دوړو ته لمن وهل او په وروستي ګام کې د واکمنی نسکورول دي . د پنجشيري په وينا د سياسي بيرو د غونډې د پای ته رسيدو وروسته کارمل وړانديز وکړ « چې اعلان کړئ په ګوند کې نور پرچم د مساوي حق د لرلو فرکسيون نه دی » په همدې نامه د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې اعلاميه خپره شوه. غوربندي ليکي چې « د۱۳۵۷ کال د غبرګولي د۱۴ اعلاميې د خپريدو وروسته د تره کي ليدو ته ورغلم او د نوي وضعيت نه مې خپله نارضايتي وښودله. تره کي په ځواب کې وويل ډيره حوصله مې وکړه اوهڅه مې وکړه چې کار دې سرحد ته ونه رسيږي خو کارمل چې پدې مخامخ څوکی کې ناست وو په نيمه تهديد ډوله لهجه راته وويل که د امين د ځانغوښتنې مخه ونه نيسئ و پوهيږئ چې يوه ورځ به ټانک له ټانک سره وجنګيږي. زه پوه شوم چې زموږ د خلکو د حکمت څخه ډک متل له مخې چې دوه پاچاهان په يوه اقليم کې نه ځايېږي او يا دوه پوځه په يوه ځمکه کې نه ځايېږي. لدې امله چې د ټانکونو د جنګيدو مخه نيول شوی وي يو کار بايد ترسره شي چې له ډير غور وروسته اړ شوم دا پريکړه وکړم. »۸۰ /۷۱ پدې هکله چې ولې د پرچميانو له لوري د خلقيانو خلاف دښمنانه دريځ غوره شي ميثاق ليکي:« امين د کورنيو چارو په وزارت کې چې وزير يې نوراحمدنور وو د هغه ترڅنګ سيدداود تړون د ژاندارم او پوليسو د عمومي قوماندان په توګه مقرر کړی وو او تقريبا د هغه په واسطه يې نوراحمدنور بې واکه کړی وو. د امين لخوا د دفاع وزارت په کارونو کې لاسوهنې عبدالقادر ناراضي کړی وو. ببرک کارمل چې وضعيت څارلو، غوښتل د عبدالقادر د ناراضي توب څخه په خپله ګټه استفاده وکړي.مېرمن اناهيتا يې ورنږدې کړې وه او هڅه يې کوله د لوی درستيز شاه پوراحمدزي او نورو پرچمي صاحب منصبانو په همکاری د دفاع وزارت او کورنيو چارو وزارت کارونه کوردينه کړي ، ترڅو واک ته د رسېدو په موخه کارونه سر ته ورسوي. » ۷۹ / ۲۷۴ همدا رنګه پدې اړه د سليمان لايق زوی ، غرزی د سپرغی په ويب پاڼه کې د۲۰۱۴ کال د جون په شلمه د (نګاهي به نيم رخ ديګرواقعيت ) تر سرليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې یوه لیکنه خپره کړېده چې دا لیکنه یې د خپل پلار د یادداښتونو ، څرگندونواو خپلو مشاهداتو پربنسټ چمتو کړې ده چې د کارمل د پلویانو د گوندي ضد کړنو د یوې برخې څخه پرده پورته کوي او بالمقابل د خلقي اړخ غبرگون هم یکې راوړي. دلته به د نوموړې لیکنې لنډیز وړاندې شي :« د نوموړي فرمان د متن د پلي کولو په موخه په پرچمیانو کې د پټ کار د سمبالولو لپاره په لومړي گام کې نجیب الله ، محمود بریالی او عبدالوکیل غوره شول. ډیر ژر د کابل په هوټل کې د ناراضي پرچمیانو د لیدنو کتنو جلا او نوې قرارگاه جوړه شوه اوهغه د ملکي او پوځي پرچمیانو په گڼه گونه واوښته. سربیره پردې د ځوانانو د دموکراتیک سازمان دفتر( برهان غیاثي) او د سرې میاشتې د ریاست مرکزي دفتر( دکتورس اناهیتا راتب زاد) هم د ناراضه پرچمیانو د لیدنو کتنو په بې درد او سره ځایو واوښتل. له پلار څخه مي اوریدلي وو چې یو ماښام تره کي خپل هستوگنځي ته بللی وو او د خبرو اترو په ترڅ کې یې د گیلې په شکل ورته ویلي وو: « لایق صاحب زه ببرک جان ته حیران یم، د گوند باندې یې د پټ سازمان په جوړولو لاس پورې کړی دی . تاسې وگورئ چې بریالي ته دنده سپارې په منظم ډول زما لیدو ته راشي او زما صفتونه وکړي ، ما ته رهبراو لاربښود ووایي او ماته ډاډ راکړي ، خو نجیب په پرله پسې توگه زما خلاف ولمسوي او په لیدنو کې پر ما راودانگي او خپله غوسه او کینه وښیي او ما د هغه په وړاندې یوه اقدام ته اړباسي. نه پوهیږم چې هغه بیا په کومه لوبه لگیا دی ؟ بالاخره د۱۹۷۸ کال د جون د اوولسمې په غونډه کې نجیب ، وکیل او بریالی د گوند د یووالي د کنفرانس د لوزنامې څخه په سرغړونه اود گوند نه بهر د گوندي هستې د جوړولو له امله د رایو په اکثریت پرېکړه وشوله چې هغوی سفیران شي. بارق او لایق هم د سفیرانو په توگه د نوموړو د لیږلو په اړوند موافقه رایه ورکړه چې پدې توگه د لومړي ځل لپاره د پرچمي مشرتابه ترمنځ درز پیدا شو. د همدې غونډې پریکړه په پرچمیانو کې خپره شوه او اعلان یې کړل چې لایق او بارق د وزارت د څوکیو او د تسلیمی د روحیې له امله د دښمن سره یوځای شول. د جون په اتلسمه یعني یوه ورځ وروسته کارمل د نورمحمدتره کي سره په غیرمعمولي کتنه کې له هغه نه غواړي چې دی هم خارج ته ولیږي.» غرزی لایق په خپله لیکنه کې د انټرینټ څخه د پوزانوف یو یادداښت چې د کارمل د څرگندونو یا په بله خبره پوزانوف ته د شکایتونو پربنسټ تهیه شوی له انگریزي نه ژباړلی او یکې راغلي دي: « په وروستیو کې لیدل کیږي چې په گوند کې یووالی له منځه تللی ، زه نه غواړم ستونزې جوړې کړم. د سیاسي بیرو د جون د اوولسمې نیټې د پریکړې له مخې یو شمیر ملگري د سفیرانو په توگه ټاکل شوي دي زه او نوراحمدنور غوره گڼو چې موږ هم د سفیرانو په توگه یا د درملنې په نامه بهرته ولاړ شو...له بده مرغه زه نه په گوند او نه په پوځ کې امکانات لرم چې له خپلو تزسونو څخه دفاع وکړم.» غرزی د نوراحمد نور سربیره د اناهیتا نوم هم یادوي. ضمنا هغه دا هم لیکي چې نور په پراگ او کارمل په واشنگټن کې سفیران گومارل شوي وو او هغوی خپل سفارتونه سره بدل کړل. غرزي لایق د خپل پلار د یوه یادداښت یوه برخه هم راوړې چې لیکي : « پدې ترڅ کې ځینې گوندي رهبرانو هڅه وکړه چې سفیران خارج ته له دندو څخه منصرف کړي او هغوی وهڅوي بهر ته لاړ نشي. په یوه ناکامه هڅه کې ، د ځېنو سفیرانو سره د یوې خصوصي کتنې په ترڅ کې وغوښتل شول خپل گوندي ملگري یوازې پرې نه ږدي. نور احمد نور او عبدالوکیل دواړو ټینگار کاوه چې د دوی تگ حتمي دی ، موږ خپله پریکړه کړې ده ، که لاړنشو امین مو وژني ، د ټولو دنده ده چې خپل سر وساتي. » غرزی په خپله لیکنه کې اعتراف کوي چې دی هم یوځل کابل هوټل ته نجیب الله ته ورغلی وو.

د پورتنیو څرگندونو څخه بریښي چې کارملیانو د هغه د دستور له مخې په گوندي او دولتي ضد کړنو لاس پورې کړی وو چې د پوځي کودتا لپاره چمتووالی یې هم له پامه نه وغورزولی. د هغه مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غزني د څوارلسمې فرقې د قوماندان محمدنبي عظيمي څرګندوني يې ښه بېلګه ده چې عبدالوکيل په کابل کې ورته ويلي وو: « ماغوښتل د اردو د وسلوال پاڅون په اړه ستا او د څوارلسمې فرقې د ملګرو چمتووالی ملګري ببرک کارمل ته ورسوم.څه فکرکوې ؟ آيا کولی شئ په هغه ځای کې د فرقې خپلواکي اعلان او زموږ د غوښتنې په صورت کې د کابل په لور مارش وکړئ. » ۱۲۹ / ۱۵۸- ۱۵۹ عظيمي د خپل چمتووالی ډاډ ورکړی او په بل ځای کې ليکي چې د ۱۳۵۸ کال د مرغومي د شپږمې وروسته د چهلستون په ماڼۍ کې کارمل له ده څخه د ده د چمتووالي له امله خپله مننديي هم څرګنده کړې وه. د پرچميانو له لوري کودتا ته د چمتووالي په اړه جنرال لياخفسکي د افغان غميزه اوميرانه نومي خپل کتاب په ۵۶ مخ کې د پرچميانو د کنګرې په اړه راوړي چې د۱۹۷۸ کال د جون په مياشت کې په پغمان کې جوړه شوې وه چې په هغې کې د واک د نيولو پروګرام جوړ شو. همدا رنګه«د ثور د کودتا وروسته ببرک کارمل د خلق د اړخ خلاف د بلې کودتا په فکر کې شو، خو مخکې لدې چې اقدام وکړي حفيظ الله امين او همکارانو يې له ډګره وباسه . » ۳۰ / ۹۰ کله چې وکيل ، نجيب او بريالی د ګوندي ضد فعاليتونو له امله سفيران شول يوه ورځ وروسته کارمل د تره کي څخه غوا ړي چې دی ، نور او راتبزاد هم غواړي خارج ته د سفيرانو په توګه وليږل شي. تره کی چې د داسې يوه فرصت په تمه ناست وو کارمل په چکوسلواکيا، اناهيتا په يوګوسلاويا،نوراحمدنور په امريکا، عبدالوکيل په بريتانيا، نجيب الله په ايران، محمود بريالی په پاکستان کې د سفيرانو ،عبدالمجيد سربلند په بمبيي کې جنرال قونسل او فدامحمد دهنشين په کويت کې د قونسل په توګه مقرر کړل. البته يو شمېر پرچميانو چې په هېواد کې د ټيکاو ليوال وو خلقي مشرتابه ته د خپلو پرچمي ملګرو د ګوندي ضد او حکومتي ضد کړنو په اړه رپوټونه ورکول چې ميثاق د خپل کتاب په ۳۰۰ مخ کې د نورمحمدتره کي او د حفيظ الله امين د رپوټ له مخې د بارق شفيعي او غوربندي نومونه يادوي. عجيبه دا وه سره لدې چې کارمل پخپله خوښه سفارت منلی وو خو « د جون په يوويشتمه په غيرمترقبه ډول کارمل ، بريالی، سربلند، او اناهيتا د سفارت د دروازې د مخې سره را څرګندشول. خو د سفارت د ساتونکو سره د لنډو خبرو وروسته د موټرو کتار چې څلورعرادي وو د سفارت له مخې لېرې شول او په کوڅو کې تري تم شول . ميلمنو ته ويل شوي وو چې پوزانوف ښار ته تللی دی پداسې حال کې چې داسې نه وو ځکه سفيرسره لدې چې رخصتي وه په دفترکې وو. د موټرو کتار د څه واټن وهلو وروسته د تاس ماڼۍ ته چې هلته خبريال ژوند کاوه ودريدل. کارمل د تاس د آژانس له پخواني مسئول سره پيژندګلوي لرله چې اوس د کابل څخه تللی وو او د هغه په ځای د کی جی بی نوی مامور لئونيد بيريوکوف راغلی وو...، د ماښام په لسو بجو د ده د کور د دروازې سره د درېدلو پيژندل شوو پرچميانو په ليدو سره بيريکوف حيران شو.کله چې بيريکوف دروازه خلاصه کړه ببرک کارمل وويل : زه ببرک کارمل يم پداسې حال کې چې د ده سره راغلي کسان يې معرفي کول اضافه يې کړل دوی ټول زما ملګري او د مرکزي کميټې غړي دي. بيريکوف چې لړزيده وويل هو ملګری کارمل زه تاسې پيژنم ، ډيرخوښ يم مهرباني وکړئ ننوزئ . کارمل ښه به وي چې موټرهم سرای ته د ننه يوړل شي ...، هغه د ناڅاپي راتلو موخه داسې توضيح کړه لازم دي فوراً د ملګري پوزانوف سره ملاقات وشي ، خو زموږ دا هيله ردوي ، خو دا کار خورا عاجل دی . بيريوکوف د وروستيو توضيحاتو نه پوه شو چې د ميلمنو له نظره شوروي ملګري د سياسي بيرو له پريکړې څخه يعنې د پرچميانو د افتخاري تبعيد څخه خبرندي او که د شوروي مشرتابه له واقعيت څخه خبر شي فوراً به مداخله وکړي او سپين سترګي خلقيان به په ځای کينوي. کله کله به ميلمنو د ټلفون څخه زنګ واهه او کوښښ يې کاوه په پښتوخبرې وکړي ځکه چې بيريوکوف پرې نه پوهيده...، هغوی په څرګنده توګه تره کي ته ښکنځل کول او په سپکه به يې امين ياداوه.» ۶۳ / ۸۹ – ۹۰ لکه څرنګه چې د امنيتي ملحوظاتو له امله د شپې ګرزيدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیز لګیدلی وو، نابلل شوو پرچمي مشرانو د شپې نوم نه درلود شپه یې هملته تیره کړه او سبا سهار له دې کور څخه ووتل. لدې څخه ښکاري چې کارمل هیله لرله چې پوزانوف به له هغه سره مرسته وکړي خو سفیر پوهېدلو چې تره کی یې خبره نه مني او یا دا چې سفیر هم غوښتل چې پرچمي مشران له هېواد څخه لاړ شي. د کشتمند دا وینا چې تره کي ورته ویلي وو هم ښیي چې تره کي د شوروي د سفیر وړاندیزاو د پرچمیانو په اند فشار ته غاړه نه ده ایښي « هیڅوک حق نلري چې د بل چا استازیتوب وکړي. ستاسي رهبر کارمل شوروي سفیر ته شکایت وکړ څه ګټه یې وکړه چې ته یې بیا تکراروې.» ۴۰۶ / ۳۹

د پرچم مشران بهر ته ولاړل خو څه موده وروسته د هغوی یو شمیر ملګري د کودتا په تور زنداني شول او په تحقیقاتو کې یې ویلي وو هغوی د پوځي کودتا هوډ درلود او په بهر کې پرچمي سفیران په کودتا کې ښکیل دي نو هماغه دي چې د دې سفیرانو نه غوښتل کیږي چې هیواد ته راستانه شي خو هغوی هیواد ته نه راستنیږي او د خلقي حکومت د ادعا له مخې د سفارتونو شتمنی یې هم له ځانه سره وړي او د وارسا د تړون اړونده هېوادونو کې پټ ژوند غوره کوي. په پاکستان کې سفیر محمود بریالی لومړی خپل ورور کارمل چکوسلواکیا ته ورځي او د هغه نه یو لیک د شوروي مشرانو په نامه اخلي او بیا مسکو ته ځي. نوموړی د نیکراسوف په نامه د کی جی بی یوه مامور ته د ټیلیفون له لارې وایي: « د بشریت په نامه ! موږ وژغورئ ! د بشریت په نامه! موږ وژغورئ! هغه دا خبره په څوڅو ځله تکرارکړه او په هرځل یې په سلګیو سلګیو ژړل. زه نه پوهیږم چې څه وکړم . زه هیڅ شی په لاس کې نلرم چې پخپله یې وکړم . زموږ یواځینی او ټوله هیله شوروي ملګري دي . زه له ببرک کارمل څخه لیک لرم خو نه پوهیږم چې دغه لیک چاته ورکړم. » ۱۲۴ / ۸۱ د شب های کابل نومي کتاب پرچمي لیکوال په بهر کې د سفیرانو د خلقي ضد فعالیتونو په هکله د کتاب په ۷۱ مخ کې لیکي: « تره کی او امین پدې نظر وو چې د کارمل او د هغه د ډلې په تبعیدولو سره به د پرچم د اړخ د جنجالونو څخه بیغمه شي خو دا یوه تیروتنه وه. ځکه چې د هیواد څخه بهر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د سفیرانو او سیاسي استازو په توګه د پرچم د اړخ د مشرانو ګومارنه چې له هره اړخه خوندي وو د هیواد په د ننه کې د خپلو پټو سازمانو سره اړیکې لرلې او هغوی ته یې دستورونه ورکول. د ظهور رزمجو، فرید مزدک، نجم الدین کاویاني، محبوب سنګر، سیداکرام پیګیر، خدایداد بشرمل او ... په څیر کدرونه او سلګونه نورې کوچنی او لویې کړی فعالې وې ،په پټه یې د ځمکې لاندې خپل اپوزیسیوني فعالیتونه پرمخ وړل او د رژیم خلاف یې د هیواد په ګوټ ګوټ کې ورانکاره فعالیتونو ته سازمان ورکاوه.» پرچمي مشران چې اړ شول د سفیرانو په توګه بهر ته لاړشي د نجم الدین کاویاني په وینا بهر ته د تللو مخکې « د کارمل یواځینی توصیه خپلو پلویانو ته د خدای په امانی په مهال دا وه چې ټولې هڅې د تره کي او امین د رژیم د بدنامولو او ناکامولو په موخه را ټولې کړئ او بس.» ۵ / ۱۱۱

کله ناکله په تاریخ کې واک ته د رسېدو په موخه د ځینو سیاستوالو کړه وړه تکراریږي. دلته خبره د هغو سیاستوالو څخه ده چې په ولس کې اعتبار نلري خو د واک مدعیان دي ، واک ته رسیدل د پردیو پرمټ غواړي او د هغوی د مرستي او ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره په هرکار،حتي د خپل پلرني ټاټوبي په خرڅولو هم لاس پورې کوي. انترناسیوناست محمود بریالی ، سترمجاهد او د ناټویي اشغال پر مهال اعلان شوي ملي اتل!؟ احمدشاه مسعود د دغو سیاستوالو څخه دي. په ۱۹۷۸ کال کې په مسکو کې شوروي څارګر نیکراسوف ته د بریالي د ژړا او زاریو په هکله مو ولوستل . د څه د پاسه شلو کلونو وروسته احمدشاه مسعود چې د هغه بهرني حامیان نوموړی چګوارا ، ناپیلیون ، پوځي نابغه او... شمیري د امریکایي لیکوال ستیوکول په وینا« په دوشنبه کې پخپل کور کې مسعود تامسن ته ژړا وکړه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په ګوټ ګوټ کې د ده پاشلو متحدینو ډیرمحدود پرمختګ کاوه ، اکمالات یې محدود وو ، کرزیان د کندهار په شاوخوا او پاکستان کې ترسخت فشارلاندې وو. تامسن ته یې وویل دوستم داسې فکرکاوه چې له راستنیدو سره سم به یې ټول ازبکان وسله پورته کړي او په پاڅون به لاس پورې کړي خو دا کار ونشو. زه پخپله پردې ګروهه نه یم چې د طالبانوماتیدل به ژر شوني وي.» ۱۴۴ / ۸۱۷ پردیو ته د انقلابي بریالي او مجاهد مسعود ژړا که له یوې خوا د هغوی د شخصیتونو کمزوري ښیي له بله پلوه په پردیو پورې د دوی تړلتوب هم ننداري ته ایږدي . روسان او امریکایان د همداسې لوېدلو سیاستوالو په لټه کې وو. روسانو او امریکایانو هغوی او د هغوی همفکران پخپلو غیږو کې ونیول او ونازول او د افغانستان د نیولو په بیه یې ظاهرآ واک ته ورسول.

اصلي موضوع یعني د پرچمیانوخلقي ضد او دولتي ضد کړنوته را ګرزو. د ثور انقلاب وروسته د اګسا کامرې او دوربینونه د پرچمیانو لوري ته راګرزول شوي وو. په پرچمیانو کې ملي ګټو ته ژمنو او همدارنګه اپورتونېستو غړو یې چې دوهمې ډلې یې دوه ګونی رول لوباوه هم اګسا ته د خپلوملګرو د نقشو او د پرچمیانو په خبره د مخفي مبارزې په اړه رپوټونه ورکول . د کارمل د دستور پربنسټ د هغه پرچمي پلویان د حکومت د اداري چارو او سمونو د سبوتاژ ، په خلقي اړخ کې دې یا هغه مشر ته په غوړه مالۍ او ورانکاریو بوخت شول. لکه څرنګه چې پورته ویل شوي وو بریالی د تره کي د ستاینې او غوړه مالۍ او نجیب بیا د هغه د غوسې راپارولو لوبه پیل کړې وه او وکیل هم د امین سره د لا نږدې کېدو تمرین کاوه څرنګه چې پدې هکله یو کست د اګسا په لاس کې لویدلي وو چې « نوراحمدنور وکیل ته وایي چې لانورهم د امین سره ځان نږدې کړئ او وکیل د نوراحمدنور په ځواب کې وایي چې زه خو ډیر کوښښ کوم خو امین پدر ۰۰۰ راباندې باور نه کوي. »۶۰ / ۸۲ د اګسا د کشفي اوڅارګري فعالیتونو پایله دا شوه چې د پرچمیانو د ګوندي او دولتي ضد کړنو په اړه لاسوندونه برابر شي او د جون د اوولسمې نیټې د سیاسي بیرو غونډې ته یې وړاندې کړي. په سیاسي بیرو کې لایق او بارق د پرچم د فرکسیون مشران هم د خپلو ځوانو پرچمي ملګرو( نجیب الله ، بریالي او وکیل ) ګوندي ضد کړنې وغندې او د سفیرانو په توګه مقرر شي . کله چې کارمل ولیدل چې د ملګرو د پټو فعالیتونوڅخه یې پرده پورته شوه او پدې ډول په خپله پیل کړې لوبه کې پاتې راغی یوه ورځ وروسته« د جون په اتلسمه پداسې حال کې د تره کی دفترته ننووت چې د شوروي سفیر پوزانوف او لوی ګوندي سلاکار خازاروف د تره کي سره وو،کارمل بیله دې چې لوی سفیر ته پام وکرزوي د واکمن وضعیت نه شکایت وکړاو د تره کي څخه یې وغوښتل چې نه منونکي وضعیت ته د پای ټکی کیږدي.» ۳۹ / ۳۷۸

د پورتنیو څرګندونو نه او د هغه مهال له بهیرونو څخه بریښي چې کله د جون په اتلسمه په خپله خوښه کارمل د ګوند مشر ته وړاندیز وکړ چې دی، نوراحمدنوراو اناهیتا راتبزاد هم بهرته ولیږل شي سیاسي بیرو د جون په ۲۴ پریکړه وکړه چې هغوی هم سفیران شي اودوی ټول د خپلو نویو دندو په لورخوځیږي. کارمل چکوسلواکیا ته د تګ په لار څو ورځې د مسکو په اکراین نومې هوټل کې تم شو. کارمل په مسکو کې د ( ا ، خ ، د ، ګ) د ګوندي کمیټې ځېنو غړو ته چې ده ته ورغلي وو د سفیر په توګه دندې ته د غاړې ایښودلو په هکله ویلي وو : « په یوه زین باندې دوه کسه نه ځائیدلو، نه مې غوښتل چې د وینو سیلاب وبهیږي نو ځکه مې د آس زین نورمحمدتره کي ته پریښود او زه ترې راووتلم. » ۱۲۲/ ۱۶۰ د کارمل دا وینا د تره کي د هغه خبرې سموالی ښیي چې غوربندي ته یې ویلي وو چې دوه پاچایان په یوه اقلیم کې نه ځایږي. یو بهرنی څیړونکی د کارمل شونتیاوو او واک ته د رسیدو د لیوالتیا په اړه لیکي :« ددې حقیقت سره سره چې ببرک کارمل د خلک دموکراتیک ګوند د خورا مشهورو لاربښوونکو څخه معرفي شوی خو دا یې نشو کولای چې د خلک دموکراتیک ګوند او یا د وسلوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونو اړين ملاتړ حاصل کړي ترڅو د تره کي يا امين پرضد يو بريمن چلنج پيښ کړي .» ۱۴۵ / ۱۳۰ کارمل سفارت ته د تلو مخکې خپلو پلويانو ته ددې سربېره چې د تره کي او امين د رژيم خلاف کړنو ته دوام ورکړي دا هم ويلي وو:« هغه به بيرته هيواد ته سور بيرغ په لاس کې راستنيږي. »۴۹ / ۵۴ چې بيله شکه دا ډاډ شوروي اړخ هغه ته ورکړی وو او د مسکو چارواکو خپلې ژمنې ته د۱۹۷۹ کال د دسمبرپه اووه ويشتمه عملي جامه ورواغوستله. کارمل نه يوازې سور بيرغ په لاس بلکې د شوروي د سره لښکر سره افغانستان ته راستون شو. کارمل او د هغه فرکسيوني ملګري ( نوراحمدنور، اناهيتا راتبزاد، بريالی، نجيب ، وکيل) له هيواده ووتل خو خپلو ملګرو ته يې د کودتا دستور پريښود او د مختلفو شبکو له لارې چې د شوروي سفارت شبکه يې خورا فعاله وه د پرچميانو د پټې مبارزې په مخته وړلو کې مرسته کوله. په هالند کې مېشت پرچمي آرين اميني وايي چې بهر ته د کارمليانو د تګ وروسته چې تنکی ځوان وم د خپل مشر ورور د هدايت له مخې په بايسکل د شوروي سفارت مخې ته تللم او يوه شوروي به اعلاميې را کولې او هغه به مې خپل ورور ته ورکولې او يا به مې هغه په پټه وېشلې .د پرچميانو دا کړنې د اګسا نه پټې نه وې او پايله يې د زيات شمير پرچميانو زنداني کيدل او د شاه پور احمدزي په څېر د هغو پرچميانو وژل شول چې د کی جی بی سره يې اړيکې نه درلودلې او هغوی چې د کی جی بی تنخوا خواره وو لکه کشتمند، رفيع ، قادر او نور ژوندي پاتې شول . لدې څخه ښکاري چې د پرچميانو له لوري د خلقي واکمنۍ په وړاندې پوځي کودتا تور نه بلکې واقعيت وو. خلقي مشرانو بهر ته د پرچمي مشرانو شړنه بری ګڼلو خو دا د غازی امان الله خان په شان د تره کي تيروتنه وه چې هغه هم نادرخان او ورونه د سفيرانو په توګه وګومارل ګنې چې هغوی يې بې اغيزې کړل خو وليدل شول چې څه موده وروسته انګريزانو نادرخان او روسانو کارمل واک ته ورسول.

## سمونونه او غبرګونونه

د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند داسې مهال واک ترلاسه کړچې افغانستان د نړۍ د خورا وروسته پاتې هېوادونو څخه شمېرل کېده . غوڅ اکثريت خلک يې په کرنه او مالدارۍ بوخت وو. خو بيا هم دومره کرهنيز توکي نه توليدېدل چې د ټولنې لومړنۍ اړتياوې پوره کړي لدې امله د لومړنيو خوراکي توکو(غنم ، وريجې ، شکره ،غوړي ) ستره برخه له بهرڅخه واردېدله.لامل يې د واکمنو غيرعادلانه توليدي مناسباتو سربيره کرنه د بابا آدم (ع) د زماني په شان پرمخ بيول کيده. زياتې کرهنيزې ځمکې د لويو ځمکه والو په واک کې وې او هغه يې بې ځمکې او لږځمکې بزګرو او زراعتي کارګرو ته په دهقانۍ يا اجاره ورکولې. کروندګر اړ وو چې ټول کال د خپلې کورنۍ سره ګډ د ملاکانو په ځمکه کار وکړي او د حاصلاتو د راټولولو پرمهال دومره څه ترلاسه کړي چې يوازې ژوندي پاتې شي. هرې کورنۍ ته د غم او خوښۍ پېښې راتلونکې دي .په افغاني ټولنه کې د واکمنو دودونو او رواجونو له امله د خپلوعزيزانو په ماتم کې ناست بزګر مکلف وو چې د تدفين او تکفين او يا د خپلو زامنو د واده ملاماتونکي مراسم ترسره کړي. دا کارهغه وخت شونی وو چې بزګر د سيمې د شتمنو څخه پيسې قرض يا په سود واخلي او يا خپله ځمکه ګرو کړي. شتمن چې د دې فرصت په تمه وو د بيوزلو ځمکې په ګروۍ اخيستې او يا به يې په لوړ سود پيسې ورکولې. سود په اسلام کې ناروا دی خو زموږ په ټولنه کې روا کار شميرل کېږي. بې وزلو چې د ملاماتوونکي سود د ورکولو وس نه درلود د وخت په تيريدو سره اړ کيدل خپلې ځمکې سودخورو ته وپلوري . کله به چې د سود د نه ورکولو له امله خبره محکمې ته ورسيده په قضايي ارګانونو کې د شته فساد له امله بزګران اړ وو چې بدې ورکړي او يا بنديان شي. هغو بزګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځمکې له لاسه ورکولې د کارمونډلو لپاره ښارونو ته مخه کوله خو په ښارونو کې هم هغوی کارنه موندلو ، ډیری یې او په تیره ځوانه برخه یې اړکیدل چې په ناقانونه ډول بهرنیو هیوادونو ته لاړ شي. د چنګاښ د کودتا وروسته د اتمو ټولګیو له فارغانو څخه د کانکور د آزموینې قانون د دې لامل شو چې هرکال زرګونه تنکي ځوانان د زده کړو نه محروم او په دې ډول په هېواد کې وزګاره میلیوني لښکر زیاتیده. شاوخوا دوو میلیونو کوچیانو د سیمې له خلکو سره ستونزې او کله ناکله شخړې لرلې. هغوی په بشپړ ډول له روغتیایي خدمتو نه محروم وو او د ماشومانو لپاره یې ښوونځیو شتون نه درلود. ډیری بزګرو د اقتصادي ستونزو له کبله دا وس نه درلود چې خپل زامن ښوونځیو ته واستوي او په غوڅ اکثریت کلیوالي سیمو کې د نجونو د ښوونځیو څرک نه لګیده. پدې توګه بېسوادي د افغاني ټولنې ځانګړتیا وه. په پرمختللو ټولنو کې په مورنۍ ژبه لومړنۍ زده کړې د هر ماشوم حق دی خو په افغانستان کې لږکیو دا شونتیاوې نلرلې. عجیبه خو لا دا وه چې په پلازمېینه ،کابل کې چې نیمایي اوسیدونکي یې پښتانه وو ، پښتانه ماشومان هم اړ وو په دري ( پارسي) ژبه خپلې زده کړې تر سره کړي. د پلازمېینې په لوړو پوهنیزو بنسټونو کې زده کړې په دري ژبه پر مخ تللې چې اوس مهال هم همداسې ده.

په دولتي ادارو کې د مامورینو په استخدام کې بیعدالتي موجوده وه. د مامورینواو کارګرو( اجیرانو) په ماکولاتو کې توپیرشتون درلود. دولتي کارګرو روغتیایي بیمه نلرله. البته چې د مامورینو پرته ټول ولس هم د روغتیایي بیمې څخه بې برخې وو لکه څرنګه چې اوس هم وضعیت د هغه مهال په څېر دی. لدې څخه معلومېږي چې د ټولنې غوڅ اکثریت وګړو او په تېره کروندګرو او کوچیانو د ستونزو او کړاوونو ډک ژوند درلود، بېسوادي او بیکاري یوه ملي ستونزه وه. د افغانستان د هغه مهال وضعیت د آلمان شپیګل مجله داسې ارزوي:« افغانستان د نړۍ یو وروسته پاتې خوار هېواد شمېرل کېږي او د نړۍ ماجراجو هېواد پېژندل شوی دی. دا هېواد د وسپنې پټلۍ نلري او د سمندر څخه بې برخې دی. د غونډیو او درو نه یې د لوست او لیک څخه محروم کوچیان د اوښانو ، آسونو او پسونو سره ځي او راځي، د ځېنو ښارونو پرته تر اوسه د منځنیو پېړیو شرایط واکمن دي. د درو او غرونو تر منځ یې کوکنار کرل کېږي چې افغانستان یې د تریاکو په ستر تولیدوونکي اړولی دی. د وینې کسات شتون لري، ښځې په بشپړ ډول پټې دي،د ژوند متوسط عمر څلوېښتو کلو ته رسېږي...، دا چې څومره نفوس لري هېچا ته معلوم ندي. کېدای شي ۱۳ میلیونه یا ۱۹ میلیونه وي . تر اوسه دا غرنی هېواد غیر اقتصادي دی خو د آسیا مهمه ستراتېژیکه نقطه ګڼل کېږي...» ۱۴۶ په مجله کې د یوې مسألې پرته چې افغانستان ماجراجو هېواد ښیي نوره ارزونه یې بشپړه سمه ده او د هغه مهال د افغانستان ربښتینی انځورکاږي. له بده مرغه د څه د پاسه څلورو لسیزو په تېرېدو سره اوس هم موږ د هماغه افغانستان شاهدان یو. د بېلګې په توګه اوس هم معلوم نه دي چې افغانستان څومره نفوس لري ، پنځه دېرش میلیونه یا پنځه څلوېښت میلیونه. خلقي حکومت وو چې په ۱۳۵۸ کال کې یې سرشمېرنه تر سره کړه چې د هېواد د اوسیدونکو شمېر یې څوارلس نیم میلیون تنه اعلان کړ .

واکمنۍ د دې ګڼ شمېر ستونزو د حل چاره د پیاوړي وفاداره پوځ په جوړولو، د بیوزلو وګړو په ګټه د سمونونو په پلي کولو، د ځمکو په دموکراتیکو اصلاحاتو ، د بیسوادۍ د له منځه وړلو ، د ملي مسئلې په عادلانه حل او د ښځو د حقوقو په خوندي کولو کې لیدل او خپله دنده یې ګڼله چې دا حالت بدلون ومومي او د سمونونو او اصلاحاتو په پلي کولوسره دا ګڼ شمېرستونزې حل کړي. له همدې کبله انقلابي دولت د سمونونو د راوستلو په موخه یو لړفرمانونه صادر او اړین قوانین او لوایح جوړکړل چې د انقلابي شورا شپږم، اووم او اتم لمبرفرمانونه یې د یادولو وړ ښکاري. دا فرمانونه د ګوند د مخالفینو له لوري اسلامي ضد، بېوخته او بېره ناک وګڼل شول پداسې حال کې چې « د خلقیانو د ځمکو اصلاحات

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د ټولنې او د فيوډآلي نظام نابرابريو او ټولنيزو ستونزو ته يو مناسب او خیرغوښتونکی ځواب وو.» ۴۷ / ۳۵ پر بله خوا د همدې ليکوال له انده شورويانو د خلقيانو دا حرکتونه ډېر ځانغوښتونکي شمېرل. که څه هم د خلقي حکومت دا سمونونه د اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وو ، ډېر بنسټيز هم نه وو بلکې د وخت غوښتنه او اړين وو خو د وروسته پاتې افغاني ټولنې له واکمنو دودونو او واکمن ذهنيت سره په ځینو برخو کې په ټکر کې وو . خلقي واکمني سره لدې چې د کورنيو پرشا تلونکو او محا فظه کارو کړيو او له بهرڅخه د پانګوالي نړۍ د پټو او ښکارو ښکاره لاسوهنو هدف ګرزيدلې وه د ګوند د عمل د کړنلارې د پلي کولو په موخه د هيواد اقتصادي په ټپه ولاړ حالت ته د ساه ورکولو او د خلکو په ژوند کې د مثبت بدلون په موخه په ګړنديو هراړخيزه سمونونو لاس پورې کړ. حکومت د انقلاب دې اصل ته په کتو سره چې انقلاب هغه وخت ارزښت لري چې د ځانه دفاع وکړي د پوځ د جګړه ئيز چمتووالي لوړولو او پياوړتيا ته متې بد وهلې. پوځ ته يې د وفاداره افسري کدرونو د چمتو کولو په موخه د لنډې مودې پوځي کورسونه جوړ او په هغو کې يې د ګوند او د ځوانانو د سازمان د غړو روزنه پيل کړله . د دې کار پايله دا شوه چې د افغانستان پوځ په يوه ډاډمن او ځواکمن پوځ چې د هيواد کورنيو او بهرنيو دښمنانو ته د سترګو اغزی وو واوړي. په ادارو کې د سمونونو د راوړلو په موخه لومړی ګام د مامورانو او کارګرو( اجيرانو) ترمنځ د تبعيض او توپير له منځه وړل وو. حکومت د مامورينو او کارګرانو د کوپوني توکو او ماکولاتو ترمنځ شته توپير له منځه يووړ.د نويو اصلاحاتوله امله هم دولتي مامورين او هم کارګران د يو شان غلګي او ماکولاتوڅخه برخمن شول. همدارنګه کارګرانو ته د مامورانو په څېر روغتيايي بيمه په پام کې ونيول شوه. د افغانستان د دموکراتيک جمهوري دولت له لوري پورتني سمونونه ښيي چې موخه يې د ټولنې د ټيټې او خوارې طبقې په ګټه د طبقاتي نابرابريو له منځه وړل وو چې دا د ربښتيني ټولنيز انقلاب د پيل په لور لومړني ګامونه وو. د ظاهرشاه او داودخان د واکمنۍ پر مهال د قانون له مخې هغه کسان په ادارو کې د مامورانو په توګه استخداميدل چې د دوولسم ټولګې شهادتنامه ولري. خو په هيواد کې داسې پوهان لږ نه وو چې د ليسو مخ يې هم نه وليدلی خو په خصوصي توګه يې زده کړې کړې وې چې پوهه يې د ليسانس د ډيپلوم لرونکو نه هم لوړه وه چې عبدالحی حبيبي اوعبدالشکور رشاد يې څرګندې بېلګې دي چې دواړو حتی متوسطې زده کړې نه وې کړې . دواړو شپږکاله زده کړې ترسره کړې وې خو د خپل ذکاوت، وړتيا ، هلوځلو او شخصي څيړنو له امله يې د دايره المعارف حيثيت درلود. د حبيبي څخه ۱۳۲ څيړنيز- علمي آثار په ميراث پاتې شول او له رشاد څخه ۵۹ چاپ شوي او ۸۰ ناچاپه آثارپاتې دي. رشاد د لومړني ښوونځي د پای ته رسولو وروسته چې ديارلس کلن تنکی ځوان وو د ښوونکي په توګه مقرر شو او نوموړي د کوچنی ښوونکي لقب تر لاسه کړ. د ظاهرشاه د زمانې د مامورانو د استخدام قانون څرګنده طبقاتي بڼه لرله او د ټيټو طبقو خلاف جوړشوی وو. د ګوند د واکمنۍ پرمهال هغو کسانو چې اکثراً د لېرې پرتو کليوالي سيمو څخه وو چيرې چې ليسو شتون نه درلود او يا هغو کسانو چې د اقتصادي ستونزو له کبله خصوصي زده کړې کړې وې حق وموند چې د آزموينې په ورکولو سره په دولتي ادارو کې د مامورانو په توګه مقررشي. د ثورانقلاب مخکې د مامورينو ترفيعات د بست د لرلو په صورت کې ترسره کيدل او کوم مامورچې بست نه درلود کلونه کلونه به يې ترفيع نه کوله. هيره دې نه وي چې د يحيی د کورنۍ د واکمنۍ پرمهال بستونه د روابطو پر بنسټ ورکول کېدل نه د ضوابطو او وړتيا پراساس. البته يو شمېر د خوارو کورنيو اړونده کسان هم لوړو مقامونو ته رسېدل خو هغه هم د معتبرو کورنيو سره د پېژندګلوۍ او خپلوۍ له برکته . له همدې امله خوار ،بې وسيلې او بې واسطې مامور په لوړ بست نه مقرريده.نوې واکمنۍ داسې قانون پلی کړ چې مامور به د خدمت د ټاکلې مودې د تيرولو وروسته د مساعدسجل د لرلو په شرط ترفيع کوله. البته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کارمل د واکمنۍ پر مهال بېرته د پاچا د زماني قانون پلی شو. واکمنۍ خپل اصلاحي پروګرامونه یوازې په دولتي بنسټونو کې محدود نکړل بلکه په ټولنه کې یې هم بنسټیزو بدلونو راوستلو ته متې را بډ وهلې.

د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د کړنلارې منځپانګه د زیارکښو طبقو په ګټه د بنسټیزو سمونونو په راوړلو څرخېده چې د ځمکو دموکراتیک اصلاحات، د بیسوادۍ له منځه وړل ، د ملي مسالې عادلانه حل او د ښځو او نارینه وو د حقوقوبرابري یې مرکزي ټکي وو. ګوند د واکمنیدو وروسته بیله ځنډه پدې برخه کې عملي ګامونه اوچت کړل.

لومړی ګام یې په هیواد کې د ښووني اوروزني د بهیر ښه سمبالتیا او شته ستونزو او په تیره د اتمو ټولګیو د زده کوونکو لپاره د کانکورلغوه کول وو چې د خلکو له پراخ ملاتړ نه برخمن شو. نوې واکمنۍ د ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړو د پلې کولو هڅې پیل کړې چې د کابل په لومړنیو ښوونځیو کې د پښتنو ماشومانو لپاره ځانګړي ټولګي جوړ کړل. د بیسوادۍ د له منځه وړلو سره جهاد اعلان شو. د افغانستان د وروڼو قومونو د ژبې او فرهنګ د ودې لپاره په ازبکي ، ترکمني او بلوڅي ژبو د ګوراژ ، یولدوز او سوپ په نامه د جریدو خپرول هغه بیساره اقدام وو چې په سیمه کې یې ساری نه درلود. خلقي حکومت د هیواد په سیاسي ـ ټولنیزو چاروکې د خلکو د ګډون د تامینولو په موخه د مختلفو ټولنیزو او صنفی بنسټونو او جوړښتونو لکه د ځوانانو،ښځو، د کارګري اتحادیو، دهقاني کوپرایتفونو اوتعاوني صندوقونو د جوړولو هڅې پیل کړلې. په ۱۹۷۹ کال کې حکومت د سرشمیرنې په حیاتي او حساس کار لاس پورې کړ چې د هرهیواد او د حکومتونو د اقتصادي – ټولنیزو پلانونو د تطبیق لپاره اړین بریښي. په افغانستان کې د دې کار حساسیت پدې کې وو چې په کلیو کې څوک چمتو نه وو د ښځو په اړوند معلومات ورکړي .د دولت مخالفینو پدې اړه بې بنسټه تبلیغات پیل کړل ترڅو ولس د حکومت خلاف ولمسوي یو د دغو تبلیغاتو نه دا وو چې « دا سرشمیرنه پدې موخه ترسره کیږي چې ځوانا ن تثبیت او بیا یې سایبریا ته واستوي.» ۴۹ / ۳۸

ګوند پدې باور وو چې د ولس د باسواده کولو له امله د ارتجاعي روحانیت او د بهرنیو د تبلیغاتو اغیز کمیږي چې پدې ډول نشي کولای ولس د دولت د اصلاحي پروګرامونو خلاف راوپاروي. د ځمکو د اصلاحاتو په سرته رسولو سره د حکومت وګړنیز ملاتړ پیاوړی کیږي او بزګر د دولت د دفاع په سنګرکې دریږي. د دولت د مخالفینو اصلي وسله په دې لاره کې دین او مذهب وو چې پیل شوي سمونونه چې ټولنه یې د پرمختګ په لور بېوله هغه یې د اسلامي اصولو خلاف ګڼل بیله دې چې پدې اړه په روښانه توګه څه ووایي. په یاد ولرو چې په اسلامي ټولنو کې د اسلام او مدرنیزم ترمنځ ټکرونه تل د دې ټولنو د سیاسي بهیرونواصلي لاملونه وو. په دې ټولنو کې د مدرنیزم او سمونو په وړاندې دیني او مذهبي غبرګونونه په مختلفوکچو خپل اغیز پرې ایښی دی چې د ثورانقلاب وروسته د نوې واکمنۍ د سمونو په وړاندې یې ټاکونکی رول ولوباوه . په افغانستان کې چې غوخ اکثریت خلک په کرنه او مالدارۍ لګیا وو د واکمنوغیرعادلانه فیوډالي او نیمه فیوډالي تولیدي مناسباتو له کبله د زبېښناک لاندې وو . ددې ستونزې د حل یواځینۍ لاره د ځمکو اصلاحات وو ترڅو واکمن تولیدي مناسبات چې د ټولنې د ودې اوپرمختګ خنډ ګرزیدل بدلون ومومي .له همدې امله وو چې نوي رژیم د انقلابي شورا د شپږم او اتم لمبر فرمان په صادرولو سره د دې غیرعادلانه مناسباتو د ماتولو په لار کې عملي ګامونه اوچت کړل. واکمنۍ د بزګرو دې ستونزو ته چې ټولنیزه ستونزه ګڼل کیده په کټلو سره د سود سلم او ګروۍ د ستونزې د عادلانه حل په موخه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ( ا. د . ج) د انقلابي شورا شپږم لمبرفرمان صادرکړ. پدې فرمان کې داسې یومیکانیزم په پام کې نیول شوی وو چې د سود خورو او قرضدارو کسانو له خوا ورکړل شوې روپۍ محاسبه او د سود خوړونکو یا ګروي دار له خوا نور له پوروړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه د سود اخیستل بند او ځمکه بیر ته د هغې اصلي خاوند ته ورکول کیده.د دې فرمان پر بنسټ « یوولس میلیونه افغانان د سودخورو او ګروي لرونکو له ظلم نه وژغورل شول اوهغوی د یودیرش میلیاردو افغانیو له ورکولو ځخه معاف شول. » ۱۴۷ / ۲۵۱ ددې فرمان د ځلورمې مادې له مخې هغو کسانو چې د لسو جریبو لومړۍ درجې او د هغې معادل یا لږځمکه لرله او« هغه یې د۱۹۷۴ ز کال پخوا د سود، سلم او ګروۍ پراساس چې د چا پوروړي وو د پور او سود ځخه معاف وو.هغه بزګران چې د لسو جریبو لمړۍ درجې یا د هغه معادل یا ترهغه د لږ ځمکې خاوندان وو ، که په کال ۱۹۷۴ کې یا تر هغه وروسته د سودسلم یا ګروۍ پراساس د چا پوروړي وو ، د پور اصلي پیسې یې له سود پرته وروسته تر یوه کاله ، پدې شرط چې قانوني سند موجود وي په لاندې ډول ور کولي :که د پور اړوند سند په کال ۱۹۷۴ اړه لرله تر یوه کال وروسته د ټول پور شل په سلو کې، که سند په کال ۱۹۷۵ کې وو ځلویښت په سلوکې تریوه کال وروسته په دوو کلو کې، که سند د کال ۱۹۷۶ وو شپیته په سلو کې تریوه کال وروسته په دریو کلو کې، که سند د کال ۱۹۷۷ وو تر یوه کال وروسته اتیا په سلوکې په ځلورو کالواو که سند د کال ۱۹۷۸ وو نو په سلو کې سل تر یوه کاله وروسته په پنځو کلونو کې ورکړل شي .» ۴۰ /۳۹۵ د ګوند د کړنلارې پربنسټ د واکمنو تولیدي مناسباتو د ماتولو اصلي چاره د ځمکو د اصلاحاتو پلې کول وو له همدې کبله د ځمکو د دموکراتیکو اصلاحاتو قانون د ۱۹۷۸کال د ډسمبر په میاشت کې د انقلابي شورا د اتم لمبر فرمان په صادرولو سره نافذ شو. ددې فرمان پربنسټ هرې بزګرې کورنۍ پنځه جریبه لومړۍ درجه ځمکه یا د هغې معادل په وړیا ډول تر لاسه کوله. د ځمکې په اصلاحاتو کې د ورکړل شوو شمېرنو له مخې د۱۳۵۸ کال د ثور ترمیاشتې پورې ۱۳۴۰۰۰۰جریبه ځمکه ځه د پاسه ۱۳۲۰۰۰ بې ځمکې بزګرو ته په وړیا توګه ورکړل شوه. له دې سره سم د دهقاني کوپراتیفونو شمېره چې په تیر نظام کې له ۱۳۵ کوپراتیفونو ځخه پورته نه وه او غړي یې ټولټال ۱۲۸۳۸ تنه ښودل شوي وو، د کوپراتیفونو شمېره له ۸۲۰ ځخه واووښته او ځه ناځه ۹۰۰۰۰ غړي یې پیدا کړل چې ټوله ونډه یې د ګډون د حق او د غړیتوب د حق له مخې ۳۶ملیونو افغانیو ته رسیده. دغه شان د بزګرانو د مرستې صندقونه هم ۱۸۴۰ صندقو ته پورته شول چې د ورکړل شوو شمیرنو له مخې یې ۷۲۰۰۰۰ غړي لرل. همدارنګه د دولتي فارمونو د جوړولو پلان هم ونیول شو .په دې برخه کې ۱۴۵۰۰۰جریبه ځمکه بیله شوه چې له دې جملې ځخه ۱۷ زره جریبه دولتي فارمونو او پاتې کوپراتیفونو ته ورکړل شوه. د ځمکو اصلاحاتو وښودل چې خلکو د هغو هرکلی وکړ او په ډیرو سیمو کې لوی ځمکه وال پخپله خوښه چمتو وو چې خپلې ځمکې بزګرو ته ورکړي. د ساري په توګه د غزني د مقر په ولسوالۍ کې د حاجي فضل په نامه یوه خان چې درې سوه بزګر یې لرل خپله زرګونه جریبه ځمکه په خپله خوښه دولت ته ورکړله خو همدا خان د پرچمي ولسوال د دسیسې له امله ووژل شو . سره لدې د ځمکو د اصلاحاتو پر مهال له قانون نه سرغړونې و شوې چې لاندې دوه لاملونه یې لرل:

الف – د ځمکو د سروې اړینې شمیرنې په لاس کې نه وې،د اصلاحاتو په پروسه کې پاخه د تجربې او مسلکي پوهې درلودونکی پرسونل په هیڅ حساب وو.

ب- آرمان پالنه تر واقعیتونو لوړه او د خامو احساساتو بهیر واکمن وو.

د دې ستر ټولنیز- سیاسي پروګرام د پلې کولوپه موخه واکمنۍ ته په کار وه چې اړین چمتووالی یې نیولی وای ، په تجربوي توګه یې د ځمکو وېش په یوه یا دوو ولسوالیو کې ترسره کړی وای او د دې تجربې له مخې یې بیا په ټول هیواد کې پلی کړی وای. د ځمکود ا صلاحاتو د پلي کولو ځخه د واکمنۍ موخه د واکمنو تولیدي مناسباتو له ماتولو پرته په هیواد کې د اړتیا وړ خوراکي توکو د تولید د کچې لوړول او د پرمختلونکي صنعت لپاره د اومو توکو برابرول هم وو. خو د شوروي له اشغال وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملاً دا بهير و دريد او برهان الدين رباني د۱۹۹۳ کال د ډسمبر په اته ويشتمه يو فرمان صادر کړ چې د هغه له مخې د پخواني دولت ټول قوانين لغوه شول او په ځانګړې ډول چا چې د«کمونستانو» په واکمنۍ کې ځمکې ترلاسه کړې وې هغه يې بايد د ځمکې پخوانيو خاوندانو ته ورکړې او که يې خاوندان نه وې هغه دولت ته وسپاري. البته چې د خلقي واکمنۍ په ريفورمونو او په ځانګړې توګه د ځمکو د وېش په ترڅ کې نه منونکې تيروتنې وشوې تر دې چې لوی ملاکان سپک هم شول.

که چيرې د خلقي واکمنۍ د سمونونو په وړاندې د مخالفينو تبليغاتو ته ځيرشو هغوی هيڅکله د نوموړې واکمنۍ سمونونه او ټولنيز- اقتصادي پروګرامونه د قرآن کريم د احکامو او د اسلام د ستر پيغمبر(ص) د حديثو په رڼا کې نشوای ردولی ځکه چې هغه د اسلامي احکامو او اصولوسره مخالف نه وو له دې امله يې د عامو شعارونو لکه اسلام په خطرکې دی، کمونستان واک ته رسيدلي او داسې نورو بې بنسټه شعارونو په ورکولو سره د خلکو له بيسوادۍ او د هغوی له سپېڅلو مذهبي احساساتو څخه ناوړه ګټه پورته کړه ، خلک يې د واکمنۍ خلاف بغاوتونو ته وهڅول چې پايله يې کورنۍ جګړه او د پرديو پراخې لاس وهنې ، د شوروي يرغل او د افغانستان نيواک شو.

## د جهاد واقعيتونه

که چيرې د جهاد په هکله د جهادي تنظيمونو او د هغوی د کورنيو او نړيوالو ملاترو تبليغاتو ته وکتل شي پردې څرخيږي چې جهاد د۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې پوځي کودتا وروسته پيل شو. د جهادي ډلو د جهاد په اړه قاضي حسين احمد د پاکستان د جماعت اسلامي امير د هېرالد پاکستاني ورځپاڼې سره په مرکه کې وايي:« د افغان مجاهدينو جګړه د ښاغلي بوتو په زمانه کې پيل شوه. هغه (بوتو) د افغانستان اسلامي رهبرانو ته ټول امکانات ورکړل ترڅو شوروي ته متمايل د داود دولت په وړاندې جګړه پيل کړي. ګلبدين حکمتيار، رباني ، يونس خالص، ټول پاکستان ته د دولتي ميلمنو په شان راغلل. د ښاغلي بوتو د بلنې پربنسټ هغوی ته پوځي ښوونې ورکړل شوې. بوتو زموږ د افغاني پاليسی مهندس وو. ضياً يوازې دې پاليسی ته ادامه ورکړه.» ۱۴۸ پدې اړه د واشنګتن پست په يوه مقاله کې راغلي دي : « په افغانستان کې د پاکستان ستراتيژيکه ليوالتيا طبيعي او د پوهيدو وړ ده. د اشرارو څخه د نوموړې هيواد ملاتړ څلور کاله مخکې د شوروي د۱۹۷۹ کال د مداخلې نه پيل شو. يعنی هغه وخت چې پاکستاني اجنټانو، افغان مسلمان فعالان شوروي ته د کابل متمايل جمهور رئيس، محمد داود د نسکورولو په موخه روزل.»۱۴۹/ ۳۱ پدې اړه به د صبغت الله مجددي څخه واورو چې خپلو جهادي ملګرو ته په يوه غونډه کې وايي: « ورونو ولې درواغ وايئ ، آيا ما ، رباني، حکمتيار او ځينې نورو مجاهدو ورونو د مرحوم محمدداود خان په وخت کې پاکستان ته نه ولاړو او جهاد مو پيل نکړ.» پورتنی څرګندونې جوتوي چې جهاد نه د ثور د وسلوال پاڅون او نه د شوروي د تيري وروسته پيل شوی بلکې د محمد داود د جمهوري رياست پرمها ل پيل شو. او مهمه خبره دا چې د جهاد لارښوونکي افغانان نه بلکې پردي وو چې د سني مذهبه ډلو د جهاد د قوماندې واک د پاکستاني جنرالانو او د شيعه مذهبو د ايراني آخوندانو سره وو. د خواشينۍ وړ واقعيت بيا دا دی چې د جهاد لارښوونه او قومانده هغه هيوادونو لرله چې د افغانستان سره تاريخي ستونزې لري او کمزوری افغانستان يې د بهرنۍ ستراتيژۍ اصلي برخه جوړوي.پردې اساس هرهغه څوک چې د افغانستان د دې تاريخي دښمنانو د سياسي ، مالي او پوځي ملاتړ او مرستې پر بنسټ د افغانستان د خپلواکو واکمنيو په وړاندې جنګيدلي دي د دوی جګړه په هېڅ منطق او په هيڅ دليل د توجيه وړنه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې هکله اړینه بریښي د علامه عبدالحی حبیبي په وړاندې د اسلام آباد د چارواکو د افغاني ضد موخو او ښخپله د حبیبي ځیرکانه او مسؤلانه دریځ په اړه لنډې خبرې وشي او ښکار وه چې جهادي مشرانو د دې ځیرک سیاستوال له کړو وړو د عبرت درس اخېستی وای. حبیبي د سلطنتي کورنۍ د کورنیو تګلارو سره د مخالفت له امله په ۱۳۳۰ لمریز کال کې پاکستان ته کډه شو او هلته یې د آزاد افغانستان په نامه اونیزې او د جمهوریت ږغ په نامه مجلې په خپرولو لاس پورې کړ. هغه مهال چې حبیبي پدې کار لاس پورې کړ یو شمیر درباري فرهنګیانو او حکومتي لیکوالو چې د ناټویي اشغال پر مهال یې د سیاسي خیاطانو نوم ګټلی دی ،واکمنې کورنۍ ته د خوش خدمتۍ له امله د حبیبي د شخصیت د ترور په موخه د ادب او کلام څخه بهر نظمونه او نثرونه لیکل چې د ټولو په پرتله درباري شاعر، د پاچا سلاکار خلیل الله خلیلي خورا فعال وو.حبیبي د خلیلي د سپکو سپورو په ځواب کې د( خلیلي نامه) په نوم رساله ولیکله چې په یوه برخه کې یې داسې یو شعر تر سترګو کیږي :

خلیلي ای خلیلي جان من بین     چراکردی بمن تحقیر وتوهین
شنیدم این که یک پیغام دادي     وقاحت کردي و دشنام دادي
خوی راد مردانست دشنام     بجزاشخاص بی وجدان بدنام

لکه څرنګه چې خبره د خلیلي راغله د هغه او د هغه د کارنامو په هکله لنډه تبصره بې ګټې نده. خلیلي د حبیب الله کلکاني د پاچاهۍ په لومړیو کې د هغه د دربارمنشي وو او بیا په مزارشریف کې د مستوفي په توګه مقررشو. د ظاهرشاه د پاچاهۍ په مهال بیا دربار ته لار پیدا کړه او د پاچا د سلاکار په توګه کارکاوه او په عربستان اوعراق کې سفیرهم پاتې شوی دی . د ثور انقلاب د بري وروسته له عراق څخه امریکا ته ولاړ خو څه موده وروسته پاکستان ته استول کیږي او برهان الدین رباني دا د آی اس آی خادم ته ځان رسوي. هغه نه یوازې د رباني په صفت کې خپل استعداد ته لا نوره وده ورکړه بلکې د حبیب الله کلکاني په ستاینه کې هم خپله وړتیا د آزمایښت لاندې ونیوله. هغه د (عیارې ازخراسان) په نامه کتاب کې د کلکاني څخه چې افغان ولس هغه د لوټمار اوغله په نامه پیژني اتل جوړوي. د خلیلي له لوري د کلکاني څخه د اتل جوړول تصادفي کار نه وو هغه د پاکستاني دولت دا د انګریزي ښکیلاک د مخلوق په دستور لدې امله د خپل کتاب اتل کلکاني غوره کړی چې د امان الله خان دا د انګریزي ښکیلاک ماتوونکي څخه او د خپل پلار محمدحسین د امیرعبدالرحمن اود هغه د زوی امیرحبیب الله مشهور شکنجه ګر انتقام واخلي چې غازي هغه اعدام کړ. همدارنګه خلیلي د پاکستان جمهور رئیس دا د جهادي تنظیمونو بادار ضیاالحق هم له پامه نه غورزوي د ظاهرشاه په شان د هغه ثنا او صفت کوي چې لاندې بیت یې څرګنده بیلګه ده :

شو ضیاالحق چراغ آرزوی مسلمین     شوعلمدار مسلمان ، شومیهن سرباز دین     په پاکستان کې د حبیبي له لوري د افغان دولت خلاف تبلیغات د پنجابي واکمنو په مزاج ښه ولګیدل او حبیبي یې ونازاوه خو وروسته یوه شول چې حبیبي هغه څوک نه دی چې دوی یې تمه لري. نو هماغه دي چې نوموړي ته ستونزې جوړوي، بندي کوي یې او تر څارنې لاندې یې نیسي . حبیبي چاره پدې کې ولیده چې په پاکستان کې د افغانستان سفارت ته پناه یوسي . دولت چې حبیبي یې د هغه د تبلیغاتو له کبله له تابعیت نه محروم کړی وو د سفارت مطبوعاتي آتشه مقرر کړ. حبیبي په سفارت کې د مطبوعاتي آتشې په توګه د ګومارلو وروسته بیا هم پاکستانیانو ترکلکې څارنې لاندې نیولی وو. په کال ۱۳۴۰ کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي اړیکې وشلیدې او دواړو هیوادونو خپل دیپلوماتان ور وغوښتل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام آباد حبیبي ته افغانستان ته د تګ ویزه نه ورکوله. افغان دولت ورته دریځ غوره کړاو د مارشال ایوب خان ورور( محمداقبال) د پاکستان د سفارت غړی یې ترهغو په کابل کې وساته چې حبیبي هیواد ته راستون شي. د حبیبي سره د پاکستاني واکمنو د کړووړو او د خپل هیواد ملي ګټو ته د هغه د ژمنتیا په هکله اجمل خټک د حبیبي د قبر پرسر د خپلې وینا په یوه برخه کې وایي:« د افغانستان له حکمرانانو خپه راغلی و. پاکستاني حکمرانانو ورته د سرو او سپینو فرشونه جوړول. خو ده د خپلې خاورې ، د خپل قوم خلاف یوه خبره ونکړه...، پردي بندي سو، پدې ووهل سو، پردې ورټل سو خوهغه یې ونکړه. »۱۳۲/۱۵۰ – ۱۳۳ یو پوه سیاست داسې تعریفوي : « سیاست د ممکن هنر نه دی. سیاست هغې پریکړې ته وایي چې د غمیزې او کرغیرنتیا ترمنځ کیږي.» په رښتیا سره سیاست یو حساس کار دی چې پراخ لیدلوری او ژمنتیا، بصیرت او ځیرکتیا، پوهه او هنر غواړي. د پورتنیو ځانګړتیاوو څخه بې برخې لوبغاړي کله چې سیاست ته مخه کړي د کرغیړنو معاملو او خیانتونو عاملان او د پردیو په چوپړیانو اوړي. حبیبي د خپلې پوهې او بصیرت له برکته درک کړل چې د پاکستاني مقاماتو سره په همغږۍ کې د سیاست پرمخ وړل یې پلرني هیواد ته غمیزې راوړي . هماغه دي چې په پاکستان کې افغان سفارت ته سره لدې چې د واکمنۍ د کورني سیاست سره شدیداً مخالفت هم درلود ځان رسوي تر څو د پاکستان د خوسا ډنډ څخه ووزي. دې ته وایي وطندوستي او دا ډول شخصیتونه د رښتینو روڼ اندو او ژمنو سیاستوالو انځور ننداري ته ایږدي. حبیبي پاچا ته د افغانستان په اړه د پاکستان او د امریکې د متحده ایالتونو د ګډو تګلارو په هکله مفصل لیک واستاوه چې په یوه برخه کې یې راغلي دي :« د هغه هیواد د یوولس کلني مطالعې او د هغه د چاراواکو سره د مفصلو مذاکراتو نه مې وموندل چې زمونږ ملي ژوند ګواښ تهدیدوي او حتی د پاکستان لومړي صدراعظم لیاقت علي خان په څرګند او واضح ډول ماته وویل چې د سرحدي سره پوښتو( موخه د پاچاخان ګوند دی ) د ستونزې د حل وروسته افغانستان حتماً د پاکستان ضمیمه کوو ...، حتی ډېر امریکایان پدې عقیده دي چې افغانستان باید د پاکستان سټلایت وي نه د خپلې امریکې سټلایت. » ۱۵۱ / ۱۳۳ لیاقت علي د ببرک خان ځدران د زوی سیداکبر ځدران له خوا په ۱۹۵۱ کې هغه وخت وویشتل شو او ځای پرځای یې ساه ورکړه چې په یوه لویه غونډه کې یې د افغانستان په پټه سپکې سپورې وویلې.

د هیواد د وروستۍ نیمې پیړۍ حالات هم ښیي چې د افغانستان په اړه د پاکستاني او امریکایي ګډو تګلارو څخه د حبیبي اخیستنې په بشپړ ډول سمې راوختلې. د هیواد روان ناتار چې ګڼ شمیر کورني او بهرني لاملونه لري خو په هغو کې د امریکا او پاکستان ونډه او رول پریکړونکی دی. د دوی دا رول پدې کې دی چې پاکستان د سپیڅلي جهاد په نامه د اسلامي نهضت لارویان چې د داودخان د جمهوري دولت سره یې سیاسي اختلافونه لرل او نوموړي هیواد ته پناه وړې وه پوځي ټریننګ ورکړ، په وسلو یې سمبال کړل او د جمهوري دولت خلاف یې اړودوړو ، بغاوتونو او ترهګریزو فعالیتونو ته وهڅول ترڅو داودخان د خپلو اصلاحي پروګرامونو نه پرشا شي او د لویدیځ د ارادې سره سم خپلې تګلارې عیارې کړي. کله چې لویدیځ داودخان په ګوندو کړ نو دا د فشار توکي یعني د اسلامي غورځنګ مشران او فعالان چې د۱۳۵۴ کال د پیښو وروسته په دوو ډلو ( اسلامي جمعیت او اسلامي حزب ) ویشل شوي وو د خپلو راتلونکو لوبو د پرمخ وړلو په موخه په پاکستان کې وساتل. دې مسالې ته حسن شرق په خپل کتاب (کودتای پنجم «درسقوط دولت جمهوري» سرخ یا سیاه؟ ) کې ګوته نیولې او راوړي :« خو کله چې په ۱۳۵۵ کې د افغانستان او پاکستان اړیکې ښې شوې او پاکستانیانو نور وسلوالو ښورښیانو ته او د دوی په خبره ( افغان ورونو) ته اړتیا نلرله لدې امله یې بار او بستره ورټړي او د افغانستان د سرحد څخه لیرې سیمو ته تبعیدوي.» واقعیت دا وو چې هغوی یې لیرې سیمو ته تبعید نکړل بلکې دستور یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ چې غلي کښيني او نور د داود خان دولت ته ستونزې جوړې نه کړي يا په بله وينا هغوی يې په يخچالونو کې کنګل کړل. کله چې خلقي ګوند کوم چې د داودخان په پرتله زيات سمونپال ، انقلابي او هوډمن وو واک ته ورسيد. دا مهال پاکستان دا کنګل کړي توکي له يخچالونو را واېستل او افغانستان ته د ورانکارۍ لپاره را ولېږل. خو د لويديځ موخه دا وه چې د هغوی پر مټ خلقي حکومت نسکور کړي او پدې ډول د ملي دموکراتيکو انقلابونو د طرحې ناسموالی ثابت کړي او په دريمه نړۍ کې په اصطلاح د ملي دموکراتيکو انقلابونو د پيښيدو مخنيوی وکړي . د محمدانور نوميالی له انده د ثور انقلاب « د بشري تاريخ يوه داسې ستره واقعه ګڼل کيدای شي چې د وطني، منطقوي او جهاني ابعادو متحول ترکيب يې په نوعيت کې پوره څرګنديږي .» ۱۵۲ د ثور انقلاب دا اغېز وو چې بيله ځنډه د نوي نظام په وړاندې د لويديځ په ميډيا کې د افغانستان اړوند لمسوونکې تبليغات پيل شول. د فدرال آلمان د شپيګل مشهورې مجلې په ۱۹ ګڼه ( ۱۹۷۸ مى اتمه ) يعني د ثور د پاڅون ديارلس ورځې وروسته يوه ليکنه خپره کړه او په هغې کې د ثور د پاڅون داسې انځور کاږي :« د وسلې په زور يوه کمونستي حکومت ځان واک ته ورساوه. لومړی سويلي آسيا کې پاکستان او ايران په خپلو پولو کې د يوې احتمالي کيوبا ګواښ احساسوي.» سربيره پردې داسې هڅې پيل شوې چې افغانان وهڅوي خپل هيواد پريږدي او ورسره جوخت يې لوستي قشر ته لويديځ ته د تللوآسانتياوې برابرولې او د نوي نظام مخالفانو ته د پټو مالي او تسليحاتي مرستو بند او بست ونيول شو. د لويديځ ټولې هڅې په دې راتاويدې چې د نوي رژيم په وړاندې د مخالفت او مقاومت مختلفې ډلې جوړې کړي. دې ډلو ته چې په هيواد کې يې د فعاليت شونتياوې لږ وې د هيواد بهر، پاکستان او ايران کې د فعاليت اړيني آسانتياوې ورکول کيدې. همماغه دې چې په نومړو هيوادونو کې د جنګياليو د روزلو د کمپونو تر څنګ د سياسي سازمانونو د جوړولو د کارخانو بنسټ هم کېښودل شو. پدې هکله ستيوکول امريکايي ليکوال د امريکايي څارګر رابرټ ګيس د ليکنې پربنسټ ليکي :« د استخباراتو مدير، رابرټ ګيس وروسته وليکل چې عجيبه تماشاه وه چې قباه پوښلي ږيرور مجاهدين سياسي مشران له يوه دفتر څخه بل دفتر ته ، له يوې ودانۍ نه بلې ودانۍ ته تلل او د مرستې لپاره به يې پخپله خپلې دوسيې وړاندې کولې. هيڅوک هم بايد پدې خيال نه وای چې دا کسان دې له روسانو څخه د مخه او يا د هغو د ماتې وروسته ، له سياسي پلوه په يوه ګډ ميز سره کيناستلي وای. »۱۴۴/ ۱۸۷ ـ ۱۸۸ ويل کيږي چې د ثور انقلاب وروسته په پاکستان کې شاوخوا ۷۰ سازمانونه جوړشول خو « د آی اس آی شبکې اوه تنظيمونه په رسميت وپېژندل او له حده زياتې وسلې او پيسې او د جهاد لپاره ټولې آسانتياوې يې د دوی په لاس کې ورکړې او مجاهدين او مهاجرين يې مکلف کړل چې د دوی د ګوندونو او تنظيمونو غړيتوب واخلي ...، له دغو اوو ګوندونو او تنظيمونو نه غير نور ټول پخواني او د جهاد په دوره کې منځته راغلي ګوندونه او ګروپونه غير رسمي اعلان شول او ځينو ته د نامطلوبه عناصرو نومونه ورکړل شول. »۶۴ / ۶۹ پدې هکله د پېريانو جګړې د کتاب ليکوال ورته نظر لري او ليکي :« د۱۹۸۰ کلونو تر پايه آی اس آی پدې و توانيد چې په اغيزمنه توګه هغه چپي ، نامذهبي او پاچا پلوه سياسي ګوندونه له ډګره وباسي چې له کمونستي حکومت څخه د افغان مهاجرينو د ورتيښتې په لومړيو کې يې جوړکړي وو...، سي آی اې چمتو نه وه چې جهاد يې د څو آزاد خيالو بېډبه هنرمندانو په لاس کې وي. »۱۴۴ / ۲۴۰- ۲۴۱ دا کومه د حيرانتيا خبره نه وه چې سي آی اې او آی اس آی ګڼ شمير سياسي ډلې نامطلوبې اعلان کړي ځکه چې دوی ته ښه غوړنيوونکي مطلوب نوکران په کار وو . امريکايانو او پاکستانيانو د زياتو څيړنو وروسته برهان الدين رباني ، ګلبدين حکمتيار، عبدالرب رسول سياف ، صبغت الله مجددی ، محمديونس خالص ، محمدنبي محمدي او سيداحمد ګيلاني مطلوب کسان وموندل او د دوی تنظيمونه يې په رسميت وپېژندل. په ايران کې ورته سناريو پلې شوه اوهلته يې اته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونو ته د فعالیت زمینه برابره کړه. پدې ډول اسلام آباد اووه ګوني او تهران اته ګوني د جهاد په نامه خو په واقعیت کې د افغانستان د ورانولو لپاره غوره کړل ،هرڅه يې په واک کې ورکړل ترڅو يې د۱۳۷۱ کال د ثور پر اتمه د کابل په پلاز کینول. لکه څرنګه چې د جهاد هڅوونکو او د جهاد د ستراتیژۍ جوړوونکو( لویدیځ ) موخه د شوروي اتحاد څخه د ویتنام د ماتي غچ اخېستل او د ملي دموکراتیکو انقلابونو د نظریې د ناسموالي ثابتول وو او د جهاد د لاربښوونکو( پاکستان او ایران) موخه د افغانستان ورانول وو نوهماغه دي چې د ثور د ملي دموکراتیک انقلاب د ناکامولو وروسته د جهاد هڅوونکو او ستراتژیستانو خپلو جهادي چوپړیانو ته شا وګرزوله ځکه چې نور د هغوی ماموریت پای ته رسیدلی وو. خو د جهاد د لاربښوونکو موخې په بشپړډول نه وې پلې شوې نوهماغه دي چې د دوی پواسطه جوړشوي جهادي تنظیمونه يې په افغانستان او په تېره پلازمیینه کې لکه ښرمښان سره واچول او کابل يې چې په اصطلاح د جهاد په دوره کې نه وو وران کړی هغه يې هم پرې وران او افغانستان يې تباه کړ. د ثورد وسلوال پاڅون سیمه ئیز اغیز له دې څخه هم ښه جوتیږي چې د امریکې په مشرۍ لویدیځ اړشو د ایران شاهنشاهي دولت چې د سیمې د ژاندارم رول ورسپارل شوی وو په اسلامي جمهوریت تعویض کړي. لویدیځ د دې نه وېره لرله نه دا چې په ایران کې د افغانستان په شان کیڼ لاسي واک ترلاسه کړي نو هماغه دي چې د دین او مذهب نسخه يې غوره وګڼله او د مذهب ترنامه لاندې يې په ایران کې د کیڼ لاسو او سمونپالو واک ته رسیدو مخه ونیوله. په کال ۲۰۰۵ کې امریکایانو د ایران د اسلامي انقلاب په هکله یو شمېر پټ سندونه له محرمیت څخه وایستل. پدې سندونو کې د ایران د اسلامي انقلاب د لاربښود آیت الله خمیني دوه لیکونه(۱۹-۱- ۱۹۷۹ ، ۲۷- ۱- ۱۹۷۹ ) چې د امریکې د وخت ولسمشر ته لیږلي دي هم ترسترګو کیږي. خمیني دا لیکونه د فرانسې څخه ایران ته د ستنیدو په درشل کې استولي دي او خمیني واشنګټن ته ډاډ ورکوي چې د امریکې ګټو ته د زیان رسولو هوډ نلري. ددې لیکونو ځینې برخې دلته راوړل کیږي. « د ده لفظي بریدونه سؤ تعبیر نشي ځکه چې دی په ایران کې د امریکې د ګټو ملاتړ کوي ...، اسلامي جمهوري به د نفتو نلونه د لویدیځ په لور و نه تړي ، انقلاب به سیمې ته صادر نکړي ، د امریکې سره به دوستانه اړیکې ولري...، وړاندیز کیږي چې پوځ ته سپارښتنه وکړئ چې د بختیار څخه ملاتړ ونکړي او دا فعالیتونه ودروي. »۱۵۳ په وروستي لیک کې مهم ټکي ته ګوته نیول شوې ده چې امریکایان د ایران پوځ ته لاربښوونه وکړي چې د صدراعظم شاه پور بختیارملاتړ ونکړي . هغه مهال امریکایانو د ایران په پوځ کې د سترګو وړنفوذ درلود. د ایران نه د رضاشاه له تګ وروسته د هغه مهال له پیښو څخه داسي بریښي چې امریکایانو د خمیني غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړ او پوځ د بختیار څخه مخ وګرزاوه او د خمیني په ملاتړکې ودرید. بله خبره د خمیني له لوري د امریکې خلاف تبلیغات دي چې د ایراني ولس ټولنیز روان ښيي چې هغه مهال يې امریکایي ضد احساسات لرل دا ځکه چې واشنګټن د پهلوي رضا شاه یواځینی ډاډمن حامي ګڼل کیده. له همدې امله خمیني د امریکې مشرانو ته ډاډ ورکوي چې امریکایي ضد تبلیغات یوه اړتیا ده چې خلک پر ده راټول شي او دا تبلیغات امریکې ضد تعبیر نشي. په پاکستان کې د مېشتو جهادي ډلو د اوولس کلن( چنګاښ ۱۳۵۴- غويي ۱۳۷۱) جهاد واقعیت به د پاکستاني ډګروال یوسف په کتاب کې ولولو:« ما په آی اس آی کې د افغاني څانګې د رئیس په توګه نه یوازې د مجاهدینو د مسلح کولو او روزلو مسئولیت درلود، بلکې د هغوی عملیات مې د افغانستان د ننه هم تنظیمول...، زما موخه دا وه چې افغانستان سوکه سوکه وسوځول شي.» ۱۵۴ / ۳ پاکستانیانو نه یوازې د پوځي عملیاتو پروګرامونه جوړول او تطبیق يې د جهادي تنظیمونو څخه غوښت بلکې خپل پوځیان يې هم ورسره لیږل چې عملاً د جهادي تنظیمونو د جګړې او د افغانستان د سوځولو د بهیر لاربښوونه وکړي. د ډګروال یوسف لاندې څرګندوني يې څرګنده بیلګه ده :« یقیناً پوهیږم چې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په آی اس آی کې د پاکستان پوځي پرسونل د۱۹۸۱- ۱۹۸۶ د افغانستان د ننه لیږل...، هغه کسان چې موږ افغانستان ته استول جاسوسان نه ، بلکې د پاکستان د اردو پوځیان وو چې د آی اس آی د افغاني څانګې سره یې نږدې همکاري لرله. د هغوی د ګومارلو موخه په ځینو ځانګړو عملیاتو کې د مجاهدینو سره ګډون وو. همدارنګه هغوی د سلاکارانو په څیر عمل کاوه او د قوماندانانو سره یې د هغوی د دندو د ترسره کولو پرمهال مرسته کوله.» ۱۵۴ / ۱۲۸ ډګروال یوسف خپلو افغان ورونړو ته د ځارویو په سترګه ګوري او لیکي : « یوائځېني لار چې ما کولای شول تنظیمونه او قوماندانان ترخپلې اداري او اغېز لاندې راولم او وکولای شم دوی هغه لوري ته وهڅوم او سوق کړم چې موږ غوښتل د هغوی د اکمالاتو او روزني لپاره د تخصیص ورکول یا نه ورکول وو، پدې توګه مې په یوه لاس کې پروړه نیولې وه او په بل لاس کې ډنډه چې هغوی ته مې وسله ورکوله.» ۱۵۴ / ۱۶۴ په ایران کې میشتو اته ګونو ورته حالت درلود او حتي په ځېنو برخو کې د اووه ګونو په پرتله په آخوندانو پورې زیات تړلي وو او د خپلواک فعالیت واک یې نه درلود. اته ګوني تردې کچې د خپلواکۍ نه بې برخې وو چې د خپلو ایراني آمرانو د اجازې پرته یې د سني تنظیمونو د قوماندانانو او مخورو سره د اړیکو نیولو واک هم نه درلود. یو وخت احمدشاه مسعود خپل یو ملګرى عبدالعلي مزاري د وحدت اسلامی حزب مشر ته استولی وو ترڅو هغه ته د مسعود دا پیغام ورسوي چې مسعود غواړي د ده سره وګوري، مزاري ور ته ویلي وو: « که زما کتنه او هغه هم په خصوصي توګه د هغه سره وشي موضوع ایرانیانو ته رسیږي او زه د ایرانیانو د استازي په مقابل کې بې اعتباره کیږم.» ۱۵۵ / ۲۴۹ ډیری کورني او بهرني څیړونکي د افغان جهادي ډلو د جهاد بهیر ته په انتقادي کتني سره دې پایلې ته رسیدلي دي چې « د اخوانیانو مشرتابه یو اسلامي انقلابي غورځنګ منځته را نه ووړ څرنګه چې دوی یاداوه. د هغوی فعالان ( اخوانیان ) چې وروسته د مقاومت په ستره برخه مسلط شول، عملاً یې د افغانستان پر ضد جګړه پیل کړه.» ۱۸۵/۱۵۶ د تنظیمي مشرانو د بیواکۍ په اړه عبدالرسول امین لیکي:« پردیو د جهاد پلانونه جوړ کړل،مشران او قوماندانان یې پخپله خوښه ټاکل ...، د دوی خوښه وه چې څوک پورته کړي ، څوک را کښته کړي ، څوک له صحنې وباسي او چا ته واک ورکړي او څوک بیواکه کړي او څوک د خپل هېواد په مسایلو کې له برخې اخیستنې څخه محروم وساتي. »۶۴ / ۷۸ ۷۸
دا خبره له یاده ونه باسو چې د سیاسي ډلو او سیاستوالو ترمنځ سیاسي اختلافونه یوه طبیعي خبره ده. د سیاست او د سیاسي لوبو څخه آګاه سیاستوال چې د خپلو او یا د خپلو اړونده ګوندونو د اقتصادي- ټولنیزو پروګرامونو د پلي کولو په موخه سیاست ته مخه کوي مرکزي ټکی یې ملي ګټو ته لومړیتوب ورکول دي چې د سوله ئیزو لاروچارو څخه ګټه پورته کړي. هغوی ځان ته دا حق نه ورکوي چې د خپلو خپلواکو ملي حکومتونو سره د سیاسي اختلافونو له امله اړو دوړو ته لمن ووهي ، وسلې ته لاس واچوي ، او یا د پردیو د مالي او تسلیحاتي مرستو پرمټ واک ته د رسیدو هڅې وکړي. له بده مرغه په افغانستان کې د سلطنت د سقوط وروسته ولیدل شول چې ځینو کړیو د جمهوري نظام سره د مخالفت له امله پردیو ته پناه یووړله او د پردیو له خاورې یې د واکمن نظام په وړاندې د دوی په خبره جهاد خو په واقعیت کې د خپل هېواد او خلکو په وړاندې جګړه پیل کړه. پربله خوا ځینو د سیاست او پوهې خاوندانو او سیاسي کړیو سره له دې چې د جمهوري او بیا د خلقي نظام د تګلارو سره مخالفت هم درلود ځانته اجازه ورنکړه چې د خپلو نظامونو په وړاندې وسلواله مبارزه وکړي ، یا پردیو ته پناه ور وړي ، د هغوی د پوځي او مالي مرستو پرمټ نظام ته ستونزې جوړې کړې او پدې ډول هېواد ته غمیزې راوړي. دا کتګوري وګړي هغه کسان وو چې د سیاست په رمزونو او رازونو ، د ملي ګټو د خوندي ساتلو په څرنګوالي،په مورچل کې د ناستو ګاونډیانو او د زبرځواکونو د ستراتیژیو او موخو د درک وړتیا لرله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سربیره پردې سیاست ته یې یوازې په دې موخه مخه نه وه کړې چې سیاسي واک ته ورسیږي بلکې سیاست ته یې هېواد او خلکو ته خدمت د یوې وسیلې په توګه کتل. د حامدکرزي لاندې څرګندونې د جهاد او د جهاد د واقعیتونو انځور کاږي: « ماپښنین له فاکولتې څخه له راتګ وروسته مې خبرونه واوریدل روسانو افغانستان اشغال کړی وو هلته مې هوډ وکړ چې له درس څخه وروسته به ځم او جهاد به کوم ...، د حضرت صاحب په ګوند کې شامل شوم چون انګریزي مې زده وه نو د ترجمان په توګه مې کار کاوه. یوه بهرني دفتر ته به ډیر وخت ورتلو، یوه ورځ دغه دفتر ته په لار خبره شوله چې شوروي وزي. مولوي شمس الدین د زابل وو، یوه ډیره پخه خبره یې وکړه او ویې ویل چې یواځې د شوروي په وتلو نه آزادیږو موږ ویل څنګه؟ ویل یې ترڅو چې له دغه دفترڅخه خلاص نه شو...، ډیر وختونه وروسته چې د پاکستان فقید رئیس جمهور ضیآ الحق ومړ نو د پاکستان حکومت وویل چې افغان تنظیمونه دې راټول شي او د پاکستان د غیر مذهبي ګوندونو سره دې کیني...، په پیښور کې دا وظیفه ماته وسپارل شوه چې له عوامي نشنل ګوند سره تماس ونیسم ...، د دوی د حزب له یوه معزز شخص سره مو مجلس وکړ په مجلس کې هغه موږ ته وویل چې موږ نشنل پارټی ستاسو د جهاد مخالف نه یو، موږ د جهاد ملګري یو، موږ ته افغانستان لوی مرام دی ، موږ ته پیاوړی او مستقل کابل لوی مرام دی خو زموږ مخالفت ستاسو سره دا دی چې دا حالات چې تاسو په پاکستان کې په ځان راوستي دي د دغو مخالف یو. اصلي دښمن شوروي نه دی بلکې شوروي ظاهري دښمن دی. تاسي داسې چا ته پناه راوړې چې هغه مو ریښې درکاږي. په موږ هلته وخت تیرشوی وو او پدې پوهیدو چې دا حقیقت دی خو چون زموږ ریښې ژورې دي هر څومره چې یې راکاږي نه راخیږي نو نیت یې بالکل دا وو چې ریښې مو را وکاږي او برباد مو کړي.» ۱۵۷

د کرزي په څرګندونو کې د تبصرې وړ ټکي لیدل کیږي چې په لنډه توګه به پرې تم شو.

الف - کرزی مني چې ده اوجهادي مشرانو هغه هېواد ته پناه وړې وه چې زموږ ریښې یې راکاږلې او موږ یې بربادولو. خو کرزی دا نه مني چې زموږ ریښې یې راکښلي دي او موږ یې برباد کړي یو. یا للعجب! کرزی د یوه هېواد د پوځ بشپړ پوپناه کیدلو ، د هیواد د ټولو دولتي ادارو د تجهیزاتو او لرغونو آثارو چوراو تالان، د زیربنایي او پوهنیزو بنسټونو له منځه تللو ته د هېواد بربادي نه وایي. د ده په واکمنۍ کې به پاکستانیانو په سرحدي سیمو توغندي ویشتل او پوځ داسې توغندي او توپونه نلرل چې متقابله ځواب ورکړي. ده یو وخت ویلي وو په شمال کې ناڅرګندې الوتکې اورېکي کوزوي خو افغان پوځ د رادارو تجهیزات نه درلودل چې د هیواد فضا ته ننوتونکې الوتکې کشف او د جنګي الوتکو په واسطه هغه کینولو ته اړباسي. کرزی د هېواد د ملي موزیم او په هېواد کې د نورو لرغونو آثارو تالان چې د یوه هېواد د تاریخ او هویت څرګندوي د ریښو کښل نه ګڼي.

ب- کرزی په پاکستان کې د یوه بهرني دفتر یادونه کوي چې د مجاهدینو مخور به هلته ورتلل او مولوی شمس الدین ویل ترڅو د دغه دفترڅخه خلاص نشو که شوروي له هېواده ووزي موږ نه آزادیږو. مولويٍ صاحب لیدل چې دې دفتر د دوی لاس ، پښې او فکرونه داسې تړلي دي چې د خلاصیدو وس یې نه ویني. ښېله کومه شکه دا دفتر د پاکستان د استخباراتو دفتر وو چې هغه ته د سي آې اې پاکستاني څانګه ویلی شو.

ج- کرزي کلیدی مسلې ته ګوته نیولې چې د ضیآ الحق د مړینې وروسته د پاکستان حکومت وویل چې تنظیمونه دې د پاکستان د غیرمذهبي ګوندونو سره کیني. کرزی دا نه وایي چې دستور ورکړل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا کار وکړي. دوی خواران اړ وو څه چې بادار ويل هغسې وکړي او ده ته هم دنده ورکړل شوه چې د عوامي نشنل پارټۍ سره د کيناستو بند اوبست وکړي. پدې کتنه کې د دې پارټۍ غړي ورته وايي« زموږ مخالفت ستاسو سره دا دی چې دا حالات چې تاسو په پاکستان کې په ځان راوستي دي د دغو مخالف يو» د پاکستان میشت پښتون سیاستوال ته د زغم وړ نه وو چې د دوی افغان ورونه د خپل هېواد او خلکو د برخليک د ټاکلو واک پنجابيانو ته ورکړی دی چې زموږ سره ملي – تاريخي ستونزه لري. افسوس د کرزي په حال چې د هغه هېواد مشر چې زموږ ريښې يې را کاږلي او تباه کولو يې هغه ته درناوی کوي او هغه ته فقيد هم وايي .

- کرزی د شوروي د اشغال په وړاندې خپل غبرګون د خپل جهاد پيل ګڼي. دا به افغانان ورسره ومني چې ده د شوروي د اشغال په وړاندې ودرېدلو خو د ده مشر مجددي شپږ کاله مخکې د داودخان د خپلواک حکومت په وړاندې جهاد پيل کړی وو . دلته دا پوښتنه پيداکيږي که چيرې داودخان هېواد او خلکو ته خاين وو نو بيا ولې کرزي څلورسوه بستريز روغتون د داودخان په نامه ونوماوه ؟ او که چيرې داودخان يو ربښتينی وطنپال افغان مشر وو نو ولې ده د داسې چا تر رهبرۍ لاندې جهاد پيل کړ چې هغه د داودخان په وړاندې د پنجابيانو په قومانده جهاد کولو.

دا پوښتنې نه يوازې کرزي ته متوجه دي بلکې د ده ځای ناستي اشرف غني او ټولو تنظيمي مشرانو او هغه څيړونکو، ليکوالو او سياستوالو ته هم متوجه دي چې تردې دمه د داودخان او د خلقيانو د خپلواکو حکومتونو په وړاندې جګړو ته سپيڅلي جهاد وايي. د افغانستان د جهاد واقعيتونه او د جهاد د ستراتيژۍ د جوړوونکو موخې به د ستيوکول څخه ولولو چې ليکي :« د افغانستان پرسر د الوتنې پرمهال به کله چې د امريکا د کانګرس يوه سيلانۍ غړي يو پل پر ځای ولاړ وليد. نو واشنګټن ته د بېرته ستنيدو په موکه به يې لوړ شکايتونه پيل کړل چې هغه بايد والوزول شي .» ۱۴۴/ ۱۹۳ د جهاد ستراتژيستانو اولاربشوونکو خپلو موخوته د رسيدو لپاره چې د محمد داود او يا د ( ا، خ، د،گ) د واکمنۍ وروسته د افغانستان په پلاز داسې يوه واکمني ووينې چې د يوه متمرکزځواکمن دولت د جوړولو جوګه نه وي او پخپلو کې د ګور د چنجيانو په شان يو بل وخوري نوهماغه دي چې اووه ګونې او اته ګونې يې په رسميت وپيژندل چې د يوبل سره د ګډې ژبې او ګډ کار د موندلو څخه عاجز وي او دوی د تنظيمونو د مشرانو د نه وړتياوو او مخالفتونو څخه ګټه پورته کړي.

د جهادي ليډرانو په هکله عزيزالدين الفت د خپل ( جهاد و دست های پشت پرده ) نومې کتاب په ۹۳ مخ کې ليکي :« يوازې د جهاد نوم او کلمه ده چې دا ليډران يې په يوه کتار او څنګ ترڅنګ درولي دي او اوسني ليډرشپ ته اسلامي رنګ او بڼه ورکوي. دا ليډرشپ د اضدادو او د مخالفينو د مجموعې پرته بل څه نه دي چې د يوبل څخه زيات واټن لري .» نوموړی په خپل کتاب کې د جهادي تنظيمونو د جهاد د څرنګوالي په اړه په زرمت کې د يوه تنظيم د جهاد داسې انځورکاږي :« په زرمت کې يو شمير خلک (بيدينه خلقيان) له منځه يوړل شول، ددې ګوند پلويانو د هغوی کورونو ته ځان ورساوه ، د هغوی ښځې او اولادونه يې برمته کړل او(د کرم او تولګي) په سيمه کې يې وپلورل.» دا د جهادي ډلو د جهاد يوه بيلګه وه چې د خپل پلرنی ټاټوبي ښځې او ماشومان د هېواد بهر د توکو يا څارويو په شان پلوري چې پدې ډول شتمن شي . په ۱۳۵۷ کال کې د غزني په ولايت کې مجاهدينو يو خلقي نيولی وو. نوموړی يې په يوه ونه کې آويزان کړ او د لاندې يې اور ور ته بل کړ. په يوه ټايپ کې يې يو کست چې د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت ملي سرود پکې ثبت شوی وو چالان کړ ،دې خلقي ته يې وويل اوس ووايه « ګرم شه لاګرم شه » پدې ډول يې نوموړی کباب کړ. جهادي ډلو دې ډول کارونو ته چې خپلې افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوینديٖ او بچیان  په پردیو وپلوري او انسانان کباب کړي چې نه د اسلام سره سرخوري او نه د افغاني تولنې له دودونو او رواجونو سره ډېره لګوي بلکه د انسانیت ، افغانیت او اسلامیت ضد کړنې او د وحشت او بربریت څرګندې بیلګې دي  د سپیڅلي جهاد نوم  ورکاوه.

دا برخه به د جنرال رحمت الله صافي  د « مسعود پیژنی؟ » نومي کتاب پدې وینا د پای ټکی کیښودل شي :« حقیقت دا شو چې د جهاد قومانده بشپړه د پاکستان په لاس کې وه د تنظیماتو مشران یوازې امرمنونکي وو نه امرکوونکي. په هرحال هرڅه چې وو  هغه ترسره شول او نتیجه مو د سر په سترګو ولیده.» چې هغه د افغانستان وراني او تباهي، ملي نفاق ، فساد او شرارت، د وسلوال پوځ نړیدل او د هېواد او خلکو په برخلیک  د پردیو واکمنیدل شول.

## اړې دوړې او بغاوتونه

د ثور پوځي پاڅون د وخت واکمنو، د ګوند مخالفینو، شوروي اتحاد، پانګوالې نړۍ او د هغه سیمه ییزو سپوژمکیو ته هیښوونکي ښېښه وه. د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل وو چې یو سیاسي ګوند کوم چې غوڅ اکثریت غړي یې د محکومو طبقو له لمنې را وتلي وو او په هېواد کې یې د خوارو او ستم لاندې طبقو په ګټه د بنسټیزو سمونو د راوړلو ژمنه کړې وه سیاسي واک ترلاسه کړ. د دې سازمان کړنلارې ته په کتو سره  نسکورشوو واکمنو کړیو، محافظه کارو ډلو او ارتجاعي روحانیت پدې ګوند د کمونست ګوند ټاپه لګولې وه. د انقلابي  واکمنۍ اونۍ نه وه تېره شوې چې د  پکتیا ولایت د زیړوکې په علاقدارۍ او ښوونځي وسلوال برید وشو علاقدار، د هغه ماشوم ، میرمن اودرۍ تنه ښوونکي ووژل شول. د پاکستان سره په پوله کې دا ډول پېښنه ښیي چې هغه نه خپل پاڅې خلقي ضد خوځښت وو، نه د نوې حکومت د فرمانونو، بیړه ناکو سمونو او تیروتنو سره تړاو درلود لکه څرنګه چې مخالفینو تبلیغول بلکې سیاسي انګیزې او لاملونه یې لرل چې ريښې یې د فرضي کرښې هغې خوا په پاکستان کې وې. یو افغان لیکوال  د ثور د سیاسي اوښتون وروسته د نوې واکمنۍ د وضعیت داسي انځور کاږي: « په هیواد کې د ننه د رژیم پرضد وسلوال پاڅون، د هغه په مقابل کې د پرچمیانو او ستمیانو سرسخته مبارزه او له بهر څخه د نړیوالې توطئې ورځ په ورځ پیاوړتیا، ټول هغه توکونه وو چې د نورمحمد تره کې د رژیم پښې یې خورا کاواکه کړې وې. » ۲۱/۱۵۸ پدې هکله د اروپا د دریو سترو دولتونو( فرانسې ، لویدیځ آلمان ،انګلستان) د خبریالانو پوښتنې چې د نورمحمد تره کي څخه یې د هغه په لومړۍ مطبوعاتي مرکه کې کړې دي ښیي ترڅو د افغان ولس مذهبي احساسات راوپاروي .

فرانسوي خبریال –  ښاغلی رئیس! آیا ځان او خپل حکومت کمونست ، سوسیالیست او یا ریفورمیست بولۍ ؟

ځواب  – زموږ حکومت یو دموکراتیک حکومت دی چې د افغانستان د خلکو د زیارکښو طبقو یعنې د کارګرانو، بزګرانو او د وړې بورژوازۍ د منځنې پوړ ګټې خوندي  کوي.

پوښتنه : له شوروي اتحاد سره به خاصې اړیکې ولرۍ ؟

ځواب : زموږ اړیکې به له ټولوهیوادونو، شوروي اتحاد ، زموږ له ګاونډیانو او نورو هیوادونو سره زموږ له حکومت څخه د ملاتړ او په سیاسي او اقتصادي  برخو کې د هغوی د مرستو له مخې ټاکل کیږي.

د لویدیځ آلمان د خبریال پوښتنه : آیا ستاسو حکومت به په سیمه کې دوه اړخیز او یا څو اړخیزامنیتي ترتیبات ونیسي او یا یې ردوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب :لکه مخکې مې چې وويل موږ به د هيواد د ناپييلتوب سياست پرمخ بوزو او په کوم نظامي پکت کې به هيڅکله هم برخه وانخلو. موږ دا کار نه کوو او له ټولوهېوادونو څخه غواړو چې پداسې پکتونو کې شامل نشي او زموږ هيله زموږ په هېواد او نړۍ کې سوله ده.
د مانچسترگاردين د نماينده پوښتنه: ستاسې په هېواد کې به د اسلام د دين موقف څه ډول وي ، آيا ديني مناسک پرځاى کوئ او آيا له کومو مذهبي مشرانو څخه د مخالفت انتظار لرئ؟
ځواب : ما لکه چې په خپله راديويي اعلاميه کې تذکر ورکړى دى موږ د اسلام د مقدس دين اساساتو ته احترام لرو. موږ څوک د مذهبي مناسکو له اجراکولو څخه نه منې کوو. زموږ پر ضد ستر پروپاگند پيل شوى دى. زموږ ملت يو مسلمان ملت دى . موږ د دې ملت په خدمت کې يو او موږ په نظر کې نلرو چې په مذهبي چاروکې مداخله وکړو.
د بي بې سي د خبريال پوښتنه : آيا په داسې هېوادونو لکه افغانستان کې به د يوه ماټرياليست او يا مارکسيست رژيم تاسيس له اسلامي قوانينو سره تصادم ونکړي؟ آيا ستاسې د ځمکواصلاحات او ټولنيز اقدامات د اسلام له اساساتو سره ټکر کوي که نه ؟
ځواب : د اسلام اساسات دا غواړي چې اصلاحات د خلکو په گټه صورت ونيسي او د ځمکو اصلاحات د اسلام له اساساتو سره مخالفت نلري.
د بي بې سي نماينده : ليکن يو مارکسيست او يا ماټرياليست رژيم له دې سره مخالفت لري.
ځواب : هغه څه چې موږ په نظرکې لرو او زموږ په پروگرام کې ۱۳ کاله مخکې طرح شوي او تراوسه يې لا تعقيبوو، مارکسيزم – لينينيزم مطرح نه دى ليکن بيا هم دا يو ډيرمترقي ، ملي او ديموکراتيک پروگرام دى.
د بي بې سي نماينده : ومو ويل چې پدې پروگرام کې مارکسيزم مطرح نه دى؟
ځواب : په دې پروگرام کې مو مارکسيزم – لنينيزم ته ځاى نه دى ورکړى.
پوښتنه :آيا تاسې خپل گوند مارکسيست او يا غيرمارکسيستي تلقي کوئ؟
ځواب: زموږ گوند د کارگرانو، بزگرانو، روڼ اندو، کسبگرو او د وړې او منځنۍ بورژوازۍ گوند دى او د هغه رسمي نوم د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند دى.
پوښتنه : آيا يو کمونست گوند نه دى ؟
ځواب : نه خير، موږ په افغانستان کې کمونست گوند نلرو. زموږ د گوند نوم د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند دى.
د بي بې سي نماينده : موږ دموکراتيک خلق د يوه مارکسيستي گوند په توگه پيژنو.
ځواب : څه چې زه وايم دوستان دې يې واوري . زموږ گوند د ا، خ، د ، گ په نامه ياديږي.
پوښتنه : دوې ورځې مخکې ستاسې راډيو يوه توضيح خپره کړه چې ارتجاعي امپرياليستي خپروني يې انتقاد کړي دي . که موږ ستاسې حکومت مارکسيستي معرفي کړو نو ستاسې په نظر آيا موږ امپرياليست او مرتجع يو؟
ځواب : نه خير تاسې که موږ حتى د دموکراتيک خلق افغانستان په نامه هم ياد کړئ تاسې بيا هم امپريالستان ياست. امپرياليزم يوه علمي اصطلاح ده چې هيڅوک هم د هغه معنى نه شي بدلولاى. دا چې تاسې ښه ياست يا بد ياست دا په دې پورې اړه نه لري چې موږ د مارکسيست او يا دموکراتيک خلق په نامه ياد کړئ . موږ له ټولو دوستانو او د نړۍ له خلکو څخه دا انتظار لرو چې موږ زموږ د پروگرام سره سم د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند په نامه ياد کړي، زموږ پروگرام په هرځاى کې خپورشوى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو پوښتنو ځخه معلومیږي چې د دې دریو امپریالستي دولتونو خبریالان پدې شخوند وهي چې د ( ا، خ، د،گ) کمونست او مارکسیست گوند وښیي دا ځکه چې په اسلامي ټولنو کې غربي میډیا کمونیسم او مارکسیسم د کفراو الحاد په نامه تبلیغ کړي دي او په راتلونکې کې به یې هم تبلیغ کړي. لویدیځ په تبلیغاتي ډګر کې پوره تجربه لري پوهیږي چې که یو دروغ په پرله پسې توګه تکرارشي خبره دې ته رسیږي، اوریدونکي څه چې په خپله دروغجن هم په خپلو درواغو باور پیدا کړي چې دی رښتیا وایي. له همدې امله دي چې د ناټو د سازمان د دریوسترو دولتونو خبریالان یوه پوښتنه په مختلفو بڼو تکراروي. همدا راز د فدرال آلمان د شپیگل مجلې د۱۹۷۸ کال د می په اتمه یوه لیکنه چې سرلیک یې ( افغانستان: په زهرو لړل شوی دی ) خپره کړه. د لیکنې سرلیک پخپله د دې مجلې د تبلیغاتو لوری او موخه بربنډوي. البته چې دې ډول تبلیغاتو بیله شکه خپل منفي اغیز درلود چې ولس د نوې واکمنی خلاف راوپاروي. د اسلام په هکله د ( ا، خ، د،گ) د تګلارې په اړه به بیا د تره کي څخه واورو چې هغه د بي بي سي د خبریال د پوښتنې په ځواب کې وایي :« څرنګه چې مو پخپله راډیویي اعلامیه کې ذکر کړه موږ حقیقتآ د اسلام اساساتو ته احترام لرو، موږ یو مسلمان ملت یو. موږ په ټولنیز ژوند کې د اسلام اساساتو ته احترام کوو، موږ د اسلام په اساساتو تکیه لرو او همدا خبره، زموږ د معرفي لپاره کافي ده.موږ د مسلمانانو بچیان یو زموږ ولس مسلمان دی ، د اسلام د سپیڅلي دین اساساتو ته په درنه سترګه ګورو. هیڅوک به دا ادعا ونشي کړای چې موږ د اسلام دین سره مخالفت کوو. موږ که چیرې اصلاحات منځته راوړو، د اسلام مخالف نه دي ، لکه چې د اسلام په سپیڅلی آئین کې په ډاګه سره د وروری ، برابری او ټولنیزعدالت حکم شوی دی هغه څوک چې د اسلام مخالف دي د اصلاحاتو مخالف دي . د اسلام اساسات د دې غوښتنه کوي چې د خلکو د ګټو په جهت کې اصلاحات رامنځته شي، د ځمکو اصلاحات د اسلام د اساساتو مخالف نه دي .» ۱۵۹ خو د ګوند بې تجربګی ، آرمانګری ، د واک د انحصار ، په ګوند کې ډله بندیو او د سیاسي اپوزیسیون نه زغمل دې ته لار هواروله چې خلک پر نوې واکمنی بې باوره شي، هم د ګوند د سیاسي مخالفینو او هم د پردیو د تبلیغاتو ښکارشي او د نظام په وړاندې ودریږي. پدې هکله دا واقعیت له پامه ونه غورزول شي چې د ثور د پاڅون وروسته په ګوند او دولت کې ناوړه حالت واکمن شو او د ګوندي - دولتي زعامت د مدعیانو د ارادې له مخې د هېوادوالو د بېله محاکمې وژنې، د قوانینو او د ګوند د جمعي رهبری اصول تر پښو لاندې کول ، د ګوندي او دولتي چارو سبوتاژ ، د سواد د زده کړې ، د ښځو د فرمان او د ځمکې د اصلاحاتو په پلې کولو کې د زورزیاتی څخه کار اخیستل د واکمنی وګړنیز ملاتړ د له لاسه ورکولو کې منفي رول درلود.لکه څرنګه چې پدې اړه محمدابراهیم عطایي لیکي :« د حفیظ الله امین په مشری خلقي اړخ یکه تازي پیل او هڅه یې کوله چې ټول واک د خلقیانو په لاس کې ولویږي ...، او پرچمیانو د خلقیانو د ناکامی په موخه کارونه سبوتاژول. »۱۷ / ۴۰۴د عطایي ارزونه ښیي چې د واک مدعیانو خپل نظام ته په خپله ستونزې جوړولې او د خپلو دې کړنو د ناوړو پایلو د درک وړتیا یې نلرله.

کله چې په یوه واکمنی کې یوه ډله په یکه تازی او بله د چارو په سبوتاژ لاس پوري کړي خلک له واکمنی واټن نیسي ، وګړنیز ملاتړ له لاسه ورکوي ، ولسونه د هغې په وړاندې دریږي او خبره بغاوتونو ته رسیږي. منطقآ دې ډول کړنو دې ته زمینه برابره کړه چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د واکمنی په وړاندې وسلوال مقاومتونه پیل شي او په ځینو پوځي جزوتامو لکه د هرات او ننګرهار په فرقو، د کابل د بالاحصار په ګارنېزیون کې د بغاوتونو او مخالفینو ته د اسمارد غونډ اوښتلو یادونه وشي . پر بله خوا هغه مهال بلا استثنی ټولو سیاسي ډلو که ورته اسلامي وویل شي ، کیڼ اړخي، ښي اړخي او منځلاري ، هر یوه دا ادعا کوله چې د خلقي واکمنی په وړاندې د پاڅون نوښتګر دي. د ساري په توګه د بالاحصار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چنداول د پېښو نوښت او وياړ هم چين پلوه سياسي کړۍ په غاړه اخلي ، هم اسلامي خوځښتونه او هم افغان ملت.حتي د کابل پوهنتون يو شمير استادان د بالاحصار د پيښې وياړ خپل ګڼي. د ننګرهار د يوولسمې فرقې د اړو دوړو مسئوليت د اسلامي ډلو سربيره افغان ملتيان او د هرات بيا صبغت الله مجددي، برهان الدين رباني او چين پلوه سياسي ډلې مني. عجيبه لا دا چې پرچميان چې د واکمنۍ کابو نيمايي برخه يې هم جوړوله د شوروي د اشغال وروسته ځانونه د خلقي واکمنۍ په وړاندې د مخالفتونو او مقاومتونو نوښتګر ګڼل. د بېلګې په توګه محمد نبي عظيمي ليکي :« لومړني مخالفتونه او پاڅونونه د واکمن رژيم په وړاندې د پرچميانو له خوا وشول. » ۱۲۹ / ۶۴ د افغان ملت مشر نورالحق احدي په پاکستان کې د خپل ګوند په کنګره کې وايي چې د دوی ګوند د ثور د اوښتون د لومړيو څخه د دې واکمنۍ په وړاندې دريدلی دی او د ننګرهار په فرقه کې د پاڅون نوښتګر هم دوی وو. که چيرې د دې ډلو څرګندونې ومنل شي چې د ټولو څرګندونې د منلو وړنه دي او د مبالغې ، درواغو او د ځان من ګڼلو تله يې خورا درنه ده خو د څرګندونو نه يې داسې پايله راوزي چې ټولو د هماغه پيل څخه د خلقي واکمنۍ خلاف دريځ درلود، د نوې واکمنۍ سره د پوهاوي ،جوړجاړي او رښتينې همکارۍ ليوالتيا نلرله او د مخالفت او دښمنۍ تګلاره يې غوره کړې وه. پردې بنسټ د هېواد د حالاتو په کړکېچنتيا او د ناورين په را پنځولو کې د خلقيانو او پرچميانو سربېره نورې سياسي ډلې هم ملامتې دي . دا بيا ښيي چې د دې ګوند سربېره د وخت ټولې سياسي ډلې پدې مزمنې ناروغۍ چې د نورو سره له پوهاوي او جوړجاړي ته له رسېدلو ډېره کوله اخته وې. البته د خلقي واکمنۍ تيروتنې چې د نورو سياسي سازمانو اړونده روڼ اندو په وړاندې د زورزياتۍ څخه ډېره نده کړې د توجيه وړ ندي لکه څرنګه چې د خلقي واکمنۍ په وړاندې د نورو سياسي سازمانو دريځ او مخالفتونه هم د توجيه وړ نه دي . د خلقي حکومت په وړاندې په بغاوتونو او وسلوالو مقاومتونو کې د هرات ، چنداولو او مخالفينو ته د اسمار د غونډ د اوښتنې پيښې د سياسي ، امنيتي او تبليغاتي اړخه د واکمنۍ لپاره يو سترچلنج او د مخالفينو لپاره برى ګڼل کيده چې په هغو به مکث وشي. البته هڅه به وشي چې د دې پيښولاملونه او په هغو کې د بهرني عامل اغيز ته ځانګړې توجه وشي ځکه چې د افغانستان د روان ناورين ريښې بايد د هيواد نه بهر او هغه هم د زبرځواکونو په ستراتيژيو او سيالۍ کې ولټول شي نه دا چې د خلقي واکمنۍ په وړاندې مخالفتونه او پاڅونونه خودجوشه وګڼل شي هغه څه چې د افغانستان د هغه مهال د ځمکنيو واقعيتونو سره په څرګند ټکر کې دي.

الف – په هرات کې د۱۳۵۷ کال د کب ( ۱۸ تر ۲۹ ) دوولس ورځنۍ پيښې چې د ( ا،خ ، د، ګ ) مخالفانو ورته د هرات پاڅون او واکمنۍ ورته ښورښ ويل چې د کب د څلورويشتمې پېښې په نامه هم ياديږي. د واکمن ګوند مخالفين د هرات پيښې د ځايي چارواکو د ناکامه مديريت او ناوړه چلند په وړاندې د ولس خودجوشه غبرګون ګڼي او حکومت بيا په هغې کې د پرديولاس ته ګوته نيسي. اوس به وګورو چې د هرات د( پاڅون يا ښورښ) انګيزه څه وه ، بهرني عامل او د ځايي چارواکو کړنو تر کومې کچې پکې رول درلود.

وايي ويروس په کمزوري ارګانيزم کې د ننوتلو او ودې چانس لري. د هرات د پيښو په درشل کې نه يوازې د هرات د ولايت په ملکي مشرتابه کې د نظر اوعمل يووالی نه تر سترګو کېده بلکې د دې ولايت ملکي او پوځي بنسټونو د يو بل خلاف دريځ هم نيولی وو. په يوه دولتي ارګان کې د داسې حالت شتون د دولتي چارو د پر مخ وړلو او خلکو ته د خدماتو په وړاندې کولو کې خنډونه ايجادوي ، ګډوډې منځته راوړي او دښمن په ډېره آسانۍ سره کولی شي د يوه ګواښمن ويروس په شان په دولتي بنسټونو او پرګنو کې نفوذ وکړي. دې دا معنی لرله چې د هرات ولايت ضعيف اداري سيستم ته د ويروس د ننوتلو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کې د ودې مناسب شرایط برابر وو. د دې ادعا ښه بیلګه په خپله د والي او د ولایتي ګوندي کمیټې د منشي نظیف الله نهضت لاندې څرګندونې دي : « د یادونې وړ ده چې دغو دواړو کدرونو آقا ګل او سیدمکرم ازبک د ګوندي رهبرۍ په د ننه ډلبندۍ کې د حفیظ الله امین ضد فرکسیون سره اړیکې درلودلې او په هرات کې له لومړۍ ورځې څخه تر پایه پورې نه یوازې دا چې همکاري یې ونکړه بلکې دوی بر عکس ستونزې یې را ته پیدا کړې.» ۱۶۰ /۳۴ پورتنۍ وینا ښیي چې آقا ګل بائس او سیدمکرم د امین ضد فرکسیون سره تړاو درلود چې د ولایت ګوندي ـ دولتي مسؤل ته چې د امین اړونده فرکسیون غړی دی ستونزې جوړولې . خو نهضت د هغوی د فرکسیوني تړاو په هکله څه نه وایي . ددې معنی دا شي چې هغوی د کوم ګوندي فرکسیون غړي نه وو او واقعیت دا دی چې په خلقیانو کې د امین ضد فرکسیون شتون نه درلود . البته چې د امین د فرکسیون پرته په خلقیانو کې بل فرکسیون قطعاً موجود نه وو . په یوه ګوند کې فرکسیونبازي ګوندي اصولو ته شا ګرزونه او د ګوند داعیې ته بربنډ خیانت دی . کله چې یو هیواد د پردیو د لاسوهنو هدف ګرزیدلی وي او د جګړې اورونه بل وي د یوه سرحدي ولایت مشران یوموټي نه وي، د همکارۍ روحیه پکې مړه شوې وي ، یو بل ته ستونزې جوړې کړي ، منطقاً چې د دې ولایت سیاسي او امنیتي حالات کړکیچن کیږي او د خورا ناوړه پیښو پیښیدل شوني دي . مرکز هم د هرات د کب ( ۱۸ـ ۲۹) پیښو ته په کتني سره دې پایلې ورسېدلو چې د هرات د اړوړ دوړو لامل د ولایت د مشرتابه نه وړتیا ده هماغه دي چې په هرات کې د حالاتو د کابو کولو یوه ورځ وروسته د۱۳۵۸ کال د وري په لومړۍ نیټه د هرات ملکي مسئول نظیف الله نهضت مرکز ته وروغوښت او د غزني د والي او ولایتي کمیټې د منشي په توګه یې مقرر کړ. په هرات کې د وضعیت د کابو کولو یوه ورځ وروسته د نهضت بدلول ښیي چې د هغه د نه وړتیا له امله په هرات کې بلوا وشوله، وینې تویې شوې ، د فرقې وسلې چور شوې او زیات مالي زیانونه ورسېدل . نو مرکز باید هغه محاکمه کړی وای . لکه څرنګه چې نهضت د بې تاجه ټولواک د فرکسیون اړونده غړی وو لدې امله د محاکمې پرځای د غزني په ولایت کې د والي او منشي په توګه مقرر شو. کله چې نهضت په غزني کې هم ښه ونه ځلېده هغه په کوبا کې سفیر وټاکل شو. هغه مهال ځینو خلقیانو د هغه کارنامو ته په کتو سره په ټوکو ویل نه دا چې کوبا ته د نهضت په رسېدو سره هلته هم اشرار پیدا شي . کله چې په یوه دولت کې د مکافاتو او مجازاتو اصل په پام کې ونه نیول شي او د ضوابطو ځای روابطو نیولی وي پایله یې په دولتي ادارو کې بې نظمي او د دولتي پروګرامونو نه پلې کیدل کیږي او د افغانستان د هغه مهال وضعیت ته په کتو سره چې د هغه په وړاندې نااعلان شوې جګړې دوام درلود د سیاسي او امنیتي وضعې کړکیچن کیدل او د هرات د پیښې په شان د ناوړو پیښو منځته راتګ منطقي بریښیده. د هرات د خونړیو پیښو په هکله دا ارزونه چې «د هرات والي او د اوولسمې فرقې قوماندان سیدمکرم خلک پاڅون ته اړایستل اوله بله پلوه ایران چې په کمین کې ناست وو د هرات پاڅون ته وسلې او وګړي استول. » ۱۷ / ۴۰۶د منلو وړ ده. دا ډول منصفانه ارزونه ښیي چې ښورېښ ته د هرات د خلکو هڅوونکي او سمبالونکي د هیواد څخه بهر وو او د ځایي چارواکو تر منځ د یوهاوي او ګډې همکارۍ نشتون او د ولایت د ر هبرۍ د مقام نه وړتیا دې ته شرایط برابرکړل چې پردي او په پردیو پورې تړلي سیاستوال او سیمه ییز مخور د ولس د نارضایتۍ څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

اوس به د کب د ځلېرویشتمې په درشل کې د هرات ولایت په مربوطاتو کې د حالاتو جاج واخلو چې ولې هلته حالات کړکیچن شول او خبره په ښار کې اړودوړو او په فرقه کې بغاوت ته ورسیده . ویل کیږي چې د کب په نهمه د هرات ښار ته څېرمه د پښتون زرغون ولسوالۍ د سلیمي کلي ته د سواد د زده کړې نارینه او ښځینه کارکوونکي تللي وو تر څو خلک وهڅوي د سواد د زده کړې په کورسونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ثبت کړي. په یوه روایت کلیوالو دا مسئولین وهلي او په بل روایت چې محمدصدیق فرهنګ او محمداعظم سیستاني هم پدې ډله کې راځي هغوی یې ووژل. حکومت تورن کسان ونیول. خلکو د خپلو بندیانو د خلاصون په موخه دولتي ضد تحریکات پیل کړل او یوه ناځرګند لاس د ولایت په مربوطاتو کې یو من ربښتیا او سل منه درواغ تبلیغات پیل کړل.دا تبلیغات پدې څرخیدل چې دولت غواړي بیسواده ښځې او نارینه جبراً د سواد د زده کړې په کورسونو کې شامل کړي او څوک چې په کورسونو کې نه شاملیږي هغه بندیانوي. د سلیمي د کلي د پیښې ۹ ورځې وروسته ( کب اتلسمه) د غوریانو په سرحدي ولسوالی برید وشو خو بریدګر پدې بریالي نشول چې ولسوالي ونیسي. بله ورځ د کب نولسمه همدا بلواګر د زنده جان ولسوالی په لور خوځیږي خو دا ولسوالی چې اړین استحکامات یې نلرل لا د مخه تخلیه شوې وه او دا وسلواله ډله د ګذرې ولسوالی په لور خوځیږي چې د زنده جان د ولسوالی څخه هم یو شمیر کسان ورسره ملګري کیږي. د ګذرې ولسوالی ساتونکي هم د بغاوتګرو سره جنګیږي او ښورښیان نشي کولای ولسوالي ونیسي او همدا بلواګر د انجیل ولسوالی په لور چې د ښار ترڅنګ پرته ده حرکت کوي او پرهغې برید کوي چې بیا هم د ولسوالي مدافعینو د ولسوالی څخه په کلکه ساتنه وکړه. البته چې د سرحدي ولسوالی غوریانو څخه تر انجیل ولسوالی پورې د دولتي ضد ښورښیانو شمیرهم زیاتیږي. ترڅو هغوی د کب په درویشتمه د ښار څنډو ته ورسیدل او« د مالان د پله له لوري هرات ته ننوتل . د کولاب کارته چې هلته اهل تشیع میشت دي د فتنې د مرکز په توګه وکاراوه .» ۱۶۰ / ۳۴ غلام محمد زرملوال پخپل د (افغانستان تروروستي افغانه) نومي کتاب د دویم ټوک په ۲۲ مخ کې پدې اړه راوړي: « د هرات ښاریان د ښار کوڅو ته راووتل او په دولتي ادارو او موسساتو کې یې د شوروي سلاکارانو او خلقیانو په (ښکارکولو) او وژنه لاس پورې کړل، د وسلو او مهماتو زیرمو ته اور اچول او دولتي ادارې د اور خوراک شوې. » ښورښیان د کب په ۲۴ او۲۵ بریالي شول چې د ښار په زیاترو سیمو واکمن شي. هغوی په افغانستان بانک حمله وکړه د بانک دروازې یې ماتې کړي خو فلزي صندوقونه یې مات نشوای کړی او دولتي ذخیره خوندي پاتې شوه. د هرات په ښار کې ښورښیان بریالي نشول د ولایت مقام ، ګوندي کمیټه او د ځارندوی( پولیسو) قوماندانی ونیسي. د کب په ۲۶ د هرات په فرقه کې یو شمیر افسرانو چې مرکزي رول پکې جګتورن علاوالدین او تورن اسمعیل درلود بغاوت وکړ. په یوه روایت د هغوی پلویانو په خورنځي برید وکړ اوهلته یې د شپیتو تنو شا اوخوا ګوندیان او دولت ته وفادار افسران ووژل او په بل روایت هغوی د فرقې په صالون کې چې غونډه روانه وه برید وکړ. همدارنګه د دافع هوا په توپ یې په قوماندانی ډزې وکړې. د فرقې مشران د شینډنډ هوایي ډګر ته وتښتیدل. په فرقه کې یو ناڅرګند وضعیت او یوه انارشي واکمنه شوه. بغاوت کوونکو افسرانو د وسلو د ډیپوګانو دړې خلاصې کړې او وسلې او مرمی یې په خپلو پلویانو ملګرو وویشلې. دا مهال د شینډنډ د هوایي ډګر څخه جنګي الوتکو په ښار بمباری کوي ،د کابل او کندهارڅخه یې مرستندوی ځواکونه راوغوښتل. د کابل څخه د شهنوازتني په قوماندانی د کوماندو قطعه د شینډنډ په هوایي ډګر کې دیسانت شوه او د کندهار مرستندوی ځواکونه د کب په ۲۷ هرات ته راورسیدل. د کندهارڅخه کومکي ځواکونو او د کوماندو قطعې په ښار او فرقه باندې عملیات پیل کړل او ښورښي پوځیانو ددې وس ونه موند چې مقاومت وکړي اود فرقې څخه وتښتیدل او د هرات ولایت په ځینو ولسوالیو( ادرسکن ، اوبې ) بریدونه وکړل نوموړې ولسوالی یې ونیولې ولسوالان او نور مسئولین یې ووژل او ولسوالی یې چورکړلې او یوه ډله یې د بادغیس ولایت په لور ولاړل د نوموړی ولایت په مرکز واکمن شول والي او یو شمیر چارواکي یې ووژل او د ولایت ملکي او پوځي تجهیزات یې چور کړل. د کابل څخه راغلي کوماندویانو ښورښیان تعقیب کړل او د بادغیس په ولایت کې یې بېرته دولتي نظم ټینګ او ښورښیان په شاوخوا کلیو کې خواره واره شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار څخه د هرات ښار ته د مرستندوی ځواکونو ننوتل په زړه پوري دي. هغوی پخپلو وسایطو سپین او شنه بیرغونه پورته کړي وو. ساده ښوربنیانو چې دا مهال په وسلو ښه سمبال هم وو پدې فکر کې شول چې کندهار هم د دوی مجاهدو ورونو نیولی او دا ځواکونه د دوی مرستې ته راغلي دي هماغه دي چې ښار ته هغوی د ننوتلو خنډ نشول. د کندهار څخه راغلي ځواکونو مورچلونه ونیول په ښوربنیانو یې برید وکړ او ښوربنیان یې تاراومارکړل ، ښوربنیان اړشول چې له ښاره پښې سپکې کړي او پدې توګه د شپږو ورځو وروسته په هرات کې بېرته دولتي نظم ټینګ شو. په هرات کې د تلفاتو په اړه د ځمکې او آسمان ترمنځ توپیر لیدل کیږي. ځینې خو بیا نجومي شمیرې وړاندې کوي. حکومتي اړخ ټولټال تلفات ۳۲۰ تنه ، راجا انور د افغانستان تراژیدي کتاب په ۱۵۶ مخ کې د شوروي متخصصینو او سلاکارانو په شمول تلفات اته سوه تنه ، شوروي سرچینو زر تنه ، نبي عظیمي په خپل کتاب ( اردو وسیاست درسه دهه اخیر) په ۱۹۱ مخ کې ۲۵۰۰ تنه ، اعظم سیستاني (مقدمه بر کودتای ۷ ثور و فجایع هشت ثور) په ۱۳۲مخ کې یوازې د مخالفینو تلفات څلېرویشت زره ، او ځیني هغه پنځوس زره تنه تبلیغوي. خو واقعیت دا دی چې د حکومت په شمول کوم ارګان پدې اړه څېړنې ونکړې.
اوس به د هرات په ښورښ کې د وخت د جهادی مشرانو رول او د پردې شا ته د پردیو ښکیلتیا ته نظر واچوو او بیا قضاوت وکړو چې دا یو خودجوشه خوځښت وو یا دا چې په افغانستان کې د پردیو د لاسوهنو او لوبو څخه یوه لوبه وه . محمداعظم سیستاني د خپل ( مقدمه بر کودتای ۷ ثور و فجایع ۸ ثور) نومي کتاب په ۱۲۹ مخ کې لیکی :« په داسې یوه وضعیت کې د کب په اتلسمه د صبغت الله مجددي له لوري یو لیک د حاجي محمدایوب پواسطه هرات ته را ورسید چې خلک یې عمومي پاڅون ته رابلل. د دې لیک نقل په بیړه په ښار او د هرات نږدې کلیو کې خپور شو او مولوي بهاءالدین د هرات په جامع جوماټ کې خلک د رژیم پرضد جهاد ته راوبلل.» غلام محمدزرملوال د( افغانستان ترورروستی افغانه) کتاب دویم ټوک په ۲۲ مخ کې راوړي چې برهان الدین رباني په پیښور کې د مارچ په لسمه اعلان وکړ:« د ایمان ځواکونو د ده پر لارښوونه د هرات پروالي نظیف الله نهضت برید کړی او ټپي کړی یې دی.» اوهمدارنګه د مارچ په دوولسمه صبغت الله مجددي د کابل د ملحد رژیم پرضد د جهاد فتوا ورکړله. کله چې د مجددي له لوري د جهاد فتواوو ته وکتل شي سړي ته دا فکر پیدا کیږي چې دې کورنۍ په افغانستان کې د جهاد د فتواوو د ورکولو او د پاچایانو د لېږې کولو او کینولو ماموریت درلود. د دې کورنۍ کارنامو ته په کتو سره د داود خان د دې خبرې سره چې یو وخت یې ویلي وو :« ترڅو چې دا قلعه جواد وي افغانستان به د پرمختګ مخ و نه ویني» همغږي وښودل شي. د مجددي او ګیلاني د کورنیو کارنامو ته په کتو سره ویلی شو چې هغوی انګریزانو افغانستان ته د خپلو موخو د پلي کولو لپاره را لېږلي دي. همدا دلیل هم دی چې کله اشرف غني په ۲۰۱۴ کال کې د امریکې سره امنیتي یا د افغانستان د خرڅلاو تړون لاسلیک کړ د هغه د لاسلیک پرمهال د جهادي مشرانو څخه یوازې صبغت الله مجددي او سیداحمد ګیلاني موجود وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





لاندې څو بېلګې د هرات په پېښو کې د ایراني آخوندیانو ښکېلتیا ښیي :

د مارچ په شپاړلسمه د آیت الله خمیني د حکومت ځواکمن غړي آیت الله علي شریعتمداري د ټولې نړۍ په مسلمانانو ږغ وکړ چې « د افغانستان د مسلمانانو ترڅنګ ودرېږي او د کابل رژیم نسکور کړي. »۱۵۸ / ۲۱ بیورلي میل (انقلابي افغانستان) نومي کتاب په ۱۶۲ مخ کې راوړي: « په هرات کې د ایران قونسل جنرال د هرات په پاڅون کې غټ رول ولوباوه. نوموړي په کابل کې له خپلو اجنټانو سره منظم ارتباط لاره او هغوی ته یې د هرات د ښار د وضعې په هکله کره معلومات ورکول. د دې لپاره دلایل شته دا فرضیه ومنو چې دا معلومات په کابل کې د امریکا سفارت ته ورکول کېدل او پخپل وار دې سفارت د تبلیغاتو جوړولو په فابریکه کې له ضرورو زیاتولو او کمولو وروسته د نړۍ په مطبوعاتو کې خپرول.» له همدې کبله وو چې حکومت په هرات کې د ایران قونسل د ناوړه شخص په توګه اخراج کړ. انورراجا ۱۹۸۸ په ۱۵ مخ کې لیکي : « دا په هرات کې راپاریدلي هغه پخواني کارګران ول ، چې ځیني یې په ایران کې د شاه د کرغیړن استخباراتي ځواک یعني ساواک له خوا روزل سوی هم ول ترڅو په افغانستان کې هم لکه د عمان غوندې حالات پېښیدل نوهغوی د یو مخنیویزه ځواک په توګه عمل کوي.» د قیام هرات په نامه کتاب لیکوال د هرات په پیښه کې د ایران د دولت له تګلارې څخه چې د اسلامي انقلاب صادرول دي داسي پرده پورته کوي: « یو ښوونکی چې نوی د ایران د اسلامي جمهوریت نه راغلی وو او د ځانه سره یې اعلامیې راوړې وې ...، رژیم پخپلو تبلیغاتو سره هڅه کوي چې د خلکو فکر له اسلامي انقلاب څخه وګرزوي او موږ هم د اعلامیو او اطلاعیو پواسطه د غلیم د تبلیغاتي جګړې مخه نیسو، موږ په ښارونو او کلیو کې د اطلاعیو په خپرولو سره خلکو ته پوهه ورکوو.» ۱۶۱ / ۶۸- ۶۹

پورتنیو څرګندونو ته په کتو سره ویلی شو چې د هرات اړې دوړې د دې ولایت د چارواکو تر منځ د نه پوهاوي او ناوړه مدیریت پایله وه چې د هراتیانو د نارضایتي او مخالفت سبب شول او د هراتیانو له نارضایتۍ څخه پردیو او په ځانګړې توګه ایراني آخوندانو ګټه پورته کړله او په ښار کې یې اړو دوړو ته لمن ووهله. د هرات ولایت د مشرتابه نه وړتیا او ناکامي لدې څخه ښکاري چې بلواګر ونه توانېدل ولسوالۍ ونیسي ځکه چې د ولسوالیو مسؤلان په خپلو چارو کې بریالي او د خلکو له ملاتړ برخمن وو خو په ښارکې بلواګر بریالي شول ځکه چې د ولایت مشرتابه بشپړ ناکام مشرتابه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- د کابل د چنداول بلوا

د۱۹۷۹ کال د جون په درویشتمه د لسو بجو شا اوخوا د کابل د میوندواټ په لومړۍ برخه کې یو شمیر خلک چې غوڅ اکثریت یې هزاره ګان او شیعیه مذهبي وو راغونډ شول او دولتي ضد شعارونه یې ورکول. هغوی د پولیسو په ماموریت برید وکړ ، ورننوتل ، د ماموریت څخه یې وسلې ترلاسه کړې او ودانۍ ته یې اور واچاوه. دا مهال امنیتي ځواکونو ښورښیان محاصره کړل او د ښکیلو اړخونو ترمنځ نښتي وشوې چې په پایله کې ښورښیان د میوندواټ شاوخوا کوڅو له لارې تیت او پرک شول او پدې ډول بلوا ناکامه شوله . امنیتي ځواکونو زیات شمیر کسان چې اهل تشیع وو ونیول. پدې اړه ویل کیږي چې « مختلفي اسلامي ډلې پردې سلا شوې وې چې په یوه وخت کې به په کابل کې سراسري پاڅون کوي او واک به ترلاسه کوي. د دې پروګرام مشرتابه د پاڅون په وخت کې بدلون راوړی وو خو د چنداولو مسئول نفر چنداولیان ددې بدلون څخه نه وو خبرکړي او شیعه مذهبه چنداولیانو د پلان سره سم اقدام وکړ.» د سراسري پاڅون خبره په بشپړ ډول ناسمه ده او یو شمیر شیعه مذهبي جهادي مخور هم هغه نه مني ، هغه د هرات د ښورښ په څیر خودجوش خوځښت ګڼي او یو د هغو څخه لیکي: « د سراسري انقلاب ادعا غلطه ده او د چنداول پاڅون خودجوش وو.» ۱۶۲ واقعیت دا وو چې ایراني« آیت الله حاجی سیدحسن طباطبایي د جون په یوویشتمه نیټه په خپلو افغان وروڼو غږ وکړچې مقاومت ته ادامه ورکړئ »۱۵۸/ ۲۹ د افغانستان د اهل تشیع مذهبي مشرانو د آیت الله طباطبایي پیغام ته لبیک وو ایه او خپل پلویان یې د جون په درویشتمه وهڅول چې په چنداولو کې په ښورښ لاس پورې کړي. دا چې د چنداول په بلوا کې څومره کسانو ګډون کړی وو او څو تنو یې خپل سرونه وبایلل د هرات د پیښې په شان د نظر یووالی نشته . واکمنۍ ښورښیان دوه سوه تنه اعلان کړل، انتوني هایمن غربي لیکوال په خپل کتاب افغانستان زیرسلطه شوروي په ۲۱۴ مخ او همدارنګه د افغانستان د جهاد د ثقافتی شورا دفترسل زره تنه او محمد اعظم سیستانی په ۱۳۷ مخ کې څو زره تنه ګڼي. بی بی سي د دولت او ښورښیانو تلفات یوولس تنه ، دهلي ستیټمین سل تنه ، د افغانستان د جهاد ثقافتي شورا د خپلو شیعه وروڼو تلفات ۳۰۰ تنه ، عظیمي د۲۰۰۰ څخه زیات او محمداعظم سیستاني د مخالفینو تلفات لس زره تنه ګڼي. د دې لپاره چې د اهل تشیع د جهادي ډلو شورا په ولس کې خپل نفوذ ننداري ته کیږدي د پاڅون کوونکو شمېرسل زره تنه ګڼي چې په تبلیغاتوکي د دومره شمېرې یادونه عجیبه خبره نه ښکاري. د اهل تشیع شورا چې د مذهبي تړاو له امله یې معلومات کره دی دا هوښیاري لري چې د خپلو قربانیانو په شمیر کې احتیاط وکړي خو سیاسي شوي غیرجهادي څېرونکي کوم چې د ( ا، خ، د،ګ) په واکمنۍ کې لوړ مقامونه هم لرل دا هوښیاري نلري او د ښورښیانو تلفات زرګونه تنه یادوي. پدې اړو دوړو کې د سلوزرو تنو برخه ځکه منطقي نه ښکاري چې هغه مهال په کابل ښار کې شاوخوا پنځه سوه زرو( نارینه ، ښځو او ماشومانو) تنو ژوند کاوه چې په بلوا کې د سلو زرو نارینه وو برخه اخېستل منطقي نه ښکاري . کله چې د افغانستان د روان ناتار په اړه د زیاترو لیکوالو او په هغو کې د سیاسي شوو څېرونکو ارزونو ، شننو او قضاوتونو ته وکتل شي د ریالي ستیوارت امریکایی لیکوالي ددې خبرې سره چې « د افغانستان رښتینی تاریخ یوازې د خلکو په سینو کې موندلی شئ نه په پاڼو اوسندونو کې » همغږي وښودل شي. دا د خواشینی وړ تریخ واقعیت دی چې ولس د خپل هیواد د رښتیني تاریخ په هکله نه پوهیږي. دا چې تېرو واکمنانو د خپلو استبدادي ځانګړتیاوو له امله اجازه نه ورکوله چې څوک حقایق وو ایي ملامتي د واکمنانو وه خو اوس مهال هغه ډله د قلم او نظر خاوندان کوم چې په لویدیځ کې ژوند هم کوي اوهغوی ته کوم ګواښ متوجه نه دی بیا هم جعلیات خپروي او د خپلو ذهني تمایلاتو او سیاسي اوعقیدوي تړاوونو له امله د درواغو په خپرولو سره تاریخ مسخه کوي دا بیا د خواشینی وړ یو تریخ واقعیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج – مخالفینو ته د اسمار د غونډ وراوښتل

د اسمار غونډ په مهمه ستراتژيکه او غرنۍ سیمه کې د کونړ د سیند پر غاړه پروت وو. دې غونډ د۱۳۵۸ کال د دوبي د پیل څخه د مخالفینو په محاصره کې شپې او ورځې تیرولې او یوازې د هوا له لارې ورته اکمالات کیدل. ښایي د محاصرې او یا نورو لاملونو له امله وو چې د غونډ غیرګوندي قوماندان ډګرمن عبدالروف نجرابي ( ساپي ) د مخالفینو سره همغږۍ شوی وي چې غونډ هغوی ته تسلیم کړي. نوموړي دا کار هغه مهال وکړ چې د کونړ والي نظام الدین د غونډ لیدو ته ورغلی وو. قوماندان په لومړي ګام کې دولت ته وفادار ۱۵۰ تنه افسران، والي او د هغه سره راغلي کسان ووژل او بیا یې دا دوه زره کسیز مجهز سرحدي جزوتام مخالفینو ته تسلیم کړ. مخالفینو قوماندان د همدغه ځواک د مشر په توګه ومنلو.څه موده وروسته د دولت مخالفینو چې د اسمار تسلیم شوی غونډ هم ورسره وو په چغسرای ( اسعدآباد) د کونړ په مرکز برید وکړ. « یوه لنډه نښته وشوه چې مجاهدینو خپلې درنې وسلې په ښارګوټې باندې سپړو لوړو سیمو ته خیژولې. وروسته برید د یو لړ ترخو خپلمنځي نښتو په ترڅ کې په ټپه ودرید. ډګرمن عبدالرؤف د ده په ځواکونو باندې د حکومتي بمباریو د ویرې له کبله غوښتل پر شا ولاړ شي. د مقاومت ډلې پخپل منځ کې پدې شخړه بوختې وې چې څنګه ترخپل منځ د ینځمې لوا ( د اسمارپنځم لمبرغونډ) وسلې وویشي. پدې موکه د چغسرای ګارنیزیون ته نوي هوسا پوځونه راورسیدل او پر هغه برید شنډ شو.» ۱۶۳ / ۳۶ « د ډګرمن عبدالروف د غونډ ګڼ شمیرغړي د دې پیښې په نتیجه کې نهیلي شوي وو، پیښور ته لاړل او ورڅخه شا ته د پاتې شوو وسلو او تجهیزاتو پر ویش د مجاهدینو د قوماندانانو ترمنځ خونړۍ جګړې وشوې.» ۱۵۸ / ۳۴ د همدې پېښې په هکله د وحدت اسلامي ګوند د مشرتابه غړی مصباح زاده ورته څرګندوني لري: « له بده مرغه په پیښور کې میشته ډلو د سیالی له امله چې د غونډ پر امکاناتو لاس پیدا کړي، د افسرانو ترمنځ اختلاف پیدا شو او پایله یې د افغانستان د سرحدي غونډ چور شو.» ۱۶۲ د دولتي ځواکونو څخه د ترلاسه شوو وسلو او پوځي تجهیزاتو پرسر همیشه د مجاهدینو ترمنځ شخړې او خونړۍ نښتې شوې دي . دا وسلې بیا قوماندانانو خرڅولې او پدې ډول یې شتمنۍ ټولولې. د وسلو او مهماتو سربیره جهادي قوماندانانو ویجاړ شوي او یا غیرفعال پوځي وسایط ټوټې ټوټې کول او د پاکستان په بازارونو کې د کباړ په ډول پلورل. ځینې وختونه به یې سلامت جنګي وسایط د ماینونو او چاودېدونکو توکو پواسطه الوزول او ټوټې به یې په بهراو په ځانګړې توګه په پاکستان کې پلورلې او دا کار هغه مهال د غنیمت په نامه یو دود او مشروع سوداګري ګڼل کیده. کله چې تنظیمونه واک ته ورسول شول د خپل عادت او کسب له مخې چې سوداګري یې دوام وموميي حتی د خاورو لاندې غزیدلي د برېښنا کیبلونه د ټانکونو پواسطه راایستل او خپلو بهرنیو مشتریانو ته یې رسول. ددې سوداګرۍ له امله په پاکستان کې دومره فولاد ذخیره شول چې په ۱۹۸۶ کې پاکستان د فولادو د صادروونکو هیوادونو غړیتوب ترلاسه کړ او د جاپان سره یې د فولادو د خرڅلاو تړون وکړ. د افغان مجاهدینو له لوري د وسلو او مهماتو د سوداګرۍ په هکله مارک آربن لیکي : « د وسلو او ګولیو د پلورلو له لارې د درې په بازار کې ، کوم ځای چې د کلاشنکوف اوکارتوسو بیه زرو ډالرو ته رسیدله،خورا زیاتې پیسې ترلاسه کیدې دې کار(د افغانستان) جګړه په خورا ګټوره سوداګرۍ بدله کړې وه.» ۱۶۳ / ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امریکې د سفیر وژنه

د ۱۳۵۷ لمریز (۱۹۷۸ز) کال د یخنیو په تیرېدو سره په افغانستان کې د داسې خونړیو پېښو لړۍ پیل شوله چې په هېواد کې یې د ناتار ترخه پیغامونه له ځانه سره لېږدول . د دغو پیښو څخه یوه په کابل کې د امریکې د سفیر آدولف سپایک دابس اختطاف او بیا وژنه وه. دابس د مارچ په څوارلسمه سهار په خپل موټرکې سفارت ته د تلو پرمهال د کابل د نوي ښار د انصاري په څلورلارې کې یوه تن چې د پولیسو یونیفورم یې درلود د نوموړي موټر ته د دریدو اشاره ورکړه. موټر ودرید او اختطاف کوونکی د موټر چلوونکي ترڅنګ کیناست او دا مهال دوه تنه نورهم راغلل او په موټر کې د سفیر ترڅنګ کیناستل او ډریور ته یې وویل چې د کابل هوټل په لورحرکت وکړي. هوټل ته په رسیدو سره یرغمل نیوونکو سفیر له ځانه سره هوټل ته یووړ او ډریور (ګل محمد) ته یې وویل چې سفارت ته خبر ور کړي چې سفیر په کابل هوټل کې دی.سفارت د پیښې څخه په خبریدو سره د حکومت سره اړیکه ونیوله او وسلوال ځارندویان هوټل ته راورسیدل. د ځارندوی قوماندان جګړن سید داود ترون هم هوټل ته راغی . د څه وخت په تیریدو سره د کورنیوچارو د وزارت د جنايي جرمونو سره د مبارزې شوروي سلاکار ډګروال الکساندر کلیوشینکوف، د شوروي سفیر امنیتي دستیارډګرمن سرګې بختورین ، د سفارت دوهم سکرتر کوتیپوف ، د امریکې د سفارت سیاسي سلاکار بروس پلاتین او د امریکې د سفارت نور کارکوونکي او د سفیر مېرمن هم هوټل ته راورسیدل. یرغمل نیوونکو سفیر د هوټل دوهم پوړ ۱۱۷ لمبر کوټې ته چې د افغانستان بانک مخامخ ده وړی وو . د سفیر د خلاصون په اړه د افغاني، شوروي او امریکایی اړخونو د ګډو مشورو، د یرغمل نیوونکو د غوښتنو او د عملیاتو د څرنګوالي په اړه د «چګونه ما با ویروس آ هجوم بر افغانستان مواجه شدیم» کتاب د۱۳۲ څخه تر۱۴۳ مخونو کې توضیحات ورکړل شوي دي چې دلته یې لنډیز راوړل کیږي. سید داود ترون د لودسپیکر له لارې د یرغمل نیوونکو څخه د هغوی د غوښتنو په اړه وپوښتل هغوی د زندان څخه د مولانا بحرالدین باعث د آزادېدو، د بهرنیو ژورنالستانو سره د کتنې او د یوې الوتکې غوښتنه لرله چې بهر ته دوی او سفیر ولیږدوي . د امریکایانو له لوري د دروازې د قلف له سوروي څخه د سفیر سره په انګریزي خبرې وشوې او هغه د خپل صحت ډاډ ورکړ او دا یې هم وویل چې د ده سره ښه چلند کیږي. امریکایانو هڅه وکړه چې د خپلو سمندري پوځیانو په واسطه چې د سفارت د ساتنې دنده یې لرله سفیر وژغوري خو پدې کار کې پاتې راغلل. هغوی یوه اوږده زینه د بهر له خوا د هوټل د هغې کوټې لاندې ځای پرځای کړه چې سفیر پکې یرغمل نیول شوی وو. خو هغه ځوان چې باید د کړکۍ نه کوټې ته ننوزي جرئت ونکړ چې جګ شي . همدارنګه ځارندویانو د اوروژنې په شان د ګازو بالون راووړ، چې کوټې ته په بالون کې د شته کیمیاوي توکو چې ګواکې خفه کوونکی یا بیسده کوونکی اغیز درلود په پمپ کولو سره یرغمل نیوونکي او سفیر بې سده کړي ، بیا کوټې ته ننوزي او پدې ډول سفیر د یرغمل نیوونکو له منګولو څخه وژغوري. خو د بالون څخه څه راونه وتل او داسې ښکاري چې د بالون ګازو د زیات وخت د تیریدو له امله خپل خواص له لاسه ورکړی وو یا دا چې کوم بې کیفیته مواد وو. یرغملګرو وروستی ضرب العجل د ماپښین یوه بجه وټاکه. دا مهال امریکایانو ته وویل شول چې دابس د انګریزي پرته په بله کومه ژبه پوهیږي ترڅو هغه ته په هماغه ژبه وویل شي چې د معدې د تکلیف له امله تشناب ته د تلو اجازه واخلي او دا مهال به په کوټه برید وشي. هغوی وویل چې په روسي او جرمني پوهیږي. هماغه دي چې په جرمني ورته وویل شول چې دا کار وکړي خو یرغملګرو غبرګون ونښود. د بیویرلی میل د افغانستان انقلابي نومي کتاب انګریزي لیکوال په وینا د امریکې د سفارت سیاسي سلاکارفلاتین د دې کارڅخه ډډه وکړه. ویل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا مهال د۱۱۷ کوټې څخه یو ډز وشو او نور بیا وايي چې په هوټل کې ډزې پیل شوې او د ډزو په اوریدو سره د افغانستان بانک له مانۍ او هم له دهلیز نه په ۱۱۷ کوټه ډله ئیز ډزونه وشول او دې ډزو یوه دقیقه هم دوام ونکړ پولیسو دروازه ماته او کوټې ته ورننوتل. کله چې سیداود ترون ورننوت سفیر په څوکۍ کې بیحاله او سر ځوړند ناست وو څلور تنه نورهم دې خوا او هغې خوا په وینو کې ښوریدل او دوه تنه یې چې ژوندي وو هغه ترون وویشتل او پدې ډول یرغمل نیوونکي او سفیر ووژل شول. د کتاب روسي لیکوال پدې ټینګار کوي چې د کورنیوچارو د وزارت شوروي سلاکار د دا ډول عملیاتو مخالف وو خو ترون د چا سره د ټیلیفوني خبرو وروسته ورته وویل چې مقابل لورۍ وايي چې شوروي سلاکار حق نلري په عملیاتو کې مداخله وکړي. په یوه روایت سفیر لا ژوندی وو او د امریکایانو په روغتون کې یې ساه ورکړه او په بل روایت د ډزو پرمهال وژل شوی وو. په همدې ورځ د شپې په خبري سرویس کې د پښتو په اړه خبرخپور شو او بله ورځ د فبروري په پنځلسمه په دولتي رسنیو کې د امریکې د سفیرد وژنې پیښه خپره او همدارنګه د وژل شوو یرغمل نیوونکو عکسونه خپاره شول او هغه څلور تنه ښودل شوي وو. د «مولانابحرالدین باعث مردي ازتبارآزادګان» نومې کتاب لیکوال( دکتور جمال سینا دلیري) د وژل شوو څخه درې تنه د باعث پلویان او څلورم د هوټل کارکوونکی ګڼي او هغوی داسې معرفي کوي:

۱. ځوان شاعر شریف نایل، د بدخشان د جرم
۲. قادر د بدخشان د شهر بزرګ
۳. عبدالله د بدخشان د شهربزرګ
۴. د کابل هوټل یو کارکوونکی چې هغه اورپکی نه وو.

جمال سینا دلیري وايي : « له بده مرغه رهبر یې د سلواغې په یوولسمه ( ۱۹۷۹ جنوری ۳۱ ) په شهادت رسیدلی وو او دولت بله لار نلرله بېله دې چې د امریکې د متحده ایالاتو د سفیر یرغمل نیوونکي وځپي.» که چیرې د باعث د دې خواخوږې له وینا سره همغږې وښودل شي چې مشر یې وژل شوی وو نو بیا یې ولې سفیر یرغمل ونیو؟ پدې صورت کې دا احتمال لري چې د دې پېښې سمبالوونکي مرکز غوښتل د افغان دولت او امریکې اړیکې خړې پړې کړي. که د دې دسیسې طراح مسکو وي موخه یې دا وه چې افغانستان لا نور هم په مسکو پورې وتړل شي. پر بله خوا که د دې پېښې طراح امریکایي اړخ وي موخه یې دا وه چې سفیر له منځه لاړشي ځکه هغه د خلقي حکومت سره د تعامل او ښو اړیکو غوښتونکی وو او سي آی اې د افغانستان سره دوستانه اړیکې نه غوښتلې . باعث د بدخشان اوسیدونکی او د انتظارد محفل مرستیال وو. کله چې دا سازمان په دوو ډلو ( سازا او سفزا) وویشل شو ده د سفزا د ډلې مشري ترلاسه کړه چې دې ډلې د سلطنت ، جمهوریت او د خلقي واکمنۍ خلاف وسلواله مبارزه پرمخ وړله. نوموړی په ۱۹۶۶، ۱۹۶۸او۱۹۷۲ کلونو کې د حکومتي ضد کړنو له امله زنداني شوی وو. د جمهوریت د اعلان شل ورځې وروسته له زندانه راووت او په ۱۹۷۶ کال کې بیا په بدخشان کې د جمهوریت خلاف ښورښ له کبله بندي شو. هغه د۱۹۷۸ کال د اګست په پنځلسمه چې د علي آباد د روغتون په عقلي او عصبي سرویس کې تردرملنې لاندې وو د روغتون څخه وتښتید او د هغه معالج ډاکټر اسعد احسان غبار د هغه سره د همکارۍ په تور بندي شو. د باعث پلویان وايي چې حکومت د۱۹۷۹ کال د جنوري پر۲۹ نیټه د خیرخانې مینې په یوه کور کې ونیو او دوه ورځې وروسته یې وواژه. لیکوال ته په هالند کې د مرادي په نامه یوه بدخشي د خیرخانې مېنې څخه د پولیسو له لوري د باعث د نیولو پېښه تاییدوي چې دی هم هلته کله ناکله ورتللو. د( انقلابي افغانستان ) کتاب د لیکوال په وینا کله چې پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماجرا کي د امريکايي او افغاني اړخونو ځرګندونو ته وکتل شي په هغو کي په ځرګند ډول د پلمو او د حقايقو د پټولو هڅې ليدل کيږي. امريکايان يرغمل نيوونکي « شيعه کوچنی د چپو آرمانو خاوند سازمان» ګڼي. امين هغه « افراطي کيڼ لاسي او تنګ نظره ناسيونالستان » معرفي کوي . دا هم عجيبه بريښي چې ځيني بيا د يرغمل نيوونکو غوښتنه له زندان څخه د دريو تنو« بحرالدين باعث، عطا الله فيضاني ، مجيدکلکاني » آزاديدل غوښتل چې نوموړي دری تنه د مختلفو عقايدو لرونکي وو. امين هم په خپله وينا کي د يرغمل نيوونکو شرط د دريو تنو بنديانو آزادول وويل خو يوازې يې د باعث نوم ياد کړ. د پيښې وروسته د فبروري په پنځلسمه په دولتي رسنيو کي د امريکي د سفير د وژني خبرونه خپاره شول، منځپانګه يې پدې راتاويده چې آدولف دابز( دابس) د افغانستان د خلکو د دښمنانو له خوا ووژل شو. کابل ټايمز پخپله سرمقاله کي راوړي: « امريکايان پوهيږي چې داسي يو پاروونکی عمل به د دواړو هيوادونو ترمنځ د ملګرتيا اړيکي خرابې نکړي » خو د امريکايانو غبرګون ډير سخت وو هغوی کابل ته بل سفير راونه ليږه ، خپل کومکونه يې که څه هم لږ وو ودرول. د پنځو مياشتو وروسته يې د جولای په درويشتمه د افغانستان څخه د خپلو وګړو او ديپلوماتانو ايستل پيل کړل او د اګست په ۱۴ يې په افغانستان اقتصادي بنديزونه ولګول چې لويديځي اروپا او متحدينو يې د امريکې په پله ګامونه پورته کړل. امريکايي اړخ د خپل سياسي استازي د وژنې پړه پر شورويانو واچوله. په واشنګټن کي يې د شوروي سفير احضار کړ همدارنګه په مسکو کي د امريکې سفير رسماً خپل احتجاج د شوروي د بهرنيو چارو وزير ته وړاندې کړ. پدې هکله د سفير ميرمن وايي :« د هوټل په دهليز کي د افغان حکومت امنيتي کارکوونکي ، د هغوی روسي سلاکاران او زموږ د سفارت افسرانو هڅې کولې چې د يرغمل نيوونکو سره د هغوی د غوښتنو په اړه خبرې وکړي. د څو ګړيو بې نتيجې خبرو وروسته ، روسانو چې ظاهراً يې حوصله له لاسه ورکړې وه افغانانو ته يې د اور امر ورکړ.»

)Wiliam Hardwoord.Time week . December 18 . 2001(

دستګيرپنجشيري د ګوند د سياسي بورو د هغې غونډې په اړه چې د امريکي د سفير د اختطاف او وژل کيدو مسئله يې څيړله او شوروي سفير هم پکې ګډون کړی وو ليکي:« پوزانوف د اورپکو له لوري د دبس يرغمل نيونې ، د امنيتي ځواکونو بيړه ناکو عملياتو او د دبس وژنې له امله سخت انديښمن او غوسه ناک بريښيده. هغه بيړه ناک او ماجراجويانه پوځي عمل د افغانستان او سيمې امنيت ته زيانمن ګڼه، په آمرانه ډول يې له تره کي وپوښتل: ملګری تره کي ! ولې مو دا خورا پيچلې سياسي مسئله د خبرو اترو، پوهاوي او زياتو احتياطي تدبيرونو د نيولو له لارې حل نکړه ؟ تره کي د شوروي سفير په وړاندې دا رنګه غبرګون وښود: ملګری پوزانوف ! تاسې زموږ په دربار کي سفير ياست نه زه ستاسو سفير. دا د افغانستان کورنی مسئله ده. شوروي سفير د دې ځواب په اوريدو سره بيله کوم غبرګونه د ګلخانې له مانۍ ووت. »۲ / ۱۱۹ د پوزانوف او تره کي له ځرګندونو بريښي چې د عملياتو لاربښوونه افغانانو کوله. پدې هکله او په تيره د افغان څارندويانو د فعاليت په اړه د امريکې د څارګرې ادارې ( سيا) د يوه غړي ځرګندونې په زړه پورې دي چې د شوروي څارګر سره کړې دي. « زما څخه ته ښه پوهيږې چې سفير د افغانستان د پوليسو د منسوبينو له لورې ووژل شو، بدفعلو، احمقو، ظالمو او بيسوادو پوليسو يا ښايي برعکس؟ دا پوليس ډيرهوښيار، ماهر او روڼ اندي وو چې ويې کړای شوای موږ او تاسو، امريکايي او روسي انټليجنټان تير باسي. »۶۳ / ۱۴۸ د پشت پرده افغانستان نومی کتاب کې راغلي دي : « د۱۹۷۸ په وروستيو او د۱۹۷۹ په لومړيو کې برژنسکي او دابس هر يوه پداسې هدفونو کار کاوه چې د يو بل مخالف وو. برژنسکي په پرله پسې ډول هڅه کوله ولسمشر وهڅوي چې د سيا د بهرني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست د څارنې د کمیټې واکونه چې سرپرستي یې د بهرنیو چارو وزیر لري د ملي امنیت د شورا ځانګړې د هماهنګۍ کمیټې ته ولیږدوي چې مشري یې ده د ملي امنیت د مشاور په توګه لرله چې پدې ډول د وینس( د امریکې د بهرنیو چارو وزیر) واکونه محدود کړي. پدې صورت کې برژنسکی کولی شول د شوروي ضد یو لړ پټ یرغلیز اقدامات تر سره کړي ، بیله دې چې د بهرنیوچارو وزارت د هغو په اړه څه وپوهیږي.» ۴۷ / ۳۸ د ثور د پاځون وروسته د افغان دولت په هکله د امریکې د متحده ایالاتو په دولت کې د بهرنیو چارو وزیرسایروس وینس او د کارتر د ملي امنیت مشاور زبینګوبرژنسکي ترمنځ اختلاف وو. وینس پدې عقیده وو چې « په نوې رهبری کې د کمونیزم او ملي ګرایی ترکیب په پام کې ونیسو او د شوروي په لور د نوي رژیم د لا نږدې کیدو مخه ونیسو»۴۷ / ۳۷خو مقابل لوري بیا نوي رژیم ته د ستونزو په جوړولو ټینګار درلود لکه څرنګه چې «کله برژنسکي د امین خلاف وسلوال مقاومت هڅاوه دابس د هغه سره مذاکرې پرمخ وړلې.» ۴۷ / ۳۹ ښایي ددې اختلاف له امله د سي آی اې د پلان له مخې دابس له ډګره اېستل شوی وي . د یرغمل نیوونکو په وړاندې د امریکې د سفیر د غبرګون په اړه په سیاسي کړیو کې دا پوښتنه کیدله ، ولې سفیر چې دیپلوماتیک مصئونیت یې هم درلود خپل موټر پولیس ته ودراوه ؟ امین هم په هماغه ورځ وروسته له هغې چې د کابل په هوایي ډګر کې یې د عراق د بهرنیو چارو وزیر ته مخه ښه ویلې وه د سفیرانو او خبریالانو یوې غونډې ته داخبره کړې وه. د ویروس آ نومې کتاب لیکوالانو یوې حیرانوونکې مسئلې ته ګوته نیولې چې پرهغې باورنشي کیدای خو د تامل وړ هم برېښي هغوی لیکي چې کله په ۱۱۷ لمبر کوټې برید وشو د سفیر په دپلمات بکس کې د مخ دستمال ، د غاښو برس او داسي نور شیان چې په سفر کې ضرور برېښي موجود وو. « افغان چارواکو څو میاشتې مخکې وړاندیز کړی وو چې د ساتونکو یوه ډله ( ګارد) پولیس د سفیر د موټر لپاره وګومارل شي. حتی (ګل محمد) موټر چلوونکي یې ویل چې د سفیر ترغوږو یې د موټر د تعقیب خبره رسولې وه. ددې سره سره امریکایانوامنیتي تدبیرونه ونه نیول. امریکایي چینو سره لدې چې د سفیر موټرتعقیبیده خو د افغانستان د مقامونو له لوري د ساتونکو ( ګارد) وړاندیز رد کړ.»

. Kidnapping of US Ambassador Dubs, Summary of report investigation( ) Prepared by US state Department vikrant(Delhi) may 1980 pp44-53

د دابس د یرغمل نیونې د ماجرا په هکله شورویانو د افغانستان د اشغال پر مهال د خپلو پخوانیو ادعاوو خلاف ځرګندونې کولې . د بیلګې په توګه وایي چې د امین د کړنو په اړه پلټنو وښودل چې « اسلامپالو له ځان څخه تېرو شیعیه ګانو داسې پلان درلود چې د مرګ په تهدید سره سفیر اړ باسي چې په کابل کې د امریکا د سفارت سره د امین د پټو اړیکو څخه پرده پورته کړي. کله چې دابس په کابل هوټل کې یرغمل وو امین د غیر ضروري او بې لزومه برید امر وکړ ، سفیر مرګونی ټپي شو، یو ترهګر ووژل شو، بل ټپي دوه نور زنداني او سبا ته د امین په امر ټړون له منځه یووړل او ټړون هم د۱۹۷۹ کال د سپتمبر په ۱۴ په مبهمو شرایطو کې ووژل شو.» که چیرې پورتنی ادعا ته وکتل شي دا پوښتنه پیدا کیږی چې شورویان له کومه ځایه د یرغمل نیوونکو له پلان خبر شول پداسې حال کې چې څلور واړه ووژل شول؟ او که د دابس د یرغمل پلان پخپله شورویانو او یا د نوموړې هیواد څارګرو تنظیم کړی وي نو دا بیا ښیي چې ددې ماجرا هڅوونکی او طراح مسکو وو. همدارنګه امریکایي اړخ ته ورته پوښتنه راجع کیږي چې امریکایان یرغمل نیوونکي شیعه اسلامپاله کوچنی ډله معرفي کوي چې امریکایانو د روسانو په شان له یرغمل نیوونکو څخه نه تحقیق کړی او نه حکومت د هغوی سره د کتنو شرایط برابرکړي وو. د دابس د مرګ په لومړی ورځ او تر دریو نورو ورځو پورې په امریکایي رسنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د یرغمل نیوونکو غوښتنه چې بحرالین باعث له بنده خلاص شي بیانوله. باعث ټولو ته څرګند دی چې اسلامپاله افکارنلرل بلکې د چپوسکتاریستي افکارو خاوند سازمان د مشرانو څخه وو. خو امریکایانو وروسته د خپلو د لومړیو ورځو خلاف د باعث نوم هیڅ نه راوړي او یرغمل نیوونکي اسلامپال شیعیه ګان ښودل. که چیرې د امریکي د سفیر د یرغمل نیونې په اړه پورتنیو څرګندونو ته وکتل شي ناشونې ده چې د یرغمل اصلي مرکز بربنډ شي. خو پدې کې شک نشته چې د یرغمل نیونې هڅوونکي او لمسوونکي باید په افغانستان کې نه بلکې په لوبیانکه ( د کی جی بی مقر) او لانګلي ( د سیا په مرکز) کې ولټول شي. ځکه چې لومړي مرکز غوښتل د امریکې او افغانستان اړیکې خړې پړې شي چې همداسې وشول. سیا او په سپینه ماڼې کې د بریژنسکي ډلې غوښتل د پاکستان سره په پوهاوي کې د تره کي رژیم نسکورکړي یا دا چې افغانستان « د روسانو په ویتنام واړوي » چې دوهمه سناریو یې پلې هم شوه او دابس بیا ددې ډول تګلارې مخالف وو. د امریکې د سفیر د یرغمل نیونې او په کابل هوټل کې بیا د هغه د وژنې په اړه ددې ارزونې سره چې « د ستم ملي دې عمل، او ورسره د حکومت بېړه ناک اقدام او د واشنګتن ناسنجول شوي یا ممکن عمداً غلیمانه غبرګون د افغانستان او امریکې په اړیکو سخت ګوزار وکړ.» ۱۵۸ / ۲۰ او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دریځ ته یې په نړیواله کچه ستر زیان ورساوه.

)Linguistic Mission to Afghanistan, March 2007 (

## د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د دوستی اوهمکاری تړون

تر۱۳۵۷ کال پورې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ دوستانه اړیکو اوږد مزل وهلی وو . شوروي سوسیالستی روسیه لومړی هېواد وو چې د۱۹۱۹ کال د مارچ په اووه ویشتمه یې خپلواک افغانستان او همدارنګه افغانستان هم لومړی هیواد وو چې د شوراګانو دولت یې په رسمیت وپیژاند. د دواړو هېوادونو تر منځ د دپلوماتیکو اړیکو په ټینګېدو سره مسکو له افغانستان سره زیاتې مرستې کړې دي . که څه هم افغانستان د نورو هېوادونو او په هغو کې د امریکا متحده ایالتونو څخه هم مالي او تخنیکي مرستې ترلاسه کړې دي خو د شوروي د مرستو کچه ډېره لوړه وه. یوازې د۱۹۷۰- ۱۹۷۷ کلونو کې شوروي اتحاد افغانستان ته ۵۶۹ ملیونه امریکایي ډالر مرستې ورکړې دي چې په همدې موده کې د امریکې د متحده ایالتونو مرسته د۱۷۵،۲ میلیونو ډالرو څخه نه جګیږي. په پوځي برخه کې د شوروي اتحاد ونډه ۳۳۰ میلیون او د امریکې ۶، ۱میلیون ډالره وه. افغانستان ته د بهرنیو مرستو په سلو کې ۶۵ د شورويٍ اتحاد له لورې ورکول کیدې. دا ډول اقتصادي تړلتیا د دې سبب شوې وه چې د افغانستان واکمنۍ هڅه وکړي چې د شوروي دولت سره دوستانه اړیکې وساتي. خلقي حکومت پداسې شرایطوکي واک ترلاسه کړ چې د هیواد اقتصادي- ټولنیزې ستونزې پریمانه ، افغانستان د اقتصادي او پوځي پلوه په مسکو پورې تړلی وو او له بلې خوا لویدیځ او د هغه سیمه ئیزو متحدینو د دولت د مخالفینو پر مټ ورته ستونزې جوړولې . پداسې یوه وضعیت کې خلقي واکمنۍ بله لاره نلرله بیله دې چې د مسکو په مرستو ډډه ولګوي. مخکې یادونه شوې وه چې مسکو د خلقیانو د پاڅون له امله خوښ نه وو خو مسکو هم اړ وو چې د خلقي حکومت ملاتړ وکړي. مسکو نوي نظام ته په شا ګرزونې سره لیدل چې نظام رانسکوریږي او بدیل یې شوروي ضد ځواکونه دي . مسکو د خلقي حکومت مجبوریتونو ته په کتو سره خپل شرطونه اینبودل چې یو یې پرچم ته په واکمنۍ کې د پام وړ برخې ورکول وو. خلقي مشرانو د مسکو دې شرط ته غاړه کیښودله خو د پرچم مشرتابه بیا د شورویانو سره په همغږۍ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دریځ د لا پیاوړتیا او راتلونکو نقشو د پلي کولو په موخه ناوړه ګټه پورته کوله.پدې اړه محمد حسن شرق لیکي:« د ثور د اوومې کودتا وروسته هم شوروي سلاکارانو اوهم پرچمیانو هڅې پیل کړې چې د پرچمیانو د واک تشه ډکه کړي . د پرچم لیکو ته په پټه د اردو د صاحب منصبانو جذب د دې لامل شو چې خلقیان د ګوند د یووالي په اړه د پرچمیانو په ربښتینولی شکمن شي. »۱۹ / ۲۵۱ د پورتنۍ وینا په هکله اړینه بریښي وویل شي چې په پوځ کې د پرچمیانو او شوروي سلاکارانو د پټو فعالیتونو موخه بېله کومه شکه د خلقي حکومت خلاف پوځي کودتا ته د تابیا نیولو معنی لرله چې لږ موده وروسته یې د کودتا په اړه هڅې کشف او مخه یې ونیول شوه. د خلقي واکمنۍ په وړاندې د مسکو موخې او دریځ د ن. تره کي له هغو څرګندونو څخه معلومیږي چې د کیوبایي خبریال د دې پوښتنې چې تاسو د شوروي اتحاد سره په اقتصادی اړیکو کې داسې څه وینئ چې پرهغو مذاکره وکړئ په ځواب کې ویلي وو: « موږ همدا مهال د شوروي اتحاد سره اقتصادی اړیکې لرو...، موږ د شوروي اتحاد او نورو هیوادو څخه تمه لرو چې موږ ته بیله قید او شرطه مرسته وکړي. موږ مرستې منو خو د شرطونو سره مرستې نه منو.» ۱۵۹ / ۷۰ پداسې یوه حالت کې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت او د شوروي اتحاد ترمنځ اړیکو شتون درلود. شوروي اړخ حکومت ته د مالي ، تخنیکي او پوځي مرستو سربیره د واکمنۍ د ټینګښت او سمونو د پرمخ وړلو په موخه سلګونه ملکي او پوځي سلاکاران راولیږل. خو ډیر ژر معلوم شول چې زیاترو یې تخصصي وړتیاوې نلرلې . دا بیا ښیې چې هغوی د کارپوهانو په نامه څارګر وو. واسیلي میتروخین شوروي څارګرد خپل کتاب په سلم مخ کې د شوروي سلاکارانو د نه وړتیا په اړه د افغاني اړخ د ناخوښۍ په اړه لیکي :« له هغې ورځې چې سلاکار بریاسکین د افغان سرتیرو سرمشري کوي افغان پوځ د انقلاب ضد ډلو په ټکولو کې څرګنده ناوړتیا ښودلې ده...، دا موږ ته د دې معنی رابښندي چې ستاسو ټول سلاکاران ناوړ او بې کفایته دي موږ هغو تجربه کارانو جنرالانو ته اړتیا لرو چې موږ یې په شوروي اتحاد کې پیژنو...، پرته له هغې ، موږ ته به ډیره ګرانه وي چې ستاسو له جنرالانو سره په دې ډول چلند وکړو.» همدارنګه د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو وزیر د خپلو دوو شوروي سلاکارانو په اړه لیکي : « دوی دواړو د ارضي اصلاحاتو په اړه تقریباً هیڅ معلومات نه درلودل او ما به په دریمه نړۍ کې د شوروي پلوه ګوندونو ارضي اصلاحات ورته توضیح کول او د افغانستان د زراعتي وضعې په اړه به مې معلومات ورکول. په عمل کې دوی ماته د مشورې راکولو صلاحیت نه درلود .» ۴۰ / ۳۸۸ د کرملن چارواکو د خلقي مشرانو څخه دا تمه لرله چې شوروي سلاکاران باید د افغانستان د دولت د چارو لارښوونه وکړي . « د بیلګې په توګه سلاکار ن. ک. ګریچین وویل چې هغه دې د پټ وزیر په توګه وټاکل شي چې د پلان وزیر ترڅنګ کار وکړي او اقتصادي او مالي چارې ورسره په ګډه پرمخ بوزي او هم به هغه پلانونه چې دوی ته ورکول کیږي پلي کړي، په حقیقت کې دی د هر څه پازوالي ( مسئولیت) په غاړه ولري نوموړي وړاندیز وکړ چې ټولې اړوندې خواوې یعنې وزارتونه دې د دوی له ټولو پریکړو سره همغږې وي. د مالیې وزیر عبدالکریم میثاق او د سیاسي بیرو غړي پرځای نیوکه او ګوتڅنډنه وکړه چې دا خو ملکري ملتونه نه دي ! میثاق وویل هر وزیر د خپل وزارت د ټولو چارو پازوالي لري او هیڅ کمیسیون نه شي کولای د هغوی د دندو ځای ونیسي. » دواړو اړخونو( کابل – مسکو) د خپلو مجبوریتونو له کبله خپل مناسبات ساتل ترڅو د۱۹۷۸ کال په دسمبر( قوس ) کې د ن . تره کی په مشرۍ یو جګپوړی پلاوی د شوروي اتحاد د ګوندي او دولتي مشر د رسمي بلنې له مخې شوروي اتحاد ته سفر وکړ. پدې سفر کې شوروي اړخ افغان لوري ته وړاندیز وکړ چې افغانستان په کومیکان(د سوسیالستي هیوادو د اقتصادی تعاوني شورا) کې ور ګډ شي. افغان لوري لدې امله دا وړاندیز و نه منلو چې د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپيپلتوب له دوديزې تګلارې سره سرنه خوري. سره لدې پدې سفر کې د دواړو هيوادونو ترمنځ د دوستۍ او همکارۍ لاندې تړون لاسليک شو:

لومړۍ ماده : دواړو عالي هوډ کوونکو خواوو( طرفيين عاليين متعاهدين ) په رسمي توګه ټينګ نيت وکړ چې د دواړو هيوادونو ترمنځ خلل نه منونکې دوستۍ ته ټينګښت او ژورتيا او هراړخيزې همکارۍ ته پراختيا ورکړي او د دواړو هيوادونو د حقوقو د برابرۍ او د ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا حق ته درناوی او د يوبل په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې اعلام کوي.

دوهمه ماده : دواړه عالي هوډ کوونکې خواوې به هڅه وکړي ترڅو په خپل منځ کې د متقابلو ګټورو اقتصادي، علمي او فني همکارۍ پياوړې او پراخه کړي. د دې لپاره دواړه خواوې د صنايعو، ترانسپورت ، مخابراتو ، کرهنې ، له طبيعي زيرمو ګټه اخيستنه ، د انرژۍ توليد او نورو اقتصادي برخو ته وده او پراختيا ، د ملی کدرونو په روزنه او د مليِ اقتصاد د پلان جوړولو په برخه کې همکاري کوي. سوداګرۍ ته به دواړه اړخونه د برابرۍ او متقابلو ګټو پربنسټ پراختيا ورکوي.

دريمه ماده: دواړه عالي هوډ کوونکي خواوې به د علومو، فرهنګ، هنر، ادبياتو،ښوونې او روزنې، روغتيايي خدمتونو، مطبوعاتو، راډيو، ټلويزيون، سينما، توريزم، سپورت او نورو برخو کې پراختيا، همکاري او د تجربو تبادلې ته وده ورکړي. دواړه خواوې به د دولتي ارګانونو، وګړنيزو بنسټونو او علمي او کلتوري مؤسسو ترمنځ همکارۍ ته وده او پراختيا ورکړي چې دا به د دواړو هيوادونو د خلکو د ژوند، کار، تجربو او برياوو د لا ښې پيژندنې په لار کې مرسته وکړي.

څلورمه ماده: دواړه عالي هوډ کوونکي خواوې به د دوديزه دوستۍ او ښه ګاونډيتوب له روحيې او د ملګروملتو له منشورسره سم دواړه هيوادونه د امنيت د تامين، خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتيا لپاره يو له بل سره مشوره کوي اود دواړو خواوو په هوکړې سره مناسب تدبيرونه نيسي. د دواړو عالي هوډ کوونکو اړخونو د دفاعي ځواک د پياوړتيا په خاطر به په پوځي برخه کې د هغو لوزنامو په اساس چې لاسليک شوې دي همکاري پراختيا ومومي.

پنځمه ماده: د شوروي سوسيالستی اشتراکيه جمهوريتونو اتحاد د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د ناپيپلتوب کړنلاره چې د سولې او نړيوال امنيت د ساتنې اصلي عامل دی ، درناوی کوي .د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د شوروي اتحاد د سولې تګلاره چې موخه يې د نړۍ د ټولو ملکونو او خلکو سره د دوستۍ ټينګښت او همکاري ده، درناوی کوي.

شپږمه ماده: هريو د عالي هوډ کوونکي خواوې په رسمي توګه اعلانوي چې يو به هم په کوم پوځي تړون او يا نورو اتحاديو کې نه شامليږي او د يو شمير هيوادونو په ډله او يا په هغوعملياتو کې به ګډون ونه کړي چې د بلې هوډکوونکي خوا پر ضد وي.

اوومه ماده: دواړه عالي هوډکوونکي خواوې به خپلې هڅې د نړيوالې سولې او د ولسونو د امنيت د نړيوال تشنج د کمولو د عمليې د ژورتيا او د آسيا په شمول د نړۍ ټولو سيمو ته د هغه پراخوالې او د دولتونو ترمنځ د ګټورو متقابله همکاريو د مشخصو طريقو د پلې کولو او په سوله ئيزه توګه د اختلاف وړ مسئلو د حل په لارو کې ونه سپموي . دواړه خواوې به په فعاله توګه د ذروي وسلو په شمول د بشپړې بې وسلې کولو بهير تر نړيوال اغيزمن کنټرول لاندې راوستلو ته زمينه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتمه ماده: دواړه عالي هود کوونکي خواوې به د آسيايي هيوادونو ترمنځ د همکاريو د پراختيا ، د دوستۍ ، ښه ګاونډيتوب ، متقابل اعتماد د اړيکو ساتلو او د دې لويې وچې د ټولو دولتونو د ګډوهڅو له لارې د اغيزمن امنيتي سيستم په خاطر ،په آسيا کې د دې وچې د ټولو دولتونو په ګډون د يوه فعال امنيتي چاپېريال جوړولو ته اړيني آسانتياوې برابرې کړي.

نهمه ماده: دواړه عالي هوډ کوونکي اړخونه به د ښکيلاک او د نژادپالنې پرضد چې په هر شکل سره را وټوکيږي په پرله پسې توګه به مبارزې ته دوام ورکړي. دواړه اړخونه به له يوه او بل سره او له نورو سوله غوښتونکو هيوادونو سره د خپلواکۍ ، آزادۍ ،ملي واکمنۍ او ټولنيز پرمختګ په لاره کې د خلکو د عادلانه مبارزې په ملاتړ همکاري او مرسته وکړي.

لسمه ماده: دواړه عالي هوډ کوونکي خواوې به د ټولو مهمو نړيوالو مسئلو په اړه چې د دواړو هيوادونو له ګټو سره تړاو لري ، يوله بل سره مشورې کوي.

يوولسمه ماده: دواړه عالي هوډ کوونکي خواوې اعلاموي چې هغه نړيوال تړونونه چې لدې تړون سره په تناقض کې نه وي تائيدوي او دې ته ژمن دي ترڅو هغه لوزنامې لاسليک نکړي چې له دې تړون سره په تناقض کې وي.

دوولسمه ماده: هغه مسايل چې د دواړوعالي هوډ کوونکو له خوا د دې تړون د کومې مادې د تفسير او يا تطبيق په هکله منځته راځي دا به په دوه اړخيزه توګه او د دوستۍ، پوهاوۍ او متقابل احترام پربنسټ حل او فصل کيږي.

ديارلسمه ماده: دا تړون د هغه د نافذيدو د نيټې وروسته شل کاله اعتبار لري. او که يو له دواړو عالي هوډ کوونکو خواوو څخه د تړون د وخت له پای ته رسيدو څخه شپږ مياشتې د تړون د فسخه کولو خبر ورنکړي نو تړون د پنځو کالو لپاره نورهم د اعتباروړ دی. او که يو له دواړوعالي خواوو د دې پنځو کلونو له تيريدو څخه مخکې د اعتبار د فسخې غوښتنه په ليکلي ډول ورکړي.

څوارلسمه ماده: که چيرې يو له دواړوعالي اړخونو څخه وغواړي چې د تړون اعتبار د شلو کلونو په جريان کې د ټاکلي مودې څخه مخکې پای ته ورسيږي ، بايد د فسخې له نيټې څخه شپږ مياشتې مخکې بلې خوا ته په ليکلي توګه اطلاع ورکړي او تړون له ټاکل شوې نيټې څخه ملغی وګڼل شي.

پنځلسمه ماده : دا تړون بايد اړونده ارګانونه تصويب کړي او د تصديق شويو اسنادو د تبادلې له ورځې څخه چې په کابل کې به صورت ونيسي اعتبار پيدا کوي. دا تړون په روسي او دري ژبو په دوو نسخو کې ترتيب شوی او دواړه سندونه مساوي ، مستند او معتبر دي .

## د مسکو ښار د ۱۹۷۸ کال د دسمبر ۵ نيټه

که څه هم د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ تړون لاسليک شو خو په مسکو کې د افغانستان د سفير په وينا د دواړو هېوادونو د مشرانو لومړی رسمي غونډه دوستانه نه وه او د شوروي اتحاد مشر د ن . تره کي دې غوښتنې ته چې افغانستان ته اقتصادي مرستې ورکړي منفي ځواب ويلی دی او هغه راوړي :« په همغه ورځ د مسکو په وخت د ماښام په پنځو بجو د کريملين په ماڼۍ کې د دواړو هيوادونو د رهبرانو او ورسره هيئتونو ترمنځ رسمي غونډه يعنې خبرې اترې پيل شوې. په غونډه کې اول بريژنف افغاني پلاوي ته ښه راغلاست وويل او د بين المللي مسايلو په هکله يې خپل سياسي نظر څرګند کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثور له انقلاب څخه يې خپل ملاتړ اعلان کړ. وريسي نورمحمدتره کی د دوی له تاوده هرکلي او مېلمه پالنې څخه د زړه له کومي مننه وکړه ...، موږ اوس خلکی انقلاب کړی دی او خلک له موږ څخه زياتې غوښتنې لري. موږ غواړو چې نوې پروژې په کار واچوو. د دې لپاره ستاسي مرستو ته ضرورت لرو. بريژنف د تره کي د خبرو وروسته وويل چې موږ هم د هيواد په کچه اقتصادي ستونزې لرو. په اوسنيو شرايطو کې به د موجوده پروژو کار ته دوام ور کړو او دا پروژې چې تکميلې شوې نو بيا به د نويو پروژو په هکله تصميم ونيسو. غونډه د ډيلوماتيکو نورمونو سره سم پای ته ورسيده. کله چې استوګنځي ته راغلو نو نورمحمدتره کي ملګرو ته وويل چې دوی يعنې شورويان مرستې نه کوي دا وطن به موږ پخپله جوړوو.» ۱۳۷/ ۱۱۱ د دې غونډې په اړه شرعي جوزجاني د افغان پلاوي د دوو تنو شاه ولي او زېري له قوله ليکي :« شوروي اتحاد افغانستان ته د خپل هېواد د اقتصادي ستونزو له امله د نويو مرستو د ورکولو ډډه وکړه او وايي چې د داودخان د زمانې د پروژو د بشپړېدو وروسته به افغان دولت ته مرستې ورکړي . سربېره پردې بريژنف وايي: ستاسو په ګوند کې يوازې د يوه قوم پرته نور مليتونه شتون نلري خو تره کي وويل : دا زموږ مخالفان د واقعيت خلاف زموږ پرضد تبليغوي. زموږ په ګوند او دولت کې د ټولو قومونو او مليتونو استازي شتون لري، لکه د کانو او صنايعو وزير ملګری دانش د قزلباش له قوم څخه او د اوبو او برېښنا وزيرمنصور هاشمي د تاجکو د قوم څخه چې دلته شتون لري...، تره کی چې غونډه ګټوره نه ګڼي افغان پلاوي ته وايي. ملګرو ! څرنګه چې دوستان نشي کولای زموږ سره همکاري وکړي ، د مذاکرې د دوام څخه څه شی لاسته نه راځي .ښه دا ده چې غونډه ختمه کړو. پدې ډول لومړی کتنه بېله کومې لاسته راوړنې پای ته رسېږي. هماغه شپه سوسلوف امين ورغوښتی وو او ډاډ يې ورکړی وو چې هرڅومره مرستې غواړئ موږ چمتو يو در يې کړو.سبا ته چې کتنه وشوه او برېژنف هم پکې ګډون کړی وو، وضعيت په بشپړ ډول بدلون موندلی وو.» ۱۶۴ د خلقي ګوند په اړه د برېژنف څرګندونې د پښتنې ضد ړندو قومي متعصبينو د څرګندونو کاپي شوې نسخه وه چې خلقي پلاوي ته يې وړاندې کړې ده . پداسې حال کې چې د انقلاب وروسته د کابينې د دوولسو تنو خلقيانو( تره کي ، امين، زېري ، سوما ، وطنجار، پنجشيري ،شاه ولی ، ميثاق، جوزجاني ، دانش، هاشمي، عبدالقادر) څخه پنځه تنه لومړي پښتانه او نور اووه تنه د هېواد د نورو ورونو قومونو څخه وو. د دواړو خواوو لومړی ناکامې غونډې ته په کتنې سره يو شمير خلقيانو په خپلو ليکنو کې هڅه کړې ده وښيي چې ګواکې خلقيانو شوروي ضد دريځ درلود. د بېلګې په توګه ويل کېږي چې په لومړی رسمي غونډه کې امين د بريژنف د خبرو په وړاندې ځوابيه وينا وکړه چې په مسکو کې سفير پکتين او سوما د پلاوي يو غړی دا ادعا بې بنسټه ګڼي او سوما وايي چې د تره کي پرته په غونډه کې بل چا وينا نده کړې . دغه کسان غواړي خپل ربنتيا په درواغو ثابت کړي چې له بده مرغه ډېری افغانان پدې ناروغی اخته دي. دا کسان غواړي پدې ډول د شوروي اتحاد سره د تره کي او په تېره امين دښمني ننداري ته کيږدي. پداسې حال کې چې تره کي او امين هېڅکله هم د شوروي ضد ويناوې نه دي کړې او شوروي ضد دريځ يې نه دی نيولی. دا له ياده ونه باسو چې خلقي مشران د شورويانو دښمنان نه وو بلکې شوروي اتحاد يې د يوه دوست هېواد په توګه پېژندلو. د ثور انقلاب وروسته لويديځ د افغانستان په وړاندې نا اعلان شوې جګړه پر مخ وړله خلقي واکمنی شوروي اتحاد د مرستې يواځينی چينه ګڼله پداسې يوه حالت کې له شوروي اتحاد سره دښمني ځانوژنه وه. دا څرګند حقيقت له پامه ونه غورځول شي چې د وروسته پاتې هېوادونو بدمرغي او په ډېرو مواردو کې د دې هېوادونو د مشرانو ناکامي د دې هېوادونو د مشرانو په نه وړتيا او بې کفايتی کې نه بلکې په مجبوريتونو کې ده چې شتمنو مرسته کوونکو هېوادونو خپل شرطونه ، پلانونه او موخې لرل چې خلقي مشران نشي ترې مستثنی کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګټو او موخو ټکر

د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند خلقي مشرتابه واک ته په رسیدو سره په دې هیله په سمونونو لاس پورې کړ چې ولسونه یې په پرمختللي افغانستان کې د هرډول ستم او نابرابرۍ څخه خلاص سوکاله ژوند ولري. خلقي مشرانو فکر کاوه چې ښایي شوروي اتحاد به د (ا، خ، د ،ګ ) له واکمنۍ سره چې د پانګوالۍ پرته د ودې او پرمتګ تګلاره غوره کړې ده د انترناسیونالیسم د اصولو له مخې چې پرهغو ټینګارکوي بیله قید او شرطه اړیني مرستې وکړي. خو د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت سره د مسکو تعامل او چلند وښودل چې شوروي اتحاد د خپلو هژمونیستي نقشو د پلې کولو ستراتیژي پرمخ وړي اود انترناسیونالیسم څخه د یوې وسیلې په توګه کار اخلي.مسکو د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته افغانستان د خپل نفوذ د ساحې په توګه ګاڼه او لویدیځ هم دا واقعیت منلی وو. مسکو زموږ په هیواد کې د خپلې دې برلاسۍ له برکته په ځینو سیاستوالو پانګه اچولې وه کوم چې د مسکو ګټو ته د خپلو ملي ګټو په پرتله لومړیتوب ورکولو او ځینو خو د جاسوسانو په توګه د مسکو لپاره کار هم کاوه. په ګوند کې داسې کدرونه لږ نه وو چې د خپلو سیاسي او ایډیالوژیکي باورونو پر بنسټ یې شورویان خپل ډاډمن دوستان ګڼل او پر هغوی یې بشپړ باور درلود. خو په ټولیزه توګه د خلق ګوند د مشرتابه غوڅ اکثریت خپلو ملي ګټو ته لومړیتوب ورکولو او د مسکو هرې غوښتنې ته یې هرکلی نه دی ویلی. له همدې امله مسکو د۱۹۷۸ کال د اپریل د اووه ویشتم سیاسي اوښتون څخه ناخوښی وو دا ځکه چې ددې بدلون په پایله کې د واک په ګدۍ ناست سیاستوال د مسکو د موخو بې ارادې پلې کوونکې نه وو. د دا ډول وضعیت د واکمنېدو پایله دا شوه چې د کابل او مسکو د موخو او ګټو ترمنځ ټکر په یوه واقعیت واوړي. هغه مهال افغانستان د اقتصادي او پوځي پلوه په بشپړ ډول په شوروي اتحاد پورې تړلی وو. دې تړلتوب، د شوروي دولت هژمونیستي تګلاره او د خلقي نظام په وړاندې د لویدیځ دښمنانه دریځ او کورني مقاومت خلقي مشرتابه د سترو ننګونو سره مخامخ کړی وو. پداسې یوه وضعیت کې ګوندي مشرتابه په واقعیت کې د دوو ډبرو تر منځ قراردرلود.سربیره پردې په ګوند کې د ګوندي زعامت د مدعیانو هلوځلو وضعیت د مسکو په ګټه اړولو . مسکو د مطرح دریو سیاستوالو( تره کي، امین ، کارمل) څخه دریم ته ترجیح ورکوله چې د افغانستان د قدرت په ګدۍ یې ووینې خو د ثورد پاڅون وروسته کارمل له کمزورې دریځ څخه برخمن وو. هغه مهال د کارمل په اړه تره کي او امین ګډ دریځ درلود. دې دا معنی لرله چې تره کی- امین د لوبې په یوه اړخ او مسکو- کارمل په بل اړخ کې ولاړ وو. د واک پدې سیالۍ کې ظاهرآ کارمل له لوبې و ایستل شو خو مسکو بیا هم داسې لارې چارې لټولې چې څه ډول کارمل د کابل په پلاز کېنوي. ددې ادعا سموالی به د امریکایي لیکوال هنري برادشر څخه ولولو :« د۱۹۷۹ کال د مې په لومړیو کې د متحده ایالتونو حکومت ته څارګریز رپوټونه رسېدل چې شورویان غواړي د ا، د، ج اوسنی خلقي مشرتابه د پرچم په تبعیدي مشرتابه او احتمالآ د صدراعظم د پخواني مرستیال ببرک کارمل چې په اروپا کې په پټه ژوندکوي واړوي.» ۱۶۵ / ۸۷ که څه هم مسکو ظاهرآ د خلقي واکمنۍ له دریځ ملاتړ کاوه خو د کارمل د واکمنولو ، د تره کي او امین ترمنځ د اختلافونو د زیږولو او د امین د ځواکمنولو په پروژه لګیا وو . د دې سربېره یې هڅې کولې تره کی قانع کړي چې یو شمیر شوروي پوځیان د خپل امنیت د ساتلو لپاره ومنې چې تره کي د هغې سره مخالفت ښود. د شورویانو دا موخه هغه وخت څرګنده شوه چې مسکو ته نورمحمدتره کي رسمي سفر درلود او د شوروي له مشرسره یې دوه په دوه ولیدل چې ژباړه یې تورن انځرګل کوله. انځرګل وایي چې بریژنف تره کي ته وړاندیز وکړ چې په چټلې کې د سلوادورآلندې په څېر پیښې د مخنیوي په خاطر موږ چمتو یو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي پوځیانو یوه ډله ستاسي د امنیت لپاره ستاسو په واک کې کېږدو. تره کي په ځواب کې د مننې په څرګندولو سره ورته وویل :« زه په خپلو ګوندي ملګرو باور لرم. هغوی له زندان څخه آزاد کړم او د واک په ګدۍ یې کینولم. لدې کبله ستاسو د پوځیانو ضرورت نه وینم .» انځرګل وایي چې بریژنف په خپله خبره ټینګار وکړ خو تره کي ورسره ونه منل. د بریژنف موخه د تره کي د ژوند سره لیوالتیا نه وه بلکې غوښتل یې په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د شتون له امله د افغانستان په مشرتابه د نفوذ او فشار وسیله ولري او د هغوی پرمټ خپلې راتلونکي نقشې چې د تره کي له ډګره ایستل او د کارمل واکمنول وو پلې کړي چې د تره کي له ډګره ایستل یې وروسته د امین پر مټ پلې کړل او بیا یې د خپلو پوځیانو په واسطه چې ګواکې د امین او د هغه د واکمنۍ ساتنه کوي امین ترور او کارمل یې واک ته ورسولو . په افغانستان کې مسکو خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د مختلفو وسیلو، پلمو او امکاناتو په وړاندې کولو سره غوښتل یو شمیر خپل پوځیان په کابل کې ځای پرځای کړي. د ساري په توګه هغوی د خپلو دپلوماتانو، پوځي او ملکي جګپوړو سلاکارانو د ساتونکو او موټروانانو په نامه خپل پوځیان لرل. په عسکري کلوپ کې یې یوه ډله پوځیان ځای پرځای کړل چې ګواکې د مسکو سره د مخابراتي اړیکو د ټینګولو دنده لري. ویل کېږي چې په هرات کې د ۱۳۵۷ کال د کب د میاشتې په خونړیو پیښو کې څو تنه شوروي ملکي او پوځي متخصصین هم ووژل شول چې شوروي اړخ یې هم اندیښمن کړی وو او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند سیاسي بیرو پدې هکله بیړنۍ غونډه راوبلله. د غونډې پرمهال او د هغې نه مخکې صدراعظم آلکسي کاسیګین ته دا پته لګیدلې وه چې یو شمیر شوروي چارواکي د کې جې بي د ناسمو اطلاعاتو له مخې افغان مشران هڅوي چې شوروي پوځونه وغواړي. د سیاسي بیرو په غونډه کې کاسیګین پدې هکله ویلي وو: « زه پدې عقیده یم موږ ته نه ښایي د افغانستان رهبري وهڅوو چې زموږ څخه د ځواکونو غوښتنه وکړي. »۶۳ / ۱۶۸ دا بیا ښیي چې شوروي اړخ هڅه کوله چې افغان اړخ وهڅوي چې د ثور انقلاب د دښمنه دفاع د شوروي پوځونو پرمټ شونې ده . په شوروي مشرتابه کې افغانستان ته د شوروي لښکر لیوالو د امین سره ورته لوبه پرمخ یووړله او هغه یې په لوی لاس د ناسمو اطلاعاتو په ورکولو سره قانع کړ چې د تاجبیک د ماڼۍ د ډاډمن امنیت د ټینګښت او د بلواوو د مخنیوي په موخه د شوروي د مسلمانو پنځه سوه کسیز کنډک او وروسته د نورو دریو کنډکونو را تګ ته غاړه کېښودې. مسکو د دریو کندکونو پرځای دوې فرقې افغانستان ته راولیږلې او د هغو پرمټ یې امین ترور او خلقي واکمنۍ ته یې د پای ټکی کېښود. هېره دې نه وي چې کاسیګین افغانستان ته د شوروي لښکرد لیږلو د مخالفینو څخه وو او د کمونست ګوند د سیاسي بیرو د هغې غونډې برخه وال نه وو چې د۱۹۷۹ کال د دسمبر په دوولسمه جوړه شوې وه او افغانستان ته یې د شوروي لښکر د استولو پریکړه وکړه. پدې هکله چې شوروي اړخ هڅې کولې افغانان وهڅوي شوروي پوځیان وغواړي بیلګې لږ نه دي او دوې به یې دلته راوړل شي. د۱۳۵۷ کال د زمري په میاشت کې د بدخشان ولایت د جرم، بهارک ، کشم او شهربزرګ او د تخار ولایت د رستاق په ولسوالیو کې د سکتاریستي ډلو( سازا او سفزا) له لوري پوځي خوځښتونه او ښورښونه پیل شول چې حتی د ولایت د مرکز سقوط هم لیدل کیده. په بدخشان کې منصور هاشمي ته چې د حکومت د فوق العاده استازي دنده لرله شوروي سلاکار مشوره ورکړې وه چې د ګواښونو د دفعې په موخه مرکز وهڅوي ترڅو د شوروي پوځیانو غوښتنه وکړي. د دې غوښتنې په ځواب کې د امین له خوا هاشمي ته لاندې تلګرام استول کیږي : « ملګری منصور هاشمي! ما هیڅکله هم ستا نه د یوه ګوندي ملګري او شخصي دوست په توګه دا توقع نلرله ، موږ څو ځله ویلي چې موږ داسې انترناسیونالستي مرستې ته چې لوی سلاکار تاسې ته وړاندیز کړی اړتیا نلرو. موږ به پخپله د انقلاب څخه ساتنه وکړو، که هغوی د مرستې لیوال وي د یوه دوست هیواد په څېرد دوی اقتصادي مرستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هرکلی وایو تاسو د مرکز (کابل ) نه د پوځي مرستې منتظر اوسئ. » ۱۶۶ / ۱۱۵ په بدخشان کې د بنوربنونو د ځپلو په بهیر کې او وروسته یو شمیر سازایي او سفزایي مشران او کدرونه ونیول شول او بشیربغلاني د سازا د مشرانو څخه یو په پټه منځنی آسیا ته ولاړ چې د شوروي د تېري وروسته د کارمل په څېر افغانستان ته راستون شو او څخه موده وروسته د عدلیې د وزیر او لوی څارنوال په توګه مقررکړل شو. دا بیا ښیي چې د بدخشان په اړودوړو کې د شورویانو مستقیم لاس وو چې د خپلو لاسپوڅو سکتاریستي ډلو پرمټ یې غوښتل وضعیت په لوی لاس کړکیچن او امنیت خړپړ کړي او پربله خوا یې افغان چاراکي هڅول چې له شوروي څخه پوځیان وغواړي. د هرات د پیښې پر مهال هم مسکو هڅه وکړه چې افغان لوری د مسکو څخه د پوځونو غوښتنه وکړي چې بیا هم بریالی نشو. حتی ویل کېدل چې د هرات په اړو دوړو کې هم د مسکو لاس وو. پدې اړه دوهمه بېلګه په مسکو کې د افغان سفیر پکتین څرګندونې دي :« کله چې زه په مسکو کې سفیر وم د شوروي اتحاد د کورنیو چارو وزیر شیولوکوف ما ته وویل چې د حیرتان ـ کابل لاره ستراتیژیک اهمیت لري او هغوی حاضر دي خپل قطعات په افغاني یونیفورم کې د ساتلو لپاره واستوي. کله مې چې تره کي ته په خاص ټلفون کې اطلاع ورکړه هغه په ځواب کې راته وویل څرنګه چې موږ له دوی سره په خاصو اړیکو متهم یو خلک را سره جنګېږي ، که دوی دلته راشي نو موږ به پخپله ملي قیام ته زمینه برابره کړې وي.» ۱۳۷ / ۲۴۱ ـ ۲۴۲ هېره دې نه وي چې تره کي د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د دواړو اړخونو مشرانو کې په ټولنه کې د شوروي دولت په اړه حساسیتونه درک کړي وو او په خپلو ویناوو کې یې د شورویانو او په تېره د اکتوبر د انقلاب او لینن د نامه له یادولو ډډه کوله. علي ګل پیوند خلقي شاعر راوړي چې ده د خپلو شعرونو یوه ټولګه تره کي ته ور وړې وه چې په سریزه کې یې د لینن نوم راغلی وو. تره کي ورته ویلي وو د لینن نوم اړین نه وو چې راوړل شوی وای ځکه چې خلک لدې نامه سره حساسیت لري.

د هرات د پیښو پرمهال شوروي مشرانو تره کی مسکو ته دعوت کړ چې په هرات کې د پیښو د کابو کولو او په راتلونکې کې د ورته پیښو د مخنیوي په اړه ورسره خبرې وکړي. که څه هم په هماغه ورځ چې تره کی مسکو ته په لار کې وو( کب نه ویشتمه) بنوربنیان وځپل شول او هلته بېرته دولتي واکمني ټینګه شوه. تره کي په مسکو کې د شوروي د ځینو لوړپوړو او په هغو کې د دفاع وزیر، صدراعظم او بریژنف سره وکتل. څرنګه چې د کتنې اصلي موضوع د هرات په پیښو څرخیده او هغه مهال د دفاع وزارت چارې امین رهبري کولې ښایي شوروي اړخ تره کي ته سلا ورکړې وي چې د دفاع وزارت چارې یوه افسر ته وسپارل شي . تره کي د مسکو نه هیواد ته په راستنیدو سره د اقبال وزیري د اردو د سیاسي رییس په وینا د انقلابي شورا په غونډه کې وویل :« ما اسلم وطنجار د باصلاحیته لوی درستیز په توګه وټاکه او پخپله د ملي دفاع وزارت په چارو کې ورسره مرسته کوم خو له بلې خوا د ملي دفاع وزارت سرسلاکار ګاریلوف دا تبدیلي یوه تیروتنه بولي ...، د امین کمزورې نقطه روسانو ته معلومه وه. هغه د نوموړي ځانغوښتنه وه.» ۶۰/ ۱۵۹ ګاریلوف او نورو شوروي سلاکارانو ته جوته شوې وه چې امین د دې پریکړې نه خوابدی شوی دی نو سلاکار دا تبدیلي تیروتنه ګڼي چې د ځانپال امین په ټپونو مالګه ودوړوي او امین د تره کي په وړاندې ودروي. په ربنتیا هم امین د تره کي لدې پریکړې خوابدی شوی وو ترڅو « د ملګرو په مرسته د امین او تره کي ترمنځ پخلاینه کیږي په پای کې تره کي پریکړه وکړه چې امین د لومړي وزیر په توګه ، وطنجار د دفاع وزیراو یعقوب د لوی درستیز په توګه وټاکي. امین بیرته د ملي دفاع وزارت سره همکاري پیل کړه. » ۶۰ / ۱۰۷ یوه مسئله چې د خلقي حکومت د سمونو په اړه ده او د مسکو د اندیښنې سبب شوې وه هغه په ازبکي او ترکمني ژبو د ګوراژ او یولدوز په نومونو د مجلو خپرول وو او حکومت پتېیلې وه چې د هیواد د میشتو لږکیو ورونو قومونو په ژبو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنۍ زده کړې پیلوي. که چیرې دا پروګرام پلې شوی وای او همدارنګه په ازبکي او ترکمني ژبو نورې رسني ډګر ته راوتلې وای د ازبکستان او ترکمنستان شوروي جمهوریتونو او د منځني آسیا د مسلمانانو روسي ضد روحیه لاپسې قوي کوله. دا ځکه چې د اکتوبر د انقلاب نه مخکې د منځنۍ آسیا خلکو چې غوڅ اکثریت یې مسلمان دي عربي رسم الخط درلود. خو د اکتوبر انقلاب وروسته جبراً پر هغوی روسي رسم الخط تحمیل شو. پردې بنسټ د منځنۍ آسیا مسلمانانو نشوای کولای د قرآنکریم تلاوت وکړي. د افغانستان یو شمیر ازبکان ، ترکمنان او نور چې د اکتوبر د انقلاب وروسته افغانستان ته کډوال شوي وو او د پولې د هغې خوا خپلوانو سره یې اړیکې ساتلې او په افغانستان کې د ازبکو او ترکمنو ژبو د غوړېدو څخه خبرېدل په شوروي کې میشت ازبکو ، ترکمنو ، قرغزو او تاجکو هم پخپلو ژبو او عربي رسم الخط د رواجولو غږ پورته کاوه چې مسکو ته یې ستونزې جوړولې. پردې اساس مسکو په افغانستان کې د داسې یوه حکومت شتون نشوای زغملای . د شلمې پیړۍ په دوهمه نیمایی کې د مطبوعاتو او رسنیو رول د پام وړ وو او اوس مهال یې د انټرنیټ شبکې او ګرځنده ټلفونو د راڅرګندېدو له کبله لا اوچت شوی دی. د خلقي حکومت له لوري د پښتنو او بلوڅو د خودارادیت د روحیې د اوچتولو په موخه د تبلیغاتو او په ځانګړې توګه د دیورند د تپل شوې کرښې هغې لورې ته د ثور انقلاب د جریدې استول د پاکستان واکمنان اندیښمن کړي وو. د پاکستاني واکمنو دا اندیښنه هغه وخت افغاني لوري ته جوته شوه چې کله د۱۳۵۸ کال د وږي په لومړۍ اونۍ کې په کوبا کې د ناپېیلو هیوادونو د کنفرانس په ترڅ کې تره کي او ضیاءالحق سره وکتل. د خبرواترو پر مهال د پاکستان جمهور رئیس په پاکسان کې د ثور انقلاب د جریدې د توزیع په هکله خپله اندیښنه څرګنده کړې وه.
دا واقعیت د لمر په څېر روښانه دی چې د دولتونو تر منځ اړیکې د ملي ګټو پر بنیاد ټینګېږي او شتمن هېوادونه خوارو دولتونو ته د خدای تعالی د خوښۍ په خاطر مرستې نه دي ورکړې او په راتلونکې کې به هم همداسې وي. د وروسته پاتې هیوادونو مشرانو ته ښایي چې د نورو سره په تعاملاتو کې د مقابل لوري سره چنې ووهي او دواړو اړخونو ته د منلو وړ پریکړې ته ورسیږي نه دا چې د غښتلي او شتمن اړخ په ګټه د خپلو ملي ګټو په زیان او یا د سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ دلاسه ورکولو په بیه د پردیو ارادې ته سرټیټ کړي. خلقي واکمنۍ دې اصل ته په کتنې سره د نورو دولتونو او په هغو کې د شوروي اتحاد سره په تعاملاتو کې خپل پام راګرزولی وو چې مسکو د افغانستان د تیرو حکومتونو دریځونو او د افغانستان سره د متقابلو اړیکو تجربو ته په کتنې سره د خلقي واکمنو دا ډول دریځ د زغم وړ نه وو.
ښه بیلګه یې شوروي اتجاد ته د ګازو بیه ده چې عبدالقدوس غوربندي د خپل کتاب ( نګاهی به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان ) په ۷۶- ۷۷مخونو کې توضیحا ت ورکړي چې لنډیز به یې راوړل شي. د۱۹۷۹ کال په مني کې د شوروي یو پلاوی کابل ته راغی او د سوداګرۍ وزارت ته یې یو سند وړاندې کړ چې د۱۹۸۰ کال له پیل نه یې د نفتي توکو په بیه کې په سلو کې سل زیاتوالی راوړی وو او لامل یې په نړیواله کچه د انرژۍ د بیې دوه برابره لوړیدنه ګڼلې وه او د سند په پای کې یې یادونه کړې وه که دا سند د سبا ورځې ترلسو بجو پورې لاسلیک نشي دا بیې اعتبار له لاسه ورکوي او موږ نوې بیې ور کوو چې البته هغه به لوړې وي. دې ډول یادونې د التیماتوم معنی لرله. افغان لوري پریکړه وکړه څرنګه چې ګازهم په انرژۍ کې راځي او د افغانستان ګاز د نړیوالو بیو څخه درې ځله ټیټ شوروي ته صادرېږي افغان دولت هم د ګازو بیه درې برابره لوړوي. هغه مهال یو مترمکعب ګازپه ۳۵ کلیرنس ډالرشوروي ته صادریده او خلقي حکومت د یومترمکعب ګاز بیه ۱۱۵کلیرنس ډالره وټاکله. شوروي اتحاد ته د ګازو د لېږد په اړه عجیبه دا وه چې د ګازو د لیږد مېټر د افغانستان په خاوره کې نه بلکې د پولې هغې خوا د شوروي اتحاد په خاوره کې نصب شوی وو.د ګازو د لېږد په تړون کې راغلي وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکال به په بیو کتنه کیږي خو د یحیی د کورنۍ عملاً دا کار نه کاوه. د حسن شرق په وینا په ۱۹۷۷ کې جمهوری دولت هم دا کار ونکړ. د یحیی کورنۍ واکمنو چې د هرڅه څخه زیات د خپلې کورنۍ د اقتدار د ساتلو په اړه فکر کاوه د طایي حاتم په څیر د افغانستان سرچینې د پردیو د خوشالولو په موخه د هغوی په واک کې کېښودلې . بنه بېلګه یې په ۱۹۷۲ کال کې د ایرانیانو سره د هلمند د اوبو تړون دی. په تړون کې په هره ثانیه کې ۲۲ مترمکعب اوبه ایران ته ورکول کېدلې خو ظاهرشاه څلور مترمکعبه نورې اوبه لکه خپله شخصي پانګه ایران ته ډالۍ کړه او سربېره پردې یې د ایران صدراعظم ته د ملي موزیم څخه یو تاریخي اثر هم ورکړ. د شوروي اتحاد سره په دوه اړخیزو اړیکو کې د خلقي واکمنۍ له لوري ملي ګټو ته لومړیتوب ورکول د دې لامل وګرزید چې مسکو افغان دولت ته ستونزې جوړې، د هغه د نسکورولو لارې چارې ولټوي ترڅو یې د ۱۳۵۸ کال د مرغومي په شپږمه پخپل غلچکي خونړي پوځي یرغل سره هغه رانسکور او ببرک کارمل یې د واک په ګدۍ کېنولو. د شورویانو له لوي د خلقي واکمنۍ د نسکورولو د لاملونو څخه یو لامل د دواړو دو لتونواو ولسونو د ګټو او موخو ټکرهم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صداقت او منافقت ملګرتيا

د ثور د وسلوال پاڅون وروسته له رسنيو څخه د تره کي او امين له لوري د يو بل په پټه ښکلو وېناوو د ټولو پام ځانته را اړولی وو. ډېرو فکر کاوه چې دواړه د يوه فکر او يوه ارمان کلک ملګري دي . امين د ګوند د جوړېدو پرمهال په امريکې کې په خپلې دکتورا کارکاوه چې د هغې په اخيستلو بريالی نشو. امين هيواد ته په راستنيدو سره د ا، خ، د،ګ غړيتوب ترلاسه کړ او ډير ژر د مرکزې کميټې علی البدل غړی شو. سربيره پردې په ګوند کې په يوه پياوړې او جنجالي څيره هم واوښت. ډېری هغو ګوندي کدرونو چې د خلقيانو سره يې سازماني اړيکې وشلولې يا نوي سازمانونه جوړکړل د نورو لاملونو سربيره د امين کړنې انتقادوي او له هغه سره د مخالفتونو خبرې هم کوي. امين يوځل د بدخشي سره ګډه ګوندي جزا وليدله ، لدې کبله بدخشي له ګوند څخه ووت خو امين په پوره بردبارئ سره جزا ومنله او لا په ډيرقوت سره يې د ګوند د پياوړتيا لپاره خپلو هلوځلو ته دوام ورکړ.نبي مصداق چې د امين له شاګردانو څخه دی وايي :« امين ګوند پخپل شموليت سره ډير غښتلی کړ. تره کي پخپلو صفونو کي د دغسي يولايق روښانفکر په ور زياتيدو سره د خپل بخت هيځ اندازه نه سوای کولای.» ۳ / ۲۴۲ زيری د ولسي جرګې د ديارلسمې دورې کانديد د تبليغاتي کمپاين پرمهال بندي شواو تره کی يې ليدو ته ورتللو يو ځل يې ورته ويلي وو:« موږ په مرکزي کميټه کې لږ کسان پاتې يو او هغوی چې پاته دي کله يې ولايتونو ته خدمتي واستوي او کله يې بل ځای ته بيخي تبديل کړي نو ځنې وخت حتی په غونډو کې دوه ، دری کسه سره ناست يو...، دغه د کافر زوی ( امين ) زياته جزا وليدل اوس ډير ښه سوی هم دی . زه وايم که يې مرکزي کميټې ته راولو، د يوې خوا به زما لاس په خلاص وي او د بله پلوه به د ګوند لپاره هم ګټور کار وي چې د پارلمان نماينده يې د ګوند د مرکزي کميټې غړی دی.» ۲۵۱/۴۰ دا چې تره کي د ګوند په مشرتابه کې د امين شتون ته ځانګړی ارزښت قايل وو هغه بايد د امين په ځانګړتياوو کې ولټول شي. امين د هرانسان په څير هم مثبتې او هم منفي ځانګړتياوې لرلې خو ډيری پدې اند دي چې هغه زړور، ځيرک ، قوي سازمانده ، ناسيونالست او ځانغوښتونکی وو. ښايي د ځانغوښتنې پرته د هغه يادې ځانګړتياوې چې د يوه سياستوال د برياوو راز پکې پروت دی د دې لامل ګرزيدلي وي چې تره کي د ګوند د عمومي منشي په توګه د نورو په پرتله پرامين زيات حساب وکړي. دا هم ويل کيږي چې د کابل پوهنتون د محصلينو د اتحاديې د اساسنامې د جوړولو پر مهال امين او کارمل دواړه د اساسنامې د جوړولو د کميسيون غړي وو اوامين د کارمل سره په دې ګډ کار کې په هغه شکمن شو چې د سلطنت سره اړيکې لري او ګوند ته په شامليدو سره چې د تره کي او کارمل ترمنځ اړيکې خړې پړې شوې امين د تره کي له دريځ څخه څرګند ملاتړ کاوه. ښايي دا هم ددې سبب شوی وي چې تره کی د امين سره ګډه ژبه موندلې وي چې دواړه د کارمل ضد دريځ ونيسي او د دوستی او ملګرتيا مزي ټينګ کړي. دا چې ولې د ثور د اوښتون څه موده وروسته د دوی دا توده او خوږه دوستي سړه او په ترخې دښمنۍ واوښته تردې مهاله ورته قانع کوونکی ځواب ندی موندل شوی . د امين له لوري د تره کي د هېښوونکي درناوي په اړه هغه وخت پوهيدل شوني دي چې په واکمن ګوند کې د هغه مهال حالت او په خپله د تره کي او امين رواني ځانګړتياوې ترهر اړخيزې څيړنې لاندې ونيول شي. د ګڼ شمېر افغانانو او په هغو کې د خلقيانو له انده د تره کي په وړاندې د امين چلند

عجيب ،غيرمعمولي او هېښوونکی وو چې يومهال يې تره کي استثنايي سياستوال، خپل استاد ، د شرق نابغه او د افغانستان لينن ګڼلو او لاسونه يې ورښکلول او بيا يې داسې دښمن شو چې د واک څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوښه کولو سره یې د دښمنۍ ګراف را ونه لوید، هغه او د کورنۍ غړي یې زنداني او بیا یې په وحشیانه ډول ووژلو او ټول کلیوال یې هلمند ته تبعید کړل. امین دوه ورځې مخکې تر دې چې تره کی یې عملاً بې واکه کړی هم وو شوروي سفیر او دریو شوروي جنرالانو ته د تره کي په شتون کې ویلي وو: «که مړشم د تره کي نوم به مې په شونډو کې وي او مړ به شم . که تره کی مخکې له مانه مړ شي زه به یې ټول پلانونه سرته رسوم.» ۱۲۸ / ۸۸ د سفیر پوزانوف د سپتمبر د ۱۹ یو یادداشت چې د هغه لومړي سکرتر لیکلی ورته څرګندوني پکې لیدل کیږي چې امین د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په دیارلسمه د تره کي په استوګنځي کې د شوروي سفیراو دریو جنرالانو په شتون کې وایي:« تره کي یو پیژندل شوی مشر دی او دی ( امین) ویاړ لري چې د تره کي یو لارروی دی ...او که دی (امین) له تره کي مخکې مړسي نومړینه به یې ددې زباد وي چې خپله دنده یې سر ته رسولې ده. ان که تره کي د خپل ټاټوبي له چوپړ څخه لاس واخلي، نو دی(امین) د تره کي د یوه ربښتوني پلوي او لارروي په توګه به ترخپلې وسې هر هغه څه وکړي چې د خپل استاد کار او هیله سرته ورسوي.» ۱۲۵ / ۱۳۲ د تره کي په پټه دا ډول څرګندونې د امین سپین سترګي ښیي ځکه چې تره کی یې بېواکه کړی خو بیا هم هغه ستایي. د تره کي په وړاندې د امین د شخصیت په اړه رازمحمد پکتین لیکي :« امین دومره ریاکار او دوکه باز و چې له یوې خوا یې د تره کي د را پرزولو لارې چارې لټولې له بلې خوا یې تره کي ته یو اوږد نوملړ القاب ورکړه او ځان یې تر ټولو وفاداربښکاراوه ...، په لومړي سر کې د امین په دستور د ځوانانو د خلکي سازمان لخوا داسې ډنډورې خپرې شوې چې تره کي صاحب اوس سپین ږیری دی . هغه باید د ګوند افتخاري رییس وي او دولتي کارونه امین صاحب ته وسپاري.» ۱۳۷/ ۱۳۳- ۱۳۴ دا چې د امین د فرکسیون اړونده غړو د ثور د وسلوال پاڅون وړاندې هم د امین په ګټه تبلیغات کول یو له هغو څخه عبدالرشید جلیلي وو. هغه چې د اکراین په کیف کې زده کړې کولې د هوایي قواوو اړونده خلقي محصلوافسرانو ( شېرآقا حرکت ، محمد حکیم خوستي ، عزیز احمد عزیزي ، ضراب ګل او د دافع هوا افسر اسدالله) په یوه مجلس کې د امین د غوره ځانګړتیاوو په اړه وینا کړې او د امین په نامه یې شعار هم ورکړی وو چې د محمد حکیم خوستي له سخت غبرګون سره مخامخ شوی او مجلس په نانډریو اوښتی وو. دا مجلس د شیرآقا حرکت د ډپلوم د ترلاسه کولو په موخه جوړشوی وو. د ګوند د واکمنۍ مخکې د تره کي او امین د دا ډول دوستانه او تودو اړیکواو ګډ دریځ په هکله د ګوند د باندې نور سیاتوال څه چې د ګوند زیاتره غړي هم نه پوهیدل. خو د ګوند د واکمنۍ پرمهال د یو بل په پټه د دواړو ویناوو او د تره کي په وړاندې د امین له عجیب سلوک څخه خلکو ته دا انتباه پیدا شوه چې امین تره کي ته بې کچې درناوی کوي . د تره کي له لوري پرامین باور تردې بریده وو چې « تره کي د امین د مشورې پرته هیڅ کارهم نه کاوه.» ۱۲۲ / ۱۷۱ خوهغه څه چې په خبره پوه کسانو ته عجیب بریښیدل د امین له لوري د تره کي د لاسونو ښکلول او هغه ته د ډول ډول لقبونو کتارول وو. زموږ په زمانه کې داسې بېلګه نشته چې کوم وزیر د حکومت یا دولتي مشر لاسونه مچې کړي وي . یوازې روحاني او مذهبي مشران د هغوی د مریدانو له دا ډول درناوي څخه برخمن وي.

د بېلګې په توګه به د امین له لورې د تره کي په پټه د هغه ځینې ویناوې ولولو. امین د ثور انقلاب د بري څه موده وروسته په خپله یوه وینا کې وایي :« هغه ( لینن) د نړۍ د پرولتاریا مشر او دا بل ( تره کی) د افغانستان د زیارایستونکو خلکو ستر لاربښود دی. دواړو سترو رهبرانو دوه کارګري انقلابونه رهبري کړل ...، که خبره د ثور انقلاب څخه کوو نو خبره د ستر رهبر تره کي څخه ده او که خبره د اکتوبر انقلاب څخه کوو خبره د ستر لینن څخه ده. »۱۵۹ / ۷۶۱ د ثور انقلاب لومړۍ کلیزه چې د امین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوښت د بهرنیوچارو په وزارت کې نمانځل کیدله امین وایي:« که لینن ستالین درلود او فېډل کاسترو خپل ورور راول کاسترو لري ، نو تره کی صاحب امین لري. » ۱۲۲ / ۱۶۷

د ثورد ملي دموکراتیک انقلاب د بري وروسته د افغانستان حالاتو د نړیوالو څارګرو ادارو او رسنیو پام ځانته راګرزولی وو .د لویدیځ په رسنیو کې د تره کي او امین ترمنځ اختلافونو ته هم کله ناکله ګوته نیول کیده همدا لامل وو چې نورمحمدتره کي د۱۹۷۹ کال د مارچ په نولسمه چې د هرات د پیښو سره سمون خوري وویل:«غواړم هغوی(لویدیځو مطبوعاتو ) ته ووایم چې زه او امین نوک او اوری یو. دا امکان نلري چې نوک او اوری دې سره بیل شي.» ژوند ښیي چې هغه وخت په حکومتونواو ګوندونو کې اختلافونه بربنډېږي چې په حکومت او ګوند کې حالات کړکېچن او یا څرګندې ناکامی ترسترګو شي چې پړه یې پردې یا هغه چاړواکي یا مشر واچول شي. د هرات پیښو وښودل چې واکمني د خلکو د باور په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي ده نو منطقاً چې د ځینو چاړواکو سره دا پوښتنه پیدا کیدله چې علت یې څه دی او ملامت څوک دی ؟ ډېرو هغه مهال امین ته ګوته نیوله چې منطقاً د امین او د هغه د پلویانو منفي غبرګون یې درلود او پایله یې دا کیده چې خبره بهر ته ووزي او په نړیوالو رسنیو کې انعکاس ومومي. پدې هکله د افغانستان تر وروستي افغانه کتاب دویم ټوک په ۲۸ مخ کې داسې لولو:« د تره کي پلویانو محمداسلم وطنجار، سیدمحمد ګلابزوی او شیرجان مزدوریار ته د مارچ په ۱۷ نیټه د انقلابي شورا په یوه غونډه کې موکه په لاس ورغله چې د ملي دفاع وزارت په اړه غونډې ته خپل اعتراضونه وړاندې کړي. په هغه وخت کې د ملي دفاع وزارت پر نامه د تره کي له خوا اداره کیده خو اساسي قدرت د امین په لاس کې وو.» د همدې موضوع په هکله یو شوروي ژورنالست ورته څرګندوني لري او لیکي :« افغانستان ته په راستنیدو سره تره کي په حیرانتیا وموندل چې د خلقیانو ترمنځ څرنګه چې اړین دي یووالی شتون نلري ، د انقلاب اتلان وطنجار او ګلابزوی د انقلابي شورا په غونډه کې د وسلوال پوځ په وړاندې په څرګند ډول امین په ناسمو کړنو تورنوي چې امین له ځواکونو نه د عادي خلکو ضد استفاده کوي پداسې حال کې چې دا د کورنیو چارو د وزارت دنده ده.» ۶۳ / ۱۷۶ که چیرې پورتنیو نقل قولونو ته وکتل شي منځپانګه یې یوه ده چې په دواړو کې امین د دفاع وزارت د ځواکونو څخه د خلکو خلاف په ناوړه ګټه پورته کولو تورن کیږي. یوازې د انقلابي شورا د غونډې وخت پکې توپیر لري . د تره کي د پلویانو له لوري د امین له کړنو سرټکونه او انتقاد ښیله کومه شکه د تره کي د همغږی پرته نه کېدل دا بیا ښیي چې د دواړو مشرانو د ویناوو او څرګندونو خلاف په واکمنۍ کې د تره کي او امین تر منځ اختلافونو شتون در لود او په خپله د تره کي له لوري دا ډول ویناوې د دې اختلافونو د پټولو په خاطر وې . د ثور د سیاسي اوښتون وروسته امین د یوې ځواکمنې څیرې په توګه واوښت اوعملاً په ګوند او حکومت بشپړتسلط وموند. ترکي دا حالت لیدلو او له همدې کبله یې د امین ارادې او غوښتنو ته غاړه اینښودله. داسې فکر کیږي چې تره کي غوښتل د هغه مهال په نازکو او حساسو شرایطو کې امین د یوه ځواکمن کس په توګه له ځان سره ولري ترڅو په ګډه بحراني حالت کابو کړي او حالات لا نور کړکېچن نشي. خو امین بیا په همدې هم قناعت نه درلود او د بشپړواک د ترلاسه کولو په موخه مخ په وړاندې ګامونه اوچتول . د تره کي په پټه د امین د ویناوو په هکله پاکستاني ژورنالست انورراجا چې د کارمل د واکمنۍ پرمهال د پلچرخي په زندان کې بندي وو لیکي: « امین د تره کي سره غوړه مالي کول، هغه به یې په ګوندي او حکومتي غونډو کې په چاپلوسانه القابو سره یاداوه لکه د شرق ستوری، سترمفکر، سترلاربنود او ډېر نور.» ۱۶۷ / ۱۱۴ د تره کي په پټه د امین له لوري د دې ډول ویناوو ، په څلورلارو کې د تره کي د سترو ستروعکسونو نصبول او د هغه بې کچې درناوي څخه موخه دا وه چې هغه ته د شخصیت کیش ورکړي او بیا یې د کیش شخصیت د درلودلو په تور محکوم کړي. بیځایه هم نه وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



« د امین لور په مکتب کې خپلې یوې ملګرې ته ویلي وو چې مور. تره کي ته کیش شخصیت ورکړ...، دی پوهیدی چې تره کی د ګوند په بهرنیو اړیکو کې او هم د افغانستان په کینې لاسو غورځنګونو کې د خپل دریځ له مخې دپراغیزمن اوهرچا ته منلی دی. همدا لامل وو، چې امین د تره کي لپاره شخصیت پرستي راویسته. »۳ / ۲۶۳ ــ ۲۶۴

که چیرې دا موضوع په ځو کربنو کې راونغاړو ویلی شو چې د امین په پټه د تره کي له لوري څرګندوني او هغه د خپل وفاداره شاګرد په نامه د یادولو نه موخه دا وه چې د امین له برلاسی او کاري وړتیا څخه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د ستنو د ټینګښت او انقلاب د ودې په موخه ګټه پورته کړي او امین غوښتل تره کي ته د خپلې بې کچې وفادارۍ په ښودلو سره په ګوند کې د تره کي د اوتوریتي څخه په استفادې سره خپل دریځ لا پیاوړی کړي او خپل هدف ته چې زعامت ته رسیدل دي ګټه پورته کړي. لدې نه معلومیږي چې تره کی او امین په بشپړ ډول دوه متضاد شخصیتونه وو او متضادې موخې یې لرلې. تره کي د امین سره د یوې عقیدې او یوه ارمان د ملګري په توګه د ربنتیني ملګرتیا او دوستۍ لار نیولې وه او امین ورسره لوبې کولې . تره کي د امین د وړتیاوو څخه د نظام د ټینګښت په موخه ګټه پورته کوله او امین غوښتل د تره کي د باور په ترلاسه کولو سره خپل هدف چې زعامت ته رسېدل دي ګټه پورته کړي. تره کي د۱۹۷۹ کال د سپتمبر په دوولسمه دوې ورځې مخکې چې امین د تره کي خلاف د بغاوت جنده پورته کړې وه سروري او ګلابزوی ته چې هغوی دواړو هڅې کولې تره کی قانع کړي چې امین د هغه ژوند ته ګواښ دی ، د امین ضد کړنو اجازه غوښتله تره کي دوی ته ویلي وو:« ملګرو غوږ ونیسئ ! د خپل ژوند د ژغورنې لپاره به حتی مچ مړ نکړم. پریږدئ چې زما تقدیراو سرنوشت ګوند او خلک وټاکي. » ۱۰۸ / ۳۸ خو امین نه یوازې هغه له واکه ګوښه کړبلکې ژوند ته یې د پای ټکی کینود.کله چې سروري اوګلابزوی تره کي ته ویلي وو چې امین لومړی تا وژني او بیا مور. نو اجازه راکړه چې مور. د هغه چاره وکړو تره کي ورته ویلي وو که تاسې له مرګه ویره لرئ وتښتئ خو زه چا ته اجازه نه ورکوم چې بل څوک و وژني. همدا لامل وو چې سروري د خپلو نږدې خلقي ملګرو سره تره کی په سختو ټکو انتقاد او حتی غندلو چې ولې یې د امین د وژلو اجازه نه ورکوله. د تره کي له لوري د هغوی غوښتني ته منفي ځواب ښیي چې هغه د د امین سره په ملګرتیا کې ربنتینی وو او د امین سپکه او ورکه یې نه غوښتله .

## د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د اختلافونو بربندېدل

د وروسته پاتې هېوادونو زیاتره روڼ اندي پدې عقیده دي چې د دې هېوادونو ځیني مشران د زبرځواکونو د هژمونېستي تګلارو قرباني شوي دي.زموږ په هیواد کې هم د محمد داود ، تره کي او امین په اړه دا ویل کیږي چې هغوی د وخت د زبرځواکونو د سیالیو قرباني شول. خو واقعیت دا دی چې سیاست د دولتونو ، سیاستوالو او ځواکونو ترمنځ د اړیکو او راکړې ورکړې د کیسې پرته بل څه نه دی او ماتې خوړلی او ناکام سیاستوال هغه څوک دی چې د دې اړیکو په محاسبه کې تیروتنې کوي او یا اجازه ورکوي چې دا اړیکې د ده او د هېواد په زیان یې تمامې شي. زیاتره د ا، خ، د ، ګ پروني غړي او همدارنګه یو شمېر شوروي څېړونکي د تره کي او امین تر منځ د اختلافونو په را پنځولو کې شوروي دولت او یا د دې دولت څارګره اداره ملامتوي.پدې کې شک نشته چې شوروي سلاکارانو او د مسکو څخه پرله پسې راتلونکو پلاویو د خلقي مشرانو د اختلافونو په را پنځولو کې رول لوبولی دی خو دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلافونو ته يي د هغو خلقي کدرونو په واسطه لمن ووهله يا د مسکو د لاس وسيله شول کوم چې يا د سياسي پلوه خام وو، اړينه ځيرکتيا او بصيرت يې نه درلود، د انترناسيوناليسم غولوونکي شعار کانه او ړانده کړي وو او يا دا چې د ليونتوب ترکچې ځانغوښتونکي وو. د دولتونو مشرانو ته ښايي د نورو دولتونو سره په اړيکو کې هوښيارانه او حساب شوي ګامونه اوچت کړي ،پر لويو ګټو فکر وکړي او بريالۍ ډپلوماسي پرمخ بوزي. که د تره کي او امين ترمنځ د بې اتفاقيو په لمن وهلو کې له شورويانو څخه ګيلې کيږي دا که له يوې خوا د سياست څخه بيخبري ښيي له بله پلوه دا تصورهم زيږوي هڅه کيږي چې بيله استثنی دواړه خلقي مشران تره کی او امين غير مسئول او بې ګناه وګڼل شي . پدې اړه د پام وړ خبره داده چې ولې دا مشران او که دقيق وويل شي يو له دوی څخه د کرملن د موخو او ټګماريو ښکار او وسيله شو يا د ځانمنني او مقام پالنې له کبله پداسې کړنو لاس پورې کړ چې په ګوند او حکومت کې مخامختيا او ټکر ته لار پرانيزي او شوروي اړخ بيا د هغو څخه ناوړه ګټه پورته کړي. له بده مرغه نامشروع سيالي د غوڅ اکثريت افغان سياستوالو يوه منفي ځانګړتيا او مزمنه ناروغي ده چې هغې د ا، خ، د، ګ په خلقي ګوند کې هم پخپل قوت سره ځان را څرګند کړ. دا واقعيت د لمر په شان روښانه دی چې خلقي مشران لکه ډېری نور افغان سياستوال د دې جوګه نشول چې خپلمنځي ستونزې او اختلافونه د مسؤلانه خبرو له لارې حل کړي. سربيره پردې پيړيو پيړيو واکمن استبداد په ټولنه کې خشونت پالونکی ذهنيت او فرهنګ واکمن کړی دی چې هڅه وشي اختلافونه د احساساتو او زور ښودنې له لارې حل شي. د خلقي واکمنۍ پر مهال د امين له لوري د واک څخه د غلې کودتا له لارې د تره کي ګوښه کولو او بيا وژلو وښودل چې ددې ګوند مشرتابه دا وړتيا ونه موندله تر څو په ګوند کې اختلافونه په خپل وخت د پوهاوي له لارې حل کړي. دا بيا د خلقي مشرتابه د سياسی کمزوری څرګنده نښه ده.
په هر سازمان کې د نظر اختلاف يوه طبيعي پديده ده ، هرڅوک ،هره ډله او هره طبقه خپل فکر،ايډلوری اوخپلې ګټې لري. دا هغه څه دي چې د وګړو ترمنځ واټن او اختلاف راوړي.دلته د سياست او سياستوالو دنده ده چې دا واټن او اختلاف له منځه يوسي ترڅو د کړکيچ ، شخړو، ټکرونو او جګړو مخه ونيول شي. د ا، خ، د، ګ خلقي مشران او کدرونه د انسانانو د يوې مجموعې په توګه په هغه کې د اختلافونو د منځته راتګ څخه نشي مستثنی کيدلای. مشرانو ته يې په کار وو چې په خپل وخت يې دا اختلافونه درک او د مسئولانه بحث له لارې له منځه وړي وای. خو د دې ګوند لنډې شل مياشتنۍ واکمنۍ وښودل چې دوی ونه توانيدل په ګوند او مشرتابه کې يې شته اختلافونه درک او له منځه يوسي بلکې د ورځو،اونيو او مياشتو په تيريدو سره هغه زياتيدل ،چاغيدل ، د مخامختيا او ټکرکچې ته ورسيدل او پايله يې د ګوند د دوو ټاپ مشرانو( تره کي او امين) وژل کيدل ، د خلقي واکمنی پای او شوروي اشغال شو.د څه د پاسه څلورو لسيزو په تېرېدو سره د تره کي او امين ترمنځ د سياسي ، ايديولوژيکي او د سمونونو په پلي کولو کې اختلاف ته نه د هغوی پلويانو او نه مخالفانو ګوته نيولې دا بيا ښيي چې اختلافونه سليقوي او يا د لعنتي واک پر سر وو.

اوس به د تره کي او امين د اختلافونو په بربنډيدو ، ژوريدو او په هغو کې د کرملن په دريځ ځغلنده نظر واچوو. د ثور د وسلوال پاڅون وروسته د ا، خ، د،ګ په واکمنی کې امين د بې تاجه ټولواک له دريځ څخه برخمن شو. ده په دولت کې د داسې دريځ نه برخمن وو چې هغه د بهرنيو ډپلوماتانو او ولسي استازو سره د تره کي ليدنې کتنې او په غونډو کې د ګډون او يا نه ګډون پريکړه کوله. پدې هکله د اردو د سياسي چارو رئيس اقبال وزيري د امين له خولې ليکي : « تره کي صاحب راڅخه خفه دی چې ولې مې د مې د لومړۍ نيټې د نمانځنې مراسمو ته نه دی بېولی. د دې خبرې په اوريدو سره هک پک شوم ځکه چې نورمحمدتره کی د دولت په سر کې دی او څرنګه امين چې په دولت کې دويم سړی دی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق ترلاسه کړی چې د می د جشن په مراسمو کې د تره کي د ګډون او نه ګډون پريکړه وکړي. »۶۰ / ۱۰۸ کيسه دا سې وه چې امين بايد پدې ورځ د تره کي استوګنځي ته ورغلی وای او يوځای مراسمو ته تللي وای خو امين د مراسمو ځای ته تللی او تره کي دا مراسم د تلويزيون څخه ليدلي وو. لکه څرنګه چې مخکې يادونه شوې وه د امين دا ډول شونتياوې او بيساره واکونه د خلقي پوځيانو د بريالي پاڅون ، کاري وړتياوو او دده څخه د سياسي بېرو او شورويانو د ملاتړ له برکته ترلاسه کړي وو. د دې سربېره شوروي سلاکارانو هم د يوې سناريو له مخې په خلقيانو کې د امين د اتوريتي او اعتبار د لوړولو لپاره هلې ځلې کولې او په ځانګړې ډول په پوځ کې د شوروي سلاکارانو له لوري د امين په ګټه سيستماتيک تبليغاتي کمپاين تر سره کيده. د بيلګې په توګه کله چې په ۱۹۷۸ کال کې لومړی ځل د پوځ د مرکزي جزوتامونو د مبلغينو سره په حربی پوهنتون کې سيمينار جوړ شو په هغه کې د اردو د سياسي رئيس سلاکار جنرال زاپلاتين په خپل لکچر کې څو ځله د امين د غوره شخصيت او کاري وړتياوو يادونه وکړه چې ژباړونکی يې حبيب الرحمن حبيبي د امين له خپلوانو څخه وو. خو دې سلاکار يوځل هم د ګوند د عمومي منشي او د انقلابي شورا د رئيس نوم په خوله رانه ووړ. زاپلاتين په خپل لکچر کې حتی د امين د کار د مهال ويش خبره وکړه او دا يې ويل چې نوموړی په څلېرويشتو ساعتو کې اتلس ساعته کار کوي اوهر ماخوستن د شوروي سلاکارانو څخه پوځي تکتيک زده کوي. د سلاکار دې ډول څرګندونو ښودل چې غواړي امين د يوه له انرژۍ ډک ګوندي او دولتي مشر په توګه معرفي کړي چې په خبر پوه ګوندیانو ترې خپلې اخيستنې لرلې. هغه کسانو چې د څوکيو ليوال وو پدې هڅه کې شول چې څه ډول ځوان او د انرژۍ ډک مشرډلې ته چې انترناسيونالست شوروي دوستان يې هم تائيدوي ځانونه ور نږدې کړي . د زاپلاتين لکچر په واقعيت کې د امين لپاره کمپاين وو او هغه څه چې د امين په پټه زاپلاتين ويلي وو د پوځ په جزتامونو کې د شوروي مشاورينو له لوري تبليغېدل. دې ډول حالت امين ته دا شونتياوې په لاس کې ورکړلې چې ډيری پوځيان هغه د يوه وتلي مشر په توګه ومني .په بله خوا په ګوند کې د امين د دريځ دې ډول پياوړتيا او د هغه د ارادتمندانو يکه تازۍ د ځينو ځېرکو ګونديانو پټ او څرګند مخالفت ته لار هواره کړله. همدارنګه په ګوند کې د واک د انحصار واکمنې روحيې او د سياسي مخالفينو نه زغمل ، د ځينو مسئولينو له لوري د دولتي ضد کړنو په تور د نيول شوو کسانو بيله محاکمې وژنو په هيواد کې د مخالفتونو او مقاومتونو لړۍ پياوړې کړه چې پايله يې د وضعيت کړکيچن کيدل او د ګوند په مشرتابه کې يې هغو کسانو ته چې دا يې له بې تاجه ټولواک څخه ګڼل پلمه او موکه په لاس ورکوله چې د امين سياستونه او کړنې انتقاد کړي او نور بيا په پټه د هغه خلاف تبليغات پرمخ يوسي چې دې کار امين او امين ته د وفاداره کسانو منفي غبرګون له ځانه سره درلود. په ګوند کې د دې ډول وضعيت واکمنيدل په واقعيت کې خلقيان په دوو سيالو ډلو وويشل. هيره دې نه وي چې د ثور د پوځي پاڅون وروسته امين د صدراعظم د مرستيال ، د بهرنيو چارو د وزير سربيره د هيواد د امنيتي بنستونو(د دفاع وزارت ، کورنيو چاروو‌زارت ، څارګرې اداري يا اګسا ) د لاربښوونې او څارنې مسئوليت هم درلود. هغه مهال د ګوند د سياسي بورو هر غړي د حکومت د يوه ځانګړي سکتور د لاربښوونې مسؤليت درلود چې د هېواد د امنيتي سکتور مسؤليت امين درلود. د حکومت د امنيتي بنسټونو په چارو کې د امين ښکيلتيا او لاسوهنې، پر مشرانو يې نفوذ او د خپلې ارادې تحميلول ددې سبب شول چې د دې بنستونو مشران د امين خلاف دريځ ونيسي او حتی يو د هغوی نه عبدالقادر د امين د نه پخلاکيدونکي دښمن ،ببرک کارمل له ډلې سره لاس يو کړي.پدې هکله د جنرال عبدالقادر د خاطراتو په کتاب کې داسې راغلي: « امين تل ويل چې ګوښه يې کړئ او تقاعد ورکړه ! د لوړې کچې څخه تر ټيټې کچې هغوی تقاعد ته سوق کړه، ما مقاومت کاوه...، امين هره ورځ د دفاع وزارت ته راتللو، تاکيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تکرارول يې چې پخوانيو جنرالانو او قوماندانانو ته تقاعد ورکړه. » ۱۶۸ / ۲۲۸، ۲۶۹ د(جنګ درافغانستان) نومي کتاب روسي ليکوالان پدې اړه ورته څرګندوني لري او ليکي : « له بله پلوه د امين او قادر ترمنځ شخصي سيالي او په يو بل نه باور، د هغوی ځانمنني او سرکشۍ د دوی ترمنځ زياته آزردګي منځته راوړه . قادرهغه مهال لدې کبله د امين د کړنو څخه په څرګند ډول خپله ناخوښي ښودله چې هڅه يې کوله پوځ ترخپل اغيزلاندې راولي. » ۱۰۶/ ۹ که څه هم عبدالقادر خلقي ګڼل کيده خو ويل کېدل چې د ګوند په پرتله شورويانو ته زياته وفاداري لرله .« شوروي وسلوال ځواک او ارګانونو پر عبدالقادر بشپړ ډاډ او زړه درلود، د کې جی بی ميشتي ځارګرې څانګې د نومړي په اړه ډيرباور درلود او هغه ته يې د يوه اصولي او شوروي اتحاد ته د سرسپارلي او پاليالة ملګري په سترګوکتل. » ۱۲۴ / ۳۰۶بيله شکه په ځانغوښتونکي او له سياسي پلوه خام عبدالقادر باندې د د بل ځانغوښتونکي امين دا فشارونه وو چې په غالب ګومان د شورويانو په اشاره هغه د خلقي واکمنۍ خلاف د پرچميانوسره ګډه ژبه موندلي وي او د کودتا په هڅه کې شوی وي. وروسته له څه مودې د ځارګرې اداري ( اګسا) مشر سروري هم ورته دريځ غوره کړ لکه څرنګه چې د شوروي سفارت د خارجی کشف د دفتر اپراسيونی مامور ويکتوربوينوف د محمود په نامه د خپل افغان اجنټ د څرګندونو پر بنسټ د۱۹۷۹ کال د جون په پنځمه خپل آمر ته دا ريوټ وړاندې کړ: « د ژمي د وروستيو او د روان کال د پسرلي څخه د اګسا آمر اسدالله سروري پدې فکر کې دی چې د افغانستان استخباراتي شبکه څوک ، د څه لپاره ځاري او له منځه يې وړي. مخکې سروري بيله څه ويلو د امين هدايتونه عملي کول، امين هغه څوک وو چې سروري يې ګوند ته راوستی دی ، د ګوند په د ننه کې يې مطرح کړی او پدې مقام د امين له برکته ګومارل شوی دی...، خو پدې وروستيو ورځو کې د اګسا آمر شکونو ناآرامه کړی دی. معمولاً داسي وو چې امين به د نيولو او اعدامولو هدايت ورکاوه پداسي حال کې هغه چا نه ملامتاوه چې له بيځايه بيرحميو کار اخلي ، امين پاک او سپيڅلی پاتې دی . لدې کبله دی ، يعنی سروري د امين پټ امرونه پلې کوي او ټول هيواد هغه( سروري) ويني زبيښونکی جلاد ګڼي. په همدې دليل د هغه لپاره ځوروونکي ده چې د نومړي څخه يې ډيرو نږدې دوستانو او خپلوانو مخ ګرزولی دی، د پسرلي د پيل نه سروري په مختلفو پلمو هڅه کړې د امين د امرونو د اجرا څخه ډډه وکړي. »۶۳ / ۱۹۴ د اګسا د اداري د اجرآتو په اړه عزيز اکبري د نومړې اداري لوړپوړی هم ورته نظرلري او وايي: « زما له نظره په ډيرو مواردو کې د نيولو او اعدام کولو تصميم امين نيوه ځکه چې د دې سازمان کار پخپله امين ځاره. » ۱۱۶ / ۲۴۹ وطنجار او همدارنګه مزدوريار د دفاع او کورنيو چارو د وزارتونو په چارو کې د امين د لاسوهنو له امله د امين خلاف دريځونه ونيول. ميثاق هم په امنيتي بنسټونو او په تېره دفاع وزارت کې د امين د لاسوهني خبره کوي چې د عبدالقادر د مخالفت سبب شول. يو غير ګوندي ليکوال چې د وطنجار سره يې په دفاع وزارت کې ليدلي وو داسي ليکي :« لدې سره سره چې وطنجار د دفاع وزير و، په واقعيت کې يې د واک زياته برخه د امين او د امين د پلويانو په لاس کې وه . کله چې ما( ليکوال) د وروستي ځل لپاره اسلم وطنجار د دفاع په وزارت کې وليد خپلي څوکۍ ته يې اشاره وکړه او ماته يې وويل چې پردې څوکۍ بيچاره رسولي ناست و او اوس يې ما ځای نيولی دی .» ۱۵۸ / ۲۸ دا ليکوال په ځانګړې توګه لوی درستيز يعقوب او سياسي رئيس اقبال وزيري د امين پلويان يادوي چې د وطنجار واکونه يې محدود کړي وو. د امين د خپلوانو او ارادتمندانو واک او په پوځ کې د هغوی خپلسري او سلسله مراتبو ته نه پاملرنه به د هغه مهال د کندهار د قول اردو د بولندوی محمد کبير کارواني واورو چې د امين د نسکورېدو وروسته يې ليکوال ته ويلي وو: « کله چې يعقوب لوی درستيز وو زه د سياسي رياست د سازماندهي د مديريت مدير حبيب الرحمن حبيبي وروغوښتم او د قول اردو د چارو د څرنګوالي په اړه معلومات غوښتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما کارونه يي انتقادول . وروسته لدې کتني لوی درستيز محمد يعقوب ته ورغلم او شکايت مې وکړ چې حبيب الرحمن له کومه ځايه دا واک تر لاسه کړی دی چې د قول اردو قوماندان ورو غواړي؟ » د سياسي رياست کارکوونکو يوازې د جزوتامونو د سياسي آمريتونو د کار څارنه کولای شوای او بس . که چيرې د عبدالقادر، وطنجار او سروري ځرګندونو ته وکتل شي هغوی د هيواد د امنيتي بنستونو مشران پاتې شوي دي. په هرهيواد کې امنيتي ارګانونه د واک او ځواک اصلي بنستونه ګڼل کيږي او د افغانستان په څير يوه هيواد کې چيرې چې د واک ليږد د ټاکنو له لارې نه بلکې د کوټاګانو او پاڅونو له لارې ترسره کيږي بيله شکه د زعامت مدعيان امنيتي ځواکونو ته ځانګړې پام راګرزوي او غواړي پرهغو بشپړ تسلط ومومي. د امين سره د ا، د،ج د امنيتي بنستونو د مشرانو او لوړپوړو پوځيانو( عبدالقادر، وطنجار، سروري ، مزدوريار) مخالفت د امين د هغو کړنو په وړاندې غبرګون وو چې غوښتل يي پرامنيتي ځواکونو بشپړه ولکه ټينګه کړي او دا مشران د نظام د مخالفينو د ځپلو او له منځه وړلو په موخه وهڅوي . پداسي يوه حالت کې تره کي د هيواد د مشر په توګه د امنيتي ارګانونو د مشرتابه له دريځ څخه ملاتړ کاوه کومو چې نه غوښتل د وسلوال پوځ د اعلی سر قوماندان په وړاندې موازي اعلی سرقوماندان سر را پورته کړي او هغه هم داسي څوک چې د مخالفينو د ځپلو او بې محاکمې وژلو تګلاره غوره کړې ده. پدې هکله د امين هڅې يوازې په وسلوالو ځواکونو پورې نه محدوديدلې بلکې په ټولو دولتي ادارو او په هغوکې د دولتي واک په سيمه ئيزو ارګانو کې هم ترسترګو کيدلې چې د ګوند په مشرتابه کې يې منفي غبرګونونه له ځانه سره لرل. امين خپل غير ګوندي مشر وررور عبدالله امين په شمال کې د کل مختاره واکدار په توګه ګومارلی وو او خپل اتلس کلن زوی عبدالرحمن يي د ځوانانو د خلقي سازمان مرستيال ټاکلی وو خو« کله چې امين خپل همدغه زوم( اسدالله امين ) بيله کوم رسمي اعلان څخه د بهرنيوچارو د وزارت مرستيال هم ټاکي نو پدې مقرراتو باندې د تره کي لخوا امين په خپلوۍ پالنې سره په مخامخ خبرو کې وغندل شو، نو امين هم ډير په قهر سو او پر تره کي يې خوله را خلاصه کړه او داسې يې ورته وويل نو زه بايد خپله کورنۍ ووژنم. » ۳ /۲۶۴ دا ډول حالت ددې سبب شو چې د خلقيانو د دوو ټاپ مشرانو ترمنځ اړيکې خړې پړې شي. اسدالله امين لکه ح. امين د نظام هرکاره وو . پدې اړه کشتمند هم د اسدالله امين په اړه پخپل کتاب کې راوړي چې کله دی په توقيف کې وو اسدالله امين به د اسدالله سروري سره يوځای د ده ليدو ته را تللو . هغه مهال اسدالله امين د کابل ښار د ګوندي کميټې منشي وو چې د هغه دندې د بنديانو سره هيڅ تړاو نه درلود. دا بيا ښيي چې نه يوازې په خپله امين بلکې وراره يې هم د امنيتي او قضايي بنستونو په چارو کې لاسوهنه کوله او ددې بنستونو د مشرانو واکونه يې محدود کړي وو. سربيره پردې د امين له لوري د سياسي مخالفينو په وړاندې د زورزياتی څخه کاراخيستل او بيله محاکمې وژنو له کبله تره کي « يوه ورځ په غونډه کې ورته وويل چې خلک وژل کيږي يا خوار بيګناه خلک زندان ته اچول کيږي . حفيظ الله امين انکار وکړ او ويې ويل چې د تاسي له ارادې پرته د چنار يوه پاڼه هم په ځمکه نه لويږي اما تره کي وويل زه پاڼه څه کوم ونه چپه کيږي او زه نه خبريږم .» ۱۶۹ په ګوند او حکومت کې دا ډول غيرنارمل حالت د ځيرکو ګوندي او حکومتي کدرونو او په هغو کې د شوروي سلاکارانو څخه پټ نه پاتي کيدل. البته دا د شوروي اړخ لپاره ښه زيری وو چې د هغه څخه ګټه پورته کړي. هغه مهال د ګوند د مشرتابه( سياسي دفتر ) لپاره په کار وو چې په ګوند او واکمنۍ کې د دې ګواښمن ويروس( اختلاف) د ودې مخه نيولې وای. د ګوند يو شميرکدرونو د تره کي او امين ترمنځ دا اختلافونه احساسول خو د ګوند مشرانو داسي ښودل چې هغوی ترې خبرنه دي. فکرکيږي چې دوی له دې امله نه غوښتل د دواړو لوړو مشرانو د قدرت په مبارزه کې ځانونه ښکيل کړي چې د دوی خپل دريځ ته زيان ونه رسيږي غوره يې وګڼله چې ځان پدې حساسه مسئله کې ښکيل نکړي ، د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیالی نندارہ وکړي او کله چې هر یو پدې مقابله کې بریالی راوخوت د اتل په څیرد هغه په غاړې کې د ګلانو امېلونه واچوي. یو د دغو مشرانو څخه چې ګواکې د تره کي او امین ترمنځ د اختلافونو څخه بې خبره وو لیکي: « زه تر هغه وخته پورې چې په ارګ کې د دوی د محافظینو ترمنځ نښته وشوه د دوی په اختلافونو نه وم خبر...، مثلاً زه داسې خاطره نه لرم چې میثاق، پنجشیری ، شرعي، دانش د دوی د اختلافونو نه خبرشوي وي .» ۴۰ / ۴۱۴ واقعیت دا وو چې پدې اړه ګوندي کدرونو خپلو مشرانو او په هغو کې همدې مشر ته خبرداری ورکړی وو او خپلې اندیښنې یې ورسره شریکې کړې وې چې یو د هغو څخه لیکي:« ما څو ځله صالح محمدزیري ته مراجعه وکړه ولې هغه تل ویل زه او کریم میثاق د سیستم د بدلولو اساسي اقتصادي او ټولنیزې چارې رهبري اوعملي کوو یعني کریم میثاق مالي برخه او زه د ځمکو د توزیع کولو پروګرام پلې کوم ، دا چې د نورمحمدتره کي او امین ترمنځ څه تیریږي پریږدئ چې هغوی یې پخپله حل او فصل کړي.» ۱۲۸ / ۸۵ حیرانوونکې او د خواشینې وړ خبره خولا دا وه چې ځینومشرانو بیا دې اختلافونو ته لمن وهله. د دغو مشرانو نه یوه د خلقیانو د واکمنی له نسکوریدو وروسته په ویاړسره ویل:« وروسته له هغه مې چې د ګوند پوځیان د بیګ شوونیستانو ( موخه تره کی او امین) ضد متحد کړل او هغوی مې د یو بل خلاف راوپارول ، د تره کي له نسکوریدو وروسته د حفیظ الله امین د حکومت په لومړی ورځ له هیواد نه ووتم ، د انقلاب څخه د ډاډمنې دفاع او په ګوند کې د انحراف د مخنیوي په خاطر مې د شوروي دوستانو د قانع کولو په موخه چې خپل محدود قطعات افغانستان ته واستوي د امین د حکومت په وروستۍ ورځ کابل ته راستون شوم.» ۸۲ د دې مشر (دستګیر پنجشیري) د پورتنیو څرګندونو په هکله لیکوال د نیازمحمدموند د ګوند د دارالنشاء د غړي سره خبرې کولې هغه وویل پنجشیری عادت لري چې د ځینو مسئلو په اړه مبالغه وکړي ښایي پدې هکله یې مبالغه کړې وي. ممکن د مومند انګیرنه سمه وي خو د پنجشیري د څرګندونو نه بریښي چې نوموړی د تره کي او امین د اختلافونو د پایلو او د شوروي د اشغال څخه راضي وو او په دې کې شک نشته چې په پټه یې دې اختلافونو ته لمن وهلې وي. بیځایه هم نه وو چې امین د خلقیانو په مشرتابه کې خپلو پټو مخالفانو ته کنجکیان ویل چې په براالا یې په سیاسي بیرو کې خپل دریځ نه څرګنداوه او په پټه یې بیا د امین خلاف خپلو پلویانو ته ځانګړي دستورونه ورکول. د کنجکیانو په اړه ویل کېږي چې د ثور انقلاب وړاندې تره کي د مرکزي کمېټې په یوه غونډه کې زېږي ، میثاق او پنجشیري ته وویل چې په کونج کې ناست یئ او د بحث لاندې موضوع په اړه څه نه وایئ. امین ددې خبرې په اوریدو سره په هغوی د کنجکیانو نوم کېښود . یو شوروي څارګر لیکي :« دستګیر پنجشیري له زندانه نیغ په نیغه د ببرک مخې ته ودرول شو.ببرک په بوړنوړي او ترټونکي غږ پر پنجشیري غاښ چیچنه وکړه : موږ او شوروي ملګرو دواړو ته پنجشیری د یوه ربښتوني کمونست په توګه ګڼلې. تا له هغو شوروي ملګرو سره خیانت وکړ چې له تا سره یې په مسکو کې خبرې کړې وې . پنجشیري وویل : زه له امین سره همغږی او موافق نه وم . خو نه مې شوای کولای په براالا د هغه مخالفت وکړم . زه د هغه یو پټ مخالف وم . ترهغه ځایه چې له شوروي ملګرو سره زما په خبرو پورې تړاو لري ، ما ګومان کاوه چې په مسکو کې شوروي ملګري غواړي زما امیني ضد احساس ځانته څرګند کړي او که ما څه ویلي وای ، بیریدلم چې هغوی به یې بیرته امین ته ووایي . که زه د شوروي ملګرو په ربښتونې موخې پوهیدلای ، پدې کې هیڅ شک نشته چې ما به په بل ډول چلن له ځانه راڅرګند کړی وای. »۱۲۴/ ۲۲۹- د۲۳۰ د پنجشیري په خبرو کې درې ټکي د پام وړ دي.

الف- د کنجکیانو په هکله د تره کي انګیرنه په بشپړډول سمه وه چې دوی دا میرانه نلرله چې د ګوند د کورنیو ستونزو په اړه څه ووایی او د حل په اړه خپل وړاندیزونه او نظریات وړاندې کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- پنجشیري د امین تر واکمنېدو پورې لیدل چې د تره کي او امین تر منځ د واک پر سر سیالۍ کې شوروي سیاسي استازو او سلاکارانو له امین څخه بشپړملاتړ کاوه. لدې امله هغه په مسکو کې هم پدې باوردرلود که د امین خلاف څه ووایي ښایي شورویان امین ته رپوټ ورکړي او پدې صورت کې د ناوړه برخلیک سره مخامخ شي نو هماغه دي چې د شورویانو سره په کتنو کې د تره کي خلاف د امین له کړنو ملاتړ کړی دی. همداراز یو شمېر خلقیان او په هغو کې « د تره کي پلویان باوري ول چې د شوروي اتحاد دولت او شوروي سلاکارانو امین ته د کودتا آسانتیاوې رامنځته کړې چې د تره کي د رژیم را پرځولو ته یې لاره پرانیستله او په دولتي او ګوندي بدلونونو کې له امین سره نیغ په نیغه ښکیل ول د امین د رژیم د ملاتړ او د هغه د پیاوړتیا په لاره کې د هیواد په وسله وال ځواک او امنیتي ارګانونو کې د شوروي اتحاد د سلاکارانو شتون ته د شوروي اتحاد د یوه ملاتړونکي ګام په توګه کتل کیدل. » ۱۲۴/ ۱۹۰

ج- د پنجشیري دا ډول دریځ پخپله ښیي چې دی او د سیاسي دفتر غړي خورا کمزوري شخصیتونه وو چې د هغه ګوند کوم چې دوی یې بنسټ ایښودونکي وو د برخلیک په اړه اندیښنه نلرله بلکي د خپلو دریځونو اومقامونو د ساتلو په اړه یې فکرکاوه. هغه مهال د سیاسي بیروغړي اووه تنه (تره کی، زیری، پنجشیری، میثاق، امین ، شاه ولي او سوما) وو. دوه تنه وروستي د امین پلویان ګڼل کیدل او دری تنه پاتي د امین پټ مخالفین یا کنجکیان وو. تره کي د دې دریو تنو پاسیف ، ناڅرګند دریځ او رواني ځانګړتیاوو ته په کتنې سره غوره دا ګڼلې وه چې پرامین ډډه ولګوي او امین هم د تره کي لدې باور او د نورو له بې تفاوتی څخه ګټه پورته کړي او پدې ډول د نظام هرکاره شي. د کنجکیانو له ډلې میثاق د ګوند د مشرانو د ځانګړتیاوو په اړه لیکي:« واک او څوکیو ته په رسېدو سره زموږ حیثیت معلوم شو. څرګند شول چې موږ سیاسي شخصیتونه نه وو، بلکې ډېر کمزوري، ځانپال ، ګټې غوښتونکي او څوکۍ پال وو. څرګند شول چې موږ د عقیدې او کړنلارې لپاره مبارزه نه کوله ، بلکې د ځای ،مقام او شخصي ګټو لپاره هڅې کولې . کله چې مقامونو ته ورسېدلو ، د اساسنامې او کړنلارې د پلې کولو لپاره مو چې کلونه نغارې ډنګولې هغه مو په بشپړ ډول هېرې کړلې...» ۷۹/ ۳۰۸

شوروي اړخ د تره کي او امین ترمنځ اختلافونو ته چې دوی ورته پکه وهله په کتنې سره بیا د خپلو نقشو د پلې کولو په موخه عجیبه لوبه پرمخ وړله. یوشمیر سلاکارانو یې د امین او د امین د پلویانو ملا ور تړله ، نورو بیا د امین مخالفین هڅول چې د امین په وړاندې ودریږي او د همدغو مخالفینو په اړه د امین پلویانو ته د جاسوسانو په څېر رپوټونه ورکول. « د خلقي دولت تر سقوط وروسته د هغو کسانو لخوا چې د نورمحمدتره کي پلویان او معتبره کسان وه، اوریدل کیدل چې له دوی سره د امین د له منځه وړلو په لاره کې شوروي مشاورینو مرسته کوله اوهغوی ته یې مشورې ورکولې .هغه اضافه کوي عزیز اکبري چې د امین – تره کي د اختلاف په وخت کې په اکسا کې عمده سړی و. د ده او نورو امین پلوو کسانو له خولو اوریدل کیده چې شوروي مشاورینو د تره کي او د ده د پلویانو، په خاصه توګه د سروري ، وطنجار، ګلابزوی او مزدوریار لخوا د امین ضد فعالیتونو په اړه د اکسا، امین پلوو کارکوونکو ته راپور ورکاوه. » ۴۰ / ۴۱۵ – ۴۱۶ د شوروي اړخ دا ډول دریځ که له یوې خوا د دوستانوپه نامه د شوروي مشرانو منافقت ننداری ته ایږدي له بلې خوا د امین د څرګندو مخالفینو ( سروري ، وطنجار، ګلابزوی ، مزدوریار) او پخپله د امین او د هغه د پلویانو ټیټ سیاسي شعور او نه ځیرکتیا هم ښیي. د شورویانو له دا ډول لوبې څخه ښکاري چې په لومړي ګام کې هغوی هلې ځلې کولې ترڅو امین کاملاً په وضعیت او په ځانګړي توګه پر پوځ مسلط شي.په دوهم ګام کې د ځواکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



امين پواسطه تره کی گوښه ، ووژني او بيا دوی په خپله په گوند کې د بدنام امين حساب ته ورسيږي. ځيني څيړونکي او همدارنگه يو شمير پخواني خلقيان او پرچميان داسې فکرکوي چې گواکې شوروي سلاکاران په دوو مخالفو ډلو ويشل شوي وو لدې امله يې د خلقي مشرانو د دې يا هغه مشر او يا د خلقيانو يا پرچميانو ملاتړ کاوه چې دا په بشپړ ډول ناسمه انگيرنه ده. هغه ډله لوړپوړي شوروي سلاکاران چې د گوندي مشرانو ، وزيرانو او نورو ملکي او پوځي لوړپوړو سره يې سر او کار درلود هغه د شوروي دولت ډاډمن مامورين وو او زياتره يې د نوموړي هيواد د څارگرې ادارې غړي او يا اجنټان وو، هغوی آزمويل شوي کسان وو چې د افغانستان اړوند د خپل دولت په سياستونو ښه پوهېدل او دشوروي دولت د تگلارو او ستراتيژيو ربښتيني پلي کوونکي وو. له بله پلوه د شوروي په توتاليتار رژيم کې څه ډول يو شوروي جگپوړی مامور د خپل دولت د تگلارې خلاف عمل وکړي دې بيا د لېونتوب او ځانوژنې معنی لرله. څرگنده بيلگه يې د هغه مهال د شوروي اتحاد د کورنيوچارو د وزارت معيين پاپوتين دی. نوموړی په ١٩٧٩ کال د نوامبر په وروستيو کې د امين سره وکتل او امين يې قانع کړ چې د شوروي اتحاد دری کنډکونه د افغانستان د واکمنۍ د ساتلو په موخه دې هېواد ته راشي. خو په عمل کې شورويانو د همدې ځواکونو او د تاجبيک د مانۍ شاوخوا له مخکې ځای پرځای شوي د مسلمانانو پنځه سوه کسيز کنډک پر مټ امين ترور کړ. کله چې د دسمبر په اته ويشتمه پاپوتين خبر شو چې شوروي لښکرامين له منځه وړی دی ښايي خپله نارضايتي يې ښودلې وې چې سمدلاسه په همدې ورځ ( د دسمبر په اته ويشتمه) د هغه ژوند ته د پای ټکی کيښودل شو او شوروي دولت د نوموړي مرگ ځانوژنه اعلان کړه .البته ځيني لويديځوال پدې اند دي چې هغه د تاج بيک په مانۍ باندې د بريد پر مهال ووژل شو. دا نظرلدې امله د منلو وړنه دی چې د تاجبيک په مانۍ د کی جی بی جنگياليو او د مسلمانانو کنډک بريد وکړ نه د شوروي د پوليسو کوم ځواک ، ځکه چې پاپوتين د کورنيوچارو د وزارت مرستيال وو او منطقي نه بريښي چې د اردو او څارگرو ځواکونو قومانده پوليس ته ورکړل شي او جنرال په خپله د يوه کوچني جزوتام ( کنډک) ځانگړو عملياتو يعنې د يوې مانۍ په نيولو کې برخه واخلي . د شوروي سلاکارانو دا ډول دوه گونی دريځ د يوې مخکې جوړې شوې سناريو له مخې پرمخ وړل کيده ترڅو د ا، خ، د،گ کې کړکيچ ته لمن ووهي ، هغه چاغ کړي او د ټکر بريد ته ورسوي. د گوند يو مشر له ډگره يا لوبې وباسي او بل چې د گڼ شمېر خلقيانو باور يې له لاسه ورکړی او حتی دښمني يې گټلې ده ترخپل کنټرول لاندې راوړي او خپلې نقشې د همدې کمزوري واکمن د واکمنی پرمهال پلې کړي.

## ولې حفيظ الله امين کيوبا ته له تللو ډډه وکړه ؟

د١٩٧٩ کال د سپتمبر د مياشتې په لومړۍ اونۍ کې په کيوبا کې د ناپييلوهيوادونو کنفرانس جوړيده او په پلان کې وو چې امين د افغان پلاوي مشري ولري. خو« امين په توطيه آميزه توگه د صحت عامي په تالار کې د فعالينو جلسه را وغوښته او په جلسه کې يې اعلان وکړ، چې په هاوانا کې د غير منسلکو هېوادونو په جلسه کې زموږ محبوب رهبر ونډه اخلي. اصلاً تره کي صاحب له امين غوښتي وو،چې د هاوانا په غونډه کي هغه ( امين) د پلاوي د مشرپه توگه برخه واخلي.» ١٧٠ / ٦٥ امين چې د ځان ښودلو خورا ليوال وو ترڅو په هرسياسي تدبير کې گډون وکړي تردې چې کله يې تره کی له واکه گوښه کړ افغان فلم ته يې هدايت ورکړ چې د ثور د وسلوال پاڅون (انقلاب) په اړه يو مستند فلم جوړ کړي. امين شخصاً د فلم د اتل يا د ځوانانو په خبره د فلم د هلک په توگه پکې رول ولوباوه . ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کې امين يوازينی دولتي مشر وي چې د يوه فلم په جوړولو کې د لوبغاړي رول لوبوي. دا چې امين د کيوبا په کنفرانس کې له برخې اخيستنې ډډه وکړله دا شکونه په واقعيت اړوي چې غوښتل يې د تره کي په نشتون کې واک ته د رسېدو نقشه بشپړه کړي. هغه مهال« گريچکوف د مسکو څخه د کی جی بی مرکز ته تلگرام ليږي او پکې توصيه شوې وه چې تره کی د هاوانا له سفر څخه ډډه وکړي . په مسکو کې يې گومان کاوه چې په کابل کې د تره کي د نشتون له کبله امين گټه پورته کړي او ټول واک غضب کړي . له بده مرغه د افغانستان د دولت رئيس د کشف د اداري دليلونو ته غوږ ونه نيو.» ۶۳ / ۲۲۵ هغه مهال امين په بشپړ ډول په وضعيت واکمن وو په کابل کې د تره کي شتون يا نشتون کوم اغېز نه درلود. يا ښايي امين د تره کي د نشتون پر مهال ځېنې اقدامات چې د هغه په شتون کې يې نشوای ترسره کولای غوښتل د هغه په غيابت کې ترسره کړي . په وضعيت باندې د امين بشپړ واکمنېدل لدې برېښي چې د تره کي د دفتر مشر، لوی درستيز، د گارد قوماندان، د مرکزي جزتامونو قوماندانان ، د هوايي او هوايي مدافعې قوماندان، د ژاندارم او پوليسو عمومي قوماندان د امين له پلويانو څخه وو. پدې سفر کې تره کي د پاکستان د ولسمشرضياَ ءالحق سره وکتل ، د دواړو هيوادونو ترمنځ د اختلاف وړ مسئلو د حل په موخه د دوه اړخيزه ليدنو کتنو په دوام ټينگار وشو. پدې کتنه کې چې د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير خيال محمد کتوازي گډون درلود هغه وايي:

« - د دوو مشرانو په ملاقات کې ضياء الحق د مقدمې په توگه وويل، سوسياليسم له مسکو څخه لومړی منځنی آسيا ته راواوښت او اوس يې افغانستان ته ټوپ وواهه ، بل گام به يې پاکستان وي.

- نور محمد تره کي وويل ، سوسياليسم د افغانستان لپاره نه دی، موږ فقط د يو پېشرفته او مترقي افغانستان په جوړولو لگيا يو.

- ضياءالحق :د ثورانقلاب اخبار چې پاکستان ته راځي په لومړيو وختو کې کنترولېدلای شوای اما اوس له کنترول څخه وتلی دی.تاسو لطفا دا اخبار موږ ته مه رالېږئ.

- ن ، تره کي:تاسو د افغان حکومت مخالفين په پاکستان کې ساتلي دي.

- ضياءالحق: موږ به هغه کسان تاسو ته تسليم کړو خو پدې شرط چې تاسو د ثورانقلاب ورځپانه پاکستان ته را ونه لېږئ او هغه کسان چې تاسو ته تسليم کړو ژوندي پاتې شي او د عادي کسانو په توگه ژوند وکړي... ، د غونډې په پای کې دواړو مشرانو اعلان کړل چې د دې موضوع د رسمي کولو لپاره زموږ د هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو ته دنده ورکړل شي.»

« ن. م . تره کي له کيوبا نه د راستنيدو په وخت کې په مسکو کې د تم کيدو او له شوروي مشرانو سره د خبرواترو په ترڅ کې يوځل بيا د ح. امين د ناوړه نيت په باب هيښ کړای شو. هغه له ل . بريژنف او يوري اندروپوف نه پدې اړه يو لړ داسې خبرې واوريدې چې دی يې بيخي هک پک کړ. »۴۹ / ۹۲

عزيز اکبري وايي چې کله تره کي او بريژنف ملاقات درلود « سيد داود تړون هم د شوروي چارواکو ، دولتي امنيت کمېټې يا کې جی بی سره اړيکې لرلې او تړون هم يو ساعت – يا يونيم ساعت غايب وو. زه فکر کوم چې شورويانو هم بعضې مسالې هغه ته انتقال کړې وي او تړون هم دا مسالې د تره کي کابل ته د راستنېدو مخکې امين ته رپوټ ور کړی وو يعنې امين يې په جريان کې اچولی وو. » ۶۹ / ۲۶۸ د دې لپاره چې شوروي چارواکي د امين په اړه د تره کي منفي ذهنيت لا پياوړی کړي ، هغوی په پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې ډول هغه ته د امین له لوري د خطر او ګواښ سیګنالونه رسول . د بېلګې په ډول کله چې تره کی د بریژنف سره د لیدنې وروسته میلمستون ته راغی د مېلمستون په دهلیز کې په کابل کې د تاس د آژانس خبریال وینې او هغه خپلې کوټې ته بیایي، د خبرو په ترڅ کې نوموړی هم تره کي ته د ګواښ سیګنال رسوي او ورته وایي:« په افغانستان کې یوه کودتا کیدونکې ده ، حفیظ الله امین غواړي تا له واکه ګوښه کړي ، ښایي کودتا په څو نږدې ورځو کې ترسره شي. » ۶۳ / ۲۲۸ پدې هکله د پام وړ خبره دا ده چې د تره کي سره په سفر کې د پلاوي یو غړی عزیزاکبري بوګدانوف ته د سیدداود تړون د شتون پرمهال د امین دا پیغام رسوي چې وطنجار، ګلابزوی، سروري او مزدوریار غواړي امین له منځه یوسي چې تړون هم پر دا ادعا تاییدوي . امین عزیزاکبري ته ویلي وو چې دا موضوع به بل څوک نه بلکې تړون بوګدانوف ته ژباړي. خو اکبري بیا د تړون په غیاب کې بوګدانوف ته ویلي :« که خبره د توطئې وي ، هغه امین دی چې هغه یې پیل کړېده ، نوموړی غواړي تره کی را وپرزوي او په افغانستان کې ټول واک ترلاسه کړي. » ۶۳ / ۲۲۹ سربیره پردې په کابل کې شوروي سلاکارانو هم د تره کي او هم د امین پلویانو ته لمسوونکي اطلاعات ورکول. دبېلګې په توګه یې د تره کي پلویانو ته ویلي وو چې امینیان غواړي د تره کی الوتکه په هوا کې وولي . د امین پلویان وایي چې سروري غوښتل هوایي ډګر ته د تره کي هرکلي ته د تلو پر مهال امین ووژني او میثاق په خپل کتاب کې را وړي چې امین څو ورځې وروسته په سیاسي بېرو کې ویلي وو چې د تره کي پلویانو په هوایي ډګر کې د ده د له منځه وړلو پلان درلود. دواړه اړخونه د اضافي تدبیرونو او د ګواښ د له منځه وړلو په موخه اقدام کوي . د شورویانو لدې لوبې څخه ښکاري چې نه امین د تره کي د الوتکې د ویشتلو پلان درلود او نه سروري د امین د ترور نقشه لرله. یا ښایي داسې څه به وو او یا به لدې دواړو اړخونو څخه یوه کوم ناوړه پلان درلود. هرڅه چې وو خو شورویانو دواړو اړخونو ته د ناسمو لمسوونکو اطلاعاتو په ورکولو سره د خلقیانو په مشرتابه کې بشپړه بې باوري واکمنه کړې وه .ویل کېږي چې سروري د کابل شاوخوا د دافع هوا په جزوتامونو کې د خپل نفوذ له امله په هماغه ورځ خپل باوري کسان په نوکریوالۍ ګوماري. امین بیا د خلکو د کور او هوایي ډګر په سړک د ده د ډاډمن امنیت په موخه د ځارګرې ادارې د مسئولینو پرځای د ارګ ساتونکو ته د لارې د امنیت دنده سپاري. عجیبه لا دا وه چې د تره کي الوتکه د هوایي ډګر په فضا کې دوه ځله تاو راتاو شوه او د کیناستو اجازه نه ورکول کیده. دا بیا دا ګومان په واقعیت اړوي چې د امین پلویانو فکر کاوه چې د دافع هوا په جزوتام کې امین پلوي افسرانو ته موقع او چانس ورکړې چې د تره کي الوتکه وولي خو خبر نه وو چې د هغوی پر ځای سروري نور کسان په نوکریوالۍ ګومارلي دي. د امین پلویان وایي چې امین د تره کي هرکلي ته په خپل وخت نه وو ورغلی او الوتکې ته د کیناستو اجازه ورنکړل شوه ځکه هغه د بلې لارې څخه هوایي ډګر ته تللی چې په لار کې یې د سروري کسان ترور نکړي. تره کی په هوایي ډګر کې د دولتي مشرانو د تاوده هرکلي څخه برخمن شو او امین بیا هم د تل په شان د هغه لاسونه مچي کړل . تره کی د خلکو کور( ارګ ) ته په رسیدو د وزیرانو د شورا غونډه را وبلله او ګډون والو ته یې کیوبا او شوروي اتحاد ته د خپل سفر په هکله رپوټ ورکړ او سفر یې ګټور وباله. د غونډې او چای څښلو وروسته ټول له ارګ ( د خلکو کور) څخه ووتل او تره کی حرمسرای ته ولاړ او سبا ورځ په خپل کور کې پاتې شو او دمه یې وکړه. د امین پلویانو ویل چې په مسکو کې تره کي د پاتریس لومومبا په پوهنتون کې افغاني محصلینو ته په وینا کې ویلي وو چې په ګوند کې د سرطان دانه پیدا شوې ده هېواد ته په رسېدو سره به هغه عملیات کړم. خو د امین د پلویانو پرته بل څوک ددې خبرې پخلی نه کوي . د هاوانا او مسکو څخه هېواد ته د را ستنېدو وروسته د تره کي له لوري امین ته دا وړاندېز چې کوم سفارت ومني ښيي چې هغه شورویانو قانع کړی دی چې د امین له شره ځان خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. همدا لامل وو چې له سفر وروسته د وړي په دوه ويشتمه د امين سره په لومړۍ کتنه کې هغه ته يې وړانديز وکړ چې په بهر کې سفير شي خو امين سپکې سپورې ورته ويلې وې. دا بيا ښيي چې امين هم د محمد داود په شان غوښتل له لوبې ونه وزي . ظاهرشاه د صدارت څخه د داود خان د استعفى وروسته له هغه غوښتې وو چې په فرانسه کې سفير شي خو هغه نه وو ورسره منلي ځکه غوښتل يې د کودتا لارې خپله تنده چې زعامت ته رسېدل دي ماته کړې. عجيبه خو لا دا وه چې امين اوولس مياشتې تره کي ته ډول ډول لقبونه ور کول او د يوه مذهبي پېشوا او استاد په ډول يې د هغه درناوى کاوه خو کله چې دې محترم استاد ترې وغوښتل سفير شي سپکې سپورې ور ته وايي . دا بيا ښيي چې امين له يوې خوا ګوندي اصلونو او دولتي مقرراتو ته درناوى ونکړ او له بله پلوه د تره کي په پټه يې څرګندوني او د هغه هېښوونکى درناوى د غوړه مالۍ او منافقت پرته بل څه نه وو او موخه يې د هغه باورتر لاسه کول او لدې باور څخه ناوړه ګټه پورته کول و تر څو زعامت ته ورسېږي.

## د شاګرد بريالى بغاوت

تره کى هېواد ته راستون شو سبا ته يې په کور کې دمه وکړه او د خپلې کورنى د غړو پرته يې له چا سره ونه ليدل. د وړي په دوه ويشتمه سهارخپل دفتر ته ولاړ او له امين سره وکتل. امين له هغه وغوښتل چې « سروري ، ګلابزوى ، وطنجار او مزدوريار د انقلاب په وړاندې د توطيې له امله له دندو ګوښه کړي . د هغوى د ناوړه کړنو او په تېره د سروري څخه يې زيات سر وټکاوه. تره کي ورته وويل : ښايي ښه دا وي چې ته لږ له کارونو لاس واخلې او آرام شې. په کوم هېواد کې سفير شه ، هلته به وخت ولرې ترڅو فکر وکړې او بيا قوت ومومې. امين ورته وويل : تا ته ښايي غلى شې ،نشه توب او زړښت بې عقل کړى يې او بېله خداى په امانى له کوټې ووت. امين په همدې ورځ د ټيليفون له لارې تره کي ته خپل وړانديز يو ځل بيا تکرار او دا يې هم ورته وويل که وړانديز يې ونه منل شي د جمهور رييس په توګه يې د امرونو څخه اطاعت نه کوي.» ۶۳ /۲۳۳ دا نو د دولت د مشر په وړاندې د بغاوت اعلان وو. د همدې کتنې په اړه نبي مصداق ورته څرګندونې لري او ليکي: «... امين د تره کي سره وکتل او هغه ته يې د هېواد د حالاتو راپور ورکړ، اوهم يې په يو بېل کاغذ کې ځنې وغوښتنه چې دا څلور کسيزه باند له کارونو څخه پسې واخلي. تره کي هم د امين خط ولوست او په نرمه موسکا يې ورته وويل، چې امينه ! ته ماته تر ټولو مهم يې ، خو وضعيت داسې راغلى چې زه فکرکوم د يوې لنډې مودې لپاره بهر ته د سفير په توګه ولاړسې ، په مجردې چې حالات سم سي نو بېرته به دې را وغواړم. امين پرې نه ښود چې تره کى خپلو خبرو ته دوام ورکړي ، په غصه او لوړ ږغ سره يې مخ پرې ور واړاوه او داسې يې ورته وويل همدا ته بايد ګوښه سې ، تا د شراب څښلو او زاړه عمر په وجه خپل حواس له لاسه ور کړي دي. لدى وروسته ناڅاپه ولاړ سو او له کوټې ووت». ۳/ ۲۹۶ ( دا کيسه د تره کي مېرمنې د پلڅرخي په زندان کې انور راجا پاکستاني ژورنالست بندي ته کړې وه.) په همدې ورځ ماښام اسدالله سروري د تره کي استوګنځي ته ورغلى د امين څخه يې سر ټکولى دى او تره کي ور ته ويلي وو : « د پنجشنبې په ورځ ته ، ګلابزوى ، وطنجار او مزدوريار راشئ . زه به امين را وغواړم چې سره کښېنو، چې څه خبره ده بحث به پرې وکړو. » ۱۷۰ / ۶۹

د وږي درويشتمه مخکې له غرمې څلور واړه پوځيان د تره کي دفتر ته ورغلل . جنرال عبدالقادر اکا د ګلابزوى له قوله ليکى:« په دوولسو بجو ترون راغلى دى او تره کي ته يې ويلي دي چې د امين لور ناروغه ده هغه نشي راتلاى. تره کي امين ته ټلفون کړى او ورته ويلي يې دي ته خو رانغلې ستاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منځ کې څه دي چې نه تقسیمېږي . امین په ځواب کې ورته وايي ، زه نه درځم دوی ما وژني . تره کي ورته وویل دا څنګه کېدای شي چې زما په دفتر کې تا و وژني...، د یادو وزیرانو څخه دوه ځي او وطنجار او ګلابزوی د تره کي سره پاتې کېږي ...، د خبرو په ترڅ کې تره کي هغوی ته ویلي : تاسي نظامي مشاوران یاست جنګ مو خوښېږي . جنګ د حل لاره نه ده. تره کي د ګلابزوی د دې خبرې په اړه چې امین تره کی وژني ورته ویلي وو زه به په داسې کار چې زموږ ګوند له د ننه ټوټې ټوټې کړي لاس پورې نکړم . تاسي ته هم سپارښتنه کوم، چې داسې اقدام ونکړئ ، چې وضعیت خراب شي ، زه به د خپل ژوند د ژغورلو په خاطر یو مچ هم و نه وژنم پرېږدئ چې زما سرنوشت ګوند او خلک وټاکي .» ۱۷۰ / ۷۰ شوروي سفارت د دې کتنې په اړه یو رپوټ مسکو ته استولی چې په یوه برخه کې یې راغلي دي :« د سپټامبر په ۱۳ نېټه تره کي ، امین ته بلنه ورکړه چې په مشرتابه کې د رامنځه شوې ستونزې د هوارۍ د راوستلو لپاره دې خبرو اترو ته غاړه کېږدي . کله چې امین ته څرګنده شوه چې ګلابزوی ، وطنجار او مزدوریار هم را بلل شوي امین په پرېکنده ډول بلنه وغندله . تره کي ان د تلفون له لارې له امین سره ژمنه وکړه چې د هغه مخالفین به له واکمنی څخه ګوښه کړي او ( وې ویل ) چې امین به د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د عمومي منشي په توګه و ټاکي خو بیا هم امین و نه منله. له تره کي څخه له دغو خبرو وروسته امین د ملي ګارد مشر جانداد او د وسلوال ځواک ستر درستیز یعقوب ته تلفون وکړ. امین هغوی ته امر وکړ چې د تره کي هېڅ امر دې و نه منی.» ۱۲۴/ ۱۱۷

د ویروس آ په نوم کتاب د شوروي لیکوالانو له مخې په همدې ورځ ماپښین سروري د بوګدانوف کور ته ورځي او په هیجاني حالت کې ورته وايي چې امین د ده او دریو وزیرانو د نیولو امر کړی دی او دوی باید مرسته ور سره وکړي . بګدانوف ورته ویلي تاسو ټول تره کي ته ورشئ ، هغه سفارت ته ځي او په سفارت کې د شوروي مقاماتو د دستور له مخې سفیر پوزانوف ، سترجنرال پاولوفسکی د شوروي اتحاد د ځمکنیو قواوو قوماندان، ګوریلوف لوی پوځي سلاکار ، ایوانوف د کی جی بی استازی او ریوریکوف ژباړن تره کي ته ورځي او امین هم ورغواړي ترڅو دوی ته د شوروي مشرتابه پیغام ورسوي. تره کي د پیغام په اړه ویلي وو:« پیغام سره لدې چې لنډ و خو په ځای،په وخت او د ژورې معنا لرونکی و. موږ د یووالي او یو موټیوالي ملاتړ کوو. کله ناکله شخړې رامنځته کیږي... امین وویل تره کی یو پیژندل شوی مشردی او دی( امین) ویاړلري چې د تره کي یو لارروی دی...او که دی ( امین) له تره کي مخکې مړسي نو مړینه به یې د دې زباد وي چې خپله دنده یې سرته رسولې ده . ان که تره کي د خپل ټاټوبي له چوپړ څخه لاس واخلي، نو دی ( امین ) د تره کي د یوه ربښتوني پلوي او لارروي په توګه به ترخپلې وسې هرهغه څه وکړي چې د خپل استاد کار او هیله سرته ورسوي.» ۱۲۴ /۱۳۲د شوروي پلاوي د منځګړیتوب له امله د تره کي او امین ترمنځ ظاهراً کړکیچ له منځه ولاړ. د مازدیګر په شپږو بجو څلور واړه وزیران بیله مخکنی خبرتیا په یوه موټر کي سفارت ته پناه وړې ده. د سفارت د هځو او د تره کي د تلفون وروسته د شپې په یوولس نیمو بجو وزیران د خپلو کورونو په لور د سفارت څخه ووتل . هېره دې نه وي کله چې وزیران د سفارت مخکې په موټر کې ناست وو عزیز اکبري هم سفارت ته تللی او وزیرانو ته هم ورغلی دی. لدې وروسته ټرون بوګدانوف ته تلفون کړی او د خبرو په ترڅ کې ورته وايي لکه چې په سفارت کې کومه مېلمستیا لرئ. دې خبرې دا معنی لرله ټرون خبر دی چې وزیران سفارت ته تللي دي او فکر کېږي چې دا خبرعزیز اکبري ور رسولی وي او یا دا چې د امین نفرو پوځي وزیران څارل.

د وړي په څلېرویشتمه د جمعي ورځ هغه ورځ چې د استاد او شاګرد د دوستي او ملګرتیا مزي وشکېدل. پدې ورځ وفادار شاګرد د خپل استاد خلاف په څرګند ډول د بغاوت جنډه پورته کړله . دا ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد او شاګرد په سختو تلفوني خبرو پيل شوه او د دې خبرو وروسته امين پوځ ته د تيارسئ قومانده ورکړه. پدې هکله مسکو ته د دفاع وزارت د شوروي پوځي سلاکار په رپوټ کې داسې راغلي دي :« د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند په مشرتابه کې د اختلافونو د را څرګنديدو له امله د امين د دستورله مخې د سپتمبر په څوارلسمه په ۳۰ : ۹ د کابل ګارنيزيون قطعات د تيارسئ حالت ته راوستل شول. د سپتمبر په څوارلسمه ۲۰ : ۱۶ د يعقوب په قومانده د پوځ قطعات ښار ته ننوتل او په ۰۰ : ۱۸ يې مهم ځايونه اشغال کړل » ۱۰۶ / ۲۳۰ په همدې ورځ د سهار د اتو بجو شاوخوا د اګسا مرستيال نواب ، سياسي آمر سلطان احمد بهين او يو بل افسرغوښتل د اګسا د مشر سروري دفتر ته ننوزي. لکه څرنګه چې سروري په دفتر کې نه وو د سروري ياور قاسم دفتر ته د هغوی د ننوتلو مخه نيسي خو هغوی هڅه کوي چې په زوردفتر ته ننوزي او خبره د وسلې کارولو ته رسيږي، ويل کيږي قاسم په نواب ډزې کوي او بهين بيا قاسم وژني. بهين دفتر ته ننوزي خو هلته څوک نه وو. نواب څلورسوه بستريز روغتون ته ليږدول کيږي . روغتون ته د هغه د پوښتنې لپاره انجينرخيرمحمد او ډاکتر سورګل ورځي . د امين پلويان وايي چې د روغتون سرطبيب غني اندړ دوی درې واړه ووژل او بيا يې خپل ژوند ته پخپله د پای ټکی کيښود. دا چې په روغتون کې څه پيښ شول او دا وژنې چا کړې دي کره معلومات نشته. د سروري د دفتر پيښه ښيي چې ښايي د سروري دوو مرستيالانو( نواب او سلطان ) چې د امين پلويان ګڼل کيدل غوښتل سروري ونيسي او يا يې و وژني. د دې پيښې وروسته امين په سفارت کې د کی جی بی له استازي ايوانوف سره د کتنې وړانديزکوي ،ايوانوف او د هغه همکار بګدانوف او ژباړن ريوريکوف د امين سره په يوولسو بجو ګوري. بوګدانوف وايي چې امين ورته ويلي وو چې پرون د تره کي د استوګنځي څخه د شوروي ملګرو د وتلو وروسته د تره کي سره اوږدې خبرې لرلې خو کومې پايلې ته ونه رسيدل . ده د څلورو پوځي وزيرانو ګوښه کول غوښتل خو تره کي يوازې د سروري او ګلابزوی په ګوښه کولو او د سروري په ځای د عزيز اکبري د ټاکنو سره موافقه وکړه خو امين سيد داود تړون د هغه پر ځای مناسب سړی ګڼه . امين پدې کتنه کې وويل: « که شوروي ملګري ټينګار کوي ترڅو دی( امين) استعفی وکړي ، دی چمتو دی دا کار وکړي که څه هم دی پدې باور دی چې د ګوند فوق العاده پلنوم را وبلل شي او په هغه کې ټول اختلافونه حل کيږي.امين اضافه کړل چمتو دی هېواد پريږدي او شوروي اتحاد ته لاړشي او حتی ځان و وژني.» ۱۲۴ / ۱۲۵ عجيبه ده کله چې تره کي له امين څخه وغوښتل سفير شي هغه ته سپکې سپورې وايي خو شورويانو ته د خپلې وفادارۍ د ښودلو په موخه حتی ځان وژني ته هم چمتو دی. په اګسا کې د ډزو وروسته امين عزيزاکبري ته هدايت ورکړ چې د اګسا د ادارې د مشرپه توګه کار وکړي . دې ټاکنې دا معنی لرله چې امين د دولت واګې په لاس کې نيولې دي او غلې کودتا يې بريالۍ شوې ده . « د سر وزير د لارښوونو پر بنسټ عزيزاکبري وروسته د بهرنيو چارو د وزارت د مرستيال اسدالله امين سره وکتل چې له نوموړي څخه اړونده لارښوونې ترلاسه کړي اسدالله امين د حفيظ الله امين وراره او زوم ، له عزيز څخه وغوښتل چې خپله دنده دې پرمخ بيايي او د اګسا له ودانۍ څخه دې له اجازې پرته نه وځي.اکبري ماپښين د تره کي هستوګنځي ته ورځي اوتره کي د خبرو په ترڅ کې ورته ويلي و زه بې وسې يم واک نه لرم او نه شم کولی اړين ګام اوچت کړم ... زه د زړه له کومې ګوند او ولس ته پاليالۀ وم . ګرانه زويه ! که مو بيا ونه ليدل ، نو د خدای په امان. » ۱۲۴ / ۱۲۶ ، ۱۲۹ محمدهاشم نوري چې هغه مهال د اردو د سياسي رييس مرستيال وو وايي چې د جمعې په ورځ د يوولسو بجو شاوخوا د ګلابزوی په کورکې وم چې عزيز اکبري ګلابزوی ته تلفون وکړ او ورته و يې ويل چې د مرکزی قول اردو قوماندان د عسکرو سره ستا د نيولو لپاره درځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



. محمد هاشم نوري ددې خبرې د اورېدو وروسته د تره کي سره د ټلفون له لارې خبرې کوي د نورو خبرو په ترڅ کې دا پوښتنې ترې کوي:

۱ـ آیا نظامي قوت ته اړتیا شته؟

تره کی ورته وایي ، زه نه غواړم چې ګوند په خپل منځ کې وجنګوم.

۲ – آیا د بهر څخه د مرستې انتظار لرې ؟

هغه وویل ، هېڅکله هم نه ، دلته یو آزاد ولس پروت دی.

داسې ښکاري چې د عزیزاکبري د تلفون وروسته د زندان او مرګ له وېرې درې تنه سروري ، ګلابزوی او وطنجار په وطني جامو کې ګډ په یوه موټر کې د سفارت د یوه غړي کور ته چې د سفارت په اوه سوه متری کې دی پناه وروړي او مزدوریار د امین د پلویانو له لوري ترڅارنې لاندې نیول کیږي. دا درې تنه وزیران د سپتمبر په اتلسمه په پټه لومړی شوروي اتحاد او بیا بلغاریا ته لیږدول کیږي. د افغانستان څخه د دغو دریو تنو د اېستلو په اړه د نظر یووالی شتون نلری. د امین پلویان وایي چې درې واړه په تابوتونو کې د کابل هوایي ډګر څخه شوروي اتحاد ته په پټه سفیر واستول . دا ادعا ځکه منطقي نه ښکاري چې هغه مهال شوروي پوځیان چې په جګړو کې ښکیل وي شتون نه درلود چې درې تنه شوروي وګړي په تابوتونو کې د الوتکې په واسطه شوروي اتحاد ته ولیږدول شي. بل دا چې په تابوتونو کې د اکسیجن د نشتون له امله هغوی ژوندي نه پاتې کېدل. ځینې روسي سرچینې وایي چې سروري د لرګیو څخه په جوړشوي صندوق کې چې د آکسیجن دستګاه هم ورسره وه او دوه نور د اړین مکیاژ وروسته چې مکیاژګر شوروي تبعه دی له برلین څخه را غوښتل شوی وو د شوروي په جعلي پاسپورتونو په یوه شوروي ترانسپورتي الوتکه کې وایستل شول او نورې شوروي چینې وایي چې درې واړه د مکیاژ وروسته له افغانستان څخه لومړی شوروي اتحاد او بیا بلغاریا ته ولیږدول شول. په همدې ورځ د مازدیګر د څلورو بجو وروسته د سفارت پرونی پلاوی بیا تره کي ته ورځي چې د تره کي او امین ترمنځ جوړه وکړي. ویل کیږي چې کله شورویان د تره کي استوګنځي ته ورغلي دي تره کي په خپله امین ته ټلفون کړی چې شوروي ملګري راغلي دي ته هم راشه خو د بهرنیو چارو وزیر شاه ولي څو ورځې وروسته د اکتوبر په شپږمه د سوسیالستي هیوادونو سفیرانو ته وایي چې امین ته د سفیر ژباړونکي ټلفون کړی دی چې د تره کي استوګنځي ته ورشي. هېره دې نه وي مخکې لدې چې امین راشي جنرال ایوانوف د کې جي بي مسؤل تره کي ته ویلي ګنګوسې داسې وایي کله چې امین د خلکو د کور پر انګړ پښه کښیږدي ودې وژل شي . تره کي ویلي وو دا امکان نلري او دا درواغ دي. پدې اړه دا پوښتنه را پیدا کیږي ایوانوف څرنګه خبر شوی دی چې امین د تره کي استوګنځي ته په رارسېدو سره وژل کیږي؟ لدې څخه دوې پایلې را وزي چې په امین دزې همدې جنرال ایوانوف تنظیم کړې وې چې د ده باډیګارد تر سره کړي یا دا چې امین دا دزې تنظیم کړې وې او کله یې چې په یوولسو بجو د ک . ګ . ب له جنرال سره لیدلي وو د هغه تر غوږو یې رسولې وي چې تره کی د ده د وژلو پلان لري.

امین د تره کي یا د شوروي ژباړونکي سره د تلفوني خبرو وروسته د څو تنو ساتونکو سره د تره کي استوګنځي ( حرمسرای ) ته ورځي. تره کی په دوهم پوړ کې اوسېده او په زینو کې سیدداود تړون مخکې او د زیرک په نامه د امین ساتونکی ورپسې خیږي چې دزې کیږي . پدې دزو کې تړون وژل کیږي ، زیرک او د تره کي کورنی ډاکترجګتورن عظیم چې شورویانو ته یې چای ور ووړ ټپیان شول. د شوروي لیکوالانو د لیکنو پر بنسټ« د دزو په اورېدو سره ژباړونکي ته هدایت ورکول کیږي چې په احتیاط دهلېز ته ووځي چې څه پېښه ده. هغه وزي او د تره کي د ساتونکو څخه یو ورته وایي پرموږ دزې وشوې او موږ اړشوو متقابله دزې وکړو.» امین د دزو په اورېدو سره تښتي او ځان د دلګشا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانۍ ته رسوي. د دې وروسته سفير تره کي ته وايي چې دوی به امين ته ورشي او هغه هم ورسره همغږي ښيي او شوروي استازي د امين د دفتر پر لور خوځيږي. د امين سره د شوروي استازو د کتنې په اړه د سفير په يادداښتونو کې راغلي دي : « هڅه مې وکړه امين وپوهوم چې سوء تفاهم منځته راغلی او د دواړو خواوو ساتونکي ملامت دي. »۶۳ / ۲۴۲ – ۲۴۳ د سفير په يادداښتونو کې دا هم راغلي دي چې د امين سره لږ تم شوو ځکه چې د خلکو په کور کې د ټانک ډزې وشوې او ضمناً په پرله پسې توګه امين ته ټيليفونونه راتلل او پدې يې ورسره هوکه وکړه چې د ماښام په اوونيمو بجو به سفير د ده ليدو ته راشي. د محمود سوما د ليکنې له مخې سفير د ژمنې سره سم په خپل وخت د دلکشا مانۍ ته راغی او امين ته يې وويل :«په تا باندې د نورمحمدتره کي له خوا د سوء قصد عمل په تيره بيا هلته زما د موجوديت په مهال کې يو ډيرناوړی بد او د غندنې وړعمل و. خو ډيره ښه شوه چې ته ژوندی او روغ رمټ پاتې شوې. ته حق په جانب يې او موږ ستا څخه ملاتړ کوو. نوموړي سفير دا هم امين ته وويل چې که د قدرت څخه د نورمحمدتره کي د لرې کولو علت د ناروغی له امله استعفا وښودل شي ، نود ده دولت به نورمحمد تره کی د ناروغی په نوم شوروي اتحاد ته ورځني بوزي.» ۱۷۱ / ۴۹- ۵۳ عبدالرشيد جليلي ورته څرګندونې لري :« د شپې په اتو بجو پوزانوف امين ته راغی ، د پيښې عاملين يې وغندل او د ترون مرګ يې يو جبران نه منونکي حادثه وبلله او زياته يې کړه چې دا پيښه که داسې اعلان شي چې تره کی د روغتيا له امله استعفا وکړه او د تداوۍ لپاره شوروي ته ځي او پرځای يې حفيظ الله امين د انقلابي شورا له خوا وټاکل شو.» ۱۰ / ۹۷ د سفير په خبرو کې څرګند تناقض لدې معلوميږي چې له دې وروسته د امين سره په لومړۍ کتنه کې ډزې د واړو خواوو د ساتونکو سؤ تفاهم ګڼي خو د امين سره په دوهمه کتنه کې ډزې د تره کي لخوا پر امين سؤ قصد بولي.

اوس به د دې د څرنګوالي په اړوند بحث وکړو. پدې اړه جليلي ليکي: « ويل کيږي چې دا ډزې د تره کي د ياورانو قاسم او ببرک له خوا شوې دي او بيا نور وايي چې د پوزانوف د ساتونکو له خوا چې وسله وال وو شوې دي. » ۱۷۲ په پيښه کې د شوروي اړخ د ښکيلتيا په هکله جليلي ليکي: «البته کله چې پرامين د ننه د تره کي د دفتر د دروازې له خولې نه ډزې وشوې او له هغې نه بچ شو او بيرون د ګلخانې انګړ ته يې ځان ورساوه خو د مانۍ د انګړ له هغه ځای نه چې د شوروي سفير سره راغلي کوماندوګان ناست وو پرې بيا ډزې وشوې خو ژر يې ځان د ديواله بيخ ته پټ کړاو بيا د احتمالي مرګ نه وژغورل شو. » ۱۰ / ۷۸ د دې په هکله اقبال وزيري ليکي : « دا ځل بيا شوروي کوماندوګانو امين ژوندی پريښود او روغ رمټ د دلکشاه مانۍ ته لاړ او تره کی يې د واک څخه ګوښه کړ. په امين باندې چې د بام څخه هم ډزې شوې وې وينې چې روسي کوماندوګان دي خو امين دا موضوع د ګوند څخه پټوي پدې دليل چې که ګوند خبر شي چې پدې موضوع کې د مسکو سيخ لاس دی نو ګونديان به د ده څخه مخ واړوي. امين دا موضوع يوازې په هغه شپه سوما او جليلي ته کوي چې د دلکشاه په مانۍ کې د ده سره شپه وو.» ۶۰ / ۱۲۰ جليلي ددې پيښې وروسته د امين د لومړي ګام په هکله ليکي:« د سنبلې د مياشتې د څلورويشتمې نيټې د پيښې اصلي لوبغاړي په همدغه ماښام د خپلو دندو نه ليرې کړای شول او پر ځای يې نور څلورکسان مقررشول چې د حفيظ الله امين لومړي وزير په پيشنهاد او د افغانستان د خلکو د سترمشر د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند عمومي منشي او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا رئيس نورمحمدتره کي په منظورۍ دغه کسان نوي مقررشوي دي: فقيرمحمدفقير د کورنيوچارو وزير، صاحب جان صحرايي د سرحدونو چارو وزير، انجينر محمدظريف د مخابراتو وزيراو عزيزمحمد اکبري د اګسا رئيس »۱۰ / ۸۱-۸۰ ددې ټاکنو خبر جليلي د پوسته رسوونکي( ډاګي) په څېر راديو ته وړی وو.د امين د نږدې ملګرو سوما، جليلي او وزيري له ليکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څخه بریښي چې پدې پیښه کې شوروي اړخ ښکیل دی. ښېله شکه د تره کي سره د شورویانو او امین کتنه د امین او سفیر نوښت او یا یوه اړخ د پلان له مخې تر سره شوې ده.

تر اوسه مو د ډزو په اړه د شوروي اړخ او د امین د پلویانو یا د لوبې د بریالي اړخ څرګندونو ته ګوته ونیوله . د ډزو د شاهدانو ژوند ته بریالي اړخ دوې ورځې وروسته د پای ټکی کېښود. د څلورو پوځي وزیرانو څخه دریو د لوبې په وروستي پړاو( روند) کې سفارت ته پناه وړې وه او بل یې امین توقیف کړی وو. منطقآ هغوی د ډزو په اړه څه نشي ویلی . د ډزو د یوه شاهد چې د ډزو پر مهال د زینو ترڅنګ په دستشوی کې وو له هغه به واورو. هغه د ن . تره کي ورېره ملالۍ تره کي ده . هغه وايي:« مخکې له ډزو ببرک د تره کي صاحب ساتونکی راغی چې تا ته ټلیفون دی ورغلم او مقابل لوری عزیز اکبري وو. اکبري راته وویل چې زما دفتر ششدرک ته راشه او یولیک درکوم چې هغه تره کي صاحب ته ورکړې. ما ورته وویل ما ستاسې دفتر ندی لیدلی . هغه وویل ډرېورانو لیدلی دی. ملالۍ وايي چې د عزیز اکبري مېرمن زما ملګرې وه . ما ششدرک ته د تلو احضارات نیول چې ببوجانې ( د تره کي صاحب مېرمنې) را ته وویل چې زما زړه بد بد کیږي که څو لیمو په اوبو کې واچوې چې هغه و څښم . ببرک هم وویل چې زما هم زړه بدیږي. ملالۍ وايي چې د دوهم پوړ د دهلیز په یوه برخه کې یو اوږد میز وو او خواړه به له هغه ځای څخه ویشل کېدل هلته به تل یو څوک وو خو نن هېڅوک هم نه وو راغلي. ما دوه ګیلاسونه د لیمو شربت هغوی ته جوړ او ورکړل. زه دستشوی ته لاړم چې خپل لاسونه ومینځم. دا دستشوی د زینو په یوه برخه کې وو او د زینو دا برخه سوروره او هلته یوه کوچنۍ قالینه پرته وه دستشوی ددې برخې په یوه کونج کې جوړ شوی وو . د لاسونو د مینځلو پر مهال ډزې وشوې ډېره ورخطا شوم او زینو ته مې مخ وګرزولو چې ترون په زینه کې زما مخکې ته په قالینه باندې ولوېد او زیرک د امین ساتونکی له زینو څخه په ځغاسته کته کېده. د کاکا (تره کي صاحب) د کوټې د دروازې مخې ته ډاکتر عظیم چې په اوږه لګېدلی وو ولاړ وو. ښېله اجازې د کاکا کوټې ته ورننوتم . هغه را ته وویل ملال زو څه خبره ده . ما ورته وویل ترون یې ویشتلی دی. کاکا او شوروي میلمانه چې کاکا مخکې او دوی ورپسې وو دهلیز ته را ووتل . تره کي صاحب د خپلو ساتونکو څه وپوښتل چې ترون تاسو ویشتلی دی؟ هغوی وویل موږ قطعا ډزې ندي کړي تاسو کولی شئ زموږ د ټوپانچو میلونه بوی کړئ چې ډاډمن شئ موږ ډزې نه دي کړې بلکې ترون دوی په خپله وویشت او ډاکتر صاحب په اوږه لګېدلی دی. د تره کي صاحب خبرې ژباړونکي سفیر ته ژباړلې .دوی بېرته کوټې ته ننوتل او د څو شېبو وروسته را ووتل. شورویانو له تره کي صاحب سره خدای په اماني وکړه او په زینو کې کته شول . دا مهال ما تره کي صاحب ته وویل کاکا جانه ته به هم ورسره تللی وې. هغه په ځیر ځیر را ته وکتل او څه یې ونه ویل. ملالۍ وايي چې کله به کاکا په چا باندې په قهر شو په ځیرځیر به یې ورته کتل . وروسته لدې تره کي صاحب د ګارد قوماندان ته تلفون وکړ چې د ترون جسد یوسي. څو شیبې وروسته ټلفون راغی او څه یې تره کي صاحب ته وویل . تره کي صاحب ورته وویل نه غواړم چې څو ټانکونه زما په ملاتړ او څو ټانکونه د امین په ملاتړ و جنګیږي. لدې وروسته تره کی صاحب دهلیز ته را ووت او د ترون د جسد سره څو شیبې ودرېد او بېرته کوټې ته ولاړ. لدې وروسته د کاکا ټلفون پرې شوی وو. ډېر وخت تېر شو څوک را نغلل چې د ترون جسد یوسي موږ په ګډه په هماغه قالینچه کې لاندې یووړاو په یوه ګوښه کې مو کېښود. د شپې څوک راغلي دي هغه یې وړی وو. ملالۍ وایي ترون په ورمېږ کې د غوږ ترڅنګ لګېدلی وو .» دا بیا ښیي چې په ترون له شا یا کوم اړخ نه ډزې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي ليکوالان په خپلو ليکنو کې د سفير او دريو شوروي جنرالانو او ژباړونکي له قوله ملالۍ د تره کي مېرمن ګڼي چې د ډزو وروسته د تره کي کوټې ته ننوتلي وه . ملالۍ د شوروي ليکوالانو په ليکنو کې دوې خبرې سمې نه ګڼي .يو دا چې د ډزو وروسته ژباړونکی دهلېز ته نه دی راوتلی . بل دا چې په ارګ کې د ټانک ډزې هم ندي شوې. ملالۍ وايي د استوګنځي دروازې او دېوالونه تر دې کچې پلن وو چې تره کي صاحب او شورويانو ډزونه نه وو اورېدلې. ملالۍ وايي کله چې سبا ماښام د ټلويزيون څخه خبر خپور شو چې کاکا د ناروغۍ له امله استعفی کړې ده زما پلار ته يې وويل دا ډېر بد خبر دی وبه مې وژني او اعلان به کړي چې د ناروغۍ له امله مړشو . د ملالۍ تره کي له انده د عزيز اکبري له لوري هغې ته ټلفون چې دده دفتر ته ورشي او ليک ترلاسه کړي هغه خبر وو چې په حرمسرای کې کومه ناوړه پېښه پېښېدونکې ده چې پدې پېښه کې دې ( ملالۍ ) د ده د مېرمنې ملګرې ته کوم زيان ونه رسېږي.

دا چې د حرمسرای د ډزو طراح کوم مرکز وو، ډزونه چا وکړل ، موخه يې څه وه پرې پوهيدل ستونزمن دي ځکه چې پدې اړه څېړنې ونشوې . د دې پېښې په اړه ميثاق د يوه روسي خبريال د پوښتنې د دې ځواب سره همغږې وښودل شي: « پوهيږئ دا موضوع ډېره مبهمه ده . زه نشم کولی ووايم چې دا د امين خلاف د هغه د له منځه وړلو په موخه يو واقعي سوء قصد وو يا د يوې صحنې جوړول وو. حتی د کلونو په تيريدو سره دې پوښتنې ته ځواب نشم ويلی.» ۶۳ / ۲۴۳ دا چې امين د خپلې واکمنۍ پر مهال د حقايقو د موندلو په موخه د څېړنو هڅه ونکړله دا ګومان په واقعيت اړوي چې دا ډزې يا د امين له لوري يوه صحنه جوړونه وه او يا امين پوهېدلو چې دا ډزې سفير او ورسره راغلو جنرالانو تنظيم کړې وې لدې امله يې څېړنې اړينې نه ګڼلې. د امين د پلويانو له ليکنو څخه ښکاري چې هغوی ډزې کوونکي د تره کي ساتونکي ګڼي او شوروي اړخ ته هم د شک په سترګه ګوري . د امين د پلويانو نه رښتينولي لدې څخه ښکاري چې هغوی د تره کي د کورني ډاکتر د ټيپي کېدو په اړه هېڅ هم نه وايي . شوروي اړخ ملامتي د دواړو مشرانو په ساتونکو اچوي . خو په ګوند کې يوشمير کسان په خپله امين ته ګوته نيسي چې يوه ننداره يې جوړه کړه ترڅو د هغې څخه په استفادې سره بشپړ واک ته ورسيږي. داسې ښکاري چې د ډزو طراح لوبيانکه ( د شوروي د کی جی بی مرکز) او پلي کوونکی يې په افغانستان کې د ک. ګ. ب مسؤل جنرال ايوانوف او يا په خپله امين وو. د دې پېښې او د امين د شخصيت او د وړې د ځلېرويشتمې پېښې په اړه د « فيدل کاسترو زما ژوند » نومي په انګرېزي ژباړل شوي کتاب په ۵۹۳- ۵۹۴ مخونو کې راغلي دي :« تاسو پېژنئ هغه مارکسيست مشران ، چې کله په واک کې وو، داسې کړکجانه او جنايت کارانه سلوک يې وکړل . د بېلګې په ډول حفيظ الله امين د افغانستان او لينګ ساری د کمبوديا. يو د دې دوو څخه په کال ۱۹۷۵ ز کال په کمبوديا کې د جېنوسايد مسؤل وو. څه خاطرې تاسو له دوی څخه لرئ ؟ په افغانستان کې په ۱۹۷۹ ز کال ، کله چې امين د هېواد لومړی وزير وو، د يو پټ ګروپ لارښوونه يې وکړه ، چې د ولسمشر ن. تره کي پر ضد توطېه وکړي ، په حقيقت کې کله چې تره کی په هاوانا کې وو او د څو ورځو په د ننه ( خلکو کور ليکوال) کې کودتا وشوه چې د تره کي په مړيني پای ته ورسېدله ، هغه په مرموزه توګه ووژل شو او امين د ولسمشرۍ واکې تر لاسه کړ...، امين داسې سړی وو چې په کړنو کې د پولپوټ سره ډېر زيات ورته وو. موږ په افغانستان کې د انقلاب تر بريا وروسته ، د ۱۹۷۸ په اپرېل کې ددې فرصت پيدا کړچې د امين سره ملاقات وکړو، تاسو تصور نشئ کولای چې يو خوش مشربه، خودمانی شخص! په ټوله معنی لکه لينګ ساری، چې هغه هم په کمبوديا کې د انقلاب وروسته کيوبا ته راغلی وو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امین پلویان وایي د هاوانا څخه کله چې تره کی مسکو ته راغی او د بریژنف سره یې وکتل پدې کتنه کې کارمل هم ګډون کړی وو او پدې سلا شوي وو چې د امین د ګوښه کولو وروسته کارمل په ګوند او حکومت کې دوهم مقام ترلاسه کړي او پرچمیان په واک کې بیا شریک شي. پدې هکله د امین د پلویانو او ځینې لویدیځوالو پرته بله منبع څه نه وایي. خو د شوروي د هغه مهال پالیسي داسې وه چې په ختیځه اروپا کې پټ شوي پرچمي مشران( کارمل ، راتب زاد ، نور، وکیل ، بریالی ، نجیب ) خورا پټ وساتي ترڅو خلقي مشران تحریک نشي. البته ځانګړی پام یې کارمل ته را ګرزولی وو. لدې کبله د تره کي سره د کارمل لیدنه په مسکو کې منطقي نه بریښي. پدې اړه هېڅ کومې شوروي یا روسي چینې ، کارمل او پلویانو یې څه نه دي ویلي.که کارمل د شوروي یرغل وروسته چې دی یې د واک په ګدۍ کینولو د تره کي سره د خپلې کتنې په هکله څه ویلي وای د هغه دریځ په هغو خلقیانو کې چې د امین مخالفان ګڼل کېدل قوي کېدلو خو هغه څه نه دي ویلي که څه هم د مرغومې د شپږمې وروسته د ګوند په لومړي پلنوم کې یې د تره کي او خیبر انځورونه د پلنوم په صالون کې ځړولي وو .
پورتنیو څرګندونو او په تېره د وړ.ي ځلېرویشتمې د ډزو په ورځ د پېښنو بهیر او څرنګوالي ته که وکتل شي لیدل کېږ.ي چې امین سهار په ۳۰ :۹ بوځ ته د تیارسی امر ورکړ ، غوښتل یې د اګسا مشر ونیسي یا ووژني چې هغه په لاس ورنغی ، د کې جی بې له استازو ایوانوف او بګدانوف سره یې په یوولسو بجو ولیدل او لدې کتنې وروسته یې عزیز اکبري د اګسا د مشر په توګه وګومارلو. په همدې ورځ وروسته له غرمې درې تنه برحاله وزیران په وطني جامو کې د امین له ډاره د شوروي د سفارت د کوم کارکوونکي کور ته پناه ور وړ.ي. دا د دې معنی لري چې د امین کودتا بریالی شوې ده او د دوی ژوند ته ګواښ شتون درلود. د تره کی په استوګنځي کې د ډزو په اړه ګلداد د مرکزي کمېټې غړی داسې لیکي: «د همدغې ډول حالت په رڼا کې او د هغو کسانو له خولو څخه چې په همغو وختونو کې یې په ارګ کې د ننه دندې لرلې، د همغې پېښې له پېښېدو څخه لږ.ې مودې وروسته ، د ګوندیانو منځ ته داسې خبرې راووتلې اوغلې غلې زمزمه کېدلې: کله چې د شوروي اتحاد سفیراو ورسره جنرالان ، د تره کي دفتر ته ورننوتل، د هغوی (دغو بهرنیانو) د ساتونکوله ډلې څخه کوم تن له دوی سره د تره کي دفتر تر دروازې پورې ورسره وه. د هغی په خبرو باندې ، کله چې امین له لومړي پوړ څخه دویم پوړ ته ختلو، همغه روسي ساتونکي له کوم کونج څخه پر امین باندې ډزې کوي او د امین پر ځای تږون چې د امین مخې ته روان وه ، وژني. که چېرې دغه خبره سمه وي ، نو په دغې صورت کې بیا دوه احتماله شتون لرلی شي: یو احتمال دا چې همغې روسي ساتونکي تږون نه وه پېژندلی او په هغه باندې یې د امین ګمان کړی وه.بل احتمال دغه کېدلی شي چې د دندې له مخې څخه امین نه وژلو او د خپل آمر په دستور باندې یې یوازې لوبه تر همدغې بریده پورې رسوله.» ۱۰۵ / ۷۶۰ پورتنیو څرګندونو ته په کتو سره د ګلداد دوهم احتمال چې ډزې پدې موخه شوې دي چې امین ولمسوي ترڅو د تره کي خلاف پرېکړونکی ګام اوچت کړي او هغه له ډګره وباسي د منلو وړ دی . د تره کي د ساتونکو له لوری پر امین سؤقصد څکه منطقي نه بریښي چې که ساتونکو غوښتل امین له منځه یوسي د دوو تنو له لوري چې د هریوه د کلشنکوفونو په جاغورونو کې دېرش دېرش مرمیو شتون درلود په زینه کې چې د لسو مترو لږ. واټن دی په یوه ضربه شلو ـ دېرشو تنو ته مرګ او ژوبله ور اړولی شوای . کله چې د تره کي د وژنې وروسته نوبت د امین وژلو ته ورسېد کرملن پریکړه وکړه چې د اکتوبر په وروستیو کې کارمل مسکو ته راولي.« د کارمل سره د کار په موخه په پام کې وه چې کریچکوف چکوسلواکیا ته سفر وکړي. خو په وروستیو شیبو کې د کی جی بی رئیس اندروپوف د هغه سفر لغو کړ. اندروپوف کریچکوف ته ویلي وو ستا د هویت په افشا کیدو سره د زیاتو ګواښونو د را منځته کیدو امکان شته . تر اوسه څرګند نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پیښې څه ډول انکشاف مومي. د یادولو وړ ده چې هغه مهال د کریچکوف څیره خورا محرمه وه . پریکړه وشوه چې د پرچمیانو پخوانی دوست هماغه معلوم الحاله الکسي پیتروف واستول شي. »۶۳ / ۲۷۸ « د اکتوبر په ۲۵ نیټه د کې جي بې د مرکز د اتم ریاست د لوی درستیزوال مرستیال ډګرمن اې، وي ، پیتروف د یوه لوړپوړي چارواکي په توګه پراګ ته ولیږل شو چې له ببرک کارمل سره کار وکړي... د نوامبر په میاشت کې د افغانستان راتلونکي مشران مسکو ته راوستل شول ، دوه تنه له چکوسلواکیا څخه ، درې تنه له بلغاریا څخه او دوه تنه نور چې په یوګوسلاویا کې پټ شوي ول. دوی ټولو د کې جي بې په زړه پورې او زړه راکښونکو لارښونو ته په ښې توسناکې پلټرې ووهلې.» ۱۲۴ / ۱۹۳

د لیکنې لدې برخې څخه دا پایله را وزي چې د شاګرد او استاد په درې ورځنۍ مقابله کې شاګرد خپل استاد ته ماتې ورکړه او د ثور د پرتمین انقلاب قوماندان رسماً سرقوماندان شو. د امین ساتونکی زیرک چې د تره کي په استوګنځي کې ټپي شوی وو په زندان کې خلقي زندانیانو ته ویلي وو:« په ځان پوه نشوم چې څنګه او له کومې خوا ولګېدم.» ښیي چې له یوه کونج او یا شا څخه کوم چا ډزې کړې دي. ښایي چې له کونج څخه د شوروي د ک ګ ب د استازي ساتونکي او له شا د امین کوم نږدې نفر ډزې کړې دي . له همدې امله د شوروي یوه چینه د افغانستان د اشغال پرمهال وایي چې « ترون هم د۱۹۷۹ کال د سپتمبر په څوارلسمه په مبهمو شرایطو کې ووژل شو.»

البته لاندې دوې مسالې د امین له لوري د ننداري جوړولو ګومان پیاوړی کوي :

الف – د تره کي استوګنځي ته د خپلو باډیګاردانو په ځای د خپلو خورا باوري کسانو د دفاع وزارت د سیاسي ریاست د لوړ پوړو حبیب الرحمن حبیبي اومصطفی ورتګ . یو شمېر خلقیان وایي چې دا دوه تنه د ثور پاڅون وروسته د امین د پټو نقشو پلي کوونکي پاتې شوي دي. دا چې سیدداود ترون په ورمېږ کې ویشتل شوی وو هم ددې ښکارندوی دی چې هغه له شا ویشتل شوی دی. بل دا چې زیرک وایي « په ځان پوه نشوم چې څنګه او له کومې خوا ولګیدم» هم ښیي چې هغه د مخې له خوا نه دی ویشتل شوی.

ب – پدې ورځ په حرمسرای کې د خدمتګارانو د نشتون او په دروازه کې د ساتونکو د قوماندان پر ځای د دولت وزیري موظفول ښیي تر څو په حرمسرای کې د پیښې واقعیت پټ پاتې شي . د پیښې دوه شاهدان او یا تورن کسان ( د تره کي ساتونکي) هم بېله محاکمې ووژل شول . دولت وزیري لیکوال ته ویلي دي چې د حرمسرای د دروازې د ساتونکو مسؤل زما د ملګرو څخه وو او زه به کله ناکله هلته ورتلم او بنډار به مو کولو. پدې ورځ هم ورغللم خو سرتېرو وویل چې قوماندان نه دی راغلی . یوه سرتېري ته مې وویل یوه څوکی راوړئ چې پرې کینم او نن زه ستاسي قوماندان یم. دا عجیبه نده چې په خپله خوښه دولت وزیري د حرمسرای د دروازې د ساتونکو دنده ترسره کوي .

## تورپلنوم

د۱۳۵۷ کال د ثورد اوومې نیټې نه د۱۳۵۸ کال د وږي تر پنځه ویشتمې پورې د ثور د انقلاب د قوماندان د ځلېدو پړاو دی چې د تره کي په ګوښه کولو سره د قوماندانۍ څخه رسماً سرقوماندانۍ ته ورسید. پدې لنډه موده کې امین وتوانید بشپړ واک ته د رسیدو په موخه په کلیدي څوکیو ده ته وفادار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان و ګوماري او په پوره آسانی سره تره کی له ډګره وباسي. د تره کي په استوګنځي کي له ډزو وروسته بله ورځ امين د وړي په پنځه ويشتمه د شوروي سفير د مشورې له مخې د ګوند د سياسی دفتر ، مرکزي کميټي او انقلابي شورا غونډې را وبللي چې همدې دريو بنسټونو تره کی له ګونده اخراج ، له ګوندي او دولتي مقامونو څخه ګوښه او امين يې د رايو په اتفاق د ګوند د عمومي منشي او د انقلابي شورا د رئيس په توګه وټاکه او د راډيو ټلويزيون له لارې يې دا د درواغو خبر چې تره کي د ناروغی له امله استعفی کړې ده خپور کړ.

د ګوند د سياسي بيرو د غونډې په هکله دستګيرپنجشيرى ليکي : « د۱۳۵۸ کال د وړي په پنځه ويشتمه د حفيظ الله امين له لوري د سياسي دفتر غونډه د دلکشاه په ماڼۍ کي راوبلل شوه. امين د اوښکو ډکو سترګو سره د غونډې کوټي ته راننووت. د خپلو دوو ياورانو د تړون د مرګ او د زيرک د ټپي کيدو رپوټ يې په يوه هيجاني وضعيت کي وړاندې کړاو نورمحمدتره کی يې د خپل ياور د مرګ اصلي عامل معرفي کړ او وړانديز يې وکړچي تره کی د ټولو ګوندي او دولتی مقامونو څخه ګوښه شي.»۲ / ۱۱۲ پدې مرموزو ډزو کي د تره کي کورنی ډاکټر هم ټپي شوی وو خو امين په خپل رپوټ کي د هغه يادونه ونکړله. دا بيا ښيي چي امين نه غوښتل سياسي بيرو ته دا پوښتنه پيدا شي چي ډاکټر چا وويشت.لدې څخه منطقاً دا پايله راوزي چي يا دواړو ښکېلو اړخونو ډزې کړې دي او يا دا چي کوم چا د ډزو يوه ننداره جوړه کړې وه چي موخه يې د امين وژل نه وو . پنجشيری ليکي چي ده وړانديز وکړ چي تره کی غونډې ته راوبلل شي ترڅو له خپله ځانه دفاع وکړي خو امين وويل چي د تره کي کورنی مسلح ده زه وس نلرم چي هغه راوغواړم که تاسو کولی شئ هغه را وغواړئ خو که په تاسو بريد وشو د هغه مسئوليت نشم اخيستی. پدې اړه زيری ليکي چي پنجشيري وويل:« زه د ګوند د تفتيش او کنټرول مسؤل يم ، نو به ځو ملګري نورمحمدتره کي ته ورشو او د مسالي په اړه به معلومات ځېني وغواړي،خو حفيظ الله امين وويل ډېربنه به شي ،خو د تره کي صاحب محافظينو اخطار ورکړی دی، که څوک تلاش وکړي چي هلته ورشي ډزې به باندې وکړي.» ميثاق هم ليکي چي کله امين سياسي بيرو ته د ډزو رپوټ ورکړ د سترګو يې اوښکې راغللې . د ميثاق او پنجشيري په څرګندونکې يو شی ګډ دي چي امين اوښکي تويې کړې دي دا چي دا اوښکي د خفګان اوښکي وې يا د مکر او فريب هغه به له ميثاق ولولو:« کله چي امين ډاډمن شو چي د سياسی بيرو غړي به په پلنوم کې د سياسي بيرو د غونډې ننګه وکړي مننه يې وکړه او امين په ورين تندي او له خندا ډکه خوله وويل ښه شول چي د سياسي دفتر غړو د رايو په اتفاق وړانديز تاييد کړ.»

د سياسي بيرو له غونډې وروسته د مرکزي کميټي پلنوم را بلل شوی دی. ميثاق ليکي ما په پلنوم کي وويل :« که تره کی صاحب هم پلنوم ته را وبلل شي ښه به وي ترڅو په غونډه کي د پلنوم غړي د هغه خبرې هم واوري . حفيظ الله امين مخکي لدې چي زما خبرې پای ته ورسيږي په بيړه او غوسي سره وويل. تره کی يو ترهګر دی ! ياوران يې د هغه د کوټي شا ته مسلح ولاړ دي او هرڅوک چي ورشي پرې ډزې کوي او په خپله دی هم يوه توپانچه لري ، که ته غواړې چي ووژل شي لاړ شه او تره کي راوله. د امين دا ډول غوسه ناکو خبرو ته په کتو سره ټول غلي شول . » ۷۹ / ۳۸۲ ميثاق اضافه کوي وروسته لدې په پلنوم کي د تره کي خلاف او د امين ستاينې او هغه ته غوره مالی پيل شولې او پلنوم د رايو په اتفاق د سياسی بيرو پريکړه تاييد کړله. ميثاق د پلنوم په اړه په يوه مرکه کي وايي:« ما او د سياسي بيرو بل غړي پنجشيري وړانديز وکړ چي پخپله تره کی غونډې ته را وبلل شي او راشي پدې هکله توضيحات ورکړي، امين په غوسه شو او ويې ويل تره کي نه غواړي د چا سره خبرې وکړي ، ټلفون ته ځواب نه ورکوي او خپلو ساتونکو ته يې امر کړی دی که هرڅوک هڅه وکړي د ده استوګنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نږدې شي باید ډزې پرې وکړي. که ملګرى ميثاق دومره زړور يي بيا تره کي ته ورشئ او هغه دلته راولئ. زه د امين په خبرو پوه شوم که زه ورشم د ده کسان به مې له منځه يوسي او ملامتي به د تره کي په ساتونکو واچوي. » ۶۳ / ۲۵۵

د امين په څرګندونو او د هغه مهال ځمکنيو واقعيتونوکې بربنډ تناقض ليدل کيږي . لومړى دا چې امين دا وس درلود چې د ګوندي او دولتي مشر د برخليک د ټاکلو يعني د ګوند څخه د هغه اېستلو په موخه د ګوند د سياسي بيرو غونډه او د مرکزي کمېټې پلنوم راوبولي، خو غونډې ته د تره کي د راوستلو په کار کې بيوسه دی . دا بيا ښيي چې هغه نه غوښتل چې د ډزو جاج واخلي او موخه يې يوازې د تره کي ملامتول او بشپړواک ته رسېدل وو. دوهم دا چې امين څرنګه ويوهېد چې تره کی د چا سره نه غواړي خبرې وکړي او خپلو ساتونکو ته يې امر کړی چې که څوک د هغه استوګنځي ته نږدې شي پرې ډزې به وکړي. البته د امين دا خبره سمه وه چې تره کي ټلفون ته ځواب نه ويلو ځکه چې د ډزو وروسته د ده په دستور د تره کي د ټلفون مزی پرې کړل شوي وو. د سياسي بيرو د غونډې او د ګوند د مرکزي کمېټې د پلنوم وروسته د انقلابي شورا غونډه وشوه او هلته هم د رايو په اتفاق د پلنوم پرېکړه تاييد شوله او پدې ډول تره کی له ټولو ګوندي او دولتي مقامونو ګوښه او امين د هغه پرځای وټاکل شو. د تره کي د خانه سامان سليم چې د تره کي د وژنې تر ماخوستنه په حرمسرای کې وو وايی : « دوه وارې يې د ټولي قوماندان ته ليک ورکړچې د سياسي بېرو غړو ته يې ور وړي . خو د ټولي قوماندان به پسې ورک شو او احوال به يې نه ښکارېدو. بيا يې د حرمسرای د دروازې قوماندان ته هم يوه پرزه ورکړه چې سياسي بېرو ته يې ورکړي. د حرمسرای د دلګي قوماندان نور بيا دې خواته را چپ نشو...» ۱۷۳ د پلنوم د دايرولو په اړه د دې خبرې يادول اړين ښکاري چې امين په حرمسرای کې د ډزو وروسته هرڅه د شوروي سفير د ارادې له مخې پر مخ وړل او سفير هرڅه له نږدې څارل. هغه مهال د دفاع وزير ، لوی درستيز او سياسي رياست دفترونه د خلکو په کور ( ارګ ) کې وو او د دفاع وزير د شوروي سلاکار دفتر هم په ارګ کې وو.کله چې د پلنوم غونډې دوام درلود د فاع د وزير د سلاکار جنرال ګوريلوف په وينا« سفير د ده په دفترکې ناست وو.» ۶۳ / ۲۵۵ د سفارت څخه مسکو ته په استول شوي تلګرام کې د جنرال ګوريلوف په دفتر کې د جنرال پاولوفسکي د شتون خبره کېږي او په يوه برخه کې يې راغلي دي: « د پلنوم له پای ته رسيدا سره سم شاه ولي د پاولوفسکي او ګوريلوف دفتر ته ورغی اوهغوی ته يې خبر ورکړچې تره کی له خپلو ټولو ګوندي او دولتي څوکيو ليرې کړای شو او د هغه پر ځای امين د ګوند د عمومي منشي په توګه غوره شو...، وروسته امين په خپله پاولوفسکي ته ورغی او هغه ته يې خبر ورکړ چې دی د ګوند د عمومي منشي په توګه و ټاکل شو.» ۱۲۴ / ۱۳۰ عجيبه دا ده ددې پر ځای چې جنرال پاولوفسکي د کې جی بی استازی امين ته د مبارکۍ په خاطر ورشي امين لکه يو ماشوم چې په آزموينه کې بريالی شوی وي خپل پلار يا مور ته د خپلې کاميابۍ زيری ورکوي. د پلنوم په پرېکړه ليک کې راغلي وو:«څرنګه چې ملګري تره کي خپلو ساتونکو ته د ګوند د سياسي بېرو د غړي او د هېواد د لومړي وزيرحفيظ الله امين د وژنې دستور ورکړی وو او د شوروي د سفير په شتون کي د هغوی د ډزو په پايله کې سيدداود تږون ووژل شو او د امين يو ساتونکی ټپي شو يو نه بښونکی جرم يې ترسره کړ. لدې کبله بايد د مرکزي کمېټې د عمومي منشي له مقام څخه ګوښه او د ګوند له غړيتوب څخه و ايستل شي.» ۱۴۳ د اسنادو، شواهدو ، شاهدانو او د څېړنو پرته او يوازې د مدعي د ادعا له مخې يو انسان د قتل په تور محکومول غيرمسؤلانه پرېکړه ده. د جګړې په ډګر کې يوعادي سرتېری ته هم پداسي بيره بېله پوښتنو د مرګ سزا نه ورکول کيږي خو د پلنوم برخه والو د ګوند او دولت مشر ته د هغه په نشتون کې پر امين د سؤقصد حکم صادر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنيو څرګندونو ته په کتو سره ويلی شو چې دا د يوه سياسي ګوند د لوړ ګوندي ارګان (پلنوم) پرېکړه نه بلکې صحرايي محکمه وه او هر څوک به دې پلنوم ته تور پلنوم ووايي ځکه چې :

الف – د ا ، خ ، د ، ګ د اساسنامې له مخې که کوم ګوندي غړی له ګوند څخه اېستل کېږي د هغه په شتون کې په لومړي ګوندي سازمان او بيا هغه ګوندي مقام چې د ګوندي غړي د اېستلو واک لري پرېکړه کېږي. لدې امله د پلنوم برخه والو اساسنامه تر پښو لاندې کړې ده. د اساسنامې دا اصل د ګوند د کوم عادي غړي په اړه نه بلکې د ګوند د بنسټ اېښودونکي او عمومي منشي په اړه تر پښو لاندې شوی چې داسې غيرمسؤلانه چلند په هېڅ منطق او دليل د منلو وړ نه دی .

ب – د دې پلنوم برخه والو په واقعيت کې د پوليسو،څارنوالانو، قاضيانو او شاهدانو په رول کې د يوې جنايي قضيې په اړه د څو دقيقو په ترڅ کې چې يوازې مدعي شتون درلود نه تورن او نه شاهدان پرېکړه کړې ده . دا به د نړۍ په تاريخ کې يوه استثنايي پېښه وي چې د څو دقيقو په ترڅ کې بېله څېړنو دولتي مشر په مدعي( صدراعظم) د سؤ قصد په تور محکوميږي او عجيبه لا دا چې مدعي د تورن ( قاتل ) پرځای د رايو په اتفاق ټاکل کېږي.

ج – دې پلنوم د خلقي ګوند ټوټې کېدو ، د خلقي واکمنۍ نسکورېدو او شوروي اشغال ته لار هواره کړله ځکه چې خلقيان يې په دوو دښمنو ډلو( امينيانو او د هغه په مخالفانو) وويشل. ددې پلنوم وروسته خلقيانوخپل ګډ آدرس له لاسه ورکړ. د پلنوم درې اونۍ وروسته دې دښمنو خلقي ډلو د يو بل خلاف وسلې ته لاس واچاوه او پريوبل يې ګولۍ وويشتلې. دې دا معنی لرله چې خلقي غورځنګ د تاريخ برخه وګرزيد .

حفيظ الله امين د هيواد د مشر په توګه خپله لومړۍ وينا د وړي په شپږويشتمه يعني يوه ورځ وروسته د راډيوټلويزيون له لارې واوروله . البته دا وينا يې د سياسي بيرو د غونډې خلاف د اوښکو نه په ډکوسترګو سره نه بلکې په موسکا او خوښۍ سره ور کړله . په خپله وينا کې يې په هيواد کې د قانونيت، عدالت او مصئونيت په ټينګښت ټينګار وکړ. په ګوند او دولت کې يې د شخصيت پالنې کيش محکوم کړ، د ظالمانو د واک د پای خبره يې وکړه او په يوه برخه کې يې راغلي وو:« چا چې خپل لويوالی د نورو په کوچينوالي کې ليده او خپل عظمت يې د خلکو د ځپلو له لارې تامينولو... د دې ظالمانو او ځانپالو حرص اوهوس پای ته ورسيد» ۱۷۴ چې اشاره ن، تره کي ته وه اوهغه يې د انقلاب د ودې د مخالف عنصر په نامه ياد کړ. عجيبه داده چې مخکې لدې امين تره کی د کارګري انقلاب!؟ لاربنود ګڼلو او نابېره هغه د انقلاب د ودې په مخالف عنصر واوښت . د ثور انقلاب د بري وروسته هغه تبليغات چې د تره کي په اړه کيدل په هغو« ټول پوهيدل چې دا کار د تره کي د شخصيت اوحقيقت د زيانمنولو لپاره وو خو که ژور فکر وشي خبره ډيره ژوره وه . شوروي سلاکارانو او د کې جي بي غړو چې په دولتي دستګاه کې يې اغيزدرلود تره کی او امين يې يو په بل بې باوره کول، وروسته يې د دواړو د له منځه وړلو پلان ترلاس لاندې ونيو د تره کي د پرستيژ ټيټول د همدې توطئې يوه برخه وه. » ۱۷ / ۴۱۲

د تور پلنوم وروسته « د تره کي د کيش پرستۍ د غندلو لپاره د غونډو او ميټنګونو پراخه لړۍ پيل شوه، د حفيظ الله امين پلويانواو په خاصه توګه د اسدالله امين ځواني ډلګکۍ هڅه کوله چې حفيظ الله امين ته د لازياتې وفادارۍ د ثبوت لپاره هغه کسان د نورمحمدتره کي پرضد وينا کولو ته مجبور کړي چې پخوا يې نورمحمدتره کي ته زياته وفاداري ښودله او د اوسنيو پيښو څخه د ملاتړ په هکله يې لا تراوسه څرګند دريز نه درلود...، د وږي مياشتې د ناوړه پيښو څخه وروسته مې هم په عادي توګه خپلې ګوندي دندې سرته رسولې. په ګوندي چارو کې د حفيظ الله امين څخه د سلا اخيستلو لپاره به د صدارت له ګلخانې مانۍ څخه د خلکو کور ته تلم او راتلم. هلته به مې د حفيظ الله امين د خورا نږدې کسانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې څخه د بيخي ورک شوي نورمحمدتره کي د اوسني ژوند په هکله د ټوکو او مسخرو په لړ کې ځينې خبرې اوريدلې. » ۱۲۲ / ۲۰۵- ۲۰۷ د تره کي د غندلو سربيره د کتابتونو څخه د هغه چاپ شوي آثارهم ټول شول.

د خلقي زعامت بدلون د نړيوالو څارګرو شبکو او رسنيو پام ځانله راګرزولی وو . د وړي په وروستۍ اونۍ کې د افغانستان د زعامت د بدليدو د څرنګوالي او د دې هيواد د راتلونکې په اړه راز راز اطلاعات خپريدل. د بيلګې په توګه د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په اوولسمه په کابل کې د امريکې له سفارت څخه واشنګتن ته په ۶۹۳۶ لمبر رپوټ کې راغلي دي:« د ډادمنو اطلاعاتو پربنسټ د امين لور د سپتمبر په شپاړلسمه په خپل ښوونځي کې د تره کي انځورونه څيرې کړل او تره کی يې ناوړه سرې وباله، ډيری ډادمن دي چې تره کی لا ژوندی دی ، خو مړکيږي او بالاخره رژيم د هغه مرګ اعلانوي ، تر اوسه څرګنده نه ده چې آيا شوروي حکومت د امين له لوري د تره کي د خلاف عمل نه د مخه خبر و يا نه، د ډيلوماتانو او افغان مخورو عمومي نظر دا دی چې شوروي انديښمن نه دی خو په اوسني حالت کې بله لار نه لري بيله دې چې د ځانغوښتونکي او ظالم امين ملاتړ وکړي... »۴۹ / ۹۹

امين بشپړواک ته په رسيدوسره هڅې پيل کړې چې د خلقي واکمنۍ تيروتنو ته په کتوسره چې د ده ونډه پکې ټاکونکې وه پړه يې پر تره کي واچوي. د کورنيو چارو په وزارت کې يې د دوولسو زرو تنوشاوخوا يو لست ځوړند کړ چې ګواکې د تره کي په دستور وژل شوي دي. په لست کې داسي« کسان هم وو چې روغ رمټ په خپلو کورونو کې ناست وو» ۱۸ / ۱۳۲ يا په زندان کې شپې او ورځې تيرولې او يا دسپتمبر د څوارلسمي ( د وږي درويشتمي) نيټې د پيښې وروسته بنديان شوي وو. د کورنيوچارو په وزارت کې د ځوړند شوي لست په هکله جنرال عبدالقادر وايي : « ټول د امين په دستور وژل کيدل . له دوولسو زرو څخه چې اعلان شول ښايي يو نفر يې هم د تره کي په دستور نه وي وژل شوی. » ۱۶۸ / ۲۲۹ نه يوازې عبدالقادر د دې وژنو اصلي عامل امين ګڼي بلکې زيات شمير د ګوند خلقي او پرچمی غړي او غيرګونديان هم امين ته ګوته نيسي . د دې غيرګونديانو څخه يو ليکي: « هم په هماغه دوران او هم په وروستيو کلونو کې ګوته د وژنو اصلي مسئول حفيظ الله امين ته نيول کيږي.» ۸۷ / ۱۵۳ زموږ د هيواد د غوڅ اکثريت سياستوالو د ځانګړتياوو څخه يوه دا ده چې د حکومت غړي او حتی د حکومت مشر د واکمنۍ د تيروتنو، انحرافاتو او ناکاميو پړه د دولت په مشراچوي او دوی ځانونه غيرمسئول ګڼي چې امين هم يو له همدې کسانو څخه دی. مخکې يادونه شوې وه چې هغه د ثور انقلاب وروسته بې تاجه ټولواک وو او په سياسي بورو کې د امنيتي ارګانونو د چارو د څارنې او لارښوونې مسئوليت درلود. کله چې يو چارواکی د وسلوالو ځواکونو د لارښوونې اوڅار واک ولري اود دې بنسټونو مشران ده ته د ځواب او رپوټ ورکولو مسئوليت ولري که بيګناه وګړي بنديان کيږي او بيله محاکمې وژل کيږي چې هغه لږ هم نه دي آيا امين هيڅ مسئوليت نلري ؟ آيا صدراعظم د وزيرانو او په هغو کې د امنيتي ارګانونو د لارښوونې مسؤليت نلري يا دا مسؤليت د ولسمشر دی؟ امين د وژل شوو زرګونو کسانو د لست په ځړولو سره په واقعيت کې د خپل ځان د محکوميت سند وړاندې کړی دی. آيا امين ددې زرګونو تنو د وژنو په اړه د کابينې د غړي او د حکومت د مشرپه توګه خبرنه درلود ؟ که بيخبره وو دا نو د نوموړي بې کفايتي ښيي او که ترې خبر وو ولې يې مخه ونه نيوله او د داسي يوه حکومت نه چې زرګونه تنه وطنوال يې وژل کيدل استعفی ونکړه . البته دا د دې معنی نلري چې تره کی د ولسمشر په توګه مسؤل نه دی او د امنيتي او قضايي ارګانونو مشران سپينې کوترې وې.

ددې پلنوم د رابللو په اړه د دستګيرپنجشيري دريځ کوم چې دی په خپله ځان امين ضد معرفي کوي د تعجب وړ دی. پدې اړه شرعي جوزجاني ليکي چې د خلکو په کور( ارګ) کې د ډزو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابنام پنجشېری د ده کور ته ورغلی دی او د تره کي په استوګنځي کې د ډزو په اړه هغه ته معلومات ورکړي او شرعي ته دا هم وايي :« زه راغلی یم ستا سره یوه معامله وکړم. ومې ویل څه ډول معامله ! ځرنګه چې دا برید د شوروي د سفیر په شتون کې د تره کي په دستور شوی دی، سبا ته د دې پېښې د څېړنې لپاره د مرکزي کمېټې او انقلابي شورا غونډه رابلل کېږي. باید تره کی د امین د وژنې د هڅې له امله له ګوند څخه خارج او ملګری امین د هغه پر ځای وټاکل شي. زه راغلی یم ستا څخه وغواړم چې یو ځای د امین په پلوی غږ اوچت کړو او هغه د ګوند او دولت مشرتابه ته وټاکو.» ۱۴۳ داسي ښکاري چې پنجشیری د امین په ِغوښتنه نه بلکې د شوروپانو د دسستور له مخې دا کار کړی دی ځکه چې د پنجشیري په پرتله شرعي امین ته نږدې کس وو او امین به په خپله شرعي ته دا خبره کړې وای او یا به یې د خپل کوم بل نږدې ملګري پواسطه دا پیغام ورسولی وای. دلته دا ګومان قوت اخلي چې په حرمسرای کې په ډزو کې مسکو لاس درلود او دا کار یې د خپلو ساتونکو پر مټ ترسره کړ تر څو امین ولمسوي او تره کی له ډګره وباسي. پدې هکله دا انګېرنه او ارزونه « کا جی بی غوښتل چې د حفیظ الله امین تر وژلو د مخه خپله نورمحمد تره کی دده له خوا ووژل شي .» ۱۲۲ / ۱۹۱ منطقي ښکاري.

## د نورمحمد تره کي وژنه

حفیظ الله امین د سپتمبر په شپاړلسمه د ګارد قوماندان جانداد ته دستور ورکړ چې د تره کي ساتونکي قاسم او ببرک ووژني. پدې اړه ویل کېږي امین جانداد ته ویلي وو هغوی ته یو لیک ولیږي چې له دوی نه تحقیقات کیږي . دا لیک جانداد د ن. تره کي خانه سامان ته ورکړی وو. نور بیا وايي چې د لودسپیکر په واسطه یې د هغوی غوښتي دي چې د ګارد قوماندانی ته ورشي. ساتونکو نه غوښتل قوماندانی ته ورشي ځکه پوهیدل چې د هغوی نه تحقیق نه بلکې وژل کیږي. خو تره کي هغوی اړایستلي چې د ګارد د قوماندان دفتر ته ورشي. د تره کي میرمن د لیک د ترلاسه کولو وروسته د ساتونکو د غبرګون په اړه وايي: « هغوی په پیل کې په قاطعیت سره وویل چې د امین د امرونو نه اطاعت نه کوي . تره کي هغوی قانع کړل. انقلاب یعني نظم ،لدې امله تاسو باید اطاعت وکړئ . ساتونکو اعتراض ډوله تینګارکاوه د امین په خبرو باور مه کوئ هغه لکه ځرنګه چې پرون خپل دوست تړون د ګولیو هدف وګرزاوه تاسې به هم په سړه سینه له منځه یوسي او هغه به تر پایه مخ په وړاندې لاړشي. تره کي په ډیره آرامه لهجه مخالفت کاوه نه ملګرو تاسو حق په جانبه نه یئ دا امکان نلري. موږ پخواني ، ربنتیني او وفادار دوستان یو. ما خپل ټول ژوند د انقلاب لپاره وقف کړی دی او په ژوند کې مې بل هدف نه درلود لدې امله ولې ما له منځه یوسي. ببرک او قاسم د دې لپاره چې ځانونه د امین نفرو ته تسلیم نکړي پریکړه وکړه چې یو بل و وژني. تره کي بیا هم هڅه وکړه هغوی لدې کار څخه ډډه وکړي . دا سم کار نه دی ټول به فکر وکړي چې تاسو توطئه ګر یاست او پدې ډول له مسئولیت څخه ځان ساتئ .ما هم هغوی قانع کړل چې دا کار ونکړي. زه او میره مو پدې باور وو چې ټول شیان به ښه شي. دوی دواړو ځانونه تسلیم کړل او موږ د امین د جلادانو وحشت ولیدلو چې څه ډول هغوی لکه د وزلوبې( بزکشۍ) د وزې په څیر کش کړل او کومې خوا ته یوړل. انسانان یوازې هغه وخت دا ډول کشوي چې اعداموي یې. »۶۳ / ۲۶۷ عبدالودود د ګارد د مخابرې آمر او د ستردرستیز د کام مدیر په خپلو تحقیقاتو کې ورته څرګندونې لري او وايي چې امین د ګارد قوماندان ته هدایت ورکړ: « غوره ده ساتونکو ته په کتبي توګه خبر ورکړل شي ترڅوهغوی په امین باندې د سوء قصد په اړه د تحقیقاتو لپاره قوماندانی ته حاضر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربیره پردې هغوی ته وویل شي چې دا تحقیق یوازې د دوی څخه نه کیږي بلکې د نورو څخه هم کیږي. وروسته له ۳۰ – ۴۰ دقیقو یې خبر ورکړ چې د تره کي ساتونکي چمتو دي قوماندانی ته راشي. د حرمسرای دروازه خلاصه شوله او ساتونکي را ووتل ، که څه هم هغوی بې وسلې وو خو بیا هم څرنګه چې سرتیرو ته هدایت ور کړل شوی وو هغوی په ساتونکو برید وکړاو هغوی یې ونیول...، پدې وخت کې (روزي) په بیره ځان نیول شوو ساتونکو ته ورساوه او د نومړو سرتیرو لاسونه یې په روجایي وتړل...، ما د جانداد څخه د ورځې د نوم د اخیستلو وروسته د تره کي د ساتونکو سره یوځای چې سترګې او لاسونه یې تړلي وو په دوو جیپونو کې د( روزي) سره د څلورمې زرهدارې قواو په لوري حرکت وکړ...، وروسته یې د تره کي د ساتونکو سترګې خلاصې کړې د یوې کندې په لور یې ورته لاربښوونه وکړه ، ساتونکي کندې ته لاړل او هلته کیناستل...، ښایسته خپله توپانچه را وایستله ، روزي هم غوښتل د ساتونکو په وژنه کې برخه واخلي خو ښایسته ورته وویل دا ستاسو دنده نه ده وظیفه موږ ته را کړل شوې ده. »۱۷۵ ښایسته د پلچرخي د زندان قوماندان وو.پدې توګه د امین جلادانو د تره کي ساتونکي ووژل او پدې ډول یې پر هغوی خپل د قانونیت ، عدالت او مصئونیت شعار پلی کړ. ښایي کله چې تره کي د خپلو ساتونکو سره د امین د جلادانو دا ډول چلند لیدلی پوهیدلی به وي چې د ده «پخوانی ، ربښتینی او وفادار دوست» هغه څوک نه دی چې ده فکر کاوه او دی هم د خپلو ساتونکو په شان برخلیک لري ، ګوند او خلک نه بلکې د ده وفاداردوست یې برخلیک ټاکي. تره کی درې ورځې د خپلې کورنی د غړو سره یوځای ساتل کیده له دریو ورځو وروسته یې د کورنۍ نور غړي ترې جلا کړل ، دی او مېرمن یې یو خای پرېښول او په پنځه ورځې وروسته یې د شپې د هغه میرمن د درملنې په نامه ترې جلا کړله او د کورنۍ ۲۷ تنه غړي چې د شپږو ورځو یو ماشوم هم پکې وو بندیان کړل. همدا رنګه یې د تره کي کلیوال ، د سره کلي اوسیدونکي د هلمند ولایت خانشین ولسوالی ته پدې نامه چې هلته ځمکې ورکول کیږي تبعید کړل. هغوی د۱۳۵۹ کال په پسرلي کې چې امین د شورویانو لخوا وژل شوی وو بېرته خپل پلرني کلي ته را ستانه شول . د امین له لوري د تره کي د خپلوانو بندي کولو او تبعیدولو وښودل چې هغه د جلاد محمدهاشم صدراعظم تګلاره پلې کوله .

په کابل کې د کی جی بی د مرستیال له قوله امین یوه ورځ سفیر ته وویل: « که غواړئ له تره کي سره وګورئ هره شیبه کولی شئ خو سفیرله دغه شان ملاقات څخه ډډه وکړه . که چیرې د شوروي اتحاد سفیر د تره کي لیدنې ته ورغلی وای امکان یې وو چې تره کی ژوندی پاتې شوی وای.» ۱۷۶ لکه څرنګه چې په حرمسرای کې له ډزو وروسته ماښام شوروي سفیر امین ته ویلي وو چې تره کی به شوروي اتحاد ته بوزي خو « د امین د وراره له قوله امین بریژنیف ته یو پیغام ولیږی ، چې پکښې ویل شوي ول : تره کی لا تراوسه همدلته دی . څه باید ورسره وکړم؟ که تاسې وغواړئ نو مسکو ته یې درلیږلی سم . د۱۹۷۹ کال د اکتوبر پرشپږمه د بریژنف دغه ځواب راورسید: مسکو ته د تره کي د رالیږلو ضرورت نسته . دا ستاسو مشکل دی . څنګه چې درته بهتره وي هغسې یې حل کړئ .» ۱۶۷ / ۱۸۰ ښایي د کرملن د چارواکو دا ډول منافقت چې ورته ویلي یې وو تره کی به مسکو ته بوزي امین د بهرنیو چارو وزیر شاه ولي ته دستور ورکوي چې د سوسیالستي هیوادونو سفیرانو ته د سپتمبر د څوارلسمې نیټې د پیښې په هکله معلومات ور کړي او دا هم ووایي چې په هماغه ورځ د سفیر د ژباړونکي لخوا د ټیلیفون په کرښه امین ته د ده د خوندي توب ډاډ ورکړ چې د تره کي استوګنځي ته راشي. د دا ډول خبرې یادول ښیي چې ګواکې د امین خلاف سوء قصد کې سفیر ښکیل وو. دې څرګندونو د مسکو غوسه راوپاروله خو ترهغه پورې یې غبرګون ونه ښود او له امین سره یې د پخوا په څېر دوستانه اړیکې وساتلې ترڅو تره کی پرې ووژني. د تره کي د وژنې وروسته سفیر دا موضوع د امین سره طرحه کړه او پرهغې یې بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ خو سفیر د ده د ژباړونکي له لوري د ټیلیفون څخه انکار وکړ.امین د شوروي دولت څخه وغوښتل چي خپل سفیر وروغواړي. پدې اړه امین فکر کاوه چې سفیر د شوروي دولت د پالیسیو خلاف ګامونه اوچتوي دا ځکه چي ګڼ شمیر شوروي سلاکارانو ظاهراً د امین ملاتړ کاوه. خو د امین پدې سر نه خلاصېده چي د شوروي سفیر د خپل دولت د پالیسیو پلي کوونکی دی او د شوروي په توتالیتارسیستم کي د دولت له پالیسیو سرغړونه د مرګ معنی لري. پر بله خوا امین دومره شورویانو ته وفادار وو چي د شوروي سفیر په دستور یې تره کی وواژه. د میثاق په وینا کله چي امین و پوهیدلو چي شوروي سفیر د ده سره خاینانه لوبه پر مخ وړي برژنف ته لیک استوي چي هغه تبدیل کړي او پدې اړه امین میثاق ته ویلي وو:« همدې چټل پوزانوف زما لاسونه د تره کي په وینو ککړ کړل. هغه زه اړ ایستم تره کی و وژنم.» ۷۹/ ۴۰۷ یوه ورځ مخکي لدې چي د تره کي مرګ رسنیز شي امین د سیاسي دفترغړي زیری او شاه ولي ورغواړي او ورته وایي :« له بده مرغه تره کي صاحب مړشوی دی . زیری پوښتنه تړې کوي څنګه؟ ده وویل خودخوا سړی وو د دغي ناکامیو تاب یې رانه ووړ پرون د شپي مړشو. شاه ولي پوښتنه ځني وکړه چي څه ناروغي ور پیښه شوه. امین ځواب ورکړ ویې ویل خودخواهي پخپله د ټولو مرضونو مور ده.»۴۰ / ۴۲۱همدا رنګه د سیاسي بېرو غړی میثاق د خپل کتاب په ۳۹۸ – ۳۹۹ کتاب کي راوړي چي هغه امین ور غوښتی وو ترڅو د تره کي د مړیني په اړه یې خبر کړي . د نوموړي د څرګندونو لنډیز دلته راوړل کېږي:« امین غمګین وو .هغه ځمکي ته کتل او د خجالت احساس یې کاوه، وروسته یې سر را پورته کړ او ماته یې وویل نن شپه د ډله بیزو رسنیو له لارې اعلانېږي چي نورمحمد تره کی د ناروغی له امله مړ شوی دی.کله یې چي دا موضوع را ته وویله ، غږ یې ټیټ وو...، د اوښکو داني یې په سترګو کي راغلي چي د لاسونو په ورغویو یې پاکي کړلي ...، څو شیبي دواړه غلي وو ته به وایې له یو بل څخه شرمېدلو او نه مو شوای کولای یو بل ته وګورو. وروسته مي سر پورته کړ او ورو مي ورته وویل آخر دې وواژه. هغه هم ورو ځواب راکړ هو چاره نه وه...، زما لپاره یې بله لاره پرې نښودله بېله دې چي دا پیښه وشي یعني چي ووژل شي...، ما ډېر د تره کي د راتلونکي په اړه فکر وکړ او ډېرې مشورې مي تر لاسه کړلي . په رښتیا چي ما نه غوښتل هغه له منځه لاړشي، ما غوښتل چي تر آخره پورې یې په ارګ کي وساتم ، خو شوروي ملګرو ته د ژوندي پاتي کېدو کلمه ښه نه برېښېدله او د هغه ژوندي پاتي کېدل یې زما په زیان ګڼل او ... دا یې وویل او نور یې نه غوښتل د پیښي جزییاتو ته لاړشي او خپله جمله بشپړه کړي، خپل لاس یې د خدای په امانۍ په موخه را کړاو پدې وخت کي یې په لړ لوړ غږ له خولي ووتل : لعنت په سیاست ...،کله چي د امین له دفتر څخه راووتلم له یوه نه شرح کوونکي حالت سره مخ شوم. ټول وجود مي له کرکي ډک شوی وو ، له خپله ځانه کرکه ، له حفیظ الله امین او له نورو کرکه . باور مي نه کاوه چي تره کی زموږ په منځ کي نشته ...». ښایي میثاق لدې کبله له خپل ځان، له امین او نورو یعني د ګوند له مشرانو د کرکي خبره کړې وي چي په تور پلنوم کي یې د امین په ادعا پر ده د سؤقصد په تور له ګوندي او دولتي مقامونو څخه ګوښه کولو خو په واقعیت کي د هغه وژني ته رایې ورکړې دي . په رښتیا هم چي د خلقیانو د سیاسی بېرو غړي د نفرت او کرکي وړ وګړي وو خو امین د بې کچي نفرت وړ ځکه دی چي واک ته د رسېدو او په واک کي د پاتي کېدو په موخه په هر خیانت او جنایت لاس پورې کاوه چي د تره کي او د هغه د یاورانو وژنه یې د جنایت څرګنده بېلګه ده. خو ددې سره سره د هغه پلویان دا جلاد اتل ګڼي . رښیا هم امین اتل وو د وژلو اتل ، د غوړه مالۍ او منافقت اتل .

د اکتوبر په نهمه د ماښام په خبري سرویس کي وویل شول چي تره کي د ورپېښي ناروغۍ له امله مړشو او پخپله پلرنۍ هدیره کي خاورو ته وسپارل شو. امین د هغه د جنازې او فاتحي اخیستلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې کبله اجازه ورنکړله چې « له دغه کار څخه به دښمن ډېره استفاده وکړي او انقلاب به له ستونزو سره مخامخ کړي. »۴۰ / ۴۲۱ – ۴۲۲ د امین او د هغه د پلویانو له نظره د تره کي د جنازې او فاتحې مراسمو ترسره کیدل انقلاب ته ګواښ وو. واقعیت دا وو چې د هغه ژوندی پاتې کیدل او د جنازې او فاتحې د مراسمو تر سره کول د امین اقتدار ته ګواښ وو لکه څرنګه چې امین ته وفاداریوه لوړپوړی ویلي وو: « هغه باید مړشوی وای، که نه نو د نوموړي په شاوخوا دده د پلویانو راټولیدنه به د حفیظ الله امین رژیم د خطرسره مخامخ کړی وای.» ۱۲۲/ ۲۰۷ دا زموږ سیاستوال دي چې پدې وروستی نیمه پیړۍ کې خپل مخالفان ، سیالان او عادي افغانان د قربانۍ د پسونو په څېر د جهاد، انقلاب ، اسلام، شریعت ،وطن ، دموکراسۍ او ملي ګټو په نامه وژلي دي.

اوس به وګورو چې تره کی څه ډول ووژل شو. تره کی دریو تنو( تورن محمداقبال د ګارد د کام آمر ، لومړي بریدمن روزي د ګارد د قوماندان سیاسي مرستیال او لومړي بریدمن عبدالودود د ګارد د مخابرې آمر) د لوی درستیز یعقوب په امر وواژه. عبدالودود د اقبال په شتون کې د پلځرخي په زندان کې بل خلقي زنداني( محمد علي هوما) ته چې په یوه کوټه کې بندیان وو ویلي دي: « نورمحمدتره کی د خلکو کور د جمعي شپې په کوټۍ کې بندي وو. د ننوتو د دروازې په خوله کې به همیشه پیره دار ولاړ وو. لوی درستیز یعقوب مونږ ته وویل چې د نورمحمدتره کي د وژلو پریکړه شوې ده. ددې کار لپاره تاسو دوه کسه او روزي مؤظف شوي یاست. مونږ دری واړه په یاده شوې کوټۍ کې تره کي ته ورغلو. تره کی زمونږ په ورتګ سره پوه شو چې د څه لپاره ورغلي یو. له خپل لاس څخه یې لاسي ګړۍ ( ساعت) خلاصه کړه او د ګوند د غړیتوب کارت یې له جیب څخه را ویوست او مونږ ته یې راکولو سره یې وویل چې دغه امین ته ورکړئ . بیا یې لاسي بکس را واخیست او راته ویې ویل چې پدې بکس کې پنځه ځلویښت زره افغانۍ زما میرمنې ته ورکړئ. کله چې دا ټول شیان مو له ن.تره کي څخه تسلیم کړل ، روزي خان ورته وویل چې په کټ کې پرمخ څملهٔ! ن. تره کی په کټ کې پرمخ څملاست او روزی خان د ده لاسونه ټینګ ور وتړل، بیایې هغه پر ملا څملاوه . اقبال د ن. تره کي پرګیډه او زه ( ودود) د نوموړي پر پښو کیناستم. ددې سره سم روزي خان بالښت را واخیست او ترهغه وخت پورې یې د ن. تره کي پرخوله ټینګ ونیو ترڅو یې ساه ورکړه. »۱۲۲/ ۲۵۹ – ۲۶۰ پدې ظالمانه ډول امین تره کی چې د هغه رابطه یې له ګوند سره د روح او جسم رابطه ګڼله وواژه. ویل کیږي چې د ن. تره کي د دا ډول وژنې وړاندیز لوی درستیز محمد یعقوب کړی وو او دا یې هم ویلي وو چې دا ډول وژنه یې په کوم کتاب کې لوستې وه. د امین پلویان د امین له خوا د تره کي دا ډول وحشیانه خو له شرمه ډکه وژنه د پرچمیانو تبلیغات ګڼي خو کله چې ترې وپوښتل شي چې تره کی څه ډول ووژل شو څه نه وایي او دا بیا ښیي چې د هغه وژنه د بالښت په واسطه سمه ده .

د عدلیې وزیر او لوی څارنوال شرعي جوزجاني لیکي چې د راډیو څخه د تره کي د مرګ د اورېدو « سبا ته چې د کار دوسیې مې امین ته ور وړې وې ، د هغه څخه مې د تره کي د مړینې پوښتنه وکړه، خو هغه بېله دې چې ځواب راکړي ، کښته یې کتل او زما څخه یې وپوښتل څه وایې؟ ومې ویل وایي چې په خپله یې وژلی دی، د عایشې دراني د لېسې په یوه دېوال یې لیکلي دي :

سعدیا شیرازیا ،پندې مده کمزاد را کمزاد اګر حاکم شود ګردن زند استاد را

ژباړه :( اې د شیرازسعدي ، کم اصل ته لار مه ور ښیه ، د کم اصل چې لاس بر شو ان د خپل استاد سرهم غوڅوي. ) د واک څخه د تره کي د ګوښه کولو وروسته ځینې خلقي کدرونه د امین د نسکورولو په سوچ کې شول او د امین په وړاندې د پوځي عمل نیته د تلي ( میزان) دوه ویشتمه چې د زرنګار په پارک کې د امین په ملاتړمظاهرې ته سازمان ورکړل شوی وو په پام کې وو. خو د امین څارګرو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت په اړه خبر ترلاسه کړی وو او د دې خوځښت ځیني فعالین یې ونیول. د پوځیانو ارتباطي غړی نیک محمد وردګ چې هغه مهال د سوداګرۍ د وزارت د مخصوص قلم مدیر وو د حرکت د افشا کیدو نه په خبریدو سره په خپل دفتر کې د مکاروف توپانچې پواسطه خپل ژوند ته د پای ټکی کیښود او د میز پر سر یې یوه جمله « د اردو د بې شمیره ملګرو د ژوندي پاتې کیدو په خاطر»۱۸/ ۲۶ لیکلي وه. د ریشخورو اوومې فرقې خلقیانو په ټاکل شوې ورځ د خپل سوق الجیش څخه حرکت وکړ او د امین د پلویانو په لومه کې ولوېدل. د دې فرقې د امین ضد خلقیانو او دولتي ځواکونو تر منځ ۲۴ ساعته نښتو دوام وکړ، په پایله کې پاځون وځپل شو. د دې پاځون په ځپلو کې شوروي سلاکارانو د امین ملا ور وتړله او لوی پوځي سلاکار ګوریلوف ویلي وو: « ما هدایت ورکړی دی چې د کوماندو لوا جګه شي او همدارنګه د هوا څخه په یاغیانو برید وشي ... هغه او نورو پوځي سلاکارانو اړین اوامر ورکړي وو او ځینو یې حتی نیغ په نیغه په جګړه کې د پاځون کوونکو په ځپلو کې برخه اخیستې وه.» ۶۳ / ۲۷۰ د ریشخورو د فرقې د پېښې په اړه کابیني ته امین ویلي وو:« دا کودتا د کارمل د پلویانو او د کریم زرغون د ګوندي ضد کوچنۍ ډلې پوځیانو لخوا ترسره شوله چې د شوروي سلاکارانو په مرسته د څو ساعتونو په ترڅ کې وټکول شوه.» ۷۹/ ۴۰۲ د دې پیښې وروسته څه د پاسه درې سوه تنه ملکي او پوځي خلقي کدرونه بندیان شول. دولت دا پیښه د افغان ملت د ډلې له خوا د یوې ناکامې توطئې چې مشري یې غلام محمدفرهاد لرله اعلان کړه پداسې حال کې چې فرهاد د دې پیښې څو میاشتې وړاندې بندي شوی وو. همدا رنګه عبدالکریم زرغون د۱۳۵۸ کال د چنګاښ په میاشت کې زنداني شوی وو. حکومت خلقي کدرونه لعل پادشاه عالمی، آقا ګل بائیس، پوهنیارعبدالسلام، پوهنیار عبدالعزیز بسام، پوهنیار زکریا،غلام رسول کهسان ، پوهیالی حبیب الله وطندوست ، محمدحنیف یرغل، حبیب الرحمن ، ډاکټرصدري، ډاکټرعوض شینډنډي او ډګرمن نیک محمد د بغاوت د اصلي عاملانو په توګه بیله محاکمې چانواري کړل. په چانواري شوو کسانو کې یوازې دوه وروستي پوځیان وو. د اوومې فرقې د پاځونوالو د وژلو په اړه د شوروي اړخ لیوالتیا د هغه مهال د غزني د څوارلسمې فرقې د قوماندان جعفر سرتېر له څرګندونو څخه معلومیږي:« زه د اسد امین دفتر ته ورغلم . هغه له سترې مشي او زما د شخصي ژوندانه پوښتنو کولو څخه وروسته ، له ما څخه د غزني ولایت ځینو اړوندو چارو په باب پوښتنې کولې ...، زموږ د دغو خبرو منځ کې ، د ده د دفتر رییس راننوت او امین ته یې وویل چې شوروي سرمشاور ( د کام ریاست د ک .ج . ب سرسلاکار) له ژباړن سره راغلی دی او وایي چې ستا سره ګوري او اړینه خبره درسره لري. سرتېر ویل چې د اسد امین دفتر ډېر لوی وه.هغه ما ته وویل چې ته چوکۍ درسره واخله او په هغې کونج کې کښېنه! اسدالله دوی راوغوښتل او ما چوکۍ واخېستله په کونج کې لېرې کښېناستلم.کله چې سرسلاکار او ژباړونکی یې د امین له مېز سره نږدې کېناستل ، نو سرسلاکار په نورمال ډول اواز سره ، جګې خبرې پیل کړل. خو د هغه ژباړونکي په ټیټ اواز سره چې ما نشولي اوریدلی، د هغه د خبرو ژباړه کوله. دوی داسې فکر کولو چې ګنې زه په روسي ژبه باندې نه پوهیږم...، هغه اسدالله ته وویل چې دغه څوک چې د مشر امین صاحب د رژیم پرضد باندې یې کودتا ( د ریشخور خوځښت) کوله، دوی باید ووژل شي، ترڅو د نورو کسانو لپاره پند او عبرت شي او که داسې ونکړئ، هره اونۍ به دغه لوبې ګورئ.ځکه تره کی د ګوند جوړېدلو له وخت څخه د دې ګوند مشر وه او هغه په دغې ګوند کې ډېر ملاتړي او خواخوږي لرل او هغه نور به هم په آسانۍ باندې ،په قرار نه کښېني.» ۱۰۵ /۷۶۳ – ۷۶۴ امین هم د خپلو شوروي ملګرو سلا ومنله دا کودتاچیان یې د تره کي په څېر بیله محاکمې ووژل. د پرچمي کودتاچیانو د ژوندي پاتې کېدو او د خلقیانو د وژنې په اړه لیکوال د محمودسوما څخه پوښتنه وکړه چې د پرچمي کودتا چیانو اعترافونه په رسنیو کې خپاره شول هغوی ونه وژل شول خو د یشخورو د فرقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېښې د تورنو کسانو اعترافونه څپاره نشول او هغوی ووژل شول لامل یې څه وو؟ هغه ځواب راکړ شورویانو نه غوښتل پرچمیان ووژل شی. لیکوال ورته وویل لدې څخه معلومېږي چې د امین او کارمل تر منځ هېڅ توپیر نه وو دواړو د شورویانو د امر او نهی له مخې کامونه اوچتول . هغه غلی شو او څه یې ونه ویل.

## د حفیظ الله امین لنډه واکمني

حفیظ الله امین د خلقي نظام کمزورو اړخونو او تیروتنو ته په کتو سره هڅې پیل کړې ترڅوهغه اصلاح او په یولړ سمونونو یې لاس پورې کړ چې په هغو کې لاندې اقدامات یې د یام وړ دي :

- د اساسي قانون د مسودې د جوړولو د کمیسیون توظیفول چې غړي یې اکثرآ غیرګوندیان او استادان وو.
- د انقلاب د ملي دفاع سازمان جوړول ، ترڅو پدې خورا مهمه مسئله دپله ئیزغور اوعمل وشي او د چارواکو د یکه تازی او پخپل سر پریکړو مخنیوی وشي .

د بند څخه د زیات شمیربندیانوخلاصون او د زندانیانو د دوسیو بیا کتنه. ( د بندیانو د خلاصون په اړه به وویل شي د لیکوال یو ملګری چې د امین د واکمنېدو پنځه میاشتې وړاندې د کندهار زندان ته اچول شوی وو د امین په واکمنېدو سره خلاص شو خو یوه میاشت وروسته بیا زنداني شو او دا ځل یې د څرخي پله زندان ته واستولو.)

د کابل ښارملاامامانو ته د مالي او پولي مرستو پیل اود جوماتونو رغول.

- د امریکې او پاکستان سره د دوستانه اړیکو د ټینګښت هڅې.

امین په ګوند کې د خپل دریځ د لاپیاوړتیا لپاره د تلې په دیرشمه د ګوند د مرکزي کمیټې تشکیلاتي پلنوم جوړکړ او ځوان کدرونه یې د ګوند مرکزي کمیټې ته راپورته کړل چې د ګلداد پرته نور ټول د امین پلویان ګڼل کیدل. امین د عزیز اکبري پرځای خپل وراره او زوم اسدالله امین د کارګري اداری ، کارګري استخباراتي مؤسسه( کام) د مشر په توګه چې هممهاله یې څو نور مسؤلیتونه هم درلودل موظف کړ. ځوان زوی عبدالرحمن یې د ځوانانود خلقي سازمان مرستیال وټاکه. د امین د کورنی د غړو د کړو وړو او د هغو په وړاندې د خلکو د غبرګون په اړه اقبال وزیري لیکي: « د امین وراره اسدالله امین ، د هغه ورور عبدالله امین او د هغه نورو خپلوانو د امین د موقف څخه ناوړه ګټه اخیستنه او د شوروي سفارت او د کی جی بی اجنټانو د تره کي او امین ترمنځ په نفاق اچونه کې د هغوی د ناوړه اعمالو څخه زښته زیاته ګټه هم پورته کوله. زمونږ د یوه مشر ملګري دا خبره په بشپړه توګه سمه ده چې ویل یې اسدالله امین او عبدالله امین به چې د هرې کوڅې نه تیریدل حفیظ الله امین ته یې دښمنان کول.» ۶۰ / ۱۰۸
دې مشربايد ويلي وای چې د دې کورنۍ د غړو سلوک خلک خلقيانو او خلقي واکمنۍ ته دښمنان کول.
د ګوند لاربښوونکي ارګان ( مرکزي کمیټې ) ته یوازې امین ته د وفادارو ګوندیانواو د ځوانانو راپورته کول، د امین د کورنۍ د غړو بیساره واکونه او د تره کي او زرغون د پلویانو په نامه د سلګونو ګوندیانو بندي کول او وژل په ګوندي لیکو کې زیاته نارضایتي منځته راوړه او د هغې سربیره مسکو چې د خلقي غورځنګ ورکه غوښتله دا ناراضه خلقي پېژندل شوي کدرونه او د امین پخواني خلقي مخالفان هڅول چې په دولت کې له کار کولوڅخه ډډه وکړي او شوروي اتحاد ته ولاړ شي. شوروي سلاکارانو او د سفارت کارکوونکو د مالیې وزیر میثاق، د اردو د سیاسي چارو رئیس محمد اقبال وزیري ، علی محمدهوما د ګوند د دارالنشآ مشراو داود پنجشیري ته وړاندیز کړی وو چې شوروي ته سیاسي پناه یوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا استراحت ته لاړشي . « حتی داود پنچشیري( د دستګیر پنجشیري ورور) ته یې پاسپورت او ویزه هم جوړکړي وو او هغه له ډاره څخه دا ویزه امین ته وروړې وه.» ۶۰ / ۱۲۷ دا چې نوموړي له ویرې دا کار کړی یا یې کومه لوبه پر مخ وړله د مسلې یو اړخ دی خو دا ښیي چې شوروي سفارت داسې هلې ځلې کولې چې امین اندیښمن کړي تر څو په شورویانولا زیاته ډډه ولګوي او په وروستي ګام کې د هغوی په ځواکمنو منګولو کې ولوېږي . ښايي شوروي اړخ نور خلقي کدرونه هم هڅولي وي چې شوروي اتحاد ته پناه یوسي. میثاق پدې هکله د خپل کتاب په ۴۰۴ – ۴۰۵ مخونو کې په تفصیل سره غږېدلی دی چې لنډیز یې دلته راوړل کیږي. میرګن د سفارت کارکوونکي یوه ورقه را کړه چې ویې لولم په هغې کې لیکل شوي وو چې په ارګ کې تا ته دسیسه جوړه شوې ده او تا له منځه وړي او شورویان غواړي تا وژغوري چې شوروي اتحاد ته لاړشې. میرګن په اشاره وپوهولم چې خپل نظر ولیکم ځکه که خبرې وشي ښايي خبرې مو ثبت شي. میثاق په ورقه کې ور ته لیکي:« فعلا د ویلو څه نلرم. لاړشئ دا موضوع له امین صاحب سره شریکه کړئ.» د میثاق ځواب د یوه طالب مشر ځواب ته ورته دی چې کوم امریکایي ورته ویلي وو چې د ملامحمدعمر خلاف کودتا وکړئ موږ درسره مرسته کوو. طالب ورته ویلي وو چې دا خبره به له خپل امیر سره شریکه کړم. امین د شوروي سفارت د کارکوونکو دې ډول کړنو ته په کتنې سره له مسکو څخه غواړي چې سفیر او میرګن اوف تبدیل کړي او مسکو د هغه غوښتنې ته سملاسي مثبت ځواب وايي .

امین د دې دواړو د تبدیلولو مساله ددې پر ځای چې د بهرنیو چارو د وزارت له لارې په رسمي بڼه مسکو ته واستوي د دفاع وزارت پوځي او سیاسي سلاکارانو ته چې مسکو ته تلل او امین ته د خدای په امانی لپاره ورغلي دي ویلي وو چې د ده یو لیک به شوروي مشرتابه ته ورسوي چې اقبال وزیري به هغه ورکړي. سلاکارانو دا خبره د سفیر ترغوږ‌و رسولې وه او سفیر هوايي ډګر ته د نوموړو څخه د تلو مخکې د لیک د ترلاسه کولو پوښتنه کړې چې ځواب یې منفي وو.اقبال وزیري لیک هغه مهال سلاکار ته ورکړ چې هغه الوتکې ته ننوزي. جنرال ګوریلوف څه د پاسه دوې لسیزې وروسته د دې لیک په اړه وايي :« زه مسکو ته ورسیدم او لیک مې لوی درستیز ته ور کړ. نیکولای واسیلویچ راته وویل : لیک ولولم که څنګه ؟ ومې ویل : ملګری مارشال ! پریکړه ستا سره ده . ښه به دا وي چې لیک کی جی بی ته ورکړو... دا چې په پاکټ کې څه وو خبر نلرم.خو لیک مې تسلیم کړ، دا چې امین د بریژنف نه څه غوښتي وو، زه وروسته خبرشوم . هغه په شوروي اتحاد یا د افغانستان په هره برخه کې چې بریژنف وټاکي د لیدو هیله کړې وه .خو امین هیڅکله د خپل لیک ځواب ترلاسه نکړ. » ۱۷۷ میثاق لیکي چې په لیک کې د سفیر او تاجک توکمه میرګن اوف د تبدیلی غوښتنه شوې وه او دا هم شوني ده چې د بریژنف سره د ملاقات غوښتنه هم شوې وي. د کې جی بې په سندونو کې راغلي دي : « امین څوځو ځله شوروي سفیر ته ویلي ول چې دی غواړي د ا،خ،د، ګ د مرکزي کمیټې د عمومي منشي په توګه په هر وخت کې چې د مسکو لپاره مناسب وي شوروي اتحاد ته ولاړشي او له بریژنف سره وګوري . امین خپله وروستی غوښتنه د دسامبر په ۶ نیټه سفیر تابییف ته کړې وه . د امین له دغو په ټینګار غوښتنو څخه په مؤدبانه ډول سترګې پټې شولې.» ۱۲۴/ ۲۱۴ لیدل کیږي چې امین بریالی نشو له بریژنف سره وګوري لکه څرنګه چې هغه د خپلې لنډې واکمنی پرمهال د زیاتوهلوځلو سره سره ونه توانید د امریکې سره دوستانه مناسبات ټینګ کړي. د امریکې سره امین د خپلو ناکامو هڅو په اړه د کام سیاسي آمر سلطان احمد بهین ته ویلي وو:« د امریکا له متحده ایالاتو او نورو لویدیځو هیوادونو سره د اړیکو د ښه کولو په لاره کې زما ټولې هڅې بې ګټې وختلې . زموږ ټول امکانات په اوبو کې لاهو شول.» ۱۲۴ / ۲۲۰ د امین له لوري د زیاتو هڅو سره سره د دوو زبرځواکو د باور د نه ترلاسه کولو لامل باید د زبرځواکونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګلارو سربېره د امین په رواني ځانګړتیاوو کې ولټول شي. مسکو لیوال وو چې د افغان دولت په مشرتابه کې یوازې دوی ته لاس ته‌رلی وفادار مشر وويني . واشنګټن هم ورته دریځ درلود او واشنګټن بیا د ا، خ، د،ګ پرځای اسلامپاله ډلې د خپلو موخو ډاډمنې پلې کوونکې ګڼلې. د امین د ځانګړتیاوو په اړه باید وویل شي چې د هغه د خبرو اوعمل ترمنځ ستر واټن لیدل کیده او کله ناکله د خپلو څرګندونو خلاف هم ګامونه اوچتول چې ساده وګړي هم په داسې وګړو باور نه کوي او زبرځواکونه خو بیا د هر سیاستوال د کرکتراو فعالیت ټول اړخونه په پام کې نیسي. بنه بېلګه یې د تره کي سره د امین چلند دی چې یو وخت یې لاسونه مچې کول او بیا یې د عزراییل په څیر ووژلو.

د ا، خ ، د،ګ کې د وړې د میاشتې د زعامت بدلون، د تره کي په پټه منفي تبلیغاتو او د هغه وژنې د ګوند اتوریته اواعتبار لا نور هم ټیټ کړ. امین بشپړ واک ته په رسیدو سره د داسې یوه حالت سره مخامخ شو چې له یوې خوا د وسله والو مخالفینو بریدونو دوام درلود له بله پلوه په خلقیانو کې د امین په وړاندې هم پټو او څرګندو مخالفتونو قوت وموند. سربېره پردې د پرچمیانو حکومتي ضد تبلیغات هم زیات شول. د وسلوالومخالفینو ترشا پانګوالە نړۍ او د ګوند د ننه امین ضد مخالفتونو ته مسکو لمن وهله چې موخه یې د خلقیانو واکمنۍ ته د پای د ټکي ایښودل او د پرچم واکمنول وو. امین د ده خلاف دا کړنې د شوروي سفیر څخه ګڼل هماغه دي چې د هغه د بدلولو غوښتنه کوي او مسکو هم دده غوښتنې ته سمدلاسه ځواب ورکوي او افغانستان ته نوی سفیر را لیږي. د مسکو له لوري د ده غوښتنې ته مثبت ځواب د دې لامل شو امین ډاډمن شي چې دی د مسکو بشپړ باور او ملاتړ لري هغه ناسم ګومان چې دی یې د مرګ کندې ته ور ټېل وهلو. امین د تره کي د واکمنۍ پرمهال د یوه خپلواک هېواد د صدراعظم په توګه د شورویانوسره د چنو وهلو او سیاسي لوبو د مخته وړلو جوګه وو خو د دولت د مشر په مهال دا شونتیاوې له لاسه ورکړلې او په بشپړ ډول د مسکو د لاس په وسیله واوښت. دا مهال مسکو په خورا زرنګۍ سره امین او د ده واکمنۍ ته د انقلاب ضد سربېره د تره کي د پلویانو له لوري د ګواښونو خبرداری ورکولو . شوروي سلاکارانو د وسلوالو مخالفینو او حتی د امریکا د پوځي لاسوهنې د ګواښونو ناسم انځور ایست او امین یې دې ته هڅولو چې د شوروي پوځیان راوبولي. له دې کبله یې د خپل استوګنځی چارچاپېر د شوروي اتحاد د پوځ پنځه سوه کسیز کندک ځای پرځای کړ او دشوروي دریو نورو کنډکونو را تګ ته غاړه کېښودله. پدې هکله د هغه مهال د ګارد قوماندان جګړن جانداد په زندان کې یوه خلقي زنداني ته ویلي وو:« د مرغومي له تورې ورځې څخه نږدې یوه اونۍ د مخه د شپې په یوولسو بجو شوروي سفیر د حفیظ الله امین سره د بیړنۍ کتنې غوښتنه وکړه . حفیظ الله امین د ده غوښتنه ومنله . شوروي سفیرد خپلې کتنې په وخت کې حفیظ الله امین ته وویل چې شوروي څارګرو راپور ترلاسه کړی دی چې امریکایان پلان لري د پاکستان خاورې نه د نورستان سیمې او بدخشان ولایت له لارې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په حریم باندې وسله وال تیری ترسره کړي، تاسې بیخي ډاډه اوسئ ، د امریکایانو ټول نظامي خوځښتونه د شوروي اتحاد تر همیشني تعقیب لاندې دي ... تاسوبیغمه اوسئ مونږ هیڅ وخت خپل دوستان په بده ورځ کې یواځې نه پرېږدو...» څو ورځې وروسته بیا شوروي سفیر د شپې ناوخته د حفیظ الله امین لیدلو ته راغی. په دا وار شوروي سفیر د ډیر هیجان په ترڅ کې حفیظ الله امین ته په ډاګه کړه چې امریکایانو د ا، د، ج په خاوره باندې وسله وال تیری پیل کړ. زمونږ پلې وسلوال ځواکونه د ثورانقلاب د دفاع په موخه د افغانستان خاورې ته راننوتل. پدې ترتیب حفیظ الله امین د شورویانو له خوا د سرته رسیدلي کار( انجام شوي عمل) سره مخامخ شو.» ۱۲۲ / ۲۶۵ – ۲۶۶ د جانداد دا خبره چې امریکایانو د افغانستان په خاوره وسلوال تېری پیل کړ او د شوروي پلې ځواکونه د افغانستان خاورې ته ننوتل د منلو وړ‌ځکه نه ده چې د امریکایانو د برید سره سم دا شونې نه وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي ځواکونه افغانستان ته ننوزي . عجیبه دا ده چې امریکایي قوتونه د افغانستان خاورې ته ننوتلي وو خو د سرحدي ولایتونو ملکي او پوځي بنسټونو یوه هم مرکز ته رپوټ نه دی ورکړی. دا د جانداد ښکرور درواغ دي. جانداد پدې داستان سره که له یوې خوا غواړي د شورویانومنافقت نندارې ته کېږدي له بله پلوه هڅه کوي د امین لخوا د شوروي پوځیانو د راتلو سره همغږي یوه اړتیا او مجبوریت وګڼي او یا وښیي چې امین د یوه ترسره شوي کار سره مخامخ شو چې څه یې له لاسه پوره نه وو او پدې ډول هغه ته برائت ورکړي.

پورتنیوڅرګندونو ته په کتنې سره او د هغه مهال د سیاسي بهیرونو او د شته لاسوندونو او روایتونو نه داسې بریښي چې امین د شوروي سلاکارانو په مشوره د ده د واکمنی د داړمنې ساتنې په موخه د شوروي د دریو کنډکونو راتګ ته غاړه ایښې ده چې د کابل په بالاحصار، بامیان او ګیله ګی کې ځای پرځای شيږ. د دې کنډکونو د راتګ په اړه یې اقبال وزیري ته ویلي وو : « د شوروي د دریو کنډکونو په راتګ خفه دی ځکه هغه د ثور انقلاب ملي ارزښت کموي. امین زیاته کړه چې شورویانو ته یې ویلي دي چې د دغو دریو کنډکونو سرتېري باید پټ وساتل شي چې افغانان یې ونه ویني که نه نو نیمایي افغانان به هېواد پرېږدي.» ۶۰ / ۱۵۴هماغه دي چې د دسمبر له څلېرویشتمې څخه د هوا له لارې کابل ته د شوروي پوځیانو او محاربوي تخنیک را استول پیلیږي او د حیرتان بندر څخه هم شوروي پوځیان راتېریږي. د مسکو چارواکو د دریو کنډکونو پرځای دوې فرقې( یوه د هوا له لارې کابل او بله د حیرتان له بندر څخه) افغانستان ته راولیږدولې . دې رابلل شوو میلمنو د دسمبر په اووه ویشتمه ماښام په کابل کې مهم دولتي بنسټونه او په مرکز کې پراته جزوتامونه تر څار لاندې ونیول او له مخکې نه د تاجبیک د مانۍ شاوخوا ځای پرځای شوي د مسلمانانو کنډک او د کې جي بي ځانګړې ډلې په کوربه باندې د خپلو ټوپکو خولې راوګرزولې ، هغه یې ترور او ببرک کارمل یې ظاهرآ د واک په ګدۍ کیناوه.

د مسلمانانود کنډک پرسونل چې افغاني پوځي یونیفورم یې درلود د۱۹۷۹ کال د دسمبرپه یوولسمه – دوولسمه د بګرام هوایي ډګر ته را ولېږدول شو او د دسمبر په اوولسمه د تاجبیک د مانۍ لویدیځ اړخ ته ځای پر ځای شو او په خپله امین د دسمبر په شلمه دې جزیرې ته ورغی او پدې ډول یې پخپل برخلیک شوروي پوځیان واکمن کړل. میثاق په آلمان کې خپل خورزوی( خوربېي) ته پدې اړه ویلی وو:« کله چې امین صاحب د تاج بیک مانۍ ته وکوچیده ، یوه ورځ مې ورته وویل چې دلته ته د اخوانیانو لپاره یوه مړۍ یې . ملګري امین راته وویل : ملګری میثاق شوروي ملګرو وویل چې موږ داسې وسله دلته ځای پرځای کړېده چې تر دیرش کیلومترمربع پورې د لایزر د شعاع پواسطه هر دښمن له منځه وړي . »۸۷ / ۲۶۹

د مسلمانانو د کنډک په اړه لیخافوسکي د افغان مېړانه اوغمیزه نومي کتاب په ۸۲ مخ کې راوړي چې ددې کنډک د جوړولو چارې د ۱۹۷۹ کال د می میاشتې په لومړیو کې پیل شولې . ښایي د تره کي په واکمنۍ کې یې هم تره کی هڅولی وي چې د خپل داړمن خوندیتوب په موخه هغه ومني چې پدې کار کې پاتې راغلي دي. ددې سربیره شورویانو امین پدې قانع کړی وو چې غوره به دا وي چې د تاجبیک د مانۍ په پخلنځي کې د افغان آشپزانو پرځای شوروي آشپزان په دنده وګوماري تر څو د ده ژوند ته د افغانانو له لورې د ګواښ مخه نیول شوې وي. پردې اساس ویلی شو چې امین پخپله پخپلو پښو او لاسونو کې د شورویانو زولنې واچولې . همدې آشپزانو د هغه په خوړو کې زهر واچول او شوروي مسلمان کنډک د خپلو ټوپکو خولې د امین په افغان ساتونکو را وګرزولې ، هغوی یې له پښو وغورزول او ځانونه یې امین ته ورسول او هغه یې هم ووژلو. څه ښه یې ویلي دي چې په پردي لاس مار هم مه وژنئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حفيظ الله امين  ترور او د خلقي واکمنۍ پای

د شوروي د یرغل وروسته ببرک کارمل او شوروي دولت افغانستان ته د شوروي لښکر راتګ د افغانستان د دموکراتیک جمهوري حکومت په غوښتنه او د افغان- شوروي د دوستۍ د تړون د څلورمې مادې له مخې تبلیغول. خو دا ادعا دومره بې بنسټه وه چې د هغه حکومت  ټول غړي یې زنداني کړل او مشر یې ترور کړ چې دا  تړون یې ورسره لاسلیک کړی وو. که چیرې خلقي حکومت دا لښکر رابللی وي باید چې مسکو او کارمل پدې اړه د تره کي یا امین یا د هغوی د حکومتونو رسمي غوښتنه ښودلې وای . پدې اړه محمد حسن کاکړ ورته لیدلوری لري او لیکي:« حتی همدې کودتایي حکومت ( د خلقیانو حکومت) د شورویانو څخه نه دي غوښتي چې د تش په نامه ګواښ د مقابلې لپاره پوځي مرسته وکړي. که داسې غوښتنه شوې وي څرنګه چې د جګړې مسئله ده باید د دوو خپلواکو هیوادونو ترمنځ د رسمي سند پر بنسټ صورت نیولی وي، دا سند یې باید خپورکړی وای.» ۱۲۶ /۱۲۰ لکه څرنګه چې خلقي دولت د شوروي دولت سره افغانستان ته د سره پوځ  د راتلو کومه رسمي هوکړه نده لاسلیک کړې  نو مسکو نشوای کولی داسې سند چې وجود نه لري هغه خپور کړي . البته د دریو کنډکونو د راتګ سره په خپلسر امین  موافقه کړې وه بېله دې چې د ګوند  له سیاسي دفتر او  حکومت سره یې مشوره کړې وي . پدې اړه د نجیب الله پوځي سلاکار محمداحمدویچ ګاریيف لیکي :« یو وار بیا په خپل پخواني دریځ ټینګار کوم چې  افغانستان ته د شوروي قطعاتو د رابلنې په هکله هیڅ کومه مصوبه او یا سند د ا، خ، د، ګ  د مرکزي کمیټې د پلنوم ، سیاسي دفتر او د ا، د ، ج حکومت او انقلابي شورا له لوري نه دي لاسلیک شوي او د دیپلوماتیکو لارو نه دي مبادله شوي. » ۱۷۸ لدې کبله پدې اړوند کوم سند شتون نلري او که سند موجود وي هغه به کارمل ورسره لاسلیک کړی وي چې هغه هم نشته دی ځکه  د واک دې ترې  د امین په خبر د شوروي لښکر را تګ ته په شفاهي ډول لبیک ویلی دی . د شوروي پوځیانو د رابللو په هکله  نجم الدین کاویاني محمداعظم سیستانی ته ویلي وو :« کارمل یوځل ما او خپلو څو تنو ارادتمندانو ته وویل : ملګري فکر کوي چې سور پوځ په خپله افغانستان ته راغلی دی . ما دری ځله او  هرځل څو تختې کاغذ تور کړاو شوروي مشرتابه ته تسلیم کړ ترڅو مې هغوی قانع کړل خپل پوځ افغانستان ته راولیږي . »۵ / ۱۷۲ کله چې  د شوروي د تیري وروسته  د اشغال خلاف ملي پاڅون پیل شو او په ټولنه کې  کارمل د دوهم شاه شجاع یا روسي شاه شجاع نوم وګټلو مسکو چاره پدې کې ولیدله چې د شوروي لښکر رابلونکي ن .تره کی او ح . امین معرفي کړي. دا دنده یې پخپله  کارمل ته وسپارله او لیکلې وینا یې په لاس کې ورکړه چې هغه د هوایي او مدافعه هوایي منسوبانو ته ولولي. دا وینا د۱۹۸۰ کال په دوبې کې یعني د تیري څه د پاسه نیم کال وروسته ورکړل شوه. کارمل په وینا کې دا خبره وکړه چې تره کي او امین اتلس ځله د شوروي دولت څخه د ځواکونو  غوښتنه کړې وه . وروسته له څه مودې شوروي دولت د  دولتي رسنیو له لارې تبلیغات پیل کړل چې شوروي ځواکونه د خلقي مشرانو د پرله پسې غوښتنو له مخې افغانستان ته استول شوي دي. پدې اړه یې د مستند فلم په نامه یو فلم هم ننداره ته کېښود چې په هغه کې  تره کی د کاسېګین څخه  د شوروي پوځونو د رالیږلو  غوښتنه کوي .خو پدې مستند فلم کې د تره کي ، کاسیګین او د هغوی د ژباړونکي آواز یا غږ شتون نلري.  دا بیا مستند فلم نه بلکې هنري فلم دی.

مخکې یادونه شوې وه چې شورویانو امین د ناسمو اطلاعاتو په ورکولو سره قانع  کړ چې افغانستان ته  د شوروي د دریو کنډکونو راتګ ته غاړه کېږدي .د جنرال لیاخفسکي په وینا د دسمبر د څلېرویشتمې څخه تر اووه ویشتمې پورې  ټولټال ۴۰۹  الوتنې ترسره شوې چې ۷۷۰۰ تنه پوځیان( ۱۰۳ فرقه)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۹۴ عرادې پوځي تخنیک او ۱۰۶۲ ټنه توکي افغانستان ته راولیږدول او۱۰۸ لمبر فرقه یې د آمو له سیند نه د پانتوني( شناور) پله پواسطه افغانستان ته د ننه کړه ، د بګرام په لورخپل مارش ته دوام ورکړاو د دسمبر په اووه ویشتمه بګرام ته ورسیدله. دا لښکر چې دوې فرقې وې بیله کوم خنډ څخه خپلو موخو ته ورسیدلې یوازې د دسمبر په ۲۵ یوه الوتکه د غره سره ولګیده او پکې ۳۷ تنه ووژل شول. کله چې په شمال کې شوروي پوځیان افغانستان ته ننوتل د شمال ولایتونو مسئول عبدالله امین د حفیظ الله امین څخه پدې هکله پوښتنه کړې او امین په ځواب کې ورته ویلي وو: « ډاډه اوسه کومه خبره نشته دا ځواکونه د یوې کومکې لوزنامې پربنسټ چې لاسلیک شوې ده د کابل او بګرام په لور راځي او موږ ته تجهیزات رسوي.» ۶۷ / ۱۳۶ د هغه مهال د ګوند د دارالنشاء د مشر د لیکني له مخې امین د مرغومي په پنځمه د شوروي پوځیانو د راتګ په اړه د ګوند دارالنشاء او د مرغومي په شپږمه( د امین د ترور په ورځ ) یې په هغه میلمستیا کې چې د شوروي اتحاد څخه هېواد ته د دستګیرپنجشیري د راستنیدو په موخه جوړه کړې وه د سیاسی بیرو غړو ته معلومات ورکړل. دلته لیدل کیږي چې د ګوند مشرانو یوه هم اعتراض نه دی کړی چې ولې امین د داسې یوې مهمې مسالې په اړه د دوی سره مشوره نه ده کړې او په خپل سر یې د شوروي پوځیانو له راتګ سره همغږې ښودلې ده . د امین د ترور په ورځ د امین د مخکني دستور له مخې د ماپښین په دوو بجو د تاجبیک ماڼۍ ته د ټولنیزوعلومو د انستیتوت پوځي محصلین( سیاسي کارکوونکي) راغوښتل شوي وو چې هغوی ته وینا اوروي. خو لکه څرنګه چې امین مسموم کړل شوی وو د اردو د سیاسي چارو د رییس مرستیال په تالار کې منتظرو سیاسي کارکوونکو ته ویلي چې امین ناروغه دی وینا نه اوروي او دوی یې رخصت کړي دي. د امین پلویان وایي چې نوموړي غوښتل د شوروي پوځیانو له لوري افغانستان ته د پوځي تجهیزاتو د رسونې او بیرته خپل هیواد ته د ستنیدو په هکله معلومات ورکړي. منطقا داسې بریښي چې امین د شوروي د قطعاتو د راتګ په هکله وینا کوله نه د پوځي تجهیزاتو. که د پوځي تجهیزاتو په اړه یې وینا اوروله منطقا هغه یې ددې تجهیزاتو د رارسولو په درشل کې کړې وای تر څو کابلیان د دریو ورځو پرله پسې الوتکو د راتګ له امله چې ناکراره کړي یې وو خبر شوي وای.

اوس به پدې تم شو چې څه ډول شوروي سلاکارانو اود تاجبېک د ماڼۍ شا وخوا ځای پر ځای شوي د مسلمانو کنډک او د کې جي بي ځانګړې ډلې د تاجبیک ماڼۍ د نیولو او یا د خلقي حکومت د نسکورولو په موخه چمتو کېدل او دا کار یې څرنګه ترسره او امین یې ترور کړ. د دسمبر په ۲۳ د مسلمان کنډک مشران سفارت ته وغوښتل شول . باریس ایوانوویچ (په افغانستان کې د کی جی بی مشر) د کنډک قوماندان ته د هغه د ریوټ د اورېدلو وروسته وویل :« د ماڼۍ د ساتنې په ځای که اړینه شي د هغې په نیولو فکر وکړئ » ۴۹ /۱۳۳همدارنګه د کنډک قوماندان ته وویل شول چې دوی ته به یو د دیسانت ټولی او د کی جی بی دوې ځانګړې ډلې هم ورکړل شي. د دسمبر په پنځه ویشتمه په کابل کې د پوځي جزوتامونو شوروي سر سلاکاران د کابل هوایي ډګر ته را وبلل شول تر څو هغوی ته د امین د رانسکورولو د بریالیو عملیاتو د پرمخ وړلو په مهال ځانګړې دستورونه ورکړل شي. پدې هکله و، ګ سالکین د څلورمې زغره والې لوا د ژباړونکو د ډلې مشر وایي:« د دسمبر په پنځه ویشتمه ویکتور پیاسیتسکي یې د څلورمې قوا سرسلاکار د کابل د خواجه رواش هوایي ډګر ته د پوځي سرسلاکارانو غونډې ته ور وغوښت. زه هم د ژباړونکو د ډلې د مسئول په توګه د نوموړي سره ولاړم خو ماته یې اجازه رانکړه چې په غونډه کې ګډون وکړم...، د دسمبر په اووه ویشتمه پیاسیتسکي زه د اړینو تدبیرونو د نیولو په اړه آشنا کړم . پدې ورځ هغه ټولو سلاکارانو ته دستور ورکړ خپلو استوګنځیو ته ولاړ شي.زه یوازې د تبلیغاتو د سلاکار او پخپله د پیاسیتسکي سره پاتې شوو. مانښام پیاسیتسکي راته وویل که

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرهیوبښونو ته ښار ته د تللو دستور ورکړل شي باید په دریم ټانک کې سپاره شو، ځکه د مخکې نه توافق شوی وو که شوروي زغره وال کوماندو د هوايي ډګر څخه ځلورمې قوا ته راځي پدې ټانک ډزې ونکړي. دې دا معنی درلودله که ټانکیستان خپل وضع الجیش ته د ستنېدو څخه ډډه کوي پر هغوی برید وشي. ماښام نږدې په ۳۰ :۱۸ د قوا قوماندان احمدجان ته امر و شو چې یو کنډک ښار ته واستوي. هغه مهال همیشه ما او د قوا سرسلاکار د احمدجان تر څنګ ناست وو . احمدجان د سلاکار سره د سلا وروسته لومړي کنډک ته امر وکړ چې ټانکونه چمتو کړي او وروسته به د خوځښت دستور ورکړي ...، پیاسیتسکي به تل خپل لاسي ګړی ته کتل او لوا ته د نویو دستورونو د ورکولو انتظار یوست. په ۱۵ : ۱۹ یې د احمدجان څخه وغوښتل چې ښار ته د کنډک د لیږلو په هکله ځانګړي دستورونه ترلاسه کړي خو د اړیکې د نشتون له امله ټینګه نشوه. ( دا مهال د کی جی بی مامورانو د مخابراتو په مرکز کې چاودنه کړې وه.) پیاسیتسکي چې د اړیکو د نشتون له امله ډاډ من شو، احمدجان ته یې سلا ورکړه چې د ټلفون قابلوګانې( لینونه) کنټرول کړي . بیله ځنډه په پوره غور سره قابلوګاني کنټرول شوې او دې کار ۳۰ دقیقې وخت ونیو. د۰۰: ۲۰ شاوخوا د سرسلاکار په دفتر کې د قوماندان او سیاسي آمر سره ناست وو چې ناڅاپه یو وارخطا رنګ الوتلي افسرریوټ ورکړ چې راډیو د امین د فاشیستي رژیم د نسکوریدو خبر خپروي...، خو دا ریوټ د کابل راډیو څخه نه دی...، ناڅاپه ځلور زرهیوښونه په ډیر تلوار سره د پوځې ښارګوټي له دروازې تېرشول د قوا مانۍ یې محاصره کړله . د یوه زرهیوښ څخه یو شوروي افسر راووت . ځان یې معرفي کړ او پیاسیتسکي یې یوې ګوښې ته کړاو د هغه سره وغږید. وروسته یې د شرابو بوتل را واخیست او نور یې هم ور وبلل او احمدجان ته یې وویل په ښارکې ناآرامي ده او د زرهیوښونو استول اړین نه دي . قوماندان د سلا وروسته لومړي کنډک ته د استراحت امر وکړ...» ۲۶۳/۱۰۶ _ ۲۶۵

مسکو د امین د اغفالولو په موخه د دسمبر په پنځه ویشتمه ( مرغومي ځلورمه ) د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په نشراتي ارګان (پراودا) کې یوه مقاله خپره کړه چې د امین په ملاتړ څرخیده ،یوه ورځ وروسته د افغانستان د راډیو ټلویزیون څخه ددې مقالې ژباړه خپره شوه ترڅو ګوند او خلکو ته وښیي چې حفیظ الله امین د شوروي اتحاد له بشپړ ملاتړ نه برخمن دی. همدا مقاله د دسمبر په اووه ویشتمه ( مرغومي شپږمه) د ځینو دولتي ورځپاڼو په لومړي مخ کې خپره شوه چې د لینن، بریژنف او امین انځورونه پکې چاپ شوي وو. دا دوهم ځل وو چې د امین په واکمنۍ کې د لینن انځور په رسنیو کې خپور شو.لومړی ځل د اکتوبر د انقلاب د کلیزې په مناسبت د لینن ، برېژنف او امین انځورونه د ثور انقلاب په ورځپاڼه کې چاپ شوي وو. البته چې د افغانستان په رسنیو کې لومړی ځل د پرچم په جریده کې د دموکراسی په لسیزه کې هم د لینن ستر انځور چاپ شوی وو. د دسمبرپه ۲۶ د امین د وژلو یوه ورځ وړاندې د شوروي د مسلمان کنډک له لوري د ګارد د لوا ۱۵ تنو قوماندانانو او سیاسي کارکوونکو ته میلمستیا شوې وه. ددې مېلمستیا موخه دا وه چې د مسلمان کنډک مشرتابه د ګارد د لوا مشران او د جزوتامونو قوماندانان او سیاسي کارکوونکي وپیژني. په همدې ورځ (مرغومي پنځمه) د ماپښین د ځلورو بجو شاوخوا امین په مسکو کې افغان سفیر رازمحمدپکتین ته چې په کابل کې و ویلي وو:« نور نو د ثور انقلاب تضمین دی همدا اوس مې قطعاتو ته امر وکړ چې شوروي دوستانو ته ځای ورکړي.» ۱۳۷ / ۱۵۲

د دسمبر په اووه ویشتمه د تاجبیک په مانۍ کې هیواد ته د پنجشیري د راستنیدو په موخه د امین له لوري میلمستیا شوې وه او پنجشیري د ډوډۍ د خوړلو پر مهال ویلي وو: « د شوروي مشرتابه مې د تره کي د مرګ او د هیواد د لیډرشپ له بدلون څخه راضي کړل او سفر د سوسیالستی شوروي اتحاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوریتونو سره د اړیکو په ټینګښت کې ګټور وو. هلته ټینګار وشو چې شوروي اتحاد به افغانستان ته زیاتې پوځې مرستې ورکړي . ح، امین په ویاړ سره حاضرینو ته وویل: شوروي فرقې په لاره کې دي . هرڅه ښه پرمخ ځي. زه په دوامداره توګه د ملګري ګرومیکو سره د تلفون له لارې اړیکې لرم ، او موږ دا مسئلې څیړو چې څه ډول نړیوالو ته موږ د شوروی اتحاد له لوري د پوځې مرستو په اړه معلومات ورکړو.» ۴۹ / ۱۴۴ د ډوډۍ د خوړلو پر مهال د امین له ځرګندونو څخه ښکاري چې هغه د ټولنیزو علومو د انستیتوت محصلینو ته د شوروي پوځیانو د راتګ په هکله وینا اوروله . خو شوروي آشپزانو په خوړو( سوپ) کې زهري مواد ګډ کړي وو ځکه چې امین د سوپ سره زیاته لیوالتیا لرله او ښایي په زیاته پیمانه یې سوپ څښلی وي او یا دا چې آشپز د ده په لوښي کې ډېر زهر اچولي وي . له همدې امله د امین د مسمومیت کچه خورا لوړه وه او د کوما کچې ته رسیدلی ده . د پنجشیري پرته د سیاسي بیرو ټولو غړو خواړه خوړلي او سوپ څښلی وو .کله چې ګوندي مشران د ډوډۍ د خوړلو له کوټې څخه بل سالون ته تللي د کمزورۍ، سرګرزیدنې او بیسیدۍ احساس یې کړی دی. امین دا مهال د ګوند د سیاسي دفتر غړو ته ویلي چې حالت یې ښه نه دی او غواړي دمه وکړي .هماغه دي چې مشران د خپلو کورونو او یا دفترونو په لورخوځیږي. د زیري، میثاق او سوما د لیکنو له مخې چې هغوی خپلو دفترونو ته تللي وو په خپلو دفترونو کې خوب وړي دي او جلیلي ځلورسوه بستریز روغتون ته تللی دی. کله چې د امین وضعیت خراب شوی دی د ځلورسوه بستریز روغتون قوماندان او دوه شوروي ډاکټران او همدارنګه د شوروي سفارت څخه هم ډاکټران د تاجبیک ماڼۍ ته را غوښتل شوي دي . د ډاکټرانو د هڅو وروسته امین نورمال حالت ته راوګرزید او په تعجب سره یې و پوښتل:« ولې دا زما په کور کې پیښنه شوه؟ چا دا وکړل؟ تصادف وو که ورانکاري ؟»۴۹ / ۱۴۶ د ماښام په ۳۰ : ۱۹ شوروي پوځیانو دوه سره رنګه راکټونه فیر کړل چې په ماڼۍ باندې د برید اشاره یا قومانده وه. د راکټونو په فیرولو سره د تاجبیک په ماڼې د۳۳۳ لمبر مسلمان کنډک ، شوروي ځارګرو او کوماندوګانو برید د شلکا په ډزو سره پیل شو. د ګارد جزوتامونه هم په خوځښت راغلل خو د هغو خوځښتونه د مسلمان کنډک تر ځارنې لاندې نیول شوي وو. د شوروي چینو له مخې کله چې د ټانک یوه قوماندان خپل کندک ته د خوځښت امر ورکړ شوروي پوځیانو هغه په خپل زرهپوښ کې واچاوه او سرتیرو د هغه د خلاصون لپاره د زرهپوښ په لور منډې پیل کړلې خو هغوی د شورویانو د ډزو سره مخامخ شول چې زیات شمیر یې ووژل شول او نورو د زرهپوښ د تعقیب څخه ډډه وکړه. د تاجبیک ماڼۍ ته د کی جی بی جنګیالي او کوماندوګان چې شمیر یې شپیته تنه وو ننوتل . اصلي مقاومت په ماڼۍ کې وو او د ماڼۍ ساتونکو چې شاوخوا ۱۵۰ تنه وو په پوره میرانې مقاومت وکړ. د شوروي ډاکټر الکسییف په وینا کله چې په ماڼۍ ډزې پیل شوې امین چې په لاس کې یې سیروم وو د خپل کوچنې پنځه کلن زوی سره د ماڼي د دوهم پوړ په دهلیز کې را ځرګند شو چې سپینه زیرپیراهنې یې اغوستې وه . آلکسییف وایي چې له هغه څخه مې د سیروم ستن وایستله. دا مهال په دهلیز کې چاودنه وشوله د امین زوی چې ژړل یې امین تر پښه نیسي او د بار تر څنګ دیوال ته ډډه لګوي خو د چاودنو او ډزو له امله امین او یو شوروي ډاکټر چې د امین درملنه یې کړې وه هم وژل کیږي.

مخکې لدې چې په ماڼۍ برید وشي شوروي ورانکارې ډلې د پښتونستان په څلور لارې کې د ټلفون ارتباطي شبکه والوزوله . د تاجبیک په ماڼۍ د برید سره سم شوروي پوځیانو په کابل راډیو، صدارت ، دفاع وزارت ، کورنیو چارو وزارت ، ځارګرې ادارې (کام) اونورو مهمو بنسټونو برید وکړاو هغه یې ونیول. د تاجبېک په ماڼۍ کې جګړې ۴۳ دقیقې دوام وکړ او یرغلګر وتوانیدل ماڼۍ ونیسي. د شوروي ډاکټرآلکسییف او په جګړه کې د نورو شوروي پوځیانو د مرکو پربنسټ بریدکوونکو د امین

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور درلود، کله یې چې د امین مړی پیدا کړ د انځور سره یې پرتله کړ او ډاډمن شول چې امین دی هغه یې په یوه قالینه کې واچاوه او د ماښې د لویدیځ اړخ په یوه تپه کې یې ښخ کړ. د شوروي تېرې کوونکو په وړاندې د تاجبیک د ماڼۍ د ساتونکو د اتلوال مقاومت سربېره د راډیو تلویزیون ساتونکي په مېړانې و جنګېدل . همدا رنګه د بګرام د هوایي ډګر د محافظ کنډک او رادار ټولي منسوبین په پوره اتلولۍ سره د شوروي یرغلګرو په وړاندې وجنګېدل. ویل کیږي چې د بګرام په هوایي ډګر کې شاوخوا یونیم زره افغان پوځیان شهیدان شول.

د شوروی سرچینو له مخې د تاجبیک په ماڼۍ او شا وخوا یې د ښنتو له امله ۸۶ شوروي او د ۳۰۰ څخه تر ۳۵۰ تنو پورې افغانان ووژل شول چې د امین سربیره یې دوه زامن او د سیاسي بیرو د غړي شاه ولي میرمن هم ووژل شوه . ۱۷۰۰ تنه افغان پوځیان اسیر او د دریو ورځو وروسته افغانانو ته وسپارل شول. د امین د کورنۍ ټول غړي او په هغو کې یوه لور چې ټپي شوې هم وه د څرخي پله زندان کې زنداني شول. همدارنګه د زېري مېرمن او بچیان یې چې میلمستیا ته ورغلي وو هم د څو ورځو لپاره بندیان شول او د زېري خپلوانو یې فاتحه هم اخېستې وه . په ماڼۍ د ډزو پرمهال لوی درستیز یعقوب غوښتل قوتونو ته قومانده ورکړي چې د خپل شوروي سلاکار له لوري په توپانچه وویشتل شو ،یعقوب چې ټپي وو دا مهال عبدالوکیل د کارمل د ترور زوی چې شوروي یونیفورم یې اغوستی وو پیدا کیږي لوی درستیز وژني. همدا رنګه د مرکزي قول اردو درستیزوال شهزاده هم د شورویانو له لوري په ارګ کې وژل شوی دی. د ماښام د اوو بجو شاوخوا د تاجکستان بوران نومې راډیو چې خپرونې یې د کابل د راډیو په څپوعیار کړل شوې وې د ببرک کارمل وینا خپره کړه چې ګواکې « د ا، خ ، د، ګ سالموغړو د امین واکمني ته د پای ټکي کیښود، امین محاکمه شو او دی یې د افغانستان د خلک دموکراتیک واحد ګوند د عمومي منشي اود دولت د مشرپه توګه وټاکه. » پدې ډول امین ووژل شو، ببرک کارمل واک ته ورسول شو او د خلقیانو شل میاشتنۍ واکمني ختمه شوله . د کورنیو چارو په وزارت کې د دې وزارت د سیاسي ریاست یو افسر وایي چې ماښام د کورنیو چارو د وزیر په دفتر ډز وشو چې البته وزیر په دفتر کې نه وو. د برید وروسته شوروي پوځیان وزارت ته راننوتل او نوکریوال افسران یې په یوه ځای کې را غونډ کړل. د شورویانو سره دوه افغانان یو نوراحمدنور او بل جګړن بسم الله د میر اکبر خیبر ورور چې د کورنیو چارو وزارت کې یې دنده لرله همکاري کوله.

د ا، خ، د،ګ د خلقیانو په وړاندې د شوروي دولت او کی جی بی کړنو ته په کتنې سره کریستین اوسترومن او آډ آرنه ویستاد امریکایي پوهان پدې باوردي چې : ( کی جی بی له سره تر پایه د خپلو ډنډورو د خپراوي او دسیسو جوړولو په عملیاتي ګډولې کې د نوموړو هڅو په وړاندې او برخلاف کړووړو لاس واچاوه، کی جی بی د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په درې وړې کولو کې بشپړه( د دسامبرپه میاشت کې د شوروي یرغله مخکې ) ونده« او د افغانستان- شوروي د پالیسیو په شنډولو کې څرګنده ونډه لوبولې ده»۱۲۴/ ۱۰ همغږي وښودل شي . په ا، خ، د،ګ او حکومت کې د۱۹۷۹ او په تیره د وږې ( سپټمبر ) د میاشتې پیښو ته په کتنې سره څرګندیږي چې د خلقي ګوند په مشرتابه کې نورمحمدتره کي د مسکو موخې درک کړې وې چې غواړي د ده او امین ترمنځ د بې باورۍ او دښمنۍ تخمونه وکري ، پدې ډول د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند کې کړکیچ راشي او مسکو د هغه څخه ناوړه ګټه پورته کړي. خو امین دا وړتیا پیدا نکړه چې د مسکو موخې درک کړي بلکې د مسکو د خلقي ضد او افغاني ضد نقشو پلې کوونکی شي . پدې هکله ځینې روسي شنونکي هم پدې څرګند واقعیت اعتراف کوي چې : « د مسکو چارواکو د افغانستان راتلونکي په پام کې نه نیوله او هڅه یې کوله څو تره کی پدې پوه کړي چې امین یې دښمن دی خو تره کي له مسکوسره دا خبره نه منله .» ۱۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې دا برخه په ځو کرښوکې راونغاړو ویلی شو چې:
الف – کارمل او امین دواړه د شوروي پوځیانو په راتګ کې ښکېل دي. شوروېانو په درغلی سره امین قانع کړ د خپل اقتدار د ساتلو په موخه د شوروي د پنځه سوه کسیز مسلمان کنډک او دریو کنډکونو راتګ ته غاړه کېږدي او کارمل په شفاهي او لیکنې ډول افغانستان ته د شوروي پوځیانو د استولو غوښتنه کړې ده. البته ددې دواړو ځانپالو توپیر پدې کې دی چې مسکو امین د خپلو هژمونیستي تګلارو د پلې کولو په لاره کې خنډ ګاڼه ترور یې کړ او کارمل یې واک ته ورسولو. دا هم هېره نشي چې کرملن ناستي د ک ګ ب د ناسمو اطلاعاتو له مخې پر افغانستان د یرغل پرېکړه کړې ده .
ب- دولتي زعیمانو او د واکمنیو مشرانو ته ښایي سترې پرېکړې په ډله ییزه توګه ونیسي او په پردیو پوځونو باور ونکړي.
ج - سیاستوالو او چارواکو ته ښایي چې د بهرنیو دولتونو سره په اړیکو کې محتاط اوسي، زیرکانه ډیپلوماسي پرمخ یوسي ، د حکومت او تقنینه ارګان سره د سلا او مشورو وروسته د دولتونو سره لوزنامې لاسلیک کړي او د ډیپلوماتیکو لارو دا ډول لوزنامې مبادله کړي نه دا چې د امین په څېر په خپلسر د شوروي پوځیانو د راتګ سره موافقه وکړي.
د- هغه سیاستوال چې د پردیو پوځیانو پر مټ خپل واک ساتي او یا د پردیو ځواکونو پرمټ غواړي واک ترلاسه کړي داسې حکومتونه او مشرتابه یې مشروعیت نلري او د ولس له مخالفت سره مخامخ کېږي . همدا حکومتونه د همدې پردیو له لوري رانسکوریدای او مشران یې له واکه ګوښه او وژل کېدای شي چې د امین د حکومت نسکوریدل او د امین ترور ، د کارمل واکمنول او پر ځای یې د نجیب الله مقررول او د نجیب الله د واکمنی راپرزول یې ځرګندې بېلګې دي.
پورتنیو ځرګندونو ته په کتنې سره ویلی شو چې امین او کارمل د شوروي د سیاست دوه مخونه وو پدې توپیر چې امین د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د انترناسیونالیسم ښکلي سیاسي شعار ړوند او کوڼ کړی وو چې شوروي پوځیان به د انترناسیونالیستی مرستې په نامه د ده له واکمنی ساتنه کوي او دی به د افغانستان خپلواک مشر وي . خو کارمل دا وړتیا لرله و پوهېږي چې شوروي پوځیان پدې شرط د افغان حکومت څخه دفاع کوي چې مشر یې د یوه ګوډاګي په توګه ظاهراَ د واک په ګدۍ ناست وي او واک به د شوروي انترناسونالستانو سره وي.

## حفیظ الله امین د شوروي دوست یا دښمن !؟

د شوروي پوځیانو له لوري د امین د ترور وروسته شوروي دولت او د اشغال زېږنده حکومت دواړو امین د سی آی اې د جاسوس په نامه تبلیغاوه. دا تبلیغات او د شورویانو له لوري د امین ترور د دې لامل ګرزیدلي دي چې ځینې څېرونکي او سیاستوال امین د شوروي دښمن وګڼي. له بله پلوه د هغه پلویان هم امین شوروي ضد ګڼي . دې پوښتنې ته چې امین د شوروي دوست وو یا دښمن اړینه بریښي د هغه ویناوو، کړو وړواو د هغه په اړه د هغه د ملګرو او شوروي سیاستوالو او څېرونکو ځرګندونو ته ځغلنده نظر واچوو. البته چې پدې برخه کې د نوموړي کړه وړه د هغه د پیژندنې ښه معیار دی. د هرڅه د مخه د امین له خوا د تاجبیک په مانی کې دده د استوګنځي د ډاډمنې ساتنې په موخه د پنځه سوه کسیز شوروي کنډک توظیف او په پخلنځي کې یې د شوروي آشپزانو شتون ښیي چې هغه د شوروي دوست وو. دا چې شوروي واکمنو د هغه سره خپله خاینانه لوبه پرمخ وړله د دې معنی نلري چې امین د شوروي دښمن وو. امین تردې کچې د شورویانو سره لیواتیا لرله او شوروي دولت یې دوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیرلو که کوم خلقي به د شوروي دولت د سیاستونو اوحتی د شوروي ټولني د نیمګړتیاوو په هکله څه وویل پدې اړه به یې د خبرو کولو اجازه هم نه ورکوله. پدې هکله د هغه مهال د پکتیا والي لیکي : « دا خبره خو دې دلته وکړه چې بیا یې په هیڅ ځای کې تکرار نه کړې روسان زموږ دوستان دي او په دوستۍ کې یې شک نشته . » ۱۷۹ / ۲۰۱ د کی جی بی ډګروال بوګدانوف چې د خلقیانو د واکمنۍ په مهال د شوروي په سفارت کې د کی جی بی مشر وو د شوروي د استخباراتو د خارجی کشف رئیس ګریچکوف ته ویلي وو : « یوځل امین د یوې کتنې په مهال زموږ یوه پلاوي ته ویلي وو زه د تاسو شورویانو څخه شوروي پلوه یم. هیڅکله اوهیڅا هم زموږ د هیواد په اړه د هغه څخه ناوړه خبره نه ده اوریدلې، دا مسئله په بشپړ ډول ثابته شوې ده . سربیره پردې که څوک د امین په وړاندې حتی په غیر مستقیم ډول په شوروي کې ځینو نیمګړتیاوو ته چې شتون لري ګوته ونیسي ، هغه بیله ځنډه د هغه خبرې پرې کوي او ټینګار کوي چې په راتلونکې کې هیڅکله هم دا ډول شیان په ژبه رانه وړي .»۶۳ / ۱۱۲

د امین د واکمنۍ په مهال « د هند صدراعظم موراجی دیسای په هند کې د افغانستان سفیر پاچاګل وفادار د یوې کتنې لپاره ورغواړي او د دې کتنې په ترڅ کې نوموړی د وفادارڅخه غواړي چې دی دې پخپله کابل ته سفر وکړي او امین ته د ده ( د هند د صدراعظم) له خوا ووایي چې شوروي اتحاد په افغانستان باندې یرغل کوي...، د مخه تردې چې پاچا ګل امین ته د هند د صدراعظم پیغام وړاندې کړي امین د خپلو خبرو په ترڅ کې پاچا ګل وفادار ته وایي چې هر څوک د شوروي پرضد واوسي د ده له خوا به د جدي عمل سره مخامخ شي. پاچاګل د دې خبرې په اوریدو ویریږي او امین ته د هند د صدراعظم پیغام نه رسوي ...پاچا ګل بیرته هند ته راستنیږي او په هند کې د افغانستان د سفارت یو کارکوونکی ، چې زمری نومیږي او د امین نږدې خپلوان دی کابل ته استوي ترڅو د هند د صدراعظم پیغام امین ته ورسوي. زمري ته وفادار دا یادونه هم کوي چې امین ته ووایي که امین یې بېږ ته وغواړي نو بېرته نه ورځي. زمری کابل ته ځي اود هند د صدراعظم پیغام امین ته رسوي ... خو امین لکه چې د هند د صدراعظم له خوا پیغام ته جدي پام نه وي کړی.» ۶۰ / ۱۳۵ – ۱۳۷ په پورتنیو څرګندونو کې شوروي ته د امین د وفادارۍ سربیره د هغه شخصیت او رواني ځانګړتیاوې هم انځوریږي. هغه تر دې کچې شوروي اتحاد ته پالیاله دی چې د یوه هیواد د حکومت د مشر پیغام ته چې د هیواد ملي واکمنۍ او خپلواکۍ او د ده ژوند ته یکې څرګند ګواښ لیدل کیږي بیا هم پام نه راګرزوي . د شورویانو سره د امین د دوستۍ کچه لدې نه ښه جوتیږي چې کله د۱۳۵۸ کال د مرغومی په شپږمه هغه د شوروي آشپزانو له لوري په خوړو کې د زهري توکو د اچولو له امله د سیاسي دفتر غړو غیرنورمال حالت غوره کړ د میثاق په وینا« پداسې حال کې چې مي ځان ناراحته احساساوه له امین څخه مي وپوښتل فکرکوم چې په خوړو کې یې څه شي اچولي دي !؟ ربښتیا آشپز دې څوک دی؟ امین زما د پوښتنې په ځواب کې وویل اندیښنه مه کوه ، زما آشپز او ساتونکي شورویان دي.» ۵ / ۱۶۳ د امین باوري دوستانو چې دی مسموم او د کوما حالت ته ورساوه او « د ډاکتیرانو د پرله پسې هڅو له امله د امین وضع ګام په ګام ښه کیده او مازدیګر ته په هوښ راغی او سترګي یې وغړولې یو څه وخت وروسته یې خبرې وکړې او دې ته یې پام شو چې دا څه پیښ شوي دي . بیا یې د ګارد قوماندان جانداد ته وویل چې د ماڼۍ د خدماتو کارکوونکي کورونو ته ولاړ نشي . امین پدې فکر و چې ګواکې په ډوډۍ کې زهردوی اچولي دي .خو جانداد ورته وویل چې ډوډۍ شوروي آشپزانو پخه کړې ده او هلته بل هیڅوک نشي تلای او ډوډۍ ته همدې شوروي آشپزانو زهر اچولي دي. امین جانداد ته په قهر شو او د هغه خبرې یې په جدي توګه رد کړې.» ۶۰ / ۱۶۱ د هوا په تیاره کیدو سره چې شوروي کوماندوګانو او مسلمان کنډک د تاجبیک په ماڼي برید وکړ « حفیظ الله امین خپل یاور ته امر وکړ چې په ماڼۍ باندې د برید له امله شوروي سلاکاران خبر کړي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چې شورویان مرسته کولای شي. یاور امین ته راپور ورکړ چې شورویان دړزې کوي . دې خبرې عمومي منشي عصبي کړ، هغه سګرټ داني واخیستله او یاور یې پرې وویشت ، چیغه یې وکړه چې درواغ وایې داسې نشي کیدای! وروسته هغه هڅه وکړه چې لوی درستیز او څلورمې زغره والې قوا ته ټلفون وکړي خو اړیکې پرې شوې وې . وروسته هغه سوکه وویل ما هم داسې فکر کاوه ټول سم دي .» ۴۹ / ۱۴۹ وروستۍ خبرې په څلور سوه بستریز روغتون کې د شوروي ډاکټرانا‌تولي الکسییف دې چې د امین درملنه یې کړې وه .

الکساندرموزوروف په شوروي سفارت کې د کی جی بی مرستیال د افغانستان د دفاع وزارت د سیاسي ریاست د سلاکار جنرال زاپلاتین له قوله راوړي: « موږ دفاعي حالت درلود ځکه په کابل کې ځینو سلاکارانو او متخصصینو د هغو ستونزو په اړه چې د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند کې شتون درلود له خپله ځانه له کچې وتلی غبرګون ښود. مسکو ته د هغوی رپوټونه دا وو چې هرشي مخ په خرابیدو دي او امین موږ ته ګواښمن دی. لیدل کیدل چې جنرال ګریلوف ( شوروي لوی پوځي سلاکار) پریشانه وو. زه هم پریشانه وم. زموږ نظر دا وو چې کیدای شي د امین سره کار وشي . هغه د شوروي دښمن نه دی . باید د نوموړي د وړتیا او ښه لیاقت څخه ګټه پورته کړو. » ۸۶/۱۸۰ جنرال لیاخفسکي لیکي :« امین نه یوازې خپل ځان د شوروي پوځي سلاکارانو په محاصره کې راوړی وو ، بلکې د کی جی بی او د شوروي دفاع وزارت له پلاویو سره مشورې کولې. یوازې به یې شوروي ډاکټرانو ته مراجعه کوله او په بشپړ ډول یې پر هغوی باور درلود او په وروستي تحلیل کې یې زموږ سپاهیانو ته تمه لرله .» ۱۸۱ / ۱۶۷ د امین له خوا پر شورویانو بشپړ باور د تره کي له هغو څرګندونو ښکاري چې شوروي اتحاد ته د افغانستان د پلاوي له لومړي سفر وروسته کابینې ته کړې وې. لکه څرنګه چې مخکې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د دوستۍ او همکارۍ تړون سرلیک لاندې راغلي وو چې د افغان او شوروي مشرانو رسمي لومړنۍ غونډه بېله کومې پایلې پای ته ورسېده خو په دوهمه ورځ شوروي اړخ افغانستان ته د زیاتو مرستو ژمنې وکړلې. هېواد ته د پلاوي د راستنېدو وروسته تره کي د لومړۍ بې پایلې غونډې په اړه کابینې ته ویلي وو:« کله چې استوګنځي ته راورسېدو امین ته مې چې د شورویانو په مرستو یې زړه تړلی وو وویل، ودې لیدل چې شوروي دوستانو ستا د انتظار خلاف چمتو نشول مرستې را کړي»۱۷۱ د تره کي دا خبره ښیي چې امین تل د تره کي تر غوږو رسول چې په شورویانو حساب وکړي خو تره کي کابینې ته دا خبره کړې چې امین په شورویانو زیات باور لري او د دوی پام یې دې ته هم را ګرزولی دی چې له شورویانو سره په اړیکو کې ځیرکانه او محتاطانه ګامونه اوچت کړي . د شورویانو سره د امین د دوستۍ په اړه به د هغه له مېرمنې واورو. هغې د ۱۳۷۹ کال د کب په یوویشتمه ( ۲۰۰۱ کال مارچ یوولسمه) د بي بي سي د فارسي څانګې سره په مرکه کې د تاجبېک په مانۍ باندې د شوروي پوځیانو د دړو په پیلېدو سره وایي:« امین صاحب د ګارد قوماندان جانداد ته وویل وګوره چې دړزې څوک کوي . جانداد معلومات واخیست او راغی ، امین صاحب ته یې وویل معلومېږي چې دړزې د روسانو له خوا دي خو امین صاحب وویل نه.» د امین پلویان وایي چې شورویانو د هغه زوم اسدالله د مرغومې د شپژمې څو ورځې وړاندې مسموم کړ . د هغه پلار عبدالله امین غوښتل هغه د درملنې لپاره هند ته واستوي خو امین هغه شوروي اتحاد ته واستولو او وروسته د هغه ژوندی اومړی معلوم نشو. د امین د فرکسیون غړو هم د شورویانو په دوستۍ بشپړ باور درلود او په مرستو یې زړه تړلی وو ښه بېلګه یې ظریف د مخابراتو وزیر دی چې د امین د واکمنۍ په وروستۍ ورځ کله چې نوموړي د شوروي د مخابراتو وزیر مسکو ته د ستنیدو پرمهال د کابل هوایي ډګر په لور بدرګه کاوه د خپل یوه افغان ملګري د دې پوښتنې په ځواب کې چې شوروي پوځیان د څه لپاره راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ځواب ور کړ:« غم مه خوره ! دوی د یوې لوزنامې پر بنسټ مور. ته د مرستې لپاره راغلي دي او و به وینې چې ډېر ژر به د انقلاب ضد ټغر ور ټول کړي .» ۶۷ / ۱۳۶ ظریف هم د امین په څېر نه پوهېده چې دا پوځیان به د انقلاب ضد ټغر نه بلکې د امین او د هغه د فرکسیون ټغر ورټول او خلقي واکمنې به نسکوره کړي .

پرچمیان امین د سی آی اې جاسوس ګڼی . تردې مهاله هېڅا هم داسې سند ندی خپور کړی وښیي چې امین د سي آی اې سره اړیکې درلودلې. یوری کوزنتس چې د ا، خ، د،ګ په مرکزی کمیټه کې په ۱۹۷۸ ــ ۱۹۷۹ کې سلاکار وو د شوروي اتحاد د «سره ستوري» د ورځپاڼې د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چې امین په ربښتیا سره د امریکایانو مامور وو وایي :«زه دې موضوع ته د شک په سترګه ګورم، د دې مسئلې د طرحې دلیل د نومورې د یادداښت په کتابچه کې په هند کې د سیا د پلاني مامور د ټلفون لیکل وو چې ده ورته اړتیا لرله . د دې پرته ددې ادعا د تائید لپاره هیڅ لاسوند شتون نه لري .» ۱۸۲ په کابل کې د وژل شوي امریکایي سفیر په شمول امریکایي دپلوماتان د خپل هیواد د څارګرې ادارې سره د امین اړیکې ناسم تبلیغات ګڼي. امریکایي لیکوال ستیوکول او د واشنګټن پوست د ورځپاڼې مدیر لیکي:« په کابل کې د میشتو امریکایی دپلوماتانو لپاره امین یو ډیکتاتور وو چې د آدولف دابس قاتل هم ګڼل کیده. هغوی هم حتی د امین د سی آی اې د غړیتوب د اوازو نه خبر وو... دابس د خپل مرګ نه مخکې د سی آی اې د مسئول نه پوښتنه کړې وه څرنګه چې اوازې دي په ربښتیا سره امین د سي آی اې اجنټ دی؟ هغه په ځواب کې ویلي چې امین هیڅکله هم په سي آی اې کې کار نه دی کړی.دا خبرې جی بروس امستونز چې هغه مهال د آدولف دابس مرستیال وو او د دابس د وژنې وروسته د امریکا د سفارت شارژدافیر مقرر شو ما ته وویل . د کتاب لیکوال د امستونز له وینا راوړي چې د منځنې ختیځ د سي آی اې افسرانو ما ( امستونز) ته ویلي چې امین هیڅکله هم زمور. سره اړیکې نه لرلې او نه یې زمور. څخه حقوق تر لاسه کړي. »۱۸۳/ ۱۰۲ امریکایي خبریال سلیک هریسن هم د امستونز له قوله امین د نومورې هیواد د څارګرې ادارې سره د اړیکو نه لرونکی ګڼي بلکې د امریکایانو سره دښمن معرفي کوي او لیکي:« د۱۹۷۹ کال برخلیک ټاکونکې منې کې امستونز پنځه ځله د حفیظ الله امین سره خصوصي ملاقاتونه لرل خو خبرې یې د اړینو پایلو پرته وې ...امستونز امین د امریکایانو په وړاندې یو ستیزه جو، غیر قابل سازش اوانعطاف ناپذیره رهبر مومي.»۳۰ / ۱۶۷

د پورتنیو څرګندونو څخه دا پایله را وځي چې حفیظ الله امین د شوروي ربښتینی دوست وو نه دښمن، پربله خوا هغه د امریکا دښمن وو نه دوست. په هغه باندې د سي آی اې د اجنټ تورلګول یو بې بنسټه تور او پربله خوا هغه د شوروي ضد ګڼل د اپلتو پرته بل څه نه دي.

## د افغانستان د اشغال لاملونه

د شوروي سره پوځ له لوري په افغانستان باندې د یرغل او د اشغال د لاملونو په هکله اندونه ویشلي دي .هر څوک د خپل سیاسي- ایدئولوژیکي لیدلوري ، سازماني تړاوونو او بهرنیان بیا د خپلو دولتونو د تګلارو او ستراتیژیو له مخې دې مسئلې ته ګوري خو زیاتره د افغانستان د اشغال لاملونه دا ګڼي :

۱ــ د شوروي پراختیا غوښتونکې تګلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- ایدئولوژیکي تړاوونه
۳- د اسلامي بنسټپالو سره د شوروي بهر مبارزه (امنیتي ملحوظات)
۴- په شوروي اتحاد کې د واک په سر مبارزه

د شوروي د هستوي فزیک پوه او د شوروي اتومي بمب جوړونکي اندرې سوخاروف له انده د « افغانستان د اشغال او یرغل ربښتیني انګیزه شوروي پراختیا غوښتنه وه.» ۱۸۴ / ۲۰ که چیرې په افغانستان کې د شوروي د یرغل وروسته ټیکاو ټینګ شوی وای هغه مهال یې امکانات ډیرېدل ترڅو شوروي اتحاد د فرضي کربښې د هغې خوا پښتنو او بلوڅو د ملاتړ د ترلاسه کولو له لارې په آسانی سره د هند سمندرګې ته ځان هم رسولی وای او د ستر پیټر خوبونه په واقعیت اوښتي وای . ځکه دا هم ویل کیږي چې شوروي تودو اوبو ته د رسېدو په موخه پر افغانستان یرغل وکړ. بېځایه نه وو چې د شوروي اشغال پر مهال په پاکستان کې «جهاد افغانستان دفاع پاکستان» شعارونه ورکول کېدل .

د ایدیالوژیکي تړاوونو په هکله باید وویل شي چې د زبرځواکونو او ځواکمنو دولتونو له لوري د بنکلو سیاسي شعارونو لکه انترناسیونالیسم، ګلوبالیسم، اسلامي اخوت ، بشري حقونه او دموکراسۍ وړاندې کول د وروسته پاتې نړۍ د ولسونو د تیرایستنې او د زبرځواکونو لخوا د خپلو موخو او هژمونیستي تګلارو د پټوني لپاره د یوې وسیلې پرته بل څه نه وو او نه دي. د زبرځواکونو له لوري د نورو او په تېره وروسته پاتې دولتونو سره د هغوی د دولتي جوړښت څرنګوالی ، د حکومتولۍ بڼه او د نورو هیوادونو سره د ایدئولوژیکي تړاونو پربنسټ د اړیکو ټینګښت ستراتژیک هدف نه دی بلکه لنډ مهاله یا اوږدمهاله تکتیک دی. ښه بیلګه یې پخپله شوروي اتحاد دی. کله چې د ګرباچف د واکمنۍ پر مهال کرملن دې پایلې ته ورسید چې نور د ا، خ، د،ګ چې د سوسیالستي ټولنې د جوړولو هوډ یې درلود د دوی ګټې نشي ساتلې او یا د نوموړي ګوند ملاتړ دوی ته دروند تمامیږي د برهان الدین رباني په مشرۍ یې د ۱۹۹۱ کال په نوامبر کې د مجاهدینو یو پلاوی مسکو ته وروباله او دې هوکړې ته ورسره ورسید چې د کابل په پلاز به رباني کینوي او هماغه دي چې د ملګرو ملتو د سولې پنځه فقره ئیز پروګرام یې د ۱۹۹۲ کال د اپریل په اته ویشتمه د کارملي پرچمیانو او د اسلامي جمعیت پر مټ شنډ کړ. دلته لیدل کیږي چې مسکو ته ایدیولوژیکي تړاو هیڅ ارزښت نه درلود بلکې مسکو ته د هغوی ملي ګټې مطرح وې.که د ایدیالوژیکي تړاو له مخې پر افغانستان یرغل شوی وي نو اشغالګرو ولې خلقیان له واکه ګوښه کړل او د کارمل په مشرۍ پرچمیان واک ته ورسول چې خلقیانو هم د پرچمیانو په څیر سیاسي- ایډیولوژیکي باورونه لرل .

د اسلامي بنسټپالو په وړاندې د شوروي بهر په افغانستان کې مبارزه . د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د سوسیالستي بلاک د را څرګندېدو او د سوسیالستي ایدیولوژۍ او مترقي اندونو د ودې او لاپیاوړتیا د مخنیوي یوازینۍ لاره پانګوالي نړۍ پدې کې لیدله چې شوروي اتحاد د اسلامي ځوځښتونو په پیاوړې کولو او اسلامي دولتونوپه واسطه محاصره کړي. همدا لامل وو چې لویدیځ د سرطان او ثور انقلاب په وړاندې اسلامپالو ډلو ته مالي او تسلیحاتي مرستي کولې او په افغانستان کې یې د جګړې اورونه بل کړل چې خلقي حکومت ته یې سرخوږی جوړ کړی وو او د وخت په تېرېدو سره دا ډلې پیاوړې کېدلې . لکه څرنګه چې د شوروي اتحاد د منځنۍ آسیا ولسونه مسلمان وو او مسکو لدې څخه وېره درلودله چې اسلامي تنظیمونه په منځنۍ آسیا کې نفوذ وکړي. د وخت د کې جي بې د مشر اندروپوف په وینا مخکې لدې چې اسلامپالې ډلې شوروي اتحاد ته را ورسیږي باید په افغانستان کې وځپل شي . هماغه دي چې پر افغانستان یې یرغل وکړ. پدې هکله بیا دا پوښتنه را پیدا کیږي چې ولې مسکو پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يرغل سره خلقيان له ډګره وايستل او واک يې د کارمل دلې ته ولېږدولو. د کارمل د ډلې واکمنول هم د شوروي د هژمونېستي پراختيا غوښتنې تګلارې تر سيوري لاندې عملي جامه واغوستله ځکه کارمل د يوه ګوډاګي په توګه د مسکو د موخو ربښتينی پلې کوونکی وو.

په شوروي اتحاد کې د واک په سرمبارزې په اړه بايد وويل شي چې دا مبارزه روانه وه . خو د سترو دولتونو سياستوال اړين بصيرت لري اوځانته اجازه نه ورکوي چې د خپل هېواد د اوږدې مودې په ترڅ کې منځته راغلې ستراتيژۍ خلاف ګامونه اوچت کړي. لدې امله په شوروي اتحاد کې د واک پر سر مبارزه قطعا د اشغال لامل نشي کېدای.

لکه څرنګه چې وينو د افغانستان اشغال لامل مختلف اړخونه لري . له بله پلوه ټولې سياسي ـ ټولنيزې پديدې د يوه زنځير د کړيو په څير د يوې بلې سره نه شليدونکې تړاو لري. له بله پلوه نړيوال شرايط هم د يوه هېواد په سياسي بهيرونو اغېز لري .لدې کبله اړينه بريښي چې د خلقي واکمنی مخکې جمهوري نظام ته ور وګرځو او د هغه مهال نړيوال حالات د شوروي دولت د وضعيت او دريځ پربنسټ وڅېړو.

د افغانستان د اشغال په درشل کې په نړۍ کې د شوروي اتحاد دريځ مخ په کمزورېدو وو . مصر د کمپ ديويد په تړون سره د مسکو له نفوذ څخه وتلی وو. سوريې هم د کورنيو بنسټپالو مذهبي ډلو له ويرې د مسکو سره په احتياط چلند کاوه . په عراق کې ځانغوښتونکې صدام حسين خپل دريځ پياوړی کړی وو او د مسکو پروا يې نه کوله په ليبيا کې ورته حالت تر سترګو کيده. د وارسا د تړون غړي هېوادونو کې شوروي ضد روحيه خورا غښتلې وه. شوروي دولتي اقتصادي سکتور خپل تېر رونق نه درلود او فساد د شوروي دولت او شوروي ټولنې له ځانګړتياوو څخه ګڼل کيدل . خو د شوروي سيال د متحده ايالاتونو او د هغه د ناټويي متحدينو اقتصادي وضعيت بد نه وو او واشنګټن سوسيال دموکراسي خوځښتونه ، ګڼ شمېر ښې لاسي او يو شمېرکيڼ لاسي خپل لوري ته په نږدې کولو سره په نړۍ د واکمنيدو په موخه راکښول او په منځني ختيځ کې عملاً واک چلاوه . که څه هم ايران يې له لاسه ورکړی وو خو پاکستان يې خپل کړی وو او د دوو ځواکمنو دولتونو چين او جاپان سره يې هم اړيکې دوستانه وې خو د شوروي اړيکې ورسره خړې پړې وې. چين د دې وضعيت څخه په ګټې اخېستنې سره د دريمې نړۍ د مترقي غورځنګونو د مشرۍ په موخه ګټه پورته کوله. امريکې په ويتنام کې ماتې خوړلې وه خو د سويلي کوريا سره يې اړيکې خورا تودې وې . د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د امريکې د پوځي اډو د جوړيدو لړۍ په قوت سره دوام درلود او سمندري پوځونه يې د پاکستان تر بندرو پورې رسيدلي وو. په سيمه کې شوروي ته يوازې هند ور پاتې وو. دا مهال په افغانستان کې جهادي تنظيمونو د خلقي واکمنی خلاف مبارزه کوله او د وخت په تېرېدو سره غښتلې کېدل او د خلقي واکمنی د نسکورېدو له امله افغانستان هم د شوروي ضد تګلاره غوره کوله . ددې ګواښ د مخنيوي په موخه يې پر افغانستان يرغل وکړ او د کابل په پلاز يې ښه غوړنيوونکی کارمل کېنولو ترڅو د ايران کيڼ خوځښت ته قوت ور وبښي پدې تمه چې د ايران د اسلامي جمهوريت امريکايي ضد دريځ ته د توده يانو پواسطه د امپرياليزم پرضد د مترقي ځواکونو د مبارزې رنګ او بڼه ورکړي. په دواړو ګاونډيو هيوادونو افغانستان او ايران کې د پرچميانو او توده يانو په واکمنولو سره د سيمې د لويديځ پلوه دولتونو خلاف ولسونه راوپاروي پدې خام خيال چې مسکو به وکولی شي خپلې ماتې جبران کړي او خپل نړيوال اعتبار لوړ کړي. د کارمل د واکمنی په لومړيو کې د آيت الله خميني په پته د له درناوی ډک ليک استول او د امريکې د امپرياليزم خلاف د دواړو مسلمانو هيوادونو په ګډې مبارزې ټينګار د مسکو د ارادې پرته ناشونی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## افغانستان د شوروي اشغال پرمهال

د۱۹۷۹ کال د دسمبرپه اووه ویشتمه ( مرغومي شپږمه) د تاجکستان د پلازمېنې دوشنبې د(بوران) په نامه راډیو چې د کابل راډیو فریکونسۍ نېږدې یې خپروني لرلې د ماښام د اوو بجو شاوخوا د ببرک کارمل وینا خپره کړه چې په یوه برخه کې یې راغلي وو : « زه ببرک کارمل د افغانستان د خلک دموکراتیک واحد ګوند د مرکزي کمیټې، د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا ، د افغانستان دموکراتیک حکومت له خوا تاسو د افغانستان ځوریدلو مسلمانو سني او شیعیه هیوادوالو ، پوهانو او روحانیونو،د هیواد د اتل اردو سرتیرو او افسرانو،ملي سوداګرو او ملي پانګه والو ته د حفیظ الله امین دا د امریکې د خونخوار جاسوس اوعوام غولوونکي جبار دیکتاتور د فاشیستي رژیم د نسکوریدو له امله مبارکي وایم ...، د اردو او د ا ، خ ،د ،ګ د انقلابي حرکت له امله
او د امین د فاشیستي رژیم په نسکوریدو سره زموږ د ګران هیواد افغانستان ملي خپلواکي او آزادي او د ثور پرتمین انقلاب ګټې خوندي شوې ... » ۱۸۶ / ۳ وینا په دې شعارونو پای ته رسیدلې وه : مرګ په نادري ستمګرو او وینې زبیښونکو امینیانو! مرګ په ارتجاع او امپریالیزم او د هغو په ځنځیري سپیانو! مخ په وړاندې د ثور د پرتمین انقلاب د سترو آرمانونو د سولې ،آزادۍ ...

د بوران رادیو په اړه باید وویل شي چې شوروي مقاماتو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په اتمه په افغانستان کې خپل سفارت ته داسې لارښوونه وکړه:« په کابل او نورو ولایتونو کې په ډېر ځیراو پاملرنې له دوشنبې څخه د افغانستان پر لور د بوران په نامه د خپرېدونکي خپروني څرنګوالی ترڅارنې لاندې ونیسئ او پدې اړه خپل اند موږ ته راولیږئ چې خپروني یې په څه ډول اورېدل کېږي.» ۲۰۰/۱۲۴ دې دا معنی لرله چې آیا د دې رادیو خپروني د کابل د راډیو د فریکونسي سره برابرې دي که نه. د کارمل د وینا په پای کې شعارونه ښیي چې هغه د یوه سیاستوال او د یوه هیواد د مشر په څېر نه بلکه د یوې اعتراضیه مظاهرې د ښکنځلمار ویناوال په رول کې راڅرګند شو. د کارمل په وینا کې د نادري ستمګرو په پټه د سپکو سپورو د ویلو اړتیا څه وه . ځکه هغه مهال نه د نادرخان کورنۍ واکمنه وه او نه دې کورنۍ د افغانستان د ننه کومه جبهه لرله. که د امینیانو خلاف یې سپکه ژبه کاروله کوم اعتراض شتون نه درلود ځکه امین په افغانستان واک چلولو. د شورویانو له تیري وروسته کارمل خپل لومړی مطبوعاتي کنفرانس د ۱۹۸۰ کال د جنوري په دریمه یعنې د اشغال یوه اونۍ وروسته د چهلستون په ماڼۍ کې ورکړ او دا پردیو واک ته رسولی د خپلواک مشر په رول کې د خبریالانو مخې ته ودرېده. کارمل مخکې لدې چې د خبریالانو پوښتنو ته ځواب ووایي هغوی یې د دوستو او د ښمنو هېوادونو په استازو ووېشل. هغه د بې بې سي د خبریال د دې پوښتنې چې « آیا د حفیظ الله امین حکومت د واکمن حکومت په توګه د خپل حکومت د نسکورولو په موخه شوروي قوتونه وغوښتل چې افغانستان ته راشي، په غوسې سره د سګرټو قوطی د خبریال پر لوري واچاوه او و یې ویل : د انګلیس د زاړه امپریالیسم استازی ! درې ځله مو زموږ په هېواد تېری وکړ او غاښ ماتوونکی ځواب مو ترلاسه کړ! کفایت کوي.» ۱۸۷ لکه څرنګه چې هغه د خبریال پوښتنې ته ځواب نه درلود نو د یوه ماشوم په څېر یې خبریال ته د هغه د نیکونو د ماتې پېغور ورکړ. همدا رنګه له کارمل څخه د هغه په دوهم مطبوعاتي کنفرانس (مرغومي شلمه) کې د انګستان د تلویزیون یوه خبریال داسې پوښته وکړه. جلالتمآب لیونېد برژنف د مبارکۍ په تلګرام کې تاسې ته په دموکراتیک ډول د افغانستان د حکومت د مشر په توګه مبارکي ویلې ده.زما پوښتنه دا ده چې تاسې په څرنګه دموکراتیک ډول وټاکل شوئ ، په څه ډول شرایطو کې وټاکل شوئ او همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګه که داسې وي نو ولې شوروي ځواکونو تاسې ته د واک په نيولو کې مرسته وکړه ؟
ځواب: د بريتانيا د امپرياليسم د پخواني آشنا استازی چې پخوا يې دری واری زمونږ هېواد اشغال کړ او دری واري يې ماتې و خوړله ستا پوښتنې ته به ځواب ووايم . که ستاسې په ياد وي د ثور د ستر انقلاب وروسته زه د انقلابي شورا او صدراعظم مرستيال او د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند منشي وم. وروسته له هغې چې د امين د باند او د امينيانو په وجود کې د امريکا د امپرياليسم د سي آی اې د توطيې له امله اروابناد نورمحمد تره کی په شهادت ورسېد د ا، خ ، د ، ګ غوڅ اکثريت د مرکزي کمېټې اصولي غړو او د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا اکثريت غړو پرېکړه وکړه چې د حفيظ الله امين د باند په وجود کې د امريکا د امپرياليسم د سيا جاسوسي سازمان توطيه له منځه يوسي . هغه اصوليت چې زمونږ په ګوند او دولت کې موجود و دوی زه د راتلونکي عمومي منشي او د انقلابي شورا د رييس او صدراعظم په توګه و ټاکلم.»۱۸۸ / ۳۲۲ پدې اړه د اسوشتيدپرس خبريال ترې پوښتنه وکړه : څرنګه چې جلالتمآب وفرمايل چې امين د امريکې جاسوس وو،ولې هغه د شوروي اتحاد لښکر راوغوښت؟ کارمل ځواب ورکړ: « حفيظ الله امين د امريکا اجنټ د شوروي اتحاد څخه د محدودو قطعاتو د مرستې غوښتنه نده کړې بلکې دا مرسته د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا په اراده او د رايو په اتفاق صورت نيولی دی.» ۱۸۷/ ۲۳۵ د کارمل د مرغومې د شيژمې وينا او لومړی دوې مرکې د اضدادو ټوليزې دي . لامل يې دا دی چې هغه چمتو نه دی واک ته د ده د رسيدو ربښتينی انځور وکاږي. کارمل ځان د هغه ګوند او حکومت مشر معرفي کوي چې همدې ګوند هغه څه د پاسه يو کال مخکې ( د۱۳۵۷ کال د ليندۍ شيژمه) له ګوند څخه شړلی او حکومت هغه د هېواد له تابعيته محروم کړی وو. کارمل په خپله وينا کې هڅه کړې ثابته کړي چې د خلقي حکومت په راپرزولو کې افغان پوځ لاس درلود. خو واقعيت دا دی چې د دسمبر په اووه ويشتمه د واکمنی خلاف د پوځ يو کوچنی جزوتام (دلګی) هم نه و راپاڅيدلی بلکې واکمنی ته د شوروي لښکرخاينانه غلچکي يرغل د پای ټکی کيښود. د جنرال لياخفسکي په وينا « کارمل ژمنه کړې وه چې د هغه ۵۰۰ تنه جنګيالي به زمونږ سره مل شي. د هغوی لپاره وسلې او بمونه راوړل شول ، انتظارمو ويوست . د۵۰۰ تنوڅخه يو تن راغی.» ۴۹ / ۱۵۰ ښايي دا يو تن د مير اکبر خيبر ورور بسم الله وي چې د کورنيو چارو په وزارت کې يې دنده لرله. د کارمل له لوري دا ادعا چې پوځ واکمنی ته د پای ټکی کيښود څه موده وروسته يې په خپله ناسمه وبلله او وايي: « که چيرې د شوروي سوسيالستي اتحاد بې غرضه او د وروګلوی مرستې نه وای د ثور بريالی انقلاب به خپل نوي پړاو ته نه ننووت او نن به نه يوازې په افغانستان بلکه په سيمه کې يوه ستره غميزه منځته راغلې وه.» ۱۸۷/ ۱۵د کارمل پورتنی ضد او نقيض ويناوې ښيي چې نومړی هڅه کوي واقعيتونه پټ کړي چې دا امکان نلري ځکه لمر په دوو ګوتو نه پټيږي او بربنډ وسلوال يرغل او اشغال هم د پټېدو نه دي.« دلته که له انقلابي شورا څخه مقصد د نورمحمد تره کي انقلابي شورا وي نو د هغه په ژوند کې خو روسان رانغلل نو د هغه له مرګه وروسته روسانو د هغه تړون عملي کاوه ؟ او که د امين د وخت له انقلابي شورا څخه مقصد وي نو هغه خو دی خپله ردوي چې امين نه دي راغوښتي . بله عجيبه خبره خو دا ده چې راغوښتي هغوی دي (!) خو قدرت ته يې دی ورساوه؟ » ۱۸/۱۸۹ البته مسکو هم ورته ستونزې لرلې او څرګندونې يې د کارمل په شان ضد اونقيض وې. د شوروي اړخ د ضد اونقيض څرګندونو په هکله باريس ګروموف په افغانستان کې د شوروي لښکر وروستی قوماندان د ملګرو ملتو په غونډه کې چې پدې غونډه کې شاه محمد دوست د بهرنيو چارو وزير د ډول ډول پوښتنو سره مخامخ شو د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزير ګروميکو خبرې راوړي چې شاه محمد دوست ته وايي: « تاسې ملګری وزير زيات دليلونه لرئ نه د تورن په بڼه بلکې د يوه اړخ په توګه وينا وکړئ . اړين دي پر دې ډډه ولګوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شوروي اتحاد د افغانستان د جمهوري حکومت د پرله پسي غوښتنو په ځواب کې د شوروي اتحاد مشرتابه د خپلو ځواکونو یوه برخه افغانستان ته واستوي. دا غوښتني مخکې هم د نورمحمدتره کي د مسکو نه په خپلي لیدني او هم د حفیظ الله امین لخوا شوې وې.» ۷۶/۱۹۰ دا چې کارمل په خپله لومړۍ وینا کې وایي د امین په نسکوریدو سره د افغانستان خپلواکي او آزادي خوندي شوه څو کاله وروسته د شوروي اتحاد د صنفي اتحادیو د نشراتي ارگان ( ترود ) سره په مرکه کې ردوي او وایي : « ستاسو سلاکاران هر چیرې وو په پوځ ، په خاد ، په دولتي ادارو، په ډله ئیزو رسنیو، ښاروالی ، د لوړو زده کړو په بنستونو، په هرځای کې، زه د یوه خپلواک او آزاد هیواد لاربنود نه وم زموږ هیواد یو نیول شوی هیواد وو چې په واقعیت کې تاسو فرمان ورکاوه .» ۱۹۱ / ۱۱۰ د کارمل دا کار د ستایلو وړ دی چې د خپلي بلواکي واکمنۍ ترخه واقعیتونه یې د خپل ژوند په وروستیو کې درک کړل خو د ده ځیني ملګري او په هغو کې د هغه صدراعظم کشتمند دا نه مني چې د شوروي لښکر د تیري له امله د افغانستان پرخلکو تپل شوي رژیم د « هر ډول خپلواکۍ نه بې برخې وو ، د کوچنیو کارونو څخه نیولې تر لویو پورې د شورویانو له خوا اداره کیدل. »۳۹ / ۹۳۶ عجیبه لا دا ده کارمل واک ته د ده د رسولو وروسته د ثور د اوومي وسلوال پاڅون ته د ثور ستر انقلاب وایي خو کله چې مسکوهغه د۱۹۸۵ کال په اپریل کې د واک څخه گوښه کړ او په مسکو کې یې ساته همدې ستر انقلاب ته ستر جنایت وایي. د۱۹۸۹ کال په دسمبرکې د پراودا د شوروي کمونست گوند ارگان خبریال د نوموړي څخه د ثور انقلاب په هکله وپوښتل وویل : « د اپریل انقلاب د افغانستان د خلکو په وړاندې یو سترجنایت وو. کله چې خبریال وویل : اوهو! خو تاسي ددې انقلاب د فعالو ګډون کوونکو او حتی مشرانو څخه وئ . نو تاسي هم یو جنایتکار یاست ؟ ببرک کارمل خپل لاس د اعتراض په ډول پورته کړ او ویې ویل : نه خیر! زه مخالف وم انقلاب زما او د گوند د ارادې پرته پیښ شو.» ۱۹۲ که د کارمل دا خبره ومنل شي نو د خپلي واکمنۍ پر مهال یې ولې د ثورانقلاب د نوي بشپړتیایي پړاو خبرې کولې ، د ثور د ستر انقلاب د برې شعارونه یې ور کول او گوندیان یې هڅول چې د سر په بیه د ستر انقلاب یا د ده په خبره د سترجنایت په پایله کې راپنځېدلي واکمنۍ څخه ساتنه وکړي ؟

د پورتنیوڅرګندونو په پام کې نیولوسره د بوران د رادیو څخه د کارمل د وینا د خپریدو وروسته کله چې د کابل رادیو هم شوروي پوځیانو ونیوله د کارمل ثبت شوې وینا چې د امین د واکمنۍ په نسکورېدو څرخېدله څو ځله خپره شوله. کله چې د کارمل وینا خپریده « ببرک کارمل په بگرام کې د شوروي پاراشوټ – دیسانټ غونډ او د کی جی بی د اوومي ادارې د ساتونکو په واک کې وو چې قوماندان یې ن.ای سردیوکف وو.د امین له وژلو وروسته د دسمبر د اووه ویشتم په ماښام یوری اندروپوف د کارمل سره اړیکه ونیوه هغه ته یې د خپل ځان او لیونیدایلیچ بریژنف له لوري د انقلاب د دویم پړاو او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس په توگه د هغه د ټاکني مبارکی وویله. » ۱۵۲/۴۹ کله چې په کابل کې شوروي یرغلګرو امین او د هغه لوړپوړي پوځیان ترور کړل او په وضعیت واکمن شول د دسمبر په اته ویشتمه کارمل او اناهیتا دواړه د شورویانو په پوځي یونیفورم ملبس د بگرام د هوایي ډګر څخه د کی جی بی د ځانګړي ځواک په ملتیا په ټانک کې ناست کابل ته راولیږدول شول. ویل کیږي لومړی صدارت او وروسته د چهلستون ماڼي ته یوړل شول. په همدې ورځ د ماښام په خبري سرویس کې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دولت اعلامیه خپره شوه چې پکې راغلي وو:« د افغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت د افغانستان د خارجي دښمنانو پرله پسي لاسوهنو او ورانکاریو ته په کتني سره د ثورانقلاب د لاسته راوړنو، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي خپلواکۍ او د سولې او امنیت د ساتلو په موخه د۱۹۷۸ کال د دسمبر د پنځمي د دوستۍ ، ښه ګاونډیتوب او همکارۍ د لوزنامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربنسټ د شوروي اتحاد څخه په څوڅو ځله او په ټینګار د پوځي مرستو په شمول د بیړنیو سیاسي او اقتصادي مرستو غوښتنه کړې وه. د شوروي اتحاد لوري د افغان اړخ غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړ.» ۱۰۶ / ۲۵۲ د دسمبر په اته ویشتمه ( مرغومي اوومه ) ډله ډله پرچمیان اماني لېسې ته ورتلل او اړین دستورونه یې ترلاسه کول. جنرال نبی عظیمي د اماني لیسې د هغې ورځې د خپلو سترګو لیدلی حال داسې انځوروي :« په اماني لیسه کې سترمحشر دی،د ښادیو ولولې اوهورا ویل ، د چکچکوغړونه له لېرې اوریدل کیږي، د بغل کښیو بازار، د مچولو او د تودو غېږو نیولو بازار ...» ۳۸۶/۱۹۳ پرچمي ځوانانو چې سپین بازوبندونه یې لرل د ښار څلور لارو او د دولتی بنستونو مخې ته چې شوروي ټانکونه او زرهپوښونه ولاړ وو تلل او ښاریانو ته د امین د رژیم د نسکوریدو او هیواد ته د شوروي لښکر د راتګ په اړه معلومات ورکول ګواکې چې دا لښکر د افغان ولس لاس نیوي او مرستې لپاره راغلي دی. خو افغان ولس ، ملي دموکراتیکو کړیو او په هغو کې غوڅ اکثریت خلقیانو د شوروي لښکر راتګ د افغان ولس او د دې هیواد د تاریخ د غمیزې پیل ګڼلو.

د ببرک کارمل واک ته رسیدو نه د څه د پاسه د څلورو لسیزو په تیریدو سره د خلق دموکراتیک ګوند په سندونو او د هغه د پلویانو له لوري د کارمل په اړه دوو پوښتنو ته ځواب ندی ویل شوی. یو د هغه قومي تړاو او بل د ا، خ، د،ګ د عمومي منشي، د ا، د،ج د انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم په توګه د هغه ټاکنه. خو د کارمل په اړه دا واقعیت د لمر په څېر روښانه دی چې هغه د یوه ځانپاله لوېدلي وګړي په توګه واک ته د رسېدو په موخه هر خیانت او حتی وطن پلورنې ته چمتو وو له همدې کبله هغه ته ولس دوهم شاه شجاع ویل او خلکو دا لاندې بیت :

سکه زد بر سیم و زر شاه شجاع ارمني
نور چشم لارد و برنس خاک پای کمپني
داسې اړولی وو :
تکیه زد بر تاج و تخت کارمل پرچمي
نور چشم برېژنف خاک پای کې جي بي

کارمل ډېر ژر د ګوند نوې رهبري ( مرکزي کمیټه او سیاسي بیرو) او خپله کابینه د مسکو د منظوري وروسته اعلان کړله. د هغه سیاسي بیرو له پنځو تنو( ببرک کارمل، اناهیتا راتبزاد، سلطانعلي کشتمند، صالح محمدزیري او دستګیرپنجشیري) څخه جوړه شوې وه او د حکومت غړي یې لاندې کسان وو:

| | |
|---|---|
| ۱- ببرک کارمل ،د انقلابي شورا رئیس او صدراعظم | پرچمی |
| ۲- اسدالله سروري، د صدراعظم لومړی مرستیال او د انقلابي شورا مرستیال | خلقی |
| ۳ - سلطانعلی کشتمند ، د صدراعظم دوهم مرستیال او د پلان وزیر | پرچمي |
| ۴- شاه محمد دوست، د بهرنیوچارو وزیر | پرچمی |
| ۵ – محمدرفیع ، د دفاع وزیر | پرچمی |
| ۶- عبدالوکیل، د مالیې وزیر | پرچمی |
| ۷- عبدالمجیدسربلند، د اطلاعاتو او کلتور وزیر | پرچمی |
| ۸- عبدالوهاب صافی، د عدلیې وزیر | پرچمی |
| ۹- اناهیتاراتبزاد، د ښوونې او روزنې وزیره | پرچمی |
| ۱۰- عبدالغفارلکنوال، د کرهنې او ځمکواصلاحاتو وزیر | پرچمی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱۱ – فيض محمد، د سرحدونواو قبايلو وزير | پرچمی |
| ۱۲ - نجيب الله ،د دولتي اطلاعاتي خدماتو( خاد) رئيس | پرچمی |
| ۱۳-سيدمحمدګلابزوی ، د کورنيو چارو وزير | خلقی |
| ۱۴- محمداسلم وطنجار. د مخابراتو وزير | خلقی |
| ۱۵- ګلداد ، د لوړو او مسلکي زده کړو وزير | خلقی |
| ۱۶- رازمحمدپکتين ، د اوبواو بريښنا وزير | خلقی |
| ۱۷ – نظرمحمد ، د فوايدعامې وزير | خلقی |
| ۱۸-شيرجان مزدوريار،د ترانسپورت وزير | خلقی |
| ۱۹- محمداسمعيل دانش، د کانو اوصنايعو وزير | خلقی |
| ۲۰ - محمدابراهيم عظيم، د روغتيا وزير | ( ناڅرګند) |

۲۱ -محمدخان جلالر، د سوداګرۍ وزير ( هغه د ک . ګ. ب سره په اړيکو لرلو تورن دی.)

## کارمل ته د خلقي مشرانو بيعت

د شوروي اشغالګرو له لوري د امين د ترور وروسته ماخوستن ناوخته کابل راډيو يوه اعلاميه خپره کړه او پکي راغلي وو چي د ګوند د مرکزي کميټي ، انقلابي شورا او حکومت غړي سبا سهار د راډيو تلويزيون تالار ته تشريف يوسي او دا اعلاميه د مرغومي په اوومه سهار بيا خپره شوله. که څه هم د مرغومي په شپږمه ماښام ګوندي مشران پوهېدل چي شوروي يرغلګرو دولتي مشر وژلی دی خو ځېنو يي ځانونه ناخبره اچولي لکه څرنګه چي زيری پدې اړه ليکي : « سهار مې ډېر تلوار وو، چې د افغانستان راديو ته ولاړشم، او ژر را معلومه شي څه پېښه ده.» ۴۰ / ۴۵۰ د دې اعلاميې په وړاندې د يو شمېر مشرانو د غبرګون په هکله د ګوند د دارالنشاء مشر ليکي: « سهار وختي مې د کابل راديو په څپو کي د وسله وال پوځ د سياسي چارو د لوی رييس محمد اقبال وزيري وينا واورېده چي د لاندي خبرو په ترڅ کې يې خپل ځان ته د کنځاوو په کولو سره خوشالي څرګندوله : د دکتاتور او ترووريست حفيظ الله امين فاشېستي رژيم نسکور شو...، بيا د ګوند د مرکزي کمېټې او د دولت د انقلابي شورا غړو ته د راډيو له لارې اعلان وشو چې په بيړه سره دې د ملي تلويزيون تالار ته تشريف راوړي.په ۱۰۴ بلاک کې د مرکزي کمېټې او انقلابي شورا استوګنو غړو تاکل شوي ځای ته په داسي خندا او خوشالی سره تشريف يووړ چي تا به فکر کاوه چي بيا له سره په نويو، لوړو او دبدبه لرونکو پستونو باندې ټاکل کېږي.» ۱۲۲ / ۲۲۷ – ۲۲۸ د غوربندي په وينا په تالار کې څوک ناسوب نه وو يعني د دولت ټول لوړپوړي هلته ورغلي وو. دوی په تالار کې کارمل ته د دولت د مشر په توګه د مبارکی پيغام هم ليکلی او پدې ډول يي کارمل ته بيعت وکړ. د زيري په وينا تبريک ليک لومړی بارق ليکلی وو. خو«ميثاق هغه ځيرې کړاو ويل چې بارق بيا هم کارمل تر ضرورت زيات ستايلی او غير لازمي خبرې يي ليکلې وې . وروسته ميثاق د ببرک کارمل په نامه تبريک خط وليکی .» دا مهمه نه ده چي د کارمل په پته ضروري يا غيرضروري خبرې ليکل شوې وې مهمه دا وه چي په خپله ميثاق او د ګوند ټولو مشرانو اشغال ته لبيک ويلی دی. د ميثاق ساده ګي پدې کې وه چي هغه په بيعت ليک جملو ته کتل نه د ليک منځپانګې ته چې ده پخپله پرديو واک ته رسولي ته بيعت ليک وليکلو او نورو ټولو که ځانونه د امين مخالفان ګڼل او يا د امين پلويان بربنډ اشغال ته سرونه ټيټ کړل . ګوندي مشران په راديو کې دوې ورځې وساتل شول او په دريمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ  په دوولسو شوروي ټانکونو کې د څرخي پله زندان ته ولیږدول شول. په ټانکونو کې د هغوی د کېنولو مسؤلیت دوو پرچمي کدرونو عبدالکبیر رنجبر او حشمت اورنګ  لرلو، هغه رنجبر چې د ناټویي اشغال په ګټه په رسنیو کې خورا فعال وو ، ګوند یې هم جوړ کړی وو او د بلواک فاسد دولت د ولسي جرګې غړی هم پاتې شوی دی. د میثاق د وینا له مخې د امین د کابینې د غړو چورت هغه مهال خراب شو چې « ټانکونو د څرخي پله په لور حرکت وکړ.» دا مهال د څوکیو د شوقیانو سر خلاص شو چې د دبدبه لرونکو څوکیو پرځای باید د زندان کړاوونه و ګالي. د خلقیانو له لوړپوړو څخه یوازې د مرکزي کمېټې د دارالنشاء د څانګې رییس محمد علي هوما د اشغال شپږ ورځې وروسته  د ا ، خ ، د ، ګ د مرکزي کمېټې « تاریخي اعلامیه» خپره کړه چې پکې یرغل غندل شوی وو.  دې اعلامیې هغه اته کاله د څرخي پله د زندان مېلمه کړ.پدې هکله په زړه پورې دوې خبرې دي. یوه دا چې کله په زندان کې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال شرعي جوزجاني لدې اعلامیې خبرېږي ویلي یې وو:« هوما څه حق درلود چې زموږ په غیاب کې دا ډول خپلسری کار وکړي.» بل دا چې د هوما په وینا د امین د دسترخوان یوه ملګري د هوما د زنداني کېدو په اړه ویل چې هغه  دستوري  بندي شوی دی. دې دا معنی لرله چې هوما د دوی په څېر د زنداني کېدو دوسیه نلري. هوما دا اعلامیه وروسته له هغې خپره کړله چې د ګوند د مرکزي کمیټې اپراتو ، د ګوندي کمېټو غړو ته اشغال  د منلو وړ نه وو او دی یې هڅولی چې دا اعلامیه خپره کړي.  په خلقي مشرانو کې اسدالله سروري هغه څوک وو چې د اشغالګرو سره یوځای راغی او د اشغال لاندې دولت کې دوهم مقام درلود خو ډېر ژر خپلې نه ښنونکې تېروتنې ته متوجه شو او د اشغال ضد دریځ یې غوره کړ. د سروري د دریځ  په هکله  شوروي څارګرو او سلاکارانو مسکو ته دا رنګه رپوټونه استول: « هغه (سروري) د ۱۹۸۰ کال په لومړیو کې په ښکاره ډول ویل چې شوروي دې هغوی ( خلقیانو) ته واک وسپاري او خپل هېواد ته دې ولاړ شي.» ۱۸۳ / ۱۸۸ د سروري د دا ډول دریځ پایله دا شوله چې هغه د سفیر په نامه منګولیا ته تبعید شي.  د یرغل وروسته لومړیو ورځو کې د څه د پاسه ۱۶۰ تنه لوړپوړي خلقیان او څو تنه ځوانان د امینیانو په نامه زنداني شول خو د وخت په تېرېدو سره د باندېستانو،امینیانو او فرکسیونبازانو په نامه په مرکز او ولایتونو کې د خلقیانو بندي کولو لړۍ پیل او د ګوند د واکمنۍ ترنسکورېدو پورې یې دوام وموند. ویل کېدل چې د مرغومې د شپږمې د لومړیو ورځو په زنداني کولو کې دریو تنو لوړپوړو خلقي پوځیانو( سروري، ګلابزوی، وطنجار) رول درلود . وروسته خلقي کدرونه د پرچمیانو له خوا  د شورویانو د همغږۍ وروسته زنداني کېدل . لومړۍ ډله خلقی مشران چې له بنده خلاص شول زیری او پنجشیري وو چې د  یوې اونۍ وروسته آزاد شول  بیا بارق، لایق ، میثاق او  هاشمي  خلاص شول. خو هاشمي بېرته زندان ته واستول شو. کارمل زېري ته د هاشمي بېرته زندان ته  د لیږلو په هکله ویلي وو چې هاشمي د اشغال مخکې په بدخشان کې د حکومت د ځانګړی استازي په توګه  ډېر خلک  وژلي دي او ژوند ته یې ګواښ دی. هاشمي د تنظیمونو د واکمنۍ په لومړیو کې په کابل پوهنتون کې ووژل شول . البته هاشمي او شېرمحمد ولسي یوازېنی خلقي لوړپوړي  وو چې د تنظیمونو په واکمنېدو سره ترور شول، نور پاتې بندیان د امینیانو په نامه په بند کې پاتې شول. دې بندیانو بیا د خپلې بېګناهۍ له امله کارمل ته دوهم لیک  یا عریضه استولې  چې د دوی له بنده خلاص کړي. هغه مهال او تردې دمه هغه خلقیان چې ځانونه د امین پلویان ګڼي وایي چې دوی د اشغال ضد وو. پداسې حال کې که دوی د اشغال ضد وای نو ولې یې د نوې بلواکې واکمنۍ بلنې ته مثبت ځواب ورکړ، را دیو ته لاړل او کارمل ته د مبارکۍ لیک خو په واقعیت کې بیعت لیک لاسلیک کړ ؟ دا بیا ښیي چې هغوی په خپله خوښه رادیو تلویزیون ته لاړل،  د نورو خلقي مشرانو په څېر کارمل ته د مبارکۍ پیغام واستولو یعنې دا چې هغه ته یې بیعت وکړ. که دوی د زیري، پنجشیري او نورو په څېر له زندان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص شوي وای او د اشغال لاندې پرچمي واکمنۍ کې دنده ورکړې وای په پوره لیواتیا او رښتینولۍ سره به یې د اشغال زیږنده واکمنۍ کې دندې تر سره کړې وې. پردې بنسټ اشغال ته په لبیک ویلو کې په خلقي مشرتابه کې د امینیانو او د امین د مخالفانو ترمنځ هېڅ توپیر نشته دی. غوره بېلګه یې میثاق دی .هغه له بند څخه خلاص شو او د شوروي د یرغل وروسته د ګوند په لومړي پلنوم کې د برخه اخېستونکي په نامه ور بلل شوی وو. خو کله چې مسکو خبر شو د هغه مخه یې ونیوله او پدې اړه به له ده ولولو: « دا وخت صالح محمد زیری راغی او د سالون د دروازې نه یې په اشارې سره وغوښتلم . زه له خپله ځایه پورته شوم او هغه ته ورغلم. هغه زما لاس ونیو او زه یې بهر ته بوتللم...، را ته و یې ویل د پلنوم دایرېدل ستا له امله ځنډېدلی دی. ما وپوښتل ولې؟ هغه وویل له هماغه ځایه احوال راغلی چې ته باید په پلنوم کې نه وې. ما وویل له کومه ځایه احوال راغلی دی؟ هغه وویل له هغه ځایه چې باید احوال راغلی وای. ما وویل هغه ځای څه حق لري چې زموږ د ګوند په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي؟ » عجیبه دا ده چې دواړه له شرمه یا له ډاره د هغه ځای نوم نه اخلي چې میثاق باید په پلنوم کې ګډون ونکړي . آیا د میثاق له انده د افغانستان نیول او د امین وژل د ګوند او افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه وه؟ خو کله چې د ده مخه نیسي چې د ګوند په مشرتابه کې راڅرګند نشي هغه د ده د ګوند په کورنیو چارو کې لاسوهنه ګڼي او که دی د مرکزي کمیټې غړی شوی وای هغه مهال به ده هم اشغال ته انترناسیونالستي دنده ویله .

د امین پلویان تر دې دمه ځانونه اشغال ضد او د اشغال زیږنده واکمني نامشروع ګڼي له همدې امله بندیان او یا په کورکې کېنول شول. خو ولیدل شول چې کله نجیب له بنده آزاد کړل زیاترو یې د نجیب د حکومت سره لکه نورو خلقي مشرانو همکاري پیل کړه. پدې اړه په زړه پورې خبره دا وه ترڅو چې د دوی سره شوروي سلاکارانو ونه لیدل د نجیب په حکومت کې د کارکولو فرصت ورنکړل شو . پدې هکله میثاق د خپل کتاب په۵۵۸ ـ ۵۵۹ مخونو کې توضیحات ورکړي چې دی او شاه ولي شوروي سفارت ته غوښتل شوي وو او د سفارت یوه کارکوونکي یعني د کې جي بي کوم غړي ورته ویلي وو:«اوس چې زموږ پوځیان له افغانستان څخه وتلي دي باید ټول ځواکونه د سولې او د ملي روغې جوړې له تګلارې ملاتړ وکړي او سره یو شي ترڅو جګړه په افغانستان کې پای ته ورسېږي ...، دا موضوع ستاسو یو ملي امر دی چې باید د خپل ګوند پخواني مخالفتونه هېر کړئ او باید یو نوی ارګانیک یووالی منځته راشي. » لدې کتنې وروسته میثاق د کابل د ښاروال په توګه مقررشو. دا کتنه ښیي چې د شوروي اشغالګرو له وتلو وروسته شوروي سفارت د لوړپوړو ګوندي او حکومتي چارواکو د ګومارلو او ګوښه کولو واک درلود. له بلې خوا دا هم ښیي چې د امین د پلویانو د اشغال زیږنده بلواکې پرچمي واکمنۍ سره همکاري پیل کړله. د امین د پلویانو له لوري د نجیب په حکومت کې کار کول دا معنی ورکوي چې ګواکې نجیب د شوروي اشغال زیږنده واکمنۍ چارواکی او د کارمل د واکمنۍ د وژنو او شکنجو دوزخي ادارې (خاد ) مشر نه وو. ددې بندیانو څخه د ۱۳۵۹ کال د غبرګولي په میاشت کې دیارلس تنه اعدام او نور د نجیب الله د واکمنۍ پرمهال له بنده خلاص شول. د محمود سوما، عبدالرشید جلیلي او منصور هاشمي پرته د امینیانو په نامه خلقي مشرانو نجیب ته بیعت وکړ او د اشغال زیږنده حکومت سره د نورو خلقیانو په پرتله رښتیني همکاري پیل کړله. په زړه پورې لا دا ده چې نجیب دوی ته د بند د مودې تنخواوې هم ورکړې ، ځېنو ته یې د بند د مودې ترفیع او زیاتو ډاډمنو ته یې څو ترفیع ګانې ورکړلې. پدې بندیانو کې داسې یو پوځی هم وو چې بریدمن زنداني شو او د اتو کلو زندان تېرولو وروسته جنرال راووت. دې زیاتو ډاډمنو امینیانو ته په واقعیت کې د زندان اکادمي یا پوهنتون وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امینیانو په نامه یوه ټیت پوړي بندي د امین د دوو وزیرانو (صدیق عالمیار او ظریف) له خولې چې وروسته دواړه اعدام شول وایي: «عالمیار ویل زه وژل کېږم خو تاسو ته وایم چې کله له بنده خلاص شوئ په ګوند او حکومت کې کار وکړئ ، شوروي ملګري به وپوهوئ چې موږ شوروي ته وفادار یو او پرچمیانو تاسو غولولي یاست. ظریف ویل . مونږ ځان ملامت ګڼو چې موږ لښکر پرېښود او هغوی ته مو ونه ویل چې څه وکړي.» د لښکر څخه د ظریف موخه خلقیان دي. د دې سوېټستانو له څرګندونو څخه ښکاري چې هغوی د شوروي د خاینانه تیري په لومړیو ګړیو کې د رادیو څخه د اعلان وروسته ډاډمن شوي وو چې دوی ته شورویان څه نه وایي ، سبا ته رادیوټلویزیون ته تللي چې هغوی به بیا په دبدبه لرونکو څوکیو و ګوماري . دې رښتینو سووېټستانو د خپلو شوروي دوستانو له لوري د بندي کېدو او بیا وژل کېدو هېڅ فکرهم نه کاوه خو په زندان کې د هغوی څخه د څېړنو وروسته پوهېدلي دي چې وژل کېږي خو سره لدې شورویانو ته وفادار وو او ځوانان یې هڅول چې د اشغال زېږنده واکمنۍ کې کار وکړي اوشورویانو ته وفادار پاتې شي. د صدیق عالمیار د شوروي پالنې په اړه د ( کام ) یو کارکوونکي وایي : « د مرغومي د شپږم په ماښام په صدارت کې وم . شوروي پوخیان صدارت ته را ننوتل او ډزې یې پیل کړې . ددې ډزو په اورېدو سره په هغه کوټه کې چې زما سره دوه تنه نور هم وو د کوټې لوی قندیل د کلا شنکوف په قنداق وواهه او برېښنا لاړه. څو شېبې وروسته دروازه پرانېستل شوه او شورویانو هرې خوا ته ډزې پیل کړې موږ. لا د مخه د کوټې په یوه خوندي ځای کې وو او ژوندي پاتې شوو. په صدارت کې د ډزو د ختمېدو لنډه موده وروسته له کوټې ووتلو او یوه سالون ته ولاړو چې څو تنه نور هلته ناست دي. پدې ډله کې صدیق عالمیار ، ګلنواز او غني وثیق هم وو. د خبرو په ترڅ کې عالمیار دا هم وویل: موږ سوېټستان یو او د شوروي ملګرو سره همکارۍ ته چمتو یو.» که د هېواد د ننه خلقي مشرانو د اشغال ضد غږ نه شوای اوچتولای لږ تر لږه یې د حکومت سره د همکارۍ ډډه کولای شوای. که دوی د حکومت سره د همکارۍ ډډه کړې وای ښایي زرګونوخلقیانو هم خپلو مشرانو ته په کتنې سره د اشغال په چوپړ کې نه وای درېدلي او نن به خلقي غورځنګ په ټولنه کې د شوروي اشغال د ملاتړي په نامه نه یادېده. البته په بهر کې خلقي دپلوماتانو دا شونتیاوې لرلې چې د اشغال ضد غږ اوچت کړي چې په چکوسلواکیا کې د سفیر محمد یاسین بنیادي پرته بل هېڅ کوم دپلومات دا کار ونکړ. په پراګ کې د افغانستان سفیر او د ګوند د مرکزی کمیټې غړي بنیادی د دسمبر په ۲۹ په افغانستان کې د رژیم د نسکورولو په اړه خبریالانو ته ویلي وو: « په هیواد کې اوسنی روان سیاسي اکروکر د شوروي اتحاد له لاسه رامنځته شوی دی چې چکوسلواکیا ورسره ببرک ته د سیاسي پناه د ورکولو له لارې مرسته وکړه . په ساده ژبه ویلای شم چې دا د افغانستان په کورنیو چاروکې یوه بربنډه لاسوهنه ده. » ۱۲۴/ ۲۴۱ هغه هېواد ته راستون شو او د چرګانو کوچنی فارم یې جوړ کړ او غریبانه ژوند یې درلود. یوه ورځ تصادفا په هالند کې په یوه موټر کې د دریو تنو نورو سره کېناستلم چې یو یې نظیف الله نهضت په کیوبا کې پخوانی سفیر وو. د خبرو په ترڅ کې مې ترې وپوښتل د شوروي اشغال پرمهال تاسې په هاوانا کې سفیر وئ ولې افغانستان ته راغلئ او پرچمیانو بندي کړئ ؟ هغه وویل :« پرچمیانو ته خو شورویانو ویلي وو موږ ته یې نه وو ویلي.» د ده له ځواب څخه ښکاري چې هغه د شورویانو سره د همغږۍ له امله هېواد ته راستون شوی دی لکه په ملګرو ملتو کې د افغانستان استازی بسم الله سهاک. د هغه په اړه د ( افغانسکي شتورم) پر افغانستان برید په نامه روسي کتاب په ۳۵۹ – ۳۶۰ مخونو کې راغلي دي . سهاک ته امریکایي مقاماتو د افغانستان په اړه د م ، م د ببړنۍ غونډې په درشل کې چې د شوروي د تېري خلاف دریځ نه دی نیولی ویلي وو چې له خپل استوګنځي څخه ووځي او ده دا ستونزه په م، م کې د شوروي استازي سره شریکه کړې او دا یې هم ورته ویلي دي چې غواړي په شوروي اتحاد کې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ سره ژوند وکړي او شوروي دولت ورسره مرسته وکړي. شوروي سفیر دا موضوع له مسکو سره شریکه کړې او له دوو ورځو وروسته له مسکو څخه د سفیر غوښتنې ته مثبت ځواب راغلی او شوروي استازی د سهاک سره ګډ هوایي ډګر ته لدې امله تللی چې امریکایان کومه ستونزه ورته جوړه نکړي او سهاک د خپلې روسي میرمنې سره د شوروي اتحاد د ورونژ ښار کې ژوند پیلوي .

## څه ډول وګړي یې واک ته ورسول ؟

دا چې شوروي ښکېلاکګرو څه ډول وګړي د کابل په پلاز کینول هغه به د جنرال مایوروف د کارمل د لومړي پوځي سلاکارڅخه واورو. نوموړی د خپل ( په افغانستان کې رښتیا څه تیریدل؟) نومې کتاب ژباړونکي ته ویلي وو:« ببرک کارمل ، نجیب، اناهیتا ... دا ټول مصنوعي خلک دي. په لاس جوړې شوې څېرې دي... » د جنرال پورتنۍ خبره د دې څرګند واقعیت ښکارندوی ده چې شوروي اشغالګرو د کابل په پلاز د سیاستوالو په نامه جوړې شوې څېرې واک ته ورسولې چې د یوه هیواد د مشرانو له ځانګړتیاوو څخه بې برخې وو. که څه هم ببرک او اناهیتا چې اصلي نومونه یې سلطان حسین او ناهید دي د دموکراسۍ په لسیزه کې د ولسي جرګې غړي پاتې شوي وو خو د هغه مهال د ولسي جرګې د یوه غړي په وینا« په کابل کې دا هم ویل کېدل چې د شوروي اتحاد د خوشحالولو له پاره حکومت په انتخاباتو کې د ببرک کارمل او اناهیتا سره مرسته کړې ده .» ۴۱ / ۱۵۲ د دې معنی دا کیږي چې د دموکراسۍ په لسیزه کې کارمل او اناهیتا د ولس استازي نه بلکې د حکومت استازي وو. د دې لپاره چې د شورویانو پرمټ پرافغان ولس تپل شوو پرچمي واکمنو په اړه یوه شو مشت نمونه خروار د دریو تنو( کارمل ، نجیب ، کشتمند) په اړه به د دوو شورویانو او دریو پرچمیانو، مایوروف او میتروخین ، ذبیح الله زیارمل ،عبدالقدوس غوربندي، او ثریا بها ولولو. مایوروف پنځلس میاشتې د دې مشرانوسره په همیشنیو کاري اړیکو کې پاتې شوی دی او واسیلي میتروخین شوروي څارګر د کی جی بی د آرشیف مرستیال وو . درې تنه افغانان لدې کبله غوره شوي چې هغوی له هر چا زیات خپل پرچمي مشران ښه پیژندل. البته چې جنرال مایوروف د ثور انقلاب د بشپړتیایي پړاو د نورو پرچمي مشرانو( راتبزاد، نور، لایق ، رفیع ، بریالي ،جنرال ګل آقا او جنرال خلیل الله ) د ځانګړتیاوو په هکله څرګندونې لري که پرهغې بحث وشي لیکنه اوږدیږي. که د شوروي د اشغال په مهال د دولت او حکومت د مشرانو د ځانګړتیاوو یوې برخې ته چې د هغوی د شخصیت ښکارندوی دي ګوته ونیول شي لوستونکی اړین معلومات تر لاسه کوي چې مسکو د خپل یرغل وروسته څه ډول وګړي د ا. خ. د. ګ او ټولنې په مقدراتو واکمن کړل.

کارمل چې د پرچمیانو منلی لاربښود شمیرل کیده غوڅ اکثریت څېړونکي هغه ځانغوښتونکی ، دایم الخمر او په اخلاقي لحاظ کمزورې وګړی ګڼي. په افغانستان کې د لوی پوځي سلاکار کاري ډلې په خپلو کې نوموړی شرابي اعلی سرقوماندان او راتبزاد د نادېژده ( د لینن مېرمن ) په نومونو یادول. د کارمل د شرابو څښل لوی پوځي سلاکار ته هم د زغم وتلی کار ګرزیدلی وو او هغه ته په ارګ کې د نوموړي په دفتر کې چې د شرابو( ودکا) بوتل یې په لاس کې وو، وایي: « زه ستر جنرال مایوروف د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې لوی پوځي سلاکار تاسې ببرک کارمل په ټینګه د شرابو څښلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع کوم او ټينګارکوم چي سملاسي له دغه کار نه لاس واخلئ... ملګرى د ا. خ. د. ګ د مرکزي کميټې عمومي منشي او د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا رئيس تاسي خبر ياست چي په هر ولايت کې د جګړې اور بل دى . هيواد په اور کې سوځي . سلګونه افغان او شوروي عسکر مري... که دى، ببرک کارمل ، همدا نن له شرابو څښلو نه لاس وانخلئ نو زه به يوري اندروپوف او ديمتري اوستينوف ته خبر ورکړم او هرڅه به په پاى کې ليونيد بريژنف ته ورسيږي... او بله دا چي خو دا تا ته وايم له دې ځايه به داسي والوزې چي خداى خبر چيرته به ځمکي ته راکوز شې...، همدا سبا د کابل پرټلويزيون وينا وکړئ . د هيواد د حالاتو او د انقلاب د برياوو په ساتنه کې له دښمن سره د وسله والې مبارزې د برياليتوبونو په اړه وغږيږې... دوهمه او بنسټيزه خبره بايد عسکري چونيو ته ورشې. له قوماندانانو، د ټبرونو له مشرانواو د ولايتونو د واليانو سره وګورې.» ۷ / ۱۲۳ – ۱۲۶ کارمل د جنرال د دستور پربنسټ د ټلويزيون له لارې ديرش دقيقې ملغلرې وشيندلې او څو ورځې وروسته جلال آباد ته ولاړ او هلته يې هم يوې سترې غونډې ته خپله انقلابي وينا واوروله. کارمل د خپلې يوې کلنۍ واکمنۍ پرمهال يوځل د بګرام هوايي ډګرته تللى وو چي هلته د شوروي لښکر رابلونکي نورمحمدترکى او حفيظ الله امين معرفي کړي او دا دوهم ځل وو چي د مايوروف په امر جلال آباد ته وخوځېد. دا چي ببرک د اناهيتا سره د ميني ککړ رومان درلود پدې هکله د شوروي استخباراتي سندونو کې راغلي دي:« د ببرک کارمل نفساني اخلاق هم ډير ټيټ ول. هغه د سياسي بيرو د غړې ميرمن اناهيتا راتبزاد سره ناوړه جنسي اړيکي درلودلې. »۱۲۴ / ۳۰۴ د کارمل – اناهيتا د رومان په اړه د ( پرونده ناپديد) نومى کتاب ليکوال په ۱۶۱ مخ کې راوړي: « د داود د واکمنۍ پرمهال پوليسو د دواړو د رومان کستونه ثبت کړي وو ، د کورنيو چارو د وزير په دفتر کې ساتل کېدل او د ثور د وسلوال پاڅون وروسته د امين لاس ته لوېدلي وو او پدې اړه ذبيح الله زيارمل وايي: د دې کستونو راتلونکى برخليک ډراماتيک دى ،ځکه چي د دې لاسوندونو په بربنډېدو سره کارمل ومنل چي د خپلو نږدې ملګرو سره له هېواد څخه ووزي پدې شرط چي د کستونو محتوا افشا نشي... » يو وخت کارمل ثريا بها ته چي وروسته يې د نجيب د ورور صديق راهي سره واده وکړ د خپلې ميني احساس داسي بيانوي :« ته د اور يوه ټوټه يې چي ما سوځې! ته ما وژنې. زه ډير وخت په دې تمه وم چي د ډاکترجاني ( اناهيتا) په نشتون کې وکولى شم د خپل زړه احساس تاته څرګندکړم .يوهيږې پدې پوهه او ميرانه چي ته يې لرې کولى شې ډير ژر د اناهيتا ځاى ونيسې. اناهيتا زړه شوې ده او ته اتلس کلنه يې.» ۸۶/ ۱۲۵ مايوروف د خپل کتاب په ۱۲۶ مخ کې د کارمل سره خپلو پنځلس مياشتنيو کاري اړيکو ته په کتني سره د نوموړي د شخصيت داسي انځور کاږي: « په ژوند کې مي احمقان، لټان او شرابيان نه خوښېدل او دلته دا ټول صفتونه په يوه کس کې راټول شوي وو. او دا بيا ګوندي لارښود او د دولت مشر و.» هو! د مسکو واکمنو د خپل لښکر پرمټ په افغان ولس احمق ، لټ، بد اخلاقه او شرابي کارمل واکمن کړ چي تل خمار او له هرڅه بيخبره وي او شورويان په سره سينه په افغانستان کې خپلې نقشې پلې کړي. د پرچم د فرکسيون د مرکزي کميټې غړى غوربندى د شوروي اتحاد د څارګري اداري سره د کارمل د اړيکو په اړه ليکي:« کارمل د ګوند د قدرت منبع او سرچينه د ګوند څخه بهر لټوله او د دې سرچيني د اعتماد او باور د ترلاسه کولو په خاطر له هيڅ ډول هلوځلو ډډه نه کوله.بايد اعتراف وشي چي کارمل د روسانو د ربنتيني ماهيت په پيژندني کې بې سياله استاد وو او په هغه هيواد کې يې د قدرت سلسله مراتب د هربل چا نه ښه درک کړي وو. هغه پوهيده چي هلته د ک. ګ. ب د واړه ضابط واک د بل هر سياسي او دولتي مقام نه زيات دى. د دې هوښيارى او زيرکى له امله وو چي هغه فخرخرڅونه کوله او ويل چي د واک د ځنځيراصلي کړى ته يې لاس اچولى دى او پدې ډګر کې سيال نلري...، دا چي کارمل يوه ستره شبکه په کار اچولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ترڅو ثابته کړي چې له ده پرته بل ښه نوکر نشته او څرنګه چې هغه د قدرت سرچینه د ګوند بهر ګڼله ملي واکمنۍ ته د رسيدلو امکان يې هم د ملي ارادې بهر لټاوه.لدې کبله دا تصادف نه وو چې شوروي د يوې نړيوالې رسوايۍ په منلو سره خپل سور پوځ په خوځښت راووست او د بشري ټولنې د ټولو نورمونو خلاف يې په يوه څرګند خونړي يرغل لاس پورې کړ.داسې دولت يې را نسکور کړ چې رئيس يې د شوروي دوست وو خو په خپلو کورنيو چارو کې يې د شورويانو لاسوهنه نه غوښتله مسموم او بيا ترور کړ او خپل( حلقه به ګوش ) مزدور يې په اصطلاح تش په نامه د واک په ګدۍ کيناوه.» ۸۰ / ۵۰ کارمل د خپلې واکمنۍ پرمهال د ځوانانو يوې غونډې ته چې د وطندوستۍ درس ورکړې ويلي وو:« وطنپال افغان څوک دی؟ د نوي افغانستان انسان څوک دی؟ چې د افغان –شوروي دوستۍ ته وفادار وي.» ۱۷۴ د پرچمي مشرتابه شوروي پالنه او شورويانو ته خوش خدمتي ،د شورويانو د جنايتونو د پټولو هڅې او سربيره پردې خپل ولس ته سپکاوی به د دې سازمان د دوو نورو مشرانو ( کشتمند او نجيب ) له لوري د شوروي پوځيانو د يوه جنايت په وړاندې غبرګون کې ووينو.کيسه داسې وه چې د۱۹۸۱ کال د فبروري په ۱۵ شوروي پوځيانو د ګزمې يوه يوولس کسيزه ډله جلال آباد ته څيرمه پرګزمه بوخته وه او دې ډلې پټيپلي چې خپل کنډک ته د کبابو لپاره د پسونو ډالۍ له ځانه سره يوسي. هغوی يوه کور ته د ديوال له لارې ننوزي چې د پسونو سربيره درې ښځې هم ويني . دا يوولس تنه د دوو ګړيو په ترڅ کې د دوو سپين ږيرو او۷ کوچنيانو ترمخه د ښځو پرعزت تيری کوي. هغوی په ښځو د جنسي تيري وروسته لومړی ښځې او بيا زاړه او ماشومان وژني. د زغره وال ګاډي د تيلو له ټانکۍ نه تيل را اخيستي ، پر شهيدانو يې شيندلي ، د پاسه يې کالي، کټونه، لمڅې او پوزي غورځولي او وروسته يې اور وراچولی دی. دې ډلې يوولس پسونه خپل کنډک ته ورسره بيولي وو چې ګواکې کليوالو د شوروي پوځ د ورځې ډالۍ وراستولي ده.( د فبروري درويشتمه د شوروي د پوځ ورځ بلل کيده) د وژل شوې کورنۍ يو دوولس کلن هلک چې په يوه ګوټ کې پټ شوی دا د وحشت ډکې صحنې ليدلې دي او د ډلې مشر يې پيژندلی دی. په شوروي کنډک کې د تحقيقاتو وروسته تورنو په خپل جرم اعتراف کړی او لوی پوځې سلاکار د دې پيښې له امله د ښښنې لپاره صدراعظم کشتمند ته ورغلی دی ځکه چې دا مهال کارمل د شوروي د کمونست ګوند په ۲۶ کنګره کې د ګډون لپاره مسکو ته تللی وو. پدې اړه هغه ډيالوګ چې د کشتمند او شوروي جنرال ترمنځ ترسره شوی دلته کټ مټ رانقليږي :

کشتمند- د خاد رئيس او جنرال سپولنيکوف( د نجيب الله سلاکار) همدا لږه شيبه وړاندې خبر را کړ چې دا جنايت په بدلو جامو کې غليم پخپله کړی دی.

مايوروف – موږ ځای پرځای د دغه جنايت په اړه پلټنې وکړې له بده مرغه هغه د څلويښتم لښکر پوځيانو ترسره کړی دی.

کشتمند- دا هيڅ امکان نلري. کشتمند دا وويل او بيا يې زما خوا ته د مکر له کتنې وروسته د هرڅه د بيا پلټنې اړتيا ته ګوته ونيوله.

مايوروف- نن به همدا کار وکړو هيله کوم چې خپل يو مرستيال هم د کميسيون د غړي په توګه وګمارئ. دوهم ځل سيمې او نوموړي کنډک ته پلاوی ولاړ او ور ته څرګنده شوه چې ترسره شوی جنايت شوروي پوځيانو کړی دی. لوی سلاکار او د پلاوي غړي کشتمند ته ورځې او دا ورته وايي چې جنايت شوروي سپاهيانو کړی دی او کشتمند ته د شوروي سپاهيانو له لوري د ترسره شوي جنايت له امله د خواشيني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کولوسربېره ښښنه غواړي. خو د مايوروف په وينا« د حکومت رئيس د دې پرځای چې زموږ ښښنه ومني ، سره لدې چې ملکي وګړو ته زموږ له خوا شوي سپکاوي ته يې بد وويل ، د پېړې ډېره برخه يې پخپله پر افغانانو واچوله. ګواکې دا چې افغانان پخپله لکه ځناور بې نظمه دي او له همدې امله يې دې ته لاره هواره کړې چې دغسې چلند ورسره وشي. اوس هغه له دې امله له موږ نه ښښنه غواړي.» په يوه بله افغاني ضد او د پښتنو د دود خلاف پيښه کې د نجيب کړنو ته په کتنې سره نوموړي ته جنرال مايوروف داسې پيغور ورکوي: «پښتانه له شريعت پرته د پښتونوالی يو دود هم لري. له هغه نه د سرغړونې سزا مرګ دی. نجيبه ته خو پښتون يې تا څنګه پښتونولي پريښوده ؟ » هغه څه چې پورته بيان شول د مايوروف د کتاب د ۳۳۳ څخه تر۳۵۴ مخونو مفصلو تشريحاتو لنډيز وو. د نجيب الله په اړه د سلاکار خبره د هغه جنايت په اړه ده چې هغه په هرات کې په يوه شپه د څلورو سوو تنوشاوخوا اسيران چې د هغوی سره ژمنه شوې وه که تسليم شي ژوندي به پاتې شي خو نجيب د کارمل د دستور له مخې هغوی ووژل. انګلوساکسوني اشغالګرو هم پرچمي مشرانو ته ورته لوېدلي او خپلو بادارانو ته پاليالـه وګړي واک ته ورسول چې د کشتمند په څېر د اشغالګرو جنايتونه په خپلو پوځيانو واچوي. غوره بېلګه يې د اشرف غني په واکمنۍ کې په کندز کې د بې پولې ډاکترانو په روغتون بمباری وې چې امريکايانو دا جنايت ومنلو خو غني ويل چې دا بمبارۍ افغاني پيلوټانو کړې دي . که چيرې د ليکنې دا برخه په څو کرښو کې را ونغښتل شي دا پايله ترې راوځي چې شوروي اشغالګرو په افغانستان داسې څيرې واکمنې کړلې چې له يوه پلوه اخلاقي کمزورتياوې لرلې او له بله پلوه د ملي ګټو په پرتله يې شوروي ګټو ته لومړيتوب ورکاوه او ټول ګامونه يې د شورويانو د خوښې او د هغوی د بشپړ باور ترلاسه کولو په موخه اوچتول. اشغالګرو ته د اشغال زېږنده واکمنانو د شخصيت جوهر د هغه د مشر له وينا بربنډېږي چې د ګوند په دوولسم پلنوم کې وايي: « زموږانقلاب شا ته نه ځي ځکه زموږ تکيه ګاه زموږ ستر دوست شوروي اتحاد دی».

## خپلواکي يا بلواکي ؟

ببرک کارمل په خپله لومړۍ ثبت شوې وينا کې هېواد ته د« ملي خپلواکۍ او آزادۍ » د راتګ زېرۍ ورکړ. دا د ملي خپلواکۍ او آزادۍ مدعي د دوو شوروي فرقو پر مټ واک ته ورسول شو. آيا د نړۍ په کوم هېواد کې پردي لښکر ددې هېواد ولسونو ته خپلواکي او آزادي راوړې ده چې کارمل يې ادعا کوي.دا دوې فرقې د وخت په تېرېدو سره په يوه ستر لښکر واوښتې چې شمېر يې يولک اوشل زرو تنوته ورسېد. دا د دې ښکارندوی وو چې ولس د دې خپلواکۍ او آزادۍ مدعي د واکمنۍ په وړاندې ودرېد او مسکو اړ شو نور ځواکونه افغانستان ته را ولېږي. خو بيا هم کارمل او د دسترخوان يارانو يې هغه محدود قطعات بلل. د محدودو قطعاتو په اړه اسدالله سروري په يوه مجلس کې د يوه خلقي په ځواب کې په خندا ويلي وو: «موږ چې راتلو ما پخپلو سترګو وليدل چې ډېرې محدودې وې . يو سر يې د خيرخانې کوتل ته رارسېدلی و بل سر يې په حيرتان کې و.» ۴۰ / ۴۶۸ سربېره پردې د يرغل وروسته د شوروي د زرګونو ملکي ، پوځي او استخباراتي سلاکارانو راتګ هم پيل شو چې البته د اشغال مخکې هم ګڼ شمېر شوروي سلاکارانو په هېواد کې شتون درلود. لکه څرنګه چې د سلاکار له نامه څخه ښکاري د هغه د نده سلا او مشورې ورکول دي خو د کارمل په واکمنېدو سره هغوی مشورې نه بلکې دستورونه او امرونه ورکول. پدې هکله د کې جي بې مرستيال شبارشين ليکي :« مونږ کې جي بې له افغانانو سره مرسته نه کوله ،مشوره مو نه ورکوله، بلکې قومانده مو ورکوله...» ۱۹۴/ ۱۴۰ پورتنۍ وينا ښيي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د۱۹۷۹ کال د دسمبر د اووه ويشتمې وروسته د افغانستان اصلي واکداران شوروي سلاکاران وو ، کارمل ، نجيب ، کشتمند، شرق ، خالقيار ، وزيران او واليان او قومندانان يې د تمثيل لپاره کينولي وو. ددې بربنډ واقعيت د اثبات لپاره به څو بيلګې راوړل شي. کله چې مسکو د افغانستان د اشغال وروسته د کارمل لپاره ستر پوځي سلاکار وټاکه هغه د کی جی بی مشراندروپوف ور وغوښت او د ځانګړو دستورونو د ورکولو سربيره يې دا هم ورته وويل :« پوهيږو چې کارمل يوه کرغېړنه څيره ده . خو زموږ لارښوونو ته کلک غوږ نيسي . د هغه ملاتړ وکړه ...، پدې توګه نو هرڅه پخپل لاس کې ونيسئ او عمل وکړئ.» ۷ / ۵ کله چې اندروپوف جنرال ته وايي هرڅه پخپل لاس کې ونيسئ يعنې واک ستا سره دی هرڅه چې کوې هغه کوه . د پرچمي مشرانو په بيواکۍ د ښه پوهيدو لپاره اړينه بريښي د شوروي لوړپوړو پوځيانو او افغان ګوندي او حکومتي جګپوړو ځينو څرګندونو ته لوستونکی راوبولم. د کی جی بي په افغانستان کې نومي کتاب په ۲۷۵ او۲۹۵ مخونو کې راغلي دي :« د ګوند د لوړپوړو غړو، د کی جی بی د پوځي سلاکارانو، د کورنيو چارو د وزارت، او د زونونو د اداري مشرانو ترمنځ غونډې يو په بل پسې نيول کيدلې. له افغان لوري د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې او د انقلابي شورى هغه غړي چې د زونونو د اداري مشرانو په توګه ټاکل شوي ول او هم کشتمند،نور، زيري، رفيع ،ګلابزوی اونجيب الله دغو غونډو ته رابلل کيدل. د غونډو د اجندا په اړه پريکړه يواځې شوروپانو کوله...، د ګوند د مشرتابه ډله په ګوند او هيواد کې د ننه د روانو چارو او ستونزو ربنتونی انځور نه شوای ليدلای. هغوی په خپلو عمومي دندو نه پوهيدل.د دغې خبرې د زباد لپاره هغه لاسوندونه شته چې د۱۹۸۰ زکال د جولای په مياشت کې د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې پلنوم ته ټولې ويناوې او پريکړې د شوروي له لوري جوړې شوې وې . د دغه کار لويه برخه د کی جی بی د پلاوي د مالوماتو د څانګې د مشراو د کی جی بی د لومړي لوی مديريت غړي جګړن الف.وي . پاولوف جوړه کړې وه.» لياخفسکي راوړي: « سربيره پردې ببرک کارمل او نجيب الله سياسي سلاکاران درلودل کومو چې د ا، خ، د،ګ ستراتيژيکي کرښې برابرولې او د ا، خ، د،ګ د مرکزي کميټې عمومي منشي ته يې مختلفو غونډو ته ويناوې چمتو کولې.» ۴۹ / ۳۶۶ د لياخفسکي موخه شوروي سياسي سلاکاران دي نه افغان سلاکاران.

د ګوند د عمومي منشي نجيب الله مرستيال فريداحمدمزدک د ګوند د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته د خپلو پرچمي ملګرو سره په يوه فيسبوکي بحث کې د ګوند د سندونو د چمتو کولو په هکله وايي :« د ا، خ، د، ګ د اساسي سندونو د چمتو کولو په هکله د هغه د بنسټ ايښودلو څخه د ويکتورپيتروويچ پکنيچينکه تر وروستۍ ورځې پورې د تره کي او امين د زمانې د ځينو ليکنو او سندونو پرته داسې لاسوند نشته چې موږ او تاسو چمتو کړی وي.» ۱۹۵جنرال عظيمي د دفاع وزير مرستيال ليکي :« يوازې د مسکو او د څلويښتمې اردو د قومندان يوه اشاره د اردو لوی سلاکار ته کفايت کاوه چې د افغانستان د اردو وتلي قومندانان له خلقي نه نيولې تر پرچمي پورې په مختلفو نومونو... تبديل او يا زندان ته واچول شي...، څرنګه چې مسکو امرکاوه هغه بايد عملي شي. »۱۲۹/ ۲۶۰ همدا رنګه فقيرمحمد ودان د ګوند د تبليغ او ترويج د څانګې مشر د جنرال عظيمي له قوله د نجيب الله د واکمنۍ پرمهال د هغه د مطبوعاتي کنفرانسونو او مرکو په اړه ليکي :« ښيله شکه موښږ هغه ځوابونه ورکول چې مخکې د نجيب الله سرسلاکار ويکتورپتروويچ ديکتي کول او زموږ په واک کې يې ايښي وو او موږ اړ وو همغسې ځواب ور کړو.» ۱۹۱/ ۱۱۱ ګلدادخان د صدراعظم کشتمند مرستيال ليکي :« شوروپانو ببرک کارمل ټاکلی و. شوروپانو کارمل ايسته کړو او د هغه پر ځای يې نجيب الله وټاکلو. د شوروپانو بې سلا او مشورې کشتمند او يارانو يې وزيران، رييسان او د امنيتي وزارتونو د ټوليو قومندانان هم بې د شوروپانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلاو او مشورو نه ټاکلی شول او نه یې پوځي رتبې ورکولی شول، شورویانو د یوه دویمې رتبې ر ییس په ټاکلو کې هم باید سر ښورولی وای.» ۱۰۵/ ۳۳۸ ، ۵۳۲ د نجیب الله پوځي سلاکار د جمهور رییس د واک په اړه لیکي :«ما هره ورځ د اعلي قوماندانی د بورد د غونډو د جوړیدو مخکې ماښام یا سهار د جمهوررئیس د دستورونو طرحه څیړله. معمولاً د اصلي مسئلو په هکله چې باید دستورونه ورکړل شي هغه ما لیکل...» ۱۹۶/ ۱۵۳د شوروي سلاکارانو د بشپړ واک په هکله به لیکوال د کندهار د قول اردو د سیاسي آمریت د مرستیالی څخه د خپل تبدیلېدو په اړه رڼا واچوي. لیکوال په روسي ژبه تسلط درلود او د سلاکار سره بېله ژباړونکي کاري اړیکي ساتلې . لیکوال لیوال نه وو په محاربوي جزوتام کې چې د ملي مقاومت سره نېغ په نېغه په جګړه کې ښکېل وي دنده تر سره کړي. دا موضوع یې د سیاسي آمریت له شوروي سلاکار سره پدې پلمه طرحه کړله چې غواړي د قول اردو د جزوتامونو د سیاسي کارکوونکو ورتیاوو ته په کتو سره هر څوک په مناسب ځای و ګوماري. هغه دا وړاندیز ونه منلو او لیکوال ورته وویل که زما وړاندېز نه منل کیږي پدې څوکی کار نه کوم. سلاکار وړاندیز ومنلو او یوه ورځ وروسته د دفاع وزارت د سیاسي ریاست څخه د سیاسي آمریت د مرستیال د تبدیلي شفر راغی. عجیبه دا وه چې په شفر کې په سیاسي ریاست کې یې پداسي څوکۍ ګومارلی وم چې هغې په تشکیل کې شتون نه درلود او پوره شپږ میاشتې وزګار وم یعني احتیاط ته سوق شوم. په شفر کې یې لدې کبله احتیاط ته د لیکوال د سوقولو مساله نه وه لیکلې چې خلقیان کومه ګډوډې جوړه نکړي .دا ددې واقعیت ښکارندوی و چې د افسرانو د تبدیلولو، ګوښه کولو او ګومارلو واک د سلاکارانو سره وو نه د قوماندانانو او سیاسي آمرانو سره. همدا رنګه په ارګ کې شورویانو د کارمل ټول کړه وړه او لیدنې کتنې تنظیمول . د کارمل د ملګري حسن شرق په وینا « په ۱۳۵۸ کال کې د کارمل جمهوري ریاست ته ورغلم.د انتظار په کوټه کې کېناستم.د ښاغلي عبدالرحیم هاتف د وتلو وروسته یې ماته اجازه را کړله چې د کارمل د کار کوټې ته ننوزم. له بده مرغه د پښو د دردونو له امله بېله لکنې مې نشوای کولای کوټې ته ننوزم. شوروي ساتونکي مخه ونیوله او ما هم مقاومت وکړ.زموږ دواړو خبرې کارمل واورېدلې . په خپله هغه را ووت او له شوروي ساتونکي یې هیله وکړه چې د لکنې سره اجازه راکړي. لکه چې د هغه امر یې نه وي اورېدلی لرګی یې را څخه واخیست . کارمل خپلې کوټې ته بېرته ننووت او زه ګوډ ګوډ کوټې ته ننوتم او په مینې سره یې په غېږ کې ونیولم مچې یې کړم او و یې ویل په شوروي ملګرو ډېر ګران یم او زما د ځان د ساتلو په موخه زما امرونو ته هم پام نه راګرځوي » ۳۸ / ۲۳۹

د پورتنیو لنډو څرګندونو څخه جوتېږي چې د شوروي اشغال پرمهال او همدا رنګه د شوروي پوځیانو د وتلو وروسته د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې بشپړ واک د شوروي سلاکارانو سره وو او افغان مشران د تمثیل لپاره کېنول شوي وو او دا خپلواکي نه بلکې بلواکي وه.

## د پاک زړو خلقیانو فرصت غوښتونکي مشران

مخکې لدې چې پدې اړه بحث وشي اړینه ښکاري د شوروي د تېري پرمهال د خلقیانو د کورني وضعیت څخه خبرشو . د لیکوال درې خاطرې کولای شي لوستونکی د شوروي د اشغال پر مهال د خلقیانو د کورني وضعیت او د پاک زړو خلقیانو له لوري په خپلو مشرانو په کاذب باور وپوهېږي. په افغانستان باندې د شوروي لښکر یرغل ، د دولت او دفاع وزارت د مشرتابه ترور او د هیواد د مخابراتي سیستم شنډول خلقیان هک پک کړل او له یوبل سره یې اړیکي پرې شوې . له بله اړخه ۱۰۳ ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې د امين له لوري د تره کي گوښه کول او بيا يې وژل چې د سلگونو خلقي کدرونو زنداني کيدل او وژل هم ورسره مل وو خلقيان په دوو دښمنو ډلو ويشلي وو. پداسې يوه حالت کې ډير پاخه او مجرب گوند هم دا وړتيا نلرله چې مناسب دريځ غوره کړي.

الف – لومړۍ خاطره

هغه مهال ليکوال د کندهارد قول اردو په سياسي څانگه کې دنده لرله او د دې څانگې مشر په کابل کې وو، څانگې مرستيال هم نه درلود او ليکوال د دې څانگې د چارو د لاربښوونې مسئوليت درلود. د راډيو څخه د کارمل د وينا په اوريدو سره د قول اردو قوماندان محمدکبير کارواني ته ورغی ترڅو وپوهيږي چې په کابل کومه ټکه لوېدلي ده. څو شيبې وروسته د سرحدونو وزير او د کندهار والي صاحب جان صحرايي او د ولايتي گوندي کميتې منشي ميراحمدشاه خالص هم راورسيدل. په کابل کې د پيښو په اړوند خبرې پيل شوې چې د کارمل وينا بيا له راډيو څخه خپره شوه. کله چې وينا پای ته ورسيدله صحرايي قوماندان ته وويل: « په کابل کې چې څه پيښ شول په هغو کې د دستگير پنجشيري لاس دی او بايد چې قول اردو ته د کابل په لور حرکت ورکړي.» قوماندان ور ته وويل: « د قول اردو ډيری جزوتامونه په شپږو ولايتونو کې ځای پرځای شوي دي د هغوی راټولول لږترلږه دوې – درې ورځې وخت نيسي او بيا کله چې د کابل په لور جزوتامونه په کتار کې ودريږي او د مارش قومانده ورکړل شي د څوجنگي الوتکو د بمباری له امله له منځه ځي او زه چمتونه يم دا کار و کړم. » صحرايي د قوماندان د خبرو په اوريدو سره ورته و ويل :« په ميټينگو کې د خپلې لاسی توپانچې په ښودلو سره وايي چې د انقلاب دښمنان به د هغې پواسطه له منځه وړم او اوس دا ډول خبرې کوې » کارواني ور غبرگه کړله:« هو! ماويلي دي چې د انقلاب څخه دفاع کوم نه له رهبرانو. » د دې خبرې په اورېدو سره صحرايي له خپله ځايه پورته شو او منشي ته يې وويل :« هرڅه څرگند شول راځه چې ځو » هغوی دواړه لکه مرور له دفترنه ووتل او د خپل گاډي په لور وخوځيدل موږ هم ورپسې وخوځيدو خو هغوی بيله دې چې شاته وگوري او خدای په اماني وکړي پخپل موټر کې سپاره شول . د هغوی د تگ وروسته ليکوال قوماندان ته وويل ، ښايي صحرايي صاحب کومې خوا ته ولاړ شي. نوموړي وويل که زما څخه مرسته وغواړي زه به د هغه سره د يوه سپين ږيري په توگه هر ډول مرسته وکړم. خو وليدل شول چې صحرايي د کومې بلې خوا پر ځای کابل ته تللی وو.

که چيرې د صحرايي او کارواني مشاجرې ته ځيرشو ليدل کيږي چې د هغوی ترمنځ د څرگندې بې اعتمادۍ او مخامختيا نښې نښانې ليدل کېږي. هغه مهال په ټول گوند کې ورته حالت واکمن وو چې پداسې يوه حالت کې يې نشوای کولای په گډه اړينه پريکړه وکړي. هغه مهال چې د حکومت او د دفاع وزارت مشرتابه وژل شوي وو،مخابراتي سيستم شنډ او پر هغو سر بيره په گوند کې د ژور بحران او بې اعتمادۍ شتون ټول د دې سبب شول چې وسله والو ځواکونو ته کوم امراوهدايت ورنکړل شي او هغوی هم کوم اړين غبرگون ونشي ښودلی ځکه چې وسلوال ځواکونه د اعلی سرقوماندان او يا لوی درستيز د امر له مخې فعاليت کوي اوهر قوماندان په خپل سر نشي کولای عمل وکړي. دې ټولو دې ته لار هواره کړله چې شوروي يرغلگر وتوانيږي ډير ژر پر وضعيت واکمن شي .

ب – دوهمه خاطره

د شورويانو له يرغل ، درې څلور ورځې وروسته د قول اردو قوماندان وروغوښتم ، يوه ورقه يې راکړه چې ويې لولم. پدې ورقه کې ليکل شوي وو چې د قلات د ۴۳ قطعې امينيانو پټه غونډه کړې او غواړي غونډ اشرارو ته تسليم کړي .دا رپوټ د نوموړي غونډ يوه پرچمي افسر د کندهار نوي والي( شهنواز شيواني ) خلقي افسر ته چې د امين په واکمنۍ کې زنداني شوی وو ورکړی وو. قوماندان ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وويل دری کسيزه پلاوی مې چې ته يې يوغړی يې د غونډ د وضعيت د څېړلو په موخه ټاکلی دی ته به دا موضوع وڅيړې اوهمدا راز د سياسي رياست نه د راغلي پلاوي يو تن به ستاسوسره لاړشي ترڅو په هيواد کې د وروستيو پيښو په اړوند د غونډ ګونډيانو او منسوبينو ته معلومات ورکړي.موږ ځلور تنه قلات ته ولاړو. ليکوال او د سياسي رياست استازي لومړی د غونډ له ګونډيانو سره وکتل چې پدې کتنه کې د غونډ قوماندان محمدآصف شور هم ګډون درلود. د سياسي رياست استازي دوهم بريدمن کوچې د انقلاب د نوي پړاو په هکله غونډې ته خپله وينا واوروله چې د قهر اوغوسي نه له ډکو پوښتنو سره مخامخ شو . قوماندان چې د ليکوال ترڅنګ ناست وو وويل تر اوسه پورې ګونديان راپاتي وو هغه هم دې بشاغلي اشرارکړل. پدې وخت کې مې اجازه وغوښتله چې پدې اړه څه ووايم. د غونډې برخه والو ته مې وويل ستاسو پوښتني ، اندېښني او نيوکې سمې دي چې د يوه هيواد مشر که ښه وي يا بد بل هيواد حق نه لري چې هغه ووژني او پرځای يې بل څوک کينوي او دا د دې هېواد په کورنيو چارو کې لاسوهنه ده. خو خبره دا ده پردې مساله وغږيږو چې اوس څه وکړو ؟ زما له نظره په دوو مسالو بايد بحث وشی:

۱- له وسله والو مخالفينو سره يوځای کېدل

۲– له واکمن حالت سره موقتآ ځان جوړول .                                                                 د

ليکوال د لنډو خبرو وروسته ددې غونډې ګډون کوونکي چې شمير يې د ديرشو تنو شا وخوا وو پدې سلا شول چې د وسلوالومخالفانو سره چې د ثور انقلاب وروسته د جهاد په نامه د پرديو په اراده خپل وطن ورانوي اوروڼ اندي وژني نشو کولای ګډه ژبه پيداکړو او وکتل شي چې د ګوند بنسټ ايښودونکي ( زيری ، پنجشيری او ميثاق) په راتلونکی کې کوم برخليک لري. که هغوی په ګوند او حکومت کې خپل پخواني دريځونه تر لاسه کړي هغوی به په هيواد کې د داسې شرايطو د راوستلو لپاره مبارزه وکړي چې د انقلاب هدفونه پلی اوهيواد د نورو خپلواکه هيوادونو په کتارکې ودريږي او که هغوی له پامه وغورزول شول هغه وخت به بيا تصميم ونيسو. کله چې په غونډه کې حاضرين يوې نتيجې ته ورسيدل د هغه رپوټ څېرنه مې پيل کړه چې ګواکې امينيانو پټه غونډه کړې او د اشرارو سره د يوځای کيدو په لټه کې دي . د حاضرينو څخه د داسې يوې غونډې پوښتنه وشوه چې پرې خبردي که نه ؟ پدې وخت کې د غونډ قوماندان وويل دلته د امينيانو په نامه څوک نشته او چا پټه غونډه هم نده کړې . د مرغومي په اوومه لومړي ګوندي سازمان په هيواد کې د نوي وضعيت په اړوند غونډه درلوده او داسې پريکړه يې وکړه :

الف – د شوروي يرغل موږ ته د منلو وړ نه دی او اوس چې د ترسره شوي عمل سره مخامخ يوغوره دا ده چې شوروي پوځيان دې په ښارونو او کليو کې نه راڅرګنديږي بلکې پولې دې وتړي ترڅو له بهر نه د اورپکو د راتګ مخنيوی وکړي.

ب – د ګوند څخه ايستل شوی ببرک کارمل او ملګري يې بايد د لومړنيو ګوندي سازمانونو له لارې ګوند ته ومنل شي او د ګوند رهبري د کنګرې له لارې وټاکل شي.موږ د دې غونډې پروتوکول د پستې له لارې د قول اردو سياسي آمريت ته درليږلی ښايي دررسيدلی وي يا در ورسيږي.

په دې ډول د ګونديانو سره کتنه پای ته ورسيده او د رپوټ مسئله چې د درواغو پرته بل څه نه وو هم روښانه شوه . د دې سفرڅخه دې پايلې ته ورسيدم چې ددې غونډ خلقيانو او افسرانو لکه د کندهار د قول اردو د منسوبانو په شان د نيواک او د تپل شوي ګوندي مشرتابه ضد روحيه درلوده ، پرچميانو د خلقيانو د ځپلوخيال درلود او بل دا چې د ګوند خلقي برخې پخپلو مشرانو داسې کاذب باوردرلود چې د ژمنو رهبرانو په شان به داسې ګامونه پورته کړي چې د ګوند غښتلتيا او د يوه خپلواک او پرمختللي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان جوړول وي.خو د ګوندیانو له لوري پدې بې پروا، فرصت غوښتونکو او د څوکیو لیوالو مشرانو دا ډول باور د هغوی پاک زړي ښودله. دې مشرانو چې د واک خوند لیدلی وو او شوروي اتحاد یې د خپلو ایدیولوژیکي باورونو له مخې د ثور انقلاب د بري ضمانت کوونکی شمیرلو پدې ډول د شوروي اتحاد د هژمونیستي پالیسیو او افغاني ضد موخو ربښتیني پلي کوونکي شول. دې پاک زړو ګوندیانو فکرکاوه چې مشران به یې هم د دوی په څیر د ګوند د اساسنامې د تطبیق په هڅه کې وي، د کنګرې د رابللو په موخه به هڅې وکړي تر څو د آزادو ټاکنو له لارې ګوندي لاربښوونکي مقامات وټاکل شي. پرهمدې بنسټ وو چې دې ګوندیانو په راتلونکو دوو ګوندي کنفرانسونو کې ټولې هڅې دې ته راوګرزولې چې غوره استازي هغو ته لار پیداکړي خو مشرانو یې «په ډیره سپین سترګی لستوڼي رانغښتي وو چې په انتخاباتو او کنفرانس کې د خلقیانو د مخالفت او بې نظمی مخه ونیسي.» ۴۰ / ۵۰۰ عجیبه داده چې ګوندي مشرانو د ګوندیانواصولي دریځ ته او د اساسنامې غوښتنو پلې کولو ته د خلقیانو مخالفت او بې نظمي ویله. د خلقیانو دې مشرانو نه یوازې په ګوندي غونډو کې د ګوندیانو له خوا د ناخوالو او نیمګړتیاوو خلاف د جوړوونکو نیوکو مخنیوی کاوه بلکې په کاري غونډو کې چې په یوه ځانګړي ارګان ، اداره او یا سیمه کې د ستونزو او د هغو د حل د لارو چارو د موندلو په موخه کیدلې هم د خپلو ملګرو خولې ورتړلې چې دریمه خاطره د دې مشرانو له لوري د خلقي کدرونو د روا وړاندیزونو، غوښتنو او نیوکو مخنیوی ښیي.

ج – دریمه خاطره

د۱۳۵۹ کال د دوبی میاشت وه ، د کندهار ښار امنیتي وضعیت خورا کړکیچن وو.د دې حالت نه د وتلو په خاطر د پلازمېینې نه د سیاسي بیروغړي خلقي صالح محمد زیری او پرچمي نوراحمدنور چې شوروي سلاکارانو ورته غبرګوني ورونه ویل او له هغو سره یو شوروي سلاکارهم راغلي وو. دې پلاوي د کندهار د ښار د امنیتي کړکیچن حالت له کبله د جنوب لویدیځ زون آمر او د کندهار ولایت ملکي او امنیتي مسئولین،د هغوی شوروي سلاکاران او د قول اردو مشرتابه په قول اردو کې جرګه شوي وو چې لیکوال هم پدې غونډه کې ګډون درلود. د نوموړو ارګانونو مسئولانو هر یوه د وضعیت په اړوند خپل رپوټونه ور کړل او هغه څه یې ویل چې په کابل کې د ناستو مشرانو او شوروي سلاکارانو په مزاج ښه لګیدل خو د قول اردو د قوماندان وینا له نورو توپیر درلود چې هغه د وضعیت د خرابیدو په اصلي لاملونو چې د جنوب لویدیځ زون نویو واک ته رسول شوو پرچمي مشرتابه کړنو ته ځانګړې شوې وه. د قوماندان د خبرو پر مهال زیري هغه ته وویل چې ملګری قوماندان پردې موږ پوهیږو پرنورو مسالو خبرې وکړه خو قوماندان بیا هم پرهغو مسالوغږیده چې د وضعیت د خرابیدولاملونه وو لکه په ګوند کې د یووالی نه شتون ، د پرچمیانولخوا د خلقیانو څخه غچ اخیستنه، د انقلاب د دفاع د کمیتو د کمزوري کولو هڅې او د ملکي او امنیتي ارګانونو ترمنځ د پوهاوي او همغږی نشتون او.. یوځل بیا زیري د قوماندان په خبرو کې ورګډ شواو خپله خبره یې تکرارکړه چې د کاروانې د زغم کاسه ډکه شوه و یې ویل که تاسو پوهیږئ خو زه غواړم چې ملګری نورهم پرې پوه شي .

دغونډې په پای کې د ګوند د منشیانو او د هغوی سره مل شوروي سلاکار ویناوې وکړلې او په ځانګړي ډول شوروي سلاکار وویل چې د جنوب لویدیځ زون د مشرتابه او د قول اردو د قوماندان ترمنځ د نظریووالی نه لیدل کیږي چې دا د وضعیت په کړکیچن کیدو او خرابیدو اغیزلري. میاشت تیره نه وه چې د جنوب لویدیځ د زون د مسؤلینو او د قول اردو د بولندوی ترمنځ د نظر د یووالي د تامینیدو په موخه د قول اردو قوماندان تبدیل کړل شو او پرځای یې د ظاهرشاه د واکمنی بوډا پرچمي جنرال میرطهماس رؤف مقررشو. ددې غونډې بهیر ښیي چې څرنګه زیري هغه خلقي مشر چې د قلات د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډ ګونډیانو د ده او نورو خلقي مشرانو په خاطر د شوروي په لاس کینول شوې واکمنۍ په دفاع کې ودریدل او قرباني یې ورکړې خو زیري هغه چا ته د خبرو فرصت نه ورکاوه چې د دې ګونډیانو غوښتنې او اندیښنې او د جنوب لویدیځ زون د وضعیت د ښه کېدو په موخه خپل وړاندیزونه لوړو مقامونو ته رسول .

## د نظام کاتبان او ساتونکي

د شوروي د تېري په پایله کې خلقي واکمني نسکوره او ظاهراً د کارمل په مشرۍ پرچمیانو ته واک ولېږدول شو. اشغالګرو خپلو موخو ته د رسېدو په موخه اړ وو چې یوازې په پرچمیانو بشپړباور ولري ، په حساسو ځوکیو یې وګوماري او خلقیان لکه نور افغانان تر همېشنۍ څارنې لاندې ونیسي او د خلقیانو څخه د کاتبانو په څېراو د نظام د ساتونکو په موخه افزاري ګټه پورته کړي. د اشغال په لومړیو کې د ا، خ، د ، ګ د غړو شمېر د پنځلسو زرو شاوخوا اټکل کېده چې یونیم زره یې پرچمیان وو. لدې څخه معلومیږي چې د نظام د ملاتېر خلقیانو جوړاوه. پر دې اساس شورویان اړ وو چې خلقیان په واک کې شریک او د هغوی څخه د نظام د ټینګښت په موخه ګټه پورته کړي. اشغالګرو د خلقي لښکر د کابو کولو ، له هغوی څخه د نظام د کاتبانو او ساتونکو په موخه ځیرکانه تګلاره غوره کړله چې هغوی هېڅکله هم ګډه ژبه سره و نه مومي. دا تګلاره داسې وه چې د خلقیانو یوه ډله مشران یې په واک کې ور ګډ او بله برخه یې زنداني او یا په کور کېنول چې دې کار خلقیان په طبیعي ډول په دوو ډلو ووېشل او بل دا چې د خلقیانو داسې مشران او کدرونه راپورته کړي چې د سیاسي مشرتابه ځانګړتیاوې ونلري او د دې مشرانوڅخه بیا داسې یو ځوک د خلقیانو د مشر په ستېژ ودروي چې د اړین بصیرت څخه په بشپړ ډول بې برخې، ایډیولوژی ځېلې او ښه غوړنیوونکی وي. دا مشر صالح محمد زېری وو.هغه تردې کچې د اړین سیاسي بصیرت بې برخې وو چې د شوروي د تېري څه کم دوه کاله وروسته لا پدې اند وو چې شورویان د پرچمیانو په پېژندنه کې تېروتلي دي. هغه په ۱۳۶۰ کې یوه خلقي ګوندي کدر ته دنده سپارلې وه چې د پرچمیانو د مخورو او پېژندل شوو کدرونو د ټولنیز جوړښت په اړه ورته معلومات را غونډ کړي تر څو دا معلومات د شورویانو مخې ته کېږدي او ورته ووایي چې تاسو په اشرافو او شتمنو ډېره لګولې ده . زېری پدې نه پوهېده چې د افغانستان د استخباراتو په پرتله شوروي څارګرو افغان سیاستوال ښه پېژندل چې ځوک، ځوک دي؟ زېري که د خلقیانو او پرچمیانو مشران پېژندل خو د شوروي استخباراتو نه دا چې د ګوند د مشرانو او پېژندل شوو کدرونو د اروایي ځانګړتیاوو او وړتیاوو په اړه اړین معلومات درلودل بلکې د هغوی د قبیلې او طایفې له شجرو هم خبر وو. دلته لیدل کېږي چې شورویانو له ځان او جهان بې خبره زېری د خلقیانو د مشر په توګه پرخلقیانو تپلی وو. البته زېری یو پاک نفسه، متقي او پرهېزګار سیاستوال وو او هېڅا د هغه د مالي او اخلاقي فساد خبره نده کړې.

د زېري د نه وړتیا او د پرچمیانو د لاس د وسیلې په توګه یو خلقي کدر محمدیوسف سهار په ۱۳۵۹ کال کې د کورنیو چارو د وزارت د قرارګاه د ګوندي کمېټې منشي وایي: « یوه ستره ګوندي غونډه وه او ده د غونډې مشري کوله چې په غونډه کې د اړونده وزارت د ګوندي سازمانونو د استازو سربېره زېري او جنرال عبدالقادر هم برخه لرله. په غونډه کې سلطان الدین حساس د کورنیو چارو د وزارت د سرحدي قواوو ( وروسته د انقلاب د دفاع عمومي قوماندانی ) سیاسي آمرمخکې لدې چې خپله لیکلې وینا غونډې ته واوروي په شفاهي ډول یو شعر (موږ سره خلقیان یو) وویلو. د دې شعرپه ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خلقیانو چکچې کولې ، پرچمیان جګ شول او له تالار څخه د وتلو په موخه د دروازې په لور وخوځېدل. دا مهال ګلابزوی د کورنیو چارو وزیر وویل مه یې پرېږدئ ! خلقیانو د پرچمیانو د وتلو مخه ونیوله او هغوی اړ شول بېرته خپلو ځایونو ته راستانه شي. دا مهال زېري را ته وویل ویناوې ختمې اعلان کړئ او د غونډې پرېکړه لیک ولولئ. غونډه د پرېکړه لیک په لوستلو سره پای ته ورسېدله. د غونډې وروسته زېري زه په خپل موټر کې کښېنولم او په مرکزي کمېټه کې یې نوراحمدنور ته ودرولم او هغه ته یې وویل چې دې سرې ګوندي غونډه اخلال کړه. نور د غونډې د څرنګوالي پوښتنې را څخه کولې او ما هم معلومات ورکول چې دا مهال ګلابزوی دفتر ته را ننووت او ما ته یې وویل وزارت ته لاړشه ، زه هم جګ شوم او د دروازې په لور وخوځېدم. نور غږ را باندې وکړ ودرېږه، ودرېږه خو زه د هغه له دفترڅخه ووتم .» زېري د دې پر ځای چې په غونډه کې او یا د غونډې وروسته دا بې ارزښته پېښه او غونډه وارزوي، جاج یې واخلي د غونډې پرمخ وړونکی د یوه مجرم په څېر د ګوند بل منشي ، خو د واکمن فرکسیون ځواکمن منشي ته ودروي چې دې خلقي مجرم ته سزا ورکړي.

البته دا یوازې زېری نه وو بلکې د زېري په څېر یې هغه خلقیان ظاهراً په لوړو څوکیو ګومارل چې د پرچمیانو د دیکتې او دستورونو د پلې کولو پرته د خپلو قانوني واکونو څخه د ګټې پورته کولو وړتیا او مېړانه نلرله او یوازې د کاتبانو په شان د خپلو شوروي او پرچمي آمرانو د هدایتونو پر اساس ګامونه او چتول. په خلقي مشرانو کې یوازې سروري، ګلابزوی او شهنوازتنې د خپلو واکونو څخه ګټه پورته کړې ده . اکثریت خلقي کدرونو د خپلو مشرانو دریځونو او مشورو ته په کتو سره ورته دریځ نیولی وو او پدې ډول د نظام د کاتبانو او ساتونکو دنده پرمخ وړله. البته داسې کدرونه هم لږ نه وو چې د خپلو قانوني واکونو څخه یې په سمه توګه ګټه پورته کوله او په ګوندي ژوند کې یې د ګوندي اصولو او پرنسیپونو له مخې عمل کاوه خو د هغوی د لا غوړېدنې مخه نیول کېده، ترور او له دندو شړل کېدل ، په پاسیفو دندو ګومارل کېدل او خلقي مشرانو هغوی منفي بافان، ماجراجویان او فرکسیونبازان ګڼل. شوروي سلاکاران چې د ۱۳۵۸ کال د مرغومې د شپږمې وروسته په ګوندي او حکومتي بنسټونو او وسلوالو ځواکونو کې بشپړ واک درلود د خلقیانو هغه پوځې کدرونه را جګول چې پرنسیبي، وړ، پوه او د آرام کرکتر خاوندان وو او پرچمیانو بیا معامله ګر، څوکۍ پال، ناپوه او فاسد خلقیان را پورته کول او د ژمنو او با پرنسیبه خلقیانو د راپورته کولو مخه یې نیوله . لکه څرنګه چې د اشغال وروسته ملي مقاومت پیل شو ، امنیتي حالات کړکېچن شول او د وسلوالو مخالفینو سره مبارزه یوه حیاتي مسآله ګرزېدلې وه همدا لامل وو چې په امنیتي ارګانونو کې د خلقیانو له ظرفیت څخه شورویانو پوره ګټه پورته کوله او هلته یې زړور او وړ خلقي افسران د جنګي جزوتامونو مشرتابه ته راپورته کول خو د پرچمیانو هڅې پدې را څرخېدلې چې د زړورو، اصولي او ژمنو خلقیانو پرځای د آرام کرکتر خلقیان لوړو څوکیو ته را پورته کړي ترڅو د پرچمیانو د یکه تازۍ په وړاندې و نه درېږي. په شوروي- پرچمي حکومت کې د پرچمیانو او خلقیانو د رول او ځای په اړه چې پرچمیان د نظام لوړپوړي او آمران او خلقیان د نظام کاتبان او مادونان وو د کارمل لومړی شوروي پوځي سلاکار مسکو ته په یوه رپوټ کې داسې راوړي :« د پرچم د غړو شمېر اوس یو نیم زر تنو ته رسېدلی دی. دا د سرسر کسان، ممتاز وګړي دي او په عمومي توګه په پلازمېینه کابل ،وزارتونو، مرکزي کمېټه ، ادارو او ولایتي مرکزونو کې واک د همدوی په منګولو کې دی. خو خلقیان دیارلس یا دیارلس نیم زره تنه دي چې په اردو کې اکثریت جوړوي ...، په دغسې یوه حالت کې نو ده(کارمل) او پرچمي پلویانو یې کولی شول په مرکز او اطرافو کې د مشرتابه حق له ځان سره وساتي او خلقیان شاته ، فرعي رول ته پورې وهي.» ۷ / ۶۶ ، ۹۷ په امنیتي ارګانونو کې خلقیانو ته اړتیا او د شورویانو له لوري د هغوی ملاتړ اوغوښتنو ته هرکلی د سیاست او سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبو څخه بې خبرو خلقیانو او پرچمیانو کې دا ګومان پیدا کړی وو چې په پوځ او څارندوی کې شوروي سلاکاران د خلقیانو پلویان دي . دوی پدې نه پوهېدل چې شوروي سلاکاران د خلقیانو نه د واکمنۍ د ساتنې په موخه ګټه پورته کوي نه دا چې هغوی د خلقیانو پلویان دي. ښایي ځېنو شوروي سلاکارانو د انقلاب د ساتنې په چاره کې د خلقیانو رښتینولۍ ته په کتو سره د هغوی سره خواخوږي هم لرله خو د شوروي دولت پالیسي د پرچمیانو په ملاتړ او د خلقیانو د کمزورلو او د هغوی څخه د افزارو په توګه د ګټې اخېستنې پر محور څرخېدله. پدې هکله به هم د جنرال مایوروف د کارمل له پوځي سلاکار ولولو چې پرچمیانو غوښتل د خلقیانو سټه په پوځ کې هم وباسي خو شورویانو یې مخه نیوله :« که چېرته مو مخه نه وای نیولې نو وختي به لا د دې پوځ نښه هم نه وای. واک به د پرچم ممتازو وګړو ته رسېدلی وای او بیا به نو څوک نه وای چې د جګړې ډګر ته ولاړشي.» ۷ / ۲۹۹

په لوړو مقامونو د خلقي کدرونو د ګومارنې په اړه ټوکې ته د ورته یوې پېښې یادول اړین برېښي. لیکوال په ۱۳۶۰ کې د دفاع وزارت په سیاسي ریاست د تبلیغ او ترویج په مدیریت کې دنده لرله او په هغه څانګه کې چې یې کار کاوه یو بل د آرام کرکټر، ژمن او پاک زړي خلقي ( ډګروال عبدالرزاق پیکار)هم کارکاوه . دا خلقي د کورنیو چارو د وزارت د سیاسي ریاست د تبلیغ او ترویج مدیر محمد کریم سرباز د خپل مرستیال په توګه د دفاع وزارت څخه تبدیل کړ. لکه څرنګه چې خبره د یوه وزارت څخه بل وزارت ته د سیاسي کارکوونکي تبدیلي وه د تبدیلۍ دا بهیر د ګوند د مرکزي کمېټې له لارې ترسره کېده. په مرکزي کمېټه کې د کورنیو چارو د وزارت د تبلیغ اوترویج د مدیریت مرستیالۍ ته وړاندېز شوی کدر د کورنیو چارو د وزارت د سیاسي رییس د مرستیال په توګه وټاکل شو. پدې ډول چا چې هغه د خپل مرستیال په توګه پېشنهاد کړی وو هغه د ده د آمرپه توګه وګومارل شو. علت یې دا وو چې پیکار د آرام کدر خاوند وو . پرچمیانو د آرام کرکټراو کمزورو خلقیانو د پورته کولو څخه دوې موخې لرلې . لومړی دا چې ښه غوړنیوونکی همکاران ولري او بل دا چې غیر ګوندیانو او ولس ته وښیي چې خلقیان غوره ، پوه ، وړ او تکړه کدرونه نلري. پرچمیانو چې د زړورو او ژمنو خلقیانو د ځپلو تګلاره غوره کړې وه دا ډله خلقي کدرونه اړشول چې په ملکي ادارو کې دندې پرېږدي د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته مخه کړي اوهلته د افسرانو په توګه مقررشي چې پدې ډول د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د خلقیانو په سنګرونو واوړي ، د نظام د ساتونکو رول ولوبوي او پدې توګه د انقلاب د سون په توکو هم واوړي. د اشغال د دوام او د بلواک نظام د ساتنې له امله هم قرباني شي او هم د خپلو خلکو دښمني وګټي. هغه مهال به پرچمیانو په خپلو کې ویل چې « خلقیان مو له اشرارو ساتي او شورویان مو له خلقیانو.»

ښایي لوستونکي ته دا پوښتنه پیدا شي خلقیان چې شورویانو یې هېواد اشغال او د دوی حکومت نسکور او دوی یې بېواکه کړل او دښمنانه چلند هم ور سره کېده خو بیا یې هم د اشغال لاندې حکومت کې دنده ترسره کوله ولې د اشغال خلاف ونه دربېدل ؟ دې پوښتنو ته هغه مهال ځواب ورکول کېدای شي چې د هغه مهال د ملي او نړیوالو شرایطو سربېره په خلقي ګوند کې واکمن ذهنیت ، د خلقیانو کورنۍ وضعیت ، ټولنیز جوړښت او د خلقیانو په وړاندې د وسلوالو مخالفینو دریځ په پام کې ونیول شي . همدا رنګه د دې مسألې واقعبینانه ارزونه هغه مهال شونې ده چې دا ارزونه د افغانستان د ننیو شرایطو له مخې نه بلکې د افغانستان د هغه مهال د شرایطو له مخې ترسره شي. دې ټولو مواردو ته په کتو سره د اشغال لاندې حکومت سره د خلقیانو د همکارۍ په اړه شپږو ټکو ته باید پام را وګرزول شي چې پورتنۍ پوښتنې ته ځواب پکې شتون لري :

۱ـ غوڅ اکثریت خلقیان د خوارو او بې وزلو کورنیو له لمنې راوتلي وو . د ژوندي پاتې کېدو یواځېنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منبع يې تنخوا وه . لدې امله خپلې کورنۍ ته د نفقې د برابرولو په موخه اړ وو په دولتي ادارو او امنيتي ارګانونو کې دندې ته دوام ورکړي او پدې ډول لکه لسګونه زره نور ماموران او افسران په دولت کې کار وکړي. د دولتي ادارو او امنيتي ځواکونو څخه په وتلو سره که په کوم شخصي کار بوخت شوي هم واى د جلب او احضار د ګروپونو له لوري نيول کېدل او پوځي خدمت ( عسکري مکلفيت او احتياط دورې ) ته سوقېدل . پدې توګه بيا هم د اشغال په چوپړ کې درېدل.

۲– ببله کومه شکه د هر هېواد وال رسالت او مسوليت دى چې د اشغالګرو په وړاندې ودريږي . خلقيانو د شوروي اشغال پورې د محمد داود او خلقي واکمنيو کې دندې لرلې. دوى د جمهوري دولت او خلقيانو خلاف د جهادي ډلو مبارزه او کارنامې ليدلې وې چې هغه د دولتي مامورينو په تېره ښوونکو په ترور او د دولتي ، اقتصادي او ټولګټو بنسټونو په ورانولو او سوزولو کې خلاصه کېدلې نه يې غوښتل د جهاد په نامه د تنظيمونو په ليکو کې ودرېږي او خپل هېواد وران او روڼ اندي ووژني.

۳– د ثور د وسلوال پاڅون وروسته په پاکستان او ايران کې جوړشوو تنظيمونو د خلقيانو په وړاندې د سياست اوسياسي لوبو څخه د ناخبرو افغانانو د تېرايستنې په موخه د خلقي حکومت او خلقيانو پر ضد ډول ډول فتواګانې ورکړې وې. د بېلګې په توګه د مجاهدينو په يوه اعلاميه يا فتوا کې راغلي وو:« د يوه خلقي ( د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوندغړي) وژل د اتيا زرو لمونځونو ادا کولو ثواب لري. پدې تبليغاتو کې د يوه ملا له قوله ويل کېدل چې زموږ ځوانان په يوه لاس کې قرآن او په بل لاس کې ټوپک ( د کمونستانو) پرضد جنګېږي.» ۲۱ /۱۵۸ کله چې يوه بېسواده له سياست او سياسي لوبو بې خبره سپېڅلي مسلمان ته يو ملا د يوه خلقي د وژلو له امله د دومره زيات ثواب خبره وکړي هرومرو به خلقي وژني او خلقيانو د خپلې واکمنۍ پرمهال د داسې پېښو شاهدان هم پاتې شوي وو . دوى جرآت نه کاوه چې د شوروي د يرغل وروسته خپلو کليو ته ولاړشي او يا دا چې د تنظيمونو په ليکو کې ودرېږي. يو شمېر خلقيان چې د اشغال وروسته خپلو کليو يا پاکستان او ايران ته ولاړل هلته د جهادي ډلو او يا د نوموړو هېوادونو د خارګرو له لوري ووژل شول.

۴- غوڅ اکثريت خلقيان چې لوستي وو او د دې واقعيت د درک وړتيا يې لرله چې ايران او پاکستان د افغانستان سره تاريخي ستونزې لري ، د نظام د مخالفينو مرکزونه په همدې هېوادونو کې دي او د جهاد لارښوونه او قومانده هم د همدې هېوادونو په لاس کې ده چې دا هېوادونه د افغانستان بربادي غواړي لدې امله يې نه غوښتل د تنظيمونو غړيتوب ترلاسه کړي او د خپل هېواد د تاريخي دښمنانو د لاس وسيله شي.

۵ – يو شمېرخلقيانو انقلاب او حکومت خپل ګڼل او پدې باور وو چې شورويانو د دوى د حکومت په نسکورولو کې تېروتنه کړې ده او واک يې پرچم ته ولېږدولو او شورويان به په خپله تېروتنه وپوهېږي او واک به بېرته دوى ته وسپارى.لدې امله يې په واکمنۍ کې چوپړ ته دوام ورکړ.

۶- يوه ډله خلقيان د هغه مهال د غولوونکي سياسي شعار( پرولتري انټرناسيونالېسم) ، ځېنې د څوکۍ او مقام د ساتلو او يا لاسته راوړلو په موخه په صادقانه ډول د نوي رژيم په چوپړ کې هم ودرېدل.

## د شوروي – پرچمي واکمنۍ تګلاره

د شوروي اشغال پر مهال مسکو د وخت د واکمنۍ د تګلارې ستراتيژيکي کرښې ټاکلې، شوروي سلاکارانو د ګوند د مشرانو ويناوې،دستورونه او امرونه ليکل او افغان مشرانو به د وياندويانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځېر هغه لوستل او هغه به يې د خپلو دستورونو او امرونو په نامه خپلو مادونانو ته ورکول. پردې بنسټ د پرچمي واکمنۍ د مهموحياتي پريکړو د نيولو واک د شوروي اړخ سره وو. البته د فرعي پريکړو د نيولو واک يې افغان لوري ته ورکړی وو. کارمل په خپله دوهمه تلويزيوني - راډيويي وينا کې د خپلې واکمنۍ د تګلارې اساسي کرښې وړاندې کړلې چې په يوه برخه کې يې راغلي وو :«د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت نوې انقلابي شورا،ځان د ثور انقلاب د لوړو ارمانونو ادامه او وده ورکوونکې اعلانوي او خپله لومړۍ دنده ګڼي چې د ثورآزادي بښونکی انقلاب صراط المستقيمه لار ونيسي ، غملړلې تيروتني اوغلطۍ اصلاح کړي،غميزې جبران کړي او کړکيچ حل کړي ... » ۱۸۶ / ۸ په تګلاره کې د رژيم د ټولنيز بنسټ په ټينګښت ، د سياسي بنديانو په آزادۍ، د وګړو د خپلسره ځارنې او نيونې مخنيوی، د کورونو او د عقايدو د پلټنې په ممنوعيت، د اعدام د قانون او همداراز د ټولو دموکراتيک ضد او انساني ضد مقرراتو پر لغوې ټينګار شوی وو. کله چې د انقلاب د نوي بشپړتيايي پړاو او يا د انقلاب د لوړو ارمانونو د ادامې او ودې خبره کيږي معنی يې دا ده چې د ثور له وسله وال پاڅون وروسته پيل شوي ريفورمونه ، په هغو کې د ترسره شوو غلطيواو تيروتنو په سمولو سره ادامه پيدا کړي. د انقلاب په بشپړتيايي پړاو کې پيل شوو ريفورمونو نه دا چې دوام و نه موند بلکې ترسختو نيوکو لاندې ونيول شول او په ټپه ودرېدل. کله چې په يوه ټولنه کې د انقلاب خبره کيږي اړينه بريښي چې په اقتصادي برخه کې د واکمنو توليدي مناسباتو د ماتولو په خاطر عملي ګامونه پورته شي کوم چې د ټولنې د پرمختګ خنډ ګرزي يا دا چې د دولت په سياسي جوړښت او د دولت او ټولنې د ادارې په څرنګوالي او په اقتصادي او فرهنګي برخه کې سمونونه او بدلونونه راشي . په افغانستان کې د يوه زراعتي هېواد په توګه د انقلاب معنی بې ځمکو بزګرو ته د ځمکې په وېش ، د شاړه ځمکو خړوبول ، د کوچيانو د څړځايونو د ستونزې حل او د اوبواو برېښنا بندونو او کرنيزو فارمونو جوړول وو. د انقلاب په دې پړاو کې د ګوتو په شمېر بزګرو ځمکه ترلاسه کړله چې هغې هم لنډمهاله تبليغاتي موخې لرلې. د سارې په توګه« د۱۹۸۲ کال په پسرلي کې دکتورلکنوال د کرنې اوځمکو د اصلاحاتو وزير د عسکري ټولګيو سره يوځای د چهارآسياب ولسوالی ته ولاړ او پنځو بزګرو ته يې ځمکه ورکړه دا نندارہ په رسنيو کې په پراخه ډول تبليغ شوه خو بله ورځ بزګران د بغاوت کوونکو له ډاره د ځمکو له اخيستلو ډډه وکړه.» ۱۰۶ / ۲۹۳ دا پرچمي وزير امريکې ته د يوه رسمي سفر پرمهال ښرته هيواد ته راستون نشو او هلته يې سياسي پناه واخيستله.

که څه هم مسکو ليوال وو چې په افغانستان کې يوڅه تر سره کړي ترڅو پخپلو تبليغاتو کې د ويلو څه ولري .خو د نيواکګرو خلاف ملي مقاومت پيل شو، امنيتي وضعيت لا کړکيچن شو او د اصلاحاتو او ريفورمونو د پلې کولو امکاناتو شتون نه درلود. لکه څرنګه چې نوې واکمنۍ د پرمختيايي پروژو د پلې کولو شونتياوې نه ليدلې خپل پام يې روبنايي چارو ته راوګرزاوه پدې برخه کې لومړی ګام د پلاروطني ملي جبهې جوړول او د تېرو واکمنيو پرمهال د جوړشوو ټولنيزو او صنفي بنسټونو وده او پراختيا وه . د پلاروطني ملي جبهې د جوړولو څخه موخه د هيواد په سياسي – ټولنيز بهير کې د ټولنې مختلفو قشرونو او طبقو ته د ګډون شرايط برابرول ، د حکومت د وګړنيز ملاتړ پياوړي کول او د مخالفينو په ليکو کې د اختلاف اچول وو. دې کار په لومړيو کې يو څه برياوې لرلې خو وروسته وليدل شول چې د جبهې مشري او رهبري واکمن ګوند لري او د نورو د نوښت او رول مخنيوی کيږي جبهې په ولسونو کې ريښې ونه زغلولې . وروستيو پيښو وښودل چې جبهه د ګټې پرځای په زيان واوښته ، په دې معنی چې يو شمير ډلو او کړيو چې د هماغه پيل نه يې خپلې موخې لرلې په جبهه کې د ګډون له امله ځانونه غښتلي کړل او په تيره « د شمال ځواکونو د همدې جبهې تر نامه لاندې قوت او امکانات تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه کړل او د مرکزي حکومت د ماتي او نسکورېدو شرايط يې برابر کړل. »۱۹۷/ ۱۵۸ دا چې پلاروطنه ملي جبهه په يوه ځواک وانه وښتله س. کشتمند هغه « د پور ته څخه د واک د ويش لپاره د اړينې سياسي ارادې نشتون او د سياسي کثرت گرايۍ او سياسي پلوراليسم نه منل »۳۹ / ۶۷۸ گڼي .د پرچمي مشرانو څخه يوه د پلاروطني ملي جبهې په هکله د ټوکې په انداز ويلي وو چې موږ د جبهې پر ځای جبه جوړه کړله.

د پلار وطني ملي جبهې سربيره په نوي بشپړتيايي پړاو کې يو شمير هغو شوروي پلوه گوندونو ته چې د ثور له پاڅون مخکې شتون درلود د سياسي فعاليت اجازه ورکړله او دې سازمانونو ته ور ته ځيني نور سازمانونه هم راڅرگندشول. د زيري په وينا ددې گوندونو « د غړو شمير لږ او د خاد څخه يې مالي مرستې ترلاسه کولې. » ۴۰ / ۵۴۵ خلکو دا گوندونه دولتي گوندونه بلل او د هيواد په سياسي بهيراو د امن او ټيکاو په ټيگښت بې اغيزې وو. لياخسفکي چې په خپل کتاب کې يې زياته هڅه کړې چې شوروي اشغال توجيه کړي ، پرچم فرکسيون يو منځلارى سازمان او احمدشاه مسعود په جهادي قوماندانانو کې ورږ سياسي شخصيت معرفي کړي د نورو کيڼ لاسو په اړه د کارمل د مخالف دريځ د نيولو خبره کوي او ليکي: « ببرک کارمل او همفکرانو يې د هيچا سره د همکارۍ ليوالتيا نه لرله ، د هيچا سره يې د واک ويشل نه غوښتل او برعکس گوندیان يې پردې قانع کول چې اړينه نده د کيڼ لاسي دموکراتيک ځواکونو سره گډه ژبه ومومي...» ۴۹ / ۳۶۲ کارمل واک ته په رسيدو سره امين لدې امله غندلو چې د ملي – دموکراتيکو ځواکونو سره د گډې ژبې د موندلو او گډې همکارۍ ليوالتيا نه لرله او د هغوی په بيرحمانه ځپلو يې لاس پورې کړ خو ده هم ورته دريځ ونيولو پدې توپير چې په تبليغاتو کې يې د نورو ډلو په پټه لهجه نرمه وه خو زندانونه د تېرې واکمنۍ په څېر له وسلوالو او غيروسلوالو مخالفينو ډک وو. څرنگه چې د ثورانقلاب د بشپړتيايي پړاو د واکمنۍ بنسټ په دروغو او هغه هم د پرديو پوځيانو پرمټ کيښودل شو تر پايه پورې پر دروغو، سياسي او اپراتيفي لوبو او معاملو ولاړه وه. پدې زمانه کې نه يوازې فرمايشي گوندونه جوړيدل بلکې« د کارمل او د نجيب د واک د پيل د مرموزې پاليسی له امله گوندي کارکوونکي اړکيدل چې په مستعارو نومونو ليکنې وکړي.» ۱۸/ ۷۴ دا د کارمل د دماگوژۍ پاليسي وه چې موخه يې د خلکو تېرابستنه وه.

د کارمل د واکمنۍ په لومړيو(د۱۹۸۰ کال د جنوري په اوومه ) سياسي بنديان آزادشول او د واکمنۍ هغه ډله مخالفين چې د انقلاب په لومړي پړاو کې د دولتي ضد فعاليتونو په تور بنديان او وژل شوي وو د هغوی کورنيو ته د غم شريکۍ د ښودلو په موخه د۱۹۸۰ کال د جنورى ديارلسمه د ملي وير او د شهيدانو د ورځې په نامه رخصتي اعلان کړله او د عيدگاه په جومات کې د فاتحې د اخيستلو مراسم ونيول شول . دا فاتحه د ببرک کارمل او اسدالله سروري په حضورکې چې د يوې سياسي ننداري پرته بل څه نه وه واخيستل شوه . ځېنو دا فاتحه د پرچميانو او نورو د کارمل – سروري فاتحه بلله حتی د دا ډول فاتحي اخيستل په خپله د پرچم مشرتابه ته هم يوه مسخره ننداره بريښيده لکه څرنگه چې نوراحمد نور د گوند د سياسي بيروغړي او منشي ويلي وو: « د پرچميانو او ټولو سياسي بنديانو کار خو د اگسا له خوا کيده چې سروري صاحب يې رئيس و موږ هم د پرچميانو د شهيدانو بازماندگانو ته سروري د فاتحه اخيستونکي په څير کښينولی و.» ۴۰ / ۴۸۸ که چيرې هغه مهال د ملي وير په نامه کومه ورځ ياديده نو هغه د مرغومي شپږمه وه.د اشغال لاندې واکمنۍ دا د ملي وير او شهيدانو ورځ يوازې هماغه کال د عمومي رخصتۍ په توگه ونمانځله او بيا هغه هېره شوه ځکه چې «د مصيبت د مرغه ( خاد) د لومړي کال په واکمنۍ کې دومره خلک مړه او تاراو مار شول چې نور نو شرم وو چې د شهيدانو د ورځې په نامه کومه ورځ ياده شي.» ۱۸ / ۱۸۸ نوې واکمنۍ د يوې سترې ستونزې سره لاس او گريوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې هغه د پوځ او نورو امنیتي ارګانونو د لیکو پیاوړتیا وه چې د جنګ جګړو له امله یې منسوبان وژل کیدل ، معلولیدل او تښتیدل. د پوځ څخه تېښته واکمنی ته یوه ستره ستونزه وه. له بلې خوا د عسکري مکلفیت وړ ځوانانو نه غوښتل چې د نیول شوي هیواد په وسله والو ځواکونو کې خدمت وکړي . واکمنې اړه شوله چې د عسکري مکلفیت په قانون کې په پرله پسې توګه بدلون راوړي چې عسکري ته د جلب سن له یوویشت نه شلو او بیا اتلسو کلو ته راټیټ او د عسکري مکلفیت د خدمت دوره هم زیاته کړي. همدارنګه د احتیاط دورې هم خدمت ته راوبولي او عسکری مکلفیت او احتیاط د دورې موده په پرله پسې ډول غزوله یا پخپل وخت ترخیص ورنکړل شي . دا ډول حالت سرتېرو ته د زغم وړ نه وو همدا لامل وو چې په ځینو جزتامونو کې د اعتراض په توګه مظاهرې هم ترسره کېدلې. په امنیتي ځواکونو کې د سرتېرو لړوالی حکومت ته دومره ارزښت پیدا کړ چې د جلب او احضار ګروپونو به له کوڅو او بازارونو او کورونو نه ځوانان نیول او عسکري خدمت ته استول یعنی دا چې جلب او احضار د انسانانو د دولتي اختطاف بڼه نیولې وه . د جلب او احضار هغو ډلو به چې زیات شمیر ځوانان اختطاف کړي وو په نقدي مکافاتو ، مډالونو او فوق العاده ترفیع ګانو نازول کیدل . په هیواد کې د ملي مقاومت د پیلیدو، د وخت په تېرېدو سره د نوي رژیم په وړاندې د مخالفتونو زیاتیدل او له هیواد نه د تیښتې د بهیر زیاتوالی د دې سبب شو چې د هیواد څارګره اداره خورا پلنه شي ترڅو په دولتي مامورینو او خلکو خپل کنترول او څارنه لا زیاته کړي.نوې واکمنۍ پدې پوهیدله چې د پخواني څارګرې ادارې ( اګسا او کام ) د چلند نه ولس ناوړه خاطرې درلودلې له دې امله یې د هغې نوم په خدمات اطلاعات دولتي ( خاد ) واړاوه خو د خلکو او بندیانو سره یې په چلند کې کوم بدلون رانغی تر دې چې په ډېرو مواردو کې د بندیانو سره د خادېستانو چلند وحشیانه وو چې څرنګه بندیان په روحي او فزیکي ډول شکنجه کړي ترڅو اړین معلومات ترې ترلاسه کړي او یا هغه څه ووایي چې خادېستانو غوښتل. د ساري په توګه د پرچمي واکمنۍ مخکې دورو کې په صدارت کې توقیف شوي کسان په داسې کوټو کې ساتل کېدل چې رڼا وې خو په پرچمي واکمنۍ کې د کوټو د کړکیو شیشو ته تور رنګ ورکړل شو چې بندیانو ته یې ورځ هم په توره شپه اړولې وه دا په خپله په بندي د روحي فشار راوړلو یوه هڅه وه. د وخت په تېرېدو سره د خاد اداره دومره ستره شوه چې د اطلاعاتي ادارې نه په یوه اردو او بالاخره په دولت کې پر بل دولت واوښته چې د فرقو او لواګانو او همداراز د توپونو، ټانکونو ، زره پوښونو، د لنډ مزله او اپراتیفي توغندیو او د تبلیغاتي، عدلي او قضایي بنسټونو خاونده شوه.

د نجیب الله د جمهوري ریاست په زمانه کې د خاد نوم یې د دولتي امنیت په وزارت ( واد ) واړولو ځکه چې خاد کوم چې نجیب الله یې مشر وو د زجر او شکنجې، وژنواو ډار په سمبول اوښتی وو خو خلکو د دې ادارې کارکوونکو ته بیا هم خادیستان ویل ځکه چې چلند او کړه وړه یې همغه پخواني وو یوازې یې نوم بدل شوی وو . په ولسواکه هیوادونو کې څارګرې ادارې د حکومتونو د نافذه قوانینو په چوکاټ کې فعالیت کوي او د حکومت په وړاندې د خپلو فعالیتونو او اجرآتو مسئولیت لري خو د کارمل- نجیب څارګره اداره پخپلو اجرآتو کې تردې کچې خپلواکه وه چې د حکومت مشر د هغې له تشکیلاتو څخه معلومات نه درلودل. دا اداره له دې کبله خپلواکه ،ځواکمنه او وپرسول شوه چې کارمل او نجیب الله دواړو په پوځ او څارندوی باور نه درلود او ترې وېرېدل نو هغوی پدې کې شول ترڅو خپل باوري کسان په دې ارګان کې ځای پرځای کړي او هغه په یوه ډاډمن اطلاعاتي او استخباراتي مرکز ، ځواکمن پوځ او په دولت کې په بل دولت واړوي ترڅو د ګوند، دولتي ادارو او پرګنو په کړو وړو په خپلواکه توګه د نظارت، څارنې او عدالت د پلې کولو جوګه شي.بنایي لوستونکي ته پوښتنه پیدا شي چې څارګره اداره څه ډول د عدالت د پلي کولو یو ارګان کیدای شي . واقعیت دا وو چې د امنیت د اخلالولو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دولتي ضداعمالواو سیاسي فعالیتونو تورن او شکمن کسان او همداراز د خادیستانو استنطاق او محکمه د انقلابي اختصاصي بنستونو (څارنوالیو او محکمو ) له لوري ترسره کیدل چې کارکوونکي یې خادېستان وو او د عدلیې د وزارت، ستري محکمې او د وسلوال پوځ د څارنوالی او محکمې سره یې هیڅ کاري تړاو نه درلود . له دې امله ویلای شو چې په ټولو سیاسي بندیانو، د مخالفینو سره په اړیکو شکمنو کسانو، د جګړې په ډګرکې نیول شویو جنګیالیو او د خاد په کارکوونکو د اختصاصي انقلابي محکمو له لوري عدالت پلی کیده یعني خاد- واد پرې عدالت پلی کاوه. «ببرک او د کړی ملګرو یې ژوره اندیښنه درلودله چې په وسلوال ځواک او څارندوی کې پرچمیان په سترګو نه لیدل کیږي. هغوی د داسې لارو چارو په لټه کې شول چې ربنتونی وسله وال ځواک د خاد او د ګوند د یو شمیرځانګړو فعالیتونو په ستنه ودروي. » ۱۲۴ / ۲۹۷ د شوروي له تېري وروسته د هیواد د څارګرې ادارې د پراخولو او ځواکمنولو او د هغې په مشرتابه کې د هغو ډاډمنو کسانو ګومارل مطرح وو چې د شوروي د افغاني ضد او پښتني ضد تګلارو ربنتیني پلي کوونکي وي له همدې امله « د دې ادارې زیاتره څوکی د تاجکانو په لاس کې وې چې د پنځمې ادارې د رئیس کریم بها له لوري معرفي شوي وو...، د شوروي لښکر د وتلو او د خپلواکي دفاع په مهال نجیب الله ځانګړی جنګي ګارد چې د جمهور رئیس د ګارد په نامه یې شهرت پیدا کړ جوړ او تاجک توکمه کدرونه چې له مخالفانو سره په مبارزه کې یې تجربه ترلاسه کړې وه د خاص ګارد په مشرتابه کې وګومارل .» ۱۹۸/ ۱۱ د مسکو هژمونیست واکمنان پوهیدل چې هغه مهال افغانستان پخپل شپاړلسم جمهوریت اړولی شي چې اکثریت په اقلیت واړوي او واک پښتون دښمنه ړندو قومي متعصبینو ته ولیږدوي چې واک ته د کارمل رسول د همدې پالیسۍ یوه برخه وه . شوروي لیکوال اولیانوفسکی د شوروي د اشغال په هکله لیکي:« موږ ځکه افغانستان ته لښکرکشي وکړه چې د اکثریت( پښتنو) دیکتاتوري ختمه او دولتي ځواک اقلیتونو ته ولیږدوو.» د الیانوفسکي دا وینا ( درباره حقیقت انقلاب ثور) نومې رساله کې چې د بیهقي د کتاب خپرولو موسسې خپره کړه شتون درلود چې د څه مودې وروسته دا رساله د منفي غبرګونو له امله ټوله شوله.

د ثور انقلاب په بشپړتیایي پړاو کې د پښتنو ضد تګلاره او د پښتو ژبې د ودې مخنیوی په خورا ماهرانه ډول پلی شو. د پښتنو د سیمو بمبارد او پښتو د ژباړې په ژبې اړول یې څرګندې بیلګې دي. د شوروي اشغال مخکې مشهورو ورځپاڼو لکه ثورانقلاب ، خلق ،انیس ، هیواد، اصلاح او نورو کې لیکنې د هیواد په دواړو رسمي ( پښتواو دري ) ژبو په متوازنه توګه تر سترګو کېدلې . د کارمل په واکمنېدو سره د ثورانقلاب ( دافغانستان دخلق دیموکراتیک ګوندنشراتي ارګان ) ورځپاڼې نوم د ثورانقلاب حقیقت باندې واوښت چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند نشراتي ارګان، پراودا ( حقیقت ) څخه اخېستل شوی وو. د خلق د جریدې خپرونې ودرېدلې . د خلق جریدې لیکنې د هماغه پیل څخه په پښتو او دري وې خو د پرچم په جریده کې غوڅ اکثریت لیکنې په دري وې او یوازې اعلانونه او شعرونه په پښتو ژبه خپرېدل. د پرچم په جریده کې پښتنو لیکوالو لکه خیبر او لایق هم په دري ژبه لیکنې کولې. د نوي حکومت په نشراتي پالیسی کې یو څرګند بدلون راغی. د لوړ تیراژ لرونکي ورځپاڼې په دري ژبه واوښتې او په هغو کې خپرې شوې لیکنې به په پښتو ژبه ژباړل کیدې چې دې ژباړنې تاکلی وخت نیولو. په دري ژبه خپرې شوې ورځپاڼې به په ښارونو او دولتي بنستونو کې وویشل شوې او پښتو ژباړه به یې وروسته د چاپخانې راووتې چې د لوستلو اړتیا یې نه لیدل کیده ځکه چې پکې خبرې شوې لیکنې یې په دري - پارسي لوستې وې. ددې ډول پالیسۍ د پلې کولو څخه واکمنۍ دوې موخې لرلې. یو دا چې پښتو ژبه د ژباړې ژبه شي چې د یوه پوه په وینا ژباړه د ژبې پښتې ماتوي . بله دا چې پښتون لیکوال دا امکان ونلري چې د لومړي لاس ورځپاڼې ته پخپله ژبه مطلب ولیکي پدې ډول پښتون لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوړیدو چانس نه درلود او ضمناً د مادي امتیاز څخه هم بې برخې کیده. د پرچم په واکمنۍ کې نه دا چې د پښتو ژبې د ودې مخنیوی کیده بلکې د پښتون قوم سپکاوی ته هم ملا تړل شوې وه .پدې هکله محمدصدیق روهي لیکي:« ما یوه ورځ د څو تنو په مخکې یوه غټ پرچمي ته وویل : تاسې څنګه اجازه ورکوئ چې په کابل پوهنتون کې داسې کتاب تدریس شي چې هیڅ علمي ارزښت نلري خو یوازې پدې خاطر تدریس کیږي چې پښتنو ته ښکنځل پکې راغلي دي . د مثال په توګه پوهاندجلال الدین صدیقي لیکي چې پښتانه قبایلي خلک دي او قبایل ننګ او ناموس نه پیژني . البته واقعیت ددې په خلاف دی ، پښتنو ته له ناموس ساتنې څخه بل شی زیات ارزښت نه لري ...، ده په ځواب کې وویل : زه پوهاند جلال الدین صدیقي ته په دې درناوی کوم چې تراوسه پښتنو ته څه ویل ټابو( ممنوع) ګڼل کیدل خو ده د لومړي ځل لپاره پښتانه د تقدس له حریم نه راوایستل او د دوی غرور یې ورمات کړ.»۱۹۹ د شوروي اشغالګرو د ګوډاګیانو دښمني د پښتو ژبې سره لدې هم معلومیږي چې په ټلویزیون او سینماګانو کې یې د پښتو فلمونو په ښودلو بندیز ولګاوه پدې پلمه چې په هغوکې د بې حیایۍ صحنې دي او د دښمن هیواد لخوا جوړشوي دي.« ترکومه چې د بې حیایۍ خبره ده پرچمیان د ایراني ،عربي نڅاوو په ښودلواو په تلویزیون کې د افغاني نجونو په نڅولو سره پخپله د بې حیایۍ تشویق کوونکې وو.» ۱۹۹که د بې حیایۍ خبره وي نوهغه مهال په ټلویزیون او سینماګانو کې د روسي او تاجکي فلمونو بازارخورا تود وو. په شوروي اتحاد کې د ښځو مخ لوڅې ، د وجود د نوروغړو بربنډتیا او په عامه ځایونو کې د نجلی او هلک ښکلول یوه عادي پدیده او معمولي دود ګڼل کیده چې په روسي او تاجکي فلمونو کې دا صحنې ترسترګوکیدی چې په پښتو فلمونو کې نه وې. لدې څخه بریښي چې د پښتو فلمونو د نه ښودلو څخه موخه د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ مخنیوی وو او دا هغه څه وو چې شوروي اشغالګرو غوښتل. دا برخه به په ننګرهار کې د کارمل د ځای ناستي پښتون نجیب الله چې پښتنو ننګرهاریانو ته یې په دري وینا کړې وه د پای ټکی کېښودل شي. کله چې هغه یوګوسلاویا ته د ناپییلوهیوادونو د غونډې په نیت روان وو د جلال آباد په ښار کې تم شو. له خلکو یې وپوښتل په پښتو خبرې وکړم که په دري؟ ټولو وویل په پښتو. خو ده وویل ښښه غواړم په یوګوسلاویا کې څوک په پښتو نه پوهیږي او هلته زموږ پښتو ترجمانان نشته او پښتنو ننګرهاریانو ته یې په دري وینا واوروله. د نجیب الله د دې خبرې په هکله چې په یوګوسلاویا کې څوک په پښتو نه پوهېږي په دري هم نه پوهېدل . په دري ژبه د نجیب الله د وینا علت دا وو چې هغه ته وینا شورویانو لیکلې او شوروي تاجکي ژباړونکو ژباړلې وه او نجیب الله اړ وو هغه پښتنو ننګرهاریانو ته په دري ژبه ولولي.

## د اشغال په وړاندې غبرګونونه

لکه څرنګه چې د ثور انقلاب کرملن ته په شنه آسمان کې د تالندې په څیر یوه پیښه وه ، خلقیانو ته بیا د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت باندې د شوروي لښکر یرغل په شنه آسمان کې تالنده شوه . د اشغال په وړاندې غبرګونونه هم د کور د ننه او هم بهر ډېر سخت وو. افغان ولس د نیواک په وړاندې ودرېد. سلیک اس هاریسون امریکایي لیکوال د شوروي د یرغل مخکې واکمنۍ او د یرغل وروسته واکمنۍ په وړاندې مخالفتونه داسې پرتله کوي:« که څه هم د شوروي د اشغال مخکې د مارکسیستي-لیننستي رژیم خلاف نامنظم بغاوتونه ، سیمه ئیز پاشلي پاڅونونه او مذهبي مخالفتونه موجود وو، اوس د بهرنیو نیواکګرو پرضد په پراخ مقاومت اوښتي دي . » ۴۷/ ۶۷ د اشغال په وړاندې د افغان ولس مخالفت او مقاومت د الله اکبر په نعرو پیل شواو پدې ډول یې له اشغالګرو او نویو واکدارانو څخه خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرکه ځرګنده کړله.په پلازمېینه کابل کې د الله اکبر نعرې د ۱۹۸۰ کال د فبرورې په ۲۱ پیل شولې چې سهار يې کابليان کوڅو ته راووتل ، پراخ لاريونونه يې پيل کړل او شوروي او حکومتي ضد شعارونه يې ورکول، د هېواد څخه يې د پردي لښکر وتل غوښتل چې دا خوځښت د کب د دريمي نيټې په نامه ياد شو. دا سوله ييز لاريون د شوروي او دولتي ځواکونو له لوري وځپل شو.پدې هکله له کابل څخه مسکو ته د کې جي بې په رپوټ کې داسې راغلي دي :« د فبرورې له ۲۰ تر ۲۳ نېټې پورې ( چې د کب مياشتې د دريمي په پېښه شهرت لري) په کابل ښار کې د شوروي پر ضد لاريونونه را وپارېدل. د اکروکر په سمونه کې له پوځ څخه کار واخېستل شو. د ښار ګردچاپېره امنيتي کړۍ راتاو شوه. ښار ته د ننوتو لارې وتړل شوې...، د ۲۴ قطعې ۲۰۰۰ شوروي سرتيري ، دېرش شوبلې ، ۲۰۰ زغروال ګاډي او د افغان پوځ ۱۱ ټولي ( تر ۱۰۰۰ زيات سرتېري) ۴۳ شوبلې ، ۴۰ زغروال ګاډي، ورسره خوځنده راکټ لانچر لارې د ښار د څارنې د پاره په کار ولوېدل...، د خلکو د ډارولو لپاره شوروي الوتکو۱۵۸ او افغاني الوتکو ۴۹ ټيټې يرغليزې الوتنې ترسره کړې.د ۹۰۰ څخه زيات لاريون کوونکي ونيول شول او بنديان شول.» ۱۲۴ / ۲۶۳ د هغه مهال د ريشخورو د اوومې فرقې پرچمي قوماندان د افغانستان حالات داسې ارزوي :«بيله شکه په ۱۹۸۰ کې هر ځای د جګړې خبره کيدله اوهرځای د وينو او اور بوی وو. »۱۲۹ / ۲۵۱ پورتنۍ خبره په هيواد کې ملي مقاومت ښيي چې خلک د هيواد په ګوټ ګوټ کې د نيواکګرو په وړاندې جنګيدل، وينې تويېدلې ، د اور لمبې او لوګي وو . د اشغال په وړاندې په پوځ کې هم غبرګونونه منفي وو چې هغه د پوځ څخه د پوځيانو تيښته وه .« د اوومې فرقې په پنځه ځلويښتم غونډ کې چې ډګرمن عبدالباقي د جنرال عبدالرزاق خان زوی يې نوی د غونډ د قوماندان په توګه ټاکل شوی وو په يوه شپه کې دوه سوه شل تنه سرتيري د خپلې وسلې سره وتښتيدل. » ۱۲۹/ ۲۵۰ په يوه شپه د دومره زياتو سرتېرو تېښته د دې ځرګندوی ده چې سرتېرو ته نوی ټاکل شوی جنرال زاده قوماندان لکه د دولت جنرال زاده مشر هم د منلو وړ نه وو . د ثور انقلاب په بشپړتيايي پړاو کې له هېواد نه د خلکو د تيښتې بهير ګړندی شو چې پاکستاني سرچينې د جمهوري نظام د ټينګښت وروسته په نوموړي هيواد کې د افغان کډوالو د شمير لاندې ارقام ښيي : « د محمد داؤد واکمنې ( کال ۱۹۷۳ ) څوسوه تنه ، د نورمحمدتره کی واکمنۍ (کال ۱۹۷۸ ) ۱۵۹۹۰۰ تنه ، د حفيظ الله امين واکمنی (کال ۱۹۷۹ سپتمبر) ۱۹۳۰۰۰ تنه ، د ببرک کارمل د واکمنۍ پيل ( دسمبر ۱۹۷۹ ) ۴۲۱۰۰۰ تنه ، ۱۹۸۰ کال د جون مياشت (څه د پاسه يو ميليون ) ، ۱۹۸۱ کال می ( دوه ميليون)، کال ۱۹۸۲ جون ( ۳، ۲ ميليونه )، کال ۱۹۸۳ می (۸، ۲ ميليونه )» ۱۰۶ /۱۳۳ پورتنۍ شمېرې د منلو وړځکه نه دي چې د پاکستان د افغاني ضد دريځ او تګلارې څخه اغېزمني دي او کچه يې لوړه ښودلې ده خو د دې واقعيت ځرګندوی دي چې د شوروي د اشغال وروسته د هيواد څخه تيښتې قوت موندلی دی.

که څه هم د اشغال په وړاندې د ا، خ، د،ګ خلقي مشرتابه کوم منفي غبرګون ونښود خو غوڅ اکثريت خلقي کدرونو د شوروي لښکر راتګ د هيواد د ملي واکمنۍ خلاف يوعمل شميره او هغه يې د دوو دوستو ګاونډيو ولسونو( افغانانو او شورويانو) د تاريخ تراژيدي ګڼله.د نوي بهير په وړاندې د خلقي کدرونو د مخالفت له امله وو چې د۱۳۵۸ کال د مرغومې په دوولسمه د ا، خ، د،ګ د مرکزي کميټې د دارالنشاء د اداري لخوا د افغانستان په خاوره باندې د شورويانو د وسله وال تيري په هکله( تاريخي اعلاميه ) خپره شوه چې د کابل ښار په ټولو ګوندي کميټو کې وويشل شوه. ددې اعلاميې خپرونکی محمد علي هوما وايي :« د تېرې سبا ته د کابل ښار د ګوندي کمېټې منشيان ، د مرکزي کمېټې اپارات او نور خلقيان د شوروي يرغل په اړه ډول ډول پوښتنې او د غبرګون په اړه ځرګندونې کولې چې څه وکړو؟ ما به هغوی ته اړين توضيحات ورکول خو دې لړۍ دوام درلود او بالاخره دې پايلې ته ورسېدلم چې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلاميه خپره کړم.» دلته ليدل کيږي چې د شوروي ځواکونو د راتګ په وړاندې د خلقيانو منفي غبرګون د ګوند د دارالنشآ د څانګې مشر اړ ايستلی چې د اشغال خلاف اعلاميه خپره کړي. همدا رنګه په ځينو ګوندي سازمانونو کې د کنګرې د دايرېدلو وړانديزونه وشول چې کنګره د نويو حالاتو جاج واخلي او د ګوند نوی مشرتابه وټاکي. د شوروي د يرغل په وړاندې د نړۍ او په هغو کې د شوروي ټولنې غبرګون ته ځغلنده کتنه وشي .

## الف ـ افغانستان ته د شوروي لښکر د استولو په وړاندې د شوروي ټولنې غبرګون

شوروي ميډيا افغانستان ته د خپل لښکر استول د افغانستان د حکومت غوښتنه تبليغوله او دا يې هم ورسره غبرګول چې حفيظ الله امين د سي آی اې جاسوس غوښتل افغانستان د شوروي خلاف د امريکې په يوه اډه واړوي .هغه مهال په شوروي ټولنه کې آزادو رسنيو شتون نه درلود ، د لويديځ او حتی د بهرنيو راډيوګانو اوريدل جرم ګڼل کيدل او هغه څه يې چې د افغانستان د حالاتو په اړه خپرول هغه يې منل. البته په لويديځ کې چې وګړي يې بهرنيو رسنيو ته لاس رسی هم لري بيا هم ليدل کيږي چې غوڅ اکثريت وګړي يې د خپلو دولتونو د رسنيو تراغيزلاندې هغه ډول فکر وکړي چې دا رسنۍ پرې شخوند وهي. د رسنيو د دې جادويي اغيز په اړه د آلماني نازيانو د تبليغاتو وزير ويلي وو:« ماته ډله ييزې رسنۍ په لاس راکړه ، زه له هر ولس څخه د خوګانو رمه جوړوم.» البته هغه لړکيو شوروي روڼ اندو چې خپلواکه فکر يې کاوه پدې پوهيدل چې افغانستان ته د دوی د پوځيانو استول د نړيوالو قوانينو خلاف يو تيري کوونکی عمل دی خو د واکمن توتاليتاردولت له ويرې يې د مخالفت د ښودلو جرئت نه درلود. «له اکراين څخه ترلاسه شوي عملياتي ګزارشونه وايي چې د دغې سيمې پوهانو افغانستان ته د شوروي د سرتيرو د ليږلو په اړه منفي غبرګون څرګند کړ.» ۱۲۴/ ۲۴۷ د اکراينې پوهانو د منفي غبرګون اصلي لامل دا وو چې په اکراين کې د لويديځ او حتی آلماني نازيانو اغيز ډېر قوي وو لکه څرنګه چې اوس هم قوي دی. دا بيا ښيي چې د دې غبرګون لامل او چينه لويديځ وو چې په اکراين کې يې کلکې ريښې ځغلولې وې.خو سره لدې د سره پوځ يرغل د شوروي اتمي فزيکپوه او د نوبل د جايزې ګټونکي سوخاروف او د هغه د پټې کړۍ له لوري په لويديځو رسنيو کې په سختو ټکو وغندل شو او پايله يې دا شوه چې سوخاروف د شوروي اتحاد د اتوم د بم پلار د ګورکي ښار ته تبعيد شي. د وخت په تيرېدو سره چې د افغانستان څخه شوروي ته د پوځيانو د جنازو او ټپيانو د ليږد لړۍ نه دريدله د اتيايمو کلونو په دوهمه نيمايي کې د شوروي ولس مخالفت هم بربنډ شو. په شوروي رسنيو باندې د شوروي ولس بشپړباور په اړه به ليکوال د خپلو زده کړو په مهال په مسکو کې يوه خاطره راوړي. موږ افغاني محصلين يې چې افغاني پوځي يونيفورم مو درلود د يوه موزيم ليدو ته بوولي وو. په موزيم کې يوه مېرمن د يوه اته يا لس کلن ماشوم سره زما مخې ته ودريدل او دې مېرمنې چې ښوونکې وه ماشوم ته وويل: ته لدې افغان کاکا وپوښته چې ولې دې پلار په افغانستان کې ووژل شو؟ ليکوال مېرمنې ته وويل تاسې دا ماشوم ګرباچف ته بوزئ ترڅو هغه ځواب ورکړي . ددې مېرمنې د دې پوښتنې اصلي لامل په شوروي تبليغاتو باور وو چې ګواکې د دوی پوځيان د افغانستان د حکومت د غوښتنې له مخې افغانستان ته استول شوي دي .

## ب ـ د اشغال په وړاندې د غيراسلامي نړۍ غبرګون

د شوروي لښکر له لوري د افغانستان نيول د نړۍ او په تيره د امريکې او د لويديځ له سخت غبرګون سره مخامخ شو. د امريکې ولسمشرجيمی کارتر سمدلاسه لئونيد بريژنف ته ليک واستاوه او په افغانستان کې يې د شوروي د مداخلې په اړه د خپلې اندېښنې د څرګندولو سربيره دا عمل نړۍ ته يو ګواښ وګڼه او د هغه څخه يې وغوښتل چې شوروي پوځونه بېرته خپل هيواد ته ستانه شي. بريژنف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۲۹ د کارتر لیک ځواب کړ. د بریژنف د لیک په اړه لیاخفسکي د افغان میرانه او غمیزه نومي کتاب په ۱۵۵- ۱۵۶ مخونو کې رنا اچولې او افغانستان ته د شوروي محدودو قطعاتو استول د افغان حکومت د پرله پسې غوښتنو پراساس ګڼي او دا یادونه هم پکې شوې وه چې شوروي پوځیان د افغان حکومت په راپرزولو کې ښکیل نه وو. همدارنګه په لیک کې د کارتر دې نیوکې ته چې افغانستان ته د شوروي قطعاتو د لیږلو مخکې امریکایي اړخ په جریان کې نه وو اچول شوی ویل شوي وو کله چې امریکایي سمندري پوځونه د فارس د خلیج حوزې ته واستول شول آیا شوروي اتحاد په جریان کې اچول شوی وو. جنرال ګروموف هم د خپل کتا ب په ۱۳۴ مخ کې پدې اړه ورته ځرګندونې لري چې بریژنف ، کارتر ته لیکلي وو:«ستاسي په لیک کې دا یادونه هم د منلو وړنه ده او له واقعیت سره سمون نلري چې ګواکې شوروي اتحاد د افغانستان حکومت نسکور کړی دی. غواړم په قاطعیت سره یادونه وکړم د افغانستان په مشرتابه کې بدلون په خپله د افغانانو کار دی او یوازې د دوی په لاس ترسره شوی دی. پدې هکله د افغانستان د حکومت نه وپوښتئ.» واشنګتن د بریژنف د ځواب د ترلاسه کولو وروسته په شوروي اتحاد لاندې شپږ بندیزونه ولګول : د اقتصادي او فرهنګي راکړې ورکړې ځنډول ، په سوداګریزو اړیکو کې په شوروي اتحاد سخت قیودات ،د امریکې په اوبو کې شوروي اړخ ته د امتیازاتو مخنیوی، د۷۱ میلیونو ټنو غنمو د پلور لغوه ( ځه موده وروسته یې د غنمو پلورل پیل کړل ) او د ۱۹۸۰ کال په دوبي کې په مسکو کې د المپیا د لوبو تحریم. د امریکې ولسمشر راډیوټلویزیوني وینا وکړه چې په هغې کې یې د امریکې دولت په پاکستان باندې د وسلو د بندیز لیرې کولو او د فارس په خلیج کې د چټک غبرګون د ځواکونو د ځومرحله یې ځای پرځای کولو ته هم ګوته ونیوله. پدې هکله د امریکې غیر رسمي غبرګون د افغان دولت مخالفینو ته د مرستو زیاتېدل وو. پرافغانستان باندې د شوروي لښکر تیري په نړیواله کچه د ځینو مخالفو او حتي دښمنو دولتونو ترمنځ همغږي پیدا کړله. ځرګند ساری یې چین دی چې د امریکا او لویدیځ سره یې د شوروي ضد جبهه ونیوله همدارنګه اسراییل او زیاتره عربي دولتونو ورته دریځ ونیولو.حتي د شوروي دوست سوسیالستي دولت رومانیا او د اروپا ځینو کمونستو او کیڼ لاسو سازمانو( انګلستان ،ایتالیا ، بلژیک ، پرتګال ، فرانسه ، سویدن ، هسپانیه ) او نورو خپل هیواد ته د شوروي پوځیانو د بېرته ستنیدو غوښتنه کوله.

## ج – د اسلامي نړۍ غبرګون

د اسلامي نړۍ غبرګون خورا توند وو او یوه میاشت وروسته ( د۱۹۸۰ کال د جنوري په ۲۷- ۲۹ ) د بنګله دیش د ولسمشر شیخ مجیب الرحمن په وړاندیز د اسلامي کنفرانس د بهرنیوچارو د وزیرانو فوق العاده غونډه په پاکستان کې راوبلل شوه . غونډې د افغانستان نیواک محکوم کړ، د افغانستان ځخه یې د شوروي لښکر د وتلوغوښتنه وکړه او په اسلا مي کنفرانس کې یې د افغانستان غړیتوب وځنډاوه.

## د – د نړیوالو سازمانو غبرګون

د افغانستان د نیواک په وړاندې د ملګروملتو د سازمان امنیت شورا د۱۹۸۰ کال د جنوري په پنځمه یعنې د تېري اته ورځې وروسته غونډه وکړه د افغانستان اشغال یې محکوم کړ او د افغانستان ځخه یې د پردیو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړله خو شوروي د امنیت د شورا پریکړه ویتو کړه او استازي یې د شوروي پوځیانو وتل هغه مهال شوني وګڼل چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې ودرېږي. د امنیت د شورا د غونډې اته ورځې وروسته د دې سازمان عمومي بیړنۍ غونډه راوبلل شوه چې په هغې کې « د۷۰ هیوادو استازو وېناوې وکړې او زیاترو یې د افغانستان نیواک د ملګروملتو د منشور او نړیوالو قوانینو د سرغړونې له امله محکوم کړ. په هماغه ورځ یې پریکړه لیک صادر کړ چې د نیواک ځخه سخته خواشیني ځرګنده شوې وه او د افغانستان ځخه سملاسي، بیله کوم قید او شرطه او په بشپړډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرنيوځواکونو د وتلوغوښتنه شوې وه .دا پريکړه ليک د۱۰۴موافقو، ۱۸ مخالفو او۱۸ مستنکفو رايو سره تصويب شو. يادشوي تعبيرونه په مختلفو ډولونو سره د رسنيو له لوري د تمسخر وړ وګرزيدل.»۴۷ / ۸۸ د تعبيرونو څخه موخه په پرېکړه ليک کې د افغانستان څخه د بهرنيو پوځيانو وتل دي چې د اشغالګر هېواد د نامه له يادولو ډډه شوې وه. همدارنګه په همدې کال د نوامبر په مياشت کې د افغانستان په اړه د م، م عمومي کلنۍ غونډه وشوه چې د۱۱۱ موافقو، ۲۲ مخالفو او۱۲ مستنکفو رايو سره پريکړه ليک تصويب شو. په افغانستان کې د شوروي لښکر د شتون پر مهال هرکال د نوموړي سازمان په کلنۍ غونډه کې د افغانستا ن مسئله تر بحث لاندې نيول کيده او۹ ځله د افغانستان اشغال محکوم شو .البته چې د اشغال د مخالفانو شمير زياتيده څرنګه چې د م، م د۱۹۸۵ کال په کلنۍ غونډه کې ۱۲۲دولتونو شوروي اتحاد محکوم کړ. د افغانستان لپاره د م ، م استازی ديه ګوکوردويز وايي: « کوزيروف فکر کوم د نيمه ټوکې په ډول را ته وويل په مسکو کې مې وړانديز وکړ چې شوروي د پرېکړه ليک په طرفدارۍ رايه ورکړي .» په م، م کې د شوروي اتحاد د استازي ټوکه ښيي چې شورويانو په دې نړيواله مؤسسه کې ليدل چې غوڅ اکثريت له شوروي اتحاد څخه غواړي د افغانستان څخه خپل پوځونه وباسي او شوروي اتحاد محکوموي له بله پلوه يې غوښتل ديه ګوکوردويز وپوهوي چې شوروي اتحاد ليوال دی له افغانستان څخه خپل سپاهيان وباسي. هيره دې نه وي چې د افغانستان د نيواک د مخالفانو د شمېر په زياتېدلو کې په م، م د پاکستان د استازي پرله پسې هڅو ځانګړی رول درلود.

## کرملن ته ترخه پيغامونه

په افغانستان باندې د شوروي د يرغل پرمهال په نړۍ کې واکمن ذهنيت داسې وو چې د شوروي د سره پوځ په وړاندې څوک د مقابلې وس نلري. ښايي دې ډول ذهنيت شوروي مشران هڅولي وي پر افغانستان د پوځي يرغل پريکړه وکړي. خو د کرملن واکمنو په افغانستان کې د خپل ژوراغيزاو نفوذ سره سره هغوی افغانان نه وو پيژندلي چې په خپل ټاټوبي کې پردی لښکر نشي زغملی. د مسکو بله تيروتنه د خلقيانو په اړه وه چې د خلقيانو د دوو مشرانو ( تره کي او امين ) په نشتون کې به خلقيان ښېله څه ويلو د نوې واکمنۍ په چوپړ کې ودريږي چې داسې څه پيښ نشول. د شوروي واکمنو د دې تيروتنو او د افغانستان واقعيتونو د ناسم درک پايله دا شوه چې ډېر ژر د افغانستان څخه د خپلو پوځيانو د مرګ او ژوبلې ترخه پيغامونه ترلاسه کړي . د تېرې څخه ديارلس ورځې وروسته د نهرين د۲۰ فرقې د توپچي په غونډ کې د شوروي سلاکارانو په چانوارۍ سره پاڅون پيل شو. اشغالګرو په غونډ ځمکنې او هوايي پوځي عمليات ترسره کړل.« ددې جګړې له امله چې د جنورۍ له نهمې تر لسمې پورې دوام پيدا کړ د دې قطعې سل تنه پوځيان شهيد او د شوروي ځواکونو له لوري دوه تنه مړه او دوه تنه ټپيان شول .» ۴۹ / ۱۷۵ د وخت په تيريدو سره امنيتي وضعيت کړکيچن کيده او په دولتي بنسټونو او پوځي چونيو د مخالفينو بريدونو شدت موند او د جګړو لمن پراخيده ،دولتي او شوروي ځواکونه اړکيدل چې د ولس زياتيدونکی مقاومت وځپي .په هغو سيمو کې چې د دولت وسله والو مخالفانو چې د ولس کلکه خواخوږي او همکاري ورسره وه دولتي سيمه ييزې ادارې ترخپلې ولکې لاندې راوړلې هلته يې ځواکونه استول چې اکثرآ د مخالفينو د کمينونو سره مخامخ کيدل او بيا جنګيالي له سيمې څخه تښيدل چې دا ډول جګړه د پښې او موږک لوبې ته ورته لوبه وه چې د منظمو پوځي ځواکونو لپاره ستړې کيدونکې، د لګښت ډکه او د زياتو تلفاتو سره مل وه. مسکو ته د شوروي پوځيانو د مرګ او ژوبلې د پيغامونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربیره د خلقیانو مخالفت او په تیره د ګوند او دولت د مشر په توګه د کارمل نه منل شوروي مشرتابه اندیښمن کړي وو . د شوروي د اشغال په لومړیو ورځو کې د هرات ولایت «د ولایتي او ښاري ګوندي کمیټې ګډه غونډه راوبلله ،تیری یې په څرګند ډول محکوم کړ،د ګوندي کنګرې د دایریدو او د وضعي د ارزوني غوښتنه یې وکړه او اعلان یې کړل چې د روسي ځواکونو او د کارمل واک ته رسول د ګوندي لوړو ارګانو د پریکړې پرته صورت نیولی دی ، د دې تشې د ډکولو لپاره باید د آزادو، مستقیمو او پټو ټاکنو له لارې د ګوند کنګره راوبلل شي ترڅو وضعیت پخپل صلاحیت سره وارزوي او تصمیم ونیسي.» ۱۸ / ۲۱۴ د کابل څخه د بارق شفیعي په مشرۍ یو پلاوی هرات ته واستول شو او دې پلاوي د ولایتي ګوندي کمیټې منشي او څو تنه نور خلقیان بندیان کړل.همدارازد کارمل د واکمنۍ درۍ میاشتې نه وې تیرې شوې چې د کابل پوهنتون ګوندي سازمانو ټاکنې وکړې. څرنګه چې د پرچمیانو په پرتله د خلقیانو شمیر زیات وو د ګوندي لومړنیو سازمانو په مشرتابه کې خلقیان وټاکل شول. دې مسئلې د پرچمي مخورو غوسه راوپاروله اود دې بهیر خلقي فعالان تر سخت فشار لاندې ونیول چې له هغې ډلې نه « محمدسلیم علمي ترور، ډاکتر جوکت سنګهه باور زنداني او نورو د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته پناه یوړله او هلته د افسرانو په توګه جذب شول.» ۱۰۹ / ۱۷۳ د پرچمیانو له لوري د خلقیانو په وړاندې د فشار او زور او په هغو کې د ترور او زنداني کولو له امله یو شمیرخلقي کدرونه اړشول چې د واکمن وضعیت څخه د وتلو په موخه په پټو ځنځیري تشکیلاتو لاس پورې کړي چې مشري یې اسدالله سروري د انقلابي شورا مرستیال په غاړه لرله او د ګوند په مشرتابه کې ګلابزوی هم ورسره همغږی شوی وو . لیکوال د کندهار په قول اردو کې د دې پټو ځنځیري تشکیلاتو مسؤلیت ورکړل شو. خو څرنګه چې شورویانو او پرچمیانو خپل دوربینونه د خلقیانو په لور توجیه کړي وو دا شبکه ډېر ژر کشف شوه . «د۱۹۸۰ز کال د مې په میاشت کې تابییف او ایوانوف سپارښت وکړ چې د شوروي اتحاد کمونست ګوند د مرکزي کمیټې سیاسي بیرو او کی جی بی دې له یو بل سره په سلا، همغږي شي چې سروري دې لومړی د طبي درملنې لپاره شوروي اتحاد ته وغواړي او له هغه وروسته دې منګولیا ته د سفیر په توګه ولیږل شي او پدې ډول د افغانستان د خلق په دیموکراتیک ګوند کې د خلق او پرچم د ډلو ترمنځ پر نااندریو دې د پای ټکی کیښودل شي. له ګلابزوی سره دې همدې ته ورته چلند وشي.» ۲۹۸/۱۲۴ بهر ته د سروري د استولو وروسته دې ځنځیري کړۍ فعالیت ودرولو خو د پرچمیانو د یکه تازۍ خلاف ددې کړۍ کړنې و نه دریدلې . د خلقیانو د تشکل د مخنیوي او د هغوی د کمزورولو په موخه واکمنۍ حتی د آزادخیالو خلقي کدرونو له ترور څخه هم ډډه ونکړه څرنګه چې مسکو ته د سفارت په یوه رپوټ کې راغلي دي : « په ځینو ځایو کې پرچمیانو د خپلو سیالانو په وړاندې په ترهګرۍ لاس پورې کړ. د بلخ د ولایت لومړي سکرتر له لسو تنو نه زیات خلقیان له منځه یوړل.په ګوند او وسله والو ځواکونو کې خلقي فعالینو ته د خپل کار او خوندیتوب په اړه اندیښنې را وپاریدلې. هغوی ډېډوري او ګنګوسې خپرې کړې چې شوروي اتحاد د بورژوازي ربښتوني استازي ، پرچمیان ، په کار ګومارلي چې نه د ولس ګټو ته پالیاله دي او نه د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د مشرتابه وړتیا لري. » ۱۲۴/ ۲۹۷ له بله پلوه د اشغال په وړاندې د افغان ولس پیاوړی ملي مقاومت چې شورویانو ته د سراو مال بیساره تلفاتو پرته بله پایله نلرله شورویان اړ کړل د افغانستان د ډنډ څخه د وتلو په فکر کې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې د شوروي لښکر جګړه

په افغانستان کې د شوروي اشغالګر پوځ مشري د شوروي اتحاد د دفاع وزیر لومړي مرستیال مارشال سوکولوف لرله او مرستیال یې د لوی درستیز مرستیال اخرامیف و او هغوی د خپلې لويې ډلې سره په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د فعالیت لارښوونه کوله او قرارګاه یې د تاجبک په مانۍ کې وه. د افغانستان د نیواک په درشل کې د کرملین مغروره واکمنو فکر کولو چې افغانستان ته د خپلو پوځیانو په استولو سره به دا ځواکونه د دې جوګه شي چې په خپل سویلي ګاونډي هیواد کې ټیکاو راولي . د شوروي اتحاد د مشرتابه دا ډول تفکر د نوموړي هیواد د د دفاع وزیر مارشال اوستینوف په دې وینا کې چې « په افغانستان کې به د شوروي سپاهیانو په ځرګندیدو سره یوه ډله بغاوتګر بیله ځنډه وسله په ځمکه کیږدي او نور به وتښتي.» ۴۹/ ۱۲۱ بربنډیږي. د شوروي د دفاع د وزیر د دې خام خیال له مخې «سوکولوف او اخرامییف د افغانستان د جګړې په پیل کې پدې ګومان استول شوي وو چې دا ټوله خبره به د اونیو یا څو میاشتو د ننه غوځیږي. په هغه هیواد کې به شوروي پلوه رژیم ټینګیږي او د افغانستان حالات به آرامیږي.» ۷/ ۱۲ همدارنګه جنرال ورینیکوف د شوروي ځواکونو بل لوی قوماندان به یوه مرکه کې پدې هکله وایي:« موږ په پیل کې پدې ګومان وو چې زموږ سرتیري به د سترو ښارونو په ګارنیزیونو کې ځای پرځای شي او د مختلفو بنستونو ساتنه به کوي او په پوځي عملیاتو کې به برخه نه اخلو.خو دا کار د توطئو او زموږ په عسکرو د بریدونو له کبله عملي نه وو.جګړه د واورې د توپ په څیر په خوځښت راغلله.» ۲۰۰ افغانانو چې هیڅکله په خپل تاتوبي کې د پردیو پوځیانو شتون ته غاړه نه ده ایښې دا ځل بیا د شوروي اشغال په وړاندې ودریدل چې د لویدیځ د هراړخیزملاتړ څخه برخمن هم شول او پایله یې دا شوه چې شوروي ځواکونه په ستومانه کېدونکې جګړه کې ښکیل شي. د وسلوالو مخالفینو په وړاندې د سترو پوځي عملیاتو پلانونه د څلوېښتم پوځ قرارګاه جوړول او هغه یې مسکو ته د منظورۍ په موخه استول او د مسکو د هوکړې وروسته عملي کیدل. پدې پلانونو کې هم د څلویښتم پوځ او هم د افغان ځواکونو لپاره دندې ایښودل کیدلې چې یو نقل به د افغانستان د دفاع وزیر ته ورکول کیده او نوموړی به د هغه پراساس د سترو جزتامونو قوماندانانو ته پوځي عملیاتو ته د خپل جزوتام د چمتو کولو امرونه ورکول. پوځي عملیات اکثرآ داسې جوړیدل چې یوه پراخه سیمه چې دا سیمه د وسلوالو مخالفینو تر ولکې لاندې وه هغه به د شوروي پوځونو له خوا محاصره کیدله . بیا به د چورلکو په واسطه تبلیغاتي پاڼې په سیمه خپریدلې یا د لودسپیکرو پواسطه له خلکو څخه یې غوښتل له سیمې ووځي او وسلوالو ته یې خبرداری ورکاوه چې دوی محاصره شوي، وسلې په ځمکه کیږدي او ځانونه تسلیم کړي . داسې هم پیښ شوي دي چې په سیمه کې د انقلاب د دفاع د کمیټو اړونده وسلوال کسان ددې اعلامیو وروسته د سیمې څخه د وتلو پرمهال د شوروي ځواکونو له لوري چې د محاصرې دنده یې لرله د وسلوالو مخالفینو په ګومان وژل کیدل . هغه مهال دا هم ویل کیدل چې د شورویانو له لوري د خلقي واکمنۍ پرمهال د انقلاب د دفاع د کمیټې د غړو وژنه د پرچمیانو د همغږۍ اوحتی هڅونې له مخې ترسره کیدله او دلیل یې دا راووړ چې هغه د امین پلویان دي .یا ښایي شورویانو د سیمې د خلکو د ژبې د نه پو هیدو له کبله هغوی د وسلوالو مخالفینو ( اشرارو) په نامه وژل. دا ډول یوه پیښه د۱۹۸۰ کال په دوبۍ کې د کندهار د ارغنداب په ولسوالۍ کې پیښه شوله. د یادولو وړ ده چې د افغان ځواکونو قوماندانانو ته مخکې له مخکې د پوځي عملیاتو د پرمخ وړلو سیمه نه ویل کیده . شورویانو دا کار د احتیاط په خاطر کاوه چې په پوځ کې د وسلوالو مخالفینو سره ارتباطي کسان هغوی ته خبر ورنکړي. د کارمل د لوی پوځي سلاکار د ادعا له مخې دې حالت ته په کتو سره یو ځل لوی پوځي سلاکار د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیال سره دوې نقشې جوړې کړې یوه اصلي او بله جعلي او هغه پدې اړه لیکي:« دوهمه نقشه د غولولو لپاره غوره شوې وه. ټاکل شوې وه ببرک کارمل ته همدا نقشه وښودل شي او کیدای شوای ده او یا د دفاع وزیر ته بیخي ور پرېښودل شي. د هرډول تیروتنې یا ناوړه پوهاوي (سؤتفاهم) د مخنیوي او دغه راز د دې لپاره چې د دوو نقشو د شته والي په اړه زما پریکړه بیخي پټه پاتې شي چیریومنیخ ته مې امر وکړ چې شوروي سفیر د ک. ګ. ب او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمیټې استازو ته همدا غولوونکي نقشه وښودل شي. البته چې هغه وخت مې لویه ګناه کوله خو یوازې د یوې موخې لپاره د خپل پلان د پټولو لپاره څو تر وسه زموږ او د افغاني پوځیانو د ژوندانه ژغورنه شوني شي...، د ارګ د وره بهر چیریومنیخ له شیطانی په ډکې موسکا وویل: موږ سم کار وکړ. نقشه به د رفیع په میز کې ساتل کیږي د هغه دفتر د خاد د غړو له خوا ساتل کیږي... او دا ساتونکي ټول خاین دي. » ۷/ ۶۰ - ۶۲ پدې هکله د کارمل په اړه د هغه د پوځي سلاکار څرګندونې د حیرانتیا سربیره د پوځ په اړه د پرچم د مشرتابه دریځ هم بربنډوي هغه لیکي: «رښتیا خبره دا ده چې هغه ( کارمل) نه له دغه پوځ سره مینه لرله او نه یې پرې باور کاوه . ترې ډاریده د هغه له بریالیتوبونو، آن ډیرو وړو بریاوو نه ډاریده. د هغه له ماتو یې خوښي کوله ځکه همدا افغانستان ته د نورو او لا نورو پوځونو د رالیږلو په اړه مسکو ته د لمن غوړولو موجه پلمه وه. دلته اصلي خبره دا هم وه لکه چې ومې ویل د ا. خ. د. ګ د پنځلسو زرو خلقیانو له ډلې نه د هغوی ډیری برخې یانې دیارلسو زرو په پوځ کې خدمت کاوه. که چیرې په دغه هیواد کې یا د هغه په ځانګړو سیمو کې د ټینګې واکمنی په اوسني جوړښت کې پوځ په بنسټیز ځواک اوښتی وای د دې مانا د پرچمیانو لپاره د مشرتابه د اوسني دریځ له لاسه تلل یا کمزوري کیدل راختلی شوه. له همدې امله وه چې ببرک په هیواد کې د ملي دیموکراتیکې واکمنۍ د ټینګښت چاره په عمومي ډول د شوروي په مټو ټینګول غوښتل. په دغې یوه حالت کې د مشرتابه حق له ځانه سره وساتي او خلقیان شاته، فرعي رول ته پورې وهي. ببرک کارمل او پلویانو یې د پرچم د ډلې د شمیرمصنوعي ډیروالي ته ملاتړلې وه. د دې خبرې په پام کې لرلو سره چې ببرک د اندروپوف تر وزر لاندې دی. ما داسې پایله ( نتیجه) راوایسته چې شوروي سفیر او په افغانستان کې د ک. ګ. ب نمایندګی د هغه او د پرچمیانو ملاتړ کوي او په راتلونکې کې به هم دغه ملاتړجاري ساتي.» ۷/ ۹۷ په سیمه د توپچي اوهوایي بمباریو وروسته افغان پوځیان سیمې ته ننوتل اوهلته یې چانیز عملیات پرمخ وړل کله ناکله به شوروي پوځیان هم ورسره مل وو خو اکثراً په لومړی لیکه کې به افغان پوځیان تر سترګو کیدل. په سیمه کې به عسکري چوپړ او احتیاط ته مناسب ځوانان او مشکوک کسان نیول کیدل. پوځي خدمت ته مناسب ځوانان به پوځي خدمت ته استول کیدل اومشکوک کسان به خاد ته سپارل کیدل. سیمه به چې د مخالفینو څخه پاکه شوه چې البته د مخالفینو زیاته برخه په تیښته بریالي کیدله. د څه مودې لپاره به هلته د افغان پوځ یو کنډک یا ټولی او د شوروي پوځیانو یو آولی یا بلوک پاتې شو ترڅوهلته دولتي نظم ټینګ او د انقلاب څخه د دفاع کمیټې یا د انقلاب د سپاهیانو په نامه ډلې جوړې کړي ترڅو د مخالفینو په وړاندې د دولتی واکمنی ساتنه وکړي. کله به چې پوځي جزوتامونه بیر ته خپل دایمي سوق الجیش ته راستانه شول بیا به وسلوالو مخالفینو پر نوموړې سیمه عملیات پیل کړل او اکثراً به دا سیمه ئیزې دولتي واکمنی ( ولسوالی او علاقداری) سقوط وکړ، سیمه ییز مسؤلین او مدافعین به یې ووژل او بیا به پدې سیمه د شوروي او افغاني پوځونو ګډ عملیات پیل شول. دې حالت د سیمه ییزو ادارو د مسؤلینو مورال ټیټولو. پدې اړه به د کندهار د خاکریز د ولسوالی د یوه پرچمي ولسوال یادونه وشي چې د ولسوالی څخه د یوه ټولي د وتلو سره مخالفت ښودلی وو . کله چې ټولی له ولسوالی وتلو ولسوال هم غوښتل د ټولي سره ګډ کندهار ښار ته لاړشي. د ټولي قوماندان هر څومره چې ورته ویلي وو تاسي باید ولسوالي خوشي نکړئ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان ولسوال پرېکړه کړې وه چې هرو مرو د دوی سره ولاړ شي. دا وخت د ټولي قوماندان ورته ویلي وو: ولسوال صاحب ! لومړی خو اشرار دومره ځواکمن نه دي چې ولسوالي ونیسي ځکه د ولسوالۍ ساتونکي کولای شي چې د ولسوالۍ ساتنه وکړي خو که احیاناً اشرار بریالي شي ولسوالي ونیسي او تاسي ووژني نوم به مو په تاریخ کې په زرینو کرښو ولیکل شي . ولسوال ورته ویلي وو « من میخواهم زندگی کنم و به مرگ طبیعي بمیرم در آنوقت نام مرا به خط زرین نی بلکه به سرگین بنویسند. » ژباړه « زه غواړم ژوند وکړم او په خپل طبیعي مرگ مړ شم هغه وخت مي دي نوم په زرینو کرښو نه بلکي په خوشیو ولیکي.» کله نا کله شوروي قطعاتو بیله دې چې افغان سیمه ئیز او یا مرکز خبر کړي په خپلواکه توگه پوځي عملیات هم ترسره کول. څلویښتم پوځ د خپلو کشفي او استخباراتي چینلونو له لارې د مخالفینو د خوځښتونو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو وروسته بمباری کولې. شوروي ځواکونو د وسلوالو مخالفینو د ځپلو پر مهال د بیگناه ولسي وگړو د وژنو، جنسي تیریو او لوټماریو څخه هم ډډه نه ده کړې. پدې اړه د جنگ در افغانستان د کتاب روسي لیکوالان راوړي:« د ۹ کلو جگړې په مهال هرڅه وو.هم د بیگناه خلکو وژنه ، هم قاچاق او احتکار... هرهغه څه چې د یوه باوجدانه انسان کرکه یې راپاروله. د پوځي څارنوالۍ د لاسوندونو پراساس په ۱۹۸۳ په افغانستان کې د جنگي جنایتونو له امله ۵۵۹ تنه محاکمې ته وړاندې شول. یوه افسر چې د یوه افغان په وژنه تورن وو( د شرابو په څښلو کې د افراط له امله) په شوروي کې په اعدام محکوم شوی وو وویل: هو ما جنایت کړی دی ، سړی مې وژلی دی. خو د دې جنایت زمینه جوړوونکي ولې محکمې ته نه وړاندې کیږي؟ اوس په رسنیو کې خبره د قانون د واکمنۍ کیږي . ووایئ زموږ دولت څه حق درلود چې موږ افغانستان ته ولیږي؟ د کوم قانون پربنسټ؟ چیرې دی دغه قانون؟ یوازې اوس اعتراف کیږي چې دا کار( افغانستان ته لښکرکشي) ناروا او بې عقلي وه. هو موږ د سیاسي تیروتنو قربانیان یو چیرې دی عدالت ؟ » ۱۰۶/ ۲۸۵ شوروي نیواکگرو د شلمې پیړۍ په اتیایمه لسیزه کې افغانان پدې جرم وژل چې انټرناسیونالست شوروي ځواکونه یې تیري کوونکي او د خپل هیواد نیوونکي گڼل خو د یوویشتمې پیړۍ په لومړۍ او دوهمه لسیزه کې د پخواني شوروي اتحاد سیال امریکا او د هغه ناټویي متحدینو د ترهگرۍ سره د مبارزې په نامه هغه څه تر سره کړل چې انترناسیونالستانو کړي وو. د یوویشتمې پیړۍ اشغالگر د شلمې پیړۍ د اشغالگرو په پرتله په وحشت، بربریت او جنایت کې مخکښ وو. که انترناسیوناستانو افغانان وژل خو هغوی زندانونه نلرل او هلته یې افغانان نه شکنجه کول. گلوبالستانو هم وژل ،هم سپکول اوهم ربړول تر دې چې افغان وطنپال جنگیالي یې په کیوبا کې د گوانتانامو په بدنامه زندان کې زنداني او شکنجه کړل .

## گوندي ناندرۍ ، شخړې او وژنې

کارمل په مسکو کې په خپله ثبت شوې وینا کې ځان د افغانستان د خلک دموکراتیک واحد گوند د منتخب مشر په توگه اعلان کړ. کله چې د واحد گوند خبره کیده معنی یې دا وه چې نور پدې گوند کې د خلق او پرچم په نامه او یا بله کومه ډله شتون نلري او کارمل د واحد گوند مشر دی. خو ډیر ژر څرگنده شوه چې کارمل د پخوا په شان د پرچمیتوب په مزمنه ناروغۍ اخته دی . ټولي هڅې یې د خپل دریځ او خپلي ډلي په پیاوړتیا او د مقابل لوري ، خلقیانو په ځپلو متمرکزې کړې دي. لایق د خپلو یادداشتونو په نولسم ټوک ۱۰۳ - ۱۰۴ مخونو کې راوړي چې کله دی د قبایلو وزیر وو او مقر ته کاري سفر درلود ، مقر ته مخکې له تللو کارمل ور غوښتی او ور ته ویلي یې وو چې د اوومې فرقې خلقي قوماندان ته دوسیه جوړه کړي چې له دندې یې گوښه کړي خو لایق نه وو ورسره منلي . کارمل د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتنې په پای کې ورته ويلي دي:« زما وروستۍ خبره او د ملګرتیا مشوره دا ده تر څو یو خلقي په ګوند کې د ننه غړیتوب ولري ، تاسې یو پیاوړی اصولي ګوند نشئ جوړولای.» د کارمل پورتنۍ خبره ښيي هغه کله چې د واحد ګوند خبره کوله موخه یې د پرچم واحد ګوند دی او خلقیان پدې ګوند کې ځای نلري. همدا لامل دی چې لیکوال د ا، خ ، د ،ګ دوه جلا جلا ګوندونه او واکمنۍ یې هم دوې مختلفې واکمنۍ ګڼي. کارمل حتی شوروي اړخ هم د نوموړي د دې هوډ سره همغږی ګڼي او په یوه غونډه کې وايي :« د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو اتحاد یوازې د پرچمیانو مرسته کوي. خلقیان او د خلقیانو پلویان دې خپل غوړونه پدې خبرو ښه خلاص کړي که هر ډول ګوندیماري او ګوندي بېلتونپالنه د دولت په وړاندې په وسلوالي نښتنې واوړي . ترڅو چې د شوروي اتحاد د وسله وال ځواک یو سرتیری ژوندی وي هغه به درې وړې کړي. » ۱۲۴/ ۲۸۹- ۲۹۰ د شوروي - پرچمي واکمنۍ هم وښودل چې شورویانو د پرچمیانو ملاترکاوه. خو په افغانستان کې په دننه بوختو شوروي پوځي سلاکارانو چې د جګړې تودې او سړې زغملې او هره ورځ یې د خپلو او افغان پوځیانو مرګ او ژوبله لیدله او د افغانستان په اړه یې د خپل دولت د ستراتېژیو د درک وړتیا نه لرله چاره یې پدې کې لیدله چې د ا، خ، د ،ګ یو موټي ووینې هماغه دي چې د ګوند د یووالي ضد پرچمي مشرانو په اړه مسکو ته رپوټونه استول چې په یوه کې یې راغلي دي: « د۱۹۸۲ کال د مارچ په میاشت کې سوکولوف او اخرامییف اوستینوف ته ګزارش ور کړ چې نور، بریالی او ګل آغا د ګوند د یووالي پرضد چلند کوي د هغوی ملاتړ کشتمند، نجیب الله او رفیع کوي. دغه کسان خورا زیات خطرناک دي ځکه چې د دوی د اغیز لمنه پراخیږي. هغوی تل د شوروي سلاکارانو له لیدلوري او وړاندیزونو څخه سترګې پټوي او د ریاکارو زاهدانو په شان چلند کوي. پوځي مشران وړاندیزکوي چې دوی سوکه سوکه له کلیدي پوستونو څخه لېرې او بهر ته دې واستول شي. » ۱۲۴/ ۳۰۶ د شوروي پوځي سلاکارانو ساده ګي پدې کې وه چې همدا خطرناک وګړي د مسکو د ارادې له مخې پر ګوند او واکمنۍ تپل شوي وو نوځرنګه به یې هغوی بهر ته لیږلي وای.ددې خطرناکو وګړو څخه یې نجیب الله ګوندي- دولتي مشرتابه ته هم راپورته کړ ځکه چې هغه په ګوندیمارۍ او ګوندي بیلتونپالنه او د خلقیانو په ځپلو کې ښه ځلېدلی وو هغه څه چې کی جی بی غوښتل. خو بالمقابل د خلقي اړخ هغه مشرانو( سروري ، ګلابزوی ، تنې) چې د پرچمیانو د یکه تازۍ اودسیسو په وړاندې ودریدل سروري یې د۱۹۸۰ کال د می په میاشت کې منګولیا ته د تبعیدي سفیر په توګه ولیږلو او د نجیب الله د واکمنۍ په لومړیو کې یې ګلابزوی په مسکوکې سفیر مقررکړ او تنی یې د پوځي کودتا په تور اړ کړ پاکستان ته وتښتي. «ببرک کارمل هیڅکله له دولتي پوستونو څخه د خلقیانو په ځانګړې توګه د ګلابزوی، مزدوریار، وطنجاراو سروري د شړلو له هڅو څخه لاس پرسر نه شو. هغه به تل ویل چې د دوی لاسونه تر اوږو پورې په سرو وینو کې ډوب دي. » ۱۲۴/ ۲۹۲ عجیبه دا ده چې کله سروري ، ګلابزوی او وطنجار د حفیظ الله امین له وېرې شوروي سفارت ته پناه یووړله او شورویانو په پټه شوروي اتحاد او بیا بلغاریا ته ولیږدول ، د کارمل سره یې یووالي ته وهڅول او د نوموړي سره یې ګډه ژبه وموندله هغه مهال هغوی رښتیني انقلابیان او د ا، خ، د،ګ سالم غړي وو. خوکله چې د وطنجار پرته دری نور د کارمل او شریکانو د ګوندیمارۍ په وړاندې ودریدل لاسونه یې په وینو ککړ شول. که چیرې د نوموړو دریو تنو رواني ځانګړتیاواو مخینې ته وکتل شي سره لدې چې سترې تیروتنې یې کړې دي خو هغوی د ګوندي او دولتي مشرانو د ناروااوو او ګوندیماریو په وړاندې دریدلي دي . هغوی د نورو خلقي مشرانو په شان د څوکۍ او مقام د ساتلو پرځای د امین ، کارمل او نجیب ګوندیماریو او خپلسریو مقابلې ته دانګلي دي چې دا ډول دریځ یې د ستاینې وړ دی. البته وطنجار د ثور انقلاب په بشپړتیایي پړاو کې لکه د نورو خلقي مشرانو په څېر د مصلحت تګلاره غوره کړله . هغوی د ثور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي پاڅون کې د پريکنده رول د لوبولو له کبله د امين د وړانديز له مخې لوړګوندي او دولتي دريځونه ترلاسه کړل . خو د خلقي واکمنۍ پرمهال هغوی د حفيظ الله امين له لوري د وسلوال پوځ ( اردو ، څارندوی ، استخبارات) څخه ناوړې ګټې اخېستنې ته په کتنې سره د نوموړي په وړاندې ودريدل. اسدالله سروري د شوروي اشغال پر مهال د پرچم د يکه تازۍ په وړاندې د خپل پرېکنده دريځ له امله د مسکو او پرچميانو داسې دښمني وګټله چې پوره ۲۷ کاله يې په هندوستان ، پنجشير او کابل کې بند هم تير کړ. خلقي کدرونو ته د انقلاب په بشپړتيايي پړاوکې د خپل سيال( پرچم ) ناغيري او ټګماري چې هڅې يې کولې خپلې ليکې په مصنوعي ډول پياوړې او خپل دريځ د غيرقانونی لارو غښتلی کړي هغه وخت بربنډې شوې چې شاه محمددوست يې د مرکزي کميټې د غړي او د بهرنيوچارو د وزير په توګه اعلان کړ چې نوموړی د خلقي واکمنۍ پرمهال د غيرګوندي په توګه د بهرنيوچارو د وزارت معيين وو . سربيره پردې د مرغومې د شپږمې څو ورځې وروسته د کابل ښاراو د ولايتونو ګوندي کميټو او د وسله وال پوځ سياسي څانګو ته د مرکز څخه د پټو ( مخفي ) ګوندي ملګرو په نامه اوږده لستونه واستول شول چې په ګوندي حوزو کې د ګوندياتو په توګه تنظيم کړل شي. پردې لستونو باندې په ځينو ګوندي کميټو او سازمانونو کې اعتراضونه و شول او حتي د امنيتي ارګانونو په ګوندي کميسيونو کې غونډې وشوې ترڅو د هغوی د پټې مبارزې رښتيا يا درواغ معلوم کړي . پدې غونډو کې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ هم مخالفتونه بربنډ شول. پرچميانو هغوی ګوندیان ګڼل او خلقيانو بيا د هغوی د سازماني اړيکو د شتون يا نشتون پربنسټ د هغوی ګونديتوب مسئلې ته کتل. ليکوال هغه مهال د کندهار د قول اردو د سياسي آمريت د ګوندي کميسون د منشي ( مشر) په توګه کار کاوه چې د دې کميسيون په څو پرله پسې غونډو کې د دې پټو پرچميانو څخه د هغوی د سازماني اړيکو په اړه پوښتنې وشوې چې د زياترو څرګندوني د منلو وړنه وې او د ګوند د غړو په توګه ونه منل شول. خو څه موده وروسته د اردو د سياسي رئيس په لاسليک يو مکتوب راورسيد چې ګوندي کميسيون دا صلاحيت نلري د مخفي ملګرو په راليږل شوي لست بحث وکړي. هغوی بلا استثنی د ګوند غړي دي. پټ (مخفي) پرچميان هغه کسان وو چې د خلقي واکمنۍ پرمهال يا زنداني شوي وو او يا د نوموړو د ګوند د غړيتوب غوښتنو ته په دندو کې د نيمګړتياوو ، بې دسپلينی او نه وړتيا له امله منفي ځواب ورکړل شوی وو. هيره دې نه وي چې د ثور د پاڅون وروسته ګڼ شمير افسرانو او وړوضابطانو او ملکي مامورانو د مختلفو لاملونو او موخو له کبله ليوالتيا لرله چې د ګوند غړيتوب ترلاسه کړي.د انقلاب په بشپړتيايي پړاو کې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ نانډرۍ او شخړې په لومړنيو ګوندي سازمانونو او په تېره پوځ او څارندوی کې زياتې وې. د ګوند د مرکزي کميټې په پلنومو کې ندي ليدل شوې چې خلقي مشرانو د ګوند د اساسنامې او ګوندي اصولو د پلې کولو په موخه په څرګند ډول هلې ځلې کړې وي. پرچميانو ددې نانډريو مخنيوی پدې کې ليدلو چې ژمن ، اصولو ته پااليالِه او زړور خلقي کدرونه د ګوندي او دولتي ارګانونو له مشرتابه ګوښه او پرځای يې پرچميان ،پرچميانو ته ليوال کسان او فرصت غوښتونکي او ضعيف النفسه خلقيان وګوماري. د دې لپاره بايد يوه پلمه او لاسوند موجود وای چې هغه شورويانو ته وښيي ځکه چې د شوروي اشغال پر مهال انقلاب واک د شوروي سلاکارانو سره وو چې څوک ګوښه او څوک مقرر يا زنداني کړي. لدې امله يې په هغوی د انتي سوويتست ، اميني يا بانديست او يا مشکوک ټاپې لګولې. پدې څندنه کې يې په ملکي برخه کې اړينې برياوې لرلې خو د پوځ په ځېنو جزوتامونو کې د مقاومت سره مخامخ شول. د ساري په ډول د ۱۹۸۰ کال په پيل کې د څوارلسمې فرقې د خلقي قوماندان جعفرسرتير پرځای پرچمي قوماندان عبدالصبور وګومارل شو چې د نوموړې فرقې د خلقيانو له منفي غبرګون سره مخ شو او نوی قوماندان اړ شو بيرته مرکز ته لاړ شي. دفاع وزارت د خلقيانو د څرګند بغاوت د حل په موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته غيرگوندي لوی درستيز تورن جنرال بابه جان او د دفاع وزارت لوی سلاکار فرقې ته ولېږل ، دا پلاوی پنځه ورځې هلته پاتې شو خو د هغوی سفر کومه اړينه پايله نلرله او خلقيان يې قانع نشوای کړای .دوهم ځل يې د دې ستونزې د حل لپاره د وسلوال پوځ لوی څارنوال محمدهاشم نوري او د شورويانو د پوځي قرارگاه مشر غزني ته واستول خو هغوی هم د ستونزې په حل کې پاتې راغلل او بېر ته کابل ته راستنيږي. نوري وايي چې حتی په فرقه باندې د بمبارۍ خبره هم کېدله خو ما د شوروي قرارگاه مشر ته وويل زه به يوازې هلته لاړشم . هغه وويل سمه ده خو جعفر په هېڅ صورت هلته د قوماندان په توگه نه پاتې کيږي. نوري ورته ويلي زه هم لاندې شرطونه لرم:

١. په فرقه کې به زه د خلقي له دريځه خبرې وکړم او هلته به خلقي قوماندان ټاکل کيږي. ددې خبرې معنی دا وه چې د خلقيانو د دريځ څخه به ملاتړ کوم.
٢. تر يوه کال پورې به هېڅ کوم خلقي د فرقې څخه د مقام د تنزيل په نامه نه تبديليږي.

اوهغه را سره ومنل . هماغه وو چې هلته بل خلقي قوماندان عبدالوکيل وټاکل شو. جعفر سرتېر يو مغرور ، با جرآته او په خپل ځان متکي افسر وو. سرتېر د فرقې له قوماندانی څخه د گوښه کېدو وروسته د افسرانو په عالي کورس کې د استاد په توگه مقررشو. څوارلسمي فرقې د محمديونس په نامه يو عجيب پرچمي سياسي آمر درلود. د يونس په اړه وايي چې يوه ورځ د نوي قوماندان او د ده ترمنځ د قوماندان په دفتر کې شخړه وشوه چې خبره د سياسي آمر وهلو ته رسيدلې وه. سياسي آمرغوښتل د هغه له دفتر نه وتښتي خو قوماندان نوموړی د هغه د جمپر له لستوني نيسي چې لستوني د قوماندان په لاسونو کې پاتې کيږي اوهغه په تيښته بريالی کيږي. کله چې بهر پوځيانو سياسي آمر په بې لستونو جمپر کې چې د واسکټ په څېر بريښيده ليدلی د هغه نوم يې واسکټ کېښود او په پوځ کې په همدې نامه مشهور شو. محمد يونس عجيب سړی او د سياسي هوښيارۍ نه په بشپړډول بې برخې وو.غواړم د ده په هکله خپله يوه خاطره دلته راوړم . ليکوال په ١٩٨٧ کال کې په پوځي – سياسي پوهنتون په هغه ديپارتمنت ( کافدرا) کې د استاد دنده لرله چې ډگروال محمديونس يې مشر وو. يوه ورځ د لکچر ورکولو پر مهال د پوهنتون مشرتابه ، د کافدرا آمر او د بي بي سي خبريال ټولگي ته راننوتل او خبريال له ليکوال سره مرکه پيل کړه. يوه پوښتنه يې د ليکوال د زده کړو په هکله وه او ليکوال هغه ته د خپلو زده کړو په اړوند معلومات ورکړل. دا مهال محمديونس خبريال ته وويل چې استاد په هندوستان کې هم زده کړې کړې دي . کله چې خبريال دا خبره واوريدله په انگريزي ژبه يې زما نه پوښتنه وکړه چې ما هغه ته په دري ځواب ورکړ. د خبريال د دې پوښتنې په ځواب کې چې ما ولې په انگريزي ځواب ور نکړ وويل چې ما يوازې شپږ مياشتې او هغه هم د ژباړونکي له لارې په هند کې زده کړې کړې دي له دې امله په انگريزي ژبه څرنگه چې لازم دي خبرې نشم کولای. په دې ډول مې د بي بي سي د خبريال له جنجاله ځان خلاص کړ. يوه ورځ مې له يونس څخه وپوښتل چې ولې تاسو خبريال ته وويل چې ما په هند کې زده کړې کړې دي ؟ هغه وويل دا مې له دې امله وويل پر موږ دا تور دی چې يوازې د شوروي اتحاد سره اړيکي لرو، ما غوښتل دا تور ناسم ثابت کړم . د خلقيانو دا ډول دريځ او يا د پرچميانو ارادي ته د خلقيانو غاړه نه ايښودل د دې لامل شول چې په ځينو ځايونو کې پرچميان د خلقيانو په وړاندې په ترهگرۍ لاس پورې کړي. د خلقيانو د سرکښو ملکي او پوځي کدرونو د ترور بيلگې زياتې دي او يوې ته به يې گوته ونيول شي. په کال ١٩٨٢ کې د مرکزي قول اردو قوماندان عبدالودود په خپل دفتر کې ووژل شو. دولت اعلان کړل چې نوموړي ځانوژنه کړې ده. عجيبه دا وه چې نوموړی کيڼ لاسی وو او توپانچه يې په ښي لاس کې ورته ايښې وه. دلته دا پوښتنې را پيداکيږي چې د قول اردو قوماندان ولې ځان ووژني .بل دا چې څرنگه يو کيڼ لاسی په ښي لاس ډزې وکړي .هغه مهال د انقلاب په لار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربانیان د شهیدانو په غونډۍ ( مرنجان غونډۍ ) کې خاورو ته سپارل کېدل خو واکمن فرکسیون هڅه وکړه چې د نوموړي جنازه د شهیدانو په تپه کې خاوروته ونه سپارل شي ځکه چې هغه ځانوژنه کړې ده او د نوموړي د وژنې مسئله هم ونه څېړل شوه خو د خلقیانو د فشار له امله هغه د شهیدانو په غونډۍ کې خښ کړل شو. د پرچمیانو له لوري د خلقیانو ترور ته بهرنیانو هم ګوتې نیولې چې پدې اړه بروس ریچاردسن امریکایي لیکوال لیکي: « پرچمیانو واک ته د رسیدو څخه وروسته په خلقیانو کې د خپلومخالفینو په وژلو پیل وکړ.» ۱۵۴/ ۳۸

## بې سره لښکر

د شوروي اشغال پر مهال به شوروي سلاکارانو ویل :« پرچمیان سر لري لښکر نلري ، خلقیان لښکرلري خو سر نلري .» د شورویانو دا ډول ارزونه سمه وه او عاملین یې په خپله شورویان وو چې د خپلو توطیو او دسیسو او بیا مستقیم پوځي یرغل له لارې د خلقیانو لښکر بې سره کړ ، د پرچمیانو په لمسون سره یې ژمن خلقي کدرونه بې اغېزې کړل او بې لښکره کارمل یې هم پر خلقیانو او هم پر ولس واکمن کړ . البته هر اشغالګر بې لښکره سیاستوال چې د خلکو له ملاتړ برخمن نه وي واک ته رسوي چې د اشغالګرو ملاتړ او لاس نیونې ته اړ وي. که څه هم هغه مهال کارمل د پرچمیانو یوازینې منلی مشر وو خو سره لدې پرچم ونه توانید په ولس کې ریښې وځغلوي او د ټولنې د مختلفوطبقو او اقشارو استازي ځان ته راکش کړي او د خپلې واکمنۍ د پایښت په خاطرډاډمن لښکر جوړ کړي . اصلي لامل یې دا وو چې ملتپالو روڼ اندو او قومي مخورو پرچم یوه پردۍ پاله ډله ګڼله او د هغې سره همکارۍ ته چمتو نه وو. همدا لامل د دې سبب شو چې پرچم وګړنیز ملاتړ ترلاسه نکړ. خو د هغه سیال خلقیانو د انقلاب په بشپړتیایي پړاو کې سره لدې چې د پرچمیانواو د شورویانو د فشارونو، توطیو او دسیسو سره مخامخ وو او د دولتي رسنیو له لارې تخریبېدل بیا یې هم د غړو شمیر د وخت په تیریدوسره زیاتېده. علت یې دا وو چې خلقیانو ثور انقلاب او واکمني خپل ګڼل او د سر په بیه یې د هغه څخه ساتنه کوله. دا واقعیت ځوان نسل چې د دولتي حاکمیت په ساحه کې ژوند کاوه درک کړی وو او نوهماغه دي چې خلقیان کیدل او پدې توګه یې خلقي لښکر پیاوړی کولو. خو دې زیاتیدونکي لښکر سر( مشر ) نه درلود او دا بې سره لښکرد پرچم د واکمنۍ د سون توکی وګرزید. بیځایه یې نه دي ویلي چې سل دې ومري خو د سلو سر دې نه مري.دا واقعیت چې د یوه ګوند ټول مشران په سیاسي مشرانو نه اوړي ، هر یو یې د یوه سیاسي مشر ځانګړتیاوې نلري او یا هغه نشي ترلاسه کولی. د تره کي ، امین او زرغون پرته نورو خلقي مشرانو په ډېرو مواردو او په تېره دوو حساسو شیبو کې د مشرتابه نه وړتیا او بربنده کمزوري ننداري ته کیښودله. البته پدې اړوند د تره کي او امین له تېروتنو او په تېره د امین له لېونۍ ځانغوښتنې سترګې نشي پټېدلی چې په ټولنه کې یې د ګوند اعتبار ته زیان ورسولو.

لومړی ـ د۱۳۵۸ کال د وږی د میاشتې د ۲۵ نیټې تور پلنوم . پدې پلنوم کې د امین په شمول د ګوند مشرتابه ( د امین پلویانو او مخالفانو ) وښودل چې هغوی د دې پلنوم د پرېکړو د ناوړه پایلو د درک وړتیا نلرله .دا بیا ښیي چې هغوی د سیاسي مشرانو د ځانګړتیاوو ، وړتیاوو او اړین بصیرت د لرلو څخه په بشپړ ډول بې برخې وو.

دوهم ـ د ۱۳۵۸ کال د مرغومي په شپږمه د شوروي ښکېلاکګرو په وړاندې غیرمسؤلانه دریځ . د ګوند مشرانو د خپل هیواد نیواک ته د خپلو ایدیالوژیکي او سیاسي باورونو یا د ډار ،جبن او مقام پالنې له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکلی ویلی دی پدې تمه چې دوی به بیا لوړ مقامونه ترلاسه کړي. دوی کولی شول چې د هیواد څخه ووزي، یا کوم سفارت یا د ملګرو ملتو کومې نمایندګۍ ته پناه یوسي او هغه مهال هر دولت په تېره لوېدیځ دوی ته سیاسي پناه هم ورکوله. که دا کار یې مناسب نه ګڼلو لږ تر لږه د اشغال لاندې بلواکې واکمنۍ سره یې له همکارۍ ډډه کړې وای . دوی په واکمنی کې د شریکېدو وروسته هم په واکمنۍ کې د ناخوالو ،د پرچم د یکه تازیو ، د مخالفینو په وړاندې د زور زیاتۍ او د خپلو ملګرو په وړاندې د توطیو او دسیسو په وړاندې غبرګون ونښود. دوی د دري ژبو د دې خبرې په شان« پهلوان زنده خوش است » شپې او ورځې تیرولې او کوم خلقي به چې د شته ناخوالواو د خلقیانو په وړاندې د دسیسو خبره ورته و کړله د امیني ، منفي باف ، احساساتي ، ماجراجو او د سیاسي پوهې څخه بې برخې نومونه ایښودل یا چوپه خوله پاتې کیدل. ځینو به لا دا ویل چې پرون تاسو پرچمیان و ځورول اوس د هغوی وار دی. دوی خپلې ترسره کړې تېروتنې او ګناوې په عادي ګوندیانو اچولې، هغه ګوندیان چې هم له پروني حالت څخه ځوریدل او د نن څخه یې هم شکایت درلود.

پدې برخه کې به د لیکوال په وړاندې د خاد د دسیسو څخه د یوې دسیسې او د خلقي لوړپوړو د بې تفاوتۍ او منفي دریځ په هکله یادونه وشي. ددې یادونې څخه موخه د خلقي مشرانو د کمزورۍ او نه وړتیا سربیره د خپلو ملګرو هڅول هم دي چې څرنګه خپل دریځونه وساتي، مصلحت ته لومړیتوب ور کړي ، د حالاتو سره ځان عیارکړي او هڅه وکړي چې شوروي سلاکاران خپل کړي. په ۱۹۸۲ کال کې لیکوال د حربي پوهنتون د سیاسي څانګې د مرستیال په توګه دنده لرله او لیکوال لومړی خلقي وو چې د شوروي یرغل وروسته د حربي پوهنتون د سیاسي آمریت د کارکوونکي په توګه وګومارل شو. د انقلاب د نوي پړاو وروسته د حربي پوهنتون څخه ټول خلقي قوماندانان او سیاسي کارکوونکي تبدیل شول. ددې کارڅخه د پرچمیانو موخه دا وه چې پوځ پرچمي کړي. پرچمیانو د۱۳۵۸ کال د مرغومې د شپږمې وروسته دا پلان درلود چې په تعلیمي موسسو کې یوازې پرچمیان د قوماندانانو او سیاسي کارکوونکوپه توګه وګوماري او پوځې تعلیمي مؤسسو ته هغه ځوانان ونیسي چې د پرچمیانو له لوري تضمین او یا معرفي شوي وي . خو د امنیتي وضعیت د خرابېدو وروسته او د ملي پاڅون د پیل له امله دا پروژه پلې نشوه او پرچمیان اړشول چې بېله استثنی ټول داوطلب ځوانان پوځې تعلیمي مؤسسو ته ونیسي. کله چې لیکوال په حربي پوهنتون کې د سیاسي آمریت د مرستیال په توګه مقرر شو د اتلسو سیاسي کارکوونکو څخه یې یوازې یو تن خلقي وو. په حربي پوهنتون کې د لیکوال د اتو میاشتې دندې په تیریدو سره یوه ورځ ډګرمن عبدالغفار د پوهنتون اجتماعي مستنطق او استاد چې د ګوندغړی نه وو لیکوال ته و ویل:« خاد دری تنه محصلین پدې تور بندي کړي دي چې د قراول په مهال یې یو میل کلاشنکوف ورک کړی دی. د محصلینو د تحقیقاتو څخه راته معلومه شوه چې کوم خادېست دا وسله پټه کړې او محصلینو ته ویل شوي دي وواېي چې د سیاسي آمریت د مرستیال په دستور یې دا کلاشنکوف اشرارو ته ورکړی دی. دا تا ته یوه دسیسه ده . ما ورته وویل چاره څه ده؟ استاد وویل د وسلوال پوځ لوی څارنوال جنرال محمد هاشم کولای شي مرسته وکړي. هماغه ورځ مازدیګر د لوی څارنوال کور ته ورغلم. د نوموړي سره د خبرو په مهال ګلابزوی د کورنیو چارو وزیرهم راغی او زموږ خبرو ته یې غوږ ونیو.لوی څارنوال د مرستې څخه خپله بېوسي وښودله. دا مهال ګلابزوی لیکوال ته وویل سبا ته د کورنیو چارو وزارت ته راشه زه به تا پخپل وزارت کې مقرر کړم . خو ما د منني په ویلو سره د هغه سره موافقه ونکړله. وروسته مې دا ستونزه د یوه ملګري سره طرحه کړه اوهغه وویل چې د مخابراتو د وزیر محمداسلم وطنجار له لارې به دا ستونزه حل کړو او زه به د نوموړي یاورته ووایم چې ستا ملاقات ورسره تنظیم کړي. وطنجار ته ورغلم . د ځان د معرفي کولو وروسته د کېناستو اجازه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او هغه وويل :« دا ملګرى چې دلته ناست دى د شوروي اتحاد د سياسي اکادمۍ څخه فارغ شوى او د هوايي پوهنتون د سياسي آمريت د مرستيال په توګه مقرر شوى دى اوس تاسو دواړه کولی شئ وطن ، خلکو او انقلاب ته وفاداره افسران اردو ته تقديم کړئ.» ما په ځواب کې ورته وويل د هوايي پوهنتون څخه خبرنه يم چې هلته محصلين څه ډول روزنهويني خو په حربي پوهنتون کې محصلين په ملي روحيه نه روزل کيږي. ما خپلې خبرې نه وې بشپړې کړې چې وطنجار وويل:« هغه وخت چې تره کی صاحب وژل کيده چيرې وې چې اوس دا ډول خبرې کوې؟ » د وطنجار دې خبرې هک پک کړم او ورته ومې ويل . زه د تره کي صاحب په وژلو کې نه ښکېل وم او نه کوم وزير او قوماندان وم چې ځان ملامت و ګڼم. چا چې هغه وژلی دی او چا چې د هغه وژني ته لار هواره کړله هغوی پيژنم او هغوی ملامت دي نه نور خلقيان. د دې خبرې په کولو سره له ځايه جګ شوم او له دفتر څخه يې ووتلم.
د وطنجار سره د ليدنې وروسته پدې فکرکې شوم چې دا مسئله د حربي پوهنتون د ګوندي فعالينو په غونډه کې طرحه کړم چې يوه اونۍ وروسته پلان شوې وه . د غونډې د چمتووالي ټولې چارې بشپړې شوې وې او د غونډې پرمخ وړونکی هم زه وم . د غونډې مخکې مې په پوهنتون کې يوازينی خلقي سياسي کارکوونکی لومړی بريدمن عبدالقادر راوغوښت او يوه ورقه سپين کاغذ مې د قلم سره ورکړل او ورته ومې ويل څه چې درته وايم هغه به وليکې . په ورقه کې د خاد د مديريت د دسيسو، د محصلينو د وهلو ټکولو او د ګوندي يووالي خلاف د قوماندانانو او سياسي کارکوونکو کړنو څخه يادونه شوې وه. هېره دې نه وي چې د ګوندي فعالينو په غونډو کې د غونډې د اساسي رپوټ او ويناوو وروسته نورو برخه والو ته وخت ورکول کيده چې په ليکلي ډول خپل انتقادونه او وړانديزونه رئيسه هيأت ته راوړي او هغو ته به مسئولين ځواب ورکړي. په غونډه کې د لوړو زده کړو وزير سرور منګل ، لوی درستيز بابه جان او د سياسي رياست استازي هم برخه لرله. غونډه په معمولي ډول پرمخ تلله او د برخه والو انتقادونه مې ترلاسه کړل او د هريوه په لوستلو مې پيل وکړ. هغه ورقه چې زما د شعبې ملګري ليکلې وه هغه مې هم ولوستله ، هغه مې تائيد او د پوهنتون له مشرتابه څخه مې هيله وکړه چې دې نه منونکي حالت ته د پای ټکی کيږدي. معمولا په ګوندي غونډو کې د لوړ مقام څخه راغلي ميلمه د غونډې او پدې ګوندي يا دولتي بنسټ کې د چارو د څرنګوالي نتيجه ګيري کوله خو منګل د غونډې بهيراو په پوهنتون کې وضعيت خورا ښه ارزيابي کړ اود دې مؤسسې له مشرتابه څخه يې مننه وکړه او پدې ډول غونډه پای ته ورسيدله. کله چې غونډه پای ته ورسيدله ما د غونډې له برخه والو وغوښتل چې د مېلمنو د وتلو وروسته په صالون کې پاتې شي. د ميلمنو د وتلو وروسته مې حاضرينو ته په پوهنتون کې د نه منونکي وضعيت او په تيره د خاديستانو دسيسي او منفي کړه وړه ، د پوهنځيو د قوماندانانو او سياسي کارکوونکو کړنې انتقاد کړل. د ليکوال خبرې په چکچکو بدرګه شوې چې نابېره د مخابرې د پوهنځي قوماندان، ډګروال غازي چې مخکې د کنړ د نهمي فرقي قوماندان وو په خپل ځای کې ودريده او ويې ويل څخه خبره ده چې چکچکې کوئ ! ليکوال د هغه څرګندونو ته پام را ونه ګرزولو او خبرو ته دوام ورکړ او د غونډې پای يې اعلان کړ.

د غونډې وروسته د سياسي آمرشعبې ته ورغلم . څو شيبې وروسته د خاد مدير پنجشيری احمدشاه د خپلو دوو تنو همکارانو سره يوځای دفتر ته راننوت او ما ته يې سپکې سپورې وويلې . ليکوال د خاد مدير ته وويل: « احمدشاه هرڅه چې کولی شې ويې کړه خو زه سپکې سپورې نه درته وايم » سياسي آمر زما د دې خبرې په اوريدو سره نوموړي ته وويل له شعبې څخه ووزه . د شعبې څخه د خاديستانو د وتلو وروسته زه هم ووتلم . سبا سهار چې د پنجشنبې ورځ ده يوه عريضه سياسي آمر ته وړاندې کړه ترڅو د خاد د مدير سپک چلند وڅېړل شی . هغه وغوښتل چې دا عريضه رسمي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره نکړي  ما ورسره ونه منل نوموړي عریضه قوماندان  ته راجع کړه او هغه هم د عریضې د رسمي کیدو سره مخالفت څرګند کړ خو ما ټینګار کاوه چې دا مساله هرو مرو تعقیب شي. هغه خپل شوروي سلاکار را وغوښت. هغه راغی او قوماندان د عریضې مسئله ورته وویله . سلاکار  زما څخه  هیله وکړه چې له عریضې څخه  تیرشم. ماورسره ومنله ځکه پوهېدم چې د هغه د غوښتنې سره نه همغږي ناوړه پایلې لري ځکه  شورویان د هیواد اصلي واکداران دي او له بله پلوه ما فکر کاوه چې سلاکار به  هرومرو دا قضیه تعقیبوي . د قوماندان له دفتر نه راووتلم ګورم چې د سیاسي ریاست د ځوانانو د مدیریت څخه عبدالواحدخرم چې خلقی ګټل کېده  د ځوانانو د مسئول سره ناست دی . ما ترې پوښتنه وکړه چې څنګه راغلی یې . هغه وویل  پرون د  پوهنتون د ګوندي فعالینو په غونده کې جنجال شوی دی او سیاسي رئیس زه او د سیاسي ریاست  د تبلیغ او مالي چارو مدیران د پلاوي په توګه رالیږلي یو چې دا موضوع وڅیړو. هغوی سیاسي آمر ته ورغلل او ماته یې وویل چې د ځوانانو د سازمان کارونه کنټرول کړم . زه خپل دفتر ته لاړم چې هرو مرو پلاوی  زما سره ګوري خو څوک را نغلل.  په دوولسو بجو د سیاسي کارکوونکو شعبې ته ورغلم چې خرم لا هلته ناست دی او  د هیآت په اړه مې ترې وپوښتل هغه وویل دوی ولاړل او ما ته یې وویل چې ته به د عملي په موټر کې خپل کور ته لاړ شي. هغه ته مې وویل  زه سیاسي ریاست ته ځم کولی شم تا د سیاسي څانګې په جیپ کې ښار ته ورسوم. هغه مې په ښار کې کښته کړ او زه  د دارالامان مانۍ د دفاع وزارت قرارګاه   ته ولاړم. په مانۍ کې مې تصادفا د سیاسي ریاست د پیژند مدیر عبدالقیوم  ولید او هغه  راته و ویل همدا شیبه سیاسي رئیس هدایت راکړ چې احتیاط ته ستا مکتوب ولیکم. ښه به وي چې  شیخ محمد باور د ریاست  مرستیال ته ورشو . هغه ته ورغلو او نوموړي راته  وویل چې زما په موټر کې د پوځي خاد رئیس جنرال عبدالحق صمدي ته ورشه. ما ورته وویل  زه لومړی د سیاسي رئیس سلاکار ته ورځم او د هغه د لیدو وروسته به صمدي ته ورشم. هغه راسره ومنله او سلاکار ته ورغلم. هغه ته مې د سیاسي ریاست د هیآت د راتګ او د  ګوندي فعالینو د غونډې په اړه معلومات ورکړل. مشاور د تبلیغ  مدیر راوغوښت او د هغه څخه یې د نوموړي د ماموریت په هکله معلومات وغوښت. مدیر( خلیل) ورته وویل « خاد په ملګري آصف کره اسناد لري چې د اشرارو سره اړیکې لري. څرنګه چې ملګری  پیژنم هغه تضمینوم او زما وړاندیز دا دی چې پدې خبره غټه دبره کیږدو او ور پسې ونه ګرزو. » سلاکار زما نظر  وغوښت  ما ورته وویل «که خاد پرما اسناد لري هغه دې وښیي او دا مساله باید وڅیړل شيي» سلاکار وویل چې د شنبې په ورځ په لسو بجو زه ، ملګری باور(  د سیاسي رییس مرستیال) او ملګری خلیل( د تبلیغ مدیر) حربي پوهنتون ته درځو ته  او سیاسي آمرپه خپل دفترکې  اوسئ .د هغه له دفتر نه ووتلم او باور ته ورغلم هغه خپل موټروان راوغوښت او ورته ویې ویل چې ما د نظامي خاد ریاست ته ورسوي. د پوځي خاد رئیس  راته وویل چې د حربي پوهنتون د خاد مدیر په تا باندې عریضه کړې ده چې د خاد په چارو کې لاسوهنه کوي او ښایي دا د افغانستان د استخباراتو په تاریخ کې لومړۍ پیښه وي چې د استخباراتو مدیر په چا باندې عریضه کوي. ما ورته وویل دا ښه خبره ده  د هغې  په اړه باید څېړنې وشي . نوموړي وویل  تا ته سلا درکوم چې د خلکوسره ګوزاره کوه، دا چې  د محصلینو سره ناوړه چلند کیږي ته مه پسې ګرزه . ما ته دسیسې جوړوي او زه نه پسې ګرزم ته به څه وکړې . هڅه وکړه چې د دوستانو( شورویانو) سره ښې اړیکې وساتې او... د هغه له دفتر ووتلم. د شنبې په ورځ  په ټاکلي وخت د سیاسي رییس سلاکار، د سیاسي رئیس مرستیال او د تبلیغ اوترویج مدیر راغلل زه او سیاسي آمر یې سره کښېنولو او د سیاسي آمرڅخه یې وپوښتل چې د ستا د مرستیال د ادعاوو د څیړلو لپاره کوم پوهنځي ته لاړ شو  هغه ورته وویل سیاسي پوهنځي ته. بیایې ماته وویل چې پدې پوهنځي کې له هغومحصلینو سره چې بد چلند شوی دی د هغوی نومونه راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



. ما د څو تنو محصلینو نومونه په روسي ولیکل او مشاور ته مې ورکړل او په ګډه پنځه تنه سیاسي پوهنځي ته لاړو. مشاور د نوموړي پوهنځي قوماندان ته نومونه ورکړل چې هغه ورته حاضرکړي. د څو دقیقو وروسته قوماندان دوه تنه محصلین راوستل او ویې ویل نور په اراضي کې درس لري. سلاکار د محصلینو خبرې واورېدلې او ویې ویل هرڅه روښانه شول له پوهنځي څخه ووتلو او سیاسي آمریت ته راستانه شوو. د سیاسي ریاست سلاکار د حربي پوهنتون د قوماندان مشاور هم راوغوښت او دا نتیجه ګیري یې وکړه. « په حربي پوهنتون کې د چارو وضعیت د اندیښنې وړدی ، سیاسي آمر له وضعیت څخه په بشپړ ډول بې خبره دی او مرستیال یې له وضعیت څخه خبر دی خو کوم اقدام یې نه دی کړی اویوازې یې اسناد راټول کړي دي .» دا مهال د قوماندان مشاور د خبرو اجازه وغوښتله او ویې ویل سیاسي مرستیال فرکسیونباز دی او ستاسو څخه هیله کوم چې هغه لدې ځای څخه تبدیل کړئ. جنرال هغه تهدید کړ او ورته ویې ویل د هغه تبدیلي ستا واک نه دی.پدې ډول غونډه پای ته ورسیده او زه خوښ وم چې لوبه مې وګټله . په هماغه ورځ خبر شوم چې په خیمو کې اچول شوي محصلین هم خلاص شول او د ورک شوي کلاشنکوف خبره هم هېره شوه . اونې لانه وه تیره چې د لیکوال د تبدیلی مکتوب راورسید او د ملکي مدافعي په ریاست کې د تبلیغ او ترویج د مسؤل په توګه وګومارل شو . د پورتنیو څرګندونو څخه جوتیږي چې خلقي مشرانو د کارمل او نجیب الله د واکمنۍ په دوران کې یوازې سترو مقامونو ته زړونه خوښ کړي وو خو د واکمن فرکسیون د ملي ضد او خلقي ضد تګلارو سره د جوړجاړي له کبله نه ځان ته څه وکړل ، نه خلقیانو ته او نه ولس ته. هغوی د خپل ګوند او د هغه د سیاسي راتلونکې لپاره د غوڅې پریکړې د نیولو جوګه نشول . پدې ډول ستر خلقي لښکر د خپلومشرانو د مقام پالنې، ډار او یا د پیښو څخه د تیښتې د دریځ قرباني شول . د لیکوال په وړاندې د خاد د دسیسې او د خلقي یادو مشرانواو شورويٍ سلاکارانو له غبرګون څخه جوتیږي چې خلقي مشرانو یوازې او یوازې د خپلو دریځونو د ساتلو په هکله فکر کاوه او شوروي سلاکارانو د خلقیانو په ځپلو او کمزوري کولو کې د پرچمیانو ملاتړ کاوه .

## د وسله والو مخالفینو ښکار

د شوروي د څلویښتم لښکر کشفي او استخباراتي شبکو ، د خاد او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت په ګوندي او امنیتي ارګانونو کې شوروي سلاکارانو د وسلوالو مخالفینو د راخپلولو او د تنظیمونو ترمنځ د دښمنیو د تخمونو د کرلو په موخه پراخ اقدامات پیل کړل چې موخه یې د ملي پاڅون کمزوري کول وو. د دولتي واکمنۍ په محدوده کې د ملایانو او قومي مشرانو پیرل ، د ځایي جهادي قوماندانانو سره اړیکې ټینګول او په پاکستان او ایران کې په تنظیمونو او کډوالو کې نفوذ هغه اقدامات و چې په ګډه شوروي څارګرو او خادیستانو ترسره کول. البته چې وسلوالو مخالفینو ورته چلند کاوه تر څو خپل وګړي د ا، خ، د، ګ لیکو، امنیتي ارګانونو او په تیره کشفي او استخباراتي بنسټونو ته ورننه باسي. وسلوالو مخالفینو د ګوند د دواړو ډلو( خلق او پرچم ) دښمنیو ته په کتنې سره چې پرچم برلاسی دی خپل غړي او پلویان هڅول چې د خلقیانو خلاف په تبلیغاتو او د خلقیانو په اړه خاد ته د ناسمو رپوټونو په ورکولو سره د پرچمیانو باور ترلاسه کړي او ګوند ته ورننوزي چې پدې تکتیک سره د واکمن فرکسیون د اعتماد د لاسته راوړلو په موخه له یوې خوا د خپلو تنظیمونو په ګټه فعالیت وکړي او له بله پلوه خلقیان او خپل جهادي سیالان او په نظام کې د هغوی پلویان پرې وځپي. ښه بیلګه یې د اسلامي جمعیت د تنظیم نفوذ د دفاع وزارت د کشف په ریاست کې وو. دا شبکه په کال ۱۹۸۲ کې کشف شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دې ریاست مشرتابه ( رئیس ، مرستیالان او د خارجي کشف مدیر) هم پکې شامل وو چې هغه ټول پرچمیان او یا د پرچمیانو پلویان وو. کشف د رییس جنرال خلیل مېرمن روسۍ وه ښایي هغې ددې شبکې په کشفولو کې شوروي سفارت یا په افغانستان د کې جي بي مسؤلینو مرسته کړې وي. خادیستانو د شوروي څارګرو تر لارښوونې لاندې نه یوازې د افغانستان په د ننه کې د تنظیمونو ترمنځ بې اتفاقیو او شخړو ته لمن وهله بلکه په ځینو هیوادونو کې یې پټې شبکې لرلې . دا فعالیتونه د دولتي امنیت د لومړۍ اداري له لوري تنظیمېدل. « دا ځانګې په کویټه،پیښور، اسلام آباد، ډیلي ، بمبئي، تهران، مشهد، بن ، انقره،کویټ ، کراچۍ او چمن کې وې چې له کابل سره یې اړیکې د شوروي میشتو څارګرو ځانګو له لارې ساتلې او شوروي کودونه یې کارول...، د بېل یې کړه ، اېل یې کړه متل پر بنسټ هڅې وشوې چې هره ډله له یو بل سره لاس او ګریوان کړي. د۱۹۸۰ ز کال په پای کې د ګلبدین حکمتیار پر ضد ۸۰۰ شپه پاڼې چې د حرکت انقلاب اسلامي د ګوند د مشر محمدنبي له پلوه چې په پښتو لیکل شوې وې په پیښور کې د کډوالو د ورسکو او کچه ګړۍ په پنډغالو کې تیتې شوې.په همدې ترڅ کې د افغانستان د اسلامي ګوند د یوه ناپیژندلي غړي له پلوه یو ځانګړی لیک د م. نبي پرمیز ایښودل شوی وو. په لیک کې ویل شوي ول چې ګلبدین حکمتیار غواړي تاسو ووژني. کی جی بی په بریالیتوب د افغانستان د اسلامي ګوند د مورچل د یوه جهادي بولندوی په نامه د ګ. حکمتیار له پلوه یو جعلي لیک جوړاو پر بنسټ یې په ورځپانه کې یوه وړنده کره کتنه هم خپره کړه د دغه لیک خټه او موخه دا وه چې حکمتیار د مجاهدینو د مشرانو او د پاکستاني چارواکو په وړاندې بې اعتباره کړي.» ۱۲۴ /۳۲۰-۳۲۲ د جهادي قوماندانانو ښکار د ځلوبېنتم لښکر لپاره ډېر ارزښت درلود. ځکه چې د هغوی خپلول د وسلوالو مخالفینو کمزورولو ته لارهواروله چې پدې ډول د شوروي پوځیانو د ځاني تلفاتو او مالي زیانونو د کمښت سبب ګرزیده. شورویانو د دولت سره همکارۍ ته د جهادي ډلو د ماتولو په چاره کې دوه ګونې تګلاره لرله .ځینې یې د دولت سره څرګندې همکارۍ ته هڅولې او ځینې یې د پټو پروتوکولونو په لاسلیکولو سره د دولت بهر د وسلوالو مخالفینو په نامه ساتلې. شورویانو پښتون توکمه وسلوال مخالفین د دولت سره مستقیمې همکارۍ او د هېواد په لرګیو پورې تړاو لرونکې ډلې پټې ساتلې او هغوی ته یې وسلې او نور د اړتیا وړ توکي ورکول. ددې کار څخه یې موخه داوه که د ا، خ، د ،ګ واکمنی نسکورېږي د افغانستان په پلاز لړکې وویني. هغه مهال ځېنو شوروي سیاستوالو دا هم نه پټول چې امریکا اووه ګونې لري ولې موږ هم څو ډلې ونلرو. د ساري په توګه په هرات کې د شیرآقا چونګرعلي زي، آمرسیداحمد علي زي، عارف- آصف بارکزي، داود جوان نورزي او غني تیموري ډلې دولت ته تسلیم شولې او د کروخیل ، جبارقهرمان اوعصمت مسلم اڅکزي د ډلو په څیر خپلواکه وې چې د وسلوال پوځ جنرالان یې هم ډبولی او سپکولی شول.خو په هرات کې د تاجک توکمه یحیی سیاوشان او تورن اسماعیل خان سره لکه د احمدشاه مسعود په شان پټې اړیکې ساتلې . د ساري په توګه به د اسلامي جمعیت د قوماندان احمدشاه مسعود په ښکار او خپلولو تم شو چې د هغه سره یې تړونونه لاسلیک کړل ، د نوموړي سره یې د دوامدارو اړیکو د ساتلو سربېره سیاسي او روزنیز کارهم پرمخ وړلو او د هغه د اتوریټې د لوړولو په هکله یې زیاتې هلې ځلې وکړې او په وروستي ګام کې یې په کابل واکمن کړ . کې جي بي ته د نوموړي سره د اړیکو د ټینګولو سره سم پته ولګیده چې نوموړی هغه څوک دی چې دوی یې په لټه کې دي چې هغه د مسعود د منفي رواني ځانګړتیاوې ( ځانغوښتنه، تاجک پالنه او پښتني ضد روحیه) دي. ک ګ ب ډادمنه شوه چې د مسعود په وجود کې خپلو موخو ته رسیدلی شي. لدې کبله یې په خپل ټول قوت سره خپلې هلې ځلې پدې راوګرزولې چې نوموړی په راتلونکې کې د افغانستان او یا لږترلږه د شمالي افغانستان یا لوی تاجکستان مشرۍ ته ورسوي. جنرال لیاحفسکي د خپل کتاب ۳۵ مخه د مسعود سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوروي پوځي او استخباراتي کړيو د اړيکو، د مسعود غوره ځانګړتياوو او اتلوليو په اړه بشپړ توضيحات وړاندې کړي چې په کتاب کې د هيڅ بل کوم افغان سياستوال حتى کارمل په اړه دومره معلومات يا په بله خبره تبليغاتي کمپاين نه دى شوى. لياخفسكي د خپل كتاب په ٥٣٠ مخ كې پدې هكله داسي اعتراف كوي:« په واقعيت كې څرنګه چې ما وويل موږ په خپله تر يوې كچې له مسعود څخه ملي اتل جوړ كړ.» هېره دې نه وي چې د مسعود د شخصيت د لوړولو لپاره فرانسويانو، انګريزانو، ايرانيانو او همدارنګه د افغاني جهادي ډلو معنوي پلرونو مولانافضل الرحمن ،مولانا سميع الحق او عربي جهادي عبدالله عزام د اسامه بن لادن نږدې ملګري هم كمپاين كړى دى. بېله كومه شكه د امريكايي – انګريزي خونړي يرغل زيرنده واكمنۍ پر مهال مسعود ته د ملي اتل لقب وركول د اشغالګرو د هوكړې له مخې صورت نيولى دى. د شوروي ليكوالو له ليكنو څخه بريښي چې د ک ګ ب او مسعود ترمنځ اړيكې وروسته له هغې ټينګې شولې كله چې د۱۹۸۰ ز كال په اپريل كې شوروي او افغان ځواكونو په پنجشير ګډ عمليات پيل كړل او د مسعود مليشو ته يې ځاني او مالي زيانونه ورسول مسعود اړشو چې د شورويانو ارادې ته سرټيټ كړي ، ور سره يې د همكاري پيل كړي ،څلويښتم لښكر هغه ترخپل چتر لاندې ونيسي ، د وسلو او پيسو او هغه ته د شخصيت په وركولو سره هغه ونازوي. ک ګ ب هغه وخت مسعود ډاډمن سړى وګڼه چې «هغه( مسعود) پدې باوردى چې په افغانستان كې هيڅ يو رژيم نشي كولى د شوروي اتحاد له ملاتړ او دوستانه اړيكو پرته ژوند او دوام وكړي.»۴۹ / ۴۹۵ د مسعود سره د شوروي څارګرو د اړيكو پايله دا شوه چې د څلويښتم لښكراو مسعود ترمنځ يوه لوزنامه لاسليک شي چې د هغې له مخې « نوموړي ومنله چې د شوروي او دولتي ځواكونو خلاف به دښمنانه عمليات نه تر سره كوي. د دې كار په بدل كې له هغه سره لوظ شوى وو چې په پنجشير به هوايي ګوزارونه نه ترسره كيږي، د ده كاروانو ته به د درې نه د ننوتلو او له هغې نه د وتلو اجازه وركول كيږي، او همدارنګه د افغانستان اسلامي ګوند له سيالو ډلو ټپلوسره د احمدشاه د ډلو د وسله والو د نښتو پر وخت به د هوايي بمباريو او توپچي ګوزارونو له لارې له نوموړي ننګه او ملاتړ كيږي. » ۴۹ / ۴۹۵ د دې لوزنامې په لاسليک سره د څلويښتم پوځ او مسعود ترمنځ د دوستۍ مزي ټينګ شول. « شوروي پوځي څارګره اداره هم لاس ترزني ناسته نه وه او پدې پړاو كې د مسعود سره د خپلې همكارۍ په ټينګولو او لا پياوړتيا باندې بوخته وه. د ساري په توګه ډګرمن ت. اناتولي خورا اوږد وخت د احمدشاه په استوګنځي كې تير كړ او پدې ترڅ كې يې له هغه سره اړونده كار پرمخ بيوه . هغه يې د شوروي ژوند د بڼې او د ماركسيسم د بنسټ ايښودونكو له ليكنو سره هم بلداوه .» ۴۹ / ۴۹۶ په افغانستان كې د څلويښتم لښكر وروستي قوماندان جنرال ګروموف د مسعود سره د خپل هيواد د څارګرې ادارې د بريااليو استخباراتي اړيكو په هكله ليكي :« د څلويښتم لمبر لښكر د استخباراتي مركزهڅو په پاى كې ټاكلي نتيجې وركړې. په ۱۹۸۲ ميلادي كال كې موږ خپل لوى مقصد ته ورسيدو، له احمدشاه سره مو داسي ټينګې اړيكې پيدا كړې چې آن له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو تر وخته په خپل حال پاتې شوې. په افغانستان كې زموږ د پوځي حضور په ټولو كلونو كې له مسعود سره زموږ اړيكو بريالى وده موندله، خو لدې سره سره د محدودو پوځي ټولګيو قوماندانۍ د ده د وسله والو باندونو فعاليت له نظره نه غورزاوه. په ۱۹۸۲ كال كې د څلويښتم لښكر د استازو او شخصاً د مسعود له خوا يو تړون لاسليک شو چې د هغه له مخې مسعود ژمنه كړې وه چې په جنوبي سالنګ كې به چې د ده بې رقيبه باداري سيمه وه ، پر شوروي پوځي قطارونو يرغل ته اجازه نه وركوي... د مسعود سره د لاسليک شوي تړون له مخې، مسعود خپلو وسله والو ته امر وكړ چې د حكومتي عسكرو خلاف دې له جګړې څخه لاس واخلي او خپل ټول ځواک دې د مخالفې ډلې اسلامي حزب د باندونو پر خلاف جګړې ته اړم كړي.» ۱۹۰/ ۲۶۶ ـ ۲۶۷ البته د مسعود سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورویانو اړیکو د هغه تر مرګه  پورې دوام وموند. د شوروي لښکر د وتلو پرمهال د مسکو- مسعود اړیکې دومره دوستانه وې چې د مسکو- کابل اړیکې یې ترسیوري لاندې راوړې وې. دا مهال مسکو د نجیب هغو وړاندیزونو  ته منفي ځواب وایه چې په پنجشیر پوځي عملیات تر سره شي. حتی کله چې د۱۹۸۸ کال په اګست کې کندز د لنډې مودې لپاره د دولت له کنترول نه ووت بیا هم مسکو د نجیب الله له لوري د پنجشیر په جبهه کې د عملیاتو وړاندیز ته منفي ځواب ور کړ. لیکوال ته په هالند کې د دولتي امنیت د وزارت د کدراو پرسونل د ریاست لوړپوړي نصرالله  امیني کیسه کوله : « په دولتي امنیت کې په یوه ستره غونډه کې نجیب  ته یو تن راغی او په غوږ کې یې څه  وویل. کله چې نوموړی له صالون څخه ووت نجیب  غونډې ته وویل چې تاسو ته یو زیری لرم . د څو ګړیو وروسته به احمدشاه مسعود لاس تړلی کابل ته راوستل شي. ځکه چې  هغه په پنجشیر کې زموږ د ځواکونو په محاصره کې دی او د تیښتې ټولې لارې یې تړل شوي دي. ورځې تیرې شوې خو په کابل کې د مسعود څرک ونه لګیده. یوه ورځ  مې  د مکتوبونو د لاسلیک وروسته  ترې وپوښتل. ډاکټرصاحب ! تاسي څو ورځې مخکې موږ ته وویل چې مسعود به لاس تړلی کابل ته راوستل شي خو د هغه درک نشته علت یې څه دی ؟ هغه وویل مسعود محاصره وو ، ناڅاپي د دوستانو هلیکوپټر کښته شو او مسعود یې له هغه ځایه پورته  کړ. ماښام یې د تخار څخه  د بي بي سي سره مرکه وکړه.» د کارمل د واکمنۍ پر مهال د مسعود په شمول څو تنه جهادي قوماندانان چې یوازې جلال الدین حقاني پښتون توکمه وو په غیابي اعدام محکوم کړل ګني  چې دا قوماندان خورا غښتلي قوماندانان دي .کله چې نجیب الله واک ته ورسول شو او  هغه د ملي روغې جوړې تګلاره اعلان کړه په اعدام محکومو قوماندانانو پریکړه یې  بیرته واخیستله او د څه مودې لپاره یې پدې نامه چې احمدشاه مسعود دفاع وزیر شي دا څوکۍ تشه پریښودله. دا د شورویانو له لوري مسعود ته د کریدیت ورکولو یوه هڅه وه . مسعود دومره شورویانو ته پالیاله او وفادار وو چې د نجیب  د واکمنۍ په مهال د هغه جنګیالیو د سالنګ په لار په تېرېدونکو شوروي پوځي کتارونو بریدونه  نه ترسره کول خو په افغان امنیتي ځواکونو یې بریدونه  کول. « د اګست په یوولسمه د سالنګ له لارې شوروي اتحاد ته  تلونکي د شوروي پوځونو یوه کتار ته اشرارو د کوم خنډ  پرته اجازه ور کړه. خو د اګست په ۱۵ دوی په دولتي کتار برید وکړ. دوی  ۳۰ ګاډي، ۲ زرهپوښونه له منځه یوړل ، ۴۰ تنه یې ووژل او ۲۰ تنه یې ټپیان کړل... ۵۰ تنه یې ګروګان ونیول.دوی لومړی د افغان پوځ په کتار ډزې وکړې، په هغوی پسې روان شوروي کتار ته  یې بیله ډزو اجازه ورکړله او په هغه پسې د څارندوی په کتار یې هم بریدونه تر سره کړل.»۴۹ / ۵۱۳ دا وو د احمدشاه مسعود مجاهد تر قوماندانۍ لاندې د کافرو اشغالګرو په وړاندې د  اسلامي جمعیت د جنګیالیو د سپیڅلي جهاد یوه بیلګه . دې سپیڅلو مجاهدینو کفارو ته د خپل هیواد په لارو  کې د خوندي تګ او راتګ اجازه ورکوله خو په خپلو افغان ځواکونو یې بریدونه کول او  هغوی یې وژل. یو افغان لیکوال چې د۱۹۹۲ کال د اپریل د اته ویشتمې وروسته  د شمال له لوري کابل ښار ته د جهادي جنګیالیو د راننوتو شاهد دی لیکي :«ما پخپله داسې کسان ولیدل چې د خیرخانې له لیارې  د کابل ښار په لوري روان وو ، چې له اورمیږ نه پور ته  افغانان معلومیدل ځکه چې پکول او ږیره یې درلوده ولې د اورمیږ نه لاندې یې ټولې جامې روسي مارک درلوده.» ۱۷۹/ ۴۹۶ د څلویښتم پوځ څارګرو د وسلوالو مخالفینو هغه ډلې ښکار  او  خپلې کړې وې  چې د بېله څه ویلو د مسکو د افغاني ضد پالیسیو رښتیني پلې کوونکي وې . دا واقعیت د پټېدو نه دی چې نه یوازې شورویانو له مسعود سره اړیکي لرلې او  هغه یې واک ته ورسولو بلکې د شورویانو د ارادې او دستور له مخې نجیب الله هم ورسره اړیکې ساتلې . ضمیرالدین میهن پور د دولتي امنیت د لومړۍ اداري رییس چې د ډاکټر ضمیر په نامه مشهور دی د بهار تلویزیون سره  ( ۲۰۲۳ کال د جنوري څوارلسمه) په مرکه کې وایي چې د ظاهرشاه د زماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سناتور حاجي ګلبت د نجیب ـ مسعود ارتباطی غړی وو او د خپلو لیدنو کتنو رپوټ به یې شخصاً نجیب الله ته ورکولو. هغه وایي چې زموږ د اداري کارکوونکو به حاجي ګلبت تر چهاریکاره رسولو چې مسعود ته ورشي. یوځل مسعود د لینن د کلیاتو دری ټوکې غوښتي وو او موږ هغه سناتور ته ورکړل چې مسعود ته یې ورکړي.

## مسکو د وتلو په لټه کې

د اشغالګرو په وړاندې د افغانانو اتلوال مقاومت او د نړیوالو د سخت منفي غبرګون سربېره د کارمل او پرچمیانو په وړاندې د خلقیانو حساسیت او د شوروي پوځیانو د شتون سره د خلقیانو نه همغږي شوروي سلاکاران او د څلوېښتم لښکر مشرتابه وهڅول مسکو ته وړاندېزونه وکړي چې د افغانستان د کړکېچ سیاسي حل ته مخه کړي . پدې اړه مزوروف د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو لوړپوړی مامور په افغانستان کې د شوروي لښکر د عمومي قوماندان د مرستیال جنرال اخرامییف له قوله د فارسي رو په ویب پانه کې د ګروګانهای تاریخ نومې مقاله کې راوړي :« په افغانستان کې وروسته له دریو میاشتو وپوهېدم چې باید لدې هېواده ووځو.دا مفکوره زمو د پوځ د کمزورتیا له امله نه وه .زه وپوهېدلم چې یو شمېر افغانان چې موږ ورسره کار کاوه هغه څه چې موږ غوښتل هغوی نه غوښتل .» همدارنګه د شوروي اتحاد د دفاع وزیرد ۱۹۸۱ کال په فبروري کې په سیاسي بېرو کې خپل یوه ملګري ته په یوه لیک کې راوړي :«د افغانستان د جګړې لپاره د پوځي حل هیڅ لاره نشته باید د کړکیچ څخه د وتلو سیاسي او دیپلوماتیکې لارې و لټول شي.» ۴۷ / ۷۶ یا داچې د افغانانو اتلوال مقاومت ته په کتو سره د څلوېښتم پوځ قوماندانانو ته دا ډول پوښتنې پیدا شولې « آیا کولی شو چې د افغانستان په جګړه کې بریالي شو؟ سلیم عقل حکم کوي چې د خلکو په وړاندې په جګړه کې بری ناشوني دی.» دې ډول حالت او شوروي اتحاد ته د پوځیانو د جنازو او ټپیانو رسېدو ته په کتنې سره کرملن ناستی پدې لټه کې شول چې څه ډول د افغانستان له ډنډ څخه ووزي. هماغه دي چې کارمل ته یې یوه طرحه ور کړله چې د افغانستان د کړکیچ حل ته ځانګړې شوې وه. پدې اړه د افغانستان د کشالې د سیاسي حل په موخه د م، م استازی دیه کوردویز لیکي: «پنځه میاشتې وروسته د شوروي ترحمایې لاندې د کابل حکومت د افغانستان د سیاسي کړکیچ د حل لپاره د پاکستان او ایران سره د مستقیمو خبرواترو لپاره لیوالتیا وښودله او د۱۹۸۰ ز کال د می په پنځلسمه یې خپله طرحه وړاندې کړه چې دا طرحه په افغانستان کې د بهرنیو لاسوهنو پای ته رسول او د شوروي لښکر وتلو ته زمینه برابرول وو. همدا رنګه په طرحه کې راغلي وو چې د هند اوقیانوس او د فارس خلیج د سولې په سیمه واوړي. د ملګرو ملتو سازمان دا طرحه ریاکارانه وبلله او هغې ته یې پام راونه ګرزاوه. » ۴۷ /۸۸ که دا طرحه صادقانه هم و نه ګڼل شي خو د دې واقعیت ښکارندوی وو چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت کړکیچن کیده نو ځکه افغان حکومت غوښتل چې د وضعیت د عادي کولو په موخه د ګاونډیانو( ایران او پاکستان ) همکاري ترلاسه کړي . هغه مهال یو شمېر هیوادونو او په هغو کې پاکستان د کارمل دولت په رسمیت نه پیژاند او پدې هکله د پاکستان جمهوررئیس ضیآ ءالحق ویلي وو:« د داود او تره کي رژیمونه یې په رسمیت پیژندلي وو ځکه هغوی په بهرنیو ټانکونو سواره واک نه وو قبضه کړی.» ۱۸۸/۴۷ مسکو چې په افغانستان کې د خپلو پوځیانو مرګ او ژوبلې او لګښتونو سرسام کړی وو هلې ځلې یې پردې را ګرزولې وې چې د افغانستان څخه د خپلو پوځیانو د وتلو یوه لار پیدا کړي. د مسکونقشه دا وه چې افغان حکومت د پاکستان او ایران سره مخامخ خبرې پیل کړي او یوه پوهاوي ته سره و رسیږي ، پدې ډول د دوی په لاس کینولي حکومت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشروعيت ورکړي او له بله پلوه د افغانستان د کړکيچ حل نړيواله بڼه ونه نيسي. م،م د۱۹۸۰ کال په نوامبرکې د افغانستان د کړکېچ په هکله غونډه راوبلله د غونډې په پريکړه ليک کې راغلي وو چې د دې مؤسسي عمومي منشي د افغانستان د مسئلې لپاره ځانګړی استازی وټاکي، هغه څه چې مسکو د هغې څخه وېره لرله ، ځکه چې د افغانستان موضوع چې مسکو نيغ په نيغه پکې ښکيل دی نړيواله بڼه نيوله. لکه څرنګه چې د م، م عمومي غونډې د دې سازمان له مشر څخه غوښتي وو چې د افغانستان د کړکيچ د حل لپاره ځانګړی استازی يا منځګړی وټاکي هماغه دي چې د۱۹۸۱ کال د اپريل د۱۲ نه تر۱۶ پورې يې پريزدوکوئيلار افغانستان او پاکستان ته واستاوه. پريزدوکوئيلار څه موده وروسته د م،م د عمومي منشي په توګه وټاکل شو او د هغه پرځای ديه ګوکوردويز وګومارل شو. ترهغه پورې چې بريژنف په واک کې وو د م،م د ځانګړې استازي هلې ځلې هيله بښونکې نه برېښيدې او کله چې اندروپوف د برېژنف ځای ونيو د افغانستان د مسئلې حل هم قوت وموند خو د متحده ايالتونو د نه همکاری له امله د م، م د استازي فعاليتونه ګړندي نشول. د افغانستان د کشالې د حل لپاره د اندروپوف نقشه داسې وه که د افغانستا ن د کړکيچ د حل په موخه کومه لوزنامه لاسليک کيږي د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د حکومت برخليک پکې څرګند وي چې واشنګټن ورسره همغږی نه وو.په شوروي اتحاد کې د ګرباچف په واکمنېدو سره د مسکو په بهرني سياست کې بنسټيز بدلونونه راغلل. د همدې بدلونونو له مخې په هغوهيوادونو کې چې شوروي د سترګو وړاغيز درلود دوديزه مشران ګوښه کيدو ته اړ ايستل کيږي او له ځينوهيوادو څخه د شوروي پوځيانو د وتلو چمتووالی نيول کيږي. له همدې کبله د ا،خ،د،ګ مشران ( کارمل ،کشتمند، زيری، نجيب ، لايق او جنرال نظرمحمد) مسکو ته ور وغوښتل شول او ګرباچف د هغوی سره د شوروي پوځيانو د وتلو خبره شريکه کړه خو کارمل ورته ويلي وو :« که تاسې اوس افغانستان پريږدئ بيا به اړشئ چې يو ميليون سرتيري راوليږئ.» ۴۷/ ۲۰۷ ګرباچف د کارمل د منفي غبرګون له امله د هغه د ځای ناستي د غوره کولو په لټه کې شو چې هغه د خاد رئيس نجيب الله وو. هماغه دي چې هغه لومړی د ګوند د تشکيلاتو او امنيتي چارو د مسؤل دنده تر لاسه کوي چې په حقيقت کې يې هغه ته د ګوند د مشرتابه لپاره د تمرين فرصت ورکاوه. د ګوند حرفوي کار ته د نجيب د را جګولو په مسئله کې د کارمل او د هغه د پرچمي يارانو دريځ دا وو چې « دې څوکې ته دې يو بې تعصبه پښتون چې وفادار پرچمي وي وټاکل شي. » ۳۹ / ۷۰۹ د ګرباچف د واکمنۍ پرمهال دي چې د م، م ځانګړي استازی کابل ، اسلام آباد، مسکو ، واشنګټن او نورو هېوادونو ته سفرونه وکړل ترڅو د نوموړو دولتونو د مشرانو سره د افغانستان د کشالې د حل په موخه خبرې وکړي.همدارنګه يې د افغانستان او پاکستان د بهرنيوچارو وزيرانو سره په ژنيو کې د شپږو کلونو په ترڅ کې يوولس ځله وکتل ترڅو د کړکيچ د حل په موخه د هغوی دريځونه سره نږدي کړي. د دې هڅو پايله دا شوله چې د۱۹۸۸کال د اپريل په څوارلسمه د افغانستان او پاکستان د بهرنيو چارو وزيرانو يوه لوزنامه لاسليک کړه چې مرکزي ټکی يې د افغانستان څخه د شوروي لښکر وتل وو .

## ګوندي کنفرانسونه او نظرپوښتنې

د شوروي يرغل وروسته خلقيان پدې اند وو چې ګوندي کنګره کولی شي په ګوند کې ارګانيک يووالی راولي،د شوروی يرغل وروسته د حالاتو جاج واخلي، ټولو اويا غوڅ اکثريت ته منلي رهبري وټاکي او پدې توګه د هېواد د غميزې د دوام مخنيوی وکړي . خلقي کدرونو د کنګرې د رابللو اړتيا د شوروي سلاکارانو سره هم شريکوله. مسکو بالاخره د کنګرې د رابللو پرځای د ګوندي کنفرانس جوړېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غاړه کیښودله. البته شورویانو د خلقیانو د فشارونو سربیره د کنفرانس د رابللو څخه دوې موخې لرلې یوه دا چې خپل ولس او خپلو متحدینو د وارسا تړون اړونده هېوادونو او نړیوالو کیڼ لاسو سازمانونو ته وښيي چې په افغانستان کې د هغوی پوځي شتون پدې هېواد کې د دموکراسۍ د ټینګښت لپاره اړین دی او دوهمه دا چې د کنفرانس په دایرولو سره د دوی پرمټ واکمن مشرتابه ته مشروعیت ورکړي. هغه مهال د شورویانو او پرچمیانو وېره لدې څخه وه چې په ګوند کې د خلقیانو اکثریت د دې لامل کېږي چې کنفرانس ته زیات خلقیان لار ومومي او د خپل د دې برلاسي دریځ څخه په ګټې اخیستنې سره د تیري وروسته راغلي سیاسي بدلونونه چې د کوم باصلاحیته ګوندي ارګان د پریکړې پرته ترسره شوي دي تر پوښتنې لاندې راوړي. د دې لپاره چې په کنفرانس کې یې د دې ګواښ مخه نیولې وي د کنفرانس لپاره یې داسې طرزالعمل او مقررات جوړ کړل چې د پرچمیانو د سترګو وړ برخه کنفرانس ته لار پیدا کړي. په طرزالعمل کې راغلي وو چې د کلیدي ګوندي او دولتي مقامتیتونو مشران هرومرو کنفرانس ته د استازو په توګه وټاکل شي چې غوځ اکثریت یې پرچمیان وو. د کارمل د لوی پوځي شوروي سلاکار په وینا « په عمومي توګه په پلازمینه کابل ، وزارتونو، مرکزي کمیټه ،ادارو او ولایتي مرکزونو کې واک د همدوی ( پرچمیانو ) په منګولو کې وو.» ۷/ ۴۴ سربېره پر دې د یادو مقامونو خلقي برخه اکثرآ هغه کدرونه وو چې یا بلې ګویان وو او یا د نوي بهیرسره د زړه له کومې همغږي وو او ظاهرآ یې د خلقیانو سره سر ښوراوه. سربیره پردې د کنفرانس د برخه والو څلورمه برخه د ګوند د مشرتابه له لوري انتصابیدله چې پردې بنسټ د ګوندي کنفرانس څخه د مشرانو جرګه جوړېدله. د خاد د تشکیلاتو په اړه حتی صدراعظم معلومات نه درلودل. پردې اساس کنفرانس ته د خاد د استازو شمېر هم تر پوښتنې لاندې وو. دې ټولو دې ته زمینه برابروله چې د کنفرانس د ګډونوالو زیاته برخه واکمنې کړۍ او اشغالګرو ته پالیاله ګوندیان وي. د دې سره سره خلقیانو کنفرانس ته د چمتووالي په پړاو کې زیار وایست چې د دوی په اند خپل وړ استازي کنفرانس ته وټاکي . که څه هم خلقیان په پوځ، څارندوی او ولسوالیو کې وتوانیدل زیات شمېرخلقیان کنفرانس ته واستوي خو په ټوله کې په سلو کې د پنځوسو څخه زیات استازي د پرچم په فرکسیون پورې تړاو درلود. هغه مهال د کنګرې او بیا کنفرانس د رابللو په اړه د زیاترو خلقیانو تیروتنه دا وه چې هغوی د شورویانو له لوری د خپل هیواد اشغال د شوروي مشرتابه تیروتنه ګڼله او فکر یې کاوه چې هغوی ته به شورویان فرصت ورکړي چې خپل استازي کنفرانس ته غوره کړي، د کنفرانس ګډونوال به د ګوند اوهیواد واکمن ترینګړي حالات په هراړخیزاو انتقادي ډول وارزوي او د دې حالت څخه د وتلو په موخه به اړینې پریکړې وکړي چې هم د افغانستان د خلکو او هم د شوروي ولس ګټې پکې خوندي وي. پدې هکله د خلقیانو تیروتنه دا هم وه چې په یوه نیول شوي هیواد کې د آزادو ټاکنو او کنګرې رابلنه چې د یوه عادل قاضي په څېر پرېکړې وکړي یو خوب او خیال وو. کنفرانس جوړ شو، هغه ته اساسي رپوټ کارمل ورکړ او اساسي رپوټ د ګوند د ځینو مشرانو او نورو ګډون کوونکو په تائیدي ویناوو سره بشپړشو چې البته د مشرانو ویناوې شوروي سلاکارانو لیکلې وې او دوی د ویاندانو په څېر ولوستلې .د زېړي په خبره« د کارمل وینا شوروي سلاکارانو لیکلې وه او د نورو وینااوې پخوا جوړې او لیدل شوې وې. ما ته هم د مرکزي کمیټې مشاور زمریانوف د ګوندي وحدت د ټینګولو د ضرورت په اړه یوه د ملي او وطنپرستانه احساسات پاروونکې بیانیه جوړه کړې وه . دغه ما په پښتو ژباړلې وه . ماهم هغه په ښه جوش ولوستله .» ۴۰ / ۵۱۰ د کنفرانس په بهیر کې انتقادي ویناوې ، د واکمن وضعیت څخه نه رضایت ، د ګوندي او دولتي چارو د لاربښوونې د څرنګوالي په اړه شکایتونه او د سمونې وړاندیزونه د خلقی مشرانو رازمحمدپکتین او ګلابزوی له لوري کنفرانس ته وړاندې شول.هغه څه چې د ګوند په لومړي ګوندي سرتاسري کنفرانس ( کال ۱۹۸۱ ) کې د پام وړ وو د انتقادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویناوو په وړاندې د خاد د رئیس نجیب توند غبرګون وو. نوموړی د خطابې د میز شا ته راغی او د څو مقدماتي او تشریفاتي خبرو وروسته یې خپله اصلي خبره چې « قسم خورم تر څو مې خادیستان پدې ګوند( ا، خ،د، ګ) واکمن کړي نه وي یوه شیبه به آرامه ونه اوسم. »۱۸ / ۲۵۷ وکړله. نجیب الله په واقعیت کې هغه کسان ګواښل چې جرئت یې کړی په ګوند او حکومت کې د واکمن وضعیت څخه شکایت وکړي . نجیب الله د خپلو خبرو په ترڅ کې مخ کارمل ته را وګرزاوه او د رهي معبري د شعر دا بیت:

مـــــوی سفید رافلکم به رایګان نداد
این رشته را به نقد جوانی خریده ا م

په لاندې ډول واړاوه او په احساساتو سره ووایه :

مـــوی سفید را فلکش به رایګان نداد
این رشته را به نقدجوانی خریده است

د نجیب الله دا احساساتي وینا او شعر د پرچمي ګډونوالو له لوري په پرله پسې هورا ګانو اوچکچکو سره بدرګه شول چې دا مهال د صالون څخه غږ واوریدل شو څوک چې د ببرک کارمل مشري مني لاسونه دې جګ کړي. بیا هوراګاني ، چکچکې ،د خوښۍ ناري سورې ، په خپلو ځایونو کې دریدل او د لاسونو پورته کول د کنفرانس هوا خورا توده کړه . نه چا د مخالفې رایې خبره وکړه او نه د مستنکفې رایې. پداسې حال کې چې د کنفرانس په آجندا کې تشکیلاتی مسئلې مطرح نه وې. لومړی ګوندي کنفرانس د دې پرځای چې په ګوند کې د یووالي د ټینګښت لپاره ګټور تمام شي او د ګوند د عمومي منشي دریځ پیاوړی کړي پایلې یې منفي وې. «تر ټولومهمه دا چې د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ یې درزونه لا ژور کړل ،نوې عقدې یې راوزیږولې او زړې یې بیرته تازه کړې...، همدارنګه د سراسري کنفرانس وروسته د صالح محمد زیري په پټه د خلقیانو تبلیغات پیل شول چې زیری پرچمیانو ته تسلیم شوی دی ...، زیری اړشو د کابل ښار د ګوندي فعالینوغونده د پولیتخنیک په تالار کې راوبولي او هلته خبرې وکړي ...، زما په هکله ویل کیږي چې زه تسلیم شوی یم ، بلې زه تسلیم شوی یم ، ملګري کارمل ته تسلیم شوی یم ، پرچمیانو ته تسلیم شوی یم ، ملګري بریژنف ته تسلیم شوی یم او د شوروي اتحاد کمونست ګوند ته تسلیم شوی یم.» ۱۰۹ / ۲۲۷ – ۲۲۸ د کنفرانس د پایلو په هکله زیری کوم چې په کنفرانس کې د ده په خپله وینا په سپین سترګۍ سره یې د خلقیانو د مخالفت او بې نظمی مخه نیوله لیکي: « لیکن وروسته یو شمیر خلقیانو شکایت کاوه چې د خاد په ګزارش کې هغه خلقیان چې د کنفرانس په انتخاباتو کې یې ضد خبرې کړې وې او یا یې د کوم پرچمي د انتخابیدو مخه نیولې وه ، تبدیل او بیکاره کړل شول او یا په کومه دسیسه کې زنداني او حتی ترور کړل شول. » ۴۰ / ۵۱۳ دوهم ګوندي کنفرانس لومړي کنفرانس ته ورته یوه سیاسي ننداره او بله مسخره ډرامه وه.

د دوو کنفرانسونو سربیره د نجیب الله د واکمنی پرمهال د نظرپوښتنې غونډې ګنې پدې موخه راوبلل شوې چې ګوندیان د ګوند او واکمنی د اغیزمن فعالیت د منځته راوړلو په خاطر خپل وړاندیزونه د ګوند سره شریک کړي. پدې نظرغوښتنې کې خلقیانو د کنګرې په رابللو او په ګوند کې د اساسنامې د موادو په پلي کولو ټینګار درلود. دا کنفرانسونه او په تېره د نظرغوښتنې غونډې د واکمنې کړی له لوري د ګوند د نبض د معلومولو او د ژمنو ګوندیانو د په ګوته کولو په موخه جوړیدې ترڅو وروسته د هغوی سره اړین چلند وکړي یعني دا چې د ګوند له لیکوڅخه یې وشړي، له حساسو څوکیو یې ګوښه کړي او یا یې خوله ور وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په دولت کې دولت

د هر هیواد د ډاډمن ملي امنیت د خوندیتوب په موخه څارگرې اداري جوړیږي ترڅو د پردیو د جاسوسي فعالیتونو او ورانکاریو مخه ونیسي. څارگرې اداري د نورو دولتي بنسټونو او خلکو سره په همغږۍ کې د هیواد د موضوعه قوانینو په رڼا کې فعالیت کوي او خپل فعالیتونه د حکومت د مشر تر لارښووني لاندې پرمخ وړي. په ولسواکه نظامونو کې دا اداره د ولسي وگړو د خپلې خوښې همکارۍ څخه برخمنه وي . خو په استبدادي رژیمونو کې دا بنسټ د خلکو د عقایدو د تفتیش په یوه مرکز،د حکومت د سیاسي مخالفانو اوحتی د نظام د ننه آزادخیالو وگړو د څار ،ځورونو او شکنجو په ماشین اوړي. دا دولتي بنسټ هغه وخت په څرگند ډول په یوه ملي ضد ارگان بدلیږي کله چې د پردیو پرمټ واکمنۍ جوړې شي او یا پردی لښکر په یوه هیواد کې شتون ولري. په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د تاریخ په اوږدو کې اکثراً افغانستان د ښو واکمنیو څخه بې برخې وو همدا لامل دی چې زموږ څارگره اداره د دې پرځای چې خپله اصلي دنده چې د ملي امنیت خوندیتوب او د پردیو د جاسوسي شبکو د فعالیتونو او د پنځم ستون کړنې وڅاري د کور د ننه د سیاسي مخالفینو په څار، بندیانولواو ځورونو لاس پورې کړې دی. د څارگرې اداري دې ډول کړنو د خلکو په ذهنیت خورا ناوړه اغیز پرې ایښی دی چې هغه په افغان حکومتونواو په تېره په څارگرو ادارو نه باور دی.د دا ډول وضعیت څخه بیا د هیواد دښمنانو گټه پورته کړې چې د حکومت څخه ناراضه کسان، د سیاسي شعور څخه بې برخې وگړي او د واک اوځواک تږي خپل کړي او بیا یې د افغان حکومتونو په وړاندې د یوې وسیلې په توگه وکاروي ، حکومتونو ته ستونزې جوړې اوهیواد ته غمیزې راوړي. د افغانستان څارگره اداره په مختلفو نومونو( استخبارات، ضبط احوالات، ملي مصؤنیت ، اگسا ، کام ، خاد ، واد ، ملي امنیت) نومول شوې ده. دا بیا ښیي چې د واکمنیو په اوښتون سره د څارگرې اداري په نومونو کې هم بدلون راغلی دی .

لکه څرنگه چې دا لیکنه د افغانستان د خلک دیموکراتیک گوند فعالیت ته ځانگړې شوې ده د دې گوند د واکمنۍ پرمهال د هیواد څارگرې اداره په څلور نومونو « د افغانستان گټو ساتونکې اداره ( اگسا) ، کارگري استخباراتي مؤسسه (کام )، خدمات اطلاعات دولتی (خاد) ، وزارت اطلاعات دولتي (واد) » یادېده . که چېرې دې نومونو ته وگورو دوه لومړي یې پښتو او دوه وروستي یې دري دي. دا بیا ښیي چې گواکې د هېواد دوه لومړي مشران پښتانه او دوه وروستي یې غیرپښتانه وو . پداسې حال کې چې نجیب الله هم پښتون وو خو هغه د کارمل د مکتب د شاگرد په توگه چې ددې مکتب پیروانو پښتو ژبه د قبیلي ژبه بلله همدا لامل وو چې پښتون نجیب وښیي چې هغه له قبیلوي ژوند سره مخه ښه کړې او گني متمدن شوی دی د خپلې څارگرې اداري نوم یې هم دري غوره کړی دی. ددې اداري د نومونو بدلون ښیي چې د گوند د مشر په بدلون سره د هېواد د څارگرې اداري نوم هم اوښتی دی. خو د نامه په تبدیلیدو سره د دې اداري په کړنو کې کوم مثبت بدلون رانغی بلکې د خلکو د ځورونو او شکنجو کچه یې لاپسې لوړېده ، تشکیلات یې پرسیدل تردې چې د نجیب الله د واکمنۍ پرمهال هغه په دولت کې په بل دولت واوښتله. د ن. تره کي په واکمنېدو سره د څارگرې اداري (ملي مصؤنیت) په تشکیلاتو کې کوم بدلون رانغی خو نوم یې په (اگسا )واوښت. د تره کي د واکمنۍ پر مهال تر ډېره بریده د اگسا دنده گوندي کمېټو او په وسله والو ځواکونو کې سیاسي څانگو پرمخ وړله یعني د شکمنو وگړو څارل او په گوته کول همدې گوندي ارگانونو ترسره کول او څارگرو ته یې د نیولو امرونه صادرول. د ثور د وسلوال پاڅون وروسته حفیظ الله امین د بهرنیو چارو وزیر او د صدراعظم د مرستیال مسؤلیت در لود. هغه د دولت امنیتي او په سیاسي بوروکې د تشکیلاتو او وسلوال پوځ ( اردو، څارندوی او اگسا) د چارو لارښوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله. ددې معنی دا شي چې هم په حکومت او هم سیاسي بیرو کې د اکسا د چارو لاربښوونه کوله . کله چې امین رسماً واک ترلاسه کړ ددې اداري نوم یې په کارګري استخباراتي اداره (کام ) واړاوه او تشکیلات یې یو څه پراخ شول . د شوروي د اشغال په مهال د کام عمومي ریاست په خدمات اطلاعت دولتي واوښت چې څوارلس ریاستونه یې لرل او په ولایتونو کې د مدیریتونو تشکیل ریاستونو ته لوړ شو. نجیب الله دا اداره په دولت کې په بل دولت واړوله. ځکه چې دې ارګان د استخباراتي او اطلاعاتي شبکو سربیره وسلوال ځواکونه ، د قانون اوعدالت د پلي کولو اداري ( اختصاصی انقلابي څارنوالی او اختصاصي انقلابي محکمې) او فرهنګي اوسیاسي بنسټونه لرل. د شوروي استخباراتي د سرچینو له مخې« د دغې اداري د کارکوونکو شمیره د۱۹۸۰ز ( ۱۳۵۸ ل) کال د جنوري په میاشت کې ۷۰۰ تنه ښودل شوې وه چې په ۱۹۸۲ ز( ۱۳۶۱ ل) کال کې ۱۶۶۵۰ تنو ته لوړه شوه. » ۱۲۴ / ۳۱۱ د نجیب الله د واکمنۍ د نسکوریدو په درشل کې یې شمیره ۹۱۵۰۰ تنو ته رسېدلې وه. د انقلاب په نوي بشپړتیایي پړاو کې د خاد پیاوړتیا د اندروپف په واکمنیدو سره ګړندۍ شوه چې پدې اړه د افغانستان درمنګنه ژئوپولیتیک نومي کتاب په ۴۵ مخ کې راغلي دي: « وروسته له هغې چې په شوروي کې اندروپوف راغی د خاد په واک کې یو لړ منابع ورکړل شول. د۶۰۰ تنو شاوخوا د کی جی بی سلاکارانو د خاد پراختیا ته مرسته کوله د خاد بودجه د۳۶ میلیون افغانیو څخه تر۱۹۸۳ پورې ۸ میلیاردو افغانیوته زیاته شوه. »

د شوروي لیکوالو له انده په دولت کې په بل دولت د څارګرې اداري د اړولو اصلي لامل دا وو چې« نجیب الله په دولتي امنیت ډېره لګوله او په پوځ او څارندوی یې باور نه درلود. داسي فکر کېږي چې ولسمشر د پوځ څخه ډاریده ...» ۴۹ / ۴۲۵ کله چې د شوروي د اشغال پر مهال د دولت ټولې اړتیاوې شوروي اتحاد برابرولې دا چې د خاد تشکیلات په وزارت اوړي او د دولتي امنیت په چوکاټ کې ستر جزوتامونه جوړېږي دا ټول د مسکو د ارادې له مخې پلې کېدل . د نجیب الله د واکمنۍ پر مهال د مسکو له لوري په دولت کې په بل دولت د خاد د اړولو څخه موخه دا وه ترڅو څارګره اداره په دولت کې د بل پولیسي دولت پواسطه د اشغال د زماني څخه ګواښمن پلانونه پلي کړي. د یوه هیواد لپاره چې د۱۳۰۰۰۰ تنه پوځ ۹۰۰۰۰ تنه څارندوی او ډول ډول نورې وسلوالې ډلې لکه د انقلاب سپاهیان ، تسلیمي قوتونه او قومي ملیشي ولري څه اړتیا لیدل کېږي چې څارګره اداره په یوه جنګي وزارت واړوي چې ټولټال پرسونل یې ۹۱۵۰۰ تنه وي او په توغندیو، ټانکونو او توپونو هم سمبال وي. هغه مهال د دولتي امنیت تشکیلات تر دې کچې پړسول شوي وو چې پرسونل یې د خلقیانو د واکمنۍ د استخباراتو څخه ۱۳۰ ځله زیات وو.

کله چې نجیب الله دې پایلې ته ورسید چې ملي روغه جوړه یې عملي نده او د پرچم واکمني د پایښت چانس نلري ددې لپاره چې د پرچمي واکمنۍ او په تېره د خاد ملي ضد کړنې پټې په تیارو کې پاتې شي ، د سلیمان لایق په مشرۍ یې یو پلاوی وټاکلو چې د خاد د لاسوندونو سربېره د رادیو تلویزیون آرشیف وڅیړي او هغه څه چې اړین ګڼي له منځه یوسي او دې پلاوي د خاد هغه سندونه چې د خلکو د وژنو سره تړاو درلود په بالا حصار کې وسوځول. د رادیو تلویزیون له آرشیف څخه یې د ن.تره کي او ح. امین هغه ټلویزیوني او راډیویي وینا وې چې ملي او ولسي جنبه یې درلودله له منځه یوړلې او کومو ته چې د انتقاد ګوته نیول کېدله هغه یې وساتلې او د پرچمي مشرانو او په تېره د نجیب الله پاروونکې ، لمسوونکې او شوروي پالنې وېناوې یې هم له منځه یوړلې. نجیب الله دا کار د کی جی بی د تجربو او د کی جی بي د سلاکارانو د مشورو پربنسټ تر سره کړ . جنرال شیبارشین د کی جی بی له لوړپوړو څخه د اندروپوف له لوري پر افغانستان د پوځي تیري د لاسوندونو د له منځه وړلو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکي:«داسې پېښ لاسوندونه چې د امین د رانسکوولو د پریکړې پر پروسې د کارمل تر مشر تابه لاندې د حکومت پر جوړېدو او افغانستان ته د شوروي پوځونو پر لېږلو باندې رڼا واچوي په ک.ج.ب کې شتوالی نلري. زما د ملګرو د کیسو او خبرو له مخې ډېر لږ داسې لاسوندو شتوالی درلود. چې یوه کاپي یې درلوده او پخپله د اندروپوف ( د ک. ج. ب رییس) په شخصي سپارښتني سره له منځه وړل شوي دي. زه نه پوهیږم چې یوري اندروپوف د څه شي له مخې داسې عمل کاوه. ښایي چې ده به لا په هماغه وخت کې دا احساس کړی وو، چې چارې به بده پایله ولري. د رژیم پایداري، ټینګوالی او ابدیت، د ښکتنیو لپاره د باور سمبول وو. کیدای شي چې د هغه د کچې شخصیت د بنسټیزي ډېرې ناپایداري او لنډ مهالتوب احساس کړی وي. د افغاني پوځي –سیاسي کمپاین تاریخ لیکونکي دې ته اړ دي، چې په ډېرو د نه اعتماد وړ موادو، یعنې رسمي لاسوندونو او د شاهدانو په شواهدو باندې بسنه وکړي . » ۲۰۱ / ۱۴۶ پدې اړه واقعیت دادی چې کی جی بی د خلقیانو د واکمنۍ پرمهال شوروي مشرتابه ته په لوی لاس ناسم معلومات وړاندې کول ترڅو د شوروي اتحاد مشرتابه پر خلقي مشرانو بې باوره کړي او د هغوی د نسکورولو په خاطر کارمل واک ته ورسوي. لدې امله یې د خلقي واکمنۍ د رانسکورولو په موخه لاسوندونه له منځه وړل . د جنرال شبارشین په څرګندونو کې پخه خبره دا ده چې ( د افغاني پوځي – سیاسي کمپاین تاریخ لیکونکي دې ته اړ دي، چې په ډېرو د نه اعتماد وړ موادو، یعنې رسمي لاسوندونو او د شاهدانو په شواهدو باندې بسنه وکړي ) او پدې ډول د څېړونکیو او لیکوالانو پام دې ته راګرزوي چې د شوروي په دولتي سندونو او په تېره د کی جی بی په لاسوندونو لکه ( د کابل څخه مسکو ته لېږل شوي تلګرامونه ، د شوروي سلاکارانو مرکې او ویناوې) ډېره لګول پوره احتیاط او اړین غورغواړي .

## پرچمیان یې هم د بې اتفاقی په ویروس ککړ کړل

پرچمیان د ثور د وسلوال پاڅون څخه د ۱۹۸۶ کال تر لومړیو پورې متحد او یو موټي وو او کارمل یې ټولو ته منلی مشر وو. د ثورانقلاب په بشپړتیایې پړاو کې پرچم د خپلو نقشو د پلې کولو یعنې د وسلوالو مخالفینو د ځپلو د ا، خ، د ، ګ له ګېډې را وتلو کوچنیو ډلو او په هغو کې د خلقیانو په وړاندې ګډ دریځ درلود او په مشرتابه او لیکو کې یې د بې اتفاقیو کوچنۍ نښه هم نه ترسترګوکیده تر دې چې بارق او لایق هم د کارمل د نقشو ربښتیني پلې کوونکي پاتې شول. د اسلامي انقلاب له بري وروسته ځینې پرچمیان ځانونه د خیبر پلویان او د کارمل مخالفان معرفي کوي .خو د پرچم د فرکسیون د فعالیت پر مهال داسې لاسوند نه شته چې خیبراو یا د نوموړي پلویان د کارمل خلاف درېدلي وي او یا د پرچم په ډله کي د کوم مخالف فرکسیون شتون وښيي . دا ډله پرچمیان نجیب هم د خیبر له پلویانو څخه ګڼي پداسې حال کې چې نجیب د کارمل له خورا ډاډمنو او نږدې کسانو څخه وو تر دې چې ډېری نجیب د کارمل د ساتونکي( باډیګارد) اوځینې هغه د کارمل د فرکسیون غړی ګڼي. د خیبر سره د نجیب مخالفت لدې څخه څرګندېږي چې نجیب هغه حقوق چې د خلقیانو او کارمل د واکمنیو پر مهال د خیبر کورنۍ ته ورکول نجیب هغه ودرول . د ثور د پاڅون وروسته د خیبر کورنۍ ته هره میاشت د پنځه زره افغانیو سربېره په مکروریانو کې یو اپارتمان هم ورکړل شو او د کورمخې ته یې پیره ودروله . دا پیره د امین په واکمنۍ کې لېرې شوه . د کارمل د واکمنۍ پر مهال هم دا پیسې ورکول کېدلې خو نجیب الله هغه ودرولې. د۱۹۸۲ کال په لومړي سرتاسري ګوندي کنفرانس کې چې ځینو خلقیانو د ګوند او حکومت په تګلارو نیوکې وکړې یوازینۍ څوک چې د دې نیوکو په وړاندې ودرېده هغه نجیب وو . پردې بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجيب خيبر پلوی او کارمل ضد نشي کېدای. د پرچميانو په واکمنۍ کې د خيبر د ترور د پېښې څېړنه ونشوه او مازې د پرچم د فرکسيون د دې تئوريسن يادونه هم نده شوې. د شوروي اشغال پر مهال د پرچم په فرکسيون کې د کومې ډلې حتی يوه کس څرک ندی لګېدلی چې کارمل او د پرچم تګلاره انتقاد او په هغو کې په افغانستان کې د شوروي لښکر سره مخالفت ښودلی وي . دا چې نن يو شمېر پروني خلقيان او پرچميان د ګوند د واکمنۍ حالات انتقادوي دا ښه کاردی خو درواغ ويل ، د اتلانو، خاينانو او تاريخ جوړول د تاريخ قضاوت نشي اړولی. خو هغه څه چې د دې ګوند د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته د کارمل پرچمي مخالفان په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې خپروي د هغه ويروس ناوړې پايلې دي چې د اتلسم پلنوم په درشل( ۱۹۸۶ کال مې) کې شورويانو پرې ککړ کړل. پدې پلنوم کې د مسکو د ارادې له مخې د کارمل د خوښې خلاف نجيب د ګوند د مشر په توګه وټاکل شو. د ګوند د مشرتابه د دا ډول بدلون ورسته پرچميان په دوو دښمنو ډلو کارمليانو ( د اتلسم پلنوم مخالفانو) او د نجيب په پلويانو ووېشل شول. د اتلسم پلنوم پايلې پرچميانو ته د خلقيانو د ۱۳۵۸ کال د وړې د۲۵ تور پلنوم په شان شوې چې پرچميان يې په دوو دښمنو ډلو و ويشل. دې وېش د پرچم د واکمنۍ نسکورېدو ته لار پرانېستله. په خلقيانو او پرچميانو کې د دا ډول حالت واکمنيدل د مسکو ارادې له مخې پېښ شول. توپير يې پدې کې وو چې په خلقي مشرتابه باندې مسکو داسې نفوذ نه درلود چې د پلنوم په رابللو سره تره کی په امين تعويض کړي بلکې د دوی ترمنځ يې بې باوريو او دښمنيو ته د يو شميرله سياست څخه بيخبره خلقيانو او د واک د مدعي د ځانغوښتنې څخه په ګټې اخيستنې سره د تره کي په استوګنځي کې د يوې ډرامې په جوړولو سره خپل پلان پلی کړ. په پرچمي واکمنۍ کې چې واک د شورويانو سره وو د کارمل څخه ګرباچف په مسکو کې وغوښتل چې د ګوند د عمومي منشي له مقام څخه ګوښه شي او کارمل هم ورسره ومنل. خو کارمل خپلو پلويانو ته لارښوونه وکړه چې هېواد ته د راستنېدو په ورځ اعتراضيه مظاهره وکړې ګواکې چې ګوند چمتو نه دی خپل لارښود له لاسه ورکړي. مسکو د کارمل دې دريځ ته په کټو سره سملاسي خپل دوه لوړپوړي څارګر افغانستان ته راولېږل ترڅو کارمل وپوهوي چې په مسکو کې کړې خپله ژمنه عملي کړي . لومړی کارمل اعتراض وکړ، بيا يې لکه ماشوم وژړل چې په واک کې يې پرېږدي خو کومه ګټه يې و نکړله . هماغه وو چې کارمل اړ شو د شورويانو له لوری د ګوند د مشرۍ څخه چمتو شوی استعفی ليک لاسليک کړي. د کارمل له لوري شوروي څارګرو ته د استعفی ليک د لاسليک وروسته د اپرېل په شپاړلسمه اتلسم پلنوم جوړ شو او نجيب د کارمل په ځای د ګوند د مشر په توګه وټاکل شو. لدې وروسته د کارمل پلويانو کوم چې د پرچم د فرکسيون اصلي برخه يې جوړوله د نجيب الله او د هغه د تګلارو د غندنې او د دولتي چارو په سبوتاژ لاس پورې کړ. په ګوندي بنسټونو کې د کارمل د پلويانو بيسارې نفوذ لدې نه جوتيږي چې د نجيب الله د واکمنولو په درشل کې د ګوند په نشراتي ارګان ( د ثورانقلاب حقيقت) ورځپانه کې يې يو کاريکاتورچاپ کړ چې يوغويی د ګوند د مرکزي کميټې د مانۍ په لور په حرکت کې ښيي. د کاريکاتور لاندې ليکل شوي وو: « سر يې غټ خو عقل يې لږ دی» چې اشاره نجيب الله ته وه چې هغه ته په کابل پوهنتون کې «نجيب ګاو» ويل کيدل. که څه هم دا اخبار په بشپړ ډول و نه ويشل شو خو ځينو دا اخبار تر لاسه کړی وو.د پلنوم وروسته نجيب د خپلو دې پرچمي ملګرو په وړاندې د مکافات او مجازات ، تهديد او تقدير تګلاره غوره کړه ځينې يې بيکاره او زندانونو ته واچول او نورو ته يې لوړمقامونه او امتيازات ورکړل چې پدې ډول به لومړۍ ډله وبيروي اودوهمه ډله به د ده څخه ملاتړوکړي. د دې ويرولو او تقديرولو لړۍ دوام وکړ . يوه ورځ به يو پرچمي کدر زنداني شو او څه موده وروسته به لوړ مقام ترلاسه کړ ښه بيلګه يې محمودبريالی دی چې له زنداني کيدو وروسته د صدراعظم مرستيال وټاکل شو. بريالي په زندان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږیره پرې ایښې وه اوخپلو ملګرو ته یې ویلي وو: « نجیبه ! تا ږیره راباندې پرېښوده ترڅو مې په تا ږیره نه وې پرې ایښې خپله ږیره به ونه خرېیم.» دا بیا ښیي چې کارملیانو پریکړه کړې وه چې له نجیب الله څخه غچ واخلي. نجیب الله چې د خپلو پرچمي ملګرو د دا ډول مخالفتونو سره مخامخ وو هغه یې د کارمل څخه چې لا د سیاسي بیرو غړی او د انقلابي شورا رئیس وو ګڼل چاره یې پیدې کې لیدله چې کارمل د سیاسي بیرو د غړیتوب او د انقلابي شورا د ریاست څخه وباسي او د هېواد څخه یې هم وشړي. په دې صورت کې به ښایي پرچمیان له مخالفت څخه لاس واخلي. هماغه دي چې شوروي اړخ ته مراجعه کوي ده ته اجازه ورکړي چې کارمل د سیاسي بیرو د غړیتوب او انقلابي شورا له ریاست څخه هم ګوښه کړي او دوی هغه شوروي اتحاد ته بوزي. جنرال ګروموف په افغانستان کې د شوروی پوځ وروستی قوماندان پدې هکله لیکي:« ملګري نجیب په کابل کې د ملګري ورانتسوف او په نورو لیدنوکتنو کې، په وروستیو ورځو کې پدې ټینګار درلود چې ډېر ژر باید ببرک کارمل د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې له سیاسي دفتر او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا له ریاست څخه ګوښه کړل شي. ملګري نجیب ویل چې کارمل د ګوندي او دولتي کارونو څخه ډډه کړې په نیوکو یې پیل کړی او د ملي روغې جوړې پر ضد ګامونه اوچتوي .» ۱۹۰ / ۱۵۶د جنرال ګروموف څرګندوني ددې واقعیت ښکارندوی دي چې نجیب الله د خپل سلف په شان د مسکو د خوښې ، ارادې او اجازې پرته د سترو او مهمو پریکړو د نیولو واک نه درلود. کشتمند د انقلابي شورا څخه د کارمل د استعفی په هکله لیکي: « هغه ( نجیب الله ) له شورویانو څخه هیله وکړه چې ببرک کارمل شوروي اتحاد ته ور وغواړي. سره لدې چې شورویانو ومنله او کارمل ته یې بلنه ورکړه ، خو کارمل سخت مقاومت وښود او د هغوی بلنه یې رد کړه. نجیب الله غلی پاتې نشو او زیار یې وایست تر څو د هیواد څخه د کارمل د لېږې کیدو په اړتیا د سیاسي بیرو غړي قانع کړي. کله چې ببرک کارمل د سیاسي بیرو او د مرکزي کمیټې د پریکړې په وړاندې چې شوروي اتحاد ته لاړ شي مخامخ شو بیله دې چې هغه ومني بله لاره نلرله» ۳۹ / ۹۸۴ کشتمند غواړي پدې توګه د پرچم خپلواکي وښیي چې ګڼي کارمل د سیاسي بیرو د غوښتنې له امله مسکو ته تللی دی. میرصاحب کاروال چې د کارمل سره په مسکو کې لیدلي وو د کارمل له قوله لیکي :« دی ( نجیب الله) مې د زوی په شان وروزلو او جګ مې کړ او هغه ناځوانه حتي زما د فزیکي له منځه وړلو لپاره څو ځله آمادګي نیولې وه لکن شوروي اړخ ور سره موافقه نه وه کړې.» ۱۲۸ / ۱۵۱ د کارمل پورتنی وینا ښیي چې کرملن ناستو نه غوښتل دا طلایي آس له لاسه ورکړي هغه یې په مسکو کې وساتلو تر څو په اړین فرصت کې بیا پرې سپاره شي. پدې هکله د نجیب تیروتنه پدې کې وه چې د پرچمیانو له لوري د ده په وړاندې مخالفتونه یې د کارمل څخه ګڼل پداسې حال کې چې د دې مخالفتونو تر شا مسکو ولاړ وو چې کارمل او د هغه پلویان یې د توکو په څېر کارول.

## د نجیب الله د واکمنېدلو ربښتیا

افغانستان د خپل جیوپولیتیک او جیوستراتژیک موقعیت له مخې مسکو ته ډېر ارزښت درلود تر دې چې لینن « افغانستان د منځنۍ آسیا کلی » ګڼله. د افغانستان دا ډول ارزښت وو چې مسکو تل هڅه کړې ده چې له افغانستان سره دوستانه اړیکې ولري نه دا چې دا کلی د هغه د سیالانو په لاس کې و لوېږي . د ثور انقلاب بري شورویان اندېښمن کړل ځکه کرملن ناستو فکر کولو چې د داودخان بدیل به پرچمیان وي خو د مسکو د وړاندوېینې خلاف خلقیان واک ته ورسېدل. که څه هم د شورویانو د فشار له امله په خلقي واکمنۍ کې پرچمیانو ته کابو نیمایي برخه ورکړل شوه خو د کارملیانو د ګوندي ضد کړنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله دا شوه چې کارمل او د هغه ملګري له واکمنۍ وشړل شي . له بله پلوه د خلقیانو په وړاندې د جهادي ډلو د وسلوالې مبارزې له امله په افغانستان کې امنیت خرابېدلو او مسکو وېره لرله چې د خلقي حکومت په راپرزېدو او د جهادي ډلو په واکمنېدو سره د شوروي اتحاد منځنۍ آسیا ته به اسلامي ولولې خپرې شي. له بله پلوه د خلقي مشرتابه خپلواک دریځ د کرملن د هژمونیستو مشرانو لپاره د زغم وړ نه وو پرافغانستان یې تیری وکړ خلقي واکمني یې نسکوره او پرچمیان یې د واک په ګدۍ کینول پدې هیله چې د منځنۍ آسیا کلی ترلاسه کړي. د شوروي واکمنو د تمې خلاف افغانانو د اشغالګرو خلاف ودرېدل چې نه یوازې د افغانستان په اړه د کرملن د واکمنو خوبونه او خیالونه چې دا کلی یې ترلاسه کړې ده د خاورو او ایروسره یو کړل بلکې د نوموړي هیواد تاریخ یې هم په بل مخ واړاوه دا ځکه چې په افغانستان کې د شوروي سره یوځ لپاره جګړه « له هغو وروستیو ځان وژونکو ماینونو څخه راوختله چې یو لوی دولت پرې والوت او دړې وړې شو. » ۷ / ۳۹۶ مسکو چې د افغانانو له اتلوال مقاومت سره مخامخ شو او هره ورځ د خپلو پوځیانو د تابوتونو شاهد وو دا یې د کارمل د لټۍ ، عیاشۍ او نه وړتیا څخه ګڼل او دې پایلې ته ورسېدل چې یابو ( کارمل ) بدل کړي ځکه د کارمل د پوځي سلاکار همکارانو په خپلو کې په کارمل د یابو نوم ایښی وو .لکه څرنګه چې په شوروي نظام کې(ک.ګ. ب ) وروستۍ خبره کوله . همدې ادارې د کارمل د بدلولو واک درلود. کې ګې بې ته جوته شوې وه چې د اشغال په وړاندې د مقاومت اصلی ځواک پښتانه دي نو پدې لټه کې شوله چې د تاجک پرچمي پرځای پښتون پرچمي د هیواد د مشر په توګه نصب کړي ګني پښتانه به پرې راټول شي او یا دا چې د یوه بې بصیرته مزدور پښتون په وجود کې پښتانه ښه ځپلی شي . دا مشر نجیب الله د خاد رئیس وو. کله چې ک. ګ. ب د کارمل ځای ناستی کرملن ته ور وپېژندلو . ګرباچف کارمل ، کشتمند، زیری،نجیب ، لایق ،جنرال نظرمحمد په پټه مسکو ته ور وغوښتل . ګرباچف هغوی ته د شوروي پوځیانو د وتلو د خبرې د شریکولو سربېره ویلي وو:« هغه بدلونونه چې ښایي ستاسو په ګوند کې راسي اوس یې تصور هم نشی کولۍ » ۴۰/ ۵۳۵ پدې غونډه کې کارمل د شوروي ځواکونو د وتلو په اړه مخالفت ښودلی وو او یوازې نجیب د ګرباچف خبره تایید کړی وه. پدې اړه زیری د کشتمند له قوله لیکي :« لکه چې کالیګین ( د خاد سلاکار) د غونډې په باره کې نجیب ته پوره معلومات ورکړي و ، د نجیب څخه لیکلي مواد موجود وه. دغه نظریات چې پرون ګرباچف ویل ، نجیب لکه چې په کابل کې په خبر و، ای بچه را ملاکرده بود( دا هلک یې ملا کړی و)» ۴۰ / ۵۳۶ د زیري په پورتنیوڅرګندونو کې دوه شیان د پام وړ دي . یو دا چې ګرباچف پلاوي ته په ګوند کې د داسې بدلونو خبره کړې ده چې دا خوارانو یې تصور هم نه کوي او بل دا چې د ا، خ، د، ګ د پلاوي له جملې څخه یوازې نجیب الله ته د ګربا چف د لیدنې د آجندا په اړه معلومات ورکړل شوي وو چې په غونډه کې څه ډول دریځ ونیسي. دا بیا ښیي چې کرملن پرېکړه کړې وه چې نجیب الله په راتلونکي کې په ارګ کې ووینې . د افغان پلاوي د سفر وروسته شوروي سلاکارانو د نجیب د واکمنولو او نوې تګلارې په پروژه کار پیلوي . ویکتورپیتروویچ د کارمل سلاکار د ګوند د نوې تګلارې( ملي روغې جوړې) د پلې کولو په موخه کار پیل کړ او ضمناً د کارمل د دریځ د کمزورولو په چارو هم بوخت شو. هغه لومړی په مرکزي کمیټه کې د ګوند د اغېزمنو کدرونو یوه غونده راوبلله اوغونډې ته کارمل وینا واوروله چې هغه د مخالفانو سره په روغې جوړې څرخیده او د ګډونوالو نظر یې غوښت. دا وینا په رسنیو کې د مرکزي کمېټې د لسګونو تزسونو په نامه تبلیغېدله خو کارملیانو د کارمل د لسګونو تزسونو په نامه یادوله . ځینو خلقیانو په خپلو کې په ریشخندۍ هغه د « کارمل لس تېزونه » بلل . د زیري په وینا ډیری او په هغو کې نظام الدین تهذیب د سترې محکمې رئیس او عبدالمجیدسربلند د اطلاعاتواو کلتور وزیر ددې تزسونو په مخالفت کې و درېدل . لدې غونډې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګوند د مرکزي کمیټې شپاړلسم پلنوم جوړشو چې آجندا یې د ملي روغې جوړې د سیاست اعلانول وو. د پلنوم په اساسي رپوټ کې چې کارمل ولوستلو د ګوند او دولت کارونه انتقاد او ناکام بلل شوي وو او همدارنګه په ګوند او دولت باندې د خلکو د نه باور خبره هم شوې وه. کله چې په رپوټ کې د ګوند او دولت ناکامی ته ګوته نیول کیږي او په ګوند او دولت د خلکو د نه باور خبره کیږي دې دا معنی ورکوله چې د ګوند او دولت مشر د خپلو مسئولیتونو په سر ته رسولو کې پاتې راغلی او باید استعفی ورکړي . خو کارمل استعفی ور نکړه ځکه ده ځان ناکام نه بللو . هغه څه چې په رپوټ کې وو هغه د ده نظر نه بلکې د شورویانو لیدلوری وو چې لیکلی رپوټ یې ده ته ورکړی وو چې په پلنوم کې هغه د ویاند په څیر ولولي . د۱۹۸۶ کال د مارچ په میاشت کې په پام کې وه چې په کابل کې د قبایلو یوه ستره جرګه راوبلل شي . یوه ورځ شوروي سفیر تابییف کارمل ته ورغی او ورته و یې ویل :« تاسې یې مسکو ته بللي یاست. زموږ مشران غواړي ستاسې سره د اړینو مسئلو په اړه خبرې وکړي .» ۲۰۳ کارمل مسکو ته ولاړ د هوایي ډګر څخه یې د کمونست ګوند د مرکزي کمیټې روغتون ته ولیږداوه هلته شل ورځې بستر وو او دوې میاشتې نور هم په مسکو کې پاتې شو ترڅو هغه ګرباچف ور وغوښت او ورته ویې ویل غوره به دا وي چې د ګوند له مشرۍ نه ګوښه او خپله څوکی یوه ځوان ملګري ته وسپاري او کارمل ورسره ومنل. کارمل د مۍ په لومړۍ کابل ته راستون شو. کابل ته په رسیدو سره د ده یو شمیرپلویان چې زیاتره یې نجونې او مېرمنې وې د مرکزي کمیټې او ارګ مخامخ د ده په ملاتړ او د ګرباچف- نجیب ضد شعارونو په ورکولو سره اعتراضیه غونډه وکړله. په دې غونډه کې د کارمل ورور محمود بریالي هم ګډون کړی وو. پربله خوا د ګوند په مشرتابه او په تیره په پرچمي اړخ کې د کارمل د پلویانو له لوري د بې نظمیو د منځته راوړو له امله اندیښنو شتون درلود د ماخوستن تر ناوخته ګوندي مشران او شوروي سلاکاران د مرکزي کمیټې په څانګو کې پاتې کیدل البته د کارمل پلویان هلته نه تر سترګو کیدل. کابل ته د کارمل د رارسېدو په دوهمه ورځ ( مۍ دویمه ) کوم شوروي سلاکار زیري، ګلابزوی ، محمدرفیع او د خاد رئیس یعقوبي ته دستور ورکوي کارمل ته ورشي او د ګوند د عمومي منشي له مقام څخه د ناروغی په نامه د هغه د استعفي غوښتنه وکړي. هغوی د ماخوستن په ۹ بجو کارمل ته ورغلل. د ډلې مشر زېری وایي:« خبرې ما پیل کړې و مې ویل ته وینې چې په ګوند کې وضعه پیچلې ده موږ راغلي یو د وضع د بهبود لپاره ستا څخه مرسته وغواړو. د سیاسي بیرو ملګري پوهیږي چې تاسې د ګوند په جوړولو او روزلو کې زیات کار کړی دی. ټول ګوندیان تاسو ته احترام لري. اوس مو صحت ښه نه دی او د ګوند لپاره کار نه شی کولای. نو د کرکیچ د پای ته رسولو لپاره د ناروغی له کبله استعفی وکړئ د ګوند په ګټه ده...، زما خبرې رفیع ، ګلابزوی او یعقوبي په لنډو جملو او یا سر ښورولو تائید کړې...، خو وروسته یې د میز بلې خوا ته چې رفیع او یعقوبي ناست وه مخ واړوی او له قهره لړزیدلي ږغ یې رفیع خطاب کړ ، وویل لیکن ته ، ته څرنګه زما استعفی غواړې . ته ،ته څنګه دا خبرې کوې . له کومو غارو مې راویستې ، له مرګه مې خلاص کړې وزارت ته مې ورسولې، بیا یې یعقوبي مخاطب کړ ویې ویل دغه وګوره ، والله که چا پیژندی اوس د خاد ، د واد وزیر ماته څه وایي... لږ څه شرم وکړئ . تاسو ته نه ښایدل ما ته راشئ او دغه خبرې وکړئ ...، زه به ستاسو د خبرو په اړه فکر وکړم بله ورځ به درته ووایم.» ۴۰ / ۵۵۵ .ددې لیدنې وروسته سبا ته د شوروي د څارګرې ادارې دوه لوړپوړي جنرالان ګریچکوف او شبارشین کابل ته راغلل ، کارمل ته ورغلل او په مسکو کې یې د خپلو ژمنو د پلې کولو غوښتنه ترې وکړه او استعفی لیک یې مخې ته ورته کېښود. کارمل ورته وایي: « ورته څرګنده نشوه چې په کوم اساس شوروي اتحاد د یوه خپلواک دولت په کورنیو چارو کې بیشرمانه لاسوهنه کوي. خو ګریچکوف په قاطعیت سره په خپل دریځ درېږي او وایي د استعفی د نوښت مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل دی او مسکو یوازې افغان ملګرو ته مرسته رسوي. کارمل ته نه ښایي وضعیت لا کړکیچن او کړکیچن کړي...، دا د تشنج ډک دیالوګ د۱۹۸۶ د می په دریمه پدې پای ته ورسید چې د ماڼی خاوند د شوروي جنرالانو په شتون کې د ګوند د رهبرۍ څخه خپل استعفی لیک د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند جوړیدونکي پلنوم ته لاسلیک کړي» ۲۰۲ او هغه ګریچکوف ته وسپاري. پدې اړه د پشت پرده افغانستان په کتاب کې راغلي دي چې کابل ته د کارمل د رسیدو یوه ورځ وروسته د می په دوهمه ولادیمیر ګریچکوف د کی جی بی د لومړۍ اداري مشر چې په ۱۹۸۸ کې د کی جی بی رئیس شو د جنرال شبارشین د کی جی بی د مرستیال سره کابل ته راورسیدل . هغوی دنده لرله چې د کارمل د استعفی بهیرسمبال او تنظیم کړي. د جنرال شبارشین په وینا کله چې ګریچکوف کارمل ته دا خبره وکړه چې په مسکو کې خپلې کړې ژمنې عملي کړي « د کارمل رنګ تور شو. هغه منکر نشو چې په مسکو کې ځینو توافقاتو ته رسیدلی وو خو ګوتځنډنه یې وکړه چې ګوښه کیدنه یې نارضایتي او مخالفتونه زیږوي او د شوروي اعتبار ته جبران نه کوونکی زیان رسوي. وروسته لدې ناڅاپه پریشانه شو، ژبه یې بنده شوه او و یې ژړل. ما ووژنئ! قرباني مې کړئ ! زه مرګ ، زندان او شکنجې ته چمتو یم ! » ۲۰۳/ ۲۱۱

په لیکني بڼه د کارمل د استعفی لیک د ترلاسه کولو یوه ورځ وروسته د می په څلورمه د مرکزې کمیټې اتلسم پلنوم راوبلل شو.د پلنوم د جوړیدو مخکې شپه « د کورنیوچارو د وزیر په دستور د کارمل نږدې ملګري ، همفکران او خپلوان د مؤسساتو د کنډک د قوماندان خلیل امین زاده له خوا ونیول شول او ارګ ته ولیږدول شول.» ۲ / ۱۵۲ همدارنګه د پلنوم په ورځ د الوتکو الوتنې هم ودرول شوې. د ثورانقلا ب په بشپړتیایي پړاو کې ددې پلنوم توپیر له نورو پلنومونو نه پدې کې وو چې په نورو پلنومونو کې به د مرکزي کمیټې د غړو سربیره ځینو لوړپوړو چارواکو لکه د ولایتي ګوندي کمیټو منشیانو،والیانو، معیینانو،قوماندانانو او رئیسانو ګډون درلود خو پدې پلنوم کې یوازې د اسلامی شئونومعیین او د قومونو او قبایلو د وزارت نه دوو تنو ګډون کړی وو. په پلنوم کې کله چې د کارمل د استعفی خبره و شوه نظام الدین تهذیب او مجید سربلند د کارمل د استعفی لیک غوښتنه وکړه او نجیب ورته ویلي وو:« ملګري کارمل په خپل خط استعفی کړې ده هغه زموږ سره موجوده ده که ضرورت پیښ شو ملګرو ته به یې وړاندې کړو.» ۴۰ / ۵۵۷ پدې پلنوم کې په زړه پورې دا وه چې د کارمل پرځای د چا د ټاکل کیدو وړاندیز نه وو شوی چې د اسلامي شئونو معیین د خبروغوښتنه وکړه او د خبرو په ترڅ کې یې وویل: « محترم نجیب الله ! موږ ستاسو په انتخاب ډیرخوښ شوو او ستاسو د بریالیتوبو هیله کوو، نجیب پرې ږغ وکړ : مولوي صاحب ! زه تر اوسه کاندید شوی هم نه یم ته د ټاکل کیدو مبارکي راکوې. نوراحمد نور ورته وایي ستا بیانیه باید تر انتخاباتو وروسته ویل شوې وای .» ۴۰ /۵۵۷ ــ ۵۵۸ د سیاسي لوبو څخه د بې خبره ساده مولوي له وینا څخه دا تریخ واقعیت جوتیږي چې څرنګه د افغانستان په روان ناورین کې ځینې سست عنصره ملایان او روحانیون لکه یو شمیر روڼ اندي د توکو په څیر پلورل او پیرل کیږي . پلنوم د رایو په اتفاق کارمل ګوښه او نجیب الله یې د هغه پرځای د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکه. په پلنوم کې بریالي او راتبزاد برخه نه وه اخیستې. په استعفی لیک کې راغلي وو: « ملګرو! له ډیرفکر وروسته ما پریکړه وکړه چې د مسئولیت د احساس او روغتیایي عواملو او نړیوالو مسئلو او ستونزو ته په کتنې سره د خپلو امکاناتو د ژورې ارزونې له مخې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د عمومي منشي له مقام څخه زما معذرت ومنئ .» ۳۹ / ۷۲۵ سره لدې چې کارمل د کی جی بی د دوو لوړپوړو سره د شوروي دولت خلاف ترخې خبرې لرلې خو په استعفی لیک کې د شوروي دولت څخه داسې قدرداني شوې وه : «خپله ملي او انترناسیونالستي دنده ګنم په همدې شیبه کې یو ځل بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي ستر ولس د ګوندي او دولتي مشر څخه زموږ ځوريدلي ولس ته د هراړخيزه انټرناسيونالستی مرستو د ورکوني څخه د زړه له کومې خپله مننه وړاندې کړم.» ۲۰۴د اتلسم پلنوم په درشل کې د کارمل د ځای ناستې په هکله د ګوند په مشرتابه کې نظرونه ویشلي وو خو مشترک ټکی یکې دا وو چې د ګوند د بنسټ ایښودونکو څخه يو وټاکل شي. په پرچميانو کې کشتمند او لايق هريوه ځان مستحق ګڼه . خلقي زيري هم د ګوند د مشرئ شوقي وو چې ځينو د خلقي اړخ د مرکزي کميټې غړو هم زيري ته ليوالتيا لرله. کاروال د ګوند رهبرئ ته د خلقي اړخ په مشرتابه کې د واحد نظر د نشتون خبره کوي او ليکي:
« صالح محمدزيري په لومړيو کې د نجيب الله مخالف وو او سلطانعلي کشتمند ته يې ترجيح ورکوله ځکه چې د ګوندي سابقې او د سلطانعلي کشتمند د نرم کرکتر له امله يې د کوچنيتوب او سپکاوئ احساس نه کاوه. د نيازمحمدمومند او زما( ميرصاجب کاروال ) لپاره د کارمل تبديلي په صالح محمد زيري او يا پنجشيري د منلو وړ وه.که څه هم موږ د سلطانعلي کشتمند سره ښې اړيکې لرلې. څرنګه چې وروسته معلومه شوله سيدمحمدګلابزوی د مخکنيومصلحتونو پر بنسټ د نجيب الله په اړه خپله موافقه ښودلې وه. د وطنجارلپاره اصلاً دا مطرح نه وه چې څوک دې شي؟ هغه په وروستيٍ تحليل کې د شورويانو د نظر تابع وو او کوم ځانګړی دريځ يې نه درلود. په هرصورت د شورويانو رول ټاکونکی وو.» ۱۲۸ / ۱۴۶ پدې هکله د افغانستان درمنګنه ژئوپوليتيک کتاب روسي ليکوالان د کتاب په ۵۹ مخ کې د مسکو رول ته ګوته نيسي او راوړي: « د کارمل د ځای ناستي په توګه د نجيب په غوراوي کې شورويانو ټاکونکی رول درلود. اندروپوف ، اوستينوف او پونوماريوف د نجيب وړتياوو ته لوړ ارزښت ورکاوه او هغه يې ښه پيژاند. پدې هکله نظريات داسې وو چې د کارمل د بدلولو په صورت کې يوازې نجيب کولی شي د هغه پرځای وټاکل شي .» د ا، خ، د،ک د مشر په توګه د نجيب د غوراوی به د شوروي جنرال لياخفسکي ولولو: « د ۱۹۸۰ لسيزې په نيمايي کې په شوروي اتحاد کې د رهبرئ د بدلون له کبله په افغانستان کې هم د مشرتوب د بدلولو خبره مطرح شوه، د ګرباچف د ټينګار په وجه ډاکټرنجيب الله د مشرتوب لپاره غوره شو.» ۲۰۵ / ۱۹ پدې ډول د ګوند د اتلسم پلنوم په جوړولو سره د مسکو له خوا د نجيب الله په ګټه کودتا په بري سره سرته ورسيده.

د پورتنيو څرګندونو نه ښکاري چې کارمل د مسکو د ارادې او د کی جی بی د جنرالانو د فشارونوله امله د ګوند د عمومي منشي له مقام څخه استعفی ته اړ ايستل شو او پرځای يې نجيب الله وټاکل شو خو بيا هم کشتمند د اتلسم پولينوم دايريدل او په هغه کې د نجيب الله ټاکنه د ګوند د مشرتابه ( سياسي بيرو) اراده ګڼي ، د شورويانو اغيزاو نفوذ نه مني او ليکي :«۱۹۸۶ کال داسې پيل شو چې يوځل بيا د رهبرئ په د ننه کې اختلافونه زيات شول او دا ځل د رهبرئ د مشر د تبديليدو پرته له منځه نه تلل. د سياسي بيرو اکثريت د رهبرئ تغيير يو اړين ضرورت ګڼه چې نجيب الله د کارمل پرځای وټاکي، کارمل شخصاَ هم لدې څخه خبر درلود.» ۳۹ / ۷۲۵ هغه مهال ليکوال د دفاع وزارت د ملکي مدافعي په رياست کې دنده لرله. د اتلسم پلنوم د دايريدو وروسته ددې رياست عمومي رئيس جنرال دوست محمد د ګوند د مرکزي کميټې على البدل غړي د رياست منسوبينو ته پدې اړه معلومات ورکړل او ټول خپلو ځانګو ته لاړل . څو شيبې وروسته رييس ليکوال خپل دفتر ته و غوښت او ور ته و يې ويل: « نور څه غواړئ ببرک کارمل خو مو هم لیرې کړ.» ليکوال ورته وويل نه پوهيږم چې کارمل چا لیرې کړ ځکه چې څو ورځې مخکې ويل کېدل چې د سياسي بيروغړي په پام کې لري چې د ګوند د بنسټ ايښودونکو څخه يو د کارمل پرځای وټاکي .خو وينو چې نجيب د ګوند د سياسي بيرو د غړو د ارادې خلاف د ګوند د مشر په توګه وټاکل شو . د کارمل پر ځای د کشتمند يا زيري د ټاکنې خبره رييس ليکوال ته کړې وه. په خپله نجيب الله ميثاق ته د ده واک ته د رسيدو په اړه داسې ويلي دي: « کارمل ته ويل شوي وو چې د ناروغئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نامه د ګوند او دولت له رهبرۍ استعفی وکړي او شوروي ته د استراحت لپاره لاړ شي او هلته د ژوند کولو ټول امکانات او آسانتياوې ور ته چمتو کېږي.کارمل مقاومت کاوه او چمتو نه وو داسې سياست ومني. شوروي سلاکارانو د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې د ټولو غړو سره کار پيل کړاو هر يوه ته يې جلا جلا دا سياست توضيح کاوه. په پای کې د محمود بريالي، اناهيتا راتب زاد، ظهور رزمجو، نظام الدين تهذيب او مجيد سربلند پرته د مرکزي کمېټې ټول اصلي او علی البدل غړي د دې تګلارې سره همغږي شول . بايد د مرکزي کمېټې پلنوم جوړ شوی وای او کارمل د ناروغۍ په پلمه استعفی ورکړې وای...»۷۹ / ۵۵۲ - ۵۵۳ د نجيب الله د واکمنېدلو ربښتيا به په خپله له ده څخه هم ولولو. کله چې مسکو د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په مياشت کې د برهان الدين رباني په مشرۍ د مجاهدينو يو پلاوی مسکو ته تللی وو او د دې پلاوي سره مسکو دې هوکړې ته رسېدلی وو چې د ۱۹۹۲د جنورۍ د لومړۍ وروسته به افغان حکومت ته پوځي تسليحاتي مرستې دروي. لدې پرېکړې وروسته نجيب الله په نهيلۍ او ګيلې سره د شوروي اتحاد د وخت بهرنيو چارو وزير شيواردنادزي ته يو ليک استولی او په يوه برخه کې يې راغلي دي:« ما نه غوښتل جمهور رييس شم ، تاسې زه رضا کړم. پرله پسې مو هيله وکړله او د ملاتړ ژمنې مو را کړلې ...، اوس مو زه او د افغانستان جمهوريت تقدير ته پرېښودل. څرنګه دا مسآله درک شي.»۲۰۱ /۱۹۴

## ملي روغه جوړه

د کارمل پر ځای د نجيب الله د ټاکلو څخه د مسکو موخه دا وه چې له افغانستان څخه خپل پوځيان وباسي او نجيب پدې لاره کې ورسره کاملاً همغږی او همکارۍ ته چمتو وو خو کارمل ور سره مخالفت ښودلی وو . نجيب الله واک ته په رسيدو سره د مسکو له لوري د چمتو شوې نسخې پربنسټ رسماً د ملي روغې جوړې تګلاره اعلان کړه چې منځپانګه يې د وسلوالو مخالفينو سره په پخلاينې، د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند له لوري د واک د انحصار څخه تېره ، په هيواد کې د سياسي ګوندونو او آزادو رسنيو فعاليت ، د پراخ بنسټه حکومت منځته راتګ او د افغانستان څخه د شوروي پوځيانو وتل وو. خو نجيب ادعا کوي چې دی د ملي روغې جوړې د تګلارې د غوره کولو نوښتګر دی. نجيب الله د۱۳۷۰ کال د تلې په دريمه په پارلمان کې دا پوښتنه طرحه کړه « چې د ملي روغې جوړې تګلاره له کومه ځايه پيل شوه؟ وويل، ځواب روښانه دی .څرنګه مې چې څو ځله د مختلفو مناسبتونو له کبله د دې مسئلې سره تماس نيولی دی چې پنځه کاله مخکې د پوهانو، روحانيونو او د افغاني مختلفو شخصيتونو سره ناستې او ليدنې کتنې ترسره کړې او د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې وروسته تجربې راغونډې شوې. د ملي روغې جوړې لومړنۍ مفکوري د همدې ناستو او د نظرياتو د مبادلې څخه منځته راغلې . » ۲۰۶ / ۲۰۱ خو واقعيت دا دی چې د روغې جوړې تګلاره د شورويانو له لوري په چمتو شوي رپوټ کې چې کارمل د ګوند په شپاړلسم پلنوم کې ولوست اعلان شوله او وروسته هغه د مسکو له لوري د يوه جامع سند په توګه تنظيم او د نجيب الله په واک کې کېښودل شو. کاروال د هغه مهال د دارالنشاء غړی پدې هکله ليکي: « دا سند له روسي ژبې نه په تاجکي ژباړل شوی وو چې لومړی ځل د نجيب الله له لوري په سياسي بيرو کې مطرح شو.» ۱۲۸ / ۱۵۳ نه يوازې کاروال د ملي روغې جوړې د تګلارې نوښتګر مسکو ګڼي بلکې شوروي جنرالان او په هغو کې ګروموف ورته څرګندونې لري او ليکي: « د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د عمومي منشي په توګه د نجيب الله د ټاکنې سره جوخت شوروي ګوندي سلاکارانو نوې ستراتيژي جوړه کړه چې موخه يې په هيواد کې د کورنی مخامختيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمول وو. دا ستراتيژي په ټوله نړۍ کې د ملي پخلاينې( ملي مصالحې) په نامه شهرت وموند.» ۱۹۰ / ۱۹۲ د نجيب له لوري د اعلان شوې ملي روغې جوړې د تګلارې په اړه ( افغانستان در منګنه جيوپولتيک) نومي کتاب په دېرشم مخ کې داسې راغلي دي:« ښېله شکه نجيب الله يو پياوړی ځيرک چلباز او سرزوری سياستوال وو. د اوازو خلاف نه هغه او نه کوم بل افغان مشر د ملي پخلاينې تګلاره اعلان کړله . د ملي پخلاينې سناريو د کرملن د مانۍ د لاربښوونکو په دستور وليکل شوله او افغاني اړخ يې يو عادي پلي کوونکی وو. همدارنګه لياخفسکي د افغان ميرانه اوغميزه نومي کتاب ليکوال د کتاب په ۳۴۳ مخ کې د څلويښتم پوځ له لوري مسکو ته د يوه ليږل شوي رپوټ يوه برخه راوړې چې دا رپوټ که له يوې خوا د ملي روغې جوړې جوړوونکی شوروي اړخ ګڼي له بله پلوه د دې تګلارې د ناکامۍ پيغام هم له ځانه سره لري. په رپوټ کې راغلي دي:« اوس معلوميږي چې د ملي روغې جوړې تګلاره چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند لاربښوونکو وړاندې کړه او د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند يې پلې کوي عملي نه ده . سربيره پردې هغه د مخالفانو په ګټه واوښتنه.» د څلويښتم پوځ له لوري مسکو ته د استول شوي رپوټ څخه ښکاري چې د ملي روغې جوړې څخه مسکو موخه دا وه چې څه ډول خپل لښکر له افغانستان څخه وباسي. کارمل د پاخه سياستوال په توګه د مسکو پدې موخه پوهېدلی وو او د ګرباچف د وړانديز په وړاندې ودريد خو ځوان نجيب الله دا درايت او هوښياري نه لرله. هغه نه يوازې د مسکو له لورې پدې پيل شوې لوبه کې خپل سر بايلود بلکې افغانستان يې د کړکيچ خورا ګواښمن پړاو ته ورټيل واهه چې د شوروي د اشغال نه يې پايلې افغانانو ته ګواښمنې شوې. البته دا د دې معنی نلري چې د ملي روغې جوړې تګلارې ته اړتيا نه وه بلکې د هغې د بريا لپاره بايد ربښتينې هلې ځلې شوې واى. دا تګلاره هغه مهال بريالۍ کېدله چې د هرڅه د مخه نجيب په ګوند کې د خلقيانو او په واکمنۍ کې د نورو سياسي ډلو سره جوړه کړې واى ، د پرچمي له تنګ چوکاټ څخه يې بايد ځان را اېستلی واى، د مخالفينو سره يې صادقانه خبرو اترو ته مخه کړې واى نه اپراتيفي لوبو ته. د ملي روغې جوړې د تګلارې د اعلانولو وروسته د نجيب الله له کړنو څرګنده شوله چې هغه ګومان نه کولو چې شورويان د افغانستان څخه خپل پوځيان وباسي همدا لامل وو چې د ملي روغې جوړې د تګلارې د پلي کولو په موخه يې ربښتينې هلې ځلې ونکړلې او خپلې اپراتيفي- خادېستي لوبې يې پر مخ وړلې. هغه د ژنيو د لوزنامې د لاسليک يوه اونۍ مخکې چې په تاشکند کې له ګرباچف سره وکتل سر يې پدې خلاص شو چې شوروي اړخ د خپلو پوځيانو په اېستلو کې جدي دی. د نجيب لخوا د دا ډول ناسم ګومان ، د هغه له لوري د اپراتيفي لوبو پر مخ وړل او دې ملي پروسې ته د يوې پروژې په څېرد ليدلو پايله د ملي روغې جوړې ناکامي او په هېواد کې د تنظيمونو د وحشت واکمنېدل شول .

## طرحه که عريضه !؟

د نجيب الله له خوا د ملي روغې جوړې د اعلان وروسته پرچميانو د وسلوال او غير وسلوال اپوزېسيون سره پټو او څرګندو اړيکو ټينګولو ته مخه کړله چې دا اړيکې د اسلامي جمعيت او شيعه ګوندونو سره خورا تودې وې. تردې چې اته ګونې تنظيمونه يې په يوه دسترخوان کېنول. د فقيرمحمد ودان په خبره «... د اسلامي وحدت ګوند په يوه اپراتيفي لوبه کې د دولتي امنيت د وزارت د مالي لګښتونو او تخنيکي امکاناتو له مخې منځته راغی او پروژه يې د جمهور رئيس له لوري جوړه شوله.» ۱۹۱/ ۲۵۱ د نجيب دې اپراتيفي لوبو د وطن تباهی ته شرايط برابر کړل. د يوې ملي مسألې په اړه د هېواد له سياسي مخالفو او موافقو ډلو سره اپراتيفي او استخباراتي لوبې مردودې دي. خلقي مشرتابه دا اړيکې ليدلې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمن فرکسیون د دې اړیکو، د هغو د بهیر او پایلو په اړه سیاسي بیرو ته رپوټ نه ورکاوه او هرڅه د خلقیانو څخه پټ پرمخ تلل. د ودان په خبره « ترهغه ځایه چې لیکوال خبر یم د اسلامي ګوند سره په خبرو کې نجم الدین کاویاني،لایق او یعقوبي برخه لرله د اسلامی وحدت سره کشتمند او د هغه کاري ډلې کار کاوه . د نظار شورا سره د جمهوررئیس مرستیال محتاط یا محبوب الله کوشاني توظیفیدل. د پاچا د پلویانو سره سلیمان لایق اوعبدالوکیل همدارنګه د ملي محاذ او ملي ژغورنې سره د بهرنیوچارو ، د ګوند د نړیوالو اړیکو او اکثرآ د دولتي امنیت د وزارت له لارې مذاکرې پرمخ تللې. » ۱۹۱ / ۶۷ څرنګه چې ښکاري د مخالفینو سره د مذاکرو په پرمخ وړونکو کې د خلقیانو یو کدر نه ترسترګوکیږي پداسې حال چې د ګوند د مؤتلف سازا استازی پکې شتون لري. نجیب د خپلو سیاسي سیالانو ، مخالفانو او دښمنانو سره سولې او جوړجاړي ته چمتو وو خو د خپلو سازماني ملګرو سره یې د ګډ کار څخه ډډه کوله. دا که له یوې خوا د خلقیانو سره د هغه دښمني ښیي له بله پلوه د سولې او د افغان ولس سره هم دښمني وه.د نجیب له لوري د دا ډول دریځ غوره کول د ملي روغې جوړې په تګلاره د مخالفینو باور ته هم زیان رساوه او له بله پلوه په ګوند کې یې هم کورنیو کشمکشونو او مخامختیا ته لار هواروله. کله چې ګرباچف د شوروي کمونست ګوند په اووه ویشتمه کنګره کې د افغانستان جګړه شوروي اتحاد ته ناسور ټپ وبلله او د افغانستان څخه یې د شوروي سپاهیانو د وتلو پریکړه افغاني مشرانو ته اعلان کړه په واک کې شریکو خلقي مشرانو دا خلقیانو ته ښه فرصت وګڼلو ګواکې چې د آزادې ساه د کښلو مناسب شرایط را رسېدونکي دي چې نور به په هېواد کې شوروي لښکر د داموکلس د توري په شان خلقیان نه ګواښي او د خپل فعال شتون د ښودلو په موخه یې هلې ځلې پیل کړلې. خو د خلقیانو سره د پرچمیانو له لوري د مخالفینو سره د خبرواترو د بهیر نه شریکول یعنې د سولې له بهیر څخه لرې ساتل خلقي مشران وهڅول خپل کورني اختلافونه شا ته پرېږدي او خلقي صفوف یې اړ شول چې د خپلو آزمایل شوو مشرانو تر شا ودریږي. خلقي مشرتابه د خپل دریځ د ساتلو په خاطر په واک کې شریکو نورو سیاسي ډلو سره د پوهاوي او ګډې ژبې د موندلو په موخه اړیکې ونیولې خو کومه بریا یې نه لرله . لامل یې د انقلاب په بشپړتیایي پړاو کې د خلقي مشرتابه پاسیف دریځ ، د واک نشتون او په خپله د خلقیانو کورني اختلافونه وو.

د پرچمیانو سره په واک کې شریکو خلقي مشرانو د دې لپاره چې د شوروي پوځیانو د وتلو وروسته خلقیان په یوه قوت واوړي د۱۹۸۸ کال د اپریل په میاشت کې یوه طرحه جوړه کړله چې په مرکزي کمیټه کې د۳۰ تنو خلقیانو څخه ۲۸ تنو لاسلیک کړه او هغه یې د شوروي سفیر له لارې ګرباچف ته واستوله. هغه مهال د ګوند د مرکزي کمیټې غړي ۱۲۰ تنه وو. طرحه دوو تنو محمداسلم وطنجار او انجینر نظرمحمد لاسلیک نه کړه ځکه هغوی د نجیب الله ترڅنګ دریدلي وو . ګرباچف ته د طرحې لیږل یو ځل بیا د خلقي مشرتابه نه وړتیا نندارې ته کیښودله .هغوی د دې پر ځای چې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه په سیاسي بیرو یا مرکزي کمیټه کې طرحه کړي او د پرچمیانو سره یوه پوهاوي ته ورسیږي طرحه ګرباچف ته استوي . د خلقیانو د مشرتابه له لوري ګرباچف ته د دې طرحې استول په واقعیت کې د عریضې لیږل وو. خلقي مشرانو د مسکو له دوه مخی ،د شورویانو له لوري د خلقي غورځنګ د کمزورولو، او د هغه د رهبرانو د له منځه وړلو له ترخو تجربو څخه درس نه وو اخیستی او فکر یې کاوه چې په شوروي اتحاد کې د ګرباچف په واکمنیدو سره به شورویان د ریښتینو دوستانو په څیر د افغانستان سره همکاري وکړي. دوی ددې واقعیت د درک وړتیا نلرله چې د شوروي اتحاد په شان د یوه ستر هېواد تاریخ نه یوه واکمن جوړکړی او نه یې یو واکمن اړولی شي. ګرباچف دا طرحه له یوه مکتوب سره ګډه نجیب الله ته واستوله چې پکې یې لیکلي وو دا ستاسو کورنۍ موضوع ده هغه پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل کړئ. د ګرباچف دا غبرګون منطقي او مناسب غبرګون وو چې یو حکومت یا یو سیاسي ګوند خپلې کورنۍ ستونزې باید پخپله حل کړي. په زړه پورې لا دا ده چې په مرکزي کمیټه کې د ګرباچف لیک زیرې هغه چا چې د طرحې سره متمم لیک لاسلیک کړی وو ولوست . د ګرباچف مکتوب نجیب ته دا پیغام هم درلود چې خلقیان د ده له تګلارو سره همغږي نه دي د تشکل په لټه کې دي او کولی شي ده ته ستونزې جوړې کړي. د دې مکتوب په وړاندې د ولسمشر غبرګون دا وو چې د خلقیانو له تشکل مخنیوی وکړي او هغه خلقیان چې د ده د تګلارې په وړاندې درېږي له ډګره وباسي او څوک چې د ده له دریځ څخه ملاتړ کوي په خپل غېږ کې ونیسي. په دې موخه یې په خلقي مشرانو او کدرونو کار پیل کړ تر څو د هغوی دریځ ځانته معلوم کړي هغه کسان چې د خپلولو وړ دي خپل او هغوی چې ځانګړی دریځ لري ور سره اړین چلند وکړي . د میثاق په وینا « کله چې په ۱۳۶۷ ل/ ۱۹۸۸ز کې ډاکټر نجیب الله د کارمل د پلویانو او د کارمل د همکارانو او همسنګرانو صالح محمد زیري ، دستګیر پنجشیري ، نیاز محمد مهمند، میرصاحب کاروال ، سیدمحمد ګلابزوی او یوشمیر نورو خلقیانو د فشار لاندې راغی د امین د دوران ګوندیانو ته یې مخه کړه » ۷۹/ ۵۲۴ ترڅو دوی د ځانګړي دریځ لرونکو خلقي مشرانو او کدرونو خلاف لکه توکي وکاروي چې پدې کار کې بریالی هم شو. پدې برخه کې د نجیب بریا تر دې کچې وه چې د ګوند بنسټ ایښودونکي لکه میثاق او شاه ولي هم خپل او د خلقیانو د سترې برخې په وړاندې یې ودروي . میثاق د نووستي آژانس له خبریال سره په یوه مرکه کې ویلي وو :«نورمحمدتره کی د خلقیانو رهبراو ببرک کارمل د پرچمیانو رهبر وو خو ډاکتر نجیب الله د ټول د ا،خ ، د ، ګ یعنې د خلق او پرچم د فرکسیونونو رهبر دی .» ۲ / ۱۴۴ میثاق دومره نجیب ته وفادار دی چې د هغه په اړه د یوه څرګند واقعیت څخه سترګې پټوي او هغه دا چې نجیب لکه نور پرچمي مشران د سفاراتونو څخه د شتمنیو په لوټ کې ښکېل نه وو . هغه په خپل کتاب کې د پرچمي سفیرانو له لوري د سفارتونو د شتمنیو د وړلو کچه راوړې ده خو یوازې د نجیب لخوا د شتمنیو د وړلو په اړه څه نه لیکي.

محمد اعظم سیستاني د خلقي واکمنۍ د دولتي رسنیو پر بنسټ په خپل کتاب مقدمه برکودتای ثور و فجایع هشت ثور په ۱۱۳ مخ او میثاق د خپل کتاب په ۳۲۰ – ۳۲۱ مخونو کې د سفارتونو د وړل شوو شتمنیو د کچې په اړه راوړي :

| محمد اعظم سیستاني | عبدالکریم میثاق |
|---|---|
| ۱- ببرک کارمل ۷۵۰۰ ډالر | - ۷۰۰۰ ډالر |
| ۲- اناهیتا راتب زاد ۷۶۰۰ ډالر | - ۱۱۰۰۰ ډالر |
| ۳- نوراحمدنور ۲۱۰۰۰۰ ډالر | - ۲۲۰۰۰۰ ډالر |
| ۴- عبدالوکیل ۲۰۰۰ ډالر | - ۱۰۰۰۰ انګریزي پوند او ۲۰۰۰ ډالر |
| ۵- محمودبریالی ۲۴۰۰ ډالر | - ۵۰۰۰ ډالر او ۷۰۰۰ کلدارې |
| ۶- نجیب الله ۲۱ میلیون ریال | - صفر. |

نجیب الله د خلقیانو د دریځ د معلومولو وروسته پدې کې شو چې هغه خلقي مشران چې د پخوا په څېر د پرچم د ارادې سره سم ګامونه نه اوچتول په بهر کې دپلوماتیک مسئولیتونه او تحصیلي بورسونه ومنې چې له ګلابزوی پرته نورو د نجیب الله وړاندیزونه ونه منل. کله چې د ګلابزوی د سفارت اوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرې شوې « د خلقي اړخ مشران د څارندوی په کلوپ کې سره جرګه شول د وطنجاراو انجينرنظر محمد پرته ټولو په يوه خوله وويل چې ګلابزوی بايد په هيڅ صورت خارج ته ولاړ نشي ...،خارج ته د ګلابزوی په اړه اړينه بريښي وويل شي چې د وسله وال پوځ لوی څارنوال جنرال محمدهاشم نوري او د سياسي بيرو غړی ميرصاحب کاروال د هغه کور ته ورغلل ترڅو هغه قانع کړي چې خارج ته له تګ نه ډډه وکړي چې دا مهال د شوروي د سفارت نه د ټلفون زنګ راځي او ګلابزوی ته خبر ورکوي چې د مسکو نه ځانګړې الوتکه د ده لپاره راغلې او په هوايي ډګرکي د ده انتظار باسي ،سبا ته بايد حرکت وکړي ،هغه موافقه وکړه او د خپلو کاليو په ټولولو يې پيل وکړ. » ۱۲۸ / ۱۶۴ له سفارت نه ګلابزوی ته ټلفون ښيي چې مسکو هغه مهال هم د افغانستان د دولت د چارو او په هغو کې د لوپوړو د مقرريو واک درلود چې څوک چيرې په دنده وګوماري او څوک لېرې يا بيواکه کړي . له هغه سره جوخت نجيب الله د خپلواپراتيفي لوبو پراساس د خلقي کدرونو د دريځ د معلومولو په موخه په ګوندي سازمانو کې د نظرغوښتنې ډرامه سازماندهي کړه. پدې نظرغوښتنې کې غوڅ اکثريت خلقيانو د کنګرې د رابللوغوښتنه کوله او کله چې دا موضوع په سياسي بيرو کې طرحه شوله د نجيب الله ځواب دا وو چې « د کنګرې د دايريدو وخت نه دی،هيواد د جګړې په حال کې دی او کارمليانو د دې لپاره چې د خلقيانو او نجيب ترمنځ اختلافونه زيات کړي له دې مسالې سره علاقه وښودله هغوی هم د کنګرې د دايريدو سره سرښوراوه. » ۵۸۷/ ۴۰

نجيب الله چې د کنګرې د رابللو له توپان سره مخامخ شو، هڅوونکي يې خلقي مشران او په ځانګړې توګه زيری ګڼه. د زېري په وينا نجيب هغه ورغواړي او ورته وايي: « د شفاخانې د راپور له مخې ته زيات ناروغه يې بهتره ده ته پولنډ ته د سفير په څير ولاړشې ، استراحت او خپل علاج به وکړې خو ما له دغه کار څخه د بيلابيلو علتونو په وړاندې کولو انکار وکړ ، څه وخت وروسته په کوم پلنوم کې زما د اخراج مسئله طرحه شوه. »۴۰ / ۵۹۱ داسې بريښي چې تردې وروسته د زېري د فزيکي له منځه وړلو څو ناکامې هڅې کيږي چې په يوه کې يې د شوروي د سفارت د لاس لرلو شک هم کيدای شي. زيری د دولتي امنيت د وزارت د سلاکار له خوا سفارت ته بلل کيږي د شپې نا وخته چې د سفارت څخه د کور خوا ته ستنيږي د آرتن پله ته نږدې په نوآباد کې د ده موټر ته بم اېښودل شوی وو ، ده ته کوم زيان نه رسيږی خو موټر يې ويجاړيږي او څه موده وروسته هغه د ۱۹۸۹ کال د اکتوبر په مياشت کې د مرکزي کميټې په پلنوم کې د سياسي بيرو نه وايستل شو. د پلنوم د دايريدو نه يوه ورځ مخکې شوروي سفير ورانسوف زيري ته ويلي وو چې« بايد په ګوند کې د يووالي روحيه پياوړې شي او هرچا ته مناسب ځای پيدا شي.»۱۲۸ / ۱۶۱ د خلقي مشرانو ګوښه کولو نه دا چې د يووالي روحيه نه پياوړې کوله بلکې د دواړو اړخونو ترمنځ يې اختلافونه لا زياتول.

د خلقي مشرتابه له لوري د دې طرحې د طراحانو کمزوري او نه وړتيا به په يوه بيلګه کې وړاندې کيږي. هغه مهال ليکوال په سياسي – پوځي پوهنتون کې د استادۍ دنده لرله. يوه ورځ ډګروال محمدقاسم چې مخکې لدې د خوست د۲۵ فرقې سياسي آمر هم په پوهنتون کې په تدريس بوخت وو. هغه د ليکوال سره د خلقي مشرانو له لوري د دې طرحې خبره شريکه کړله چې د هغې په اړه ګډ کار وشي. ليکوال دا طرحه يوه جامع سياسي طرحه وګڼله خو دا يې پرې اضافه کړل چې د داسې يوې طرحې عملي کول يوه وړ او غښتلي مشرتابه ته اړتيا لري چې خلقيان هغه نه لري. يو سياسي سازمان ځانله تکتيکي او ستراتژيکي هدفونه ټاکي . څرنګه چې طرحه د خلقيانو د تشکل پيغام لري . کله چې د يوه سازمان خبره کيږي هغه بايد تکتيکي او ستراتژيک هدفونه ولري . زه د خلقي سازمان دا تکتيکي او ستراتژيکي هدفونه نه وينم. ښه بېلګه يې ولسي جرګې ته ټاکنې دي. تاسي را ته ووايئ چې زموږ د پوهنتون خلقيان او پلويان

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ددې ناحیې د دریو کاندیدانو څخه کوم کاندید ته رایه ورکړې؟ هغه ځواب راکړ نه پوهیږم. لیکوال ورته وویل خلقي مشرانو د سترو موخو د پلي کولو لپاره متې رانغښتي دي پداسې حال کې چې د تکتیکي او کوچنیو مسالو په هکله ځانګړی دریځ او د شته ستونزو د حل په اړه کومه نقشه نلري آیا دوی د دې ستر پیټې د وړلو وړتیا لري؟ لدې کبله په داسې مشرانو پسې تلل تېروتنه او د ځان تېرایستل دي او زه پدې برخه کې همکارۍ او ګډ کار ته چمتو نه یم . څه موده وروسته چې د ګرباچف لیک زیري د مرکزي کمیټې په پلنوم کې ولوست معنی یې دا وه چې هغه خپله تیروتنه ومنله چې طرحه یې مسکو ته استولې وه خو بیا یې هم په همدې پلنوم کې د پلنوم برخه والو ته د دې طرحې په سموالې ټینګار ونکړ او خپل دریځ یې د پلنوم له برخه والو سره شریک نکړ . د دې طرحې خو په واقعیت کې د عریضې وروسته بهیرونو څخه داسې ښکاري چې د دې کار ترشا هم مسکو ولاړ وو ترڅو خلقیان او پرچمیان د یو بل په وړاندې ودروي.

## نجیب الله او ورسره زیاتیدونکي مخالفتونه

د ګوندي او دولتي مشر په توګه د نجیب الله د ټاکل کېدو وروسته ډېر ژر د هغه په وړاندې په ګوند کې مخالفتونه پیل شول او د وخت په تیریدوسره یې کچه لوړیدله . شورویانو چې په ګوند او دولت کې ژورې ریښې ځغلولي وې او له هر څه نه خبر وو د هغوی څخه یې یو لیکې:« خبره پدې کې ده چې د نجیب الله په واکمنېدو سره په ګوند کې داخلي ګوندي مبارزه کمزورې نه شوه بلکې برعکس لا یې قوت وموند .»۴۹ / ۳۷۶ د نجیب الله په وړاندې د مخالفتونو د زیاتېدو لاملونه دا وو.

۱ ــ د نجیب الله تېروتنې

مخکې ویل شوي وو کله چې د پرچم خبره کېدله معنی یې د کارمل ډله وه . لکه څرنګه چې کارمل د شورویانو د فشار له امله د ګوند له مشرتابه ګوښه کړل شو او چمتو نه وو له خپل مقام څخه تېر شي ښېله کومه شکه پلویانو یې د هغه د ځای ناستي ضد دریځ نیولو . دا چې نجیب الله د کارمل د همغږۍ پرته د ګوند مشرتابه ته زړه خوښ کړ دا یې ستره تېروتنه وه. بله تېروتنه یې دا وه چې د ګوند د عمومي منشي د مقام څخه د کارمل د ګوښه کولو وروسته د کارمل سپکاوی کېده چې دې ډول وضعیت نه یوازې د کارمل په ټېونو د مالګې دوړول وو بلکې د نجیب الله خلاف د کارمل پلویان هم لمسول . دریمه تېروتنه یې په خلقیانو نه باور او د هغوی د کمزورولو هڅې وې. د ملي روغې جوړې د تګلارې په اعلانولو سره ټولو ګوندي او حکومتي بنسټونو ته دستور ورکړل شو چې د سولې بهیر ته د مخالفینو را جلبولو ته متې را ونغاړي. خلقي مشرانو او اغېزمنو خلقي کدرونو هم پدې لارکې هلې ځلې پیل کړلې او د خپلو اجرآتو رپوټونه یې په خپل وخت له مسؤلو مقاماتو سره شریکول. خو کله به چې د خلقیانو له لوري مخالفین چمتو شول چې له مخالفت لاس اخلي نجیب الله به هدایت ورکړ چې هغه له خاد سره تنظیم کړي که مخالفینو به د خاد سره د اړیکو د ټینګولو ډډه وکړه نو نجیب الله به همدې خلقي کدرونو ته هدایت ورکړ چې نور د هغوی سره اړیکې پرې کړي . د بېلګې په توګه خلیل الله کوهستاني د ګوند د مرکزي کمیټې غړی د « نجیب الله له خوا د مصالحې د پروګرام په خاطر تګاب او نجراب ته استول کېږي...،په تګاب اونجراب کې د محل له جهادي قوماندانانو سره یې وسیع او ثمربخش فعالیت وکړ. نوموړي به په هرو دری میاشتو کې کابل ته راته او جمهور رییس ته به یې د کار ګزارش وړاندې کاوه.بالاخره جهادي قوماندانان د مصالحې پروګرام ته آماده شول.له دې وروسته خلیل الله کوهستاني نجیب الله ته ګزارش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړچې جهادي قومندانان آماده دي چې له مصالحې سره پیوست شي، نور نه غواړي جنګ ته ادامه ورکړي.نجیب الله هدایت ورکوي چې قومندانان د خاد ارګان ته تسلیم کړه ! خلیل الله کوهستاني له هدایت سره سم ، جهادي قوماندانو ته اعلانوي – چې تاسو اوس د خاد ارګان ته تسلیموم. جهادي قوماندانان کوهستاني صاحب ته وایي ، موږ له تا سره موافقه کړېده ، موږ خاد ته نه ورځو. کوهستاني صاحب بیا نجیب الله ته د عین موضوع ګزارش ورکوي .جمهور رییس نجیب الله ،کوهستاني صاحب ته هدایت ورکوي : تماس دې له جهادي قوماندانانو سره قطع کړه.» ۱۷۰ / ۲۲۲ – ۲۲۳ د نجیب الله دا ډول دریځ د خلقیانو سربېره د مخالفینو له لوري هم د روغې جوړې په تګلاره او په نجیب الله هم شکونه پیدا کول .

۲ - په ګوند کې د اختلافونو سرچینه

په هرسیاسي سازمان کې د اختلافونو سرچینه د هرڅه د مخه د نوموړي سازمان په مشرتابه او اغېزمنو کدرونوکې باید ولټول شي . په ا، خ ،د ، ګ کې تل د اختلافونو سرچینه ګوندي مشران او د ګوند د واکمنۍ پر مهال سیاسي بېرو وه چې غړي یې یا د ګوند بنسټ ایښودونکي یا اغېزمن او ځواکمن کسان وو . دا مشران چې د افغاني قبیلوي ټولنې محصول وو دوی هم د ګوند د مشر وروسته لکه د قبیلو د مشرانو په څېر د ګوند د مشرۍ خوبونه لیدل. همدا لامل وو کله چې د۱۹۸۶ کال په لومړیو کې کله چې د واک څخه د کارمل د ګوښه کېدو ګنګوسې وې ویل کېدل چې د کارمل ځای ناستی به د ګوند د بنسټ ایښودونکو څخه یو وي . خو د ګوند په رهبرۍ کې د واکمن ذهنیت خلاف نجیب الله د کارمل ځای ونیو. له همدې امله وو چې د سیاسي دفتر هغو غړو چې د زعامت خوبونه لیدل د نجیب الله خلاف دریځ غوره کړ. پدې هکله به دوې بیلګې راوړل شي:

الف – شاه محمود حصین خلقي کدر د۱۹۸۶ کال په لومړیو کې د دوو تنو سره لایق ته ورغلي وو په یوه لیکنه کې راوړي: « لایق صاحب په یوه پاریدلي رواني حالت کې وویل . عجیبه ده :هغه هلکانو چې لا یې پرتوګ نه وو اغوستی او زموږ مخې ته دې خوا او هغې خوا ټوپونه وهل نن د ګوند او سبا د دولت مشري ترلاسه کوي.» ۲۰۷

ب- کشتمند هم چې له هره پلوه ځان د ګوند د مشرتابه مستحق ګڼلو لیکي :« د یادولو وړګنم چې غوښتنو، وړاندیزونو او نظریاتو شتون درلود چې زه د ببرک کارمل په ځای د ګوند او دولت رهبري او ریاست په غاړه واخلم ځکه چې د ګوندي او د دولتي کار،مشرتوب او صلاحیت ، ګوندي او وګړنیز ملاتړ په بشپړډول طبیعي او منل شوي ګڼل کیدل چې داسې بدلون راشي . د ګوند د ننه او په ټولنه کې داسې انتظاراتو شتون در لود ...، تصادفآ په دې مقام کې زه وم چې د ګوند د بنسټ ایښودونکو او د کارمل وروسته په ګوند کې دوهمه څیره شمیرل کیدلم او په ګوند کې زما په وړاندې کوم مخالفت موجود نه وو خو ما شخصآ د رهبرۍ ادعا نلرله او یا ښایي اړین شرایط لا برابر نه وو.» ۳۹ / ۷۰۶- ۷۰۷ د پرچم د فرکسیون د پورتنیو دوو مشرانو څرګندونې ښیي چې هغوی ځانونه د ګوند د زعیم مستحق ګڼل خو باز د نجیب الله په سرکیناست او نجیب د دوی دواړو او د ګوندي زعامت د نورو لیوالو دښمني وګټله . د ګوند د مشر په توګه د نجیب الله د ټاکل کېدو له امله د زېري او نور ناخوښې د زېري له لاندې وینا نه جوتېږي:« یوه ورځ نوراحمدنور په دفتر کې ناخوښه رامعلوم شو، نو مې پوښتنه ځنې وکړه څنګه داسې مایوسه ناست یې نه وایي کاروانونه دې غرق سوي دي. دی له چورتونو راووتی ، و یې خندل او وېې ویل، آوو ، ته یې پرڅه یې . ته بیچاره پرڅه خبر یې . ما سمدستي جواب ورکړ ولې نه یم خبر ځوان فعال عمومي منشي مو دی . په هرڅه خبردی سړی اوس داسې فکر کوي چې یو ځوک شته چې د وطن په باره کې فکر کوي، پلان لري نخشه جوړوي. د هغه بل غوندې خو بیغمه نه دی پروت. نوراحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل : بیشکه دغسې ده . ته به خود خوشاله یې کارونه ستا په طبیعت برابر دي ، زما له احواله به هغه وخت خبر شوی وای چې میرزاعلم دې عمومي منشي شوی وای او تا یې ترلاس لاندې کار کولای...، ما او نور پر دغه خبره وخندل او ډیر وخت مو یادول. څه وخت مو په خپلو منځو کې د نجیب نوم میرزاعلم ایښی و.» ۴۰ / ۵۷۹ خوستی میرزا علم حمیدي خلقي کدر وو.همدا لامل وو چې نجیب الله کاروال ته د نهیلۍ په ډول ویلي وو:« زه په سیاسي بورو کې دوست نلرم. هغوی ټولو د دښمن په څېر زما په وړاندې دریځ نیولی دی. زه یوازې یم. » ۱۲۸ / ۲۳۷

۳- د ګوند په تشکیلاتي چارو کې په خاد ډېره لګونه

« کله چې نجیب عمومي منشي شو نو کدرونه یې د تشکیلاتو له لارې نه، بلکې د خاد له لارې غوره کول او مهم ځایونه یې ورسپارل.پداسې حال کې چې د کارمل د دورې په ټوله موده کې دغه کار د تشکیلاتو د شعبې په معرفي کولو کیدی.» ۴۰ / ۵۷۸ دې هم د ګوند د مرکزي کمیټې د تشکیلاتو څانګه او د سیاسي دفتر او دارالانشاء غړي ناراضه کړي وو.

۴- د اپوزېسیون سره د نجیب الله د استازو د کتنو د بهیراو پایلو پټ ساتل

نجیب الله د ملي روغې جوړې د تګلارې په اعلانولو سره د دولت د وسلوال او غیروسلوال اپوزېسیون سره د خپلو استازو له لارې خبرې اترې پیل کړې خو د دې خبرو د بهیر ، پایلو او د مخالفینو د غوښتنو په اړه یې د سیاسي بیرو خلقي برخه او چپ دموکراتیک اتحاد اړونده سازمانونه او حکومت نه خبرول . دې کار په نجیب الله باندې د خلقیانو او د دې سازمانونو د مشرانو او د حکومت د ځېنو غړو بې باورۍ او مخالفت ته لاره هواره کړله .

۵- د نجیب الله اپراتیفي لوبې

مخکې مو هم دې مسئلې ته ګوته نیولې وه چې ولسمشرپه ګوند او دولت کې د خپل دریځ د پیاوړتیا لپاره د ګوندیانو او په تېره کارملیانو د تقدیراو تهدید تګلاره غوره کړه. د نوموړي د تګلارو او یا نظریاتو سره د نه همغږۍ له امله ګوندي او دولتي کدرونه او چارواکي یا له دندو ګوښه کول ، یازندانونو ته اچول ، له څه مودې بند وروسته یې آزادول او په لوړو مقامونو ګومارل. دا ډول بهیر د نوموړي د واکمنۍ تر پایه دوام وموند. د نجیب الله دا رنګه کړنې او بدلیدونکی دریځ لامل پدې کې وو چې هغه کومه ځانګړې نقشه نلرله بلکې د ګوندي او حکومتي کدرونو سره یې چلند یوازې ده ته په وفادارۍ کې لیدلو او یا دا چې ټولې پریکړې او کړنې یې د پېښواو بهیرونو په وړاندې تحمیلي غبرګون وو. د محمد آصف محسني د تنظیم پرته د شیعیه اوو ګونو څخه د وحدت د ګوند جوړول د هغه د اپرتیفي لوبو څرګنده بېلګه وه. په نړۍ کې داسې بېلګه نشته چې یو حکومت دې خپلې څو مخالفي وسلوالي ډلې په یوه محور را غونډې کړي خو نجیب الله دا کار وکړ او خپل دې کار ته یې اپراتیفي لوبه ویله. پدې هکله واقعیت دا وو چې دا د مسکو پلان وو چې غیرپښتنانه وسلوال مخالفین او کارملیان په یوه تلواله کې تنظیم او د دې تلوالې پر مټ د م، م دسولې پروګرام شنډ کړي.

۶- د وسلوال اپوزېسیون له لوري د ملي روغې جوړې د تګلارې سره مخالفت

یوه مسئله چې په ګوند کې د نجیب الله په وړاندې د مخالفتونو د زیاتیدو لامل کېده د تنظیمونو لخوا د ملي روغې جوړې د تګلارې سره مخالفت وو خو نجیب الله پردې تګلاره ټینګار درلود . البته هغه مهال سوله افغانانو ته د هوا په شان اړینه وه . خو واقعیت دا وو چې وسلوالو مخالفینو روغې جوړې ته نه دا چې هرکلی ونکړ بلکې هغه یې رد کړله. روغه جوړه یو طرفه لار نه ده بلکې مقابل لورى هم باید هغې ته هرکلی ووایي. کله چې مقابل لوری روغې جوړې ته چمتو ندی خو پدې اړوند عملي ګامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچتېږي داسي کړنلاره بیله ناکامی بله پایله نلرله. څرنګه چي د ملي روغي جوړي نوښت د مسکو سره وو او مسکوغوښتل د یوې لوزنامې له مخې خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي نجیب د یوه لاسپوڅي په توګه اړ وو چي د مسکو د ارادې له مخې ګامونه اوچت کړي بیله دې چي د دې تګلارې ناوړه پایلو ته پام را وګرزوي.

## د ژنیو لوزنامې

د مسکو مغروره مشران پرافغانستان باندي د خپل خاینانه لښکرکشۍ وروسته په افغانستان کي د ملي پاڅون په پیل سره پوه شول چي ستره تیروتنه یې کړېده او پدې کې شول چي په آبرومندانه ډول د افغانستان څخه خپل پوځونه وباسي. د شوروي دولت دا هوډ هغه مهال جوت شو چي د۱۹۸۲ کال په نوامبر کي یوروي اندروپوف د کی جی بی رئیس د شوروي اتحاد د ګوندي او دولتي مشر په توګه وټاکل شو او د افغانستان د کشالي د حل په موخه یې هڅې پیل کړې. خو د نوموړي هڅو لدې امله پایله نلرله چي هغه مهال متحده ایالاتواو پاکستان یوې سیاسي معاملي ته چمتو نشول ځکه چي د افغانستان د کشالي د سیاسي حل په اړه د اندروپوف نقشه د نوموړو دوو دولتونو په پرتله د شوروي اتحاد او افغانستان د ګټو پرمحور څرخیدله. اندروپوف « ټینګارکاوه چي اسلام آباد د کابل د رژیم مشروعیت ومني او ضمناً په پام کي یې لرل، د کارمل ځای چي د افغانستان اکثریت خلکو د شوروي د ګوډاګي په توګه تړي کرکه لرله یو منل شوی شخصیت ونیسي ترڅو واک د غیرکمونست عناصرو سره وویشي. اندروپوف د کابل د رژیم ساتل پدې کي لیدل پاکستان ژمنه وکړي چي د ملګرو ملتو د سازمان د مذاکرو پربنست د شوروي ځواکونو د وتلو وروسته د مقاومت له مرستې لاس واخلي او متقابلاً کابل د پاکستان ضد ځواکونو ته مرسته ونکړي.» ۴۷ / ۱۰۵- ۱۰۶ پداسي حال کې چي د ګرباچف په پلان کي دې مسئلې ته پام نه وو راګرزول شوی . د افغانستان د کشالي د سیاسي حل په موخه د مسکو د هلوځلو پایله دا شوله چي د۱۹۸۲ کال د جون په میاشت کې د ملګرو ملتو د استازي د سولې مأموریت پیل شي چي هغه له پاکستان سره د غیر مستقیمو مذاکرو له لارې پرمخ تللو البته ایراني لوري له خبرو نه ډډه وکړه. پدې مذاکراتو کي د ګرباچف تر واکمنېدو پورې پرمختګ نه لیدل کیده ځکه چي د شوروي مشرانو د نه نرمښت سربیره اصلی خنډ واشنګټن وو.د ملګروملتو د ځانګړې استازې دیه ګوکوردوویز د وینا له مخې کله چي دې مؤسسي د افغانستان د ستونزې د حل لپاره خپل استازی وټاکه په دې مؤسسه کي د متحده ایالتونو استازي( جورج شرمن ) هغه ته ویلي وو: « متحده ایالتونه د خبرواترو له لارې د قضیې د حل غوښتونکی دی خو لیوال نه دی چي دیپلوماتیکي هڅې پیل او دا کړکیچ حل شي .»۴۷ / ۱۰۱ د غیرمستقیمو خبرو په پیل کي د ښکیلو اړخونو کابل او اسلام آباد او د هغو ملاتړو مسکو او واشنګټن دریځونو زیات واټن درلود. واشنګټن -اسلام آباد د دری اړخیزه خبرو اترو ( اسلام آباد، کابل ، ملګري ملتونه) او مسکو- کابل په دوه اړخیزه مذاکرو ( کابل – اسلام آباد) ټینګارکاوه . البته خبرو د واشنګټن- اسلام آباد د طرحي پر بنسټ پیل او دوام وموند. مذاکرې په لومړي پړاو کي د شوروي لښکر پر وتلو او د افغانستان په چارو کي په نه لاس وهني څرخیدلې. د افغانستان دریځ دا وو چي شوروي ځواکونه هغه وخت بیرته خپل هیواد ته ستنیدلی شي چي د افغانستان په کورنیوچارو کي لاسوهني ودریږي او مقابل لوری د لاس نه وهني تضمین ورکړي او پاکستان بیا د شوروي لښکر د وتلو د مهال ویش د ټاکلو موضوع راپورته کوله. کله چي ګرباچف واک ته ورسید او په افغانستان کي د مسکو د ارادې له مخې هم زعامت تغییر وموند د ملګروملتو د استازي د ماموریت هڅو قوت وموند په تیره کله چي ګرباچف د شوروي کمونست ګوند په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووه ويشتمه کنګره کې افغانستان ( ناسورټپ ) وباله او د افغانستان څخه يې د شوروي لښکر وتل وړاندې کړل خبرې دوهم پړاو ته ننوتلې چې هغه د افغانستان په کورنيو چاروکې د نه لاس وهنې او د افغانستان د راتلونکې حکومت د جوړيدو څرنګوالي ته ځانګړې شوې او مسکو په خپل دريځ کې زيات نرمښت وښود پدې معنی چې د خپلو ځواکونو د وتلو موده يې له دوه ويشت مياشتو نه نهو مياشتو ته راټيټه کړه پداسې حال کې چې پاکستان د شوروي سپاهيانو د وتلو موده د اوو مياشتو پر ځای نهه مياشتې ومنله.

د م، م د استازي کوردوويز په وينا کله چې مذاکرې پای ته نږدې کيدلې « هغه ( نجيب الله ) يو ځل بيا د خپل پخواني سلف په څير د دې په لټه کې شو چې د شوروي لښکر د وتلو په لار کې خنډ او د هغو د ځنډېدو سبب شي .» ۴۷ / ۲۱۷ د نجيب دا ډول دريځ ښودل چې هغه په لومړيو کې فکر نه کولو چې شوروي اړخ د خپلو سپاهيانو په وتلو کې جدي دی خو کله چې وپوهېدلو ګرباچف خپل پوځيان وباسي نو د سولې په وړاندې د خنډونو د جوړولو هڅې پيل کړلې. اشرف غني هم دېرش کاله وروسته کله چې امريکايي اشغالګرو په ۲۰۱۸ کال کې د طالبانو سره په دوحه کې د سولې خبرې پيل کړلې د سولې د ټينګښت په موخه عملي ګامونه ځکه پورته نکړل چې هغه ګومان نه کولو چې اشغالګر له افغانستان څخه وځي. نجيب الله په تبليغاتو کې د سولې او روغې جوړې خبرې کولې خو هڅې يې پدې راګرزولې وې چې په واکمن ګوند کې خپل سيال له ډګره وباسي او د وسلوالو اوغير وسلوالو مخالفينو سره استخباراتي اېراتيفي لوبې پرمخ بوزي چې دده د دې لوبو منطقي پايله د ده ناکامه تېښته او د حکومت مفتضحانه نسکورېدل شول. پدې توپير چې غني په تېښته بريالی شو اونجيب بريالی نشو . پدې اړه ګرباچف شل کاله وروسته د ( اېخوا مسکوه ) راديو سره په مرکه کې داسې وايي: «ما د نجيب سره په تاشکند کې وکتل .هغه په خپل ځان باورنه درلود او باور يې نه کاوه چې موږ په جدي ډول( د وتلو لپاره) تصميم نيولی دی. ټولو انتظار يوست چې ګواکې موږ له افغانستان څخه نه وزو. خولازم نه وو چې پاتې شو.» کله چې د سولې خبرې اترې د يوې لوزنامې په لاسليکولو سره په بري سره پای ته ورسېدلې د نجيب د پوځي سلاکار سترجنرال ګارييف په خبره « جمهور رييس ټينګار کاوه چې د شوروي سپاهيانو يوه برخه په افغانستان کې پرېږدو او يا د امکان له مخې په خپله خوښه سرتېري د حيرتان د لارې او د خوراکي توکو اوکمالاتي موادو د ساتنې لپاره ور واستوو.» ۱۹۶/ ۵۱ البته هغه مهال نه يوازې نجيب د سولې د ټينګښت په لار کې د خنډونو د جوړولو په لټه کې وو ،بلکې وسله والو مخالفينولا ناوړه دريځ نيولی وو. هغوی که له يوې خوا د روغې جوړې تګلارې سره مخالفت څرګند کړ له بله پلوه د۱۹۸۸ کال د فبروري په نيمايي کې «مخالفينو پلان جوړکړی وو چې د م،م د منځګړي ديه ګوکوردوويز الوتکه به په ژنيو کې د خبرو اترو د ځنډولو په موخه را وغورزوي. »۴۷/ ۳۴۰ د م، م د استازي د هڅو په وړاندې د ستونزو او خنډونو د جوړولو سره سره د سولې خبرو شپږ کاله دوام ومومند ، يوولس ځله د افغانستان، پاکستان او د م ،م د استازو ترمنځ په غير مستقيمه ډول مذاکرې پرمخ تللې او کله چې دا هڅې وروستي پړاو ته نږدې شوې د لوزنامې د لاسليک نه درې ورځې وړاندې د۱۹۸۸ کال د اپريل په يوولسمه د امريکې ولسمشر رونالدريګن وويل: « زه باور لرم چې متحده ايالات اوس کولای شي له شوروي سره يوځای د لوزنامې تضمين کوونکی شي.»۴۷/ ۳۶۹ د امريکا د ولسمشر له وينا وروسته د اپريل په څوارلسمه د ژنيو لوزنامې د م ،م د سرمنشي پريزدوکويلار تر څارنې لاندې د افغانستان او پاکستان د بهرنيوچارو د وزيرانو عبدالوکيل او زين نوراني په ګډون چې په تالار کې د امريکې او شوروي د بهرنيو چارو وزيرانو شولتز او شېواردنادزی شتون درلود لاسليک شوې. « دا مراسم ډېرساده او د جنازې مراسمو ته ورته وو او شل دقيقې يې وخت ونيو. » ۳۶۹/۴۷ د ژنيو د لوزنامې لاسليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکی شیواردنادزي وایي:« ما د لوزنامي د لاسلیک په مهال بد احساس درلود او دا کار راته ستونزمن برېښېده او په الوتکه کې د راستنیدو په لار کې وپوهیدم  چې د نجیب الله سره مو خیانت کړی دی.»

لوزنامې پنځه فقرې لرلې لدې امله د ملګروملتو پنځه فقره یې پلان نوم یې خپل کړ او منځپانګه یې د افغانستان څخه د شوروي ځواکونو پر وتلو، هیواد ته د کډوالو په بیرته راستنېدو او د افغانستان او پاکستان له لوري د یو بل په کورنیوچارو کې نه لاسوهنه وه. که څه هم په لوزنامه کې  دوو سیالو زبرځواکونو د بهرنیوچارو وزیرانو د تضمین کوونکو په توګه خپل لاسلیکونه کیښودل. خو د لوزنامې د لاسلیک وروسته بهیرونو وښودل چې دواړو تضمین کوونکو خپل نړیوال اخلاقي مسئولیت ته د یوه داسې هیواد د ولس په وړاندې چې د دوی د سیالیو اولاسوهنو له امله یې سلګونه زره تنه شهیدان او معلول او میلیونونه کډوال شول  شا کړه او دې ولس ته یې نور بی شمیره کړاوونه  راوړل. د ژنیو د لوزنامې د لاسلیکولو د مراسمو په پای کې شولتز وویل: « نن تاریخ جوړ شو، او زیاته  یې کړه چې پدې اړه متحده ایالتونو شوروي ته اطلاع ورکړې وه چې امریکا د خپلو ژمنو مطابق د تضمین کوونکي په توګه دا حق ځانله ساتلی دی چې خپلې پوځي مرستې د افغانستان ګروپونو ته ورکړي که چیرې شوروي اتحاد په افغانستان کې موجودو ګوندونو ته محدودیت قایل شي، متحده ایالات به هم هغومره محدودیت عملي کړي.» ۴۷/ ۳۶۹ ـ ۳۷۰ د شولتز په څرګندونو کې دوه ټکي د پام وړ دي، یو دا چې شوروي په افغانستان کې د ا،خ،د،ګ  پرته نورو ډلو ته هم مالي او پوځي مرستې ورکولې چې زیاتره په شمال کې سکتاریستي او پښتني ضد ډلو ته ګوته نیول کیده ، بل دا چې واشنګتن او مسکو پردې هوکړه کړې وه چې د لوزنامې له نافذیدو وروسته به بیا هم خپلو افغا ن چوپړیانو ته د پوځي  او مالي مرستو په ورکولو سره په افغانستان کې په بل شوي اور  غوړي تویوي او لیوال نه وو چې د افغان وژنې لړۍ ودریږي.

د ژنیو  د لوزنامې له لاسلیک وروسته د هغې د عملي کولو پړاو پیل شو چې هغه د شوروي ځواکونو وتل او د افغان کډوالو بیرته راستنیدل وو. د شوروي پوځیانو وروستۍ ډله  د جنرال ګروموف په مشرۍ د حیرتان د پله  نه وروسته له نهو کلو یوې میاشتې او اتلسو ورځو د۱۹۸۸ کال د فبرورۍ په پنځلسمه ( ۱۳۶۷ کال د سلواغې شپږ ویشتمه) ووتله او نجیب الله دا ورځ  د لوزنامې  د لاسلیک  څلور کاله وروسته چې نور د شوروي اتحاد په نامه دولت شتون نه درلود د آزادۍ ورځ  او  عمومي رخصتي اعلان کړه. عجیبه دا وه  چې  هغه د سلواغې شپږویشتمه  د آزادۍ ورځ ونوموله خو د خپلې واکمنۍ په لومړیو دریو کلونو کې په خپلو ویناوو او د کورنیو او بهرنیو خبریالانو سره په مرکو کې داسې ملغلرې شیندلې : «موږ د هغو شوروي سرتیرو او پوځیانو اوغیر پوځي کارپوهانو ،ډیپلوماتانو او ورځپاڼه لیکونکو او خبریالانو په وړاندې خپل سرونه  ټیټوو چې خپل ژوند یې د خپل رسالت د ترسره کولو په لار کې له لاسه ورکړ. جګړې ډیرغمونه راوړل ، دا غمونه ژر نه هیریږي. همدا رنګه ډیر افغانان به د شورویانو مهرباني او میړانه ، انسانیت او رښتینولي له یاده ونه باسي. » ۱۰۶ /۳۲۵   یا دا چې له هغه څخه د ملي روغې جوړې د اعلان په لومړیو کې د لاس انجلس  خبریال وپوښتل چې په ۱۹۷۹ کې د شوروي اتحاد د لاسوهنې وروسته ډېر افغانان له هېواد څخه ووتل  آیا هغوی مخکې لدې چې شوروي ځواکونه ووځي بېرته به راستانه شي په ځواب کې وویل : « راځئ د لاسوهنې کلمه استعمال نکړو.دا کلمه د واقعیت سره سر نه خوري، خبره د وروړګلوۍ په مرستو کې ده ، یعنې خلکو خلکو ته بېله کومو شرطونو اوبېله کومو موخو مرستې وکړلې .شوروي خلک زموږ په خاطر زیاتو قربانیو ته چمتو شول ،  باید داسې پدیدې بې ارزښته و نه ګڼل شي  د داسې پدیدو بېلګې په تاریخ کې شتون نلري .» وګورئ یو وخت  نجیب الله  د اشغالګرو جنایتونو ته مهرباني ، میړانه ، انسانیت او رښتینولي ، د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنیو چارو کې د شورویانو لاسوهنې یا بربنډ تیري ته خلکو ته د خلکو مرستې وایي خو څو کاله وروسته چې نور دا پوځونه په افغانستان کې نه وو د افغانستان څخه د دې پوځیانو د وروستۍ ډلې د وتلو ورځ د آزادۍ ورځ اعلانوي. پدې ډول یې د خلکو په سترګو کې خاورې اچولې او له سیاست څخه بیخبرې پرګنې یې تیر ابستلې. له بده مرغه ځوان نسل چې اوس د هغه ثبت شوې ویناوې اوري هغه اتل ګڼي.آیا هغه څوک چې د پردي لښکر پر مټ واک ته رسیدلی وي هغه اتل کیدای شي؟

د لوزنامې د پلي کیدو د څارنې لپاره د م ،م کاري ډلې افغانستان او پاکستان ته استول شوې وې چې د شوروي لښکر د وتلو او د کډوالو د بیرته راستنیدو د بهیر څارنه وکړي. دې ډلو د افغان او شوروي اړخ څخه د سرغړونو رپوټونه نه ورکول خو د پاکستاني لوري څخه د سرغړونو رپو ټونه موجود وو. د دې سرغړونو له امله « څو ځله افغان چارواکو له شوروي څخه غوښتې وو چې د ځواکونو وتل ودروي ځکه چې پاکستان او امریکا د ژنیو لوزنامه نه پلي کوي. » ۴۹/ ۴۸۱ خو مسکو دې غوښتنو ته مثبت ځواب ورنکړاو د لوزنامې د غوښتنې پر بنسټ یې د خپلو سپاهیانو ابستلو ته دوام ورکړ . د شوروي سپاهیانو له وتلو وروسته د افغانستان د وسله والو ځواکونو لپاره ستر آزمایښت (د خپلواکې دفاع ) مسئله پرته وه چې هغه یې په ډاډمنه توګه ترسره کړله.د شوروي سپاهیانو د وتلو په درشل کې وسله والو مخالفینواو د هغو ملاتړو فکرکاوه چې د شوروي لښکر له وتلو وروسته به کابل ډیر ژر راولویږي له دې امله یې په ۱۹۸۷کال د مارچ په میاشت کې په پیښور کې د احمدشاه احمدزي په مشرۍ د مجاهدینو انتقالي حکومت جوړکړ خو هغه د تنظیمونو د کورنیو اختلافونو له امله رنګ او د شوروي لښکر د وتلو وروسته یې بیا د اسلامي موقتي حکومت په نامه یوه اداره چې مرکز یې پیښور او مشري یې صبغت اله مجددي لرله جوړه کړه.

د شوروي ځواکونو د بشپړ وتلو وروسته د م،م استازي په افغانستان کې د داسې یوه منځ مهاله حکومت د جوړولو په موخه خپلوهڅو ته دوام ورکړ چې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړای شي او د هڅو زیاته برخه یې پردې را واړوله چې نجیب الله له واک نه ګوښه شي ترڅو په جګړه او د افغانستان په کړکیچ کې ښکیلې ډلې د راتلونکي حکومت د جوړولو په چارو کې له مساوي امکاناتو نه برخمنې وي. د نوموړي استازي له نظره پخوانی پاچا داسې یو څوک وو چې ولس پرې راټولیدلی شي خو پاچا عملي ډګر ته را و نه ووت یا دا چې لویدیځ اجازه ورنکړله.دیه ګوکوردویز د افغانستان د راتلونکي حکومت د جوړولو په موخه د واشنګټن او مسکو سره په همغږۍ کې لاندې طرحه کابل ، تهران او اسلام آباد ته وړاندې کړه :

- د روغې جوړې په دوره کې دې افغانانو ته وخت ورکړل شي چې پخپل هیواد کې د بیا پیوستون او یووالي د ټینګښت په موخه فعالیت وکړي ترڅو نړیواله ټولنه وکولای شي هلته مرستې ورسوي.

– د یوه ملي حکومت بنسټ ایښودل چې د یوې ټاکلې مودې په ترڅ کې د سولې او بیا جوړونې چاپیریال رامنځ ته او لویه جرګه راوبولې. دا موده شپږ میاشتې په پام کې نیول شوې وه .

- د ملي حکومت د کار د پیل او له لومړۍ ورځې نه د مخالفینو او سیالو ډلو ترمنځ اوربند.

دا طرحه په حقیقت کې په افغانستان کې د یوې داسې واکمنۍ جوړول وو چې د اوربند او سولې لپاره اغیزمنه تمامه شي . وروسته څرګنده شوه چې طرحه د دواړو زبرځواکونو او یا د یوه اړخ د ګټو سره برابره نه وه او دیه کوردوویز د افغانستان د کشالې د حل له ماموریت نه ګوښه کړل شو. هغه د دې ماموریت نه د ده ګوښه کول «د خپل ځان په وړاندې د عمومي منشي د مرستیالانو له خوا کودتا ګڼي. »۴۷/ ۳۹۳ د کوردوویز پرځای بینن سیوان چې د افغانستان د راتلونکي حکومت د جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره کومه ځانګړې نقشه او یا لیوالتیا نلرله وګومارل شو. دا بیا د دې ښکارندوی دی چې زبرځواکونو یا د زبرځواکونو یوه اړخ نه غوښتل چې د افغانستان کشاله حل شي. د ژنیو د لوزنامې له مخې لاسلیک کوونکو مسؤلیت درلود چې د افغانستان د جګړې ښکېلو خواوو ته به وسلې نه ورکوي خو دیه ګوکوردویز د امریکا او پاکستان لخوا د ژنیو له لوزنامې څخه سرغړونو ته ګوته نیسي او لیکي:« جورج شولتز په شیطاني ډوله موسکا توضیحات راکړل چې دا ستونزه څنګه حل شي . د شولتز په وینا ، جونجو ( د پاکستان صدراعظم) د مارچ په دېرشمه په ټلفون ورسره اړیکه ونیوله او هغه یې و هڅولو چې مرستې دوام ومومي.جونجو وویل چې پاکستان تر اوسه لیوال دی چې د مرستو پلې کوونکی وي . څو ګړۍ وروسته ضیاء الحق د ریګن سره اړیکه ونیوله او ورته پیغام یې ورکړ. د شولتز په خبره چې د جمهور رییس په دفتر کې وو، ریګن له ولسمشر وپوښتل چې د لوزنامې څخه د سرغړونې له کبله به د شورویانو د تورونو په وړاندې څه کوي . د ریګن د څرګندونو له مخې ضیاء ځواب ورکوي ،(مونږ به د خپلو پولو څخه د هر ډول مرستو د تېرېدو منکر شو. دا نوی شی نه دی. اته کاله دي چې مونږ همدا وایو.» هغه مخکې هم ویلې وو،« د مصلحت په موخه د درواغو ویل جواز لري.» ۴۷ / ۲۷۶

که چیرې د ژنیو لوزنامې د لاسلیک وروسته د مسکو او واشنګتن او په تېره د م ، م چلند ته ځیر شو ویلی شو چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې ملګرو ملتو د سولې او جوړجاړي او د سولې د ټینګښت په موخه داسې کرغېړنه لوبه نه وه کړې چې په افغانستان کې یې تر سره کړله .

## د شوروي ځواکونو د وتلو بهیر

ګرباچف پخپل هوډ چې شوروي لښکر له افغانستان څخه وباسي کلک ولاړ وو. هماغه دي چې د۱۹۸۶ کال د اکتوبر په میاشت کې د ښه نیت د ښودلو په موخه یې شپږ غونډونه له افغانستان څخه وایستل. په همدې مناسبت د اکتوبر په شپاړلسمه د کابل په بالاحصار کې یوه پرتمینه غونډه نیول شوې وه او په هغه کې نجیب الله په افغانستان کې د شوروي سپاهیانو د کارنامو په اړه ډېرې ملغلرې وشیندلې او دا یې هم وویل:« نن مونږ بیا شوروي انترناسیونالست سپاهیان چې خپل سوله غوښتونکي هیواد ته ستنیږي بدرګه کوو.پدې وروستیو ورځو کې مونږ د خپلو شوروي دوستانو څخه د نه هېرېدونکي کورودانۍ د تودو احساساتو د ښودلو شاهدان یو. مونږ ولیدل چې د شینډنډ څخه د شوروي په لوري په تلونکو ټانکونو د ګلابو ګلونه اچول کیدل...، مونږ د زرګونو افغانانو په سترګو کې د بیلتون د غمونو اوښکې ولیدلې ، هغه اوښکې چې مونږ سره نښلوي. » ۱۰۶/ ۳۱۶ – ۳۱۷ کله چې لوستونکی د نجیب الله له لوري د اشغالګرو په پته چې د سلګونو زرو وطنوالو مرګ او ژوبله، د میلیونو کډوالي او د زرګونو کلیو وراني یې له ځانه سره درلودله دا ډول څرګندونې اوري خو څه موده وروسته ددې انترناسیونالستو پوځیانو د وروستۍ ډلې د وتلو ورځ د آزادۍ ورځ اعلانوي نه پوهیږي چې دا ډول وګړی په کوم نامه یاد کړي. د بالاحصار په غونډه کې یوه پېښه چې د نجیب الله د شل کلن ګوندي مشر( کارمل ) د شخصیت ښکارندوی ده او له بله پلوه د کارمل په وړاندې د نجیب الله سپک چلند هم ښیي یادول یې اړین ښکاري.
« کارمل چې په دغه وخت کې لا د انقلابي شورا رئیس او د سیاسي بېرو غړی وو د نوروعادي میلمنو سره کښینول شوی وو. خو له نجیب سره لوی مشاوران په خاص ځای ناست وو. دغه کار ټولو میلمنو ته د تعجب وړ وو خو کارمل ته د تحمل وړ نه وو. وروسته یوې برندې ډول ځای ته راووتلو. ګوندي او دولتي مشران په برنده کې قطار ولاړ وو او د هغو قطعاتو رسم ګذشت کتنه یې کوله چې په دغه ورځ له افغانستان څخه وتل. نجیب او لوی مشاوران په منځ کې ولاړ وو او د تېرېدونکو سلام یې اخیستی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کارمل د مرکزي کميټي له غړو سره درول شوی وو. ببرک کارمل هم له هغه ځای څخه يوازې را کښته شو او لاندې يې په ميدانی کې په قدم وهلو پيل وکړ. په دغه ورځ زيات کورني او بهرني ژورنالستان راغلي وو، د شوروي نظاميانو او افغانانو سره يې مصاحبې کولې ، هغوی د کارمل په ليدو ډير خوښ او پر هغه راټول شوي وو. نجيب ورته متوجه شوی وو او يو څوک يې ور واستوئ ، چې له هغه ځای څخه يې گوښه کړي...، کارمل يې بيرته راوستی وو او د نجيب شا وخوا يې ځای ور ته خالي کړ...، کله چې د پريټ مراسم پای ته ورسيدل نو گوندي ـ دولتي رهبري په خپلو موټرانو کې د ښار پر لور حرکت وکړ. ځکه د خيرخانې په کوتل کې د وروستی خدای په امانۍ لپاره ترتيبات نيول شوي وو...، له بالاحصار څخه چې راووتلو نو گوندي- دولتي رهبري نوموړې ځای ته د تگ په لاره کې د نجيب په موټر پسې روان وو...، ښايي کارمل به خپل موټروان ته امر کړی وي چې تر نورو د مخه شي . د تگ مسير ډير نری وو ، ځکه د شوروي قطعاتو ټانکونه ورو ورو حرکت کاوه . د سړک په دواړو غاړو مکتبيان او نور گلان په لاس کې ولاړ وو...، نو د رهبرئ د موټرانو لپاره د ټانکونو او خدای په امان کوونکو ترمنځ تنگه لار پاتې کيده. د کارمل موټر په دغه نری لار کې ځان تر نورو مخ ته کاوه. شوروي ټانک چلونکو لاسونه ښورول چې دغه موټر له لارې وايستل شي، خو د کارمل موټر پرمخ روان و. گلابزوی کيسه کوله چې د لارې د صافولو لپاره يې د کارمل په موټر پسې حرکت کړی و او د کارته پروان په ساحه کې يې د هغه موټروان يوې کوڅې ته په ننوتلو مجبوره کړی و. په کوڅه کې يې موټروان تهديد کړی او امر يې ورته کړی و چې سړک ته راونه وزي او کارمل کور ته بوزي. » ۴۰ / ۵۶۰ ـ ۵۶۱ د دې پيښې څه موده وروسته يې کارمل د ځوانانو د دموکراتيک سازمان يوې غونډې ته د بلې سپکاوی لپاره ور بللی وو. کارمل غوښتل په غونډه کې وينا وکړي خو د ځوانانو د سازمان منشي فريد احمد مزدک ورته ويلي وو تاسو ناروغه ياست درته تکليف کيږي خو کارمل ځواب ورکړی وو هيڅ ناروغه نه يم جوړ تيار يم. خو مزدک د خبرو فرصت نه وو ورکړی او دا پيښه په ټلويزيون کې هم وښودل شوه. که چيرې په بالاحصار کې د شوروي سپاهيانو سره د خدای په امانی مراسمو ته وکتل شي هغه دولتي مراسم وو نه گوندي مراسم. منطقي دا وه چې دولتي مشر ( د انقلابي شورا رئيس ) ببرک کارمل د نجيب الله ترڅنگ ولاړ وای او د تيرېدونکو سلام يې اخيستی وای خو هغه يې د مرکزي کميټې د غړو سره درولی وو. د ځوانانو د سازمان غونډې ته د کارمل وربلل او هغه ته د خبرو اجازه نه ورکول هغه ته سپکاوی وو. د پرچم په واکمنی کې د سترو غونډو د جوړولو نوښت او واک د شوروي سلاکارانو سره وو چې د دې غونډو برخه وال څوک وي. د ببرک کارمل د سپکاوي سناريو شورويانو جوړوله او ملامتي يې پر نجيب الله لوېدله. بيله شکه نجيب الله دا لوبه ليدله خو اړ وو چې د شورويانو د غوښتنو سره سم گامونه اوچت کړي او يا دا چې ده هم غوښتل کارمل سپک کړي . د سياسي بيرو د غړي او د انقلابي شورا د رئيس په توگه د کارمل ساتل خو د واک څخه محروموول د مسکو خاينانه لوبه وه او پدې لوړو مقامونو کې د کارمل شتون پخپله نجيب الله ته هم سرخوږی وو. مسکو څرنگه چې د تره کي او امين ترمنځ نباوريو ته لمن ووهله همدارنگه يې د کارمل او نجيب ترمنځ ورته لوبه پرمخ يوړله چې پدې دواړو لوبو کې بريالی راوخوت. کارمل ته په کار وو چې د بالاحصار مراسمواو د ځوانانو د دموکراتيک سازمان غونډې ته نه وای تللی خو هغه اړ وو چې لاړشي ځکه چې شورويانو ورته امر کړی وو. همدارنگه مزدک ته هم دستور ورکړل شوی وو چې کارمل ته د وينا اجازه ورنکړي . مزدک خپلو بادارانو ته د اخلاص د ښودلو له امله د گوند مرستيالی ته ورسول شو او بيا يې د خپلو شوروی بادارانو په دستور د م، م دسولې پروگرام په شنډولو کې هم خپلو بادارانو ته خپله وفاداري ثابته کړله. تره کي او امين د خلقي واکمنۍ پرمهال سپک نشول خو کارمل او نجيب کلونه سپکاوي ومنل او هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیبه مړه کیدل دوی  پدې خاطر ژوند کاوه  چې  زعیمان شي او یا زعیمان پاتې شي.
راځو د بحث اصلي موضوع  د شوروي پوځیانو وتلو ته. د ۱۹۸۶ ز کال په مني کې شوروي اتحاد ته د شپږو غونډونو تګ  و بنودل چې مسکو خپله پریکړه کړې وه چې خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي. هماغه دي چې د ژنیو په مذاکراتو کې نرمښت ښیي او مقابل لوري ته امتیازات ورکوي ترڅو د یوه تړون له مخې خپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي. کله چې تړون د لاسلیک لپاره چمتو شو یوه اونۍ مخکې( ۱۹۸۸ کال اپریل اوومه) ګرباچف ، نجیب الله تاشکند ته ور وغوښت او د هغوی په ګډه وینا کې راغلي وو چې د ژنیو په مذاکراتو کې وروستي خنډونه له منځه تللي او د هغې د لاسلیک کولو څخه یې ملاتړ څرګند کړ. د دې کتنې وروسته د شوروي اتحاد د دفاع  وزیر یو دیرکتیف لاسلیک کړ چې پکې راغلي وو:« د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ژنیو د لوزنامې د لاسلیک کولو په صورت کې د ځواکونو ایستل د تائید شوي پلان له مخې په دوو پړاونو کې د۱۹۸۸ کال د می ۱۵ څخه د۱۹۸۹ کال د فبروري تر۱۵ پورې ترسره کیږي.» ۴۹/ ۳۸۸  د ګرباچف او نجیب د کتنې یوه اونۍ وروسته ( اپریل ۱۴ ) لوزنامه لاسلیک شوله او د نافذیدو نیټه یې  یوه میاشت وروسته د می ۱۵ ښودل  شوې وه . د ژنیو د لوزنامې د لاسلیک پرمهال په افغانستان کې ۱۰۳۰۰۰ تنه شوروي  پوځیانو شتون درلود چې په اتلسو مرکزونو کې میشت وو. د شوروي د دفاع د وزیر د دیرکتیف له مخې دا پوځیان په دوو پړاونو( د۱۹۸۸ کال  د می ۱۵ تر اګست ۱۵ )  او ( د۱۹۸۸ کال اګست ۱۵ تر ۱۹۸۹ کال فبروري ۱۵ )  خپل هیواد ته ستنیدل. په لومړي پړاو کې د هیواد د۱۲ ولایتونو څخه ۵۰۲۰۰ تنه پوځیانو په دوو استقامتونو (حیرتان او کوشک) ووتل. د شوروي پوځیانو لومړی کتار چې شاوخوا ۱۲۰۰۰ تنه سپاهیان یې درلودل د ۱۹۸۸ کال د می په ۱۵ د جلال آباد څخه د کابل په لور وخوزید. په همدې ورځ په کابل ښار کې یو ستر میټینګ چې د نجیب الله په شمول  ګوندي او دولتي مشرانو پکې ګډون کړی وو جوړ شو. د دې پوځي کتار د لیدو لپاره  د۲۲ هیوادونو څخه ۲۱۲ خبریالان راغلي وو چې په هغو کې د وارسا د تړون د هېوادو سربېره د امریکې ، کانادا، بریتانیا، اطریش، فنلند، ایتالیا، هسپانیا، سویدن، لویدیځ آلمان او جاپان خبریالان هم وو. د لومړي پړاو وروسته د شوروي پوځیان د افغانستان په شپږو ولایتونو( کابل ، هرات، پروان، سمنګان، بلخ، بغلان) کې پاتې شول چې وروستۍ ډله یې د۱۹۸۹ کال د فبروري په پنځلسمه نیټه د شوروي د ځلوېښتم پوځ د وروستي قوماندان او شوروي اتل جنرال ګروموف په مشرۍ د حیرتان د دوستۍ له پله څخه تیره شوله او پخپله قوماندان د شوروي پوځیانو وروستی پوځي وو چې له پله تېر شو. ګروموف ترمز ته په رسیدو سره په هغه غونډه کې چې د شوروي پوځیانو د ورتګ په  موخه جوړه شوې وه ویلي وو: « موږ خپله دنده سرته ورسوله، موږ خپل رسالت ادا کړ خو هغوی چې بیرته هیواد ته راستانه نشول د هغوی درد  به مو آرام پرې نه ږدي .» ۱۰۶ / ۳۱۶ د افغانستان جګړه شورویانو ته په لویه بیه تمامه شوله د زیاتو مالي  لګښتونو او تاوانونو سربیره  یې ۱۳۳۱۰ تنه پوځیان ووژل شول او۳۵۴۸۷ تنه ټپیان شول. د ملي روغې جوړې د تګلارې په اعلانولو سره شوروي پوځیان  د ختیځ او سویلي سرحدي ولایتونو څخه د دې ولایتونو مرکزونو ته راولیږدول شول چې د هغوی سره ګډ افغان سرحدي ځواکونو هم دا سیمې پرېښودلې. د دې سیمو( ننګرهار ، کنړ، ارګون، څمکنی، کندهار، هلمند، نیمروز، وازه خوا، خوست ) څخه د سرحدي جزوتامونو د وتلو سره سم وسلوالو سیمه ییز مامورین او ددې سیمو حکومت پلوه اوسېدونکي  ووژل چې په ځینو سیمو کې یې  ډله ئیزه ښه هم لرله. ډیرۍ پدې اند وو چې دا د شورویانو له لوري یو عمدي کار وو چې  له پښتنو څخه د خپلې ماتې غچ  واخلي ځکه چې پښتانه د شوروي د اشغال  په وړاندې د مقاومت اصلي ځواک ګڼل کیدل. د ژنیو د لوزنامې د  پلې کولو لپاره د ملګرو ملتونو د څار ډلې  په افغانستان او پاکستان کې ځای پرځای شوې وې . د سرغړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه دواړو خواوو کابل او اسلام آباد ادعاوې کولې. « کابل شواهد ښودلي وو چې په دوامداره توګه د پولې څخه افراد او وسایل تېرېږي ،په سرحدي سیمو ډزې کېږي، د پوځي زده کړو دوام او د وسلو د ډیپوګانو شتون، په هغو کډوالو فشارچې هیواد ته د ستنیدو لیوال دي، د دښمنۍ ډک سیاسي فعالیتونه او په هغوکې راډیویي تبلیغات. د پاکستان تورونه د بم ایښودلو پیښنو او ورانکارۍ فعالیتونه وو.» ۴۷/ ۳۸۸

## خپلواکه دفاع

جهادي ډلو د ژنیو لوزنامه په هیواد کې جګړې ته د پای د ټکي د ایښودلو جوګه ونه ګڼله. تنظیمونو په خپله وسلواله مبارزه( جهاد) ټینګار وکړ او اعلان یې کړل چې د افغانستان په یوه سیمه کې به خپله موقتي اداره جوړوي او وروسته به ټاکنې ترسره کوي. د مجاهدینو دې اعلان ښودل چې هغوی به د رژیم تر نسکوریدو پورې جګړې ته دوام ور کوي. د دې سره سره شوروي اتحاد د خپلو سپاهیانو ایستل پیل کړل او وروستۍ ډله یې د ۱۹۸۹ کال د فبروري په پنځلسمه ( ۱۳۶۷ کال د سلواغې ۲۶) خپل هیواد ته ستنه شوله پدې ډول اشغال پای ته ورسېد. د ژنیو د لوزنامې له لاسلیک وروسته د لویدیځ په ډله ئیزو رسنیو کې د کابل د حالاتو ګواښمن انځور کاږل کیده . د امریکې د اطلاعاتي مرکزونو د وړاندوېینې له مخې د شوروي لښکر د وتلو وروسته به د کابل حکومت د۳- ۶ میاشتو په ترڅ کې رانسکوریږي او مجاهدین به واک ترلاسه کړي. « له همدې کبله د۱۹۸۹ کال د فبروري په نهمه د متحده ایالتو د امنیت شورا جورج بوش ته مشوره ورکړه چې افغان مجاهدینو ته مرستې دوام و مومي.په دې وخت کې د افغانستان کین لاسي رژیم سره لدې چې د۱۹۸۹ کال د جنوري له لومړۍ څخه د شوروي اتحاد مالي او پوځي مرستې قطع شوې وې ، د لوړ مورال او د مادي او پوځي ذخیرو څخه برخمن وو. په عملي ډګر کې یې د سقوط هیڅ نښه نه تر سترګو کیده. » ۲۰۸ د شوروي عسکرو د وتلو په مهال( دسمبر ۱۹۸۸) په پیښور کې د صبغت الله مجددي ترمشرۍ لاندې د مجاهدینو موقتي حکومت اعلان شو.« د امریکایانو د انتظار خلاف د۱۳۶۸ کال په پسرلي کې د افغانستان د حکومت د ماتې نښې نه ترسترګو کیدلې لدې امله په پاکستان کې د امریکې سفیر( رابرت اوکلي) او د پاکستان صدراعظمې بینظیربوتو د افغانستان د مجاهدینو د ځواکونو له لوري د افغانستان د سرحدي مهم ښار جلال آباد د نیولو نقشه جوړه کړله.» ۲۰۸« د جلال آباد په ښار برید په دریو جبهو کې په پیښور کې د میشت افغان مجاهدینو په نامه بلواګرو د پاکستان د وسلوالو ځواکونو ، د بن لادن په مشرۍ د القاعده په نامه د سخت دریځ سازمان له لوري د۱۹۸۹ په پسرلي کې ترسره شو.» ۲۰۹ میرمن نسرین کتونا د هنګري دیپلوماته ، د پوځي چارو ډاکتره او د افغانستان په قضیه کې م،م همکارې د جلال آباد جګړه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په نړیواله کچه ستره د پیچلو استخباراتي او اطلاعاتي عملیاتو سره مل جګړه ګڼي. مخکې لدې چې په ښار برید ترسره شي د مخالفینو او د هغوی د نړیوالو ملاتړو له لوري د افغانستان په دولت او وسلوالو ځواکونو کې پراخ استخباراتي کار پیل شو ترڅو وکولی شي سیمه ئیزچاروا کي او پوځیان تطمیع یا جذب او هغوی په خپله ګټه استعمال، پدې ډول پوځ خپل مورال وبایلي او د جلال آباد د ښار نیولو ته لارهواره کړي. دا مهال د ننګرهار والي محمداعظم چې مخکې د مولوي خالص د اسلامي ګوند غړی وو او له دولت سره یو ځای شوی وو د فبروري په میاشت کې ببر ته مجاهدینو ته ورغی او همدا رنګه د جنرال نوبهاري تر مشرۍ لاندې سرحدي قوتونو کې ګډوډۍ پیدا شوله او دا ځواک عملاً وپاشل شو. پداسې یوه وضعیت کې مجاهدینو پر ننګرهار ولایت برید وکړ. د دولتي امنیت د اطلاعاتو له مخې په جګړه کې ۱۳۰۰۰ مجاهدینو، ۲۷۰۰ پاکستاني ملیشو او ۱۳۰۰ عرب جنګیالیو ګډون درلود. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارچ په څلورمه څلور ټانکونه او د بی ام ۲۱ یوه دستګاه د مخالفینو په لاس کې ولویدل او د مارچ په پنځمه د جلال آباد په ښار برید تر سره شو چې د پاکستان د توپچي ملاتړ یې درلود .ددې برید له امله جنرال ګل حبیب د۱۱ فرقې مرستیال شا تګ ته اړ شو او د فرقې سوق الجیش د وسلوالو مخالفینو تر ولکې لاندې راغی چې یوه اونی د هغوی په لاس کې وو. د فرقې تجهیزات چور شول او یو شمیر پوځیان ګروګان ونیول شول. د مارچ په اتمه دولتي ځواکونو چې مشري یې د لومړي قول اردو قوماندان جنرال بارکزي لرله متقابل برید ترسره کړ چې پدې برید کې قوماندان شهید شو. د وسلوالو مخالفینو د عملیاتو رهبري عبدالرحیم وردګ د محاذ ملي د تنظیم اړونده غړي درلودله . په جلال آباد باندې د برید سره مل د هیواد په نورو ولایتونو(کندهار، هلمند، هرات ، لغمان ،غزنی ، خوست، کابل – حیرتان لار) هم د مجاهدینو( اشرارو) بریدونو دوام وموند. کابل هم د توغندیو هدف ګرزیدلی وو.څرنګه چې د کابل – حیرتان لار د مسعود د نفوذ سیمه ګڼل کیده خو دا لار چې کابل ته د اکمالاتو یوازینۍ لار وه و نه تړل شوه. که څه هم امریکایانو مسعود ته پنځه لکه ډالر ورکړي وو خو مسعود د دوو لاملونو له امله لار و نه تړله. یو دا چې مسکو خوابدی نکړي او بل دا چې که مجاهدین په جلال آباد کې بریالي شوي وای د ده دریځ نه پیاوړی کیده. په جګړه کې د هوایي قواوو او د لونا او سکاد توغندیو ټاکونکی رول ولوباوه . د جلال آباد د جګړې د ستراتیژیستانو پالیسي دا وه چې د ښار د نیولو سره سم به امریکا د مجاهدینو موقتي حکومت چې پایتخت به یې جلال آباد وي په رسمیت پیژني او د هغه په پله به یې متحدین هم ګام ایږدي او خپلې مرستي به د مجاهدینو حکومت ته رسوي . هماغه دي چې د مارچ په لسمه د مجاهدینو د موقتي حکومت د څوارلسو وزیرانو څخه د هغه د مشر په ګدون لس تنه وزیران د افغانستان د ننه د دیورند تېل شوې کرښې ته نږدې د ( شنای ) په نامه روزنیز ګوریلایي کمپ کې غونډه وکړه. د غونډې وروسته مجددي خبریالانو ته وویل:«بله غونډه به مو د افغانستان به بله سیمه کې وشي.موږ د افغانستان په لور پر مخ روان یو. » ۲۰۸ د جګړې د پیل په مهال نجیب الله د شوروي دولت څخه وغوښتل چې افغان دولت ته د پوځي تجهیزاتو مرسته وکړي . پدې اړه د مارچ په دوولسمه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند سیاسي بیرو پریکړه وکړه چې افغانستان ته د پوځي تجهیزاتو مرسته بیا پیل شي او د شوروي دفاع وزارت ته لاندې دستور ورکړل شو:« د شوروي اتحاد دفاع وزارت دې مختلف توکي د څلورو ترانسپورتي کتارونو (۱۰۰ کامازه په هر یوه کې) د شوروي ملکي دریورانو ( په خپله خوښه) په واسطه او همدارنګه د تاشکند- کابل هوایي پل دې د شوروي د هوایي قواوو څخه د مرستي رسونې په موخه تنظیم کړي.» ۴۹/ ۵۳۸ د جلال آباد د جګړې په مهال د اپریل په شپږمه نجیب الله د روژې د میاشتې د رسیدو له امله له مخالفینو وغوښتل چې له جګړې لاس واخلي او هغوی ته یې د ائتلافي اداري د جوړولو وړاندیز وکړ خو کوم مثبت غبرګون تر سترګو نشو. همدا راز ولسمشر م، م ته یو یادداښت واستاوه ترڅو د دې سازمان ځانګړي کتونکي د پاکستان او افغانستان د پولې په مختلفو سیمو کې ځای پر ځای شي چې هغې ته هم پام راونه ګرزول شو. دولتي ځواکونو د اپریل له پیل څخه د جګړې نوښت تر لاسه کړ او د جولای په پای کې یې مخالفین له تورخم څخه وشړل. د مخالفینو په لاس کې د لوېدلو څلورو ټانکونو څخه دوه له منځه یوړل شول او دوه یې مجاهدینو پاکستان ته ولیږدول. پدې جګړه کې د مخالفینو مرګ او ژوبله درنه وه چې د وژل شوو شمیر د ۶۰۰۰ څخه تر۱۱۰۰۰ زرو او د ټپیانو شمیر ۳۰۰۰ ، د دولتي ځواکونو تلفات ۳۰۰۰ تنه ښودل کیږي .همدا رنګه ګڼ شمېر ملکي وګړي شهیدان شول. د جلال آباد په جګړه کې د وسلوالو مخالفینو د ماتې لاملونه پدې کې وو چې جګړه د واحد مرکز له لوري نه رهبري کیده ، ترمنځ یې ګډه همکاري نه وه ، د جګړې په ډګر کې مجاهدین کله نا کله پخپلو کې سره نښتل چې څو ځله د اسلامي ګوند او محاذ ملي جنګیالیو ترمنځ نښتي وشوې، د جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پلان جوړونه او پلې کولو کې چې د پاکستان په پوځي اکادميو کې ترسره کېدل هم غلطۍ شتون درلود او د جګړې اکمالات هم نيمګړي وو. سربيره پردې مجاهدينو د منظمې جګړې د پرمخ وړلو تجربه نلرله .

د پاکستاني ډګروال محمدیوسف په وینا « د جلال آباد د غميزې وروسته نور جهاد رونق تر لاسه نکړ.» ۱۵۴ / ۳۶۱ د دې جګړې له امله مجاهدين د پوځي پلوه کمزوري شول ، تنظيمونه نهيلي شول او ډيرى قوماندانان يې پدې هڅه کې شول چې د دولت سره خبرې پيل کړي. د جګړې وروسته د مجاهدينو د موقتي حکومت مشر مجددي ويلي وو:« زياتي جګړې مخته پرتې دي دا جګړه د هغې څخه چې موږ فکر کاوه زياته موده به ادامه پيدا کړي. »۲۱۰د جلال آباد په جګړه کې د مجاهدينو ماتې د پاکستان په پرستيژ هم منفي اغيز پريښود او هماغه وو چې د آی اس آی مشر تورن جنرال حميدګل له دندې ګوښه کړل شو. د جلال آباد جګړې د افغان پوځ ژمنتيا او مسلکي توب ننداره ته کيښود، پخپل ځان باور يې زيات شو او د واکمنۍ دريځ هم پياوړی شو چې البته وياړ يې جمهور رييس درلود.د شوروي اتحاد د سرچينو پر بنسټ د جلال آباد د جګړې وروسته د شوروي اتحاد څخه يو لوړپوړی پوځي پلاوی کابل ته ولاړ. دې پلاوی د ولسمشر سربيره د وسلوال پوځ د مشرتابه سره هم وکتل. د دې پلاوي د يوه غړي په وينا د هغوی سره د نجيب چلند هيښ کړ ترديې چې پلاوي ته يې د کتنې پر مهال د ښځلو او خوړلو څه هم ورنکړل پدې نامه چې روژه ده. د دې پلاوي يو غړی د نجيب الله ، شهنوازتني او غلام فاروق يعقوبي سره د ليدنې په اړه ليکي:«په افغانستان کې زما د استوګنې په مهال ما د نجيب الله سره څو ځلې ليدلي وو. خو دا ځل مې چې وليد د هغه کبر او غرور بلکل هيښ او حيران کړم. د ده له خبرې، چلند او پر ځان ډاډمنتوب څخه داسې معلومېدل چې هغه نجيب الله نه بلکې د يوه بل هېواد رييس جمهور دی...، تني د زړه له کومې خوښ وو او په رښتيني ډول يې په حکومت او ګوند کې د وضعيت په هکله خپل ليدلوری را سره شريک کړ او د خلقيانو د ځپلو د امکان خبره يې هم وکړه خو د يعقوبي سره خبرو بله بڼه لرله چې ليوال نه وو څه وويل.» ۴۹ / ۵۴۱ د شوروي جنرال په څرګندونو کې دوه ټکی د پام وړدي چې يو يې په خپل ځان او حکومت باندې د نجيب الله له کچې وتلی باور چې نور نو د هغه آس مخ په وړاندې ځغلي او بری يې حتمي دی او بل د پرچم له لوري د خلقيانو د ځپلو مسئله ده. د جلال آباد د جګړې څخه ولسمشر دا انتباه اخيستې ده چې نور نو مجاهدين د ده واکمنی ته ګواښ نه دي له همدې امله د وسلوالو او غيروسلوالو مخالفينو سره جوړجاړي ته اړتيا نه ليدل کېږي .پدې هکله د پخواني پاچا سلاکار او باجه مير محمدامين فرهنګ د ۲۰۲۲ کال د مې په يوولسمه د بهار په نامه د امريکا څخه خپرېدونکي تلويزيون سره په مرکه کې وايي:« نجيب پاچا ته يو ليک رالېږلی وو چې دی چمتو دی پاچا ته واک تسليم کړي او هغه د افغانستان د زعيم په توګه ومني. د پاچا له لوري ورته ويل شوي وو چې د دې وړانديز په اړه به د خپلو سلاکارانو سره مشوره وکړي.خو کله چې د جلال آباد د جګړې وروسته د پاچا پلاوی کابل ته تللی دی، ګوري چې د نجيب په دريخ کې بدلون راغلی او پلاوي ته يې ويلي وو چې د ده په ټيم کې کار کولی شي.» د جلال آباد په جګړه کې د وسلوالو مخالفينو له ماتې وروسته نجيب الله او ملګري دې پايلې ته ورسول چې اوس نو د خپل سيال( خلقيانو) حساب او کتاب ته ورسيږي. د جلال آباد په جګړه کې د دفاع ،کورنيو چارو او دولتي امنيت منسوبين د وسلوالو مخالفينو په وړاندې جنګيدل او د جلال آباد په جګړه کې پوځ چې غوڅ اکثريت يې خلقيان وو ټاکونکی رول ولوباوه. تر دې چې د دفاع وزير شهنواز تنی د جګړې پر مهال پداسې يوه حالت کې په چورلکه کې جلال آباد ته ولاړ چې د جلال آباد د هوآيي ډګر رانوې (ليکه) د وسلوالو مخالفينو او دولتي ځواکونو ترمنځ بېلوونکې کرښه وه. د خلقيانو د ځپلو په هکله بايد وويل شي چې هغه مهال د خلقيانو ځپل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت کې په پوځ برید وو چې په پوځ د برید پایله د واکمنی کمزوري وه . سیاست هغه وخت بریالی سیاست دی چې هلته ټولو سیاسي کړیو ته د ګډون حق ورکړل شي نه دا چې نور حذف شي. نجیب هغه مهال ځواکمن کیده او حکومت یې ملاتړ ترلاسه کاوه چې په نظام کې شریکو ځواکونو په ګډه کار کړی وای لکه چې د جلال آباد په جګړه کې چې خلقیان او پرچمیان اوږه په اوږه و جنګېدل ، قربانی یې ورکړې او جګړه یې وګټله. که څه هم د شوروي لښکر د وتلو وروسته د رژیم دریځ پیاوړی شو او د جلال آباد د جګړې وروسته یې دریځ خورا غښتلی شوی وو. خو دې دا معنی نلرله چې نور به د نجیب الله آس مخ په وړاندې ځغلي او څوک به یې مخه نشي نیولی .

## د پوځ د دړې وړې کولو نقشه

افسري کدرونه د هر پوځ د ملاتیرجوړوي او د هغوی لیدلوری ، رواني حالت او پوځي چمتووالی د پوځ په فعالیت او د سرتېرو په مورال مستقیم اغیزلري . د معاصرافغانستان د پوځ بنسټ د احمدشاه بابا په زمانه کې کېښودل شو او د امیرشیرعلي خان د واکمنی په مهال د منظمو تشکیلاتو او اصولنامو خاوند شو. پوځ د خپلې ودې په بهیرکې د ظاهرشاه په پاچاهی کې د وخت په عصري پوځي تخنیک سمبال شو. حربي ښوونځي چې د اردو د افسري کدرونو بنسټیز پوهنیز بنسټ ګڼل کیده تنکي ځوانان پکې روزل کیدل او هغوی ته به د معاصروعلومو د تدریس سره جوخت د وطنپالنې ، د هیواد د خپلواکۍ اوځمکنی بشپړتیا د ډاډمنې دفاع درس ورکول کیده چې د وخت په تیریدو سره د وطنپالنې روحیه پدې تنکیو ځوانانو کې په نه ماتیدونکي قوت بدلیدله.له بله پلوه دوو نورو مسئلو د دې ځوانانو په سیاسي – ټولنیز لیدلوري اغیزدرلود چې ملي روحیه یې پیاوړې او د یوه ډاډمن پوځي په توګه وروزل شي. یو دا چې په دې پوهنیز بنسټ کې خورا سخت مقررات د دې سبب کیدل چې هغه ډله ځوانان د هغو د زغملو وس پیدا کړي چې اکثراً له کلیوالي چاپېریال او زیارکښو کورنیو نه را وتلي وو. له بله پلوه په دې مؤسسه کې د هېواد د ټولو ورونو قومونو استازي لیدل کیدل چې د یوې کورنی د غړو په څیر یې ژوند کاوه . دې دواړو لاس سره یو کړی وو چې د حربي ښوونځي زده کوونکی او د پوځ راتلونکی کدر ځان د ملي پوځ غړی وګڼي.کله چې د شوروي له یرغل وروسته پوځیانو او په تیره افسري کدرونو شوروي پوځیان پخپل هیواد کې ولیدل ځانونه یې سپک او توهین شوي شمېرل او د شوروي سلاکارانو سره یې چلند تغییر وموند . شوروي سلاکارانو دا حالت لیدلو او پوهیدل چې افغان پوځیان شورویان دوستان نه بلکې دښمنان ګڼي.

نویو واک ته رسول شوو پرچمیانو چې په پوځ کې یې اړین نفوذ او اغیز نه درلود یوازې په شوروي سلاکارانو ډېره لګوله او خپل سیالان خلقیان یې چې د پوځ د جزوتامونو مشري کوله د اشرارو سره په اړیکو لرلو تورنول او یا انتي سوویتیست ( شوروي ضد) معرفي کول. له بله پلوه شوروي سیاسي او پوځي استازو مسکو ته د پوځ د ترکیب او فرکسیوني تړاو په اړه په دوامداره توګه رپوټونه ورکول او ځانګړي دستورونه یې تر لاسه کول. د کارمل لوی پوځي سلاکارد خپل یوه رپوټ په برخه کې د کې جي بي مشر اندروپوف ته لیکي چې په پوځ کې د خلقیان اکثریت جوړوی اندروپوف هدایت ورکوي چې د پرچم پراختیا چټکه شي خو داسې څه پیښ نشول. دا د مسکو تلپاتې اندېښنه وه او بریالی نشو چې پوځ د پرچمیانو په ګټه واړوي . له همدې امله یې له پوځ څخه کرکه کوله او یوه ورځ فکرت احمدجانویچ تابییف شورويٍ سفیر د کارمل پوځي سلاکارته ویلي وو: « دا پوځ ، دا لعنتي پوځ باید دړې وړې شي. »۷ / ۲۳۱ د سفیر لخوا له افغان پوځ نه کرکه پدې کې نه وه چې په هغه کې خلقیان ډېر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې پدې کې هم وه چې افغان پوځ ربښتینی ملي پوځ دی چې نه یوازې د مسکو نه خوښیده بلکې واشنګټن ،اسلام آباد او تهران هم له هغه څخه کرکه لرله او د هغه د دړې وړې کولو په فکر کې وو. مسکو د اتیایمو کلونو په لومړیو کې د افغان پوځ د دړې وړې کولو په هڅه کې نه وو بلکې د هغه د تدریجي کمزورولو او بیا یې د دړې وړې کولو نقشې جوړولې.هغه مهال یې د پوځ بدیل نه درلود ترڅو د شوروي لښکر سره ګډ د مخالفینو په ځپلو کې برخه واخلي . شورویانو د پوځ د کمزورولو لپاره چې دړې وړې کولو ته یې شرایط برابرول لاندې ګامونه پورته کړل :

- د کورنیوچارو په وزارت کې د اپراتیفي قطعو او نورو جنګي جزوتامونو جوړول. -

د قومي ملیشو جوړول چې خبره یې فرقو ته ورسېده او زیاتره یې د هیواد په لرکیو پورې تړاو درلود.

- د دولتي امنیت په چوکات کې د بل پوځ جوړول.

- د دولت له وسله والو مخالفینو څخه ځینې ډلې د دولت په لورجلبول .

پورتني وسلوالې ډلې د اردو په پرتله له غوره امتیازاتو نه برخمنې وې . هغو ځوانانو چې د عسکري مکلفیت او احتیاط د دورې تابع کېدل او د مختلفو لاملونو له امله چمتو نه وو چې د وسلوالو مخالفینو په لیکو کې ودریږي غوره دا ګڼله چې د پوځ پرځای نوموړو وسلوالو ځواکونو په تیره دولتي امنیت ته چې ښه امتیازات یې لرل مخه کړي او پایله یې د پوځ کمزوري کېدله چې د هغه د دړې وړې کولو لپاره یې لار هواروله. سربیره پردې یې آزاد خیال افسران د جګړې سختو جبهو ته لیږل چې د مرګ او ژوبلې احتمال یې ډېر وو ترڅو پوځ د ډاډمنو وطنپالو افسرانو څخه بې برخې کړي. سره لدې د پوځ او سترو جزوتامونو په مشرتابه کې د ژمنو جنرالانو او افسرانو کمی نه وو او کولی یې شول د ملي ضد دسیسو او توطیو مخه و نیسي. له همدې کبله مسکو پدې هڅه کې شو چې په لومړي ګام کې د پوځ مشري هم پرچم ته ولېږدوي. مسکو خپل دې پلان ته رسیدل هغه وخت شوني ګڼل چې په ګوند کې د خلق او پرچم ترمنځ دښمنیو ته لمن ووهي ، دا دښمنی د ټکر ترکچې ورسوي او پدې ټکر کې د پرچم ملاتړ وکړي. د دې موضوع د ښې روښانتیا په اړه به د وخت د وسلوال پوځ د لوی څارنوال جنرال محمدهاشم نوري واورو. هغه یو سپېڅلی افسر، د آرام کرکتر خاوند او په مالي او اخلاقي فساد ککړ نه وو. لدې امله د خلقیانو او شوروي سلاکارانو له درناوي برخمن وو.اکثراً شوروي سلاکارانو په مهمو مسالو کې د هغه سره سلا او مشوره کوله. نوري وایي:« د۱۳۶۶ کال د سنبلې په لومړۍ هفته کې می د سترجنرال ورینیکوف سره ، چې د جمهور رییس مشاور و ، ملاقات درلود. دې ملاقات نږدې درې ساعته دوام وکړ.بحث ډېر اوږد و خو دلته به یې مختصر ټکي را واخلم. ما ( نوري ) خپل سوال داسې مطرح کړ: د شوروي اتحاد نظامي قوتونه له افغانستان څخه وځي ، تاسو موږ اپوزیسیون ته لاس تړلي تسلیموئ ؟ او که لاس او پښې مو راته آزاد پرېږدئ؟ ورینیکوف په جدي لهجه راته وویل : ته ولې داسې فکر کوې؟ د ده د جدي لهجې په نظر کې نیولو سره مې دا سوال ټوکه وبلله ! په داسې حال کې چې چای ، شودې او بسکېټ مو خوړل ، بحث دوام درلود. ما ( نوري) وویل : موږ د مستقلې دفاع لپاره تیاري نیسو، خو هیله لرو چې تاسو موږ ته دوه شرطه مهیا کړئ:

۱-انتخابات کول.

۲- ټول رزمي قوتونه ( د څارندوی، خاد ، ګارد، قومي قطعات) په دفاع وزارت کې مدغم کړئ.

د ورینیکوف عکس العمل مې چې ولید نو دریم سوال مې ونکړ ځکه ، ما ورته وویل چې موږ د مستقلې دفاع لپاره تیاري نیسو خو محترم ډاکټر صاحب تاسو ته ګزارشونه درکوي چې خلقیان کودتا کوي . ورینیکوف وویل : ما د نجیب سره په دې باره کې خبرې وکړې ، خو نجیب وایي دا به تهمت وي...، که ربښتیا وایم له ورینیکوف څخه خفه را ووتلم ځکه هغه دپلوماسي را سره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ورځې وروسته د شوروي له سفارت څخه راته تيليفون وشو او د ملاقات غوښتنه يې وکړه. دا ملاقات په دريم مکرويان کې د ده په کور کې جوړ شو. هلته هم خوراکي مواد تيار وو. د هغه سړي د نوم سره بلد نه وم ... نوموړي يوازې پوښتنې کولې او ځوابونه يې اورېدل. د پوښتنو له محتوا څخه پوهېدم چې ستر جنرال ورينيکوف، سفارت ته خپل گزارش ورکړی دی. د سفارت د استازي غبرگون هم شديدالحن و. ده وپوښتل تاسي څنگه خپلواکه دفاع کولای شئ ؟ ستاسو امکانات کوم دي؟ ما دا ځواب ورکړ، چې موږ د هېواد سرتاسري پياوړی او مجرب گوند لرو او بله دا چې موږ پياوړی او مجرب وسلوال پوځ لرو... او برسېره پردې ښه تخنيک او لازم تجهيزات لرو. خو تاسو موږ ته دوه امکانه را کړئ. د سفارت نماينده خپل ښی لاس موټی کړ، په داسي حال کې چې غټه (بټه) گوته يې پورته نيولې وه په هوا کې يې يو منحني خط رسم کړ او د منحني خط د رسمولو سره يې يو ځای شپېلاق واهه او د خط په سر کې يې د نجيب الله نوم ياداوه د شپېلاق ... معنا يې دا چې د دواړو پېشنهادونو په صورت کې ملگری نجيب الله سرنگون کېږي . ما ورته وويل : ته کولی شي ماته ربنتيا ووايې؟ ده وويل : هو، هر څوک چې د نجيب الله په مخالفت کې سر راپورته کړي ، که کابل د وينو په ډنډ بدل هم شي موږ به يې سرکوب کړو... ما ورته وويل چې که زما په خبرو باور نلرې ، نو نجيب الله ته دوه تختې کاغذ ورکړئ، په يوه تخته کې دې د هغو کسانو نومونه وليکي چې دغه کسان دې په سفارت خانو کې د مامورينو په توگه خارج ته ولاړ شي او په بله تخته کې دې وليکي چې دا کسان دې په کور کې کېني . يوڅه معاش راکړي ځکه ډودۍ نلرو !! بالاخره مې ورته وويل : زه د شپې نوم نلرم ، ما خپل کور ته ورسوه ! بيا يې په توره تنده کور ته راورسولم.» ۱۷۰ / ۱۸۸ – ۱۹۰

ښايي پدې اړه دا پوښتنه پيدا شي چې ولې شورويانو ته نجيب الله دومره ارزښت درلود چې په کابل کې د وينود ډند په اوښتو سره د هغه څخه ملاتړ کوي ؟ د دې پوښتنې ځواب به د ميرصاحب کاروال څخه واورو:« د ملي دفاع وزير د نجيب الله سره د دفاع وطن د شورا په جلسه کې گډون لري ، د جلسې په پای کې شهنواز تنی ، نجيب الله ته پېشنهاد کوي :

داکتر صاحب ! که ممکنه وي زه او ته به يو څو دقيقې سره پاتې شو.جلسه ختمه ده دوی دواړه سره پاتې کېږي.

شهنوازتنی: ډاکټر صاحب ! زما او ستا تر منځ ولې فاصله پيدا شي ؟

شهنواز هغه ټول مشترک وجوهات چې د دواړو تر منځ په طبعي ډول موجود دي يادوي...، نو څه شی زما او تا ترمنځ نه تقسيمېږي ؟

ډاکټر صاحب نجيب الله : نو زه له خدايه نور څه غواړم، ته مې سراو سترگې يې ، ته مې وزر يې ...، د ډاکټر نجيب الله خوږې خبرې ډېرې زده وې چې بل څوک ( مخاطب) جذب کړي. د ډاکټر نجيب الله خبرو په شهنواز تني دومره تاثير کړی چې تنی يې کاملاً جذب کړی دی . لدې کبله شهنواز تنی ، ډاکټر نجيب الله ته وايي: ډاکټرصاحب ! کور دې ړنگ شه ، دغه تا ته د شورويانو توطيه ده !

نجيب الله : ډېره مننه چې زه د متوجه کړم، اوس پوه شوم چې ته مې ترهرچا نږدې دوست يې!

پدې ډول دوی دواړه د خوشحالی په فضا کې يو له بل نه رخصتېږي.

خو ډاکټرصاحب نجيب الله په سرسپردگۍ سره خپل صداقت کې جې بې ته ثابتوي او د خپل لوی مشاور ( پولينيچکه) دفتر ته ورځي او د شهنواز تني ټولې خبرې ور ته انتقالوي...

په بله ورځ د نجيب الله لوی مشاور( پولينيچکه) د ميرصاحب کاروال دفتر ته ورځي او ورته وايي چې د ملي دفاع وزير شهنواز تنی د شوروي ضد سړی دی ، د نجيب الله خبرې ټولې ميرصاحب کاروال ته بيانوي. په بله ورځ، کاروال د ډاکټر نجيب الله دفتر ته ورځي او نجيب الله ته د گيلې په شکل وايي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع وزیر (تني) له تاسو ( نجیب الله) سره په وطني حساب یوه مرکه وکړه ، آیا ضرور وه چې دا موضوع دوستانو ته انتقال شي؟
ډاکټر نجیب الله : کاروالـه ! ستا دې هم کور خراب شي ، دا اوس څو دقیقې د مخه زما لوی مشاور زما مخې ته ناست و او راته ویل یې : نجیب الله ! مه ناوخته کوه ، آمادګي ونیسه ، خلقیان در باندې کودتا کوي ... اوس نو زه د تا ( کاروال) خبره ومنم او که د خپل مشاور خبره ومنم؟ مشاور خو پیسې راکوي ،سلاح راکوي ...نو ته خو هېڅ شی نه شي را کولی.» ۱۷۰ / ۲۵۶ - ۲۵۷ کله چې نجیب الله او تنی ګډ وجوهات (اسلامیت، افغانیت ، پښتونولي ، پکتیاوالي ، د یوه ګوند غړیتوب) لري او سربېره پردې تني یې د دفاع وزیرهم دی خو نجیب الله د شورویانو په اړه د تني لیدلوری او اخېستني هغوی ته انتقالوي ببله کومه شکه به د نجیب الله ځخه په کابل کې څه چې په افغانستان کې د وینو د ډنډ د جوړېدو په بیه ملاتړ وکړي تر څو هغه په واک کې پاتې شي . مسکو چې د پرچمیانو په واک کې د پاتې کېدو په موخه په هر کار لاس پورې کولو ته چمتو وو او خلقیان یې د پرچمیانو بدیل ځواک ګڼلو ددې بدیل ځواک ځېل یې پدې کې شوني ګڼل چې خلقي پوځ دړې وړې کړي. هغه مهال د دواړو ډلو هغو مشرانو کوم چې د یوه پرمختللي افغانستان غوښتونکي وو د م، م د سولې د پروګرام د پلي کېدو په حساسو شېبو کې ورته په کار وو چې یووالی یې ساتلی وای . خو نجیب الله « د ۱۹۸۹ کال په وروستیو کې د هغوی (خلقیانو ) د لېدرانو په وړاندې په ځېونکو اقداماتو لاس پورې کړ.» ۴۹ / ۵۴۸ دې کارخلقیان اړ ایستل د نجیب الله په وړاندې ودرېږي. د وخت د صدراعظم شرق په وینا « ورانسوف چې د ا ، خ ، د ، ګ د یووالي لپاره د هلو ځلو مدعي وو خو په عمل کې د ده د سفارت پر مهال د خلق او پرچم تر منځ اختلافونه زیاتېدل او اورېدل کېدل چې د ورانسوف په لارښوونه شوروي سلاکارانو د دواړو اړخونو د اختلافونو اور ته په پکه وهلو کې بې اغېزه او غلی نه وو.» ۳۸ / ۲۶۸

هغه مهال د ګوند د دوو سیالو ډلو تر منځ دښمنیو د را پنځولو په موخه شوروي سلاکارانو په خپل چلند کې داسې بدلون راووړ:

۱– د کارمل د واکمنی پر مهال شوروي سلاکارانو هڅه کوله چې په ګوند کې ماتیدونکی یووالی وساتي او کله به چې پرچمیانو د خلقي کدرونو د ګوښه کولو یا زنداني کولو هوډ درلود شورویانو به د هغه ژوره ځارنه کوله چې د غچ اخیستنې په موخه نه وې شوې خو د شوروي پوځیانو د وتلو وروسته یې پرچمیان هڅول چې خلقیان تر ځارنې لاندې ونیسي او حتی دوی د خلقیانو په اړوند د سمو او ناسمو رپوټونو په برابرولو کې مرسته کوله.
۲ - « کی جی بی نجیب الله ته خبرداری ورکړ چې د افغانستان د پوځ په وفاداری ډډه و نه لګوي ، له دې امله یې لازمې پیسې او تجهیزات ورکړل تر څو د جمهوري ریاست نوی ګارد د لوړو حقوقو او امتیازاتو سره چې له یوه خصوصي پوځ پرته بل څه نه وو جوړ کړي. » ۲۵۹/۴۷ د شوروي سلاکارانو له مشورو او د کی جی بی د راپورونو له امله نجیب الله په پوځ په بشپړه توګه بې باوره شوی وو او « جمهوررئیس داسې ګامونه اوچتول چې پوځ په کابل کې کمزوری شي.»۴۹ / ۴۲۷ په پلازمېینه کې د پوځ کمزوري کول له دې امله مسکو ته ارزښت درلود چې وکولای شي ددې تشې نه په ګټه اخیستو سره په دفاع وزارت هم پرچمیان واکمن کړي . د ولسمشرله لوري د اردو د کمزوري کولو له امله د شوروي سپاهیانو د وروستیو ټولګیو د وتلو په درشل کې اردو په داسې وضعیت کې وو چې د عسکري تعلیمنامو د غوښتنو له مخې یې عملاً پوځي جګړه ئیزه وړتیا له لاسه ورکړې وه. لاندې رپوټ چې شوروي لوی سلاکار مسکو ته استولی وو د دې خبرې ځرګند ثبوت دی. « د افغانستان وسله وال پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولټال دری سوه زره تنه وو چې په هغه کې ۱۳۲۰۰۰ تنه اردو،سل زره تنه څارندوی ، اتيا زره دولتي امنيت او يوولس نيم زره تنه د گارد منسوبان وو چې د اردو د اكمال كچه په سلو كې پنځوس،څارندوی په سلو كې شپيته او دولتي امنيت په سلوكې ۵ /۷۰ وه.» ۴۹/ ۴۲۵ د پوځي تعليمنامې له مخې كله چې د يوه جزوتام د اكمال كچه په سلو كې د پنځوسو څخه لوړه نه وي هغه جزوتام د جګړې وړتيا نلري پردې اساس پوځ د جګړې پر مخ وړلو وړتيا نلرله.

د شوروي پوځيانو د وتلو وروسته افغانستان د تاريخ خپل حساس پړاو ته ورننووت چې هغه د رژيم پاينت وو. هر رژيم هغه مهال د پاينت څخه برخمن وي چې قوي مركزي حكومت او غښتلي وسلوال ځواک ولري. سياسي ډلو يې خپل اختلافاتونه يوه اړخ ته پرې ايښي وي او په ګډه د وسلوالو مخالفانو او بهرني ګواښونو په وړاندې مبارزې ته چمتو وي لكه څرنګه چې د جلال آباد په جګړه كې د وسلوالو ځواكونو ګډو پوځي عملياتو دښمن ته ماتې وركړه. خو د جلال آباد د جګړې وروسته نجيب ډا دمن شو چې د وسلوالو مخالفينو په وړاندې د دريدو وس لري هماغه دي چې د خلقيانو د ځپلو لپاره متې را نغاړي چې منطقاً د خلقيانو منفي غبرګون يې درلود. له بله پلوه مسكو او واشنګټن د ژنيو د لوزنامې د تضمين كوونكو په توګه هم ظاهراً د خپلو افغان متحدينو د غښتلتيا لپاره خپلو مرستوته ادامه وركوله خو د پردې شاته پردې لګياوو چې خپلو ډاډمنو چوپړيانو ته واک ته د رسيدو زمينه برابره كړي. مسكو ظاهراً د م،م د سولې د پروګرام د پلي كولو اكټونه كول خو ټولې هڅې يې پدې څرخيدې چې هغه شنډ كړي. كرملن دې موخې ته رسيدل هغه مهال شوني ګڼل چې خلقيان وځپي او پوځ د اغېزمنو خلقي افسرانو څخه وځنډي او پدې ډول د پوځ مشري پرچم ته ولېږدوي او په راتلونكي ګام كې واک خپلو جهادي پروتوكولي ډلو ته ولېږدوي. هماغه دي چې نجيب الله هڅوي چې پر دفاع وزارت بريد وكړي او نجيب الله هم بېله دې چې ددې كار ناوړه پايلو ته پام را وګرزوي په پوځ بريد كوي چې په هغو به په راتلونكې برخه كې بحث وشي. نجيب الله د ولسمشر په توګه د خپل دې كار د ناوړه پايلو د درک وړتيا نلرله پداسې حال كې چې ډېرى افغانانو ددې كار د ناوړه پايلو د درک وړتيا لرله لكه څرنګه چې عبدالحميدمبارز وايي: «كه چيرې نجيب د دې اړخ ( خلق ) نه ځان نه وای لرې كړی د هرې توطئې په مقابل كې كه له مسكو نه هم كيده مقاومت يې زياتيده او مقاومت يې كولی شو. » ۸۸/ ۴۷

پدې اړه د كې جي بي - نجيب نقشه داسې وه چې دفاع وزير شهنواز تنی په خپله خوښه له وزارت څخه ګوښه شي او پرځای يې پرچمي لوړپوړي چې ګوته دريو تنو كارملي جنرالانو( محمدنبی عظيمي، نورالحق علومي او محمدآصف دلاور) ته نيول كېده د دوی څخه يو مقرركړي . كه احياناً د دفاع وزير له وزارت څخه په خپله خوښه ګوښه نشي په دفاع وزارت بريد وكړي او د دفاع وزارت غبرګون د شهنوازتني له خوا كودتا اعلان كړي او پدې بريد كې اغېزمن خلقي افسران بندي او يا ووژني او په ځای يې پرچميان مقرر كړي . خلقي لوري چې انقلاب او واكمني يې خپل ګڼل پدې حساسو شيبو كې چې د انقلاب او واكمنۍ نه د خپلواكه دفاع سوال طرحه وو او د پرچم له لوري د مخالفينو سره د پټ جوړجاړي شاهدان وو چمتو نه وو چې د دفاع وزارت له لاسه وركړي او د هغه له لاسه وركول يې د خلقي غورځنګ د كمزوريدو سربېره د م ،م د سولې د پروګرام شنډيدل او د ثور انقلاب ماتې ګڼل. خو پربله خوا « د افغانستان د جمهوريت جمهور رئيس د خپل دريځ د پياوړتيا لپاره له هرې وسيلې څخه كار اخيست چې خلقيان كمزوري كړي » ۴۹ /۵۴۸ او دا كمزوري يې د اردو د مشرتابه د ګوښه كولو له لارې شوني ګڼله. پرچميانو د خلقيانو دې ډول هوډ ته چې چمتو نه دي د دفاع وزارت څخه تېرشي په كټلو سره خپلې هڅې دې ته راوګرزولې چې د دفاع وزير اړ كړي چې په خپله خوښه استعفى وركړي. د نجيب الله دا خبرې چې د تني له خولې عظيمی ته ويلي وې:« مايې ټول صلاحيتونه سلب كړي ، جنرالان يې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اجازې پرته نیسم ، مکافات او مجازات زه ورکوم او ځواکونه زه اداره کوم » ۱۲۹ / ۴۰۴ ښیي چې جمهور رئیس د دفاع وزیر په یوه ستونزمن حالت کې درولی وو. سربېره پردې پرچمي لوړپوړو پوځیانو هم داسې چلند کاوه چې په پوځ کې یې د قوماندې او ادارې د یووالي اصل چې د پوځ او ملکي ادارې توپیرپه همدې مسئله کې دی له منځه وړلو او د دفاع وزیر لپاره یې سرخوږی جوړکړی وو دغه څه هم د ولسمشر د همغږۍ او حتی دستور پرته نه تر سره کیدل. د ساري په توګه د هغه لومړي مرستیال او د کابل د ګارنیزیون قوماندان د وزیر په وړاندې د اتمې فرقې بولندوی او د دې فرقې د یوه غونډ افسرانو ته چې د وزیر له امر نه سرغړونه وکړې داسې هدایت ورکوي: «ما د فرقې قوماندان او د غونډ افسران راوغوښتل او ورته ومې ویل تر هغو پورې چې د تني مساله نده حل شوې تاسې به د کابل په ګارنیزیون کې حاضري لاسلیک کوئ او د تني د اوامرو له اجرا نه به ډډه کوئ .» ۱۲۹/ ۴۹۶ همدارنګه « د ۱۹۹۰ کال د فبروري په میاشت کې د جلال آباد څخه د دفاع وزیرشهنواز تني د لیدو پر مهال د جلال آباد د جبهې قوماندان ډګرجنرال لودین ( د پرچم د اړخ) د دفاع وزیر هرکلي او لیدو ته رانغی او همدارنګه د قوماندانانو په غونډه کې یې ګډون ونکړ.» ۱۹۶/ ۸۲ سربېره پردې د تني د لمسولو په موخه څه کم شپېته تنه خلقي جنرالان او افسران بیله دې چې وزیر خبر وي دولتي امنیت بندیان کړل . پدې اړه «د وسله وال پوځ د سرقوماندانۍ په غونډه کې د نجیب الله او یعقوبي له لوري لنډ ګزارش ورکول کیږي چې ګواکې دا توطئه د مشاورینو لخوا د کیهاني امکاناتو په استفادې سره کشف شوې ده .» ۱۲۸/ ۱۹۵ پدې اړه د شوروي د مرکزي تلویزیون له خوا « په افغانستان کې د یوې توطئي د کشفولو او د عاملینو د نیولو خبر ورکول کیږي چې اکثریت یې افغان پوځیان دي خو د افغانستان تلویزیون دا خبر یوه ورځ وروسته خپروي.» ۱۲۸ / ۱۹۶ د شوروي اتحاد په تلویزیون کې د توطئي د خبر خپرېدل او وروسته د کابل د تلویزیون څخه ددې خبر خپرېدل ښیي چې هرڅه مسکو تنظیمول او کابل د هغې له مخې عمل کاوه. دفاع وزیر له جمهوررئیس نه غواړي چې نوموړي افسران خوشي او یا د هغوی په اړوند لاسوندونه د ده په واک کې کیږدي خو ولسمشر دې غوښتنې ته ارزښت نه ورکوي. دا د دې سبب کیږي چې د دفاع وزیر او ولسمشر ترمنځ اړیکې لا خرې پرې شي. هغه توطېه ګواکې چې شورویانو د خپلو کیهاني امکاناتو له مخې کشف او هغه یې په یوه ټلویزیوني ویدیو کې ثبت او د نجیب الله په واک کې اېښې وه . نجیب الله به دا ویډیو هر جګپوړي ملکي او پوځي کدر په تېره خلقیانو ته ورښودله ترڅو د تني خلاف دریځ ونیسي . اړینه بریښي پدې مساله بحث وشي.

د ملي روغې جوړې د تګلارې په اعلان سره ټولو ګوندي او دولتي ارګانونو او په هغو کې د امنیتي چارو وزارتونو ته هدایت ورکړل شو چې د خپلو امکاناتو له مخې د سیمې د خلکو په همکارۍ د دولت له مخالفینو سره اړیکې ونیسي او هغوی د حکومت سره همکارۍ ته چمتو کړي .د همدغه دستور سره سم ، د دفاع وزارت اړوند د راکټو او هوايي دفاع قوماندانۍ یوې پوستې چې چهارآسیاب ته څېرمه خیر آباد کې ځای پر ځای شوې وه ، مشرتابه یې د هغې سیمې د سپین ږیرو په همکارۍ ، د سیمې له مجاهدینو سره اړیکې جوړې کړې وې. بېله کومه شکه د راکټو او هوايي دفاع قوماندان جنرال ولي شاه د دې اړیکو جوړولو رپوټ دفاع وزیر شهنواز تني ته ورکړی دی او د خپل شوروي سلاکار سره یې دا خبره شریکه کړې ده. شوروي سلاکاران د دافع هوا د پوستې د افسرانو اړیکې د مجاهدینو سره ځاري او د خپلو امکاناتو له مخې یې ثبتوي او عکاسي کوي او هغه ولسمشر ته سپاري او پدې ډول ولي شاه او یو شمېر خلقي افسران د اشرارو سره د اړیکو د لرلو په تور زنداني کوي او د دافع هوا سیاسی آمر د هغه په دفتر کې وژني او اعلانوي چې د دې توطېې د کشف له امله هغه په خپله ځان وژلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کب د شپاړلسمې ډرامه

د۱۹۹۰ کال د مارچ په پنځمه ( ۱۳۶۸ کال د کب شپاړلسمه) د کابل ښاريان يو ځل بيا د درنو او سپکو وسلو د ډزو او بمباريو شاهدان وو ، دا ډزې د دارالامان د تاريخي ماڼۍ شا وخوا او بمبارۍ په ارګ تر سره کېدلې. دولت دا پيښه سملاسي د تني- ګلبدين کودتا اعلان کړه چې تردې مهاله دا پيښه د تني د کودتا په نامه ياديږي. البته شاوخوا يو کال وړاندې په هېواد کې د تني د کودتا اوازې خپرېدلې. هغه مهال واکمنی پدې ډرامه کې اسلام آباد ښکيل ګڼلو خو د ګوند د واکمنی د نسکورېدو وروسته پرچميان په هغې کې د مسکو لاس ته هم ګوته نيسي. دا پيښه هراړخيزه څېړنه غواړي ترڅو لاندې پوښتنو ته ځواب و موندل شي چې په واقعيت کې څه پيښ شول ، لاملونه يې څه وو، کوم اړخ بريد وکړ او د ښکېلو اړخونو موخې څه وې؟ خو واقعيت دا دی چې ددې پيښې يا ډرامې د پړې سر له مسکو سره وو او موخه يې په پوځ باندې د پرچميانو په واکمنولو سره لړکيو ته واک ته د لېږدولو لپاره د لارې هوارول وو . ددې لپاره يې بايد خلقيان آو پرچميان د پوځې ټکر تر کچې رسولې وای او پدې ټکر کې يې د پرچميانو ملاتړ کړی وای . همدا لامل وو چې شورويانو په اصطلاح د خپلو کيهاني امکاناتو له مخې د يوې توطېې د کشفولو خبره کوله چې ګواکې ځېنې خلقي افسران له اشرار وسره اړيکي لري . د دې لاسوند پر بنسټ د۱۹۸۹ کال د نوامبر په نيمايي کې شاوخوا شپېته تنه خلقي جنرالان او افسران د دفاع وزير د خبرتيا پرته د دولتي امنيت له خوا زنداني شول چې د نجيب او تني ترمنځ يې اړيکې ترينګړې کړې . له بلې خوا پټ او ښکاره لاسونه فعال وو ترڅو د هغوی ترمنځ مناسبات لا نور هم خراب کړي.
د دفاع وزير د۱۹۸۹ کال د دسمبر په دوهمه د جمهور رئيس سره د خبرواترو په ترڅ کې بريالی نشو چې د وزارت ستونزې او په هغو کې زنداني شوي جنرالان او افسران خوشي کړي . د دې بې پايلې کتنې وروسته وزير پوځ ته د تيارسۍ امر وکړ او د شپې ناوخته يې خپل دفتر ته يو شمير خپل باوري افسران ( جنرال محمدآصف شور د حربي پوهنتون استاد،جنرال عزيزالرحمن د۲۲ اکمالاتي لوا قوماندان، جنرال خان آقا بانديزی د افسرانو د عالی کورس قوماندان، ډګروال محمد کبيرکاروانى د افسرانود عالی کورس استاد ، ډګروال نوراحمدناب د اوومې فرقې قوماندان، ډګروال خان محمد د راکټ د۹۹ لوا قوماندان، ډګروال دولت وزيری د اتمې فرقې درستيزوال، ډګروال عبدالمجيد ارغستانی د اوومې فرقې سياسي آمر، ډګروال عبدالغفور د ستر درستيزد قرارګاه د۲۳۵ قطعې قوماندان، ډګروال فيروزد دفاع وزارت د قرارګاه افسر) ورغواړي او د هغوی سره پردې پيښه چې له جمهور رئيس سره يې ډغرې وهلې دي مشوره وکړي چې راتلونکي ګامونه څه وي؟
د دې غونډې په لومړيو شېبو کې د راکټ د قوا قوماندان ډګروال خان محمد وزير ته ويلي چې خاديستانو د نومو‌ړې لوا د بطريو(ټوليو) اداره په لاس کې نيولې ده. تنی هغه ته هدايت ورکوي چې لوا ته لاړشي او د بطريو اداره د بطريو اړونده قوماندانان په غاړه واخلي او د ټلفون له لارې د خپلو اجراآتو رپوټ ورکړي.د حاضرينو لخوا مختلف نظرونه ورکړل شول او محمدآصف شور ويلي وو، خبره بايد دې حالت ته نه وای رسېدلې اوس چې دا کار شوی دی بايد چټک پوځې اقدام وشي. د دې وړانديز په اړه وزير ويلي وو چې مرکزي کميټې ( هدف د خلقي اړخ څخه دی ) ځلېرويشت ساعته وخت غوښتی دی. شور ورته ويلي وو: « ترملکه دې کړه ورکه دې کړه » او اضافه کوي چې پوځې عمل د ګونديانو کار نه دی. په غونډه کې کومه پرېکړه نه ده شوې او وزير حاضرينو ته ويلي چې پوځې چمتووالی ولري ، د راتلونکو هدايتونو انتظار دې باسي خو بيا هېڅکله هغوی ته د وزير لخوا چې ټول دوهم ځل را وغواړي کوم هدايت ورنکړل شو. د دفاع وزيرلخوا پوځ ته د احضاراتو ورکول په واقعيت کې د اعلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرقوماندان په وړاندې بغاوت وو او انتظارایستل ځان وژنه وه. د دې غونډې وروسته بهیرونو او د تني له دریځ او کړنو څخه ښکاري چې هغه د پوځي عمل هوډ نه درلود او لدې کار څخه یې موخه دا وه چې جمهور رئیس دې ته متوجه کړي چې پوځ یعني خلقي اړخ له پامه ونه غورزوي. که داسې هم وي دا د تني تیروتنه وه منطقاً د جمهوررییس غبرګون دا وو چې څرنګه خپل یاغي وزیراو د هغه ملګري له ډګره وباسي. وایي چې له پاځون سره لوبې د پاځون کوونکو د ژوند سره لوبې دي خو هغه مهال دا نه یوازې د خلقي پوځیانو د ژوند بلکې د یوه سیاسي خوځښت ، د پوځ او هېواد له برخلیک سره لوبې وې. د تني له لوري اردو ته د تیارسی له امر ورکولو وروسته بېله شکه جمهوررییس د دفاع وزیر او د هغه د ملګرو د ځپلو لپاره لارې چارې لټولې. هماغه دي جمهور رییس جنرال نبي عظیمي ته دستور ورکړ چې د احتمالي پوځي عملیاتو( د دفاع وزیر وفادارو ځواکونو سره د مقابلې او یا د هغوی د ځپلو) لپاره خریطې یا نقشې جوړې کړي. عظیمي هم دوې خریطې ( نقشې)جوړوي . لومړۍ خریطه پدې موخه جوړه شوې وه که تنی برید یا کودتا وکړي ولسمشر ته وفادار ځواکونه څرنګه د برید مخه ونیسي او بله په د دفاع وزارت د برید یا تعرض خریطه وه. ولسمشر دوهم وریانت تائید کړی دی یعني په دفاع وزارت او دفاع وزیر ته په وفاداره جزوتامونو برید. دا بیا ښیي چې نجیب پدې پوهېدلو چې تنی د کودتا هوډ نلري بلکې دی پلان لري په دفاع وزارت برید وکړي او دا برید د تني له خوا کودتا اعلان کړي.د احضاراتو د نیولو وروسته هغو حکومتي ځواکونو چې د دفاع وزارت په قرارګاه او وزیر ته د وفاداره قواوو د ځپلو دنده لرله د کب په څوارلسمه او پنځلسمه د کابل په ښار کې پوروا (مشق اوتمرین) اجرا کړ ترڅو د راتلونکو عملیاتو د ترسره کولو لپاره پوره آمادګي ونیسي. کله چې د خلقي اړخ مشرتابه د ولسمشر نه په ښار کې د دې ځواکونو د شتون وضاحت غوښتی هغه یې یوه تیروتنه بللې وه. همدا رنګه حکومت د کب په ۱۵ د مزارشریف د هوایی ګارنیزیون خلقي قوماندان جنرال ولي بندي کړ ترڅو د کب په شپاړلسمه د دفاع وزارت د برید په ورځ د دولتي ځواکونو خلاف کوم ګام اوچت نه کړي. وروسته لدې احضاراتو د کب په شپاړلسمه د دولتي امنیت ځواکونوپه دفاع وزارت برید وکړ او د رادیو او تلویزیون له لارې یې دا پېښه د تني – ګلبدین کودتا اعلان کړله.

ډګروال ارغستاني وایي چې د وزیر له لوري د پوځي احضاراتو د اعلان څو ورځې وروسته د وزیر لیدو ته ورغلی چې میرصاحب کاروال هم هلته وو. د خبرو په ترځ کې د پوځي احضاراتو خبره راپورته کیږي، تنی کاروال ته وایي: « ما خپل کار و کړاو نجیب مې متوجه کړ اوس ستاسو سیاستوالو کار دی چې څه وکړئ ؟ کاروال ورته وایي بریتوره لکه چې وډار شوې. » کاروال ته د تني له وینا او د دې خبرې نه چې یو وخت شاه محمودحصین وزیر ته د پرچمیانو له لوري د شکمنو فعالیتونو په اړه خپله اندیښنه ښودلې وه ویلې وو :« مور د دفاع لپاره اړین چمتووالی لرو او پدې هکله د اندیښنې ځای نشته. »۱۸ / ۴۵۴ معلومیږي چې تني د پوځي عمل یا کودتا په فکر کې نه وو . خو داسې ښکاري چې د خلقیانو په مشرتابه کې داسې کسان هم وو چې پوځي مخامختیا ته یې لمن وهله .او د هغې د ناوړه پایلو د درک وړتیا یې نلرله او یا ډاډمن وو چې پدې سیالی کې بری د دوی سره دی هغه ډاډ چې په ښېړ ډول ناسم وو .هغوی پدې نه پوهیدل چې د دوی یو شمیرخلقي جنرالان او افسران لامخکي نجیب خپل کړي دي او یا د وطنجار او انجینرنظرمحمد سره چې د نجیب الله ملاتړي وو اړیکې لرلې او دوه ګونی رول لوبوي . لکه څرنګه چې پدې هکله دستګیر پنجشیری لیکی:« د جنرال هاشم زرمتي، جنرال شیخ محمدباور او د ستردرستیز د څو تنو افسرانو سرونه د محمداسلم وطنجاراو د ډاکټرنجیب د واکمن فرکسیون له ګریوانه راووتل.» ۲/ ۱۵۱ لکه څرنګه چې د شیخ محمد باور نوم یاد شو چې هغه د نجیب د فرکسیون سره تړاو درلود هغه به له محمدآصف شور واورو. هغه وایي « په ۱۹۸۵ د لندې مودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورس لپاره مسکو ته استول شوی وو چې دې کورس ته باور او جنرال قادر اکا هم استول شوي وو. یوه ورځ باور چې جنرال قادر اکا هم ناست وو را ته وویل نجیب ، وطنجار او ګلابزوی وحدت کړی دی او نور باید د پرچمي او خلقي خبرې ونشي . شور وايي هغه ته مې و ويل د پکتيا والو او زرمتیانو یووالی به دا ګوند لا نور هم مردار کړي.» دا د دې ښکارندوی دي چې شیخ محمد باور د نجیب د واکمنېدو وړاندې د هغه سره لکه وطنجار پټ تارونه غزولي وو. په هغو څو تنو کې چې د دسمبر په دوهمه وزير ورغوښتی وو داسې کسان هم وو چې په اصطلاح د تني د کودتا وروسته چې څه کم زر تنه خلقيان بندي شول او له اتيا تنو زيات شهيدان شول هغوی ته چا څه ونه ويل او خپلو دندو ته يې دوام ورکړ. دا د دې واقعيت ښکارندوی دی چې د تني سره دا ډول کسان لږ نه وو چې دوه ګونی رول يې لوباوه . څرنګه چې د لوبې د پړې سر له مسکو سره وو شورويانو دواړو اړخونو ته د غلطو او لمسوونکو اطلاعاتو او مشورو د ورکولو له لارې زمينه دې ته برابروله چې هغوی د پوځی مخامختيا تر کچې ورسوي. د ساري په توګه په مسکو کې سفير ګلابزوی پنجشيري ته ويلي وو: « که چيرې د نجيب د امنيتي دستګاه د بريد په وړاندې سوله بيزمقاومت ونشي نجيب د منظم اردو د کمزوري توب لپاره ښايي د خلقيانو اته سوه تنه غوره خلقي افسران د شفا ترنامه لاندې بنديان کړي او پدې نيرنګ سره د ځينو تنظيمي مشرانو د داخلي قوماندانانو سره د پردې شا د سياسي معاملو زمينه برابره کړي. د هغه د خبرتيا سرچينه د افغانستان لپاره د شوروي اتحاد د بهرنيوچارو د وزير شيواردنادزې د شوروي دولت د کميسيون نږدی همکاران وو .» ۲/ ۱۴۴ شوروي اړخ ګلابزوی ته د نجيب له لوري د شاوخوا اته سوه خلقي افسرانو د بندې کولو خبرداری ورکوي او پر بله خوا نجيب ته د خلقي پوځيانو داسې اسناد چې ګواکې د کيهاني امکاناتو له مخې يې يوه توطيه کشف کړې ده چمتو کوي. له بده مرغه دواړو خواوو ونشوای کړای د مسکو دا کرغيړنه لوبه درک کړي. هغه شمېره افسران چې شورويانو ګلابزوی ته ويلي وو هغومره کسان نجيب بنديان هم کړل . دا بيا ښيي چې مسکو بشپړ معلومات درلود چې څومره خلقيان بايد زنداني شي. شوروي اړخ زمونږ د خلکو د هغې مشهورې خبرې پر بنسټ عمل کاوه چې غله ته وايي غلا وکړه او د کورخاوند ته وايي ويښ اوسه. شورويان چې خلقيان کمزوري کړي د وطنجار ، انجينر نظر او رازمحمد پکتين سرببره د امين پلويان هم د نجيب سره همکاری ته وهڅول چې ښه بېلګه يې د دستګير پنجشيري لاندې خبره ده : « د څرخي پله په زندان کې مې د حفيظ الله امين د دولت د استخباراتي دستګاه د رييس اکبري څخه خبر شوم د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو پخواني وزير شيوارد نادزې د نجيب او د حاکم فرکسيون د سازماني ، سياسي او پوځي دريځ د پياوړتيا لپاره د داکترشاولي او کريم ميثاق سره په کابل کې ليدنې کړې وې چې د خلق د فرکسيون د دريځ په کمزوری او پاشلتيا کې يې لاسوهنې کړې او فعال رول لوبولی وو.» ۲/ ۱۶۷ د تنی لخوا اردو ته د تيارسی د امر ورکول ولسمشر ته ښه لاسوند شو چې د تني د کودتا په اړه پراخ تبليغاتي کمپاين پيل ،تنی په اذهانو کې د يوه کودتايي وزير په توګه وټکوي او ضمناً د خلقيانو د ځپلو لپاره بشپړ چمتووالی ونيسي. نجيب الله د دفاع وزارت د ځپلو په موخه کابل ته د شمال نه د مليشواو پرچم ته د وفاداره ځواکونو په را ليږدولو او نورو سيمو ته د کابل نه د دفاع د وزارت د ځواکونو په استولو لاس پورې کړ ترڅو په پلازمينه کې پخپلو وفاداره ځواکونو متکي شي او په ډاډمنه توګه وکولی شي د دفاع وزارت ځواکونه وځپي.

اوس به وګورو چې پدې پوځي مخامختيا کې برى د کوم اړخ په برخه وو؟

د ثور انقلاب په بشپړتيايي پړاو کې پرچم د بشپړ نوښت خاوند وو. د ګوند په کورنی مبارزه کې د خپل سيال د وهلو لپاره يې متحدانه عمل کاوه. دې حالت دوی سره راټولول د مشرتابه او عادي غړو د ناخوښۍ اسباب يې نه برابرول . استخباراتي اداره په بشپړه توګه د پرچم په لاس کې وه او د خلقي اړخ له کورني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت نه يې اړين معلومات درلود. د بهرنيو ،سرحدونو، ماليي او د قبايلو وزارتخانې او بانکونه د پرچم په لاس کې وو، د مسکو او د وارسا د تړون د دولتونو له ټينګ ملاتړنه هم برخمن وو. ډله ييزې رسنی هم د پرچم د فرکسيون په لاس کې وې. دا هغه مثبت عوامل وو چې د پرچم د ډلې بريا پرې تړلې وه. خلقيان نه يوازې چې له يوه ژور کورني بحران سره لاس او ګريوان وو بلکې په لاندې دوو د ښمنو ډلو ويشل شوي وو :

١. هغه ډله خلقيان چې د شوروي له تيرې وروسته په واک کې وو.
٢. هغه ډله خلقيان چې د امينيانو په نامه بنديان او يا بيکاره شول .

کله چې نجيب په واک کې د شريکو خلقيانو د ځپلو تصميم ونيولو د امين پلويانو ته مراجعه وکړه له زندانه يې خوشې او په لوړو څوکيو يې مقرر کړل. هغه خلقيان چې له زندانه راوتلي وو او يا په زندان کې شپې او ورځې تيرولې پرچميانو او نجيب پلوه خلقيانو ورته ويل چې دوی د هغو خلقي مشرانو لخوا په زندان کې اچول شوي دي چې د پرچم سره په واک کې شريک دي. پدې اړه عبدالرشيدجليلی او د هغه سره له بنده خلاص شوو کسانو ته ويل شوي وو : « دومره موده چې په جيل کې پاتې شوئ ستونزې موجودې وې او اوس چې ستونزې له منځه ولاړې نو خوشې شوئ ، ددې ټکو نه مراد دا و چې هغه ډله خلقيان چې د حوت د شپاړلسمې نيټې کودتا په تورجيل ته واچول شول ګني. » ١٠ /١٧٣يوه مسئله چې د خلقيانو د ګډ دريځ د غوره کولو مخه يې نيوله خلقي اړخ منل شوي مشران نلرل ځکه تره کی او امين او هغوی هم د واک پر سر په سيالی کې له منځه ولاړل. د پرچم او خلق دا ډول وضعيت ددې سبب کېدلو چې پرچم د واکمن فرکسيون له دريځه د خپل سيال د کمزورولو ، دعامه اذهانو د خپلولو، د ډاډمنو پوځي قوتونو د راټولولو،د کابل نه دفاع وزير ته د وفاداروځواکونو د ايستلو او د احتمالی عملياتو د پرمخ بيولو لپاره بشپړ چمتووالی ونيسي.

پر بله خوا خلقيانو لومړی بايد پخپلو کې د اعتماد فضا را منځته کړې وای چې لاسته راوړنې يې نه لرلې. لدې وروسته خلقي مشران(نيازمحمد مومند، دستګير پنجشيری، ميرصاحب کاروال ، صالح محمد زېری، عبدالرشيد آرين، جنرال نظرمحمد،خليل الله کوهستاني او ګلداد) د وضعيت د هراړخيزې څېړنې په موخه د ډسمبر پر نولسمه يعنی يوه اونۍ وروسته له هغه چې د دفاع وزير پوځي احضارات اعلان کړل د پنجشيري په کور کې راغونډيږي او له خبرواترو وروسته دې نتيجې ته رسيږي :« د افغانستان د مسئلې پوځي حل روښانه راتلونکې نه لري ...، لدې امله بايد په ډله ييزه توګه مبارزه وشي ترڅو د خلکواو وسله وال پوځ غوښتنې د سوله ييزې لارې د نړيوالو بنسټونو او د م،م د سازمان ترڅارنې لاندې عملي شي .» ٢ / ١٤٥ ددې غونډې بل برخه وال ګلداد د خپل کتاب( ٤٤٣ـ ٤٤٨) مخونو کې بشپړ توضيحات ورکړي دلته به يې لنډيز راوړل شي. « پنجشيري له مسکو څخه دا معلومات راوړي چې نجيب غواړي اته سوه خلقيان محاکمه کړي. د غونډې برخه والو د شته معلوماتواو د پنجشيري د نويو معلوماتو له يوځای کولو وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې نجيب الله او يارانو يې په بې جګړې ، غلې او تدريجي کودتا باندې لاس پورې کړی دی. په غونډه کې اصلي پوښتنه دا وه موږ څه وکړو، آيا موږ پر دوی باندې پوځي بريد وکړو او که غلي پاتې شو؟ د خبرو په لومړي پيل کې د متقابل کلک ځواب ورکړې نظر درلودونکو کسانو تله درنه وه. د پوځي عمل په پايلو له بحث وروسته ټول په يوه اتفاق دې پايلې ته ورسېدل :

١- د پوځي عمل مرګ او ژوبله به خامخا په لوړې کچې وي . موږ د هغې مرګ ژوبلې مسؤليت پر غاړې باندې نشو اخستلی.

٢ – په دغې ګډوډ ګوندي او دولتي حالت کې چې د ډېرو کسانو دريځ ناڅرګند دی، د هېڅا بری تضمين

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدلی نشي.نو په دغسي خړې پړې فضا کې د دومره غټ مسؤليت پر غاړې باندې اخېستل هم له لېونتوب څخه بل څه نشي کېدلی.

۳-که مرګ او ژوبلې ته هم ملا وتړل شي او داسې هم ومنل شي چې برى به هم تر لاسه شي . نو له بري څخه وروسته به امنيت څنګه وساتل شي؟ ځکه ، دولت په همدې اوس حالت کې له ډېرو او ګڼو ستونزو سره مخ دی. هغه مهال خو امنيتي قوتونه هم د شمېرې له مخې لږترلږه نيمه يې را ټيټېږي او هم يې مورال کمزوری او ټيټېږي.

۴- له دغو ټولو ستونزو څخه زياته ستونزه د امنيتي ارګانونو د وسلو،مهماتو او خوراکي توکو اکمال دی. دغه سترمشکل به څرنګه حل کېږي؟ د امنيتي ارګانونو تر څنګ ، د نورو دولتي ارګانونو د منسوبينو تنخواګاني او کوپراتيفي توکي به له کومه کېږي او څرنګه به ورته رسول کېږي؟ همدا ډول د عام ولس د لومړنيو اړتياوو توکو پيدا کول ، بازارونو ته رسول او اکمالول بله غټه ستونزه او دروند کار دی.دغه ټولې ستونزې او ورسره نورې اقتصادي او ټولنيزې ستونزې به څرنګه حل کوو؟» ۱۰۵ /۸۴۷ په غونډه کې پردې هم خبرې وشوې چې د يادوو شويو اړتياو پوره کولو سرچينه شوروي اتحاد دی. که موږ په پوځي زور واک ترلاسه کړو شوروي اتحاد به مو ملاتړ ونکړي بلکې که په ښکاره نه وي په پټې به موږ له ماتې سره مخ کړي. برخه وال دې پايلې ته ورسېدل چې د مخامختيا پرځای د پخوا په شان د حکومت سره همکاري وکړي خو هڅې به وکړي چې بېګناه بنديان شوي افسران را خلاص کړي ، د ګوند د ننه به سياسي مبارزه چټکه کړي او د ګوندي کنګرې جوړولو لپاره به خپلې هلې ځلې لا ګړندۍ کړي.

د دې غونډې يوه ورځ وروسته ( پنجشيری، مومند، جنرال نظرمحمد، ګلداد) د نجيب سره وکتل او دې موافقې ته ورسېدل چې د دفاع وزير به خپلې دندې ته ادامه ورکوي، په پوځ کې د امراو قوماندې او د مراتبو سلسله مراعات شي ، د افسرانو څارنه او زنداني کول دې ودرېږي او بنديان شوي افسران دې خوشې شي ،د تنی د پوځي شورا غړي به ترڅارنې لاندې نه نيول کيږي ،دا شورا به منحل او دفاع وزير به د ستردرستيز په غونډه کې خپل وروستي کړه وړه سؤتفاهم ګڼي. دا پلاوی دوه ورځې وروسته د شوروي سفير سره ګوري او د نجيب الله سره د دوی د کتنې په اړه معلومات ورکوي او د ولسمشر او دفاع وزير تر منځ د کرکېچ د حل په موخه د خلقيانو دريځ ورسره شريکوي. پدې کتنه کې شوروي سفير د تني وروستی کړنې غندلې وې. لدې وروسته سفير په سفارت کې د نجيب او تني ترمنځ جوړه وکړه او يوه يوولس ماده اي لوزنامه يې هم سره لاسليک کړه. د لوزنامې په اړه د محمد کبير کارواني له خوا له وزير څخه د تضمين کوونکي اړخ پوښتنه شوې وه چې هغې ته ځواب شتون نه درلود. د موافقې زيات شمير ټکي د دوو- دريو ورځو په ترڅ کې عملي شول. کله چې د دواړو اړخونو ترمنځ د توافقاتو عملی کيدل پيل شول تنی او کاروال د ولسمشر کور ته د وطني دود او دستور له مخې ورځې ترڅو د هغوی ترمنځ خوابدي او سؤتفاهم په بشپړ ډول له منځه لاړشي. پدې هکله د کب د شپاړلسمې ډرامې وروسته نجيب په يوه وينا کې وويل چې ګواکې ده تني ته ميلمستيا وکړه، آشک يې ورته پاخه کړي وو چې د ده خلاف له کړنو لاس واخلي خو هغه په کودتا لاس پورې کړ.البته چې د دسمبر د دوهمې وروسته د نجيب او تني ترمنځ په بشپړ ډول اړيکې شلېدلې وې. د توافقاتو له عملي کېدو او د نجيب او تني د ملاقات وروسته نجيب الله د سياسي بيرو په غونډه کې رپوټ ورکړ چې «مسايل حل شوي ،ملګري تني هم تيروتنه وکړه او ما هم جدي چلند وکړ ځکه چې موږ د جګړې په شرايطو کې يو ټول سؤتفاهمات حل شوي او سر د نن نه داسې شی زموږ ترمنځ نشته چې حل نشي. »۱۲۸ / ۲۰۱ لدې وروسته تنی د سياسي بيرو او د وطن د دفاع د شورا په غونډو کې بېرته ګډون کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه مهال د یوې غونډې په اړه یادونه اړینه ښکاري چې د کب د شپاړلسمې دړامي سره تړاو لري. ددې غونډې د برخه وال ګلداد په وینا د دې پېښې څلور ورځې وړاندې د کب په دوولسمه د کریم میثاق او د زندان څخه د امینیانو په نامه را خوشې شوو خلقیانو د نوښت له مخې د پنجشیري په کور کې غونډه وشوه. په غونډه کې زیري ، پنجشیري ، ګلداد او عبدالرشید آرین له یوه اړخ او میثاق، شاولي ، جوزجاني او غوربندي له بل اړخه برخه لرله. « د ناستې د ګډون کونکو مشرانو د خبرو پیل داسې وښودل شوله چې ګنې د دغې ناستې موخه، په اصطلاح د امین ډلې نورو خلقیانو سره د بېرته یوځای کول او اتفاق جوړول دي. خو له څو خبرو ښکته پورته کولو وروسته ، رکارډ د اتفاق جوړولو له خبرو څخه واوښتلو او خبرې پر کودتا کولو او نه کولو باندې را وڅرخېدلې او پیل شولې. میثاق، جوزجاني ، غوربندي او شاه ولي به په خپلو خبرو کې په تکرار سره داسې وانمود کوله ، لکه دغه خلقیان کوم چې په دولت کې پاتې او بندیان شوي نه وو، کودتا کوي او دوی هڅې کوي چې هغوی له دغې کار څخه منع کړي.زیري او پنجشیري به بیا په تکرار سره دا ورته ویل چې موږ کودتا نه کوو . خو که چیرې ستاسو پر نجیب الله زور او وس رسیږي ، نو دا هڅې وکړئ چې هغه پر موږ باندې له کودتا کولو منع کړئ. دا خبرې دومرې تکرار او ګرمې شولې چې د پنجشیري له خولې څخه دغه خبره ور ووتله: تاسې لکه چې نجیب الله توظیف کړي یاست . تاسې لکه چې غواړئ له موږ څخه داسې خبرې وباسئ چې د دولت د پالیسې ضد وي. خو موږ داسې پټ څه نلرو چې ستاسو په درد وخوري. د پنجشیري د خبرو لهجه او شکل داسې وو چې ګنې تاسې زموږ خبرې ثبتوئ او بیا یې نجیب الله او د امنیت وزارت مسؤلینو ته رسوئ ... ، زموږ د هغې ناستې خبرې اوږدې وې ، خوکومه پایله یې نلرله. زموږ هغه خبرې له دې امله بې پایلې پای ته ورسېدلې چې دوی ظاهرآ د اتفاق جوړولو خبرو په نوم باندې راغلي وو ، خو موخه یې بله وه . د هغې موخې د پېړي سر زموږ په لاسونو کې نه وه ، بلکې د هغې موخې د پېړي سر د نجیب الله او د هغه د یارانو او په خاصه توګه د شورویانو په لاسونو کې وه. زموږ د بې پایلو خبرو په پای کې وپتېيل شوله چې کومه بله ورځ به هغو خبرو ته دوام ورکوو. خو د هغې ناستې په دویمې ورځې باندې ، چې د کب میاشتې څوارلسمه نېټه کېدله ،زما دفتر ته استاذ عبدالکریم فکور راغی. هغه ماته یوه پاڼه لیکلی کاغذ راکړلو او ویې ویل چې دغه اعلامیه ( شبنامه) میثاق، شاه ولي ، غوربندي او جوزجاني خپره کړې ده ...، دغو مشرانو په هغې پاڼې کې داسې څرګنده کړې وه چې دوی پرون د زیري، پنجشیري، آرین او ګلداد سره ناسته لرله . د ناستې ګډون کوونکو د خپلمنځي اتفاق پر خبرو برسېره ، د کودتا په اړه هم خبرې سره وکړې. خو هغوی( زیری ، پنجشیري، آرین او ګلداد) د خلقیانو له لوریه څخه د کودتا کولو امکانات نه ردول...، ما هغه شبنامه سر ترپایه ولوستله، داسې راته وبرېښېدله چې هغه خادېستانو له لوریه څخه ، مخکې له مخکې لیکل شوې وه او دوی ته د نجیب الله او یا یعقوبي په لاس باندې ورکړل شوې وه. ځکه په هغې شبنامې کې هغه ډول خبرې کومې چې موږ پخپل منځ کې پرې غږېدلې او بحث مو پرې کړی وه ، هغه خبرې نه په سترګو کېدلې...، زما په فکر، ښه خبره دا وه چې د نجیب الله واکمنۍ له ړنګېدو څخه وروسته ،هغو مشرانو چې اعلامیه ( شبنامه)، د دوی په نومونو باندې خپره شوې وه ، که دوی نه وه خپره کړې نو په رسنیو کې رد کړې وای. خو دوی لا تراوسه پورې په هغې خبرې باندې غلي دي.» ۱۰۵/ ۸۶۰ – ۸۶۳ یو شمېر خلقي کدرونه پدې اند دي چې د امینیانو په نامه ځینو خلقیانو د ولسمشر او دفاع وزیر ترمنځ مخامختیا کې د ولسمشر ربښتیني ملاتړي وو چې دا شب نامه یې څرګنده بېلګه ده. که څه هم د امین پلویانو کوم منظم تشکیلات نلرل خو مېثاق او شاه ولي پر هغوی اغېز درلود. البته د شوروي یرغل وروسته په ۱۳۶۰ کې د « جنبش اصولي در حزب دموکراتیک خلق افغانستان » په نامه کله ناکله اعلامیې خپرېدې چې بنسټ ایښودونکي یې امین پلوه خلقیان وو چې کلیدي کسان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالکريم ميثاق ، بسم الله محشور او محمد يونس فکور وو. دوى د خلقيانو څخه د امين په نامه بندي شوو خلقيانو ته د مرستې په نامه پيسې ټولولې خو دا مرستې غوڅ اکثريت بنديانو ته نه دي رسېدلې .ددې غورځنګ د اعلاميو منځپانګه اشغال ضد او د هغو خلقيانو خلاف وه چې د کارمل په حکومت کې شريک وو.د شوروي اشغال پر مهال چا ندي اورېدلې چې د دې اعلاميو د خپرولو له امله د دې غورځنګ کوم غړى د اشغال زېړنده حکومت له لوري تر څارنې لاندې نيول شوى وي که څه هم په اعلاميو کې اشغال غندل کېده . عجيبه خو لا داده ميثاق د دې غورځنګ !؟ مشر په خپل کتاب کې ددې غورځنګ مازې نوم هم نه دى اخيستى. داسې ښکاري چې ددې خوځښت ترشاه مسکو- کارمل او يا خاد ولاړ وو او موخه يې د خلقيانو مصروف ساتل او د يوبل خلاف درول او مشرانو يې د پاک زړوخلقيانو د مرستو څخه ګټه پورته کوله.

د خلقيانو د کب د دوولسمې نېټې د غونډې په هکله د دستګيرپنجشيري په وينا پر درو مسئلو د نظر اختلاف وو او پريکړه وشوه چې پرهغو به په راتلونکې کې بحث ته ادامه ورکوي او خپل نظريات به سره تبادله کوي خو ددې غونډې په اړوند به د کومې اعلاميې له خپرولو څخه ډډه کيږي. د اختلاف وړټکي دا وو:

الف – د کنګرې مساله

د کارمل – نجيب سره په واک کې شريک اړخ د کنګرې د رابللو ليوال وو خو مقابل لوري( د امين پلويانو) ويل چې د کنګرې د دايريدو لپاره شرايط چمتو نه دي چې د ګوند ټول ځواکونه يکې برخه واخلي او دليل يې دا وو چې يو شميرملګري يې په زندان کې بنديا ن دي.

ب- د وسله وال پوځ د امتيازاتو مساله

لومړى ډلې غوښتل چې د وسله وال ځواک ( اردو،څارندوى، دولتي امنيت ) يو ډول امتيازات ولري خو د زندان نه راخوشې شوې ډلې د دې مسالې راپورته کول اړين نه ګڼل.

ج – لومړى ډلې د هرډول پوځي ماجراجويى چې له هرلوري ( تني يا نجيب ) څخه وي په وړاندې مبارزه غوښتله خو د مقابل لوري وړانديز دا وو چې د هرډول کودتايي اقداماتو پرضد مبارزه وشي. د امين د پلويانو له لوري د کودتايي اقداماتو پرضد د مبارزې خبره په واقعيت کې د تني له لوري د کودتا د ترسره کيدوسره تړاو درلود چې واکمن پرچمي فرکسيون تبليغاوه. په واک کې شريک اړخ يوه ورځ وروسته د نويو طرحو متن مقابل لوري ته وسپاره خو امينيانو د موافقې خلاف په همدې ورځ په اردو اوڅارندوى کې اعلاميه خپره کړه چې ګلداد هغه د امينيانو په نامه د خاد له لوري اعلاميه بولي.

د امينيانو له لوري د اعلاميې د خپرولو په ورځ په ښار کې هرې خوا ته د دولتي امنيت اړونده پوځيان ترسترګوکيدل او په مهمو دولتي بنسټونو کې ځاى پرځاى شوي وو. د زېري په وينا« د حوت په پنځلسمه د غرمې خوا ته نيازمهمند سترى ستومانه په شورا کې زما دفتر ته راغى او و يې ويل ملګرى زېرى ! سياسي او نظامي وضعه پېچلې ده ، نظامي ملګري تشويش لري وايي نجيب د دفاع په وزارت حمله کوي ...، نظاميان هيله لري چې د ګوند سپين ږيري هلته ورشي او د نظامي ښتې مخه ونيسي.» ۴۰/ ۵۹۴ همدا لامل وو چې خلقي مشران ولسمشر او دفاع وزير ته ورځي او له هغوى څخه د حالاتو توضيح غواړي او که کوم سؤتفاهم پيدا شوى وي په ګډه هغه له منځه يوسي. پدې هکله زېرى او پنجشيرى په خپلو کتابونو کې توضيحات ورکړې دي چې دلته به يې لنډيز راوړل شي. زيرى، پنجشيرى، مومند، جنرال نظرمحمد، آرين ، ګلداد لومړى دفاع وزير ته ورځي او هغه خپله پوځي شورا را غواړي . دفاع وزير انديښمن وو او دوى ته يې ويلې چې خندان د نظامي خاد مرستيال خپه وو او ښايي نن شپه د مخکنيو توافقاتو خلاف د ده ګوښه توب له رسنيو څخه اعلان کړي. نجيب بيله دې چې ستردرستيز په جريان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچوي ملي ګارد يې د احضاراتو په حالت کې راوړی دی . بنايي د دفاع د وزارت د رهبرۍ د نيولو او يا د بريد پلان ولري. شهنوازتني رپوټ ورکړ د ځواکونو تناسب مو مساوي دی. که نجيب په رهبري بريد وکړي او وضعيت کړکيچن شي. اردو د خلکو د واکمنۍ څخه د دفاع پرته بله چاره نلري. پدې صورت کې اردو کولی شي د خلق د فرکسيون نه دفاع وکړي.د خلق د فرکسيون مشرتابه پداسې يوه حالت کې ځانونه د زرهدارې ۱۵ قوا قوماندانی جنرال عبيدګل ته ورسوي. تني اضافه کړل چې له نجيب څخه هيله وکړئ چې د۱۳۶۸ کال د قوس د شلمې ژمنې نقض نکړي. د تني پوځي شورا پدې ټينګار درلود چې اختلافونه بايد د خبرو له لارې حل شي . جګړه او مخامختيا د هيڅا په ګټه نه ده. د آرين او ګلداد پرته دا خلقي مشران د تني سره د ليدو وروسته ماخوستن جمهور رئيس ته ورځي. نجيب پدې کتنه کې د تني څخه سر ټکولی او دا يې هم ورته ويلي دي .« تنی د سياسي بيرو اصلي غړي ، سترجنرالۍ او د جمهورريس مرستيالی ته راپورته کوم پدې شرط چې د دفاع وزارت څخه په خپله خوښه او ښېله کوم غبرګون ګوښه شي.» د ليدنې په پای کې نجيب زېري او پنجشيري ته ويلي وو په تاسو په قهر يم . زېري په موسکا ورته ويلي موږ کولی شې اوس بندي کړې چې آرام شې.نجيب دوی ته دنده سپاري چې سبا يا بل سبا ته خپل وړانديزونه ده ته وسپاري. هغوی له ولسمشرسره له کتنې وروسته خپلو کورونو ته ځي او مومند ته دنده سپاري چې د کتنې په اړه تني ته معلومات ورکړي. د نجيب دا خبره چې دفاع وزير ته امتيازات ورکوم پدې شرط چې له دفاع وزارت ګوښه شي ښيي چې د وزير په توګه تنی نشي زغملی ځکه د دفاع د وزير په توګه د هغه پاتې کېدل د ده خو په واقعيت کې د شورويانو د پلانونو او نقشو خنډ ګرځي. تنی وايي :« کله چې دوی ( خلقي مشرانو) له نجيب الله سره په نيمې شپې وکتل او خبرې وکړې ، نو بيا يې ماته په هغې شپې باندې له خپل منځ څخه نيازمحمدمومند را ولېږلو.مومند په څرګندو ټکو کې را ته وويل چې نجيب الله دوه پښې په يوې موزې کې کړې دي او وايي له خپل تصميم څخه نه اوړم » ۱۰۵/ ۸۷۹ يعنې دا چې تنی بايد د دفاع وزارت څخه ګوښه شي. ګومان کيږي چې تنی اومومند د نجيب دريځ او د دفاع وزارت د قرارګاه شاوخوا د دولتي امنيت د جزتامونو شتون ته په کتو سره او يا ښايي تني ته د دفاع وزارت څخه د ګوښه کېدو پيغام ور کړل شوی وي دې نتيجې ته رسيدلي دي چې سبا سهار د خپلو کورنيو سره له هيواد څخه ووزي. تنی خپل ياور د هوايي قواوو د پخوانی سياسي آمر ډګروال حکيم کورته استوي ترڅو هغه وزير ته راولي . هغه د شپې ناوخته وزير ته ورځي او وزير له هغه نه غواړي چې ده ته د ډادمن پيلوټان ور وپيژني. همدا رنګه تني د هوايي او مدافعه هوايي قوماندان جنرال عبدالقادر اکا د دفاع وزارت قرارګاه ته ور غواړي. اکا د دې کتنې په اړه ليکي :« په آخره ورځ مې چې شهنواز تنی ډېر نيازمند وليد، نو خپله مرسته مې له ده څخه ونه سپموله او بګرام ته مې پدې هيله ورساوه ،چې له هغه ځای څخه کوم مصؤن ځای ( داخل يا خارج) ته د تګ امکان پيدا کړي.ګمان کېده چې تنی به د فرار کوم پلان ولري ...هغه وخت نو د شهنواز تني حواسو او مفکورې کاملاً تغير وکړ او د بګرام ګارنيزيون قومانده يې په خپل لاس کې ونيوله . نو په هغه لحظه کې يوه شوم چې زه د يوه تر سره شوي عمل سره مخامخ يم دا په داسې حال کې چې زما او نجيب الله ترمنځ ښې اړيکي وې.» ۱۷۰ / ۲۵۸ سبا سهارتنی د يوه جيپ په واسطه په پټه د خپلې قرارګاه نه د چهارکلاه- ميرويس ميدان له لارې ځان مرکزي سيلو ته رسوي اوهلته يې خپله کورنۍ ،نيازمحمدمومند اوکورنۍ يې ورسره يو ځای کيږي او شيرپور ته چيرې چې دوه ويشتمه لوا ده ځي اود نوموړې لوا قوماندان جنرال عزيزالرحمن سره ګډ د زرهپوښ په واسطه د خواجه رواش نه جنرال عبدالقادرآګاه هم ورسره اخلي او بګرام ته ځي. په همدې ورځ ( د حوت شپاړلسمه ) نجيب الله د يوولس بجوشاوخوا جنرال نظرمحمد ته ټلفوني وايي چې پرونی پلاوی چې نجيب هغه د سولې کميسيون يادکړی په يوه بجه ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارګ ته ورشي. د سولې کمیسیون د نیازمحمدمومند پرته په مرکزي کمیټه کې د پنجشیري په دفتر کې راټولیږي او د ولسمشر دفتر ته د ټلفون پواسطه د ورتلو خبر ورکوي خو دوی ته ویل کیږي چې ولسمشر نشته او دوی دې انتظار وباسي. څوشیبې وروسته په ارګ باندې د الوتکو بمباری پیلیږي. دا مهال جنرال نظرمحمد د بمباریو په اړه مختلفو ځایونو ته ټیلفون کوي او د دفاع وزیر د دفتر څخه ورته ویل کیږي چې د دفاع وزارت په مقر د درنو وسلو ډزې روانې دي. د پنځو بجو وروسته د خاد وسله وال افسران په مرکزي کمیټه کې د نوموړو دریو تنو په لاسونو کې زولنې وراچوي او په ارګ کې یې بندیانوي. د هفتې په نامه د واکمن فرکسیون پټ اخبار د۱۳۷۰ کال د زمري د۱۷ نیټې په دریمه ګڼه کې راغلي وو :« ډاکټرصالح محمدزیری ، ډګرجنرال نظرمحمد اوغلام دستګیر پنجشیری د۱۳۶۸ کال د کب په ۱۶ د مرکزي کمیټې په مقر کې د راډیویي ویناوو او اعلامیو سره د رهبری په انتظار ناست وو.» کله چې د مخکې څخه چمتو شوو ویناوو او اعلامیو خبره کیږي غوره دا وه چې اخبار دا ویناوې او اعلامیې هم خپرې کړې وای او یا حکومت د پېښې په ورځ د رسنیو له لارې خپرې کړې وای . واقعیت دا وو چې نوموړي دری تنه نجیب الله ور غوښتي وو. له بله پلوه یوه ورځ مخکې تنې دوی ته ویلي وو که وضعیت کړکیچن شي او خبره پوځي مخامختیا ته رسیږي خلقي رهبري دې ۱۵ زرهدارې لوا ته چیرې چې د دوی خوندیتوب تضمین دی لاړشي نه دا چې مرکزي کمیټې ته چیرې چې د دولتي امنیت د لسم ریاست اړونده پنځمې لوا د کنټرول لاندې ساحې ته چې مشر یې شاه پوراحمدزی د نجیب الله ورور وو ولاړ شي. دا به لیونتوب وي چې خلقي مشران داسې ځای ته لاړشي چې د امنیت دنده یې غلیم ولري.د دفاع وزارت په قرارګاه باندې د برید په اړه ویل کیږي چې د هوایي بمباریو نه مخکې په هغه برید پیل شوی وو او ځینې بیا د هوایی بمباریوسره سم په دفاع وزارت د درنو او سپکو وسلو د ډزو خبره کوي. د کب په شپاړلسمه له غرمې مخکې په مرکزي قطعاتو کې د مخکې نه د تثبیت شوو خلقیانو نیونې او وژنې هم پیل شوې وې . د پوځي مخامختیا یا کودتا په لومړیو شیبو کې د دولت له لوري د راډیو او ټلویزیون له لارې په پرله پسې توګه دا اعلانونه خپریږي چې د تنې او حکمتیار کودتا د دولتي ځواکونو له لوري شنډه شوه او د دفاع او کورنیو چارو نوي وزیران محمداسلم وطنجار او رازمحمد پکتین ټاکل شوي دي. تنې بګرام ته په رسیدوسره جنرال عبدالفتاح د هوایي او هوایي مدافعې قوماندان چې یوه ورځ مخکې بګرام ته تللی وو ترڅارنې لاندې نیسي اوله هغه ځایه جنګي الوتکو ته د ارګ د بمبارۍ اوامر صادروي. د دفاع د وزیر لخوا د قرارګاه پرېښودل ددې سبب شول چې ده ته په مرکز کې وفادار ځواکونه په دفاع وزارت باندې د دولتي امنیت او د دوستم د ملیشو د برید له امله کوم غبرګون ونه ښیي ځکه چې هغوی ته کومه قومانده نه وه ورکړل شوې. د دې خبرې څرګند ساری په مکرویانو کې پرته د دافع هوا قطعه وه چې هلته یوه خلقي کدر د سرتیرې په توګه دنده لرله داسې کیسه کوي.زه د غونډ په انګړکې ولاړ وم چې په ښار کې ډزې پیل شوې دا مهال استاد ګلداد د مرکزي کمیټې غړی غونډ ته راننووت او د هغه سره یو ځای د قوماندان دفترته لاړم ، هغه د قطعې د درستیزوال ډګروال غلام حسین څخه وغوښتل چې د دفاع وزیر سره اړیکه ونیسي چې څه خبره ده او غونډ څه وکړي ؟ د وزیر له دفتر نه کارواني ورته وایي چې پخپل نوښت عمل وکړئ. کله چې په پوځ کې امراو قومانده نه وي او پوځیانو ته د خپلې خوښې او یا په خپل سر اجرآتو آزادي ورکړل شي دا نو پوځ نه بلکې یوه ملکي اداره ده چې په ملکي ادارو کې هم دا ډول خپلسریو ته اجازه نه ورکول کیږي. له بله پلوه ښیي چې د دفاع وزارت د کوم پوځي عمل یا کودتا لپاره کوم مخکېنی پلان نه درلود چې د جزوتامونو دندې پکې تثبیت شوې وي.

د جنرال دوست محمد د دفاع وزارت د تفتیش ریاست د عمومي رییس په وینا لوی درستیز جنرال محمدآصف دلاور د کب په اوولسمه سهار وختی موږ( دوست محمد، جنرال فاروق ناصري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوجنرال محمداسمعيل وردګ) د دفاع وزارت په قرارګاه کې چې د کب په شپاړلسمې شپه تيره کړې وه د جنرال بابه جان سره يو ځاى راغى او ويې ويل: « مونږ په تنې ټولى لاړې تړلې وې نه پوهيږم چې هغه په کومه لار له مانۍ نه وتلى دى.» بګرام ته په رسيدو سره تنې د نجيب الله خلاف هوايى ګوزارونه ترسره کړل هغه ګوزارونه چې د پليو او ټانک ځواکونو د ګډو عملياتو پرته بې مفهومه ګوزارونه وو. د دفاع د وزير دا ډول چلند په حقيقت کې د لوبې د هغه ناکام لوبغاړي چلند ته ورته وو چې د لوبې منل شوي اصول او مقررات په پام کې و نه نيسى اوغواړي پرته له منل شوو اصولو او مقرراتو خپل سيال له پښو وغورزوي چې دا شونې نه ده. د۱۹۹۰ کال د مارچ د پنځمې ( کب شپاړلسمې ) نېټې د پوځي مخامختيا يا ډرامې چې هغه دولت د تنې – ګلبدين د کودتا په نامه تبليغ کړله څرګنديږي چې هغه د نبى عظيمى له لوري پلان شوي پوځي عمليات وو چې منظوري يې مخکې جمهوررئيس ورکړې وه. پدې اړه د پام وړ خبره دا ده نبي عظيمي چې د کب ۱۶ پوځي مخامختيا کې يې د دولتي ځواکونو د عملياتو لارښوونه کوله د خپل اردو وسياست در سه دهه اخير نومي کتاب په ۴۱۵ مخ کې هغه څه ليکي چې د شهنوازتنې لخوا پوځي کودتا نفي کوي بلکې د پرچميانو له لوري په دفاع وزارت بريد ښيي. نوموړى د کب په پنځلسمه نيټه د کابل په ښار کې د دولتي امنيت د ځواکونو د شتون په اړه چې د جمهور رييس د مرستيال جنرال محمدرفيع په امر راوتلي وو ليکي :« رفيع فوق العاده وضعيت اعلانوي دى د مرحوم يعقوبي سره ګډ د کابل ګارنيزيون ته راغلى دى. له موضوع نه خبرشوم او ګارنيزيون ته راغلم . د ښار بنې عصبي کړى وم رفيع ته مې وويل ...زما په څوکى کې ناست يې او د تنې د لمسونې لامل ګرزيدلى يې موږ سخته مشاجره پيل کړه ... وروسته يې راته وويل ( منظوريې نحيب الله وو) هغه وخت رارسيدلى دى چې خپله خريطه رفيع او يعقوبي ته پرانيزې او هغوى د کودتا د شنډولو په جريان کې واچوې. موږ د ارګ د ګلخانې په دوهم پوړ کې کيناستو او دوى دواړو کومه اضافي خبره او نيوکه نلرله. يعقوبي د پلان د شتون له امله ډير خوښ شو او پريکړه وشوه چې پلان پلى شي.» د عظيمى له څرګندونو څخه معلوميږى چې د نجيب الله په دستور رفيع او يعقوبى کابل ګارنيزيون ته تللي چې عظيمى هغوى ته په دفاع وزارت باندې د پوځي عملياتو د بريد خريطه ( نقشه) ور وښيي که اړينه وي هغه اصلاح او بشپړه يې کړي او ګډې پريکړې ته له رسيدو وروسته ارګ ته ورشي ، د پرچمي ملکي مشرانو سره هم هغه شريکه کړي ، د هغوى هوکړه هم ترلاسه کړى او د کب په ۱۶ يعنى سبا ورځ هغه عملي کړي. د دوى دا فعاليت په واقعيت کې د پوځيانو په خبره د وضعيت محاکمه وه چې معمولاً د تعرض ( بريد) مخکې ترسره کيږي . د جمهوررئيس له لوري د وضعيت د محاکمې ترسره کيدل د صدراعظم کشتمند د ليکنې پربنسټ چې« يوه ورځ مخکې ويل کيدل د هوايي او مدافعې هوايي ټول ځواکونه د دولت پلويان دي ، خو وروسته څرګند شول چې جنرال قادراکا د هوايي قوا قوماندان تر وروستيو شيبو پورې وطنجارغولولى وو.»۳۹ / ۱۰۰۸ ښيي چې نجيب يا کشتمند د کب په پنځلسمه د پرچميانو د ملکى او پوځي ټيم سره په ټولو جزئياتو د مقابل لوري او حکومت ته د وفادارو ځواکونو د امکاناتو څيړنه کړې وه او بريد ته يې بشپړه آمادګي نيولې وه خو د کشتمند په وينا چې جنرال اکا وطنجار غولولى وو او يا د اکا په خبره د نيازمند تنې سره يې همکاري وکړله د دوى محاسبه يو څه نيمګړې را وختله. د تنې سره د اکا مرسته د دې لامل شو چې هوايي قوتونه د نجيب الله د ځواکونو په ملاتړ نه بلکې د تنې په ګټه دريغ غوره کړي او پدې ډول پرچميان فکر وکړي چې ګواکې اکا وطنجار غولولى دى .

د کب په شپاړلسمه د بګرام په هوايي ډګر باندې د مزارشريف د هوايى ګارنيزيون د جنګي الوتکو د بمباريو له امله تنى او ملګري بې اړ شول چې يوه ورځ وروسته د کب په اوولسمه د يوې ان - ۱۲الوتکي او يوې چورلکې پواسطه د پاکستان په لور پرواز وکړي. الوتکه په پاره چنار کې کښته کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چورلکه چې په هغه کې تنی او نیازمحمدمومند وو د پاکستاني جنګي الوتکو لخوا په جمرود کې په یوه پوځي اډه کې کیناستو ته اړایستل کیږي. ځینې پیلوټان وایي چې د مزار شریف د هوایي ګارنیزیون د جنګي الوتکو سربېره شوروي الوتکو په بګرام او کابل ښار بمباری ترسره کړلې.

یوه خبره چې لا تراوسه بې ځوابه پاتې ده او تنی هم د هغه په اړه له ویلو ډډه کوي هغه دا ده چې د تني سره پا کستان ته تېښتیدلي کسان د یوه تن ( غلام جیلاني یفتلي ) پرته ټول خلقیان وو. یفتلي د کابل پوهنتون د ښووني اوروزنې د پوهنځي استاد، د بدخشان اوسیدونکی او د اسلامي جمعیت شک پرې کېده. د یفتلي شتون له تني سره دا ګومان را پیداکوي چې تني غوښتل د جمعیت د ډلې تر ولکې لاندې سیمې ته ولاړ شي. پاکستاني پوځیان له تني او د هغې سره تېښتیدلو ملګرو څخه غواړي چې بیرته خپل هیواد ته ستانه شي ،تني دهغوی نه د تیلوغوښتنه کوي خوهغوی د تیلو له ورکولو څخه ډډه کوي . پاکستانیان تنی له نورو تېښتېدلو افغانانو جلا کوي. په همدې ورځ ( کب اوولسمه) ماښام د بي بي سي راډیو نه د تني مرکه خپریږي چې په هغې کې د هغه له لوري د نجیب ضد کودتا خبره کوي اودا هم وایي چې ده ته وفادار ځواکونه د دولتي قوتونوسره په جګړه بوخت دي ، هغه څه چې واقعیت یې نه درلود ځکه چې د کب په اوولسمه په کابل کې قطعاً نښتې نه وې. البته د دفاع وزارت د قرارګاه د ۲۳۵ قطعي پرته د کب په شپاړلسمه د کابل په یوه جزوتام کې نښته ونشوله. دا چې د کب په شپاړلسمه د شپې په رارسېدو سره په کابل کې وضعیت نورمال وو هغه به له عظیمي ولولو :«د شپې پراتو بجو د کابل ګارنیزون سلاکار عظیمي دفتر ته ورځي او عظیمي ته وایي په سفارت کې وضع آرامه ده ټول او له هغو نه سفیر اوس ستاسو په بري باور پیداکړی دی.» ۱۲۹ / ۴۱۹ داسې ښکاري چې کله پاکستانیانو تنی له خپلو ملګرو جلا کړی دی د بي بي سي خبریالان یې هلته راوستلي دي او له تني سره یې مرکه کړې ده. تنی او د هغه ملګري هغه شپه په نوموړې پوځي اډه کې تیروي او سبا ته پاکستانیان ګلبدین حکمتیار نوموړي اډې ته راولي او د افغانستان د دفاع وزیر ډګرجنرال شهنوازتنی او د هغه سره پاکستان ته تللي ملګري هغه ته ورسپاري.دې کار د دولت له خوا پرهغو تبلیغاتو د سموالي مهر ولګاوه چې ګواکې تني او ګلبدین په ګډه کودتا کوله چې د دولتي ځواکونو لخوا شنډه شوه.عجیبه دا ده چې د کب د شپاړلسمې ډرامې وروسته ګڼ شمېر پوځي او ملکي کدرونه پاکستان ته وتښتېدل یا خپلو سیمو ته لاړل چیرې چې وسلوال مخالفین واکمن وو. دا ډله خلقیان که هر تنظیم ته ورغلي وو یا هغوی نیولي دي ټول یې د څه مودې وروسته اسلامي حزب ته تسلیم کړې دي . دا بیا ښيي چې د حکمتیار اسلامی حزب ته د تښتېدلو خلقیانو تسلیمول د پاکستان یا د هغه د نړیوالو ملاتړو نقشه وه چې هم خلقیان او هم د حکمتیار اسلامي حزب کمزوری کړي . همدا لامل وو چې د حکمتیار ځینو سازماني لوړپوړو له هغه څخه لاره جلا کړله .

که چیرې تني او حکمتیارپه ګډه سره غوښتل د نجیب الله ضد کودتا وکړي د حکمتیار ډلې به هم د مارچ په پنځمه ( کب شپاړلسمه)په کابل او یا نورو ولایتونو کې د دولت خلاف عملیات کړي وای چې پدې ورځ اسلامي حزب او یا بل کوم تنظیم هیڅ ځای په کوم دولتي ضد عمل لاس پورې نکړ. عجیبه دا ده چې د کب په شپاړلسمه د بګرام هوایي ډګر د احمدشاه مسعود د جنګیالیو د توغندیو هدف وګرزید. دې دا ښودله چې مسعود نه دا چې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د سیالو ډلو د پوځي مخامختیا څخه خبر وو بلکه د نجیب الله په ننګه او د تني خلاف یې دریځ غوره کړی دی .د اسلامي جمعیت د تنظیم کدر محمداکرام اندیشمند د خپل کتاب« سال های تجاوز ومقاومت » نومي کتاب په ۱۱۷ مخ کې د کب د شپاړلسمې د ډرامې په هکله لیکي :« په پوځ کې د شهنوازتني او ملګرو د کودتا خبر د کودتا څخه یوه اونۍ مخکې د نظار د شورا په نشراتي ارګان ( شوری ) کې چاپ او خپورشوی وو. احمدشاه مسعود د نجیب الله د رژیم په وسله والوځواکونو کې خپلو پلویانو ځواکونو ته هدایت ورکړی وو چې د تني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکمتیار د اسلامي حزب د کودتا د بري مخه ونيسي.» دا چې وسله وال مخالفين هم د تني له کودتا څخه خبر وو ښيي چې ټول افغانستان د تني له کودتا څخه خبر وو او تني بيا هم کودتا کوله چې د سليم عقل خاوندان به په داسي يوه وضعيت کې کودتا ونکړي. خو واقعيت دادی چې تني نه د کودتا خيال درلود او نه يې د کودتا هڅه کړې ده بلکه دا دوه احتماله شتون لري چې د کب په پنځلسمه د ماښام په رارسيدو سره د دفاع وزارت قرارګاه د دولتي امنيت د ځواکونو له لوري محاصره شوې چې دا کار شوی هم وو يا دا چې په همدې ماښام د نجيب الله پيغام تني ته ابلاغ شوی دی چې د دفاع وزارت څخه ګوښه شي چې پدې دواړو حالاتو کې يې خپل ژوند ته ګواښ ليده، شپه يې د دفاع په وزارت کې تيره کړه او د رسمياتو په پيليدو سره په پټه له قرارګاه څخه ووت او ځان يې د بګرام هوايي ډګر ته د جنرال اکا په مرسته ورساوه. د کب په شپاړلسمه د غرمې وروسته د يوې بجې مخکې د دولتي امنيت او د جنرال محمدنبي عظيمي په مشرۍ د کابل ګارنيزيون ځواکونو او د دوستم مليشو په دفاع وزارت بريد وکړ، د مرکز په جزوتامونو اوپوهنيزو پوځي بنسټونو کې يې خلقي افسران ونيول او ووژل او تني په غبرګون کې د بګرام څخه جنګي الوتکو ته په ارګ د بمبارۍ اوامر صادر کړ.

د دولتي امنيت د ځواکونو لخوا د دفاع وزارت په قرارګاه بريد يا د کب د شپاړلسمي ډرامي وروسته واکمن فرکسيون په خپلو تبليغاتو کې د حکمتيار او د پاکستان دولت سره د تني اړيکو ته ګوته نيوله خود نجيب الله صدراعظم څو کاله وروسته د خپل حکومت د پخوانيو ادعاوو او څرګندونو خلاف ليکي:« پدې هکله چې ويل کيږي شهنوازتني مخکې له حکمتياراو د پاکستان له پوځي استخباراتي ادارې سره اړيکه درلوده کوم لاسوند نشته ، خو هغه ښايي بله لارنلرله چې يوازې ځان هلته ورسوي .»۳۹/ ۱۰۱۱ د ۱۳۶۸ کال د کب د شپاړلسمي نيتي پوځي مخامختيا ( ډرامه ) محمدابراهيم عطايي داسي ارزوي : «د کی جی بی فعالانو وضعه داسي راوستله چې تنی اغفال او نجيب الله ته ووايي چې په ناڅاپي ډول پرهغه بريد وکړي. دا پلان داسي ماهرانه ترتيب شوی وو چې جنرال تنی په وروستيو شيبو کې وپوهيږي، په بيړه سره هوايي بمبارئ پيلوي او داسي ښيي چې لومړی بريد د تني له لوري ترسره شو.» ۱۷/ ۴۵۲ پدې ډرامه کې چې کی جی بی له نجيب الله سره همغږې وه او د هغه ملاتړ يې کاوه د نجيب الله پوځي سلاکارليکي:« د۱۹۹۰ کال د مارچ په بغاوت (د ۱۳۶۸د کب کودتا) کې لکه څرنګه چې وروسته وپوهيدم زموږ د کی جی بی استازي د جمهور رئيس د مخکنيوآمادګيو څخه خبر وو، داسي معلوميږي چې په مسکو کې ناستو آمرانو يې اجازه نه وه ورکړې چې موږ خبر کړي.حتی په مسکو کې د دفاع وزير او لوی درستيزهم په جريان کې نه وو اچول شوي.» ۱۹۶/ ۱۷۹ پدې پيښه کې زياتره وژل شوي پوځيان هغه پيژندل شوي خلقي جنرالان او افسران وو چې هغه مهال په تعليمي مؤسسو او قرارګاوو کې دندې لرلې او په نوموړو بنسټونو کې هيڅ ډول دولتي ضد فعاليت نه وو شوی چې کيدای شي د حربی پوهنتون د تدريساتو رئيس ډګروال محمدزي نيک مل، د افسرانو د عالي کورس استاد ډګروال شهنواز شيواني او جعفر سرتيپر، د حربي ښوونځي مرستيال ډګروال سيدانور او ډګروال فېروز د دفاع وزارت د قرارګاه افسر نه يادونه وشي. دا بيا ښيي چې پرچميانو د هغو ژمنو خلقيانو د له منځه وړلو پلان درلود چې د پرچميانو د واک د انحصار او يکه تازيو په وړاندې د دريدلو مخينه او په پوځ کې يې اړين اغيز او اعتبار درلود ترڅو په راتلونکې کې د واکمن فرکسيون د معاملو په وړاندې خنډ نشي. عجيبه دا وه چې د کب په اوولسمه د صدارت په دروازه کې د خلقي بنديانو لست ځړول شوی وو چې په هغه کې د وژل شوو او تښتيدلو خلقيانو نومونه هم تر سترګوکېدل. دا بيا ښيي چې دا نوملړ د کب له شپاړلسمي مخکې ترتيب شوی وو.

د کب د شپاړلسمي ډرامي واقعيت د حربي پوهنتون د تدريساتو د رئيس محمدزي نيک مل له

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژني معلومېږي. د کب په شپاړلسمه د غرمې مخکې يو شمير خلقي افسران د حربي پوهنتون د قوماندان جنرال عبدالستار دفترته غوښتل کيږي. هغوی د راټولېدو وروسته د سينما د تالار د څمکې لاندې يوې کوټې ته وړل کيږي او نيک مل د تدريساتورئيس هم هلته تر نظارت لاندې نيول کېږي. ماپښين د حربي پوهنتون د انضباطو د ټولي قوماندان پنجشيری احمدجی راځي او نيک مل پدې نامه چې قوماندان غوښتی دی له ځان سره وړي. يوه ورځ وروسته يې جسد د ترميم خانې شا په يوه کنده کې پيداکيږي. که د حکومت ادعا ومنل شي چې تني کودتا کوله او بمباری د ماپښين په يوه بجه پيل شولې نو د حربي پوهنتون قوماندان د غرمې مخکې ولې خلقي افسران بنديان کړل . دا بيا ښيي چې حکومت په همدې ورځ د خلقيانو د ځپلو پلان درلود او پرچمي قوماندانانو د نجيب د مخکني دستور له مخې اجرآت کول. د حوت په شپاړلسمه د دفاع وزارت په قرارگاه ( دارالامان ) تاريخي مانی باندې د توپونو، ټانکونو او نورو درنو وسلو ډزې وشولې چې مانی يې سخته زيانمنه کړې وه . وروسته له دې چې دا مانی سخته زيانمنه شوه نجيب ته وفاداره ځواکونو (دولتي امنيت او د دوستم مليشو) په مانی کې پراخ تصفيوي عمليات چې د مانی چور او تالان وو پيل کړل، د ټلويزيونو نه نيولې تر سترو قنديلونو او يخچالونو پورې ټول لوټ او تالان شول. ددې عملياتو عمومي قوماندان جنرال عظيمي چې د دې برياليو عملياتو له امله سترجنرال هم شو د دارالامان د مانی د تجهيزاتو او وسايلو د تالان په اړه ليکي : «له بلې خوا د کودتا ضد کسانو هغه داسې لوټ کړي وو چې په هغې کې هيڅ شی نه پيدا کيدل.»۱۲۹ / ۴۲۴ پدې پيښه کې اتيا تنه خلقي افسران ووژل شول او د اته سوه تنو شاوخوا بندي شول . محکمې سلو تنو پوځيانو او ملکيانو ته د اعدام حکم صادر کړاو نورو ته د دايمي او اوږدمهاله قيد سزا اورول شوې وه. د وژل شوو خلقي افسرانو جسدونه د ټلويزيون په پرده څو ځله وښودل شول . کله يې چې د وژل شوو افسرانو جسدونه د تلويزيون په پرده ښودل د وژل شوي کاروانی ميرمنې ويلي وو :« نجيبه! همداسې په گوليو سوروی سوروی دې غواړم . » د شهنوازتني د پوځي قرارگاه د غړو د وژنې يادونه هم اړينه ښکاري . د تفتيش د عمومي رئيس جنرال دوست محمد په وينا چې د کب په شپاړلسمه د دفاع وزارت په مقر کې يې د جنرال فاروق ناصري ، جنرال محمدآصف شور، جنرال خان آقا بانديزی ، جنرال محمداسمعيل وردگ ،ډگروال محمدکبير کاروانی سره وو او شپه يې هلته تيره کړې وه وايي: « د کب په اوولسمه سهار وختي په تياره کې شور، بانديزی او کاروانی د دارالامان له مانی څخه ووتل او د بانديزي له قوله دوی د ريشخورو په لور وخوځيدل او نور دری تنه په مانی کې پاتې شوو. په لار کې شوراو کاروانی غوښتي چې په ريشخورو کې پرتې د توپچي لوا ته ولاړشي خو بانديزي نه دي ورسره منلي، هغه غوره گڼلي چې پټ شي او سره جلاکيږي. شور او کاروانی لوا ته ننوزي چې د لوا قومانده نجيب ته وفاداره پوځيانو نيولې وه هغوی نيسي او د توپچي د لوا په مرکز ثابت د مخابرې په مرکز کې يې وژني او جنازې يې د دارالامان مانی ته ليږدولي گڼي هغوی په جگړه کې ووژل شول.په قرارگاه کې پاتې دری جنرالان د کب په اوولسمه نيټه د لوی درستيز دلاوراو جنرال بابه جان په واسطه د خاد پنځم رياست ته وړل کيږي هلته توقيف او وروسته د څرخي پله په زندان کې بنديانيږي.» د پوځي مخامختيا وروسته په پوځ کې عمومي څنډنه پيل او د سترو جزوتامونو په مشرتابه کې په پرچم پورې تړلي او د نجيب سره ولاړ خلقي جنرالان او افسران وگومارل شول. د څارندوی او اردو هغو خلقي جنرالانو او افسرانو ته چې د پرچميانو سره د ځپلو خلقي ملگرو په ځپلو کې همکاري وکړه لکه جنرال عظيم زرمتی، ډگروال دريا زرمتی ،جنرال ولي، جنرال محسن هلالي ،ډگروال کاظم ،جنرال امام الدين، جنرال عبدالله او ...،په يوه يوه ترفيع ونازول شول. اسلم وطنجار ، فاروق يعقوبي ، آصف دلاور او نبي عظيمی ته د سترجنرالی رتبې ورکړل شوې. نه يوازې د افغانستان د وسله وال پوځ جنرالان او افسران چې د تني د پلويانواو شکمنو خلقيانو په ځپلو کې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلیدلي وو تقدیر شول بلکي « د هغو شوروي سلاکارانو د تقدیر مساله هم طرحه شوه چي د۱۳۶۸ کال د کب د شپاړلسمي نیټې په خنثی کولو کې یې پوره ونډه اخیستې وه ، یوازې د کورنیو چارو په وزارت کې دیارلس تنه سلاکاران تقدیرشول.»۱۲۸ /۲۲۱ د شوروي سلاکارانو تقدیر ښیي چي د۱۳۶۸ کال د کب د شپاړلسمي نیټې ډرامه د مسکو او د پرچمیانو ګډه دسیسه وه. پدې ډرامه کې ظاهراً نجیب الله بریالی شو خو اصلي ګټونکی یې مسکو او بایلونکی یې افغان لوری وو.

له یورتنیو څرګندونو څخه دا پایله راوزې چي د شورویانو د استحباراتي لوبو پر بنسټ نجیب او تنی د پوځي ټکر ترکچې ولوبول شول او د دولتي امنیت ځواکونو او د دوستم ملیشو د تني او د هغه د پلویانو د نیولو او وژلو په موخه عملیات پیل کړل ، تنی د بګرام هوایي ډګر ته د خپلې کورنۍ سره په تېښته بریالی شو او له هغه ځای څخه یې په ارګ د بې مفهومه بمباریو قومانده ورکړله او تني ته وفادارو پلې او ټانک ځواکونو د دولتي امنیت په جزوتامونو باندې او یا د هغو خلاف کوم عملیات تر سره نکړل ځکه چي هغوی ته د عملیاتو قومانده نده ورکړل شوې او پایله یې دا شوه چي تنی او څو تنه پلویان یې پاکستان ته پناه یوسي او نجیب الله پلوي ځواکونه د تني د اتیا تنوشاوخوا پلویان ووژني ، سلګونه تنه بندیان کړي او په دفاع وزارت خپل برید د تني - ګلبدین د کودتا په نامه اعلان کړي. د تني په قومانده په ارګ بمباریو د حکومت هغو تبلیغاتو ته چي تني کودتا کوله د صحت مهر ولګولو او پدې ډول د نجیب الله له لوري پرخلقیانو د خپلې کودتا پېټی د خلقیانو په اوږو بار کړي .

د ګلداد د لیکني له مخې شهنواز تنی د نجیب الله په وړاندې پوځ ته د تیارسی د قوماندې ورکولو، په ارګ د بمباری او پاکستان ته د خپلې تېښتې په اړه لاندې دلیلونه راوړي :

« ا- پوځ ته د تیارسی د ورکولو په هکله وایي چي ما پدې کار سره چي هغه « کوچنی اکټ » بولي د نجیب الله د غلې کودتا مخه ونیوله چي هغه د خلقیانو د بندیانولو او بیا د محکمې کولو له لارې غوښتل په بشپړ ډول د خلقي خوځښت هډونه ورمات کړي. پوځ ته د تیارسۍ ورکولو وروسته هغه د خلقي افسرانو له زنداني کولو او محاکمې ډډه وکړه او دا خپل بری ګڼي.

۲- په ارګ د بمباری په هکله وایي کله چي زه په بګرام کې وم او په حربي پوهنتون او حربي ښوونځي کې د خلقي ملګرو له نیولو او وژنو او بیا په دفاع وزارت د برید معلومات را تلل د اکا او مومند سره د مشورې وروسته په ارګ د بمباریو پدې خاطر امر ورکړ چي هغوی (د نجیب الله پلویان ) له وحشتونو او وژنو لاس واخلي.

۳ – پاکستان ته د تګ پرته بله چاره نه وه . شوروي اتحاد ته تګ ځانوژنه وه او ایران هم هغه مهال د نجیب الله سره ښې اړیکي لرلې که هلته تللي وای ښایي شکه یې حکومت ته سپارلو. تنی د خپلې تېښتې دلیل دا راوړي چي د کب په پنځلسمه د دفاع وزارت شاوخوا د دولتي امنیت ځواکونه ځای پرځای شول او دفاع وزارت ته راغلي لارې ټولې د دولتي امنیت د ځواکونو له لوري ترڅارني لاندې نیولي وې. پداسې یوه حالت کې زه باید پدې تمه په خپل دفترکې د نجیب د پلویانو انتظار وباسم چي راشي بندي مې کړي یا مې ووژني او یا پوځ ته د متقابل برید یا حملې امر ورکړم. په لومړي حالت کې د بندي کولو وروسته د غیرانساني شکنجو له امله اړ شم ووایم چي ما کودتا کوله او ونیول شوم او خپل کودتایي ملګري هم د دوی په خوښه ورته معرفي کړم او بیا موږ د ملي خاینانو په توګه اعلان کړي . د نجیب د پلویانو له لوري زما د وژني وروسته اعلان کړي چي د حکومت خلاف د پوځي هڅې له امله زه ووژل شوم او د ملي خاین په نامه ما او نور خلقیان اعلان او هغوی محاکمه کړي. متقابل برید او حمله مې ځکه نه کول چي زه د خپلو خلقي مشرانو د لېندې د شلمې پرېکړې ته ژمن وم. د هغې پرېکړې وروسته ما د نجیب ټول دستورونه او امرونه که زما په مزاج برابر هم نه وو عملي کړي نه دا چي جمهور رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر ونکړي چې زه په خپلو ژمنو ولاړ نه یم . لدې امله مې تېښته غوره وګڼله او بګرام هوایي ډګرته ولاړم او د پوځ کومې قطعې ته مې د جګړې قومانده یا امر ور نکړ. د دفاع وزارت د ساتنې یوازېنۍ قطعه چې د دولتي امنیت د برید هدف ګرزېدلې وه په هغې جګړه تحمیل شوله او بل کوم جزوتام په جګړه کې برخه نده اخېستلې ځکه د جګړې امر نه دی ورکړل شوی.»

د کب د شپاړلسمې ډرامې په اړه پرچمیان د خلقي مشرانو له لوري د ولسمشر سره د لیدنو کتنو او همدارنګه د نجیب او تني ترمنځ د شوروي په سفارت کې د لوزنامې د لاسلیک په اړه څه نه وایي او د هغه مهال حکومتي تبلیغات تکراروي .په حربی پوهنتون ، حربي ښوونځي او د افسرانو د عالي کورس د خلقي افسرانو د وژنو په اړه یې شونډې ګنډلې دي . کشتمند خو بیا د دې پېښې په اړه نه دا چې ځان بې خبره اچوي بلکې کیسې جوړوي او لیکي:« د ۱۹۹۰ د مارچ په اوومه ، پداسې حال کې چې د وزیرانو د شورا نوبتي غونډه وه ، د ماپښین د یوې بجې وروسته یې فوراً ټلیفون ته وغوښتلم . د لیکې هغه خوا د نجیب الله دستیار خبر راکړ چې د شهنوازتني هوایي بریدونه پیل شوي دي...،ما ته د هوایي بریدونه هېښوونکي و،ځکه یوه ورځ مخکې ویل کېدل چې ټول هوایي او هوایي ضد ځواکونه د دولت په پلوی دربځ لري.» د وزیرانو د شورا دا نوبتي غونډه د دې شورا غړی ګلداد نه مني او لیکي:« ده دغه درواغ پدې خاطر ویلي دي چې لوستونکو ته داسې څرګنده کړي ، ګنې دی د هغې توطېې په اړه تر هغې شېبې پورې خبر نه وه. زه هم د وزیرانو د شورا غړی وم،خو زه د وزیرانو شورا له هغې نوبتي غونډې څخه خبر نه وم. حال دا چې د وزیرانو شورا د نوبتي غونډو خبر، د غونډې غړو او ګډون کوونکو ته په لیکلي توګه لږترلږه دوې اونۍ یا تر دغې زیات وخت د مخه ورکول کېدلو...، د وزیرانو د شورا د مرستیال سرورمنګل له دفتر څخه یوه اونۍ د مخه خبر راکړل شوی وه چې د کب په شپاړلسمې نېټې باندې، د ښووني او روزنې وزارت اړوند کومې موضوع په باب ، د ده په دفتر کې ، په لسو بجو غونډه ده.ما د منګل دفتر په هغې غونډه کې ګډون کړی وه. په هغې غونډې کې د ښووني اوروزنې وزیر برسېره ، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو وزیر، د روغتیا وزیر او...ګډون درلود.که چېرې په همغې ورځې باندې د وزیرانو شورا غونډه وای ، نو زه او دغه نور وزیران او پخپله سرورمنګل د صدارت مرستیال ، باید او لازمي د وزیرانو شورا نوبتي غونډې ته خبرشوي وای او ګډون مو پکې کړی وای. » ۱۰۵ /۸۷۲-۸۷۳

ددې ډرامې په جزییاتو پوهېدل ناشوني دی خو سره لدې یوشمېر خلقي مشرانو پدې اړه لیکنې کړې دي خو پرچمیان د طوطیانو په څېرد هغه مهال د حکومتي رسنیو تبیلغات زمزمه کوي او د کشتمند په څېر د درواغو داستانونه جوړوي . که څه هم کشتمند د خپل کتاب په ۶۷۷ مخ کې دا راوړي چې « پدې کودتا کې د مسکو او اسلام آباد شواهد نشته دي.» دا بیا هغه مشهوره خبره چې درواغجن حافظه نلري ښیي ځکه چې د ده د صدارت پر مهال تبلیغات کېدل چې په کودتا کې پاکستان ښکېل وو. د محمدابراهیم عطایي په وینا د کب د شپاړلسمې ډرامه د افغانستان په پوځي پوتانسیل کې داسې چاودنه وه چې« نجیب یې د ګوندي او سیاسی پلوه کمزوری کړاو د کارمل ملګرو چې ترديې مهاله پټ فعالیت درلود د نجیب خلاف یې څرګند مخالفتونه پیل کړل ،ځکه چې نجیب کمزوری شوی وو.»۱۷ / ۴۵۳ لدې درنې چاودنې وروسته په پوځ هم کارملیان واکمن شول او نجیب د دوی په منګولو کې لکه په قفس کې د مرغه په څېر ولوید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مخامختيا پر ځای ملګرتيا

د ملي روغې جوړې تګلارې ته وسلوالو مخالفينو منفي ځواب ورکړ، خلقيانو ترې ملاتړ وکړ او کارمليانو ظاهراً له هغې څخه ملاتړ کاوه خو په پټه يې د هغې خلاف تبلغات کول او نجيب الله يې د ګوند ارمانونو ته په خيانت محکوماوه. د وخت د صدراعظم شرق د خپل تاسيس و تخريب اولين جمهوري افغانستان نومي کتاب په ۴۰۵ او ۴۳۶ مخونو کې ملي روغې جوړې ته د خلقيانو د ژمنتيا په اړه راوړي :« د تنې په مشرۍ د خلقيانو يوې برخې هڅه کوله چې نجيب الله او يو شمېر خلقي او پرچمي مشران استعفی وکړي ترڅو د مخالفينو سره د مذاکرو زمينه برابره شي.» دا چې وسلوالو مخالفينو روغې جوړې ته هرکلی ونه ويلو ، د جګړې په دوام ټينګار درلود او کارمليانو د ملي روغې جوړې تګلاره تخريبوله د وسلوال پوځ په مورال يې منفي اغېز درلود . د پوځيانو د روحيې د راټيټېدو په اړه به د دفاع وزارت د کنفرانسونو په تالار کې د يوې غونډې يادونه وشي. نجيب د دفاع وزارت د قرارګاه منسوبينو ته د ملي روغې جوړې د تګلارې په اړه وينا واوروله. ډګروال علم ګل واصل چې د ليکوال تر څنګ ناست وو د هغه څخه وپوښتل :« موږ د قوت له دريځه د ملي روغې جوړې تګلاره اعلان کړې يا د کمزورۍ له امله ؟» ولسمشر ځواب ورکړ د قدرت له دريځه. واصل ورته وويل دا چې ټول د اطرافو څخه مرکز ته د تبديلېدو هڅې کوي ښيي چې موږ کمزوري يو. نجيب ورته وويل تا به د اطرافو په کومه قوا کې د قوماندان په توګه مقررکړم لاړشه د انقلاب څخه دفاع وکړه. واصل ورته وويل زه ولې دومره ساده شم چې په اطرافو کې قومانداني و منم چې ټول غواړي مرکز ته راشي. »

دې ډول وضعيت ژمن جنرالان اوافسران اړکړل چې د واکمنۍ د سقوط د مخنيوي په موخه څه وکړي. همدا رنګه هغه مهال ګنګوسې وې چې پرچميان د اسلامي جمعيت سره واک ويشي. پدې صورت کې بيا هم جګړې دوام موندلو .دې د انديښنې وړ نا څرګندې را تلونکې ته په کتو سره جنرال محمدآصف شور، ډګروال محمدکبير کاروانی ، ډګروال محمدزي نيکمل، ډګروال جعفرسرتېر او ډګروال فيروز دې پايلې ته رسېدلي وو مخکې لدې چې وسلوال مخالفان د زور له لارې واکمني نسکوره کړي او يا پرچميان د م، م د سولې د پروګرام په شنډولو سره واک جمعيت ته وسپاري بايد دفاع وزير قانع کړو چې په پوځ کې د غونډونواو مستقلو کنډکونو قوماندانان داسې ژمن خلقيان و ګوماري چې له يوې خوا د مخالفينو او همدا رنګه جمعيت ته د واک د سپارلو په وړاندې ودرېږي. پوځيانو ته څرګنده ده چې د جګړې برخليک په غونډ او مستقل کنډک پورې تړلی دی. که هغه مهال ددې جزوتامونو قوماندانان ژمن افسران ټاکل شوي وای پوځ به بېله جګړې خپل مورچلونه وسلوالو مخالفينو نه پرېښودل لکه څرنګه چې د ۱۳۷۱ کال د ثور په لومړۍ اونۍ کې جهادي ډلو ته خپل مورچلونه پرېښودل او بېله جګړې يې قوتونه ور ته تسليم کړل.

نوموړو افسرانو د دفاع وزير شهنوازتني سره دا مساله شريکه کړه او هغه هم ورسره همغږي ښيي او عملا کار پيلوي. د ډاډمنو افسرانو موندل بله ستونزه وه .ځکه زياتره روڼ اندي فطرتا د څوکۍ او مقام سره ليوالتيا لري او سست عنصره برخه يې د هرځواک سره سر ښوروي . د تني له لوري پدې اړه د عملي ګامونو اخېستل ددې لامل وګرزېدل چې پرچميان تبليغات پيل کړي چې تنی کودتا کوي . دا تبليغات تر دې کچې زيات شول چې په کوڅه ، بازار ، سماوار، دفتر او مجاهدينو کې د تني له لوري د کودتا خبرې کېدلې او د تني د کودتايي ملګرو نومونه هم يادېدل. داسې ښکاري چې شوروي سلاکارانو د ک .ګ. ب په دستور د تني تر غوږو هم رسولې وې چې تاسو حق په جانب ياست .

مخکې يادونه شوې وه چې د ۱۳۶۸ کال د لېندۍ په دوولسمه تني پوځ ته د تيارسۍ امر ورکړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال شور د دې تيارسۍ ورکولوسره مخالفت کړی وو او له تنې څخه يې د چټک عمل غوښتنه کړې وه چې تنې نه و ورسره منلي . د دې پېښې وروسته د دې ډلې ترمنځ بې باورۍ منځته راغلله او دا ناباوري يا اختلاف هغه مهال زيات شو چې تنې د شوروي اتحاد په سفارت کې د ۱۳۶۸ کال د لېندۍ په شلمه د نجيب الله سره يوه لوزنامه لاسليک کړه او کله چې هماغه ماخوستن تنی دفاع وزارت ته راغلی وو او خپلې قرارگاه ته يې پدې اړه معلومات ورکړ، کبير کاروانې ترې پوښتلي وو چې د دې لوزنامې تضمين کوونکی شتون لري ؟ تنې ځواب نه درلود او غونډه کړکېچنه شوې وه. د حکومت له خوا د خلقيانو له خوا د کودتا اوازو شور ، کاروانی ، نېکمل ، سرتېر او فيروز دې ته اړاېستل چې د ولسمشر سره وگوري او هغه قانع کړي چې دوی گډ کارته چمتو دي. هماغه دي چې محمد آصف شور جنرال فقيرمحمد د شپېتمې فرقې قوماندان ته چې د سرقوماندانی په غونډو کې يې گډون کولو ويلي چې دوی غواړي له جمهورريس سره ووينې. د کتنې موخه د ولسمشر سره همکاري ده. جنرال فقير د شور پيغام ولسمشر ته رسوي او هغه ورته وايي زه به هغوی حتمآ راوغواړم او ورسره و به گورم. خو ولسمشر هغوی هېڅکله ونه غوښتل او د کب په شپاړلسمه او اوولسمه يې پنځه واړه( شور، کاروانی، نېکمل، سرتېر، فېروز) پداسې حال کې د خپلو جلادانو پواسطه ووژل چې کوم وسلوال اقدام يې نه و کړی ځکه چې هغوی په تعليمي بنسټونو او قرارگاوو کې دنده لرله.

دا چې جنرال شور د نجيب الله ضد فعاليتونو نوښتگر گڼل کېده د کب د شپاړلسمې ډرامې وروسته يوې غونډې ته دا خبره کړې وه چې د کودتا هڅوونکی آصف شور وو . دا بيا ښيي چې نجيب د خلقيانو له کورنې حالت څخه بشپړ معلومات درلود. دا چې جنرال شور د جمهور رييس سره د مخامختيا او مقابلې په ځای ملگرتيا او همکاری ته مخه کړې ده دری لاملونه لرلی شي .

لومړی ـ د لېندۍ د اتلسمې نېټې د خلقي مشرانو پرېکړې چې او د شوروي اتحاد په سفارت کې لاسليک شوې هوکړې ته ژمنتيا وه چې د نظام د ساتلو په موخه گډ کار کوي.

دوهم - شور د يوه ځيرک افسر په توگه پدې پوهېدلو چې د ا، خ، د ، گ واکمنی او خلقيانو ته ټولې ستونزې شورويانو جوړې کړې دي او شورويانو پر پرچميانو ستره پانگه اچولې ده ، د هغوی ملا يې ور تړلې او د خلقيانو په وړاندې هرو مرو د پرچميانو ملاتړ کوي . لدې کبله غوره دا ده چې د تقابل پرځای له پرچم سره تعامل و کړي .

دريم - پرچميانو د واکمن اړخ په توگه د خلقيانو په پرتله زياد امکانات لري او پدې مبارزه کې د هغوی بريا حتمي ده نو منطقي دا ده چې د دې مخامختيا مخه ونيول شي.

د کب د شپاړلسمې ډرامې په درشل کې ليکوال د جنرال شور سره وليدل او د دوی لخوا د کودتا د اوازو په اړه وپوښتل چې آيا تاسې په رښتيا کودتا کوئ؟ ليکوال هغه مهال په مسکو کې زده کړې کولې او د سلواغې په مياشت کې د ژمنيو رخصتيو تېرولو لپاره هېواد ته تللی وو. شور وويل:« پوځيان پوهېږي چې کودتا په پټه او نابېره ترسره کېږي . کله چې ټول افغانستان خبر وي چې موږ کودتا کوو پداسې يوه حالت کې کودتا کول حماقت او لېونتوب دی. موږ کره شواهد لرو چې نجيب اسلامي جمعيت ته واک سپاري او موږ د پرچميانو له لوري جمعيت ته د واک د تسليمولو په وړاندې احضارات نيسو. موږ تنې ته قناعت ورکړی دی چې د پوځ د غنډونو او مستقلو کنډکونو قوماندانان هغه خلقي افسران مقرر کړي چې که پرچميان واک جمعيت ته سپاري د هغو په وړاندې ودرېږي . اوس مهال موږ هڅې کوو چې له حکومت سره د م، م د سولې پروگرام په پلي کولو کې همکاري وکړو . موږ نجيب ته احوال لېږلی دی چې غواړو له ده سره وگورو.»

د کی جی بی پلان چې پرچميان او خلقيان د پوځي ټکر ترکچې ورسوي او پدې ټکر کې د پرچميانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا وروتړي د ولسمشر له شوروي پوځي سلاکار واورو. هغه د خپل کتاب په ۷۸ او ۷۹ مخونو کې را وړي :« ما جمهور رییس ( نجیب الله) ته په زغرده وویل چې باید دې کشمکشونو ته د پای ټکی کېښودل شي.نشي کېدای چې یوازې په دولتي امنیت باندې په ډېره لکولو سره ملي روغې جوړې ته ورسېږئ.ما هغه ته سلا ورکړه چې په خلقیانو ډېر حساب وشي. سربېره پردې مې د هغه پام دې ته را وګرزاوه چې په ډېرو مسآلو کې د دفاع وزیر حق په جانب دی، ځکه په کدري سیاست کې د هغه خبره لږ اورېدل کېږي او ټولې پوځي چارې د جمهور رییس پوځي دستیاران جنرال باقي او جنرال عبدالحق علومي څرخوي...، هغه دې د زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته واستول شي.» د شوروي دفاع وزیر ته مې وویل: « یا تاسي کابل ته راشئ یا تنی مسکو ته در وغواړئ او زیاته مې کړله چې شهنواز تنی له ډېرې مودې راهیسي هیله لري چې د مسکو څخه لیدنه وکړي . خو نه په خپله د دفاع وزیر راغی او نه یې تنی مسکو ته وروغوښت.» د نجیب د پوځي سلاکار له څرګندونو ښکاري چې هم نجیب الله او هم شوروي اړخ لیوال نه وو چې ددفاع وزیر او ولسمشر تر منځ کړکیچ حل شي . البته د شوروي د دفاع وزیر نشوای کولای پدې اړه کوم اقدام وکړي ځکه چې په شوروي اتحاد کې وروستی خبره کې جي بي کوله او همدې دوزخي سازمان تنی د دې لپاره د دفاع وزیر په مقام ساتلی وو چې نجیب او تني ترمنځ اړیکې خړې پړې کړي او د دولتي امنیت ځواکونو ته په دفاع وزارت د برید امر ورکړي ، خلقیان وځپي او پرچمیان په بشپړ ډول په پوځ واکمن کړي. پدې ډرامه کې د کی جي بي ښکېلتیا د وخت د بهرنیو چارو د وزیر عبدالوکیل له لیکنې څرګندېږي . هغه لیکي چې جمهور رییس د سیاسي بېرو غړي ارګ ته ورغوښتي وو تر څو کودتا ته د تني له خوا د چمتووالي په اړه معلومات ورکړي. دا مهال په ارګ بمبارۍ پیل شوې او موږ د حرمسرای لاندې پټنځای ته چې شورویانو د خپلو ځواکونو د وتلو مخکې جوړکړی وو لاړو. نجیب د ک ګ ب د مشاور له لارې د ک ګ ب د مشر ګریچکوف سره اړیکه ونیوله چې ژباړونکی یې د نجیب الله ورور شاه پوراحمدزی وو. نجیب الله له ګریچکوف وغوښتل چې شوروي جنګي الوتکې د دفاع وزارت مقر او د بګرام هوایي ډګر بمبارد کړي . ګریچکوف ورته وویل: « لکه څرنګه چې د افغانستان د دفاع وزارت د ښار سره نږدې دی دا کار امکان نلري خو په بګرام به د بریدونو د دوام په اړه فکر وکړو او پرېکړه به وکړو...، ځانګړې قطعه د بېړنی مرستې لپاره شخصآ ستاسي لپاره په پوله کې چمتو ده.» ۲۱۱ / ۶۱۸ لدې څخه ښکاري چې د امنیتي وزارت له لوري په دفاع وزارت برید په ټولو جزیاتو سره د نجیب او د ک ګ ب د مشر ګرېچکوف تر منځ کوردینه شوی وو تر دې چې که نجیب د شورویانو مرستې ته اړتیا ولري په پوله کې یې ځانګړې قطعه د مرستې لپاره چمتو کړې هم وه . له بله پلوه ښیي چې په شوروي اتحاد کې د واک اصلي مرکز ددې هېواد څارګره اداره وه نه د کمونست ګوند مرکزي کمیټه .

## خاینانه لوبی

له وروستیو دوو لیکنو څخه ښکاري چې نجیب الله د خلقیانو او پرچمیانو تر منځ د ناباوریو د له منځه وړلو لپاره قطعآ لیوالتیا نلرله او د هېواد د وسلوال پوځ یوې برخې( استخبارات ) ته په بله برخه ( پوځ ) د برید قومانده ورکړله. په تاریخ کې به داسي پاچا ، امیر او یا ولسمشر نه وي تېر شوی چې پداسي یوه خیانت لاس پورې کړي.دا بیا ښیي چې اشغالګروڅخه ډول وګړی د څارګرې ادارې مشرۍ او بیا زعامت ته رسولی وو. که د پرچمیانو دا ادعا چې تني کودتا کوله و منل شي بیا دا پوښتنې پیدا کېږي چې ولې نجیب الله د کودتا مخه ونه نیوله او یا یې ولې د دفاع وزیر په لاسونو کې زولنې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وانه چولي او محكمي ته يې ونه درولو؟ كه په رښتيا سره وزير كودتا كوله ، وزير د سر قوماندانی او په نورو ګوندي او دولتي غونډو او مجلسونو كې ګډون كاوه ولسمشر دا شونتياوې لرلې چې ددې غونډو مخكې او يا وروسته د هغه په لاسونو كې لكه د هغه د جنرالانو او د ګوند د مشرانو زېري او ينجشېري په لاسونو كې زولني واچوي . ولسمشر كولای شوای هغه لكه د ګلابزوی په څېر مسكو يا بل كوم هېواد ته د سفير په توګه او يا زده كړو ته واستوي . دا بيا ښيي چې نجيب غوښتل تنی په كابل كې وساتي او د كب شپاړلسمه ډرامه جوړه كړي. ښېله كومه شكه د دې ډرامي سناريو كې جي بې جوړه كړې وه ځكه چې د شوروي اتحاد دفاع وزير او د نجيب پوځي سلاكارهم ترې خبر نه وو.

د نجيب الله دا خاينانه لوبه د هغه د دوو پرچمي ملګرو كشتمند او جنرال سلطان خندان له څرګندونو بربنديږي. كشتمند ليكي:« يو ځل مي له نجيب الله پوښتنه وكړه چې ولې له هغه سره جوړه نه كوي يا ولې داسې لار نه لټوي چې د دې غميزې مخه ونيول شي، هغه په ځواب كې وويل د هغه ( شهنواز تني ) سره جوړه شوني نه ده ، پرېږده لومړی هغه په كوم كار لاس پورې كړي. نه پوهېدلم چې د ده دا ډول دريځ يو ډول قېمار، ځانپالنه او زورښودنه وه يا د مقابل لوري ملامتول يا د چمتووالي د نيولو لپاره يې وخت ته اړتيا درلودله. » ۳۹ / ۱۰۰۴ د كشتمند پورته دری واړه ګومانونه ( زور ښودنه ، د مقابل لوري ملاماتول او د تني د ځپلوپه موخه وخت ته اړتيا) سم وو. جنرال سلطان خندان د يوه ليكوال د دې پوښتني چې د تني د كودتا په اړه تولله اداره خبره هم وه ولې يې نجيب الله او يا نورو دولتي ځواكونو مخه نه نيوله په ځواب كې وايي:« ډاكترصاحب نجيب وويل چې دا هر څه تاريخ ليكي او زه نه غواړم چې متعرض شم انتظار اوباسم چې تنی څه كوي.» ۲۱۲ د نجيب دا خبره ښيي چې هغه غوښتل تنی يا خلقيان ملامت او بدنام كړي او هغه هم د يوې ډرامي د جوړولو له لارې . دا چې د خلقيانو د ملامتولو او بدنامولو ناوړه پايلي افغان ولس ته په كومه بيه تمامېږي هغه ته ارزښت نه درلود. دلته ليدل كېږي چې نجيب د خپل سازماني تعصب له مخې د ا، خ ، د ، ګ ته تاريخ جوړوي، داسې تاريخ چې خلقيان ملامت او پرچميان سلامت ثابت كړي. دې ته كه خاينانه لوبه و نه ويل شي څه ورته ويلی شو؟

نجيب نه يوازې د خلقيانو سره خاينانه لوبې پر مخ وړلې بلكه د ملي روغې جوړې د تګلارې سره چې د سولې او جګړې، د نظام پاينت او پاشل ورسره تړلي وو هم لوبې پرمخ وړلې. د ملي روغې جوړې سره د نجيب د خاينانه لوبې په اړه به د وطن ګوند د يوه غړي ولولو چې نجيب د ګوند د غړو يوې غونډې ته ويلي وو: « له شماله به مسعود، له غربه به هزارګان، له جنوبه به حقاني او سياف او له ختيځه به عبدالحق په كابل راشي او په خپلو كې به داسې وجنګېږي چې د كابل په كوڅه كوڅه كې به ويني تويې شي ، مجاهدين به بدنام او دوی( د نجيب ملګري) به نېک نام شي. د غونډې په منځ كې ترې وپوښتل شول ، چې داسې ده نو موږ بايد د وطن د لوړو ګټو په خاطر يوه قرباني وركړو او حكومت د مجاهدينو په منځ كې داسې چا ته وسپارو چې ثبات ټينګ كړای شي، خير دی زموږ يو څو ملګري دې پكې قرباني شي، خو چې نظام بيخي و نه پاشل شي.د ډاكتر نجيب ځواب دا وو : د مجاهدينو په منځ كې حكمتيار دغه قوت لري ، خو هغه را نه ، نشي راتلای، زه غواړم هغه بيرون پاتې شي .كله چې ورته وويل شول، چې آيا موږ پخپله د نظام پاشلو ته زمينه جوړوو؟ د نجيب ځواب دا وو: ( همګي را ميمانيم ، خو حكمتيار از پيشم آمده نميتواند، وی بيرون و ديګران را داخل ميكنيم، باز ديګران از دست او حكومت كده نميتواند...) له دې څخه ښكاره معلومېږي ،چې دا د مسكو هغه نقشه وه چې نظام بايد روغ پاتې نشي» ۱۷۰/ ۲۰۰ـ ۲۰۱هېواد هم تباه شي او پدې ډول نجيب د مسكو دا افغاني ضد نقشه پلي كړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجيب الله پلوي خلقيان څوک وو ؟

د کتاب له منځپانګې نه معلومېږي چې د ا، خ، د، ګ په نامه سياسي سازمان د ۱۳۶۸ کال د کب د شپاړلسمې ډرامې پورې هېڅکله يو موټې نه وو بلکې د دوو نه پخلاکېدونکو دښمنو ډلو (پرچم او خلق) څخه جوړشوی يو سياسي جوړښت وو .د دې دوو ډلو دا ډول له دښمنۍ ډک تاريخ ته په کتو سره دا پوښتنه پيدا کيږي چې ولې يو شمېر خلقي مشران د کب د شپاړلسمې په ډرامه کې د نجيب د پلويانو رول ولوبولو. مخکې لدې چې پورتنۍ پوښتنې ته ځواب وويل شي دې خبرې ته بايد د لوستونکي پام راوګرزول شي چې د دې ډرامې په درشل کې د افغانسان د خلک دموکراتيک ګوند په نامه د خلق او پرچم د تلوالې د رهبري ارګان( مرکزي کمېټې) د ۱۲۰ تنوغړو څخه دېرش تنه خلقيان وو.د دې ديرشو تنو څخه درې تنه ( وطنجار، انجينرنظر، پکتين) او پلويان يې همدا رنګه شاه ولي، ميثاق ، جوزجاني، غوربندي او همفکران يې چې د امينيانو په نامه يادېدل هم د نجيب الله سره ودرېدل .د نجيب الله سره د دې دواړو ډلو ملګرتيا ددې سبب شوه چې نجيب په خلقيانو بريد وکړي. د کب د شپاړلسمې ډرامې په درشل او ډرامه کې د پرچميانو په ګټه د نجيب الله پلوه خلقيانو رول ته په کتو سره هغوی په فوق العاده رتبو، مډالونو او بنډلونو روپيو ونازول شول.

دا چې د خلقيانو په ځېلو کې يو شمېر خلقيانو برخه اخېستې وه نه يوازې د نظام د ننه بلکې جهادي تنظيمونه هم څرګندونې لري .پدې اړه د اسلامي جمعيت کدر محمداکرام انديشمند ليکي:« د کودتا په ناکامۍ کې د پرچم ټولو ډلو او د خلقيانو په اړخ کې د حفيظ الله امين او د اسلم وطنجار او رازمحمد پکتين پلويانو رول درلود.» ۲۱۴ / ۱۱۰ دستګير پنجشېرى هم د نجيب سره درېدلي خلقيان د امين پلويان او د خلق د فرکسيون د زرمل(زرمت) درې تنه مشران معرفي کوي. ميرصاحب کاروال د نجيب خلقي پلويان داسې راپېژني :«...له بله پلوه د سليمان لايق ترمشرۍ لاندې يوه نوې سيمه ئيزه نشنلستي ډله لکه انجينر نظرمحمد،اسلم وطنجار، رازمحمدپکتين ، وزيري ، منوکى منګل ، اسدالله پيام ، مبين يې پرځان راټول کړل که وکولای شي په لازم فرصت کې يې د خلقيانو خلاف استعمال کړي وروسته له هغې په امين پورې تړلي ځېنې مشران لکه غوربندي، شرعي جوزجاني، شاه ولي، فقيرمحمدفقير، خيال محمد کتوازي او حتى عبدالکريم ميثاق او نور ټاکلو سياسي موخو ته د رسېدو په خاطر ورسره يو ځاى کېږي.»

اوس به د طرحه شوې پوښتنې په ځواب تم شو. د ګڼ شمېر پخوانيو خلقيانو له انده د امين د پلويانو په شمول لاندې پنځه کټګورۍ خلقي مشران او کدرونه له نجيب سره ودرېدل.

۱ ـ په اداري، مالي او اخلاقي فساد ککړ.

۲ـ سيمه ئيز تړاو.

۳ ـ د امتيازاتو او څوکيو شوقيان

۴ـ له مخکې د خاد سره تنظيم ( دوه ګوني رول لوبوونکي )

۵ـ سوويټستان

د شوروي اشغال د هماغه پيله شوروي سلاکارانو او پرچميانو بلا استثنى ټول خلقيان ځارل، ب ژمن خلقيان يې د حساسو څوکيو او په پوځ کې له محاربوي جزوتامونو څخه پاسيفه دندو( قرارګاوو او علمي بنسټونو) ته تبديلول، ضعيف النفسه، څوکی پال او ښه غوړنيوونکي خلقي کدرونه يې په لوړو څوکيو ګومارل او بلا استثنى په اداري، مالي او اخلاقي فساد ککړو خلقيانو ته يې دوسيې جوړولې. خادېستانو حتى په زندان کې د ځېنو امين پلوه خلقيانو د شخصيت کمزورو اړخونو او د خلقي واکمنۍ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال د هغوی تورو کارنامو ته په کتو سره د هغوی څخه د اجنټانو په توګه کټه پورته کوله چې يوه بېلګه يې سلطان احمدبهين د خلقيانو د استخباراتي اداري ( اګسا او کام) د سياسي څانګې مشر وو. د عبدالرشيد جليلي په وينا « دا سړی ( سلطان احمد بهين ) چې پرچميانو او په خاص ډول خاد ته د جاسوسی او خدمت کولو په تعهد سره د اعدام نه خلاص شوی و ، تر آخره پورې پرچميانو او خاد ته وفادار او د خلقيانو د ځان غم شو. دې سړي يو څو نور ضعيف النفس کسان لکه نور آقا روپين او د هغه سره رابطه کې نور کسان پيدا کړل او د يوه پخواني پرچمي خليل زمر سره چې د ثور انقلاب په لومړيو ورځو کې نوراحمدنور د هغه وخت د کورنيو چارو وزير په دې اتهام بندي کړی و چې ګوندې داود خان استخباراتي اداري ته يې د پرچميانو د پټو فعاليتونو او تشکيلاتو په هکله راپور ورکړی و ، يو ځای د خلقيانو د پخواني ګوندي او دولتي مشرتابه په مقابل کې په توطبو پيل وکړ.»١٠ / ١۴۶ ـ ١۴٧ مخکې د ميثاق له قوله راغلي وو کله چې د شوروي اشغالګرو له وتلو وروسته په حکومت کې شريکو خلقيانو د نجيب خلاف دريځ غوره کړ نو نجيب امينيانو ته مخه کړله له هغوی سره يې په زندان او زندان بهر سياسی کار پيل کړ، هغوی يې خپل او له زندان څخه خوشې او په لوړو څوکيو وګومارل . له زندان څخه د خوشې شوو کسانو دريځونو ته په کتو سره د هغوی سره چلند کېدلو يعني هغه چا چې رښتينې همکاري پيل کړه غوره مقامونه او امتيازات يې ورکړل او چا چې همکاري نه کوله دندې يې ور نکړلې يا دا چې عادي ماموريتونه يې ورکړل. د بېلګې په توګه پدې اړه محمد دوست وردګ د مرکزي قول اردو پخوانی قوماندان د خلقيانو په يوه مجلس کې ويلي وو: « زموږ ځينې ملګري د نورو د تهديد او تطميع تر اغېز لاندې راغلي دي او د مقام او شخصي دريځ په اړه فکر کوي. دا لوبه چې نورو پلان کړې ده زموږ لپاره تباه کوونکې ده. موږ ته د زندان څخه د خلاصېدو مخکې د دولتي مقامونو ژمنې شوې وې خو ځينو ته چمتو نه دي عادي حقوق هم ورکړي.دا د يوه بام او هوا لوبه څه معنی لري. يو شمېر ته يې ملکي او پوځي وزارتونه او معيينتونه ، رياستونه او قوماندانۍ ورکړې او ما چې نه غوښتل د نورو ښکار شم حتی زما د تقاعد عادي حقوق يې هم اجرا نکړل .» ١٨ / ۴٩٣ همدا رنګه په حکومت او يا کور کې کېنولو خلقي امين پلوه کدرونو سره ورته سياسي او استخباراتي کار تر سره شو . ښه بېلګه يې د افسرانو د عالی کورس استادانو( احمد علي او ګلرنګ) ته د جنرالۍ د رتبو ورکول او د سترو جزوتامونو د بولندويانو په توګه ټاکل دي. د شوروي يرغل وروسته د افسرانو په عالي کورس کې د لسو څخه زيات د خلقي واکمنۍ د سترو جزتامونو قوماندانان د استادانو په توګه وګومارل شول . خو وليدل شول چې د کب د ډرامې په درشل کې جمهور رييس د هغوی څخه دوو تنو احمدعلي او ګلرنګ ته جنرالي ورکړله او د قوماندانانو په توګه يې مقرر کړل. جعفرسرتېر چې هغه هم د افسرانو په عالي کورس کې استاد وو کيسه کوله چې نجيب الله د کب د شپاړلسمې څه موده وړاندې وروغوښتلم او راته ويې ويل: « تاسې ډېرې سختۍ وګاللې دا يو ميليون افغانی واخله چې لږترلږه نورمال ژوند وکړې .ما ورته وويل مننه ، زما ګوزاره کېږي دا پيسې کوم بل چاته چې اړتيا لري ورکړئ.» دا يوه بېلګه وه چې څه ډول نجيب خلقيان پېرل. نجيب له زندان څخه خوشې شوو امينيانو ته د ګوند د جوړولو اجازه ورنکړه خو لوړ لوړملکي او پوځي مقامونه يې ورکړل . دې دا معنی لرله چې هغوی د نجيب د حکومت د مامورانو په توګه د کار کولو حق درلود خو د سياسي فعاليت اجازه يې نلرله. د شوروي اشغال پرمهال په واک کې شريکو خلقي مشرانو د اشغالګرو د وتلو وروسته هوډ درلود چې نور د پرچم امر او نهی ونه مني او لدې امله يې تنې د کودتا په تور بنديان کړل خو امينيانو د نجيب الله د حکومت د مامورانو په څېر د نجيب د واکمنۍ د ټينګښت په موخه د خپلو خلقي ملګرو خلاف د پرچم تر څنګ ودرېدل او پدې ډول يې دوهم ځل د خپلو خلقي ملګرو خلاف جبهه ونيوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرى خلقيان چې له نجيب سره ودربدل په مالي او اخلاقي فساد ککړ کسان وو. د بېلګې په توګه نجيب په مالي فساد ککړ انجينرنظرمحمد د وخت د ټولګټو وزير ته په يوه ستره غونډه کې ويلي وو: « زه خبر يم چې په خوشحال مېنه کې دې کور جوړ کړى دى .د حکومت د سمنټو او ګاډرو دې ګټه پورته کړې ده ، ګلکاران او ترکاڼان هم د حکومت خلک دي خلاصه هرڅه د حکومت دي. بيا د وسلوال پوځ له لوى څارنوال پوښتنه کوي د هغو شپاړلسو تنو دوسيه څنګه شوه چې له دفاع وزارت څخه ټولګټو وزارت ته تبديل شوي دي ؟ هغه ځواب ورکړ دوسيه بشپړه شوې ده. هغوى انجينران نه بلکې د قالينو سوداګر وو او اوس په جرمني کې سوداګري کوي ...، نجيب بيا د ټولګټو د وزارت د لومړي ګوندي سازمان د منشي څخه پوښتي چې هغه شپږ ميليونه افغانۍ څه شوې ؟ هغه ورته وايي هغه وزير صاحب اخيستي دي. وروسته نجيب الله نظرمحمد ته وايي له غونډې وروسته زما دفتر ته راشئ.» همدا لامل وو چې انجينر نظرمحمد د خپل مالي فساد له امله چې محاکمه نشي د خپلو خلقي ملګرو خلاف د نجيب الله ترڅنګ ودربد. د محمد اسلم وطنجار له خولې په مسکو کې د انجينري اکادمي محصل افسر جګتورن نجيب الله وايي : « د ګوند د واکمنۍ د نسکوريدو وروسته په مسکو کې پاتې شوم او د اکادمۍ په کور کې له خپلې کورنۍ سره مې ژوند کاوه او د اکاډمۍ د اداري له مسولينو سره مې دوستانه اړيکې لرلې تر دې چې زما د غوښتنې له مخې د اکادمۍ مشرتابه افغانانو ته د اکادمۍ اپارتمان هم ورکاوه . يوه افغان را ته وويل که وطنجار ته د کوم اپارتمان په ورکولو کې مرسته وکړې. ما ورته وويل د هغه سره مرسته نه کوم. تصادفا څه موده وروسته په يوه مجلس کې له وطنجار سره مخامخ شوم. وطنجار ګيله وکړه چې د اپارتمان په ورکولو کې مې مرسته نه ده ورسره کړې . ما ورته وويل لدې امله مې مرسته نه ده کړې چې د کب د شپاړلسمي په پېښه کې د نجيب سره ودربدې . وطنجار وويل هغه اسناد چې نجيب په ما لرل که په تره کي صاحب يې هم لرلاى هغه به هم د نجيب سره دربدلى واى. » کله چې د شورويانو او پرچميانو د ګډ پلان له مخې د خلقيانو د ځپلو فرصت راورسېد ، پرچميانو په فساد ککړو خلقيانو ته د هغوى د فساد دوسيې مخې ته کېښودلې. ور ته و يې ويل که د پرچميانو سره همکاري ونکړئ قانوني چلند به در سره وشي .دې خوارانو بله چاره نلرله بېله دې چې د نجيب سره ودريږي، د هغه هر دستور ومني او حتى د خپلو خلقي ملګرو په اړه د جاسوسانو په توګه ترې ګټه پورته کړي او د خپلو ملګرو په وژلو او بنديانولو هم لاس پورې کړي.

بله ډله خلقيان هغه کسان وو چې د يوې ولسوالۍ او ولايت په کوچني چوکاټ کې ايسار وو. هغوى د سيمه ييز تړاو له مخې له پکتياوال نجيب الله سره ودربدل. البته د نجيب الله پر لوري د خلقيانو په را ماتولو کې شوروي سلاکارانو هم رول درلود لکه څرنګه چې ګلداد ليکي:« شوروي سلاکارانو د کورنيو چارو وزير محمد اسلم وطنجار، د بريښنا وزير رازمحمد پکتين او د ساختماني چارو وزير نظرمحمد درى واړه زرمتي خلقي وزيران ، د نجيب الله لور ته ورمات کړل او نجيب الله دغو کسانو ته د لا بهترو ګوندي او دولتي مقامونو ورکړې ژمنې ورکړلې او د دوى مالي امکانات يې لا زيات برابر کړل.» ١٠٥/ ٨٢١ جنرال محمدهاشم نوري چې هغه هم د زرمت دى يوه ورځ ليکوال ته په بلجيم کې وويل: « په يوه مجلس کې چې انجينر نظر، پکتين او څو تنه نورو زرمتيانو شتون درلود انجيرنظر ما( نوري) ته وويل چې موږ زرمتيان بايد يوه خوله شو او تر دې وروسته د خلقيانو د مشرانو رول ولوبوو خو ما ور سره ونه منل او دا رنګه فکر مې وغندلو.» له بده مرغه د افغانستان د روان ناورين پر مهال شوروي او ناټويي اشغالګرو د بنګېلاک د هغه مشهور فورمول « بېل يې کړه اېل يې کړه» له مخې ناوړه ګټه پورته کړې ده . د لږکيو او ډېرکيو ، پښتنو او غيرپښتنو، درانيو او غلزيو، شمال او جنوب ، لويې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکتیا ، لوی کندهار او لویې مشرقي ویشني او د نجیب الله په ګټه د زرمتي خلقیانو استعمالول او د لړکیو د حقوقو په نامه د م، م د سولې د پروګرام شنډول یې څرګندې بېلګې دي.

## د ګوند دوهمه کنګره

د افغانستان د خلک دموکر اتیک ګوند د مؤسسي کنګرې په دایریدو سره د واک د ترلاسه کولو پورې بله کنګره را ونه بلله. واک ته په رسیدوسره بیا هم ګوندي مشرتابه د کنګرې د رابللو لپاره لیوالتیا ونه ښودله پداسې حال کې چې د ګوند د اساسنامې له مخې په هرو څلورو کلونو کې باید کنګره دایره شوې وای. ګوند واک ته په رسیدو سره د زعامت د لیوالو د ګوندي ضد کړنو له امله د کورنې کړکیچ سره لاس او ګرېوان شو چې پایله یې د ګوندي مشرانو او ګڼ شمېر کدرونو زنداني کېدل، وژل کېدل ، تبعیدېدل ،کودتایي هڅې او شوروي نیواک شو . د پېښو دا ډول بهیر ته په کتو سره د شوروي اشغال پر مهال د خلقیانو له لوري د کنګرې د رابللو مسئله طرحه کېده تر څو کنګره د مرکزي کمیټې د کړنو جاج واخلي او د هغو پربنسټ د ګوند نوی مشرتابه وټاکي . البته د خلقیانو په شل میاشتنی واکمنی کې چې هر څه د انقلاب د ولولو او بنسټیزو سمونونو تر اغېز لاندې پر مخ تلل د کنګرې د رابللو په اړه چا فکر هم نه کاوه. د شوروي یرغل وروسته د خلقیانو لخوا د کنګرې د رابللو غوښتنې ، پر واکمن فرکسیون او شوروي سلاکارانو فشار هغه وخت زور واخیست چې د شوروي پوځیانو د وتلو او د انقلاب څخه د خپلواکې دفاع مساله رامنځ ته شوه. د دفاع وزیر او جمهور رئیس ترمنځ د اختلافونه د پیدا کېدو وروسته خلقیانو د کړکیچ حل د کنګرې په رابللو کې لیده خو د نجیب ځواب دا وو چې« د کنګرې د دایرولو وخت نه دی هیواد د جګړې په حال کې دی. » د نجیب الله د دې پلمې سره خلقي لوړپوړي ( انجینرنظرمحمد ، وطنجار) او د امین پلویان همغږي وو. د پرچمیانو له لوري په دفاع وزارت له برید وروسته چې د خلقیانو ستره برخه له ډګره وایستل شوه ،امنیتي حالات لا کړکیچن شول او جګړو زور واخیست د ۱۹۹۰ کې د جون په شپږویشتمه د ګوند دوهمه کنګره راوبلل شوه. مخکې لدې چې پرچمیانو د کنګرې نه رابلل د جګړې له امله ګڼل، خبره په جګړه کې نه بلکې په ګوند کې د هغوخلقیانو شتون وو چې په کنګره کې د هغوی د ګډون له امله د مسکو په لاس پر ګوند تپل شوی مشرتابه بدلېده. د ګوند دوهمه کنګره چې ځینو د هغې دایریدل یومثبت ګام ګڼه او فکر یې کاوه چې هغه به داسې پریکړې وکړې چې په ګوند کې یووالی تینګ او اعتبار به یې لوړ شي. د کنګرې له دایرېدو وروسته د دې ګوندیانو دا هیلې هم په نهیلۍ واوښتې ځکه کنګرې ته ټاکني رنې نه وې او د انتخابي غړو نه د انتصابي کاندیدانو او د هغو کسانو شمیر زیات وو چې د ګوندی مشرتابه له لوري نیول شوې پریکړې ښېله څه ویلو او په پټو سترګو ومني. کنګرې ته داسې استازو هم لاره موندلې وه چې د کنګرې په غونډو کې یا ویده وو یا نه پوهیدل چې هلته څه تیریږي یا څه ویل کیږي. د ساري په توګه کله چې د ګوند د لارښوونکي هیآت اوږد لست د فرید احمدمزدک له خوا ولوستل شو د بابه صاحب په نامه یو استازی چې د ګوند د تفتیش د کمیسیون د غړي په توګه اعلان شوی هم وو لاس پورته کړ او ویې ویل :«ملګری نجیب الله! اوس چې ملګری دوستم د مرکزي شورا اصلي غړی شو او ځای یې تش شو زه ځان د مرکزي شورا مستحق ګڼم . لدې کبله هیله کوم چې د مرکزي شورا د علی البدل غړي په توګه وټاکل شم.» ۱۰۹ / ۲۸۵ کنګرې ته د استازو د ټاکلو په بهیرکې خلقي اړخ هیڅ لیوالتیا نه لرله ځکه چې د امین د پلویانو او نجیب الله ته د وفاداره خلقیانو پرته خلقي مشران او پیژندل شوي کدرونه چې شمیر یې اته سوه شاوخوا وو بندیان او یا بهر ته تښتیدلي وو.لیکوال هغه مهال په مسکو کې زده کړې کولې. په شوروي اتحاد کې ګوندیان د کنګرې له دایریدو څخه له رسنیو خبر شول او وروسته ویل کیدل چې د سفیر لخوا دوه تنه محصلین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنګره کې د ګډون لپاره استول شوي وو. کله چې د هیواد نه بهر کنګرې ته استازي انتصاب شوي دي دا چې په هیواد کې جګړه روانه وه ، د مرکز او ولایتونو، د ولایتونو د مرکزونو او ولسوالیو ترمنځ د تګ او راتګ نسبتاً خوندي لار هوایی کرښې وې څه ډول به ټاکنې ترسره شوې وي. غوربندی چې د نجیب الله له پلویانو نه ګڼل کیده د خپل کتاب په ۱۱۶- ۱۱۷ مخونو کې د کنګرې برخه وال په لاندې پنځو ډلو ویشي :

۱. د بریالي پټ تشکیلات چې ځانګړې رهبري ، موخې او سازمانونه یې لرل.
۲. د نجم الدین کاویانی او فریدمزدک ډله چې هغه د جمعیت د نظار د شورا پټ غړي بولي.
۳. د کشتمند ډله چې هغوی د کنګرې چلوونکي او فاسد بوروکراتان ګڼي.
۴. د تڼي د کودتا په تور زنداني شوې سترې برخې پلویان چې د کنګرې پر قانونیت او د استازو او د ګوند د رهبری د ټاکنو په څرنګوالي یې اعتراض درلود.
۵. نجیب الله او د ملي روغې جوړې تګلارې ته وفاداره برخه.

د ا، خ ، د ، ګ د زیاترو مشرانو له ځانګړتیاوو نه یوه دا وه چې هغوی د ګوند عمومي منشي ته د خپلې وفاداری په ښودلو او یا د خپل دریځ د ساتلو په موخه د هغه د هرې پریکړې که ور سره همغږې هم نه وو ملاتړ کړی دی چې غوربندي د هغو څخه یو دی .هغه په خپل کتاب کې د کنګرې ترکیب او د هغې د پریکړو ښه انځورکارې خو د کنګرې د ګډون کوونکي په توګه د کنګرې د هغو پریکړو په اړوند چې پخپل کتاب کې یې له هغو څخه نارضایتي ښودلې ده کوم اعتراض ونکړ او د نورو په څیر یې د کنګرې ټولې پریکړې تائید کړې تر څو نجیب الله ته خپله وفاداري څرګنده کړي. هغه مزدک او کاویاني د جمعیت پټ غړي ګڼي خو هغوی ته یې د ګوند د مرستیالانو په توګه مثبته رایه ور کړه . ددې معنی داکېږي چې هغه جمعیتیانو ته د وطن ګوند د مرستیالانو په توګه رایه ورکړې ده . کنګرې نوې اساسنامه او کړنلاره تصویب او د ګوند نوم یې ( وطن ) کیښود. په نوې تصویب شوې اساسنامه کې د دموکراتیک سانترالیزم اصطلاح نه وه خو د ګوند په تشکیلاتي جوړښت کې هیڅ بدلون رانغی. یوازې یې د تیرو اصطلاحاتو پرځای د میر غلام محمدغبارد وطن د ګوند اصطلاحات لکه مرکزي شورا، ولایتي شورا او د عامل هیآت پرځای یې اجرائیه هیآت راوړل. د ګوند کړنلاره د ملي روغې جوړې د تګلارې یوه کاپي وه. د غوربندي په وینا کله چې په تشکیلاتي برخه کې د ګوند د نوي مشرتابه نومونه اعلان او د رایو په اتفاق تائید شول «د مرکزي کمیټې په لست کې هماغه پخواني نومونه ولیدل شول »۸۰ / ۱۱۷ د هغو کسانو نومونه چې زیاتره یې د شوروي اشغالګرو اردلیان او پاخه فرکسیونبازان وو، هغه نومونه چې په خبرو کې د ملي روغې جوړې سره سر ښوراوه خو په عمل کې یې هغه تخریب او سبوتاژوله او د شوروي اتحاد د پنځم ستون تله پکې خورا درنه وه. په کنګره کې کاویانی او مزدک د ګوند مرستیالان وټاکل شول چې وروسته یې د خپلو نویو دریځونو او ګوندي امکاناتو نه په استفادې سره د بغاوتګرو جنرالانو دوستم او مؤمن په لمسولو کې ټاکونکي ونډه لرله او همدا بغاوتګرجنرالان هم کنګرې د ګوند رهبری ته راپورته کړل. د ګوند په نوي مشرتابه کې د کارمل ډلې او نورو سکتاریستي اندونو د خاوندانو دریځ خورا غښتلی شو چې نجیب الله یې اړ ایست له شوروي نه د کارمل راستنیدلو ته غاړه کیږدي. د کنګرې د رابللو په درشل او وروسته ویل کېدل چې نجیب الله د بریالي دې غوښتنې ته لبیک ویلی چې د هغه غوښتنې به مني پدې شرط چې نجیب د ګوند د عمومي منشي په توګه پاتې شي. په کنګره کې د ګوند لارښوونکي هیآت ته د کارمل د زیاتو پلویانو راپورته کیدو هم وښودل چې نجیب د بریالي غوښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مثبت ځواب ورکړی دی . د نجیب الله له لوري د کنګرې د رابللو موخه د نوموړي د هغې وینا څخه چې د کنګرې د جوړېدو مخکې د کابل ښار د ګوندي سازمان په کنفرانس کې کړې وه جوتیږي چې ویلې یې وو: «ملګرو! څرنګه چې زه د شوروي ځواکونو د وتلو وېاړ لرم د ګوند د دوهمې کنګرې د جوړېدو ویاړ هم زما دی.پدې بنسټ د ګوند دوهمې کنګرې د دایریدو موخه د نجیب الله د ویاړونو د لست اوږدول وو.» ۱۰۹/ ۲۸۰ عجیبه دا ده چې نجیب د شوروي د اشغالګرو ځواکونو د ایستلو ویاړ خپل ګڼي چې دا د خندا وړ خبره ځکه ده چې هغه د شوروي اشغال له برکته شورویانو وزارت او زعامت ته رسېدلی وو نو هغه به څرنګه خپل بادار ته ویلي وي چې پوځیان یې له هېواد څخه وباسي. که چېرې د کنګرې پرېکړو ته وکتل شي د ګوند نوم یې بدل کړ، نوې اساسنامه او کړنلاره یې تصویب کړه خو هماغه ناکام آزمایل شوي مشران د ګوند په مشرتابه کې پاتې شول او د دوستم په څېر افرادو هم د ګوند مشرتابه ته لار وموندله . دا کنګره په واقعیت کې د موټر د ترمیم هغه ورکشاپ ته ورته وه چې سور رنګه موټر یې په شنه رنګې موټر واړولو خو انجن یې هماغه زوړ زنګ وهلی انجن وو چې د مقصود مزل ته یې سپرلی نشوای رسولی .

## د ببرک کارمل نوی ماموریت

مسکو کارمل په ۱۹۷۹ کې د کابل په پلاز کېنولو په ۱۹۸۶ کې یې له واکه ګوښه او مسکو ته وغوښت هلته یې ورته د مېلمه په څېر د ژوند آسانتیاوې برابرې کړې او د ۱۹۹۱ کال د جولای په شلمه کابل ته ولېږلو. کارمل افغانستان ته د تګ پر مهال د مسکو په هوایي ډګر کې شاوخوا پنځوسو تنو ته چې د مخې ښې لپاره ورغلي دي ویلي وو:«... که افغانان وغواړي چې زه بیا د دولت مشر شم زما کابینه به هماغه پخوانۍ کابینه وي.» دا بیا ښیي چې هغه بیا د زعامت لیوال وو. فقیرمحمدودان د نجیب الله له قوله لیکي : « شوروي مقامونو ورته ویلي وو ، ببرک کارمل د افغانستان یو تبعه دی او حق لري په افغانستان کې ژوند وکړي . لدې کبله هیڅوک حق نلري هغه لدې حق څخه محروم کړي او نه باید چې محروم یې کړي.» ۲۰۶/ ۶۶ لدې وینا څخه معلومېږي چې شوروي حکومت یا د شوروي اتحاد په دولت کې ځانګړې ځواکمنې شبکې چې ښېله شکه ک.ګ.ب ده کارمل د بل ماموریت د ترسره کولو لپاره افغانستان ته استولی دی او نجیب الله چاره نلرله بیله دې چې د خپل بادار دستور ومني. د پردیو په لاس کینولو واکمنو برخلیک همدا دی چې د خپل بادار هرې غوښتنې ته که ورسره همغږي هم نه وي لبیک ووایي. مسکو کارمل د خپلو راتلونکو نقشو د پلي کولو په موخه له واکه ګوښه کړی وو او په مسکو کې یې ساتلو چې دا د ګرباچف له هغې وینا څخه څرګندیږي چې کارمل ته یې ویلي وو: «موږ هر یو دا امکانات نلرو چې د وخت غوښتنو او په نړۍ کې بدلونونو ته اړین ځواب ووایو. البته د ملګري کارمل خدمتونه ستر دي او د هغه ونډه د انقلاب او د افغان- شوروي د دوستۍ په ټینګښت کې بیساري ده. خوعاقلانه به دا وي چې د عمومي منشي مقام یوه ځوان ملګري ته پرېښودل شي. د ببرک کارمل لپاره کار کړل ډېر ستونزمن دي باید د خپلې روغتیا په اړه فکر وکړئ موږ په راتلونکي کې هغه ته اړتیا لرو.» ۲۱۴ دا اړتیا پداسې حال کې لیدل کیدله چې د شوروي په کمونست ګوند کې محافظه کار اړخ او که وویل شي ک.ګ.ب د ګرباچف خلاف کودتا ته چمتووالی نیولو چې په مسکو کې د ګرباچف د ګوښه کولو وروسته د پروستروېکا مخالفان چې د بریژنف د دکتورین پلویان ګڼل کیدل په واکمنیدو سره په کابل کې کارمل ورته ګام اوچت کړي او د خپلو پلویانو پرمټ چې په اصطلاح د تنې د کودتا وروسته په پوځ واکمن شوي وو نجیب الله را وپرزوي. هغه مهال نوراحمدنور د نیویارک او جنرال عبدالقادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوګوسلاویا څخه هم کابل ته تللي وو . دوې میاشتې وروسته د اګست په شلمه په مسکو کې د کودتا هڅه وشوه ګرباچف یې په کریمیا کې تر څارنې لاندې ونیو خو د روسیې د جمهوررئیس باریس یلتسن د مخالفت له کبله کودتاچیان ټکني او کودتا ناکامه شوله خو یلتسن د ګرباچف په پرتله د بشپړ واک اوغوره دریځ څخه برخمن شو. کارملیانو بېله څنډه کودتا په خوښیو ونمانځله او نجیب هم سملاسي بیله دې چې د کودتا برې یقیني شوی وي د کودتا مشرتابه ته د مبارکۍ پیغام واستاوه. په شوروي اتحاد کې د کودتا ناکامۍ د پرچم د دواړو سیالو مشرانو ( کارمل او نجیب ) لپاره ناوړه پیغام درلود. د کارمل د بیا واک ته رسیدلو خوبونه د اوبو څک شول او نجیب الله په شوروي اتحاد کې خپل اصلي حامي د ک ګ ب مشر کریچکوف له لاسه ورکړ . یلتسن او ټیم یې دې پایلې ته رسیدلي وو چې نور د شوروي اتحاد اقتصاد د افغانستان دولت د ملاتړ دروند پېټی نشي وړلی او نشي کولی د ا، خ، د، ګ ( وطن ګوند) ترمشري لاندې افغان دولت ته خپلې مرستې جاري وساتي او په افغانستان کې د واکمنۍ د بدلون لپاره چې لا مخکې یې ورته چمتووالی نیولی وو په ټول قوت سره متې بډ وهلې. د روسیې مشرتابه غوره وګڼله چې د نجیب الله پرځای خپل پروتوکولي غیرپښتنانه جهادیان د کابل په پلاز وویني چې کارمل هم ورسره همغږی وو. د پروني انترناسیونالست او نني ناسیونالست کارمل نوی ماموریت د شپیګل مجلې د خبریال سره د هغه له مرکې جوتیږي چې وایي : « موږ ناسیونال دموکراتان یو...، زه غواړم د لږکیو ملیتونو د حقوقو د لاسته راوړلو په خاطرمبارزه وکړم.»۲۱۵ همدارنګه کارمل د شپیګل د خبریال ددې پوښتنې په ځواب کې چې د مسکو څخه د بیا راستنیدو انګیزه مو څه ده؟ بیا غواړئ سیاست ته ور ودانګئ؟ وایي: « زه غواړم په افغانستان کې د سولې او امنیت د بیا راستنیدو لپاره مبارزه وکړم.د څمکنی بشپړتیا ،د ملیتونو د حقوقو، د دموکراسۍ د ارزښتونو د ساتنې او د بشرد حقوقو لپاره مبارزه وکړم.» ۱۶۶/ ۱۵۵ کارمل افغانستان ته د رسېدو سره سم زعامت ته د رسېدو په موخه فعالیت پیل کړ. په لومړي ګام کې یې پلویانو یوه اعلامیه خپره کړه چې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د۱۳۶۹ کال مرکزي کمیټه دې غونډه وکړي چې د ګوند مشر وټاکي. بیله شکه نجیب الله دې کار ته لیواتیا نلرله خو هغه ته یې دا پیغام درلود چې کارمل او پلویان یې د واک د ترلاسه کولو هوډ لري. د کارمل دا لوبه د ګوند بهرهم ډیرو ته څرګنده شوې وه او د محمدابراهیم عطایي د لیکنې پربنسټ« ببرک کارمل هیواد ته د راستنیدو وروسته خطرناکه لوبه پیل کړې وه د ګوند غیرپښتنانه غړي چې ستمي روحیه یې لرله سره نږدې کول . د دې خطرناک خوځښت رهبري د محمودبریالي، کاوياني او فرید مزدک په لاس کې وه .» ۱۷ / ۴۸۵ نجیب د ده خلاف د خپلو پرچمي ملګرو نقشې او ملي ضد کړنو ته چې د هیواد د میشتو وروڼو قومونو تر منځ دښمنیو ته په لمن وهلو څرخیدلې په مړو سترګو کتل او د مخنیوی په موخه یې تدبیرونه نه نیول . ترڅو خبره په شمال کې د پرچمي جنرالانو ( دوستم ، مؤمن ، نادري) بغاوت ته ورسیدله او بیا یې هم د دې بغاوت د کابو کولو لپاره کارملیان استول. عجیبه دا ده چې نجیب الله د خپلو کارملي ضد همکارانو او د ده ربښتینو خواخوږو اندیښنو او وړاندیزونو ته چې په کارملیانو بشپړ باورلري او هغوی په شمال کې د ستونزو د حل لپاره ګوماري چې عاملین یې دوی په خپله دي پام نه راګرزوي. د بیلګې په توګه کله چې په شمال کې بغاوت پیل شو د دې بغاوت د کابو کولو لپاره عظیمي استوي او د کورنیو چارو وزیر رازمحمد پکتین د مزارشریف د څارندوی د قوماندانۍ څخه یو شفر ترلاسه کړی وو چې عظیمي د کودتاچیانو سره همغږی دی. پکتین لیکي :« ما ډاکترصاحب ته وویل چې ما د څارندوی له قوماندانۍ څخه داسې شفر اخیستی چې دوستم نبي عظیمي ته وظیفه سپارلې ده چې څه کابل ته ولاړ شه موږ هم کابل ته درځو. ته هلته تیاري ونیسه . ډاکترصاحب بیله دې چې د شفر په هکله څه ووایي ما ته یې په ځواب کې وویل چې نبي عظیمي کارملی نه دی.»۱۳۷ / ۱۸۶ – ۱۸۷ د نجیب الله دا ډول دریځ د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت ښکارندوی دی چې هغه یوازې پخپلو پرچمي ملګرو باور درلود او خلقي پکتین ورته د ډاډ وړ همکار نه بریښیده. البته په پرچمي مشرانو کې داسې کسان هم وو چې د هغه مهال په حساسو شرایطو کې یې د پرچمیانو یووالی غوښت چې یو له هغو څخه ظهور رزمجو دی. نوموړي د کارمل او نجیب ترمنځ د اختلافونو د حل کولو په موخه هڅې پیلوي. پدې هکله د۲۰۰۶ کال د مارچ د میاشتې د آزادئ مجلې په ۷۱ ګڼه کې د ظهور رزمجو مرکه خپره شوې چې لنډیز یې دلته راوړل کیږي. رزمجو وایي ، ما نجیب الله قانع کړ چې د کارمل سره وګوري او د روانو پیښو په اړه ګډ دریځ غوره کړي . نوموړی دوه ځله د نجیب الله سره ګډ د کارمل لیدو ته ورغی او په دواړو لیدنو کې کارمل د اختلافونو د له منځه وړلو او ګډ کار ژمنه وکړله. خو کله چې رزمجو د دریم ځل لپاره کارمل ته ورځي دا مهال محمود بریالی ، د لغمان د ولایتي کمیټې پخوانی منشي شفیق توده یي ، د ننګرهار د دولتي امنیت پخوانی رئیس معاذان او انجینر نعمت هم د کارمل کور ته راغلل. هغوی د رزمجو څخه پوښتنه کړې ده چې د څه لپاره راغلی دی او هغه د خپل راتګ په هکله ورته ویلي دي چې پرچمیان ګډ کار وکړي د هغوی د غوسې سبب ګرزي او د رزمجو په خبره « د دې خبرو په اوریدو سره، ګواکې د نړۍ نظم ګډوډ شو او د صغرا( کوچني) قیامت ننداره پیل شوه: ټولې چیلکې او بوټونه چې هلته وو پرما وویشتل او کومې ښکنځلې نه وې چې ما ته ونه ویل شوې؟!..» پدې ډول د رزمجو د منځګړیتوب ماموریت چې د کارمل پلویان د نجیب خلاف کړنو لاس واخلي ناکامیږي .

## د دسترخوان یاران په غلیمانو واوښتل

د کب د شپاړلسمي ډرامه کې نجیب الله د بریالي لوبغاړي رول ولوبولو خو دا بری د هغه د رالویدو پیلامه وه. ځکه چې په پوځ کارملیان واکمن شول هغه پرچمیان چې د نجیب الله ورکه یې غوښتله او دې ته یې آمادګي نیوله چې له نجیب الله څخه د کارمل غچ واخلي. پدې هکله نبي عظیمي لیکي :« د ببرک کارمل پرچمي پلویانو د هیواد د دفاع هیله لرله سره لدې چې نجیب ته یې په سپکه سترګه کتل د خپل او خلکو د ژوند د ساتلو په خاطر هر ډول سربښندنو ته چمتو وو. خو د نجیب څخه غچ اخیستل او هغه ته یې د ضربې ورکول نه هېرول .» ۱۲۹/ ۳۹۷ د کب د شپاړلسمي ډرامې وروسته د حکومت د پرله پسې ماتو لړۍ پیل شوه ځکه چې د پوځ مورال ټیټ او بر عکس د وسلوالو مخالفینو مورال لوړ شو . د نجیب الله پلویان هم دا مني چې د کب د شپاړلسمي ډرامې وروسته په پوځ د نجیب مخالفان واکمن شول کومو چې د خپلې واکمنۍ د نړېدو په بیه یې د نجیب څخه د غچ اخېستلو ډډه نکوله. د نجیب دستیار محمداسحق توخي پدې هکله لیکي: «دا کودتا د مسکو د سناریو پر بنسټ د دکتورنجیب الله د دریځ د کمزورولو په موخه ترسره شوه ، چې د هغې په پایله کې د دولت پوځي توان ته یې سخت ګوزار ورکړ او په وسلوال پوځ کې یې د ځواکونو توازن د هغو عناصرو په ګټه واړاوه ، چې یو کال وروسته د دولت پرضد د شمال په بغاوت کې د ملګرو ملتو د پنځه فقره یی د سولې د پلان په شنډولو کې یې څېرې بربنډې شوې.» ۲۱۶ توخي رښتیا وایي چې د کب د شپاړلسمي ډرامې سناریو مسکو جوړه کړې وه او هغه نجیب الله عملي کړه خو توخي بیا هم د۱۹۹۰ کال د مارچ د پنځمې نیټې په هکله هماغه پخوانی حکومتي اپلتې وایي چې ګواکې شهنواز تنې کودتا کوله خو پدې توپیر دا ځل د پاکستان پرځای د مسکو ښکیلتیا ته یکې ګوته نیسي. توخی هغه عناصر چې له کودتا وروسته قوي شول نه معرفي کوي ځکه شرمیږي چې هغه د ده او د نجیب الله د دسترخوان یاران وو. توخي ته په کار دي له خپل ملګري عبدالوکیل څخه د کب د شپاړلسمي ډرامي د حقیقت په اړه واوري چې مسکو چا ته د کودتا په بري کې مرسته کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده تني یا نجیب ته . پدې اړه مخکې هم یادونه شوې وه چې یوځل بیا د کې جي بي د مشر خبره تکراراً راوړل کیږي چې نجیب الله ته یې ډاډ ورکړی وو:« لکه څرنګه چې د افغانستان د دفاع وزارت د ښار سره نږدې دی دا کار امکان نلري خو په بګرام به د بریدونو په اړه فکر او پرېکړه وکړو...» د پرچمیانو له کودتا څخه بهرنیان هم خبر وو لکه څرنګه چې بینن سېوان په خندا وکیل ته ویلي وو:« لکه چې تاسې کودتا په خپله ګټه تنظیم کړې وه.» د پوځ د کمزورۍ پایله دا شوه چې د۱۹۹۰ کال د اکتوبر په میاشت کې تیرین کوټ د ارزګان مرکز او د۱۹۹۱ کال د اپریل په میاشت کې د خوست لویې ولسوالۍ د وسلوالو مخالفینوپه لاس کې ولوېږي. په خوست کې زرګونه دولتي ځواکونه مخالفینو ته تسلیم شول . د خوست سقوط چې هلته دوستمي ملیشې د مخالفینو له لوري ونیول شولې مسکو او کارملیانو ته ښه لاسوند شو چې دوستم د نجیب الله خلاف ولمسوي هماغه دي چې په خوست کې د ازبکو د ملیشو قوماندان ډګروال جوره بیګ دوستم ته داسې شفر لیږي :« ښه شوې چې ته رانغلې ټولې خبرې ستا پر سر وې . »۱۵۵ / ۲۴۲ په خوست کې د دوو زرو شا وخوا دولتي ځواکونه هم مخالفینو ته تسلیم شوي وو چې دا دوستم ته کومه توطئه نه وه . پدې اړه اسدالله ولوالجی د( خروج جنرال دوستم و سقوط نجیب الله ) نومی کتاب په ۲۴۲ مخ کې راوړي چې وروسته لدې دوستم د خپلو ملګرو سره غونډه وکړه اوپرېکړه وشوه چې رسول پهلوان دې په فاریاب اوغفار پهلوان دې په سرپل کې د جهادي ډلو سره او سراج الدین صیادي به د دوستم اړیکې د مسعود او آزادبېګ سره ټینګې کړي . البته د جهادي ډلو سره د دوستم د اړیکو په ټینګولو کې اصلي رول پرچمیانو او د لږکیو د حقوقود لاسته راوړلو د داعیې سازمانونو (ستمیانو) ولوباوه. د خوست د سقوط وروسته «د داکټرنجیب الله او دوستم ترمنځ یو ډول ځانګړې وضعیت منځته راغی چې دوستم یې اغیزمن کړی وو.د ببرک کارمل پلویانو چې د دولت په څارګره اداره او د واکمن ګوند په مشرتابه کې د سترګو وړ نفوذ درلود دا ورته ښه لاسوند شو، د دی مسئلې د حساسیت په پام کې نیولوسره د نجیب الله څخه دوستم او له دوستم نه نجیب الله ته د تخریبوونکو اطلاعاتو په ورکولو سره د هغوی اړیکې ترینګړې کړي. » ۱۵۵ / ۲۳۲ هغه مهال نه یوازې کارملیان په دې وتوانیدل چې د دوستم او نجیب الله ترمنځ اړیکې ترینګړې کړې بلکه پدې هم بریالي شول چې د دوستم اړیکې د داسې اطلاعاتو په ورکولو سره چې« وایي عبدالعلي مزاري هزاره پرچمیان پدې تور چې پرچمیان دي نه وژني څه کیږي چې د هغه سره هم اړیکې ونیسو...، زموږ ځینې ګوندي ملګري چې د شمالي دي وایې چې د مسعود سره یې اړیکې نیولې دي موږ هم د هغوی له لارې د احمدشاه مسعود سره اړیکې ونیسو. » ۱۵۵/ ۲۴۵ ـ ۲۴۶ البته دا ټول د ک . ګ. ب په اراده ترسره کیدل. شوروي استخباراتي کړیو چې د نظار شورا سره له پخوا اړیکې لرلې او د وحدت ګوند سره یې یا په خپله یا ایرانیانو پرمټ اړیکې ټینګې کړې وې غوښتل یې د هغوی اړیکې په دولت کې د دوی د مزدورانو( کارملي پرچمیانو) سره هم ټینګې کړي. د وحدت حزب په هکله مخکې ویل شوي وو چې هغه د نجیب الله د هڅو له امله د شیخ آصف محسني د ډلې پرته له نورو اوو شیعیه ډلو څخه جوړشو. په ایران کې د شارژدافیر په توګه په هنګري کې د صدراعظم کشتمند د ورور اسدالله کشتمند مقرري د دې پروژې د بریالی مخ ته وړلو یوه برخه وه . له جمعیت سره د دوستم د اړیکو په ټینګولو کې د پرچمیانو په پرتله د سازا ( سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان) رول ټاکونکی وو . د سازا پلاوي کله چې لومړی ځل له مسعود سره وکتل او په دولت کې د نجیب الله ضد حرکت په هکله خبره شریکوي مسعود ور ته وایي: «دا د پرچم په ګوند کې نوی خوځښت دی چې د ببرک کارمل د پلویانو له خوا منځته راغلی او غواړي د کودتا له لارې نجیب الله نسکور کړي او د هغوی استازي څو ځله ما ته راغلي او منفي ځواب یې ترلاسه کړی دی له دې امله نه غواړم پدې بدنامه بهیر کې شامل شم. د سازا پلاوی دوه ځله بیا هغه ته ورغی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسعود ته وايي دا حرکت دومره د کارمل له ډلې سره تړاو نلري ناسيونالستي صبغه يې پياوړې ده، د ده د نه ګډون له امله د واکمن ګوند پښتانه به کابل حکمتيار ته تسليم کړي هغه مهال به غير پښتنو قومونو ته ستر ګواښ متوجه شي. سربيره پردې که د نظارشورا وغواړي او يا و نه غواړي د شمال پاڅون پيل کيږي او نوموړی سازمان ( د نظارشورا ) به له دې بهير نه لېرې پاتې شي. احمدشاه مسعود د سازا د پلاوي مشر ډګروال بسم الله ته وايي : تاسې ډاډمن اوسئ په شمال کې چې هر حرکت وشي د نظار د شورا پرته هغه په مخ نه ځي او زه پردې اعتقاد لرم.» ۲۷۰/۱۵۵ د احمدشاه مسعود او د سازا د پلاوي په خبرو کې دوه ټکي د پام وړ دي:لومړی دا چې مسعود هغه وخت د نجيب ضد حرکت سره يو ځای کيږي چې دا يو پښتني ضد بهير دی.دوهم دا چې مسعود په شمال کې د هردولتي ضد حرکت بری د نظار د شورا پرته نا شونی ګني دا ځکه چې په شمال کې د حکومتي ضد خوځښت د را پنځولو ترشا مسکو ولاړ وو او هغه مهال مسکو د هرچا نه زيات په مسعود حساب کاوه. د شوروي د يوه سرتيري د خاطرو نه چې « د مسعود د چريکانو سره زموږ اړيکي دومره تودې وې چې د چريکانو مشران به ډله ډله زموږ د ليدو لپاره زموږ کنډک ته راتلل ، هغوی ته يوه ډيره ښه ميلمستيا هم ورکړل شوه. د چريکانو مشر مسعود او زموږ قوماندان دا ژمنه سره کړې وه چې يو بل ته به زيان نه رسوي د دې ژمنپاڼې وروسته نور زموږ ژوند بلکل په امن کې سو.»۲۱۷ / ۳۲ ۵۱۳ په مسکو کې د کرملن له واکمنو سره د برهان الدين رباني يو لړ پټې معاملې په جمعيت د مسکو ټينګ باور ښيي چې د هغو پربنسټ مسکو په راتلونکي کې غوښتل رباني د افغانستان د مشر په توګه ووينې چې دې سفر د افغانستان په وروستيو انکشافاتو نيغ په نيغ اغيز درلود.

د۱۹۹۱کال د نوامبر(۱۱– ۱۵) په مياشت کې رباني د مجاهدينو د يوه پلاوي په مشرئ مسکو ته سفر وکړ.د سفر په پای کې يوه ګډه اعلاميه خپره شوه چې د هغې په شپږمه ماده کې راغلي وو :« د شوروي لوری موافقه کوي چې د۱۹۹۲ کال د جنوري مخکې به د کابل رژيم ته تسليحاتي اکمالات ، پوځي تخنيک او د پوځي وسايطو لپاره د سون د توکو استول دروي . »۲۱۸ د دې پلاوي سره د دا ډول ګډې اعلاميې خپرول ښيي چې مسکو پتيلي وه چې د نجيب پر ځای رباني د کابل په پلاز کېنوي. د مسکو او رباني ترمنځ له پټو معاملو نه هغه وخت پرده پورته شوه چې د رباني د واکمنئ په لومړئ دوره « په کال۱۹۹۲ کې په ملګرو ملتو کې د ملا رباني د حکومت استازي چې د رباني د پټ شفاهي توافق نه د شوروي له لوري د جګړې د تاوان د نه ورکړې په هکله خبر نه وو د افغانستان د ستونزې په اړوند بحث کې د پخواني شوروي نه د جګړې د زيانونو غوښتنه وکړه. د شوروي استازي په ځواب کې دومره وويل چې مخکې موږ پدې اړوند د رباني په مشرتابه د افغاني پلاوي سره توافق ته رسيدلي وو ...، او رباني وروسته په يوه مرکه کې وويل د جګړې مسؤليت د شوروي پخواني نظام په غاړه دی .» ۲۱۹مسکو ته د رباني سفر د افغانستان په کشاله کې د ښکيلو هيوادونو د افغاني ضد توطئو او دسيسو د ځنځير يوه کړئ وه چې پدې هيواد کې د م، م د ژنيو لوزنامې د پلې کېدو مخنيوی وکړي او افغانستان ته ټيکاو او سوله رانشي. لدې سفروروسته « د دسمبر په دريمه د پاکستان جمهور رئيس غلام اسحاق خان او صدراعظم نوازشريف په اسلام آباد کې د افغاني مهمو تنظيمونو مشران ومنل د خبرو په ترڅ کې يې مسکو ته د مجاهدينو د پلاوي سفرمثبت ارزيابي کړاو د افغانستان د کشالې په سوله ييز حل ټينګار وشو دې هدف ته د رسيدو لپاره يې اړينه وګڼله چې پاکستان ته د روسيې د جمهوررئيس د مرستيال الکساندر روتسکوی د کيدونکي سفر نه ګټه پورته شي. » ۴۹ / ۵۸۵ رباني له مسکو وروسته سعودی او ايران ته هم سفرونه لرل چې د ده د واک ته رسولو په اړه تهران او رياض ته د مسکو د تګلارې په اړه معلومات ورکړي . د مارچ په لومړيو کې په تهران کې د روسيې سفير د وحدت اسلامي حزب له مشرانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل چې د دې کتنې وروسته د نوموړي ګوند ځينې قوماندانان تهران ته غوښتل کيږي. دا ډول کتنې د مسکو- تهران او اسلام آباد ګډې هڅې ښيي چې موخه يې د اسلامي جمعيت او وحدت ګوند ترمنځ د اړيکو د ډاډمن ټينګښت سربېره د واکمن نظام د نسکورولو په موخه د ځواکونو متحدول وو. هغه مهال مسکو نه يوازې له وسلوالو مخالفينوسره ليدنې کتنې کولې بلکې د وطن ګوند د ځينو مشرانو لکه مزدک او جنرال عظيمي هم کوربه وو. په مسکو کې مزدک عظيمی ته ويلي وو:« په مزارکې به داسې اور بل کړو چې وچ او لانده پکې وسوزيږي. د اختر زوی (هدف نجيب وو) ته به داسې درس ورکړو چې تاريخ هغه هېر نکړي. »۱۲۹/ ۴۹۶ دا دواړه د پرچم د فرکسيون لوړپوړي يو ځای د مسکو نه کابل ته په يوه الوتکه راځي تر څو لومړی په مزار او بيا په کابل کې اور بل کړي. دوی نه يوازې په مزار بلکې په ټول افغانستان کې داسې اور بل کړ چې وچ او لانده پکې وسوزيدل ، دوی نه يوازې د اختر زوی بلکې افغانانو ته داسې درس ورکړ چې تاريخ به هغه هېر نکړي. مسکو د نجيب د راپرزولو چاره د واکمن ګوند د ځواکمنو څيرو پواسطه چې پر افغانستان واکمن وو، په مدرنو وسلو سمباله مليشو يې نفوذ درلود ليدله نوهماغه دي چې د عظيميانو او مزدکيانو په څير کسان يې استخدام کړي وو چې د دې مليشو د مشرانو او په تېره دوستم او نجيب ترمنځ د بې باورۍ فضا را وپنځوي او هغوی د مرکزي واکمنی پر ضد استعمال کړي. دې هدف ته د رسيدو په موخه يې د مختلفو کانالونو څخه ګټه پورته کوله. د ساري په توګه «د انقلابي اختصاصي څارنوالۍ روسي سلاکار يوه دوسيه چې د دوستم اړيکې د آزادبيګ د شمال د اتحاديي سره ښودل د اختصاصي انقلابي څارنوالی سياسي مسؤل افسر مسعود ته چې د فارياب د درزاب ولسوالۍ اوسيدونکی وو سپاري چې هغه په درۍ وژباړي ... ، سلاکار پدې خبر وو چې نوموړی د سيداکرام پيګيرسره چې د دوستم حامي دی اړيکي لري اوهغه ته دا دوسيه ښيي چې دوستم بايد محاکمه شي. » ۱۵۵/ ۱۹۷ د شوروي سلاکار موخه د دوستم خواخوږی هغه ګواښ ته متوجه کاوه چې دوستم د انقلاب ضد سره تړاو لري ترڅو د دولت نه خپله لار بيله او د انقلاب ضد په کتار کې ودريږي.همدارنګه « کارمل د دوستم سره د ترکمني عمرآغا په کور کې چې د دوستم د۵۳ فرقې افسر وو ګوري. د دوی دا کتنه لدې امله د دوستم يا کارمل په کور کې ونشوه چې دوستم د کارمل سره د اړيکو د جوتيدو نه وېرېده...، همدا راز فريداحمدمزدک هم دوستم خپل دفتر ته رابللی وو او هغه ته يې يوه تابلو ډالۍ کړه چې په هغې کې يو زمری د يوه غويي په ښکرلو کې ښيي. دې تابلو د خپل سمبوليک والي له کبله دا ارزښت درلود، ټول پوهيدل چې نجيب د خپلو زده کړو په وخت د نجيب ګاو په نامه شهرت درلود.» ۱۵۵ / ۲۵۸ دا ټول د مسکو او د هغه د افغان چوپړيانو له لوري چې د نجيب د نسکورولو هوډ يې درلود په ګډه تر سره کېدل . پدې کې شک نشته چې شورويانو نجيب الله ته هم داسې اطلاعات ورکول چې پر دوستم او نورو ځواکمنو کسانو چې د هغوی د پنځم ستون رول لوباوه بې باوره کړي هماغه دي چې « په شمال کې ځينې لوړپوړي مسؤلين( جنرال مؤمن د حيرتان د ګارنيزيون قوماندان ،جنرال جمعه نظيمی د اتلسمې فرقې قوماندان ،جنرال هلال الدين هلال د مزار د هوايی مفرزې قوماندان او جنرال احمديار د بلخ د څارندوی قوماندان ) له دندې ګوښه او پرځای يې نوي مسولين وګومارل. د حيرتان د بيز نوی قوماندان کله چې حيرتانو ته لاړ د جنرال مؤمن لخوا بندي شو او هلال هم مؤمن ته پناه وړ وړي پدې توګه له حيرتان نه د مرکزي واکمنی خلاف بغاوت پيليږي. په شمال کې د بغاوت د پيلېدو وروسته نجيب ته په کار وو چې د ټولومطرح سياسي ډلو او متنفذينو همکاري يې جلب کړې وای. خو داسې بريښيدل چې نجيب يوازې په خپلو پرچمي ملګرو باور درلود او هغوی يې په شمال کې د ستونزو د حل په موخه استول. په پرچمي توب کې ډوب نجيب ته د مجنون په څېر هر پرچمی ليلي بريښېده او پرهغوی يې اعتماد کاوه چې پايله د مرکزي واکمنی نسکوريدل شول. پدې هکله د هغه د دسترخوان يار

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظیمي په خپل کتاب کې راوړي په وروستیو کې« ډاکټر نجیب احمق شوی وو. زه به یې لېږلم چې دوستم او مؤمن راضي کړم ، خو ما به هلته د ټولو جهادي او غیر جهادي پوځي لړکیو څواکونو ترمنځ اړیکې او نظم برابراوه او چې کله مو کابل ونیو، نو ده ته معلومه شوه چې موږ څوک یو او دی څوک دی.»۱۷۰ /۲۰۰ کله چې مؤمن له حیرتان څخه بغاوت پیل کړ د «جنرال حسام الدین د اتیایمي فرقې د مرستیال او جنرال دوستم نه د مرستې غوښتنه کوي او خپلې اړیکې د سیاسي بیرو د ځینو غړو لکه فریدمزدک او کاویانی د وطن د ګوند د مرستیالانو سره ټینګوي او ویل کیږي چې محمود بریالي هم د مؤمن له لوري د مرکز له فرمانونه په سرغړونه کې رول درلود. »۱۵۵ / ۲۵۸ جنرال دوستم د ټولو نه مخکې د مؤمن څخه خپل ملاتړاعلان کړ پدې ډول د مسکو هلوځلو نتیجه ورکړه چې دوستم د دولتي واکمنی په وړاندې ودریږي. نجیب الله د وضعیت د کابو کولو لپاره شمال ته مختلف پلاوي چې مرکزي رول پکې عظیمي درلود استوي هغوی بغاوت کوونکو ته اړینې مشورې ورکولې او نجیب ته یې د وضعیت د ښه کیدو ډاډګېرنه ورکوله او د هغو سره جوخت یې مرکز ته داسې وړاندیزونه کول چې د بغاوت ګرو دریځ لا پیاوړی شي. جنرال عظیمی چې د بغاوت له پیل وروسته یې زیاته موده په شمال کې تیروله ترڅو یې د دوستم قوتونه او هغه هم د نجیب الله د هدایت سره سم د ۱۹۹۲ کال د مارچ په اوولسمه مزارشریف ته داخل کړل. دوستم مزار ته په ننوتو سره لومړی عظیمی ته ورغی او ورته وایی :« د خپل ځان سره مې پنځه زره تنه او زیات ټانکونه او توپچي راوړي دي هرډول چې امر وکړئ اجرا به یې کړي. » ۱۹۸ / ۲۲ د جمهور رئیس دا پریکړه چې د دوستم ملیشې مزارشریف ته ننوزي لدې امله د حیرانتیا وړ وه چې یوه ورځ مخکې هغه د کابل ښار د ګوندي کمیټې فعالینو ته پخپله وینا کې د شمال د پیښنو په اړوند د دوستم ،حسام الدین او مؤمن په پته سپکې سپورې ویلې وې. مزار ته د دوستم د ملیشو په ننوتلو سره هغوی سملاسي د څارندوی او اردو امنیتي پوستې بې وسلې کړې چې د هغو سره جوخت جهادي ډلې هم مزارشریف ته ننوتلې. د دولتي بغاوتګرو او جهادي ډلو له لوري د مزارشریف له نیولو وروسته په شمال کې نور ولایتونه هم مخالفینو ته سپارل کیږي. په همدې نیټه( مارچ اوولسمه) د احمدشاه مسعود په مشری یوه شورا جوړه شوه چې مرستیال یې حاجی محمدمحقق او دوستم یې د پوځي چارو مسئول ټاکل کیږي او د شمالي ولایتونو اداره په لاس کې نیسي. دا مهال په مزارشریف کې د کابل څخه د ګوند، اردو، څارندوی او دولتي امنیت یو ګډ پلاوی موجود وو چې غړي یې د دوستم لخوا بندي شول خو نبي عظیمی او سیداکرام پیګیر د ګوند د مرکزي شورا غړي یې بندیان نکړل . عجیبه دا وه چې د دوستم او جهادي ډلو له لوري د مزارشریف د نیولو په شپه نجیب الله د راډیو ټلویزیون له لارې د وینا په ترڅ کې د جمهوري ریاست نه د ګوښه کیدو چمتووالی وښود. « د نوروز په شپه د سیدمنصورنادري د اسماعلیه مذهبي ډلې د مشر په کورکي غونډه وشوه چې په هغې کې علم خان آزادي ،فهیم خان ، دکتور مشاهد،د وحدت ګوند استازي، جنرال دوستم ، جنرال مؤمن او پخپله ښاغلي نادري ګډون درلود ...،او پریکړه وشوه چې جنرال عظیمي، نه د دولت د ځانګړې استازي بلکې د خپل ځان له خوا د یوه تاریخي دود په توګه جنډه پورته کړي. »۱۹۸ / ۳۳ نجیب الله هم په همدې نیټه عظیمي ته هدایت ورکړ چې د نوروز په ورځ د حضرت علی (رض ) د روضې جنډه پور ته کړي. د دوو دښمنو خواوو( نجیب او په شمال کې د وسلوالو مخالفینو) له لوري ګډه پریکړه دا ګومان په واقعیت اړوي چې د پردې شا اصلي مرکز چې هم نجیب د هغه د مشورو پربنسټ ګامونه اوچتول اوهم یې د شمال بلواګرو ملاتړ کاوه ولاړ وو چې هغه مسکو دی.عظیمي د ولسمشر د دستور له مخې د سیداکرام پیګیر سره یوځای د روضې په انګړ کې چې هلته د مجاهدینو د قوماندانانو او دوستم سربېره یې سلګونه وسله وال جنګیالي موجود وو جنډه پورته او حاضرینو ته یې وینا وکړه. دا چې د دولت مخالفین او بغاوت چیان په مزارشریف واکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي بیا هم عظیمي او پیګیر ته اجازه ورکوي چې جنده پورته کړي لامل یې دا وو چې هغوی یې خپل ګټل او دادمن وو چې په کابل به یې هم بیله کومې ستونزې دوی واکمنوي. د جنډې له پورته کولو وروسته عظیمي کابل ته ستنیږي ځکه چې هلته یې مسئولیت چې جهادیانو ته د شمال ولایتونه سپارل وو پای ته رسېدلی دی. کابل ته په را رسیدو سره هغه د وطن ګوند د اجرائیه بیرو په غونډه کې ګډون وکړ. د هغه نه غوښتل شوي وو چې د شمال د پېښو په هکله رپوټ ورکړي: « ستر جنرال عظیمي چې په شمال کې خپل پلان د بریالي ،کاوياني او مزدک د دستور له مخې پلی کړی وو د ویلو له پاره یې څه نلرل د بل ټاکونکي کارت نه یې استفاده وکړه او یوه هنري ننداره یې پیل کړه په ژړا یې پیل اوغتې غتې اوښکې یې پرمخ راغلې او داسې حالت یې غوره کړ چې د خبرو اړتیا پاتې نشوه او په پرله پسې توګه یې تکرارول زه یې سپک کړم نجیب الله له ځایه پاڅید د متې نه یې ونیو او ورته ویې ویل ته د وسله وال پوځ یو ستر افسر یې داسې وضعیت ستاسو سره نه ښایي کور ته ولاړ شئ ، دمه وکړئ وروسته به سره ووینو. » ۸۰/ ۱۲۷ کله چې شمالي ولایتونه د مرکز له ولکې ووتل نجیب له دوو انتخابونو سره مخامخ شو یا باید د ملګروملتو د سولې پلان ته غاړه کیږدي یا د شمال د پیښو سمبالوونکو ته. « په لومړي حالت کې یې برخلیک د تنظیمي ډلو او د ملګروملتو لخوا د ټاکل شوو تکنوکراتانو په لاس کې لویده چې د تنظیمونو په پرتله یې د رژیم سره زیاتې عقدې لرلې په دوهم حالت کې یې برخلیک هغو مختلفو ډلو چې د ده د پرچم اړخ پکې فعال رول درلود ټاکه، خو داسې بریښي چې هغه په وروستي فرصت کې دوهم حالت غوره وګڼه او پدې تمه چې رول به یې وساتل شي دوستم ته د عذر لمن نیسي او د کارمل د زړه سوي په هیله کښیناست. »۱۸ / ۵۷۹ له همدې امله یې عظیمي، مزدک ،بریالي ،پیګیر او د هغوی په څیرد خپل دسترخوان یارانو ته واک ورکړ هرڅه چې غواړي همغسې وکړي. عظیمي چې په دې خاینانه لوبه کې په پوره مهارت سره په شمال کې پښتني ضد ځواکونه واکمن کړل چې د کارملیانو غوښتنه وه. پدې کارسره هغه د خپلو پرچمي ملګرو په منځ کې ښه وځلیده ، د ده په وینا هغه دله پرچمیان چې د نجیب د نسکورولو لیوال وو ده ته راتلل او داسې وړاندیزونه یې کول. «جنرال لطیف راغی او ویې ویل معاون صاحب عظیمي اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې نجیب بې وسلې شي او قدرت په لاس کې ونیسئ ، د دوستم او احمدشاه مسعود نه مرسته وغواړه او د زرګونو ګوندیانو ژوند چې په خطر کې دی وژغوره ...، یوازې لطیف نه وو بیشمیره خلکو په هغو ورځو کې زما نه دا هیله لرله .»۱۲۹/ ۵۵۳ عظیمي او نورو کارملیانو د مسکو د سناریو پربنسټ او د خپلو ملګرو د خوښې له مخې او د هغوی پرمټ د اپریل په یوولسمه جبل السراج، په دیارلسمه چهاریکار او په څوارلسمه بګرام د احمدشاه مسعود ملیشو ته تسلیم کړل. د مزار څخه کابل ته د عظیمي د راستنیدو وروسته د م،م ځانګړی استازی بینن سیوان د جمهور رئیس پرځای له هغه سره ګوري ځکه پوهیږي چې اوس د افغانستان اصلي واکدارعظیمي دی. بینن سیوان د اپریل په دیارلسمه مزارشریف ته ځي او د دوستم سره ګوري. کله چې مسعود د کابل ښار څنډو ته راورسول شو « د پروان په ولایت کې د ښاغلي مسعود تر مشرۍ لاندې او د عبدالعلي مزاري او جنرال دوستم په مرستیالی د افغانستان د عالي جهادي شورا بنسټ کیښودل شو او د کابل د نیولو طرحه یې جوړه کړه. د کابل په ښار کې چې پوځي اختیارات د محمدنبي عظیمی سره وو د دې شورا پوځي ځواکونو ته د سرخوړی پرته د ننوتلو لارې هوارې کړې وې. »۲۲۰/ ۱۷ پدې شورا کې« احمدشاه مسعود، جنرال دوستم ،حاجی محمد محقق ،عبدالعلي مزاري ، سردارمحمدارغون د آزادبیګ استازي او یو شمیر نورو جهادي قوماندانانو ګډون درلود. »۱۵۵ / ۲۸۹د دې شورا په جوړېدو سره د شمال ټلوالي سیاسي جوړښت بشپړ شو چې مرکزي رول پکې خبیثه مثلث( اسلامي جمعیت ، وحدت ګوند او پرچم ) درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه وطن نه کفن

د شوروي لښکر د بشپړ وتلو وروسته د کابل د عامې روغتيا په څلورلارې کې يو ستر مېټېنګ جوړ شو چې د نجيب الله په شمول د ګوند او حکومت مشرانو پکې ګډون کړی وو. د دې مېټېنګ ځانګړتيا پدې کې وه چې د ګوند د مرکزي کمېټې د څانګو د مشرانو په شمول د مرکزي کمېټې اپراتو او د ګوندي کمېټو غړو وسله په لاس ځانګړی يونيفورم هم اغوستی وو. نجيب الله په ميټېنګ کې وينا وکړه او د( يا وطن يا کفن) په زړه پورې شعار يې ورکړ. پدې شعار کې د وطنپالنې لوړ احساس پروت وو او هغو افغانانو ته پيغور وو چې هېواد يې پرې ايښی او يا د پرديو د ارادې له مخې د خپلو خلکو په وړاندې جنګيږي. خو پر بله خوا ولسمشر څه موده وروسته خپله کورنۍ د هندوستان د ( پونه) ښار ته د کفن له وېرې واستوله او دې دا معنی ورکوله چې په خپله يې پدې شعار باور نه درلود. هندوستان ته د خپلې کورنۍ د استولو سربېره د ده د ناکامې تېښتې هڅه يې بله بېلګه ده چې د دې شعار د ورکولو څخه يې موخه د ځوانانو په احساساتو لوبه وه. تر دې دمه نه ده څرګنده شوې چې کوم ګواښ هغه اړ ابست د شپې په تياره کې بېله دې چې کابينه ، د ګوند مشران او حتی د هېواد د استخباراتو مشر د هېواد څخه د وتلو په اړه خبر کړي . د هغه دستيار پدې اړه ليکي: «د ۱۹۹۲ کال د اپريل د څوارلسم په شپه( ۱۳۷۱ وري پنځه ويشتمه ) د دکتور نجيب الله د تلفون زنګ راغی چې د هغه دفتر ته ورشم ، کله چې دفتر ته ورننوتم را ته و يې ويل ...، همدا اوس د اجراييه کمېټې غړي راغلي وو ، سليمان لايق، وکيل، مزدک ، کاوياني او بريالي د اسلامي جمعيت د نظار د شورا سره د ايتلاف مساله طرحه کړله...، او سربېره پردې يې زما استعفی هم وغوښتله خو ما په ځواب کې ورته وويل چې زما ګوښه کېدل له واکه او استعفی د ملګرو ملتو د عمليې يوه برخه ده خو تاسو له يوه اړخه د ملګرو ملتو د عمليې لاندې لاسليک کړی ، اوس د اسلامي جمعيت سره د ايتلاف سوال راپورته کوئ . زه د اسلامي جمعيت د نظار د شورا سره ستاسو د اعلاميې سره بالکل همغږی نه يم انتظار وباسئ چې سبا ته بينن سيوان راشي. دکتور نجيب الله وويل چې د وطن د ګوند د اجراييه کمېټې دله بيزه راتګ او د اسلامي جمعيت سره د ايتلاف او زما د استعفې غوښتنې څخه و پوهېدم چې تر شا يې علاءالدين بالا ولاړ دی. د علا ءالدين بالا څخه د دکتور نجيب الله موخه د شوروي سفارت وو.» ۲۲۱ / ۲۷۷ په زړه پورې دا ده چې د شوروي سلاکارانو وروستی ډله يوه ورځ وړاندې د اپرېل په ديارلسمه له افغانستان څخه ووتله او نجيب ته يې د ډاډمنو دوستانو په څېرسلا مشورې ورکولې خو نجيب يوه ورځ وروسته د اپرېل په څوارلسمه په روسانو بې باوره شو. لدې څخه ښکاري چې يا توخي رښتيا نه وايي يا دا چې نجيب تر دې کچې غبي وو چې خپل انترناسيونالست دوستان يې نه وو پېژندلي او د هغوی د وتلو يوه ورځ وروسته يې هغوی وپېژندل . بيا هم نجيب د امين په پرتله هوښيار وو چې د خپلو انترناسيونالستو دوستانو ماهيت او حقيقت د هغوی د وتلو يوه ورځ وروسته ورته روښانه شو خو امين يوازې د خپلو دوستانو پواسطه د ده د وژنو نيمه ګړې مخکې هغوی و پېژندل چې دی يې غولولی دی. عجيبه خو لا داده چې نجيب الله پوره څلور کاله د ملګروملتو په دفتر کې د توخي او خپل ورور سره ژوند کاوه لړترلړه يې د ده د واکمنۍ د بهيرونو ، د خپلو غدارو پرچمي ملګرو او انترناسيونالستو دوستانو د خيانت په اړه خپلې خاطرې ونه ليکلې ترڅو افغانانو ته واقعيتونه معلوم شوي وای. لدې څخه ښکاري چې هغه د ليکلو لپاره څه نلرل ځکه چې ده کومه څرګنده تګلاره نه لرله او ټول ګامونه يې د شورويانو او خپلو پرچمي ملګرو د ارادې له مخې پورته کول. که د خپلې سياسي مبارزې او په تېره د خپلې واکمنۍ خاطرې او د ناکامې تېښتې واقعيت يې ليکلې وای اصلي مجرم دی راخوت . غوره يې دا ګڼلې وه چې د م، م په دفتر کې د هندي فلمونو نندارہ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. د توخي د لیکنې په هکله باید وویل شي هغه څه چې ده لیکلي دي واقعیت نلري بلکې د هغه پرچمي ملګرو له نجیب څخه نوري غوښتنې لرلې او که هغو ته یې لبیک ویلی وای د ده او د ده د ټیم کړنې یې ترغتې پوښتنې لاندې راوړلې او ښایي د ملي خیانت تور پرې لګول شوی وای. هماغه دي چې د م، م له کارکوونکو څخه غواړي د بینن سیوان سره اړیکه ونیسي او دی له هېواد څخه په قاچاقي ډول وباسي او هندوستان ته یې ورسوي. سربېره پردې کله چې د ۱۹۹۲ کال د اپریل په څوارلسمه د شمال د بلواګرو ملاتړو پرچمي جنرالانو( جنرال محمدنبي عظیمي، جنرال محمدآصف دلاور، جنرال عبدالفتاح او جنرال یارمحمد ) خپل وروستی ګام چې جمهور رئیس د دوی غوښتنې هم ومنې د نجیب الله سر پدې خلاص شو چې د دسترخوان یاران یې د ده سره نه دي ،دی یې غولولي او خیانت یې ورسره کړی دی هماغه دي چې د هغوی غوښتنو ته منفي ځواب ورکوي یا ښایي پدې هکله د فکرکولو وخت غوښتی وي ترڅو د تېښتې لارې ولټوي او پدې ډول د هغوی له شره ځان خلاص کړي. دا چې دې جنرالانو د ده څخه څه غوښتل، نه ده په خپله چا ته څه وویل ، نه یې رښتینو یارانو او نه یې غدارو یارانو . بېله کومه شکه هېڅکله به پرچمي جګپوړي د دې راز څخه پرده پورته نکړي ځکه چې د پرچمي مشرانو ټول تاریخ د ناولو معاملو او پټو رازونو ټولیزه ده . په هرصورت د ده پروني د دسترخوان غدار یاران خو نننی غلیمان د نوموړي په پرتله ځیرک وو او دې یې تر کلکې څارنې لاندې نیولی دده د تېښتې خنډ ګرځي او اړ کېږي د م ، م دفتر ته پناه یوسي. د نجیب الله د ناکامې تېښتې وروسته د اپریل په پنځلسمه د ګوند د مرکزي شورا ( سیاسي بیرو) غونډه را بلل کېږي. پدې غونډه کې بریالی لایق د غونډې د رئیس په توګه پیشنهادوي چې دا پخپله یوه لوبه وه ځکه چې که په غونډه کې د ګوند رئیس نه وي معمولاً د هغه مرستیال د غونډې د مشرئ مسؤلیت لري. د غونډې په پیل کې مزدک کابل ته د د الوتکو پواسطه د دوستم د ملیشو د رارسیدو رپوټ ورکړ چې د دې خبرې به اوریدو سره سمدلاسه غلام فاروق یعقوبي د دولتي امنیت وزیر « پورته شو او ویې ویل : دا ستر خیانت دی او له جلسې ووت. » ۲۲۰/ ۱۷ هېره دې نه وي چې د دوستم ملیشې یوه ورځ مخکې هوایي ډګر ته رارسول شوې وې او جمهور رئیس عظیمي ته هدایت ورکړی وو چې هغه چهارآسیاب ته ولیږي ترڅو کابل ته د حکمتیارد جنګیالیو د ننوتلو مخه ونیسي . دا بیا ښيي چې نجیب خپله هغه خبره چې د ګوندیانو یوې غونډې ته کړې وه چې حکمتیارته به اجازه ورنکړم کابل ته ننوزي عملي کوله ترڅو په کابل کې د وینو لښتي وبهېږي. کابل ته د دوستم د ملیشو رسول چې د نظارشورا جنګیالي یې هم د همدې ملیشو په نامه په هوایي ډګرکې کښته کړي وو کودتا چیانو بشپړ ډاډ پیدا کړ چې نور یې برئ حتمي دی د جمهور رئیس سره خپل څرګند مخالفت ښيي او یا د هغه څخه داسې غوښتنې لري چې هغه چمتو نه وو هغې ته غاړه کېږدي. ښایي هغوی داسې غوښتنې لرلې چې جمهور رئیس د مرګ ګواښ پکې لیدلو د خپل شعار(یا وطن یا کفن ) په ځای یې (نه وطن نه کفن ) غوره وګڼلو ،د کفن له وېرې له وطن څخه د تیښتې په لټه کې شو.هماغه دي چې په کابل کې د م،م له کارکوونکو سره د هیواد څخه د وتلو خبره شریکوي . د دې نړیوالې مؤسسې کارکوونکي د بینن سیوان سره چې په پاکستان کې وو اړیکه نیسي تر څو کابل ته راشي اونجیب الله له هېواد څخه وباسي. د سیوان الوتکه د شپې په یوه نیمه بجه را ورسېدله . نجیب الله او ور سره ملګري یې له څو امنیتي پوستو تیر شول خو الوتکې ته څېرمه د دولتي امنیت د وزارت اړونده پوستې د جمهور رئیس د تګ مخه ونیوله. نجیب الله اړکېږي چې بیرته ښار ته راستون او د م،م دفتر ته پناه وړي .دا مهال د دوستم ملیشې د بینن سیوان الوتکه محاصره کوي او هغه ته د الوتکې څخه د وتلو اجازه نه ورکوي. بینن سیوان دا موضوع له نجیب سره شریکوي او د سیوان په وینا جمهور رییس د تلفون په کرښه ورته وایي چې د امنیت مسؤل ( غلام فاروق یعقوبي د دولتي امنیت رییس ) به درشي خو څوک نه ورځي . سیوان بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجيب ته تلفون کوي او نجيب ورته وايي چې جنرال عظيمي به درشي ، عظيمي ورځي او ببنن سيوان له هوايي ډګر څخه د م،م دفتر ته رالېږدوي. پدې اړه دا پوښتنه را پيدا کيږي چې ولې په افغانستان کې داسي حالات راغلل چې د واکمن ګوند او دولت مشران شو د هيواد څخه د تيښتي هڅه وکړي چې په تېښته کې هم پاتې راغی. د دې پوښتني ته لاندې پنځه لاملونه او يا يې يوه برخه ځواب ويلی شي:

لومړی - د دا ډول وضعيت واکمنيدل د وخت د زبرځواکونو په پاليسيو کې بايد ولټول شي چې نه يې غوښتل په افغانستان کې د م ،م د سولې پروګرام پلی شي.

دوهم ـ دا واقعيت هم د ليدو وړ دی چې د ملګرو ملتونو استازی ببنن سيوان په خپله له توطئي څخه لېرې نه وو. لکه څرنګه چې د ملګروملتو پخواني استازي ، ديه ګو کوردوويز چې د ژنيو د لوزنامي د لاسليک وروسته له دې دندې ګوښه کړل شو د ده ګوښه کول د خپلو مرستيالانو له لوري کودتا ګڼله. دې دا معنی لرله چې ببنن سېوان د م، م د سولې د پروګرام د شنډولو په موخه ګومارل شوی وو.

دريم – نجيب الله ټولې هڅې د خپل او پرچميانو د دريځ د پياوړتيا په موخه متمرکزې کړې وې چې ټول د ده په وړاندې ودرېدل او کارمليانو بيا دده سره خاينانه لوبه پر مخ وړله .

څلورم – نجيب الله د ملي روغې جوړې د تګلارې څخه د يوې پروژې په توګه ګټه پورته کوله داسې سوله يې غوښتله چې ټول او په هغو کې وسلوال مخالفين د ملي پخلاينې په نامه ده ته تسليم شي.

پنځم ـ د نجيب الله په اړه د مسکو د دريخ بدلون.

کله چې د کرملن په مانۍ کې د کارمل د ځای ناستي په اړه بحث کېده « ګرباچف عقيده لرله چې نجيب الله د ک . ج . ب لومړی درجه نوکر د مسکو د هر هدايت د اجراکولو لپاره ډاډمن سړی دی.» ۱۸۳ /۱۹۹ د نجيب الله واکمنۍ هم وښودل چې هغه د کې جي بي ښه نوکر وو او خپل ټول ګامونه يې د کې جي بي په خوښه پورته کول . همدا لامل وو چې کې جي بي هغه ته دستور ورکړ چې له امريکايانو سره نږدې شي او د افغنستان په اړه د واشنګتن د تګلارو او نيت په اړه شورويانو ته معلومات ورکړي . پدې هکله شبارشين د ک . ج . ب لوړپوړی ليکي: «کله چې زه د کې جي بي د بهرنۍ څانګې مرستيال وم زموږ په اجازه نجيب الله د خپلې واکمنۍ په وروستيو کلونو کې د امريکا سره نږدې شو. تر يوه وخته پورې د هغه د اړيکو د جزيياتو څخه خبر وو خو يو وخت راغی چې موږ خپله لار ورکه کړله.» د لارې د ورکولو معنی دا ده چې نجيب الله د شورويانو سره لوبې پيل کړې وې. دا نو د خپل بادار سره غداري وه او بادار هرومرو خپل غدار مزدور ته سزا ورکوي هماغه دي چې په واکمن ګوند کې يې خپل نور پرچمي مزدوران چې د دولت او په تېره دولتی امنيت او دفاع وزارت کې کليدی مقامونه لرل د نجيب الله خلاف ولمسول چې څه ډول خپل دې غدار نوکر ته سزا ورکړي.

نجيب د خپلې واکمنۍ تر وروستيو پورې خپلو پرچمي ملګرو ته د فعاليت بشپړ واک ورکړی وو او هڅې يې پدې متمرکزې کړې وې چې پر افغنستان يوازې دوی حکومت وکړي او خلقيان له ډګره وباسي. د نجيب الله د کابل ښار د څارندوی خلقي قوماندان جنرال ولي احمدزی چې د نجيب الله له پلويانو نه ګڼل کيږي هغه ته عبدالرحيم وردګ د څارندوی د دريمي فرقي قوماندان ويلي وو :« عظيمي را ته وويل که کوم وخت غږ درباندې وکړم چې فرقه دې زما د غوښتنې سره سم استعمال کړې دا کار به وکړې که نه. ما د جنرال وردګ دا خبره ولسمشر ته وکړله هغه را ته وويل تاسو خلقيان عظيمي تخريبوئ. څو ورځې وروسته جنرال وردګ د قوماندانۍ نه ګوښه کړل شو.» د جنرال ګوښه کول ښيي چې نجيب او د دسترخوان يارانو يې پلان درلود چې د وسله وال پوځ د ځواکونو په مشرتابه کې پرچميان او يا داسې څيرې ويني چې د پرچميانو غوښتنو ته بېله څه ويلو مثبت ځواب ورکړي او چا چې دې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غاړه نه ایښودله د ځواکونو له مشرۍ نه ګوښه او په پاسیفه دندو وګوماري . له بله پلوه نجیب الله د کارمل په څېر د شورویانو د دستورونو رښتینی پلې کوونکی وو چې په شمال کې د ځواکمنو قومي ملیشو جوړول یې ښه ساری دی.ولسمشر ته په شمال کې د ملیشو د جوړولو د احتمالي ګواښونو په هکله د هغه رښتینو همکارانو داسې ویل : « که هره ورځ د نویو قطعو د جوړولو په هکله د دوستم وړاندیزونه ومنئ ډېر ژر به په هر ولایت کې د دوستم ځواکمنې قطعې راڅرګندې شي او داسې ورځ به راورسیږي چې د مرکزي دولت نه اطاعت ونکړي. » ۱۲۹ /۴۹۴ددې سره سره بیا هم نجیب په شمال کې د ملیشو د جوړولو لړۍ ونه دروله او پایله یې دا شوه چې دا ملیشې دومره ځواکمنې شي چې د دولت خلاف بغاوت وکړي او همدا ملیشې بیا د ۱۹۹۲ کال د اپریل په څوارلسمه د خپلو پرچمي ملګرو په وړاندیزاو د ده د هدایت سره سم کابل ته راولیږدوي او کله چې دی د مرګ له ګواښ سره مخامخ شو اوغوښتل یې له هیواد څخه وتښتي د ده په لاس جوړ شوي ګارد اوهمدغو ملیشو یې د خواجه رواش په هوایي ډګر کې مخه ونیوه او اړ شو چې د م ، م دفتر ته پناه یوسي.

که چیرې د نجیب الله واکمنۍ او په تیره په شمال کې د۱۹۹۲ ز کال پیښو ته وکتل شي هغه « په سیاست کې هیڅکله څرګنده تګلاره چې ستراتژیک او باثباته خصلت ولري نه لرله، هغه د ورځې په نرخ لوبغاړی وو ، تر وروستۍ ورځې پورې یې اپراتیفي اوخادیستي ځانګړتیاوې له لاسه ورنکړې، هغه په هیڅچا سربیره پر یوه ورور،یوه توخي او یوه جفسر اعتماد نه درلود ،د خپل واک په وروستیو ورځو کې یې خپل وفادار کسان لکه لایق او یعقوبي هم له خپله ځانه لیرې کړي وو.»۱۸ /۵۷۲ د ده دا ډول ځانګړتیاوې ددې سبب شولې چې ټول دده نه مخ وګرزوي ،د ده شاوخوا کمزوري ، فرصت غوښتونکي او د مسکو په پنځم ستون پورې تړلي څیرې راټولې شي او بالاخره دی اړشي چې د شپې په تیاره کې د هغو سلګونو زرو افغانانو په شان چې په پټه قاچاقبرانو له هیواد نه ایستل د هیواد نه د تیښتې هڅه وکړي چې دا هڅه یې هم د ده په لاس جوړشوي ګارد شنډه کړه او په نهیلۍ سره د ملګروملتو دفتر ته پناه یوړله پدې تمه چې دا نړیوال سازمان به مرسته ورسره وکړي هندوستان ته چیرې چې خپله کورنۍ یې پخوا استولې وه ورسوي. دې سازمان هم ورسره مرسته ونکړه او څه د پاسه څلورکاله هلته پاتې شو ترڅو د ۱۹۹۶ ز کال د اکتوبر په پنځمه طالبانو دی او د ده ورور جنرال شاه پوراحمدزی د عامه روغتیا په څلورلارې کې په دار وځړول . د نجیب الله پلویانو په لومړیو کې د هغه تېښته په نجیب الله تور ګاڼه خو کله چې پدې هکله فلیپ کاروین د م،م د سازمان کارکوونکي په خپل « دافغانستان غملړلي برخلیک» نومي کتاب کې د کابل څخه د نجیب الله د تېښتې په اړه بشپړ معلومات خپاره کړل ملګرو یې د هیواد څخه د هغه وتل د مخکنیو توافقاتو له مخې چې د ګوند او حکومت د همغږۍ له امله ترسره شوي وو ګڼي . د وطن د ګوند په مشرتابه کې د نجیب الله مخالفان او حتی ملاتړی لایق هم دا ادعا نه مني چې نجیب د ګوند او حکومت سره د هېواد څخه د وتلو خبره شریکه کړې وي. د کارمل ډله دا هم وایي چې ده ته د اپریل په څوارلسمه د خوندیتوب ژمنه ورکړل شوې وه خو هغوی خپلې شونډې ګندلې دي چې دوی له هغه څخه څه غوښتل چې د خوندیتوب ژمنه یې ور کړې وه. کله چې نجیب الله د م، م په دفتر کې پناه واخیستله ښایي د شهنواز تني په اړه یې خپلې هغه سپکې څرګندونې چې یوې ستري غونډې ته یې کړې وي ذهن ته راغلي وي د شرم احساس یې کړی وي ځکه چې زمری هم کله ناکله د څو ښرمښانو څخه تښتي. تنی د نجیب د پرچمي ښرمښانو له وېرې و تېښتېدلو او نجیب هم د خپلو همدغو پرچمي ښرمښانو له ډاره د تېښتې هڅه وکړه خو هغوی یې مخه ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نجیب الله ناکامه تیښته

د نجیب الله د ناکامي تېښتي په اړه د ملګرو ملتو د کارکوونکي فلیپ کاروین په کتاب کې راغلي دي. د اپریل په څوارلسمه ( ورې ځلېروېشتمه) لوړپوړو پرچمي جنرالانو له نجیب الله سره کتلي له هغه نه یې داسې غوښتني کړې دي چې نوموړی ته د منلو وړ نه وې او د هغو د نه پلي کولو له امله خپل ژوند په خطرکې ویني ، یوازینۍ چاره له هیواد څخه تیښته ګڼي او د ملګرو ملتو له استازو څخه یې هیله کړې چې دی له افغانستان څخه وباسي.

کله چې نجیب د اپرېل د ۱۴ / ۱۵ په شپه د پرچمي جنرالانو د غوښتنو په اړه په کابل کې د م، م دفتر ته معلومات ورکړی دی فلیپ کاروین وروسته لدې د م، م د کارکوونکو د اجرآتو په هکله لیکي : « عوني بوتسالي ( د بینن سیوان لومړي مرستیال) د۱۹۹۲ کال د اپریل په پنځلسمه په ۳۰ : ۷ په سهارنۍ غونډه کې خبر راکړ چې تیره شپه د بګرام هوایي ډګر بیله نښتي د احمدشاه مسعود ځواکونو نیولی دی. د ډګرمن لاوان په خبره اوس د کابل دفاع مسخره برېښي .ځکه د بګرام هوایي ډګر د مجاهدینو په لاس کې لویدلی دی .عوني موږ ته وویل چې نن شپه په دوولس نیمو بجو نجیب ټیلیفون کړی وو او د بیطرفه شورا د بیرنۍ غونډې غوښتنه یې کړې ده او همدارنګه غواړي چې بینن عاجلا هغه په الوتکه کې کینوي او په خوندي ډول یې بهر ته ولیږدوي.

د دورځې ۳۰ : ۱۰

د کلنل ناولان په کوټه کې غونډه. ټولو وسایطو ته تیل واچوئ. ډاډمن شئ چې ټول وسایط فعال وي او په ټولو موټرو کې د ملګرو ملتوجنډې( بیرغونه) موجودې وي.

۱۹۹۲ ، اپریل ۱۶ ، شپې ۱۰ : ۱

دعوني بوتسالي ټیلیفون ویښ کړم ویې ویل د پنځلسو دقیقو په ترڅ کې موټر در رسیږي او تا اخلي ما خپل کالي مخکې له خوبه چمتو کړي وو ترڅو په بیړه چمتو شم...

ساعت ۳۰ : ۱

د ملګروملتو یو موټر راورسید. چلوونکي زه د اسکاپ قرارګاه ته یووړم. د هغه ځایه بیله ځنډه د نجیب د استوګنځي په لور وخوځیدو. نجیب یوه خړه خط داره دریشي اغوستي وه. یوه سوداګر ته ورته وو او په اپشتیا سره یې خندل. توخي ، میرمن او دوه ماشومان( یوه لور او یو زوی) ، د نجیب ورور، یو ساتونکی او یو خدمتګار هم له نجیب سره وو. په ټوله کې د نجیب په شمول۹ تنه کیدل. موږ موټر ته ننوتلو او بیله ځنډه توخي اوعوني د نجیب د استعفی په وینا کار پیل کړ. هغوی څو ورځې پرې کار کوي او اوس غواړي هغه پای ته ورسوي. عوني چې د نجیب په وینا باندې د توخي سره بوخت وو راووت ویې ویل باید د هوایي ډګر په لور وخوځیږو. توخي په موټر کې د نجیب سره په وینا بحث کوي. نجیب وینا مخکې لیدلې او کوم د سترګو وړ بدلون نه دی پکې راغلی.

ساعت ۴۵ : ۱

موږ بکسونه بار کړل او تصمیم مو ونیو چې په دریو موټرو کې د هوایي ډګر په لور وخوځیږو... موږ د غرمي وروسته د دولتي امنیت له وزارت نه د اخیستل شوي د شپې نوم څخه په استفادې سره د څو امنیتي پوسټو څخه تیر شوو. بینن د ملګروملتو په الوتکه کې د کابل په هوایي ډګر کې کیناست. هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکه کې زموږ انتظارايست.ما فکرکاوه چې د بيطرفي شورا پنځلس کسيزه غړي به يې راوړي وي. لومړی پلان داسي وو چې هغوی به په همدې الوتکه کې چې نجيب الوزي کابل ته راوړي. پدې ډول د واک ليږد لاس په لاس ترسره کيده. خو چې بينن په نيمه شپه کې کابل ته راشي د دې کار مخه يې ونيوله...کله چې وروستۍ پوستې ته ورسيدو ودرول شوو. سرتيرو د تيريدو اجازه را نکړله. د شپې نوم چې د هغه په واسطه له څو پوستو تېر شوي وو ناڅاپه باطل شو. کوريکې څو ځله د شپې نوم تکرار کړاو ساتونکې د تېرېدو اجازه را نکړله. کوريکې په محلي ژبه خبرې وکړې ترڅو سرتيری قانع کړي چې هر شی سم او نورمال دي. هغه تکراراً سرتيري ته ويل چې هرشی سم دي. خو سرتيري هيڅ څه نه منل. کوريکې کله چې خبرې کولې ، موټر يې سوکه سوکه مخ ته بوولو. هغه په شوخی سره خبرې کولې ، دا کار يې لدې امله کاوه چې موټر د ډګر د پارکينګ ځنډې ته ورسوي. ، هغه وويل زړګيه اجازه راکړه. خو سرتيري څه نه اوريدل او شور يې نه خوړ او لدې امله چې کوريکې موټر مخ ته بوولو عصبي شو. شمېر يې دری ځلور تنه وو. د هغوی څخه يوه خپله وسله د اوږې نه پورته کړله، ښه نه معلوميدل ځکه نيمه شپه وه او يوازينی ځراغ زموږ د موټرڅراغ وو... کوريکې موټر ودراوه او ويې ويل چې دوی بل يونيفورم لري. ما وويل دا يعني څه ؟ ځواب يې را کړ، د نورو پوستو څخه يې يونيفورم توپيرلري... د نجيب ساتونکی د موټر څخه ووت. خپل کلاشنکوف يې واخيست ، خو هغه يې په اوږه کړ. هغه د ساتونکوسره مناقشه پيل کړله. کلنل ناولان د خپل موټر نه کښته شو او راغی تر څو وپوهيږي څه ستونزه ده. عوني بوتسال هم له خپل موټر څخه پلی شو. هغه غواړي واوري چې څه خبره ده. شورماشور پنځه دقيقې دوام وموند پدې وخت کې عوني د سيوان سره چې د ملګروملتو په الوتکه کې دی اړيکه ونيول. هغوی د موبايل له لارې په ترکی ژبه خبرې وکړلې... عوني زموږ لوري ته راغی ترڅو وګوري څه پيښ شوي دي. په پوسته کې لوړ رتبه يو وړوکی ضابط دی. هغه موافقه وکړه چې خپل ضابط ته ټيليفون وکړي چې د نجيب د ساتونکي سره د خبرو لپاره پوستې ته راشي. د ازبک دوستم ځواکونو ډګر نيولی دی. هغوی هيڅا ته د تېرېدو اجازه نه ورکوي... په عين وخت کې بينن نشي کولی له الوتکې ووزي .هغه هدايت ورکړی چې د ملګروملتو الوتکه قلف شي ترڅو هيڅوک ونشي کولی چې د الوتکې څخه ووزي او يا ورننوزي. د نوموړي الوتکه د سرتيرو له لوري محاصره شوې ده. يو بريدمن له لسو دقيقو وروسته زموږ خواته راغی او لفظي مشاجره وشوه. شورماشور ډير واوريدل شو. هرڅوک د هرچا نوم اخلي. دا يوه مباحثه نه ده ، بلکه ښکنځلې ، تهديد او سپکاوی دی. موږ ناست يو او د وضعې شاهدان يو. د نجيب ساتونکی د بريدمن سره نجيب ته ورغلل. د عوني په وينا نجيب هغه ته وويل :« حرامي موږ ته د تيريدو اجازه راکړئ . هرشی تنظيم شوي دي ، نجيب د زوږه ډک غږ درلود. حتی د موټر د ننه پوهيده چې ژوند يې له ګواښ سره مخامخ دی . په افغانستان کې د دومره کلونو او د څومره وژنو ترشا اوس نابيره، ... احساس پرې واکمن شو که ونشي تښتيدلی له کوم برخليک سره به مخامخ شي. خو بريدمن ادعا وکړه هيڅ واک نلري چې نجيب ته ډګر ته د ننوتلو اجازه ورکړي. که دا کار وکړي ټوله ډله به يې په ډګر کې ووژل شي. ځکه چې د دوستم ځواکونه د۲۴ګړيو لپاره چا ته ميدان ته د ننوتلواو وتلو اجازه نه ورکوي ...، په اوسنی شيبه کې ازبکان چې هرڅوک ډګر ته نږدې شي ډزې کوي...( يادونه: دا راغلی پوځي بريدمن نه بلکې ډګروال عبدالوهاب نورستانی د دولتي امنيت د پنځمې لوا د کنډک قوماندان او کوڼ هم وو.) د څو دقيقو غالمغال وروسته، نجيب خپله پريکړه وکړه. نوموړي چاره او نفوذ نه درلود او لږ دوستان يې لرل . نور يې ځواک نه درلود چې وبېروي يا تهديد کړي او بدې يې هم نشوای ورکولی. هغه عوني ته وويل چې وګرزي. هغه پدې پوهيدلو چې نن شپه الوتکې ته نږدې کيدای نشي. عوني نجيب ته وويل چې غواړي خپل استوګنځي ته ولاړشي؟ نجيب ځواب ورکړ« نه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ځواکونه چې له کابل څخه د وتلو خنډ شول ، که استوګنځي ته لاړ شم ما وژني. یوازیني خوندي ځای د اسکاپ قرارګاه ده. هغه ټینګار درلود چې م،م د ده د خوندیتوب مسئولیت لري... د شپې په دوو بجو زموږ کتار راوګرزید او د اسکاپ د قرارګاه په لور وخوځېدو. موږ د اسکاپ احاطې ته راورسیدو. عوني لا د موبیل په ټیلفون له بینن سره خبرې کوي. هغوی بیله وقفې په اړیکه کې دي. بینن زموږ په بېرته راګرزیدو پوهېده. هغه خبر وو چې موږ نجیب د اسکاپ قرارګاه ته راوستلی دی... عوني بوتسال وروسته راته وویل چې نجیب غوښتل خپلې میرمني ته دهلي ته د خپلې تیښتي په هکله چې ناکامه شوه ټلفون وکړي. خوعوني ټینګار وکړچې هغه به د یوه دوو جنرالانو سره چې تراوسه ده ته وفادارپاتې دي ټلفون وکړي ترڅو سیوان ته چې په الوتکه کې بند پاتې دی او د مرګ له ګواښ سره مخامخ دی مرسته وکړي...

ساعت ۵۰ : ۲

بینن بیا زنګ وواهه. دری جنرالان په مرسدس کې ډګر ته راورسیدل. غالباً د نجیب په غوښتنه. نوموړي جنرال عظیمي او جنرال دلاور وپیژندل. هغوی د ملیشو سره خبرې وکړلې... نجیب همدارنګه له غلام فاروق یعقوبي سره لنډې خبرې وکړې او د وضعیت پوښتنه یې ترې وکړه . هغه وویل چې څو شیبې وروسته به ټلفون وکړي. هغه بیا ټلفون ونکړ. بله ورځ آوازه شوه چې ځان یې وژلی دی.

ساعت ۰۰ :۳

بینن د آندره ګلیمور( د بینن سیوان ځانګړی سکرتر) د الوتکې نه د وتلواجازه ترلاسه کړله . هغوی بېله ځنډه د اسکاپ قرارګاه ته راغلل . همدا شیبه د ملګروملتو الوتکه د ازبک سرتیرو په محاصره کې ده.

ساعت ۱۵ : ۳

د ملګرو ملتو پیلوټ د موبایل ټلفون له لارې خبر راکړ چې د پرواز اجازه ورکړل شوه...
ساعت ۲۰ : ۳

بینن د جنرال عظیمي سره د هوایي ډګرڅخه راورسیدل. عوني د هندوستان له سفارت سره د نجیب الله د سیاسي پناهندګی په اړه تماس نیولی وو. موږ ګومان کاوه چې دوه ګړی وروسته د ورځې په رڼا کې سیمه ئیز کارګران قرارګاه ته راشي هغه وخت به ټول ښار او ټوله نړۍ وپوهیږي چې څه پیښه شوې ده.
ساعت ۰۰ : ۴

بینن د پاکستان د سفارت سکرترجنرال ته ټیلفون وکړ ترڅو په پیښور کې د مجاهدینو د رهبرانو سره پلان جوړ کړي. ددې پلان له مخې هندوستان ته د نجیب د خوندي تېرېدو سره یوه پوځي شورا عاجلاً د کابل اداره په لاس کې نیسي . دا شورا به جنرال عظیمي رهبري کوي. بیطرفه شورا به واک د پوځي شورا څخه تسلیموي. بینن غوښتل د واک سوله ئیز لیږد څه ډول چې په شمال کې پلی شو عملي شي. هغه د هغو کسانو نومونه چې باید د پوځي شورا غړیتوب ولري سکرترجنرال ته قرائت کړل.

ساعت ۲۰ : ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوځي شورا نظر رد شو. بینن بیا د عظیمي سره اړیکه ونیوله. د عظیمي د لست نومونه نور په لاس کې نه وو.

ساعت ۴:۳۰

د هند شارژدافیر راغی او ویې ویل چې فکر کوي کولی شي چې نجیب ته د هند په سفارت کې پناه ور کړي. خو هغه باید د بینن سیوان څخه یو رسمي غوښتنلیک ترلاسه کړي او د نوي ډهلي سره هغه شریک کړي. عوني له غونډې ووت ترڅو چې شارژدافیر ته د یادداښت طرحه جوړه کړي.
ساعت ۵ : ۱۵

د هند سفیر بد خبر راووړ. نوی دهلي نجیب ته د پناه ورکولو له امله په کابل کې د میشت هندوانو څخه د غچ اخیستني له امله ویره لري. لدې کبله لیوال نه دی چې نجیب ته پناهندګي ورکړي.
ساعت ۶ : ۱۵

د هند ، ترکیې ، ایران ، فرانسي ،پاکستان ، چین او ایټالیا له سفارتونو څخه پلاوي راغلي دي. بینن په بله کوټه کې بوخت دی.هغوی زما نه پوښتنه وکړله چې د څه لپاره راغوښتل شوي یو؟... بینن راورسید او پلاوي ته یې وویل : هوډ یې درلود چې له نجیب سره هندوستان ته والوزي ، خو کله چې الوتکه کیناستله محاصره شوله. د دا ډول هرکلي تمه مو نلرله. په هوایي ډګر کې هیڅوک په انګریزي نه پوهیدل او ژباړونکي هم شتون نه درلود. زه له خپلو ملګرو سره برمته شوی وم. بالاخره جنرال عظیمي پیدا شو او ما ته وویل شول که په کابل کې پاتې شم د ملګروملتو الوتکه د پرواز حق لري. هغه د الوتکې د عملې د خوندیتوب له امله اندیښنه لرله او ویې ویل چې وس یې پیدا نکړ چې نجیب نن شپه وباسي. د دوستم سرتېرو د عظیمي په مرسته موافقه وکړه چې د ملګروملتو الوتکه بیرته پاکستان ته ستنه شي.
ساعت ۶ : ۴۵

پاکستان موافقه وکړله چې نجیب ته د پاکستان په سفارت کې پناهندګي ورکړي. موږ یوه زرهداره وسیله چمتو کړله ترڅو نجیب او ورسره کسان د ملګروملتو د اسکاپ له قرارګاه څخه د پاکستان سفارت ته ولیږدوو. موږ هیله درلودله چې دا لیږد د څو دقیقو په بهیرکې ترسره شي ، مخکې لدې چې د کابل ښاریان ویښ شي.

ساعت ۶:۵۵

بینن د پاکستان وړاندیز نجیب ته وړاندې کړ.

نجیب – زه پاکستان ته نه ځم. دا د حل لار نه ده . زه د ملګرو ملتو په احاطه کې پاتې کېدل غوره ګڼم...

د ماپښین ۳۰ : ۱۲( ۱۶ اپریل ) بینن او زه د وطن ګوند قرارګاه ته د وطن د ګوند د اجرائیه کمیټې سره د خبرو لپاره ورغلو. د مذاکرې مقابل لوری سلیمان لایق دی.( د وطن ګوند د اجرائیه هیآت د غونډې رئیس ).

د وطن ګوند د اجراییه هیآت( سیاسي بورو) په غونډه کې د لایق او سېوان د ډیالوګ یوه برخه.
لایق: تاسې مخکې زموږ نه غوښتي وو ترڅو واک د ملګروملتو له لارې یوې انتقالي ادارې ته وسپارو موږ موافقه وکړله. موږ د ملګروملتو پلان ومنلو ملګري ملتونه کولی شي په خپلواکه ډول بیطرفه شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړي . د غړو شميريې مهم نه دی . د موقتي حکومت تر جوړيدو پورې به دا شورا دنده ترسره کوي...
سيوان: خو تراوسه د نجيب مسئله طرحه ده . څرنګه چې تاسې پوهيږئ هغه د سولې د مذاکرو په لاره کې ستر خنډ وو. تر يوې اوږدې مودې پورې مو هڅه وکړه ترڅو دا خنډ لېرې کړو خو دا کار آسانه نه وو. بالاخره هغه مو د مارچ په ۱۸ قانع کړ چې د وينا په خپرولو سره خپل چمتووالی د ګوښه کيدو او په بيطرفه شورا يا په انتقالي حکومت کې نه ګډون اعلان کړي. سره لدې چې د نجيب الله ګوښه کېدل د ټولو ډلو غوښتنه وه، خو لدې څخه هم خبر وو چې د نجيب د استعفی له کبله د واک تشه منځته راځي . د نجيب الله شتون په کابل کې د سولې د بهير لپاره ګټور نه دی...، لدې امله اړينه ده چې هغه سمدلاسه له هيواد څخه ووزي. که د نوموړي سره څه پيښ شي د افغانستان لپاره ناوړه اغيز لري. د هغه لپاره له هيواد څخه خوندي وتل تضمين شي، ترڅو د سولې بهير په بري سره پای ته ورسيږي.

لايق: هغه څه چې تېره شپه پيښ شول اوغوښتل مو هغه له هيواد څخه بهر ته وليږدوئ د خواشينی وړ دي، په تيره چې هغه وکولی شول ملګري ملتونه پکې شامل کړي. هغه کار چې نجيب الله وکړ لکه يوغل په نيمه شپه کې له هيواد نه ووزي د خواشينی وړ دی، ځکه چې هغه نه د ګوند او نه له دولت سره سلا کړې وه ... هغه بايد خپل استوګنځي ته وليږدول شي. موږ يې خونديتوب او صحت تضمينوو ترڅو چې د نوموړي د تګ په هکله پريکړه وکړو.

سيوان: تاسې ملګري ملتونه په يوه ستونزمن دريځ کې دروئ. نجيب الله د ملګروملتو څخه پناه غوښتې ده که موږ هغه و نه منو د سولې د پرمختګ بهير ته به مطلوب نه وي ...که دا ستونزه ژر حل نشي د سترو ستونزو د حل لپاره به لارې وتړل شي. تاسو بايد خپل تصميم ونيسئ ،کوم شی ستاسو لپاره ارزښت لري د نجيب الله د وتلو مخنيوی يا د سولې د بهيرسره همکاري. دا په تاسو پورې اړه لري.

لايق : اړينه وه چې د وضعيت د انکشاف مخکې د نجيب الله سره مو خبرې کړې وای.

سيوان : موږ موافقه کړې وه ، موږ ته مو د هغه د خوندي وتلو وعده راکړې وه .ولې مو پرې نه ښودل زموږ کاروان له پوستو تير شي؟

لايق: ټاکلي پروسيجرونه شتون لري چې په هرحالت کې بايد مراعات شي نه يوازې ستاسې په هکله .
سيوان: خو موږ موافقتنامه لرله.

لايق : دلته غلط فهمي شوې ده. لکه چې مې وويل ټاکلي طرزالعملونه شتون لري چې په هرحالت کې بايد رعايت شي...

سيوان: ښه د نجيب الله په هکله څه وکړو؟
لايق: نجيب الله کولی شي ستاسو سره وي، خو اجازه نلري د ملګروملتو له حريم څخه خارج شي ، ترڅو د هغه په هکله تصميم ونيول شي چې چيرې لاړشي.
سيوان: اوس مهمه مسئله په هيواد کې د سولې پلې کول دي .په کابل کې د نجيب الله په ساتلو سره تاسو هيڅ نشی ګټلی او د هغه شتون دلته د سولې بهير شنډوي. څرنګه چې تاسې د امنيت مسئول ياست کولی شئ ماته ډاډ راکړئ چې د اوسګاپ د قرارګاه مخې ته ډله ئيزې مظاهرې به نه ترسره کيږي... دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پريزيدنت نجيب الله استعفی کړيده او وړاندېز يې کړی چې له هيواد څخه ووزي يقيناً چې ستاسو سره يې سلاکړې ده ...

لايق: تاسې ډاډمن اوسئ چې د ملګرو ملتو د قرارګاه مخې ته به مظاهرې ونشي. خو هيله کوم چې تر هغه پورې چې مو درته ويلي نه وي هغه د اوسګاپ څخه لېرې نکړئ.

سيوان: زه تر هغه پورې چې دا مسئله حل نکړم له کابل څخه نه وزم ... تاسې که هغه ته د وتلو اجازه ورنکړئ په کابل کې د هغه په وړاندې دښمنی هڅوئ . دا مهال بينن د نجيب الله استعفي په لوړ غږ اجرائيه کميټې ته قرائت کړله.

لايق: موږ دا ليک په رسميت نه پيژنو. نشو کولی هغه په دولتي راديو کې اعلان کړو. سيوان: ... خو نړيوالې ډله ئيزئ رسنی يې کاپې په لاس کې لري اوهغوی به هغه خپره کړي. لايق: د کابل خلک آرام دي . د دې خبراعلانول به هغوی ناآرامه نکړي ؟ اوس مهال په کابل کې د خونديتوب احساس کولی شئ ، د ښار شاوخوا امنيت ښه دی . هو جنرال يعقوبي د دولتي امنيت وزير ځانوژلی دی، سبا ته يې جنازه خاورو ته سپارل کيږي.

سيوان: راځئ چې بيا په ۹ بجوسره ووينو. لايق : طبعآ.»

هېره دې نه وي مخکې لدې چې د لايق او بينن سيوان ترمنځ پورتنی بحث وشي بينن سيوان د ګوند د اجرائيه بيرو غړو ته معلومات ورکړل چې په افغانستان کې د وروستيو دراماتيکو پيښو وروسته د تنظيمونو په غوښتنو کې بدلون راغلی دی چې هغوی د انتقالي حکومت پرځای غواړي واک د مجاهدينو ګډ حکومت ته وليږدول شي چې البته هغوی به عمومي بڼنه اعلان کړي پدې شرط چې واک په سوله ييز ډول وليږدول شي او پدې هکله د اجرائيه شورا نظر غواړي. په غونډه کې د دفاع او کورنيو چارو وزيران د هرځواک سره چې وغواړي خپله اراده په وسلوالو ځواکونو تحميل کړي د مقابلې څخه خپله بيوسي وښودله.په غونډه کې د جګړو د مخنيوي په خاطر پريکړه وشوه چې مسعود او حکمتيار ته پلاوي واستول شي ترڅو هغوی پر کابل بريد ونکړي او پريږدي چې د مجاهدينو مشران کابل ته راورسيږي او واک په سوله ييز ډول مجاهدينو ته وليږدول شي.وکيل له مسعود او رفيع له حکمتيار سره مذاکرو ته چمتو شول. په رفيع باندې چهارآسياب ته د تلو په مهال د کابل د ګارنيزيون د ځواکونو لخوا ډزې وشوې تر څو د هغه د ماموريت په وړاندې خنډ شي خو هغه يوه ورځ وروسته حکمتيار ته ورځي او حکمتيار ژمنه کوي که د مسعود ځواکونه د کابل د امنيتي کمربند نه تير نشي هغه به هم په کابل بريد و نکړي. خو حکمتيار خبر نه وو چې د مسعود جنګيالي په الوتکو کې د دوستم د ځواکونو تر پوښښ لاندې د کابل هوايي ډګر ته راليږدول شوي دي.

## د شوروي - پرچمي واکمنی پای

د ملګرو ملتو دفتر ته د نجيب الله پناه وړل په واقعيت کې د پرچمي واکمنی پای وو ځکه چې په پلازمېينه کې د واک دوه مرکزونه د کابل ګارنيزيون او تش په نامه دولتي اداره را څرګنديږي خو د واک اصلي مرکز د کابل ګارنيزيون وو چې د وسلوالو ځواکونو رهبري يې لرله.د کابل ګارنيزيون واک لدې نه جوتيږي چې«عظيمي جنرال عزيز حساس ( د کارمل د ګارد قوماندان) د لسم رياست د رييس په توګه ټاکي او د هغه په وړاندې پکتين د هاتف ( د ولسمشر مرستيال) په شتون کې مخالفت کوي او عظيمي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کې وايي چې عزیز حساس له پخوا پېژنم د جمهوري ریاست په ګارد کې د کار مخینه لري او هغه ځه چې د صلاحیت په هکله دي زما په اند په اوسنی شبېه کې موږ هېڅوک قانوني صلاحیت نلرو ځکه چې د واک تشه ده او هرڅوک چې زور لري صلاحیت هم لري.» ۳۴۶/۱۹۱ د لسم ریاست مشر جنرال باقي چې د نجیب له پلویانو ځخه وو هغه هم د یعقوبي د وژنې په شپه د کودتا چیانو له خوا وژل شوی وو. وايي د غلو جګړه په غلا نه بلکې په وېش وي . پرچمي کودتا چیان هم د نجیب تر ګوښه کولو پورې متحد وو او د هغه له ګوښه کولو وروسته چې د واک وېش راورسېد په دوو ډلو وویشل شول. لومړی ډله د محمودبریالي په مشرۍ د کارمل پلویان وو چې غوښتل یې په راتلونکې حکومت کې دوی ټاکونکی رول ولوبوي او د پوځي شورا د منځته راتګ لیوال وو چې د پوځي شورا د امکاناتو پر اساس د واک اصلي مرکز وي.بله ډله مزدک او کاویاني د اسلامي جمعیت پلویان چې د پوځي شورا پرځای یې غوښتل واک نظار شورا ته ولیږدول شي. هېره دې نه وي چې د نجیب الله پرچمي مخالفینو اوږد مزل وهلی وو او دا مزل د ملي روغې جوړې د تګلارې د اعلان سره سم یا ښایي لا د مخه پیل شوی وي. ددې معنی دا وه چې ددې تګلارې د اعلان سره سم پرچمیانو( د نجیب پلویانو او د هغه مخالفانو) د وسلوالو او سیاسي مخالفینو سره پټط معاملې پیل کړلې. پردې بنست نجیب الله او د دسترخوان پرچمي یارانو ته ملي روغه جوړه یوه پروژه وه. ددې معاملو ځخه د نجیب موخه دا وه چې دی په واک کې پاتې شي او سیالانو یې غوښتل د کابل په پلاز د هېواد لړکي وويني ، هماغه دي چې د شمال تلواله یې واکمنه کړله. د نجیب الله د پرچمي مخالفانو په اړه چې د شمال ټلوالې په واکمنولو کې یې ټاکونکی رول درلود هغه به د نجیب د پرچمي مخالفینو سره د م،م د کارکوونکو فلیپ کاروین او عوني پوتسالي د بینن سیوان د مرستیال په لیدنو کتنو کې درک کړو. دا لیدنې کتنې په هغه ورځ وروسته له هغې ګړندی شوې چې د نجیب الله مخالفانو خپل وروستی ګام پورته کړ چې نجیب د دوی غوښتنو ته غاړه کیږدي او نجیب اړ شو د م، م د کارکوونکو پر مټ له هېواده وتښتي . عوني او فلیپ د اپریل په ځوارلسمه چې ظاهرآ نجیب الله واکمن دی په یوولسو بجو د بهرنیو چارو له وزیر وکیل سره وکتل او هغه هغوی ته وايي:« د پروان په ولایت کې د مسعود ځواکونو جبل السراج او چاریکار، د کابل په شمال کې له حکومت ځخه ونیول او زه د هغه سره په اړیکه کې یم ، کوښښ کوم د نوموړي سره د کابل د راتلونکې په اړه معامله وکړم ...هڅه کیږي د دولتي ځواکونو له لوري د عملیاتو مخه ونیول شي مسعود د کابل په ۲۵ میلي( ۴۵ کیلومتري) د بګرام په هوايي ډګر فشار راوړي. مسعود ډاډمن دی چې له حکمتیار نه مخکې بګرام ترلاسه کړي...، وکیل وویل د ځو اونیو راهیسي غواړي د یوې معاملې د ترسره کولو لپاره مسعود ته ورشي ، خو نجیب د دې کار خنډ ګرزي. وکیل وویل مسعود د افغانستان د اتلانو ځخه دی... ټول د مسعود سره دوستانه او ښې اړیکې لري. د پروان په ولایت کې بشپړه آرامي ده.» د ملګرو ملتو دا استازی د وکیل سره د لیدنې وروسته د ماپښین په دووبجو د جنرال عظیمي سره ګوري او هغه ور ته وايي:« دوهمه فرقه (جبل السراج) د مسعود سره یوځای شوې ده ... او مسعود همدا مهال د بګرام په شمال جبل السراج او چاریکار کنټرول لري ، وضعیت آرام دی ... هغه د چاریکارو د نیولو په مهال د هغو ځواکونو سره چې د مسعود سره یوځای شوي دي په اړیکه کې دی هغوی د وضعې ځخه رضایت لري او غواړي هلته پاتې شي د دې پرځای چې کابل ته راشي... په پام کې نه لري چې په هغو سیمو عملیات پیل کړي چې د مجاهدینو په لاس کې لویدلې دي. »۲۲۲ / ۱۴- ۱۵ پوتسالي او کاروین یوه ورځ وروسته د اپریل ۱۵ په ۳۰ – ۱۱ د جنرال یارمحمد د دولتي امنیت د وزارت لومړي مرستیال د مزدک د ورور سره ګوري او نوموړی دوی ته وايي:« په بګرام کې چې پرون د مسعود په لاس کې ولوید یو ائتلافي حکومت جوړ شو، هلته د نښتو کوم رپوټ نشته ، همداراز د بندي کولو کوم رپوټ هم شتون نلري ، یوې معاملې ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه ... د مسعود ځواکونو چې چاریکاراو بګرام ونیول کابل ته د ننوتلو هوډ نلري... پرون د افغانستان حکومت پریکړه وکړه چې د شمال ځواکونو سره چې د شمال ټلوالې په نامه یادیږي ، د دوستم او مسعود ترمنځ د ائتلاف اړیکې ټینګې کړي ، نن رسمي امرونه ورکول کیږي چې د ویني د توئیدو د مخنیوي او د ملګروملتو د سولې د پیاوړتیا په خاطرد شمال د مجاهدینو د ځواکونو سره یوځای شي... تیره شپه د وطن ګوند اجرائیه کمیټې (هیئت) اعلان کړل چې حکومتي ځواکونه د جمهور رئیس د مستقیم امر پرته په یوځې عملیاتو کې برخه وانخلي ... یوه ډله د مسعود خوا ته د تماس په موخه استول شوې ده ترڅو ورته ووایي چې د شمال په ائتلاف هوایي بریدونه ځنډول شوي دي.» ۲۲۲ / ۱۶، ۱۸ ، ۱۹ ، ۲۰ فلیپ د یارمحمد د څرګندونو پربنسټ لیکي:« جنرال به ډیرخوښ وي چې د شمال په شان په کابل کې هم توافقات پلې شي ، پدې ډول به د حکومت او شمال ټلوالې متحد ځواک منځته راشي... جنرال یارمحمد پدې عقیده دی چې د کابل په ډیرو سیمو کې د حکومتي ځواکونو او شمال ټلوالې ترمنځ د یووالي شونتیا شتون لري. » ۲۲۲ / ۲۱ د جنرال یارمحمد په څرګندونو کې په زړه پورې خبره دا ده چې هغه د کودتایي ځواکونو ټولې کړنې د بېواکه جمهور رئیس او حکومت پریکړې ګڼي . فلیپ کاروین د نجیب الله خلاف د کودتا انځور داسې کاږي :« د بګرام د هوایي ډګر له سقوط او د هوا له لارې د وطن ګوند د مرکزي شورا د غړي او د هوایي او مدافعې هوایی ځواکونو د قوماندان ډګرجنرال عبدالفتاح په وسیله د دوستم د افرادو تر پوښښ لاندې د کابل هوایي ډګر ته د دوستم او نظار شورا د ګډو افرادو په سمبولیکې لیږدونې سره د( پنځم ستون ) له لوري چې د وطن ګوند د مرکزي شورا په ریاست او اجرائیه پلاوي کې د شاملو (سیاست بازانو) لکه محمود بریالی ،عبدالوکیل ، فریداحمد مزدک ،نجم الدین کاویانی اوسیداکرام پیګیر چې د ببرک کارمل او سلطانعلی کشتمند له ملاتړ نه برخمن وو او د وسله والو ځواکونو د لوړپوړو قوماندانانو لکه د وطن ګوند د مرکزي شورا د غړو هر یوه سترجنرال محمدنبی عظیمي ، سترجنرال محمدآصف دلاور، ډګرجنرال عبدالفتاح، ډګرجنرال سیداعظم سعید، ډګر جنرال عبدالعظیم زرمتی او ډګرجنرال یارمحمد نه جوړشوی وو کودتا پیل شوه کودتاچیانو د ولسمشر نیول،له هغه نه یې د اړتیا وړ (سندونو او اعترافونو) ترلاسه کول او په پای کې د هغه وژنه چې (ځان وژنه) به اعلانیده خپله موخه ټاکلې وه ...» بېله کومه شکه د کارمل پلوه جنرالانو د کودتا په اړه د فلیپ کاروین څرګندونې د نجیب الله خبرې دي چې د م، م استازي ته ویلې دي چې ژوند یې له ګواښ سره مخ دی او له هېواد څخه یې وباسي. د م،م دفتر ته د نجیب د پناه وړلو وروسته چې د واکمنۍ لوېدنه حتمي وه سیمه ئیز ملکي او پوځې چارواکي د سر او یا ځوکیو د ساتلو په موخه هڅې کوي چې د وسله والو مخالفینو سره معاملې وکړي که څه هم په زیاترو سیمو کې کارملیان واکمن وو چې لیوال وو واک د شمال ټلوالې او یا د هغې پلویانو ته ولیږدوي. د بیلګې په ډول په ننګرهار کې ډګرجنرال افضل لودین د مشرقي د تنظیمې عمومې آمر د سیمه ییزو چارواکو او جهادي شورا سره د ژمنو خلاف« حاجی قدیر ښار ته داخل کړ ... ، حاجي قدیر د ټولو مجاهدینو سره توافق ته رسیدلی وو او ټول مجاهدین یې جلال آباد ته داخل کړل او جنرال لودین نورهیڅ شو. » ۴۹۷/۱۹۱ –۴۹۸ د پرچمي لودین او جهادي قدیر له چلند نه معلومیږي چې حاجي قدیر په جلال آباد کې د تنظیمونو د راتلونکو احتمالي شخړو او جګړو د مخنیوي لپاره مسئولانه ګام پورته کړ خو لودین د خپلو همکارانو او جهادي شورا سره د شوې ژمنې خلاف د حاجی قدیر سره پټه معامله تر سره کړه .پدې ډول د هیواد په ولایتونو کې د واک د نیولو سیالي او د معاملو لړۍ پیل شوه، وضعیت کړکیچن کیده په تیره کابل له سترګواښ سره مخامخ وو.د جنرال عظیمي د لیکنې پربنسټ د اپریل څلېرویشتمه « د شپې په اوو بجو محمود بریالی ، مزدک، کاویانی ،وکیل، دکتور ضمیر، نورالحق علومي، عبدالحق علومي، عبدالرحمن د نظار د شورا مرستیال ، دکتورنجیب الله د حضرت مجددی زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



،حمیدالله وروسته د مالیي وزیر د کابل گارنیزیون ته راغلل ، هغوی ویره وونکي امنیتي وضعه وڅیړله او نتیجه گیرۍ یې وکړه که چیرې د صبغت اله مجددی دولت اعلان نشي د کابل ښار نن شپه او یا سبا سهار له حتمي لوېدو سره مخامخ دی...، لدې امله پریکړه وشوه چې دکتور عبدالرحمن او دکتورنجیب الله د پېښور د جهادي تنظیمونو په استازیتوب د پشاور فیصله خلکو ته ورسوي او له ما نه یې وغوښتل چې د خبرو په ترڅ کې د صبغت الله مجددي د دولت څخه د افغانستان د وسله وال پوځ ملاتړ اعلان کړم. » ۱۲۹ / ۵۸۲ د یادولو وړ ده چې د اپریل په څلېرویشتمه په پېښور کې د پاکستان د صدراعظم نوازشریف او د سعودي د استازي په گډون د دوو میاشتو لپاره صبغت الله مجددی د افغانستان د اسلامي دولت د ممثل په توگه ټاکل شوی وو. په همدې شپه عظیمي د رادیو ټلویزیون له لارې د وسله وال پوځ په استازیتوب د مجددی د واکمنۍ نه ملاتړ اعلان کړ. د دې اعلان وروسته سبا سهار د ( اپریل پنځه ویشتمه) له څلورو خواوو د تنظیمونو جنگیالي کابل ته راننوتل او هرې ډلې هڅه کوله چې د ښار زیاتې سیمې تر ولکې لاندې راوړي او د دولتي ادارو، اقتصادي او فرهنگي بنستونو،پوځي تجهیزاتو ، وسلو او د وسله وال پوځ د بیزونو او دیپوگانو په لوټولو سره چې تر منځ یې نښتې هم کېدلې په کابل کې محشر جوړ کړ. یوازې « د ثور له پنځمې څخه تر اوومې پورې په کابل کې یو زر شاوخواه کابلیان په شهادت ورسیدل.» ۲۲۳ / ۳ د ثور په اوومه صبغت الله مجددي او ورسره ځینې جهادي مخور د جلال آباد له لارې د کابل په لور وخوځېدل او د څرخي پله په سیمه کې یې نبی عظیمي هرکلی وکړ. مجددي د سردار محمدنعیم په کور کې استوگنه غوره کړه او یوه ورځ وروسته د ثور په اتمه رسمآ مجددي ته دولتي واک وسپارل شو چې پدې ډول د ا،خ،د،گ ځوارلس کلنه واکمني ختمه، د م ، م د سولې پروگرام شنډ او په افغانستان کې د اسلامي انقلاب د بري په نامه د تنظیمونوغوبل پیل شو. د اسلامي انقلاب د بري ربښتینی انځور د پوهاند محمد رحیم الهام پدې خبره کې چې د افغانستان د علومو په اکادمۍ کې یې یوه جمعیتي استاد ته کړې وه کښل شوی دی چې وایي:« کابل هیڅا ندی نیولی ، کابل فتح کیدونکی نه وو ، کابل یو شمیر ملي خاینانو تاسو ته تسلیم کړ، کابل د توطئې قرباني شو، هغه توطئه چې زموږ د هیواد یوموټي توب او ملي سلامتي له گواښ سره مخامخ کړی دی. » ۱۸/ ۵۴۴

## د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند واکمنۍ ته کتنه

که د ا ،خ ،د ،گ په نامه سازمان ځوارلس کلني واکمنۍ ته وکتل شي هغه د سولې او جوړونې دوره نه بلکې د جگړو او ورانونې دوره ده چې د دې بهیر او یا د جگړې د ښکېلو اړخونو تر شا پردي لاړ وو. ددې معنی دا کیږي چې افغانانو د زبرځواکونو نیابتي جگړه پر مخ وړله. خو دا واقعیت د لمر په څېر روښانه دی چې دا جگړه لویدیځ د بنستپالو اسلامي ډلو پر متې پر افغانانو تحمیل کړله چې تخمونه یې د محمد داود د واکمنۍ پر مهال کرل شوي وو . شوروي اتحاد ته د دې تحمیلي جگړې د لمنې د پراخېدو له ډاره په مسکو کې ناستو واکمنانو پر افغانستان د پوځي یرغل پرېکړه وکړله،خلقي واکمني یې نسکوره او د کارمل په مشرۍ یې ظاهرا پرچمیان واک ته ورسول او دې یرغل د ثور انقلاب ناکامي یقیني کړه . البته دا د شوروي اشغالگرو یرغل او د افغانانو په وړاندې د هغوی د جنایتونو ته د برآت ورکولو معنی نلري. لکه څرنگه چې افغانانو هېڅکله هم په خپل ټاټوبي کې پردی لښکر نه دی زغملی دا ځل هم د اشغالگرو خلاف ودرېدل ، شوروي اشغالگر یې له افغانستان څخه وشړل او څه موده وروسته په خپله پرچمیانو د مسکو د ارادې له مخې خپله واکمني نسکوره او واک یې شمال ټلوالې ته ولېږدولو. د ۱۳۵۷ کال د ثور د وسلوال پاڅون په پایله کې چې واک د ا، خ ، د ، گ تر لاسه کړ خپل نظام یې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت اعلان کړخو پدې دموکراتیک جمهوریت کې د دموکراسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرک نه لګېده. ګوند واک ته په رسېدو سره د اساسنامې هغو غوښتنو ته چې په ګوند کې دموکراسي ټینګه او وده وموي او د کړنلارې مرکزي مسالې یعنې د ملي د موکراتیکې جبهې جوړولو ته شا کړله. که څه هم خلکو د وسلوال پاڅون د بري وروسته نوې واکمنۍ او د هغې له سمونونو څخه ملاتړ وکړ خو د واکمنۍ له لوري د واک د انحصار ، د بیان په آزادۍ او سیاسي فعالیتونو بندیز، د سیاسي مخالفینو په وړاندې د زورزیاتۍ د تګلارې د غوره کولو له امله د ولس منفي غبرګونونو ته لاره هواره کړله . پر بله خوا د وخت سیاسي ډلو او له واکه راپرزېدلو کړیو ښېله ځنډه د نوې واکمنۍ په وړاندې و درېدلې چې منطقآ یې د واکمنۍ د غبرګون سبب کېده چې خپل ټول ظرفیت د مخالفینو د ټکولو په موخه وکاروي . پدې اړه دا پوښتنه را پیدا کېږي چې ولې هم واکمنۍ د مخالفینو په وړاندې د زورزیاتۍ او هم سیاسي ډلو د نوې واکمنۍ په وړاندې د ښمنۍ دریځ غوره کړ ؟ که څه هم په دریم او څلورم څپرکو کې تر یوه بریده رڼا اچول شوې ده چې دلته به یو ځل په هغو ځغلنده کتنه وشي:

د هر څه د مخه باید وویل شي چې د دواړو اړخونو د دا ډول دریځ د نیولو اصلي لامل دا دی چې زموږ په وروسته پاتې ټولنه کې سیاسي مخالفت دښمني ګڼل کېږي . همدا تریخ واقعیت ددې سبب شو چې دواړه اړخونه د یوبل خلاف د دښمنۍ دریځ ونیسي. لکه څرنګه چې د کتاب منځپانګه د ا، خ ، د ،ګ په اړه ده لدې کبله به یوازې د دې ګوند او د هغه د واکمنۍ په تګلارو تم شو چې په ټولنه کې یې منفي غبرګونونه را وپنځول.

- لکه څرنګه چې د ا. خ .د . ګ د مساوات د ډلې پرته د د دموکراسۍ د لسیزې د نورو ګوندونو په څېر په پټه جوړ شو او نیمه پټ فعالیت یې در لود هغه یو ناقانونه ګوند وو . لدې امله یو غیرقانوني سازمان هېڅکله هم دموکراتیک سازمان نشي کېدای بلکه یو انقلابي – پارتیزاني ګوند به وي. پردې اساس د یوه انقلابي ګوند څخه چې سیاسي اپوزیسیون وزغمي ، د بیان آزادۍ او سیاسي پلورالیسم ته ژمن وي تمه یو خوب او خیال دی.

- هغه څه چې د افغانستان په دودیزه وروسته پاتې اسلامي ټولنه کې د دې ګوند را څرګندېدل تر پوښتنې لاندې راوړل هغه د ګوند له لوري د علمي نړۍ لید په رڼا کې د یوه پرمختللي افغانستان په جوړولو او د شوروي اتحاد ، سوسیالستي بلاک او د نړۍ د کارګري او کمونستي غورځنګ سره په دوستۍ او د نړیوال پانګوال سیستم او امپریالیسم ضد تګلارې ټینګار وو. لکه څرنګه چې په اسلامي ټولنو کې کمونیسم د لا دینۍ او الحاد په نامه تبلیغ شوی دی او سربېره پر دې د پانګوال سیستم او امپریالسیم ضد دریځ نیول ددې سبب شول چې په هېواد کې د سمون او بدلون مخالفان او نړیوال ملاتړي یې دا ګوند د شوروی اتحاد سپوږمکۍ او کمونست ګوند و بولي او پدې ډول د ارتجاع ، زبېښاکګرو او د پانګوالې نړۍ دښمني و ګټي. دا دوه لاملونه هغه اصلي لاملونه وو چې د ا، خ ،د ، ګ د واکمنۍ( افغانستان دموکراتیک جمهوریت) په وړاندې نالوستي ، له سیاست څخه بې خبره دودیزه مسلمانو افغانانو ، ارتجاعي روحانیت، شتمنو طبقو،له واک څخه رالوېدلو او اسلامپالو ځواکونو د توطئو او دسیسو ښکارشي او پایله یې په هېواد کې بې ثباتي او د جګړې د اورونو بلېدل شي.

- د ثور انقلاب په بري سره د هېواد په تاریخ کې لومړی ځل د ټیټواو خوارو طبقو استازو واک تر لاسه کړ. دا که له یوې خوا د سیاسي انقلاب معنی لرله له بله پلوه د افغانستان په وروسته پاتې قبیلوي ټولنه کې د ټیټو طبقو د استازو واک ته رسېدل د واکمن ذهنیت خلاف یو نه منونکی بدلون وو په تېره شتمنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خانانو ته د کوچیانو ، بزګرانو او مزدورانو د بچیانو واکمنېدل د زغم وړ نه وو. همدا تفکر یا واکمن ذهنیت دی چې د ا، خ ، د ، ګ سیالان او مخالفان د کوچي زوی نورمحمد تره کي ته بې سواد او ساده دولتي مشر وايي ځکه د هېواد کوچیان او بزګران نالوستي او پاک زړي ساده وګړي دي. پداسې حال کې چې تره کی د افغانستان په تاریخ کې لومړی دولتي زعیم دی چې د شلو څخه د زیاتو کتابونو مؤلف ، وتلی لیکوال او ژورنالست دی. دا څرګند واقعیت دی چې ژورنالستان او لیکوالان د هرې ټولنې د لوړې پوهې خاوندان او باسواده قشر څخه وي.

تاریخي تجربې ښیي چې په وروسته پاتې ټولنو کې په خپله ګوندونه د ستونزو د جوړولو چینه ده چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د هغې څخه نشي مستثنی کېدای. همدا لامل وو چې ګوند د پرله پسې کورنیو جنجالونو او کشمکشونو، انشعابونو ،کودتا ګانو او کودتایي هڅو او د زعامت د پرله پسې بدلېدو سره مخامخ شو چې هم یې ګوند او هم د هغې د واکمنۍ اعتبار ته زیان ورسولو.

په ماشومتوب او بې تجربه ګۍ کې پر ګوند د واک تحمیلېدل د دې سبب شول چې ګوند او واکمني یې د پرله پسې تېروتنو سره مخامخ شي. د دې معنی دا کېږي چې ګوند سیاسی بلوغ ته نه وو رسېدلی او قطعآ د دولت او ټولنې لارښوونې ته چمتو نه وو. ګوند پداسې شرایطو کې واک ته ورسېد چې د داود د پوځي کودتا وروسته افغانستان د وخت د زبرځواکونو په سیالیو او کشمکشونو اوښتی وو. د محمدداود د جمهوري نظام په وړاندې بنسټپالو ښې اوکیڼ لاسو کړیو مبارزه کوله چې مرکزونه یې په پاکستان او ایران کې وو او ترشا یې لویدیځ ولاړ وو. د ا، خ، د،ګ په واکمنېدو سره چې هغه د محمد داود په پرتله زیات سمونپال وو لویدیځ همدا مخالفې ډلې د واکمنی خلاف ترهګریزو فعالیتونو ته وهڅولې چې پایله یې په هېواد کې د جګړې پیلېدل او د خلقي واکمنی له لوري د زورزیاتی د تګلارې غوره کول شول. لدې څخه دا پایله را وزي چې د حالاتو په کړکیچنتیا کې د ا، خ ، د ،ګ سربېره د خلقي واکمنی د مخالفینو او د هغوی ملاتړو ټاکونکې ونډه لرله .

د ثور انقلاب وروسته په نوې واکمنی کې د زعامت د مدعیانو دریځونو او کړنو د نوي نظام اعتبار ته سخت زیان ورسولو . له بله پلوه د ګوندي او دولتي زعامت په پرله پسې بدلېدل او هغه هم د زوریاتی او شوروي تېري له امله په ګوند او واکمنی یې د خلکو د باور کچه ټیټه کړله. د واکمنانو په بدلېدو سره چې هر یوه تېر واکمن ملامت بللی دی دې په خپله ګوند تر غټې پوښتنې لاندې راووړ . نویو واکمنانو د دې واقعیت د درک وړتیا نلرله چې دی هم د همدې ګوند له لوړپوړو څخه وو او په ترسره شوو تېروتنو کې دی هم پړ او ملامت دي. د بېلګې په توګه یو وخت نجیب الله ویلي وو: « موږ خلکو ته د کور، کالیو او ډوډۍ وعده ورکړه خو موږ خلکو ته د کور پرځای ګور، د کالیو پرځای کفن او د ډوډۍ پر ځای مرمی ورکړې.» نجیب الله دې ته پام نه راګرزاوه چې د ګوند په څوارلس کلنه واکمنی کې دی شپږ کاله د خاد رییس او شپږ کاله جمهور رییس وو چې د وسلوال او غیروسلوال اپوزیسیون سره د حساب او کتاب واک د خاد سره وو. که وژنې شوې دي هغه دده اداري کړې دي او که د پوځي عملیاتو امرونه ورکول هغه جمهور رییس ورکول یعني مرمی د ده د ارادې له مخې د ټوپکو له شپېلۍ وتلي او انسانان د ده په لاس جوړې شوې څارګرې ادارې او یا د ده وسلوال پوځ ګور ته لېږل. پردې اساس د ټولو څخه زیات د ده په امر زیاتې مرمی په خلکو لګېدلې دي خلکو ته ده ډېر کفنونه جوړ کړي او همدارنګه ډېر خلک ده ګور ته لېږلي دي.

سره لدې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په واکمنۍ کې او په تېره په خلقي واکمنۍ کې په هېواد کې یو لړ بنسټیز بدلونونه او سمونونه چې د ربښتیني انقلاب زېری یې ورکاوه پیل شول ، د ښوونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روزني په اړه پرمختګونه د پام وړ وو، هر کار زرګونه محصلین د لوړوزده کړو لپاره سوسیالستي هېوادونو ته استول کېدل، په ښارونو کې عمراني چارې پر مخ تللې ، زیاترو ښاریانو له حکومت څخه ملاتړ کاوه او د ولس یوه برخه د نظام د پاینت په موخه وسله په لاس د وسلوالو مخالفینو په وړاندې جنګېدله او قربانۍ یې ورکولې. د اداري او اخلاقي فساد کچه ټیټه شوې وه او ګوندیانو په پوره شوق خلکو ته د چوپړاو د هېواد د هراړخیز پرمختګ په موخه په پوره رښتینولۍ سره خپلې دندې ترسره کولې او د شتمنیو په ټولولو لګیا نشول . که په ګوند جګړه نه وای تحمیل شوې ښایي د خلکو په ګټه او د یوه پرمختللي افغانستان د جوړولو په لور ګړندي ګامونه اوچت شوي وای . خو جګړې د سمونونو مخه ونیوله ،هېواد ته یې زیات زیانونه ورسول او لګونه افغانان د جګړو خوراک شول . پدې جګړو کې یوازې د دې ګوند شاوخوا پنځوس زره غړي چې ستره برخه یې خلقیانو جوړوله د ثور انقلاب څخه د دفاع په لار کې قرباني شول . هېڅوک نشی موندلی چې د دې ګوند مشرانو او کدرونو ماڼۍ او ښارګوټی جوړ کړي وي او یا په بانکونو کې حسابونه ولري چې ددې ګوند د واکمنۍ مخکې او وروسته د واک خاوندانو شتمنۍ ټولې کړې دي او په واکمنیو کې یې په لوړه کچه فساد او اختلاص شتون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## د اسلامي انقلاب برى

د۱۹۹۲ کال د اپریل په اته ویشتمه (۱۳۷۱ کال غویي اتمه ) د بهرنیو چارو په وزارت کې د رسمي مراسو په ترڅ کې واک صبغت الله مجددي ته وسپارل شو. مجاهدینو دې سیاسي اوښتون ته د اسلامي انقلاب برى وویلو. د دې معنی دا کېږي چې ګواکې جهادي ډلو واکمن حکومت نسکور او دوی واک تر لاسه کړ. خو واقعیت دا دی چې د جلال آباد له جګړې وروسته تنظیمونه نهیلي شول او تمه یې نلرله چې واکمني نسکوره کړي. پدې هکله د۱۹۹۳ کال په اپریل کې احمدشاه مسعود د المسلمون عربي اونیزې سره په مرکه کې چې مرکه یې په ۴۲۶ ګڼه کې خپره شوې وایي:« ...هیڅوک نه پوهیدل چې څه به کیږي .ټولو د مجاهدینو څخه واټن نیولو.حتی ډیر نږدې کسان چې څوارلس کاله زمونږ سره صبر او زغم ښودلی وو د واکمن بن بست او پوځي وضعې څخه نهیلي شوي وو...، پخپله تنظیمونه د ډار او وېرې سره مخامخ وو.» د مرکې څخه خبریال دې پایلې ته رسیږي :« هغه (مسعود) لکه ګلبدین نه پخپلو ځواکونو او نه د اپوزیسیون په نورو تنظیمونو باور درلود ، بلکې هغه د وطن د ګوند او د افغانستان د وسله وال پوځ د هغو مشرانو پر مټ کابل ته راورسول شو چې د ملګرو ملتو د سولې د پلان او د ملي روغې جوړې مخالفین وو چې د مسکو په حکم یې سرونه ور ته ټیټ کړي وو. » د اسلامي انقلاب د بري ربنتیا د دې سیاسي تحول د اصلي لوبغاړي مسعود له مرکې څخه معلومېږي چې د بی بی سي سره یې ترسره کړې او په یوه برخه کې یې راغلي دي: « پوښتنه - تاسې د دولت د وسله وال پوځ له جنرالانو یعنی جنرال عظیمي ،جنرال علومي، جنرال دلاور، جنرال فتاح سره څه ډول چلند کوئ ؟

ځواب – جهادي مشرانو تل د وسله وال پوځ له جنرالانو او افسرانو څخه غوښتل چې د رژیم سره همکاري و نکړي او د مجاهدینو سره یوځای شي ، دې جنرالانو د جهادي تنظیمونو غوښتنو ته لبیک ووایه هم یې د رژیم په رانسکورولو او هم یې د کابل د ښار په امنیت کې زیاته همکاري وکړه نو دا جنرالان د تقدیر وړ دي نه د توبیخ وړ.

پوښتنه – د مجاهدینو په واکمنی کې به ښاغلی فرید احمدمزدک ، کاویانی، وکیل او نور وکولای شي له هیواد څخه ووزي یا نه ؟

ځواب - تر اوسه د جهادي مشرانو او جهادي شورا له خوا کوم مقررات چې څوک د هیواد څخه و نه وزي نه دي ترتیب شوي هغوی کولای شي چې په آزادانه ډول د هیواد د ننه او بهر ته سفر وکړي. » ۱۹۱/ ۳۳۱ که چیرې د خبریال پوښتنو ته ځیرشو هغه د وطن د ګوند د هغو پوځي او ملکي چارواکو په اړه پوښتنه کړې ده چې هغوی مسعود واک ته رسولی دی. لدې څخه بیا څرګندیږي چې د اسلامي انقلاب اصلي لوبغاړي جهادي ډلې او په شمال کې بغاوتګر پرچمي جنرالان نه بلکې په کابل کې د پرچم ګوند په مشرتابه کې سیاسي معامله ګر وو. جنرال مومن د بغاوت چیانو څخه یو په کابل کې ناست پرچمي ملکي او پوځي معامله ګر داسې معرفي کوي: « کله چې مزارشریف سقوط وکړ، پاڅون د وطن د ګوند د مرکزي کمیټې او په کابل کې د جنرالانو له ملاتړ نه برخمن شو.جنرال آصف دلاور لوی درستیز، جنرال نبي عظیمي د کابل د ګارنیزیون قوماندان ، جنرال سیداعظم سعید د جمهوري ریاست د ګارد قوماندان او لسګونو نورو جنرالانو پیغامونه را واستول او په څرګند ډول یې خپل پیوستون وښود .» ۲۲۵/ ۲۰۵ د احمدشاه مسعود او جنرال مومن مرکې د اسلامي انقلاب د بري اصلي لوبغاړي ښیي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اسلامي انقلاب د بري په نامه یې د شمال تلوالي واکمنولو ته لار هواره کړله او پر بله خوا یې نه یوازې خلکو بلکې خپل ګوند ته هم خیانت وکړ. دا د اسلامي انقلاب بری نه بلکې د پرچمیانو له لخوا د مسعود په ګټه کودتا وه چې د افغانستان تباهی ته یې لاره هواره کړله. د دې کودتا توپیر د چنګاښ د شپږویشتمې او غویي د اوومې له کودتا وو څخه پدې کې وو چې لومړی دوې کودتاوې د حکومتونو او سیاستونو خلاف تر سره شوې خو دا وروستی ( د ثور اتمې ) کودتا د افغانستان د شتون پر ضد کودتا وه. دا توره کودتا د افغانستان په لرغوني تاریخ کې یو تور داغ دی . البته د هغو رښتینو مجاهدینو اتلولۍ او سرشندنې چې د شوروی اشغال په وړاندې وجنګېدل د درناوی وړ دي خو د تنظیمونو د مشرانو او ځینو جهادي قوماندانو خاینانه معاملې او په هغو کې د م،م د سولې د پروګرام شنډول چې هېواد یې کورنۍ جګړې ته ور ټېل وهلو د بښنې وړ نه دي . سره لدې بیا هم د جهاد ټیکه داران د غويي اتمه د جهاد د فتحې ورځ او یا د اسلامي انقلاب د بري ورځ ګڼي پداسې حال کې چې دا ورځ د ۱۳۵۸ کال د مرغومې د شپږمې او د ۱۳۸۰ کال د تلې د پنځلسمې په څېر د افغانستان د تباهی او بربادۍ توره ورځ ده ځکه چې:

الف - د م ، م د سولې د پروګرام يې شنډ کړ.

ب – ددې کودتا په پایله کې د شمال دا د شر اوفساد تلواله واک ته ورسېده کومه چې د ړانده قومي تعصب د لړکیو د حقونو د ترلاسه کولو په نامه یې د هېواد ورونه قومونه په پښتنو او غیرپښتنو، ډېرکیو او لږکیو او هېواد یې په شمال او جنوب ویشلو چې پدې توګه یې د ملي نفاق تخمونه وکرل .

ج ـ تنظیمونو ته د واک د لېږد په ورځ ( د غويي اتمه ) د کابل په ښار کې چور او تالان ، د عامه شتمنیو لوټول او د وحشتونو لړۍ پیل شوله او دې بهیر څلورکاله دوام وموند. د دې وحشتونو په ترڅ کې د هېواد د تمدن ټولې نښې نښانې ، لرغوني آثار ،د دولتي ادارو، اقتصادي او فرهنګي بنسټونو او وسلوال یوځ تجهیزات او وسلې له منځه ولاړل. سربېره پردې په افغانستان کې داسې وحشت واکمن شو او داسې جنایتونه وشول چې قلم یې د لیکلو او ژبه یې د ویلو څخه شرمېږي . د په اصطلاح د اسلامي انقلاب د لوبغاړو موخه د عبدالعلي مزاري د مرکې څخه څرګندېږي چې د ۱۳۷۲ کال د مرغومې د جګړو وروسته د آزادۍ له رادیو سره کړې وه او وایي: « مسعود څو ځله ما ته هیات را ولېږه او ویې ویل چې موږ او تاسې ټول محروم ملتونه یو.موږ باید ټول سره یو ځای او متحد اوسو او د پښتنو دوه سوه کلن استعمار ته نوره اجازه ور نکړو اوس واکمني محرومو ولسونو ته انتقال شوې ده باید د هغې ساتنه وکړو.» بېله شکه چې د دې تکلارې پایله د کورنۍ جګړې پیلېدل او د هېواد تباهي وه.

## ولې تنظيمي جګړې پيل شولې ؟

مخکې لدې چې پورتنۍ پوښتنې ته ځواب ویل شي باید لومړی دوو نورو پوښتنو ته ځواب ولټول شي . ولې اووه تنظیمونه په پاکستان او اته تنظیمونه په ایران کې جوړشول او ولې په افغانستان کې جهادي تنظیمونه واک ته ورسول شول. دې دوو پوښتنو ته د ځواب ویلو وړاندې بلې پوښتنې ته هم ځواب ورکړل شی چې څه وخت په افغانستان کې جهاد پیل شو. د لیکنې د دې برخې سرلیک ته د څو پوښتنو د ځواب لټول ښیي چې سیاسي – ټولنیزې پدیدې لکه د ځنځیر د کړیو په څېر له یوبل سره تړاو لري همدا لامل د سیاسي – ټولنیزو بهیرونو پېچلتوب ښیي. که څه هم وروستۍ پوښتنې ته مخکې ځواب ورکړل شوی دی چې جهاد د سرطان د انقلاب وروسته پیل شو چې یوځل به بیا پرې ځغلنده کتنه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۵۲ کال د کودتا وروسته په هېواد کې د هراړخیزه سمونو د پلي کولو ژمنې ور کړل شوې. د دې سمونونو د اعلان سربېره د محمد داود مخینې او په جمهوري دولت کې د پرچمیانو غوښتنه برخه د دې لامل شول چې د هېواد محافظه کار او ارتجاعي ځواکونه او د شوروي اتحاد مخالفان نوی جمهوري نظام د شوروي اتحاد سپوږمکۍ وبولي او د هغه خلاف یو تبلیغاتي کمپاین پیل کړي. له بله پلوه د محمد داود اروایي ځانګړتیاوې چې د سیاسي مخالفینو شتون یې نشوای زغملای او د نوي نظام د مخالفینوخلاف یې د زورزیاتی تګلاره غوره کړله مخالفین اړ شول پاکستان ته پناه یوسي، هغوی هلته تر پوځي روزنې لاندې ونیول شول او د نوي رژیم خلاف یې د جهاد په نامه افغانستان ته د ورانکاریو لپاره را ولېږل. دې دولتي ضد فعالیتونو تر هغو پورې دوام وموند چې داود خان لویدیځ ته په ګونډو شي.د ثورد وسله وال پاڅون وروسته سمدلاسه د محمد داود د واکمنۍ سناریو پیل شوله . د افغانستان د پرمختګ دښمنانو او ملاتړو یې هغه وخت د واکمنیو خلاف د جهاد فتواوې ورکړې دي او د اسلام نه د یوې وسلې او وسیلې په توګه استفاده کړې چې واکمنیو په ټولنیزو- اقتصادي سمونو لاس پورې کړی دی خو دغو مفتیانو د امیرحبیب الله خان په څېر پاچا چې په عیش اونوش کې ډوب وو د خادم الملته الدین او هغو لسګونو ښځو ته چې د امیر په حرمسرای کې یې په مختلفو نومونو ژوند کاوه هغوی ته یې د صباحه الحرم، مرجانه سراري او نور عربي لقبونه ورکول او ولس یې د دې پاچا اطاعت ته رابللی دی. دا ټول هغه اسلام دښمنه څېرې وې چې د نړیوالو استکباري شیطاني مرکزونو په چوپړ کې ولاړې وې ، ترڅو افغانان په تورتم کې وساتي اود دې استکباري ځواکونو د ګټو خلاف ونه دریږي. دا هغه استخدام شوي دین پلورونکي وو چې د لږ مادي او دنیوي امتیاز په وړاندې وطن پلوري. دې حالت ته په کتلو سره د هیواد هغو سیاستوالو او واکمنانو ته چې د هیواد د آبادۍ او د خلکو د سوکالۍ په موخه یې متې رانغښتې وې په کار وو چې د خپلو سمونونو د پلي کولو پر مهال یې د پوره غور او اړین احتیاط څخه کار اخیستی وای او په تېره د خلکو مقدساتو او دودونو ته یې پوره درناوی کړی وای ترڅو یې په کمین کې ناستو دیني سوداګرو ته دا پلمه نه وای ورکړې چې پردوی د کفر او الحاد تور ولګوي، د ولس له سپیڅلومذهبي او ملي احساساتو نه ناوړه ګټه پورته کړي او د جهاد په نامه هغوی د نړیوالو شیطاني ځواکونو او د هغوی د سیمه ییزو چوکره ګانو په چوپړ کې ودروي. له بده مرغه د اماني نهضت نه نیولې تر دې دمه د هیواد د مترقي غورځنګ لارویانو او په هغو کې د ا ، خ، د ، ګ و نشوای کړای دا تشه ډکه کړي. د دې ترخه واقعیت لامل پدې کې دی چې هغوی خپل تاریخ نه وو لوستی ، د خپل ولس رواني ځانګړتیاوې ، دودونه او نرخونه یې درک نکړل، یا یې هغو ته ارزښت ور نکړ او یا دا چې پر داسو ظاهرې بدلونونو چې د ټولنې د پرمختګ لپاره یې هیڅ ګټه نه لرله لاس پورې کړي او داسې اداره چې د خلکو د همکارۍ او ملاتړ د جلبولو جوګه شي جوړه نکړای شوه چې پایله یې د ریفورمونو دریدل ، د واکمنیو نسکوریدل او د محافظه کارو په پردیو پورې تړلیو ډلو واکمنیدل شي. افغانان د نړۍ د نورو ولسونو په څېر د خپلو واکمنیو څخه د هرڅه ړومبی په هیواد کې د قانونیت اوعدالت د ټینګښت او د دوی مقدساتو او دودونو ته د درناوي هیله لرله او لري یې. ولس دې ته نه ګوري چې واکمنۍ یې ځانته اسلامی وایي یا دموکراتیکي، انقلابي یا ریفورمیستي، جمهوریت یا امارت، ولسونه د واکمنیو عملي کړنو ته ګوري . غازي امان الله خان چې د انګریزانو څخه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو اتل دی داسې کارنامې هم لري چې د هغه د سقوط لپاره یې لار هواره کړله. هغه د اروپا له اوږده سفر وروسته داسې فرمانونه لکه په ښار کې د چادرۍ په اغوستلو بندیز لګول صادر کړل. د هغه په اداره کې داسې چارواکي هم تر سترګو کیدل چې استبداد او فساد یې ساری نه درلود. د بیلګې په توګه د پغمان په لویه جرګه کې د کابل یوه استازي چې درۍ لکه روپۍ یې د بسپنې په ډول حکومت ته د جنګي مهماتو د اخیستنې په موخه هم ورکړې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا ته وايي: « ترهغه پورې چې ستاسو په فساد ککړ وزيران محکمې او دار ته و نه رسول شي په هيواد کې د هيڅ ډول سمونونو امکان نشته. » ۲۲۵ /۸۱۳ لکه څرنګه چې وايي «تاريخ د عبرت هنداره ده » د ا، خ ، د، ګ مشرتابه د اماني غورځنګ د نسکوريدو له ترخو تجربو څخه زده کړه نه وه کړې او د ريفورمونو په پلې کولو کې چې د وخت او ولس غوښتنه وه داسې تيروتنې او ناسنجول شوي ګامونه پورته کړل چې د اماني دورې سره يې هيڅ توپير نه درلود. که د امان الله خان په زمانه کې کوم والي د شريعت پر ځای د قانون د پلې کولو پر ضرورت ټينګار کاوه، د خلقي حکومت ځينو مسؤلينو بيا په کليو کې نالوستې وګړي او حتی ښځې اړ ايستلې چې د سواد د زده کړې کورسونو ته ولاړ شي يا دا چې د انقلابي شورا د اووم لمبرفرمان( د ښځو د حقونو ) د پلې کولو په نامه د خلکو د ودونو د خوښيو د مراسمو مخنيوی وکړي او يا د ځمکو د اصلاحاتو په ترځ کې د حکومت د سياستونو د بيانولو په نامه د ملاکانو او خانانو په پته سپکې سپورې ويلې او ملاکان يې سپکول. دا سپکاوی په هغه بزګر چې دولت ورته ځمکه ور کوله هم ښه نه لګيده ځکه چې نوموړی خان د هغه له قوم او قبيلې څخه وو چې هغه ته يې سپکاوی ځانته سپکاوی ګاڼه. البته چې ګڼ شمير پرچميانو او د امين پلويانو په لوی لاس د حکومت چارې سبوتاژولې . پدې هکله سيستاني د خپل کتاب مقدمه بر کودتای ثور ۱۳۵۷وفجايع هشت ثور په ۱۱۱ مخ کې راوړي چې کله خلقيانو کارمل په پراګ کې د سفير په توګه وګومارلو هغه په هوايي ډګر کې هغو پرچميانو ته چې د ده سره مخه ښې ته ورغلي وو د کارمل يوازېنۍ سپارښتنه دا وه چې « تاسې به په ټول قوت سره خپلې هڅې د تره کي ، امين د رژيم د ناکامولو په موخه را ګرزوئ.» د ا،خ،د،ګ هم د شاه امان الله په څېر واک انحصار او خپل طبيعي متحدين يې هم په واک کې شريک نکړل. ددې ګوند په واکمنۍ کې د غازي امان الله د حکومت په څيرد نظر او عمل يووالی نه ليدل کيده او د يو بل خلاف يې تحريکات کول، دې دا معنی لرله چې نوي انقلابي واکداران نه يوازې د وسلوالو مخالفينو سره په جګړه اخته وو بلکې په خپلو کې هم سره جنګيدل . د واکمنی په وړاندې د پرچميانو دريدل ، د امين لخوا د تره کي وحشيانه وژنه او د کارمليانو له لوري د م،م د سولې د پروګرام شنډول يې څرګندې بيلګې دي چې پايله يې د جهادي تنظيمونو واکمنېدل شول. .

پورتنيو څرګندونو ته په کتو سره به اوس لومړۍ پوښتنې ته چې ولې اووه ګونه او اته ګونه جهادي تنظيمونه جوړشول ځواب ووايو. د دې ډلو له جوړولو څخه د اسلام آباد او تهران او د هغوی د نړيوالو ملاتړو موخه دا وه چې دا ګڼ شمېر تنظيمونه د ا، خ، د ، ګ د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته ګډه ژبه پيدا نکړي او يو مرکزي ځواکمن حکومت جوړ نکړي . کله چې دې د ښمنو ډلو د ګډ حکومت د جوړولو وړتيا نلرله په طبعي ډول سره نښتل او د جګړو اورونه بلېدل . له همدې امله يې جهادي تنظيمونه واک ته ورسول چې د يو بل د منلو او زغملو اراده او لېوالتيا يې نلرله . ددې دوو پوښتنو کې ځواب د هغه مهال د زبرځواکونو( شوروي اتحاد او امريکا د متحده ايالتونو) تګلارو او ستراتيژيو هم خپل رول خو ټاکونکی رول درلود. د تنظيمونو د واکمنېدو په درشل کې شوروي اشغالګر د افغان ولس د اتلوالې مبارزې په وړاندې په ګونډو شول او له افغانستان څخه ووتل، خو لکه څرنګه چې مسکو د وخت په افغان دولت او جهادي ډلو کې نفوذ او اغيز درلود او په تيره نجيب الله او د هغه د دسترخوان يارانو د مسکو د ښه غوړنيوونکو مزدورانو په توګه د شورويانو د دستورونو پلې کوونکي وو د شورويانو د دستورونو له مخې ګامونه اوچتول بېله دې چې د دې دستورونو د اړتيا ، ګټورتوب او زيان په اړه سوچ وکړي . شوروي سلاکاران ترهغو پورې د نجيب الله ترڅنګ ناست وو اوهغه ته يې مشورې ورکولې چې هغه يې لاس تړلی پرچمي کارمليانو او د نظارشورا ته تسليم کړ. هغه مهال د کرملن ناستو نقشه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې د پرچم ـ جمعيت تر مشرتابه لاندې واک شمال تلوالې ته ولېږدوي. د تلوالې له واکمنېدو سره د شورويانو سربېره ايران ، پاکستان ،هندوستان او لويديځوال هم همغږي وو. د تلوالې په واکمنېدو سره چې مرکزي رول پرچم ـ جمعيت ته يکې ورکړل شوی وو ، ددې تلوالې تګلاره د شوروي اشغال لاندې د کارمل ـ نجيب حکومتونو کاپي وه چې هغه د مسکو ګټو ته په لومړيتوب څرخېدله . که چېرې شمال تلوالې په خپلو کې نه وای سره خوړلې بېله کومه شکه هغه به تر ډېرې مودې پورې پر افغانستان واکمنه پاتې شوې وای، ځکه چې د سيمه ييزو ځواکونو( روسيه، هند، پاکستان او ايران) له ټينګ ملاتړ څخه برخمنه وه. د م، م دسولې د پلان د شنډولو او د شمال تلوالې د واکمنولو څخه د مسکو موخه دا وه چې په افغانستان کې يو قوي اسلامي دولت جوړ نشي چې د داسې يوه دولت د جوړېدو له کبله د شوروي اتحاد د منځنۍ آسيا اسلامي جمهوريتونه د خپلواکۍ او اسلامي ولولو څخه اغېزمن کېدل او پدې ډول شوروي امپراطوري له ګواښ سره مخامخ کېدله. همدا لامل وو چې د هېواد هغه لږکۍ ډلې چې پښتنې ضد روحيه يې لرله واک ته ورسولې ترڅو پښتانه وټکوي چې منطقاً د پښتنو له غبرګون سره مخامخ کېدل او د جګړې اورونه بلېدل . د نجيب الله هغه خبره چې حکمتيار ته به اجازه ورنکړم کابل ته را ننوزي او د هغه څخه به دا نور حکومت ونکړي د مسکو نقشه وه چې نجيب په ناپوهۍ کې او کارمليانو په شعوري دول پلې کړله.

امريکا هم د شوروي اتحاد په څېر د ا، خ ، د ،ک د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته په افغانستان کې د ځواکمن اسلامي دولت د جوړېدو له امله وېره لرله. لکه څرنګه چې د ا ، خ ، د ، ک د واکمنۍ د راپرزېدو يوه ورځ وروسته ګراهام فيلر د امريکا د سي آی اې د ادارې پخوانې مرستيال ويلې وو :« وروسته له هغې چې د جهاد له برکته يو ستر زبرځواک ماتې وخوړه په افغانستان کې د مجاهدينو له لوري د اسلامي دولت جوړېدل د امريکا او لوېديځ لپاره يو ستر ګواښ جوړوي. اسلام اوس مهال د مارکسيسم – لينينيسم ځای نيولی او په هماغه کچه د لويديځ تمدن ته ورانوونکی دی.» ۲۲۶/ ۲۰۲ د واشنګټن ددې پاليسۍ په اړه ډګروال يوسف د آی اس آی د افغانستان د څانګې مشر ليکي :«زه عقيده لرم که چېرې د مجاهدينو بری د امريکا له ګټو سره سم وای د هغوی بری له کورنيو شخړو سره سره حتمي وو، له بده مرغه داسې نه وو.»۱۵۴/ ۱۹ پاکستان او ايران چې د چنګاښ د انقلاب وروسته د افغان حکومتونو ضد اوربکو ملاتړي وو هغوی هم په افغانستان کې د کمزوري حکومت شتون د خپلو ملي ګټو سره برابر ګڼلو ، د قوي مرکزي حکومت مخه يې ونيوله او د خپلو جهادي چوپړيانو پر مټ يې جګړو ته لمن ووهله. که چېرې په افغانستان کې مرکزي ځواکمن دولت جوړ شوی وای افغانستان د پرمختګ لوړو پړاوونو ته رسېده ، هغه مهال ايران او پاکستان د خپلو توليداتو بازار( افغانستان) له لاسه ورکاوه . له بلوه پلوه با ثباته او ځواکمن افغان حکومت د دې وړتيا موندله ، ايران او پاکستان ته پرېمانه تلونکي اوبه مهار کړي چې اسلام آباد ـ تهران دا هم نه غوښتل . همدا لاملونه وو چې اسلام آباد ـ تهران ، مسکو ـ واشنګټن او د هغوی متحدينو تنظيمي جګړو ته لمن ووهله. ددې لپاره چې واشنګټن د افغانستان څخه د شوروي اشغالګرو له وتلو وروسته په افغانستان کې د يوه اسلامي قوي دولت د جوړېدو مخه نيولې وي چې بېله شکه اسلام آباد هم ورسره همغږی وو لا د مخه چمتووالی نيولی وو. عبدالحميد مبارز د خپل کتاب (حقايق وتحليل وقايع مسايل سياسي افغانستان) په ۴۳ ــ ۴۴ مخونو کې د۱۳۶۸ کال د تلې په مياشت کې د بدخشان په توپخانه کې د مهمو جهادي قوماندانانو جلال الدين حقاني ، احمدشاه مسعود، سيد جګرن، قاري بابا، عبدالحق، ملاملنګ، خليفه عبدالودود،محمد امين وردګ، بلال نيرم، تورن نظري او نورو د يوې غونډې يادونه کوي چې آی اس آی او سي آی اې هغه را بللې وه چې ظاهراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل له سقوط وروسته د واک د تشې مخنیوی وو خو موخه یې د واک د تشې مخنیوی نه بلکې « واشنګتن د اووه ګونو تنظیمونو جوړښت، ځواک او مشرتابه ته په کتلو سره هغه د خپلو ستراتېژیو د پلې کولو په وړاندې خنډ ګڼل .له همدې امله امریکایان د افغانانو په منځ کې د لیډرشپ د ماتولو په هڅه کې شول چې د ګوندونو او قوماندانانو تر منځ بې اتفاقي راوړي. په کال ۱۹۹۰ سي آی اې نېغ په نېغه د قوماندانانو ترمنځ د وسلې وپش پیل کړ دا کار یوه ښه وسیله شوه چې د قوماندانانو تر منځ شخړې پیدا کړي.» ۸۸/ ۴۲ سربېره پردې پدې کار سره جهادي قوماندانانو د خپلو تنظیمي مشرانو څخه د خپلواک درېځ شونتیا تر لاسه کوله . دا په تنظیمونو کې د ژور کړکېچ واکمنېدو او خپلسریو ته د لمن وهلو یوه بریالۍ هڅه وه. له یاده و نه باسو چې مخکې لدې قوماندانانو ته د وسلې وپش د تنظیمونو د مشرانو او آی اس آی له خوا تر سره کېدلو او اسلام آباد حتی سي آی اې ته اجازه نه ورکوله چې په تنظیمونو وسلې وویشي. د پورتنیو څرګندونو او وروستیو پېښو څخه داسې ښکاري چې د تنظیمونو ترمنځ جګړې د واشنګتن د پلان یوه برخه وه. له بله پلوه څرګنده شوله چې سي آی اې په تنظیمونو کې داسې قوماندانان لرل چې د دوی د نقشو رښتیني پلې کوونکي وي چې د بدخشان د توپخانې د غونډې ستره برخه وال له همدې قوماندانانو څخه وو. پدې اړه ددې غونډې یوه ګډون کوونکي ملاملنګ یوه خلقي ته چې د ۱۳۶۸ کال د کب د شپاړلسمي ډرامې وروسته پاکستان ته تښتېدلی وو ویلي وو: « موږ مستقل خلک یو ، د قوماندانانو شورا لکه حاجي عبدالحق،رحیم وردګ او زه...، راځئ زموږ سره ، زموږ سره خبرې یعنې د امریکا سره خبرې ، موږ د امریکا خلک یو، د تنظیمونو او پاکستان پروا نلرو.» ۲۸۳/۲۲۷ – ۲۸۴ کله چې ملاملنګ د قوماندانانو د شورا غړي د امریکا خلک بولي دا د دې معنی ورکوي چې سي آی اې د جهاد په زمانه کې دا ډله قوماندانان ښه غوړنیوونکي او امریکا ته وفادار تثبیت کړي وو . همدا لامل هم وو چې کله امریکایانو په ۲۰۰۱ کې پر افغانستان یرغل وکړ څه موده وروسته یې رحیم وردګ د دفاع وزیرمقرر کړ ، ملاملنګ یې ولسې جرګې ته راپورته کړ او که عبدالحق طالبانو نه وای وژلي هرومرو به عبدالحق د امریکایي اشغال لاندې حکومت لوړپوړي وای . ښېله شکه د امریکا همدې باوري قوماندانانو په خپلمنځي تنظیمي جګړو کې ټاکونکی رول لوبولی دی چې پدې ډول یې د یوه قوي اسلامي دولت مخه ونیوله او له بله پلوه یې اسلام چې« د مارکسیسم – لینینسم وروسته د لویدیځ تمدن ته ورانوونکی دی» هم بدنام کړ. البته په تنظیمو جګړو کې د مسعود رول لکه د لمر په څېر څرګند دی. دا هغه څه وو چې د وخت زبرځواکونو( شوروي اتحاد او د امریکا د متحده ایالتونو) غوښتل چې هغې ته هم ورسېدل . همدا لامل وو چې احمدشاه مسعود ته مسکو د م، م د سولې د پروګرام په شنډولو کې مرکزي رول ورکړی وو اوښایي دا کار د واشنګتن سره په همغږۍ کې ترسره شوی وي ځکه چې په روسیه کې یو شمېر څېړونکي د شوروي اتحاد وروستی مشر ګرباچف د امریکا د نقشو پلې کوونکی ګڼي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان خلق د موکراتیک ګوند( وطن ګوند) د نسکورېدو وروسته

کله چې د۱۹۹۲ کال د اپریل په نیمایی کې د افغانستان شمالي ولایتونه د مرکزي حکومت له کنترول څخه ووتل د اپریل په ۲۴ په پیښور کې د پاکستان د صدراعظم نوازشریف او د سعودي عربستان د استازو په ګډون جهادي مشران سره جرګه شول او د افغانستان د راتلونکي واکمنۍ بنسټ یې پدې ډول کېښود چې صبغت الله مجددي په د دوو میاشتو لپاره د دولت ممثل او برهان الددین رباني به د څلورو میاشتو لپاره د افغانستان د سرپرست دولت رییس وي . د صدارت مقام اسلامي حزب او د دفاع وزارت به د جمعیت برخه وي. د کابیني غړي به د تنظیمونو د دویمي کچې له غړو څخه ټاکل کېږي. ددې شپږو میاشتو په ترڅ کې به د راتلونکي حکومت لپاره اسلامي متفق علیه شورا تصمیم نیسي او د هغه انتقالي عمر به دوه کاله وي. ګلبدین حکمتیار په خپل کتاب (پټې توطیې او بربنډې څېرې) کې د پېښور د غونډې په اړه راوړي:« آی اس آی ټینګار کاوه که چېرې مسعود د دفاع وزیر، رباني او مجددي جمهور رییسان نشي بحران نه حل کېږي او په کابل مسلط ځواکونه چا ته واک نه سپاري.» د همدې لوزنامې له مخې د غویي په اتمه مجددي ته د اسلامي دولت د ممثل په توګه د بهرنیو چارو په وزارت کې چې د نجیب الله د واکمنۍ ګڼ شمېر لوړپوړو چې په هغو کې عبدالواحدسرابي د جمهوررئیس مرستیال او صدراعظم فضل الحق خالقیار هم ګډون درلود د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې واک وسپارل شو. د جمهور رییس لومړي مرستیال عبدالرحیم هاتف پدې مراسمو کې ګډون ونکړ. کله چې د بهرنیو چارو په وزارت کې د واک د لېږد مراسم ترسره کېدل د کابل په ښار کې د تنظیمونو جنګیالیو د دولتي ادارو او مؤسسو د نیولو او له هغو څخه د مالونو او تجهیزاتو پر اېستلو بوخت وو. د وزارتخانو ، دولتي او اقتصادي بنسټونو د نیولو په خاطر جګړه ظاهراً د شمال ټلوالې او د حزب اسلامي تر منځ روانه وه خو پخپله د شمال ټلوالې جنګیالي هم د زیاتو سیمو د نیولو او غنیمتونو د ترلاسه کولو په موخه په خپلو کې سره جنګېدل . په همدې ورځ د تنظیمونو له لوري د خلکو او ټولنیزو شتمنیو د غلا او خپلسرۍ څرګنده بیلګه دا ده :«کله چې پخوانی صدراعظم خالقیار د بهرنیو چارو د وزارت څخه پخپل موټر کې ووت، د مسعود نفرو د بهرنیو چارو د وزارت مخکې له موټر نه کښته کړ، موټر یې تري وتښتاوه خالقیار پلی روان وو ترڅو یوه پوځي افسر پخپل موټر کې یووړ. ماښام خالقیار د بابا جلندر د مسعود د قوماندان لخوا وتښتول شو او له هغه څخه یې پیسې غوښتي وې ترڅو د ځینو افسرانو په مرسته خوشي شو.» ۱۷/ ۴۶۸ کله چې د تېر نظام د صدراعظم سره دا ډول چلند وشو د هېواد عادي وګړي به له کومو ستونزو او ګواښونو سره مخ وو. د جهادي ډلو له لوري د دولتي بیزونو او زیرمو څخه خوراکي توکي او لوازم په ټیټه بیه په بازارونو کې خرڅ شول ، نرخونه را ولویدل او مجددي به په ویاړ سره ویل: «زما د واکمنۍ په مهال د اوړو او خوراکي توکو نرخ ټیټ شوی دی خو هغه خبر نه وو چې دا توکي جهادي غلو غلا کړي او په ټیټه بیه یې بازار ته وړاندې کړي دي.»۲۲۳ / ۷ د مجددي د واکمني انارشي او د تنظیمونو خپلسري له دې نه جوتیږي چې د « سوداګرۍ او امنیت وزیران شهباز احمدزی او جنرال نوروز د اسلامي وحدت جنګیالیو پرې نه ښودل چې نوموړو وزارت خانو ته ننوزي. »۸۸ /۶۳ جهادیانو ته د واک د لېږد یوه ورځ وروسته مجددي د افغانستان د اسلامي دولت ممثل په ارګ کې د واک په ګډۍ ډډه ولګوله او عمومي ښنه یې اعلان کړه.هغه پداسې شرایطو کې د دولت مشري په غاړه واخیستله چې په هیواد او په ځانګړې ډول په پلازمینه کې تنظیمونو هلې ځلې کولې چې زیاتې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي . مجددي د دولت د ادارې لپاره نه کوم پلان درلود او نه یې د امنیت د ټینګولو په خاطر کوم منظم امنیتي ځواک ، چې د ده د فرمانونو او امرونو له مخې عمل وکړي. پداسې یوه حالت کې چې پرسر د ځمکې پرسر د محشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته بل څه نشو ورته ویلی ټول ولس او په هغو کې د ا، خ، د، ګ خلقي برخه او د نجیب الله پلویان د واکمن وحشت او انارشۍ څخه د خوندي پاتې کیدو په موخه غارونه لټول او د هیواد څخه د وتلو په لټه کې وو. پر بله خوا کارملیانو چې د واکمنۍ برخه جوړوله د واکمنانو اکثونه کول. د وخت په تېرېدو سره که څه هم د جګړو کمی نه وو خلقي مشرانو او کدرونو هڅې پیل کړې ترڅو خپل ګوند بیا په پښو ودروي . د هغوی د هڅو پایله دا شوه چې د شوروي اشغال پر مهال په دولت کې د شریک اړخ په استازیتوب زیری ، پنجشیری ، آرین او جنرال نظرمحمد او د امین د پلویانو څخه شاه ولي ، سوما، جلیلي او هاشمي سره جرګه شول. د سوما په وینا دوی د دې شرطونو له مخې د نوي ګوند په جوړولو هوکړه وکړله :

- د ببرک کارمل سره به جوړه نه کېږي.
- د ګوند نوم به بدلوي .
- د کنګرې تر جوړېدو پورې به د ګوند مشر او رییس نه وي.
- د مرغومي شپږمه به توره ورځ اعلانیږي.

د مجاهدینو په واکمنېدو سره چې کارملیان د دولت برخه او احمدشاه مسعود د اسلامي دولت بې تاجه ټولواک وو د ۱۳۷۱ کال د زمري په میاشت کې مسعود د خلقي مشرانو زیري ، پنجشېري ، جنرال نظرمحمد او آرین سره وکتل او دوی ته یې په هېواد کې د ژوند کولو ډاډ ور کړی دی . شا وخوا درې میاشتې وروسته یې بیا وربللي او په دې کتنه کې یې له دوی څخه غوښتي چې خپل پوځي ملګري وهڅوي ترڅو له حکومت سره همکاري وکړي . خلقي مشرانو ورته ویلي وو چې اوس مهال موږ کوم سازمان نلرو او له هغوی سره اړیکي نشته خو هڅه به وکړو چې هغوی تشویق کړو او ستاسې له استازی سره به د آرین سره په تماس کې وي . د زیري په وینا « موږ نه غوښتل د مسعود خبره پر ځمکه واچوو.» لکه څرنګه چې د وخت په تېرېدو سره تنظیمي جګړې نه درېدلې او د هېواد څخه تېښتې دوام درلود خلقیان هم له هېواد څخه وتل او ډېری یې پاکستان ته کډوال شول. خلقي مشرانو په پاکستان کې په۱۳۷۲ کال کې د سولې د غورځنګ په نامه د یوه سیاسي خوځښت بنسټ کېښود او مشر یې شهنواز تنی وټاکه. د دې خوځښت د جوړولو په غونډه کې خلقي مشرانو( زیري، پنجشیري، سوما، جلیلي ، مومند) برخه لرله . تنې یې لدې کبله د ګوند مشر ټاکلی دی چې په ګوند کې یې ناپیلی دریځ درلود. که د ا، خ، د ،ګ مشرتابه او په هغو کې خلقي مشرانو له خپلو پرله پسې تېروتنو او ناکامیو د عبرت درس اخېستی وای ور ته په کار وو چې له سیاسي مبارزې یې لاس اخېستی وای د یوې اعلامیې په صارولو سره یې له خپلو ملګرو او ولس څخه بښنه غوښتې وای چې د دې جوګه نشول ګوند ، دولت او ټولنه په ښه توګه رهبري کړي او د ګوند له کدرونو یې غوښتې وای چې تېرو ترخو تجربو ته په کتو سره سیاسي مبارزې ته دوام ورکړی. یادوخلقي مشرانو د سولې د غورځنګ بنست کېښود خو عملاً یې د خپلې پرېکړې او ژمنې خلاف د سولې غورځنګ سره سازماني اړیکي وشلولې او خپلواکه سیاسي هڅې یې پیل کړلې. هماغه دې چې د جلیلي په مشرۍ د۱۳۷۵ کال د زمري د میاشتې په اته ویشتمه د پېښور په ښار کې شاوخوا د ۱۳۰ تنو په ګډون یوه غونده را وبلله او د ملي یووالي په نامه یې ګوند جوړ کړ چې مشران او پېژندل شوي کدرونه یې ټول د امین پلویان وو. همدا رنګه هغه مهال په مسکو کې یو شمېر پرچمیانو د حبیب منګل په مشرۍ د( نهضت اعتدالیون) په نامه د پرچمیانو بیا تنظیمولو هڅې پیل کړلې خو کومه لاسته راوړنه یې نلرله . دا هم د یادولو وړ ښکاري چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته یو شمېر کارملیانو د عبدالرشید دوستم ترمشرۍ لاندې د افغانستان د ملي اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځنګ په نامه ګوند جوړ کړ. هغه ډله پرچمیان چې د شمال ټلوالې سره په حکومت کې شریک وو د۱۹۹۴ ترجنوري پورې چې دوستم د رباني خلاف په جګړه کې ماتې وخوړله وروسته سوکه سوکه د هیواد څخه په وتلو پیل وکړ چې غوڅ اکثریت یې د شوروي اتحاد د ټوټې شوې امپراطورۍ په هېوادونو کې مېشت شول. په ۱۳۷۲ کال کې اسلامي ګوند( حکمتیار)، د ملي ژغورنې جبهې ( مجددي) ، ملي اسلامي غورځنګ( دوستم) ، وحدت حزب (مزاري ) د هماهنګۍ په نامه یوه شورا جوړه کړله او د رباني د حکومت خلاف یې بیا جهاد پیل کړ . په تنظیمي واکمنۍ کې شریک پرچمیان چې د دوستم سلاکاران او ملاتړي ګڼل کېدل د هماهنګۍ د شورا فعالان وو. د دې نوې سیاسي- پوځي ارګان په راڅرګندېدو سره د۱۳۷۲ کال د مرغومي یوولسمه ( جنورۍ لومړۍ ) د دوستم ځواکونو د حضورۍ چمن او مکرویانو څخه چې د اسلامي ګوند له ملاتړ څخه برخمن وو د ارګ په لور وخوځېدل تر څو ارګ ونیسي خو د دولتي ځواکونو له خوا شا ته وتمبول شول. د دې جګړو په ترځ کې د باختر آژانس له خوا یو خبر خپور شو چې « یو شمیر پرچمیانو په ډله ییز ډول ځان وژنه کړې خو واقعیت دا وو چې د دولتي امنیت کارکوونکي چې شمیر یې دیرشو تنو ته رسیده د مسعود د ځواکونو له خوا چڼواري شوي وو .»۲۲۳ / ۳۴ هېره دې نه وي چې د رباني د څارګرې دستګاه کارکوونکي خادیستان وو. هغوی دوستم د رباني پر ضد جګړې ته وهڅولو او د « جګړو په ترځ کې یې غوښتل د رباني خلاف کودتا وکړي چې د کودتا د پلان په هکله جنرال بابه جان مسعود ته راپور ورکړی و. » ۸۸ /۹۳ ځینې پرچمیان بیا ګوته جنرال یارمحمد د فریداحمدمزدک ورور ته ګوته نیسي چې مسعود یې د پرچمیانو له پلان څخه خبر کړی وو. دا چې ولې مسعود پرچمیان کوم چې دی یې واک ته رسولی و ووژل باید وویل شي چې پرچمیانو هغه مهال دوه اړخیزه خوځېدنه پیل کړې وه چې هم یې له مسعود سره راشه درشه او همکاري درلودله او هم یې د ملي – اسلامي غورځنګ له لارې چې د هماهنګۍ د شورا غړیتوب یې درلود له حکمتیارسره اړیکې ټینګې کړې وې. پرچمیانو د پنجابیانو په څېر تل د خپلې سیاسي مبارزې پر مهال دوه ګونی رول لوبولی دی او د خپلو ایتلافي ملګرو خلاف یې دریغ هم نیولی دی. ببله شکه مسعود هغه پرچمیان وژلي دي چې په کودتا کې ښکېل وو . پدې هکله ډګروال شریف احمد د پرچم د فرکسیون غړی وایي:« د کودتا یوه ورځ وړاندې په بادام باغ کې چې د رباني د ګارد قرارګاه وه د ګارد درستیزوال تورن جنرال شمس الرحمن پنجشیري د ګارد د کنډکونو د درستیزوالانو غونډه راوبلله او ویې ویل موږ او تاسې باید د خپل پرچمي ملګري جنرال دوستم سره همکاري وکړو ترڅو اخواني رباني له واک څخه ګوښه کړو. ما ورته وویل چې زه دا کار نه کوم . هغه را ته وویل ته د استادۍ صدقه شې . ما څه و نه ویل او له غونډې ووتلم او زما پسې د دافع هوا درستیزوال هم له غونډې ووت.» هغه وایي چې هغه مهال د پوځي قطعاتو قوماندانان جهادیان او درستیزوالان یې پرچمیان وو.دا بیا ښیي چې د ۱۹۹۴ کال د جنورۍ په لومړۍ نیټه پرچمیانو د رباني خلاف د کودتا هڅه کړې ده. عجیبه دا ده چې د هماهنګۍ د شورا تر جوړېدو پورې د حکمتیار مخالفت له رباني سره پدې کې وو چې ګنې د دوستم ملیشي او پرچمي کمونست جنرالان د رباني ترڅنګ ولاړ دي خو حکمتیار د همدې دوستمیانو او پرچمیانو سره د رباني خلاف ایتلاف وکړ. دا د دې معنی ورکوي چې د حکمتیار سره د «کمونستانو» په یو ځای کېدو سره هغوی د زم زم په اوبو غسل وکړ او له ګناوو پاک شول. د پرچمیانو له لوري د کودتا په درشل کې په مسکو کې د پخواني حکومت د وسلوالو ځواکونو د یو شمېر افسرانو غونډه چې غوڅ اکثریت یې پرچمیان وو د دې کودتا سره تړلې ده یادونه یې اړینه بریښي. هغه مهال لیکوال په مسکو کې ژوند کاوه . د۱۹۹۳ کال د نوامبر په میاشت کې د پاتریس لومومبا په دولتي پوهنتون کې دا غونډه جوړه شوه چې لیکوال هم پدې غونډه کې د خبرېدو وروسته ګډون وکړ. په غونډه کې د۷۰ ـ ۸۰ تنو شاوخوا کسانو ګډون کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لیکوال په شمول څلور تنه پخواني خلقیان او ښایي نور ټول پرچمیان وو. البته یوې میرمنې هم پدې غونډه کې برخه لرله. په غونډه کې د کارمل د واکمنۍ د ګوند منشي او د دفاع وزارت د سیاسي ریاست رییس جنرال محمدیاسین صادقي هم ګډون کړی وو. غونډه د افغانستان د وسلوالو ځواکونو د افسرانو د کمیټې د جوړولو په نامه رابلل شوې وه. د غونډې مشرتابه د کورنیوچارو د وزارت خلقي جنرال اکرم هلالي، د امنیت د وزارت پرچمي جنرال عزیزحساس او د اردو پرچمي جنرال محمدهاشم رودوال کاوه. ددې غونډې لپاره مخکې له مخکې اساسنامه او کړنلاره جوړه شوې وه ، د هغو د لوستلو وروسته پرې بحث وشو. دا دوه سندونه په واقعیت کې د یوه سیاسي غورځنګ اساسي سندونه وو. د غونډې په وروستۍ برخه کې د ګډون کوونکو پوښتنو او وړاندیزونو ته وخت ورکړل شو. د تائیدي څرګندونو ترڅنګ دریو تنو، دوو خلقیانو او یوه پرچمي چې دری واړه څنګ تر څنګ ناست وو د خپلو پوښتنوپواسطه د غونډې موخه تر پوښتنې لاندې راوړله. لومړی پوښتنه د پخواني پرچمي وه او ویې ویل : « تاسو دا غونډه په دولتي پوهنتون کې جوړه کړې ده بېله شکه د پوهنتون د مشرتابه د هوکړې او همغږۍ پربنسټ مو دا غونډه را بللې ده او دا د دې معنی ورکوي چې ددې خوځښت تر شا د دې هیواد ځارګره اداره ولاړه ده ...» خلقي وویل اړینه دا وه چې موږ پدې غونډه کې په مسکو کې د کډوالو د ستونزو په اړه بحث کړی وای . د لومړۍ پوښتنې په اړه د غونډې پرمخ وړونکی جنرال رودوال وویل چې د پوهنتون په صالون کې د غونډې جوړول د شخصي اړیکو پرمټ صورت نیولی او د دوهم وړاندیز په اړه وویل شول چې د کډوالو ستونزې به د دې غونډې د مشرتابه له خوا چې هغه به وټاکو حل کړي. دریمه لاندې پوښتنه لیکوال طرحه کړه : « په مسکو کې د افغانستان د وسلوال پوځ د افسرانو د کمیټې د جوړولو اړتیا څه ده آیا موږ بیا د کومې کودتا لپاره آمادګي نیسو تر څو واک تر لاسه کړو او مخکې له مخکې ورته تشکیلات جوړوو.» د دې پوښتنې په راپورته کولو سره میرمن پاڅېدله د افغانانو د یووالي د اړتیا په اړه یې په زړه پورې انقلابي وینا وکړله او دا یې هم وویل څوک چې دا غونډه سبوتاژوي هغه د دښمن ژرندې ته اوبه ورخوشوي . د غونډې پرمخ وړونکی جنرال رودوال هم د لیکوال پوښتنې ته د خپل منطق پراساس ځواب ورکړ. البته د غونډې په پای کې یې د کمیټې مشرتابه چې یو اوږد نوملړ وو وړاندې کړ چې ډېری یې په غونډه کې هم موجود نه وو او رئیسه هیآت د لیکوال نوم هم پرې اضافه کړ. لیکوال وویل چې هغه د دې کمیټې د جوړېدو مخالف دی او تاسې یې د هغې مشرتابه ته پیشنهادوئ او نه غواړي د دې کمیټې په مشرۍ کې ځان ووینې.دا مهال د غونډې د رئیسه هیآت مشر پدې اوږده نوملړ رایګیري وکړله او ټولو مثبته رایه ورکړه . داسې بریښي چې دې غونډې د دوستم او پرچمیانو له لوري د رباني خلاف کودتا سره تړاو درلود ، برې یې یقیني ګڼلو خو کودتا ماتې وخوړله او د پرچمیانو دا هیله هم پوره نشوله.

لکه څرنګه چې د اسلامي انقلاب د بري وروسته په افغانستان او په تېره کابل کې د تنظیمونو د جګړو او انډوخر له امله وحشت واکمن شو او د واک مختلف مرکزونه منځته راغلل خو د واک یوازینی مرکز چې د نورو په پرتله منظم وو، د حکومتولۍ اړینه تجربه او غوره امکانات یې لرل هغه د کابل ګارنیزون وو چې مشري یې نبي عظیمي لرله او هغه په خپله پدې اړوند لیکي : « د دې ورځو په ترڅ کې د کابل ګارنیزون کابو د پخواني او نوي دولت د ادارې په مقر اوښتی وو او عمومي اداره تر اوسه زما په لاس کې وه د کابل په ګارنیزون کې د اسلامي جمعیت د نظار د شورا مرستیال دکتر عبدالرحمن او د هغه قوماندانان اوسیدل ځکه چې د دولتي امنیت او ځارندوی د وسلو او اعاشې بیزونه د نظار د شورا په لاس کې وو، له دې امله سلګونه وسله وال قوماندانان او مجاهدین چې پکول او پټو یې درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته راتلل اوهر یوه یې د تیلو، مهماتو ، اعاشې او د شپې نوم او د وسلې د لیږد ټکټ او نورغوښتل. هغه به د یوې کوچنۍ ورقې پواسطه نوموړو بیزونو ته لیږل او یا به یې ماته معرفي کول. د دفاع وزارت څانګو، دولتي ادارو لکه مرکزي سیلو، دولتي انحصاراتو، مخابراتو او بانکونو او نورو زما په لاسلیک سره اجرأت کول . د کابل ګارنیزیون د ږیرورو وسله والو څخه ډک وو پداسې حال کې چې هلته د پخواني دولت سلګونه کارکوونکي ، د ګوند غړي ، افسران او جنرالان ،د کابینې غړي اوحتی د جمهور رئیس مرستیالان د پکول او پټو سره تر ماښامه پورې اوسیدل. »۱۲۹ / ۵۹۷ د عظیمي څرګندونې ښیي چې د مجددي په واکمنۍ کې د واک اصلي مرکز د کابل ګارنیزیون وو چیرې چې جنرال عظیمي د پخواني حکومت او دکتورعبدالرحمن د مسعود مرستیال د نوي حکومت په استازیتوب د ګډ ائتلافي حکومت لاربښوونه کوله. همدا د کابل د ګارنیزیون واک او کلیدي رول وو کله چې احمدشاه مسعود په چهاریکارو کې د خپل سیال (حکمتیار) د جنګیالیو سره د جګړې نه وروسته کابل ته راغی د عظیمي دفتر ته چې هلته « آصف دلاور ، نورالحق علومي ، سیداعظم سعید، فتاح ،عبدالحق علومي، امیرمحمد، داودعزیزي او نورو شتون درلود هغه پخپل غیږکې نیسي.» ۱۹۱/ ۲۲۳ د پرچم – جمعیت ایتلاف د نورالحق علومي له هغې مرکې څخه ښه جوتیږي چې د آلمان فدرال جمهوریت نه د مسکو له لارې د راستنېدو وروسته چې ملګرو یې هغه ته د کانتیننتال په هوټل کې مطبوعاتي کنفرانس سمبال کړی وو د بي بي سي د خبریال د دې پوښتنې په اړه چې تاسې د کومو شرایطو له مخې اسلامي جمعیت ته تسلیم شوئ په ځواب کې وایي:« زمونږ ستر ایتلاف ته تسلیمي مه وایئ. افغان ، افغان ته نه تسلیمیږي، مونږ ایتلاف کړی دی مونږ تسلیم شوي نه یو.» ۵/ ۲۹۸ – ۲۹۹ د همدې ایتلاف له امله وو چې د مجددي او رباني په کابینه کې د پرچمیانو څو تنه غړي ترسرګو کېدل او د خلقیانوڅخه یو تن هزاره توکمه جنرال خدایداد د ملي امنیت د مشر په توګه د وحدت د ګوند له خوا معرفي شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشران یا ممثلان

د ۱۹۹۲ کال د اپریل په څلېرویشتمه په پېښور کې د پنجابیانو او سعودیانو د ارادې له مخې پروفیسور مجددي د دوو میاشتو او پروفیسور رباني د څلورو میاشتو له پاره د تمثیل په موخه د کابل په پلاز د ولسمشرانو په نامه کېنول خو د کابل اصلي واکمن احمدشاه مسعود وو . لکه څرنګه چې د اسلامي واکمنۍ بنسټ د یوې توطیې او هغه هم د پردیو دارادې له مخې کېښودل شو ددې واکمنۍ مخورو تر پایه د یوبل خلاف توطیو او دسیسو ته دوام ورکړ او د ګور د چنجیانو په څېر یو بل وخوړل او پایله یې دا شوله چې د جهادي تنظیمونو له ګېډې را وتلي ربښتیني مجاهدین د طالبانو په نامه سر راپورته کړي او دا د شر اوفساد زېږوونکي لوټماران او لنډغر له ډګره وباسي.خو د شر او فساد د تلوالې د جګړو او وحشتونو له امله نه دا چې د دوی د جنګیالیو ککرۍ ماتې شي بلکه د افغانستان د مدنیت ټولې نښې نښانې له منځه ولاړې، لسګونه زره کابلیان شهیدان شول او لکونه نور د هیواد څخه وتښتیدل.د شمال تلوالې په واکمنۍ کې ډول ډول وحشتونو چې ساری یې په تاریخ کې نه دی لیدل شوی ترسره شول. د مجددي دوه میاشتنۍ واکمني د انساني ضد، ملي ضد او اسلامي ضد له وحشت، بربریت او انارشۍ ډکه واکمني وه. مجددي د دې وحشتونو مخه نشوای نیولی ځکه دی د تمثیل لپاره په ارګ کې کېنول شوی وو او واک د بې تاجه جهادي ټولواک د دفاع وزیر احمدشاه مسعود سره وو او مسعود بیا د خپلو روسي ، ایراني، پنجابي او ... بادارانو د خوښې سره سم ګامونه اوچتول. ښه بیلګه یې د مجددي وینا ده چې د۱۳۷۱ کال د چنګاښ په اوومه کله یې چې واک رباني ته سپاره د اسلامي جمعیت او په ځانګړي ډول له رباني او مسعود څخه د خفګان په څرګندولو سره داسې ګیلې وکړلې :« د پېښور د لوزنامې د دویمې مادې پر بنسټ د رهبري شورا غونډې باید د جهادي شورا د کار د پای وروسته دایرې شوې وی خو د استاد رباني تر مشرۍ لاندې رهبرۍ شورا غونډې کولې چې د رهبرۍ د شورا پریکړې د جهادي شورا سره په ټکر کې راتلې چې دا ډول اجرأت د یوه هیواد په اداره کې ګډوډې منځته راوړي...، اسلامي جمعیت او د نظار شورا راډیو ټلویزیون لکه شخصي ملکیت د خپل ګوند او د اشخاصو په چوپړ کې راوړی وو او زما ویناوې یې سانسور یا نه خپرولې ...، د دفاع وزیر پداسې حال کې چې د امنیت د کمیسیون رئیس هم وو د کابل د امنیت په هکله هیڅ اقدام ونکړ او حتی زما شخصي پیغامونو او هدایتونو ته یې ارزښت نه ورکاوه... » ۲۲۳/ ۱۰ ــ ۱۱ البته د رباني واکمني که د مجددي له واکمنۍ بده نه وه ښه هم نه وه . د افغانستان د اسلامي دولت د لومړي ممثل له پورتنیو څرګندونو څخه چې د هغه څرګنده بیواکي او د مسعود ټولواکي ښیي بریښي چې اسلام آباد هغه « د دوو میاشتو لپاره د اسلامي دولت د( ممثل ) په توګه تمثیل ته وړاندې کړی و خو اصلي واک د حضرت صاحب سره نه و، ځکه چې ده خو یوازې تمثیل کاوه واک خو د بل چا سره و. » ۲۲۸/ ۷۰ ـ۷۱ د دوو پروفیسورانو د واکمنۍ بله ځانګړتیا دا وه چې حزب اسلامي ته د رسېدلي د صدارت مقام صدراعظم استاد فرید د دفاع د وزیر مسعود له وېرې اړ شو د صدارت څخه وتښتي او د خپل تنظیمي مشر سره یوځای په چهارآسیاب کې مورچل ونیسي. حکمتیار خو دا جرآت نشوای کولای ښار ته ننوزي. د مجددي دوه میاشتنۍ واکمني په ټوله کې د اسلامي حزب او جمعیت د ګوند ترمنځ د سیاسي واک پرسر او د نورو تنظیمونو ترمنځ د دولتي او عامه شتمنیو د چور او تالان په موخه د زیاتو سیمو ترولکې لاندې راوړلو جګړو او د کابلیانو د کړاوونو ټولیزه ده . که د مجددي دوې میاشتنۍ واکمنۍ ته وکتل شي د هغه د واک ساحه د ارګ څخه د کابل ښار نورو سیمو ته ونه غزېدله . د مجددي د واکمنۍ په وروستۍ اونۍ ( جون دویمه) د دولتي ځواکونو( اسلامي اتحاد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحدت حزب ) تر منځ جګړې پیل شولې. دا جګړې د شمال تلوالې د قوم پالنې او د احمدشاه مسعود له لورې د واک د انحصار له تګلارې سره تړاو درلود. د نظار شورا خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د وحدت ګوند څلور تنه فعالان ترور کړل او دا ترور یې د اتحاد اسلامي کار وګاڼه او همداسې یې اعلان هم کړل. دا اعلان سبب شو چې د وحدت او اتحاد ترمنځ جګړه پیل شي. دې جګړې عملاً شمال تلواله په دوو دښمنو ډلو ووېشله. جمعیت( رباني) ، اتحاد(سیاف ) او ملي غورځنګ( دوستم) په یوه اړخ او د محمدآصف محسني د حرکت تنظیم ظاهراً بې طرفي غوره کړله خو د مذهبي تړاو له کبله د وحدت سره خواخوږي ښودله. دې جګړو د رباني په واکمنۍ کې دوام ومومند چې د افشارو غمیزه یې غوره بېلګه وه چې پدې جګړه کې د جمعیت او اتحاد جنګیالیو د زرو تنو څخه زیات بېګناه هزاره ګان ووژل. د مسعود د ړانده قومي تعصب په اړه د حزب وحدت په اخبار کې را غلي دي:« هغه چا چې جنایت کړی، عامې وژنې یې کړې دي او په شعوري ډول یې د ( هزاره وژنې)، (ازبک وژنې) او( پښتون وژنې) شعارونه ورکړي څرنګه کولای شي سولې ته غاړه کېږدي...، که جګړه د ملي اسلامي غورځنګ سره ده د ازبکو سره د جګړې په نامه تبلیغېږي، که جګړه د وحدت اسلامي حزب سره ده په څرګنده توګه (جګړه د هزاره ګانو او د هزاره ګانو څخه د غچ اخېستنې) په نامه تبلیغېږي ...، کله چې د طالبانو پر ضد جګړه ده د پښتنو او پښتونېزم پر ضد جګړه او د پښتنو د بیا واکمنۍ په هکله تبلیغېږي.» ۲۲۹/ ۲ عجیبه دا ده چې د امریکا په مشرۍ د ناټویي اشغال پر مهال همدې متعصب توکمپال ، د م ، م د سولې د پروګرام شنډوونکي او د تنظیمي جګړو اصلي لوبغاړي ته د ملي اتل لقب ور کړل شو. د مجددي د ځای ناستي رباني په واکمنۍ کې په حالاتو کوم مثبت بدلون رانغی ،د مجددي د واکمنۍ وحشت ادامه وموندله او په هیواد او پلازمیینه کې عملا د واک مختلف مرکزونه چې د یوبل سره په جګړو لګیا وو شتون درلود. د کابل ښار په لویدیځ کې شیعیه تنظیمونو او اسلامي اتحاد ، جنوب لویدیځ کې اسلامي حزب، حضوري چمن او مکرویانو کې اسلامي ـ ملي غورځنګ او په نورو برخو کې د نظار شورا واک چلاوه. د رباني په واکمنۍ کې د اسلامي انقلاب د بري د دوهمې کالیزې په درشل کې رباني په ارګ او غازي اکبرخان مینه، حکمتیارپه چهارآسیاب ، دوستم په بالاحصاراو د مرنجان غونډۍ ، مزاري د دریمې او څلورمې کارتې شاوخوا ، محسني د برچي د دښتې په سیمه او د مسعود جنګیالیو د تلویزیون په غره کې مورچلونه نیولي وو. د رباني د حکومت مسخره وضعیت لدې نه معلومېږي چې« د اسلامي انقلاب د بري دوهمه کلیزه رباني د ارګ مخکې ،حکمتیار په چهارآسیاب ، مزاري په دریمه کارته ، محسني په حربي ښوونځي او دوستم په مزار کې او رباني بیا دریمه کلیزه په پروان کې ونمانځله چې د رباني ـ مسعود ترڅنګ قاضي حسین احمد د پاکستان د جماعت اسلامي مشر هم د پوځي پریټ ننداره کوله. » ۱۳۲/ ۲۹۴ حکمتیار او رباني دواړو چې د ځوانو مسلمانانو د غورځنګ د ګډې مبارزې مخینه لرله او ددې خوځښت د مشرتابه پرسر مبارزې له کبله لارې سره جلا کړې وې یوبل ښه پېژندل . حکمتیارد رباني په واک کې د پاتې کېدو لیوالتیا ته په کتو سره د هغه د واکمنۍ د دریو میاشتو په تېرېدو سره هغه ته خبرداری ورکړ چې د څلورو میاشتو په تېرېدو سره د پېښور د لوزنامې له مخې واک قیادي شورا ته و سپاري. خو رباني پدې نامه چې د واک تشه راځي د اهل الحل العقد د شورا تر جوړېدو پورې به خپلې دندې ته دوام ورکړي. همدا لامل وو چې د جولای په میاشت کې د حزب اسلامي ځواکونو په کابل د توغندیو باران پیاوړی کړ او د کابلیانو د کړاوونو او بدمرغیو کچه لا نوره هم لوړه شوله . یوازې د اسلامي حزب توغندي نه وو چې کابلیان یې وژل بلکې د ښار په د ننه کې د شمال تلوالې اربکیانو چې بې مهاره ملیشې وې په خپلو کې سره جنګېدلې . د دې لپاره چې رباني خپله واکمنۍ وغزوي د اهل الحل العقد شورا( ۱۹۹۲ ، دسمبر دېرشمه) پداسې حال کې را وبلله چې په کابل کې د جګړو او نښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمی نه وو. د شورا د را بللو په درشل د لېندئ میاشت کې اسلامي حزب ، نجات ملي ، ملي محاذ ، وحدت او د خالص اسلامي حزب د یوې اعلامیې په خپروني سره شورا تحریم کړه. همدا لامل وو چې د شورا په غونډه کې د تنظیمونو د مشرانو څخه یوازې رباني او سیاف د الازهر د پوهنتون د اخوان المسلمین له ایدیولوژئ اغېزمنو مشرانو ګډون کړی وو. دې شورا لکه د کارمل د زماني د ګوندي کنفرانسونو په شان چې په هغو کې چکچکې کېدلې او هورا ګانې ویل کېدلې په چکچکو او د تکبیر په نارو سره بدرګه کېدله . د دولت د مشر د ټاکل کېدو لپاره سیال نوماند شتون نه درلود . په صالون کې د رایې اچولو لپاره دوه صندوقونه ایښودل شوي وو چې په یوه د رباني انځور نښلول شوی وو او په بل صندوق د چا انځور نه وو . دې شورا رباني د دوو کلونو لپاره د جمهور رییس په توګه وټاکلو او د حکومتي تبلیغاتو له مخې له ۱۵۰۰ تنو ګډونوالو نه ۹۰۰ تنو رباني ته رایې اچولې وې . په غونډه کې رباني یو شمېر کسان د پارلمان د غړو په توګه اعلان کړل خو د رباني د واکمنئ تر پایه پورې چا د پارلمان مشر ونه پېژاند او نه پارلمان کومه غونډه وکړه . دا نو یو خیالي پارلمان وو. څرنګه چې د اهل الحل العقد شورا نوم خورا پیچلی او تلفظ یې ستونزمن وو او له بله پلوه د غونډې مسخره بهیر او د شورا برخه والو ته د پیسو ویش په ولس کې دا شورا دومره بدنامه کړه چې هغه یې د شورای حق و ناحق ، شورای پول نقد او شورای هک و پک په نامه یادوله. د شورا وروسته حکمتیار پر کابل فشار زیات کړ تر څو د پاکستان صدراعظم نوازشریف د ۱۹۹۳ کال په فبروری کې کابل ته راغی او ویل کېدل موخه یې د جهادي مشرانو ترمنځ روغه جوړه وه. د نوموړي لومړی بریالی ګام د مولوي خالص او ملا رباني پخلا کول وو. د دوی له پخلا کولو وروسته « خالص رباني د اسلام برحق خلیفه وباله.» ۱۷/ ۴۸۳ خو د مولوي خالص او رباني پخلا کېدو او د خالص لخوا رباني د اسلام د برحق خلیفه اعلانولو په وضعیت کوم مثبت اغېز پرېنښود یعني په جګړو کې کمی را نغی او جګړو لا قوت وموند. لدې کبله د جهادي ډلو سیمه ییز ملاتړي اړ شول تنظیمي مشران پاکستان ته ور وغواړي تر څو دا سیاسي ماشومان وپوهوي چې جګړو ته د پای ټکي کېږدي.

## قرآن وهلي لوزنامه

شمال تلواله واک ته په رسېدو سره ونه توانېده د یوه حکومت په څېر عمل وکړي ځکه چې د لېډرشپ وړتیا یې نلرله. ترکیبي ډلې یې سمدلاسه لکه ښرمښان د یو بل په داړلو لګیا شول . له بله پلوه هغوی او په تیره د جمعیت مشرتابه تر دې کچې په تاجک پالنه کې ډوب وو چې د تلوالې غیرپښتانه ملګري یې هم نشوای زغملی. د دا ډول تګلارې پایله دا شوه چې د تلوالې هزاره او ازبک توکمه ډلې د افغانستان د اسلامي دولت په وړاندې ودرېږي . پر بله خوا د اهل الحل العقد د شورا د پرېکړې وروسته چې شورا د رباني د جمهوري ریاست دوره دوه کاله وغزوله حکمتیار هم خپل فشار پر کابل زیات کړاو تنظیمي خپلمنځي جګړو قوت وموند چې پایله یې د کابلیانو د مرګ او ژوبلې او بهر ته د کډوالۍ زیاتوالی شو. همدا لامل وو چې د مجاهدینو سیمه ییز ملاتړي( ایران، پاکستان، عربستان ) دې پایلې ته ورسېدل چې خپل چوپړیان اسلام آباد ته ور وغواړي تر څو له جګړو لاس واخلي. د تنظیمونو مشرانو په پاکستان کې یوه لوزنامه لاسلیک کړه چې د اسلام آباد د لوزنامې په نامه یې شهرت پیدا کړ.دې لوزنامې د رباني د ولسمشرۍ دوره د دوو کلونو څخه اتلسو میاشتو ته را لنډه کړله. د دې پرېکړې پربنسټ رباني هغه نسبي مشروعیت چې د اهل الحل العقد د شورا څخه اخیستی وو هم له لاسه ورکړ. رباني په دې کار سره د خپلو پلویانو د نیوکو او پوښتنو سره مخامخ شو او ده د هغوی په ځواب کې ویل چې پرده فشار وو او لوزنامه یې لاسلیک کړله. پدې هکله په زړه پورې دا ده چې « په اسلام آباد کې لوزنامه په انګریزي ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو شوې وه او لکه څرنګه چې شپه پای ته رسیده هغه ( رباني) بیله دې چې لوزنامه ولولي لاسلیک کړې وه. » ۸۸ /۱۲۵ د دې لوزنامې د لاسلیک پر مهال د پاکستان صدراعظم نوازشریف، محمدي، حکمتیار، رباني ، محسني، ګیلاني، حسیني ، فاضل ،احمدشاه احمدزي او د سعودي او ایران استازو شتون درلود.غوندې حکمتیار د صدراعظم په توګه مؤظف کړ. د لوزنامې له مخې به حکمتیار په دوو اونیو کې خپله کابینه جوړوله ، مسعود به له دفاع وزارت څخه ګوښه کېده او د دې وزارت چارې به د یوه کمیسیون له لوري اداره کېدلې ، وسلې به ټولیدلې... خو ځان غوښتونکي مسعود د شمال د تلوالې تر نسکورېدو پورې چمتو نشو چې لوزنامې ته غاړه کېږدي . معمولاً د ګوندونو او حکومتونو ترمنځ لوزنامې د دواړو اړخونو او یا څو اړخونو له لوري ترتیب، د هغوی د همغږی او پوهاوي وروسته لاسلیک کیږي خو د افغانستان د اسلامي دولت مشر رباني د پردیو له لوري جوړه شوې لوزنامه بیله دې چې هغه ولولي لاسلیک کړې وه. البته پروفیسور رباني لومړی افغان مشر نه وو چې لوزنامه یې بېله دې چې هغه ولولي لاسلیک کړې وه بلکې مخکې له دې پروفیسور مجددي هم هغه لوزنامه نه وه لوستې چې دی یې د افغانستان د اسلامی دولت د ممثل په توګه نومولی وو او د خپلې دوې میاشتنۍ بېواکه واکمنۍ په زمانه کې یې د لوزنامې په اړه ویل : « ما یې اصلي متن نه وو لوستی او په بیړه یې راباندې لاسلیک کړله...، استاد سیاف زما سره وعده کړې وه چې دا متن به راښیي خو په خپله ژمنه یې وفا ونکړه. » ۱۷ / ۴۶۶ عجیبه خو دا ده چې لوزنامې او تړونونه د اړونده دولتي بنسټونو( وزارت خانو، ریاستونو ) صدارت او جمهوري ریاست په آرشیفونو کې د مهمو دولتي سندونو په توګه ساتل کېږي خو په پېښور کې د افغانستان د اسلامي دولت د جوړېدو تړون د سیاف په کور، ګوندي دفتر یا ښایي په جیب کې ساتل کېده او د دولت ممثل ته یې نه ورښودلو. لکه څرنګه یې چې مجددي د دولت د ممثل په توګه اعلان کړی وو د افغنستان اسلامي دولت د دولت په نامه یو تمثیلي اداره وه .د اسلام آباد د لوزنامې له لاسلیک وروسته نوازشریف د تنظیمونو د مشرانو دا کاروان سعودي ته بیایي چې هلته د سعودي پاچا د تضمین کوونکي په توګه په لوزنامه لاسلیک ایږدي. جهادي مشران په مدینه منوره کې د حضرت محمد(ص ) په حرم او بیا په مکه مکرمه کې قسم خوري چې لوزنامې ته به درناوی کوي. وروسته لدې « نوازشریف دا کاروان له سعودي څخه تهران ته وړي. مشران د ایران د جمهور رئیس رفسنجاني په وړاندې یوځل بیا ژمنه کوي، د ایران جمهوررئیس هم د تضمین کوونکي په توګه پرهغې لاسلیک کوي ...، یوه اونۍ تېره نه وه چې بیا تنظیمي جګړې پیلیږي. څرنګه چې په قرآن شریف باندې قسم او هغه هم د اسلام د پیغمبر د قبر په وړاندې مات شوی وو خلکو لوزنامه قرآن وهلې لوزنامه بلله.» ۱۷ /۴۸۴د تنظیمونو د مشرانو د دې سفر وروسته د لوزنامې د پلي کولو په موخه حکمتیار د کابینې د جوړولو په چارو لګیا شو او د مارچ په شپاړلسمه په جلال آباد کې د جهادي مشرانو سره جرګه شو خو هغوی د کابینې په جوړولو سره جوړ نشول . حکمتیار خپل استوګنځي چهارآسیاب ته را ستنیږي د کابینې نوملړ جمهور رئیس ته استوي او دواړه په پلچرخي کې سره ګوري خو بیا هم کومې موافقې ته نه رسیږي ترڅو د سیاف په کور کې چې د کابینې پخوانیو او نویو غړو شتون درلود د مي په اوولسمه حکمتیار د رباني په وړاندې لوړه ترسره کړه او په دې ډول له څه کم دوو میاشتو وروسته د کاغذ پرمخ د حکمتیار کابینه جوړه شوه. همدارنګه د سیاف په کور کې پریکړه شوې وه چې کابل ته دې د صدراعظم حکمتیار د خوندي راتګ لپاره یو کمیسیون جوړ شي. خو حکمتیار بریالی نشو چې ښار ته راننوزي. د کابینې لومړی غونډه چې باید په دارالامان کې شوې وای د لارې د بندیدو له امله دایره نه شوه او پریکړه وشوه چې د وزیرانو غونډه په چهارآسیاب کې وشي. « لسو تنو وزیرانو چې غوښتل یې د پلچرخي له لارې چهارآسیاب ته لاړشي د مسعود د ټوپک والو لخوا ونیول شول او وروسته د سعودي عرب د استازي په منځګړیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشي شول.» ۲۲۳ /۲۷ په دې ډول حکمتیار د مسعود د ټوپکیانو له لوري د خندونو د جوړولو او یا په بله وینا د مسعود له وېرې بریالی نشو کابل ته راشي او یا د خپل حکومت غونډه پخپل استوګنځي کې جوړه کړي نو هماغه دي چې قهرېدلي صدراعظم په کابل باندې د توغندیو بریدونه پیل کړل. د اسلامي انقلاب وروسته واکمنانو ( مجددي او رباني) هیڅکله دا وس پیدا نکړ چې حتې په پلازمېینه کې یوه واحده اداره جوړه کړي بلکې په ښار کې د واک بېلابېل مرکزونه موجود وو. دا مرکزونه او یا خپلسره قوماندانان د بشپړ واک څخه برخمن وو او هرڅه یې چې غوښتل تر سره کول یې. د تنظیمونو د واکمنۍ پر مهال په هیواد کې داسې ناوړه پېښې وشوې چې د افغانانو په تاریخ کې یې ساری نه وو لیدل شوی چې ددې میړني ولس په له برمه ډک تاریخ کې یې تور داغونه پرېښودل ، چاروا کو یې مخه نشوای نیولی او په مړو سترګو یې ور ته کتل چې لاندې بېلګه کولای شي د واکمني انارشۍ، لنډغرۍ او د جمهور رئیس رباني بیوسي وښیي .د نوموړي په واکمنۍ کې یوه جهادي قوماندان یوه مېرمن تښتولې وه ، د ښځې خاوند رباني ته په دې اړه عریضه وکړه هغه په عریضه کې لاندې احکام ورکړي وو: « قوماندان صاحب محترم ! زن عارض را ایله کنید. با احترام ، پروفیسور برهان الدین رباني ، رئیس جمهور دولت اسلامي افغانستان » ۲۲۸ / ۱۱۸ پربله خوا د واک دا مرکزونه داسې توري کارنامې لکه د خلکو په سرونو کې د میخونو ټکول، د ښځو د تیو پرې کول، ژوندي انسانان په کانتینرونو کې سوځول او په نجونو ، مېرمنو ، هلکانو او لېونیانو جنسي تیري لري . د تنظیمونو حرفوي قاتلانو د مړو د نڅا او د نامحرمو ښځو د زېږېدنې له ننداري هم خوند اخېست. جهادي جنګیالیو سلګونه بېګناه خلک د هغوی د کورونو د غضبولو او شتمنیو د خپلولو په موخه ووژل. پدې ډله کې په مکرویانو کې د مسعود د جنګیالیو له لوري د خلقي واکمنۍ د وزیر صالح محمد زیري د مېرمنې او ماشومانو وژنه او د هغه د اپارتمان غضبول د جهادي ډلو د وحشت یوه بېلګه ده. د هغه مهال د واکمن فساد ، اخلاقي انحرافاتو او بې حیایۍ کچه دومره لوړه شوې وه چې په کندهار کې « د خان محمد په نامه یوه قوماندان د یوه هلک سره واده وکړ او هغه یې په یوه موټر چې په ګلانو پوښلی وو سپور او د هغه تر شا د اوږو راکټونه وو او په هره ثانیه کې د کلاشنکوفونو زرګونه ډزې کېدې په ښار کې ګرزاوه چې دې رسوایۍ ټول ښاریان اندېښمن کړي وو...، او ټول د یوه بدلون په هیله وو چې د دې فاسدانو مخنیوی وشي.» ۱۷ /۵۱۰- ۵۵۱ همدا باتور لویدیځ فکره جهادي قوماندان چې په کندهار کې د ( خانو) په نامه مشهور وو د حامدکرزي په واکمنۍ کې د کندهار د امنیه قوماندان په توګه مقرر شو. تنظیمي اربکیانو د تنظیمونو په غوبل کې د دولتي ادارو، پوهنېزو او اقتصادي بنسټونو ټول لوازم او تجهیزات ، د کتابتونو کتابونه او د مرکزي موزیم زیاته برخه لرغوني آثار غلا کړل او په دفترونو کې جهادي چارواکي د څوکیو او میزونو پر ځای په توشکو کېناستل . دا د شمال تلوالې د واکمنۍ د بې شمیره ناخوالو کوچنۍ بیلګې وې. دا چې څومره پاک لمني نجوني او مېرمنې به بې پته شوې وې او پر څومره هلکانو به جنسي تیري شوي وي د هغو کره شمېره ځکه نشته چې په افغاني ټولنه کې څوک نه حاضرېږي چې د خپلو خپلوانو په اړه چې بې پته شوې وي څه ووایي. د افغانستان د اسلامي دولت واکدارانو چې د اسلام او شریعت د ټینګولو په موخه ولسونه سرشندنو او اتلولیو ته هڅول واک ته د رسیدو وروسته د هغوی د بې کفایتۍ، ځانغوښتنې، د شتمنیو سره د مینې، خپل منځي جګړو ، اسلام او اسلامي ارزښتونو ته نه درناوی پدې کې لیدلی شو چې د دوی په واکمنۍ کې د کابل په مرکزي جامع پل خشتي کې « تقریباً یو کال چا سجده ونکړای شوه ، دا سیمه د ګله یې او کوڅه ډبو سپیانو یوه ځاله جوړه شوې وه او د جومات په انګړ کې به په ډله ییز ډول ګرزیدل او راګرزیدل. »۲۲۸ /۱۱۹ هغه له زغمه وتلی او له شرمه ډک حالت چې د تنظیمونو په واکمنۍ کې زموږ په هیواد واکمن شو نقشې یې هغه وخت جوړیدلې کله چې سي آی اې ، آی اس آی او د ایران د پاسدارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاه د جهاد په نامه په پاکستان او ایران کې د جهادي ډلو په جوړولو او روزنه لاس پورې کړ. سید بهاوالدین مجروح د دې افغاني ضد سناریو پایله داسې لیدله :« بیلا بیل تنظیمونه به د افغانستان د مړه او رالویدلي جسد له پاسه سره وخوري. » ۲۱۷/ ۶ چې له بده مرغه همدغسې حالت د اسلامی انقلاب په بري سره په افغانستان کې واکمن شو. دا ډول وضعیت د دې سبب شو چې زیاتره ربښتیني مجاهدین مرکزي حکومت ته شا وګرزوي او یا د هغه د نسکورولو په لټه کې شي چې هغوی خپل خوځښت د طالبانو د تحریک په نامه اعلان کړ. البته د طالبانو د تحریک د راټوکېدو په اړه اندونه وېشلي دي . زیاتره افغانان او په هغو کې رباني هغه یو خپل پاځی خوځښت او مجددي هغه مرور مجاهدین ګڼي چې د تنظیمونو د وحشت او بربریت د ختمولو په وړاندې منځته راغلی. ځېنې پدې اند دي چې د شلمې پېړۍ د اتیایمې لسیزې په دوهمه نیمایي کې« د پاکستان پوځي څارګرې دستګاه په څرګند ډول یوه افغاني اردو روزلې ، غښتلې کړې ، کنټرول کړې...، او غواړي چې هغه د افغاني مقاومت د نورو ځواکونو او د پاکستان د پښتنو په مقابل کې استعمال کړي او دا طرحه د پاکستان سترو هدفونو ته د رسېدو په موخه چمتو کېږي .»۲۳۰ /۵۱ – ۵۲ نور بیا هغه د پاکستان د استخباراتو له لوري جوړشوی یو خوځښت بولي او طالبان د پاکستان لاسپوڅی ځواک تبلیغوي. بله ډله طالبان یوه پروژه ګڼي او پدې اند دي چې « د طالبانو پروژه د انګلستان په نوښت ، د عربستان په مالي مرسته ، د امریکا په ملاتړ او د پاکستان د روزنې پربنسټ ترسره شوه.» ۲۳۱

سره لدې چې ځېنی طالبان د پاکستان مخلوق تبلیغوي خو د طالبانو د ځواکمنېدو پر مهال په پیښور کې د امریکا قونسل واشنګټن ته د طالبانو په اړه لاندې رپوټ ورکړی وو: « طالبانو ته په عین وخت کې د پاکستان لاسپوڅي او پاکستان ضد ویل کیږي.خو د هغوی ملاتړو ته به څرګنده شي داسې یو پړانګ یې جوړ کړی دی چې ټینګه اراده لري خپلواک عمل کوي او د هیڅا لاسپوڅي نه دی.» ۱۴۴/ ۴۳۲ دې ارزوني خپل سموالی هغه مهال وښود چې کله طالبانو اسلامي امارت اعلان کړ د پاکستان د وخت د کورنیو چارو وزیر نصرالله بابر د ملاعمرمجاهد لیدو ته کندهار ته ورغلی وو. د عوامي نشنل ګوند مشر اسفندیار د نصرالله بابر له قوله وایي: « یوه ورځ مې ملاصاحب ته د دیورند د کرښې خبره یاده کړه ، په یوه پټکه یې له کوره را ووېستم.» همدا راز د طالبانو کارنامو او په تېره د دوی په اړوند د اسلام آباد د چارواکو دښمنانه دریځ ته په کتو سره ویلی شو چې د طالبانو تحریک یو خپل پاځی ملي کتو ته ژمن افغاني خوځښت دی چې دیني او مذهبي اړخ یې خورا دروند دی. ډېری افغانان پدې اند دي کله چې طالبانو په خپل پاڅي توګه په کندهار کې سر راپورته کړ او د هېواد په جنوب لویدیځ زون کې یې اړین امنیت ټینګ کړ او هلته ژوند عادي بڼه ونیوله د دا ډول وضعیت واکمنېدل د اسلام آباد پام ځانله را ګرزوي، د طالبانو سره اړیکې ټینګوي او اسلام آباد امریکا ، بریتانیا او سعودي چې د پاکستان متحدین ګڼل کېدل د طالبانو د غورځنګ پیاوړتیا ته هڅوي او هغوی هم د اسلام آباد غوښتني ته لبیک وایي. د دې کار څخه د پاکستان موخه د افغانستان له لارې منځنۍ آسیا ته د توکو رسول وو او امریکا بیا غوښتل د با امنه افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا ګاز او تېل د هند سمندرګي ته ولېږدوي. د هغه مهال له سیاسي بهیرونو او پېښو څخه داسې برېښېدل چې امریکا په پام کې لرل ترڅو طالبان او احمدشاه مسعود یوې موافقې ته ورسېږي چې پخوانی پاچا د دولت د مشر په توګه کابل ته راستون شي. همدا لامل وو چې کله طالبانو جلال آباد ونیو پاچا د یوې اعلامیې په ورکولو سره هېواد ته د راستنېدو چمتووالی وښود چې د سلطنت د نسکورېدو وروسته هېواد ته د هغه د راستنېدو په اړه لومړۍ خبرتیا وه. خو د امریکې د تمې خلاف د طالبانو او مسعود تر منځ جوړه ونشوله او طالبان وتوانېدل کابل ونیسي . جنرال رحمت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صافي چې هغه مهال د امریکا غړ او پخواني پاچا د ارتباطي کړۍ مسؤلیت درلود او پاچا یې په افغانستان کې د روانو پېښو په جریان کې اچولو پدې اړوند لیکي:« د طالبانو پرمختګ پیل شو، امریکا غړ به هره کړۍ ما ته خبر را کاوه او ما به روم ته. د جلال آباد تر نیولو او آن تر سروبي پورې خوښ ښکارېده. کله مې چې د کابل د نیولو راپور ورکړ ځو دقیقې وروسته مصطفی( د پاچا لمسي) راته وویل چې د راپور په سموالي کې غور ته اړتیا ده ما ور ته وویل چې زه خبریال نه یم او د ټلفون غوږۍ مې کېښود...، پلان دا و چې اعلیحضرت به د یوې معاملې په ترڅ کې راشي. کابل طالبانو ونیو او دا پلان هم بریالی نشو.» ۲۳۲/ ۸۴ ـ ۸۵ د شوروي اتحاد د ړنګېدو وروسته د منځنۍ آسیا د خپلواکو دولتونو د پرېمانه د ځمکې لاندې د ګازو او تېلو زېرمو د سترو دولتونو پام ځانله را ګرزولی وو او امریکا د نړۍ د سوپرځواک په توګه غوښتل چې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان څخه پایپ لاین وغزوي او هغه مهال طالبانو دا ورتیا لرله چې په افغانستان کې امن راوړي او و توانېدل په لنډه موده کې د بدخشان ، تخار ، پنجشیر پرته چې د رباني د ځواکونو تر ولکې لاندې وې امنیت ټینګ کړي. سره لدې چې د طالبانو د تحریک په اړه اندونه ویشلي دي خو د طالبانو د غورځنګ د را څرګندېدو په اړه ډېرې پدې اند دي کله چې شوروي اشغالګر له افغانستان څخه ووتل یو شمېر مجاهدین له جګړې لاس پر سر شول او عادي ژوند ته یې مخه کړله. د اسلامي انقلاب د بري وروسته چې په هېواد کې د ځمکې پر سر محشر جوړ شو همدې په کور ناستو مجاهدینو د ملامحمد عمر مجاهد په مشرۍ و پتېیله چې دې وحشت ته د پای ټکي کېږدي او د طالبانو د تحریک په نامه یې د واکمن شر او فساد په وړاندې مبارزه پیل کړله. پنځه دېرش کلن ملامحمد عمر مجاهد د مولوي خالص اړونده تنظیم غړی وو. هغه د شوروي اشغالګرو د وتلو وروسته د کندهار د سنګ حصار د ګېشانو کلي کې چې د هلمند ـ کندهار لارې څېرمه پروت دی دیني مدرسه جوړه کړه په مدرسه کې د زده کړو سربېره امامت هم کاوه. کله چې په هېواد کې د تنظیمونو وحشت واکمن شو د۱۹۹۴ کال د اکتوبر په دیارلسمه د هغه په مشرۍ د طالبانو تحریک سر راپور ته کړ. هغه د خپل پاڅون په اړه وایي :« د بدامنیو، فساد او داړه ماري ادامې زه د دې وضعیت د بدلون په فکر کې واچولم ، پداسې حال کې چې د دې حالت تغییر او اصلاح ډېر مشکل او حتی ناشونی برېښېده یوازې مې د خدای په توکل سره د فساد په ضد د مبارزې ډګر ته راووتلم.» ۲۳۳/ ۹۹- ۱۰۰ په یوه روایت د ملاعمر دېرشو تنو ملګرو چې شپاړلس تنو یې ټوپک لرل او په بل روایت اتلس تنو د واکمن وحشت په وړاندې لومړی ګام په هغه پاټک برید وو چې هلته دوې نجونې ساتل کېدلې او د هغوی وینښتان یې هم خریېلي وو . د برید په پایله کې برمته شوې نجونې ژغورې او د پاټک قوماندان هم وژني او پرېکړه کوي چې ولس د دې جګړه مارانو له شره وژغوري او دې کوچنۍ ډلې ډیر ژر د کندهار ښار د کوچني مقاومت پرته ترخپلې ولکې لاندې راووست . هلته یې جګړه ماران بې وسلې کړل او اړین امنیت یې ټینګ کړ. ګاونډي ولایتونه ( زابل ، ارزګان ، هلمند او غزني) چې په کندهار کې د واکمن وحشت او ګډوډۍ پای ویني هم طالبانو ته هرکلی وایي. د کندهار څخه ترکابله د حکمتیار د اسلامی حزب پرته د نورو تنظیمونو قوماندانان او جنګیالي طالبانو ته ور واوښتل او یا یې مورچلونه بیله جګړې ور پرېښودل. کله چې طالبانو غزني ونیو جمهور رییس رباني په یوه مرکه کې طالبان یو «خپل پاڅې تحریک» او د سولې ملایکې وبلل او «کله چې د طالبانیزم څپې ګام په ګام د مرکز په لور رانږدې کیدلې ، د دولت الوتکو په دې خیال چې دا نوی ځواک د هغه نه پخلاکیدونکی سیال ځپې ، د اسلامي حزب پوځي سنګرونه په کندهار، غزني او میدان وردګو کې بمبارول. تردې چې د استاد رباني په دستور د پیسو بنډلونه د مولوي سخیداد فایز، قاضي زاده او مولوي خلیل الله مولوي زاده ( چې وروسته د طالبانوسره یوځای شو) د طالبانو مشرتابه ته استول کیدل .» ۱۹۸/ ۶۳ خو کله چې طالبانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتيار سنګر چهارآسياب ونيو او حکمتيار لغمان ته په تيښته بريالی شو کابل ته څېرمه په ريشخورو او چهارآسياب کې د دولت او طالبانو ترمنځ جګړه پيلېږي. دا مهال دې چې رباني اوحکمتيار لکه نورو جهادي مخورو « خپلې دښمنۍ هېرې کړې. د خبرواترو او پخلاينې لاره يې غوره کړه، البته دا لومړی ځل نه وو چې هغوی پدې ګواښمن حالت کې د يووالي او ګډ دريځ د نيولو لپاره چمتو وو بلکې د نورو جهادي مشرانو په شان کله به چې کابل له نه ګرځېدونکې ماتې سره مخ کيده په کړکيچ کې ښکيلو خواوو به خپل پايښت د يو بل تر څنګ ليده ټولې پخوانی دښمنۍ او د هغو له امله تلفات او زيانونه به يې هېرکړل او د يوبل تر څنګ په معنی داره موسکا سره کيناستل. په تېرېدنې او وروړګلوی سره به يې مهم دولتي مقامونه پخپل منځ کې وويشل هغه وخت به يې هيڅ کوم اختلاف او خوابدي نه درلودله .» ۲۳۴/ ۳۵ دا ځل رباني او حکمتيار خپلې دښمنۍ او جګړې چې د کابل د ورانيدو ، لسګونو زرو کابليانو او نورو هيوادوالو د وژل کيدو او د لکونو وطنوالو د کډوالی سبب شوې وې هېرې کړلې او پردې سلا شول چې د جمهور رئيس او صدراعظم په توګه ايتلافي حکومت جوړ کړي ترڅو د طالبانو خلاف غښتلې جبهه جوړه او پدې ډول په واک کې پاتې شي. حکمتيار د۱۹۹۶ کال د جون په اوومه کابل ته راغی او د صدارت عظمی په څوکی يې ډډه ولګوله. يوه ورځ وروسته رباني جلال آباد ته ولاړ ترڅو د جهاد د زمانې خپل ياران محمدي، خالص او ګيلاني لکه حکمتيار پخلا او نوي بهير ته چې موخه يې د طالبانو خلاف جبهې غښتلې کول او د لعنتي واک ساتل وو را جلب کړي خو پدې کار کې پاتې راغی. د رباني ـ حکمتيار د تمې خلاف « په جون کې محمدي، خالص، ګيلاني او د مجددي استازي په کندهار کې د طالبانو له مشرانو سره ګوري، هغوی د يوې اعلاميې په ترڅ کې رباني د هيواد د ټولو بدمرغيو عامل وګڼله او د جمهوري رياست نه يې د هغه د ګوښه کيدو غوښتنه وکړه.» ۲۲۶ / ۳۴۱ دې اعلاميې وښودل چې نور د مسعود، رباني او حکمتيار ستوري په لويدو دي او هماغه دي چې طالبانو د۱۹۹۶ کال د سپتمبر په اووه ويشتمه کابل ونيو. حکمتيار د پلازمېينې څخه خپل او د خپلو ائتلافي ملګرو د تېښتې داسې انځور کاږي :« طالبان له دواړو خواوو پلچرخي ته راورسيدل په پلچرخي کې محدود شمير کسانو د څو محدودو ساعتونو لپاره مقاومت وکړ، کابل عملاً تخليه شوی و، قوماندانان او مسؤلين وتلي وو، زه په صدارت کې وم وروړو مسئولينو د وتلو اطلاع راکړه، ارګ ته ولاړم په ارګ کې له څو انضباطانو پرته هيڅوک نه وو، راته وويل شول چې استاد رباني په بلنداژونو کې ستاسو انتظارکوي هلته ورسيدم ګورو چې ټولو بار او بستره تړلي او د جبل السراج په لوري د خوزيدو لپاره تياري نيسي له دوی سره يو ځای په هغه لوري وخوزيدو او پدې ترتيب مظلوم کابل په ۵ / ۷ / ۱۳۷۵ د پنجشنبې په ورځ د طالبانو په لاس کې پريووت او د کابل منحوس ائتلافي حکومت را نسکور شو.» ۲۲۶/۲۳۵ ـ ۲۲۷ رباني ارګ پريښود خو تخت يې د ښکلې پيغلې په څېر له کابل نه د تخار ولايت تر خواجه بهاوالدين پورې په غېږ کې نيولی ګرزاوه او ځان يې د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئيس ګڼه او استازي يې په ملګروملتو کې د افغانستان د اسلامي دولت نماينده ګي په غاړه لرله .

## د افغانستان د اسلامي امارت لومړی واکمني

د طالبانو د تحريک را څرګنديدل د هغه نه زغمونکي انارشيزم، د هېواد د ځمکنۍ سلامتيا نړېدو ته ګواښونو او د واکمن وحشت په وړاندې د افغان ولس هيلو ته ځواب وو ترڅو انارشيزم او وحشت پای ته ورسيږي ، د هېواد سلامتي تضمين او په هېواد کې امن اوټيکاو ټينګ شي. طالبان په هيواد کې د فساد او انارشيزم د له منځه وړلو، شريعت د پلې کولو، د امنيت د ټينګولو او د افغانستان د جغرافيايي يووالي د تضمينولو ترشعارلاندې لومړی ځل د کندهار څخه سر راپور ته کړ. په کندهار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملامحمد عمر د ملګرو له لوري د بشپړ امنيت ټينګښت پايله دا شوله چې په لنده موده کې طالبان د کابل تر څنډو را ورسېږي. د ولس له لوري د طالبانو له تحريک څخه ملاتړ د دې لامل شو چې د ۱۳۷۵ کال د وري په څوارلسمه د کندهار په زړه ميخانيکي لېسه کې يوزر او پنځه سوه ديني عالمانو او ملايانو ملامحمدعمر ته د امير المؤمنين په توګه بيعت وکړ او د افغانستان اسلامي امارت يې اعلان کړ. طالبانو د ۱۳۷۵ کال د تلې په شپږمه د کابل ښار د کمزوري مقاومت وروسته ونيو او پدې ډول د حکمتيار په وينا منحوس ايتلافي حکومت نسکور او واکمنان يې لومړی پنجشير او وروسته مزارشريف ته وتښتېدل . د کابل د نيولو سره سم طالبانو نجيب الله او د هغه ورور د م، م له دفتر څخه واېستل ، بېله محاکمې يې چانواري کړل او جسدونه يې د عامې روغتيا په څلور لارې کې د ننداري لپاره را وځړول چې دا کار يې په کورنۍ او نړيواله کچه وغندل شو. د نجيب له وژلو وروسته ملا رباني د طالبانو د دولت مشر د يوه خبريال د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې مو نجيب بېله محاکمې چانواري کړ ويلي وو د هغه محاکمې ته اړتيا نه وه ځکه چې هغه په خپلو جنايتونو اعتراف کړی وو چې « موږ خلکو ته د کور ، کاليو او ډوډۍ ژمنې کړې وې خو د کور پر ځای مو ګور، د کاليو پر ځای مو کفن او د ډوډۍ پر ځای مو مرمۍ ورکړې.» طالبانو د کابل له نيولو وروسته د تخار ، بدخشان او پنجشير د ولسوالۍ پرته په ټول هېواد ولکه ټينګه کړله. طالبان هر ځای چې واکمنېدل هلته يې محمدي شريعت پلی کاوه ، وسلې او پاټکونه يې ټولول او دايمن امنيت يې ټينګاوه . پدې ډول يې د پياوړي مرکزي حکومت بنسټ کېښود او افغانستان يې د حتمي تجزيې وژغورلو. هغه مهال هيواد د ټوټې کيدو له ګواښ سره مخ وو ځکه چې په هرات کې د اسمعيل خان امارت چلېده، په مشرقي کې د حاجي قدير پاچاهي وه او په کابل کې ګنې واکمنۍ ترسترګو کېدې تردې چې په شمال کې د دوستم کرنسي هم چلېده او د شمالي سالنګ د تونل په خوله کې يې ستره لوحه لګولې وه چې پرې ليکل شوي وو ( به خراسان خوش آمديد !). د دې معنی دا وه چې شمالي ولايتونه د افغانستان برخه نه بلکې د خراسان په نامه جلا هيواد دی . د طالبانو دا هوډ چې په افغانستان کې سوله ټينګه او د هېواد جغرافيايي يووالي تضمين شي چمتو وو د دوستم غوښتنې ته چې په افغانستان کې فدرال سيستم د جوړولو ليوال وو لبيک ووايي. همدا لامل وو چې د پاکستان د کورنيو چارو وزير نصرالله بابر او مولانا فضل الرحمن د پاکستان د جمعيت العلمای اسلامي مشر په کابل او مزارشريف کې د اسلامي امارت او اسلامي – ملي غورځنګ له مشرانو سره ليدنې کتنې تر سره کړلې چې په پايله کې يوه پنځه ماده يي لوزنامه لاسليکولو ته چمتو شوه چې پنځمه ماده يې د فدرال سيستم په هکله وه. خو کله چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو ځانګړي استازي رابرټ هول دا ماده ونه منله د طالبانو او اسلامي – ملي غورځنګ ترمنځ جوړجاړی هم له ماتې سره مخ شو. د طالبانو له لوري د فدرال سيستم منل ښيي چې هغوی غوښتل هيواد ته سوله او ټيکاو راوړي اود دې هيواد جغرافيايي يووالي تامين شي خو ملګرو ملتو يې مخنيوی وکړ. دا بيا ښيي چې هغه مهال ملګرو ملتونو نه غوښتل په افغانستان کې جګړه پای ته ورسېږي او افغانستان قوي مرکزي واکمني ولري. پداسې حال کې چې هغه مهال د شمال تلوالې د افغانستان د کشالې حل د افغانستان د تجزيې له لارې ګڼلو او غوښتل يې افغانستان په دوو ، شمالي او سويلي برخو وويشي. پدې اړه رزاق مامون د رد پای فرعون نومې کتاب کې په مزارشريف کې د ايران د يوځي قونسل تلفوني خبرې را وړې دي چې احمدشاه مسعود ته داسې وايي: « بالاخره په افغانستان کې د خپلو دوستانو او بهرنيو دوستانو سره د مشورې وروسته پرېکړې ته رسېدلي يو چې د افغانستان کړکېچ د منلو وړ د عادلانه حل لپاره بايد دا هېواد په دوو شمالي او سويلي برخو وويشل شي، ...ستاسې د معلوماتو لپاره غواړم ووايم چې د متحدې جبهې ټول مشران په تېره سپين ږيری ( رباني) او پهلوان( دوستم ) خپله بشپړه همغږي اعلان کړې ده .» د لته د شمال تلوالې ملي ضد دريځ او د يو موټي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د شتون سره مخالفت او دښمني بربنډېږي. د طالبانو لخوا د کابل له نیولو وروسته رباني او ملګري یې شمال ته وتښتېدل لومړی یې مزارشریف او بیا د تخار ولایت د خواجه بهاوالین ولسوالي د افغانستان د اسلامي دولت د پایتخت په توګه غوره کړل. د خواجه بهاوالیدن ولسوالۍ چې دولتي ادارو ته اړینې ودانۍ نه لرلې رباني کانتنرونه کېښودل او هلته یې د وزیرانو لپاره دفترونه جوړ کړل او په یوه زاړه کور کې یې د جمهور رییس مقام غوره کړ لدې امله نړیوالو رسنیو د رباني حکومت « د استاد رباني کانتېنري حکومت بللو» ۱۷ / ۴۹۲ خو د رباني د واکمنۍ غوره نوم ګرځنده حکومت وو . له یاده ونه باسو چې مسعود او یارانو یې یوه اونۍ مخکې تردې چې طالبان کابل ونیسي د کابل څخه وسلې او پوځي تجهیزات او د بانک خزانه د پنجشیر ولسوالۍ ته لېږدولي وو . د شمال تلوالي مشرانو شمال ته په رسیدو سره خپلې پرونۍ دښمنۍ او د یوبل د جنګیالیو قصابۍ هېرې کړې او په خنجان کې یې د مسعود ، خلیلي او دوستم تر مشرۍ لاندې د افغانستان د دفاع عالي شورا چې یوه پوځي ټلواله وه جوړه کړه چې پدې ډول هیواد په دوو شمالي او جنوبي جبهو وویشل شو. وروسته لدې شمال ټلواله د طالبانو تر ولکې لاندې سیمې د عادي توغندیو پرځای د سکاد، اوراګان او لونا توغندیو او الوتکو هدف ګرزوي . عجیبه داده کله چې د شمال ټلوالي د واکمنۍ پر مهال د هغې جهادي سیالانو کابل په توغندیو ویشت هغه یې غیراسلامي عمل او د خلکو په وړاندې جنایت ګڼله خو شمال ټلوالي خپل دې کار ته جهاد او د مقاومت نوم ورکاوه. د طالبانو د راڅرګندېدو پر مهال رباني طالبان د « سولې ملایکې » ګڼل خو د کابل څخه له تښتېدو وروسته یې ځواکونو د سولې ملایکې لکه شیطانان په توغندیو ویشتل او بمباردول . دلته لیدل کېږي چې څه ډول د اسلام له سپېڅلي نامه څخه ناوړه ګټه پورته کېږي. د اسلامي دولت په واکمنۍ خو په واقعیت کې د تنظیمونو په اندوخر کې نه یوازې امنیت ګډوډ شو، د عامه او د خلکو د جایدادونه غضب پیل ،کابل په کنډواله واوښت او دولتي اداري لوټ شوې د هغه سره جوخت د مخدره توکو کښت او د هغه قاچاق وده موندله خو طالبانو د ډادمن امنیت د ټینګولو ترڅنګ او د ملا محمدعمر د یوه فرمان له مخې په هغو سیمو کې چې طالب واک چلاوه په بشپړ ډول د تریاکو کرنه له منځه ولاړه . په کابل باندې د واکمنېدو سره سم طالبانو لاندې پنځه فقره ئیزه اعلامیه خپره کړله :

۱– ټولې اداري اسلامي دي.

۲ – هرڅه چې د بیت المال ، مال وړی وي هغه دې نوموړو اسلامي ادارو ته وسپاري.

۳ – هرڅوک چې د امنیت په اخلالولو اوغلا باندې لاس پورې کړي سخته سزا به ورکړل شي.

۴ – ښځې به د بل امر پورې په کور کې ناستې وي او دفترونو ته د تګ اجازه نلري.

۵ – ښځې د کورڅخه د وتلو په مهال په بشپړه توګه په بورقو( چادریو) کې وي.

د دې اعلامیې د تطبیق لپاره د امربالمعروف او نهی عن المنکر اداره چې په نړیوالو رسنیوکې مذهبي پولیس یادیدل مؤظفه شوله. طالبانو د لمانځه ادا کولو مسئلې ته زیات پام راګرزولی وو او خلک یې اړ ایستل چې د لمانځه په وخت کې جوماتونو ته لاړشي . داسې هم پېښ شوي دي چې یوه تن د یوه وخت لمونځ څو ځله ادا کړي. طالبانو په موسیقي او دودیزو مېلو،سپورت ، انځوراخیستنې، د مجسمو جوړولو، رسامۍ او د ښځو په کاراو د نجونو په زده کړو بندیز ولګاوه. طالبانو ویل چې نجونو او ښځو ته به هغه مهال زده کړو او کار ته اجازه ورکړي چې اړین چاپېریال چمتو کړي خو د خپلې پنځه کلنې واکمنۍ تر پایه یې دا چاپېریال چمتو نکړ. طالبانو په بامیان کې د بودا سترې مجسمې و نړولې . د طالبانو د مقرراتو په وړاندې په هرات او کابل کې ښځو اعتراضیه لاریونونه او مظاهرې وکړلې. د۱۹۹۶ کال د جنورۍ په یوولسمه د هرات د ښځو لاریون د طالبانو له لوري وځپل شو. دا د ښځو په وړاندې دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل وو چې د حکومت لخوا ځواک استعماليږي. لومړی ځل د کارمل د واکمنۍ په مهال په ۱۹۸۰ ز کال کې کله چې د کابل د ځينو ليسو نجونې د شوروي د اشغال خلاف کوڅو ته راووتلې وځپل شوې چې مرګ او ژوبله يې هم لرله. د طالبانو له لوري د دا ډول مقرراتو پلي کول غوڅ اکثريت ځوانانو او ښاريانو ته د زغم وړ نه وو له همدې کبله د هيواد څخه د تيښتې بهير چې د شوروي اشغال او د تنظيمونو د واکمنۍ په مهال يې قوت موندلی وو د طالبانو په واکمنۍ کې دوام وموند. سربيره پردې طالبانو په هيواد کې د نړيوالو خيريه مؤسسو په فعاليت پدې نامه بنديزونه ولګول چې عيسويت ترويجوي. ځيني بهرني اتباع يې وشړل او بنديان کړل. طالبانو د دوی د شکمنو فعاليتونو په اړوند شواهد او اسناد هم خپاره کړل. د طالبانو له لوري د تخار او بدخشان پرته د نورو شمالي ولايتونو د نيولو وروسته پاکستان ، سعودی عربستان ، اماراتو او بحرين د طالبانواسلامي امارت په رسميت و پيژندلو خو بحرين ډېر ژر خپله رسميت پيژندنه بېرته واخېستله . هيره دې نه وي چې د شمال خلک د افغانستان د سويلي سيمو د ولسونو په شان د شمال ټلوالې له وحشت څخه تر پوزو راغلي وو همدا لامل وو کله چې «طالبان د سرې او برېښنا د فابريکې او اتلسمي فرقې شاوخوا و رسيدل د ښار په د ننه کې د طالبانو په ملاتړ پاڅون وشو.» ۴۲/ ۲۳۴ په مزارشريف کې د طالبانو په ملاتړ ولسي پاڅون ښيي مزاريانو چې غوڅ اکثريت يې د شمال ټلوالې په اند د هيواد د لړکيو سره تړاو لري هغو ډلو ته شا کړه چې د دوی د حقوقو د ترلاسه کولو په نامه يې جنډې پورته کړې وې .د مزاريانو پاڅون وښودل چې مزاريانو لکه د افغانستان د نورو سيمو اوسيدونکو افغانان په پښتنو او غيرپښتنو ، ډېرکيو او لږ کيو نه ويشل او هغوی غوښتل پخپل ټاټوبي کې يې سر ، مال او پت خوندي وي که په واک کې پښتون وي يا غير پښتون. مخکې وويل شول چې امريکې د طالبانو غورځنګ څخه پدې خاطر ملاتړ وکړ چې په افغانستان کې د امنيت د ټينګولو له لارې د منځنۍ آسيا انرژي او په هغو کې د ترکمنستان څخه پايپ لاين نړيوالو بازارونو ته وغزوي. هماغه دي چې امريکايي يونيکال کمپنۍ د طالبانو سره پدې تړاو مذاکرې پيلوي چې اړينې پايلې يې نلرلې او له هغه وروسته طالبان د ارجنتايني بريداس کمپنۍ سره خبرې پيل کړي چې د نوموړې کمپنۍ سره موافقې ته ورسېدل. لدې وروسته واشنګټن د افغانستان د اسلامي امارت د راپرزولو په نقشه کار پيلوي او هغه د بنسټپاله اسلامي ډلې په نامه چې ګواکې نړۍ ته ګواښ جوړوي د خپل تبليغاتی ماشين موخه ګرزوي. دلته دا واقعيت بربنډيږي چې واشنګټن د نورو هيوادونو د سياسي ډلو او حکومتونو سره په اړيکو کې خپلو ګټو ته لومړيتوب ورکوي که دې ډلو او حکومتونو د خپلو ملي ګټو په پرتله امريکايي ګټو ته لومړيتوب ورکاوه او د واشنګټن ديکتې ته يې غاړه ايښودله په غيږ کې يې نيسي او هغوی چې خپلو ملي ګټو ته لومړيتوب ورکوي د واک څخه تر راپرزولو پورې متې رانغاړي او رنګارنګ ناولي نومونه لکه ترهګر پرې اېږدي. ژوند ښيي چې امريکا په سړه سينه د پرمختګ څه چې د انسانيت د دښمنانو سره همغږې او همغاړې شوې او په يوه جبهه کې دريدلې ده. امريکا د افغانستان د اسلامي امارت دريځ ته چې خپلو ملي ګټو ته لومړيتوب ورکاوه د دښمنۍ لاره غوره کړه پدې کې شوه چې څرنګه دا ځواک د افغانستان له سياسي ډګر څخه وباسي او خپل ګوډاګيان واک ته ورسوي. کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبرپه يوولسمه د امريکايانو د ادعا پر اساس دالقاعده شبکې د نيويارک په سوداګريز مرکز او پنټاګون ترهګريز بريدونه وکړل چې هغه مهال د دې شبکې مشر اسامه بن لادن د جورج بوش د کورنۍ پخوانی ملګری او تجارتي همکار په افغانستان کې مېشت وو وپتېيله د القاعده شبکې سره د مبارزې په نامه پر افغانستان بريد وکړي. اسامه يمني الاصله عربستانی د شوروي اشغال پرمهال لومړی پاکستان او بيا افغانستان ته راغی. هغه په ۱۹۸۷ کال کې د پکتيا په ځاځيو کې د القاعده شبکې بنسټ کېښود چې غړي يې ټول عرب جنګيالي وو. اسامه د شوروي د اشغال د ختمېدو وروسته بېر ته عربستان ته ستون شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کويټ د جګړې وروسته چې زرګونه امريکايي پوځيان په سعودي کې مېشت شول هغه د امريکا او سعودي دولت خلاف دريځ غوره کړ او اړ شو سودان ته کډه شي. د اسامه د سياسي سلاکار مصطفی حامد( ابو الوليد مصري) په وينا« افغانستان ته د اسامه بن لادن راتګ د امريکا د متحده ايالاتو او سوډاني حکومت د قبلي تفاهم او موافقي له مخي تر سره شو، او دغه خبره د سوډان د استخباراتو د وخت رييس قطبی المهدي مونږ ته په واضح تورو کې وکړه چې افغانستان ته د اسامه بن لادن انتقال د امريکا د دولت ، سوډاني حکومت او خپله اسامه بن لادن په ګډه يوه پرېکړه ده.» ۲۳۶ مصطفی حامد د رباني د واکمنۍ پر مهال د عمر البشير د سودان ولسمشر په ځانګړې الوتکه کې له اسامه سره يوځای د ۱۹۹۶ کال د مي په مياشت کې د الخرطوم څخه ننګرهار ته راغلی او دوی ټول د مولوي خالص په فاميليو کې د انجينر محمود په اړونديو يوې ودانۍ کې ځای پر ځای شوي دي . البته د رباني حکومت يو پلاوی سودان ته واستولو چې اسامه او ملګري يې افغانستان ته راولي. د اسامه د راتګ وروسته په سودان کې د القاعده د شبکې او د هغه د کورنۍ سل تنه غړي هم په دوو سوډاني الوتکو کې د افغانستان ننګرهار ته راولېږدول شول. رباني هغوی ته افغاني تذکرې ورکړلې. دا په خپله معما ده چې د امريکا تر تعقيب لاندې بن لادن د امريکا او سودان د حکومتونو د ګډې پرېکړې له مخې د سودان د ولسمشر په ځانګړې الوتکه کې افغانستان ته را لیږدول کيږي . د طالبانو په واکمنۍ کې اسامه او ملګري يې په کندهار کې د لويې ويالې څلور برجه کلا کې ځای پرځای شول . مصطفی حامد ملامحمدعمرمجاهد ته د اسامه د بيعت ورکولو په اړه چې بالنيابه يعنې د ده د استازي مصطفی په لاس د ۱۹۹۸ کال د نوامبر مياشتې په دوهمه وشو وايي:«ما پر اسامه بن لادن ډېر ټينګاردرلود چې هغه بايد له ملامحمدعمرمجاهد سره بيعت وکړي، خو نوموړي زما د دې غوښتنې په مقابل کې د ځنډ لپاره پلمې لټولې...، نوموړي چې کله زما اصرار وليده را ته يې وويل چې بس سبا به د ملامحمدعمر مجاهد دفتر ته د بيعت کولو لپاره ورځو!...، سهار وختي زه د اسامه استوګنځي ته ورغلم چې له نوموړي سره يوځای د امارت دفتر ته ولاړ شم ، خو هلته مې چې وضعيت وکوت داسې نه معلومېده لکه شيخ چې د امارت دفتر ته د تللو اراده لري. له لږ انتظار وروسته مې ور ته وويل : ما چې د امارت دفتر ته ستاسې د ورتلو کوم وخت ښودلی پر هغه اوس يو ساعت اوښتی ، هغوی به انتظار وي ، تاسو به کله ورځئ؟ شيخ په ځواب کې راته وويل چې زمونږ مشوره دا شوه چې تاسو ورشئ او زما په نيابت ور سره بيعت وکړئ.» ۲۳۷ کله چې اسامه خپل سياسي سلاکار ته زمونږ د مشورې خبره کوي دا پوښتنه را زيږوي چې هغه له چا سره مشوره کړې ده او د« زمونږ» څخه يې موخه څوک دي ؟ د سپتمبر د يوولسمې مرموزې ترهګريزې پېښې وروسته د سپتمبر په شلمه امريکا له طالبانو وغوښتل چې اسامه او د القاعده ټول غړي امريکا ته وسپاري. طالبان په پېښه کې د هغوی د ښکېلتيا ثبوت غواړي خو امريکا دا وړانديز نه مني وروسته طالبان چمتو کيږي چې اسامه پاکستان ته وسپاري تر څو هلته محاکمه شي خو پرويز مشرف دې کار ته چمتو نشو. امارت د امريکايانو سره د ستونزې د حل په موخه د خبرو وړانديز وکړ چې امريکايا ن دا وړانديزهم رد کړ. وروسته لدې ملاعمر د اسامه په هکله د امريکايانو وړانديز د ملايانو غونډې ته راجع کړ او ملايانو پرېکړه وکړله چې اسامه دې په خپله خوښه له افغانستان څخه ووزي. خو امريکايانو د اکتوبر په اوومه ( تلې پنځلسمه) پر افغانستان هوايي او د فارس د خليج څخه د اوږد واټن توغنديو بمبارۍ وکړلې چې لومړني ګوزارونه يې په کندهار او د ملاعمر په استوګنځي وو. هېره دې نه وي چې د سپتمبر د يوولسمې پېښې وروسته د شمال تلوالې مخورو امريکايانو ته د اسلامي امارت په نسکورولو کې د چوپړ ټترونه و ډبول او امريکايانو هم د افغانستان په نيولو کې د هغوی او د هغوی له مليشو څخه د اجيرومزدورانو په توګه ګټه پورته کړله. د امريکايي – انګريزي هوايي او توغنديو د ګوزارونو او د شمال تلوالې د مليشو د يرغليزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیاتو له امله په پرله پسې توګه طالبانو د ولایتونو کنټرول له لاسه ورکاوه د شمالي ولایتونو زرګونه تنه جنګیالي یې په کندز کې د شمال تلوالې له خوا اسیر او د نورو سیمو جنګیالي یې په ولس کې متواري شول پدې ډول د طالبانو اسلامي امارت نسکور او د هېواد په برخلیک صلیبي اشغالګر واکمن شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم څپرکی

## د ترهګرۍ ضد که دیرمخیزه نه ختمیدونکې جګړه ؟

د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په اوومه ( تلې پنځلسمه) امریکایي او انګرېزي الوتکو او توغندیو د القاعده شبکې سره د مبارزې په نامه پر افغانستان بمبارۍ پیل کړې او د شمال تلوالې ملیشو د یرغلګرو د مزدورو پلې ځواکونو په رول کې د اسلامي امارت په سنګرونو ور ختل چې په پایله کې د طالبانو اسلامي امارت نسکور او د شمال دا د شر اوفساد تلواله ظاهرآ واک ته ورسول شوه. اشغالګرو پدې پلمه پر افغانستان یرغل وکړ چې ګواکې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په یوولسمه د امریکا د متحده ایالتونو په سوداګریز مرکز برید د اسامه بن لادن له لوري تنظیم شوی دی. د امریکې د دولت رسمي روایت داسې وو چې د ۲۰۰۱ز کال د سپتمبر په یوولسمه د نیویارک په وخت سهار په ۸ بجو او ۴۵ دقیقو نولس تنه عرب چې پنځلس یې سعودیان وو د امریکې په ختیځه برخه کې څلورو الوتکو ته پورته شول او د الوتکو کنترول یې پخپلو لاسونو کې ونیو .دوې الوتکې د نیویارک د سوداګریز مرکز له دوو ودانیو ، بله په واشنګتن کې د امریکې د دفاع وزارت د مانۍ (پنتاګون) سره وجنګولې او څلورمه په پنسلوانیا کې ولوېدله. د دغه برید قربانیان ۲۷۹۳ کسان وو. ددې پېښې په اړه بېله څېړنو د برید په ورځ د امریکې دولت پړه په اسامه بن لادن واچوله. انګلوساکسوني اشغالګرو د افغان ولس رواني ځانګړتیاوو ته په کتو سره چې د خپلواکۍ د ګټلو په موخه به وسلې ته لاس اچوي تر څو د خپلو ځاني او مالي تلفاتو کچه او د افغانانو مورال را ټیټ کړي خپل ناتویي او غیر ناټویي متحدین هم له ځان سره ملګري کړل. پدې ډول په افغانستان کې د پنځوسو هېوادونو پوځیان دېره شول. په افغانستان کې لویدیځ خپل پوځي شتون ته د ترهګرۍ سره نړیواله مبارزه اعلان کړله. خو افغان ولس د دې ډله ییز اشغال په وړاندې د آزادۍ جګړه پیل او دې جګړې څه کم شل کاله دوام وموند. د افغان ولس مقاومت چې مشري یې د طالبانو اسلامي تحریک لرله اشغالګر دې ته اړ ایستل له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي ترڅو په ۲۰۲۰ کال کې د فبرورۍ په ۲۹ په دوحه کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې تړون لاسلیک شو چې منځپانګه یې د افغانستان څخه د بهرنیو پوځیانو وتل وو. دا تړون د م، م د امنیت په شورا کې ثبت شو. د تړون د لاسلیک پر مهال د شپږ دېرشو هېوادونو استازي موجود وو. د تړون له مخې به اشغالګر په څوارلسو میاشتو کې له افغانستان څخه وتل. خو امریکایانو د تړون څخه سرغړونه وکړله او د اشغالګرو وروستۍ ډله د ۲۰۲۱ کال د اګست په یودېرشمه د شپې په تیاره کې لکه غله د کابل د هوایي ډګر څخه ووتل . پدې ډول د افغان ولس خلاف د ناټویي اشغالګرو توده جګړه پای ته ورسېدله خو ماتې خوړلې امریکې د افغانانو خلاف سړه ( اروایي او اقتصادي) جګړه و نه دروله. د ترهګرۍ په وړاندې د نړیوالې جګړې په اړه د ځېنو د نظر خاوندانو له څرګندونو معلومېږي چې د دې جګړې موخه مبهمه او ناڅرګنده او په اړه یې اندونه او تفسیرونه ویشلي وو چې دا د دې جګړې پیچلتیا جوتوي. تردې چې ځېنې امریکایي څېړونکي هم د سپتمبر د یوولسمې برید په پېښېدو کې امریکایي څارګره اداره ښکېله ګڼي. د جګړې د پیل پر مهال د هغې په هکله د نړیوالې ټولنې ظاهري اجماع شتون درلود خو د وخت په تېریدو سره دا اجماع پیکه کېدله او سیمه ییز ځواکونه د واشنګټن – لندن په موخو شکمن شول او پدې هڅه کې شول ترڅو د افغان ملي مقاومت سره اړیکې ټینګې کړي او پدې ډول افغان ملي مقاومت په نړیواله کچه مشروعیت پیدا کړ. دې بنسټیز بدلون او د افغان ملي مقاومت په ځېلو کې د ناټویي ځواکونو د پاتې راتلو پایله دا شوله چې د دوحې تړون لاسلیک شي . د تړون د لاسلیک وروسته د اشغال لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت امنيتي ځواکونو جګړه بيز مورال تر دې کچې کمزوری شو مخکې لدې چې ټول اشغالګر ځواکونه له افغانستان څخه ووزي دوې اونۍ مخکې د اشغال زېږنده بلواک حکومت نسکور شو ، مشران يې بهر ته وتښتيدل، طالب جنګيالي کابل ته ننوتل او پدې ډول طالبانو د دوهم ځل لپاره د ۲۰۲۲ کال د اګست په پنځلسمه واک ترلاسه کړ. د افغانستان څخه د اشغالګرو د وتلو وروسته دا ځل طالبان په بشپړ ډول په ټول افغانستان واکمن شول چې پدې وروستيو څلورو لسيزو کې يوه حکومت هم په ټول افغانستان ولکه نه وه ټينګه کړې . خو تر دې دمه ( ۲۰۲۴ کال د نومبر شلمه) يوه هېواد هم اسلامي امارت په رسميت نه دی پېژندلی. که کوم دولت د اسلامي امارت د په رسميت پيژندلو هڅه کړې د واشنګټن له تهديد سره مخ شوی دی .له بله پلوه واشنګټن په نوي حکومت ظالمانه بنديزونه ولګول ، د افغانستان اسعاري زېرمې يې کنګل کړلې ، د سوفيت بانکي سيستم څخه يې افغانستان و ايست چې د افغانستان په اقتصادي وضعيت يې ناوړه اغېز پرېښود. که ۲۰۰۱ کال کې په وروستيو کې دا جګړه د القاعده شبکې ضد جګړه ګڼل کېده خو د وخت په تېرېدو سره دې جګړې ته مختلف نومونه او تعريفونه ورکړل شول . د افغانستان د دې جګړې ځانګړتيا پدې کې وه چې هغه د يو چا ( القاعده ) په نوم د بل چا (افغان ولس) سره پر مخ تلله. له همدې کبله د افغانستان د دې ډېر مخيزه نه ختميدونکې جګړې بهيراو څرنګوالي او په جګړه کې د ناټو د سازمان مرموز فعاليتونه او د افغانستان ځمکني واقعيتونه ددې سبب شول چې څېړونکي او سياستوال دې جګړې ته لاندې نومونه او تعريفونه ورکړي:

۱– د امريکې د ګټو جګړه
۲- د ترهګرۍ ضد جګړه
۳ – د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو جګړه
۴ - د پرمختلونکو او پرشا تلونکو ځواکونو ترمنځ جګړه
۵ - د نلليکو جګړه
۶– د افغانستان د هويت د بحران جګړه
۷ - نيابتي او تحميلي جګړه
۸- د افغانستان د بيلابيلو قومونو ترمنځ جګړه
۹ - د پښتنو د ځپلو جګړه.

پر افغان ولس د دې تپل شوې جګړې په هکله مختلف تعريفونه په جګړه کې د ښکېلو اړخونو د نقشو، ستراتېژيو، څرګندو او ناڅرګندو موخو او تبليغاتو څخه اغېزمن دي .له بله پلوه د ځواکمنو دولتونو، سيمه ئيزو لوبغاړو او ګاونډيانو ستراتيژۍ او د متحده ايالتو برلاسی دريځ هم يکې ځانګړی ځای لري. دا په پام کې ولرو چې انګلوساکسوني لښکر د افغان ولس په غوښتنه ، د کومې لوزنامې او د ملګرو ملتو د سازمان د پرېکړې له مخې افغانستان ته نه بلکې د يوويشتمې پيړۍ د واکمن د ځنګل د قانون تر اغېز لاندې د ټولو نړيوالو قوانينو او نورمونو خلاف پرافغانستان يرغل ترسره شو، يرغلګرو د خپلې خوښې وګړي د واک په ګدۍ کينول چې دا د بشرد حقوقو د نړيوالې اعلاميې څخه څرګنده سرغړونه وه کومه چې ولسونه بايد خپل برخليک پخپله وټاکي. ښکېلاکګر عملاً د افغانستان پرځمکه او هوا واکمن وو او اشغالګرو په افغانستان کې هم ټولو ته څرګند فورمول «بېل يې کړه ، اېل يې کړه» عملي کړ . د آلمان د بن په کنفرانس کې د قومونو د وندې او هغه هم په غيرعادلانه ډول د طالبانو وروسته واکمنۍ بنسټ اېښودل د بېل يې کړه ، اېل يې کړه د فورمول د پلې کولو لومړی افغاني ضد اقدام وو. د بن د غونډې د پريکړو له مخې د قومي تړاوونو پربنسټ د واکمنۍ جوړول او وروسته قومي او ژبنيو اختلافونو ته لمن وهل، په هيواد او په تيره شمال او شمال لوېديځ کې د پښتنو په وړاندې پرله پسې زورزياتي ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتني سره ځيني دا جګړه د پښتنو د ځپلو جګړه ګڼي چې تر يوې کچې دا ډول ارزونه سمه برېښي ځکه چې اشغالګرو په افغانستان او پنجاب دا دانګرېز- امريکي مخلوق په پاکستان کې د پښتنو د ځپلو تګلاره غوره کړې وه . په رسنيو، ټولنيزو شبکو او د سياستوالو ترمنځ د پښتون او غيرپښتون ، ډېرکيو او لږکيو، افغان او افغانستاني ، درانيو او غلزيو د وېشونکو اصطلاحاتو کارول او د قومي شوراګانو جوړول ټولو ته څرګند دي چې افغان قومونه او پښتني قبيلې سره جلا او يو د بل په وړاندې ودروي. د۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه د امريکې- انګريز د پوځي ټلوالې لخوا پر افغانستان پوځي يرغل د نوموړو دولتونو له لوري د امريکې په ۱۱۰ پوړيزه غبرګونو سوداګريزو ودانيو د ترهګرو بريدونو په وړاندې غبرګون وو چې ګڼي اسامه بن لادن تنظيم کړي وو. پدې هکله د پام وړ خبره دا ده چې د۲۰۰۹ کال د مارچ په ۲۸ په کانادايي (تورنتوسن) نومې مشهوره ورځپانه کې راغلي دي چې په نيويارک او واشنګټن باندې يرغل په هسپانيه او آلمان کې جوړ او طرح کوونکي او پلي کوونکي يې پاکستاني ، سعودي او عربي اتباع وو .

لکه څرنګه چې په تېر څېرکي راغلي وو چې د پاکستان د وخت صدراعظمه بينظير بوتو د طالبانو تحريک يوه پروژه بولي چې « د انګلستان په نوښت، دعربستان په مالي مرسته ، د امريکا په ملاتړاو د پاکستان د روزني پربنسټ ترسره شوه .» که دا ادعا ومنل شي بيا دا پوښتنه را پيدا کيږي چې ولې د دې پروژې جوړونکو د خپلې پروژې د منځه وړلو په خاطر ګام اوچت کړ. واقعيت دا دی چې اسلامي امارت د يوه خپلواک حکومت په توګه هغه مهال د امريکې دښمني وګټله چې هغوی د افغانستان له لارې د نلليکې د غځيدا په تړاو د امريکايي د يونيکال د کمپنۍ وړانديزونه ونه منل او د خپلې ونډې برخليک د ارجنتاين د برايډاس کمپنۍ سره تړلی وو ځکه برايډاس د يونيکال په پرتله طالبانو ته د نلليکې د غځيدا او د سړکونو د جوړيدو په تړاو د لا ګټورو پانګو وړانديز کړی وو.کله چې واشنګټن د طالبانو له دې هوډ څخه خبر شو د امريکې د بهرنيو چارو د وزارت مرستيالې کرستينا روکا طالبان پخپلې دې وينا وګواښل چې « يا به زموږ د سرو زرو وړانديز منئ يا به مو د بمونو تر باران لاندې شخ کړو.» ۲۳۸ په پانګوالو سترو صنعتي هيوادونو کې حکومتونه او واکمن سياستوال د غټو کمپنيو د ارادې پر بنسټ خپلې تګلارې جوړوي ان ترديې چې دا کمپنۍ د دې هيوادونو مشران خپل نوکران ګڼي. د ( هيڅوک جرآت نلري هغه توطئه وبولي) په کتاب کې د ديويد راکفلر، ريچارد نکسن او هنري کسنجر انځورونه يو ځای چاپ او د انځور لاندې ليکل شوي وو : « راکفلراو د هغه دوه نوکران.» همدا علت وو چې د واشنګټن واکمنو د يونيکال د کمپنۍ د ارادې له مخې پريکړه وکړه چې د طالبانو د اسلامي امارت د رانسکورولو لپاره پلمه ولټوي. د تېرې پيړۍ د وروستۍ لسيزې په نيمايي کې د واشنګټن ليوالتيا چې طالبان د کابل په پلاز وويني د مايکل بيرون چې د جهاد په دوران کې د سي آی اې غير رسمي وياند وو ښه څرګنديږي. کله چې طالبانو لومړی ځل کابل ونيو هغه وويل: «دا ځوانان د نورو نه بد نه دي . هغوی احساساتي برېښي خو د هغوی برۍ د کورنۍ جګړې څخه ښه دی. طالبان اوس په هغه خاوره واکمن شوي دي چې پاکستان او ترکمنستان سره نښلوي .اوس موږ کولی شو چې د نفتو نلليکه د افغانستان نه تېره کړو.نفت او ګاز نورو بازارونو ته وليږدوو او تول بايد د هوسايني احساس وکړو.» ۲۳۹ د شوروي اتحاد د ړنګېدو وروسته امريکايانو د منځنۍ آسيا او د کسپين د حوزې د ځمکې لاندې طبيعي انرژۍ د لاس ته راوړلو په موخه اړينې څېړني او ارزوني کړې وې او پدې اړه د يونيکال د کمپنۍ يوه لوړپوړي (جان مارسکا) د۱۹۹۸ کال د فبرورۍ په دوولسمه د کانګرس يوې کميټې ته ويلي وو: «داسې برېښي چې د افغانستان له لارې د نلليکې غځول خورا لږ لګښت، لږ خنډونه او لږې فني ستونزې لري. افغانستان اوبو ته لنډه لار ده چې د منځنۍ آسيا نفت د آسيا نږدې بازارونو ته رسولای شي او لدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نفتو د لیږدولو ممکنه ارزانه لار ده»۲۳۰/ ۱۲۲خو کله چې د یونیکال کمپنۍ سره د طالبانو مذاکراتو نتیجه ور نکړه واشنګټن د طالبانو د اسلامي امارت د نسکورولو په لټه کې شو. په همدې بنسټ یو شمیر څیړونکي چې په هغو کې امریکایان هم شتون لري پدې اند دي چې د سپتمبر د یوولسمې پېښه یوه پلمه وه ، حتی ځینې هغه د سي آی اې لخوا یوه پلان شوې دسیسه ګڼي ترڅو ددې پېښې په پلمه نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي، په افغانستان خپل پوځي یرغل توجیه کړي او پدې اند دي چې پر افغانستان یرغل له پخوا پلان شوی وو. ویل کیږي چې د امریکې متحده ایالتونه د یوه زبرځواک په توګه د نړۍ لس کلن تحولات پروګراموي. پدې هکله حبیب الله رفیع چې په ۱۹۸۹ کې په یوه پلاوي کې امریکې ته تللی وایي چې د مریلنډ د ایالت د یوه پوهنتون استاد د یوه لکچر په مهال وویل چې دی په سپینه ماڼۍ کې سلاکارهم دی او وایي:« موږ هلته د دنیا د بیلابیلو هیوادونو لپاره بېلابېلې کمیټې لرو ، چې هغوی د نړۍ لس کلن تحولات پروګرام کوي، زه د لبنان یم د منځني ختیځ د کمېټې مشرهم یم او هر کال د لسو کلونو لپاره د منځني ختیځ تحولات پروګرام کوو او سپینې ماڼۍ ته یې سپارو، چې هغه بیا عملي کیږي. »۲۴۰/ ۳ پدې کې شک نشته چې پر افغانستان د امریکې پوځي یرغل د همدې لس کلن پروګرام پراساس صورت نیولی وي. د دې معنی دا شي چې پرافغانستان یرغل له پخوا پلان شوی وو. پدې اړه محمدعثمان روستارتره کي لیکي:« د افغانستان د نیولو پلان د شوروي د امپراطورۍ د ماتېدو او د امریکې هژمونیستۍ د رسېدو سره تر لاس لاندې ونیول شو. د امریکې د ملي امنیت سلاکار برژنسکي کلونه مخکې د منځنۍ آسیا د شطرنج پر تختې کنټرول د آسیا په وچې باندې د تسلط وسیله ګڼله. د ترهګرۍ سره د جګړې په اعلان او د افغانستان او عراق نیول پلمه شوله چې د برژنسکي د خوبونو د رښتیا کیدو په لور لومړی ګام پورته شي. » ۲۴۱ که د امریکا او د هغې د ستراتېژیکو متحدینو له لوري د ترهګرۍ ضد جګړې ته وکتل شي د افغانستان په شمول د هغو هېوادونو د لاندې کولو لپاره هڅه وه چې د سړې جګړې په لسیزو کې د امریکا له کنټرول څخه د باندې وو. د امریکا او متحدینو دا خوبونه په افغانستان او یمن کې د افغانانو او یمنیانو د اتلوال مقاومت له امله په اوبو کې لاهو شول او په سوریه کې د روسیې د مداخلې له امله واکمن رژیم په واک کې پاتې شو. البته په عراق او لیبیا کې امریکایان او متحدین یې بریالي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر افغانستان له پخوا پلان شوی یرغل

یو شمېر څېړونکي د واشنګټن د رسمي روایت خلاف پر افغانستان یرغل د نیویارک په سوداګریز مرکز او پنټاګون د بریدونو په وړاندې غبرګون نه ګڼي . هغوی پدې اند دي چې دا بریدونه په افغانستان د یرغل لامل نه بلکې یوه پلمه وه او د دغه یرغل لپاره د اوږدې مودې ستراتیژۍ له پخوا جوړه شوې وه . پر دې اساس د سپتمبر د یوولسمې نیټې بریدونه واشنګټن ته داسې طلایي چانس شو چې د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې په نامه پر افغانستان یرغل وکړي اسلامي امارت نسکور او د خپلې خوښې حکومت واک ته ورسوي چې هم هدف ته ورسېږي ، هم نړیوال ملاتړ تر لاسه کړي او هم څوک د ملامتۍ پېړه پرې وا نه چوي.د دې نظر خاوندان یو لړ فاکتونه او دلیلونه وړاندې کوي چې ځینو ته به یې ګوته ونیول شي. د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو د تګلارې په اړه د هر چا څخه زیات زلمي خلیل زاد بشپړ معلومات درلود. هغه د استازي په نامه د خپل کتاب په ۱۲۶ مخ کې راوړي : « پردې سربېره موږ د طالبانو پر ضد درې – ګامه ستراتېژي را منځته کړې وه ، لومړی، یو امریکایي استازی به د طالبانو رژیم ته اخطار ورکړي چې له القاعدې سره خپلې اړیکې پرې کړي. که طالبان په دې برخه کې همکاري نه کوي نو متحده ایالات به په افغانستان کې د کورنۍ جګړې بندولو په موخه له طالب ضد ډلو سره پټې مرستې زیاتې کړي او د القاعدې پر مېشت ځایونو به د بریدونو لپاره ځایي ملیشه ځواک را منځته کړي ، پر دې سربېره متحده ایالات به د طالبانو د راپرځولو په موخه د نړیوال ایتلاف پر جوړولو لاس پورې کړي...، د مرستیاالانو غونډې د سپتمبر په لسمه نیټه پلان ومانه ، پلان د سپتمبر په یوولسمه د ولسمشر لاسلیک ته چمتو شو.» د خلیلزاد له لیکنې ښکاري چې د سپتمبر د یوولسمې پېښې یوه ورځ مخکې د اسلامي امارت د نسکورولو په موخه د امریکې پلان جوړ شوی دی او عجیبه دا ده چې د سپتمبر د یوولسمې پېښې په ورځ دا پلان د امریکې د ولسمشر د لاسلیک کولو په موخه چمتو شوی دی . سلیم عقل خو دا نه مني چې دپلان چمتو کېدل او د سپتمبر یوولسمه ترهګریزه پېښه تصادفا په یوه ورځ شوې وي. همدا رنګه میخایل شودوفسکي لیکي :«په واقعیت کې د امریکې د نوې جګړې لپاره پلان جوړونه د سپتمبر د ۱۱ نیټې د غمجنې پېښې څخه څه کم درې کاله مخکې پیل شوې وه .» ۲۴۲/ ۱۱۴ همدا راز دا خبره چې « په کال ۱۹۹۷ کال په متحده ایالتو کې یو غیر دولتي سازمان او فکري مرکز ( د یوې نوې امریکایي پېړۍ لپاره پروژه ) ( پی ان سي) نومېږي جوړ شو ...، د تمرکز ډګر یې د امریکا بهرنۍ سیاست او په نړۍ کې د امریکا لېډرشیپ ته پراختیا ورکول ټاکل شوي وو. نوموړي بنسټ په ۲۰۰۰ کال کې ګزارش خپورکړ، ورځپانو هغه ( پر نړۍ باندې د امریکا د واکمنۍ ابتدایي طرحه) وباله.ګڼ شمېر څېړونکو ، سیاستوالو او د جګړې ضد غورځنګ فعالینو دغه ګزارش د هیټلر ( زما مبارزه ) کتاب سره په تله برابر وګاڼه.په ګزارش کې د منځني ختیځ په اړه په څرګنده توګه ، د ټولو هغو طبعي زېرمو چې لا نه دي ایستل شوي، په تېره بیا د تېلو او ګازو د زېرمو نیونه ، د نویو پوځي اډو جوړونه او د اړتیا په صورت کې د رژیمونو بدلونونه غوښتل شوي دي » ۲۴۰ / ۴۰ بنیي چې پر افغانستان برید مخکې پلان شوی وو. د زلمي خلیلزاد په وینا د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته واشنګټن داسې طرحه وړاندې کړه چې« له مخې یې متحده ایالتونه باید د هر ناانډوله سیال د راپورته کیدو مخنیوی وکړي . په طرحه کې زیاته شوې وه : زموږ لومړۍ موخه د پخواني شوروي اتحاد په بڼه یا بله سیمه کې د هر هغه سیال د بیا راپورته کیدو مخنیوی وي ، چې موږ ته د پخواني شوروي په څیر ګواښ زیږوي. موږ د خپلې طرحې پر بنسټ پتېیلې وه چې د سړې جګړې او نورو سترو شخړو د مخنیوي په موخه د دوه قطبي او څو قطبي نړۍ د راپورته کیدو مخه ونیسو.» ۲۴۳/ ۹۹هغه مهال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکې ستراتژیستان پدې پوهېدل چې د افغانستان شاوخوا کې د داسې ځواکونو د راڅرګندېدو شونتیا لیدل کیږي چې په نړۍ د امریکې د لیډرشپ او هژمونیستې تګلارې په وړاندې ودریږي لدې کبله د هغوی د خوځښتونو د څارنې او ورته د ستونزو د جوړلو په موخه اړینه بریښیده په سیمه کې پوځې او استخباراتي شتون ولري چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت له کبله مناسب ځای وو. له همدې کبله یې پردې هیواد د یرغل نقشې جوړولې او د پلې کولو لپاره یې فرصتونه لټول. همدا لامل وو چې واشنګتن د سیمه ئیزه ځواکونو سره د طالبانو د راپرزولو په موخه سلامشورې هم سرته رسولي وې.
پدې اړه شته لاسوندونه ښیي چې سپینه مانۍ د ۲۰۰۱ کال د جولای په میاشت کې دې پریکړې ته رسیدلې وه چې «په افغانستان کې پوځې عملیات د واورې د اورېدو نه، چې تر ټولو ناوخته نیټه به یې د اکتوبر منځ وي ترسره شي.» ۲۴۴ د جینز نړیوال امنیت په نامه له بریتانیا څخه خپریدونکې پوځې ستراتژیکې مجلې د ۲۰۰۱ کال د مارچ په پنځلسمه رپوټ ورکړ چې د امریکې نوي حکومت له هند، ایران او روسیې سره ګډ « په افغانستان کې د طالبانو د حکومت پرخلاف جبهه جوړوي. هند پوځې سامان آلې ، سلاکاران او د څرخې الوتکو تخنیکران د شمال ټلوالې په واک کې ورکوي او همدارنګه هند او روسیه دواړه د خپلو عملیاتو لپاره په تاجکستان او ازبکستان کې له پوځې اډو ګټه اخلي.» همداراز د اندیا ریکټز هندي مجلې د ۲۰۰۱ کال د جون په شپږویشتمه د طالبانو د حکومت پرخلاف د امریکې د متحده ایالتونو، هند، روسیې او ایران د ګډ چلند په اړه نور جزئیات په ډاګه کړل « که چیرې پر طالبانو لګیدلې نوې سخت اقتصادي بندیزونه د افغانستان بنسټپال حکومت پر ګوندو نکړي.نوهند او ایران به د طالبانو خلاف د یوه (متحد پوځې ګوزار) په مهال د امریکا او روسیې تر څنګ ودریږي.» د ۲۰۰۱ کال د جون د میاشتې په پیل کې ولادیمیرپوتین د روسیې ولسمشر د همکټوهیوادونو په غونډه کې څرګنده کړه چې د طالبانو خلاف پوځې ګوزار مخکې دی. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په اتلسمه د بي بي سي خبریال جورج آرني د پاکستان د بهرنیو چارو د پخواني وزیر نیازنایک له خولې رپوټ ورکړ چې امریکایي چارواکو ورته د اړیکو د یوې نړیوالې ډلې د پلان په باب ، چې د ملګروملتو ترمشرۍ لاندې په برلین کې کتلې وو خبر ورکړی وو که بن لادن په لنډ وخت کې ونه سپارل شي ، نو امریکا به له پوځې وسیلو نه کار واخلي چې هم بن لادن او هم ملا عمر ووژني یا ونیسي. د نوموړو ټولو موخه دا ده چې د طالبانو رژیم راوپرزوي.» ۲۴۵
د دې رپوټ له خپریدو څلور ورځې وروسته د سپتمر په ۲۲ د ګارډین ورځپاڼې دا سناریو تائید کړه او د هغې پر بنسټ افغانستان ته ګوتڅندنه د هغه څلور ورځني کنفرانس په ترڅ کې وشوه چې د جولای د میاشتې په منځ کې د برلین په یوه میلمستون کې د امریکا، روسیې ، ایران او پاکستان د حکومتونو د استازو په ګډون جوړ شوی وو، دا د یو لړ هغو نارسمې کنفرانسونو په بهیر کې چې د افغانستان په اړه لیدموندنې ( نظریاتی) تر نامه لاندې جوړیدل دریمه کتنه وه. د دې غونډې ګډون کوونکې پرنایک سربیره دری پاکستاني جنرالان، په م،م کې د ایران پخوانی سفیرسید رجایي خراساني ، د شمال ټلوالې د بهرنیو چارو وزیر عبدالله ، د افغانستان لپاره د روسیې پخوانی استازی نیکولای کوزیروف او د روسیې ګڼ شمیر نور استازي او دغه راز ( امریکایان)، په پاکستان کې د امریکا پخوانی سفیرټام سمینر، د سویلې آسیا په چاروکې د بهرنیوچارو مرستیال وزیر کارل ایندفورت اولي کالدرین وو. دغه غونډه د افغانستان لپاره د م،م د هغه مهالني او اوسني ځانګړي استازي فرانسیس ویندرل لخوا وربلل شوې وه.
پدې اړه چې د سپتمبر د یوولسمې وړاندې پر افغانستان د یرغل نقشې جوړېدلې د قبرس د ډلې د مشر همایون جریر له هغې مرکې جوتیږي چې د ۲۰۲۳ کال د دسمبر په میاشت کې د بن د کنفرانس په اړوند د افغانستان انټرنشنل تلویزیون سره کړې ده هغه وایي: « د ۲۰۰۱ کال جولای او سپتمبر په ژنیو کې غونډې را بلل شوې وې چې د امریکا ، روسیې او ګاونډیانو استازو سربېره د قبرس ، روم او عبدالستار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیرت ډلو پکي برخه لرله. سیرت وروسته د روم د ډلي سره یوځای شو. د غونډې آجندا د اسلامي امارت راپرزول، د راتلونکي حکومت په جوړښت او په افغانستان کې د ناټو د پوځیانو ځای پرځای کول وو. یوه امریکایي د راتلونکي حکومت د احتمالي مشرانو عبدالحق ، کرزي او پاچا خان ځدران څخه یادونه وکړه . غونډو دوام درلود چې د سپټمبر پېښه وشوله او د م، م استازی غونده ختمه اعلان کړه چې وروسته به غونډو ته دوام ورکړو . څه موده وروسته د بن کنفرانس را وبلل شو.» له پورتنیو څرګندونو څخه ښکاري چې د سپټمبر د یوولسمي پیښه د افغانستان د اشغال لپاره یوه پلمه شوې ده. د امریکي له لوري پر افغانستان د یرغل لپاره هراړخیز چمتووالی هغه وخت بربنډ شو چې د امریکي د ملي امنیت مؤسسي اعلان کړل چې« د ازبکي، عربي او افغاني ژبو متخصصینو لپاره اړتیا لري. دا مؤسسه په پام کې لري پدې سیمه کې پوځي تطبیقات ترسره کړي چې په هغو کې به سلګونه امریکایي ، ازبک ، قزاق ، قرغز او ترک پراشوتیستان ګډون وکړي.» ۲۴۶عجیبه دا وه د هغو تطبیقاتو خبره کیدله چې امریکایانو، ازبکانو ، قزاقانو، قرغزانو او ترکانو پکې ګډون کاوه خو د افغاني اوعربي ژبو متخصصینو ته هم اړتیا وه. دې دا معنی لرله چې پر افغانستان اوعراق یرغلونه پلان شوي وو چې د پورتنیو هیوادونو له خاورې نه ګټه پورته شي ځکه افغاني او عربي ژباړونکو ته اړتیا وه. سربیره پردې هغه مهال کله چې «پنټاګون په افغانستان باندې د یرغل نقشي نهایي کولې د امریکې د بهرنیو چارو وزارت هم د افغانستان له لارې د پایپ لاین نقشي نهایي کولې، له همدې امله د امریکې سفیره په پاکستان کې د پاکستان د انرژۍ له وزیر سره ګوري او د پایپ لاین د طرحې په اړه ورسره مذاکره کوي.»۲۴۷ وروستی دا چې د هالیووډ ډایرکټر، فلم جوړونکی ، بزنسمن او سیاسي فعال آرون روسو وایي چې نیک روکفلر ورته« د۱۱ – ۹ پېښې له پیښېدو یوولس میاشتي د مخه وویل ، یوه پیښه پیښېدونکي ده او د دغه پیښي له امله به موږ پر افغانستان تېری وکړو، ترڅو د کسپین سمندرګي له پایپلاین څخه کار واخلو. موږ به پر عراق هم برید وکړو ترڅو د تېلو زیرمې خپلې او په منځني ختیځ کې یوه ( نظامي) اډه جوړه کړو...» ۲۴۸ د سپټمبر د یوولسمې پېښې وروسته شپږ ورځو کې د امریکې د دفاع وزیردونالد رامسفلد ویلي وو:« که جګړه د نړۍ سیاسي نقشې ته تغییر ورنکړي ، د امریکې متحده ایالات به خپلې اصلي موخې ته ونه رسیږي، باید وویل شي چې یو ستر ارزښت پدې اړین بدلون کې نغښتی دی.» د رامسفلد خبره ښیي چې واشنګټن هوډ درلود چې د ترهګرۍ سره د مبارزې په نامه په سیمه کې د افغانستان سربیره په هغو هیوادونو ورودانګي چې د امریکې ډیکټې ته غاړه نه ایږدي، هلته د خپلې خوښې حکومتونه واکمن کړي چې معنی یې د نړۍ د سیاسي نقشې اړول وو. ددې سربېره د سپټمبر د یوولسمې وړاندې امریکایانو د خپل یرغل لپاره عملي اقدامات پیل کړي وو چې هغه د طالب ضد ځواکونو او طالب ضد څېرو متحدول وو. «د ۲۰۰۱ م کال له پیله په دوبۍ ، پاکستان، تاجکستان او لویدیزو هېوادونو کې د سي آی اې له لوري زاړه قوماندانان، له طالبانو سره جنګېدونکي مخالفین او یو شمېر بهر مېشته افغانان سره جرګه کېدل او د طالبانو پر ضد د یوې داخلي ځواکمنې جنګي جبهې د جوړولو لپاره تېز کار روان وو، چې د بري په صورت کې له داخل نه د یوه ملي قیام نوم ورکول شي او د امریکا مداخله په ظاهره تثبیت نشي. » ۲۵۸/۲۵۹ – ۲۵۹ خو امریکایان بریالي نشول چې د افغانستان د ننه د طالبانو خلاف پاڅون تنظیم کړي. پدې لار کې د امریکا ملګرتیا پښتنې ضد شمال تلوالې لرله او په پښتون توکمه وګړو کې د حاجي عبدالقدیر، حامد کرزي او ګل آغاشیرزي کورنیو ور سره همکاري کوله.

پر دې بنسټ ویلی شو وروسته له هغې کله چې د طالبانو او یونیکال ترمنځ د نللیکې د غځیدا په اړه خبرو نتیجه ورنکړه، امریکایانو، ملګرو ملتو او سیمه ئیزو ځواکونو پرافغانستان د یرغل پلانونه جوړول. او په پوره ډاډ حکم کېدای شي چې پرافغانستان د امریکي – انګریز پوځي یرغل د سپټمبر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوولسمي نیټې له بریدونو سره هیڅ تړاو نلري. پدې افغاني ضد پلانونو جوړولو کې د م، م ښکېلتیا د فیډل کاسترو په هغه وینا د صحت مهر لګوي چې د ملګروملتو سازمان د سي آی اې ملکي څانګه ده.

## حمله که توطېه ؟

یو شمېر څېړونکي او پوهان د سپتمبر یوولسمه غمجنه پېښه د امریکې او اسرائیلو ګډه توطئه ګڼي. پدې اړه د توطئې د تئوری پلویان لاندې دلیلونه وړاندې کوي .

۱ - سره لدې چې د امریکې دولت سیګنالونه او رپوټونه لرل چې یوه ناوړه پېښه د القاعده لخوا کیدونکې ده ولې یې اړین تدبیرونه ونه نیول او ترهګر یې پریښودل خپله نقشه پلې کړي ترڅو دولت ته پلمه پلاس ورشي پر افغانستان برید وکړي او د ترهګرۍ سره د مبارزې په نامه« د نړۍ سیاسي نقشې ته تغییر ورکړي. » که د دولت روایت و منل شي دلته دا پوښتنه را پیدا کیږي کله چې ترهګرو د الوتکو د کنټرول د ترلاسه کولو په بهیر کې له پیلوټانو سره مجادله کوله او دا ټول د رادار پواسطه د کنټرول د مرکز څخه لیدل کیدل او بیا الوتکو خپل مسیر بدل کړ ولې هڅه ونشوه چې د تښتول شوو الوتکو مخه و نیول شي ؟ سربیره پردې ولې د پیښې وروسته د اف بی آی ، سي آی اې او نورو اړونده بنسټونو مسئولین په دنده کې د غفلت له امله مجازات نشول ؟

۲- د پیښې څو ګړۍ وروسته بوش په یوه پوځي اډه کې د صلیبي جګړې یادونه وکړه. همدا راز د ټلویزیون په پردو داسې تصویرونه خپریدل چې فلسطینیان د ترهګریزو بریدونو څخه خوښي ښیي خو وروسته څرګنده شوه چې دا تصویرونه حقیقي نه بلکې د آرشیف څخه اخیستل شوي وو. د صلیبي جګړې یادول او د فلسطینیانو د خوښۍ د جعلي تصویرونو ښودنې دا معنی لرله چې په اسلامي هېوادونو باید برید وشي.

۳- د نیویارک په سوداګریز مرکز کې چې خاوند یې یهود وو ۴۰۰۰ یهودانو کار کاوه خو پدې ورځ دا یهودان کار ته نه وو راغلي . په قربانیانو کې یوازې پنځه تنه یهودان وو.

۴- د پیښې په اړه په چمتو شوي رپوټ کې دولت قصداً داسې مسئلې حذف کړې دي چې د دې پیښې د پېښیدو او په تیره د پیښې د مخنیوي په اړه د امریکا یي مقاماتو ناغیري ، په پیښه کې د سعودي حکومت ښکیلتیا او د اسامه د نه نیولو لیوالتیا ته پام را ونه ګرځي. امریکایي پروفیسور دیوید رۍ ګریفن « د۱۱ سپتمبر د تحقیق د کمیسیون ویلې او ناویلې» په نامه خپل کتاب کې راوړي چې په ۵۷۶ پاڼیز رپوټ کې د۲۰۰۱ کال د جون په میاشت کې په دوبۍ کې د اسامه سره د سي آی اې د مامورانو او د سعودي عرب د څارګرۍ اداري د مشر لیدنې نه تر سترګو کیږي . د رویټر خبري آژانس په حواله د سپتمبر تر پیښې دوې میاشتې مخکې د اسامه بن لادن او د سي آی اې مامورینو ترمنځ د دوبۍ د متحده اماراتو په امریکایي روغتون کې چې د پښتورګو د ناروغیو په خاطر بستري وو ، لیدنې وشوې چې حالت یې د ښه کیدو وو...، په روغتون کې دا لیدنه د فرانسې د فیګارو ورځپاڼې د۲۰۰۱ کال په اکتوبر کې تائید کړه او بیانوي : د۲۰۰۱ زکال د جون په میاشت کې دوبۍ د اسامه بن لادن او سي آی اې د محلي مامورینو د ملاقات ځای وو. د نوموړي روغتون د اداري برخې یو مامور وایي چې د خلکو لومړی درجه دښمن د جون ( ۴ تر۱۴ ) نیټې پورې په همدغه روغتون کې بستري وو...، د فیګارو رپوټ د څو نورو ورځپاڼو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لخوا تائید شوی دی چې د هغې ډلې څخه یې لندن ټایمز هم تائیدوي : اسامه بن لادن د دوبی په امریکایي روغتون کې د یوولسو ورځو په جریان کې د کانادایي یورولوژیست ډاکټر تري کالويي تر درملنې لاندې وو. » ۲۴۴/ ۵۰ ، ۵۳ همدارنګه « د سي پی اې شبکې د ویاند، دن رادر له قوله د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په لسمه د پیښې یوه ورځ مخکې اسامه بن لادن بیا ناروغه شو خو دا ځل د پاکستان په مهربانۍ چې د امریکې همپشنی متحد دی د پاکستان پوځي اطلاعاتو سی بی اس ته وویل چې اسامه بن لادن د راولپنډۍ په پوځي روغتون کې بستراو تر درملنې لاندې وو...،احمد رشید چې د طالبانو په تړاو یې ډیرې لیکنې کړې دي وايي چې د سپتمبر ۱۱/۹ تر پیښې مخکې په اغلب ګومان پوځیان د هغه سره د مرستې لپاره هلته وو.» سره لدې چې د ملګروملتو د امنیت د شورا د۱۲۶۷ لمبر پریکړې( ۱۵ اکتوبر ۱۹۹۹ ) له مخې چې باید طالبان بن لادن یوې صلاحیت لرونکې مرجع ته تسلیم کړي امریکایي، سعودي او پاکستاني څارګرو له اسامه سره اړیکې ساتلې او د هغه درملنه یې هم کوله. د دې څخه ښکاري چې امریکایي مقاماتو د اسامه د نیولو پلان نه درلود بلکه د هغه څخه یې د یوې پلمې او تبلیغاتي وسیلې په توګه کار اخیست ، ترڅو پر افغانستان یرغل وکړي او پدې کار کې سعودي او پاکستاني مقامات ورسره همغږي وو. همدارنګه ویلیام رودریګز چې د۱۱/۹ پېښې وروسته یې په سوداګریز مرکز کې ګڼ شمیر کسان وژغورل او د اتل لقب یې تر لاسه کړ ادعا کوي چې د ده څخه پدې اړه دده سره مرکه وشوه خو د امریکې د دولت په رسمي رپوټ کې یې نه نوم شته او نه یې څرګندوني . ځکه ددې امریکایي نوم او څرګندوني په رپوټ کې نشته چې څه موده وروسته یې پدې پېښه کې امریکایي مقامات ښکېل وګڼل.

۵ ـ هغه څه چې د دې پیښې د پیښیدو په اړه د کارپوهانو، سیاستوالو او شاهدانو شکونه زیاتوي چې دا یوه جعلي پیښه یا توطئه وه د هغو کسانو څارنه ، تهدید او مرموزې وژنې دي چې د امریکې د دولت له روایت سره همغږي نه وو.

۶- عجیبه دا ده چې د نیویارک په نړیوال سوداګریز مرکز په دوو ودانیو یوه یوه الوتکه ولګیدله خو یوه بله ( اووم لمبر ) فولادي اسکلیټ لرونکې ودانۍ هم ونړېده . د اووم لمبر ودانۍ نړیدنې دا پوښتنه را وزیږوله چې څه ډول یوه پخه د فولادي ستنو اسکلیټ لرونکې ودانۍ د عادي اور لګیدنې له کبله په بشپړ ډول ونړیږي. انجینران او د تاسیساتو د ورانولو متخصصین پدې اند دي چې د ودانیو دا ډول عمودي او ګړندي نړیدل یوازې هغه مهال شوني دي چې په ودانۍ کې د ننه څخه چاودیدونکې توکي کارول شوي وي . د جم هافمن په نامه امریکایۍ متخصص د خپلو څیړنو د پایلوپه اړه لیکي : « د سوداګریز مرکز په خاورو او دوړو ( ګرد) کې منفجره اور اچوونکي توکي (ناتوترمیټ) کشف شوي دي ترڅو د نیویارک د ښار آسمان ځکې ونړول شي.» ستیون ارل جونز د هستوی فزیک پروفیسور وايي چې د ودانیو د نړیدو۹۹ په سلو کې توکي او مدارک ورک شوي دي، نوموړی په یوه څیړنیزه لیکنه کې دې پایلې ته رسېدلی دی چې «د۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۱ فولادي اسکلیټ لرونکې ودانۍ د اورلګیدنې له امله ندي نړیدلې، بلکې ودانۍ د قوي چاودېدونکو توکو لکه ترمیټ او ناتوترمیټ چې د وسپنې او الومینیم ترکیب دی او د وسپنې ویلوونکي مواد تولیدوي نړیدلي دي.» له بله پلوه عیني شاهدان هم د ودانیو د ننه د چاودنو خبره کوي چې د الوتکو د لګېدو څو شیبې مخکې یې اوریدلي دي. د(۱۱-۹سرګردانه فلم) جوړونکي وايي :«د۲۰۰۱ د سپتمبر په ۱۱سهار د نیویارک غبرګوني د الوتکو د سون موادو و نه نړول، برجونه د امریکا امنیتي سازمان وران کړل.» ویلیام رودریګز چې شل کاله یې په سوداګریز مرکز کې کار کړی او د پیښې پر مهال د ودانۍ د ځمکې لاندې لومړي پوړ کې وو وايي چې ده او همکارانو یې د برج د لاندې پوړونو څخه د چاودنو غږونه اوریدلي او همدارنګه د یوه کس چې اور یې اخیستی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د لاندې پوړ څخه د لفت له لارې راپور ته شو یادونه کوي. رودریګز په هماغه ورځ ګڼ شمیرکسان وژغورل، ځکه هغه داسې کلي لرله چې د ودانۍ ټول قلفونه پرې خلاصیدل. د دې کار له امله هغه ته د امریکې او د سپتمبر د یوولسمې اتل لقب ورکړل شو. په نړیوالو ورځپانو کې هم پرې تبصرې وشولې. خو کله چې نوموړي په ۲۰۰۴ کې په جورج ډبلیوبوش او ځینو دولتي ماموړانو په فدرال محکمه کې پدې پیښه کې د لاس لرلو شکایت وکړ د ده د اتلوالۍ کیسې ختمې شوې ، وګواښل شو، د اوباما په واکمنۍ کې لنډه موده زنداني هم شو او د درواغجن اوغولوونکي تورونه پرې ولګول شول. وروسته لدې هغه په رسنیو کې د جورج بوش سره خپل خپور شوی انځور د شیطان سره یادګاري انځور یادوي. د اووم لمبر ودانۍ د نړیدو په هکله د ۷۹ کلن امریکایي مهندس (مالکوم هاوام) چې ۳۶ کاله د سي آی اې غړی وو او د تخریباتو تخصص یې هم درلود د نیوجرسي په روغتون کې د مرګ په حالت کې ویلي چې دی د هغه څلور کسیزې ډلې څخه یو تن وو چې اووم لمبر ودانۍ یې ونړوله.

۷- د پیښې وروسته دوه سوه تنو تجربه لرونکو امریکایي پیلوټانو غونډه وکړله او یوه ګډه وینا یې خپره کړه چې پکې راغلي وو:«بې تجربې پیلوټان نشي کولی الوتکې له برجونو سره وجنګوي. »هغوی پخپله وینا کې پدې ټینګار کوي چې « امریکا د داسې پرمختللې تکنالوژۍ شوتیاوې لري چې الوتکه بیله پیلوټه والوزوي او د هر هدف سره یې چې غواړي وجنګوي.» څرګنده بېلګه یې ډرون الوتکې دي.

۸- یو شمیرڅیړونکي،کارپوهان او شاهدان په پنتاګون(دفاع وزارت) باندې د الوتکې د لګیدنې دولتي ادعا ناسمه ګڼي او په پنتاګون کې هم وراني د توغندي لګیدنه ګڼي ځکه چې د ودانۍ په دیوال کې رامنځته شوی سورری کوچنی دی او د الوتکې او د مسافرینو د توکو هیڅ نښې نښانې په سیمه کې تر سترګو نشوې . د وزارت د پارکینګ کامره یوازې د یوه توکي چې دود یې تعقیبوي او د ودانۍ په لور حرکت کوي ښیي. پنتاګون ته ورته په پنسلوانیا کې د راغورزیدلې الوتکې او د انسانانو د بدن یا بکسونو نښو نښانو شتون نه درلود. عجیبه دا ده چې هیڅ ځای د الوتکو تور بکس پیدا نشو.

۹- پروفیسور دیویډری ګریفین امریکایي لیکوال ادعا کوي چې د نولس تنو الوتکو تښتوونکو څخه چې دولت اعلان کړل شپږ تنه ژوندي دي. یو د هغو څخه (عبدالعزیزالعمری) نومیږي. هغه د پیښې پنځه ورځې وروسته د سپتمبر په شپاړسمه د عربستان د جدې په ښار کې د امریکې کونسلګرۍ ته مراجعه وکړه چې ولې یې نوم د ترهګرو په ډله کې چې ګواکې ووژل شول راوړل شوی دی او بل نفر د (ولیدالشهری) په نامه چې په امریکې کې یې د پیلوټۍ زده کړې ترسره کړې وې د ۲۰۰۰ کال د سپتمبر په میاشت کې له امریکې څخه وتلی وو خو نوم یې د ترهګرو په نوملړ کې راغلی دی.

۱۰ - هغه کسان چې د امریکې د رسمي روایت سره همغږي نه دي ځورول شوي او یا وژل شوي دي چې کورت سانفیلد یو له هغو څخه دی. کورت سانفیلد په بیړنیو شرایطوکې د مرکزي اطلاعاتو د سازمان پخوانی مامور او عکاس د څلورو عکاسانو څخه لومړی کس وو چې د صفر ټکي یا د چاودنې سیمې ته یې ځان ورساوه وایي: « داسې ویډیو په لاس کې لرم چې د تخریب له امله ډبرې په کوچنیو ټوټو او خاورو اوښتې وې. » نوموړی د خپلې میرمنې د وژنې په تور زنداني شو ،محکمې برائت ورکړ خو د محکمې له پریکړې وروسته بیا هم څلورمیاشتې په زندان کې وساتل شو. کله یې چې د خپلې ادارې څخه پدې اړه پوښتنه وکړه ورته وویل شول چې تاسې « تهدید» حسابیږئ خو کله چې له زندان څخه آزاد شو دفتر او کور یې تلاشي شوي وو کمپیوټراو ځینې فیتې وړل شوې وې. کور یې د دوامدارې څارنې لاندې وو او لدې کبله اړشو ارجنټاین ته پناه یوسي. په کال ۲۰۱۰ کې د امریکې دولت د ارجنټاین

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دولت څخه وغوښتل هغه امریکې ته وسپاري خو ارجنتاین ورسره ونه منل. هغه په ارجنتاین کې د( ځورول شوي) په نامه کتاب ولیکه چې د خپل ژوند سربېره د سپتمبر د یوولسمې نیټې په اړه معلومات پکې لیدل کیږي. هغه په پوره ډاډ سره وایي چې د پېښې څخه دولت خبر درلود او امنیتي سازمانونه له سیمې وتلي وو.

## د ناین الیون وروسته بله نړۍ

د ملګرو ملتو د سازمان مقر د نیویارک د سودا ګریز مرکز څېرمه پروت دی او د دې نړیوال سازمان استازي په سوداګریز مرکز د الوتکو د لګېدنې له امله د آسمانڅکو(۱۱۰ پوړیزې ودانیو) د نړېدو او د اورونو لمبې لیدلې چې ببله کومه شکه یې هغوی هک پک کړي وو . کله چې بریدونه ختم شول د دې سازمان د امنیت شورا غړو وړاندیز وکړ چې پدې اړوند بېړنۍ غونډه را وبولي خو مشر یې پدې دلیل چې اکثرا کارکوونکي وتلي دي اود دې وېرې له امله چې بیا برید ترسره نشي د غونډې را بلل وځنډول . یوه ورځ وروسته د سپتمبر په دوولسمه د ملګروملتو امنیت شورا غونډه وکړه او ۱۳۶۸ لمبر پرېکړه لیک یې صادر کړ. دا پرېکړه لیک نړیوالې سولې او امنیت ته د تروریستي فعالیتونو د ګواښ په اړه وو نه پر افغانستان برید. پرېکړه لیک په امریکا غبړ کوي چې برید کوونکي او د برید طرحه کوونکي محکمې ته را کش کړي او د برید مرستندویان ، ملاتړي او ځای ورکوونکي په جزا مسؤل دي.البته مرستندویان ، ملاتړي او ځای ورکوونکي م، م ته مسؤلیت لري نه امریکا ته. پرېکړه لیک امنیت شورا ته واک ورکړ چې د خپل منشور له مخې خپل مسؤلیتونه اجرا او اړین اجرآت وکړي. امنیت شورا د دې پېښې په اړوند د سپتمبر په اته ویشتمه بله غونډه را وبلله او ۱۳۷۳ لمبر پرېکړه لیک یې تصویب کړ چې اصلي ټکي یې دا وو:

- د ترهګرو د پیسو کنګلول او یا ضبطول
- د ترهګرو سره مرسته جرم شمېرل
- د ترهګرو په اړه د معلوماتو تبادله
- د ترهګرو څارنه ، تعقیب او نیونه.

که چېرې دواړو پرېکړه لیکونو ته وکتل شي په هغو کې د پېښې د عاملانو په وړاندې د ځواک د کارولو څه نشته خو په پرېکړه لیک دا ډول څرګندوني په« امریکا غبړ کوي چې برید کوونکي او د برید طرحه کوونکي محکمې ته را کش کړي او د برید مرستندویان ، ملاتړي او ځای ورکوونکي په جزا مسؤل دي» په واقعیت کې امریکا ته شین څراغ ښودلی دی چې د برید ورکوونکو د ډلې مشر ته جزا ورکړي . ځکه واشنګتن ادعا وکړه چې دا برید د القاعده شبکې کار دی چې مشر یې اسامه بن لادن په افغانستان کې پناه اخیستې ده.همدا لامل وو چې د دې پېښې څه کم یوه میاشت وروسته د اکتوبر په اوومه امریکایي ـ انګریزي ځواکونو په افغانستان یرغل وکړ. په داسې یوه هېواد یرغل چې په پېښه کې یې یو تن هم نه لیدل کېده. دې نړیوالې مؤسسې چې اصلي دنده یې په نړۍ کې د سولې او امنیت ساتل دي پر افغانستان د برید په وړاندې هېڅ غبرګون ونښود پدې توګه یې خپلو مسؤلیتونو ته شا وګرزوله.پدې اړه په ملګروملتو کې د ناروې سفیر چې هغه مهال ناروې د امنیت د شورا غړیتوب درلود د یوه خبریال د پوښتنې په ځواب کې داسې وایي:" موږ ټول په شوک او اندېښنه کې وو...، ما په هغه وخت کې ببله دې چې سوچ وکړم په زغرده مې د ترهګرۍ پرضد د جګړې سره موافقه وښوده ځکه زما په اند دغه برید پر موږ ټولو برید وو...، کله چې په پرېکړه لیک کې موږ ټول مکلف کړل چې د ترهګرۍ پرضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید له ټولو وسایلو کار واخیستل شي . په طبیعي ډول پوځي وسایل یې هم په غېږ کې نیول...» ۲۵۰ هېره دې نه وي د دې پېښې وروسته د پېښې انځورونه په پرله پسې توګه نړیوالو ټلویزیونو خپرول او د هغو ترڅنګ یې د عاملانو خلاف تبلیغاتو زور اخېست چې په نړۍ کې یې یوه عاطفي څپه را منځته کړه تر دې چې د چین او روسیې په څېر د امریکا مخالف دولتونو هم د امریکا سره ملګرتیا ته چمتو شول. دا د دې معنی لرله چې د ناین الیون وروسته نړۍ بدله شوې وه.خو دې حالت یوې لسیزې هم دوام ونه موند. په سوداګریز مرکز د برید دوولس ساعته وروسته د واشنګټن په وخت د شپې په اته نیمو بجو د امریکا ولسمشر جورج بوش ملت ته وینا وکړه چې برید یې د القاعده شبکې کار وګانه ښځه دې چې پدې اړه څېړنې شوې وي او دا یې هم وویل چې" مونږ به د هغه کسانو او هغو دولتونو چې هغوی ته یې پناه ورکړې ده توپیر ونکړو."د دې خبرې څخه ښکاره وه چې امریکا د القاعده شبکې ته د سزا ورکولو په نامه پر افغانستان د برید هوډ لري ځکه چې د القاعده مشر اسامه بن لادن د رباني د واکمنۍ راهیسې په افغانستان کې ژوند کاوه. د ملګرو ملتو د سازمان مشر کوفي عنان د امریکې دیپلوماتیکو هڅو او د پوځي عملیاتو چمتووالي ته په کتو سره د برید څخه دیارلس ورځې وروسته د سپتمبر په څلېرویشتمه د دې مؤسسې عمومي اسامبلې ته د کلني رپوټ د ورکولو په ترڅ کې وویل چې امریکې ته د نیویارک د پېښې له امله رسېدلی تاوان دا حق نه ورکوي چې د ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه په هرکار لاس پورې کړي .هغه د (اې بي سي) په یوه ټلویزیوني پروګرام کې د امریکایي خبریال (دیان سویر) د پوښتنې په ځواب کې وویل« د م،م مخکنی پریکړه طالبان دې ته اړباسي چې بن لادن م،م ته وسپاري .که طالبان دغه غوښتنې ته هرکلی نه کوي ترتعزیراتو لاندې به راشي . خو د نظام بدلول د افغانانو کار دی نه د بهرنیانو.» ۲۵۱ مخکې ویل شوي وو چې امریکا لا د مخه پر افغانستان د یرغل تابیا نیولې وه. همدا لامل وو چې د خلیل زاد په وینا د سپتمبر په یوولسمه پر افغانستان د یرغل پلان د بوش د مېز پرسر د لاسلیک لپاره اېښودل شوی وو . البته د سپتمبر د پېښې وروسته پر افغانستان برید ته چمتووالی چټک شو اوامریکایان په دوو( سیاسي او پوځي) برخو کې لاس په کارشول .

الف- په سیاسي برخه کې د امریکایانو هڅې په دوو استقامتونو متمرکزې شوې.د امریکا یوه ډله دیپلوماتان ،پوځیان او څارګر پرافغانستان د پوځي یرغل په موخه د تلوالې په جوړولو لګیا شول . په لومړي ګام کې انګلستان د امریکایانو دې غوښتنې ته هرکلی وکړ او د افغانستان د اشغال وروسته شا وخوا پنځوسو دولتونو خپل پوځیان افغانستان ته واستول. د افغانستان دا ډول ډله ییز اشغال ته د اشغالګرو چوپړیانو نړیواله مرسته ویله. دوهمه ډله امریکایي سیاستوالو او څارګرو هڅې پیل کړلې چې د افغانستان شاوخوا هېوادونه وهڅوي خپله ځمکه اوهوا د امریکایانو د پوځیانو په واک کې کېږدي . د ترکمنستان پرته د افغانستان ټولو ګاونډیانو پدې لاره کې د امریکایانو ملګرتیا وکړه. پر بله خوا یې لوستي افغانان د طالبانو وروسته حکومت سره همکارۍ ته چمتو کول .پدې کار کې یې د زلمي خلیلزاد او اشرف غني په شان افغاني الاصله امریکایانو څخه ګټه پورته کړله. اشرف غني د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د ځانګړي استازي اخضرالابراهیمي سره د نړۍ هغو هېوادونو ته چې هلته زیات شمېر افغانان مېشت وو په سفر ووتل چې د دوی له انده با اعتماده افغانان او هغه هم په لوړو امتیازاتو دې کارته وموندي. پدې اړه عبدالکریم خرم لیکي :« کله چې د اسلام آباد په اشرافي سیمه کې د ښاغلي ګېلاني کور ته ورسېدو خدمتګارانو مېلمستون ته بوتلو.پیرصاحب او زامنو یې له الاخضر ابراهیمي سره ناسته درلوده.له نوموړي سره یو بل تن هم ملګری وو...، نوموړي (ابراهیمي ) دا یادونه هم وکړه چې همکار یې دا دنده لري چې د نوې ادارې له جوړېدو سره د نړۍ په هرګوټ کې کدرونه وپېژني او را یې ولي چې د ځانګړو امتیازاتو په بدل کې افغانستان ته راشي ...، چې کله مېلمانه رخصت شول د پیرصاحب له زوی نه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوښتل چې دغه سړی خو افغان ښکارېده ،دا څوک و ؟ هغه په ځواب کې راته وویل چې دا د اخضر الابراهیمي همکار ډاکټر اشرف غني احمدزی و.»۲۵۲ / ۱۵۶ د غني - ابراهیمي او نورو افغان توکمه امریکایانو او بهرنیو استخباراتي شبکو له لوري په لویدیځ او پاکستان کې غوره شوي افغانان د کرزي په اداره کې سترستر منصبونه لرل او د غني په واکمنۍ کې همدا کسان د واکمنۍ اصلي کړۍ وې چې افغانانو دوی ته ټامیان ویل. زیاترو یې مخکې د بهرنیو انجوګانو او د م ، م اړونده بنسټونو کې کار کاوه.

د انګریزانو په پوځ کې هغه پراشوټي پوځي ته ویل کېده چې د هوا له لارې د Tommy) ( ټامي - جګړې لیکې ته استول کېده ، دا چې جګړه به تر ډېره پلې عسکرو په مخ وړله، دوی ته په جګړه کې اړتیا نه پیښیده ، نو له دې امله دوی ته ټامیان یعني هغه کسان چې ځمکه نلري ویل کېدل . وروسته دا کلمه د پوځیانو په لیکو کې د ډارن، لټ، نازدانه او ښځونکي د پاره استعمالیده. د امریکایي اشغال پر مهال هغو دوه پاسپورته افغانانو ته ټامیان ویل کېدل چې له بهر څخه راغلي او په لوړو مقامونو ګومارل شوي وو. د دوی کورنۍ بهر ژوند کاوه او کله به چې له دندې ګوښه شول بېرته بهر ته تلل . ب – د ناین الیون د پیښې وروسته د امریکا ښارګر په پاکستان او افغانستان کې خورا فعال شول تر څو جهادي قوماندانان او د جهادي ډلو پلویان د طالبانو خلاف جګړې ته وهڅوي.لکه څرنګه چې شمال ټلواله په پنجشیر ، بدخشان او د تخار په یوه برخه واکمنه وه د امریکایانو اصلي موخه همدا مزدوره ټلواله وه . امریکایانو نه یوازې شمال ټلواله د اسلامي امارت خلاف جګړې ته چمتو کوله بلکې په پښتون توکمه سیاستوالو او جهادي قوماندانانو یې هم پانګه اچولې وه ترڅو پښتني قبیلې هم د طالبانو په وړاندې وجنګوي. پدې اړه رابرټ ال ګرینیر په پاکستان کې د سي آی اې سیمه ئیزمشر په خپل کتاب کې راوړي چې د طالبانو خلاف یې د پښتني قبیلو چمتو کول د سپتمبر د یوولسمې پیښې یونیم کال مخکې پیل کړي وو.« د ګېرې شیرون د کتاب په حواله حامد کرزی په پښتنو کې لومړنۍ څېره وه چې د طالبانو پرضد د امریکا د دولت سره ملګری شو. نوموړی د سپتمبر د یوولسمې نېټې څخه څو ورځې وروسته په اسلام آباد کې د سي آی اې له مامورینو سره وکتل .» ۲۵۳ امریکایانو د افغانستان د نیولو او یا په افغانستان کې د خپل پوځي او استخباراتي شتون په موخه راز راز نقشې لرلې چې اصلي نقشه یې د افغانستان تجزیه وه . دې موخې ته د رسېدو په خاطر یې هڅې پدې را وګرزولې چې له طالبانو سره یوه معامله وکړي. پدې موخه یې هم د طالبانو د مخورو سره لیدنې کتنې درلودلې او هم یې د پاکستان دوه پلاوي یو د آی اس آی د مشر جنرال محمود ترمشرۍ لاندې او بل د پوځیانو اوعلماوو ګډ پلاوي کندهار ته استوي ترڅو ملاعمرمجاهد وهڅوي د امریکایانو سره معامله وکړي خو هغه ورسره موافقه نه ده کړې . پدې اړه ویل کېږي چې امریکایانو غوښتل د دریو مسالو څخه پر یوې د طالبانو د امیر سره معامله وکړي .

لومړی - اسامه او ملګري یې امریکایانو ته وسپاري .

دوهم - د واخان ستراتیژیکه سیمه د امریکایانو په واک کې کېږدي .

دریم - د کندهار شاوخوا څو ولایتونو کې طالبان واک و چلوي او نورې سیمې د هغوی مزدورانو ته پرېږدي.

د ناین ایلیون وروسته جورج بوش په چین کې د روسیې ولسمشر پوتین سره وکتل او هغه ته یې د تور او سپین په نامه افغانستان د ویش وړاندیز وکړ .پوتین د توراو سپین معنی ترې پوښتلې وه .بوش ورته ویلي وو سپین افغانستان به د سالنګ شمالي برخه وي چې هلته به ستاسې پلویان لره کې (شمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلواله) واکمنه وي هلته به پرمختګ او تمدن روان وي. په تور افغانستان کې به طالبان واکمن وي ،هلته به جګړه وي.پدې اړه د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان په کابل کې کرزي ته چې په هغه مجلس کې مارشال فهيم او داودزي شتون درلود داسې ويلي وو:« پوتين د شانګهاى ترغونډې وروسته سملاسي تاجکستان ته راغى او زما څخه يې هيله وکړه چې د استاد رباني په شمول د شمال ټلوالي مشران ورته راوغواړم .ما هغه وخت استاد رباني را ونه غوښت ،خو فهيم خان او نور مشران مې ملاقات ته راوبلل ،سره لدې چې استاد رباني له ما څخه په ټينګه هيله وکړه چې له پوتين سره يې د ملاقات زمينه برابره کړم ،خو ما دا کار ونکړ، استاد رباني په همدې خبره له ماڅخه خفه دى...، پوتين ، فهيم او نورو ته د بوش پيغام ورساوه او د خپل هر ډول مستقيمي او نا مستقيمي مرستې ډاډ يې ورکړ، فهيم ورته يو موټى شګه لاس کې ونيوله ويې ويل :دې ته موږ ريګ وايو ،دې ته هلمند کې شګه وايي دا يوه مانا لري ،ټول افغانستان يو دى.» ۲۵۴ /۵۵۸-۵۵۷ د افغانستان د تجزيې په اړه يو طالب مشر وايي :« زموږ د حکومت وروستى ورځې وې ، موږ تر ډېر فشار لاندې وو، په شمال کې پر طالبانو بريدونه روان وو او هغه سيمې مو له لاسه ورکولې. دغه مهال د آى اس آى مشر جنرال محمود ما ته احوال را کړ چې د يوه مهم ملاقات لپاره کوټې ته د ده ليدو ته ورشم.زما کاري ساحه داسې نه وه چې له هغه سره دې سر اوکار ولرم .په هرصورت د ملامحمد عمرمجاهد له اجازې وروسته هلته ورغلم.له جنرال محمود سره د ليدو پر مهال نوموړي د افغانستان يوه لويه نقشه پرمېز وغوړوله او درى قلمونه يې چې بېل بېل رنګونه يې درلودل را واخېستل د نقشې پرمخ يې درى دايرې وکښلې .وې ويل چې موږ له امريکايانو سره هوکړې ته رسېدلي يو نور ستاسو حکومت ختم دى ،خو تاسو کولاى شئ چې په کندهار او شاوخوا سيمو کې پاتې شئ او حکومت وکړئ.نورې سيمې به د نورو کسانو په لاس کې وي.ما ونه منله ورته ومې ويل چې له ملامحمدعمر نه هدايت اخلم.کله مې چې په کندهار کې نوموړي(ملاعمر) ته دغه کيسه وکړه هغه دا معامله رد کړه، کلونه تېر شول او ما يوه دوره زندان هم تېرکړى و.يوه ورځ په يوه بهرنۍ هېواد کې په يوه غونډه کې يو بهرنى ماته را نږدې شو وې ويل چې زه يو امريکايي يم ،زه تا پېژنم خو ته مې نه پېژنې ،هغه ورځ دې چې په کوټه کې له جنرال محمود سره ليدنه وه او نوموړي يو وړانديز درته درلود چې تا ونه مانه .په هغه ورځ زما او ستا ترمنځ يوازې يو دېوال درېدلى و،که تا وړانديز منلى واى زه د څنګ له اطاق نه راتلم او هغه هوکړې ته مې رسميت ورکاوه.» ۲۵۲/ ۱۵۴- ۱۵۵ دا چې بوش پوتين ته وايي چې په جنوب کې به جګړې وي ، د دوو حالتونو څخه به يې يو وي .لومړى دا چې امريکايانو غوښتل په سويلي افغانستان کې داسې تګلاره عملي کړي چې هلته جګړه دوام ومومي او د دې برخې اوسېدونکي چې غوڅ اکثريت يې پښتانه دي د دې جګړو د سون توکي شي او دا قوم د ځمکې له سره ورک شي. دوهم لامل يې دا دى چې بوش پدې ښه پوهېده چې پښتانه د پرديو غلامي نه مني او د اشغالګرو په وړاندې به تر وروستي پښتونه جنګېږي چې بېله شکه د جګړې پر مهال د تمدن نښې نښاني له منځه ځي ښوونځي او مدرسې بندېږي چې دا د تورتم يا تور افغانستان معنى لري . دا هم ويل کېږي چې پاکستان په لاندې دريو شرطونو د افغانستان په نيولو کې مرستې ته چمتو شو :

الف- په افغانستان کې د ځواکمن پوځ د جوړېدو مخنيوى.

ب- د افغانستان د صنعتي کېدو مخنيوى.

ج- د افغان دولت له لوري د ديورند د فرضي کرښې منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د امريکا پوځي شتون يا شل کلن نيواک هم وښودل چې د پاکستان غوښتني منل شوي دي. د اشغال تر پايه امريکايانو افغان پوځ په پر مختللي پوځي تخنيک او تجهيزاتو لکه جيټ الوتکو ، اوږدمزل توغنديو او توپونو ، د دافع هوا او رادارسيستم سمبال نکړ. د اشغال په شلو کلونو کې د افغانستان د صنعتي کولو په موخه ګامونه اوچت نشول. په کرښه اغزن تار وغزول شو او د پاکستان له لوري په پوله تحکيمات جوړ شول چې دا د فرضي کرښې منل وو. هېره دې نه وي چې د شمال ټلوالې مخور او پلويان د امريکا خيالونو ته په کتو سره د سپتمبر د يوولسمې پېښې وروسته فعال شول چې د طالبانو په رانسکورولو کې د امريکايانو په چوپړکې د خپل هېواد په نيولو کې مرسته وکړي.د پېښې څلور ورځې وروسته عبدالرشيد دوستم د سپتمبر په پنځلسمه او برهان الدين رباني په شپاړسمه د بي بي سي سره په مرکو کې د طالبانو په ځپلو کې د همکارۍ چمتووالى وښود او د سپتمبر په نولسمه محمد يونس قانوني د امريکا ولسمشر ته ليک واستاوه چې منځپانګه يې د طالبانو د راپرزولو په موخه د امريکايي ځواکونو سره په ګډو پوځي عملياتو څرخېده.دلته د شمال ټلوالې د مشرانو ماهيت څرګندېږي چې واک ته د رسېدو په موخه د خپل هېواد پلورنې ته هم چمتو دي .وروسته لدې چې امريکايانو وطنپلورنکي و موندل « د سپتمبر په شپږويشتمه د زامې ماتوونکي په نامه دوولس کسيز پوځي ټيم افغانستان ته واستاوه، د هغوی سره يوازې يوچرمې دپلومات بکس وو چې درې ميليونه ډالر پکې وو.» ۲۵۵ د زامې ماتوونکي ډله د ګېرې شيرون په مشرۍ د ازبکستان څخه په چورلکه کې پنجشېر کې کته شوله. شېرون لومړی د نظار د شورا د استخباراتو د مشر عارف سروري سره وکتل . سروري د امريکايانو سره د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ. امريکايي څارګرو يوه ورځ وروسته د سپتمبر په اووه ويشتمه د قسيم فهيم سره د پنجشېر په بازارک کې وکتل .فهيم هم د همکارۍ ټېنګ وواهه او دا يې هم ورسره ومنل چې د کابل د شمال جبهې قوماندان ته به قومانده ورکړي چې د سي آی اې له ټيم سره همکاري وکړي. يوه ورځ وروسته شېرون او ملګرو يې د عبدالرب رسول سياف سره په ګلبهار کې ګوري.شېرون ليکي چې سياف ظاهرأ داسې ښکارېده لکه آيت الله خميني ، خو په عمل کې د امريکا دښمن نه بلکې دوست وو. شېرون د عبدالله سره ملاقات وکړ.پدې کتنه کې عبدالله امريکايانو ته ويلي چې فهيم يوازې پوځي مشر دی او سياسي واک له ده سره دی او دی چمتو دی له امريکايانو سره په سياسي برخه کې همکاري وکړي. پدې ليدنو کتنو کې امريکايانو يادوکسانو ته د ډالرو بستې ورکړې چې د عبدالله برخه د ټولو څخه زياته وه .په پاکستان کې د سي آی اې مشر ليکي چې پر افغانستان د بريد څو ورځې وروسته يې په کويټه کې د ګل آغا شيرزي او د هغه له وراره يوسف پښتون سره وکتل .هغوی له موږ وغوښتل چې وسلې او امکانات ورته برابر کړو.لدې وروسته ګل آغا شېرزی، يوسف پښتون ، اکرم خاکرېزوال او خالد پښتون د سي آی اې په ملاتړ د جګړې لپاره چمتووالی ونيو. شيرزي او يوسف پښتون د اکتوبر په نه ويشتمه په اسلام آباد کې د امريکايانو له عمومي قوماندان جنرال ټامي فرانکس سره وکتل .وروسته لدې د دوی لپاره له پاکستان څخه وسلې برابرېږي او د سپين بولدک له لارې افغانستان ته واوښتل.همدارنګه امريکايي څارګر د نورو وطنپلورونکو( عبدالرشيد دوستم ، عطامحمد نور، حاجي محمدمحقق ،مصطفی کاظمي ، سيدحسين انوري، اسمعيل خان، ډاکټر ابراهيم غوري او قوماندان احمدخان مرغابي ) سره ګوري او د طالبانو خلاف يې جګړې ته هڅوي او دوی د همکارۍ ډاډ ورکوي. بېله شکه دوی ته هم د ډالرو بنډلونه ورکړل شوي دي. کله چې د سپينې مانۍ چارواکي ډاډمن شول چې د افغانستان د نيولو لپاره افغان خدايي خدمتګاران لړ نه دي او هغوی د امريکايانو سره ګډ د طالبانو په ځپلو کې همکاري کوي په افغانستان کې د پوځي عملياتو د سمبالولو په موخه خپل لوړپوړي جنرالان او افسران د جنرال ټامي فرانکس په مشرۍ سيمې ته استوي.لومړی هغوی په اسلام آباد کې د پاکستان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر جنرال پروېز مشرف سره وکتل او بیا بله ورځ تاجکستان ته ولاړل .د تاجکستان د جمهور رییس امام علي رحمانوف سره د کتنې وروسته د شمال ټلوالې د مشرانو عبدالرشید دوستم ، محمدکریم خلیلي ، اسماعیل خان او محمدقسیم فهیم سره د جنرال تامی فرانکس په الوتکه کې ګوري او پرېکړه کېږي چې د طالبانو په وړاندې به هغوی د ځمکنیو قواوو قوماندانان وي، د اور ځواک به د امریکې اوعسکر به د شمال ټلوالې وي.پدې ډول د شمال ټلوالې مشرانو د امریکایانو د پلي ځواک د قوماندانانو په توګه د طالبانو خلاف د خپل هېواد په نیولو کې د مرستې ژمنه وکړله .

یو شمېر افغانان وایي که امارت اسامه امریکایانو ته سپارلی وای امریکایانو پر افغانستان یرغل نه کاوه چې دا ډول لیدلوری په بشپړ ډول ناسم دی . که طالبانو اسامه سپارلی هم وای امریکا بیا هم پلمه لټوله چې پر افغنستان یرغل وکړي او دا مهمه جیوپولټیکه او ستراتیژیکه سیمه ترخپلې ولکې لاندې راولي چې ښه بېلګه یې د ملا عمر د ویاند لاندې لیکنه ده : «په ۱۹۹۹ز کال کې طالبانو اعلان کړل چې اسامه له افغانستان نه وتلی دی .د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند جېمز رابن وویل که اسامه له افغانستان نه ولاړ هم شي ، د طالبانو په اړه زموږ په تګلاره کې به بدلون رانشي. » ۲۴۹/ ۲۱۹

ویل کېږي چې پاکستان امریکې ته د طالبانو د ځپلو په موخه خپل دوه هوایي ډګرونه د دریو میلیاردو ډالرو په بدل کې په اجاره ورکړل خو شمال ټلوالې ټول هېواد په ۷۰ میلیون ډالرو خرڅ کړ. امریکایانو چې په ارزانه بیه وطنپلورونکي وموندل د اکتوبر په اوومه (تلې پنځلسمه) کابل ، کندهار، هرات ، کندز او نور ښارونه د کروز توغندیو اوهوایي بمباریو هدف وګرزول .دا بریدونه یې د ترهګرۍ پرضد جګړه وبلله او دا پوځي عملیات یې" د آزادۍ اوږد مهال عملیات " ونومول . پرافغانستان د برید وروسته امریکایانو حامد کرزی په ارزګان کې ښکته کړ او عبدالحق د پاکستان له لارې افغانستان نه ننوزي طالبان هغه په لوګر کې نیسي او چانواري کوي یې. د یادولو وړ بریښي چې د سپتمبر په درویشتمه عربي اماراتو او په څلېرویشتمه سعودي د طالبانو سره دپلوماتیکې اړیکې وشلولې خو پاکستان د اسلامي امارت سره خپل سیاسي تعلقات ونشلول.د امریکا - انګریز بمباریو د پیل په لومړیو کې داودجنبش د بی بی سي خبریال د اسلامي امارت امیرالمومنین ملامحمدعمر سره مرکه وکړه چې یوه برخه یې دلته وړاندې کېږي. خبریال : تاسې د امریکا د برید په اړه څه غبرګون لرئ؟ ملاعمر د مقاومت خبره کوي اودا هم وایي :« تاسې یې منئ یا نه خو دا واورئ چې امریکا به د لېست له سره و د لېست و پای ته راځي." جنبش: تاسې څه نویو وسلو بند وبست کړی څه بلا؟ ملاعمر: دا د وسلو خبره نه ده موږ دا میدان په الهي نصرت ګټو.» د امریکایي- انګریزي هوایي بریدونو او د شمال ټلوالې د ځمکنیو بریدونو له امله طالبانو یو په بل پسې ولایتونه او ښارونه له لاسه ورکول او د امارت ړنګېدل یقیني کېدل چې داود جنبش د ملامحمدعمرسره بله مرکه وکړه چې دا مرکه د ملاعمر وروستۍ مرکه ده.خبریال ترې پوښتي.پدې وروستیو څو ورځو کې د ډېرو ولایتونو کنټرول ستاسې له لاسونو څخه ووت ، تاسې بیا هم هیله من یاست چې همدغه پوځي بریاوې به بیا تر لاسه کړئ؟ ملاعمر په ځواب کې وایي :« موږ امېدوار یو لکه څرنګه مو چې اوس دغه تحول ولید، لږ وخت بعد به بیا دا بل تحول همداسې وینئ.» که د انګلوساکسون اشغال په وړاندې د افغان ولس مقاومت ته وکتل شي ولیدل شول چې د ملامحمد عمر مجاهد وړاندوېینه سمه را وختله د اوولسو کلونو وروسته تحول راغی او امریکایان اړشول د طالبانو سره په دوحه کې د سولې رسمي خبرې پیل کړي . د څه کم شلو کلونو وروسته د ۲۰۲۱ کال د اګست په پنځلسمه په افغانستان کې بل ستر تحول راغی، د امریکایي اشغال لاندې واکمنۍ نسکوره شوله او د ملامحمد عمر پلویان بیا په کابل واکمن شول او اشغالګر د اګست په یودېرشمه له افغانستان څخه په بشپړ ډول ووتل. د ناټویي اشغال په وړاندې د طالبانو جهاد یو ځل بیا وښودل چې په جګړه کې بری د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخ نصیب کېږي چې د جګړې انګېزه او په الهی نصرت باور ولري .
کله چې د ۲۰۰۱ کال د نوامبرپه میاشت کې د هېواد ګڼ شمېر ولایتونه او په هغو کې پلازمېینه کابل هم د طالبانو له لاسه ووتله او یوازې په کندهار طالبان واکمن وو د اسلامي امارت مشر امیر المومنین ملامحمد عمر دې پایلې ته ورسېد چې نور یې جنګیالي د مقاومت جوګه نه دي او کندهار باید تخلیه کړي امریکایانو ته په غړیز پیغام کې وایي: « تاسو فکرمه کوئ چې د ښارونو په سقوط سره به ستاسې په مقابل کې افغانان تسلیم او له مقاومته لاس پر سر شي ،بلکې هغوی به له تاسو سره د مقاومت په خاطر غرونو ته خېژي او له هغه ځایه به ستاسې پرخلاف خپل جهاد ته دوام ورکوي.» ۲۵۶ د کندهار د تخلیې مخکې « ملامحمد عمر د یوه سوداګر په کور کې طالب مخور رابولي او ورته وایي راتلونکی ګام به څه وي؟ خاموشي وه ، ټول وېرې په سراخېستي وو، نه د جګړې د دوام وس و او نه هم د خپل امیر مقابل کې د دې احساس اظهار.بالاخره یو تن جرأت کوي ، سکوت ماتوي او وایي چې اوس د نړی مقابل کې مقابله ګرانه ده. ډېری غړي په سکوت سره له دغه نظره د تائید اظهار کوي. ملاعمر وایي : اوس د امارت مشر زه نه ملاعبید دی ټول یوه سواست؟ څوک خو اعتراض نلري ؟ ټول د تائید په پار خاموش وو. ملا محمدعمر کلاشنکوف په لاس ، څادر په اوږه اچوي او همداسې د خدای په امانئ پرته له خپلو باوري ساتونکو سره له کوټې وځي." ۲۵۷ پدې هکله د شپیګل آلماني مجله کې راغلي چې ملاعمر خپلو ملګرو ته وایي:« زه پوهېږم چې زما واک ، زما پوزیشن ، زما کورنئ له ګواښ سره مخ دي ، خو زه دې ته تیار یم چې ځان قربان کړم.زه نه غواړم چې د یوه نامسلمان ملګری شم ځکه زما د ایمان ، عقیدې او زما د مذهب مخالفان دي ، زه پدې ویاړم چې ځان قربان کړم او تاسې هم داسې وکړئ.لدې خبرو څخه وروسته په یوه موټرسایکل سپورشو او له کندهاره احتمالاً د پاکستان په لور ولاړو.» ۲۵۸ د ملاعمر د تللو په اړه لکه څرنګه چې شپیګل او ډېری پدې اند دي چې هغه پاکستان ته ولاړ خو (ببټی تم) یوه هالندئ څېړونکې د ملاعمر له شخصي ساتونکي ملاجبارعمري سره مرکې تر سره کړې دي او پدې هکله یې د( ملاعمر پټ ژوند) په نامه کتاب لیکلی پدې باور ده چې ملامحمدعمر په افغانستان کې د ژوند تر پایه اوسېده او خپل جنګیالي یې د اشغال ضد رهبري کول تردې چې زیاته موده هغه په زابل کې د ( وولورین ) په نامه امریکایي پوځي اډې په پنځه کیلومترئ کې اوسېده. د انګلوساکسون خونړی یرغل او د افغانستان د اشغال په وړاندې چې د طالبانو د جنګیالیو د ډله ئیزو وژنو په ملکي بنسټونو حتی روغتونونو، مدرسو ، جنازو ، ودونو او جوماتونو د بمباریو سره مل وې کوم دولت او ملګروملتو منفي غبرګون ونښود. البته اسلامي کنفرانس غونډه راوبلله د ترهګری ضد مبارزه یعني د افغانستان اشغال یې تائید خو نورو اسلامي هېوادونو ته یې خپریدنه معقول کار ونه ګاڼه. په جهادي مشرانو کې حکمتیار، مجددي ، خالص او محمدي پر افغانستان د احتمالي برید سره مخالفت وښود خو د یرغل وروسته یوازې حکمتیار او خالص د اشغال ضد دریځ غوره کړ. د حکمتیار ځېنو ملګرو د اشغال لاندې حکومت کې لکه مجددي او ګیلاني کار ته دوام ورکړ او پخپله حکمتیار د۲۰۱۶ کال په لومړیو کې د دولت سره د سولې تړون لاسلیک کړ او په شاندارو مراسمو سره کابل ته راغی. طالبان د دوو میاشتو مقاومت وروسته د دسمبر په اوومه نیټه د کندهار څخه هم ووتل او پدې توګه د طالبانو پنځه کلنې واکمنئ ته د پای ټکی کېښودل شو .البته چې په کابل د نوامبر په دیارلسمه نېټه شمال ټلواله واکمنه شوې وه او برهان الدین رباني د دوهم ځل لپاره د ارګ په تخت کېنول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بن ناولی کنفرانس

د انګلوساکسوني اشغالګرو له لوري پر افغانستان د خونړي يرغل په وړاندې د ملګروملتو سازمان چوپه خوله پاتې شو ، يوازې د دې مؤسسې مشر کوفي عنان د يرغل وروسته په ژنيو کې وويل " بايد ډېر ژر دغه پوځي يرغل پای ته ورسي ،د افغانستان د خلکوملي ارادې ته په درناوي سره دې د دغه هېواد استقلال خوندي وساتل شي." خو کوفي عنان د م ، م د سازمان د مشر په توګه دا مکلفيت درلود چې د دې مؤسسې بېړنۍ غونډه راوبولي او د خورا مهمې نړيوالي مسألې چې د يوه هېواد د خلکو برخليک ورسره تړلی دی بحث وکړي او د بشرد حقوقو د نړيوالي اعلاميې څخه چې هر ملت پخپله خپل برخليک وټاکي دفاع وکړي. دې سازمان نه يوازې دا کار ونکړ بلکې د يرغل د څه د پاسه يوې مياشتې وروسته د دې سازمان د امنيت شورا د افغانستان په اړه ۱۳۷۸ لمبر پرېکړه ليک صادرکړ چې دا موسسه به په افغانستان کې اساسي رول لوبوي. دلته له وړايه ښکاري چې دا سازمان د نړۍ د سوپرځواک يا په بله وينا د انګلوساکسوني اشغالګرو په چوپړ کې درېږي .پرافغانستان د پوځي يرغل وروسته د افغانستان لپاره ددې سازمان ځانګړی استازی اخترالابراهيمي د افغانستان د راتلونکې په اړه لاندې پنځه فقره ای طرحه جوړه اوهغه يې د م،م د امنيت شورا ته وړاندې کړله:

۱- ملګري ملتونه دې ژر د شمال ټلوالې او د افغاني ټولنې د استازو په توګه د نورو افغان سياستوالو په ګډون يوه غونډه راوبولي چې د "سياسي لېږد پړاو " پر محور بحث وکړي.

۲-پدې غونډه کې دې يوه موقتي شورا جوړه شي چې برخه وال يې د افغانستان د ټولو قومونو او د هېواد د هرې برخې استازيتوب وکړي .د دې شورا په مشرۍ کې د داسې يوه څېره وي چې د هېواد د ټولو قومونو،مذهبونو او سيمو د ملي يووالي سمبول وي.

۳- دا شورا به دنده لري چې د "منځ مهاله اداري" جوړښت او کړنلارې پېشنهاد کړي.

۴- د دې وړانديزونو د تائيد لپاره دې بېړنۍ لويه جرګه راوبلل شي.

۵- په پای کې دې دوهمه لويه جرګه د اساسي قانون د تصويب لپاره را وبلل شي چې د يوه کميسيون لخوا تسويد شوې وي.

لکه څرنګه چې د امريکا - انګرېز ځواکونو له لوري پر افغانستان يرغل د ملګروملتو د موسسې د پرېکړې پرته ترسره شو.پردې بنسټ د شلو کلونو په ترڅ کې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شتون او پوځي فعاليتونه په هېڅ منطق د ملګرو ملتو او يا د دغه سازمان د امنيت د شورا ماموريت نه دی . د ملګرو ملتونو او يا د امنيت د شورا هېڅ داسې پرېکړه ليک نشته چې په افغانستان يرغل ته يې اجازه ورکړې وي . يرغلګرو خپل يرغل د ملګرو ملتونو د منشور د ۵۱ مادې له مخې له ځان څخه دفاع وبلله. د ځان څخه دفاع امريکا ته دا اجازه ورکوله چې د القاعده شبکې غړي او مشر په افغانستان کې تعقيب کړي نه دا چې د طالبانو واکمني نسکوره او د خپلې خوښې حکومت هلته واک ته ورسوي. د نړۍ وتلي حقوق پوهان د امريکا او ناټو نظامي اشغال او کړنې د نړيوال قانون خلاف ګڼي.د ابراهيمي د طرحې له مخې د امريکايي مقامونو د ارادې او د ملګرو ملتو ترنظارت لاندې د نوامبر په اووه ويشتمه د جرمني د بن په ښار کې د افغانستان په اړه کنفرانس جوړ شو چې لاندې څلور ډلې يې د افغان ولس د استازو په توګه ور بللې وې .

۱- د روم ډله(د ظاهرشاه پلويان) : نولس تنه ،(يوولس رسمي غړي)، د ډلې مشر عبدالستار سيرت.

۲- اسلامي متحده جبهه (شمال ټلواله): شل تنه، (يوولس رسمي غړي )، د ډلې مشر محمديونس قانوني.

۳- د سولې او ملي يووالې ټولنه (د پېښور ډله): اووه تنه، (دری رسمي غړي) ، د ډلې مشر سيدحامد ګيلاني.

۴- د قبرس غورځنګ : لس تنه، (درې تنه رسمي غړي) ، د ډلې مشرهمايون جرير .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پردې ملګروملتو د مدني ټولني د فعالانو په نامه د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د اويا تنو شاوخوا افغانان او يوه آلماني (توماس روتيګ )هم يو شمېر افغانان د غونډې ځای "پيترسبورګ مانۍ " ته راوستلي وو. دې غونډې ته را بلل شوي د مدني ټولني فعالانو غټه برخه د طالبانو وروسته واکمنۍ کې مهمو څوکيو ته ورسېدل. د غونډې برخه والو چې د رايو ورکولو او پرېکړې حق يې در لود د روم د ډلې پرته چې اکثريت يې عمرخوړلي تکنوکراتان وو نور ټول د جنګي ډلو استازي يا په خپله جګړه ماران وو. په غونډه کې د امريکا له لوري څلورو تنو استازو( جيمز دابنز امريکايي ډيپلومات، زلمي خليل زاد، محمداشرف غني ، فاطمه ضيايي) او همداراز د انګلستان ، آلمان ، ايران او پاکستان استازو ګډون درلود. که څه هم د غونډې رسمي نوم "د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خبرې اترې "اېښودل شوی وو خو د م ،م د استازو سربېره د پنځو دولتونو د استازو شتون ښيي چې هغوی ته دا حق ورکړل شوی وو چې د افغانستان د برخليک د ټاکلو واک ولري. هېره دې نه وي چې دې غونډې پر ځای پيترسبورګ مانۍ کې د نورو دولتونو او په هغو کې د روسيي او هند استازو هم شتون درلود او د شمال تلوالې د ډلې مشر محمد يونس قانوني د هغوی سره په اړيکو کې وو. ددې غونډې برخه وال عبدالکريم خرم په کنفرانس کې د دوو افغاني الاصله امريکايانو د نفوذ په اړه ليکي:"د افغانانو په منځ کې ډاکتر زلمی خليل زاد او اشرف غني احمدزی داسي کسان وو چې اغېزاو نفوذ يې له لرې ښکارېدو. هغوی د اغېزناکو بهرنيانو ياني امريکا او ملګروملتونو په رازونو کې شريک وو.دوی د پروژې جوړونکو سره همکار وو. " عجيبه دا ده چې خرم غونډې ته د پروژې په سترګه ګوري هغه پروژه چې پرديو را پنځولې ده . د افغانستان شل کلن اشغال هم وښودل چې غني او خليل زاد د بن د پروژې مرکزي لوبغاړي پاتې شوي دي. د غونډې مشري د روم د ډلې مشر عبدالستار سيرت درلودله خو د پردې ترشا د غونډې لارښوونه امريکايي ډيپلومات جيمز دابنز کوله. په غونډه کې حامدکرزی نه وو او هغه ګواکې د ارزګان ولايت څخه د ټلفون له لارې په پښتو او دري ژبو شپږ دقيقه ای وينا واوروله او د لندمهال حکومت او لويې جرګې په جوړولو يې ټينګار درلود. د کنفرانس له بهير او د کنفرانس د خينو برخه والو له څرګندونو څخه ښکاري چې د غونډې پرېکړې او سندونه له مخکې چمتو شوي وو او د غونډې برخه وال مجبور وو هغه لاسليک کړي او د برخه والو غوښتنو ته ارزښت نه ورکول کېده .د سارې په توګه حاجي عبدالقدير غونډه پدې نامه تحريم کړه چې ويناوې په پښتو نه ژباړل کېدې. په کنفرانس کې يوه تن هم په پشتو وينا نه ده کړې او حامدګيلاني په انګريزي ژبه وينا کړې وه . عبدالله وردګ د بي بي سي سره په مرکه کې وويل: " چا ته د خبرو اجازه نه وه .سهار په شپږو بجو يې له خوبه راپاڅولو ، اسناد يې په استازو لاسليک کړل خو ما سندونه لاسليک نکړل ." همدا رنګه د کنفرانس رييس سيرت د امريکا څخه د خپرېدونکې (آريانا تلويزيون) سره څه موده وروسته په مرکه کې وايي :"د دغه کنفرانس لارښوونه يوه امريکايي جنرال کوله او هلته ما او د ملګروملتونو استازي هېڅ واک نه درلود.هرڅه له پخوا جوړ او پرمور لاسليک شول. " د سيرت بې خبرې پدې کې ده چې نوموړی امريکايي ډيپلومات جنرال ګڼي. د کنفرانس بل برخه وال خرم پدې اړه چې هرڅه مخکې له مخکې چمتو شوي وو ليکي : "مور لا د قبرس ګروپ په دفتر کې وو چې د دې ګروپ مشر همايون جرير ساه نيولی له يوه بل مجلس نه راغی .ګومان کوم چې د ايران له پلاوي سره يې ليدلي وو.نوموړی چې اطاق ته راننوت مور ټولو ته يې په خطاب کې وويل : مور هسې کنفرانس ته درومو، هرڅه مخکې ټاکل شوي او پرېکړه شوې ده. ترې ومې پوښتل څه ډول؟ ويل يې : دا پرېکړه شوې چې حامدکرزی به د نوې ادارې د رييس په توګه ټاکل کېږي." ٢٥٢/ ١٥٩- ١٦٠ ياد کسان په دا ډول څرګندونو سره نشي کولی د خلکو او هېواد په وړاندې له مسؤليت څخه ځان خلاص او يا ځانته برآت ورکړي.د کنفرانس ټولو برخه والو د خپلو خلکو په وړاندې څرګنده جفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ده.هغوی نه یوازې اشغال ته سرونه ټیټ کړي دي بلکې داسې سندونه یې هم لاسلیک کړي چې د افغان ولس ملي یووالی یې سخت زیانمن کړ . د بن د کنفرانس د رابللو اصلي موخه د طالبانو وروسته حکومت جوړول وو. دا غونډه پداسې شرایطو کې رابلل شوې وه چې امریکایي الوتکو د طالبانو د ځپلو په موخه پرله پسې بمباری کولې او زر کیلویي بمونه یې د افغانستان په ګوټ ګوټ غورزول او د شمال تلوالې ملیشو طالب جنګیالي قصابي کول. د کنفرانس را بلونکو( پردیو) برخه وال قانع کړي یا اړ ایستلی وو چې د راتلونکي حکومت مشر د روم اړونده ډلې څخه وي او یا د هغو له خوا ورانديز شي. دې ډلې درې تنه(عبدالستار سیرت ، حامدکرزی ، هدایت امین ارسلا ) د حکومت مشرۍ ته کاندید کړل . د دې ډلې د رایو څخه ځرګنده شوله چې سیرت د دوو نورو په پرتله زیاتې رایې ګټلې وې خو سره لدې حامدکرزی د راتلونکي حکومت د مشر په توګه وټاکل شو." نور ګروپونه د ښاغلي سیرت په منلو کې زړه نازړه وو . ښاغلي قانوني ټینګار کاوه چې د حکومت مشر باید پښتون وي له دې پرته د افغانستان ستونزه د حل لاره نلري."٢٥٢/ ١۶۶ دا چې ولې کرزی د حکومت د مشر په توګه وټپل شو ابراهیمي په یوه مرکه کې وایي:" حامد کرزی د افغانستان د مشرتابه لپاره یو مناسب سړی وو.دا نظر په پښتنو، شمال ټلوالې ، پاکستانی او ایراني مقامونو کې هم وو...، د هرچا سره یو لست وو ، خو کرزی د ټولو لپاره د منلو وړ وو او په همدې دلیل یې هغه وټاکلو..." د منځمهاله حکومت د مشر د ټپلو وروسته د حکومت غړي هم تثبیت شول او شمال ټلوالې ته پکې غوښینه برخه ورکړل شوه ، هغه ډلې چې په ١٩٩٢ کال کې د م،م د سولې د پروګرام د شنډولو مخینه لرله. ښېله کومه شکه په راتلونکي حکومت کې د غوښینې برخې ورکول لدې کبله دي چې د افغانستان په اشغال کې یې د امریکا - انګرېز سره په خپله خوښه ملګرتیا کړې وه. دا بیا ښیي چې د کنفرانس واک د امریکا سره وو. دې ډلې ته د ٢٩ لوړو څوکیو څخه اتلس ورکړل شوې چې په هغو کې کلیدي وزارتونه (دفاع ، کورنیو چارو، بهرنیو چارو او ملي امنیت ) شامل وو.د راتلونکي حکومت دا ډول ترکیب چې د جګړه مارانو او پښتنې ضد تلوالې تله پکې خورا درنه وه د یوه ژمن او خادم حکومت شتون یې تر پوښتنې لاندې راووړ . کنفرانس جګړه مارانو ته چې خپل ځواک په خپل توکم ، قوم ، طایفه او قبیله کې لټوي ښېله شکه دا ډول حکومت ابډیال او د منلو وړ وو خو د خلیل زاد، اشرف غني او عبدالستار سیرت په شان تکنوکراتانو او د لویدیځ د ژوند سره آشنا کسانو ځرنګه ځانته اجازه ورکړه چې په یوویشتمه پېړۍ کې په قومي بنیادونو ولاړ د جګړه مارانو یو حکومت جوړکړي.دلته وینو چې پردیو ځرنګه لوېډلې د علومو ډاکتران او پروفیسران غونډې ته غوره کړي وو چې د پردیو هرڅه ومني . عبدالکریم خرم لیکي چې کله مې د راتلونکي حکومت " لست ولید جټکه مې وخوړه ...، د ښاغلي احمدزي دفتر ته ورننوتم ...، ورته ومې ویل : ډاکترصاحب دا خو ډېره بده پرېکړه وشوه .د حکومت لپاره ډېر بد ترکیب رامنځته شو، ګواکې د جګړې یوه لوري حکومت جوړ کړی وي .وېره مې دا ده چې له بدمرغیو به و نه ژغورل شو. اشرف غني احمدزي په بېروسه څېره او غوسه ناک غږ ځواب راکړ : ډېره ښه پرېکړه وشوه ، تردې غوره حکومت نشو کېدای." ٢٥٢ / ١۶٧- ١۶٨ د بن د غونډې د امریکایي پلاوي مشر جیمز دابنز د ٢٠٢٢ کال د جولای په څوارلسمه د افغانستان انترنشنال ټلویزیون سره په مرکه کې وایي چې « ده د بن د کنفرانس مخکې سیمې ته سفر وکړ او د افغانانو او د سیمې د سیاستوالو سره مې وکتل چې د پاکستان د استخباراتو د مشر سربېره ایران ، روسیې ، هند او د شمال تلوالې ځواکمنو کسانو قانوني، عبدالله او فهیم غوښتل چې د طالبانو وروسته حکومت مشر حامدکرزی وي. هغه دا هم وایي چې د بن د غونډې د شمال تلوالې نورو برخوالو غوښتل چې برهان الدین رباني د افغانستان مشر پاتې شي. کرزی د تاجکانو غوراوی وو او شمال تلوالې کرزی واک ته ورسولو. » په مرکه کې دابنز دا هم وایي چې امریکا قطعا نه غوښتل چې څوک د افغانستان مشر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نو د دابنز ټوکه وه . هغه مهال شمال ټلواله چې په کابل او د هېواد په زياته برخه واکمنه وه غوښتل يې چې لا زيات امتيازات ترلاسه کړي . خليل زاد وايي رباني د نوي حکومت نوملړ استولو ته غاړه نه ايښودله او د ايراني پلاوي د غوښتنې له امله هغه رباني ته تلفون کړی تر څو پر هغه فشار راوړي. د خليلزاد په وينا « له نيکه مرغه يوې امريکايي الوتکې زموږ له خبرو يوه ورځ وروسته په تصادفي توگه د رباني کور ته نږدې راکټ توغولی و، هيچا ته زيان نه و رسېدلی ، خو رباني پوه شو چې موږ سګنال ور استولی ...» ۲۴۳/ ۱۵۲ خليل زاد دا هم وايي چې« د کنفرانس پر مهال ايراني پلاوي له شمال تلوالې سره ژوره خواخوږي څرګندوله ، کله به چې ايرانيانو فکر کاوه چې موږ شمال تلواله مصلحت ته اړ باسو ، نو د دوی په استازيتوب به يې خبرې کولې.» د" انټرنشنل ډيفلپمنټ ستډيز"يا د نړيوال پرمختګ درسونه» په يوه خپرونه کې د پي بی اس خبري آژانس له قوله راغلي دي :"د امريکا د بهرنيو چارو وزير د غونډې پر مخ وړونکو ته ويلې وو د کنفرانس دروازه د هغوی (افغاني پلاوي ) پرمخ وتړئ او پرې يې نږدئ چې بهر ولاړ شي، که هغوی (مخکې له هوکړې) خوشي کړو بېرته به يې تنظيمول ستونزمن وي." ۲۵۹غونډه د دسمبر په پنځمه پای ته ورسېدله او طالبان هم دوې ورځې وروسته د کندهارڅخه ووتل او کندهار ته د ګل آغاشيرزي قوتونه ورننوتل. مخکې لدې چې طالبان د کندهار څخه ووځي د طالبانو مشران ملاعبيدالله ، ملا عبدالرزاق ، اخترمحمدآخوند، طيب آغا او... شاولي کوټ ته د حامدکرزي ليدو ته ورغلل او ورته وېې ويل چې د جګړې څخه پدې شرط لاس اخلي چې په کندز کې يې زرګونه اسيران خوشي شي. کرزي ور سره ژمنه وکړه چې اسيران به نه وژل کيږي. خو وليدل شول چې زرګونه طالب اسيران د شمال ټلوالې له لوري چې امريکايي او انګريزي پوځيان او څارګر ورسره وو په محدودو کانتينرونو کې اچول کيږي چې له کندز څخه مزار ته ولېږدول شي . په کانتنرونو کې د هوا د نشتون له امله يې ګڼ شمېرمړه شول او هغه کسان چې ژوندي پاتې وو هغه يې هم په ډزو وويشتل او د ليلي په دښته کې يې په ډله ئيز ډول خښ کړل. همدارنګه امريکايي ـ انګريزي الوتکو پنځه سوه تنه طالب اسيران د مزارشريف په جنګي کلاه کې پدې نامه چې بغاوت يې کړی دی بمبارد او شهيدان کړل. دا ډله طالب اسيران په کندز کې وروسته له هغې چې " د طالبانو استازي ملافضل الله او ملا نوري شمال اتحاد ته وړانديز وکړچې طالبان چمتو دي خپلې وسلې ملګرو ملتونو يا نړيوالو ځواکونو ته ورکړي، پدې شرط چې دوی ته د خوندي پاتې کېدو ډاډمنې ژمنې ورکړل شي .دوستم ، عطامحمد، محقق اوهمدا شان امريکايان او انګرېزان هلته وو.په پای کې پرېکړه وشوه چې د کندز د مقاومت اسيران وروسته لدې چې بې وسلې کيږي خپلو سيمو ته واستول شي .د القاعدې غړي او نور بهرنيان ملګرو ملتونو ته وسپارل شي. طالبانو د همدغې موافقې له مخې ځانونه وسپارل." ۲۶۰د اسلامي امارت د نسکورېدو وروسته امريکايانو او د هغو افغان مزدورانو چې زياتره يې د شمال تلوالې مخور وو د طالبانو خلاف ځورونو او وژنو ته ملا وتړله په کورونو يې چاپې وهل کېدلې طالبان د هغوی د کورنيو مخکې وژل کېدل او يا بنديان کېدل. تر دې وروسته طالب مشران د خپل امير ملامحمد عمر حکمت ته متوجه کيږي او بېرته د خپل مشر پرمحور را غونديږي او د اشغالګرو خلاف د خپلواکۍ د ګټلو ستونزمنه او ګواښمنه سپېڅلې آزادۍ غوښتونکې جګړه ( جهاد) پيلوي.

امريکايانو د خپل خونړي يرغل وروسته کرزی لومړی د ارزګان په سرخاب کې د چورلکو پواسطه کته کړ خو طالبانو په هغه او د هغه سره امريکايانو بريد وکړ او د هغوی څخه يې ۶۰۰ ميله وسله هم ترلاسه کړله . لدې وروسته امريکايانو کرزی پاکستان ته د ( جيکب آباد اډې) ته يووړ. له هغه ځايه يې دوه اونۍ تبليغات کول چې ګواکې دی په ارزګان کې دی او بيا يې په دهراووت کې کته کړ او د کندهار شاوليکوټ ته يې ولېږداوه. همدارنګه عبدالحق د دوبۍ څخه لومړی پاکستان او بيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګرهار له لارې لوګر ته راغی. هغه طالبانو د لوګر په ازره کې ونيو. « امنيه قوماندان د والي په امر عبدالحق کابل ته روان کړ، کابل ښار ته چې غرمه مهال نږدې شول ، له بن ساره ( بيني حصار)، قلچه(قلعچه) او شهدای صالحين سره پر عمومي سړک ورته مخ ته د داخله وزارت پيک اپ موټر راغی. د داخله وزارت ، يو تن چاروا کی ملا ظاهر ور نه را کوز شو او د امنيه قوماندان موټر يې ودراوه او د ملا محمدعمر يو ليکلی فرمان يې ور ښکاره کړ چې د مشر له خولې په ساده الفاظو ليکل شوي وو : د غه وطن فروش او خاين کابل ته تر رسېدو وړاندې و غځوئ او د کابل ښار يې په وينو مه پلېتوئ . دواړه موټر بېرته شا ته راغبرګ شول او د سنګ نوشتې له عمومي سړک نه چې ريشخور فرقې ته لارتللې ده، پر سړک يې عبدالحق او ډګروال حامد را کوز کړل او سترګې پرې وتړلې ...، دواړه يې په يوه وړه شېله کې وويشتل. ۲۴۹/ ۲۸۷پدې ډول د اشغال اردلي د حاجي قدير ورور عبدالحق چې د کابل د قوماندان په نامه مشهور وو او د پوځ پخوانی افسر ډګروال حامد خپله سزا وليدله.

## د انګلوساکسوني اشغال زېږنده واکمنۍ تګلارې

شمال تلواله د انګلوساکسوني اشغالګرو پر متې د ۲۰۰۱ کال د نومبر په ديارلسمه کابل ته ننوتله او پر کابل واکمنه شوله او پدې ډول رباني بيا د ارګ په تخت کېنول شو. رباني ارګ ته په ننوتو سره د اسلامي جمعيت اړونده غړي محمد يونس قانوني ، عبدالله عبدالله ، محمد قسيم فهيم او عارف سروري د څلورو کليدي وزارتونو مشران مقرر کړل . د بن د غونډې د پرېکړې له مخې د دسمبر په دوه ويشتمه واک حامد کرزي د لندمهاله حکومت مشر ته و سپارل شو . پدې ډول د رباني څلوېښت ورځنی دو همه واکمني هم پای ته ورسېدله. د واک د لېږد په درشل کې رباني " داسې يو فرمان ترتيب کړ چې په يوه فرمان يې ټول مقرراو په يوه فرمان يې ټولو ته څلورنيم کلن امتيازات ورپه برخه کړل ، د استاد رباني له خوا په دې فرمان کې چې حامدکرزي ته د واک تررسمي انتقال يوازې دوه ـ درې ورځې د مخه صادر او له دولتي راډيو تلويزيون څخه خپور شو، راغلي و ټول هغه اشخاص چې د مقاومت په څلور نيم کلنه دوره کې له دوی سره پاتې شوي او د طالبانو تر واکمنۍ د مخه په کومو ځايونو کې مقرر وو، پرهمغو ځايونو بېرته مقرر دي ، دولت مکلف دی په ياده موده کې د دوی ټول معاشونه ، ترفيعات او نور حقوق ادا کړي."۲۵۴/ ۱۹۶ د پروفېسور رباني له مغزو راوتلي د دا ډول مسخره فرمان څخه ښکاري چې اشغالګر دا رنګه لوېدلي سياستوال چې د ملي ګټو په پرتله ورته ګروپي او تنظيمي ګټو لومړيتوب درلود واک ته ورسول. البته چې د رباني په څېر د سياستوالو شتون د افغانستان د غمېزې په پنځولو او ژوررولو کې ټاکونکی رول لوبولی دی. دې جهادي مشر تردې کچې د واک سربېره له مادياتو سره لېونۍ مينه لرله چې د خپلې لومړۍ واکمنۍ پرمهال« د ۲۰۰۱ کال د جنورۍ په دوهمه د آريانا افغان هوايي شرکت الوتکه د ايران د کسپين هوايي شرکت ته په څلورنيم لکه ډالرو وپلورله چې اصلي بيه يې درې سوه لکه ډالره وه. هغه د خپلې اصلي بيې نه دوه سوه لکه او شپږ نوي زره ډالره ارزانه خرڅه شوې ده او د خرڅلاو پيسې يې دولتي حساب ته نه دي لېږدول شوې .» ۲۶۱ کله چې د يوه ګوند لارښود او د دولت مشر غل او فاسد وي نو د دې ګوند غړي او دولت مامورين هرو مرو غله او مفسدين را خېژي. د يوه حکومت د مشر تقوای او ژمنتيا تر ډېره بريده د دې حکومت په لوړپوړو اغېز لري . د ثور انقلاب د بري وروسته د واليانو او د معارف مشرانو ته د دولت مشر نورمحمدتره کي د وينا وروسته برخوالو ته د پوښتنې کولو وخت ورکړل شو يوه تن ترې پوښتنه وکړه چې په تېرو حکومتونو کې بدې اخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمول وو او ډېرى ماموران پدې کرغېړن کار عادت شوي دي تاسې ددې منفي پدیدې د له منځه وړلو په اړه څه مشوره راکوئ . تره کي یوازې دا ورته وویل: « زویه ! ته یې مه خوره دا بلا ورکېږي.» همدا لامل وو چې په خلقي واکمنۍ کې د رشوت په اړه څه نه ویل کېدل ځکه چې د خلقي حکومت مشر فاسد نه وو.

حامد کرزي ته د واک د لېږد په ورځ زړه بوګنوونکې او عجیبې پېښې وشوې چې د شمال ټلوالې روند قومي تعصب او پښتني ضد ماهیت هم ښیي. د واک د لېږد مراسمو ته د هېواد د ګوټ ګوټ څخه قومي مشران را بلل شوي وو. د نظار د شورا د ناسمو رپوټونو له امله د خوست د مخورو او مشرانو کاروان په ستو کندو کې د امریکایانو له لوري بمبارد شو چې پنځه شپېته تنه یې شهیدان او څلوېښت تنه یې ټپیان شول.د پکتیکا استازو ته په لوګر کې وسلوالو ستونزې او خنډونه جوړکړل هغوی اړشول بېرته خپلو سیمو ته ستانه شي او د پکتیا مشرانو ته یې پدې نامه چې مراسم پیل شوي دي د مراسمو د ترسره کېدو ځای ته د ننوتلو اجازه ور نکړه.د یادو سیمو د مخورو سره د دا ډول چلند موخه دا وه چې د نوې واکمنۍ په وړاندې ددې سیمې خلک راوپاروي .له بله پلوه د دې سپک چلند مخینه باید په تاریخ کې ولټوو .د همدې سیمې ولسونو د حبیب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال د نادرخان ملا ور وتړله او هغه وتوانېد ددې خلکو په ملاتړ د کلکاني د وحشت او بربریت واکمنۍ ته د پای ټکی کېږدي. د نظاریانو له لوري د دې سیمې د خلکو سره دا ډول سپک چلند او د مشرانو وژنه لدې کبله وشوه چې د کلکاني غچ ترې واخلي.

د واک د لېږد وروسته ظاهراً حامدکرزی د هېواد د ولسمشر په توګه د چارو واګې په لاس کې ونیولې خو هغه د هر لاسپوځي په څېر د تمثیل لپاره کېنول شوی وو او د واک اصلي مرکز په کابل کې د امریکا سفارت او د واکمنۍ اصلي لوبغاړي یې د شمال ټلوالې مخور وو .دا چې د شمال ټلوالې مخور د واکمنۍ اصلي لوبغاړي وو د حامدکرزي د سلاکار زلمي هېوادمل څخه به یې واورو :" د کرزي صیب د پاچاهۍ لومړي وختونه وو،ما ته یې وویل ، که فهیم خان همدا اوس وغواړي ،نه به په ارګ کې ستا کورتۍ وي او نه به زما قره قلي " یې ښه بېلګه ده .خو بیا هم کرزي په دا ډول بې واکه تمثیلي ولسمشرۍ خوښ وو. کرزی داسې ولسمشر وو چې هم یې باید د امریکایانو امرونو ته غاړه ایښې وای او هم د شمال ټلوالې د مخورو غوښتنو ته . دا نو ډېل ګوډاګی وو. البته د هغه ځای ناستي محمد اشرف غني ورته حالت درلود. سره لدې چې واک د شمال ټلوالې سره وو خو همدې ټلوالې بیا هم کرزی او غني داوړه په قومپالنه تورنول او د لرکیو د حقوقو د ترپښو لاندې کېدو نغارې یې ډنګولې. غني ته خو یې بیا فاشیست ویل، پداسې حال کې چې غني خپل سکنی وررور ، وررور نه ګڼاه او هزاره محمد سرور دانش خپل مرستیال یې رښتینی وررور باله ګواکې چې دانش متعصب نه دی او وررور یې متعصب دی. د غني د دې غیر متعصب وررور په دفتر کې د هزاره ګانو پرته بل څوک نه تر سترګو کېدل تا به فکر کاوه چې د کوم هزاره مېشتې کلي میلمستون یا تکیه خانې ته تللی یې. د غني دې هزاره وررور د غني د حکومت له نسکورېدو وروسته په نیوزرلند کې په یوه مرکه کې د افغانیت څخه هم منکر شو. د بې ۵۲ الوتکو د بمباریو په پایله کې د جمهوریت په ټینګېدو سره په هېواد کې ظاهراً د دموکراتیک او ولسواک نظام د جوړېدو بهیر په خورا ګړندي ډول پیل شو . هماغه دې چې د سیاسي ګوندونو ،مدني ټولنو، قومي شوراګانو د جوړېدو او د رسنیو د راځرګندېدو خورا پیاوړې څپه را منځته شوه. لسګونه سیاسي ګوندونه، سلګونه مدني ټولنې او زرګونه قومي شوراګانې جوړې شوې او ګڼ شمېر رسنیو (ورځپاڼو ، مجلو ،رادیویي مرکزونو او تلویزیوني چېنلونو) په فعالیت پیل وکړ. د قومي شوراګانو منځته راتګ د ملت جوړونې په لار کې ستر خنډ وو. ددې شورا ګانو ملي ضد موخه لدې څخه ځرګندېږي چې د هوتکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه شورا په دفتر کې د میرویس نیکه انځور ځړول شوی وو. پدې کار سره میرویس نیکه چې ټولو افغانانو ته د یوه منلي ملي زعیم حیثیت لري او افغانان پرې ویاړي دا ستر ملي شخصیت یې د هوتکو د قبیلې د مشر دریځ ته راټیټ کړی وو . سفارتخانو او په افغانستان کې انجوګانو په پټه او یوناما په برالا دې ګوندونو، ټولنو، شوراګانو او رسنیو ته پدې نامه شنه ډالر ورکول چې مشران یې ددې بنسټونو د په پښو درولو او د رسنیو د چلولو وس نه لري. خو د دې لاسنیوي موخه د ښکېلاکګرو د هغه مشهور فورمول "بېل یې کړه ، ابل یې کړه" پلې کول وو. د لسګونو کوچنیو ګوندونو د جوړولو څخه موخه د سترو ګوندونو د راڅرګندېدو مخنیوی وو چې د بلواک حکومت په وړاندې قوي اپوزیسیون را منځته نشي. همدا لامل وو چې دې ګوندونو ته انجویي ګوندونه ویل کېدل او بلا استثنی دې ګوندونو که اسلامي ، ملي ، مترقي او دموکراتیک مختاړي لرل د اشغال په چوپړ او د اشغال زېږنده بلواک حکومت په ملاتړ کې درېدلي وو. اشغالګرو نه یوازې د بن په کنفرانس کې د قومي ونډې پراساس د راتلونکي حکومت بنسټ کېښود او د ګڼ شمېر کوچنیو ګوندونو په جوړولو سره یې د سترو ګوندونو د جوړولو مخه ډب کړه بلکې شته ستر ګوندونه او تنظیمونه یې هم ټوټې ټوټې کړل . د بن د کنفرانس برخه وال جنرال عبدالرقیب جاوید کوهستاني وایي: "نړیوال دا تصمیم لري چې د جهادي مشرانو پر ځای ځواني څېرې راولي او نوي ګوندونه وهڅوي او مرستې ورسره وکړي چې د اوسنیو ګوندونو ځای ونیسي. "
۱۸۹/۲۵۲ د سیاسي ګوندونو د قانون له مخې هرګوند باید لس زره غړي لرلی ، افغان او افغانستان شمول وای یعني د هېواد د هرقوم او توکم او هر ولایت استازي پکې شتون لرلی او وسلوالې ډلې یې نلرلی.په عدلیه وزارت کې داسې راجستر شویو ګوندونو شتون درلود چې د وسلوالو ډلو د لرلو سربېره په یوه قوم ، یوه مذهب او ځانګړې سیمې پورې تړاو درلود چې ملي اسلامي غورځنګ او شیعیه ګوندونه یې څرګندې بېلګې دي.په ملي اسلامي غورځنګ کې به د ترک تباره هېوادوالو پرته د هېواد د بل قوم او په شیعیه ګوندونو کې د هزاره ګانو او شیعیه ګانو پرته د بل قوم او مذهب استازي نه ترسترګو کېدل . د ګوندونو په اړه ددې ټکي یادول اړین بریښي چې یا ګوندونه واکمن وي او یا په اپوزیسیون کې .خو په جمهوریت کې نه د واکمن ګوند په توګه کوم ګوند را څرګند شو او نه په اپوزیسیون کې .ټول ګوندونه موافق ګوندونه وو یعني د بلواکې واکمنی ملاتړي . دا د دې ښکارندوی وو چې هغوی هغه شنه ډالر چې له انجوګانو، یوناما او یا د ځواکمنو دولتونو له سفارتونو څخه ترلاسه کول په هغوی یې منلي وو چې د اشغال لاندې حکومت ملاتړ به کوئ یعني چې اشغال به منئ او د اشغال ضد ځواکونو خلاف به دریځ نیسئ. غوځ اکثریت ټلویزیوني چېنلونه په جګړه مارانو، پردي پالو او جګپوړو پورې تړاو در لود .پردې بنسټ به څرنګه یو پردی پال او جګړه مار د دموکراسۍ د ټینګښت او د بیان د آزادۍ لپاره خپل شخصي ټلویزیون وکاروي؟ دلته لیدل کېږي چې په افغانستان کې د دموکراسۍ او بیان د آزادۍ د نغارو ډنګول د خلکو په سترګو کې د خاورو د اچولو پرته بل څه نه وو. د رسنیو د منځپانګو او خپرونو څخه په ښکاره معلومېدل چې ټولو بلااستثنی اشغال ته نړیواله مرسته او د اشغال ضد ځواک( طالب) ته ترهګر ویل ،قومي او ژبنیو دښمنیو ته لمن وهله ، تاریخي ویاړونو او ملي شخصیتونو ته یې سپکاوی کاوه او کوم بنسټ هم شتون نه درلود چې د دې ملي ضد بهیر مخنیوی وکړي. د دې رسنیو په یوه ستره برخه دا شکونه کېدل چې هغه پردیو ډګر ته راوړاندې کړې او له مالي ملاتړ نه یې هم برخمنې دي او د پردیو ګټې ساتي . د اشغال د پای سره سم ولیدل شول چې د دې رسنیو سترې برخې د مالي ستونزو له امله خپلې خپرونې ودرولې ځکه چې سپانسرانو یې نور په افغانستان کې شتون نه درلود او سربېره پردې اسلامي امارت هغه ډول تبلیغاتو ته اجازه نه ورکوله چې د بیان د آزادۍ په نامه د پردیو د ویاندویانو او مبلغینو رول ولوبوي . په ۲۰۱۰ کال کې د ویکي لیکس په نامه یوې وېب پاڼې د افغانستان په اړه لسګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زره سندونه خپاره کړل چې په هغو کې په افغانستان کې د رسنیو په اړه راغلي وو چې امریکایان څېنو آزادو او دولتي رسنیو لکه د غزنویانو راډیو، د غزني راډیو، د جلال آباد ملي تلویزیون او په ننګرهار کې د شایق شبکې سره تړونونه لاسلیک کړي چې د هغوی له لوري ورکړل شوي مواد خپاره کړي او د هغوی د پروګرام سره سم به خپلې خپروني تنظیموي. د اشغالګرو له لوري د افغانستان له نیولو وروسته غربي میډیا د افغانستان د بیا رغونې، د دموکراسۍ او قانونیت د ټینګښت ، د لږکیو او ښځو حقوقو ته د درناوي او د میلیاردونو ډالرو د مرستي تبلیغات پیل کړل او د اشغال اردلیانو د مارشال د دوهم پلان د پلي کولو نغارې هم ډنګولې او اجوره شوو کارپوهانو دا هم ویل چې په یوه لسیزه کې به له افغانستان څخه سنګاپور، جاپان او... جوړشي. همدا لامل وو چې افغانستان ته د ایران او پاکستان څخه د لسګونو زروکډوالو د بېرته راستنېدو لړۍ پیل شوه.خو هرڅه پدې جګړه ځپلي هېواد کې سرچپه روان وو. د بیارغونې د داسې پروژې د جوړولو چې ستر وزګار لښکر ته د کارکولو زمینه برابره کړې څرک نه لګېده ، راستانه شوي کډوال په خیمو کې ژوند کولو ته اړشول او د هغوی سره هېڅ ډول مرستي نه کېدلې یا داسې مرستې کېدلې چې له لوږې مړه نشي.د خلکو او دولتي جایدادونوغصب لکه د تنظیمي واکمنۍ د زماني په څېر بیا پیل شو چې د شیرپور تاریخي سیمه یې څرګنده بېلګه ده.د جرمني د زیتونګ په نامه رسنۍ له قوله په شیرپور کې ۸۲۰۰۰ مترمربع ځمکه چې بیه یې شپاړلس میلیون ډالره اټکل کېده په درۍ لکه ډالرو په ۲۵۹ تنو پلورل شوې ده او یوازې ۲۱۷ تنو ته د محمدقسیم فهیم په امر ځمکه ورکړل شوې ده.عجیبه لا دا ده چې دا ځمکه ۷۸ پنجشېریانو،۳۵ پروانیانو ،۲۷ کابلیانو،۱۳ مزاریانو ،۱۰ بدخشانیانو،۸ کاپیسایانو او۱۳ کندهاریانو ته ډالۍ شوې ده. په ټول کلن امریکایي اشغال کې په دولتي ادارو کې فساد، فحشا ،د ځمکو غصب ،د مخدره توکو کښت ، قاچاق او استعمال د یوه معمولي کار بڼه ونیوله. د ځمکو غصب ته هر څواکمن ملا وتړله خو د جهادي مشرانو او قوماندانانو ونډه پکې خورا درنه وه. حامدکرزي د ولسي فشار له امله د ۱۳۹۱کال د زمري په پنځمه ۱۶۵ لمبرفرمان صادرکړ ترڅو په هېواد کې د غصب شوې ځمکې کچه معلومه کړي . د ګومارل شوي کمیسیون د رپوټ له مخې مجموعاً دوه میلیون جریبه ځمکه غصب شوې وه خو حکومت د غاصبانو څخه د دې دولتي ځمکې د مستردولو هڅه ونکړه .د مخدره توکو په تولید کې افغانستان لومړی مقام ترلاسه کړ.د اداري فساد کچه لدې څخه څرګندېږي چې د۱۳۹۹ کال د چنګابښ په لسمه له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې کمېټې "میک " یو رپوټ خپورکړ په هغه کې راغلي وو چې په ۲۰۱۸ کال کې دولتي ادارو له افغانانو څخه ۱،۶ میلیارده ډالر بډې اخېستي دي چې د یوکال د ملي عوایدو"دوه نیم میلیارده ډالرو "له نیمایي زیاتې وې. البته په پورته شمېرو کې هغه رشوتونه شامل نه وو چې په ګمرکونو کې اخېستل کېدل.دا له هېچا پټه نه وه چې د افغانستان په ګمرکونو کې د بل هر ارګان څخه فساد زیات وو. د کرزي ځای ناستي او د بن د کرغېړن کنفرانس وروسته حکومت هرکاره اشرف غني د ۲۰۲۱ کال په لومړیو کې په خپله اعتراف وکړ چې د ملي عوایدو نیمایي برخه حکومت ته نه ورکول کېږي او د مالیې وزیر ولسي جرګې ته وویل چې هره ورځ په اوسط ډول په ګمرکونو کې اته میلیون ډالر غلا کېږي.

د بن د کنفرانس د پرېکړو له مخې د اساسي قانون مسوده جوړه شوه او هغه لویې جرګې تصویب کړه. د اساسي قانون مسوده د امریکا د متحده ایالتونو د" پنتاګون د رند د موسسې د کمېټې له خوا چې غړي یې لاندې کسان دي جوړه شوله:

- Barnet Rubin - Cheryl Benar - Zulmai Khalil Zad - Nina Hachigian – Khaked M.Abou El Fadl - Said Arjomand - Nathan Brown - Michael D.Rich

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا اساسي قانون هېڅکله هم تطبيق نشو او په خپله حکومت او ولسمشرانو د هغه څخه زياته سرغړونه کړې ده. د حکومت ځينو منتقدينو به ويل چې يوازې د اساسي قانون يوه ماده چې د افغانستان پلازمېينه کابل دی نه ده تر پښو لاندې شوې. د غني له لوري د اساسي قانون څخه سرغړونه لدې ښکاري چې د جمهوري رياست دواړه دورې يې د اساسي قانون خلاف د ټاکنو د پايلو پربنسټ نه بلکې د سياسي جوړجاړي له مخې پرمخ وړې دي. غني د اساسي قانون خلاف اجرائيه رياست رامنځته کړ خو هيڅچا او په هغو کې ولسي جرګې چې د قانون د پلي کېدو نظارت يې اصلي دنده ده هېڅ غبرګون ونښود. همدارنګه د غني د واکمنۍ پرمهال د ولسي جرګې يوې دورې ته ټاکنې ونشوې او پخوانيو وکيلانو خپل کارته دوام ورکړ. کله يې چې ولسي جرګې ته ټاکنې ترسره کړې داسې له درغليو ډکې وې چې د ټاکنو د کميسيونو غړي يې زندانونو ته واچول خو د همدې کميسيونو له خوا اعلان شوې له درغليو ډکې پايلې قانوني وګڼل شوې او په درغلۍ راغلي استازي د ولس د استازو په توګه د ملت په کورکې ناست وو.

د ناټويي شل کلن اشغال پر مهال څلور ځله ولسمشرۍ او درې ځله ولسي جرګې ته ټاکنې وشوې خو هره ټاکنه د تېرې په پرتله د درغليو ډکه وه. دا بيا ښيي چې اشغالګرو د افغاني ټولنې د فاسدولو پاليسي پر مخ وړله . د اشغال پرمهال داسې ريشخند ټاکنې تر سره شولې چې ښايي په نړۍ کې يې سارې نه وي ليدل شوې چې هغه په يوه وخت کې دوه ولسمشران د لوړې مراسم ترسره کړي او دا مراسم د۲۰۲۰ کال د مارچ په لسمه(۱۳۹۸د کب نولسمه) په ارګ او سپېدارماڼۍ کې اشرف غني او عبدالله عبدالله ترسره کړل او دواړو ځانونه منتخب ولسمشران اعلان کړل.پدې توپير چې غني ځان ته منتخب او عبدالله ځان ته منتخب ټولشموله ولسمشر وويل .امريکا چې د طالبانو وروسته نظام حامي ګڼل کېده سفير يې دغني د لوړې په مراسموکې برخه لرله او په يوه اعلاميه کې يې دعبدالله اعتراضونه هم د پام وړ وبلل.د دې معنی دا کېدای شي چې حق د عبدالله سره دی يعنې چې غني د درغليو په پايله کې ولسمشر اعلان شوی دی. د امريکا له دا ډول دريځ څخه دا اخېستنه کېدای شي چې امريکا په لوی لاس کړکېچ ته لمن وهله ،کمزوری حکومت يې غوښت او د واک دوه مدعيان يې په واک کې ساتل چې د هر يوه څخه ناوړه ګټه پورته کړي . غني او عبدالله امريکايانو ته د خپلې وفادارۍ په ښودلو سره سيالي کوله او د امريکايانوسره هر ډول ملي ضد معاملو ته چمتو وو. ښه بېلګه يې د ۲۰۱۴ کال د ولمشرېزو ټاکنېز کمپاين کې د افغانستان او امريکا تر منځ د امنيتي تړون د لاسليکولو اړوند د دواړو څرګندوني دي . يوه ورځ يوه خبريال له عبدالله څخه ددې تړون د لاسليک په اړه وپوښتل هغه په ځواب کې وويل که په ټاکنو کې بريالی شي يوه اونۍ وروسته به دا تړون لاسليک کړي. همدا پوښتنه څو ورځې وروسته له غني څخه وشوله هغه ځواب ورکړ چې په ټاکنو کې د بري يوه ورځ وروسته به دا تړون لاسليک کړم په خپله ژمنه ودرېد او د ټاکنو د پايلو د اعلان يوه ورځ وروسته يې امنيتي تړون يا د افغانستان د خرڅلاو تړون لاسليک کړ.

لکه څرنګه چې پرديو په بن کې د واکمنۍ بنسټ کېښود او بيا وروسته د پنځوسو دولتونو پوځيان او ځارګر په هېواد کې ځای پرځای شول،بېله کومه شکه د قدرت په سيمه ئيزو دولتي ارګانونو او ولس کې هر هېواد خپل جاسوسان لرل ، هغوی يې نازول او چاغول.ددې لپاره چې ولسمشرهم دوی نازولي وي او هم يې باداران خوشاله ساتلې وي دوی ته يې تل باج ورکاوه. د پيسو څخه نيولې تر زرې ګاډو،امنيتي ساتونکو اونورو.پدې باج اخېستونکو کې هر څوک ، جهادي قوماندان ، ملا ،ملک ، قومي مشر، تکنوکرات ، لندغر، قاچاقبراو بدلمنې ښځې خلاصه هرڅوک چې د اشغالګرو ملاتړ يې درلود تر سترګوکېدل.د دا ډول مفتخورو لپاره د سلاکار دنده چې نه يې د ولسمشر د ليدو ليوالتيا لرله او نه ولسمشر د هغوی ليدو ته اړتيا لرله ،ځکه د هېواد او دولت د لارښووني او اداري اصلي مرکزونه د امريکا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ځواکمنو دولتونو سفارتخاني وې . محمداسمعيل يون چې د ولسمشر کرزي په واکمنۍ کې د امنيت شورا د لوړپوړو شخه وو ليکي : "د ځينو راپورونو پر بنسټ ولسمشر کرزي په ټوليز ډول (۱۱۰) تنه مشاورين لرل چي له هغي جملي څخه يې(۶۰) تنه مشاور وزيران دي. "۲۵۴ / ۲۱۰ کرزي پنځه دېرش تنه قومي او پنځه تنه ديني سلاکاران لرل. منطق دا حکم کوي چې په ديني چارو کې دوو تنو سلاکارانو ته اړتيا ده ځکه د افغانستان مسلمان خلک د دوو مذهبونو پيروان دي.ددې څخه معلوميږي چې پدې کچه د سلاکارانو شتون د ځواکمنو کسانو خوشالول وو. البته وزيرانو هم سلاکاران لرل. د ليکوال يوه دوست کيسه کوله چي د اطلاعاتو او کلتور وزير عبدالباري جهاني يوه سلاکار ورته ويلي وو چې ما د وزير صاحب له سلا او مشورو څخه زياته ګټه پورته کړه. د دې سلاکار له خبرې معلوميږي چې ده وزير ته نه بلکې وزير ده ته مشورې ورکولې. دا چې د اطلاعاتو او کلتور وزير خپل سلاکار ته د څه په اړه مشورې ورکولې د خدای تعالی پرته يوازې دوی دواړه( وزير او سلاکار) پرې پوهيږي. عجيبه خو لا داوه چې دا سلاکار پخوانی پوځي وو چې د اطلاعاتو او کلتورپه وزارت کې د سلاکار په توګه ګومارل شوی وو. د اشغال د نازولو بله بېلګه د ګڼ شمير وزارتونو او ادارو جوړول وو. د اشغال د پای په درشل کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت ۲۹ وزارت خاني لرلې . ښايي چې افغانستان به د نړۍ د زياتو وزارت خانو ريکارد ټينګ کړی وي. د ناټويي اشغال پر مهال ارګ د مالي او اخلاقي فساد مرکز وو. د غني د واکمنۍ پرمهال په رسنيو کې په ارګ کې د اتلس ډوله غوښو د خوړلو خبرې کېدلې او ددې فاسدې واکمنۍ د نسکورېدو وروسته يوې ښځينه د پاخه عمر وزيرې وويل چې لدې څخه هم په ارګ کې د غني د ټيم د يوه غړي له لوري د جنسي اړيکې غوښتنه شوې وه .

که د ناټويي اشغال لاندې واکمنۍ د لوړپوړو کړنو او په واکمنۍ کې بهيرونو او حالاتو ته وکتل شي چاروکې يې د شتمنيو د ټولولو سربېره د اشغالګرو د زړونو د لاسته راوړلو په فکرکې وو او د دې واکمنۍ ځانګړتيا فساد،زورزياتی ، قانون ماتونه او پردی پالنه وه نه يې هيواد او خلکو ته د چوپړ انګېزه لرله او نه ليوالتيا . په دولتي ادارو کې د فساد کچه د امنيتي وزارتونو د يوه وزير( معصوم ستانکزي) لدې خبرې معلوميږي چې د دفاع وزارت د يوه رياست رييس په اړه يې ويلي وو: « هغه تردې کچې فاسد دی چې پنځه زره ډالر رشوت هم اخلي.» ددې خبرې معنی دا کېږي چې د يوه جنرال لپاره پنځه زره ډالر رشوت اخيستل شرم دی. پدې واکمنۍ کې داسې عجيبې غريبې پېښې شوې دي چې د نړۍ د هيڅ هيواد تاريخ يې بېلګه نه راکوي.

اړينه بريښي چې د کرزي او غني د واکمنيو د ځينو عجيبو پېښو او وضعيت په اړه هم لږ شانتې بحث وشي تر څو لوستونکي ته د اشغالګرو پر مټ د جوړشوي نظام د څرنګوالي په پېژندلو کې مرسته وکړي.

- د افغانستان د اسلامي جمهوريت لوړپوړی د کينو اندونو خاوند رنګين سپنتا د خپل کتاب ( سياست افغانستان روايتي از درون ) نومي کتاب په ۲۶۴ مخ کې کابل ته د اوباما د مرستيال جوبايدن د سفر او په ارګ کې د کرزي په وړاندې د هغه د سپک چلند په اړه ليکي : « د ډوډۍ پر مهال کرزي جوبايدن ته د امريکايي عسکرو له خپلسرۍ شکايت وکړ او هم د پاکستان په اړه خپل شکايتونه ور سره شريک کړل . خو جوبايدن پرته له دليله عصباني شو. کرزي ته يې وويل چې له تاسو موږ ته پاکستان پنځوس ځله زيات اهميت لري . کرزي هڅه وکړه چې د جوبايدن غوسه سړه کړي مګر هغه لاسپاکی په دسترخوان ولي او په غوسه د ارګ له ډوډۍ څخه ولاړېږي او په خپله مخه ځي.» سپنتا په ۲۷۰ مخ کې دا هم راوړي چې په ۲۰۱۰ کال کې په واشنګټن کې کرزي او ورسره پلاوي ته امريکايانو ويلي دي تاسو نشئ کولی بېرته زموږ په الوتکه کې کابل ته ستانه شئ او د خپل ځان غم په خپله وخورئ او پلاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړ کېږي په کرايي الوتکه کې افغانستان ته را شي. دا وو د امريکايي مقامونو چلند د خپلو افغان مزدورانو سره .

- عبدالکريم خرم د کرزي د دفتر مشر د افغانستان او امريکې تر منځ د ستراتژيک  تړون د لاسليک په اړه د ځلوېښت کاله په توپان نومي کتاب کې د ۳۸۹ څخه تر ۳۹۵ مخونو کې مفصل غږېدلی دی چې دلته به يې لنډيز وړاندې شي .« پدې ورځ ارګ تش شوی وو د جګپوړو ساتونکي ، د لسم رياست زياتره غړي ، د جمهوري ګارد عسکر، د امنيت د شورا او ولسمشر د دفتر مامورين او... ټول له ارګه وتلي وو.د ولسمشر مرستيالان فهيم او خليلی ، د امنيت شورا مشر سپنتا او مرستيالان او ولسمشر په يوه صالون کې ناست وو او ولسمشر هغوی ته ويلي چې بارک اوباما راځي او پدې مراسمو کې ګډون کوونکي  د امريکايانو له خوا تلاشي کېږي تر دې چې د فهيم پکول ، د خليلي او مجددی لونګۍ به هم تلاشي شي. ولسمشر خرم ته ويلي دي چې مېز او څوکۍ چې د تړون د لاسليک لپاره کارول کېږي بايد تنظيم کړي خو هغه ورته ويلي دي په ارګ کې څوک نه دي پاتې چې دا کار وکړي او ټول خپلو کورونو ته استول شوي دي . کرزی  په غوسه او حيرانی پوښتنه کړې  چې دا کار چا کړی ؟ ځواب يې ورکړی دامنيت د شورا دفتر اوپې پي اېس. امريکايانو د د ژورنالستانو د راوستلو مسؤايت پخپله غاړه اخېستی وو.په هغه کوټه کې چې بايد د اوباما سره ملاقات شوی وای هلته يوه وسلواله امريکايۍ د کوټې مسوله ټاکل شوې وه افغانانو ته يې اجازه نه ورکوله چې د کوټې له منځه يوې او بلې خوا ته لاړ شي.  اوباما د شپې په يوولس نيمو بجو ارګ  ته په هليکوپټر کې راغلی او د هليکوپټر شاوخوا يې امريکايي ټانکونه ځای پر ځای شوي وو. اوباما د چای او آن د هغو اوبو له څښلو ډډه کړې ده چې د ارګ خدمتګارانو راوړې وې  او هغه يوځل د خپل ساتونکي له بوتله اوبه څښلي دي ، تړون يې لاسليک کړی دی او بېرته د بګرام  هوايي اډې ته تللی دی.»

- بله سپکه چې د اشغال زېرنده واکمنی ذلالت ښيي هغه دا وه چې په ۲۰۱۷ کال د اکتوبر په ځلېرويشتمه د امريکا د بهرنيو چارو وزير بګرام ته راغلی وو او ولسمشر غني او د اجراييه رييس عبدالله يې بګرام ته ورغوښتي وو. سبا ته د دوی د ملاقات خبر او انځورونه د هېواد په رسنيو کې خپاره شول ګواکي چې هغوی په کابل کې ورسره کتلي دي . خو څو ورځې وروسته نيويارک تايمز افشا کړل چې دا انځور فوتوشاپ شوی دی تر څو وښودل شي چې ګنې دا ليدنه د بګرام په هوايي اډه کې نه ده ترسره شوې. خرم د خپل کتاب په ۳۲۳ مخ کې د ځانګړې قطعې د يوه تن له قوله وايي چې دا قطعه  د امريکايي پوځيانو د « بلو ټيم » په نامه د يوه ګروپ  سره ګډ عمليات تر سره کول وايی ددې ګروپ « چې غړيو يې اوږدې ږيرې او برېتونه پرې ايښي دي او د سختو دندو مسؤليت يې پر اوږو دی په کومه ورځ چې ددې ګروپ کسانو څوک نه وي وژلي ډېر ناآرامه وي او آن له ډوډۍ خوړلو ډډه کوي .»

- د۲۰۰۹ کال د ثور په اتمه چې  د اسلامي انقلاب د بري جشن لمانځل کېدلو ، د ستېژ له مخامخ کورونو نه ډزې وشولې چې مرګ او ژوبله يې هم لرله.دې ډزو  داسې ګډوډې راوړله چې د پوځي پرېټ لپاره چمتو شوي عسکري ټولګي د سترګو په رپ کې له سيمې وتښتېدل او پدې ډول پرتمين پوځي پرېټ په پرتمين پوځي فرار( تېښته) واوښت يعنې مراسم سبوتاژ شول.دلته ليدل کېږي چې هغه مهال افغانستان څه ډول بې دسپلينه او ډارن پوځ درلود. عجيبه خو لا داده چې ولسمشر د ده د ساتنې ځواک منسوبينو ته چې پې پي اس يادېده د مکافاتو په نامه يوه  مياشتې اضافي تنخواه  ورکړله چې ګواکي ولسمشر يې په مېړانې او سرشندنې سره له سيمې ويوست.

- د۲۰۱۹ کال د مارچ په څوارلسمه په مزارشريف کې کمسارې پېښه وشوله چې د اشرف غني عجيبه حکومتولي ننداري ته ايږدي . ټولو ته څرګنده وه چې د کرزي د واکمنی پر مهال د بلخ والي عطامحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د بلخ د شهنشاه لقب ګټلی وو خو کرزي هغه وزغملو .البته چې کرزي هر زورواکی زغملو او د دې زورواکو هرې روا او ناروا غوښتنو ته يې غاړه اېښودله چې په ولايتونو باندې د پنجشېر او دايکندي ولسواليو اړول يې ځرګنده بېلګه ده چې د خپلو مرستيالانو محمدقسيم فهيم او محمدکريم خليلي په غوښتنه يې دا کار وکړ. کله چې اشرف غني ولسمشر شو غني چې د دوزو ، لاپو شافو اوغوړو ژمنو اتل وو ويل چې زورواکي او د قدرت جزيرې به ختمې کړم . ساده ګان څه چې د لوړو زده کړو خاوندان يې هم تېر ابستلای شوای . خو دې سياسي ماشوم دا وړتيا نلرله و پوهېږي چې دا زورواکان د ده په څېر پرديو د واک او ځواک خاوندان کړي دي او يوازې اشغالګر کولای شي زورواکان پخپل ځای کښېنوي. غني پرېکړه وکړه چې د نوموړي شهنشاهۍ ته د پای ټکی کېږدي . غني عطا د يوې پټې معاملې له مخې قانع کړ چې له ولايت څخه ګوښه شي. هغه ګوښه کړل شو او د غني سياسي خياطانو تبليغات پيل کړل چې غني د قدرت جزيرې له منځه وړي . غني د کرکټر له مخې هېڅکله هم په خپلو ژمنو نه دی درېدلی .
همدا لامل وو چې غوښتل يې په بلخ کې د خپلې خوښې امنيي قوماندان وګوماري خو په کور ناست بې تاجه شهنشاه عطامحمد نور ورسره مخالفت وکړ او غني اړشو د کابل څخه ځانګړي امنيتي ځواکونه مزارشريف ته ولېږي او د پوځي عملياتو پرمټ نوی قوماندان د امنيي قوماندانۍ په څوکۍ کينوي. دې عملياتو د مرګ او ژوبلې سربېره په سيمه کې پرتو ودانيو او هټيو ته مالي زيانونه هم ورسول.خو د دې قوماندان د مسئوليت دوره ډېره لنډه وه او د پنځه ويشتو ورځو وروسته غني اړشو د کورناستي شهنشاه ارادې ته سر ټيټ کړي او د پوځي عملياتو پرمټ کېنول شوی قوماندان ګوښه او د شهنشاه سړی هلته د قوماندان په توګه وګوماري. داسې برېښي چې اشرف غني د نوي امنيه قوماندان په ګومارنه کې د حبيب الله کلکاني له تجربې څخه استفاده کړې ده .وايي چې کلکاني يو نوی حکمران مقررکړ خو پخوانی حکمران چمتو نه وو خپل مقام پرېږدي. کلکاني د ستونزې د حل لپاره د حکمرانۍ مدعيانو ته احوال استولی چې دوی دې غېږې ونيسي هرچا چې مقابل لوری ځملاوه هغه حکمران دی. د نړۍ دوهم متفکر د ۹۰ کلونو په تېرېدو سره په مزارشريف کې د بلخ د امنيي د قوماندان د ګومارنې لپاره د کلکاني د تزس خو د غېږې نيولو پرځای د دواړو اړخونو د وسلوالو ځواکونو څخه استفاده وکړله. همدا لامل وو چې ځينو د طالبانو وروسته واکمنيو ته دريمه سقاوي ويله . دوهمه سقاوي د شمال تلوالې واکمني وه .د غني د ريشخندې حکومتولۍ بله بېلګه د هغه د تېښتې په درشل کې يوه مسخره پېښه ده چې هغه جنرال مرادعلي د دايکندي د والي په توګه مقرر کړ هغه يې د يوه وزير سره په چورلکه کې کينولو او ولايتي مسولينو ته يې هدايت ورکړ چې په هوايي ډګر کې د پلاوي او نوي والي هرکلی وکړي . خو چورلکې ته د الوتنې پر مهال دستور ورکړل شو چې بېرته را وګرځي او جنرال مراد علي خپل مراد ولايت ته و نه رسيد او بل ځای هم مقرر نشو . د غني له لوري په جوزجان کې د داودلغماني په نامه مقرر شوي والي و نکړای شول د ولايت مقام ته لاړ شي هغه يې د قول اردو په قرارګاه کې د والي په توګه معرفي کړ دوې اونۍ يې په قول اردو کې ولايت وکړ خو غني اړشو د شمال د بل شهنشاه مارشال دوستم ارادې ته غاړه کېږدي او د دوستم د خوښې وړ سړی په جوزجان کې د والي په توګه وګوماري.
- د ناټويي شل کلن اشغال پر مهال د حامدکرزي او اشرف غني په شمول غوڅ اکثريت جګپوړو نه دا چې ولسي ريښه نلرله بلکې په ټولنه کې منفور هم وو . همدا لامل وو چې د خپلو ادارو او کورونو شا وخوا يې سمنټي ديوالونه درولي وو . کرزي او غني د خپلو نړيوالو ملاتړو د ارادې له مخې د پرديو د موخو پلې کوونکو، جګړه مارانو ، د اشغالګرو برېڅو، لوټمارانو او د خپلو خلکو د قاتلانو درناوی کاوه ، غټ ِغټ مقامونه اوهغوی ته د اتلانو او مارشالانو لقبونه ورکول او پوهنيز بنسټونه يې د جګړه مارانو او حرفوي قاتلانو په نامه ونومول.ځرګندې بېلګې يې مسعود (ملي اتل) ، فهيم (مارشال)، دوستم ( مارشال

(c) ketabton.com: The Digital Library



)، رباني ( د سولې شهيد) او مزاري ( د ملي يووالي شهيد )دي.که د يادو کسانو د تورو کارنامو يادونه وشي د يوه کتاب له حوصلې وتلی کاردی . آيا کوم حکومت به مسعود ته د ملي اتل او دوستم ته د مارشال لقبونه ورکړي چې لومړي په پټه د شوروي اشغالګرو سره د دوستی او همکاری پټ تړونونه لرل او دوهم يې د شوروي اشغالګرو سره ګډ د افغان اولس د ملي مقاومت د ځپلو له امله د افغانستان د جمهوريت د اتل لقب ترلاسه کړی وو. همدې دواړو( مسعود او دوستم) په ۱۹۹۲کال کې د ملګروملتو د سولې پروګرام شنډ کړ کوم چې د هېواد څوارلس کلنې جګړې ته يې د پای ټکی ايښود.د سولې د پروګرام په شنډېدو سره نه يوازې په افغانستان کې وحشت او بربريت واکمن شو بلکې د هېواد د تمدن ټولې نښې نښانې يوپناه شوې ، وسلوال يوځ له منځه ولاړ او کابل په کنډواله واوښت. په بل هرهېواد کې به د مسعود او دوستم په څېر وګړي د ملي خاينانو په توګه پېژندل شوي وای خو زموږ د همدې زماني پړاو حکومتونو يو ملي اتل اعلان کړ اوبل ته يې مارشالي ورکړه. د اشغال په لومړيو کې چې د اشغال ګټې شمېر اردليانو کومو چې د مارشال د پلان د پلې کولو اپلتې ويلې او د يوې لسيزې وروسته يې په سنګاپور او جاپان د افغانستان د اړولو نغارې ډنګولې د دوی د خوبښې وړ ولسمشر چې هغه يې د نړۍ دوهم مفکر بللو خو همدې نړيوال مفکر په ۲۰۲۰ کال کې په هېواد کې د فقر لاندې کرښې هېواد والو شمېر په سلوکې (۹۰) اعلان کړ او نړيوالو بيا د اشغال زېږنده حکومت د نسکورېدو په درشل کې( اګست ۲۰۲۱ ) د هېواد د پنځه دېرش ميليونو خلکو څخه اتلس ميليونه بېړنيو مرستو ته اړمن اعلان کړل. آيا دا وګړي به اوس د وجدان د عذاب څخه نه ځوربږي؟ اشغال ګټې شمېر ناوړه او کرغېړن ميراثونه افغاني ټولنې ته پرېښودل چې کلونه به زموږ خلک له هغو څخه ځورېږي چې يو له هغو څخه شا وخوا دری نيم ميليونه معتادان او نېشه يان دي او بل د پرديو په مرستو روږدي کېدل او د بهرنيو استخباراتي شبکو سره همکاري چې دې همکاريو ( جاسوسۍ) ته يې کاري اړيکې ويلې. د افغانانو د لوږې او معتادانو په اړه پورتني ارقام ښيي چې اشغالګر د يوه هېواد د آبادولو لپاره دا هېواد نه نيسي بلکې د هغې د شتمنيو د لوټلو، د ټولنې د فاسدولو او يا نورو سياسي موخو ته د رسېدو په خاطر هېوادونه اشغالوي. د اشغالګرو افغاني ضد موخې لدې څخه څرګندېږي چې هغوی په جاپان کې دې هوکړې ته ورسېدل چې افغانستان په ترانزيتي هېواد واړوي. پداسې حال کې چې افغانستان د صنعتي کېدو او پانګې اچونې غوره شونتياوې لري . خو اشغالګرو غوښتل افغانستان يو استهلاکی هېواد وي نه صنعتي هېواد تر څو په خپلو پښو و نه درېږي او پرديو ته اړ وي .

## د امريکايي اشغال پرمهال پخواني خلقيان او پرچميان

د انګرېزی- امريکايي ځواکونو د خونړي يرغل وروسته زموږ د زماني د فرعون او د هغه د متحدينو لسګونه زره پوځيان او څارګر لکه وږي لېوان د افغانانو په داړلو لګيا شول. دا مهال د لويديځ يو سر او زر ژبو رسنيو په افغانستان کې د داسې يوه زماني پړاو د رارسېدو تبليغات پيل کړل چې ګواکې پدې هېواد کې د ټولنيز ستر انقلاب په څېر د بنسټيزو بدلونو لړۍ پيل شوې ده . دې تبليغاتو د افغانستان غوڅ اکثريت لوستی قشر داسې اغېزمن کړ چې ببله استثنی ټولو کيڼ لاسو اوښي لاسو ، مذهبي او غيرمذهبي ډلو بربنډ اشغال ته نړيواله مرسته ويله او د اشغال زېږنده فاسدې واکمنۍ په ملاتړ کې ودرېدل او سياسي فعاليتونه يې پيل کړل. پداسې يوه حالت کې پخوانيو خلقيانو او پرچميانو د هېواد د ننه او بهر د خپلو توتې شوو ګوندونو د بيا په پښو درولو هڅې پيل کړې .البته دا هڅې د هېواد بهر او په تېره لويديځ کې ډېرې محسوسې ځکه وې چې هلته مېشت پخواني خلقيان او پرچميان د اقتصادي ستونزو سره مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو. په افغانستان کې دا هڅې ځکه پیکه وې چې هغوی د بېساره اقتصادي ستونزو سربېره د سیاسي فعالیت څخه هم وېره درلودله چې د دوی پرونی دښمني جهادي ډلې کومې چې د واکمنۍ د ملاتیر یې جوړولو ورته ستونزې جوړې نکړي . البته دا هڅې د پرونیو فرکسیوني تړاوونو پربنسټ پیل شولې. له څه مودې وروسته جوته شوله چې ددې بهیر لارښوونه پروني ځېنې خلقي او پرچمي مشران کوي. ددې آزمایل شوو مشرانو د بیا فعالیت پایله دا شوله چې د یوه سترملي - مترقي غورځنګ راڅرګندېدل یو خوب او خیال پاتې شي او کوچنۍ ډلې را څرګندې شي. دی نویو سازمانونو ټولو بلا استثنی لکه نورو سیاسي ډلو ناټویي اشغال ته نړیواله مرسته ویله . پدې توګه دا سازمانونه یو ځل بیا د خپلو خلکو ترځنګ و نه درېدل . البته غوښ اکثریت پخوانیو خلقیانو او پرچمیانو د کوم سازمان سره اړیکې ټینګې نکړلې او غوره یې و ګڼله چې پدې کوچنیو وچو جزیرو کې ځان و نه وینې.

د بېلګې په توګه به په هالند( ندرلند) کې د خلقیانو په هلوځلو مکڅ وشي چې وروسته یې څه ډول په اروپا کې د نورو اروپایي هېوادونو د خلقیانو سره ګډې هڅې پیل کړلې او د دې هلوځلو پایله د یوه ستر سازمان جوړول نه بلکې د پرونیو ګروپي او فرکسیوني تړاوونو له مخې د ګوندونو په نامه د کوچنیو بې اغېزه سازمانو منځته راتګ شو. په هالند کې د ۲۰۰۲ ز کال د جنوري په شپږویشتمه یعني د انګلوساکسوني خونړي یرغل څه کم څلورمیاشتي وروسته د( هیلورسوم) ښار کې یوه غونډه جوړه شوله چې په هغې کې د دېرشو تنو شاوخوا پخوانیوخلقیانو برخه لرله. پدې غونډه کې د خلقي اړخ د مرکزي کمېټې اصلي او علی البدل غړو محمود سوما ، محمد اسمعیل دانش ، نیازمحمد مومند، اقبال وزیري ،خیال محمدکټوازي او محمد فاروق کارمند ګډون کړی وو. پدې مشرانو کې یوازې سوما د ملي یوالي ګوند د مشرتابه څخه برخه لرله. غونډه دانش پرانېستله لنډه وینا یې وکړه او دا یې هم وویل " موږ د خلقیانو رهبرۍ هرڅه چې وکړل و مو کړل اوس تاسو ځوانان خپل ټوټې شوی ګوند په پښو ودروئ ، موږ به تاسو ته سلامشورې درکوو او د نننۍ غونډې له مشرۍ هم ډډه کوو." دریو تنو د ګوند د بیا په پښو درولو کې د دوی په شتون ټینګار درلود خو دوی ونه منله او دلیل یې دا وو چې موږ په ټولنه کې د کمونستانو په نامه پېژندل شوي یو، لدې امله پدې خوځښت کې زموږ شتون د ګټې پر ځای زیان لري. کله چې د ګوند یو مشر وایي مونږ په ټولنه کې د کمونستانو په نامه پېژندل شوي یو ، معنی یې دا ده چې هغه د ګوند د مشرتابه په تېرو درېځونو او تېروتنو اعتراف کوي چې د افغانستان په څېر وروسته پاتې ټولنه کې یې د پرمختللو هېوادونو نسخې پلې کولې. د غونډې پر مخ وړونکي په خپلو خبرو کې دا هم وویل چې د لندن ملګرو د غونډې د برخه والو شهرت غوښتی دی. لدې خبرې څخه معلومېدل چې د دې بهیر ترشا په لندن کې مېشت مشران(زیری ، شاولي او میثاق) ولاړ دي . که چېرې دې مشرانو په ګډه ددې کارلارښوونه کړې وای ښایي غوره پایلې یې لرلای ځکه هر یوه یې د شوروي د اشغال مخکې او وروسته خپل ځانګړي درېځونه لرل او که دا مهال هغوی ګډ دریځ نیولی وای او د فرکسیوني تمایلاتو او ځانغوښتنې سره یې مخه ښه کړې وای یقیناً چې د دې شونتیا کچه لوړه وه چې د خلقیانو د یوه ستر خوځښت بنسټ کېښودل شي. په غونډه کې زیاتره ګډونوالو د خلقي خوځښت د بیا په پښو درولو ټینګار درلود او غونډه دې پایلې ته ورسېدله چې د ملګرو، علاقمندانو او روڼ اندو د تنظیمولو او د یوې سترې غونډې د رابللو په موخه د تدارک اته کسیز کمېسیون وټاکل شو چې لیکوال یې هم غړی وو. دې کمیسیون هره اونۍ غونډې کولې او د غونډو د بهیر د څرنګوالي څخه لیکوال شکمن شو چې ددې خوځښت لارښوونه زېری کوي. د تدارک کمیسیون څو غونډې وکړي اړین سندونه یې چمتو کړل او د اپریل په اوومه عمومي غونډه راوبلل شوله.د غونډې د رابللو په اړه دا پوښتنې پیدا شوې چې څوک غونډې ته را وبلل شي او دا کار څرنګه ترسره شي .لکه څرنګه چې ددې خوځښت موخه په یوه واحد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړښت کې د افغان روڼ اندو تنظيمول وو ،د تدارک کميسيون هم اړين سندونه په هالند کې د مېشت افغان کډوالو تنظيمولو ته را ګرځولي وه. زياترو کسانو وويل چې د شخصي اړيکو پربنسټ بايد خلقي ملګري راوبلل شي. پدې اړه د ليکوال لخوا دا نظر ورکړل شو چې دوه مياشتې پدې کار وشو چې په هالند کې به د افغان روڼ اندو غونډه جوړوو په کار ده چې د هالند د کډوالو په کمپونو او هغه بنسټونو کې چې د کډوالو سره کاري اړيکې لري اعلاميې خپرې شي چې ټول ليوال افغانان پدې غونډه کې ګډون وکړي خو دا وړانديز پدې دليل ونه منل شو که د مختلفو اندونو کسان پدې غونډه کې برخه واخلي ښايي تخريبکارعناصر دا غونډه اخلال کړي.د دې دليل په اورېدو سره ليکوال دې پايلې ته ورسېد چې خلقيان په يوازيتوب د يوه ځواکمن غورځنګ د جوړېدو جوګه ندي او که د خلقيانو کوم سازمان هم جوړيږي هغه به د پخوانيو ډله بنديوڅخه رنځ وړي چې شتون به يې ګټور او اغېزمن نه وي . د تدارک د کميسيون د پرېکړې له مخې ددې کمېسيون غړو د شخصي اړيکو له مخې هرچا خپل خلقي ياران يا په بله وينا همفکران غونډې ته راوبلل او غونډه د اپريل په اوومه د شاوخوا شپېتو تنو په ګډون سره چې د ملي يوالي ګوند دريو غړو هم پکې برخه اخېستې وه جوړه شوه او اووه کسيزه د انسجام کميټه د ټاکنو پر اساس غوره شوه. ليکوال ددې غونډې وروسته ددې بهير سره اړيکې وشلولې. په همدې بنه په ټولو اروپايي هېوادونو کې په اصطلاح د خلقي ګوند د بيا په پښو درولو هڅې شوې دي.

د ۲۰۰۲ ز کال د اپريل په يوويشتمه په دنمارک کې د پخوانيو خلقيانو د اروپايي هېوادونو استازو غونډه شوې او بله غونډه يې د اګست په يودېرشمه د آلمان د کولن په ښار کې شوې چې د ۵۰۰ څخه تر ۶۰۰ تنو خلقيانو پکې ګډون کړی وو .د شاه محمودحصين پرته د غونډې نورو ويناوالو په افغانستان کې د ناټويي پوځيانو شتون تائيد او هغه يې په افغانستان کې د ولسواکۍ د ټينګښت لپاره اړين بللی دی . د حصين له وينا وروسته يوه برخه وال د حصين وينا طالبي تفکر بللی وو. عجيبه دا ده چې د حصين د مرګ وروسته همدې ښاغلي د حصين د کارنامو او ښو ځانګړتياوو په اړه يوه ليکنه په ټولنيزو شبکو کې خپره کړله .غونډې د نوي جوړشوي خوځښت نوم ( د تفاهم بهير) کېښود. يوکال وروسته په ۲۰۰۳ ز کال کې د تفاهم د پروسې بله غونډه د سويډن د مالمو په ښار کې را وبلل شوه. پدې غونډه کې د خوځښت نوم د تفاهم په نهضت واړول شو چې موخه يې د نورو خلقي ډلو سره يو جوړجاړي ته رسېدل دي. د تفاهم د نهضت دريمه غونډه په۲۰۰۴ ز کال کې بيا په جرمني کې جوړه شوله .پدې غونډه کې د تفاهم د نهضت مشر د رپوټ په يوه برخه کې راغلي وو چې موږ هلې ځلې وکړلې چې د خلقيانو د شته سازمانونو سره ګډه ژبه پيداکړو چې بريالي نشوو خو لکه څرنګه چې په افغانستان کې يو شمېر ملګرو ملي ګوند جوړکړی دی او زياتره د تفاهم نهضت غړي پدې باوردي چې ددې ګوند غړيتوب تر لاسه کړي او د تفاهم نهضت خپل شتون ته د پای ټکی کېږدي.ددې وړانديز څخه ګڼ شمېر برخواله ملاتړ کړی ، د مخالفت غږونه هم پورته شول او هغوی پدې اند ووچې تراوسه د تفاهم نهضت د خلقي ريښه لرونکو سازمانو سره جوړجاړي ته نه دی رسېدلی او د ملي ګوند سره يوځای کېدل د سترخلقي ګوند د جوړېدو مخه نيسي. خو د اکثريت په رايو دا وړانديز ونه منل شو. په اروپا کې د تفاهم د نهضت زياته برخه د ملي ګوند سره لاړله. يو شمېر د تفاهم د نهضت په نامه خپل شتون ته دوام ورکړ او ګڼ شمېر ناپېيلي پاتې شول چې پدې ډول د تفاهم نهضت په دريو برخو وېشل کېږي.پدې غونډه کې د سلو تنو شاوخوا کسانو برخه لرله.البته په کابل کې د ملي ګوند مشر عبدالرشيد آرين چې د زيري له کلکو پلويانو څخه شمېرل کېږي غوره شوی وو.

پرچميانو هم په همدې بڼه د خپل پاشل شوي سازمان د بيا په پښو درولو هلې ځلې پرمخ وړلې. د کارمل پلويانو لومړی د نهضت ميهني په نامه يو جوړښت را منځته کړ او هغه په دوو ډلو د بريالي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرۍ د نهضت میهني او د نورالحق علومي په نامه د ملي متحد گوند په نامه ډلو وویشل شو.البته د نجیب پلویانو د وطن د گوند په نامه فعالیت درلود چې غړي یې نجیب الله پلوي خلقیان او پرچمیان وو. په همدې ډول د خلقیانو او پرچمیانو پخوانیو کدرونو د شلو څخه زیات گوندونه جوړ کړل. لدې څخه ښکاري چې دواړه ډلې بریالی نشوې یو یا دوه ستر سازمانونه جوړ کړي . د خلقیانو او پرچمیانو له گېډې څخه را وتلي سازمانونه ( ملي گوند ، حزب مردم افغانستان، ملي یووالی گوند، د وطن گوند) د نورو ډلو په پرتله د کمیت له مخې ځواکمن وو او غوڅ اکثریت غړي یې د پاخه عمر پخواني کدرونه وو . ویل کېدل چې د ملي گوند او حزب مردم افغانستان ترشا صالح محمد زېری او نوراحمد نور ولاړ وو دا هغه مشران دي چې د شوروي د اشغال پرمهال روسانو غبرگوني بلل. د خلقي آرین او پرچمي محمد آصف بکتاش تر مشرۍ لاندې ډلو د افغانستان د ترقۍ ملي گوند تر نامه لاندې یووالی وکړ. خو کله چې آرین د کارمل د پلویانوحزب مردم افغانستان سازمانونو سره د یووالي خبرې پیل کړې پرچمي بکتاش مخالفت وښود او له گوند څخه ووت . خو د یوالی پایدار نه وو او د عبدالحی مالک په مشرۍ د خلقیانو یوه ستره برخه له یووالي ووتله خو آرین او یو شمېر نورخلقیان د داود راوش ترمشرۍ لاندې په یوه گوند کې پاتې شول . د ناټویي اشغال پر مهال د ا،خ،د،گ له گېډې څخه راوتلو سازمانونو هڅې وکړې چې تر یوه چتر لاندې راسره غونډ شي خو کومې اړینې پایلې یې نلرلې. د خلقیانو له گېډې راوتلو دوو ځواکمنو ډلو (ملي گوند او ملي یووالي گوند ) تردې کچې د یووالي په بهیر کې مخته لاړل چې په ځینو هېوادونو کې یې سازمانونه هم منحل کړل خو بېرته سره جلا شول. په کال ۲۰۱۰کې په هالند کې د یوه دوست د بلنې له مخې مې د همدې دوو ډلو د یووالي په غونډه کې گډون وکړ. خوغونډه په نااندریو او مشاجرو واوښتله . د غونډې له بهیر څخه لیکوال دې پایلې ته ورسېد چې د خلقیانو او پرچمیانو او بیا په هره ډله کې د هغوی فرکسیوني مخینې ته په کتو سره امکان نلري هغوی په یوه ټغر کېني. هره ډله یې ځان سلامت او مقابل لوری ملامت گڼي او چمتو نه دي په تېر انتقادي نظر واچوي او حقایقو ته غاړه کېږدي.ددې ډلو غړي تردې کچې په خپلو کوچنیو ډلو او په خپلو سیاسي مرشدانو میني دي که یووالي ته یې غاړه هم ایښې ده حتی د خپل نامه نه دي تېر شوي. دلته به یې یوه بېلگه راوړل شي. کله چې د آرین ترمشرۍ لاندې ملي گوند د بکتاش تر لارښونې لاندې د ترقي گوند سره یووالی وکړ نوم یې( دافغانستان ملي ترقي گوند) غوره کړ چې په نوي گوند کې د هرگوند د پخواني نوم یو څه شتون ولري .همدې د افغانستان ملی ترقي گوند د افغانستان د خلکو گوند د کارمل له ارادتمندانو(حزب مردم افغانستان) سره یووالی وکړ او د نوي گوند نوم یې ( د افغانستان د خلکو ملي ترقي گوند) ته وده ورکړه .همدې گوند د نورالحق علومي تر ریاست لاندې (ملي متحد گوند) سره یووالی وکړ اونوم یې( دافغانستان د خلکو د ملی متحد ترقی گوند) ته ارتقا وکړه او ځېنو بیا په ټوکو دې گوند ته د (وغیره گوند) ویل. علومي هم لنډه موده وروسته د ( وغیره گوند) څخه ووت او په خپل پخواني ملي متحد گوند په نامه یې فعالیت ته دوام ورکړ. د پخواني ا ، خ، د ، گ له گېډې راوتلي کوچني سازمانونه ځانونه کېن لاسي بلل خو په کړنلارو کې یې د کینو اندونو څه نه لیدل کېدل. پدې اړه په زړه پورې دا وه ، سره لدې چې دوی عملاً د خپل پروني لیډلوري او باورونو سره مخه ښه کړې ده خو د نورو جهادي یا غیر جهادي سازمانونو سره یووالي او یا ائتلاف ته زړه نه دی خوښ کړی او نور گوندونه یې انجویي گوندونه بلل .

پدې اړه به لیکوال د عبدالرشید آرین سره په هالند کې د یوه خلقي په کور کې د یوه مجلس یادونه وکړي چې شپږو اوو تنو نورو پخوانیو خلقیانوهم شتون درلود.آرین په خپلو خبرو کې وویل چې د نوراحمدنور سره یې ملاقات کړی او د دې کتنې موخه دا وه که د حزب مردم افغانستان سره یووالی وشي. لیکوال ترې و پوښتل چې په افغانستان کې لسگونه گوندونه فعالیت کوي ولې تاسو د دې گوندونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یووالی نه کوئ چې یوازې په پرچمیانو پسې ګرزئ؟ هغه وویل دا نور ټول انجویي ګوندونه دي او مونږ هغوی نه پیژنو . لیکوال ورته وویل فکرکوم دا ټول به شکمن ګوندونه نه وي ،ښایي د ملي فکرخاوند ګوندونه او وګړي پکې شتون ولري او د اړیکو په ټینګولو سره شوني ده ، هغوی وپیژنئ او جوړجاړي ته هم ورسره ورسیږئ .د پرچمیانو او خلقیانو مخینه معلومه ده چې شوني نه ده په یوه سازمان کې ګډ فعالیت وکړي. د لیکوال له لیدلوري یوازې فاروق کارمند ملاتړ وکړ خو آرین خبره بلې خوا ته یوړله، ځکه چې قانع کوونکی ځواب یې نه درلود. که چیرې د ناټویي اشغال په وړاندې د پخواني د ا،خ،د،ګ له ګېډې څخه رازیږېدلو سازمانونو دریځ ته وکتل شي بربنډ اشغال ته یې نړیواله مرسته ویلې او د اشغال لاندې فاسد حکومت څخه یې ملاتړ کړی دی. دوی ځانونه د چپ او مترقي غورځنګ ملاتړي ګڼل خو په ولسمشریزو ټاکنو کې د جهادي ریښه لرونکو یا د لویدیځ څخه دیسانت شوو نوماندانو ملاتړ کړی نه د خپلو پرونیو همفکرانو او سازماني ملګرو څخه .غوره بېلګه یې د۲۰۰۹ ز کال ټاکنو کې د شهنوازتڼي او حبیب منګل پرځای د کرزي او عبدالله څخه ملاتړ او حتی هغوی ته ټاکنیز کمپاین وو. هغه مهال لیکوال د ملي ګوند له یوه غړي و پوښتل چې تاسې په ټاکنو کې د چا څخه ملاتړ کوئ هغه وویل له کرزي څخه . لیکوال ترې پوښتنه وکړه ولې د تڼي یا منګل څخه ملاتړ نه کوئ هغه په ځواب کې وویل د دوی بریا ناشوني ده . دا وه ددې ګوندونو مبارزه چې باید د قوي کاندید ملاتړ وکړي او دا ورته ارزښت نلري چې هغه څه ډول مخینه او لیدلوری یا تګلاره لري. د خلقیانو او پرچمیانو تلپاتې دښمنې لدې ښه جوتیږي چې کله په همدې ټاکنو کې تڼي د بدخشان او هرات څخه زیاتې رایې ګټلې وې د کارمل پلوي حزب مردم افغانستان یوه غړي لیکوال ته وویل چې زمونږ ملګرو سکایپي غونده راوبلله ترڅو تڼي ته په بدخشان اوهرات کې د زیاتو رایو ګټلو لامل پیدا کړو. تڼي پدې ټاکنو کې ۲۹۶۴۸ او منګل ۲۱۵۱۲ رایې ګټلې وې چې تڼي شپږم او منګل نهم ځای در لود او کرزي چې ولسمشر شو ټولټال ۲،۲۸۳۹۰۷ رایې ګټلې وې. په ټولنه کې د دې سازمانونو اعتبار او نفوذ له دې ښه معلومیږي چې د ملي یووالي د ګوند مشر عبدالرشید جلیلي ولسي جرګې ته په ۲۰۰۹ ز کال کې د ننګرهار څخه او د ملي ګوندمشر عبدالحی مالک او داود راوش د حزب مردم افغانستان د ګوند مشر په ۲۰۱۹ ز کال کې د کابل ښار څخه ولسي جرګې ته ځانونه کاندید کړل خو بریالي نشول.

د پورتنیو څرګندونو پربنسټ دې پایلې ته رسیږو چې د پخواني د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند د ګېډې څخه راوتلو سازمانونه وچو جزیره ته ورته دلې وې چې ښایي ستر سازمان یې د څلورو زرو تنو څخه زیات غړي نه لرل .که څه هم د ګوندونو د قانون له مخې هغه مهال یو ګوند په عدلیه وزارت کې راجستر کېدای شوای چې لس زره تنه غړي ولري خو د اداري فساد له امله عدلیې وزارت هغوی راجستر کړي دي یا دا چې عدلیې وزارت ته ویل شوي وو هر څوک چې د ګوند د جوړولو لیوال وي او د اشغال زېږنده واکمنۍ ملاتړ کوي هغه راجستر کړئ تر څو وښودل شي چې په جمهوریت کې د هرې ایدیولوژۍ او فکر خاوندان کولای شي سیاسي فعالیت وکړي .د دې سازمانونو ټیټ کمیت او کمزوری سیاسي فعالیت ښیي چې ددې جوګه نشول په ځوان نسل کې ریښې و ځغلوي او د خپلو پخوانیو ملګرو ملاتړ یې هم تر لاسه نکړ. که څه هم د خلقیانو او پرچمیانو له ګېډې را وتلو کوچنیو ډلو د اشغال زیږنده واکمنۍ څخه ملاتړ کړی دی خوعجیبه دا وه چې همدې بلواکې واکمنۍ پر پرچمیانو باور کړی دی او لوړ مقامونه یې ورکړي خو خلقیانو ته یې پام نه دی را ګرزولی .د اشغال زیږنده جمهوریت کې پرچمیانو غوره دریځونه درلودل ، په واکمنۍ کې سرببره د ولسمشرانو سلاکاران هم پاتې شوي دي لکه نورالجق علومي، محمد عالم رزم، محمد حنیف اتمر، عبدالرشید دوستم، ذکي ، شاکر ، ډاکترسهیلا صدیق، جنرال افضل لودین ، خلیل الله زمر، سلیمان لایق، عبدالوهاب ساپي او ... وروستي دوه تنه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوند د بنسټ ايښودونکي کنګرې برخوال وو او زمر د د پاڅون وړاندې د پرچم د رهبرۍ غړی وو. زمر د ثور د پاڅون وروسته زنداني شو او د نجيب الله د واکمنۍ په وروستيو کې له زندانه خوشې کړل شو . پرچميانو د ده د زنداني کېدو لامل دا ګڼلو چې هغه د داودخان حکومت ته د پرچميانو په اړه رپوټونه ورکول . عبدالوهاب صافي او جنرال لودين د غني سلاکاران وو. غني غوښتل چې لودين د دفاع وزير و ګوماري خو د ځينو چاراواکو د مخالفت له امله د دفاع وزير په توګه د هغه په مقررۍ بريالی نشو. د ځينو په اند غني لدې کبله په پرچميانو ډېره لګوله او باور در لود چې هغه د دموکراسۍ په لسيزه کې د پرچم د سازمان سره سازماني اړيکې لرلې. پدې اړه مسکين يار چې د امريکې څخه د يوه ټلويزيون متصدي دی په يوه پروګرام کې وايي چې غني دی د کارمل او اناهيتا کور ته هم بوولی وو.

## ناکامي هڅې

کله چې يو څوک په شعوري ډول سياست ته مخه کړي ، د يوه ګوند غړيتوب يې منلی وي او ډېره موده ددې ګوند حرفوي کدر پاتې شوی وي معنی يې دا کيږي چې د داسې يوه وګړي ژوند د همدې خوځښت او دهغه د ملي او انساني هدفونو سره تړلی دی او هيله لري دا غورځنګ د هېواد د سياسي ډګر يو اغېزمن لوبغاړی پاتې شي. يو د داسې کسانو څخه د کتاب ليکوال دی.له همدې امله د ګوند د ټوټې ټوټې کېدو وروسته ليکوال هڅې وکړلې چې ددې پاشل شوي خوځښت په بيا په پښو درولو کې ونډه واخلي. له بده مرغه دې هلو ځلو کوچنۍ بريا نه لرله .ښايي د نورولاملونو سربېره د اړينې پوهې نشتون او د ګوند د واکمنۍ پر مهال د غوره دريځ نه لرل وي . لکه څرنګه چې مخکې راغلي وو د ناټويي اشغال په لومړيو کې په هالند کې د ګوند د په پښو درولو له بهير څخه دې پايلې ته ورسېد چې د ملي يووالي او د سولې غورځنګ سربېره د بل خلقي خوځښت جوړول ګټور نه دي. د همدې کبله پدې فکر کې شو که امکان ولري په هالند کې ټول پخواني خلقيان په يوه سازمان کې تنظيم شي. لدې وروسته دا لړۍ نورو اروپايي هېوادونو او افغانستان ته وغزېږي اوپدې ډول د خلقيانو د يوه واحد ګوند د بيا په پښودرېدو خوب په واقعيت واوړي. له همدې امله د ځينو ملګرو سره د همغږۍ وروسته د هالند د امستردام په ښار کې د داسې غونډې د سمبالولو کار ته اوړه ورکړه چې په هغو کې په هالند کې د ملي يووالي ،سولې غورځنګ ، د تفاهم د نهضت اړونده ډلو استازي اوغير سازماني پخواني خلقيان برخه ولري او د ګډ فعاليت يو سند لاسليک شي. دا غونډه د۲۰۰۳ کال په لومړيو کې جوړه شوه. په هالند کې د سولې غورځنګ ، د ملي يووالي ګوند ، د تفاهم د بهير مسؤلين د خپلو څوڅو تنو ملګرو او څو تنو غير سازماني ملګرو چې ټولټال پنځلس تنه کېدل په غونډه کې برخه لرله.د غونډې په پيل کې د ملي يووالي مسؤل ليکوال ته وويل: " موږ کوم سند نه لاسليک کوو." د دې خبرې په اورېدو سره لکه چې په اور اوبه واچوې خواشينی شوم او له ځان سره مې وويل چې سند نه لاسليکوئ نو د څه لپاره راغلي ياست.هغه ته مې وويل سمه ده .په غونډه کې ټولو د خلقيانو پر يووالي ټينګار وکړ خو داسې ښکارېدل چې د تفاهم نهضت او د غيرسازماني ملګرو پرته د سولې غورځنګ او د ملي يووالي ګوند استازي د ګډ فعاليت سره ليوالتيا نلري او ويل يې چې موږ خپل ګوندونه جوړکړي دي څوک چې د مبارزې ليواتيا لري زموږ د ګوندونو دروازې د هغوی پرمخ پرانېستې دي.پدې ډول غونډه بېله کومې پايلې پای ته ورسېدله. دې ناکامې هڅې نهيلی نکړم او پدې فکر کې شوم چې داسې يو مرکز را وپنځول شي چې خلقيان ګډ کار ته وهڅوي ، دا ګډ کار دې ته لاره هواره کړي چې د خلقيانو ترمنځ سليقوي اختلافاتونه له منځه لاړشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو کېډو لپاره اړین شرایط برابرشي او سربېره پردې د هېواد د روانو سیاسي –ټولنیزو بهیرونو او پېښو په اړه د خلقیانو دریځ ولس ته ورسول شي. د لیکوال له انده اړینه وه چې یوه ویب پاڼه را وپنځول شي . دا مسأله د هالند د ځینو ملګرو سره طرحه شوله او ټولو عادت له مخې په پوره شوق سره پدې لار کې د مرستې او قلمي همکارۍ ټټرونه وډبول.د ملګرو دې لیوالتیا ته په کتو سره په ۲۰۰۴ ز کال کې د خلقي شته سیاسي ډلو اوعلاقمندانو کوچنۍ ناسته راوبلل شوه.دا مهال د تفاهم له نهضت څخه ملي ګوند زیږېدلی وو چې د دې ګوند استازو هم په ناسته کې برخه اخېستې وه. په غونډه کې ټولو د وېب پاڼې جوړول اړین وګڼل او د ( ۲۸ - اسد) په نامه مو د وېب پاڼې د جوړولو پرېکړه وکړه.خو کله چې د دې پاڼې د جوړولو تخنیکي پروسیجر پای ته ورسېد او د لګښت مساله را پورته شوله د ملي ګوند د غړو او څو تنو غیرسازماني ملګرو پرته نورو برخه وانه اخېستله.همدارنګه د عصمت الله رسا پرته نورو خلقیانو په خپلو تحلیلي لیکنو سره د پاڼې د غوړېدو سره مرسته ونکړه که څه هم ځینو شعرونه او کیسې راولیږلې نه سیاسي او ټولنیزې شننې او ارزونې . د خلقیانو مشر صالح محمدزیري درۍ لیکنې چې یوه یې تحلیلي او دوې کیسې وې پاڼې ته رااستولې دي. پدې هکله عجیبه خبره دا وه چې یوه ورځ حبیب منګل د پرچمیانو له مشهورو کدرونو څخه د ټلفوني خبرو په ترڅ کې را ته وویل " زیري صاحب زما څخه وغوښتل چې د ۲۸ - اسد ویب پاڼې سره قلمي همکاري وکړم " خو منګل د پاڼې سره همکاري ونکړه.لیکوال ته داسې ښکاره شول چې منګل لیکوال په دپلوماتیکه ژبه وپوهولو چې ګواکې د۲۸- اسد پاڼه زیری رهبري کوي.داسې ګونګوسې هم خپرېدې چې دا وېب پاڼه په ملي ګوند پورې تړلې ده .که دا ویب پاڼه ملي ګوند خپله پاڼه ګڼله د دې ګوند د نظر او قلم خاوندانو چې په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې فعال وو او یو شمېر یې د ناټویې ځواکونو پرمټ د واکمن بلواک حکومت په ملاتړ تحلیلي لیکنې کولې او په ګردیو میزونو کې هم د سیاسي کارپوهانو په نامه را څرګندیدل پدې ویب پاڼه کې به یې یوه مقاله خپره کړې وای.دا ډول بې بنسټه تبلیغات او د خلقیانو نه همکاري د دې لامل وګرزېدل چې له دریو کلونو خپرونو وروسته ویب پاڼه خپلې خپرونې ودروي.د وېب پاڼې د خپرونو د درولو اصلي لامل دا وو چې دا پاڼه د خلقیانو د اندونو په نشراتي ارګان او د خلقیانو د یووالي په مرکز وانه وښتله . البته پاڼې د لوستونکو پام ځانته راګرزولی وو او د مختلفو نظریاتو د خاوندانو لیکنې یکې خپرېدلې .په ۲۰۰۵ ز کال کې د پالتک په نامه یوې رسنۍ د شته افغاني ویب پاڼو په اړه نظرسنجي کړې وه چې پدې نظرسنجۍ کې د۲۸ - اسد ویب پاڼې دریم ځای ترلاسه کړی وو. ښایي نورو پخوانیو خلقي او پرچمي کدرونو د افغانستان د ننه او بهر ورته هلې ځلې کړې وي خو دا چې هلوځلو یې اړینې پایلې نلرلې د هغوی د هڅو ناکامي هم ښیي .

## خلقي خونې

په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د خلکو ملي ترقي ګوند خلقي اړخ د انټرنیټ په مجازي نړۍ کې د "خلقي خونو" په نامه خونې جوړې کړې . د دې خونو نوښتګر په امریکا کې مېشت زمری کمالپوري د څارندوی پخوانی افسراوعبدالقیوم د شوروي د تېري وروسته د کندهار د ښاري ګوندي کمېټې منشي او په کابل کې عبدالله حبیب سرحدي برحال افسر او احمدستانکزی پخوانی افسر وو. دوی هغه خلقیان چې فیسبوکي اکاونټونه لرل په خونو کې ابډېټ او ترې ویې غوښتل چې د خپل ټوټې ټوټې شوی ګوند په پښو درولو کې برخه واخلي . ګڼ شمېر پخوانیو خلقیانو دې بلنې ته مثبت ځواب ورکړ او د څو ورځو په ترڅ کې د دې خونو برخوال تر اته سوو تنو هم واوښتل. لیکوال هم په پوره لیوالتیا پدې فکر چې ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرونیو سازماني ملګرو یې د افغانستان د اوږد مهال ناورین، اشغالونو او د ګوند د واکمنۍ د ترخو تجربو څخه د عبرت درس اخیستی وي د ډله بندیو سره به یې مخه ښه کړې وي او غواړي یو ملتپال سیاسي ګوند جوړ کړي کوم چې د ناټویي اشغال خلاف دریځ غوره کړي . په خونو کې د لیکوال فعالې وندې ته په کتوسره د خونو د فعالیت سمبالوونکي ، زمري کمالپوري ورسره اړیکې ټینګې کړلې او د خونو د چارو د ښه سمبالولو په موخه یې سلا مشورې غوښتلې .د خونو د فعالیت په لومړیو کې اکثریت برخه وال د خونو د فعالیت څخه راضي بریښېدل . په خونو کې د یووالي د بهیر په اړوند د فعالو برخوالو د اندونو او نظریاتو څخه چې شمېر یې شاوخوا پنځلس تنه کېده جوت شول چې ډېری په پرون کې ژوند کوي ، تراوسه د مخکنیو ډله بندیو درانه پېټي لیږدوي د خپل ګوند د اته ویشت کلن تاریخ او د هېواد د روان ناورین څخه یې زده کړه نه ده کړې. د خونو د فعالانو دریځونو ته په کتو سره هغوی په دریو ډلو وېشل شوي وو.

لومړی ډله هغه کسان وو چې فرکسیوني تمایلات یې نلرل ، د ګوند پخواني مشران تره کي او امین یې سیاسي مرشدان نه ګڼل . هغوی د خلقیانو د یوه سترخوځښت د جوړولو په سوچ کې وو. دوهمه ډله د امین پلویان وو او دریمه ډله چې ظاهراَ د تره کي پلویان شمېرل کېدل. دا ډله بیا په دوو برخو ویشل شوې وه چې یوې ډلې تره کی ته د ګوند د بنسټ ایښودونکي په توګه درناوی کاوه نه دا چې د نوموړي په نامه سوداګري وکړي .دوهمه ډله یې هغه سیاسي سوداګر وو چې د شوروي د اشغال پرمهال د امین سره د مخالفت په تمثیل سره په ستېژ کې ناست وو. په خونو کې د لومړۍ ډلې(د فرکسیونبازۍ سره پردي او ناپېیلي ) اغېز ځکه محسوس نه وو چې هغوی متشکل نه وو ،خو دوو نورو ډلو ځانګړی اغېز درلود ځکه چې هغوی سازماني تشکیلات لرل او د یوه مرکز څخه رهبري کېدلې. دې دواړو ډلو د خونو په فعالیت او پرېکړو ټاکونکی اغېز درلود پدې معنی چې د خلقیانو د یووالي کلۍ د دوی سره وه . دا متشکل خلقیان د خلکوملي ترقی ګوند(عبدالحی مالک) او ملي یووالي ګوند( عبدالرشید جلیلي) سازمانونو غړیتوب درلود. د خلقیانو د ګېډې څخه راوتلو دوو نورو سازمانونو سولې غورځنګ( شهنوازتنی) او د افغانستان خلق انقلابي ګوند(شیرګل اوستا)استازو هم په خونو کې شتون درلود خو هغوی نادریو او پرونیو اختلافونو ته لمن نه وهله. د خونو د جوړېدو په درشل کې د سولې غورځنګ مشر شهنوازتني د خلقیانو په پته شعار ور ته دا پیغام «ته رهبر زه دې عسکر»خپور کړ. د دې شعار ډوله پیغام معنی دا وه چې دی د یووالي په موخه د مشرتابه څخه هم تېر دی. هممهاله د دا ډول پیغام خپرېدل او د خلقي خونو جوړېدل هم عجیب بریښېدل . د نظرونو د اختلاف سره سره د خونو اکثریت برخه والو په لیکنو او کمنټونو کې دوه ګډ دریځونه درلودل ،یو دا چې تېرهېراو خلقیان په یوه خوځښت کې راټول شي او بل دا چې د پرچمیانو سره ګډ فعالیت شونی نه دی او له هغوی سره باید اړیکې وشلول شي چې دا اشاره د خلکو ملي ترقي ګوند ته وه چې د پرچمي داود راوش په مشرۍ د افغانستان د خلکو ملي ترقي ګوند کې تنظیم وو . د خلکو د ملي ترقي ګوند د پرونیو خلقیانو اکثریت د پرچم سره د سازماني اړیکو د پرېکون لیوال وو.البته د دې ګوند هغه غړو چې د عبدالرشید آرین پلویان شمېرل کېدل د یووالي په بهیر کې د ټولو ملي او مترقي ځواکونو پر یووالي ټینګار درلود چې په غیر مستقیمه توګه موخه یې د پرچمیانو سره د خپل یووالي څخه دفاع وه .د خونو د لنډې مودې فعالیت وروسته څرګنده شوله چې عبدالرشید آرین او عبدالرشید جلیلي د خلقیانو د یووالي د بهیر سره همغږي نه دي او پایله یې دا شوه چې غوڅ اکثریت د ملي یووالي غړي چې هغه مهال د نوموړي سازمان مشر عبدالرحیم سالارزی وو د جلیلي خلاف دریځ ونیسي .جلیلي دې وضعیت ته په کتو سره د خپلو همفکرانو ځانګړې ډله جوړه کړله او سربېره پردې د ببري امین ( د امین زوی) په مشرۍ هم ددې ګوند یو شمېر غړو لدې ګوند څخه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببله کړي او پدې ډول د ملي يووالي گوند په دريو ډلو وويشل شو. ملي ترقي گوند هم عملاً په دريو ډلو وويشل شو .د عبدالحی مالک په مشرۍ د گوند يوه برخه د پرچم څخه جلا شوه ،آرين او پلويان يې د پرچم سره پاتې شول او بلې ستړې برخې يې د منظمې سياسي مبارزې څخه لاس واخيست. پدې ډول دا دواړه گوندونه ټوټې ټوټې شول . د خونو د جوړېدو بله پايله دا شوه چې د پرونيو خلقيانو ترمنځ واټن لا زيات شي. د خونو فعاليت وښودل چې خلقيان د بيان د آزادۍ او د ډيالوگ او مشاجرو له لارې د اختلافونو د حل سره پردي دي او ډېرى يې په پرون کې ايسار پاتې دي او بده دا چې اکثرآ د ناټويي اشغال په ملاتړ کې ولاړ دي . د خونو د جوړېدو څه موده وروسته د ملي يوالي گوند د خونو سره پدې نامه بايکاټ وکړ او جلا خونه يې جوړه کړله چې غوښتنو ته يې پام نه راگرزول کېږي ،ځکه چې عملاً د خونو رهبري د ملي ترقي گوند سره وه. همدارنگه يو شمير ناپيلو خلقيانو د خونو نه اغېزمنتوب او د دوى وړانديزونو ته نه پاملرنې ته په کتو سره د خپلواکو خلقيانو په نامه جلا خونه جوړه کړله او خپل وړانديزونه او خپلې طرحې يې خونو او گوندونو ته لدې لارې وړاندې کولې .په خونو کې د خپلواکو خلقيانو په اړه د ملي ترقي گوند دريځ له هماغه پيل څخه دوستانه نه وو او د هغوى په اړوند د ملي يووالي گوند دريځ د وخت په تېرېدو مثبت لورى نيولو . ښايي د ملي يووالي د سازمان دا دريځ لدې امله وو چې د خپلواکو خلقيانو په څېر د هغوى وړانديزونو ته هم د خونو نوښتگرو او چلوونکو پام نه را گرزولو.د ملي يووالي گوند اړونده فعالانو پردې ټينگار کاوه چې د يووالي په بهير کې د خپلواکو خلقيانو طرحې ومنل شي. خپلواکو خلقيانو کوم تشکل نه درلود او د نوي تشکل د راڅرگندېدو ليوالتيا هم نلرله .د دې ډلې مرکزي کسان سيدرحمن رحماني، نورالحق نبي زاده څلى ، عصمت الله رسا او ليکوال وو. خپلواکو خلقيانو د خلقي خونو وضعيت ته په کتو سره چې دا خونې د خلقيانو د يووالي لپاره کټه نلري بلکې د خلقيانو لا پاشلو ته لار هواروي او که نبغ په نيغه د خونو سره پريکون وکړي د نه يووالي ملامتي به پر دوى واچول شي. هغه مهال به اصطلاح خپلواکو خلقيانو غوره وګڼله چې لنډه موده به د خپلواکو خلقيانو په نامه فعاليت وکړي که دا دريځ يې يووالي ته مرستندوى شي موخې ته به رسيدلي وي او که دې موخې ته هم و نه رسېږي د خپلواکو خلقيانو په نامه خونه به وتړي. هماغه دي چې د يوشمېر نورو ملگرو لکه عصمت الله سهاک ، اسدالله زغرد او تاج محمدحبيب سره گډ د خپلواکه خلقيانو په نامه فعاليت ته دوام ورکړ او څه موده وروسته يې خپل فعاليت ودرولو. البته د ملي گوند او ملي يووالي اړونده فعالان لا تر اوسه ځانگړې خونې لري او د سياسي فعاليتونو په نامه خپل بنډارونه پر مخ وړي .

د دې خونو د فعاليت پايله دا شوله چې پخواني سازماني او غير سازماني خلقيان يې لا نور هم سره وويشل شي او يا په بله وينا د خلقيانو د يووالي پرځاى يې ببلوالى راووړ ، د خلقيانو نسبي دوه غټ گوندونه يې ټوټې ټوټې کړل او د خلقيانو ترمنځ يې د بې باورۍ کچه لوړه کړله. ببله کومه شکه د هر چا څخه زياته پېره د خونو په نوښتگرو لوېږي .د خپلواکو خلقيانو د خونې د تړلو څه موده وروسته ليکوال ته د محمد سرور خوشحال لخوا يو عجيب مسېج راغى چې له ليکوال څخه يې يو لړ پوښتنې کړې وې. يوه يې دا وه چې خواتي د محمد کبيرکارواني په وژنه کې لاس درلود. دا پوښتنې هغه ته د ملي گوند او د دې گوند د پلويانو د يوې سکايپي غونډې له امله پيداشوې وې چې د ليکوال په پته يو لړ نور تورونه هم لگول شوي وو. که څه هم خوشحال په ليکوال د تور لگوونکي نوم نه وو راوړى خو وروسته معلوم شول چې هغه معلم قيوم د شوروي خاينانه پوځي يرغل له برکته د کندهار د ښاري گوندي کمېټې د منشي په توگه گومارل شوى وو. ليکوال خوشحال ته ځوابيه مسېج وليږلو چې هغه د ليکوال د دولتي دندو په اړه وو تر څو دا ښاغلى وپوهيږي چې کله اروانباد کارواني د شهنواز تني د کودتا په تور د پرچميانو له لوري ووژل شو ليکوال په مسکو کې زده کړې کولې. خوشحال ځوابيه مسېج راولېږه چې ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخې یې دا دي :« په پوره درناوي او ښښنه غواړم چې داسې پوښتنې مې درته وړاندې کړې دي. اوس مې یاد ته راغلل ته د حربي پوهنتون د سیاسي آمریت معاون وې. هغه وخت زه پوهنځی پیاده کې محصل وم ترسخت فشار لاندې وم ...، زه تا د یو سپېڅلي خلقي په توګه پېژنم. د اردلیانو په نامه ستا یو پوست مې تایید او شېر کړی وو، هغه ماته په خونو کې جنجال جوړ کړ. دغه پوښتنې چې ما درته وړاندې کړې وې ما غوښتل چې درواغ او رښتیا معلوم کړم. له داسې بېځایه ټاپو لګولو رنځ وړم... » که د نوموړې سکاییپي غونډې برخه وال ځو کرښې ولولي ښایي وپوهېږي چې قیوم سیاسي فعال دی یا د امریکایي اشغال ملاتړی . د قیوم سره لیکوال هېڅ ډول اړیکې او مناسبات نلرل او ښایي د لیکوال د اشغال ضد دریځ ددې سبب شوی وي چې د هغه دښمني وکړي لکه څرنګه چې محمد سرور خوشحال ته یې د لیکوال د اردلیانو په اړه لیکنې خپرولو جنجال جوړ کړی وو. ددې څخه ښکاري چې معلم قیوم له هغو افغانانو سره دښمني لري چې اشغال ضد دریځ یې درلود. د معلم قیوم په اړه به یوه بل واقعیت ته ګوته ونیول شي او هغه دا چې ښایي هغه لومړی خلقي مجاهد !؟ وي داسې مجاهد چې د هېواد څخه د شوروي اشغالګرو له وتلو وروسته د ا. خ. د . ګ د واکمنی خلاف جهاد کړی دی هغه ګوند چې دی یې د کندهار په ځېر د ستر ښار د ګوندي کمېټې منشي وو. دا کومه ادعا نه بلکې د دې خلقي مجاهد خپلې څرګندونې دي چې د « استبداد» په نامه په خپل کتاب کې یې د خپلو جهادي کارنامو یادونه کړې ده . دا خلقي مجاهد جهاد ته د مجاهدینو قوماندان ملاملنګ چمتو کړی دی . هغه د خپل کتاب په ۲۸۴ مخ کې د مجاهد ملاملنګ دا خبرې راوړې چې قیوم ته یې په پاکستان کې کړې وې :« زموږ سره خبرې د امریکا سره خبرې .موږ د امریکا خلک یو . د تنظیمونو او پاکستان پروا نلرو. دا خبرې مې د نیاز محمد مهمند ، قادر اکا او ګلداد سره شریکې کړې او خوند یې ورنکړ.» دا هغه مهال دی چې د کب د شپاړلسمې ډرامې وروسته یو شمېر خلقیان پاکستان ته وتښتېدل چې قیوم یو له هغو څخه وو. که څه هم هغه د مجاهدینو سره د همکارۍ په اړه خبره د دریو تنو مهمند ، اکا او ګلداد سره شریکه کړې او هغوی د اړین بصیرت له کبله د جهادي ډلو سره همکارۍ ته لیوالتیا نه ده ښودلې او د قیوم په وینا خوند یې ورنکړ خو ده د ملاملنګ له اربکیانو سره ګډ په هلمند او کندهار کې د حکومت خلاف جهاد کې برخه اخلې .

د یادولو وړ ښکاري هغو ځمنو خلقیانو چې د زړه له تله یې هیله لرله چې خپل ټوټې ټوټې شوی ګوند بېرته په پښو ودروي او د یووالي په موخه یې خونو ته مخه کړه ورته ښایي دې پوښتنې ته د ځواب موندلو په لټه کې شي چې په ۲۰۱۷ ز کال کې ولې د یووالي په ځای بېلوالی راغی ، دا تصادفي پېښ شول یا د خونو د طراحانو نقشه همداسې وه . د خلقي خونو د نوښتګرو نه رښتینولي په لاندې بېلګه کې د پوهیدو وړ ده. یوه ورځ زمري کمالپوري د مسنجر له لارې را سره اړیکه ونیوله او د خبرو په ترځ کې یې وویل چې « د شهنوازتنې او عبدالرحیم سالارزي ترمنځ مې د یووالي د هوکړه لیک د لاسلیک مخه ونیوله ، پداسې حال کې چې هغوی دواړو عبدالله حبیب سرحدي ته انتظار ایست او ما سرحدي ته وویل چې ورنشي.د خپل دې کار لامل یې دا ګڼه چې ملي ترقي ګوند د امینیانو سره د یووالي لیوال نه دی.» لیکوال ورته وویل تاسې چې د امینیانو سره یووالی نه کوئ نو بیا مو ولې د ټولو خلقیانو د یووالي شعار اوچت کړی دی؟ ښایي نوموړي زما له دریځ څخه چې په ځینو مواردو کې د امین منتقد پاتې شوی یم ، فکرکاوه چې زه به ورسره همغږی وم .پداسې حال کې چې د یوه سیاستوال او یا د ګوند د مشر منتقد پاتې کېدل د هغه او یا د هغه د همفکرانو سره د دښمنۍ معنی نلري او په بله خوا د یوه ارمان د همفکرانو سره منافقت په هېڅ دلیل د منلو وړ نه دی.

د خلقي رنګارنګ خونو د فعالیت او د خلقي ریښنې لرونکو ډلو د فعالانو د پرله پسې لېدنو کتنو پایله دا شوه چې د کاغذ پر سر د ۱۳۹۹ لمریز کال د چنګاښ په دیارلسمه د(۲۰۲۰ زریز کال ،جولای دریمه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې یو هوکړه لیک لاسلیک او د جولای په اوومه زمري کماليوري په خپل وال کې خپور کړ چې په یوه برخه کې یې راغلي وو:"تر اوږدې مودې بیلتون وروسته شپږو سیاسی جوړښتونو؛ د افغانستان ملی یووالي ګوند؛ د افغانستان د ملی ترقی ګوند؛ د افغانستان د خلکو د سولې او نېکمرغۍ سازمان؛ د افغانستان د سولې، دموکراسۍ، او بیا رغوني لپاره د تفاهم نهضت، د واحد، سراسري اغیزمن خلقي ګوند د جوړولو له پاره د تفاهم او انسجام کمیټې او د همفکرو ملګرو د یووالي مرکز تر زیاتو هڅو او هاند او اوږدو جدي بحثونو وروسته د وحدت د سندونو- تفاهملیک، د عمل مؤقتی برنامې او د وحدت د میکانیسم- طرحې تصویب کړې." ددې اعلامیې له خپرېدو دوې ورځې وروسته د چنګابښ پنځلسمه په فېسبوک کې د افغانستان د سولې غورځنګ ګوند،د خلق کارګرګوند، د سترتره کي د ښوونځي پلویان ، روسیه کې د خلق دموکراتیک ګوند پخواني غړي،د قضاوت ټولنه ،د یووالي خوځښت د عام او تام سازماني او انقلابي ، مفکوروي او سیاسي یووالي اعلامیه هم خپره شوله. ددې اعلامیو د خپرېدو سره هممهاله دې ډلګکیو د یو بل خلاف تبلیغات پیل کړل. ددې اعلامیو د خپرولو وروسته د دوی د فعالیت په اړه څه ندي اورېدل شوي . د امریکې په مشرۍ د ناټویي اشغال تر پایه کوم خلقي ګوند چې لږترلږه د دوو- دریو ډلو څخه جوړشوی وي را څرګند نشو. د ناټویي اشغال پر مهال چې په کابل کې د ګوندونو کارخانه جوړه شوې وه رنګارنګ ګوندونه یې تولید او بازار ته وړاندې کړل. همدې کارخانې خورا بې کیفیته توکي یعنې د یو شمېر پخوانیو خلقیانو او پرچمیانو څخه هم د ګوندونو په نامه خورا بې کیفیته توکي بازار ته وړاندې کړل .دا ګوندونه د اشغال د بدعتونو څخه یو بدعت وو. داسې ګوندونه پدې کارخانه کې تولید شول چې مشتریان یې نلرل خو عاید یې ډېر وو. شل کلن ناټویي اشغال وښودل چې ولسپال ګوندونه د پردیو په اشارو او مالي مرستو سربېره په پمنو فکرونو، سیاسي نیرنګونو او خېرنو معاملو نه جوړېږي.

## له جګړې ترمصالحې

د ۲۰۰۱ کال ناین ایلیون ترهګریزو بریدونو وروسته د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش په خپله وینا کې وویل :" مونږ به د هغه کسانو او د هغو دولتونو چې هغوی ته یې پناه ورکړې ده توپیر ونکړو." همدارنګه د دې پېښې په ورځ یې بیله څېړنو د پېښې پېړه په القاعده شبکې واچوله .دې ډول څرګندونو ښودل چې افغانستان د امریکا د پوځي یرغل له ګواښ سره مخ دی . پداسې یوه بېړني حالت کې چې یوه اړخ ، امریکا د جګړې او مقابل لوري اسلامي امارت د جوړجاړي دریځ غوره کړی وو، سلیم عقل او د م ،م د منشور غوښتنه دا وه چې رامنځته شوې ستونزه د سیاسي لارې حل شي .خو د نړۍ سوپر ځواک له امارت د یولړ نورو غوښتنوسربېره دا هم غوښتل چې بېله څه ویلو اسامه بن لادن امریکایانو ته وسپاري او امریکایانو ته اجازه ورکړي چې په افغانستان کې ټول پوځي مرکزونه وڅاري .د طالبانو له لوري د امریکایانو غوښتنو ته د غاړې نه ایښودل د دې لامل شو چې امریکا – انګرېز پر افغانستان تېری وکړ. د تېري یوه ورځ وروسته د اکتوبر په اتمه بوش پخپله بله وینا کې طالبانو ته وویل : " یا به وژل کېږئ یا به بندیان کېږئ." دا نو د یوه باتور ولس ته د زمانې د فرعون التیماتوم وو. د دا ډول التیماتوم معنی مرګ او یا ذلت ته غاړه ایښودل وو. افغان مرګ مني خو ذلت نه ، او هغه د قربانۍ د پسه په شان ځان قصاب ته نه سپاري بلکې د قصاب په وړاندې هم درېږي . د بوش دا پیغام کوم سوداګریز ریکلام نه وو بلکې عملاً یې خپلو پوځیانو ته د طالب جنګیالي او هر سرکښ افغان د وژلو او تړلو دستور ورکړ. څرګنده بېلګه یې په لیلي دښته او د مزارشریف په جنګي کلا کې د زرګونو طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسيرانو ډله ييزه وژنه ده . د انګلوساکسون د اشغال وروسته په لومړيو کلونو کې هم حامدکرزي او هم امريکايانو د طالبانو د تخم د ورکولو خبرې کولې همدا لامل وو چې هغو طالب مشرانو او جنګياليو چې عادي ژوند ته مخه کړې وه د ملي امنيت د دستګاه ، پوځ او د شمال تلوالې د ځورولو، وژلو او تړلو له ګواښونو سره مخامخ شول د طالب او تر شک لاندې افغانانو په کورونو چاپې پيل شوې. دا ډول کړنې ددې لامل وګرزېدلې چې ګڼ شمېر پښتون توکمه هېوادوال اړشي غرونو ته وخيژي او يا پاکستان ته کډه شي او پدې ډول د اشغال خلاف وسلوال ملي مقاومت پيل شي.پدې اړه د دې واقعيت يادول اړين برېښي چې د نجيب الله د واکمنۍ د نسکورېدو په درشل کې د شمال تلوالې په جوړېدو سره افغاني ټولنه جبراً د يوې پردۍ د سناريو له مخې د پښتون او غير پښتون د ويش له ګواښ سره مخ شوه. شمال تلوالې واک ته په رسېدو د پښتنو د ځورولو سربېره په هېواد کې د ځمکې په سرمحشر جوړ کړ او په رنګارنګ وحشتونو لاس پورې کړ. همدا لامل وو چې د دې وحشت د ختمولو په موخه طالبانو له کندهار څخه سر راپورته کړ او غوڅ اکثريت پښتنو دې تحريک ته مخه کړله . البته د نورو ورونړو قومونو استازي هم د طالبانو د تحريک تر څنګ ودرېدل خو په مشرتابه کې يې د پښتنو ونډه غوښنه وه ، لکه څرنګه چې په شمال تلواله کې پښتنو هم شتون درلود خوغوڅ اکثريت يې غيرپښتانه او په مشرتابه کې يې تاجک توکمه مخور ولاړ وو.همدا لامل وو چې د انګلوساکسوني اشغال پرمهال هرپښتون طالب ګڼل کېده او تر ګواښ لاندې وو. لکه څرنګه چې مخکې ويل شوي وو ملامحمدعمر د طالبانو د اسلامي امارت مشر د کندهار د سقوط وړاندې د راديو له لارې امريکايي چارواکو ته دا پيغام خپورکړ :"تاسو فکرمه کوئ چې د ښارونو په سقوط سره به ستاسې په مقابل کې افغانان تسليم او له مقاومته لاس په سرشي ،بلکې هغوی به له تاسو سره د مقاومت په خاطرغرونو ته خيژي او له هغه ځايه به ستاسې پر خلاف جهاد ته دوام ورکړي. " ژوند هم د ملاعمرپه وړاندوېينه د صحت مهر ولګاوه ، د اشغال خلاف مقاومت پيل شو اود دې مقاومت د ملاتير طالب جنګياليو جوړ او لارښوونه يې هم ملامحمد عمرمجاهد کوله. د امارت د نسکورېدو څه کم پنځه مياشتې وروسته طالب جنګياليو د۲۰۰۲ ز کال د مارچ په څلورمه د پکتيا ولايت په شاه وليکوټ کې په امريکايي اډه بريد وکړ او څو چورلکې يې ور ويجاړې کړې.د بريد دوه اونۍ وروسته جنرال ټامي فرانکس د امريکايي ځواکونو قوماندان اعتراف وکړ چې د طالبانو په بريد کې دوه چورلکې ويجاړې ، اته تنه عسکر ووژل شول او۸۲ تنه ټپيان شول. د وخت په تېرېدو سره د جګړو لمن او ورسره جوخت د طالبانو د ولکې سيمې پراخېدې خو د طالبانو په اړه د امريکايانو په ستراتېژۍ کې چې د جګړې او طالبانو د بشپړې ماتونې ستراتېژي وه د بدلون کوم څرک نه لګېده.کله چې د امريکې د۲۰۰۸ کال ولسمشريزې ټاکنې دموکرات ګوند وګټلې اوباما د طالبانو د ماتولو په پار په افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو شمېر له پنځه څلوېښتو زرو څخه يو لک اودېرشو زرو ته ورسولو، او ښايي چې دا شمېره لا لوړه وي ځکه چې اشغالګرو د خپلو پوځيانو کره شمېر هېڅکله هم نه دی ويلې .خو د اشغالګرو ځواکونو زياتول او د هغوی وحشيانه بمباريو او د پوځې عملياتو زور نه دا چې اشغالګرو او د هغه مزدور حکومت ته ګټه ونکړه بلکې د افغانانو د غوسې، د طالبانو د پياوړتيا او د بهرنيو پوځيانو د مرګ او ژوبلې د زياتېدو سبب وګرزېدل . غوره بېلګه يې په۲۰۰۹, ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو کې د هغوی د تلفاتو زياتوالی دی چې په ۲۰۱۰ کال کې لوړ رقم ۷۱۰ ،په ۲۰۱۱ کې ۵۵۹ او په ۲۰۰۹ کې ۵۱۶ تنه ښودل شوی دی.لدې امله اوباما د خپلې لومړۍ دورې په وروستيو کې اړشو چې د طالبانو سره د جوړجاړي په اړه فکر وکړي. د امريکا په تګلاره کې د دا ډول بدلون معنی دا وه چې امريکا د آسمان څخه ځمکې ته راکښته شوله . که څه هم امريکايانو د طالبانو سره پټې خبرې اترې په ۲۰۰۷ کې پيل کړې وې خو په ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په دريمه يې له طالبانو سره خبرې رسنيزه کړې چې د مارچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر شپاړلسمې پورې يې دوام وموند. طالبانو دا مذاکرات لدې امله ودرول چې ګواکې امریکایان په خبرو کې ربنتیني نه دي اوغواړي د مذاکراتو څخه رسنیزه ګټه پورته کړي. دا چې ولې امریکایانود طالبانو سره خبرو ته مخه کړه د اشغالګرو د تلفاتو او لګښتونو سربېره د سیمې د هېوادونو(چین ، روسیه ، ایران ) نوی دریځ وو چې د ترهګرۍ سره د مبارزې په نامه د امریکا په نیت شکمن شول او نور يې د امریکا سره ربنتیني همکاري نه کوله او د طالبانو سره يې اړیکې ټینګې او پاللې.دا امریکایانو ته د خطر زنګ وو چې له طالبانو سره په سوله او جوړجاړي فکر وکړي. هماغه دي چې د۲۰۱۳ کال د جون په اتلسمه (۱۳۹۲ل کال دغبرګوني اته ویشتمه ) د قطر په پلازمېینه دوحه کې د نوموړي هېواد د بهرنیو چارو د وزیر د مرستیال له لوري په رسمي ډول طالبانو ته سیاسي دفتر پرانیزي. مخکې لدې حامدکرزي ویل چې د طالبانو پته څرګنده نه ده چې د هغوی سره د سولې او پخلاینې خبرې وکړي.خو کله چې دا دفتر پرانستل شو کرزي پدې نامه اعتراض وکړچې پدې دفتر کې د طالبانو د اسلامي امارت جنډه رپیږي او د دفتر په دروازه د طالبانو د اسلامي امارت لوحه ځړول شوې ده چې دا د طالبانو د امارت په رسمیت پیژندنه ده او له امریکا یانو يې وغوښتل چې دفتر وتړي. حامدکرزی د طالبانو د سیاسي دفتر پرانستلو تردې کچې سربداله کړی وو چې د آزادۍ د رادیو له قوله هغه د یوې ورځې په ترڅ کې دوه ځله پدې اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته تلفون کړی دی او پدې اړه د نوموړې راډیو د۱۳۹۲ کال د غبرګولي په دېرشمې نېټې وېب پانه کې داسې راغلي دي: " د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري له ولسمشر حامد کرزي سره د چارشنبې په ورځ دوه ځلې تیلیفوني خبرې کړي دي او نوموړي ته يې ډاډ ورکړی چې په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره واشنګټن هم د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر په نوم موافق نه دی." د قطر هېواد د طالبانو د دفتر نه د امارت جنډه او لوحه لرې کړله . د دفتر د پرانېستلو له امله موافقه شوې وه چې دوه ورځې وروسته به د امریکا او طالبانو تر منځ مذاکرات پیلېږي خو کله چې امریکایان په ټاکلې ورځ دفتر ته ورغلل طالبانو له خبرو ډډه وکړه.

اسلامي امارت په دوحه کې د خپل سیاسي دفتر د پرانستلو موخه په هماغه ورځ د لاندې اعلامیې په خپرولو سره روښانه کړه:

۱ – د نړی له هیوادونو سره د تعلقاتو د ښه کولو لپاره افهام او تفهیم او خبرې کول.

۲ - د یو داسې سیاسي او سوله ییز حل ملاتړ کول چې په هغه کې د افغانستان د اشغال خاتمه، او هلته د یو خپلواک اسلامي نظام قایمېدل، او واقعي امنیت راتلل چې د ټول ملت غوښتنه او هیله ده یقیني وي.

۳ – د وخت له مقتضی سره سم له افغانانو سره لېدنې کتنې تر سره کول.

۴- له ملګرو ملتونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو او غیر حکومتي موسساتو سره تماس نیول.

۵ - د اوسنیو سیاسي حالاتو په اړه سیاسي بیانونه د مطبوعاتو په اختیار کې ورکول.

که څه هم دفتر فعال نه وو خو د طالبانو د دفتر کارکوونکي هلته ترسترګو کېدل او طالبانو د دې دفتر له لارې نړیوالو سره اړیکې ساتل . دا ډول اړیکې چې د طالبانو د سیاسي بریالیو هلوځلو او یا ښايي د نورو دولتونو لیوالتیا وه د طالبانو لپاره اړینې پایلې لرلې چې دا بیا واشنګټن ته نوي چلنجونه جوړول او بې تفاوته پاتې کېدل د لوبې څخه د وتلو معنی لرله . کله چې په ۲۰۱۴ ز کال کې روسي پوځیان په سوریه کې د بشارالاسد په ملاتړ د دمشق د وسلوالو مخالفانو خلاف چې د لویدیځ له ملاتړ برخمن وو دېره شول ، د بشارالاسد مخالفان يې کمزوري کړل او د سوریې حکومت له نسکورېدو بچ شو د امریکا او روسیې ترمنځ هم مخالفتونو زور واخېست او روسانو په ۲۰۱۵ زکال کې د افغانستان په شمال کې د ناڅرګندو چورلکو خبرې کولې چې ګواکې هلته داعشیان رسوي او هغه يې د روسیې امنیت ته ګواښ ګڼله. روسانو دا پوښتنه کوله لکه څرنګه چې د افغانستان هوايي قلمرو د ناټو له خوا کنټرول کیږي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناځرګندې چورلکې څه ډول په شمال کې جنګیالي کښته کوي؟ د دې معنی دا کېدله چې دا د ناټويي ځواکونو کار دی چې سیمه بې ثباته ، روسيې او متحدینو ته یې ستونزې جوړې کړي.له همدې امله روسیې د سیمې د هېوادونو سره د دې ګواښ د له منځه وړلو په موخه ګډې هڅې پیل کړې چې هغه یې په افغانستان کې د سولې او ټیکاو په ټینګښت او د طالبانو سره په دوستانه اړیکو کې لیدلې. د دې هڅو پایله دا شوه چې د ۲۰۱۶ز کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان د حالاتو د ارزونې په موخه د چین ، پاکستان او روسیې ګډه غونډه را وبولې.په غونډه کې د افغانستان د حکومت نه را بلنه د دې معنی لرله چې افغان حکومت تجریدېږي. د دې غونډې دوه میاشتې وروسته لومړۍ غونډې ته ورته دوهمه غونډه راوبلل شوه چې د هند او ایران استازو هم پکې ګډون کړی وو. دریمه غونډه د۲۰۱۷ کال د اپریل په میاشت کې جوړه شوه چې د روسیې ،چین ، هند، ایران او پاکستان سربېره د امریکې پلاوي هم پکې برخه لرله.خو څلورمه غونډه چې په سپټمبر کې جوړه شوله د امریکا استازې پکې ګډون ونکړ. د سپټمبر په غونډه کې د امریکایي پلاوي د نه ګډون لامل دا کېدای شي چې د اګست په یوویشتمه دونالډټرمپ د سویلي آسیا او افغانستان لپاره بشپړه جنګي ستراتیژي اعلان کړه.لدې امله نور واشنګټن ته د سولې خبرې بابیزه ښکارېدې او ډاډمن وو چې د دې ستراتیژۍ پرمټ به طالبان کمزوري او له جګړې لاس واخلي او د حکمتیار په شان به حکومت ته تسلیم شي. د افغانستان د وضعیت په اړه دا ډول غونډې چې موخه یې د افغانستان د کشالې سوله ئیز حل وو واشنګټن ته د خطر زنګونه وو چې هرو مرو د پوځې لارې طالبان وټکوي. همدا دلیل وو چې ټرمپ د خپلې جنګي ستراتیژۍ د اعلام پر مهال په خپله وینا کې څلور ځله د برې او اووه ځله د ماتې کلمې استعمال کړې . د همدې جنګي ستراتیژۍ له مخې وحشیانه بمباریو زور واخیست تردې چې د بمونو مور ستر بم هم د افغانستان په خاوره واچول شو. د دې ستراتیژۍ په ملاتړ د کابل اداري او د اشغال اردلیانو اتیونه کول او د طالب د تباهۍ او تسلیمۍ د نغارو ډنګول یې پیل کړل.خو یوولس میاشتې وروسته جوته شوه چې طالبان نه تباه کېږي،هماغه دي د۲۰۱۸ کال د جولای په لسمه ټرمپ هدایت ورکړ چې په ستراتیژۍ له سره کتنه وشي او نیویارک ټایمز په جولای کې رپوټ ورکړ چې ټرمپ دستور ور کړی دی چې له طالبانو سره د سولې خبرې پیل شي.د جولای په وروستۍ اونۍ کې د امریکا یو پلاوی چې د بهرنیوچارو، پنتاګون او سي آی اې له مامورانو څخه جوړشوی وو په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفترسره دوه ورځنۍ غونډه وکړه .واشنګټن د طالبانو سره د سولې د بهیر د مخ ته وړلو په موخه زلمی خلیلزاد د بهرنیوچارو د وزارت د استازي په توګه ګوماري هغه او د نوموړي ټیم د طالبانو سره خبرې پیلوي. د طالبانو سره د خلیلزاد په مشرۍ د پلاوي په لومړۍ غونډه کې طالبانو د متقابل اعتماد او باور د را منځته کېدو په موخه لاندې درې غوښتنې وړاندې کړلې:

- د بندیانو مبادله
- د تورلست څخه د طالب مشرانو ایستل
- د هېواد څخه د پردیو پوځیانو د وتلو د مهالوېش اعلانول.

امریکایي اړخ د خبرو اترو په ترڅ خپلې هڅې پدې را وګرزولې چې طالبان د کابل ادارې سره خبرو ته اړباسي ترڅو پدې ډول وښیي چې د افغانستان روانه جګړه کورنۍ ریښې لري . تردې چې د امریکایانو او طالبانو څلورم پړاو خبرو ته د کابل پلاوی هم دوحې ته ورغلی وو خو طالبانو د هغوی په شتون کې له امریکایانو سره له خبرو ډډه وکړه او ویل کېدل چې پلاوي د خبرو اترو د کوټې بهر په دهلیز کې انتظار ایست که طالبان پرې ورحمېږي دوی ته هم په خبرو اترو کې د ګډون اجازه ور کړي خو داسې څه پېښ نشول. پربله خوا مسکو هم غلی نه وو او د همدې ۲۰۱۸ کال د نوامبر پر نهمه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکو کې یوه غونډه راوبلله چې هم طالبان او هم د حامد کرزي په شمول ګڼ شمېر اردلیانو پکې برخه لرله چې هغوی د طالب د یوه مشر په امامت لمونځ هم ادا کړ. دې غونډې امریکایان وهڅول چې د سولې خبرې اترې په قوت سره پر مخ بوزي. خو د کابل اداري غبرګون هم د دوحې د مذاکراتو او هم د مسکو د غونډې په وړاندې منفي وو تر دې چې اشرف غني د مسکو غونډه ( افسانه سي سانه) یعنې بې ګټې غونډه وبلله او د دوحې د خبرواترو په وړاندې یې ځکه توند غبرګون نشوای ښودلای چې دا خبرې د امریکا د افغان حکومت د بادار په اراده پر مخ تللې او د بادار په وړاندې نوکر کله تونده خبره کولی شي. دا هم د یادولو وړ ده چې نه یوازې حکومت د سولې د خبرو اترو څخه خوښ نه وو بلکې درجن درجن انجویي ګوندونو او په هغو کې د افغانستان د خلک د موکراتیک ګوند د ګېډې څخه راوتلو ډلو د سولې د خبرو په وړاندې منفي دریځ نیولی وو ، یوازې د عبدالرشید جلیلي په مشرۍ د افغان ستر ملت د یووالي ګوند د مذاکراتو څخه ملاتړ ښودلی دی.

امریکایي اړخ یوځل پدې نامه چې په کابل کې په یوه برید کې یې یو پوځي ووژل شو مذاکرات و درول خو له لنډې مودې وروسته یې بېرته مذاکرات پیل کړل ترڅو چې د یوولس پړاونو مذاکراتو وروسته د ۲۰۲۰ کال د فبروري په نه ویشتمه په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک لاسلیک شو. دا هوکړه لیک ملا عبدالغني برادر او زلمي خلیلزاد لاسلیک کړ چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په شمول د شپږدېرشو دولتونو د بهرنیوچارو وزیرانو او استازو پدې مراسمو کې ګډون کړی وو. د هوکړه لیک له مخې به بهرني پوځیان د ۲۰۲۱ کال د می تر پایه له افغانستان څخه وتل ، پنځه زره طالب او زر تنه افغان بندیان به د لسو ورځو په ترځ کې له بنده خلاصېدل ، طالب مشران به له تورلست څخه وتل ، دواړه خواوې به پو یو بل بریدونه نه کوي ، د حکومت او طالبانو ترمنځ به مستقیمې خبرې پیلېدلې او د نوي حکومت په جوړېدو او اوربند به موافقه کېدله. د دوحې تړون د م، م د امنیت شورا لخوا هم تایید شو. عجیبه دا وه هغه مهال چې په دوحه کې تړون لاسلیک کېده په کابل کې هم د امریکا د دفاع وزیر د حکومت سره یو تړون لاسلیک کړ چې د امریکا او ناټو سازمان له لوري د افغان حکومت په ملاتړ څرخېده. د تړون د لاسلیک وروسته طالبانو په کلکه د تړون مواد پلي کړل خو امریکایي اړخ په کراتو طالبان بمبارد کړل، شپني عملیات یې ترسره کول او د جوبایدن په راتګ سره ، امریکا د خپلو پوځیانو وتل د اګست د میاشتې تر پایه وځنډول. طالبانو د دوحې د تړون له مخې په لسو ورځو کې د حکومت زر تنه بندیان خوشي کړل خو حکومت د طالبانو بندیان په شپږو میاشتو کې او هغه هم د امریکایانو د فشار وروسته خوشي کړل. همدا لامل وو چې د حکومت او طالبانو ترمنځ مذاکرات وځنډېدل، جګړې زور واخیست او د طالب بندیانو د خوشې کېدو وروسته د طالبانو او حکومت ترمنځ مذاکرات پیل شول. د مذاکراتو لپاره د حکومت د پلاوي غوره کولو هنګامه جوړه کړه او یو ستر لښکر یې مذاکراتو ته چمتوکړی وو . طالبانو دا پلاوی ونه منلو او په تولنیزو شبکو کې په طنز سره دا پلاوی د واده ورا وبلل شوه. د حکومت او طالبانو مذاکراتو کومه پایله نلرله او هر اړخ مقابل لوری ملامتاوه چې مذاکراتو ته لیوالتیا نلري او ځنډونه جوړوي.د دوحې د تړون د لاسلیک وروسته د کابل د اداري او د وسلوال پوځ مورال ټیټ شول او د ولسوالیو او ولایتونو د سقوط لړۍ پیل شوه. دې حالت ته په کتو سره شمال تلوالې د حکومت سره په همغږۍ کې د ولسي خوځښتونو په نامه خپل جنګیالي بیا وسلوال کړل ترڅو د امنیتي ځواکونو سره ګډ د خپلې فاسدې واکمنۍ ساتنه وکړي. ولسمشر اشرف غني هرات او مزار ته لاړ او هلته یې د بدنامو جګړه مارانو( اسماعیل خان، عطا محمد نور، عبدالرشید دوستم ) سره وکتل او ویل کېدل هغوی ته یې پرېمانه پیسې ورکړې وې ترڅو د طالبانو په وړاندې ودریږي. هغوی هم لاپې وهلې چې طالبان به مات کړي . لومړی ولایت چې د طالبانو په لاس کې ولوېد د نیمروز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت وو. دا ولایت مخکې تخلیه شوی وو. طالبانو د تمې خلاف د ۲۰۲۱ کال د اګست له پیله لومړی د شمال ولایتونو د نیولو لپاره پراخ عملیات پیل کړل او دا ولایتونه یې د کمزوري مقاومت وروسته ونیول ، تسلیم شوي پوځیان یې خوشې کړل او ځېلو سیمو ته د تلو سفریه هم ورکړله. لدې وروسته د ولایتونو د لوېدو لړۍ قوت مومي . لومړي کسان چې وتښتېدل د شمال شهنشاهان دوستم اوعطا وو. دوستم ترکیې او نور ازبکستان ته وتښتېدل او طالبانو اسمعیل خان په هرات کې د جګړې پرمهال ونیو خو هغه یې هم خوشې کړ، وروسته هغه ایران ته وتښتېده. کله چې طالبانو یو په بل پسې ولسوالۍ نیولې غني په ولسي جرګه کې د شپږو میاشتو په ترڅ کې د طالبانو د زنګنو د ماتولو خبره کړې وه او په یوه بله غونډه کې یې ویلي وو چې امان الله خان ته درناوی کوي هغه له هېواد څخه وتښتېده او دی د تېښتې سړی نه دی. خو د اګست په پنځلسمه رسنیو خبرونه خپاره کړل چې غني د خپلو نږدې کسانو سره په څلورو چورلکو کې د غرمې وروسته له ارګ څخه د تاجکستان په لور وتښتېدل.ویل کېږي تاجکستان خپلې خاورې ته دې فراریانو ته اجازه ورنکړه خو ازبکستان اجازه ور کړه او له هغه ځای څخه اماراتو ته ولاړل. د تېل شوي جمهوریت د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح د اګست په دیارلسمه د رسنیو په وړاندې را څرګند شو اولاپې یې ووهلې چې حکومت د طالبانو په وړاندې د مقاومت جوګه دی خو یوه ورځ وروسته پنجشېر ته تښتېدلی وو.

د اګست په پنځلسمه د کابل امنیتي کمربند مات شوی وو او ځېنې حوزې تشې شوې وې . دې حالت ته په کتو سره حامد کرزي ، عبدالله او حکمتیار د عبدالله په کور کې جرګه شول او دې پایلې ته ورسېدل چې په کابل کې د ګډوډۍ د مخنیوي په موخه په دوحه کې د طالبانو سره اړیکه ونیسي او له هغوی څخه یې وغوښتل چې طالب جنګیالي ښار ته ننوزي . پدې اړه خلیلزاد په یوه مرکه کې وایي چې په دوحه کې طالب مرکچي ده ته ویلي وو چې امریکایان دې د کابل امنیت وساتي خو د امریکا عمومي قوماندانۍ ( سنتکوم) دا وړاندیز و نه منلو .وروسته لدې طالب جنګیالي کابل ته ننوتل ، د واک واګې یې په لاس کې ونیولې او پدې ډول تېل شوې فاسده واکمنې ړنګه او طالبان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسېدل. په همدې ورځ سهار طالبانو یوه اعلامیه خبره کړې وه چې دوی ښار ته نه ننوزي ترڅو یوې هوکړې ته په رسېدو سره په سوله ییزه توګه واک تسلیم کړي. همدا رنګه یوه ورځ وړاندې د اګست په څوارلسمه غني په ارګ کې د سیاستوالو سره په لیدنه کې موافقه کړې وه چې یو باصلاحیته پلاوی به دوحې ته استوي ترڅو د طالبانو سره د سولې جدي مذاکرات ترسره کړي او د یوه لنډ راډیو- تلویزیوني پیغام پواسطه یې دا مسله د ولس غوږو ته ورسوله. د اګست په پنځلسمه د کورنیو چارو وزیر هم د لنډ پیغام په اورولو سره خلکو ته ډاډ ور کړ چې پولیس د طالبانو سره موافقې ته تر رسېدو پورې د کابل ښار د امنیت چارې پر مخ وړي. خو په همدې ورځ ټول چارواکي لکه غله تري تم شول او یو شمېر یې د کابل هوايي ډګر ته چېرې چې شپږ زره امریکایي او انګرېزي پوځیانو شتون درلود ولاړل او هغوی یې د نورو یولک او شل زره خپلو چوپړیانو سره د دوو اونیو په ترڅ کې له هېواد څخه واېستل. په همدې ورځ د غرمې وروسته اسلامي امارت بله اعلامیه خپره کړه چې پکې راغلي وو: « زموږ ځواکونه له کابل څخه د باندې دي او موږ نه غواړو له نظامي لارې کابل ته داخل شو خو اوس راپورونه رارسیږي چې د کابل په ښار کې حوزې تخلیه شوې دي، پولیسو د امنیت ساتلو دنده پریښې ده، همدا ډول وزارت خانې هم تخلیه شوې دي او د کابل اداري امنیتي کسان تښتېدلي دي.نو د دې لپاره چې خدای مه کړه په کابل کې عام چور او تالان ګډ نشي، سوء استفاده کوونکي افراد خلکو ته ضرر او صدمه و نه رسوي، اسلامي امارت خپلو ځواکونو ته امر وکړ چې د کابل هغو ساحو ته داخل شي له کومو څخه چې دښمن تللی او سیمې د چور او تالان له خطر سره مخ دي.بناء د کابل ښاریان دې له مجاهدینو څخه هیڅ ویره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه محسوسوي، زموږ ځواکونه به په ډېر آرام سره د کابل ښار ته داخليږي، له هيچا سره کار نه لري، حکومتي نظامي او ملکي کارکوونکي دې ډاډه اوسي چې هيڅوک په هغوی کار نه لري، مجاهد ته اجازه نشته چې د چا کور ته داخل شي، يا څوک وځوروي او يا د چا د آزار او اذيت سبب شي.» ۲۶۲ پدې ډول د غني او د حکومتي چارواکو نابېره تېښتې ټول هک پک کړل او د واک سوله يېز لېږد شنډ شو. دا چې غني دا تېښته د امريکايانو سره په همغږۍ کې وکړه قضاوت ستونزمن دی. خو لکه څرنګه چې د افغانستان د هوايي قلمرو واک له امريکايانو سره وو ، بېله شکه د هغوی د رادار سيستم يا د الوتکو د کنترول مرکز د څلورو چورلکو الوتنه د هېواد په فضا کې ليدله دا چې د دې چورلکو او تاجکستان او ازبکستان ته د شا وخوا شپېتوچورلکو د تېښتې مخه يې نه ده نيولې ښيي چې هرڅه د امريکايانو سره په همغږۍ کې تنظيم شوي وو. که څه هم امريکايانو ويل چې غني د امريکايانو د غوښتنو خلاف وتښتيده. پيلوټان او د هوايي چلند مسؤلان پوهېږي چې د هوايي ډګرونو څخه يوه الوتکه او چورلکه د الوتکو د کنترول د مرکز د اجازې پرته نه هوا ته جګېدلی شي او نه کته کېدای شي. نو څرنګه شونې وه چې شاوخوا شپېته چورلکې د کابل له هوايي ډګر څخه والوزي او امريکايان يې مخه ونه نيسي. دا چې چورلکې د اګست په پنځلسمه د هوايي ډګر د کنترول د مرکز د اجازې پرته د الوتنې اجازه نه لرله د هغه افغان پيلوټ له مرکې ښکاري چې خپله چورلکه يې په کونړ کې کته کړله . هغه وايي مرکز ته مې وويل چې د ازبکستان په لور الوزم او اجازه يې را کړه . د الوتنې وروسته مې د چورلکې رادار خاموش کړ چې زما خط السير معلوم نشي او د کونړ په لور مې پرواز وکړ. د اشغال زېږنده فاسد حکومت پداسې شرايطو کې نسکور شو چې د کابل په هوايي ډګر کې شا وخوا شپږ زره امريکايي او انګريزي پوځيانو شتون درلود او د دې پوځيانو وروستۍ ډله د اګست په يو دېرشمه په توره شپه کې له کابل څخه داسې ووتله چې د ورانکارو ډلو په څېر يې الوتکې، چورلکې او د هوايي ډګر تجهېزات ويجاړ کړي وو او پدې ډول د ناټو څه کم شل کلن اشغال پای ته ورسېد او افغانستان بيا د خپلواکۍ څخه برخمن شو. کابل ته د طالبانو د ننوتلو وروسته په ولس کې تبليغات پيل شول که هرڅوک غواړي له افغانستان څخه ووځي د کابل هوايي ډګر ته دې ورشي او امريکايان به هغوی له افغانستان څخه وباسي. د افغانستان په څېر خوار هېواد چې د فراري غني په وينا په سلو کې ۹۰ يې د فقر لاندې کرښې ژوند کولو چې وږيا د امريکې په شان شتمن هېواد ته استول کېږي زرګونه تنه واړه او زاړه، نارينه اوښځې هوايي ډګر ته ولاړل ، هلته يو محشر جوړ شو تر دې چې څو تنو په الوتکو پسې ځانونه وځړول له هوا څخه راولوېدل او شهيدان شول. نړيوالو رسنيو يې انځورونه خپرول او دا يې ورسره غبرګول چې افغانان د طالبانو له وېرې له هېواد څخه تښتي. دا د لويديځ له لوري د طالب انځور کاږل وو چې ګواکې افغانان له طالبانو څخه کرکه لري.

په نړۍ کې کله ناکله تاريخي پېښې تکرارېږي . په ۱۹۷۴ کال کې امريکايان په سرټيټۍ د ويتنام له سايګون څخه و تښتېدل او د سايګون د اداري جګپوړي امريکايي الوتکو ته په کتارونو ولاړ وو چې هغوی له ځانه سره بوزي. د سيګون څخه د امريکايانو له وتلو وروسته د سيګون مزدور حکومت نسکور شو. په ۲۰۲۱ کال کې ورته پېښه د امريکايي اشغالګرو او د هغوی د افغان چوپړيانو سره په کابل کې تکرار شوله. البته توپير يې پدې کې وو چې د سيګون مزدور حکومت د خپلو بادارانو د وتلو سره جوخت ړنګ شو خو د کابل مزدور حکومت د خپلو بادارانو د وتلو دوې اونۍ مخې نسکور شو. د نسکور شوو مزدورو حکومتونو د چارواکو او امنيتي منسوبينو سره د سايګون او کابل د فاتحانو( ويتکانګيانو او طالبانو) توپير پدې کې وو چې ويتکانګيانو د و يتنام د مزدور حکومت دوه نيم لکه ماموران او پوځيان وطن او خلکو ته دې خيانت له امله ووژل خو طالبانو هغوی وبښل. د اسلامي امارت دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستایني وړ وو.د اسلامي امارت له لوري د کابل د نیولو وروسته د مسعود زوی احمد د دوهم مقاومت د جبهې د پرانستلو اعلان وکړ . طالبانو ورسره د سولې خبرې پیل کړې خو کومه پایله یې نلرله او بالاخره طالبانو له څو خواوو په پنجشېر پوځي عملیات پیل کړل او له پنځو ورځو جګړو وروسته پنجشیر هم طالبانو ونیو. په پنجشیر کې طالبانو د وسلو او پوځي تجهیزاتو سترې زیرمې ترلاسه کړلې او د امرالله صالح په کور کې یې شپږنیم میلیون ډالر وموندل . پدې ډول طالبان په ټول افغانستان واکمن شول. د طالبانو په بیا واکمنېدو سره جګړه ماران او لنده غر د سترګو په رپ کې ترې تم شول ، د قدرت جزیرې له منځه ولاړې او له ۴۴ کلونو وروسته مرکزي حکومت په ټول افغانستان واکمن شو. د طالبانو په بیا واکمنېدو سره په ټول هېواد کې بشپړ امنیت ټینګ شو. نوې واکمنی په یو لړ سترو پروژو کار پیل کړی دی چې د قوش تیپې ستره پروژه یې غوره بېلګه ده . واکمنی د ښارونو څخه په نیشه اي توکو روږدي کسان ټول او تر درملنې لاندې ونیول چې اوس مهال په ښارونو کې د دې معتادانو څرک نه لګېږي . په ښارونو کې عمراني کارونه روان دي او حکومت د لویو سړکونو بیا رغونې او سمسورولو لپاره ځانګړې توجه را ګرزولې ده . د ترياکو کشت او کار هم لږ شوی دی. د معتادانو را ټولول او د مخدره توکو د کښت او کار محدودول د امارت سترې لاسته راوړنې دي چې څوک سترګې نشي ترې پټولی. امارت دا دری کاله خپله عادي او انکشافي بودجه د کورنیو عوایدو له لارې تمویلوي پداسې حال کې چې په جمهوریت کې په سلو کې ۷۵ بودجه د بهرنیو مرستو پر مټ پلې کېدله.اداري او مالي فساد کم شوی دی او سترو ښارونو د ښارونو ښه غوره کړې ده. د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ثابت پاتې شوی دی . په نږدې وخت کې به د واخان له لارې افغانستان د چین سره ونښلول شي. په بهرني سیاست کې اقتصاد محوره ناپېیلی سیاست پلې کېږي چې پدې لاره کې هم امارت اړینې برياوې لري. د نوې واکمنی څه د پاسه دری کاله تېر شول خو لا تراوسه امارت اساسي قانون نلري او کابینه یې سرپرسته ده . د جینکیو پر مخ د متوسطه او لوړو زده کړو د بنسټونو دروازې تړلې دي او د روغتیا ، پولیسو او ښوونې او روزنې په چارو کې پرته په نورو بنسټونو کې مېرمنو ته د کار زمینه نه ده برابره شوې چې دا د امارت له څرګندو ناکامیو څخه حکایت کوي. سره لدې امریکایانو د دوحې د تړون خلاف چې افغانستان سره به دوستانه مناسبات ساتي، د افغانستان په بیا رغونه کې به برخه اخلي او د طالب مشرانو نومونه به له تور لست څخه باسي دا کار یې ونکړ بلکې نوی حکومت امریکې او نورو دولتونو هم په رسمیت و نه پېژندلو، په امریکا او اروپا کې د افغانستان بانک نه نیم میلیارد ډالر زېرمې کنګل شوې. امریکې اقتصادي بندیزونه پر نوي حکومت ولګول ، افغانستان یې د سوفیت بانکي سیستم څخه وایست او د نورو بانکي محدودیتونو څخه افغانان او په تېره سوداګر کړېږي . دا ټول د افغانستان د اسلامي امارت خو په واقعیت کې د افغانانو خلاف د امریکا او د هغې د ناټویي متحدینو دښمنانه چلند یا د افغانانو څخه د خپلې ماتې غچ اخېستل دي.د هغې سره جوخت نړیوالو معتبرو رسنیو، د م، م مختلفو بنسټونو او نورو نړیوالوموسسو په پرله پسې توګه داسې تبلیغات چې په افغانستان کې بشري ناورین راتلونکی دی، بشري حقونه تر پښولاندې کېږي او په افغانستان کې د شلو څخه زیاتې ترهګرې ډلې شتون لري پیل او لا ادامه لري. دا تبلیغات په واقعیت کې د اسلامي امارت او افغانانو په وړاندې اروايي جګړه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې ناټويي اشغالګر له افغانستان څخه ووتل ؟

ښايي لوستونکي ته د دې پوښتنې طرحه او په هغې بحث منطقي ونه برېښي ځکه چې د سليم عقل خاوندان پوهېږي چې د امريکې په مشرۍ ناټويي اشغالګر د افغان ولس د اتلوالي مبارزې له امله اړ شول په قطر کې د اسلامي امارت سره د سولې خبرې پيل او د دوحې د تړون په لاسليک سره خپله ماتې ومني او له افغانستان څخه په سرکوزۍ ووزي. خو د ناټويي اشغال د پای او د اشغال زېږنده فاسدې واکمنۍ له نړېدو وروسته ليدل کېږي چې په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د سياسي چارو د کارپوهانو او د نظر د خاوندانو په نامه د نسکور شوې واکمنۍ پلويان يا په بله وينا د نړيوالې ټولنې ( اشغالګرو ) چوپړيان د اشغالګرو ماتې نه مني او وايي چې ناټويي ځواکونه په خپله خوښه ووتل او طالبان يې هم واک ته ورسول. عجيبه خو لا داده چې پدې وګړو کې داسې کسان هم لږ نه دي چې په افغانستان کې د انګرېزانو او شورويانو ماتې هم نه مني او وايي چې هغوی هم په خپله خوښه ووتل. دا عجيب مخلوق د خپل ليدلوري اواندونو د سموالي د اثبات لپاره يو لړ غيرمنطقي دليلونه راوړي . هېره دې نه وي چې دا ډله وګړي ناپوهان ندي بلکې له لاندې دريو کټګوريو څخه به يو وي :

لومړی – اېډيولوژيو ځپلي

دوهم – ړانده قومي متعصبين

دريم – د پرديو استخباراتي شبکو سره تړاولرونکي.

لومړی به د دې ډله وګړو د څرګندونو يا که دقيق ووېل شي اپلتو څو بېلګې راوړل شي او د هغو د ناسموالي په اړه به رڼا واچول شي . هغوی وايي افغانانو انګرېزانو، شورويانو او امريکايانو ته ماتې نه ده ورکړې بلکې افغانان يې مات کړي دي ځکه لندن ، مسکو او واشنګټن آباد دي او افغانستان وران شوی دی . دوی ددې څرګند واقعيت څخه سترګې پټوي چې افغانان لندن ، مسکو او واشنګټن ته نه وو ورغلي بلکې انګرېزان ، شورويان او امريکايان افغانستان ته راغلي وو او افغانان اړ شوي دي په خپله خاوره کې د ښکېلاکګرو په وړاندې و جنګېږي چې منطقآ افغانستان ورانېدلو نه انګلستان ، شوروي اتحاد او يا متحده ايالتونه. دوی پدې اپلتو سره غواړي د افغانانو آزادۍ غوښتونکي مبارزې او سرښندنې تر پوښتنې لاندې راوړي ګواکې که افغانان د ښکېلاکګرو په وړاندې نه وای جنګېدلې تباهي به يې نه ورانېدلو او افغانستان به د ترقۍ او پرمختګ لوړو پړاوونو ته رسېدلی وای . دا وګړي پدې بل مسخره دليل سره اشغالګر مات نه ګڼي چې ګني هغوی د تړونونو په لاسليک سره له افغانستان څخه ووتل نه دا چې هغوی د افغانانو په وړاندې په ګونډو شول . د دې وګړو پدې سر نه خلاصېږي چې هره جګړه او هر اشغال د خبرو اترو او جوړجاړي وروسته د سولې د تړون په لاسليک سره پای ته رسېږي . هغه سياسي کارپوهان چې د اشغالګرو راتګ او بيا بېرته تګ د هغوی د خپلې خوښې کار بولي آيا دوی ته دا پوښتنه نه ده پيدا شوې چې اشغالګر د څه لپاره راغلي وو او ولې بېرته لاړل . آيا هغوی سيلانيان وو چې له افغانستان څخه ليدنه وکړي . که هغوی سيلانيان وای ، سيلانيان د ټانکونو، توغنديو او وسلو سره نه راځي . ددې غيرقانوني سيلانيانو د راتګ موخه او هغه هم د وسلو سره د افغانستان نيول او د افغانانو غلامول وو خو د دوی د خيالونو او نيتونو خلاف د افغانانو له اتلوال مقاومت سره مخامخ شول او اړ شول لدې هېواد څخه په نهيلۍ ووزي . د نړيوالې ټولنې د چوپړيانو له ليدلوري او يا اپلتو نه ښکاري چې هغوی د خپل هېواد له برمه ډک تاريخ چې افغانان په خپل تباهي کې نه اشغالګر زغملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او نه د اشغال زېږنده واکمنۍ بې خبره دي او د ماشومانو په څېر فکر کوي ځکه چې چا تاریخ نه وي لوستی د ماشوم په څېر فکر کوي. څوک چې خپل ولس ، خپل پلرونه او نیکونه نه پېژني معنی یې دا ده چې هغه ځان نه پېژني. د ناټویي پوځیانو د ماتې وروسته ګڼ شمېر واقعبینه څېړونکو او حتی د ناټویي دولتونو سیاستوالو او دولتي مشرانو په افغانستان کې په خپله ماتې اعتراف کړی او یوشمېر یې د ستراتیژیکې ماتې خبرې هم کوي. د ۲۰۲۴ کال د مې په څلېرویشتمه د امریکا ولسمشر جوبایدن د کینیا د جمهور رییس ویلیام روتو سره په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د یوه کینیایي خبریال ددې پوښتنې په ځواب کې چې امریکا غواړي په بهر کې خپلې جګړې پای ته ورسوي خو له کینیا غواړي هایتي ته چې دوولس زره کیلومتره له کینیا لرې پرته ده پوځیان واستوي د نورو خبرو سربېره دا هم ویلي وو:«افغانستان د امپراطوریو هدیره ده .» همدا رنګه بایدن د ۲۰۲۴ کال د جولای په یوولسمه د ناتو د ۷۵ کالیزې په غونډه کې وویل چې د افغانستان اشغال یوه تېروتنه وه . البته که ناټویي لښکرو په افغانستان کې ماتې نه وای خوړلې دا خبره یې نه کوله او په افغانستان کې به یې د ترهګرۍ خلاف د بریالۍ مبارزې کېسې کولې . پر بله خوا دونالد ټرمپ ، جوبایدن پدې هم تورنوي چې طالبانو ته تسلیم شو خو افغان اردلیان په خپل ټاټوبي کې د ناټو سربېره د انګرېزانو او شوروپانو ماتې هم نه مني . دا نو خپلو نیکونو، پلرونو او هېوادوالو او د افغانستان تاریخ ته څرګند سپکاوی دی. هېره دې نه وي چې کله د ناین اېلېون پېښې وروسته امریکایانو پر افغانستان یرغل ته چمتووالی نیولو د شوروي اتحاد وروستي ولسمشر ګرباچف بوش ته خبرداری ورکړ چې پر افغانستان یرغل ونکړي نه دا چې د شوروي اتحاد له برخلیک یعنې ماتې سره مخامخ شي . د شوروي او ناټویي اشغالګرو د مشرانو خلاف د ناټوی اشغال د اردلیانو دریځ ته په کتو سره د دوی په هکله زموږ د خلکو هغه مشهوره خبره چې « مدعي د خپلې ادعا څخه تېر شو خو شاهد له خپلې شاهدۍ نه تېرېږي» سر خوري . البته په خپله شاهدۍ کلک ولاړ شاهدان یوه موخه لري او هغه دا چې د خپلو خلکو ذهنونه مغشوش او هغوی د اسلامي امارت په وړاندې ودروي او پدې ډول وروسته له څلورنیمو لسیزو راغلې سیاسي ثیکاو او امنیت کړکیچن کړي ، د جګړو اورونه په هېواد کې بل شي او افغانستان بیا د پردیو د لاسوهنو او یرغلونو هدف وګرزي. دا دې هم هېره نه وي چې د سیاسي پدیدو او ټولنیزو پېښو را پنځېدل او ژورېدل او د ټیکاو ټینګښت او په هغو کې د یوه هېواد اشغال او د اشغال پای ګڼ شمېر لاملونه لري چې په هغو کې یو یا څو لاملونه ټاکونکی رول لوبوي .

ددې لنډې سریزې وروسته به د ا فغانستان څخه د امریکې په مشرۍ د ناټویي ښکېلاکګرو د وتلو او اشغال زېږنده واکمنۍ د نسکورېدو لاملونو ته ګوته ونیول شي. البته پدې اړه اندونه ویشلې دي . هر څوک او هره ډله د خپلو سیاسي اوعقیدتي باورونو، پوهې او سازماني تړاوونو له کړکۍ هغو ته ګوري چې دا لاملونه په لاندې دریو کټګوریو ویشلی شو :

لومړی - ذهني لاملونه

دا لاملونه د هغو کارپوهانو او سیاستوالو له لوري وړاندې کېږي چې لا تراوسه ماتې خوړلو اشغالګرو ته پالیاله پاتې شوي دي ، د پردیو استخباراتو شبکو سره تړاو لري او یا د پردیو تر فکري اسارت لاندې دي تر څو د اشغال خلاف د افغانانو ملي مقاومت او مبارزه ( جهاد ) تر پوښتنې لاندې راولي. هغوی لاندې بې بنسټه اوغیرمنطقي څرګندونې چې د ځمکنیو واقعیتونو سره په څرګند ټکر کې دي په رسنیو، ټولنیزو شبکو او غونډو کې خپروي:

- طالبان د امریکایانو لښکر دی او امریکایانو هغوی واک ته ورسول
- حامدکرزي او اشرف غني نه غوښتل د طالبانو خلاف رښتیې مبارزه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زلمي خلیلزاد د سولې په خبرو کې خپله آجندا پرمخ وړله
- دغني او خلیل زاد ترمنځ سیالي او دښمني
- واشنګټن ته د افغانستان په پرتله د اکراین ارزښت
- د واکمنۍ څخه د مجاهدینو شړل
- غني نه غوښتل افغانستان د اکراین په څیر وران شي.

د دې څرګندونو په هکله باید وویل شي:

- که طالبان د امریکانو لښکر وي نو ولې یې خپل لښکر په ۲۰۰۱ کې له واکه ګوښه کړ او شل کاله ورسره و جنګېدل ، د میلیاردونو ډالرو د لګولو او زرګونو پوځیانو د مرګ او ژوبلې وروسته یې بېرته خپل لښکر واک ته ورسولو.

- آیا کوم مزدور به د خپل بادار د ارادې خلاف ګام او چت کړي؟ آیا کرزي او غني د اشغالګرو د ارادې خلاف د طالبانو په وړاندې رښتیني مبارزه نه کوي دریځ نیولی شو؟ دا تبلیغات د ړندو پښتون دښمنه متعصبه وګړو له لوري زمزمه کېږي چې ګواکې دا دواړه پښتانه وو او زیاتره طالبان هم پښتانه دي.

- خلیل زاد د امریکا یو مامور وو او د سولې په خبرو کې د هغه سره لویه ډله ( د امریکې د مختلفو بنستونو او په هغو کې د څارګرې شبکې غړو) شتون درلود . پداسې یوه ستر ټیم کې خلیلزاد څرنګه کولای شول د دوحې په مذاکراتو کې خپله آجندا پر مخ بوزي.بل دا چې د امریکا دولت د افغانستان د اشغال زېږنده فاسد دولت په څېر دولت نه دی چې هر مامور یې خپلې شخصي آجنداوې پر مخ بوزي او د امریکې د دولت د پالیسیو خلاف عمل وکړي .دې وګړو د غني د واکمنۍ انډوخر او په خپله د غني نه وړتیا لیدلې وه چې فرمان یې په ارګ کې هم نه چلېده . دوی فکر کوي چې د امریکا په دولت کې هم د کرزي او غني د شړېدلې او شرمېدلې ادارې په څېر انارشي شتون لري او خلیلزاد هم د دوستم، عطا او رازق په څېر خپلې نقشې پر مخ وړلی شي . په امریکا کې سیستم حکومت کوي نه یو فرد.

- د غني د حکومت د ملا تیر مجاهدینو جوړ اوه . آیا عبدالله مجاهد نه وو چې د کابینې نیمایي د هغه برخه وه .آیا د غني مرستیالان امرالله صالح او محمد سرور دانش د جهادي تنظیمونو( جمعیت او حدت) غړي نه وو؟

- امریکایانو په ۲۰۱۸ کې د اسلامي امارت سره د سولې خبرې پیل کړلې او د اکراین جګړه په ۲۰۲۲ کې پیل شوه او دا جګړه اکراین د امریکې لاسپوڅې دولت نه بلکې روسیې پیل کړله. پر دې بنسټ د اکراین د جګړې له کبله د افغانستان څخه د اشغالګرو وتل منطقي نه ښکاري .

- که د زېلنسکي پوځ څه د پاسه دوه کاله د روسانو پر ضد جګړه کوي ، د غني تر قوماندې لاندې پوځ پوره اووه کاله د طالبانو خلاف جنګېده او کله چې طالبانو د کابل او پنجشیر پرته ټول افغانستان ونیولو غني و تښتېده .آیا د افغانستان نور دوه دېرش ولایتونه او زرګونه کلي د افغانستان د جغرافیې برخه نه وه چې د جګړو له امله ورانېدل . آیا یوازې کابل او پنجشېرافغانستان دی. که غني د افغانستان ورانې او تباهي نه غوښتله په ۲۰۰۱ کې به د اشغالګرو په رکاب کې افغانستان ته نه راتللو او په بلواک افغانستان کې به یې وزارت او زعامت نه منلو.څوک چې رواني ناروغ وي او یا یې د عقل سترګې ړندې وې دا اپلتې به ووایي چې غني لدې امله له هېواد څخه وتښتېده چې افغانستان وران نشي. بل دا چې د اګست په پنځلسمه غني غوښتل د دفاع وزارت څخه لیدنه وکړي خو وزیر تری تم شوی وو او د کابل اصلی واکمن د هغه لومړی مرستیال امرالله صالح یوه ورځ مخکې په پټه پنجشېر ته تښتېدلی وو. غني چې و لیدل د دفاع وزیر یې ورک دی د ده سر پدې خلاص شو چې دی هم باید خپلې پښې سپکې کړي او له هېواد څخه لکه غل وتښتي. ده د تېښتې وروسته وایي چې په چپلکو کې له هېواد څخه ووتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- فرعي لاملونه

فرعي لاملونو د اشغالګرو په ماتې کې رول درلود چې ولس له بلواکې اداري څخه واټن ونیسي، د طالبانو ملګرتیا وکړي او پدې ډول افغان مقاومت لا قوت ومومي چې هغه دا دي:

- په دولت کې پراخ فساد او د قدرت بېلابېلې جزیرې
- دوه سرى حکومت
- د دولت په نامه سهامي شرکت
- د قومونو د ونډې پربنسټ د حکومت شتون او د ملي یووالي ضد کړنې
- په واکمنۍ کې د ټامیانو او جګړه مارانو مخامختیا
- د پوځ څخه د تجربه لرونکو پوځیانو تقاعد
- د ملي پوځ په نامه د مزدور پوځ جوړول
- په هېواد کې متوازن انکشاف ته نه پاملرنه .
- د زېربنایي پروژو جوړولو ته نه پاملرنه
- د شتمنو او بې وزلو تر منځ د واټن زیاتېدل
- په فرضي کربښې د اغزن تار تېرول او د تحکیماتو او دروازو جوړول
- په هېواد کې د ناټویي اشغالګرو غوبل ( ډله ییز اشغال) چې هر یوه یې خپلې آجنداوې هم درلودلې او خپلې نقشې پلې کولې.

ب - اصلي لاملونه

- د افغانانو اروایي ځانګړتیا چې اشغال او د اشغال زېږنده واکمنۍ نه مني
- د بدنامه جګړه مارانو پر مټ د یوه ژمن خادم حکومت د را منځته راتګ مخنیوی
- د پښتنو سره زور زیاتی.

البته د اشغالګرو د ماتې او د جمهوریت د نړېدو اصلي لامل د افغانانانو اروايي ځانګړتیا ده چې د اشغالګرو خلاف ودرېدل او ملي مقاومت پیل شو. البته په ملي مقاومت کې مرکزي او کلیدي رول د طالبانو اسلامي تحریک درلود. امریکایانو د افغانانو مخ په زیاتېدونکي اتلوال مقاومت او د اسلامي امارت سره د سیمه ییزو ځواکونوخواخوږۍ ته په کتو سره چې پوځیانو ته یې مرګ او ژوبله اوښتله او زیات لګښتونه پرې راتلل اړ شول د طالبانو سره دې هوکړې ته ورسېږي چې خپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي . شل کلن اشغال وښودل چې جګړه ماران خپل واک او ځواک په جګړه او لوټمارۍ کې ویني له همدې امله د یوه یو لاسي حکومت د ټینګښت خنډ ګرزېدل چې پایله یې د واکمنۍ خلاف د خلکو درېدل او د اسلامي امارت د دریخ پیاوړتیا کېدله . د ناټویي اشغال وروسته واکمنۍ ماشین یا اصلي ځواک پښتنې ضد شمال تلواله وه چې ددې تلوالې د جوړښت فلسفه د پښتنو د واک ، اقتدار او هویت له منځه وړل وو. د طالبانو تحریک چې اکثریت یې پښتانه وو د شمال تلوالې د واکمنۍ وحشت ته د پای ټکی کېښود چې ددې تلوالې دښمني یې وکټله. همدا لامل وو چې د ناټویي اشغال پر مهال یې بیا د پښتنو په سپکولو ، ځورولو، په شمال او لوېدیځ کې د هغوی د جایدادونو د غضبولو او د هغوی د کلیو او کورونو په بمباریو لاس پورې کړ او دې حالت پښتانه اړ کړل چې د طالبانو په کرښو کې ودرېږي او د ملي ضد واکمنۍ او اشغالګرو خلاف د خپلواکۍ د ګټلو په موخه قربانیو ته چمتو شي ، اشغالګر یې اړ کړل له افغانستان څخه ووزي او پدې ډول اشغال ختم او د اشغال زېږنده تش په نامه جمهوریت هم د شګو د دېوال په څېر ونړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شوروي او امريکايي اشغالونو پرتله

د تاريخ په اوږدو کی بشريت د ډول ډول آفتونو سره مخامخ شوی دی خو په دې آفتونو کې د اشغال آفت ډېربد آفت دی ځکه چې :

لومړی ـ اشغالګر تر ټولو بې هويته او لوېدلي وګړي د ولس په برخليک واکمنوي.

دوهم – اشغال د نيول شوي هېواد اوسيدونکي د خپل مشهور فورمول " ټېل يې کړه ، اېل يې کړه " پر بنسټ د قوم ، توکم ، ژبې او مذهب له مخې وېشي چې د دې هېواد د اوسيدونکو تر منځ مخامختيا او دښمنيو ته لمن وهي چې دا بيا د يوه ملت لپاره ناورين دی او د ملت جوړونې بهير ته زيان رسوي .

دريم – اشغال فرهنګي او اخلاقي ککړتيا را منځته کوي.

څلورم -اشغال کله ناکله د هېواد د ټوټې ټوټې کېدو سبب هم کېدای شي.

پنځم – د اشغالګرو په وړاندې هرو مرو دربړي تر څو د خپل پټ او ټاټوبې ساتنه وکړي او دا د دې سبب ګرزي چې د جګړې اورونه بل شي چې په جګړه کې انسانان وژلې کېږي ، کلي او ښارونه ورانېږي او د نېول شوي هېواد د تمدن ټولي نښې نښاني له منځه ځي چې دا د يوه ملت لپاره ناورين او ناتار دی.

شپږم- ښکېلاکګر د نېول شوي هېواد شتمنۍ او لرغوني آثار غلا کوي.

لدې څخه ښکاري چې په يوه هېواد د پرديو واکمنېدل د دې هېواد د ولس او تاريخ لپاره ناورين دی . د هېوادونو اشغالونه که په هره پلمه اوهر نامه ترسره شي ګډ ې ځانګړتياوې لري. د بابا آدمه نيولې تردې دمه اشغالګرو نيول شوي هېواد ته د غميزو پرته بل څه نه دي راوړي. فکري غلامان او د اشغالګرو اردليان دي چې اشغال ته توجيهات لټوي . له بده مرغه پدې وروستيو څلورنيمو لسيزو کې زموږ هېواد دوه ځله د خونړيو يرغلونو او اشغال هدف وګرزيد. د۱۹۷۹ کال د دسمبر په اووه ويشتمه شوروي اشغالګرو پخپل خونړي تيري سره خلقي واکمني راوپرزوله او د ببرک کارمل په مشرۍ يې خپل پرچمي لاسپوڅي واک ته ورسول او د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه امريکايي- انګريزي نيواکګرو په خپل وحشيانه يرغل سره د افغانستان اسلامي امارت نسکور او د برهان الدين رباني په مشرۍ يې جګړه ماران او لوټماران واک ته ورسول.سره لدې چې شوروي جمهوري سوسيالستي اتحاد او د امريکا متحده ايالتونه دوه مخالف سياسي – اقتصادي( سوسيالستي او امپرياليستي ) سيستمونه پېژندل شوي وو خو زموږ په هېواد کې يې کړنو توپير نه درلود ته به وايي چې شوروي او امريکايي اشغالګر د يوې مور زامن وو او ګډه تګلاره او ستراتيژي يې لرله. البته دواړو اشغالونو د ګډو وجوهاتو په لرلو سره خپلې ځانګړتياوې هم درلودلې چې دا ځانګړتياوې د هغوی توپير ښيي. پدې ليکنه کې به د دوو اشغالونو ګډو وجوهاتو او توپيرونو ته ځغلنده کتنه وشي.

– شوروي اشغالګر د افغانستان د وخت حکومت ته د پوځي مرستې په نامه خپل دوست حکومت نسکور او افغانستان يې اشغال کړ. انګلوساکسوني اشغالګرو د دښمن په نامه په برالا ډول واکمن حکومت نسکور او افغانستان يې ونيو.

– د شوروي اشغال په نړيواله کچه محکوم شو او م، م په پرله پسې ډول له اشغالګرو غوښتل چې له افغانستان څخه ووزي خو د امريکې له لوري د افغانستان اشغال نه دا چې محکوم نشو بلکې د م، م له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري د جرمني د بن په ښار کې د اشغال لاندې افغانستان لپاره د حکومت بنسټ کېښودل شو او د شل کلن اشغال پر مهال د م، م سازمان د امریکایي اشغال په چوپړ کې ولاړ وو.

– د شوروي اشغال پر مهال ملي مقاومت د لویدیځ او د هغه د متحدینو د بشپړ سیاسي ، معنوي، تسلیحاتي او اقتصادي ملاتړ څخه برخمن وو او په پرمختللو پوځي تجهیزاتو یې سمبالولو خو د امریکایي اشغال پر مهال چا په بربنډ ډول د افغان ملي مقاومت څخه ملاتړ نه دی کړی او د ملي مقاومت اغېزمني وسلې واسکټ او بوشکې وې چې هغه یې هم په خپله جوړول.

- دواړو اشغالګرو یو فورمول « بېل یې کړه، ابل یې کړه» پلی کړ. د شوروي اتحاد د اشغال په مهال د لومړي ځل لپاره د لرکیو او ډېرکیو ویشونکي تبلیغات پیل شول او د قومونو او قبایلو په وزارت کې د قومونو ځانګړي معیینتونه په اداري تشکیلاتو کې اضافه شول. د دې ترڅنګ قومي ملیشې هم جوړې شوې. امریکایانو د بن په کنفرانس کې په بربنډ او رسمي ډول د راتلونکي حکومت بنسټ د قومونو او توکمونو پراساس کېښود. د شل کلن اشغال پر مهال د خراسان ، هزارستان او سویلي ترکستان د جنډو جګول ، په فاسده ولسي جرګه او مزدورو رسنیو کې د پښتنو او غیرپښتنو د ویشني څرګندونې او په تذکرو کې د قومونو لیکل د واحد او یوموټې افغانستان شتون تر پوښتنې لاندې راوړی وو.
– په دواړو اشغالونو کې ملي ارزښتونو او تاریخ ته سپکاوی شوی دی. توپیر یې پدې کې وو چې په شوروي اشغال کې دا کار په زیرکانه او غلي ډول خو په امریکایي اشغال کې په بربنډ ډول پلی کېده .
- د دواړو اشغالونو پرمهال بې تومنې ، پردی پال او فرصت غوښتونکي وګړي د واک او ځواک خاوندان شول.

- شوروي اشغالګرو یوازې له فاسدو جګړه مارانو څخه د افزارو په توګه د ملي مقاومت په ځپلو کې ګټه پورته کوله. امریکایي اشغالګرو ټول دولتي ماشین فاسد کړ ، نه یوازې دولتي ماشین د جګړه مارانو په چوپړ کې وو بلکې په ملي شتمنیو هم جګړه ماران واکمن وو . د امریکایي اشغال پر مهال په دولتي ماشین کې ژمنو مامورانو په بشپړ ډول ځانونه پردي احساسول.

- د سره اشغال پر مهال شوروي سلاکارانو د افغان ځواکونو د لاربښوونې او قوماندې مستقیم واک نه درلود. د تور اشغال پر مهال ناتویي سلاکارانو د امر او قوماندې بشپړ واک درلود تردې چې امریکایانو د ملي امنیت د صفري قطعاتو د روزنې، لوژیستیکي تامیناتو او په جګړه کې د استعمالولو بشپړ واک درلود . د ملي امنیت مسؤلین د دې قطعاتو د فعالیت د څرنګوالي څخه په بشپړ ډول بې خبره وو. ددې معنی دا کېږي چې د ملي امنیت صفري قطعې د امریکا د سي آی اې په چوکاټ کې د امریکایي پوځ برخه وه .

- شوروي اشغالګرو خپلو چوپړیانو ته ظاهرآ د نوکر په سترګه نه کتل او هغوی یې په ټولنه کې نه سپکول خو ناتویي اشغالګرو خپل چوپړیان لکه توکي کارول او هغوی یې خپل مرییان ګڼل. غوره بېلګه یې د دونالد ټرمپ له خوا بګرام ته د اشرف غني احضارول او د امریکایي پوځیانو په کتار کې درول وو چې د ده وینا واوري او د امریکایي سرتېري په شان یې وینا ته چکچکې وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





- شوروي اشغالګرو په افغانستان کې د افغانانو لپاره زندانونه نلرل خو ناټويي اشغالګرو خپل زندانونه لرل تردې چې افغانان يې د ګوانتانامو په بدنامه زندان کې بنديانول او شکنجه کول. عجيبه خو لا داوه چې نه يوازې امريکايي پوځيانو زندانونه لرل بلکې ملکي وګړو يې هم په افغانستان او حتی د کابل په ښار کې زندانونه لرل.

- شوروي اشغالګرو د افغانستان د دولتي او ټولګټو بنسټونو د پياوړتيا لپاره تر يوې کچې اغېزمن ګامونه اوچت کړل خو ناټويي اشغالګرو يوازې د خپلو چوپړيانو د پياوړتيا او شتمن کولو لپاره هلې ځلې کولې. دې خاينانه تګلارې په ټولنه کې د خوارو او شتمنو تر منځ واټن زيات کړ او پدې ډول يې خپل چوپړيان په ميلياردرانو او فرعونانو واړول .

- شوروي انترناسيونالستانو افغانستان ته يو پياوړی وسلوال پوځ جوړ کړ چې ساري يې په سيمه کې شتون نه درلود خو امريکايي ګلوبالستانو د پوځ په نامه اربکيو او مليشو ته ورته ځواک جوړ کړ چې يوازې د ملي مقاومت او ولس د مهارولو او ځپلو وړتيا ولري خو د بهرني يرغل په وړاندې د درېدو وس ونلري.

– شوروي اشغالګرو په افغانستان کې د مالي او اخلاقي فساد د رواجولو ستراتيژي نلرله خو امريکايي اشغالګرو د مالي، اداري او اخلاقي فساد پاليسي پر مخ وړله. په ادارو کې پراخ فساد ، په ارګ او دولتي ادارو کې فحشا ، د امن د کورونو په نامه د فحشا د مرکزونو جوړول ، امريکايي اډو ته د بدلمنوښځو وړل او د شا وخوا درې نيم ميليونو معتادانو شتون په افغانستان کې د امريکايي اشغال د فساد د رواجولو د پاليسۍ ځرګندې بېلګې دي .

- د شوروي اشغال پر مهال افغانستان داسې باوري پوځ درلود چې د جګړې انګېزه يې لرله او د خپلو سياسي اوعقيدتي باورونه له مخې د واکمنۍ د ساتلو لپاره قربانۍ ته چمتو وو . ناټويي اشغالګرو افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته داسي امنيتي ځواکونه را وپنځول چې د ناټويي اشغالګرو د بشپړې وتلو دوې اونۍ مخکې خپل مورچلونه ، چونۍ او حوزې خوشې کړلې او خپلو کورونه ته لاړل . د ناټويي اشغال پر مټ جوړ شوي پوځ عسکري لوړې او ملي ګټو ته قطعا ژمنتيا نلرله او وسلې ته يې د ناموس په سترګه نه کتل.همدا لامل وو چې کله د وسلوال مقاومت برى حتمي شو د خپلو وسلو او پوځې تجهيزاتو سره ايران، تاجکستان او ازبکستان ته وتښتېدل. د افغانستان د اسلامي جمهوريت وطنپلورونکو پيلوټانو يوازې ۶۳ الوتکې او چورلکې ازبکستان ته وتښتولې . دهغوی سره ۶۰۰ ټنه لوړپوړي ملکي او پوځي هم ازبکستان ته وتښتېدل. خو د ا، خ، د، ګ د واکمنۍ د نسکوريدو په درشل کې يوه پوځي هم يو ټوپک بهر ته نه دی وړی.

- شوروي انټرناسيونالستو پوځيانو خپلې موډرنې وسلې افغان پوځ ته ډالۍ کړې او دوی ووتل خو امريکايي اشغالګرو تر څو کولای شول خپلې وسلې له ځانه سره يووړلې او يا پاکستان ته ورکړلې . تر دې چې د بګرام او کابل د هوايي ډګرونوتجهيزات او الوتکې يې د وتلو پر مهال ويجاړ او حتى د هوايي ډګر رانوې ( ليکه) هم ويجاړه کړله. دلته د امريکايانو افغاني ضد ماهيت او موخې بربنډ ېږي.
- د سره اشغال پرمهال پنجابيانو دا جرآت نه کاوه چې د افغانستان خواته په سپکه سترګه وګوري څکه پوهېدل چې هم افغان حکومت او هم يې بهرنی ملاتړی سخت غبرګون ښيي. د تور اشغال پرمهال پاکستانيانو په کراتو د افغانستان سرحدي ولايتونه د توغنديو او توپچي هدف ګرزولي چې ځاني او مالي زيانونه يې لرل خو امپريالستي اشغالګرو کوم غبرګون نه دی ښودلی او د دوی له لوري جوړشوي اربکي پوځ د غبرګون او متقابله بريد شونتياوې نه درلودلې . سربېره پر دې د امريکايي اشغال پرمهال پاکستاني اړخ د ديورند په فرضي کرښه اغزن سيم تېر کړ او دروازې يې ولګولې . دا بيا د دې واقعيت څرګندوی دی چې د افغانستان او پاکستان اړوند د واشنګټن پاليسي پدې څرخېدله چې افغانستان د پاکستان په ستلايت بدل کړي. همدا لامل وو چې د اوباما مرستيال جوبايدن کرزي ته ويلي وو چې امريکې ته پاکستان د افغانستان په پرتله پنځوس ځله زيات ارزښت لري.

- د افغانستان څخه دواړه ښکېلاکګر د سولې د تړونونو په لاسليک کولو سره ووتل پدې توپير چې شوروي سپاهيان په ځانګړو مراسمو سره وتل پيل کړل چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه لسګونو خبريالانو پدې مراسمو کې برخه لرله او د شوروي پوځيانو وروستۍ ډله په رڼا ورځ د حيرتان له پله څخه تېره شوله . خو د ناټويي لښکر د وتلو څخه هېڅوک هم نه خبرېدل او وروستۍ ډله پوځيان يې لکه غله په توره شپه کې د کابل له نړيوال هوايي ډګر څخه و تښتېدل . دا بيا ښيي چې امپريالستي ښکېلاکګر او لاسپوڅې واکمنۍ يې په ټولنه کې په بشپړه توګه منفوره او رټل شوې وه او لامل يې دا وو چې دا واکمنۍ د جګړه مارانو، قاتلانو ،غلو، لوټمارانو او د مختلفو دولتونو د جاسوسانو او مزدورانو يوه ټوليزه وه.
- دواړه اشغالګر کله چې د افغانانو د اتلوال مقاومت په وړاندې په ګونډو شول خپلو دوستانو خو په واقعيت کې چوپړيانو ته شا کړله او هغوی يې د دوی په غليمانو تعويض کړل.

- شوروي اشغالګرو خپلو هغو پوځيانو ته چې د افغانانو سره زورزياتی کاوه او د ملکی بېګناه افغانانو په وژنو تورن وو د قانون منګولو ته سپارل خو ناټويي اشغالګرو خپلو جنايتکارو پوځيانو ته ګوتځندنه هم نه کوله تر دې چې د بريتانيا شهزاده په خپل کتاب کې په وياړ سره په هلمند کې د افغانانو د وژنو يادونه کړې او دا وژل شوي ملکي افغانان د شطرنج داني بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنیو څرګندونو ته په کتو سره ویلی شو چې اشغالونو موږ ته ناورینونونه راوړل ، میلیونونه تنه شهیدان، معلولان او کډوال شول . دری نیم میلیونه افغانان معتاد کړل . غوره مغزونه له هېواد څخه ووتل .ملي یووالی مو سخت زیانمن شو. په خپل خان اتکا او باور مو له لاسه ورکړ . اوس مهال پردي پالنه او جاسوسي شرم نه ښکاري. ددې ټولو ناخوالو او بدمرغیو سره سره اشغالونو پښتانه د هېواد د ستر قوم په توګه د غفلت له خوبه را ویښ کړل څکه ویې لیدل چې د اشغال لاندې افغانستان کې یې هویت او ژبه دواړه د ګواښونو سره مخ دي. دا بیا ښيي چې ښکیلاکګر په اشغال شوي هېواد کې ډېرکي تر سخت فشار لاندې نیسی تر دې چې هغه په اقلیت اړوي. همدا لامل وو چې پښتانه د خپلې ژبې د غوړېدو په سوچ کې شول او پدې لار کې ټاکلي بریاوې هم لري. په افغانستان کې د اشغالونو دې ناوړه پایلو ته په کتو سره دا درس تر لاسه کېږي چې واکمنی او سیاستوال باید د خپلو خلکو مقدساتو او دودونو ته درناوی وکړي ، د خپلو خلکو سره د زور زیاتي پر ځای د پوهاوی تګلاره غوره کړي ، د خپلو خلکو او زماني د غوښتنو سره سم خپلې تګلارې عیارې کړي، د پردیو او د پرمختللو ټولنو د نسخو د پلې کولو او د واک د انحصار څخه په کلکه ډډه وکړي . سیاستوالو ته بویه چې هېڅکله هم په پردیو باور ونکړي چې هغوی به یې هېواد آبادوي . چارواکو او سیاستوالو ته ښايي چې د هېوادونو او په تېره ځواکمنو دولتونو سره په اړیکو کې محتاطانه ګامونه اوچت کړي. اوسنیو او راتلونکوچارواکو ته بویه چې ناپېیلی اقتصاد محوره سیاست پر مخ بوزي . سیاستوالو ته ښايي چې د ښکلو سیاسي شعارونو لکه انټرناسیونالسم، ګلوبالیسم او اسلامي اخوت ښکار نشي او هرڅه د ملي ګټو په تله و تلي او د ښوونځي او مدرسي واټن له منځه یوسي. اوسني او راتلونکو واکمنیو ته ښايي چې د شوروي او امریکایي ښکېلاکګرو څخه د جکړې غرامات وغواړي. همدارنګه اوسنی او راتلونکو واکمنیو ته ښايي چې د ښکېلاکګرو او کورنیو جګړه مارانو جنګي جنایتونه مستند کړي اوهغه نړیوالي محاکمې ته وسپاري . کورني ژوندي او مړه جنایتکاران او د اشغال لوړپوړي اردلیان محاکمه کړي. ددې جنایتکارانو لپاره یو ځانګړې هدیره غوره شي ،هغه د جنایتکارانو یا توري هدیرې په نامه و نومول شي او په یوه مرمرینه ډبره کې د دې وطنپلورونکو او جنایتکارانو نومونه ولیکل شي تر څو ولس او راتلونکي نسلونه هغه وپېژني او پدې ډول ټولو ته د عبرت درس شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه


۱ – محمد حسن کاکړ، د سرطان کودتا د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه،د افغانستان د کلتوري ټولنې ودې ټولنه ،۲۰۰۹ ، مخ ۵۷ .

۲ – غلام دستګیر پنجشیري، ظهور وزوال حزب دموکراتیک خلق افغانستان،۱۱ جدی ۱۳۷۷، مخ ۱۸۲.

۳ – ډاکتر نبي مصداق، افغانستان سیاسي کمزوري او بهرنۍ مداخله،علامه رشاد خپرندویه ټولنه،۱۳۸۹ ، مخ ۲۷۹.

۴- بي بي سي، پښتو،۲۰۱۳ ،مې نهمه ،د کابل پوهنتون اتیا کلن تاریخ

۵- کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني،مقدمه یی بر کودتای هفت ثور و فجایع هشت ثور در افغانستان ، ۱۹۹۵ ، مخ ۱۰۸ .

۶- د افغاني محصلینو مجله ،لومړۍ ګڼه ،حمل -ثور ۱۳۵۹ .

۷ - سترجنرال الکساندر مایوروف، په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل ؟ ۱۳۸۲ ،مخونه ۳۲۵ – ۳۲۶

۸ – اکادمیسین محمد انور نومیالی، د ثور پاچا ګردشي،استقلال ویب پاڼه.

۹ – اقبال وزیري، پاچا خان اندونه، مخ ۱۷ .

۱۰ – پوهنوال عبدالرشید جلیلي، غمیزه څنګه منځته راغله ؟ دانش خپرندوی ټولنه ، ۲۰۰۸ ، مخ ۴۳.

۱۱ – میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم ، مؤسسه نشراتی میوند، مخ ۲۰۴ .

۱۲ – دکتر عبدالرحمن زمانی،قیام سال ۱۳۳۴ صافی های کنر،قسمت دهم،افغان جرمن آنلاین،دوم جون ۲۰۰۴ .

۱۳ – سیدقاسم رشتیا، خاطرات سیاسی، مخ ۹۶ .

۱۴ – محمدعلم بڅرکی ،ویښ ځلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریک ، مخ ۳۰ .

۱۵ – شاه محمود حصین ، جمعیت ویش ځلمیان ، مخ ۵۱ .

۱۶ – سیدشمس الدین مجروح ، سرګذشت من ،افغانستان تایمز کابل ، ۱۹۹۱ ، مخونه ۹۵- ۹۶ .

۱۷ – کاندید اکادمسین محمد ابراهیم عطایی،نګاه مختصر به تاریخ معاصر افغانستان،۱۳۸۴،مخ ۳۲۶.

۱۸ – شاه محمود حصین ، مثلث بی عیب، ۲۰۰۱، مخ ۲۹۱ .

۱۹ – محمدحسن شرق ، تاسیس و تخریب اولین جمهوری افغانستان ،مخ ۵۲ .

۲۰ – آدمک لویک،شخصیت های سیاسي افغانستان از ۱۷۴۷ – ۱۹۴۵ ،ګراس ، اطریش، ۱۹۷۵، مخ ۲۴۶ .

۲۱ – برهان الدین کشککی،نادرخان،لومړی چاپ، کابل ، ۱۳۱۰ ، مخونه ۳۴۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲ – عبدالغفارخان ( پاچاخان) ، زما ژوند او زما جد او جهد ، دانش خپرندوی ټولنه، ۱۳۸۷ ، مخ ۳۴۰ .

۲۳ – استوارت ریه تالی، آتش در افغانستان ،۱۹۱۹ – ۱۹۲۹ ،لومړی چاپ، پېښور، ۱۳۸۰ ،مخونه ۴۹ – ۵۰ .

۲۴ – حبل المتین ، ۱۳۰۹ ، ګڼه ۱۹۵ .

۲۵ – آدمک لویک ، مسایل خارجی افغانستان در وسط قرن بیستم،پوهنتون آریزونا ،۱۹۷۴ ، مخ ۱۸۰.

۲۶ – نهرو جواهرلعل ، نگاهی به تاریخ جهان،جلد دوم،محمد تفضیلی،تهران ،۱۹۶۷ ، مخ ۱۶۶۶ .

۲۷ – یوری تیخونوف،نبرد افغانی استالین،عزیز آریانفر،مسکو ، ۲۰۰۸ ، مخونه ۴۴۸ – ۴۴۹ .

۲۸ – ډګرجنرال عبدالرزاق، افغانستان در جریان زندگی من، مخونه ۶۷-۶۶ .

۲۹ -کرسچن ساینس مانیتور، نوامبر لومړی ، ۱۹۶۵ .

۳۰ – میر محمد صدیق فرهنگ ،افغانستان در پنج قرن اخیر ،جلد دوم ،میوند مطبعه ، ۱۳۷۱ ، مخ ۶۹۸.

۳۱ – محمد حسن کاکړ ، مجله بی المللی شرق میانه ، اقتباس از پیام ها و کنفرانس های مطبوعاتی رهبرملی ، مؤسس جمهوریت ، چاپ وزارت اطلاعات وکلتور،کابل نمبر ۲۶ ص ۵/ ۱۰ جولای ۱۹۷۳ ، ۱۷ جولای ۱۹۷۴ .

۳۲ – صباح الدین کشککی ، دهه قانون اساسی ، بنګاه نشرات مطبعه میوند، ۲۰۰۰، مخ ۱۸ .

۳۳ – کابل تایمز ،۹ سپتمبر،۱۹۶۴ .

۳۴ – لویي دوپري ،کتاب افغانستان ، امریکا ،۱۹۸۰ ، مخونه ۶۱۷-۶۱۶ .

۳۵ – ګلبدین حکمتیار، اسلامي نهضت، مخ ۹۹ .

۳۶ – البدر جریده ( عربي) ، لمړۍ ګڼه ، دریم کال ،۱۹۸۸ .

۳۷- کاروان جریده ،اکتوبر ۱۶ ، ۱۹۶۹ .

۳۸ – محمد حسن شرق ، کرباس پوشان برهنه پاه ،سبا کتابخانه ، پېښور ، مخونه ۱۰۵ – ۱۰۶ .

۳۹ – ساطانعلي کشتمند،یادداشت های سیاسي و رویدادهای تاریخي، ۲۰۰۲ ، مخ ۱۱۳- ۱۱۷ .

۴۰ – صالح محمد زیری، د نیمي پیړۍ خاطرې، ۱۳۸۴ ، مخ ۱۷۴ .

۴۱ – عبدالغفار فراهي، افغانستان د دموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې ، ۲۰۰۳ ، مخونه ۲۱۵-۲۱۷.

۴۲ -لیودوویک آدمک،تاریخ روابط سیاسي افغانستان از زمان امیرعبدالرحمن تا استقلال ،علي زهما، ۱۳۴۹ ، مخونه ۱۲ -۱۳.

۴۳ – سلیمان لایق، د ۱۳۶۸ لمریزکال ځینې سیاسي یادداشتونه،نولسم ټوک،روهی ویب پانه ، ۲۰۱۴ /۷ / ۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴- عتيق الله مولوي زاده ،از دين پروری تا دين فروشی، آريايي ويب پاڼه.

۴۵ – حق مل ضياء ،وحشي جنرالان ،الاماره ويب پاڼه۲۰۱۵ / ۱۰ / ۲۷ .

۴۶ – علامه عبدالحق مجددي ، افغانستان از امير کبير تا رهبرکبير،۱۳۷۸، مخ ۵۵۶ .

۴۷ – ديه گو کوردويز او سليک اس هاريسون ، پشت پرده افغنستان، ۱۳۷۹،مخ ۱۶.

۴۸- سيدخليل الله هاشميان،ترجمه مقاله جناب محمد آصف خواتي، افغان – جرمن آنلاين، ۲۰۱۵ / ۵ / ۲۳.

۴۹ – الکساند لياخفسکي، د افغان غمېزه او مېړانه، روسي چاپ ، ۱۹۹۳، مسکو، مخونه ۲۲- ۲۳ .

۵۰ – ولاديميرپلاستون او ولاديمير اندريانف ،افغنستان در منگنه ژيوپولتيک،پشاور، ۲۰۰۱، مخ ۵۵.

۵۱-خاطره زندان،سالنامه انجمن سالمندان افغان،کاليفارنياى شمالي ،۲۰۰۸ ، مخونه ۱۶ / ۲۸ .

۵۲ – غوث الدين فايق ، رازې را که نمی خواستم افشاء گردد، ۱۳۷۹ ، مخ ۲۱.

۵۳ – شاه زمان ستانزی ، سهل انگاری محمد داود خان و کودتای ۷ ثور ، مخ ۶ .

۵۴ – عبدالحميد محتاط، سقوط سلطنت ،۲۰۰۴ ، کيف ، مخونه ۴۹ – ۵۱ .

۵۵ – خراسان مجله ، مخونه ۲۱- ۲۲ .

۵۶ – شهرت ننگيال ،شاه سابق محمدظاهرشاه ،مرکزنشراتی ميوند ،پشاور ، ۲۰۰۱، مخ ۶۹ .

۵۷ – محمد آصف آهنگ ، مرکه، دويچه ويلي ، ۵ /۱ / ۲۰۰۶ .

۵۸ – سيد عبدالله کاظم ، نظراندازی در لابلای واقعيت های تاريخی ، افغان – جرمن آنلاين،۱۷ اگست ۲۰۱۵ .

۵۹ – خاطرات محمدظاهرشاه در گفتگوی اختصاصی با بي بي سي، ۵ سپتمبر ۲۰۰۵ .

۶۰ – محمد اقبال وزيري ،د ثور پاڅون ، د کې جي بې دسيسې او د شوروي يرغل ، دانش خپرندويه ټولنه ، ۲۰۰۷ ، مخ ۵۲ .

۶۱ – ميرعنايت الله سادات ، افغنستان سرزمين حماسه و فاجعه ،آلمان ، ۱۹۹۸ ، مخ ۱۳۶ .

۶۲ – سيد عبدالله کاظم ، اظهارات يک شاهد عينی در باره آخرين سفر اعليحضرت محمدظاهرشاه در لندن برای تداوی چشم و عواقب آن ، ۱۷ جنوری ۲۰۱۵.

۶۳ – ولاديمير سينگروف ، چگونه ما با ويروس آ هجوم بر افغانستان مواجه شديم ، غوث جانباز ،مخ ۵۴ .

۶۴ – پروفيسور عبدالرسول امين ، د افغاني ټولنې د زعامت خلاء، آزادافغانستان ليکوالو ټولنه ، فرانکفورت، ۱۹۹۷، مخ ۲۵ .

۶۵ – انيس ورځپاڼه ، ۱۹۷۳ ، اگست ۲۳ .

۶۶ - پروفيسور داويدوف ، مسايل صلح و جنگ، ژباړونکی عزيز آريانفر ، ۱۹۹۶ ، مخ ۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۷ – محمد نذیر کبیر سراج ، رویدادهای نیمه اخیر سده بیست در افغانستان ، فرانکفورت ، ۱۹۹۷، مخونه ۲۱- ۲۲.

۶۸ – جمهوریت ورځپاڼه ، ګڼه ۴۱ ،۳۱ / ۶ / ۱۳۵۲.

۶۹ – امین الله دریځ ،افغانستان در قرن بیستم ، مخونه ۲۹۰ – ۲۹۱ .

۷۰ – محمد همایون اعتمادی ، مشاهدات و نظریات، مجله آیینه افغانستان، جنوری ۱۹۹۴ .

۷۱ – لویی دوپری ، بیرق سرخ بر فراز افغانستان، قسمت اول ، جنبش های چپي در افغانستان، ۱۹۷۶ ، مخ ۱۰ .

۷۲ - داود ملکیار ، رد اتهامات و شرح واقعیت ها ، قسمت هشتم ، افغان – جرمن آنلاین ، ۲۱ / ۱ / ۲۰۱۶ .

۷۳ - کودتای میوندوال بر اساس خاطرات بازمحمد منګل در کتاب شهسوار سنګروال نیازي، احمدفواد ارسلا، ۶ / ۱ / ۲۰۱۶ .

۷۴ – عبدالصمد اظهر، خودکشي یا قتل ، اسرارمرګ محمد هاشم میوندوال ، مخ ۱ .

۷۵ – افغان جرمن آنلاین، سیدعبدالله کاظم ، نظر اندازی در لابلای واقعیت های تاریخی، مطالبی از کتاب خاطرات ډګرجنرال عبدالرزاق ، ۱۷ / ۸ / ۲۰۱۵.

۷۶ – افغان جرمن آنلاین، احمد فواد ارسلا ، مرحوم ډګرجنرال غلام فاروق خان ، شهید داودخان و ریاست محاکمات اردو ، ۱۵ / ۲ / ۲۰۱۵ .

۷۷ – افغان جرمن آنلاین ،سیدعبدالله کاظم ، داود خان و اردو ، ۵ / ۸ / ۲۰۱۵ .

۷۸ – افغان جرمن آنلاین ،ارمغان زندان ، یادداشت های عبدالملک عبدالرحیم زی ، مخ ۵۹ .

۷۹ – عبدالکریم میثاق،خاطره ها ګپ هایی از ګذشته ،انتشارات امیری ، ۱۴۰۱ ، مخ ۴۱ .

۸۰ – عبدالقدوس غوربندی ، نګاهي به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، جرمنی ، ۱۳۹۷ ، مخ ۱۲.

۸۱ – پروفیسور عبدالحکیم شرعي جوزجاني، یادداشت های مختصر در باره تدارک و جریان کار کنګره مؤسس حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، آریایی ویب پاڼه.

۸۲ – محمد اسمعیل اکبر، غلام دستګیر پنجشیري آنچه ګفته ...، د وطن پیغام ویب پاڼه ، ۲۱ /۲/ ۲۰۰۹.

۸۳ – عبدالحکیم شرعي جوزجاني ، د اووم د ثورځېنې پېښې، فیسبوک ۲۹ / ۱۲ / ۲۰۱۹.

۸۴– خلیل الله زمر، بي بي سي، فارسي ویب پاڼه، ۲۴ / ۱۲ / ۲۰۰۷ .

۸۵ – د خبر او نظر نړی، عبدالجلیل وجدي، ۱۳۸۷، کاروان مطبعه ، مخ ۷۳ .

۸۶ – ثریا بها ، رها در دریا ،انتشارات امیری ، چاپ سوم ، ۱۳۸۲ ،مخونه ۱۰۸ – ۱۰۹

۸۷ – محمداکرام اندیشمند ، حزب دموکراتیک خلق افغانستا ن ،حاکمیت و فروپاشي ، انتشارات میوند، اکتوبر ۲۰۰۹ ، مخونه ۶۲ ، ۷۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۸– عبدالحمید مبارز ،حقایق و تحلیل وقایع سیاسی افغانستان ،مرکزنشراتی حمید نور ، ۱۳۷۶ ، مخ ۷۰ .

۸۹– د امپراطورۍ وروستۍ جګړې نومی فلم ، ګېنریخ او بریا نوویچ بورویک.

۹۰ – محمدحسن کاکړ، رڼا او دفاع ، پېښور ، ۱۹۹۸ ، مخ ۱۶۲ .

۹۱ – په افغانستان کې کودتاوې او مرګونه ، ۱۹۸۲ ، نوامبر ۲۲

۹۲ – عبدالحکیم طبیبي ، خاطرات چهاردهه زندگي دپلوماتیک من در خدمت افغانستان و جهان ، مخ ۱۸۱ .

۹۳ – عبدالولي خان،پاچاخان او خدايي خدمتګاران ، لومړی توک، پېښور ، ۱۹۹۳ ، مخ ۴۹۱.

۹۴ – محمدعزیز نعیم ، مقاله پاکس پاکستانیکا، مجاهد ولس ، جون ۱۹۹۸.

۹۵ – عبدالولي خان، پاچاخان او خدايي خدمتګاران، دریم ټوک ، ۱۹۹۸، مخ ۱۷۰.

۹۶ – عبدالولي خان ، پاچاخان او خدايي خدمتګاران، دوهم ټوک ، ۱۹۹۴ ، مخ ؟؟؟؟

۹۷ – عبدالله بختانی ، فخرافغان او افغانستان ، پېشور ، ۲۰۰۸ ، مخونه ۹۱ – ۹۲.

۹۸– د افغانستان ۱۳۳۹ – ۱۳۴۰ کلنی ، مخ ۲۷۲ .

۹۹– تاریخ نوین افغانستان ، مخ ۳۹ .

۱۰۰ – دانش نامه خراسان ، ۱۰ آربان ، ۱۳۸۰ .

۱۰۱ – ارغنداوي عبدالعلي ، ژوندۍ خاطرې ، مخ ۱۴۸ ؟؟؟

۱۰۲ – روسانه کلاس ، افغانستان : ستره لوبه بیا را پیل سوې ، ۱۹۸۷ ، نیویارک ، مخ ۱۴۱ .

۱۰۳ – شعله جاوید، خاکسترې بجا مانده از مائویسم افغاني،بې بې سي ، فارسي ، دسمبر ۲ ، ۲۰۱۳ .

۱۰۴ – هنری برادشر ، افغانستان تجاوز شوروی مقاومت مجاهدین ،دفهرنشراتی میوند، دریم چاپ ، پېښاور، ۱۹۹۱ ، مخ ۵۲ .

۱۰۵ – اکادمیسین ګلداد ، ګنځ ، ۲۰۱۲ ، مخونه ۱۷۷- ۱۷۸ .

۱۰۶ – گروهی از دانشمندان انستیتوت تاریخ نظامی فدراسیون روسیه ، جنگ در افغانستان ، عزیز آریانفر، ۱۹۹۱ ، مخونه ۵۳ – ۵۴ .

۱۰۷ – کاروان جریده ، ۱۰ جون ۱۹۶۹ .

۱۰۸ – جورج آنی ، افغانستان گذرگاه کشورگشایان ، سیدمحمد یوسف علمی و حبیب الرحمن هاله ،پېښور، میوند ، ۱۳۷۶ ، مخ ۷۴ .

۱۰۹ – جمعه نوپرور، از موج تا توپان ، ۱۳۸۲ ، مخونه ۱۱۲ – ۱۱۳ .

۱۱۰ – سلیمان لایق ، یادداشت های ۲۰ ثور ۱۳۵۶ ، کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۱ – کابل ناتها ، گنه ۵۷ ، څلورم کال ، چنګاښ ۱۳۷۴ .

۱۱۲ – غرزی لایق ، نگاهي برنیم رخ دیگر واقعیت ، آریایی ، ۱ جون ۲۰۱۴ .

۱۱۳ – عبدالوکیل ، از پادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان ، مخ ۲۴۴.

۱۱۴ – دیپلوم انجینر کریم عطایي ،قیام و جمهوریت ۱۳۵۲ تحت قیادت سردار شهید داودخان ، ۲۰۰۴ ، سویزرلند، مخ ۲۱

۱۱۵ – هفته نامه پیمان ، قتلي که کودتای در پی داشت ،وحیدمژده ، ۲۰۰۴ ، جولای درویشتمه .

۱۱۶ – محمد ظاهر طنین ، افغانستان در قرن بیستم ،۱۹۰۰ – ۱۹۹۵ ، از مجموعه برنامه های بی بی سی، ناشرمحمدابراهیم شریعتی ، تهران ۱۳۶۴ ، مخونه ۲۰۱ – ۲۰۲ .

۱۱۷ – ځلمی محمدولي ، د کابل نومیالی ورځپاڼي او جریدې ، مخونه ۱۶۷ – ۱۶۸ .

۱۱۸ – هنری برادشر ،ایس هنری ، ۱۹۸۵ ، تاریخ او ټولنیز علوم ، لانګ دیوالی ، مخ ۳۷ .

۱۱۹ – بي بي سي فارسي ،۲۰۰۸ ، اپریل اوولسمه،

۱۲۰ – نوشیروانی کیهانی زاده ، روزنامک ویب پاڼه ، کمونست نمازگزار، ۲۰۰۶ ، دسمبر ۱۳ .

۱۲۱ – جنرال زاپلاتین ، تاریخ فلسفه ، زافترا ورځپاڼه ، ۵۱ / ۳۱۶ .

۱۲۲ – محمدعلی هوما ، زما نصیب ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۹ ، مخونه ۱۳۰ – ۱۳۱ .

۱۲۳ – روبین ، ۱۹۹۱ ، واک فوندیشن ، ۱۹۹۹ ، مخ ۵۵ .

۱۲۴ – واسیلی میتروخین ،کې جي بي په افغانستان کې ، دانش خپروندویه ټولنه ،پېښور ، رحمت آریا ، مخ ۳۰۴ .

۱۲۵ – بوروویک آرتیوم، پټه جګړه ، ۱۹۹۰ ، مخونه ۵- ۶ .

۱۲۶ – محمد حسن کاکړ ، افغانستان د ۶۶ کال پسرلي کې له روسانو سره په جنګ کې ،مخ ؟؟؟

۱۲۷ – محمدالله وطندوست ، سرگذشت سرخ ، مخ ۱۳.

۱۲۸ – میرصاحب کاروال ، درس های تلخ و عبرت انګېز افغانستان، انتشارات میوند، ۲۰۰۵ ، مخ ۷۶.

۱۲۹ – محمدنبی عئیمی ، اردو وسیاست در سه دهه اخیر ، ۱۳۷۷، پېښور، مخ ۲۴۴

۱۳۰ – عبدالصمد غوث ، سقوط افغانستان ، دوهم چاپ ، محمدیونس افغان ، مخ ۲۵۷ .

۱۳۱ – افغانستان د یرغلونو په لاره کې ، پوهاندخیرمحمدمامونډ، دوهم چاپ ، ۲۰۱۳ ، مخ ۲۳۶ .

۱۳۲ – محمدآصف خواتی،افغانستان تر سلطنت وروسته ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۹ ، مخ ۲۹۴ .

۱۳۳ – سیاسنګ عبدالصبور و آن گلوله باران بامداد ، فردا ویب پاڼه ، اتمه برخه

۱۳۴ – عبدالحکیم شرعی ، قیام ثور چگونه پیروز شد؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۵ – داود ملکیار ، آیا فرد را برای نظام و یا نظام را برای فرد باید خواست؟ افغان – جرمن آنلاین ، ۲۱ جون ۲۰۱۵ .

۱۳۶ – محمدحسن کاکړ، د ثور انقلاب او دهغې ناوړه پايلې ، مخ ۷۴ .

۱۳۷ – رازمحمد پکتین ، افغانستان له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۴ ، مخ ۷۴ .

۱۳۸ – فارسي رو ويب پاڼه ، د سره ستوري ورځپاڼې سره د يوري کوزنتس مرکه .

۱۳۹ – وهاب صالحه واصل ، کودتای پنجم در سقوط جمهوری سیاه سرخ وسبز ،یوولسمه برخه ، افغان – جرمن آنلاین ، ۲۷ / ۶ / ۲۰۱۶ .

۱۴۰ – خیرمحمد بایگان ،نقش استعمار نوین جهان ابرقدرت در افغانستان ،۱۳۷۹ ، مخونه ۱۴۳ ـ۱۴۰.

۱۴۱ – شوفیلد ، ۱۹۹۳ ، مخ ۱۰۴ .

۱۴۲ – وبلاک چکاد ، ژباړه عزیز علی زاده .

۱۴۳ – شرعی ، حادثه خونین ارگ ،آریایی ، جون ۲۰۲۰ .

۱۴۴ – ستیوکول ، د پیریانو جګړې ،ژباړه غلام محمد زرملوال ، دانش خپرندويه ټولنه ، ۲۰۰۷ ، مخ ۸۱۷ .

۱۴۵ – میل بیورلی ، انقلابي افغانستان -تازه اورونه ، ۱۹۸۲، لندن، مخ ۱۳۰ .

۱۴۶ – شپیګل ، نولسمه ګڼه ، ۱۹۷۸، می اتمه .

۱۴۷ – محمد اعظم سیستاني ، اصلاحات ارضي در افغانستان ، ۲۰۰۸ ، مخ ۲۵۱ .

۱۴۸ – ندیم شاهد ، اختصاصي مرکه ، دهیرالد ، پاکستان ، می ۱۹۸۸.

۱۴۹ – میک کولوم ، بل ، د سي آی ای مخلوق ، واشنګټن پوست ، ۱۹۸۹ ، سپتمبر لسمه ، مخ ۳۱.

۱۵۰ – افغان شمله ،مخونه ۱۳۲ – ۱۳۳ .

۱۵۱ – محمود حبیبي ،مکاتب افغاني ،دریم کتاب ، مخ ۱۳۳ .

۱۵۲ – نومیالی محمد انور ، د ثور پاچا ګردشي، استقلال ویب پاڼه .

۱۵۳ – فتاحي کالیبز ، بي بي سي فارسی ،۴ / ۱۱/ ۲۰۱۵ ، ۱/ ۶ / ۲۰۱۶.

۱۵۴ – ډګروال محمدیوسف او مارک اوکین ، تلک خرس ، دوهم چاپ، ۲۰۰۹ ، ژباړن داکتر نثاراحمد، مخ ۳ .

۱۵۵ – ولوالجي اسدالله ، خروج جنرال دوستم و سقوط نجیب الله ، دانش خپرندویه ټولنه ،پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ ۲۴۹ .

۱۵۶ – روبین برنت ، د افغانستان شخړه ، پوهنتون یله کاننګ ، ۱۹۹۵ ، مخ ۱۸۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۷ – روهي ویب پاڼه،ملي رهبر شاغلي حامد کرزي د خوشحال بابا فکري بهیر ځانګړې غونډه ، ۱۵ / ۴ / ۲۰۱۶.

۱۵۸ – غلام محمد زرملوال ،افغانستان تر وروستي افغانه ، دوهم ټوک ، مخ ۲۱ .

۱۵۹ – د افغانستان کلنی ، ۱۳۵۷ ، مخ ۶۷ .

۱۶۰ – نظیف الله نهضت ، د پردیو فتنې ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور، ۲۰۰۷ ، مخ ۳۴ .

۱۶۱ – احمدشاه فروزان ، قیام هرات ،انتشارات میوند،مشهد، لومړی چاپ ،۱۳۷۲ ، مخونه ۶۲ – ۶۳.

۱۶۲ – مصباح زاده ،کودتای ثور و پیامد های آن ، پیام آفتاب ، بخش چهارم ،۲۳ / ۲ / ۱۳۸۷ .

۱۶۳ – مارک اربن ، جنګ په افغانستان کې ، مخ ۳۶ .

۱۶۴ – شرعي جوزجانی، اولین سفر هیات حزبی و دولتی ج ، د ، ا به مسکو، ۲۰ / ۱ / ۲۰۲۰ .

۱۶۵ – هنری برادشر ، افغانستان او شوروي اتحاد ، مخ ۸۷ .

۱۶۶ – جنرال عزیز احمد عزیزي،افغانها ملتی که دو ابر قدرت جهان را به زانو در آورد ،اداره دارالنشر افغانستان ، ۱۳۷۸ ،مخ ۱۱۵.

۱۶۷ – انور راجا ، د افغانستان غمیزه لومړی لاسي بیان ، ۱۹۸۸ ، مخ ۱۱۴ .

۱۶۸ - خاطرات سیاسی جنرال عبدالقادر ، ۱۳۹۲ ، هامبورگ، مخونه ۲۲۸ – ۲۶۹ .

۱۶۹ – جامعه باز ، روزنامه برای زندگی ، انقلاب ثور بر ما تحمیل شد، ګلاب زوی ، ګفتګو محمد اسلم جواد.

۱۷۰ – جنرال عبدالقادر ( اکا ) دافغان تراژیدي – د روسي تجاوز زیږنده ، سروش کتاب پلورنځی ، ۱۳۹۸ ،مخ ۶۵ .

۱۷۱- پوهاند محمود سوما ، د ثور وسلوال پاڅون او د افغانستان مسآله ، پېښور ، ۲۰۰۸ ، مخونه ۵۳ – ۵۴ .

۱۷۲ – یوالي جریده ، ۱۳۸۰ ، څلورمه ګڼه ، مرغومي شپږمه .

۱۷۳– یارمحمد تره کی ، د نورمحمد تره کي تلین ، ۸ / ۱۰ / ۲۰۲۲ .

۱۷۴ - فلم مستند دو روز پی در پی ، د افغانستان د تلویزیون محصول ، ۱۳۷۲ .

۱۷۵ – انیس ورځپاڼه ، ۱۱/۷/ ۱۳۵۸ .

۱۷۶ – بوروویک په نامه روسي مستند فلم.

۱۷۷ – د جنرال ګوریلوف مرکه ، دیدګاه ویب پاڼه ، ژباړه عزیز علی زاده.

۱۷۸ – څرنګه افغانستان ته راغلم ، صدیر مجله ، ژباړه مسعود رؤفي ، ګڼه ۲۵ ، آلمان ، ۱۹۹۸.

۱۷۹ - محمد عثمان صافی ،د ثور نظامي پاڅون او دخلقی ګوندیاو هیلې ، یادداشتونه او واقعیتونه ، ۲۰۰۵ ، مخ ۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۸۰ - حقایق پشت پرده تهاجم شوروي بر افغانستان ، مخ ۸۶

۱۸۱ - توپان در افغانستان مخ ۱۶۷.

۱۸۲ – فیاض نجیمی ، معمای تجاوز شوروی در افغانستان ، دیدگاه ویب پاڼه

۱۸۳- جورج آنی،افغانستان گذرگاه کشورکشایان،سیدمحمدیوسف علمی وحبیب الرحمن هاله ،پشاور،میوند،۱۳۷۶ ، مخ ۱۰۲

۱۸۴ – د افغانستان جګړه او ګورکې ته زما تبعید، ژباړه زرین انځور، اګست ۲۰۰۴ ، مخ ۲۰ .

۱۸۵ - نیکیتامندوکوویچ ، روسیه فاکتور پشتونها ، فارسي رو ویب پاڼه.

۱۸۶ -ببرک کارمل ، در راه تحکیم حاکمیت خلق ، مجموعه بیانیه ها و نوشته ها ،۱۳۵۸- ۱۳۵۹ ،موسسه نشراتی کمیته مرکزی حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، مخ ۳ .

۱۸۷ – د دولتي تلویزیون آرشیف ،۱۳۵۸ ،مرغومي څوارلسمه .

۱۸۸ – کلنی ، ۱۳۵۸ – ۱۳۵۹،گڼې ۴۵ /۴۶ ، مخ ۳۲۲ .

۱۸۹ – وفا جریده ، ۱۳۷۴ ، مخ ۱۸ .

۱۹۰ – باریس ګروموف ،سرې لښکرې په افغانستان کې ، مخ ۷۶ .

۱۹۱ – فقیرمحمد ودان ، حقایق پندارها و کردارها ،مخ ۱۱۰ .

۱۹۲ – ولادیمیر سینګروف ،مصاحبه با کارمل ، دیدګاه ویب پاڼه.

۱۹۳- محمدنبی عظیمي، من و آن مرد موقر، مخ ۳۸۶

۱۹۴- شبارشین ، دست مسکو ،مخ ۱۴۰ .

۱۹۵– سخني در نقد از حزب دموکراتیک خلق افغانستان ،آسمایي فیسبوک ، ۱۵/ ۶ / ۲۰۱۲.

۱۹۶– جنرال محمد قارییف ، افغانستان بعد از بازگشت سپاهیان شوروي،ژباړن عزیز آریانفر،تهران، ۱۹۹۸ ، مخ ۱۵۳ .

۱۹۷– بصیراحمد دولت آبادي ،شناسنامه احزاب و سازمانهای سیاسي ، قم ایران،۱۹۹۲ ، مخ ۱۵۸.

۱۹۸– رزاق مامون ، رازخوابیده اسرار مرگ دکتر نجیب الله ،دوهم چاپ ،۲۰۰۸ ، مخ ۱۱ ؟؟؟

۱۹۹– افغان ملت جریده ، ۱۳۷۴ ، د تلې ۲۵ ګڼه.

۲۰۰ – پای عساکر مارا به افغانستان کشانیدند، پیمان ملي ویب پاڼه ،مرکه کونکی هارون امیرزاده.

۲۰۱ – ل. ای . شبارشین ، د مسکو لاس ، ژباړن محمدطاهر کانی ، مخ ۱۴۶ .

۲۰۲ – دوست وفدار شما ،دیدګاه ویب پاڼه ، دوهمه برخه .

۲۰۳ – عبدالجبار ثابت ، پشت پرده افغانستان ،مخ ۲۱۱.

۲۰۴- حقیقت انقلاب ثور ، ۱۵/ ۲ / ۱۳۶۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۵ – بریدجنرال الکساندر لیاخفسکی ،ډیوه مجله ،لندن ،۱۹۹۵ ،دسمبر ، مخ ۱۹ .

۲۰۶ – فقیرمحمد ودان ، دشنه های سرخ ، ۱۹۹۰ ، مخ ۲۰۱.

۲۰۷ – شاه محمود حصین ، مکثی کوتاهی برنقلی از هزارویک پیشامدغرزی لایق ، ۲۰/ ۱۰ / ۲۱۷ ، استقلال ویب پاڼه.

۲۰۸ – نسرین کتونا ، د افغان ځورېدلي واس غږ ویب پاڼه.

۲۰۹ – ویکي پیدیا ، د جلال آباد جګړه.

۲۱۰ – اندیا تلګراف ،نوی ډهلي ، ۳۰ / ۹ / ۱۹۸۹.

۲۱۱ – عبدالوکیل، ازپادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان،مخ ۶۱۸ .

۲۱۲- اجمل اتک یوسفزی ،شهنواز تنی ولې کودتا ته اړووت؟ فیسبوک ، لومړی برخه ، ۶/ ۶ /۲۰۲۰.

۲۱۳-محمد اکرام اندیشمند،سال های تجاوز و مقاومت ، مخ ۱۱۰.

۲۱۴ – سنګیروف ، اسیر سربیریاني بود ، اګست ۱۹۸۹ .

۲۱۵ - شپیګل ، جون یوولسمه ، ۱۹۹۱ ؟؟؟ سقاوی کې وکتل شي ؟؟؟؟؟

۲۱۶ -محمد اسحق توخي ، دکتورنجیب الله و خروج نیروهای شوروي از افغانستان ، نهضت آینده ویب پاڼه ، ۹ / ۲ / ۲۰۰۹ .

۲۱۷ – بروس ریچاردسن ، د لستوني مار ، ۱۹۹۸ ، ژباړن نثاراحمد صمد ، مخ ۳۲.

۲۱۸ – نیمروز جریده ، لندن ، مارچ ۱۹۹۶.

۲۱۹ – محمدعثمان تره کي ،معضله تاوان غرامات جنګ در افغانستان ،بعد حقوقي مسآله ،تول افغان ویب پاڼه ، ۱۵ / ۸ / ۲۰۰۷.

۲۲۰ – اسدالله ولوالجي ، در شمال چی می ګذشت ، ۱۹۹۸ ، پیښور ، مخ ۱۷.

۲۲۱ – محمد اسحق توخي ، مداخلات فرامرزی و فاجعه سقوط جمهوریت ،۲۷۷ – ۲۸۰.

۲۲۲ – فلیپ کاروین ، د افغانستان غملړلی برخلیک ، مخ ۱۵ – ۱۶.

۲۲۳ – شاه زمان وریځ ستانزی ،از پاتک شاهي تا کبل شاهي ،انتشارات زرنګار ، ۱۳۷۹ ، مخ ۳.

۲۲۴ – حامد علمي، سفرها و خاطره ها، مخ ۲۰۵.

۲۲۵ – میرغلام محمد غبار ، افغانستان در مسیر تاریخ ، لومړی ټوک ، مخ ۸۱۳.

۲۲۶ – جمیل الرحمن کامګار ، کرونولوژي حوادث تاریخی افغانستان ، انتشارات میوند، ۲۰۰۸ ، مخ ۲۰۲.

۲۲۷ –عبدالقیوم حکیم زی ،استبداد ، مخونه ۲۸۳- ۲۸۴

۲۲۸- سمسور افغان ، دویمه سقاوي ، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه ،۱۹۹۸ ، مخنه ۷- ۷۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۹ – نوې پاڼه ، وحدت حزب ، پېښور، ۱۹۹۵ ، مرغومي اووه ویشتمه ، ګڼه ۲۱ ، مخ ۲.

۲۳۰ – خواجه احمد انصاري ، افغانستان در آتش نفت ، انتشارات میوند، څلورم چاپ ، ۲۰۰۳ ؟؟، مخونه ۵۱- ۵۲.

۲۳۱ – لوموند، انګلستان ، ۲۰۰۰، اکتوبر دېرشمه .

۲۳۲ – جنرال رحمت الله صافي ، مسعود پېژنئ؟ مخونه ۸۵-۸۴

۲۳۳ – حقاني مولوي حفیظ الله ، د افغانستان طالبان ( عربي)اسلام آباد ، ۱۹۹۷ ، مخونه ۹۹- ۱۰۰

۲۳۴ – محمدظاهر عظیمي ، افغانستان و ریشه دردها ، مخ ۳۵.

۲۳۵ - ګلبدین حکمتیار ، پټې توطیې بربندې څېرې ، مخونه ۲۲۶- ۲۲۷

۲۳۶ – ثاقب عبدالرحیم ، له اسامه بن لادن سره زما لومړی ملاقات ، نن ټکی آسیا ، می دریمه ، ۲۰۱۸.

۲۳۷ – ثاقب عبدالرحیم ، له طالبانو سره د القاعده غیر مقید بیعت احتمالي اضرار، نن ټکی آسیا ، می ۲۶ ، ۲۰۱۹.
۲۳۸
– بروس ریچاردسن ، درغلنی لومي ترهګري ، ژباړن رحمت الله آریانا ، افغان – جرمن آنلاین ، ۲۸/۶/ ۲۰۰۱. واشنګټن پست ۲۰۰۱/۶/۱۸ .

- ۲۳۹The US and the Taliban a don dool la monde Diplomatuque jan 5. 2002

۲۴۰ –نیکولای سنچنکوایوانویچ ، توطیه نړیوال سیاست څوک مخته بیایي؟ ژباړونکی نورالحق نبي زاده ، ۱۳۹۷ ، مخ ۳

۲۴۱ – محمد عثمان روستار تره کی ، یازده سپتامبرشمال و جنوب دو سکوی پرتاب در تخته خیز افغانستان ، نن ټکی آسیا ، ۱۰سپتامبر ۲۰۱۸.

۲۴۲ – میخایل شوسودوفسکي ،جنګ امریکا با تروریسم ، ژباړن جمشید نوایي ،موسسه نشرات نګاه تهران، ۱۳۸۹ ، مخ ۱۱۴.

۲۴۳ – خلیل زاد ، استازی ، څلورم چاپ، ژباړن لطف الله لطف ، ۱۳۹۷ ، مخ ۹۹ .

۲۴۴ – واشنګټن پست ، ۱۸ / ۱۱/ ۲۰۰۱.

۲۴۵ – پاتریک مارتین ، د افغانستان جګړه د یوولسمې څخه پخوا اعلان شوې وه ، فارسي رو ویب پاڼه ، ۲۸/ ۵ / ۲۰۰۸.

۲۴۶ – نیوزویک ، ۲۰۰۱/۶/۱۸.

Peshawer Pakistan/ October 11/2001. Pronitor Post -۲۴۷

Paul Joseph Waston Rokdfellers -۲۴۸

۲۴۹ – عبدالحی مطمین، ملامحمدعمر طالبان او افغانستان ،افغان خپرندویه ټولنه ، لمړی چاپ ، مخونه ۲۵۹-۲۵۸.

Politikenzondag 11/09/2001 -۲۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵۱ – محمدعثمان روستار تره کي،په افغانستان کې د نړیوال نظامي ایتلاف تر منځ اختلاف ، افغان – جرمن آنلاین ، ۲۰۰۸/۱/۱۲.

۲۵۲ – عبدالکریم خرم ، څلویښت کاله په توپان کې ، مخ ۱۵۶ .

۲۵۳ - رابرت ال گرینیر، مخ ۳۱۶.
۲۵۴ – محمداسمعیل یون ، د ارگ ناویلې خبرې ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۹۶ ، مخونه ۵۵۷ – ۵۵۸.

۲۵۵ – تایمز ورځپانه ، لندن ، ۲۰۰۲ /۱۱/۱۹.

۲۵۶ – ثاقب عبدالرحیم ،تر یرغل پنځلس کاله وروسته طالبان ،نن ټکی آسیا،۲۰۱۶/۱۰ / ۸

۲۵۷ - شفیع اعظم ، طالب جنگیالي سخت ترهېدلې وو، نن ټکی آسیا ، اپرېل ۲۳ ، ۲۰۲۰.

۲۵۸ - شپیگل آنلاین ، د طالبانو مشر ملامحمدعمر اروا ، فرانکفورت ، الگینه څیتونګ.

۲۵۹- پامیر پیکار، وقایع افغانستان از ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۴، افغان- جرمن آنلاین ، لسمه برخه ۲۰۱۵/۱۱/۲۰.

۲۶۰ – لوموند دپلوماتیک ،سپتمبر ۲۰۰۲.

۲۶۱ – پژواک خبري آژانس ویب پاڼه ،۱۲ /۱ / ۲۰۱۰

۲۶۲- نن ټکی آسیا ، اگست ۱۵ ، ۲۰۲۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب منځپانګه د افغانستان د سياسي غورځنګ برخليک او د مطلقه پاچاهۍ وروسته د هېواد د سياسي – ټولنيزو بهيرونو او په هغو کې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند ځای ځايګي او فعاليت ته ځانګړې شوې ده. د دې زمانې له تراژيکو پېښو او د نظامونو د پرله پسې ړنګېدو څخه ښکاري چې چارواکو او سياستوالو مو يا تاريخی تجربو ته ارزښت نه دی ورکړی او يا د خپلې ټولنې ، نړيوالو واقعيتونو او د زمانې د غوښتنو د درک وړتيا نه لرله. له بله پلوه د افغان ليکوالانو او څېړونکو له لوري د افغانستان د تاريخ د دې پړاو د حالاتو د ارزونې څخه ښکاري چې هغوی په خپلو ارزونو کې يا ناپيیلې نه دي پاتې شوي او د تاريخ سره يې سياسي چلند کړی دی. دا بيا د ريالي استوارت ددې خبرې سموالی ښيي چې«د افغانستان رښتينی تاريخ يوازې د خلکو په سينو کې موندلی شئ نه په پاڼو او سندونو کې .» دې تشې ته په کتو سره په کتاب کې هڅه شوې ده چې د روان ناورين د واقعيتونو روڼ او ښکاره انځور وکاږل شي او سربېره پر دې لوستونکي ته ملي فکر ولېږدول شي. ښايي په کتاب کې يو لړ واقعيتونه د نويو کتنو او څېړنو مينه وال را وهڅوي . همدا اوس اوس شاوخوا لس ميليونه هېوادوال په بهر کې او دری ميليونه د کور د ننه کډوال دي او غوځ اکثريت ولس مو وزګار او د اقتصادي ستونزو سره مخامخ امنيت دی. د دې ترخه واقعيت په پام کې نيولو سره که بيا هم زموږ سياستوال له تاريخ زده کړه ونکړي همداسې به نړيوال را پورې خاندي، زموږ په برخليک لوبې روانې وي او له هېواد څخه به د مغزونو او ځوانانو د تښتې لړۍ و نه درېږي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library